بسم اللہ الرحمن الرحیم

فوز المبتدی

بشرح

مختصر القدوری

[illegible]

مولانا شاہ فیصل [illegible]

خصوصیات

1. [illegible]
2. [illegible]
3. [illegible]
4. [illegible]
5. [illegible]
6. [illegible]
7. [illegible]
8. [illegible]
9. [illegible]

فوز المبتدي

بشرح

مختصر القدوري

اول جلد

تالیف:- مولانا شاه فیصل

فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم، دار العلوم اسلامیه چارسده

خصوصیات

① جملة ترجمه یعنی هري جملې سره متصل د هغې ترجمه
② هره مسئله به مستقل متن کښې ذکر کول
③ دمتن د هرې مسئلې دباره نقلی عقلی یا دواړه قسمه دلائل ذکر کول
④ د احادیثو تخریج کول
⑤ د حنفیانو په خپل مینځ کښې د اختلاف ذکر مع دلائل
⑥ د حنفیانو په خپل مینځ کښې د اختلاف په صورت کښې د قول راجح تعین کول
⑦ د نورو امامانو مذاهب بغیر د دلائلو نه لاندې په حاشیه کښې ذکر کول
⑧ د کتاب په اول کښې د فقه سره متعلق تاریخی مقدمه ذکر کول
⑨ د گرانو لغاتو حل
⑩ د قوسینو په مینځ کښې د قندهاری تکو اضافه کول

فیصل کتب خانه

بالمقابل مکتبه حقانیه محله جنگی پیښور قصه خوانئ پیښور

موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د کتاب نوم:- فوز المبتدی بشرح مختصر القدوری
مؤلف: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس
خورونکی : فیصل کتب خانه محله جنگی

د ملاویدو پتي :

د فیصل کتب خاني نه علاوه

① مکتبه رشیدیه سرکی روډ کوټه
② مکتبه عمریه چمن بلوچستان
③ صداقت کتب خانه قندهار افغانستان
④ امیر حمزه کتب خانه قندهار
⑤ دینی کتب خانه تیمرګره (پختونخواه)
⑥ قدرت کتاب فروشی کابل بنار
⑦ انصاف کتب خانه جلال آباد
⑧ اخون زاده کتب خانه ټل

خپرونکی

فیصل کتب خانه
بالمقابل مکتبه حقانیه محله جنگی پیښور قصه خوانئ پیښور
موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

مقدمة د مؤلف

الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيد العرب والعجم وأفضل المرسلين، وعلى آله وصحبه أجمعين.

اما بعد! زمونږ په مدارسو كښې مختصر القدوري شامل نصاب كتاب دې.دا د ابتدائي طالبانو دپاره دې.اوبيا هدايه چې د جامع الصغير او مختصر القدورئ د متونو شرح ده.هغه هم په نصاب كښې شامل يو جامع كتاب دې.اوڅه وخت چې د هدايه د حل دپاره ما احقرشاه فيصل د تسهيل الهدايه په نوم په اته جلدونو مشتمل شرح تكميل ته اورسوله.نودهغه وخت نه زما په ذهن كښې دا خبره راغله چې هدايه چونكه د قدورئ اوجامع صغير د متونو شرح ده.نود تسهيل الهدايه څخه به دمختصرالقدورئ شرح هم تياره كړم.دهغه وخت نه مې اراده اوكړه بلكه شروع مې پرې هم كړې وه. اوباقاعده په خپلو تاليفاتو كښې مې دهغې تشهير هم د،،فوزالمبتدى بشرح مختصر القدورى،، په نوم باندې چلولو.په مينځ كښې د مختلفو عوارضو په وجه دا شرح په التواى كښې پرته وه.خو الحمد لله هغه ورځ هم راغله چې دې ته الله تعالى د تكميل موقع وركړه او اوس ستاسو په لاسونو كښې د قدورى شرح ,,فوز المبتدى شرح مختصر القدورى،، موجود ده.د دې په تاليف كښې چې ما كومه طريقه اختيار كړې ده.د هغې تفصيل دا دې.

① **دهر متن دپاره مناسب عنوان**> په موجوده وخت كښې عنواناتو ته هغه مقام او حيثيت حاصل دې.كوم چې د چا نه پټ پناه نه دې.نوما دهر متن نه وړاندې هغې ته مناسب عنوان وركړو.

② **دترجمې يونوې ترتيب**> په عامو كتابونوكښې زمونږ په ملك كښې د ترجمې دوه قسمونه رائج دى يودا چه اول تول عربى عبارت نقل كړې شي او بيا وروستو د هغې ترجمه اوكړې شي. خو په دې ترجمه كښې يومبتدى طالب ته دا پته نه لګى چه دا ترجمه په متن كښې د كومې جملې ده اومنتهى طالب ته اګرچه پته لګى خو هغه به ضرور دا تكيلف برداشت كوى چه د متن په عبارت به نظراچوى او د هغې نه به معلوموى چه دا ترجمه د دې جملې ده.د ترجمې دوه طريقې دا رائج دى چه اوله كرښه كښې عبارت وى او لاندې دويمه كرښه كښې د هغې ترجمه وى اګرچه كوشش دا كولې شى چه هرلفظ ته مخامخ د هغې ترجمه راشى. خو دا كار ډيرګران دې نو ددې وجې اګرچه په لاندينۍ كرښه كښې ترجمه وى اوپه سرسرى نظر سره دا ښكارى چه په دې لاندې كرښه كښې هم د پورتنى عبارت پوره ترجمه ده خوبيا هم ضرور داسې كيږى چه د اولنۍ كرښې د عبارت ترجمه د دويمې كرښې دعبارت د ترجمې لاندې ليكلى شى يقينى خبره ده چه يومبتدى طالب دپاره دا د تشويش او پريشانۍ باعث دې.ددې وجې ما په تسهيل الهدايه كښې د ترجمې يو نوې طرز اختيار كړو.هغه دا چه د عربۍ هره يوه جمله او وروستو سمدستى متصل هم د هغې ترجمه يعنى ما د هرې جملې ترجمه په هغې پسې كړې ده نه مې اوله طريقه اختيار كړې ده او نه مې دويمه طريقه اختيار كړې ده په دې كښې فائده دا ده چه هريوكتونكى ته په آسانتيا سره دا معلوميږى چه دا ترجمه د عربۍ ددې جملې ده.

③ د مبلولونو تقسیم> دمتن دهرې یوې مسئلې په جدا جدا شرحې سره وضاحت مې کړې دې.دا نه چې دوه درې مسئلې مې په یومتن کښې جمع کړې دی اوبیا مې د هغې تشریح کړې ده.په دې طریقه کښې طالب علم ته یقیناً آسانتیا ده.چې هغه د مطلوبه مسئلې د تشریح دپاره لټون نه کوی.بلکه په آسانتیا ورته خپله مطلوبه مسئله په تشریحی شکل کښې ملاویږی.

④ د الفاظو حل:د هرمتن نه پس چه په هغې کښې کوم لغات وی د "حل اللغة،، په نوم مو دهغې معنی کړې ده خوپه معنی کښې مونږ اکثر د فعل هغه معنی کړې ده کومه چه په متن کښې مراد وی.یعنی که ماضی وی نو د ماضی معنی مو کړې ده اوکه مضارع وی نو د مضارع معنی مو کړې ده او که امر وی نو د امر معنی موکړې ده اومصدری معنی مو هم کړې ده البته دا ده چه د افعالو یا اسماؤ سره کوم ضمائرراغلی دی یا په فعل باندې حرف نفی داخل شوې وی نواکثر مو صرف د فعل او اسم معنی کړې ده د ضمائرمرجع مو نه ده ذکر کړې اوکه په اسماؤ کښې تثنیه یا جمع راغلی وی نو د هغې مفرد مو خودلې دې او بیا مو د مفرد معنی کړې ده.

⑤ عربي عنوانات:د متن نه پس د تشریح په نوم باندې د متن د عبارت وضاحت شوې دې او په دې تشریح کښې چه کوم مباحث بیانولی شی نو په عربئ ژبه کښې هرې یوې خبرې ته عنوان ورکړې شوې دې په عربئ کښې مو د عنوان انتخاب خکه اوکړو چه عربی یوه جامع ژبه ده په مختصرو الفاظو کښې ډیرمطلب راګیروی ګنی پکاردا وه چه دا شرح په پښتو ژبه کښې ده اوعنوانات هم په پښتو کښې وې.خوصرف د عربئ د جامعیت د وجې مو عنوانات په عربئ کښې ورکړل.

⑥ الأقول الراجحه في مسائل الهدايه> ما په اول کښې د دې خبرې وضاحت اوکړو.چې فوز المبتدی د تسهیل الهدایه څخه تیاره کړې شوې ده.اوپه تسهیل الهدایه کښې د حنفیانو عالمانو چې په خپل مینځ کښې چې کوم مسائل مختلف فیها دی.په هغې کښې ما د راجح قول تعین کړې دې.دغه شان په فوز المبتدی کښې هم لاندې په حاشیه کښې د راجح قول تعین شوې دې.چې په دې مسئله کښې حنفیان په خپل مینځ کښې مختلف دی.خو راجح قول په کښې دا دې. اود اقوال راجحه د تعین ماخذ زمونږ د وطن یو نامور او مایه نازعالم مفتی غلام قادر دارالعلوم اکوره ختك د "ترجیح الراجح بالروایة فی مسائل الهدایة یعنی بیان القول الراجح فی المسائل الاختلافیة فی المذهب الحنفی التی ذکرها الشیخ برهان الدین المرغینانی فی کتابه المسمی بالهدایة» دې.د دې نه تیاره کړې ده.او د دې څخه د انتخاب طریقه دا ده چې چه مفتی غلام قادر مدظله العالی په خپل کتاب کښې اول د هدایه متن نقل کړی او بیا په هغې کښې د اختلاف وضاحت اوکړی او په دریم نمبر په هغې کښې د راجح قول تعین اوکړی او د راجح قول د تعین دپاره اکثر دا عنوان راوړی مثلاً "القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله،،او د هغې څخه پس د کوموکتابونو نه چې دا معلومیږی چه هغوی په ذکرشوې اختلافی مسئله کښې دغه قول ته ترجیح ورکړې ده دهغه کتابونوعبارتونه نقل کوی او لاندې په حاشیه کښې د هغې کتاب د جلداو صفحې نمبرې ورکوی نوماد "القول الراجح،، خلاصه په مختصرو الفاظو کښې پیش کړې ده هغه داسې چه په اختلافی مسئله کښې کوم قول یا روایت راجح وی د هغې خودنه کوم اودهغې نه پس د کوموکتابونونه چه دهغې راجحیت معلومیږی دهغې دجلد او صفحې حواله ورکوم امید دې چه زما دې سعی او کوشش ته به عالمان او طالبان د قدر په نظر سره اوګوری او دالله نه سوال کوم چه زما دا کوشش په خپل دربار کښې قبول کړی آمین

⑦ صرف د فیما بین الاحناف اختلاف ذکر کول> چونکه مختصر القدوری د مبتدیانو طالبانو کتاب دې.د دې وجې ما په دې کښې صرف هغه اختلاف ذکر کړې دې.کوم چې د حنفیانو عالمانو په خپل مینځ کښې

واقع شوي دي. کله خو مي د مرجوح مذهب د دلائلو ځخه جواب هم کړي دي او کله مي صرف دلائل ذکر کړي دی د جوابونو څخه مي قصدا تعرض کړي دي. ځکه چې د متبديانو کتاب دي.

⑧ **د ائمه ثلاثۀ سره فقط د اختلاف بيان** په کومو مسائلو کښې چې په ائمه ثلاثه کښې د چا سره اختلاف دي. نولاندي په حاشيه کښې مي صرف اختلاف ذکر کړي دي. دلائلوته مي څه تعرض ځکه نه دي کړي چې دا د مبتديانو طالبانو کتاب دي. اوبله دا چې په هدايه کښې د امامانو اختلاف مع دلائل همسي هم ذکر شوي دي. هلته به ئې بيا په تفصيل سره مطالعه اوکړي شي.

⑨ **د فوز المبتدی د احاديثو تخريج** ما احقرشاه فيصل په خپله شرح ،،تسهيل الهدايه ،، کښې د ((المرآة الصافيه لتخريج أحاديث الهدايه)) په نوم د هدايه د احاديثوتخريج کړي دي. نود کومو احاديثو تخريج چې ما په تسهيل کښې کړي دي. اوهغه احاديث مي په فوز المبتدی کښې هم نقل کړی دی نو هم هغه تخريج مي په فوز البمتدی کښې هم لاندې په حاشيه کښې ذکر کړي دي. اودهدايه د احاديثو د تخريج دپاره ما خپل مصدراوماخذ د ,,نصب الرايه في تخريج احاديث الهدايه،، تاليف دامام زيلعي رحمه الله جوړ کړي دي اود تخريج طريقه مي داوه چې ماخان ته نصب الرايه مخامخ کيخوده. اود نصب الرايه په مدد سره مي مختصر تخريج شروع کړلو. چه تفصيل ئې دادي.

① امام زيلعي رحمه الله د يو حديث مختلف طرق اواسناد بيان کړی دی. خوما د دغه مختلفو اسنادو اوطرقو نه صرف د يو صحابی رضي الله عنه د روايت په ذکرکولو اکتفاء کړي ده. مثلاً يو حديث د حضرت ابوهريره، حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهم په رواياتو سره امام زيلعي رحمه الله ذکرکړي وی. نوماصرف د يو صحابی رضي الله عنه د روايت حواله ورکړي ده.

② صاحب دهدايه رحمه الله دخپلې مدعا دپاره پوره حديث نه ذکر کوی. بلکه د هغې نه مختصره جمله راخلی. او امام زيلعي رحمه الله هغه حديث پوره د سند سره ذکرکوی. ماد اختصار د وجې دحديث په تخريج کښې د دوو خبرو التزام کړي دي. يود راوی خودنه چه دا روايت فلانی راوی نقل کړي دي. اوبل د مصدر ذکرچه دا روايت د احاديثو فلانی مصدر اوکتاب ذکرکړي دي. دحديث د الفاظو نقل کولو التزام مي نه دي کړي.

③ کوم احاديث چه صاحب دهدايه په داسې الفاظو سره ذکرکړي وی. چه هغه الفاظ امام زيلعي رحمه الله ته نه وی ملاؤ شوي. نودوی د هغې په تخريج کښې فرمائی. ((قلت غريب بهذا اللفظ)) يعنی دا روايت په دې الفاظو ناشنا اونادردي. اودا مراد نه وی. چه دا حديث د مصطلح الحديث د امامانو په نيز غريب دي. اوبيا امام زيلعي رحمه الله داسې روايت ذکر کوی. چه د هغې نه د علامه مرغيناني رحمه الله د دعوي تائيد کيږي.

④ په داسے مقاماتوکښې چه امام زيلعي رحمه الله دهدايه د روايت د تخريج په ځائې خپل روايت ذکرکوی. نوما د خپل عربئ تاليف ((صلاة الحنفي في ضوء أحاديث النبوي)) نه د دغه مسئلې دپاره د احنافومستدل رانقل کړي دي. دا کتاب احقرډيرد عرق ريزئ نه پس تاليف کړي دي. په دې کښې ئې د صلاة سره متعلق د فقه حنفی د هرې مسئلې دپاره د فقه په ترتيب احاديث سره د تخريج اوتحقيق سره راجمع کړی دی.

⑤ په نصب الرايه باندې لاندې يومحقق احمد شمس ا لدين دا خدمت کړي دي. چه د هغه بابونو، د کتابونو د صفحاتو اود د احاديثو د ارقامو خودنه ئې کړي ده. دکومو مصادرو چه امام زيلعي رحمه الله حوالې ورکړی دی. اوبل خدمت ئې دا کړي دي. چه د هغې مصادرو نه علاوه که دغه حديث ورته په بل

کتاب کښې ملاؤ شوي دي.نودهغې حواله ئې هم ورکړې ده.ما دا خدمت غنیمت اوګڼرلو.اودوی چه د کتابونو ،صفحاتو، جلدونو اود احادیثو د ارقامو حوالې ورکړې دی.هغه مې په خپل تخریج کښې ذکرکړل.نو په دې کار کښې زه صرف ناقل محض یم.اصل تحقیق اوکوشش د محقق شمس الدین صاحب دې.که ژوندې وی الله دې ورته عمردراز ورکړی.اوکه وفات وی.نوالله دې ورته قبردنور نه ډك کړی.آمین

نوټ په فوز المبتدی کښې چې ما چرته وئیلی دی چې صاحب د هدیه یا علامه مرغینانی فرمائیلی دی نو ددې مطلب به دا وی چې په هدایه کښې ئې فرمائیلی دی دی. دویمه ضروری خبره دا ده چې فوز المبتدی د تسهیل الهدایه څخه ماخوذ دې نو د دې مطلب دا نه دې چې چا سره تسهیل الهدایه موجود وی نو هغه ته د فوز المبتدی ضرورت نشته.څکه چې په هدایه کښې د جامع الصغیر متون هم شته.د دې څخه علاوه په ډیرو مقاماتو کښې داسې عبارتونه او متون هم شته چې هغه په هدایه کښې نشته دغه شان تقریبا پنځوس فیصده مباحث داسې دی چې هغه په تسهیل کښې شته او په فوز المبتدی کښې نشته.څکه چې د هغې تعلق د هدایه د متن سره دې د قدوری د متن سره نه دې. نود دې وجې د فوز المبتدی د مطالعې څخه غافله کیږئ مه بلکه تاسو ته به په فوز المبتدی کښې د مختصر القدوری د متن شرح په آسانه او لنډه طریقه ملاویږی.

د مدرسینو په خدمت کښې درخواست په فوز المبتدی کښې چې ما کوم اختلافات ذکر کړی دی.یا د هغې دلائل نوهغه په درې قسمه دی.

① **اول قسم** هغه اختلاف دې کوم چې د حنفیانو عالمانو په خپل مینځ کښې وی.اوصاحب د قدوریؒ ذکر کړی وی.لکه په اول کښې چې د دخول مرفقین اوکعبین في الیدین والرجلین کښې د امام زفر ﷫ اختلاف صاحب د قدوری ذکر کړې دې.نوداسې اختلاف چونکه صاحب د قدوریؒ ذکر کړې دې.د دې ذکر کول او په دې کښې د دلائلو ذکر کول مناسب دی.

② **دویم قسم** هغه اختلاف دې کوم چې د حنفیانو په مینځ کښې شته خو صاحب د قدوریؒ نه دې ذکر کړې.او ما په شرح کښې د هغې ذکر کړې دې.نومدرسینوورونړو ته پکار دی چې د دې مطالعه په خپله کوی خو طالبانو ته دا نه بیانوی.څکه چې دا د هغوی د استعداد نه زیاتی بوج په هغوی باندې اچول دی.کوم چې مناسب نه دې.

③ **دریم قسم** د نورو امامانو سره اختلاف کوم چې ما لاندې په حاشیه کښې ذکر کړې دې.د داسې اختلافاتو ذکر کول هم نه دی پکار.څکه چې روسته په هدایه وغیره کښې دغه اختلافات مع دلائل او جوابات راځی. نو د وخت نه وړاندې خامخا یو څیز بیانول مناسب نه دی.څکه چې نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی کلم الناس علی قدر عقلوهم .زه د خپلو مدرسینو ورونړو نه په دې باندې ګیله مند یم.چې هغوی مبتدی طالبانو ته هم د کتاب نه خارجی دومره اوږده مباحث بیانوی.کوم چې د هغوی د استعداد نه بهر وی.د دې وجې په نفس کتاب باندې هم پوهه نشی اوخارجی خبرې ورته هم یادې نشی.اود دې شعر مصداق ګرځی.

نہ خدا ہی ملا نہ وصال صنم — نہ ادھر کے رہے نہ ادھر کے رہے

نو يکار ده چې د خارجی مباحثو په ځاني نفس کتاب حل شی.او د بې ځايه طوالت نه پرهيز اوکړې شی. د غلطئ اقرار: زه دا دعوی نه کوم چې د دې کتاب په تاليف کښې به څه غلطی نه وی بلکه انسان د غلطئ او خطائې نه مرکب دې.نوکه تاسو ته په دې کښې څه کمپوزری يا علمی غلطی مخې ته راشی.نو مهربانی اوکړئ مونږ ته د هغې خبر راکړئ چې په راروان چهاپ کښې د هغې اصلاح اوکړو.

واجركم على الله

بندہ شاہ فیصل

دويم سيتهنك ۲۰۱۶- ۲- ۹

مقدمة الكتاب

بسم الله الرحمن الرحيم

دفقه تاريخي پس منظر

په ټوله دنيا کښې چه تر ننه پورې څومره مذاهب راغلى دى په دې کښې اسلام دټولو نه زيات جامع،واضح او مکمل قوانين راوړى دى.چه د انسانى فطرت سره دموافقت دوجې آسان اوقابل عمل (د عمل وړ) دى.ددې قوانينو مجموعه داسلامى فقه په نوم سره ياديږى. دعلم فقه د شروع کيدو نه وړاندې دڅوخبرو پيژندل ضرورى دى.د هغې نه مونږ په مبادى سره تعبير کوو.

دعلم فقه لغوى او اصطلاحى تعريف

فقه مصدر دې.او د باب سمع او کرم نه راځى.دسمع نه ئې معنا دا ده. چه ديو څيز پيژندل اوپه هغې پوهيدل.ديو څيز پرانيستل او وضاحت کول.اود باب کرم نه معنا دا ده.چه فقيه ګرځيدل، په علم کښې پورته کيدل.فقه بکسر القاف پيژندل او بفتح القاف بل پوهول اوبضم القاف په فقه کښې کمال پيدا کول او مهارت حاصلولو ته وائى.علامه زمحشرى په کتاب الفائق کښې ليکى (الفقة حقيقة الشق والفتح والفقيه العالم الذى يشق الاحكام ويفتش عن حقائقها ويفتح ما استغلق منها)

د فقه لغوى معنى

ديو څيز پرانيستل اوښکاره کول دى.اوفقيه هغه عالم ته وائى.چه هغه د احکامو (شرعيو) وضاحت کوى.اوددې د حقائقو پته لګوى.اود مغلق او ګرانو مسائلو وضاحت کوى.

اصطلاحى معنى

ددې مشهور تعريف دادې (هو العلم بالاحكام الشرعية الفرعية من ادلتها التفصيلية)فقه په احکام شرعيه کښې هغه احکامو ته وائى.چه هغه د تفصيلى دلائلو نه حاصل شوى وى.دکومو احکامو تعلق چه عمل سره وى. هغې ته احکام فروعى وائى.اودکومو تعلق چه اعتقادياتو سره وى.هغې ته احکام اصول وائى .ابن خلدون په خپله مقدمه کښې ليکى" په کوم علم سره چه د مکلفينو د افعالوپه باره کښې دالله پاک د احکاماتو معرفت حاصليږى.پدې حيثيت چه هغه واجب يا ممنوع يا مندوب يا مکروه يا مباح وى نو هغې ته علم فقه وائى.

د فقه غرض او غايت

د غرض او غايت نه څه مراد دې؟غرض هغې ارادې ته وائى دکومې دپاره چه يوکار کولې شى.او غايت هغه نتيجه ده.چه په هغې باندې مرتب وى.لکه دقلم اخستلو دپاره بازار ته تګ غرض دې. او قلم اخستل غايت دې.نو غرض او غايت دواړه د مصداق په اعتبار سره يو څيز دې.خو دابتداء او انتها فرق دې.عام طور غرض او غايت يوځيزته ونيلې شى.څکه که صحيح طريقه اختيار کړې شى نوپه غرض باندې غايت مرتب کيږى.

دعلم فقه موضوع

دمکلف فعل دې.ليکن داخيال پکار دې چه موضوع مطلقه نه وى.بلکه دڅه نه څه قيد سره مقيده

وی.لکه دنحو موضوع کلمه او کلام دې.اود ،،من حیث الاعراب والبناء"په قید سره مقید دې. دغه شان دعلم طب موضوع د انسان بدن ده.اود (من حیث الصحة والمرض)په قید سره مقید دې.اودعلم صرف موضوع کلمه ده.او د "من حیث التصریف" په قید سره مقید دې.نو دغه شان دمکلف فعل په "من حیث الحلال والحرام" مقید دې.

دفقه ماخذ:

هغه ذرائع چه دکومو نه قانون جوړولې شی.دکوم ځائې نه قوانین د دلائلو سره حاصلولې شی. اوپه کوم فن کښې چه ددغه ذرائع او مقاماتو نه بحث کولې شی.هغې ته اصول فقه وائی. چه تعریف ئې دادې. (هوعلم بقواعد یتوصل بها الی استنباط الاحکام الفقهیة عن دلائلها) اصول فقه دېو څو داسې کلی اصولو نوم دې.چه دکومو په ذریعه د دلائلو نه د قوانینو د استنباط طریقه معلومولې شی.

بنیادي ماخذ

د اسلامی قانون بنیادی مآخذ لاندې ذکر کولې شی.(ا) قرآن (ب)سنت (ج) قیاس (د) اجماع.

د فقه اسلامی اولنې ماخذ قران

د اسلامی قانون اولنې بنیادی او اساسی مآخذ او مصدر قران حکیم دې.
قران کریم د بنی نوع انسان د راهنمائی دپاره نازل شوې دې.دا د اسلامی قانون اولنۍ او حقیقی سرچشمه ده.داپه نقل متواتر سره مونږ ته رارسیدلې دې .اوپه دې کښې هیڅ شك نشته.چه دا دالله تعالی کلام ،مصدر او قانون دې.

د قرآنی احکامو دوه قسمونه

قرآنی احکام په دوو قسمونو تقسیمولې شی .
① عبادات>دا بغیر د نیت نه نه صحیح کیږی.لکه مونځ او روژه خالص عبادتونه دی.او بعضې مالی اوتمدنی عبادتونه دی.لکه زکاة شو.او بعضې بدنی او تمدنی دی.لکه حج شو. داځلور عبادتونه دایمان نه پس داسلام بنیاد ګڼړلې شوې دې.
② معاملات> ددې څلور قسمونه دی.
(ا) قوانین تحفظ دعوت اسلام یعنی جهاد
(ب) قوانین استقلال خاندان یعنی هغه احکام چه نکاح،طلاق،نسب اووراثت سره تعلق ساتی.
(ج) قوانین معاملات باهمی یعنی بیع او اجاره وغیره.
(د) قوانین تحریری یعنی حدود او قصاص.

دفقه اسلامی دوېم مآخذ سنت

د سنت لغوی معنی عادت، طریقه اوخوښه لاره ده.خوپه فقهی اصطلاح کښې د سنت نه مراد د نبی ﷺ اقوال،افعال او تقریرات (دتقریر مفهوم دادې چه نبی ﷺ یو صحابی په کار لیدلې وی.یائې ترې خبره اوریدلې وی.او په هغې چپ پاتې شوې وی.نو دا خبره په سنت کښې داخله ده.ځکه چه د نبی ﷺ خاموشی ددې فعل په تائید کښې کافی ده.د نبی ﷺ د ذات نه داخبره لرې ده.چه نبی ﷺ په یو ناروا کار باندې خاموشی اوکړی) اود دصحابه کرامو ﷺ اقوال سنت دی.پدې کښې شك نشته.چه د فقه اولنې مآخذ قران دی. لیکن قران احکام اجمالاً طور بیانوی.ددې تفصیل مونږ ته په سنتو کښې ملاویږی ډاکټر حمیدالله لیکی چه په حدیث نبوی کښې دفقهی ضوابطو تعداد دقران دضوابطو نه زیات دې. حدیث په قران پاك پسې په دویمه درجه کښې ساتلې شوی دی.ددې اصل وجه د احادیثو دصحت په ثبوت کښې مشکلات دی.لیکن پدې کښې شك نشته چه قران پاك ښکاره او غیرمشروط

طور سره دنبی ﷺ فرمان ته دقران پاك برابر درجه ورکړې ده.څکه چه د رسول ﷺ امر،قول د مرسل دطرفه ګڼرلې شی.

قرآن کریم کښي د سنت بنیاد

په قران کریم کښي دالله پاك ارشاد دی چه ﴿وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ ﴿إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ﴾ پدې آیتونو کښي ښکاره نبی ﷺ دقران کریم شارح او موضح ګرځولې شوی دی.نبی ﷺ به په خپلو اقوالو او افعالو کښي د قران د مطلبونو او مقاصدو وضاحت کولو.په کتاب المیزان کښي دحضرت عمر ﷺ یو قول نقل شوی دی.چه هغوی فرمانیل (سیأتی قوم یجادلونکم فی شبهات القران فخذوهم بالسنن فان اصحاب السنن اعلم بکتاب الله).روستو به داسې خلق پیدا شی چه هغوی به په قرانی متشابهاتو کښي تاسو سره جګړې کوی نو تاسو په هغوی باندې دسنت په ذریعه حجت قائم کړئ څکه چه اصحاب السنن په کتاب الله ښه پوهیږی.

د سنت تشریعي حیثیت

نبی ﷺ دمجمل آیتونو تشریح دمشکلو آیتونو تفسیر اومطلق آیتونو ته د موقع اومحل په لحاظ سره مقید اوګرځول.د مجمل احکامو دعمل کیفیت،اسباب اوشرطونو او لوازماتو وغیره تفصیل ئې اوکړلو.د مونځ او زکاة کوم تفصیلات چه په سنتو کښي ذکر دی.هغه ټول هم دقران وضاحت دی.دقرآنی حکمونو وجوهات ،اسباب ،حکمت او مصلحت ئې بیان کړلو.د هغې نه ډیر اصول او قواعد مستنبط شو.

داحادیثو دوه قسمونه حضرت شاه ولی الله ﷫ دنبی ﷺ دفرموداتو په مجموعی حیثیت سره دوه قسمونه بیان کړی دی.

① اول هغه چه دهغې تعلق دپیغمبرانه فرائضو، تبلیغ او رسالت سره دې .آیت ﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا﴾ تعلق هم ددې حصې سره دې.پدې کښي عقائد ، عبادات، اخلاق، معاملات او دآخرت وغیره سره متعلق تفصیلات دی.

② دویم هغه چه دهغې تعلق د مشورې او رائې سره دې.دنبی ﷺ ارشاد دې. ﴿انما انا بشر اذا امرتکم بشئ من دینکم فخذوه واذا امرتکم بشئ من رائی فانما انا بشر﴾ زه انسان یم کله چه ستاسو د دین په باره کښي څه حکم اوکړم نو په هغې عمل کوئې.او کله چه په خپله رائې سره دڅه حکم اوکړم نو ښکاره خبره ده.چه زه انسان یم.پدې کښي دا لاندینی تشریحات شامل دی.

① هغه احکام چه په عارضی مصلحت یا سیاست باندې مبنی وی.هغه چه دطریقه کارمتعلق وی.او د زمانې تیریدو سره بدلیږی رابدلیږی ② هغه کارونه چه هغه دملکی عادتونو او رواج مطابق اختیار شوی وی. ③ دعربو د بعضې تجربو،علاج،زراعت او باغبانئ وغیره سره متعلق څیزونو باره کښي چه ئې څه فرمانیلی وی.

دفقه اسلامی دریم ماخذ اجماع

دقران او سنت نه پس داسلامی قانون دریم مآخذ اجماع ده. په لغوی معنی کښي ددې مطلب عزم او اتفاق دې.اوپه شرعی اصطلاح کښي ددې تعریف په دې لاندینو الفاظو کښي کولې شی.

،،په یوه زمانه کښي دټولو مجتهدینو او عالمانو په یوه فیصله باندې متفق کیدلو ته اجماع وئیلې شی.

قاضی بیضاوی ﷫ لیکی چه (وهو اتفاق اهل الحل والعقد من امة محمد ﷺ علی أمر من الأمور) د رسول الله ﷺ

دامت اهل حل وعقد په یوه فیصله باندې داتفاق کولو نوم اجماع ده.

د فقه اسلامی دریم ماخذ اجماع

دقران او سنت نه پس داسلامی قانون دریم مأخذ اجماع ده. په لغوی معنی کښې ددې مطلب عزم او اتفاق دې.اوپه شرعی اصطلاح کښې ددې تعریف په دې لاندینو الفاظو کښې کولې شی.
,په یوه زمانه کښې دټولو مجتهدینو او عالمانو په یوه فیصله باندې متفق کیدلو ته اجماع ونیلې شی. قاضی بیضاوی لیکی چه (وهواتفاق اهل الحل والعقدمن امة محمدﷺعلی أمرمن الأمور)د رسول اللهﷺ دامت اهل حل وعقد په یوه فیصله باندې داتفاق کولو نوم اجماع ده.

په اجماع باندې قرآنی دلائل

داجماع په تائید کښې په قران او حدیث کښې دلائل موجود دی.

① ﴿وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا﴾ (نساء)

اوڅوک چه مخالفت د پیغمبر کوی.پس ددې نه چه ښکاره شوې وی ورته هدایت او تابعداری کوی سوا د لارې د مسلمانانو.نوموږ به دې واړوو.هغه طرف ته چه دې ورته اوړیدلې دې.اوداخل به کړو جهنم ته.اوډیر بد ځائې دې.

② ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ﴾ (نساء)اې د ایمان خاوندانو! تابعداری دالله کوئ.اوتابعداری د پیغمبر کوئ.او د حاکمانو په تاسو کښې.ددې آیت نه ضمناً دا هم معلومه شوه.چه د اتفاق په صورت کښې اجماع د امت د شرعی دلیل په حیثیت سره قابل قبول ده.

د فقه اسلامی څلورم مأخذ قیاس

داسلامی قانون څلورم مأخذ قیاس دې.ددې لغوی معنی اندازه کول دی.دفقهاؤ په اصطلاح کښې قیاس په علت او حکم کښې فرع داصل سره د برابرولو نوم دې.داصول فقه په کتابونوکښې چه دقیاس کوم تعریف شوې دې.د هغې حاصل دا دې.په نورالانوار کښې نقل شوی دی چه (تقدیرالفرع بالاصل فی الحکم والعلة) په حکم او علت کښې فرع داصل مطابق ګرځول.قیاس پدې حیثیت چه دا د اسلامی قانون مأخذ دې.د دې په باره کښې فقهائې کرامو دا لاندینی دلائل پیش کړی دی.

دقیاس دلائل> داللهﷻ ارشاد دې چه ﴿فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ﴾ (حشر)اعتبار اوکړئ اې د نظر خاوندانو.د اعتبار معنی قیاس ده.ونیلې شی (اعتبرت الشئ بالشئ) چه یویه بل باندې قیاس کړی.په تلویح توضیح کښې د اعتبار مطلب داسې بیان شوې دې (ردالشئ الی نظیره ای الحکم علی الشئ بما هوثابت لنظیره)یو څیز دهغې نظیر طرف ته اړول یعنی کوم حکم چه دهغې د نظیر وی هم هغه حکم ددې څیز ګرځول.

په شرعی لحاظ سره د قیاس سند حیثیت

کوم احکام چه په قیاس سره مستنبط وی هغه د مستند کیدو په لحاظ سره داسې نه وی.کوم چه په قران حدیث یا اجماع سره ثابت وی.داهل سنت داصول فقه مسئله ده.چه دیو فقیه رائې غلطه هم کیدې شی او صحیح هم.نو ځکه د مقدماتو د فیصلې په وخت کښې دا ضروری نه ده.چه هغه صرف د دې وجې د یوې خاص قاعدې پابند وی.چه هغه بعضې فقهاو خوښه کړې وی بلکه هغه ته دخپلې رائې مطابق د فیصلې کولو اجازت شته.که په قیاس باندې دعلماء اجماع اوشی. نود هغې شرعی حیثیت بدل شی.ددې تبدیلۍ وجه اجماع وی دعالمانو قیاس نه وی.یو قیاس بل قیاس نشی باطلولې.که دوه قیاسونه د یوبل نه خلاف وی.نو فقیه ته اختیاردې.چه په دواړو کښې کوم یو اختیار وی.ددې وجه دا

ده.چه دقياس انحصار د مجتهد په استعداد اوپه علم باندې وي.

دعلم فقه شرعي حکم

دعلم فقه زده کول فرض عين هم دي او فرض کفايه هم.دهر يو کس دپاره ضروري ده.چه دومره علم حاصل کړي.چه دهغې ضرورت په دين کښې پيښيږي .نو دا فرض دې.اوکه دضرورت نه زيات دنورو فائدو دپاره وي.نو د هغې حصول فرض کفايه دی.چه نور خلق هم د مهلکاتو نه بچ کړي.په علم فقه کښې کمال حاصلول مستحب دې.خو په مالدار باندې د زکاة او حج مسائل، په واده کونکي د نکاح مسائل،په طلاق ورکونکي د طلاق مسائل،په سوداګر د سوداګرئ مسائل،په زميندار د زميندارئ مسائل.خلاصه دا چه هريو کس دکوم څيز شغل او کسب کوي.په هغه باندې دهغې مسائلو زده کول ضروري دي.چه دحرام د ارتکاب نه په کښې محفوظ شي.

دعلم فقه دائره کار

په تجريدي عمل کښې دفقه په صفت کښې د تبديلئ دوجې اوس دفقه تعلق ددې لاندينو مباحثو سره دې.

① **عبادات**> هغه امور چه دالله ﷻ اودبنده په مينځ کښې د تعلق ساتلو دپاره دی.اود ژوند په ميدان کښې دخاص قسم پالسئ اود زاويه نګاه تعين کوي.

② **معاملات**> معاشرتي او مالياتي قوانين،کوم چه د تعاون او باهمی اشتراك عمل دپاره مقرر دی.مثلاً اخستل خرڅول،عاريت او امانت او ضمانت وغيره.

③ **مناکحات**> دنسل انساني متعلق قوانين چه په هغې کښې نکاح طلاق، عدت ، نسب، ديت،وراثت وغيره ټول شامل دي.

④ **عقوبات**> په دې کښې د جرمونو او ددے دسزا نه بحث کيږي.قتل،غلا، تهمت وغيره. دغه شان قصاص ،تعزيرات او خون بها وغيره.

⑤ **مخاصمات**> په دې کښې عدالتي مسائل،قانون او مدافعه او اصول محاکمه بيانولې شي.

⑥ **حکومت او خلافت**> پدې کښې قومي او بين الاقوامي معاملات، دصلحې اودجنګ احکام، وزارت ،محاصل وغيره تفصيلات بيانولې شي.د دې تفصيل نه معلوميږي.چه داسلامي فقه دائره کار څومره وسيع دې. ددې د قانوني ګرفت يا اخلاقي احساس نه خو د ژوند انفرادي اعمال خالي دی.اونه اجتماعي. د دې نه دا اندازه هم کيدې شي.چه زمونږ د اسلافو او قديم فقهاؤ نظر څومره ژور وو.چه هغوی په وړه وړه مسئله کښې دقران او حديث نه رهنمائي حاصله کړې ده.او يائې اجتهاد او استنباط کړې دې. اودهغې شرعي حل اوصورت ئې راويستې دې.

په احاديثو کښې د امام ابوحنيفه رحمه الله طريقه کار

① د حديث متواتر علم قطعي وي.او دخبر واحد ظني.څکه امام اعظم رحمه الله صرف خبر متواتر د ايمان مدار ګرځولو. ② اوپه خبر واحد باندې ئې عمل واجب ګڼړلو.خو دا ئې په ايمانياتو کښې حجت نه ګڼړلو.امام اعظم رحمه الله خبرواحد ته هغه درجه نه ورکوله.کومه چه ورته په شافعي يا حنبلي مسلك کښې حاصله ده.خو دوی خبر مشهور د خبرمتواترسره نزدې مرتبه ورکړې وه.مشهور احاديث ډير دی. ③ د خبر واحد د قبول معيار دامام اعظم رحمه الله په نيز ډير سخت وو.هغوی به هغه روايت نه منل چه د هغې تصادم به دقران يا حديث سره وو. ④ که دوه روايتونه په ظاهره مختلف وو.چه يو صرف ظاهری معنی لرله.او بل کښې تاويل ګنجائش هم وو.نو هغوی به ددغه تاويل د وجې تطبيق کولو. ⑤ که په دوو احاديثو کښې به داسې تعارض وو .چه د موافقت څه صورت په کښې په نظر نه راتلو.نو په هغې کښې

به ني هغه اختیارولو. دکوم تائید چه به د صحابه کرامو ﷺ په عمل سره ثابت وو.یا دکوم راوی چه به په ضبط عدالت او فهم کښې اوچت وو. ⑥ که دخبر واحد موازنه به دقیاس سره اوشوه.نو امام ﷫ ترجیح خبر واحد ته ورکوله.داسې روایت ته احناف ﷭ (غیر شناس) وائي. یعنی دعقل نظر ددې د ادراك نه عاجزدې.امام اعظم ﷫ په بعضې اخباراحاد باندې عمل نه کولو. خود هغې سبب به یو مخفی سقم یا بل څه دلیل وو.ګنې اصولی طور د امام اعظم ﷫ په نظر کښې خبر واحد ته په قیاس باندې ترجیح حاصله وه. امام اعظم ﷫ به خبر مرسل ته هم په قیاس باندې ترجیح ورکوله.

په اجماع د صحابه کرامو ﷺ کښې د ابوحنیفه ﷫ طریقه کار

د امام اعظم ﷫ په نیز دقران او سنت نه پس د صحابه کرامو اجماع ده. دصحابه کرامو ﷺ اجماع دنبی ﷺ دسنتو وضاحت دې.

①که په یوه مسئله کښې صرف دیو صحابی قول ملاوشي.اود بل صحابی د فتوې سره متضاد نه وي.نو احناف هغه هم یو قسم اجماع یعنی اجماع سکوتی ګڼړي.خوپدې شرط چه د قران اوسنت نه خلاف نه وي.②که دصحابه کرامو ﷺ په رائې کښې اختلاف وي.نو امام اعظم ﷫ هغه قول اخلي.کوم چه قران او سنت ته نزدې وي. ③کوم عمل چه په صحابه کرامو او تابعینوکښې مسلسل راروان وي.نو امام اعظم ﷫ هغه حجت ګڼړي.څکه چه په صحابه کرامو ﷺ او تابعینو دا ګمان کول فضول خبره ده.چه هغوی به په تواتر سره (همیشه) د سنت نه خلاف کړې وي.④ امام اعظم ﷫ پخپله هم تابعي وو او دتابعینو د انفرادی اقوالو پابند نه وو.بلکه په هغې کښې به ئې اجتهاد کولو.امام اعظم ﷫ په نظری لحاظ سره په هر دور کښې د اجماع قائل وو.

په قیاس کښې د امام ابوحنیفه ﷫ طریقه کار

په فقه حنفی کښې په قیاس باندې عمل په هغه وخت کښې جائز دې کله چه ددې نه سوا بل څه دلیل ملاونشي.دقیاس بنیاد په علت منضبطه باندې دې. یعنی په اصل فرع کښې د اشتراك هغه وجه کومه چه دا دواړه په حکم کښې برابروی.امام اعظم ﷫ د قیاس په کولو کښې ډیر محتاط وو.خو هغوی نه یواځې د پیښو شوو مسائلو حل تلاش کړې وو.بلکه په فرعی مسائلو کښې ئې هم غور او فکر کړې وو.څکه د دوی سره د قیاسی فتوو ډیر تعداد موجود وو.دملك او تمدن وسعت ورځ په ورځ زیاتیدلونو امام اعظم ﷫ ضروری اوګڼړلو.چه د فقه د تدبر لمن هم وسیعه شي.لیکن ورسره داهم ضروری وه.چه رائې هم بې لارې نشي.ددې د حدودو تعین لازمی وو.دوی دفکر او نظر دپاره قاعدې اوضوابط مقرر کړل اوقیاس ته ئې د یو فن شکل ورکړلو.چه په دې کښې په هیڅ صورت کښې د غلو صورت پیدا نشي.د مسئلو دکثرت باوجود د دوی مسلك د نقل او عقل په اعتبارسره یو ښکلې امتزاج او ګډون پیش کوی.امام اعظم ﷫ چه کومه ذمه واری اخستې وه. هغه ډیره ګرانه او مشکله وه.په هغه وخت کښې بعضې ائمه کرام ددې طریقې خلاف وو.او فرضی مسائل ئې یو طرف ته کړه.چه په پیښو شوو واقعاتو کښې به هم ترڅو پورې هغوی ته سابقه نظیر وراندې وو.نو هغوی به د رائې ورکولو نه پرهیز کولو.دامام اعظم ﷫ رائې مختلفه وه.اګرچه علم دین یوه نازکه مرحله ده.لیکن په دوی کښې ددې ذمه دارئ اهلیت وو.که د اهلیت باوجود ئې ددې نه پرهیز کول جرم ګڼړلو.د دوی قول دې.که ماسره د علم ضائع کیدو ویره نه وه.نو د فتوو ورکولو ذمه واری به مې نه وه قبوله کړې.

امام ابو حنیفه ﷫ او د فقه تدوین

د فقه شروع خو دنبی ﷺ د زمانې نه شوې وه.دالله ﷻ ارشاد دې.﴿لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ﴾په دې کښې د تفقه تاکید دې.نبی ﷺ ترغیب هم ورکړې دې.اوفضیلت ئې بیان کړې دې. ارشاد دې. (من یرد الله به خیرا

يفقهه فى الدين) يعنى چاسره چه الله پاك د خيگړي اراده اوكړي.نو هغه ته په دين كښې پوهه وركړي.

په عهد نبوي ﷺ كښې فقه

دصحابوړ په دور كښې په مسائلو كښې د فرض ،واجب وغيره تفصيل نه وو، صحابه كرامو ﷺ به دنبي ﷺ نه تفقه هم حاصلولو.او دير صحابه كرامو ﷺ په دې كښې د ممتاز حيثيت مالكان وو. ليكن دهغوى په زمانه كښې د احكامو قسمونه پيدا شوى نه وو.نبي ﷺ به دصحابه كرامو ﷺ مخامخ اودس كولو.ليكن دا ئې نه وو فرمائيلي.چه دا ركن دې. او دا فرض دې.او دا سنت دې. او دا مستحب دې. صحابه كرامو ﷺ به نبي ﷺ ليدلو.اوهغه شان اودس به ئې كولو.نبي ﷺ به كله يويو ځل د اودس اندامونه اووينځل .اوكله دوه دوه ځله.او كله به ئې درې درې ځله.او په دے به ئې زيادت نه كولو.د دے نه خو دا اندازه شوې وه .چه كم ازكم يو ځل وينځل ضروري دى.او د دے نه زيات وينځلو نه ئې منع كړې وه.ليكن دائې نه وو فرمائيلي .چه دا فرض دى او داسنت دى اودا مستحب دى. دغه شان حضرت عثمان ﷺ او حضرت على ﷺ د نبي ﷺ د اودس د طريقے تعليم وركولو.دے حضراتو هم څه تفصيل نه وو بيان كړي.دمونځ هم دا حال وو .صحابه كرامو ﷺ د فرضو، واجبو،سنتو او مستحبو څه تحقيق نه كولو. ځكه چه ئې نبي ﷺ په مانځه ليدلے وو.هم هغه شان مونځ به ئې كولو.د نبي ﷺ ارشاد دې.چه (صَلوا كما رائيتمونى اصلى) دهغه وخت په حالاتو كښې هم دا سادگي مناسب وه.هغوى ته خو د نبي ﷺ په هره ادا باندې ځان قربانولو كښې خوند ملاويدلو.خو په بعضې وختونو كښې نبي ﷺ دا ارشاد هم فرمائيلے وو. (قم فصل فانك لم تصل) يعنى پاسه مونځ اوكړه.مونځ دے اونه شو.

په نبي ﷺ د هيرې راتللو حكمت

دغه شان تكويني طور په نبي ﷺ باندې هيره هم راتله.چه خلقو ته په داسې صورت كښې مسئله معلومه شي.فرمائي چه (لا انسى ولكن انسى لاسن) يعنى زه په نه هيروم.بلكه زما نه هيرول كولې شى.ددے دپاره چه په ماپسې په دغه هيره كښے اقتدار اوشى.(يعنى كه د نبي ﷺ نه هيره نه وه شوې.حالاتكه دامت نه هيره كيږى.نوكه امت ته د هيرے د وجې څه مسئله پيښه شوې وه.څه به ئې كولو.د داسې صورت پيدا كيدو دپاره الله تعالى په خپل پيغمبر ﷺ باندې بعضې وخت هيره راوستے ده.چه امت ته د هيرے په صورت كښے هم د نبي ﷺ طريقه معلومه شي.)

د اجتهاد د ضرورت پيښيدو وجه

بهرحال دنبي د وفات نه پس د اسلامي فتوحاتو سلسله وسيع شوه.او دتمدن دائره وسيع شوه. واقعات دومره زيات شول.چه داجتهاد او استنباط ضرورت پيښ شو.اود اجمالي احكامو تفصيل ضروري شو.مثلاً كه چا به په غلطي سره په مونځ كښې څه عمل پريښودلونو اوس سوال داپيدا شو.چه مونځ اوشو او كه نه؟بيا دا خوممكنه نه وه.چه ټول اعمال دے فرض شي.دغه شان دابه هم غلطي وه.چه ټول اعمال دے مستحب شي.چه دهغې په پريښودلو څه نقصان نه راځي.ځكه چه په بعضې موقعو باندې دنبي ﷺ نه سجده سهوه نقل ده.ځكه ددے تحقيق ضرورت پيښ شو.چه په مانځه كښې څومره څيزونه فرض دى او څومره واجب؟ څومره سنت دى او څومره مستحب دى؟

په اصولو كښې داختلاف وجه

او ددے امتياز دپاره چه كوم اصول مقرر كولې شي.او كوم معيار گرځولې شي.په هغه اصولو كښې د ټولو اتفاق هم گران وو.ځكه چه داسلامي فتوحاتو د وجه صحابه كرام ﷺ دجهاد ،تبليغ او تعليمي مصلحتونو دپاره په ملكونو اواطرافو كښې خواره شوى وو.بيا دټولو په طريقو د استنباط كښې يو

شان والی هم نشو کیدي.نوځکه په مسائلو کښې اختلاف پیدا کیدل هم لازمی وو.ډیر داسې واقعات پیښ شول چه دهغې نظائر دنبی ﷺ په زمانه کښې موجود نه وو.صحابه کرامو رضی الله عنهم په هغه صورتونو کښې داستنباط تفریع، اود حمل النظیر علی النظیر نه کار اخستلو.غرض داچه دصحابه کرامو رضی الله عنهم په زمانه کښې د احکامو اومسائلو یوه لویه ذخیره تیاره شوې وه .

د فقه په تدوین کښې دامام ابو حنیفه رحمه الله اود هغوی د شاګردانو کردار

دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دفتاوو زیاته ذخیره وه.لیکن مرتبه نه وه.چه چا به ترې څه تپوس اوکړو . هغوی به جواب ورکړلو. اوشاګردانو به اولیکلو .هغه ذخیره حضرت علقمه رحمه الله ته رارسیدلې وه.هغوی دهغې وضاحت او تشریح اوکړله . هغه ئې بنه واضحه او تازه کړې.او هغې ته ئې قوت ورکړو.بیا حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله دهغه په ګډنې کیناستلو.هغوی ددے سلسلې تولے فائدے اونوادر جمع کړل.اوددے قابلې ئې جوړے کړې.چه دهغې نه فائده اخستل آسان شو.بیا چه کله دهغوی په ګډئ سلیمان رحمه الله کیناستلو.نو هغوی ددے بنه وضاحت اوکړلو.لکه څنګه چه غله د بوس وغیره نه صفا شي. حضرت حماد رحمه الله چه کله په کال ۱۲۰هـ کښې وفات شو.نو خلقو حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله ته منت اوکړلو. او دوی ئې دهغوی په ګډئ باندې کینولو.دامام اعظم رحمه الله د زمانې پورې اګر چه د فقه کافی مسئلې مدون شوې وې.لیکن بې ترتیبه وے اوهغې ته فنی حیثیت حاصل نه وو.نه خو داستنباط او استدلال قواعد وو.او نه دمسائلو د تفریع اصول مقرر وو.نه په حدیثو کښې امتیاز د مرتبو وو.اونه د قیاس اواستحسان او الحاق النظیر بالنظیر قواعد مقرر وو.خلاصه داچه فقه تراوسه پورې دجزوی مسائلو نوم وو .دا قانونی مرتبې ته رسولو کښې ډیر محنت پکار وو.

دامام اعظم رحمه الله اوچت اوصاف

دالله ﷻ احسان ووچه امام ابوحنیفه رحمه الله ته ئې ډیره اوچته حافظه ورکړې وه.دناسخ او منسوخ په تحقیق کښې ورته کمال حاصل وو.دلغت اود عربیت تدوین په کوفه کښې پیدا شوې وو. الله ﷻ ورته مناسب طبیعت او اوچت فهم ورکړې وو.دسوداګرئ وسعت اوملکی تعلقاتو هغوی د معاملاتو دضرورت نه خبرکړې وو.هغوی بنه پوهیدل چه لین دین معاشرت او معاملاتو کښې خلق څه کوی .په دې کښې کومې کومې خرابئ دی.او د دے اصلاح به څنګه اوکړې شی؟د اطرافو نه به دکوفے مرکزی دارالعلوم ته په سوونو استفتاګانې راتلې. ددے نه ورته هم بنه تجربه حاصله شوې وه.الله ﷻ په کښې د فقه د تدوین جذبه پیداکړله.په دې سلسله کښې د دوی خوبونه او زیری ډیر مشهور دی. طبیعت ئې د اجتهاد اوډغیر معمولی تقوی په صفت موصوف وو.بیا

دامام ابوحنیفه رحمه الله د تدوین محتاطه طریقه

چه امام ابو حنیفه رحمه الله په کومه طریقه د فقه د تدوین اراداه کړې وه.هغه ډیره وسیع اود خطرو نه ډک او د ذمه وارئ کار وو.دوی دا غوښتل چه دا شریعت مکمل او دائمي دې.نو ددے په رڼرا کښے چه کوم کار وی هغه به هم په دائمی ضروریاتوحاوی او مشتمل وی. نوځکه دومره لوئې کار دوی صرف په خپلو ذاتی معلوماتو باندې کولو.بلکه په خپلو نامتو شاګردانو کښې چه څوك د فن ماهران اوصاحب دکمال وو.هغوی ئې منتخب کړل.لکه یحیی بن ابی زائده، حفص بن غیاث، قاضی ابویوسف،داود طائی، حبان مندل.دوی په آثارو احادیثو کښې ډیر مهارت لرلو. امام زفر په قوت استنباط کښې زیات مشهور وو. قاسم بن معن او امام محمد ته په ادب او عربیت کښې کمال حاصل وو.بیان شوې دی.چه دامام ابو حنیفه رحمه الله د تدوینی بورډ شریکان او ممبران څلویښت لوئې لوئې عالمان او د فن ماهرین وو.

دامام ابو حنيفه رحمه الله د تحقيق او تدوين طريقه

دامام ابو حنيفه رحمه الله په شاګردانو کښې لس کسان ممتاز او وړاندې وو.په دوی کښې امام ابو يوسف رحمه الله ، امام زفر رحمه الله ، داود طائي رحمه الله ، اسد بن عمر رحمه الله يوسف بن خالد رحمه الله ،يحيى بن زکريا بن ابي زائده رحمه الله ، حفص بن غياث رحمه الله ، صبان بن مندل رحمه الله ، قاسم بن معن رحمه الله، امام محمد وو. يحيى بن زکريابن ابي زائده رحمه الله تر ديرشو کالو پورې ليکل کول.د اسد بن فرات په يو روايت کښې داهم دي.چه په بعضو مسائلو کښې به نې درے درے ورځې سوچ او فکرکولو.په کتابت کښې به نې توندی نه کوله.کله چه به مسئله واضحه شوه او اطمينان به ورته حاصل شو.نو بيا به نې هغه ليکله .يحيى بن معين رحمه الله په تاريخ او علل کښې ليکلي دي.،امام زفر رحمه الله فرمائي.چه مونږ به امام ابوحنيفه رحمه الله ته تلو راتلو . مونږ سره به امام ابو يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله وو. مونږ به دامام ابو حنيفه رحمه الله خبرے اوريدلې.يوه ورځ امام ابو حنيفه رحمه الله امام ابويوسف رحمه الله ته اوفرمائيل:چه زما هره خبره مه ليکه.ځکه چه په يوه مسئله کښې زما يو ورځ يو رائې وی.خو په بله ورځ هغه پريږدم. ددے حاصل هم دا دې.چه تر څوپورې يوه مسئله د بحث او مباحثے نه پس محققه شوې نه وی.ترهغه وخته پورې ليکل مه کوه.دا د تقوی اواحتياط، خوف او ويرے د احساس او د ذمه وارئې کمال وو.الله اکبر.

موفق مکی فرمائي.چه امام ابو حنيفه رحمه الله دخپل مذهب په متعين کولو کښې صرف په خپله ذاتی رائې اکتفا نه ده کړې.بلکه دالله جل جلاله اود رسول اکرم ﷺ د اوچت مقام خيال نې ساتلو.او دمسلمانانو سره نې د اخلاص اوخيرخواهئې پوره کوشش کولو.اود دين په باره کښې نې د پوره کوشش او احتياط نه کار اخستے وو.مجلس شوری نې مقرر کړې وه.بيا به يوه يوه مسئله وړاندې کيدله.اود ټولو دلائل او نظريات به اوريدے شول.او خپله رائې به نې هم ښکاره کوله.کله کله به په اهمو مسئلوکښې تر يوے مياشتے بلکه ددے نه هم زيات مباحثه روانه وه. تر دے چه په يو قول به فيصله اوشوه.نو امام ابويوسف رحمه الله به هغه په اصولو کښې اوليکله.تر دے چه ټول اصول هم د پوره تحقيق نه پس اوليکلی شوه.

صميری رحمه الله د خپل مسند نه نقل کړی دی.که د امام ابو حنيفه رحمه الله شاګردانو به يوه مسئله کښې خبرے کولې او قاضي عافيه بن يزيد به موجود نه وو.نوامام ابو حنيفه رحمه الله به اوفرمائيل.د عافيه تر راتلو پورې صبر اوکړئ.کله چه به هغه راغلو.او اتفاق به نې ورسره اوکړلو.نو مسئله به اوليکلے شوه.خلاصه دا چه ديو خاص باب يوه مسئله به نې وړاندې کړه.او خلق به په هغې باندې متفق شو.نو په هغه وخت به اوليکلےشوه.او ډير په آزادئ سره به بحث شروع شو.امام اعظم رحمه الله به ټول دلائل ډير په توجه اوسوچ سره اوريدل.اوبه آخر کښې به نې فيصله کوله.اکثر به ددوی په محققه فيصله باندې متفق شو.او هغه به نې اوليکله.خو که خلق به په خپلو رائې ګانو قائم وو.نوبه هغه وخت کښې به ټول اقوال ليکلے شو.او دغه شان دا عظيم الشان کار د ديرشو کالو په اوږده موده کښې پوره شو.

دمدون مسائلو تعداد

دا مجموعه ډيره لويه علمی ذخيره وه.په مقدمه د نصب الرايه کښې دی.چه (واقل مايقال فی مسائله انها تبلغ ثلاثا وثمانين الفا).يعنی کم ازکم ددوی علمی مسائل درے اتيا زره ته رسيدلے وې. بعضې حضراتو ليکلی دی.چه حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله چه څومره مسائل مدون کړی دی.دهغې تعداد نې ليکلےدې. دا مسائل شپې لکهه وې.د امام محمد رحمه الله دتصنيفانو نه دومره اندازه کيږی.چه هغه مسائل ډير زيات وو.دصحيح تعداد متعلق فيصله کول ګران دی.دحافظ ابو المحاسن رحمه الله دبيان مطابق نې ترتيب داسې وو.باب الطهارت،باب الصلوة، باب الصوم او بيا د عبادتونو بابونه.ددے پس په معاملاتو کښې په ټولو کښې آخری باب باب الميراث وو.بهر حال دامام اعظم رحمه الله داکار يو نوے کار وو.دحضرت امام اعظم رحمه الله داکار من حيث المجموع په اسلامی تاريخ کښې بلکه په دنياوی تاريخ کښې بې نظيره

دي.په دنیا کښې نور قومونه هم شته.اود اسماني کتابونو دعویدار هم دی.لیکن هیڅ یو قوم نه دعوی کولې شي.او نه ثابتولې شي.چه دوی د مسائلو د استنباط دپاره اصول او ضوابط مقررکړي دي.اودیو مستقل فن نقشه ئې دنیا ته پیش کړې ده.

علامه سیوطی رحمه الله په خپل کتاب " تبیض الصحیفه" کښې لیکلی دی چه دامام اعظم رحمه الله په مناقبو کښې یو داهم دې.چه علم شریعت دټولو نه وړاندې دوی مدون کړې دې.په دې موقع هغه مشهوره لطیفه ذکر کول هم مناسب دی.چه ابن مسعود رحمه الله د فقه پټې کرلې وو.او علقمه ورته اوبه ورکړې وې.اوسیراب کړې ئې وو. اوابراهیم نخعي رحمه الله هغه کټ کړلو او حماد رحمه الله هغه غویل کړلو.او امام محمد دهغې نه روټئ پخې کړې چه نن ئې ټول خلق خوري.

دعلامه زاهد کوثري په ژبه دفقه حنفي اصول

علامه زاهد کوثری په"تأنیث الخطیب علی ماساقه فی ترجمة أبي حنیفه من الأکاذیب" کښې شپږ رس اهم اصول ذکرکړي دی.د هغې خلاصه دا ده.

① د ثقه راویانو مرسل روایتونه قبلول خوچه هغې سره قوي روایت معارض نه وي.

② امام اعظم رحمه الله به ،،اخبار احاد،، په هغه اصولو باندې تلل.کوم چه د شرع د مواردو لټولونه پس هغوی سره جمع شوی وو.نوکه یو خبر واحد به د هغو د اصولو نه مخالف وو.د هغې په مقابله کښې به ئې اصل اختیارولو.چه په قوي دلیل باندې عمل اوشي.اوهغه خبرچه د اصل نه به مخالف وو.هغه به ئې شاذ ګرځولو. په معاني الآثار کښې ددې مثالونه زیات موجود دی.

③اخبار احاد به ئې دکتاب په ظواهرو او عموماتو ټولو باندې تلل.نوکه یو خبر به دکتاب د عموم یا ظاهر نه خلاف وو.امام اعظم رحمه الله به قوي دلیل باندې عمل کولو دپاره دخبر په ځائې په کتاب الله عمل کولو.ځکه چه لکه څنګه کتاب الله قطعي الثبوت دې.دامام اعظم رحمه الله په نیز دغه شان ددې ظواهر او عمومات هم قطعي الدلاة دی.لکه چه داصولو په کتابونو کښې تفصیلي دلائل دی.اوکله چه به یو خبر دکتاب الله د عموم یا ظاهر نه مخالف وو.بلکه د هغې د اجمال بیان به وو.نو هغه به ئې قبلولو.ځکه چه په هغې کښې د بیان نه بغیر دلالت نه وي.

④ په خبر واحد به هله عمل کولې شي.تر څوچه هغه دسنت مشهوره نه خلاف نه وي.که هغه سنت فعلیه وي اوکه قولیه وي.

⑤ دغه شان دا هم شرط دې.چه هغه دخپل ځان په شان خبر نه سره هم معارض نه وي.که معارض وي.نود تعارض په وخت کښې به یو ته په بل باندې ترجیح ورکولې شي.اووجوه د ترجیح د مجتهدینو د افکارو د اختلاف د وجې مختلف دی.

⑥ چه د راوي عمل د حدیث نه مخالف وي.لکه دحضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت چه کله سپې په لوښي کښې خوله اووهي.نو هغه اووه ځله وینځي.دا د اووه ځله وینځلو روایت د ابو هریره رضی الله عنه دفتوی نه خلاف دې.

⑦ دکوم خبر په متن یا سند کښې چه زیاتي وي.نو په دین کښې د احتیاط په نقطه نظر سره به دغه زیات روایت په هغه روایت عمل کولې شي.په کوم کښې چه کمې اونقص وي.

⑧ چه دخبر واحد تعلق عام او زیات پیښیدونکي واقعې سره نه وي.ځکه چه په داسې عمل باندې دحکم ثبوت دشهرت یا تواتر نه بغیر نشي منلې.په دې کښې حدود او کفارات هم شامل دی کوم چه دشهبې د وجه ساقطیږي.

⑨که د یوے مسئله په حکم کښې دصحابه کرامو رضی الله عنهم اختلاف پاتې شوې وی.اوچه کوم صحابی په کښې اختلاف کړې وی خوهغه نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته په استدلال او احتجاج کښې خبر واحد نه وی پیش کړې.بلکه په هغې ئې استدلال پریخودے وی .نو په داسې صورت کښې به هم هغه خبر واحد معمول به نشی جوړولې.

⑩ که په خبر واحد باندې په سلفو کښې چا طعن کړې وی.نوپه دے صورت کښې به هم خبر واحد نشی قبلولې.

⑪ چه مختلف روایات موجود وی.نو په دې صورت کښې به هم حدود او عقوباتو کښې په آسان روایت عمل کولې شی.

⑫چه راوی دکوم وخت نه دخپل استاد نه روایت اوریدلے وی.او په کوم وخت کښې بیا د هغې روایت کوی.نو دا ضروری ده.چه دغه روایت ورته په دې موده کښې یاد وی.او ددے په مینځ کښې ترے هیڅ وخت کښې هیر شوې نه وی.اوکه داسې نه وی.نودهغه په روایت باندې استدلال صحیح نه دې.حالانکه باقی ټول محدثین دا شرط لازمی نه گڼری.او د بار بار هیرولو باوجود په روایت باندې استدلال کول صحیح گڼری.

⑬که دحدیث راوی ته خپل حدیث یاد نه وی.او هغه په خپلو لیکلو باندې اعتماد اوکړلو. او روایت ئې اوکړلو.نو په داسې صورت کښې هم داامام اعظم رحمه الله په نیزے قابل حجت پاتې نشو.حالانکه نور محدثین داهم حجت گڼری.

⑭ کوم حدود چه د شبهاتو په وجه ساقطیږی.که د هغې په باره کښې روایات مختلف وی.نو امام اعظم رحمه الله احوط روایت باندې عمل کوی.لکه په دے روایت کښے چه راغلی دی.چه لاس به د هغه څیزپه غلا کښې کټ کولې شی.چه هغه د دینار د څلورمے حصې برابر وی.خو امام اعظم رحمه الله ددے په مقابله کښې هغه روایت معمول بها جوړ وی.چه په هغې کښې دلسو دراهمو په برابر د څیز په غلا باندې د لاس کټ کولو حکم راغلے دې.ځکه چه د دراهمو په روایت باندې عمل کولوکښې زیات احتیاط دې.خو چه په دواړو روایاتو کښې د یو تقدم او تاخیر معلوم نه وی.ځکه که داسې وی نو چه کوم موخروی هغه به د مقدم دپاره ناسخ وی.

⑮امام اعظم رحمه الله په داسې حدیث باندې عمل کوی.چه د هغې په تائید کښې آثار زیات وی.

⑯ چه خبر دصحابو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله دعمل متواتر نه مخالف نه وی.که دغه حضرات دکوم یوبنا رتعلق ساتی.د دوی په نیز د یو بنارتخصیص نشته.

د پاکو (د احکامو) بیان

كتاب الطهارة

ترجمه (دا) کتاب د پاکوالی (د احکامو په بیان کښې) دې.

تشريح **المباحث الثلاثة في الجملة** په دې جمله کښې درې مباحث دی.
① دکتاب د لفظ سره متعلق ② ترکیب نحوی ③ د طهارت د لفظ سره متعلق،
معني الكتاب لغةً د اول بحث حاصل دا دې.چه دکتاب اوکتابت لغوی معنی ده. د یو څیز جمع کیدل،اود کتاب نوم کتاب ځکه کیخودې شوې دې. چه په دې کښې حروف جمع کیږی.او کتاب دمکتوب په معنی کښې هم استعمالیږی.لکه خلق چه د مخلوق په معنی کښې استعمالیږی.
معني الكتاب شرعاً په اصطلاح کښې کتاب دمسائلو هغه مجموعه ته وائی.چه مستقلا معتبره وی.او په مختلفو انواعو مشتمله وی.یا په مختلفو انواعو مشتمله نه وی.
تركيب كتاب الطهارة د نحوی ترکیب په اعتبار سره درې احتمالات دی.
① دا چه کتاب الطهارة خبرده د مبتدا محذوف چه "هذا"دې.یعنی [هذا كتاب الطهارة]
② دویم دا چه دا مبتدا وی.او خبر ئې محذوف وی.یعنی [كتاب الطهارة هذا]
③ دریم دا چه دا مفعول وی د فعل محذوف یعنی [خذ كتاب الطهارة یا إقرا كتاب الطهارة]
معني الطهارة لغةً د دریم بحث حاصل دا دې.چه په لغت کښې طهارت بضم الطاء دهغې اوبو نوم دې. چه په هغې سره پاکی حاصلولې شی.او بکسر الطاء د آله نظافت نوم دې.او بفتح الطاء مصدر دې.دنظافت په معنی،
معني الطهارة شرعاً په شریعت کښې طهارت د حدث (نجاست حکمی)یا خبث (نجاست حقیقی) نه پاکیدو ته وائی.او بعضې عالمانو فرمائیلی دی.چه طهارت د درې اندامونو وینځلو او په سر د مسح کولو نوم دې.
سبب وجوب الطهارة وحكمها د وجوب طهارت سبب حدث (نجاست حکمی) یا خبث (نجاست حقیقی) موجودګی ده.اودطهارت حکم دهغه څیز اباحت دې. چه بغیردطهارت نه حلال نه وی.
وجه تقديم الطهارة پاتې شوه دا خبره چه کتاب الطهارة ولې مقدم کړې شو؟ نو ددې وجه دا ده.چه مشروعات څلور دی.
① خالص حقوق الله ② خالص حقوق العباد ③ چه دواړه جمع شی.مګر حق الله غالب وی.
④ چه دواړه جمع شی.مګر حق العبد غالب وی. امام قدوری په ترتیب کښې حقوق الله (عبادات) ددې د عظمت د وجه مقدم کړلو.بیا په عباداتو کښې مونځ وړاندې بیان شو.ځکه چه مونځ دایمان نه پس په اسلامی ارکانوکښې د ټولو نه اهم دې.الله تعالی فرمائی ﴿فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ﴾ اونبی علیه السلام فرمائیلی دی.[الصلاة عماد الدين من أقامها فقد أقام الدين ومن هدمها فقد هدم الدين] دغه شان په ارکان اسلام کښې د توحید نه پس د ټولو نه وړاندې هم مونځ فرض شوې دې.او طهارت

چونکه د مونځ شرط دې.ارشاد دې. [مفتاح الصلاة الطهور] او دا قانون دې.چه شرط د یو څیز مقدم وی په هغه څیز باندې نوځکه طهارت په مونځ باندې مقدم کړې شو.

د اودس د فرضیت دلیل او اصل

﴿یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا﴾ اے دایمان خاوندانو ﴿إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ﴾ کله چه تاسو د مونځ دپاره د اودریدو (اراده) اوکړئ. ﴿فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ﴾ نو خپل مخونه اووینځئ ﴿وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ﴾ اولاسونه خپل تر څنګلوپورې ﴿وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ﴾ اومسح اوکړئ په سرونو خپلو ﴿وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾ او اووینځئ پښې خپلې ترګیټو پورې

تشریح> وجه إبتداء کتاب الطهارة بالآیة > امام قدوری رحمه الله د اودس شروع په آیت باندې کړې ده.حالانکه قاعده دا ده.چه دعوٰ کښې دعوی مقدم وی.او د هغې دلیل روستو ذکر کولې شی.لیکن دلته کښې نې دالله تعالی کلام تبرکاً او تمیناً مقدم کړې دې.اګرچه د مروجې قاعدې نه خلاف کار دې.

فرضیة الطهارة للصلاة قبل نزول هذه الآیة > دلته یو خبره دا ده.چه دا آیت په اجماع سره مدنی دې.څکه چه په بخاری کښې دی.چه د حضرت عائشې رضی الله عنها دهار ورکیدو واقعه بیانولو نه پس فرمائی: فنزلت ﴿یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ إلی قوله لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴾ او دا واقعه په اتفاق سره دهجرت نه څه موده پس پیښه شوې وه.نوثابته شوه.چه آیت مدنی دې.او دا خبره هم مسلمه ده.چه د مونځ د فرضیت په وخت کښې هم په مکه کښې اودس فرض شوې وو.حضرت ابن عبدالبر رحمه الله فرمائیلی دی.چه تول اهل مغازیو ته دا خبره معلومه ده.چه نبی علیه السلام د مونځ فرض کیدو نه پس هیڅ یومونځ هم بغیر د طهارت نه ندے کړې.او ددې نه انکار جاهل یا عنادی سړې کولې شی.

ما لحکمة في نزول آیة الوضوء؟> اوس پاتې شوه دا خبره چه کله په اودس باندې د وړاندې نه عمل موجود وو.نو د آیت په نازلولوکښې څه حکمت دے؟

① حضرت مولانا عبدالحی رحمه الله په سعایه کښې لیکلی دی چه ددې حکمت دا دې چه د اودس فرضیت متلو بالقرآن شی.

② دا هم احتمال شته چه اول دا آیت چه په هغې کښې د اودس ذکر دې.په مکه کښې نازل شوی وی. اود فرضیت د مانځه سره نازل شوی وی.او باقی آیت چه په هغې کښې د تیمم ذکر دې.په مدینه منوره کښې نازل شوې وی.(کذا في الاتقان)

په اودس کښې دمخ وینځلو فرضیت

فَفَرْضُ الطَّهَارَةِ نو داودس فرض غَسْلُ الْأَعْضَاءِ الثَّلَاثَةِ د درې اندامونو وینځل وَمَسْحُ الرَّأْسِ او د سر مسح کول دی

تشریح> الوجوه الثلاثة لتقدیم الوضوء > صاحب دقدوری د اودس احکام مقدم کړل.

① دکثرت حاجت د وجې

② دویمه وجه داده.چه د اودس محل د غسل د محل جزء دې.او جزء مقدم وی په کل باندې

③ دریمه وجه دا ده.چه الله تعالی هم اودس په غسل باندې مقدم کړې دې.اول نې دا فرمائیلی دی ﴿فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ﴾ او ددې نه پس نې فرمائیلی دی.﴿وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾

فرائض الوضوء ⟩ علامه قدوری رحمه الله فرمائی.چه په اودس کښې څلور فرض دی د درې اندامونو وینځل او دسر مسح کول او د درې وارو د فرضیت ثبوت ئې په اول کښې ذکرشوی آیت سره کړې دې.

معاني الفرض لغة ⟩ فرض په ډیرو معانیو کښې مستعمل دې.

① قطع، ونیلی شی. [فرض الخیاط الثوب] درزي جامه کټ کړه.

② بیان، الله تعالی فرمائیلی دی.﴿قَدْ فَرَضَ اللهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ يعني بين لكم كفارة أيمانكم﴾

③ تقدير، الله تعالى فرمائيلى دى. ﴿فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ يعني قدرتم﴾

④ حد، الله تعالى فرمائيلى دى ﴿تلك حدود الله﴾

⑤ تفضيل،الله تعالى فرمائيلى دى.﴿سُورَةٌ أَنزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا يعني فصلناها﴾

تعريف الفرض وحكمه ⟩ فرض هغه حكم ته وائي.چه په داسې يقيني دليل سره ثابت شوې وي.چه په هغې كښې څه شك نه وي.او ددې حكم دا دې.چه كونكې ئې مستحق د ثواب اوپريخودونكے ئې مستحق د عذاب دې.(او منكر ئې كافر اومرتد دے)

الوجوه الثلاثة في حركات الغسل ⟩ غسل" په پيښ سره هغه اوبو ته وائي چه غسل پرے كولې شي. او د ټول بدن د وينځلو نوم هم غسل دې.اوغسل"په زير سره هغه څيزدې چه وينځل پرے كولې شي.يعنى خطمي وغيره او غسل ، په زور سره مصدر دې.يعنى وينځل

حد الوجه طولا وعرضا ⟩ علامه مرغيناني رحمه الله په هدايه كښې دمخ د اوږدوالي او پلنوالي حد بندي داسې كړې ده.چه د سر د ويختو راټوكيدو د ځائي نه واخله تر د زنې لاندې حصې پورې او د غوږ د پوسكۍ نه واخله تر دبل غوږ پوسكۍ پورې د مخ وينځل فرض دی.

دليله ⟩ دليل دا دې.چه وجه د مواجهت نه مشتق ده.او مواجهت(مخامخ كيدل په دې ټوله حصه باندې كيږي.نو ځكه ددې ټولې حصې وينځل فرض دی.

د څنګلو او ګيټو د وينځلو په فرضيت كښې اختلاف

وَالْمِرْفَقَانِ دواړه څنګلې وَالْكَعْبَانِ يَدْخُلَانِ فِي الْغَسْلِ او دواړه ګيټې په وينځلو كښې داخل دی عِنْدَ عُلَمَائِنَا الثَّلَاثَةِ [1]په نزد دعالمانو زمونږ درې وارو۔

حل اللغة ⟩ ① **مرفقان**: دَمرفق تثنيه زنګون ② **كعبان**: دكعب تثنيه ګيټې

تشريح ⟩ **تحقيق المرفق والكعب** ⟩ دميم په كسرې او فاء په فتحے سره او ددې په عكس هم جائز دې.يعنى دميم فتحه او فاء كسره،د مټ او مروند جوړ ته مرفق وائي .كعب دامام محمد په نزد د قدم په ظاهر باندې د تسمے ترلو ځائي ته وائي.ليكن دا صحيح نه ده. صحيح دا ده.چه د پنډۍ نه بنكته د راپورته هډوكى نوم كعب دې.ددې نه كاعب مشتق دې.چه جمع ئې كواعب راځي. كواعب هغه خوانې جينكۍ دی.چه سينے ئې راوتی وی.

[1] القول الراجح هو قول علمائنا الثلاثة من دخول المرفقين والكعبين في غسل اليدين والرجلين وقال زفر انما يدخلان في المفروض كذا في فتح القدير(۱\۱۳) وردالمحتار(۱\۷۳) والهندية (۱\۴) نقلا عن القول الراجح (۱\۱)۔

المذهبان في دخول المرفقين والكعبين في الغسل ﴿ په دې باره کښې اختلاف دې.چه مرفقين په غسل يدين او کعبين په غسل رجلين کښې داخل دی.که خارج دی.يعنی د لاسونوپشان د څنګلو او دپښو پشان د ګيټو وينځل هم شرط دی که نه؟

① دائمه ثلاثه يعنی امام صاحب اود صاحبينو مذهب دا دې.چه دلاسونوسره د څنګلو او د پښو سره د ګيټو وينځل هم فرض دی.هم دا قول دامام شافعی او امام احمد هم دې.اوهم دا د امام مالك نه هم يو روايت دې[1]

خِلَافًا لِزُفَرَ رَحِمَهُ اللّٰهُ او خلاف دے د زفر (هغوی فرمائی چه ګيټې او څنګلې په فرض محل کښې داخلې نه دی)

تشريح ﴿ اوامام زفر فرمائي.چه مرفقين او کعبين په وينځلو کښې داخل نه دی.يعنی د څنګلو او ګيټو وينځل فرض نه دی.دا د امام مالك نه يو روايت دے

دليل زفر ﴿د امام زفر دليل دا دې.چه په آيت کښې مرافق او کعبين غايت دې.او غايت مطلقاً د مغيا په حکم کښې داخل نه وی. لکه په ﴿اتموا الصيام الی الليل﴾ کښې چه شپه د روژې په حکم کښې داخله نه ده.دغه شان به مرافق د يدينو او کعبين او رجلينو په حکم کښې داخل نه وی.

دليل جمهورالأحناف ﴿ زمونږ دليل دا دې.چه د امام زفر دا وينا چه غايت دمغيا په حکم کښې مطلقاً داخل نه وی.دا نه منو.بلکه د غايت دوه قسمونه دی.

① يو دا چه غايت د ما قبل يعنی مغيا د جنس څخه وی.يعنی که غايت لرے کړې شی.نو صدر دکلام يعنی مغيا به غايت او ماوراء غايت ټولو ته شامل وی.

② دويم داچه غايت دماقبل يعنی مغيا دجنس څخه نه وی.يعنی د غايت په لرے کولو سره به صدر دکلام يعنی مغيا غايت او ما وراء غايت ته نه شامليږی.اوکه د قسم اول څخه وی.نوغايت په مغيا کښې داخليږی. او که دقسم ثانی څخه وی.نو غايت د مغيا په حکم کښې نه داخليږی

الجواب عن دليل زفر ﴿ نو دليل د روژې دجنس څخه نه دې. ځکه به ليل د روژې په حکم کښې داخل نه وی.او مرفقين او يدين او کعبين د رجلينودجنس څخه دی.نو ځکه به دا دواړه غايتين دخيلے مغيا په حکم کښې داخل وی.يعنی څنګلے به د لاسونو په وينځلو کښې او ګيټې د پښو په وينځلو کښې داخل وی.

توضيح العوام ﴿د دليل حاصل دا دې.چه غايت کله ددې دپاره ذکر کولې شی.چه حکم رابنکی.او مغيا ته ئې اورسوی . اوکله د ما وراء غايت داسقاط دپاره ذکرکولې شی.حاصل دا چه دغايت دوه قسمونه دی.غايت اثبات او غايت اسقاط او په دې دواړو کښې ما به الامتياز دا دې.که صدر کلام يعنی غايت په مغيا کښې شامل وی.نودا به غايت اسقاط وی. اوکه شامل نه وی.نو دا به غايت اثبات وی.اوغايت اثبات د مغيا په حکم کښې داخل نه وی.لکه په ﴿اتموا الصيام الی الليل﴾ کښې ليل دصوم په حکم کښې داخل نه ده.اوپه غايت اسقاط کښې ما وراء غايت ساقط کولې شی.نوغايت به د مغيا په

[1])القول الراجح هو قول علمائنا الثلاثة كذا في فتح القدير(۱\۱۳) وردالمحتار(۱\۷۳) والهندية (۱\٤) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱)_

حکم کښې داخل وی. لکه په ﴿ايديكم الى المرافق﴾ کښې غايت يعنی مرافق ذکر شوی دی.د ما وراء غايت د ويستلو دپاره نو د وينځلو حکم به په مرفق کښې باقی وی.

....

د سرد مسح په مقدار کښې خلورمذاهب

وَالْمَفْرُوْضُ فِي مَسْحِ الرَّأْسِ مِقْدَارُالنَّاصِيَةِ او په مسح د سر کښې فرض مقدار دناصيه دي وَهُوَرُبْعُ الرَّأْسِ او دا څلورمه حصه د سر ده.

حل اللغة ﴿ ① **ناصية**: تندي

تشريح﴿ مسح وائی لوند لاس راښکلوته که د اوبو لوندوالې د لوښي وی او که د مغسول اندام د وينځلو نه پس پاتې شوې وی.د سر مسح کول په اتفاق سره فرض ده.ځکه چه ذدې ثبوت په نص صريحی سره دې.اود سر د څلورمې حصې مسح کول فرض ده.که د سر د مخکښې حصې وی اوکه د روستنۍ اوکه د ښې طرف څلورمې حصې وی اوکه د ګس طرف

لِمَارَوَى الْمُغِيْرَةُبْنُ شُعْبَةَ رضی الله عنه دهغه حديث د وجې چه مغيره بن شعبه رضی الله عنه روايت کړې دې. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ أَتَى سُبَاطَةَ قَوْمٍ چه رسول ﷺ د يو قوم ډيران ته تشريف يوړلو فَبَالَ نونبی عليه السلام متيازې اوکړلې وَتَوَضَّأَ اواودس ئې اوکړلو وَمَسَحَ عَلَى نَاصِيَتِهِ وَخُفَّيْهِ (¹) اومسح ئې اوکړله.په خپله ناصيه اودواړو موزو باندې

حل اللغة ﴿ ① **سباطة**: ګند خځله ② **خفيه**: دخُف تثنيه موزه

تشريح﴿ **إستدلال الأحناف** رحمهم الله ﴿احناف عالمان فرمائی.چه د مسح د مقدار په سلسله کښې آيت. ﴿وَامْسَحُوابِرُءُوسِكُمْ﴾ مجمل دې. او مجمل دبيان محتاج وی.

دلته د حضرت مغيره رضی الله عنه حديث دې.مغيره بن شعبه رضی الله عنه فرمائی[أن النبی ﷺ أتى سباطة قوم فبال وتوضأ ومسح على ناصيته وخفيه] صاحب دقدورئ چه کوم حديث ذکر کړې دې.نو دا حديث دحضرت مغيره رضی الله عنه او حضرت حذيفه رضی الله عنه د حديث نه مرکب دې.

① دمغيره رضی الله عنه حديث کوم چه امام مسلم رحمه الله نقل کړې دې.دهغې الفاظ دا دی.[أن النبی ﷺ توضا فمسح بناصيته وعلى العمامة وعلى خفيه]

② اود حديث د حذيفه رضی الله عنه چه شيخينو روايت کړې دې. د هغې الفاظ دا دی.[أتى النبی صلى الله عليه وسلم سباطة قوم فبال قائماً ثم دعا بماء فجئته بماء فتوضأ] ددې احاديثو خلاصه دا ده.چه نبی عليه السلام د

---

¹) قال الزيلعي رحمه الله هذا حديث مركب من حديثين جعلهما المصنف حديثا واحدا فحديث المسح على الناصية والخفين اخرجه مسلم (اى فى الطهارة رقم ٨٣) عن عروة بن المغيرة عن ابيه المغيرة رضی الله عنه بن شعبة :ان النبی ﷺ توضا ومسح بناصيته وعلى العمامة وعلى الخفين .....وحديث السباطة رواه ابن ماجه (اى في الطهارة باب ١٣) وفيه عن المغيرة بن شعبة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ اتى سباطة قوم فبال قائما (نصب:١\٤٠)_ ٤٠)_

متیازو کولونه پس اودس اوکړلو.او په مقدار د ناصیه باندې ئې مسح اوکړله.اومقدار د ناصیه او څلورمه حصه یو خبره ده.نوځکه احناف عالمان ﷫ په دې آیت استدلال کوی. او فرمائی .چه دسر څلورمه حصه مسح فرض ده.

تقدیرالناصیة بثلاث أصابع ودلیله> داحنافو بعضې عالمانو د ناصیه د مقدار اندازه د دریو ګوتو سره کړې ده.اودلیل ئې دا دې. چه مسح په لاس باندې کیږی.او په لاس کښې اصل ګوتې دی.او درې ګوتې اکثر دی. او دا قاعده ده.چه [للأکثرحکم الکل] ددې وجې نې درې ګوتې قائم مقام د کل اوګرځولې.او حکم ئې ورکړلو .که د درې ګوتو په مقدار باندې ئې مسح اوکړه. نو شرعاً به کافی وی

په اودس کښې د دواړو لاسونو وینځلو مسنونیت

وَسُنَنُ الطَّهَارَةِ اود اودس سنت غَسْلُ الْيَدَيْنِ وینځل د دواړو لاسونو دی قَبْلَ إِدْخَالِهِمَا الْإِنَاءَ دړاندې د داخلولو د ددې دواړو په لوښی کښې إِذَا اسْتَيْقَظَ الْمُتَوَضِّئُ مِنْ نَوْمِهِ کله چه رابیدار شی اودس کونکې دخوب خپل نه

حل اللغة > ① **استیقظ: استیقاظاً**: بیداریدل ② **ادخال**: داخلول ③ **المتوضي**: اودس کونکې

تشریح> تعریف السنة وحکمها> سنن ، د سنت جمع ده.سنت په دین کښې داسې رائجې طریقې ته وائی.چه هغه نه فرض وی اونه واجب.او دهغې ادا کونکې مستحق د ثواب او نه ادا کونکې مستحق د ملامتیا او عذاب وی.علامه ابن الهمام ﷫ فرمائیلی دی.سنت هغه دې.چه نبی علیه السلام کله کله د پریخودو سره په هغې همیشوالې کړې وی.

وجه جمع صیغة السنة> باقی پاتې شوه دا خبره چه امام قدوری فرض په صیغه د واحد او سنت په صیغه د جمع ولې ذکر کړل.نوددې جواب دا دې.چه "فرض" په اصل کښې مصدر دې.او مصادر د تثنیې اوجمعې نه مستثنی وی.او ددې په خلاف سنت مصدر نه دې.نو ځکه ئې دا په صیغه دجمعې سره راوړلو.

طرق غسل الیدین للمستیقظ> په هر حال په اودس کښې د تولو نه رومبې سنت دا دې.چه کله متوضی دخوب نه رابیدار شی.نو هغه دې دواړه لاسونو په لوښی کښې د داخلولونه وړاندې درې خله اووینځی .اود وینځلوطریقه دا ده.

① که اوبه ئې په وړوکی لوښی کښې ایخې وی.نوپه ګس لاس دې راپورته کړی.او په ښی لاس دې واچوی.اوبیا دې په ښی لاس سره په ګس باندې اوبه واچوی

② که لوښې دومره غټ وو.چه د هغې پورته کول ممکن نه وو.نو وړوکې لوښې دې واخلی.او په هغې دې ترې اوبه راوباسی.او بیا دې په خپل ګس لاس سره په ښی لاس اوبه واچوی.او په ښی لاس سره دې په ګس لاس اوبه واچوی.

③ که وړوکې لوښې نه وی.نود ګس لاس ګوتې دې جوختې کړی.او د غټ لوښی نه دې اوبه راواخلی.په ښی لاس دې واچوی.تلې به په اوبوکښې نه داخلوی.او بیا دې په ښی لاس سره اوبه راواخلی.او ګس لاس دې اووینځی.

دلیله > ① نقلی دلیل دحضرت ابوهریره ﷛ حدیث دې.کوم چه شیخینو روایت کړې دې. [إذا استیقظ أحدکم من منامه فلایغمسن یده فی الإناء حتی یغسلها فإنه لایدری أین باتت یده] اود مسلم الفاظ دا دی. [حتی

يغسلها ثلاثا] اوپه بعضي رواياتوکښې دی.[فلا يغمس] په نون تاکيد سره دي.حاصل دا دي.چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی.کله چه په تاسو کښې څوک د خوب نه رابيدار شی.نوخپل لاس دې په لوښی کښې د ډوبه کولو نه وړاندې درې ځله اووينځی .ځکه چه ده ته پته نه لګی.چه دده لاس په کومه حصه باتې شوي دي.

إطلاق غسل اليدين في ا لوضوء> په مبسوط کښې دی.چه اودس نه وړاندې د دواړو لاسونو وينځل مطلقاً سنت دی.که دخوب نه راپاسيدلے وی اوکه نه وی.ځکه چه د لاس وينځلوعلت په بيدار سړی کښې هم موجود دي.يعنی کيدے شی.چه هغه په خپل لاس سره د خپل بدن رګونه مسح کړي وی.حاصل دا دي.چه د لاس وينځلوعلت ګمان د نجاست دي.او ګمان د نجاست په دواړو صورتونو کښې دي.که د خوب نه رابيدار شوي وی.اوکه د وړاندې نه ويخ وی.اودا وينځل دهغه وخته پورې سنت دی.چه نجاست ښکاره نه وی.ګنی نجاست لرے کول به فرض وی.

② عقلی دليل دا دي.چه لاس د پاکولو آله ده.نواول به ددې پاکول مسنون وی.او وينځل د مروندونو پورې مسنون دی.ځکه چه د پاکئ په حاصلولوکښې دومره مقدار کافی کيږی.او "رسغ" د راء په پيښ اوسين په سکون سره دي.

په اودس کښې د بسم الله مسنونيت

وَتَسْمِيَةُاللهِتَعَالَى اونوم اخستل دالله تعالی (سنت دی) فِي ابْتِدَاءِالْوُضُوءِپه اول د اودس کښې

تشريح> صيغ التسمية > صاحب دقدوری رحمه الله فرمائيلی دی.چه د دواړو لاسونو تر مروندونو پورې وينځل خوپه اودس باندې وړاندې دی.خوچه کله اودس شروع کوی.

① نود الله په نوم دے شروع کوی.او د تسميه ادنی درجه دا ده.چه بسم الله اووائی.اوشروع اوکړی. ② اعلی درجه ئې دا ده.چه بسم الله الرحمن الرحيم اووائی.

③اوعلامه ابن الهمام (ح) فرمائيلی دی.چه امام طحاوی رحمه الله فرمائيلی دی.چه [بسم الله العظيم والحمدلله على دين الإسلام] دے وائي.هم دا د سلفو نه منقول ده.او بعضو فرمائيلی دی.چه دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه مرفوعا نقل دی.

دليله> ① نبی عليه السلام فرمائيلی دی لاوضوءلمن لم يسم الله چه دهغه سړی اودس نه کيږی چا چه بسم الله اونه وئيله [1] او ددې نه مراد دفضيلت نفی ده

② د علی بن يحی بن خلاد حديث دا دي.[أن النبي صلى الله عليه وسلم قال للمسيئ صلاته إذا قمت فتوضأ كما أمرك الله] يعنی نبی عليه السلام هغه کس ته اوفرمائيل.چه د مونځ ارکان ئې په صحيح طريقه نه ادا کول. چه کله ته د مونځ ادا کولو اراده اوکړې.نو داسې اودس کوه. ځنګه چه درته الله تعالی حکم کړې دي.او الله تعالی چه د کوم اودس حکم کړي دي.په هغې کښې تسميه نشته.

③دارقطنی روايت کړي دي.[من توضأ وذكر الله فإنه يطهر جسده ومن توضأ ولم يذكر الله لم يطهر إلا موضع الوضوء] يعنی کوم کس چه د اودس په شروع کښې دالله نوم ياد کړی.نودهغه ټول بدن پاک شی.او چا چه د الله

---

[1]) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه أبوداود في الطهارة باب ٤٨ رقم ١٠١)۔

نوم یاد نکړلو.نو داودس د اندامونو نه سوا نور څه نه پاکیږي. ددې دواړو حدیثونو نه معلومه شوه.چه تسمیه په اودس کښې شرط نه ده.

محل التسمية في الإستنجاء> ① علامه مرغیناني په هدایه کښې فرمائي.چه تسمیه به د استنجاء نه وړاندې هم وائي.او روستو هم.دا صحیح قول دې.دلیل دا دې.چه استنجاء د اودس په سنتو کښې یو سنت دې. نو ددې نه وړاندې دے بسم الله وائي.ددې دپاره چه د اودس ټول افعال که فرض وي یا سنت وي.په بسم الله سره اوشي.

② د بعضې راویانو رائې دا ده.چه صرف د استنجاء نه وړاندې دے تسمیه وائي دلیل دا دې. چه د استنجاء نه وړاندې د عورت د ښکاره والي حالت وي.او د عورت ښکاره والي په وخت کښې د الله نوم اخستل مناسب نه دي.نوځکه دے د استنجاء نه وړاندې بسم الله وائي.

③ د بعضو خیال دې.چه صرف د استنجاء نه پس دے وائي.دلیل دا دې.چه نبي علیه السلام فرمائیلي دي [كل أمر ذي بال لم يبدأ فيه بذكر الله] دا ددې خبرے مقتضي دې. چه د اودس په اول کښې دے د الله نوم یاد کړې شي.اوچونکه استنجاء هم د اودس د ملحقاتو نه ده.نوځکه د استنجاء کولو نه وړاندې هم بسم الله ونیل مستحب دي.

په اودس کښې د مسواك مسنونیت

وَالسِّوَاكُ[1] اومسواك (سنت دے)

تشریح> فضل السواك> په احادیثو کښې د مسواك ډیر فضیلت راغلے دې.په مسند احمد کښې روایت دې.[أنه عليه الصلاة والسلام قال: صلاة بسواك أفضل من سبعين صلاة بغير سواك] مسواك سره یو مونځ د بے مسواکه مونځ نه یو په اویا درجے زیات ثواب لري.

مواضع إستحباب السواك> په لټون اوتتبع سره په پنځو ځایونو کښې د مسواك استحباب ثابت دې. ① چه غاښونه زیړ وي. ② دخولے بوئي خراب وي.
③ چه د خوب نه رابیدار شي ④ چه اقامت اوشي ⑤ د اودس په وخت.

صفات السواك> پکار ده چه :
① چه مسواك نرم وي. ② او د ګوتے په اندازه غټ وي.
③ یو لویشت اوږد وي. ④ نیغ وي.
⑤ چه غوټے په کښې کمے وي ⑥ د ترښے ونے وي.چه بلغم ختموي.
⑦ سینه صفا کونکي وي. ⑧ خوراك زر هضم کوي.

كيفية السواك > اود مسواك کولو طریقه دا ده.چه مسواك به په پلنوالي هم کوي.او په اوږدوالي هم.اوکه په یو اکتفا کول غواړي.نو صرف په اوږدو دے اوکړي.دا خبره یاد ساتئ چه د غاښونو پلنوالے د خولے اوږدوالے دي.(شرح نقایه)

[1]) فيه احاديث منها حديث حذيفة ﷺ ان النبي ﷺ كان إذا قام من الليل يشوص فاه بالسواك اخرجه البخاري في الوضوء باب ٧٣)_

سنیة السواک> فرمائی چه مسواک کول سنت دی.دلیل دا دې.چه نبی علیه السلام د مسواک په استعمال باندې همیشوالی کړې دې.البته کله کله ئې پریخې دې.اوکه مسواک نه وی.نود ښی لاس په ګوته دے غاښونه اومګی.ځکه چه دا هم د نبی علیه السلام نه ثابت دی.

عدم وجوب السواک ودلیله>او مواظبت مع الترک د سنتیت دلیل دې.او بغیر دترک نه مواظبت دلیل د وجوب دې.او په ترک د مسواک باندې دلیل دا دې.چه نبی علیه السلام د یوکلی خلقوته د اودس اود مونځ تعلیم ورکړې وو.خوپه هغې کښې د مسواک استعمال منقول نه دې.که دمسواک استعمال واجب وے . نو نبی علیه السلام به ورته خامخا تعلیم ورکړې وو.(عنایه)

السواک سنة الوضوء> مسواک سنت داودس دې. ① نسائی دحضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث [لولا أن أشق علی أمتی لأمرتهم بالسواک عند کل وضوء] یعنی که زما په امت ګرانه نه وه.نو ما به ورته دهر اودس سره د مسواک حکم کړې وو۔

② ابوداود د حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت کړې دې.[أنه علیه السلام کان لایرقد من لیل ولا نهار فیستیقظ إلا تسوک قبل أن یتوضأ] یعنی نبی ﷺ چه به په شپه یا ورځ کښې کله هم اوده شو.او رابیدار به شو.نو داودس کولو نه وړاندې به ئې مسواک استعمالو.

السواک سنة الصلاة ودلیله>دویمه دا چه مسواک د مونځ سنت دې.دا دامام شافعی رحمه الله قول دې

① دلیل د حضرت ابوهریره رضی الله عنه دا حدیث دې.[لولا أن أشق علی أمتی لأمرتهم بالسواک عند کل صلاة یا مع کل صلاة](رواه الستة)

السواک سنة الدین > دریم دا چه ددین سنت دې.دا قول زیات قوی دې.اوامام ابوحنیفه رحمه الله نه هم منقول دې.

① دابوایوب انصاری رضی الله عنه حدیث دې.کوم چه ترمذی ذکرکړې دې.[أربع من سنن المرسلین الختان والتعطر والسواک والنکاح] یعنی څلورځیزونه د پیغمبرانو علیهم السلام سنت دی.ختنه ،عطرلګول ، مسواک او نکاح کول،

② دحضرت عائشې رضی الله عنها حدیث دې.چه لس ځیزونه دُ فطرت ځنې دی.او په هغې کښې ئې مسواک شمار کړې دې.

إستعمال الإصبع عند فقده> اوچه مسواک نه وی.نوګوته به د مسواک قائم مقام وی.

دلیله> دلیل دا دې.چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی.[یجزی من السواک الأصابع رواه البیهقی عن أنس] یعنی ګوتې د مسواک کار ورکوی.او امام طبرانی رحمه الله د عائشې رضی الله عنها نه روایت کړې دې. چه [قلت یا رسول الله الرجل یذهب فوه یستاک قال نعم قلت کیف یصنع قال یدخل أصبعه فی فیه] یعنی حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی.چه ما عرض اوکړلو.یارسول الله چه دکوم سړی په خوله کښې غاښونه نه وی.هغه به هم مسواک کوی.نبی علیه السلام اوفرمائیل آو.ماتپوس اوکړلو. څنګه به کوی.نونبی ﷺ اوفرمائیل.خپله ګوته دے په خوله کښې داخله کړی.

(فتح القدیر، شرح نقایه)

په خوله اوپوزه کښې داوبو اچولو مسنونیت

وَالْمَضْمَضَةُ په خوله کښې اوبه اچول(سنت دی)وَالِاسْتِنْشَاقُ او په پوزه کښې اوبه اچول(هم سنت دی)

حل اللغة ◄① **مضمضة**: غرغرې کول ② **استنشاق**: پوزه کښې اوبه اچول]

تشریح ◄ **ثبوتهما من الأحاديث والكيفيتان فيهما** ◄ د مضمضه او استنشاق په مسنونیت باندې دلیل دا دې.چه نبی علیه السلام په دې دواړو همیشوالې کړې دې.او ۲۲صحابه کرامو ﷺ د نبی علیه السلام د اودس کولو حکایت کړې دې.او ټولو په کښې مضمضه او استنشاق ذکر کړې دې.

عدد المضمضة والإستنشاق ◄ ①د شمار په باره کښې بعضو چېوالې اختیار کړې دې.

② بعضوذکر کړې دې.چه نبی علیه السلام یوځل مضمضه کړې ده.او په پوزه کښې ئې اوبه اچولی دی.

③ بعضو د درې کرته ذکر کړې دې.

عدم فرضيتهما في الوضوء ◄ په اودس کښې د مضمضې او استنشاق ترک ثابت دې.اوهرکله چه ترک ثابت شونو مضمضه او استنشاق فرض نه شو بلکه سنت دی

دلائله ◄ ① نبی علیه السلام یو بانډیچی ته د اودس خودنه کړې وه.لیکن په هغې کښې ئې د مضمضه او استنشاق ذکر نه دے کړې.

② دغه شان حضرت عائشې ﷺ د نبی علیه السلام د اودس حکایت کړې دې.لیکن دوی د مضمضه او استنشاق ذکر نه دےکړې.هرکله چه په بعضې وختونو کښې ددې دواړو ترک ثابت دې.نودا دواړه کارونه به په اودس کښې سنت وی.فرض اوواجب به نه وی.لکه اهل حدیث چه د نبی علیه السلام په مواظبت باندې استدلال کوی.او دا دواړه په اودس او غسل کښې فرض ګرځوی.

③ ابن عباس ﷺ نه موقوفاً او مرفوعاً حدیث نقل دې.چه [هما سنتان فی الوضوء واجبتان فی الغسل] یعنی په خوله کښې اوبه اچول اوپه پوزه کښې اوبه اچول په اودس کښې سنت دی.او په غسل کښې واجب دی.(عنایه،کفایه)

كيفية المضمضة والاستنشاق ◄صاحب دهدایه د مضمضه او په پوزه کښې د اوبو اچولو طریقه دا بیان کړې ده چه اول به درې ځله مضمضه اوکړی.او هر ځل به نوے اوبه استعمالوی.ځکه چه د نبی علیه السلام داسې اودس کول منقول دی.

الأقوال الأربعة في كيفية المبالغة ◄په خوله او پوزه کښې اوبه اچولوکښې مبالغه هم سنت دی. او په دې دواړو کښې دې مبالغه کوی.

① نو په مضمضه کښې مبالغه دا ده.چه ټولې خولې ته اوبه اورسی

② شیخ الاسلام ﷫ فرمائیلی دی.چه په مضمضه کښې مبالغه دا ده.چه غرغره اوکړی.یعنی د حلق آخری حصې ته اوبه اورسوی.خوبه دې شرط چه دا کس روژه دار نه وی.

③ شمس ایمه حلوانی ﷫ فرمائی.چه مبالغه دا ده.چه اوبه په خولې کښې د یوطرف نه بل طرف ته اوباسی.اواستنشاق کښې مبالغه دا ده.چه اوبه د پوزے تیر ته اورسوی.

④ وئیلی شوی دی.چه په پوزه کښې اوبه واچوه.او ساه پوره واخله.چه اوبه پورته اوخیژی.

الترتيب فيهما واستعمال اليدين> صاحب دنقايه ليكلي دي.چه لكه څنګه مضمضه او استنشاق سنت دي.نودغه شان مضمضه په استنشاق باندې وړاندې كول هم سنت دي.اودا ئې هم ليكلي دي.چه په مضمضه او استنشاق كښې به هر يو په خپل ګس لاس باندې كوي.او بعضو وئيلي دي.چه استنشاق دې په ګس لاس كوي.خوصحيح دا ده.چه په پوزه كښې اوبه خو به په ښي لاس اچوي.ليكن دا به په ګس لاس سونړوي.

د غوږونود مسح مسنونيت

وَمَسْحُ الْأُذُنَيْنِ اود دواړو غوږونومسح كول (سنت) ده

تشريح> **كيفية مسح الأذنين**> داودس په سنتوكښې د دواړو غوږونومسح كول هم ده. د غوږونود مسح كولو طريقه علامه حلواني اود شيخ الاسلام ﷫ دقول مطابق دا ده.چه خپله كچې ګوته به په غوږونو كښې ورداخله كړي.اوحركت به وركړي.اوفرمائيلي ئې دي.چه نبي ﷺ هم داسې كړي دي.

دليله> ابن ماجه كښې په صحيح سند سره دابن عباس ﷠ نه نقل دي.[أنه عليه الصلاة والسلام مسح أذنيه فأدخلهما السبابتين وخالف إبهاميه إلى ظاهر أذنيه فمسح ظاهرهما وباطنهما] يعني نبي عليه السلام د خپلو دواړو غوږونو مسح اوكړله. نو خپلې دواړه د شهادت ګوتې ئې په غوږونو كښې ورداخلې كړې.او دواړه متې ګوتې ئې د غوږونودپاسه تيرې كړې.نود غوږونودظاهري او باطني حصې مسح ئې اوكړله . او فرمائيلې ئې هم دا بهتره ده.(فتح القدير)

ماء مسح الأذنين> ① دغوږونومسح د سر په اوبو باندې مسنون ده.

دلائله> ①دليل دحضرت ابن عباس ﷠ حديث دې.[أن النبي صلى الله عليه وسلم قال الأذنان من الرأس][1] او ددې حديث نه مراد د حكم بيانول دي.يعني دسر او غوږونو دواړو حكم يودې.د خلقت بيانول مقصود نه دي.ځكه چه نبي عليه السلام د احكامو بيانولو دپاره راليږلې شوې دې.د موجوداتود حقائقو بيانولو دپاره نه دې راليږلې شوې.

② دويم دليل هغه حديث دې.كوم چه حاكم، ابن خزيمه او ابن حبان د حضرت ابن عباس ﷠ نه نقل كړې دې.[أنه قال ألا أخبركم بوضوء رسول الله صلى الله عليه وسلم وفيه ثم غرف غرفة فمسح بها رأسه وأذنيه] يعني ابن عباس ﷠ اوفرمائيل.آيا تاسو د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اودس نه خبرنكرم.(بيا ئې تول اودس بيان كړو) يو په هغې كښې دا وو.چه بيا ئې يوه لپه اوبه راواخستې.په هغې باندې ئې د سر او د دواړو غوږونو مسح اوكړله.ددې حديث نه هم ښكاره شوه.چه د غوږونو مسح كولو دپاره د نوې اوبه راخستلو ضرورت نشته.

د ږيرې د خلال مسنونيت

وَتَخْلِيلُ اللِّحْيَةِ اود ږيرې خلال كول

حل اللغة> ① **تخليل**: خلال كول

تشريح> **سنية خلال اللحية**> ①امام قدوري ﷫ فرمائيلي دي.چه د ږيرې خلال كول هم سنت دي.

[1]) من حديث أبي امامة﷜ أخرجه أبوداود في الطهارة باب ۵۱ والترمذي في الطهارة باب ۲۹وابن ماجه في الطهارة باب۵۳)

دلائله ① جبرئيل عليه السلام نبی عليه السلام ته د ږيرے دخلال حکم کړے وو.صاحب دعنايه دا الفاظ نقل کړی دی.[قال عليه السلام نزل علی جبرئيل عليه السلام وأمرني أن أخلل لحيتي إذا توضأت] نبی عليه السلام فرمائی.چه جبرئيل عليه السلام ماته راغلو.اووے فرمائيل:کله چه اودس کوے.نو دخپلے ږيرے خلال کوه! ([1])

② ترمذی او ابن ماجه دحضرت عثمان ﷺ نه روايت کړے دے.[كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يخلل لحيته] يعنی نبی عليه السلام به دخپلے ږيرے خلال کولو.

③ دحضرت انس ﷺ حديث دے.[قال كان عليه الصلاة والسلام إذا توضأ خلل لحيته] يعنی حضرت انس ﷺ فرمائی.چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به کله اودس کولو.نو د خپلے ږيرے خلال به ئے کولو.

إختلاف الطرفين في حكم خلال اللحية بعضے عالمانو فرمائيلی دی.چه د ږيرے خلال کول دامام ابويوسف ﷺ په نزد سنت دے.❷ او دطرفينو ﷺ په نزد جائز دے.

دليلهما ﷺ د طرفينو دليل دا دے.چه په اودس کښے سنت هغه وی.چه د فرضو محل پرے پوره شی. او د ږيرے دننه حصه دفرضو محل نه دے.څکه چه په اتفاق سره دننه حصے ته اوبه رسول واجب نه دی .نوچه د ږيرے دننه حصه دفرضو محل نه دے.نو ددے کول به هم سنت نه وی.اوچونکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه خلال کول ثابت دی.نوڅکه بدعت هم نه دے.حاصل دا چه هرکله نه سنت دے.او نه بدعت دے. نو جائز به وی.

دګوتو دخلال مسنونيت

وَتَخْلِيلُ الْأَصَابِعِ اود ګوتو خلال کول (سنت دے)

حل اللغة ① اصابع: دَ اصبع جمع ده،ګوته

تشريح **كيفية خلال أصابع اليدين** د اودس په سنتو کښے دلاسونو او پښو د ګوتو خلال کول هم دے. دلاسونوپه ګوتوکښے د خلال کولو بهترينه طريقه دا ده.چه د يولاس ګوتے دے د بل لاس په ګوتوکښے د پنجے په صورت کښے واچوی.او په شرح نقايه کښے ئے ليکلی دی.چه غوره دا ده.چه د ښی لاس دتلی باطن د ګس لاس د تلی په شاه باندے کيږدی.او بيا د ګس لاس دتلی باطن د ښی لاس د تلی په شاه باندے کيږدی.

كيفية خلال أصابع الرجلين اود پښو په ګوتو کښے دخلال کولو طريقه دا ده .چه خپل ګس لاس د خپلے ښۍ پښے لاندے کيږدی.اوکچه ګوته د ګوتويه مينځ کښے ورداخله کړی.د ښۍ پښے د کچۍ ګوتے نه دے شروع اوکړی.او د ګسے پښے په کچۍ ګوته دے ختم کړی.(شرح نقايه)

[1] من حديث انس ﷺ أن النبي ﷺ قال أتاني جبرئيل ﷺ فقال: إذا توضأت فخلل لحيتك أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه ورواه ابن عدی في الكامل (نصب: ١/٦٦)۔

دلائل خلال الأصابع ﴿۱﴾ قال النبي عليه الصلاة والسلام خللوا أصابعكم كي لا تتخللها نار جهنم[1] يعني نبی علیه السلام فرمائیلی دی تا سودخپلو گوتو خلال کوئ چه د جهنم د اور د خلال نه بچ شئ:

﴿۲﴾ په طبرانی کښې دی.چه [من لم يخلل أصابعه بالماء خللها الله بالنار يوم القيامة] یعنی کوم کس چه په خپلو گروتونو کښې اوبه داخلے نکړې.نوالله تعالی به د قیامت په ورځ ددې په مینځ کښې اور ورداخل کړی.

﴿۳﴾ د ابن عباس رضي الله عنهما حدیث دې.[قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا توضأت فخلل بين أصابع يديك و رجليك] ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی.چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل.کله چه ته اودس کوې.نود خپلولاسونو د پښو د گوتو خلال کوه.

﴿۴﴾ علامه ابن الهمام صاحب د فتح القدیر رحمه الله فرمائی .چه د تخلیل په احادیثوکښې د ټولو نه زیات مناسب هغه حدیث دې.کوم چه لقیط بن صبره رضي الله عنه په سنن اربعه کښې نقل کړې دې.[قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا توضأت فاسبغ الوضوء وخلل بين الأصابع] یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.کله چه ته اودس کوې.نوپوره اودس کوه.او د گوتو په مینځ کښې خلال کوه.

الإعتراض دلته کښې یو سوال دې.هغه دا چه په دې ټولو احادیثوکښې دخلال کولو ذکر د امر په صیغه سره شوې دې.او امر د وجوب دپاره راځی.نو د گوتو خلال پکار دا وه.چه واجب وو.سنت نه وو؟

الأجوبة ﴿۱﴾ که د گوتومینځ ته اوبه اونه رسی.نو د گوتوپه مینځ کښې خلال کول او اوبه رسول واجب دی.اوکه د گوتو مینځ ته اوبه اورسیدلې.نوخلال کول سنت دی.

﴿۲﴾ عقلی جواب دا دې.چه د لاسونو او د پښوو ینځل فرض دی.اوبه خلال کولو سره دفرضو په محل کښې اکمال راځی.اوپه اودس کښې چه په کوم څیز سره چه د فرضو اکمال د هغې په محل کښې وی.نو هغه څیزسنت وی.نوځکه به تخلیل د گوتو سنت وی.

﴿۳﴾ حضرت مولانا عبدالحی رحمه الله جواب ورکړې دې.چه د امر د صیغے د وجې د گوتو خلال کول پکار ده چه واجب وو.لیکن په اودس کښې واجب نشته.نو ځکه به خلال واجب نه وی.او په اودس کښې واجب ددې وجې نشته.چه اودس د مونځ دپاره شرط دې.نو اودس به د مانځه تابع وی.نو که په اودس کښې هم واجب اومنلے شی.نو په دې به تابع د اصل سره برابر شی.او دا په هیڅ صورت کښې مناسب نه ده.

د درې ځله وینځلو سنتیت

وَتَكْرَارُ الْغَسْلِ إِلَى الثَّلَاثِ اود وینځلو درې کرته مکرر کول

تشریح **الأقوال الشتي في حكم كل واحد من الغسلات** داودس په سنتو کښې اعضاء مغسوله درې درې ځله وینځل هم دی.چه دوینځلوقید نې اولګولو.نودے طرف ته نې اشاره اوکړه.چه د مسح تکرار مسنون نه دې.

---

[1] قال الزيلعي رحمه الله غريب بهذا اللفظ واخرج الدارقطني في سننه (أي في ۱\۹۵) عن أبي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم خللوا أصابعكم لايتخللها الله النار يوم القيامة.نصب:۱\۷۰).

① یاد ساتئ چه دبعضې فقهاؤ قول دا دې.چه یوځل وینځل فرض دی.او په دویم ځل وینځل سنت دی.او دریم ځل وینځل د سنت اکمال (پوره کول) دی.اوهم دا قول راجح دې
② بعضو وئیلی دی.چه دویم اودریم ځل وینځل سنت دی.
③ بعضووئیلی دی.چه دویم سنت اودریم نفل دی
④ بعضو وئیلی دی.چه په دویم ځل وینځل نفل او په دریم ځل وینځل سنت دی.

دنیت استحباب

وَيُسْتَحَبُّ لِلْمُتَوَضِّئِ عِنْدَنَا اود مستحب دی دپاره د اودس کونکی أَنْ يَّنْوِيَ الطَّهَارَةَ چه د نیت اوکړی د پاکئ

تشریح> شروط صحة النية> ①یا د یے اودسئ لرے کولو اراده اوکړی
② نیت دا دې.چه په زړه سره د اودس اراده اوکړی.
③یا د داسې عبادت قصد اوکړی.چه هغه بغیرد طهارت نه نه صحیح کیږی.

حكم النية في الوضوء> د اودس د نیت په حکم کښې د عالمانو اختلاف دې.

① داحنافو عالمانو ﷺ په نزد په اودس کښې نیت کول سنت دې.

دلائله ① زمونږ دلیل دا دې.چه یو سړی د نبی علیه السلام نه داودس په باره کښې تپوس اوکړلو. نونبی علیه السلام هغه ته د نیت تعلیم ورنکړلو . (شرح نقایه) ددې نه معلومه شوه.چه نیت په اودس کښې فرض نه دې.ګنی نبی علیه السلام به هغه ته د نیت تعلیم ضرور ورکړې وې.
② دویم دلیل دا دې.چه اودس د مونځ شرط دې.او د مانځه نور شرطونه د نیت محتاج نه دی.نو اودس به هم محتاج نه وی.[1]

د ټول سر د مسحې مسنونیت

وَيَسْتَوْعِبُ رَأْسَهُ بِالْمَسْحِ اوچه راګیرکړی خپل ټول سر په مسحے سره(دا سنت دې)

تشریح> كيفية مسح الرأس> صاحب دهدایه په هدایه کښې فرمائیلی دی چه د ټول سر مسح هم مسنون ده.د ټول سر د مسح کولو طریقه دا ده.چه دواړه تلی او د دواړو لاسونوګوتے دے اول لوندےکړی.بیا دے د دواړو لاسونو درې درې ګوتے د سر په مخکښئ حصه کیږدی.او دواړه قتے او مسواکے ګوتے او تلی دےجدا ساتی.بیا دے دا راکاږی.او روستو طرفته دے راولی. او بیا دے دواړه تلی د سر د دواړو طرفونو نه مخے طرف ته بوخی.بیا دے په دواړو متو ګوتو د دواړو غوږونو په ظاهری حصه او په دواړو مسواکو ګوتو د دواړو غوږونو باطنی حصه مسح کړی.(فتح القدیر) او په ،،نهایه،، کښې دومره زیادت دې.چه د دواړو لاسونو په ظاهر دے د خپل څټ مسح اوکړی.

عدد المسح علي الرأس> یو ځل د ټول سر مسح کول سنت ده.

دلائله > ①دلیل دا دے چه حضرت انس ﷺ اودس اوکړلو .درې درې ځله.او مسح ئې اوکړله یو ځل.او وے فرمائیل دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس دې.[1]

---

[1] **اختلاف الائمة :-** په دې مسئله کښې د امام مالك او شافعی او احمد ﷺ په نزد په اودس کښې نیت فرض دې.

② دويم دليل دا دي.چه فرض خومسح ده.او د تکرار په وجه به مسح وينځل شي.او دا دکتاب ،سنت او اجماع ټولو نه خلاف خبره ده.نوځکه په مسح کښې تکرار سنت نه دي.

③ نو د سر مسح د موزے د مسحے پشان شوه. يعنی لکه څنګه چه د موزے په مسح کښې تکرار مسنون نه دي.نودغه شان به د سر په مسح کښې هم تکرار سنت نه وی.

د ترتيب مسنونيت

وَيُرَتِّبُ الْوُضُوْءَاويه ترتيب سره به کوی اودس فَيَبْدَأُنوشروع به کوی بِمَابَدَأَاللّٰهُ تَعَالٰی بِذِكْرِهٖدهغه اندام نه.چه د کوم نه چه شروع کړې ده الله تعالی وَبِالْمَيَامِنِ (اوشروع دے کوی) دښيې طرف نه،

حل اللغة ﴿ ① يرتب، ترتيبًا: په ترتيب سره کول ② بدأ، بدأ (ن): شروع کول ③ ميامن: دَ ميمنة جمع: ښي طرف

تشريح﴿ **بحث المسئلتين**﴾ په دې عبارت کښې دوه مسئلې زيربحث دی.① مسئله دترتيب ② ابتداء بالتيامن،

حكم الترتيب في الوضوء﴾ داحنافو عالمانو ﷺ په نزد د اودس په فرض اندامونوکښې ترتيب سنت دي.

دليله﴾ دليل دا دي.چه د اودس دفرض اندامونوپه مينځ کښې "واو" ذکر دي.او داهل لغت په دې اجماع دی.چه واوْ د مطلق جمع دپاره راځي.نوکه مونږ دا هم تسليم کړو.چه فاء دپاره د تعقيب راځي.نوددې مطلب به دا وی.چه د څلوروانداموو د مجموعے وينځل به مانځه ته په اودريدوپاندې مرتب وی. داسې نه چه په څلورواندامونوکښې به ترتيب وی. حالانکه کلام دڅلوروانداموو په ترتيب کښې دې.اوپه څلورو اندامونوپاندې واو داخل دې.او هغه د ترتيب فائده نه ورکوی.نوځکه مونږ وايو.چه د اودس په فرض اندامونو کښې ترتيب فرض نه دې.خو چه نبی عليه السلام د قرآن پاک د ذکرکړې ترتيب موافق اودس کړې دې.نوځکه به په اودس کښې ترتيب سنت وی فرض نه.

وَالْبُدَاءَةُبِالْمَيَامِنِ فَضِيلَةٌاو شروع د ښی طرف نه غوره ده

تشريح﴿ **حكم التيامن في الوضوء** ﴾.① دويمه مسئله ابتداء د ښی طرفه ده.د لاسونواوپښو په وينځلو کښې د ښی طرف نه شروع کول افضل او مستحب دی.خوصاحب د شرح نقايه ليکلی دی.چه اصح دا ده.چه دا سنت دي.

دلائل ترجيح سنية التيامن﴾ ① په تحفه کښې دی.چه د ښی طرف نه په شروع باندې نبی عليه السلام هميشوالي کړې دي.

②دغه شان نبی عليه السلام فرمائيلی دی. [اذا توضأتم فابدءوا بميامنكم] (رواه ابوداود وابن ماجه وابن خزيمه وابن حبان) يعنی کله چه تاسو اودس کوئ.نو د ښی طرف نه شروع کوئ.

---

[1] ، قال الزيلعي رحمه الله غريب من حديث انس والحديث في الصحيحين (أی البخاری في الوضوء باب ۳۸ ومسلم في الطهارة رقم ۱۸) من رواية عبدالله بن زيد رضي الله عنه انه مسح رأسه فأقبل بهما وادبرمرة واحدة(نصب: ۱\۷۵)_

③ دغه شان نبی علیه السلام فرمائیلی دی. [ان الله یحب التیامن فی کل شئ حتی التنعل والترجل][1]

④ په یو حدیث کښې دی. [حتی فی طهوره وتنعله وترجله وشانه کله] یعنی الله تعالی په هر څیز کښې شروع

دښی طرفه خوښوی. ترد ے چه په اودس کښې او څپلئ په پښو کولو کښې اوپه ګومنځلو کښې او په هر څیز کښې. (چه د خیروی)

وَالتَّوَالِيْ اوپرله پسې والې سنت دي .

تشریح> اودس په داسې طریقه کول چې یو اندام اووینځی او بل وریسې هم اووینځی چې د دوارو په مینځ کښې دومره فاصله او وقفه نه وی چې دویم وینځی او اولنې وچ شوې وي دې ته توالی وائی او دا سنت ده ([2])

دلیل عدم الفرضیة> ان ابن عمر توضأ فی السوق فغسل وجهه ویدیه ومسح براسه ثم دعی الی جنازة فدخل المسجد ثم مسح علی خفیه ([3])

یعنی یوځل حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما په بازار کښې اودس کولو په دې کښې ورته چا د جنازې دعوت ورکړو نو دوی جمات ته داخل شو هلته ئې په موزو باندې مسح اوکړه

الاستدلال> حالانکه اندامونه ئې وچ شوی وواوخلقو پرې څه انکار اونکړوکه پرله پسې والې فرض وو. نو عبدالله بن عمر به ولې داسې کولو.

وَمَسْحُ الرَّقَبَةِ او مسح د څټ سنت ده

تشریح> د څټ مسح کول سنت ده او د حنفیانو په بعضې کتابونو کښې د څټ مسحې ته مستحب وئیلی شوی دی

دلیله- په طحاوی کښې امام طحاوی یو حدیث نقل کړې دې دغې نه په اودس کښې د څټ د مسحې سنتیت یا استحباب معلومیږی. دغه حدیث په ما خپل کتاب سنن الصلاة في فقه الاحناف کښې ذکر کړې دې.

د سبیلینو نه په خروج د اودس ماتیدل

اَلْمَعَانِي النَّاقِضَةُ لِلْوُضُوْءِ کوم اسباب چه د اودس ماتونکی وی کُلُّ مَا یَخْرُجُ مِنَ السَّبِیْلَیْنِ هر هغه څیزچه د سبیلینونه اوځی (یعنی د قبل اودبر نه)

---

[1] قال الزیلعی رحمه الله غریب بهذا اللفظ وروی الأئمة الستة فی کتبهم من حدیث مسروق عن عائشة رضی الله عنها قالت قالت: کان رسول الله ﷺ یحب التیامن فی کل شئ حتی فی طهوره وتنعله وترجله وشانه کله (وهو فی البخاری فی الصلاة باب ٤٧ ومسلم فی الطهارة رقم ٦٦)۔

[2] **مسلک مالک**:- دامام مالک رحمه الله مسلک دا دې چې په اودس کښې توالی فرض ده

[3] (اعلاء السنن (١/٦٥)۔

تشريح> **نسبة النقض إلي الأجسام والمعاني>** نواقض د **ناقضة** جمع ده.اونقض كه اجسامو طرف ته منسوب وی.نو ددې معنی د هغې تاليف اوترکيب باطلول وی.اوکه معانيو ته منسوب شی.نومعنی به ئې دا وی.چه د مطلوب حاصلولو نه ئې خارجوی.اودلته کښې د اودس مطلوب د مونځ اباحت دې.او دمعانيو نه مراد اودس ماتونکی علتونه او اسباب دی.په حديث کښې دی.[**لايحل دم امرئ مسلم إلا بإحدی ثلاث**] يعنی د يو مسلمان وينه نه حلاليږی.مګر په درې علتونو کښې د يو په وجه.

الخروج من أحد السبيلين معتاداً وغير معتاد> د اودس په نواقضوکښې هر هغه څيز دې.کوم چه د متيازو يا غټو بولو د لارے نه راوځی.

دلائله> ① دليل دا دې.چه الله تعالی فرمائيلی دی.﴿**أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ**﴾ اوغائط هغه ښکته زمکے ته وائی.کومے ته چه انسان دخپل قضاء حاجت دپاره ځی.حاصل دا دې.چه الله تعالی فرمائيلی دی.که په تاسوکښې څوك د قضاء حاجت نه واپس راشی.او اوبه نه وی.نو تيمم دے اوکړی.نوثابته شوه.چه په خروج من السبيلين سره اودس ماتيږی.ځکه که اودس نه ماتيدلو.نود اوبو د نشتوالی په صورت کښې به د تيمم حکم ولے ورکولے شو.

②دويم دليل دا دې.چه درسول الله ﷺ نه تپوس اوشو اې دالله پيغمبره ﷺ حدث څه څيز دې.نونبی عليه السلام ورته اوفرمائيل [**مايخرج من السبيلين**][1]کوم څيز چه د ميتازو يا غټو بولو د لارے نه اوځی. په دې حديث کښې کلمه د "ما" عامه ده.چه معتاد او غير معتاد ټولو ته شامله ده.يعنی معتاد څيز لکه متيازې اوغټ بول شو.اوغير معتاد لکه چينجے او ګټکے اود استحاضه وينه ده.دا ټول ناقض د اودس دی

د غيرسبيلينو نه په خروج اودس ماتيدل

وَالدَّمُ او وينه **وَالْقَيْحُ** اوپيپ (نوه) **وَالصَّدِيْدِ إِذَا خَرَجَا مِنَ الْبَدَنِ** اوکچه وينه کله چه دواړه دبدن نه ووځی **فَتَجَاوَزَا إِلَى مَوْضِعٍ** اواورسی هغه ځائې ته **يَلْحَقُهُ حُكْمُ التَّطْهِيرِ** نو ملحق کيږی ورپورې حکم د پاکولو (نو دا اودس ماتوی)

تشريح> **نقض الوضوء بخروج الدم والقيح من البدن>** ①اوپه نواقضو د اودس کښې دا هم ده.چه د ژوندی سړی د بدن نه وينه ياپيپ(زوه) اوځی.او بيا ښکاره شی.په داسې ځائې کښې په تجاوز کولو سره.چه په غسل يا په اودس کښې دکوم د پاکولو حکم شوې وی.يعنی دسبيلينونه علاوه د بل ځائې نه په خروج کښې صرف د پليتئ ښکاره کيدل کافی نه دی.بلکه بهيدل شرط دې. نوکه وينه د زخم دپاسه شوه.ليکن بهيدلے نه وی.نو په دې باندې اودس نه ماتيږی. اوپه نواقضو د اودس کښې په ډکه خوله قئ کول دی.اوپه ډکه خوله قئ دا دې.چه هغه بغير د مشقت اوتکليف نه بندولے شی.

دلائله> ① دليل دا دې.چه نبی ﷺ فرمائيلی دی. اودس (واجب) دې.د هر هغه وينے د وجې چه د بدن نه اوځی. اواوبهيږی. په دې حديث باندې داسې استدلال کيږی.چه د داسې ترکيب نه هم وجوب

[1] قال الزيلعي رحمه الله غريب وروی الدارقطني في كتابه غرائب مالك .... عن ابن عمر رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ لاينقض الوضوء إلا ما خرج من قبل أودبر(نصب:۸۳\۱)۔

معلومیږي. لکه د نبی ﷺ قول [أي غسس من الإبل شاة] په اتفاق سره فرضیت ثابت دي.او په [إنما الماء من الماء] کښې د خروج د منئ د وجې په اتفاق سره په وجوب د غسل دلالت کوئ.نو ددې حدیث معنی به دا وی.چه [توضؤ من کل دم سائل من البدن] یعنی دهر هغه وینې نه اودس کوئ.چه د بدن نه اوځی.او اوبهیږي

② دویم دلیل دا دې.چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.کوم کس چه قئ اوکړي.یا ئې په مانځه کښې پوزه ماته شي.(وینه ترې روانه شوه.) نو داسې کس دې بیا لاړشي.او اودس دې اوکړي.او په خپل مونځ دې بنا اوکړي. ترڅو چه ئې خبرې نه وی کړې.حاصل د استدلال دا شو.چه په حدیث کښې د اودس حکم شوې دې.اوامر دپاره د وجوب وی.نو معلومه شوه. چه په قی کولو او پوزې ماتیدو باندې اودس واجبیږي.([1])

په قئ کښې د امام زفر رحمه الله خلاف

وَالْقَيْءُ اوقئ په ډکه خوله (اودس ماتوی) إِذَاكَانَ مِلْءُالْفَمِ چه وی په ډکه خوله

تشریح > **نقض الوضوء بالقئ** > ① اوپه قی کښې به خروج په هغه وخت کښې متحقق وی.چه په ډکه خوله وی.اوډکه خوله دا ده.چه بغیر د مشقت نه د هغې ایسارول ممکن نه وی.

دلائله > ① په دې باندې زمونږ دلیل چه د خارج من غیر سبیلین د نقض وضوء دپاره سیلان شرط دې.دنبی ﷺ قول دې.چه د وینې په یو څاڅکی او دووڅاڅکو اودس نه واجبیږي. مگر دا چه وینه بهیدونکې وی.(۲)

② او په کم قئ د اودس نه ماتیدو دپاره د نبی ﷺ دا قول شاهد عدل دې.چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.[یعاد الوضوء من سبع من أقطار البول والدم السائل والقیئ ومن دسعة تملأ الفم ونوم مضطجع وقهقهة الرجل فی الصلاة و خروج الدم] یعنی اودس به د اووه څیزونو په وجه دوباره کولې شی.د متیازو څڅیدلوسره.اود بهیدونکې وینې سره،او پیپ اوقئ سره،چه په ډکه خوله وی.او په ډډه خوب کولوسره.اود سړی په مانځه کښې په خندانې قهقهه سره.او د وینې په وتلو سره.([3])

③ عقلی دلیل ددې دا دې.چه د خولې د دننه حصې دوه حیثیتونه دی.ظاهر اوباطن.ځکه که خوله کهولاو کړی .نود ظاهر سره مشابه وی.اوکه خوله بنده کړی.نودباطن سره مشابه وی.نومونږ د دواړو مشابهتونو لحاظ ساتلې دې.وانی که قئ په ډکه خوله نه وی.نو د باطن د مشابهت خیال به ساتلی شی.او دا به وئیلی شی.چه خروج نه دې واقع شوې.ځکه چه په دې صورت کښې عدم خروج غالب دې.نو په دې صورت کښې به اودس نه ماتیږي.اوکه قئ په ډکه خوله وی.نو د ظاهر د مشابهت

---

[1] من حدیث عائشة رضی الله عنها اخرجه ابن ماجه فی الإقامة باب ۱۳۷۔

[2] من حدیث حسن بن علی الرزاز اخرجه الدارقطنی فی سننه (۱\۱۵۷)

[3] قال الزیلعی رحمه الله اخرج البیهقی فی الخلافیات عن أبی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ یعاد الوضوء من سبع من إقطار البول والدم السائل والقیئ ومن دسعة تملأ الفم ونوم المضطجع وقهقهة الرجل فی الصلاة وخروج الدم (نصب الرایة: ۱\۹۱)۔

اعتبار به کولې شی.ځکه چه په دې صورت کښې ظاهر غالب دې.نو په دې صورت کښې به اودس ماتیږی.

خلاف زفر رحمه الله د ډکې خولې او د سیلان په شرط کښې مونږ سره دامام زفر رحمه الله اختلاف دې د هغوی مذهب دا دې چه د هغوی په نزد خارج من غیر سبیلین مطلقاً ناقض د اودس دې.کم او ډیر قے د اودس په ماتولو کښې دواړه برابر دی.دغه شان دهغوی په نزد سیلان هم شرط نه دې.

کوم خوب د اودس ماتونکې دې

وَالنَّوْمُ مُضْطَجِعًا اوخوب په داسې حالت کښې چه په ډډه وی أَوْمُتَّكِئًا یا ئې تکیه وهلی وی أَوْمُسْتَنِدًا إِلَى شَيْءٍ یا ئې یوڅیز اډانه کړې وی لَوْأُزِيلَ عَنْهُ که هغه څیز ترې لرې کړې شی لَسَقَطَ نودا سړې راپریوځی.

حل اللغة ① **اضطجاع**: په اړخ سملاستل ② **متكا**: تکیه وهلې ③ **سقط**:د سقوط نه دې راپریوتل]

تشریح **صورالنقض وعدمه** داودس په نواقضو کښې د خوب دا صورتونه هم دی.

① چه متوضی په ډډه باندې اوده شی.② یا ئې تکیه لګولې وی.اوده شی

③ یا ئې یو څیز اډانه کړې وی.اواوده شی.که هغه څیز ترے لرے کړې شی.نو راغورزیږی.

دليل النقض أی إسترخاء المفاصل په اضطجاع سره د اودس ماتیدو دلیل دا دې.چه په اضطجاع یعنی ډډه باندې اوده کیدل د جوړونود سستیدو سبب دې. او په ډډه باندې اوده کیدل په عادت کښې د څه څیز د وتلونه خالی نه وی. (یعنی چه سړې په ډډه اوده شی.نومشاهده ده.او تجربه ده.چه دده نه باد اوځی.) اوکوم څیز چه په عادت سره ثابت وی.هغه د یقین درجه لری.نو ثابته شوه.چه په ډډه اوده کیدوسره باد وغیره وتلی دی.اود باد په وتلو سره اودس یقیناً ماتیږی .نوځکه په داسې خوب سره اودس مات شو.

النوم غير ناقض في نفسه ددې دلیل مقتضی دا ده.چه خوب د خپل ذات په اعتبار سره حدث نه دې.اود بعضورانې ده.چه خوب دخپل ذات په اعتبار سره حدث دې.اوباقی پاتې شوه.په تکیه لګولو سره خوب کول نو دا داسې څیز دې.چه د بیدارئ رکاوټ ختموی.ځکه چه په دغه صورت کښې مقعد د زمکے نه اوچتیږی.نو په حالت د خوب کښې به د اندامونو کلك والے په طریقه اولی سره سستیږی.

نقض الوضوء بالنوم مستنداً څیزته تکیه لګولو اوخوب کولوکښې استرخاء د مفاصلوپوره کیږی.او خپل آخری حد ته رسی.صرف دومره خبره ده.چه تکیه دے د غورځولو نه منع کړې دې.که تکیه ترے لرے شی.نودے راغورځیږی.

عدم النقض في حالة القيام والركوع والسجود ددې په خلاف که دقیام په حالت اوده شی. یا د قعود یا د رکوع اوسجدے په حالت کښې.نواودس نه ماتیږی.که دا کیفیت په مانځه کښې وی اوکه د مانځه نه بهر وی.هم دا صحیح قول دې.یعنی ظاهرروایت هم دا دې.

دلائله ① په دې باب کښې دا حدیث اصل دې.چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی.کوم کس چه د قیام په حالت کښې اوده شو.یا د قعود یا د رکوع یا د سجدے په حالت کښې.نوپه هغه اودس واجب نه

وي. بلکه اودس په هغه کس واجب دي.چه په ډډه اوده شي.ځکه چه کله څوك په ډډه اوده شي . نو د هغه جوړونه سست شي.(١)

④ عقلي دليل دا دي.چه په دي حالتونوکښې څه نه څه استمساك (رکاوټ) باقي وي.ځکه که بيخي استمساك ختم شوي وو.نو دا کس به خامخا راغورځيدلے وو.نو معلومه شوه.چه په دې حالتونو کښې کامله استرخاء نشته.اوچه کامله استرخاء نشته.نو اودس هم نه ماتوي.ځکه چه نقض د اودس په کمال استرخاء باندې مبنى دي.

په بې هوشئ او ليونتوب سره د اودس ماتيدل

وَالْغَلَبَةُ عَلَى الْعَقْلِ بِالْإِغْمَاءِ او د بے هوشئ دوجې په عقل باندې غلبه وَالْجُنُوْنُ او ليونتوب

حل اللغة ﴿①اغماء: بې هوشي ② جنون: ليونتوب

تشريح ﴿ **نقض الوضوء بالإغماء والجنون والفرق بينهما** ﴾اغماء يو قسم مرض دي.چه انساني قوتونه کمزورے کوی. او مراد ددې نه دا دي.چه عقل مغلوبه شي.اګرچه هرڅه موجود وی.(په ظاهره نور ټول اندامونه ښه برابر وی) اوجنون داسې مرض دي.چه عقل زائله کوی او سلب کوی .حاصل دا چه داغماء په حالت کښې عقل مغلوب وی.او د جنون په حالت کښې عقل مسلوب وی.هم دا وجه ده.چه د پيغمبرانو عليهم السلام په حق کښې اغماء خوجائز ده.(يعنی په دوی باندې اغماء راتلے شی.) ليکن جنون جائز نه دي.بهر حال د اغماء اوجنون حالت ناقض د اودس دي.

دليله العقلي﴾ ددې دليل دا دي.چه په دې دواړو کښې په هر يوکښې استرخاء د مفاصلو په ډډه د خوب کولو نه زياته ده.اواغماء په ټولوحالتونوکښې ناقض د اودس ده.يعنی دقيام قعود وغيره په حالت کښې هم.دقياس تقاضا خو په خوب کښې هم دا وه.چه خوب دے په ټولو حالتونوکښې ناقض د اودس وي.

ترک القياس بالحديث﴾خود نبی ﷺ د حديث د وجې مونږ قياس پريخودلو.او چونکه اغماء د خوب نه قوی ده. نو ځکه اغماء په خوب باندې نشی قياس کولې.اود اغماء د قوت دليل دا دي.چه په چا باندې اغماء جاري وی.هغه په تنبيه ورکولو سره نه بيداريږی.په خلاف د اوده ځکه چه هغه په تنبيه ورکولو سره بيداريږی.اوجنون چونکه داغماء نه هم قوی دي. نو ځکه به جنون په طريقه اولی سره ناقض د اودس وی.

په قهقهه داودس ماتيدل

وَالْقَهْقَهَةُ فِي كُلِّ صَلَاةٍ ذَاتِ رُكُوعٍ وَسُجُودٍ او قهقهه اودس ماتوی په هرهغه مونځ کښې چه رکوع اوسجده په کښې وی

تشريح ﴿ **الأقسام الثلاثة للضحك** ﴾ ①قهقهه دا ده.چه سړي ئې پخپله اوری.او هغه سره چه نزدے څوك وی هغوی ئې هم اوری.که غاښونه ئې ښکاره شوی وی او که نه وی

---

(١) قال الزيلعي رحمه الله غريب بهذا اللفظ واخرج ابوداود(اى فى الطهارة باب ٧٩) والترمذى (اى فى الطهارة باب ٥٧ رقم ٧٧) من حديث ....ابن عباس رضي الله عنهما انه رأى النبي ﷺ نام وهو ساجد حتى غط اونفخ ثم قام يصلي فقلت يارسول الله إنك قد نمت قال إن الوضوء لا يجب إلا على من نام مضطجعاً فإنه إذا اضطجع استرخت مفاصله (نصب:١\٩١)۔

② ضحك هغه دي.چه سړي ئې په خپله اوري.خو ورسره ناست كسان ئې نه اوري.
③ تبسم دا دي.چه څوك ئې واونري.په تبسم نه مونځ ماتيږي او نه اودس.او په ضحك باندې مونځ خوماتيږي.ليكن اودس نه.

حكم القهقهة في الصلاة> ①او د عاقل بالغ د قهقهې حكم دا دې. چه هغه د ركوع اوسجدے په مانځه كښې موجوده شي.يا د ركوع او سجدے مونځ په اشارے سره كوي.او په دې كښې قهقهه موجوده شي.نودا د مونځ ماتونكې هم ده.او داودس ناقضه هم.

دليله >زمونږ دليل دا دې.چه يوځل نبي ﷺ مونځ كولو.يو باندېچې چه نظر ئې كمزورے وو.راغلو او راپريوتلو.صحابه كرامو ﷺ چه په مانځه كښې شريك وو.هغوى اوخاندل.نبي ﷺ د مانځه د فراغت نه پس اوفرمائيل: واورئ په تاسو كښې چه كوم كس په خنداء قهقهه سره خاندلى وى.هغه دے خپل مونځ اواودس راوګرځوى. [1]اودا حديث مشهور دې.او دحديث مشهور د وجې قياس پريخودے شي.چونكه دا حديث په كامل مونځ يعنى د ركوع اوسجدے په مونځ كښې وارد شوي دې.نوهم په دې پورې به خاص كولي شي.او ددې نه علاوه كه د جنازے مونځ اوسجده دتلاوت او دمانځه نه بهر ته تجاوز اوكړى.نواودس به نه ماتوى.ځكه چه خلاف قياس حكم دخپل مورد نه تجاوز نشى كولې.

دغسل فرائض

وَفَرْضُ الْغُسْلِ دغسل فرض الْمَضْمَضَةُ خوله كښې اوبهٔ اچول وَالِاسْتِنْشَاقُ پوزهٔ كښې اوبهٔ اچول وَغَسْلُ سَائِرِالْبَدَنِ او د ټول بدن وينځل دى

حل اللغة > ①**مضمضة:** غرغري كول ②**استنشاق:** پوزه كښې اوبه اچول ③ **سائر:** ټول

تشريح> وجوه تقديم الوضوء علي الغسل> امام قدورى رحمه الله د غسل احكام د اودس د احكامو نه پس بيان كړل.

① **الوجه الاولي>** د اودس محل د بدن جزء دې.او د غسل محل كل بدن دې.او جزء مقدم وى په كل باندې.ځكه ئې د اودس احكام وړاندې او دغسل احكام روستو بيان كړل.
② **الوجه الثانية>** دا ده. چه د كتاب الله اقتداء مقصود ده.ځكه چه په قرآن پاك كښې اودس اوغسل په دې ترتيب بيان شوى دى. او غسل د غين په پيښ سره په معنى د اغتسال راځي.يعنى د ټول بدن وينځل.
③ **الوجه الثالثة>** دا ده. چه د غسل په نسبت د اودس حاجت زيات دې.

حكم المضمضة والإستنشاق> ①داحنافو فقهاؤ رحمهم الله په نزد په غسل كښې درې فرض دى.
① خوله كښې اوبه اچول.② پوزه كښې اوبه اچول.③ دټول بدن وينځل.

دليله > ① دليل دا دې.چه الله تعالى فرمائيلي دى.كه تاسو په حالت دجنابت كښې ئې.نوښه ځان پاك كړئ.يعنى الله رب العزت مكلفينو ته په طريقے د مبالغے د ټول بدن د وينځلو حكم كړي دې.ځكه چه ﴿فَاطَّهَّرُوا﴾ ئې فرمائيلي دى.او تطهير په مبالغے سره د ټول بدن وينځلو ته وائى.مګر دا چه يو ځائې ته اوبه رسول ممكن نه وى.نوهغه ددې حكم نه خارج دې.لكه د ستركو دننه حصه شوه.او كوم ځائې ته

[1]) من حديث أبي موسى رضي الله عنه اخرجه الطبراني في معجمه ذكره الهيثمي في مجمع الزوائد (٢٤٦\١)۔

چه په اوبو رسولو کښې څه حرج نه وی.هغه به ددې حکم د لاندې باقي وی.نوخولې او پوزې ته اوبه رسولوکښې څه تکلیف نشته . نو څکه ددې دوارو وینځل د کتاب الله په حکم باندې فرض شو.

د غسل مسنون طريقه

وَسُنَّةُ الْغُسْلِ اود غسل سنت دا دی أَنْ يَبْدَأَ الْمُغْتَسِلُ چه غسل کونکې شروع اوکړی فَيَغْسِلَ يَدَيْهِ وَفَرْجَهُ نو خپل دواړه لاسونه اوخپله شرمګاه اووینځی وَيُزِيلَ نَجَاسَةً اونجاست لرے کړی إِنْ كَانَتْ عَلَى بَدَنِهِ که دهغه په بدن باندې وی ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ بیا دے اودس اوکړی.(لکه څنګه چه د خپل) مونځ دپاره کوی إِلَّا رِجْلَيْهِ بغیر د دوارو پښو نه ثُمَّ يُفِيضُ الْمَاءَ عَلَى رَأْسِهِ بیا دے په خپل سر اوبه واچوی وَسَائِرِ جَسَدِهِ ثَلَاثًا اوپه خپل ټول بدن درې خله ثُمَّ يَتَنَحَّى عَنْ ذَلِكَ الْمَكَانِ بیا دے د هغه ځائې نه اخوا شی فَيَغْسِلَ رِجْلَيْهِ او خپلې پښې دے اووینځی

حل اللغة > ① ان یبداء، بدأ، بدا (ن،ف) شروع کول ② **مغتسل:** غسل کونکې ③ **فرج:** شرمګاه ④ **یزیل ازالة:** زائل کول ⑤ **یتوضا، توضا:** اودس کول ⑥ **یفیض، افاضة:** بیول
⑦ **بدن:** وجود ⑧ **یتنحی:** لرې کیدل، جدا کیدل ⑨ **یؤخر، تاخیرا:** ناوخته کول]

تشریح > **کیفیة الغسل** > په غسل کښې سنت طریقه دا ده.چه دټولو نه رومبے خپل دواړه لاسونه تر مړوندونو پورې اووینځی.څکه چه دا دواړه د پاکولو آله ده. اوخپله شرمګاه اووینځی. څکه چه هغه محل د نجاست دې.نواحتمال شته.چه نجاست وربورے لګیدلې وی.اوکه په بدن پورې نجاست حقیقی لګیدلې وی.نو هغه دې هم لرې کړی.چه د اوبو په لګیدو سره زیات نشی.بیادې داسې اودس اوکړی.لکه څنګه چه دمانځه دپاره کوی.خوخپلې پښې به نه وینځی.بیادے په سر باندې درې خله اوبه اوبیوی.اودرې خله دې په ټول بدن اوبه تیرې کړی.

دلیل هذه الکیفیة المسنونة > روی الجماعة عن میمونة رضی الله عنها قالت وضعت للنبی ﷺ ماء یغتسل به فأفرغ علی یدیه فغسلهما مرتین أو ثلاثا ثم أفرغ بیمینه علی شماله، فغسل مذاکیره، ثم دلک بیده الأرض ثم تمضمض واستنشق ثم غسل وجهه ویدیه، ثم غسل رأسه ثلاثا، ثم أفرغ علی جسده ثم تنحی عن مقامه فغسل قدمیه] (۱)

دمیمونې رضی الله عنها نه یوې ډلې (دمحدثینو) روایت کړې دې.چه حضرت میمونې ﷺ فرمائیلی دی.ما د رسول الله ﷺ د غسل دپاره اوبه کیخودې.نو نبی ﷺ په خپلو دوارو لاسونو باندې راواچولې. دوه یا درې خله ئې خپل لاسونه اووینځل.بیا نبی ﷺ په خپل ګس لاس د ښی لاس نه اوبه واچولې.بیا نبی ﷺ خپله شرمګاه اووینځله.بیا ئې خپله لاس په زمکه باندې اومګلو.بیا ئې په خوله کښې اوبه واچولې. اوپه پوزه کښې ئې اوبه واچولې.بیا ئې خپل مخ او لاسونه اووینځل.بیا ئې درې خله خپل سر اووینځلو.بیا ئې په خپل بدن باندې اوبه اوبیولې.بیا دهغه ځائې نه اخوا شو.او قدمونه ئې اووینځل.

---

(۱) أخرجه البخاری فی الغسل باب ۸ ومسلم فی الحیض رقم ۳۷ وأبوداود فی الطهارة باب ۹۷ والترمذی فی الطهارة باب ۷۶ والنسائی فی الغسل باب ۲۲ وابن ماجه فی الطهارة باب ۹٤)_

وجه تاخير غسل القدمين ﴿ پښې به ددې وجې روستو کوي.چه هغه د مستعملو اوبو په ځائې کښې جمع کيږي.نوکه په اوچت ځائي لکه تخته وغيره باندې ولاړ وي.اوغسل کوي.نود پښو دوينځلو روستو کولو ته څه ضرورت نشته.

په غسل کښې د کوڅو او ږيرې وينځلو حکم

وَلَيْسَ عَلَى الْمَرْأَةِ أَنْ تَنْقُضَ ضَفَائِرَهَا فِي الْغُسْلِ او په ښځه باندې دخپلې کونسو پرانستل واجب نه دی په غسل کښ إِذَا بَلَغَ الْمَاءُ أُصُولَ الشَّعْرِ چه اوبه د ويختو جرړوته رسيږي

حل اللغة ﴿ ① ضفائر، دَ ضفيرة واحد، کونسئ شوی ويښته ② بلغ، بلوغًا (ن) اورسيدلو ③ اصول: جرړې

تشريح ﴿ **عدم نقض الضفائر** ﴿ مسئله دا ده.چه د ښځې د کونسود ويختو بيخونو ته اوبه رسي. نوپه هغې باندې د خپلو کونسو پرانستل واجب نه دی.

دليله ﴿ دليل په صحيح مسلم وغيره کښې دحضرت ام سلمیٰ ؓ حديث دې.[قلت يارسول الله إني إمرأة أشد ضفر رأسي أفأنقضه في غسل الجنابة فقال لا إنما يكفيك أن تحثي على رأسك ثلاث حثيات ثم تفيض عليك الماء فتطهرين]

(فتح القدير) يعنی حضرت ام سلمیٰ ؓ عرض اوکړو.يا رسول الله ﷺ زه داسې ښځه يم.چه د خپلو ويختو کونسئ سختې ترم.نو آيا د جنابت په غسل کښې دا پرانيزم؟ نو نبی ﷺ ورته اوفرمائيل:نه، ستا دپاره بس دا کافی ده.چه ته په خپل سر درې لپې واچوې.اوبيا په خپل بدن اوبه اوبيوې.نوپاکه به شې. ددې حديث نه معلومه شوه .چه په هغه ښځه باندې د ويختو لوندول واجب نه دی.چه کونسئ ئې جوړې کړې وی.

عدم وجوب إيصال الماء إلي تحت الضفائر ﴿ صاحب دهدايه ؒ فرمائيلی دی.چه په دې ښځه باندې د کونسو لوندول هم واجب نه دی.هم دا صحيح قول دې.ځکه چه د کونسو په لوندولو کښې دښځې دپاره تکليف دې.

غسل واجبونکي اسباب

وَالْمَعَانِي الْمُوجِبَةُ لِلْغُسْلِ اوهغه اسباب کوم چه غسل واجبوي إِنْزَالُ الْمَنِيِّ انزال د منئ عَلَى وَجْهِ الدَّفْقِ وَالشَّهْوَةِ په طريقه د ټوپ اوشهوت سره مِنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ که دسړی نه وی اوکه د ښځې نه (غسل واجبوی)

حل اللغة ﴿ ① **معاني**: څيزونه ، ② **دفق**: ټوپ کول، وردانګل

تشريح ﴿ **حكم المني والمذي والودي وحكمها** ﴿ انزال د باب افعال مصدر دې.نزاله (دنون سره) نه ماخوذ دې.معنی ئې ده د سړی اوبه.دلته کښې درې الفاظ قابل ذکر دی.منی ،مذی او ودی.اول موجب دغسل ده.اودويمه او دريمه موجب د اودس دی.

تعريف الأشياء الثلاثة ﴿ ① د دې درې واړو په مينځ کښې فرق کښې د عالمانو مختلف اقوال دی مصنف عبدالرزاق په خپل مصنف کښې د حضرت قتادہؒ او عکرمه ؒ نه نقل کړې دې.فرمائی چه منی هغه د ټوپ اوبه دی.چه شهوت ورسره وی.او دهغې نه بچې پيدا کيدې شی.اومذی هغه اوبه دی.چه د لوبو په وخت کښې اوځي.او ودی هغه اوبه دی.چه د متيازو نه پس اوځي.(عينی)

③ شیخ ابن الهمام په فتح القدیر کښې لیکلی دی چه یوے ښځې د حضرت عائشې رضی الله عنها نه د مذیٔ په باره کښې تپوس اوکړلو نوهغوی ورته اوفرمائیل .دهر سړی نه مذی خی او دا په حقیقت کښې درې څیزونه دی. مذی ودی اومنی نومذی خودا ده چه سړې د ښځے بی بی سره لوبے کوی او هغه په عضو تناسل باندې یوڅیزښکاره شی نوهغه دے خپل ذکر او خصیتین اووینځی او اودس دے اوکړی غسل دے نه کوی. او ودی هغه ده چه کومه د متیازونه پس راځی دلته کښې هم د خپل ذکر او خصیتینو وینځل اواودس کول واجب دی. اوغسل نه دې او منی هغه ټینګے اوبه دی چه په شهوت سره اوځی. په دې کښې غسل دې.

③ علامه نووی رحمه الله فرمائی چه مذی سپینے نرمے او ښلیخناکے اوبه وی کومے چه د لوبو په وخت په شهوت سره اوځی لیکن ددې نه پس په طبعیت کښې فتورنه راځی.

④ امام قدوری فرمائی چه مذی هغه اوبه دی چه نرمے اوسپین والی ته مائلے وی د لوبو په وخت کښې اوځی.

شرطیة الشهوة لوجوب الغسل > امام قدوری رحمه الله په دې عبارت کښې دغسل موجبات بیانوی.

اول سبب په شهوت او توپ سره د منیٔ وتل دی .که انزال د منیٔ د سړی نه وی اوکه د ښځې نه اوکه دخوب په حالت کښې وی اوکه د ویښے په حالت کښې په هر صورت کښې غسل واجب دې.

دلیله > دلیل دا دې چه الله تعالی فرمائیلی دی. ﴿وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾ آیت کښې د تطهیر حکم جنب ته هم شامل دې او په لغت کښې جنابت وائی په شهوت سره د منیٔ وتلو ته کله چه سړې د ښځې نه خپل شهوت پوره کړی نو عرب وائی. [أجنب الرجل] نومعلومه شوه چه د منیٔ په شهوت سره وتل جنابت دې نو چه انزال د منیٔ په شهوت سره اوشی نو غسل به واجب وی.

وجوب دغسل په التقاء دختانینو

وَالْتِقَاءُ الْخِتَانَيْنِ مِنْ غَيْرِ إِنْزَالٍ اوبه خپلو کښې د ختانینو جنګیدل بغیر د انزال نه (غسل واجبوی)

حل اللغة > ① **التقاء**: ملاویدل ② **ختانین**: دواړه شرمګاهونه

تشریح > **حکم الختان للرجل والمرأة** > ختان د ښځې او سړی د ختنه (کټ کولو) ځائې دې د عربو عادت وو چه هغوی به د هلکانوپه شان د جینکو ختنه هم کوله ابن الهمام رحمه الله لیکی چه ختنه د سړو دپاره سنت ده او دښځو دپاره عزت .ځکه چه د مختونے ښځې سره په جماع کولو کښې زیات خوند وی سړې که ختنه پریږدی نوهغه به مجبوروله شی البته که په ختنه کښې دهلاکت غالب ګمان وی. نو بیا به نشی مجبوروله.(مثلا د شوګر مریض وی چه زخم ئې نه جوړیږی.)

وجوب الغسل بإلتقاء الختانین > مسئله ده که ختانین دواړه ملاوشی او خشفه (د ذکر سر) دښځې په شرمګاه کښې پټ شی نوپه دواړو به غسل واجب وی که انزال شوې وی اوکه نه وی.

دلائله > ① دلیل دا حدیث دې. [إذا التقی الختان الختان وغابت الحشفة وجب الغسل أنزل اولم ینزل] یعنی کله چه دواړه ختان په خپل مینځ کښې یوځائې شی نوغسل واجبیږی که انزال شوې وی اوکه نه وی.

② دویم دلیل دا دې چه په کوم څیز حکم مرتب کیږی هغه مخفی وی او دهغې سبب ښکاره وی نو هغه ظاهری سبب به د پټ څیز قائم مقام وی او حکم به په دغه سبب باندې مرتب وی نودلته کښې

التقاء د ختانينوسبب د انزال دي.او په نفس انزال باندي دغسل ترتب دي.او هغه يوپټ خيز دي. ځكه چه د سترګو نه پټ وي.اوكله د منئ د قلت دوجې دا پته هم نه لږي.چه انزال شوي دے اوكه نه دي.نوځكه به التقاء د انزال قائم مقام وي.او دغسل ترتب به په التقاء وي په انزال به نه وي.

وجوب دغسل په حيض اونفاس

وَالْحَيْضُ اوحيض(غسل واجبوى)

حل اللغة ﴿①**حيض**: ماهوارى بيمارى

تشريح﴿ **وجوب الغسل بالحيض والنفاس**﴿دغسل په موجباتوكښي نفاس اوحيض دى. او بعضو وئيلى دى.چه انقطاع دحيض موجب دغسل دي.

دليل وجوب الغسل بانقطاع دم الحيض ﴿دليل داالله تعالى ارشاد دي.﴿حَتَّىٰ يَطَّهَّرْنَ﴾ (په تشديد سره) يعني حائضوښځو ته نزدے مه ورځئ .تردے چه هغوى ښه پاكي شى.اودا ښه پاكيدل په هغه وخت كښي راځى.چه د وينے د انقطاع نه پس غسل هم اوكړى.

دليل وجوب الغسل عقيب النفاس= دحضرت معاذ رضى الله عنه نه مرفوع روايت دي.كه په نفاسه ښځه باندي اووه ورځي تيرے شى.اوبيائي وينه اوليدله. نوغسل دے كوى.اومونځ دے كوى.

د غسل مسنون مواقع

وَسَنَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغُسْلَ لِلْجُمُعَةِ وَالْعِيْدَيْنِ وَعَرَفَةَ وَالْإِحْرَامِ او رسول الله ﷺ د جمعې اخترونو،احرام اوعرفے دپاره غسل سنت ګرځولي دي

حل اللغة ﴿①**سن،سناً**: طريقه مقرر كول

تشريح﴿ **مواقع الغسل المسنون**﴿ په دي عبارت كښي د مسنون غسل بيان دي. امام قدورى رحمه الله په دي صورتونوكښي د مسنون غسل صراحت كړي دي.

① جمعه ② اخترونه ③ عرفه ④ احرام

دليله﴿ نبى ﷺ فرمائيلي دى.چا چه د جمعې په ورځ اودس اوكړو.نو ښه ده.او چاچه غسل اوكړو.نودا غوره ده.([1]) ددي حديث نه د جمعې د ورځي دغسل سنتيت ثابتيږى.

مسنونية غسل يوم العيدين﴿ صاحب دهدايه رحمه الله فرمائي.چه عيدين هم په منزله د جمعې دى.ځكه چه په دي دواړو كښي هم خلق راجمع كيږى.نوغسل كول به مستحب وى.چه د خولے وغيره د وجي بدبوئى نه وى.

دليله﴿ د عيدينو د مونځ دپاره غسل كول د احاديثو نه هم ثابت دي.دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي. چه [**أنه ﷺ كان يغتسل يوم العيدين**] يعنى نبى ﷺ به د اخترونو په ورځ غسل كولو. اودعرفے او احرام دپاره دغسل بيان به په باب المناسك كښي راشى.﴿فَانْتَظِرُوْا إِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ﴾

---

[1]) من حديث سمرة بن جندب رضي الله عنه أخرجه أبوداود فى الطهارة باب ۱۲۸ والترمذى فى الجمعة باب ۵ والنسائى فى الجمعة باب ۹ وابن ماجه فى الإقامة باب ۸۱ والدارمى فى الصلاة باب ۱۹۔

عدد الغسل الفرض ﴿د غسل يوولس انواع دی. په دې کښې پنځه فرض دی.① د انزال د منئ د وجې ② د التقاء ختانينو د وجې ③ د احتلام دوجې ④ دحيض د وجې ⑤ د نفاس د وجې.

عدد الغسل المسنون ﴿ څلور سنت دی.① د جمعې د ورځې غسل ② دعرفې د ورځې ③ د اخترونود ورځې ④ داحرام په وخت. او يو واجب دې.يعنی د مړی غسل.

الغسل المستحب ﴿ يو مستحب دې.يعنی کله چه کافر مسلمان شی.او جنب نه وی.نو دهغه دپاره غسل کول مستحب دې.

د مذئ اوودئ په وتلو د اودس وجوب

وَلَيْسَ فِي الْمَذْيِ وَالْوَدْيِ غُسْلٌ اوپه مذی اوودی کښې غسل نشته وَفِيهِمَا الْوُضُوءُ په دې دواړو کښې اودس دې

حل اللغة ﴿①مذی: هغه نرئ اوبه چه دَ ملاعبت يا ښکلولو وخت کښې اوخی ② ودی: هغه ټينګې اوبه چه دَ متيازو نه پس اوخی

تشريح ﴿ **تعريف الودی** ﴿ ودی ټينګې متيازې وی‌چه د نرمو متيازو پسې راوخی‌نودا به په هغې باندې قياس کولې شی

تعريف المذی ﴿ مذی نرئ او زيړے اوبه وی.سپينوالی ته مائله وی‌دسړی دخيلې ښځې سره د لوبوکولو دوجې اوخی‌دا تفسير دحضرت عائشې ﷞ نه منقول دې.

وجوب الوضوء في المذی والودی ﴿صاحب دکتاب فرمائی.چه د ودئ او مذئ د وتلو په صورت کښې غسل واجب نه دې.بلکه اودس واجب دې.

دليله ﴿ دليل د نبی ﷺ ارشاد دې.چه [كل فحل يمذی وفيه الوضوء][1]

لم ذكر المذی والودی في باب الغسل؟ ﴿ دلته کښې يوسوال دې.اوهغه داچه کله د مذئ او ودئ په وتلو سره اودس واجبيږی.اوغسل نه.نو دا دواړه پکار وو.چه په [فصل فی الوضوء] کښې ئې ذکر کړې وې.په [فصل فی الغسل] کښې نه وے ذکر کړې.

التوجيهان لذكرهما في الغسل ﴿ ①ددې جواب دا دې.چه دا دواړه چونکه د منئ سره مشابه دی.څکه په [فصل فی الغسل] کښې ذکر کړې شو.

② دلته بهتره توجيه دا ده.چه دلته کښې ئې د دواړو ذکر څکه اوکړلو.چه امام احمد ﷫ په يو روايت کښې په دې دواړو د غسل د وجوب قائل دې.نو دلته کښې ددې دواړو ذکر د امام احمد ﷫ د قول د ترديد دپاره ذکر شوې دې.

د اوبو احکام

وَالطَّهَارَةُ مِنَ الْأَحْدَاثِ جَائِزَةٌ د بےاودسو نه پاکی حاصلول جائز دی بِمَاءِ السَّمَاءِ د آسمان په اوبو وَالْأَوْدِيَةِ د خوړونو په اوبو وَالْعُيُونِ د چينوپه اوبو، وَالْآبَارِ د کوهيانو په اوبو وَالْبِحَارِ اوَد دريابونو په اوبوسره

حل اللغة ﴿① اوديه: چينې ② ابار: کوهيان ③ بحار: سمندر

---

[1] من حديث عبدالله بن سعد ﷺ اخرجه ابوداود فی الطهارة باب ٨٢.

تشريح> الربط بماقبله> کله چه امام قدوري رحمه الله د طهارتينويعني اودس او غسل د بيان نه فارغ شو،نو ددې ځائي نه دهغه څيز بيان کوي.په کوم چه طهارت حاصليږي.يعني اوبه مطلق، د مطلقو اوبو نه مراد د باران ،خوړونو، چينو اوبه،او د کوهيانو اوبه او د دريابونو اوبه ،

نوعي الحدث> احداث دحدث جمع ده.اود حدث دوه قسمونه دی. حدث اصغر اوحدث اکبر، يا داسې وئيلې شي.چه د حدث دوه قسمونه دی.حدث غليظه او حدث خفيفه، بهرحال د احداثونه پاکی حاصلول جائزدی.دآسمان په اوبو د خوړونو په اوبو،د چينويه اوبو،د کوهيانو او دريابونو په اوبو،

دلائل طهورية الماء المطلق> ① دليل دالله تعالى دا ارشاد دې.﴿وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً﴾

② نبی ﷺ فرمائيلی دی.[الماء طهور لاينجسه شئ إلا ما غيرلونه أوطعمه أو ريحه] (١) يعني مونږ د آسمان نه پاکې اوبه نازل کړې دی.اود نبی ﷺ ارشاد چه دا اوبه پاکې دی.څه څيز دانشی پليتولې.مګرداچه ددې رنګ ،خوند او بوئی بدل شی.

③ د سنن اربعه صاحبانود حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت کړې دې.چه [إن رجلا سأل رسول الله ﷺ فقال يا رسول الله إنا نركب البحر ونحمل معنا القليل من الماء فإن توضأنا به عطشنا أفنتوضأ من البحر، فقال ﷺ هو الطهور ماءه والحل ميتته](٢)يعني د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې. چه يوسړی دنبی ﷺ نه تپوس اوکړلو.يارسول ﷺ مونږ په دريابونوکښې سفر کوو. او مونږ سره لږې غونډې اوبه وی.که مونږ په هغې باندې اودس اوکړو.نو تګی پاتې کيږو.نوآيا مونږ د درياب په اوبوباندې اودس کولې شو.نبی ﷺاوفرمائيل: ددې اوبه پاکې اومرداره حلاله ده.

د ووني اوميوې په نچوړ شوو اوبو د اودس حکم

> وَلَا يَجُوزُ الطَّهَارَةُ او اودس جائزنه دې بِمَا اُعْتُصِرَ په داسې څيز چه په نچوړولو سره حاصل شوې وی مِنْ الشَّجَرِ (برابره ده) که د ووني وی وَالثَّمَرِ او که د ميوې وی

حل اللغة> ① **لايجوز، جاز جوازاً:** جائز کيدل ② **اعتصر، اعتصار:** نچوړی کول ③ **شجر:** ونه ④ **ثمر:** ميوه

تشريح> الماء المعتصر ليس بماء مطلق> مسئله دا ده.چه کومې اوبه د ووني يا ميوې نه په نچوړ کولو سره اووتلې شی.نو په دې باندې اودس کول جائزنه دې.ځکه چه دا اوبه مطلق نه دې.

دليله> اوددې دليل دا دې.که د يوانسان په کور کښې د درياب او د کوهی اوبه وی. اوپه هغې کښې نچوړ شوې اوبه هم وی.او بيا چاته اووائې.چه اوبه راوړه.نواول قسم ته به ئې ذهن ځی.دويم قسم ته به نه ځی .نومعلومه شوه.چه نچوړ شوې اوبه ، مطلق اوبهٔ نهٔ دی. اوداوبو د نشتوالی په صورت کښې حکم تيمم طرف ته منتقل کړې شوې دې. الله تعالى فرمائيلی دی.﴿فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا﴾ نومعلومه شوه.چه د ووني يا ميوې نه نچوړ شوې اوبه د اودس قابلې نه دی.

---

(١) من حديث عبدالله بن سعد ﷺ أخرجه أبوداود في الطهارة باب ٨٢

(٢) قال الزيلعي رحمه الله غريب ورواه عبدالرزاق في مصنفه (١٥٩١١) عن قتادة وعكرمة قالا هي ثلاثة :المني والمذي والودي أما المني فهو الماء الدافق الذي يكون فيه الشهوة ومنه يكون الولد ففيه الغسل وأما المذي فهوالذي يخرج إذا لاعب الرجل إمرأته ففيه غسل الفرج والوضوء وأما الودي فهو الذي يكون مع البول وبعده فيه غسل الفرج والوضوء (نصب:١٤٠/١)

الفرق بين الخروج والإخراج> باقې پاتې شوې هغه اوبه چه د انګور د ونې نه په خپله راوځی.نو په هغې باندې اودس کول جائز دي.ځکه چه دا داسې اوبه دی.چه بغیر د عمل نه راوتلی دی.دا مسئله په جوامع ابی یوسف کښې ذکر ده.او قدوری رحمه الله دے طرف ته اشاره کړې ده.ځکه چه په متن کښې ئې د اعتصار (نچوړولو) شرط لګولې دی. یعنی دا ئې ونیلی دی.چه اوبه د ونې یا میوے نه نچوړ شوې وی.دا ئې نه دی ونیلے چه په خپله راووتلے وی.نوحاصل د خبرے دا شو.که په نچوړولو سره ئې اوبه راویستے وی.نو په دې باندې اودس جائز نه دې. او که په خپله راوتلے وې. نو په دې اودس جائز دي.(فتح القدیر)

په مغلوبه اوبو د طهارت حکم

وَلَا يَجُوزُ او اودس جائز نه دی بِمَاءٍ غَلَبَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ په داسې اوبو سره چه په هغې باندې د اوبو نه علاوه (بل څیز غلبه کړې وی. فَأَخْرَجَهُ عَنْ طَبْعِ الْمَاءِ نوهغے اوبه ئې د خپل طبعیت نه ویستے وی كَالْأَشْرِبَةِ وَالْخَلِّ لکه شربت ،سرکه وَالْمَرَقِ خوروا وَمَاءِ الْبَاقِلَّا او د لوبیا اوبه وَمَاءِ الْوَرْدِ او د ګلاب اوبه وَمَاءِ الزَّرْدَجِ او د ګازرے اوبه،

حل اللغة > ① غلب غلبه (ض): غلبه موندل، برې موندل ② فاخرجه، اخرج، اخراجًا: وتل ③ اشربه، واحد شراب: د څکلو څیز ④ خل: سرکه ⑤ ماءالورد: عرق ګلاب ⑥ مرق: خوروه

تشریح> حکم الماء المغلوب> مسئله دا ده.که د اوبو سره بل څیز ګډ شی.او په اوبو باندې غالب شی.تردے چه دا اوبه دخپل طبعیت نه اوباسی.او د اوبو طبعیت نرموالے اوبهیدل دی.نو په داسې اوبو باندې شرعاً اودس کول معتبر نه دې.لکه شربت، سرکه ، د ګلاب عرق،د لوبیا اوبه، خوروا او د ګازرے اوبه.

المراد من الأشربة المعصورات > ابن الهمام لیکلی دی.که د شربتونونه مراد هغه وی.کوم چه د ونې نه راویستے شوی وی.لکه د انار شربت،د اننناس شربت، او د سرکے نه خالصه سرکه مراد وی.نو دا دواړه به دهغه اوبو نظیر وی.کومې چه د ونې یا میوے نه نچوړ شوې وی.او د لوبیااوبه او خوروا به دهغه اوبو نظیر وی.په کوم چه بل څیز غالب شوې وی.او په عبارت کښې به لف نشرمرتب وی.یعنی د [بما اعتصر من الشجروالثمر] مثالونه به مقدم وی.او [بما غلب عليه غيره] مثالونه به موخر وی.لکه چه دالله تعالی ارشاد دې.﴿وَمِن رَّحْمَتِهِ جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ﴾ په دې کښې د لف نشر مرتب خیال ساتلې شوې دې.

المراد من الأشربة المياه العذبة وتوضيحها> او که د شربتونونه هغه اوبه مراد وی.چه په هغې کښې خوږوالے ملاوشوې وی.لکه ګوره ئې په کښې ګډه کړې وی.یا شهد ئې په کښې ګډ کړې وی.او دسرکے نه مراد هغه سرکه وی.کومه چه د اوبوسره ګډه شوې وی.نو په دې صورت کښې به دا ټول د هغه اوبو نظیر وی.چه په هغې باندې بل څیزغالب شوې وی.

دلیل عدم جواز الطهارة > او په دې اوبو باندې داودس د عدم جواز دلیل دا دې.چه دے ته اوبه مطلق نه وائی .یعنی د اوبو په لفظ سره دے څیزونو ته ذهن نه ځی.هم دا وجه ده.چه ددې اوبو نه د اوبو نوم لرے کول ټیک دی.هر سړې چه اووائی.چه ما اوبه نه دی څکلې.حالانکه ده د لوبیا اوبه یا خوروا څکلے وی

.نو داسې کس ته دروغژن نشی وئیلې.که دا په حقیقت کښې اوبه وې.نوددې نه به د اوبو د صفت نفی کول ټيک نه وو .ځکه چه حقیقت د مسمی نه نه جدا کیږی.

الحکمان لماء الباقلاء ﴿ صاحب دهدایه رحمه الله فرمائیلی دی.① چه د لوبیا نه هغه اوبه مراد دی. چه په اوبو کښې لوبیا واچولې شی.او پخې شی.او دے سره هغه اوبه متغیرے شی.نوپه هغې باندې اودس کول جائز نه دې.

②که بغیر د پخولو نه مغیرے شی.نواودس پرے جائزدې.

په دوه صفته اوبو د طهارت حکم

وَتَجُوزُ الطَّهَارَةُ اوپاکي حاصلول جائزدی بِمَاءٍ خَالَطَهُ شَيْءٌ طَاهِرٌ.په داسې اوبو چه هغې سره څه پاك څیزګډ شوې وی فَغَيَّرَ أَحَدَ أَوْصَافِهِ نوهغې د اوبو په صفتونوکښې یوصفت بدل کړې وی كَمَاءِ الْمَدِّ لکه دسیلاب وَالْمَاءِ الَّذِي اخْتَلَطَ بِهِ اللَّبَنُ أَوِ الزَّعْفَرَانُ أَوِ الصَّابُونُ أَوِ الْأُشْنَانُ اوهغه اوبه چه هغې سره پئ زعفران، صابون او اشنان ګډ شوې وی.

حل اللغة ﴿ ①**لاتجوز، جاز جوازاً(ن)**: جائز کیدل② **خالطه، خالط مخالطه**: ګډوډ کیدل③ **اشنان**: یوقسم جاړی بوټی دې④ **اشباه**: یوشان کیدل ⑤ **بیر**: کوهې ⑥ **عین**: چینه ⑦ **خلط**: یوځائ کیدل ⑧ **احتراز**: ډډه کول ⑨ **لون**: رنګ]

تشریح ﴿ **حکم الطهارة بما غیروصفه الواحد**﴿ مسئله دا ده.که په اوبوکښې څه پاك څیز ګډ شی.اوهغې د اوبو درې صفتونه (رنګ،خوند او بوئی)کښې یوبدل کړلو.نو په دې اوبو باندې اودس کول جائز دې.لکه د سیلاب اوبه یا د زعفران،صابون او اشنان سره ګډے شوې اوبه .اشنان یوه ترخه ګیاه ده.او دصابون پشان جامې پاکوی.(بعضې خلق ورته زمئ وائی.)

روایة جواز الطهارة بالماء الذی تغیربکثرة الأوراق﴿ د قدوری دمصنف رحمه الله عبارت دے طرف ته اشاره کوی.که د اوبو دوه صفتونه یا درې صفتونه بدل شو.نو په هغې باندې اودس کول جائز نه دې.اوپه نهایه کښې ئې لیکلی دی. چه د استاذانو نه نقل دی .چه په دې باندې اودس جائز دې.تردے چه د خزان په موسم کښې کله د ونو نه پاڼے غورځیږی.او په هغې باندې د اوبو درې واړه صفتونه (رنګ خوند او بوئی) بدل شی. په شرح طحاوی کښې هم دے طرف ته اشاره ده.مګردا شرط دې.چه د اوبو رقت باقی پاتې شی.نوکه د یو څیز په ګډون سره اوبه ټینګې شی.نوددې حضراتو په نزد هم په هغې باندې اودس کول جائز نه دې.

روایة عدم جواز الطهارة بالماء الذی تغیربکثرة الأوراق ﴿علامه ابن ا لهمام په فتح القدیر کښې لیکلی دی.چه د فقیه احمد بن ابراهیم المیدانی رحمه الله نه ددې اوبو په باره کښې تپوس اوشو.چه دهغې رنګ د زیاتو پاڼړو د وجې بدل شوې وی.چه کله هم په لاس کښې اوبه راواخستلے شی.نود پاڼړو رنګ په کښې ښکاره کیږی .نوهغوی ورته اوفرمائیل: په داسې اوبو اودس کول جائز نه دی.لیکن دد ے څکل او نور څیزونه په دې باندې وینځل جائز دی.ځکه چه دا پاکې دی.او اودس پرےځکه جائز نه دې.چه کله په

اوبو باندې د پاڼو رنګ غالب شي. نوهغه مقيد اوبه شوې.لکه د لوبيا اوبه او وراندې تيرشو.چه په مقيدو اوبو اودس كول جائز نه دي. (¹)

الغلبة باللون اوالأجزاء ؟> باقي پاتې شوه دا خبره چه غلبه به څنګه معتبروی.د اجزاء په اعتبار سره كه د رنګ په اعتبار سره؟نو وے فرمائيل:چه غلبه به د رنګ په اعتبار سره معتبره وی.هم دا صحيح قول دي.

په اوبو کښې دنجاست د پريوتو حکم

وَكُلُّ مَاءٍ دَائِمٍ وَقَعَتْ فِيهِ النَّجَاسَةُ اوهرهغه اوبه ولاړې چه په هغې كښې نجاست پريوځى لَمْ يَجُزِ الْوُضُوءُ بِهِ نوپه هغه اوبو اودس جائز نه دې قَلِيلًا كَانَتِ النَّجَاسَةُ أَوْكَثِيرًا برابره ده) كه نجاست كم وى اوكه زيات وى لِأَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَمَرَ بِحِفْظِ الْمَاءِ مِنَ النَّجَاسَةِ فَقَالَ ځكه چه نبي ﷺ حکم کړې دې په حفاظت د اوبو د پليتئ نه نوفرمائيلي ئې دى لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ چه په تاسو كښې دے څوك په ولاړو اوبو كښې متيازې نه كوى وَلَا يَغْتَسِلَنَّ فِيهِ مِنَ الْجَنَابَةِ اونه دے په دې كښې د جنابت نه غسل كوى وَقَالَ ﷺ اوفرمائيلي دى نبي ﷺ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ كله چه رابيدار شي يو كس په تاسو كښې مِنْ مَنَامِهِ د خوب ځيل نه فَلَا يَغْمِسَنَّ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ نو نه دې غوپه كوى لاس ځپل په لوښى كښې حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا تردې چه اووينځى دا درې ځله فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ(²) ځکه چه دہ ته علم نشته چه كوم ځائې كښې شپه تيره كړې وه لاس د ده (په بدن د ده)

حل اللغة > ① **وقعت، وقع، وقوعا (ف)**: واقع كيدل،پريوتل ② **نجاسه**: ناپاكى ③ **باتت**: د شپې تيرول ④ **يغمسن**: داغماس نه دې په اوبو كښې غوپه كول

تشريح > **المراد من الماء** > په عبارت كښې د ماء دائم نه هغه ولاړې اوبه مراد دى.کومے چه د جارى اوبو په حکم کښې هم نه وى.ځکه چه د جارى اوبو اود هغه اوبو چه دجارى په حکم کښې وى نو د هغې حکم په روستنئ مسئله کښې ذکر دې.

دلائله > ① دليل د نبي ﷺ قول دې.چه [إذا استيقظ أحدكم من منامه فلا يغمسن يده في الإناء حتى يغسلها ثلاثا] (²)په دې حديث باندې استدلال داسې كيږى.چه كله چه دنجاست داحتمال د وجې لاس په لوښى كښې د داخلولو نه منع شوې دې.نو دحقيقى نجاست په صورت كښې خو به په طريقه اولى سره اوبه پليتيږى.

(¹) امام شافعي رحمه الله فرمائى چه په زعفران او ددې پشان نورو ځيزونو چه د جنس د زمکے څخه نه وى د هغې په اوبو باندې اودس کول جائز نه دي

١) من حديث ابي هريرة رضي الله عنه اخرجه البخاري في الوضوء باب ١٦ ومسلم في الطهارة رقم ٨٧)۔

(²) تقدم تخريجه)۔

② دويم دليل د نبي ﷺ ارشاد دي.چه [لا يبولن أحدكم في الماء الدائم ولا يغتسلن فيه من الجنابة] (۱) ددې حديث نه معلومه شوه كه ولاړې اوبه د نجاست په پريوتو نه پليتيدې نبي ﷺ به ولې په دې كښې د بولو كولو نه منع كوله

په روانو اوبو كښې د نجاست پريوتل

وَأَمَّا الْمَاءُ الْجَارِي إِذَا وَقَعَتْ فِيهِ نَجَاسَةٌ اوهرچې اوبه رواني دي كله چه نجاست پريوځي جَازَ الْوُضُوءُ مِنْهُ نو د هغې نه اودس كول جائز دي. إِذَا لَمْ يُرَ لَهَا أَثَرٌ ترڅو چه ددغه نجاست څه اثر ښكاره شوې نه وي لِأَنَّهَا لَا تَسْتَقِرُّ مَعَ جَرَيَانِ الْمَاءِ ځكه چه دا پليتي نه ايسارېږي په يوځائې سره د جاري والو د اوبو نه

حل اللغة ﴿ ①وقعت، وقع، وقوعاً (ف) واقع كيدل، پريوتل

تشريح ﴿ **عدم نجاسة الماء الجاري بوقوع النجاسة** ﴿مسئله دا ده.كه په جاري اوبو كښې نجاست پريوځي.نو دهغې نه اودس جائز دي.خو په دې شرط چه د نجاست څه اثر نه ښكاري.برابره ده كه نجاست مرئي وي اوكه غير مرئي وي.

دليله﴿دليل دا دي.چه نجاست د اوبو دجاري والي سره ايساريدے نشي. نوځكه د نجاست غورځيدو باوجود جاري اوبه پاكې وي.او د نجاست داثر نه مراد ددې خوند يا بوئي يا رنګ دي.

تعريفات الماء الجاري﴿ ① دجاري اوبو په تعريف كښې د فقهاؤ اختلاف دي.بعضې فقهاؤ فرمائيلي دي.چه جاري اوبه هغه دي.چه دهغې استعمال مكرر نه وي.ددې صورت دا دي.چه د نهر نه اوبه راواخلي.او لاس اووينځي.او هغه اوبه په نهر كښې اوغورځيږي.نو كله په دويم ځل د نهر نه اوبه راخستے شي.نو د اولنو اوبو نه څه باقي نه وي.بلكه اولنۍ اوبه بهيدلے وي او وړاندې تلے وي.

② بعضو وئيلي دي.چه جاري اوبه هغه دي.كه يو كس په پلنوالي خپل لاس په اوبو كښې كيږدي.نو د اوبو بهيدل نه اودريږي.

③ د بعضو عالمانو ﷭ خيال دي.چه جاري اوبه هغه دي.چه اوچ ډكے اوړي.

④ د بعضو رائې دا ده.چه خلق كومو اوبو ته جاري وائي.هغه جاري دي.

تائيد مسئلة المتن برواية محمد﵀ ﴿ امام محمد ﵀ فرمائي.كه په دريائې فرات كښې چا د شرابو منګے مات كړلو.او دهغې نه ښكته چه كوم طرف ته اوبه روانے وي.يو سړي اودس كوي.نو ترڅو چه په اوبو كښې د شرابو خوند يا بو يا رنګ محسوس شوې نه وي. نو اودس جائز دي.دامام محمد ﵀ په روايت د متن د مسئلې تائيد كيږي.(فتح القدير)

په لوئې حوض كښې د نجاست پريوتل

وَالْغَدِيرُ الْعَظِيمُ اولوئې حوض هغه دي الَّذِي لَا يَتَحَرَّكُ أَحَدُ طَرَفَيْهِ بِتَحْرِيكِ الطَّرَفِ الْآخَرِ چه دهغې يوارخ نه خوزي په خوزلو دبل طرف إِذَا وَقَعَتْ نَجَاسَةٌ فِي أَحَدِ جَانِبَيْهِ چه ددې يو طرف ته نجاست وي جَازَ الْوُضُوءُ مِنَ الْجَانِبِ الْآخَرِ نوچه د بل طرف نه اودس جائز دي لِأَنَّ الظَّاهِرَ ځكه چه ظاهر دا دي أَنَّ النَّجَاسَةَ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ چه نجاست بل طرف ته نه رسي

[1]) من حديث أبي هريرة﵁ أخرجه أبوداود في الطهارة باب ۳٦ وابن ماجه في الطهارة باب ۲۵).

حل اللغة ◄ ①**غدیر**: تالاب ② **تحریك**: راغوبنتل

تشریح ◄ **رأي المتاخرين في إيصال الماء** ◄ داحنافو عالمانو رحمهم الله په دې باندې اتفاق دې.که د اوبو یوه حصه بلې حصې ته رسی.نوهغه اوبه قلیل دی.اوکه نه رسی.نوهغه ماء کثیر دی.

الروايات الثلاث في سبب التحريك ◄ بیا متقدمین حضرات د تحریك په سبب کښې مختلف شوی دی.①امام ابویوسف رحمه الله د امام ابوحنیفه رحمه الله نه روایت کړې دې.چه دغسل کولو حرکت معتبر دې.یعنی چه د حوض په یوارخ یوکس په مناسب انداز کښې غسل کوی.نو بل طرف نه خوزی.نودا لوئې حوض دې.او که بل طرف خوزیدلو.نودا لوئې حوض نه دې.امام ابویوسف رحمه الله دا روایت غوره کړې دې.

② امام ابویوسف رحمه الله د امام ابوحنیفه رحمه الله نه دا روایت هم کړې دې.چه صرف په لاس باندې خوزیدل معتبر دی.

③ دامام محمد رحمه الله نه روایت دې.چه د اودس کولو حرکت معتبر دې.[1]

توجيه الرواية الأولي ◄ داولنی روایت دلیل دا دې.چه په حوضونو او تالابونو کښې داودس په نسبت غسل کولو ضرورت زیات پیښیږی.ځکه چه عام طور اودس په کورونو کښې کیږی. نو ځکه به د تحریك بالاغتسال اعتبار وی.

التقدیربالمساحة ◄ ①ابوسلیمان جوزجانی رحمه الله دمساحت خیال ساتلې دې.یعنی که هغه ده در ده (چه لس گزه اوږد او لس گزه پلن) وی.نوهغه ماء کثیر دی.اوکه د هغې نه کم وی.نودا ماء قلیل دی.دامام محمد رحمه الله نه روایت دې.په کوم وخت کښې چه د دوی نه ددې په باره کښې تپوس اوشو.نوهغوی اوفرمائیل:که زما د جمات د حوض برابر وی.نوهغه ماء کثیر دی.او که برابر نه وی.نوهغه ماء قلیل دی.کله چه د امام محمد رحمه الله د جمات د حوض پیمائش اوشو.نود یو روایت مطابق هغه هشت در هشت (یعنی اته گزه اوږده او اته گزه پلن وو.) او دبل روایت مطابق هغه ده در ده وو.②او بعضې حضراتو فرمائیلی دی.چه دننه حصه ئې هشت درهشت (۸ضرب ۸) وه.اود بهر نه چه ئې پیمائش اوکړلو.نو ده در ده (۱۰ضرب۱۰) وو.بهر حال عامو مشائخو د ابوسلیمان جوزجانی رحمه الله قول اختیارکړې دې.

القولان في الزراع ◄ باقی پاتې شوه دا خبره چه کوم گزمعتبر دې.①نوپه فتاوی قاضی خان کښې دی.چه د مساحت (پیمائش) گز معتبر دې.او د مساحت گز دا دې.چه اووه موټی وی.اوپه هر موټی باندې یوه ولاړه گوته زیاتی وی.

② د جامو د گزاعتبار کړې دې.اود جاموگز اووه موټی وی.اوپه موټی باندې ولاړه گوته زیاتی نه وی. علامه مرغینانی فرمائیلی دی.چه په ماء کثیر کښې د جامو دگز اعتبار د خلقو دآسانتیا دپاره شوې دې.او فتوی هم په دې باندې ده.

الأقوال الأربعة في عمق الغدير ◄ ① د ژوروالی په باره کښې معتبره دا ده.چه بس دومره ژوروالے کافی دې.چه په لپه راخستلو سره زمکه نه ښکاره کیږی.اودا صحیح ده.② د بعضو رائې دا ده.چه کم از کم یوگز وی.③ بعضو د دوو گزود مقدار اعتبار کړې دې.④ بعضو د یو لویشت اعتبار کړې دې.

[1])القول الراجح هوقول محمد من اعتبارحركة الوضوءكذا في السعاية (۱\۲۷۷) والكفاية (۱\۷۱) وردالمختار (۱\۱۴۱) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱۱)-

حکم الموضع الذي وقعت فيه النجاسة في الغدير علامه مرغيناني فرمائيلي دی .چه داکوم څه په قدوری کښې ونيلې شوی دی.چه دغدير عظيم د بل طرف نه اودس جائز دی. په دې کښې دے طرف ته اشاره ده.چه په کوم ځائې کښې نجاست غورځيدلے وی.هغه د نجاست غورځيدو ځائې به پليت وی.برابره ده که نجاست مرئی وی اوکه غير مرئی وی.اودامام ابويوسف رحمه الله نه روايت دې.چه د نجاست غورځيدو مقام به هم پليت نه وی. مگر په دې صورت کښې چه هلته نجاست ښکاره شی.لکه څنګه چه د جاری اوبو حکم دې.[1]

په اوبو کښې د بې وينې ځيز دمرګ حکم

وَمَوْتُ مَا لَيْسَ لَهُ نَفْسٌ سَائِلَةٌ فِي الْمَاءِ او په اوبوکښې د داسې ځيز مرګ چه په هغې کښې وينه نه وی. لَا يُنَجِّسُهُ نو هغه اوبهٔ نه پليتوی كَالْبَقِّ لکه ماشې وَالذُّبَابِ، مچ، وَالزَّنَابِيرِ مچی؛ وَالْعَقْرَبِ او لړمان

حل اللغة ① **بق**: ماشې ② **ذباب**:مچ ③ **زنابير**: مچی؛ ④ **عقرب**: لړم ⑤ يفسد، افسد، **افساداً**: فاسد کول، خرابول

تشريح **نجاسة الماء بموت ما ليس فيه دم سائلة** ① مسئله دا ده.که په اوبو کښې داسې ځناور مړ شی.چه په هغې کښې بهيدونکې وينه نه وی.نو دهغې په مرګ سره اوبه نه پليتيږی.لکه مچ، ماشے مچی؛ او لړم وغيره،

دلائله ① دليل دحضرت سلمان فارسی رضی الله عنه حديث دې. [أن النبي ﷺ سئل عن إناء فيه طعام أو شراب يموت فيه ما ليس له دم سائل فقال ﷺ هذا هو الحلال أكله وشربه والوضوء منه] كفايه) يعنی د نبی ﷺ نه د هغه لوښی په باره کښې تپوس اوشو.چه په هغې کښې د خوراك څکاك ځيز وی.او په دې کښې هغه ځناور مړ شی.چه په هغه کښې بهيدونکې وينه نه وی؟ نبی ﷺ اوفرمائيل:ددې خوراك څکاك حلال دې.او ددې نه اودس کول جائز دې.او په دارقطنی کښې دا حديث داسې دې. [يا سلمان كل طعام وشراب وقعت فيه دابة ليس لها دم سائل فمات فيه فهو حلال أكله وشربه ووضوئه] ([2]) اے سلمان د خوراك څکاك هر هغه ځيز چه په هغې کښې داسې ځناور پريوځی.چه په هغې کښې وينه نه وی.او په هغې کښې مړ شی.نودا ځيز حلال دې.ددې خوراك او څکاك او ددې نه اودس کول.دارقطنی دا حديث روايت کړې دې.اوفرمائيلي ئې دی.چه د بقيه راوی نه سوا بل هيڅ چا دے ته مرفوع نه دی ونيلې.اوهغه د سعيد بن ابی سعيد الزبيدی نه روايت کړې دې. اوهغه ضعيف دې.

② دليل عقلی دا دې.چه د کوم ځناور په مرګ باندې اوبه پليتيږی.نودمرګ په وخت کښې دهغه د دم مسفوح اجزاء د اوبو سره ګډيږی.(نوځکه دغه اوبه پليتيږی.) چه کوم ځناور ذبح شوې وی.نوهغه حلال او پاك وی.ځکه چه په هغه کښې دم مسفوح نه وی.اودا ځناور چه پورته ئې ذکر اوشو. داسې دی.چه په دوی کښې داسې وينه نشته.يعنی په دې ځناورو کښې دم سائل نشته.اوچه اوبه پليتوی.نو هغه

---

[1]) القول الراجح هو قول أبي يوسف رحمه الله من عدم نجاسة موضع الوقوع كذا في فتح القدير(١\٧٢) والدرالمختار (١\١٤٠) وردالمحتار(١\١٤٠) نقلاً عن القول الراجح (١\١٢)-

[2]) من حديث سلمان رضي الله عنه اخرجه الدارقطني في سننه (١\٣٧)-

هم دا دم سائل وی.کومه چه د ځناور د مرګ په وخت کښې داوبو د اجزاؤ سره ګډه شی. ددې ځناورو په مرګ سره دا وینه په اوبو کښې نه ګډیږی. ددې وجې په دې باندې اوبه نه پلیتیږی

په اوبو کښې داوسیدونکی ځیز په مرګ د اوبو حکم

وَمَوْتُ مَا يَعِيشُ فِي الْمَاءِ فِيهِ اوبه اوبوکښې د داسې ځیزمرګ چه په اوبو کښې ژوند تیروی اذامات فی الماء کله چه مړ شی په اوبو کښې لَا يُفْسِدُهُ نه پلیتوی دې لره كَالسَّمَكِ لکه کب وَالضِّفْدَعِ چیندخه وَالسَّرَطَانِ اوشمشتې، (کوږنی کب)

حل اللغة > ① يعيش، عاش-عيشًا (ض) ژوندې اوسیدل ② سمك: کب ③ ضفدع: چیندخه

تشریح > **حکم موت حیوان البحر فیه** > ① مسئله دا ده.که په اوبوکښې هم د اوبو ځناور مړ شی.نو اوبه که قلیل وی او که کثیر ددې په مرګ اوبه نه پلیتیږی

دلائله الأحناف ﷺ > ① دلیل دا دې.که د اوبوځناور په اوبو کښې مړ شی.نوهغه په خپل معدن کښې مړ شو.اوکوم ځیزچه په خپل معدن کښې مړ شی.نوهغه به په خپل معدن کښې نجس وی.او کوم ځیزچه په خپل معدن کښې اوسیږی.او نجس وی.نو هغې ته د نجاست حکم نشی ورکولې.ځکه که نجاست ته په خپل معدن کښې دنجاست حکم ورکړې شی.نو هیڅ یو سړې پاك نشی پاتې کیدې.ځکه چه د ټولو رګونه د وینې نه ډك دی.نومعلومه شوه.چه نجاست چه ترڅو په خپل معدن کښې وی.هغې ته د نجاست حکم نشی ورکولې.لکه هغه اګۍ چه زیړ ئې وینه شوې وی.نو څو چه دننه وی.نو اګۍ پلیته نه ده. تردې که داسې اګۍ ئې په جیب کښې وی.او مونځ اوکړی.نودې سره مونځ جائز دې.ددې په خلاف که نجاست په خپل معدن کښې نه وی.نوهغې ته به د نجاست حکم ورکولې شی.نو که شیشه د وینې نه ډکه کړې شی.اوبه جیب کښې ئې کیږدی.اومونځ کوی.نو مونځ جائزنه دې.ځکه چه شیشه دهغې وینې معدن نه دې.نومعلومه شوه.که آبی ځناور په اوبو کښې مړ شی. نوهغه به نجس نه وی.ځکه چه اوبه دهغه معدن دې.اونجاست چه تر کومې په خپل معدن کښې وی.هغې ته دنجاست حکم نشی ورکولې.

② دویم دلیل دا دې.چه نجس په اصل کښې بهیدونکې وینه وی.او د وینې مزاج ګرم دې.او اوبه یخې وی. په دواړو کښې تغائر دې.نو چه په کوم ځناور کښې وینه وی.هغه د اوبو اوځیدونکې نه دې.او چه کوم ځناور د اوبو وی.په هغې کښې وینه نه وی.

③ ددې نه علاوه وینه په نمر کښې توریږی. او په دې ځناورو کښې چه کوم ځیز وی.هغه اوبهیږی. نوهغه په نمر کښې سپینیږی.نومعلومه شوه.چه په دې ځناورو کښې وینه نشته. هرکله چه په دې کښې وینه نشته. نو زمونږ په نیز په اتفاق سره ددې ځناورو په مرګ سره اوبه نه پلیتیږی.که اوبه لږې وی او که زیاتې وی.

الروایتان في حکم موت حیوان الماء في المائع > اوکه د اوبو دځناورونه یوځناورد اوبونه علاوه په بل بهیدونکی ځیزکښې مړ شی.لکه سرکه ،شربت، اوبې وغیره شو.نو په دې کښې اختلاف دې.

① بعضې فقهاء فرمائی .چه د کب نه علاوه نور آبی ځناور دا ځیزونه پلیتوی.ځکه چه په خپل معدن کښې نه دی مړۀ شوی.

۲ د بعضوخیال دې.چه دا څیزونه نه پلیتوی.څکه چه په آبی ځناورو کښې وینه نه وی.حالانکه په وینه باندې پلیتیږی.

الروايتان في حكم موت الضفدع في المائع ١ دعلامه مرغینانیؒ فرمائیلی دی.که چیندخ د اوچے وی.او که داوبو.دواړه په دې حکم کښې برابر دی.یعنی د دواړو په مرګ سره اوبه نه پلیتیږی.او د اوبو او د اوچے د چیندخ په مینځ کښې فرق دا دې.چه د اوبود چیندخ د ګروتونوپه مینځ کښې د بطے د ګوتو پشان پرده وی.اود اوچے په چیندخ کښې نه وی.

۲ بعضې فقهاء فرمائی.چه د اوچے د چیندخ په اوبو کښې مرګ سره اوبه پلیتیږی.څکه چه د اوچے په چیندخ کښې وینه موجود وی.نو دنجاست علت موجود شو.او باقی دا خبره چه دغه سیال څیز ئې معدن نه دې.نودا د نجاست دحکم بنکاره کولودپاره دې.(یعنی کله چه یوځناور د خپل معدن نه علاوه په بل ځائې کښې مړ شی.نودهغه څیزد نجاست حکم بنکاره کیږی.اوکه په خپل معدن کښې مړ شی.نواګرچه پلیت وی.لیکن د نجاست حکم ئې نه بنکاره کیږی.)

الصفتان لحيوان الماء باقی پاتې شوه دا خبره.چه داوبو ځناور څه ته وائی. نوصاحب دهدایهؒ فرمائی. چه داوبو په ځناور کښې دوه صفتونه وی.١یو دا چه اوبه ئې مسکن وی.

۲ دویم دا چه ددې پیدائش په اوبو کښې وی.یعنی اګئ او بچی ئې په اوبو کښې وی.او هغه ځناور چه مسکن ئې اوبه وی.لیکن د پیدائش ځائې ئې هغه نه وی.نودهغې په مرګ سره اوبه پلیتیږی.

د مستعملو اوبو حکم

وَالْمَاءُ الْمُسْتَعْمَلُ لَا يُطَهِّرُ بِهِ الْأَحْدَاثِ او مستعملے اوبه احداث نه پاکوی.

تشريح **أقسام الماء المستعمل** اوبه مستعملے په درې قسمه دی.١یوداچه دپاك څیز وینځلو دپاره استعمال شوې وی.مثلا غلے، او سبزیانے او پاکې جامې.دا په اتفاق سره پاکې دی.

۲ دویم دا چه د نجاست حقیقی لرے کولو دپاره استعمال شوې وی.لکه داستنجاء اوبه او د پلیتو جامو اوبه ، دا په اتفاق سره نجسے دی.

۳ دریم قسم دا دې چه دنجاست حکمی دلرے کولودپاره استعمال شوې وی.یا دقربت اوثواب په اراده استعمال شوې وی.نوداسې مستعملې اوبه په خپله پاکې دی او نورې بې اودسۍ نه لرې کوی لکه څنګه چه په متن کښې ذکر دی او دا د امام محمدؒ قول دې اودا مفتی به اوراجح قول دې

دليله دامام محمدؒ دلیل دا دې.چه د اودس کونکی اندامونه هم پاك دی.اواوبه هم پاکې دی.او دپاك څیز دپاك سره لګیدل موجب د نجاست نشے کیدې.خو که په اوبو باندې قربت او عبادت ادا شوې وی. نو ددې وجې د اوبو وصف متغیر شو.لکه څنګه چه د صدقے او زکاة مال دې.څکه چه مال في نفسه مطهر دې.الله تعالی فرمائی.(خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا)نود کوم مال سره چه زکاة ورکړې شی . شریعت هغې ته خیرے وئیلی دې.څکه د زکاة مال په نبیؐ علیه السلام او ددوی په اولاد باندې په شریعت کښې حرام دې.نودغه شان ماء مستعمل چه په دې باندې قربت ادا شوې وی.یا حدث زائله شوې وی.نودا د نجاست حکمیه د وجے خیرنیږی.او د خپلے اصلی مرتبے نه

غورځيږي.نوځکه هغه د مطهر د فهرست نه ويستلے شي.اګرچه په طهارت باندې باقي دې.نوثابته شوه.چه ماء مستعمل طاهرے غير مطهرے دی. نجس نه دی.[1]

د اوبو د مستعملو ګرځيدو سبب

وَالْمَاءُ الْمُسْتَعْمَلُ اواوبه مستعمل هر هغه اوبه دی هُوَمَا أُزِيلَ بِهِ حَدَثٌ چه په هغې سره لرے کړې شوې وی.څه حدث أَوِاسْتُعْمِلَ فِي الْبَدَنِ عَلَى وَجْهِ الْقُرْبَةِ يا هغه د تقرب په طور په بدن کښې استعمال شوې وی

حل اللغة < ① **استعمل، استعمالاً**: استعمالول ② **قربه**: نزديکت

تشريح < **المذهبان في سبب الإستعمال** < په دې عبارت کښې د ماء مستعمل حقيقت اوددې په سبب کښې کلام دې.① د اوبو داستعمال سبب دوه څيزونه دی.①حدث لرے کول ②د قربت اوثواب نيت کول.چه دا دواړه خبرے موجود شی.يا په دې کښې يوه موجود شی.نو په دواړو صورتونوکښې اوبه مستعملے ګرځی. دا د شيخينو رحمهما الله مذهب دې[2]

المذهبان في صيرورة الماء مستعملاً < دلته کښې دريم بحث د ماء مستعمل د وخت متعلق هم شوې دې.ددې حاصل دا دې.چه اوبه ترڅو پورې په اندام پورې وی.نوهغے ته د استعمال حکم نشی ورکولې.ليکن کله چه د اندام نه جدا شی.خو په بل ځائې يا لوښی کښې ايسارے شوې نه وی.نوددې په مستعملو ګرځيدوکښې اختلاف دې مفتی به قول دا دې چه اوبه کله د اندام نه جدا شوې.نوهغه مستعملے شوې. د هغې په يوځائې کښې ايساريدل د استعمال دپاره شرط نه دې.

دليله < دليل دا دې چه د بدن نه د جدا کيدو نه وړاندې اوبو ته د استعمال حکم د ضرورت په وجه نه دې ورکړې شوې خو د جدا کيدو نه پس ضرورت باقی پاتې نشو د دې وجې چه څنګه د بدن نه جدا شی نو د استعمال حکم به ورکولې شی

په دباغت باندې د څرمن طهارت

وَكُلُّ إِهَابٍ دُبِغَ اوهره کچه څرمن چه رنګ کړې شی فَقَدْ طَهُرَ نوهغه پاکه شوه وَجَازَتِ الصَّلَاةُ فِيهِ په دغه رنګ شوې څرمن کښې مونځ جائز دې وَالْوُضُوءُ مِنْهُ اوددې نه اودس کول (هم جائز دے) إِلَّا جِلْدَ الْخِنْزِيرِ وَالْآدَمِيِّ سوا د خنزيراوبنی آدم د څرمنے نه

حل اللغة < ① **اهاب**: څرمن ② دبغ دباغة (ض،ن،ف) څرمن پخول ③ **طهر، طهوراً(ن)**: پاکيدل ④ **جازت، جاز جوزاً(ن)**: جائزکيدل ⑤ **انتفاع**: فائده اوچتول ⑥ **ميته**: مرداره ⑦ **جلد**: څرمن

تشريح < **تعريف الدباغة** < علامه مرغينانی په هدايه کښې د دباغت تعريف کړې دې چه د څرمنے بدبوئی اود خرابيدو لرے کولو نوم دباغت دې.امام محمد رحمه الله په کتاب الآثار کښې ليکلی دی.چه

---

[1]) القول الراجح هو قول محمد رحمه الله من طهارة ماء المستعمل وعدم طهوريته كذا في فتح القدير(۱\۷۵) والكفاية (۱\۷۵) وردالمحتار(۱\۱٤۷) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱۳)۔

[2])القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله من ازالة الحدث ونية القربة كذا في الخانية (۱\۱۵) وتبيين الحقائق (۱\۲٤) والهندية (۱\۲۲) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱۵)۔

[أخبرنا ابوحنيفه عن حماد عن إبراهيم قال كل شئ يمنع الجلد من الفساد فهو دباغ] يعنى كوم څيز چه څرمن د خرابيدو نه بچ کوی.هغه دباغت دي.كه په نمر سره ئي اوچه كړي وی.اوكه يا ئي په خاوره كښي اچولے وی.څكه چه د نجس رطوبتونو لرے كولو چه كوم مقصد دي.هغه په دي طريقو باندي حاصليږی . نو ددي نه علاوه د بل څيز قيد لګول څه معنى نه لری.لكه څنګه چه امام شافعی رحمه الله د سلم د اونړے (يوه ازغيداره اونه ده.چه دباغت پرے كولے شی.) دهغې په پاڼړو او شث (د ورو سيوانو پشان يوخوشبودار تريخ اومزيداره ميوه ده.دهغې اونه ده.په هغې كښې ازغی نه وی.اوهغه د څرمن په دباغت كښې استعماليږی.) اود مازو د اونړے شرط لګولے دي.

معني الاهاب> "إهاب" دهمزة په كسرة سره دي.ددي جمع آهب او أهُب راځي.صاحب د بنايه ذكر كړی دی.چه د دباغت نه پس څرمن ته اديم وائی.او د دباغت نه وړاندي اهاب وائی.او لفظ د جلد دواړو ته شامل دي.

تعلق الجلد بالأحكام الثلاثة >صاحب د عنايه ليكلی دی.چه د څرمنے د دباغت سره دري مسئلي متعلق دی. ①يوخو په خپله ددغه څرمن پاكيدل.

② دويم ددي نه لباس جوړول او اوغوستل اودهغې نه مصلی جوړول

③ دريم دهغې نه مشكيزه جوړول اودهغې نه اودس كول..د اول تعلق د كتاب الصيد سره دي.اود دويم تعلق د كتاب الصلاة سره دي.او د دريم تعلق ددي باب سره دي.

وجه تاخير ذكر الآدمي>په عبارت كښې چه ئي خنزير په بنيادم باندي مقدم كړي دي.ددي وجه دا ده.چه دا مقام د اهانت دي.څكه چه دلته د نجاست بيان كيږی.او په مقام د اهانت كښې په مؤخر كولو كښې تعظيم وی.په مقدم كولوكښې نه وی.لكه د الله تعالى په دي ارشاد ﴿لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ﴾كښې د جماتونوذكر روستو دي.

النكتة في "والصلاة فيه" >شيخ قدوری فرمائی.چه [والصلاة فيه] يعنى چه كومه څرمن رنګ شوې وی.نوچه هغه واغوندی.په هغې كښې مونځ كول جائز دی .او داسې ئي نه دی وئيلی [والصلاة عليه] يعنى چه ددي نه مصلی جوړه كړی . او مونځ پرے كوی. اګرچه د دواړو حكم يو شان دي.ددي وجه دا ده.چه د جامو طهارت منصوص عليه دي.څكه چه الله تعالى فرمائيلی دی.﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ او د مانځه د ځائي طهارت په دلالت النص ثابت دي.

طهارة الجلد بالدباغة > صورت د مسئلي دا دي. چه د خنزيراوبنی آدم نه علاوه دهر څيزڅرمن په دباغت سره پاكيږی.كه هرڅنګه وی.نو د رنګ شوي څرمن نه جامے جوړول او په هغې كښې مونځ كول جائز دي.اودهغې نه په جوړه شوی مشكيزه كښې اوبه اچول اودهغې نه اودس كول جائز دي. (١)

(١) په دي مسئله كښې امام مالک رحمه الله مونږ سره اختلاف كوی څكه چه امام مالك رحمه الله فرمائی.چه دمردارے څرمن په دباغت سره نه پاكيږی. دغه شان امام شافعی رحمه الله هم مونږ سره د سپی په څرمن كښې اختلاف كوی څكه چه دوی فرمائی.چه د سپی څرمن په دباغت سره نه پاكيږی.په مبسوط كښې ذكر دی.چه داامام شافعی رحمه الله په نيز د غير ماكول اللحم څرمن هم په دباغت سره نه پاكيږی.

دلیله ﴿ دلیل د نبی ﷺ ارشاد دی.چه [کل اهاب دبغ فقد طهر] یعنی هرهغه څرمن چه دباغت شوه.نو پاکه شوه (۱)

تطهیر الجلد بالذکاة الشرعي ﴿ دا خبره یاده ساتئ.چه د کوم ځناور څرمن په دباغت سره پاکیږی.د هغه څرمن په ذبحے سره هم پاکیږی.خو په دې شرط چه دا ذبح د داسې سړی په لاس وی.چه هغه د ذبحے اهل وی.نومجوسی ذبح دا نه پاکوی.دلیل دا دې.چه ذبح د دباغت کار ورکوی. په دې معنی چه نجس رطوبات زائله کوی.اوهم دغه شان ذبح د دغه ځناور غوښه هم پاکوی.او د وینے نه سوا باقی ټول اجزاء پاکوی.دا صحیح مذهب دې.اګرچه هغه ځناور داسې وی.چه دهغې غوښه نشی خوړلې.یعنی په ذبح کولو سره د غیر ماکول اللحم غوښه هم پاکیږی.(خویاد ساتئ.چه ددې د غوښے پاکیدل ددې دخوراک د جواز دلیل نشی کیدې.ځکه چه یو څیزبه پاک وی.مونځ به ورسره کیږی.خوخوراک به نې ناجائزوی.لکه خاوره شوه.)

دمردارې د ویښته او هډوکې حکم

وَشَعْرُ الْمَيْتَةِ اود مردار ځناور ویښته وَعَظْمُهَا او دهغه هډوکے طَاهِرٌ پاک دی

حل اللغة ﴿ ①**شعر**: ویښته ② **میته**: مرداره ③ **عظم**: هډوکې

تشریح ﴿ **حکم الشعر والعظم** ﴿ مسئله دا ده. چه دمردار ویښته اوددې هډوکے پاک دی.یعنی که په اوبو کښې اوغورځیږی.نوپه هغې باندې اودس جائز دې.اوهم دا حکم د پټے دې.سُم، ښکر، وړئ ، پنړه ،نوک، او مخوکه ،

دلیله ﴿ دلیل دا دې.چه د مردارے ټول اجزاء پلیت نه دی.بلکه صرف هغه اندامونه ناپاک دی.په کومو کښې چه ژوند وی.اود مرګ په وجه زائله شی.اودا کوم څیزونه چه پورته بیان شو. په دې کښې حیات نشته.ځکه که په دې کښې یو څیزکټ کړې شی.نو ځناور تکلیف نه محسوسوی. نوهرکله چه په دې کښې حیات نشته.نو مرګ په کښې حلول هم نه کوی.ځکه چه مرګ خو د ژوند د زوال نوم دې.

الموت زوال الحیاة ﴿ که دلته کښې د موت اوحیات مسئله راغلے ده.نوځکه ددې دواړو په باره کښې لږ غوندې کلام کولے شی.صاحب د عنایه د مرګ دوه تعریفونه کړې دی.یوزوال د حیات دې.یعنی د ژوند فنا کیدل.دهغه کس د ژوند لرے کیدل چه دهغه شان د ژوند وو. په دې تعریف کښې مرګ یو عدمی څیز دې.او په دې او د مرګ په مینځ کښې د عدم او ملکه تقابل دې.

حکم شعر الانسان وعظمه ﴿ شیخ قدوری دویمه مسئله دا بیان کړې ده. چه د انسان ویښته او هډوکے پاک دی.

دلیله ﴿ دلیل دا دې. ①چه ددې دواړو نه انتفاع اخستلو اود خرڅولو حرمت د بنی آدم دکرامت دوجے دې.د نجاست دوجے نه دې.

②دغه شان په صحت سره دا خبره ثابته شوې ده.چه نبی ﷺ دخپل سر ویښته خریولی وو.او په صحابه کرامو ﷺ کښې نې تقسیم کړی وو.دا هم د پاکئ دلیل دې.

---

۱) من حدیث ابن عباس رضی الله عنهما اخرجه الترمذی فی اللباس باب ۷ والنسائی فی الفرع والعتیرة باب ٤ وابن ماجه فی اللباس باب ۲۵ رقم ۳٦۰۹)۔

په کوهي کښې دنجاست پرېوتو احکام

وَإِذَا وَقَعَتْ فِي الْبِئْرِ نَجَاسَةٌ کله چه په کوهي کښې څه نجاست پرېوځي نُزِحَتْ نوهغه کوهي به تشولې شي وَكَانَ نَزْحُ مَا فِيهَا اودهغه څيز ويستل کوم چه په کوهي کښې وي مِنَ الْمَاءِ يعنى اوبه طَهَارَةً لَهَا دا به د کوهي د دپاره پاکوالې وی. د سلفو د اجماع په وجه

حل اللغة ﴿①**وقعت، وقع وقوعا(ف)**: واقع کيدل پرېوتل ② **بير**: کوهي ③**نزحت، نزح نزحًا(ف)**: وتل

تشريح﴿ **مخالفة القياس في مسائل الآبار** ﴿ علامه مرغيناني رحمه الله په هدايه کښې فرمائيلی دی.چه دکوهی مسائل دآثارو په اتباع باندې مبنی دی.قياس ته په کښې څه دخل نشته.يعنی د قياس په رنړا کښې د اوبو څه مقدار نشی راويستلي ..اوقياس په دې باب کښې ددې وجې هم معتبر نه دې.چه د کوهی په اوبو کښې دوه قياسونه متضاد دی.

عدم نجاسة البيرقياسا﴿د يو قياس تقاضا خو دا ده.چه اوبه دے هډو پليتې نه وی.ځکه چه په کوهی کښې د لاندې نه مسلسل اوبه راوځی.نود کوهی اوبه د جاری اوبو په حکم کښې دی. او جاری اوبه د نجاست په پرېوتو نه پليتيږی.

نجاسة البيرقياسا﴿ اودويم قياس دا دې.چه اوبه هډو پاکيږی نه.ځکه' چه نجاست په کوهی کښې پرېوتلو.نو اوبه پليتې شوې. او ديوالونه پليت شو.اوددې ختم پليته شوه.او حال دا دې.چه ځومره اوبه راويستلې شی.نو هغه هومره د لاندې نه راوځی.اوهغه پليتې اوبو، پليتې ختې، او پليتو ديوالونوسره ملاويږی.نوهغه هم پليتيږی .نودا سلسله ترقيامته پورې نه ختميږی.او د کوهی اوبه به نه پاکيږی.

په کوهي کښې دحيواناتود مرګ حکم

وَإِنْ مَاتَتْ اوکه مړه شوه فِيهَا فَأْرَةٌ په دې کښې مږه أَوْعُصْفُورَةٌ يا مرغۍ أَوْصَعْوَةٌ يا تورارنکه أَوْسُودَانِيَّةٌ يا چته أَوْسَامٌ أَبْرَصُ يا کربورے نُزِحَ مِنْهَا مَا بَيْنَ عِشْرِينَ دَلْوًا نود کوهی نه به شل بوقې راويستلې شی إِلَى ثَلَاثِينَ تر ديرش بوقو پورې بِحَسَبِ كِبَرِ الدَّلْوِ وَصِغَرِهَا) د غټې او ورے بوقې په اعتبار سره(يعنی پس د راويستلو د مړې نه)

حل اللغة ﴿①**ماتت، مات، موتًا(ن)**: مړه کيدل ② **فارة**: مږه ③ **عصفورة**: چنچنړه ④ **صعوة**: تورانرکه (تکه توره مرغۍ) ⑤ **سودانية**: مموﻻ(وړه غوندې مرغۍ ده چه په خيټه ئې کربښې وی) ⑥**سام ابرص**:لويه چمچورکئ ⑦**دلو**: ډولچه ⑧ اخرجت، اخرج اخراجًا. ويستل

تشريح﴿ **صورسقوط الحيوان في البير**﴿که په کوهی کښې د دې ځناورو څه مړ شو کوم چه په متن کښې ذکر دی نو د شلو بوقو نه واخله تر ديرشو بوقو پورې به ترې راويستې شی

دليلاه والتوافق بينهما﴿دليل دا دې.چه د حضرت انس رضي الله عنه روايت دې.کله چه په کوهی کښې مګه پرېوځی.اوهم هغه وخت راوويستلې شی.نو په دې باره کښې دوی فرمائيلی دی.چه شل بوقې به راوويستلې شی.اود ابن عباس رضي الله عنه حديث دې.چه دوی د ديرشو بوقو راويستلو حکم کړې دې.[1] نو په

[1] قال مصنف ،،فيما فات الزيلعي منية الألمعي،، رواه أبوزيد الدبوسي بإسناده في كتاب الأسرارمرفوعاً وحديث أنس رضي الله عنه قال رفعه شاذ والصحيح أنه موقوف وخرجت أنا العبد الضعيف شاه فيصل في تاليفي سنن الصلاة في فقه الأحناف لثبوت إخراج العشرين من البئرموت الفارة فيها أثرعطاء قال إذا وقع الجراد(نوع من الفارة) في البئرنزح منها عشرون دلواً فإن تفسخ

دوارو حدیثونو کښې د موافقت دپاره به د حضرت انس رضی الله عنه حدیث په وجوب باندې حمل کړې شي.اوحضرت ابن عباس رضی الله عنه به په استحباب باندې حمل کړې شي.

په کوهی کښې د کونترې وغیره د مرګ حکم

وَإِنْ مَاتَتْ فِيهَا حَمَامَةٌ که په کوهی کښې کونتره مړه شوه أَوْدَجَاجَةٌ وَالسَّنُّورُ یا چرګه او پیشو نُزِحَ مِنْهَا مَا بَيْنَ أَرْبَعِيْنَ دَلْوًا نو دکوهی نه به څلویښت بوقی إِلٰی خَمْسِيْنَ پنځوسو بوقو پورې راوویستلے شي

حل اللغة > ① حمامه: کونتره ② دجاجه: چرګه ③ سنور: پیشو .

تشریح > القولان في حکم موت الحمام ونحوه في البیر > ① دویم صورت دا دې.چه په کوهی کښې د کونترے یا ددې پشان څه څناور مړ شي.مثلا چرګه او پیشو .نو ددې حکم دا دې.چه د کوهی نه به د څلویښتو بوقو نه تر شپیتو پورې راوویستلے شي.یعنی د څلویښتو بوقو راوویستل واجب دی.او د شپیتو راوویستل مستحب دی.

② اوامام محمد رحمه الله په جامع صغیر کښې بیان کړی دی.چه څلویښت یا پنځوس.یعنی څلویښت واجب دی.او پنځوس مستحب دی. علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې دے قول ته اظهر وئیلے دې.ځکه چه جامع صغیر د امام محمد رحمه الله آخری تصنیف دې.نوچه په دې کښې څه ذکر وی.هغه به دامام محمد رحمه الله مرجوع الیه قول وی.

دلیل إخراج أربعین دلواً > دلیل دا دې.چه دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې.چه دوی دهغه چرګے په باره کښې فرمائیلی دی.کومه چه په کوهی کښې مړه شوې وی.چه د هغې نه څلویښت بوقے راوویستلے شي.(۱)

په کوهی کښې د چیلۍ وغیره په مرګ داوبو حکم

وَإِنْ مَاتَتْ فِيهَا شَاةٌ أَوْكَلْبٌ أَوْآدَمِيٌّ اوکه په کوهی کښې سپې یاچیلۍ یا بنی آدم یا سپے مړشو. نُزِحَ جَمِيْعُ مَا فِيهَا مِنَ الْمَاءِ نو کومې اوبه چه په هغې کښې وی.هغه ټولې به راوویستلے شي

حل اللغة > ① شاة: چیلئ ② کلب: سپې

تشریح > نزح البیر بموت الآدمي وغیره في البیر > دریم صورت دا دې.که په کوهی کښې چیلۍ یا بنی آدم یا سپے مړ شي.نود کوهی ټولې اوبه راوویستل واجب دی.

دلیله > دلیل دا دې.چه کله یو حبشی د آب زمزم په کوهی کښې مړ شو. نو ابن عباس رضی الله عنه او ابن زبیر رضی الله عنه د ټولو اوبو راوویستلوفتوی ورکړې وه. (۱)

فاربعون دلواً فإذا وقعت الشاة نزح منها أربعون دلواً فإن تفسخت نزحت کلها أو مائة دلواً ناقلاً عن شرح معجم الآثار في الطهارة باب الماء يقع فيه النجاسة رقم ۱۷۱٤ (۱\۱۷)۔

(۱) نقل الزیلعي رحمه الله قول شیخه علاء الدین رحمه الله أن هذه الروایة رواه الطحاوي رحمه الله ثم قال الزیلعي رحمه الله لکن لم أجده في شرح معاني الآثار للطحاوي ثم قال و لکن الطحاوي رحمه الله اخرج عن .....عن حماد بن أبي سلیمان أنه قال في دجاجة وقعت في البئر فماتت قال ينزح منها قدر أربعين دلواً أو خمسين (نصب:۱\۱۸۱)۔

په کوهي کښې د حیوان پرسیدل او رژیدل

وَإِنْ انْتَفَخَ الْحَيَوَانُ فِيهَا كه په دې كښې ځناور اوپرسيدلو أَوْتَفَسَّخَ يا اورژيدلو نُزِحَ جَمِيعُ مَا فِيهَا نو په دې کښې چه كومې اوبه وي.هغه ټولې به راوويستلې شي صَغُرَ الْحَيَوَانُ أَوْكَبُرَ(برابره ده) كه ځناور وړكوټې وي اوكه غټ وي

حل اللغة ﴿①انتفخ، انتفاخًا: پرسيدل ② تفسخ، تفسخًا: شليدل ③صغر: صغرا (ن) وروكي كيدل

تشريح ﴿ نزح البير بإنتفاخ الحيوان وتفسخه في البير﴾مسئله دا ده.چه په كوهي كښې يوځناور پريوځي.او مړشي.او اوپرسيږي يا اورژي.نوكه ممكن وي.دكوهي ټولې اوبه دے راوويستلے شي.كه ځناور وړكوټې وي او كه غټ وي.

دليله﴿ دليل دا دې.چه د رژيدلي ځناور نجس اجزاء لوندوالے په اوبو كښې خور شي. نوځكه ټولې اوبه پليتيږي .لكه څنګه چه په اوبو كښې د وينې يا شرابو يو څاڅكے پريوځي.نوپه ټولو اوبو كښې خور شي.او هغه پليتوي.نودغه شان دا هم.

كومه بوقه معتبر ده؟

وَعَدَدُ الدِّلَاءِ اوشمار د بوقو يُعْتَبَرُ بِالدَّلْوِ الْوَسَطِ معتبر دې د درميانه بوقې الْمُسْتَعْمَلِ فِي الْبُلْدَانِ كومه چه په ښارونو كښې استعماليږي وَلَوْنُزِحَ مِنْهَا بِدَلْوٍ عَظِيمٍ كه د دې نه په لويه بوقه ويستل اوشي قَدْرَ مَا يَسَعُ مِنَ الدِّلَاءِ الْوَسَطِ په اندازه دهغه هومره اوبو چه ځائيږي په درميانه بوقه كښې اِحْتُسِبَ بِهِ نود هغې مطابق به حسابولې شي

تشريح﴿ المراد من الدلو﴾اودلته درميانه بوقه مراد ده.او د درميانه بوقې نه مراد هغه بوقه ده. چه په ښارونو كښې عام طوراستعماليږي.يا په دغه كوهي باندې په عامه طريقه استعماليږي. نوكه په غټه بوقه باندې اوبه راوويستلې شوې.نو په دې حساب سره به د شلو بوقونه كمې بوقې راوويستلےشي.اوكه په وړه بوقه باندې اوبه راوويستلې شي.نو په دې حساب سره به په شلو بوقو زيادت كولې شي.

القولان في الدلو المعتبر﴿ بيا دے دا خبره واضحه وي. ①چه په هر كوهي كښې هم د هغې بوقه معتبر ده.يعنې چه په كومه بوقه اوبه راوويستلے شي.نودكوهي په پاكولو كښې به هم هغه بوقه معتبره وي.

②اوبيو ضعيف قول دا دې.چه هغه بوقه معتبرده.چه په هغې كښې يوصاع اوبه راځي.

العبرة للقدر دون الدلو﴾ صاحب دهدايه رحمه الله فرمائي.چه د كوهي په پاكولو كښې د بوقو شمار معتبر نه دې.بلكه په دغه اندازه باندې اوبه راوويستل معتبر دي.نوكه د يوكوهي نه د غټې بوقې په ذريعه په يوځل د څلويښتو بوقو برابر اوبه راوويستلے شي.نودا جائزده.ځكه چه مقصود حاصل شو.ځكه چه كوم مقدار مقرر وو.هغه راوويستلے شو.

د دريابي كوهي د پاكئ حكم

وَإِنْ كَانَتِ الْبِئْرُ مَعِينًا اوكه كوهے دريابي وي.لا ينزح وجب نزح ما فيها داسې چه دهغې ټولې اوبه راوويستلې نشي اوواجب شوې وي راوويستل دهغې اوبو چه په هغې كښې وي أَخْرَجُوا مِقْدَارَ مَا

---

[1] ، خرجته في تاليفي سنن الصلاة في فقه الأحناف ناقلاً عن شرح معاني الآثار في الطهارة (١٧\١)۔

كَانَ فِيهَا مِنَ الْمَاءِ نوكومې اوبه چه په هغې كښې (د پريوتو په وخت) موجود وى.هغه مقدار دې اوويستلې شى

حل اللغة ﴿①**معينه**: جارى ②**نزح**: ويستل

تشريح﴿ **توضيح المسئلة**﴿ مسئله دا ده.كه كوهې دريابى وى يعنى دهغې اوبه نه ختميږى .نوپه داسې صورت كښې حكم دا دې.چه د نجاست د واقع كيدوپه وخت كښې په هغې كښې څومره اوبه موجود وى.هغه دې راوويستلې شى.

وَطَرِيقُ مَعْرِفَتِهِ اوددې د پيژندګلو طريقه دا ده أَنْ تُحْفَرَ حُفْرَةٌ مِثْلُ مَوْضِعِ الْمَاءِ مِنَ الْبِئْرِ چه يو كوهى كښې تركومې پورې اوبه وى. د هغې په مقدار دې يوه كنده اوكنستلې شى وَيُصَبُّ فِيهَا مَا يُنْزَحُ مِنْهَا چه كومې اوبه د كوهى نه راوويستلې شى.هغه دې په دې كنده كښې اچولې شى إِلَى أَنْ تَمْتَلِئَ تردې چه هغه كنده ډكه شى

تشريح﴿ **طريق نزح البير عند ابي يوسف** ﷫ ﴿ اود موجوده اوبو د پيژندګلو دامام ابويوسف ﷫ نه دوه طريقې منقول دى.① يوه دا چه په كوهى كښې تركوم ځائې پورې اوبه وى.نو په اوګودوالى پلنوالى اوژوروالى دې دهغې پشان يوه كنده اوكنستلې شى.اود كوهى نه دې اوبه راوباسى.اوبه دغه كنده كښې دې اچوى.كله چه دغه كنده ډكه شى.نو داسې دې اوګنړلې شى.چه د كوهى ټولې اوبه راوويستلې شوې.اوكوهې پاك شو.

②دويمه طريقه دا چه په كوهى كښې يودرمه (بانډس وربنكته كړې شى.يا دې درون كانړې په رسۍ پورې اوترلې شى.اوبه اوبوكښې دې وربنكته كړې شى.كله چه هغه ويخ ته اورسى. نو واپس دې راوباسى.او اودې كتلې شى.چه اوبه تركومې پورې رسيدلې دى.هلته دې نښنه اولګوى.بيا دې د كوهى نه په يو خل لس بوقې راوباسى.او توتې دې كړى.بيا دې دغه درمه (بانډس يا رسۍ دوباره كوهى ته وربنكته كړى.او اودې ګورى.چه څومره اوبه كمې شوې دى.مثلا په كوهى كښې لس فټه اوبه دى.او په يوخل په لس بوقوراوويستلو سره يو فټ اوبه كمې شوې.نو معلومه شوه.چه ټولې اوبه ئې سل بوقې دى.نو لس كم سل بوقې دې نورې راوويستلې شى.چه پوره سل بوقې شى.نوچه سل بوقې راوويستلې شى. داسې به ګنړلې شى. چه د نجاست پريوتو په وخت كښې څومره اوبه په كوهې كښې وې.هغه ټولې راوويستلې شوې.

وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللّٰهُ ﷫ اودامام محمد ﷫ نه نقل دى يُنْزَحُ مِائَتَا دَلْوٍ إِلَى ثَلَثِمِائَةٍ ()چه دوى فرمائيلى دى د دوو سوو نه تر درې سوو پورې بوقې دې راوويستلې شى (كيدې شى چه امام محمد ﷫ په خپل ښاركښې كومه مشاهده كړې وه.په هغې باندې ئې خپل قول مبنى كړې وى)

تشريح﴿ **مذهب محمد** ﷫ **في نزح البير**﴿ اودامام محمد ﷫ نه روايت دې.چه د كوهى نه دې د دوو سوو نه تر درې سوو پورې بوقې راوويستلې شى[1]. علامه مرغينانى ﷫ په هدايه كښې فرمائيلى دى.چه

[1]) القول الراجح هو قول محمد ﷫ كذا في ردالمحتار(١\١٥٨) نقلا عن القول الراجح(١\١٩)۔

دامام محمد رحمه الله دقول بنیاد دهغه په مشاهده باندې دې.ځکه چه دامام محمد رحمه الله د ښار بغداد د کوهو اوبو عام طور د دوو سوو نه تر درې سوو په مینځ کښې وې.لیکن ددې اندازے په هرځائې کښې ټیک کیدل ضروری نه دی.ځکه چه په کومو ځایونو کښې اوبه زیاتے وی.نوهلته دهغې په مقدار تولې اوبه راویستلے شي.

د مرځناور په موندو دکوهي داوبو دنجاست حکم

وَإِنْ وَجَدُوا فِي الْبِئْرِ فَارَةً أَوْغَيْرَهَا اوکه اوموندې شوه په کوهي کښې مږه یا بل ځناور (مړ) وَلَا يَدْرُونَ اوخلقو ته معلومه نه وه مَتَى وَقَعَتْ چه کله پریوتے ده وَلَمْ تَنْتَفِخْ وَلَمْ تَنْفَسِخْ او هغه تراوسه پورې پړسیدلے نه وی أَعَادُوا صَلَاةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ نودا خلق دے خپل د یوے ورځې او شپې مونځونه راوګرځوی إِذَا كَانُوا تَوَضَّئُوا مِنْهَا که په دغه اوبو ئې اودسونه کړی وی.(اومونځونه ئې پرے کړی وی) وَغَسَلُوا كُلَّ شَيْءٍ أَصَابَهُ مَاؤُهَا او هر هغه څیز دے اووینځی.چه د دغه کوهي اوبه ورته رسیدلے وی وَإِنْ كَانَتْ قَدْ انْتَفَخَتْ أَوْتَفَسَّخَتْ اوکه وه پړسیدلې یا رژیدلې أَعَادُوا صَلَاةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا،راګرځوی به مونځونه د درې ورځو اوشپو وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ.(١)رحمه الله په قول د امام ابوحنیفه رحمه الله کښې

حل اللغة ﴿①وجد، وجدو، وجدانًا (ض) موندل ② فاره: مږه ③ وقعت، وقع وقوعًا (ف): واقع غورزیدل ④اعادوا، عاد، اعادةً: واپس کول⑤ لایدرون، دری، درایةً: پیژندل ⑥ اصابه، اصاب، اصابةً: رسیدل ⑦انتفاخ: پړسیدل ⑧تفسخ: شلیدل أوبدلیدل]

تشریح﴿ حکم وجود الحیوان میتاً في البیر﴾مسئله دا ده.چه خلقو په یو کوهي کښې مړ ځناور بیا موندلو.اودا نشوه معلومیدې.چه کله پریوتے دې. او تراوسه پورې پړسیدلے او رژیدلے هم نه وی.نو په دې صورت کښې حکم دا دې.چه د دغه کوهي په اوبو باندې ئې اودسونه کړی وی.او مونځ ئې پرے ادا کړې وی. نو د یوے ورځې او شپې مونځونه دے راوګرځوی.اوکومو څیزونو ته چه د دغه کوهي اوبه رسیدلی وی.هغه دے اووینځی.(٢) اوکه هغه ځناور پړسیدلے وو.اویا رژیدلے وو.نود درې ورځو او شپو مونځونه به راګرځوی.① دا حکم د حضرت امام اعظم رحمه الله په نزد دې.[٣]

---

[١])القول الراجح هو قول محمد رحمه الله من اخراج مائتي دلو الى ثلاث ماة كذا في ردالمحتار(١٥٨\١) نقلاً عن القول الراجح(١٩\١)

[٢]) القول الراجح هو قول ابي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(١٦١\١) والبحر(١٦١\١) ومجموعة الرسائل (٣٥\١) وردالمحتار(١٦١\١) والدرالمختار وقال المفتي غلام قادر مدظله في اخر هذا البحث ،،فالحاصل انه قول الامام مبني على الاحتياط وقول الصاحبين رحمهما الله مبني على التيسير وقولهما ارفق بالناس فالاولى ان يفتى بقولهما نقلا عن القول الراجح (٢٠\١)_

[٣])القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(١٦١\١) والبحر(١٦١\١) ومجموعة الرسائل (٣٥\١) وردالمحتار(١٦١\١) والدرالمختار وقال المفتي غلام قادر مدظله في آخر هذا البحث ،،فالحاصل انه قول الإمام مبني على الإحتياط وقول الصاحبين رحمهما الله مبني على التيسير وقولهما أرفق بالناس فالأولى أن يفتى بقولهما نقلاً عن القول الراجح (٢٠\١)_

دليله أبي حنيفة رحمه الله > او داامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دي.چه په اوبو كښې د ځناور غورځيدل د مرګ ظاهري سبب دي.اوقاعده دا ده.كه مسبب خفي وي.نو په ظاهري سبب به حكم لګول واجب وي.نو ددې ځناور د مرګ نسبت به اوبو كښې غورځيدلو ته كولې شي.يعنى دا به ونيلى شي.چه دا ځناور هم په اوبو كښې مړ شوې دې.اګرچه دا احتمال هم شته.چه په څه بل سبب مړ شوې وى.او په اوبو كښې غورځيدلې وى. ليكن دا احتمال يووهمى څيز دې.او وهمى څيز ښكاره خبره ده چه د ظاهرپه مقابله كښې معتبر نه وى. نو ځكه به دا احتمال هم د اعتبار لائق نه وى.

نظيره >او دا داسې ده.لكه چه يو سړى بل سړې زخمى كړلو. اوهغه د دغه زخم د وجې صاحب فراش شو .تردې چه مړ شو.نوهم دا به ونيلى شى.چه دده مرګ دهغه زخم د وجې واقع شو.اګرچه ددې نه علاوه د بل څيز احتمال هم كيدې شى.چه دهغې د وجې مړ شوې وى.اوس په دې مسئله كښې د ځناور پرسيدل او رژيدل ددې خبرې دليل دې.چه ددې ځناور د مرګ وخت شوې دې.او د تقادم روستوالى ادنى موده درې ورځې ده.

> **وَقَالَ أبويوسف ومحمد**او صاحبين رحمهما الله فرمائى **لَيْسَ عَلَيْهِمْ إِعَادَةُ شَيْءٍ** چه په دوى باندې د څه څيز راګرځول واجب نه دى **حَتَّى يَتَحَقَّقُوا** ترديے چه دوى ته متحقق شى **مَتَى وَقَعَتْ** چه دا كله پريوتے ده

تشريح> دصاحبينو رحمهما الله مذهب دا دې.چه په دغه خلقود څه څيز راګرځول نشته.ترديے چه په تحقيق سره معلومه شى.چه دا ځناور كله پريوتے دې.

دليلهما > ①د صاحبينو رحمهما الله دليل دا دې.چه كوهے په يقين سره پاك وو.ليكن په هغې كښې مړ شوې ځناور موندلو سره په تيرو شوو ورځو كښې ددې د نجاست شك پيدا شو.ځكه چه دا احتمال هم شته.چه دا ځناور په اوبو كښې لږ غونډې وړاندې غورځيدلې وى.اوتراوسه پورې ددغه اوبو استعمال نه وى شوې.اودا هم احتمال شته.چه څو ورځې وړاندې غورځيدلى وى.او ددې په اوبو باندې اودسونه اومونځونه شوى وى. بهرصورت په تيرو شوو ورځو كښې په دې كښې د ځناور دپريوتو شك پيدا شو.او يقين د شك په وجې سره نشى زائله كيدې.نوتر څو پورې چه دا ثابته شوې نه وى.چه دا كله پريوتے دې.نو په تيرو شوو ورځو كښې به ددې د نجاست حكم نشى وركولې.البته كه ددې د غورځيدو وخت معلوم وى.نو د كوم وخت نه چه غورځيدلې وى.دهغه وخت نه به نجس ګڼرلې شى.ځكه چه يو يقين په بل يقين سره زائله كيږى.

نظيره> ② د صاحبينو دويم دليل قياس دې يعنى دا حكم داسې دې.لكه چه يو سړى په خپلو جامو باندې نجاست اوليدلو.اودا نشوه معلوميدې.چه دا ورپورې كله لګيدلے دې.

نوپه دغه كس د مونځ وغيره راګرځول واجب نه دى.

الأجوبة عنه> ①او باقى پاتې شود نجاست په مسئله كښې د صاحبينو رحمهما الله د قياس نه جواب نوصاحب دهدايه دوه جوابونه وركړى دى. اول خو دا چه په جامو باندې د نجاست دلګيدو مسئله هم اتفاقى نه ده.بلكه مختلف فيه ده.فقيه عصر او محدث بے مثال حضرت معلى بن منصور رحمه الله فرمائيلى دى .چه دا مسئله هم اختلافى ده.نو د امام رحمه الله په نيز به د زوړ نجاست په صورت كښې د درې ورځو او شپو په مقدار موده مقرر كولې شى.او د تازه نجاست په صورت كښې به د يوے ورځې اوشپې په مقدار موده مقرر كولې شى.ترديے كه په دغه پليته جامه كښې ئې مونځونه كړى وى.نو د هغې راګرځول هم واجب دى.

② دویم جواب دا دي.كه دا اومنلے شي. چه دا مسئله اتفاقي ده. په دي كښي اختلاف نشته.نو بيا هم په هغه جامه چه نجاست وربورې لګيدلے وي.قياس ټيك نه دي.ځكه چه جامې دده په بدن پورې وي.نوهر وخت دده د نظر وړاندې وي.كه نجاست د وړاندې نه لګيدلے وو. نوبه هغه وخت كښي به ئې ليدلے وو.اوچه ده اوس اوليدلو.نودا ددې خبرے دليل دې.چه دا نجاست وربورې اوس لګيدلے دې.اوكوهے د ده د نظر نه غائب وي.كيدے شي. چه ځناور د وړاندې نه مر شوې وي.ليكن ده ته علم نه وي.حاصل دا چه په دې دواړو صورتونو كښي فرق دې.ددې وجے د كوهي مسئله د جامو په مسئله نشي قياس كولې.ځكه چه دا قياس مع ا لفارق دې.او قياس مع الفارق صحيح نه دې.

د جوټو احكام

تشريح> الربط بماقبلها> كله چه امام قدوري ﷫ په اوبوكښي دځناور د غورځيدو د وجے داوبو د پليتيدو اونه پليتيدو د بيان نه فارغ شو.نو اوس په دې فصل كښي د اوبو سره د لاړو يوځائې كيدو په وجه د اوبو د نجاست او عدم نجاست بيان كوي.

الأقسام الأربعة للسؤر> آسار جمع د سور ده.معنى ئې ده.پاتې شوې خوراك او اوبه.چه په عرف كښي ورته جوټه وائي.زمونږ په نيز د جوټے څلورقسمونه دي.

① پاكه لكه د بنى آدم او ماكول اللحم جوټه ② مكروه لكه د پيشو جوټه.
③ پليته لكه د خنزيراو ماتونكوځناورو جوټه ④ مشكوك فيه لكه د خر او قچر جوټه.

دهر ځناور خوله دهغې د جوټې حكم لرى

إتحاد حكم العرق واللعاب> مسئله دا ده.چه د هر ځناور خوله به دهغه په جوټه باندې قياس كولې شي.كوم حكم چه د جوټے وي.هم هغه حكم به د خولے وي.

وجه الإتحاد> دليل دا دې.چه خولهٔ او جوټهٔ يعنى لاړے دواړه د غوښے نه پيدا كيږي.نود دواړو حكم به يو شان وي.

الإعتراض> ليكن په دې باندې دا اعتراض كيدے شي.چه د خر جوټه مشكوكه ده.حالانكه خوله ئې پاكه ده.نو قياس څه شو؟

الجواب> جواب دا دې.چه په پاكوالى كښي ئې شك نشته.بلكه په پاكولو كښي ئې شك دې.يعنى په دې كښي شك دې.چه آيا د خر جوټه شوې اوبه ددې قابلے پاتې شوې دى.چه په دې باندې طهارت حاصل كړې شى.كه نه؟ او په دې باندې د ټولو اتفاق دې.چه دا په خپله پاكې دى.نوددې خوله به هم پاكه وي.

د پاكې جوټې بيان

وَسُؤْرُالْآدَمِيِّ د بنى آدم جوټه وَمَايُؤْكَلُ لَحْمُهُ او دكوم ځناور غوښه چه خوړلې شي طَاهِرٌ پاكه ده

حل اللغة > ① **يؤكل، اكل، اكلاً(ن)** خوراك ② **طاهر**: پاك

تشريح> طهارة سور الآدمي ومايؤكل لحمه> په دې عبارت كښې د جوټے په څلورو قسمونو كښي د اولنى قسم بيان دې.يعنى د بنى آدم جوټه پاكه ده.كه هغه مسلمان وي اوكه كافر.او كه جنب وي اوكه حائضه وي.يا نفاسه وي.

دلائله> ① د بنى آدم د جوټے په پاكوالى باندې د رسول الله ﷺ حديث شاهد عدل دې.[أن النبي ﷺ أتي بقدح من لبن فشرب وناول الباقي أعرابيا كان من يمينه فشربه ثم ناول أبابكر فشربه] يعنى نبي ﷺ ته د پيو يوه

پیالئ راوړلے شوه.نبی ﷺ ترے اوڅکل.او بنی طرف ته ئې یو بانډیچی وو.هغه ته ئې ورکړل.او بیا ئې حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته ورکړل.نوهغوی هم اوڅکل.ددې حدیث نه ثابته شوه.چه د بنی آدم جوټه پاکه ده.

② عقلی دلیل دا دې.چه د بنی آدم ذات پاك دې.نو دده جوټه به هم پاکه وی.باقی پاتې شوه دا خبره چه د بنی آدم غوښه نشی خوړلې.نو د بنی آدم غوښه چه نشی خوړلې.دا د ده د کرامت دوجے ده ،د نجاست دوجے نه ده.

③ دجنب سړی د جوټې طهارت هم د حدیث نه ثابت دې.[روی أن النبی ﷺ لقی حذیفة رضی الله عنه فمد یده لیصافحه فقبض یده وقال إنی جنب فقال ﷺ المومن لاینجس] روایت دې.چه نبی ﷺ د حضرت حذیفه رضی الله عنه سره ملاقات اوکړلو.نبی علیه السلام ورته د مصافحے دپاره لاس وروړاندې کړلو.نو هغوی خپل لاس بند کړلو.او عرض ئې اوکړلو.حضرت زه جنب یم.(نو پلیت یم.تاسو سره د لاس ملاوهلوقابل نه یم)نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل:مومن نه پلیتیږی.(یعنی په جنابت سره نجس العین نه ګرځی.)

④ دحائضے دجوټې طهارت باندې د حضرت عائشې رضی الله عنها په حدث باندې استدلال کړې شوې دې.[أن عائشة رضی الله عنها شربت من إناء فی حال حیضها فوضع رسول الله ﷺ فمه علی موضع فمها وشرب] یعنی حضرت عائشې رضی الله عنها د حیض په حالت کښې د لوښی نه اوبه اوڅکلې.نو نبی ﷺ دهغې د خولے په ځائې خوله کیخودله.او اوبه ئې اوڅکلې.نوکه د حائضے جوټه پلیته وه.نبی ﷺ به ولے دحضرت عائشې رضی الله عنها جوټه اوبه څکلې. حالانکه هغه په حالت دحیض کښې وه.

⑤ د کافر او مشرك د جوټې د طهارت دپاره زه دخپل کتاب "سنن الصلاة فی فقه الأحناف" عربی تالیف نه دلیل نقل کوم. حضرت ابوعبیده د خپل پلار عبدالله رضی الله عنه نه روایت کوی .فرمانی رسول الله علیه السلام فرمائیلی دی. شیطان ما سره تیریدلو.نوما راونیولو.او مرئ مے ورته خفه کړله. زه د هغه د ژبے لوندالے اوس هم محسوسوم نو شیطان راته اوے چه اودے دردولم. اودے دردولم.(۱)

وجه الاستدلال.> امام هیثمی رحمه الله په دې حدیث باندې استدلال کړې دې.چه د کافر جوټه پاکه ده. ځکه چه نبی علیه السلام ددې بیان اونکړوچه ما د شیطان د ژبې لوندوالی نه خپل لاس اووینځلو.حالانکه نبی علیه السلام د احکامو په بیانولو باندې مکلف وو.نو معلومه شوه چه د کافر جوټه پاکه ده.

طهارة سور ماکول اللحم> په دې متن کښې دویمه مسئله د حلالو ښاورو د جوټې طهارت دې یعنی دهغه ښاورو جوټه پاکه ده.چه دهغې غوښه خوړلې شی.لکه غوا، چیلئ،اوښ وغیره

دلیله > دلیل دا دې.چه اوبه د خولے د لاړو دوجے جوټه کیږی.او لعاب پیدا کیږی.د غوښے نه.او ددې ښاورو غوښه پاکه ده.نو لعاب به ئې هم پاك وی.اوهرکله چه ئې لعاب پاك شو. نو چه په کوم څیز کښې لعاب خلط شی.هغه به هم پاك وی.

---

(۱) مجمع الزوائد فی الطهارة باب سور الکافر قال الهیثمی بعد ذکرهذا الحدیث رواه احمد وابو عبیده لم یسمع من ابیه وبقیة رجاله رجال الصحیح)

د سپي د جوټې حکم

وَسُؤْرُ الْكَلْبِ او د سپي جوټه وَالْخِنْزِيْرِ اود خنزير جوټه وَسُؤْرُ سِبَاعِ الْبَهَائِمِ نَجِسٌ اود ماتونکی ښناورو جوټه پليته ده.

حل اللغة ‹ ① يغسل غسلاً (ض) وينځل ② ولوغ: څټل ③ سبع: اوره]

تشريح ‹ **سؤرالكلب** › په دې عبارت کښې د سپي خنزيراو ماتونکو ښناورو د جوټه شوې اوبو حکم ذکردې.اول د سپي د جوټې په باره کښې تفصيل ته متوجه شئ :

دسپي جوټه پليته ده.که سپے په لوښی کښې خوله اووهی.نو په دې باندې درې ځله د لوښی وينځل واجب دی.

دليله ‹ ددې دپاره د نبی ﷺ په قول باندې استدلال کولې شي.نبی ﷺ فرمائيلی دی.که سپے په لوښی کښې خوله اووهی.نو هغه دې درې ځله اووينځلی شی.([1])

وجه داستدلال دا ده.چه ژبه د اوبو سره لګی د لوښی سره نه لګی. نوهرکله چه د سپی په لوښی کښې خوله لګولو سره لوښے پليت شو. نو اوبه خو به په طريقه اولی سره پليتيږی.

الإعتراض ‹ بعضې حضراتواعتراض کړې دې.چه کيدے شی.په حديث کښې د ولوغ نه مراد څټل وی. نو په دې صورت کښې خو ژبه د لوښی سره لګيدلے وی.اوبوسره نه.نوددې حديث نه استدلال بالاولويت پوره نه دې.

الجواب ‹ ددې جواب دا دې.چه د ولوغ حقيقی معنی د سپی د ژبې په سر اوبه وغيره څکل دی.او قاعده دا ده.چه ترڅو پورې د معنی حقيقی خلاف قرينه موجود نه وی.نوحقيقی معنی به مراد وی.

حکم سور البهائم ‹ په متن کښې دريمه مسئله دا ده چه د ماتونکو ښناورو (شرمخ، زمری، پړانګ وغيره)جوټه پليته ده.

دلائله ‹ ① دليل دا دې.چه [أن عمر رضي الله عنه او عمروبن العاص رضي الله عنه وردو حوضاً فقال عمروبن العاص رضي الله عنه ياصاحب الحوض أترد السباع ماءك فقال عمر رضي الله عنه يا صاحب الحوض لا تخبرنا فلولا أنه أخبر بورود السباع يتعذر عليهما إستعماله لمانهاه عن ذلك]

حضرت عمر رضي الله عنه اوحضرت عمروبن العاص رضي الله عنه دواړه يو حوض ته ورغلل.نو حضرت عمروبن العاص رضي الله عنه د حوض دمالك نه تپوس اوکړو.چه ته مونږ ته دا خبر راکړه .چه ستا دے حوض ته درندګان راځي؟ نوحضرت عمر رضي الله عنه ورته اوفرمائيل: اے دحوض مالکه مونږ ته دا خبر مه راکوه.ځکه که د درندګانو د راتلو خبر راته راکړې. نو په مونږ دواړو به ددې استعمال منع شی.ځکه چه نبی ﷺ ددې نه منع کړې ده. ددې واقعه نه معلومه شوه.چه د درندګانو جوټه پليته ده.

② عقلی دليل دا دے چه د درندګانو غوښه پليته وی.اولعاب ددې نه پيدا کيږی.اود لعابو په نجاست او طهارت کښې هم غوښه معتبره ده.يعنی که غوښه نجسه وی.نو لعاب به هم نجس وی.او که غوښه پاکه وی.نو لعاب به هم پاك وی.

[1] من حديث أبي هريرة رضي الله عنه اخرجه الدارقطني في سننه(۱\۱۹۹)۔

د پیشو دجوټې حکم

وَسُؤْرُ الْهِرَّةِ او د پیشوجوټه الدَّجَاجَةِ الْمُخَلَّاةِ او په ګندګۍ ګرځیدونکې چرګې جوټه مکروه ده لِاَنَّهَا تُخَالِطُ النَّجَاسَةَ ځکه چه مخلاته چرګه ګندګۍ سره ګرځي وَسِبَاعِ الطَّيْرِ او د ښکاري مارغانو جوټه وَمَا يَسْكُنُ الْبُيُوتَ او دهغه ځناوروجوټه چه په کورونوکښې اوسیږي كَالْحَيَّةِ وَالْفَارَةِ لکه د مار، مږې جوټه مَكْرُوهٌ مکروه ده.

حل اللغة ۱هرة: پیشو ۲ الدجاجة المخلاة: آزاده چرګه، بهرګرځیدونکې چرګه ۳یسکن، سکن سکونا(ن): اوسیدل ۴بیوت واحد بیت: کور ۵حیة: مار ۶ الفارة: مږه

تشریح **بيان حكم سور الاقسام الاربعة من الحيوانات** په دې متن کښې د څلور قسمه ځناورو د جوټې حکم بیان شوې دې ۱یو د پیشو جوټه ۲دویم د کوڅه ګشتې چرګې جوټه ۳دریم د ماتونکو مارغانو جوټه ۴څلورم د هغه ځناورو جوټه چه په کورونوکښې اوسیږي

حكم في سؤر الهرة دپیشو جوټه پاکه ده.خومکروه ده.

دليله د طرفینو رحمهما الله دلیل دا دې.چه نبي ﷺ فرمائیلي دی. [الهرة سبع][1] چه پیشو درنده دې.ددې قول نه د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ مقصد د پیدائش او صورت بیان نه دې.بلکه د حکم بیانول ئې مقصود دې.ځکه چه نبي ﷺ د شریعت داحکامو بیانولو دپاره رالیږلې شوې وو.د خلقت او صورت بیانولو دپاره نه وو.نوهرکله چه د پیشوحکم هغه شو.کوم چه د درنده دې.نو د درنده د جوټې پشان به ددې جوټه هم پلیته وی.حالانکه ته ددې د نجاست قائل نه ئې.[2]

نجاسة سؤر الدجاجة المخلاة وعلتها په متن کښې دویم د چرګې دجوټې حکم بیان شوې دې چه په نجاساتو اوغلاظونو باندې د ګرځیدونکې چرګې جوټه مکروه ده.دلیل دا دې.چه مخلات چرګه د نجاست سره مخلوطه اوسي. نوځکه ددې جوټه د کراهت نه خالي نه ده.

طهارة سؤر الدجاجة المخلاة وعلتها اوکه چرګه په پنجره وغیره کښې بنده شوې وی.په داسې طریقه چه دهغې مخوکه د پنجو نه لاندې نه رسی.نودهغې جوټه مکروه نه ده.دلیل دا دې.چه اختلاط د نجاست دوجې وو.او په ترلو سره د اختلاط نه امن راغلو.نوځکه به ئې جوټه مکروه نه وی.

حكم سؤر سباع الطيور په متن کښې دریم د ماتونکو مارغانو د جوټې حکم بیان شوې دې دغه حکم د ښکاري مارغه هم دې.یعنی د ښکاري مارغانو جوټه به هم مکروه وی.دلیل دا دې.چه ښکاري مارغان مردارے خوری. نودا به هم د مخلات چرګې پشان وی.

علة طهارة سؤر سباع الطيور صاحب دعنایه لیکی.چه د درندګانو په جوټه باندې قیاس کولو تقاضا خو دا وه. چه د ښکاري مارغانو جوټه دے هم پلیته وی.لیکن استحساناً دے نه نجس نشي ونیلې.وجه داستحسان دا ده.چه مارغان په خپلومخوکو اوبه څکی.اوهغه اوچ هډوکی دی.

[1] من حديث أبي هريرة ﷺ اخرجه الحاكم في المستدرك (۱\۱۸۳)۔

[2] القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في العناية (۱\۹۷) والدرالمختار(۱\۱۶۵) والنهاية (۱\۴۵) نقلاً عن القول الراجح (۱\۲۱)۔

علة نجاسة سؤر سباع البهائم ﴿ددې په خلاف د درنګانو جوټه پليته ده.ځکه چه هغوی په خپله ژبه باندې ځکاك کوی.او هغه د لعابو د وجې لونده وی.نودرنده ځناور چه کله په اوبو کښې خوله اووهی.نودهغې د خولې نجس لعاب داوبو سره ګډ شی.اوددې د وجې اوبه پليتې شی.

علة كراهة سؤرما يسكن البيوت ﴿په متن کښې څلورم قسم يعنی په کورونوکښې داوسيدونکو ځناورو لکه مار،مږه وغيره ددې د جوټه شوې اوبه حکم بيان شوې دې چه دا هم مکروه دی.

دليله ﴿دليل دا دې.چه ددې دغوښې حرمت خو ددې خبرې مقتضی وو.چه ددې جوټه دې هم پليته وې. د طواف (ګرځيدو راګرځيدو) د وجې نجاست ساقط شو.خوکراهت باقی پاتې شو.

دخر اوقچر د جوټې حکم

وَسُؤْرُ الْحِمَارِ وَالْبَغْلِ مَشْكُوكٌ فِيهِ اود خر او د قچر جوټه مشکوکه ده

حل اللغة ﴿①حمار: خر ②بغل: قچر

تشريح ﴿ **وجود الشك في طهورية سؤر الحمار الأهلية والبغل** ﴿په عبارت کښې کورنې خر مراد دې.او د قچر نه هغه قچر مراد دې.چه مور ئې خره وی.اوکه دده مور غوا يا اسپه وه.نوددې جوټه پاکه ده.(شرح نقايه) اوس حاصل د مسئلې دا دې.چه کورنې خر او هغه قچر چه د خرې د خيټې نه پيدا شوې وی.ددې دواړوجوټه مشکوکه ده.داحکم داکثرو مشائخو رحمهم الله په نيزدې.

وجود الشك في طهارته ﴿باقی پاتې شوه دا خبره چه د اکثرو مشائخو په نيز شك ددې په طهارت (پاك والی) کښې دې.او که ددې په مطهر (د بل پاکونکی) کښې دې.نو په دې باره کښې اختلاف دې.بعضو فرمائيلی دی.چه د خر دلعابو په طهارت کښې شك دې.يعنی چه ددې لعاب پاك دی اوکه نه؟

دليله ﴿دليل دا دې.که چرته د خرلعاب پاك وو.نو چه په کومو اوبو کښې هغه ګډيدلو.هغه به مطهر باقی پاتې وو،ترهغه وخته پورې چه لعاب په اوبه باندې غالب شوې وو.لکه څنګه چه په اوبوکښې د پاکو څيزونو د ګډيدو حکم دې.حالانکه بغير د غلبې نه هم په دې سره پاکی حاصلول کافی نه ده.نومعلومه شوه.چه شك ددې په طهارت کښې دې.

الشك في طهوريته ﴿ اود بعضې مشائخو رحمهم الله دا رائې ده.چه شك ددې په مطهر اوطهور کيدو کښې دې.يعنی دخر لعاب په خپله خو پاکې دی.ليکن په دې کښې شك دې.چه دا بل څيز پاکوی که نه؟

دليله ﴿دليل دا دې.که يو سړی اول د خر په جوټه باندې د سرمسح اوکړله.او بيا ورته اوبه مطلق ملاؤ شوې.نوبه ده باندې د سر وينځل واجب نه دی.که د خرجوټې په طهارت کښې شك وو.نو په ده باندې به د سروينځل واجب وو.نو معلومه شوه.چه دخر جوټه په خپله خو پاکه ده.ليکن بل څيز پاکولې شی که نه ؟ په دې کښې شك دې.

تحكيم صاحب الهداية ﴿ صاحب دهدايه رحمه الله په هدايه کښې فرمائی.چه دا صحيح ده.چه شك د خر دجوټې په طهوريت کښې دې. ددې په طهارت کښې نه دې.حضرت محمد رحمه الله هم دخر د جوټې په طهارت باندې صراحت کړې دې. داامام محمد رحمه الله نه نقل دی.چه په څلورو څيزونوکښې جامې غوپه شی.نوهغه نه پليتيږی. اوهغه څلور څيزونه دا دی.① دخر جوټه ② ماء مستعمل ③ د خرې پئ:④ د ماکول اللحم ځناورو متيازې.

تعارض الأحاديث في لحم الحمر صاحب دهدايه رحمه الله فرمائی.چه دجوتي په طهارت كښې د شك دوه اسباب دی.① يودا چه ددې په اباحت او حرمت كښې دلائل مختلف دی.

رواية طهارة لحوم الحمر روايت دې.چه [أن غالب بن ابجر رضي الله عنه سأل رسول الله ﷺ وقال لم يبق لي مال إلا حميرات فقال ﷺ كل من سمين مالك] غالب بن ابجر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړلو.چه زما په مال كښې صرف خرے پاتې شوی دی.نبی ﷺ ورته وفرمائيل چه ستا په مال كښې كوم غټ او تازه وی.هغه خوره.دا حديث د خر دغوښے په طهارت باندې دلالت كوی.

رواية حرمة لحوم الحمر اوروايت شوې دې.چه [أن رسول الله ﷺ حرم لحوم الحمر الأهلية يوم خيبر] چه رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ د خرو غوښه حرامه كړې وه.ددې نه ښكاره معلومه شوه.چه دخرو غوښه حرامه ده.

② **إختلاف الصحابة في حكم الحمر** دويم سبب دا دې.چه د خرد جوتي په پاكوالی او نجاست كښې د صحابه كرامو رضي الله عنهم اختلاف دې.دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه ددې نجاست منقول دې.اود حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه ددې طهارت منقول دې.

په ماء مشكوك د اودس حكم

> فَإِنْ لَمْ يَجِدِ الْإِنْسَانُ غَيْرَهَا كه انسان ددې دواړونه علاوه نورے نه موندلې تَوَضَّأَ بِهِ نو په دې جوته اوبو دے اودس اوكړی وَتَيَمَّمَ او تيمم دے اوكړی وَبِأَيِّهِمَا بَدَءَ جَازَ اوچه په دې دواړو كښې ئې په كوم يو شروع اوكړه جائز ده

حل اللغة ①لم يجد، وجد وجدانا (ض): موندل ② توضا، توضا توضأ: اودس كول ③ تيمم، تيمم تيمما: تيمم كول ④ يجوز، جاز جوازا(ن): جائز كيدل

تشريح **تقديم الوضوء اوالتيمم بالماء المشكوك** مسئله دا ده.كه متوضی سره د مشكوكو اوبو نه علاوه نورے اوبه نه وی.نوحكم دا دې.چه په آب مشكوك دےاودس اوكړی.او تيمم دے اوكړی. او په دواړو كښې چه ئې كوم يو خوښ وی.مقدم دے كړی.او چه كوم ئې خوښ وی.موخر دے كړی.

دليله دليل دا دې. چه د ماء مشكوك نه اودس كول او تيمم كول په دواړو كښې يو څيز پاكونكې دې.يعنی په دواړو كښې په يو باندې طهارت راځی.نوكه په آب مشكوك باندې طهارت حاصل شو.نود خاورے په استعمال كښې څه فائده نشته.كه وراندې ئې كړی او كه روستو.او كه پاكونكې خاوره وی.نو په تقديم او تاخير كښې څه نقصان نشته.حاصل دا چه كله په دې دواړو كښې يو مطهر دې.نو دواړه جمع كول مفيد دی.ترتيب مفيد نه دی.

بَابُ التَّيَمُّمِ

ترجمه: (دا) باب د تيمم (په بيان كښې) دې.

تشريح **الوجهان لتاخير التيمم عن الوضوء** ①چونكه په اوبو باندې طهارت حاصلول اصل دې.او په خاوره باندې طهارت حاصلول ددې خليفه دې.اوخليفه د اصل نه پس وی.نوځكه امام قدوری دتيمم باب داودس نه پس ذكر كړلو.

③ددې ترتيب دويمه وجه د قرآن كريم اتباع ده.ځكه چه د قرآن كريم په آيت ﴿إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ الخ﴾ كښې اودس غسل او تيمم په دې ترتيب سره ذكر شوى دى.

تعريف التيمم لغة وشرعا ◄ دتيمم لغوى معنى مطلقاً اراده كول دى.اود حج لغوى معنى د څه معظم او لوئې څيز اراده كول.او د شريعت په اصطلاح كښې د تيمم معنى ده.د طهارت حاصلولو دپاره د پاكې خاورې اراده كول. حضرت شيخ الادب په حاشيه دشرح نقايه كښې د علامه ابن الهمام رحمه الله په حوالې سره ذكركړې دى.چه د تيمم شرعى تعريف د مخ او دواړو لاسونو په پاكه خاوره باندې مسح كول دى.

تاريخ آية التيمم ومقامها ◄ اودحضرت عائشې رضي الله عنها قصه چه په هغې كښې د تيمم آيت نازل شوې وو.ددې په ځائې اووخت كښې اختلاف دې. د وخت په باره كښې درې اقوال دى.

① څلورمه هجرى ② پنځمه هجرى ③ شپږمه هجرى

د ځائې په باره كښې دوه اقوال دى.① غزوه مريسيع چه هغې ته غزوه بنى مصطلق هم وائى.② غزوه ذات الرقاع

واقعة نزول آية التيمم ◄ دحضرت عائشې رضي الله عنها دهار وركيدو قصه په ګڼړو احاديثو كښې په مختلفوالفاظو سره راغلې ده.د هغې بيان دا دې چه دحضرت عائشې رضي الله عنها د نبى ﷺ دبى بى نه روايت دې. دوى بيان كوى.چه يوځل زه د رسول الله ﷺ سره په سفرباندې تلې وم.كله چه مونږ مقام بيدا ء يا مقام ذات الجيش ته اورسيدو.نوزما هار ورك شو. رسول الله ﷺ هم په هغه ځائې كښې ايسار شو.اوخلقو دهار تلاش كولو.اودلته كښې اوبه نه وې.اودوى سره هم اوبه نه وې.څه خلق حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته ورغلل.او ورته ئې اووئيل:دا عجيبه خبره اوشوه.چه د حضرت عائشې رضي الله عنها د وجې نبى ﷺ او نور خلق ايسار شو . نه خو دوى د اوبو سره دى.او نه ورسره اوبه شته.په دغه وخت كښې رسول الله ﷺ زما په پتون باندې سرمبارك ايخودې وو.او اوده وو. په دې كښې حضرت ابوبكر رضي الله عنه راغلو. او وئيل ئې اے عائشې تا رسول الله ﷺ او خلق په داسې ځائې كښې ايسار كړل.چه نه دلته اوبه شته.او نه دوى سره اوبه شته.اوهغه ماته سختې خبرې اوكړې .اوچه څه ئې خوښ وو.هغه ئې راته اووئيل: او هغه ماته په تشى كښې تونګې راكولې .خو زه ددې وجې نه خوزيدم. چه د رسول الله ﷺ سر زما په زنګون باندې پروت وو . آخردا چه صبا شو.نورسول الله ﷺ رابيدار شو.خواوبه نه وې.په هغه وخت كښې الله ﷺ دا آيت (يعنى د تيمم آيت) نازل كړلو.حضرت سعيد بن حضير رضي الله عنه اوفرمائيل: اے دابوبكر اولاده دا ستاسو اولنۍ بزرګى نه ده.حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى.كله چه زما اوښ اودريدلو.نو دهغې دلاندې هار پيدا شو.او ماته ملاؤ شو.

دتيمم د جواز شرطونه

وَمَنْ لَمْ يَجِدْ مَاءً اوڅوك چه اوبه نه مومى وَهُوَ مُسَافِرٌ څودا سړې مسافر وى أَوْ خَارِجَ الْمِصْرِ يا د ښار نه بهر وى بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمِصْرِ نَحْوُ مِيلٍ أَوْ أَكْثَرَ او د ده اود ښار په مينځ كښې يو ميل يا زياته فاصله وى(نود داسې كس دپاره جائز ده.چه په پاكه خاوره تيمم اوكړى

حل اللغة ◄ ①لم يجد ، وجد وجدانا(ض): موندل ② مصر: ښار

تشريح ◄ **جواز التيمم عند فقد الماء** ◄ صورت د مسئلې دا دې.چه د كوم سړى سره دومره اوبه نه وى.چه د حدث د لرې كولو دپاره كافى وى.په داسې حال كښې چه دے مسافر وى.يا مسافر نه وى.ليكن د ښار

نه بهر وی.اود ده او د ښار په مینځ کښې د یو میل فاصله وی.یا د یومیل نه زیاته وی.نود داسې کس دپاره جائز دی.چه هغه په پاکه خاوره باندې تیمم اوکړی.

دلائله ﴿ ① ددې دوه دلیلونه دی.اول دالله ﷻ قول چه ﴿فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا﴾ یعنی که اوبه موجود نه وی.نوپه پاکه خاوره تیمم اوکړئ.

② دویم دلیل د نبی ﷺ ارشاد دې.چه خاوره دمسلمان دپاره پاکوالې دې.اګرکه لس کالو پورې داوبو په استعمال قادر نه وی.(ددې حدیث شان ورود دا دې..) دحضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه نه روایت دې.چه دوی به په سفر باندې تلو.اوخپل اهل ته به (د سفر په دوران کښې) ورتلو.اوبه هغه به جنابت راتلو.(یعنی د خپلې بی بی سره د صحبت کولو نه پس به جنب شو.او اوبه به نۀ وې.څکه چه سفر به وو.)

نوهغوی نبی ﷺ ته خبر ورکړلو.نبی ﷺ ورته اوفرمائیل: [الصعيد الطيب طهور المسلم ولو الى عشر سنين مالم يجد الماء فإذا وجدا لماء فليمسه بشرة] (1) یعنی پاکه زمکه د مسلمان دپاره پاکونکې ده. اګر چه لسو کالوپورې اوبه نه مومی. بیا چه کله اوبه اوموومی.نوپه خپل ظاهری بدن دے اوبیوی

د مرض د وجې د تیمم اباحت

أَوْكَانَ يَجِدُ الْمَاءَ اوکه ده سره اوبه وی إِلَّا أَنَّهُ مَرِيضٌ لیکن بیماروی فَخَافَ اوده سره ویره وی إِنْ اسْتَعْمَلَ الْمَاءَ که اوبه استعمال کړی اِشْتَدَّ مَرَضُهُ نومرض ئې زیاتیږی(نوهغه دے تیمم کوی)

حل اللغة ﴿ ① یجد، وجد وجدانا(ض): موندل ② مریض: ناجوړه ③ فخاف، خاف خوفا(س): ویریدل ④ استعمل استعمالاً: استعمالول

تشریح ﴿ **جواز التيمم عند خوف المرض** ﴿ مسئله دا ده.که د یو کس سره اوبه موجود وی.لیکن هغه ناجوړه وی.او د اوبو په استعمال د مرض زیاتیدو ویره وی. یا د شفا په حاصلیدو کښې د تاخیر امکان وی.نو په داسې صورت کښې د داسې کس دپاره تیمم کول جائز دې.

دلائله ﴿ ① دلیل د الله ﷻ قول دې.﴿وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ... الآية﴾

د یخنۍ د وجې د تیمم جواز

أَوْخَافَ الْجُنُبُ اوکه جنب سره دا ویره وی إِنِ اغْتَسَلَ که غسل مے اوکړلو يَقْتُلَهُ الْبَرْدُ نود دیخنۍ نه به مړ شی أَوْيُمْرِضَهُ یا به ناجوړه شی فَإِنَّهُ يَتَيَمَّمُ بِالصَّعِيدِ نو دے د په پاکه خاوره تیمم اوکړی

حل اللغة ﴿ ① جنب: جنبی ② یقتله، قتل قتلاً (ن) قتل کول، وژل ③ یمرض، مرض تمریضاً: ناجوړه کول

تشریح ﴿ **جواز التيمم للجنب عند خوف الهلاک خارج المصر** ﴿ مسئله دا ده.که جنب ته دا ویره وی.که دے غسل اوکړی .نو دیخنۍ د وجے هلاکیږی.یا ناجوړه کیږی. نو ده دپاره تیمم جائز دې. علامه مرغینانی فرمائیلی دی.که دا واقعه د ښار نه بهر پیښه شوې وی.نوپه اتفاق سره د تیمم اجازت دې.دلیل وړاندې تیر شوې دې.چه ښارته په واپس تلوکښې حرج دې.

(1) من حديث أبي ذر رضي الله عنه اخرجه أبوداود فی الطهارة باب ۱۲۳ والترمذی فی الطهارة باب ۹۲ والنسائی فی الطهارة باب ۲۰۳)

جوازالتيمم عند خوف الهلاک في المصر > که جنب ته په ښار کښې دننه دا ويره پيدا شي .نوبياهم د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دا حکم دې.يعني دهغه دپاره تيمم جائز دې.

دليله > اود امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه د داسې ويريدونکی په حق کښې چه د غسل نه ويريږی.عجز ثابت شوې دې.نوځکه به ددې عجز اعتبار کولې شی.

دتيمم طريقه

وَالتَّيَمُّمُ ضَرْبَتَانِ اوتيمم دوه ضربه دې يَمْسَحُ بِإِحْدَاهُمَا وَجْهَهُ.مسح به کوی په يو ضرب په مخ باندې وَبِالْأُخْرَى يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ اوپه دويم ضرب دخپلو دوارو لاسونود څنګلو سره

حل اللغة > ① يمسح، مسح مسحًا (ف): رابنکل، ګرخول ② مرفقين: کونډنې

تشريح > **محل المسح** > په دې عبارت کښې دتيمم دکيفيت بيان دے فرمائی .چه تيمم دوه ضربه دې.

① په يو ضرب به د مخ مسح اوکړی.اوپه بل ضرب په د دوارو لاسونو ترڅنګلو پورې مسح اوکړی.

دليله > نبی ﷺ فرمائيلی دی((التيمم ضربتان ضربة للوجه وضربة لليدين))[1] چه تيمم دوه ضربه دې يوضرب د مخ دپاره او بل ضرب د دوارو لاسونودپاره

تناثرالتراب وعلته > صاحب دهدايه فرمائيلی دی.چه په زمکه به دواړه لاسونه راپريږدی .اودومره به ئې اوسنډی. چه د هغې نه خاوره لرے شی.چه مثله (يعنی بدشکله) نشی.يعنی لکه څنګه چه په مثله سره سرې بد صورته کيږی . دغه شان په خاورے سره هم مخ ککړيږی.

دليله > دعمار بن ياسر رضی الله عنه نه روايت دې.چه [أن النبی ﷺ ضرب بكفيه الأرض ونفخ فيهما ثم مسح بهما وجهه وكفيه] يعنی نبی ﷺ خپل دواړه لاسونه زمکے ته راپريخودل.او په هغې کښې ئې پوك اووهلو.او بيا ئې په هغې باندې خپل مخ مسح کړلو.

كيفية تيمم النبوی ﷺ > او د ابن عمر رضی الله عنه اوجابر رضی الله عنه دنبی ﷺ تيمم نقل کړې دې.او فرمائی. ددې طريقه دا دہ. چه دواړه لاسونه به زمکے ته راپريږدی.بيا به دا دومره اوسنډی.چه خاوره ترے لرے شی.بيا دے په هغې باندې مخ مسح کړی.بيا دے په دويم ځل زمکه اووهی.او دا دے اوسنډی.اودخپل ګس لاس د څلورو ګوتو په باطن دے دخپل ښی لاس ظاهر په دې طريقه مسح کړی.چه د ګوتو د سوکو نه به شروع اوکړی.او ترڅنګلو پورې به اورسی.او بيا دے د خپل ګس تلی په باطن باندې دخپل ښی لاس باطن د مرونډه پورې مسح کړی . اودخپل ګس لاس د ګوتے په باطن دے دخپل ښی لاس د ګوتے په ظاهر باندې راکاږی.اوبيا دے دغه شان د ګس لاس مسح اوکړی.

په تيمم کښې دحدث اصغر او اکبر برابری

وَالتَّيَمُّمُ فِي الْحَدَثِ وَالْجَنَابَةِ فِيهِ سَوَاءٌ اوتيمم په حدث او جنابت کښې برابر دې

تشريح > **جوازالتيمم في الحدث الأكبر** > امام قدوری رحمه الله فرمائی. ① چه دتيمم په جواز او کيفيت اوآله کښې حدث (بے اودسی) او جنابت دواړه برابر دی .يعنی لکه څنګه چه په حدث اصغر کښې تيمم

[1]) من حديث حديث ابن عمر رضی الله عنه اخرجه الحاكم في المستدرك (۱۷۹\۱)۔

مشروع دي.دغه شان په حدث اکبر کښي هم مشروع دي.اوکومه طريقه چه د حدث اصغر دتيمم ده. هم هغه طريقه دحدث اکبر د تيمم ده.او هم دا حکم د حائضے او نفاسي ښځې دي.

دليله >دالله تعالی رسول ﷺ د جنب دپاره هم مشروع کړې دي. روايت دي.چه د نبی ﷺ په خدمت کښي څه خلق حاضر شو.او عرض ئې اوکړلو.چه مونږ په دې شګلنه زمکه،کښې اوسيږو.او د يوے او دوو مياشتو پورې اوبه نه مومو.حالانکه په مونږکښې جنب هم وی.او حائضه اونفاسه ښځې هم وی.چه دا ئې واوريدلو.نو نبی ﷺ اوفرمائيل: [عليكم بالأرض][1] يعنی په تاسو ستاسو زمکه لازم ده.يعنی تاسو په خاوره باندې تيمم کوئ.ددې حديث نه معلومه شوه.چه د حدث اکبر دپاره هم تيمم جائز دي.

په کومو څيزونو تيمم جائز دي؟

وَيَجُوزُ التَّيَمُّمُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رحمهما الله (٢)اود امام ابوحنيفه او امام محمد رحمهما الله په نيز تيمم جائزدي بِكُلِّ مَاكَانَ مِنْ جِنْسِ الْأَرْضِ په هر هغه څيز چه د زمکې دجنس څنے وی كَالتُّرَابِ وَالرَّمْلِ لکه خاوره ،شګه وَالْحَجَرِ وَالْجِصِّ کانړے ، دآبادئ چونه وَالنُّورَةِ وَالْكُحْلِ سپينه چونه ،رانجه، وَالزِّرْنِيخِ او هرتال

حل اللغة >①الارض: زمکه ② تراب: خاوره ③رمل: شګه ④ حجر جمع احجار: کانړې ⑤ جص: سيمنټ ⑥ نوره: چونه ⑦ زرنيخ:ګوګر

تشريح> **مذهب الطرفين** رحمهما الله > ددې ځائې نه دهغه څيزونوبيان کوی.په کوموچه تيمم جائز دي. نو فرمائی.چه هرهغه څيزچه دزمکې د جنس څنے وی.په هغې باندې تيمم جائز دي.اوچه د زمکې د جنس څنے وی.نوددې شناخت دا دي.چه کوم څيز په سوزيدو سره هيره کيږی.لکه اونه اوچه کوم څيز ويلی شی او نرم شی.اود بدلولوقابل شی.لکه اوسپنه.نودا د زمکې د جنس څنے نۀ دی.او ددې نه علاوه چه کوم څيزونه د زمکې د جنس څنبه دی.لکه خاوره، شګه ، کانړے ، د تعمير چونه ، سپينه چونه ، رانجه هرتال ، د غريزه مالګه ، ياقوت، زمرد ، زبرجد ، وغيره دا د طرفينو رحمهما الله مذهب دي.

دليله > دليل دا دي.چه صعيد دمخ دزمکې نوم دي. يعنی د زمکې د پورتنۍ حصې.اوچونکه اوچته حصه پورته او پاکه وی. نو څکه ددې نوم صعيد کيخودې شو.حاصل دا چه هرهغه څيزچه صعيد وی.يعنی د زمکې د جنس څنے وی.نوپه هغې تيمم جائز دي.

مذهب ابي يوسف رحمه الله > په دې مسئله کښې حضرت امام ابويوسف رحمه الله فرمائی چه صرف په خاوره او په شګه باندې تيمم جائز دي.

د تيمم دپاره د نيت شرطيت

وَالنِّيَّةُ فَرْضٌ فِي التَّيَمُّمِ اوپه تيمم کښې نيت فرض دي وَمُسْتَحَبَّةٌ فِي الْوُضُوءِ او مستحب دي په اودس کښې

تشريح> **فرضية النية** >زمونږ په نيز په تيمم کښې نيت فرض دي.

[1]) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه اخرجه احمد في مسنده (٢٧٨\٢) والبيهقي في سننه الكبرى (٢١٦\١)

[2]) القول الراجح هو قولهما كذا في فتح القدير(١١٢\١) والخانية (٦١\١) والهندية (٢٦\١) نقلا عن القول الراجح (٢٧\١)

دلائله ① دليل دا دي.چه د تيمم معنى په لغت کښې د قصد او ارادے راځي.اوقصد نوم دے د ارادې.اودا قاعده ده.چه په اسماء شرعيه کښې د لغوي معانيواعتبار کولې شي.نوځکه مونږ ددې قائل شو. چه په تيمم کښې نيت ضروري دې.اوپه تيمم کښې د نيت تفسير دا دې.چه د طهارت نيت اوکړي.يا دجنابت لرے کولو اويا د مونځ د اباحت نيت اوکړي. (يعنى چه په دې تيمم راته مونځ کول جائزاو مباح شي.)

② خاوره په شرطونوسره پاکونکې ده.يوشرط دا چه اوبه نه وي.اودويم شرط دا چه تيمم د مانځه د اباحت دپاره وي.ځکه چه الله ﷻ فرمائيلي دى.چه ﴿فتيمموا﴾ اودا قول مبني دے دالله ﷻ په قول چه ﴿إذا قمتم إلى الصلاة فاغسلوا وجوهكم﴾ او ددې نه مراد ﴿فاغسلوا للصلاة﴾ دې.نودلته به هم ﴿فتيمموا للصلاة﴾ مراد وي.نو لکه ځنګه چه د اوبو د وجود په وخت کښې تيمم مفيد دطهارت نه دې.دغه شان به د عدم نيت په صورت کښې هم مفيد د طهارت نه وي.

الإعتراض دلته يواعتراض واردېږي چه په آيت کښې اوبه هم په مخصوص حالت کښې پاکونکې ګرځولې شوي دي.(چه کله اراده د مانځه کوي.) نو په اودس کښې هم نيت شرط ګرځول پکار دي.

الجواب ددې نه جواب دا دې.چه اوبهٔ دخپل ذات په اعتبار سره پاکونکې دي.يعنى ددې په طبيعت کښې د پاکولو عمل شته.نوځکه نيت ته محتاجه نه دي.لکه چه کوم نجاست عينى وي.(يعنى په سترګو ښکاري.) نودهغې په لرے کولو کښې د نيت ضرورت نشته.(يعنى چه کوم نجاست په نظر راځي.لکه لوښې بول راواخله .او دا په اوبو باندې اووينځلى شي.نو هغه محل پاکيږي.اګرچه د پاکولو نيت په کښې نه وي.نودغه شان حکم به په نجاست حکمى کښې وي.چه اودس دې.)

تيمم ماتونکې څيزونه

وَيَنْقُضُ التَّيَمُّمَ كُلُّ شَيْءٍ او تيمم په هرهغه څيزماتيږي يَنْقُضُ الْوُضُوءَ چه اودس پرے ماتيږي

حل اللغة ① ينقض، نقض نقضا (ن): ماتول

تشريح **وجه الإشتراک بين ناقض الوضوء والتيمم** شيخ قدوري فرمائيلي دى.چه کوم څيزونه ناقض د اودس دى . هغه ناقض د تيمم هم دى.دليل دا دې.چه تيمم داودس خليفه دې.او په دې کښې څه شك نشته.چه اصل د خليفه په نسبت اقوى وي.نوکوم څيز چه د اقوى دپاره ناقض وي.هغه به د اضعف دپاره په په طريقه اولى سره ناقض وي.نوهرهغه څيزچه ناقض د اودس وي.هغه به ناقض د تيمم ضرور وي.

وَيَنْقُضُهُ أَيْضًا رُؤْيَةُ الْمَاءِ اوماتوي تيمم لره د اوبو ليدل إِذَا قَدَرَ عَلَى اسْتِعْمَالِهِ خو په دې شرط چه دے د اوبو په استعمال قادر وي

تشريح **نقض التيمم بالقدرة علي إستعمال الماء** صاحب دقدوري رحمه الله فرمائي.چه بعضې څيزونه داسې دى.چه په هغې باندې اودس خو نه ماتيږي.ليکن تيمم ماتيږي.نوکه متيمم اوبه اوليدلے او دے دهغې په استعمال قادر هم وو.نود اوبو ليدل دهغه د تيمم دپاره ناقض دى.اواستعمال سره د قدرت شرط ځکه اولګولې شو.چه آيت ﴿أو لامستم النساء فلم تجدوا ماء﴾ اوحديث [التراب طهور المسلم ولو إلى عشر حجج ما لم يجد الماء] په دې کښې د وجود داوبو نه مراد قدرت على استعمال الماء دې.

د تیمم دپاره د متیمم په د طهارت شرط

وَلَایَتَیَمَّمُ اوتیمم به نه کوی اِلَّابِصَعِیْدٍطَاهِرٍ مګرپه پاکه زمکه

تشریح﴿ شرط طهارة المتیمم به﴾ تیمم به صرف په پاکه خاوره باندې کوی.په پلیته خاوره تیمم کول جائزنه دی

دلائله﴿ ① ځکه چه په آیت د تیمم کښې د ﴿فتیمموا صعیدا طیبا﴾نه په اجماع سره مراد طاهر دې.② بل دلیل دا دې.چه خاوره د پاکولو آله ده.نوځکه ذدې په خپله پاکوالے ضروری دې.لکه څنګه چه د اوبو طهارت ضروری دې.

داوبو موندلو په صورت کښې دتیمم حکم

وَیُسْتَحَبُّ لِمَنْ لَمْ یَجِدِ الْمَاءَ اوچه اوبه نه مومی.نوهغه دپاره مستحب دی وَهُوَیَرْجُوْهُ اَنْ یَجِدَهٗ فِیْ اٰخِرِ الْوَقْتِ په داسې حالت کښې چه هغه دا امید ساتی چه په آخر وخت کښې به ئې اومومی اَنْ یُؤَخِّرَ الصَّلٰوةَ اِلٰی اٰخِرِ الْوَقْتِ چه مونځ آخر وخت ته روستو کړی فَاِنْ وَجَدَ الْمَاءَ نوکه اوبه ئې اوموندے تَوَضَّأَ نواودس دے اوکړی وَصَلّٰی او مونځ دې اوکړی وَاِلَّا تَیَمَّمَ کنی تیمم دے اوکړی

حل اللغة﴿ ① یرجوه، رجایرجو رجاء (ن) امیدکیدل ② ان یوٴخر، اخر تاخیراً: روستوکول ③ وجد وجداناً (ض) موندل

تشریح﴿ تاخیر الصلاة عند رجاء الماء﴾ ① مسئله دا ده.که اوبه موجود نه وی.او سړې دا امید کوی .چه په آخروخت کښې به اوبه اومومی.نومونځ آخری وخت ته روستو کول مستحب دې.اوکه دا امید ئې نه وی. نوخامخا دے مونځ نه روستو کوی.که ده ته اوبه ملاو شی.نواودس دے اوکړی.او مونځ دے اوکړی.اوکه ملاو ورته نشوې.نوتیمم دے اوکړی.او مونځ دے اوکړی.او داوبو ملاویدو دامید په صورت کښې مونځ روستوکول ځکه مستحب دی.چه دا په دوو طهارتینو کښې په اکمل طهارت چه اودس دے په هغې باندې ادا شی .نو داداسې ده.لکه چه د جمعې مونځ کولو دپاره انتظار کولې شی.اوانتظار کول مستحب دې.

دلیله﴿دلیل دا دې.چه چونکه اوبه موجود نه دی.نوحقیقتاً عجزثابت شو .او ددې عجز حکم تیمم دې. نوددې عجزحکم یعنی جوازتیمم به په هغه وخت کښې زائله کیږی.چه د اوبو د وجود یقین وی.اوچونکه د اوبو دوجود یقین نشته.نوځکه دمونځ روستوکول هم واجب نه دی.

په یوتیمم باندې دډیرو مونځونو ادا کولو حکم

وَیُصَلِّیْ بِتَیَمُّمِهٖ مَاشَاءَ اوپه خپل تیمم چه ئې کوم مونځ خوښ وی کوی دې مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ (برابره ده) که فرض وی او که نفل وی

حل اللغة﴿ ①یصلی، صلی تصلیة: مونځ کول

تشریح﴿ أداء الفرائض بتیمم واحد﴾ مسئله دا ده.چه زمونږ په نیز په یوتیمم باندې د یو نه زیات مونځونه ادا کولې شی.که هغه فرض مونځونه وی اوکه نفلی وی.که په یو وخت کښې ئے ادا کوی اوکه په مختلفو وختونو کښې ترڅوچه د تیمم ناقض موجود شوې نه وی.

دلیله > دلیل دا دې.چه خاوره د اوبو د نشتوالي په وخت کښې په نص سره مطهر ثابته شوې ده.نبی ﷺ فرمائیلي دي.[التراب طهورالمسلم] او فرمائیلي ئې دي.[جعلت لی الأرض مسجدا وطهورا] اوکوم څیزچه د شرط سره پاکونکې وي.هغه به ترهغه وخته پورې خپل کار جاري ساتي. ترڅوچه شرط باقي وي.نوترڅوچه دعدم وجدان الماء شرط باقي وي.خاوره به پاکونکې باقي وي.

د جنازې فوت کیدو په وخت د تیمم حکم

وَيَجُوْزُ التَّيَمُّمُ الصَّحِيْحُ فِي الْمِصْرِ اوجائز دې تیمم دپاره د صحیح سړي په ښار کښې **إِذَا حَضَرَتْ جِنَازَةٌ** چه جنازه حاضره شی **وَالْوَلِيُّ غَيْرُهُ** او ولي ددې کس نه علاوه (بل څوك) وي **فَخَافَ** نودا اجنبي ویریږی **إِنْ اشْتَغَلَ بِالطَّهَارَةِ** که په اودس کښې مشغول شی **أَنْ يَفُوْتَهُ الصَّلَاةُ** نوجنازه ترے فوت کیږی **فَلَهُ أَنْ يَتَيَمَّمَ وَيُصَلِّي** نو جائز دی ده دپاره چه تیمم اوکړی اومونځ اوکړی (په دغه تیمم) **وَكَذَا مَنْ حَضَرَ الْعِيْدَ** او دغه شان هغه کس چه داخترمانځه ته حاضر شی **فَخَافَ إِنْ اشْتَغَلَ بِالطَّهَارَةِ** نوویره شی ورسره که په اودس کښې مشغول شی **أَنْ يَفُوْتَهُ الْعِيْدُ** نوداختر مونځ به فوت شی

حل اللغة > ①صحیح: تندرست ②مصر جمع امصار: ښار ③حضرت، حضر حضورا (ن): حاضریدل ④اشتغل، اشتغالاً: مشغول کیدل ⑤یفوته، فات فوتًا(ن): فوت کیدل ⑥ اعادة: راګرځول]

تشریح > **العبادة التي تجوز بالتیمم مع وجود الماء** > مسئله دا ده.چه یوصحیح سړي په ښار کښې تیمم کولې شي.چه جنازه حاضره شي.او ولي دده نه سوا بل کس وي.اوده سره دا ویره وي.که په اودس کولو کښې مشغول شي.نودجنازے مونځ به ترے فوت شي.

فائدة قید الصحیح > امام قدوری دصحیح قید اولګولو. په دې سره ئې د مریض نه احتراز اوکړلو.ځکه چه د مریض دپاره تیمم جائز دے که په ښار کښې وي اوکه د ښار نه بهر وي.که ولي وي او که غیر د ولي نه بل څوك وي.که دفوت کیدو ویره ورسره وي او که نه وي.

فائدة قید المصر > او د ښار په قید سره ځنګل اووتلو.ځکه چه په ځنګل کښې تیمم جائزدې.که ولي وي او که غیر د ولي نه بل څوك وي.ځکه چه عام طور په ځنګل کښې اوبه نهٔ وي.

جواز التیمم عند فوت صلاة العیدین > اودغه شان د اختر دمانځه دپاره راغلو.اوویره وه که په اودس کښې مشغول شي.نو داختر مونځ به ترے فوت شي.نودا کس دے تیمم اوکړي. اوپه جماعت کښې دے شریك شي.

جوازالتیمم عند فوت خوف ما لا خلیفة له > صاحب دعنایه لیکلي دي.چه ضابطه دا ده.چه کوم څیز بدل ته نه فوت کیږي.نود اوبو د وجود په صورت کښې هم په تیمم باندې هغه ادا کول جائزدي. (نوکه په اودس کښې مشغوله کیدو سره ورته د دغه عبادت د فوت کیدو ویره وي.چه بدل ته نه منتقل کیږي.نو تیمم کول جائز دي.) اوزمونږ په نیز دجنازے مونځ هم داسې دې.ځکه چه ددې قضاء نشته. اودغه شان د اختر د مونځ قضاء هم نشته.

دجمعې د فوت کېدوپه وخت د تیمم حکم

وَمَنْ خَافَ مَنْ شَهِدَ الْجُمُعَةَاو که ویریږی هغه څوک چه دجمعې مونځ ته حاضر شوې وی إِنْ اشْتَغَلَ بِالطَّهَارَةِکه مشغولیږی په اودس کښې اَنْ تَفُوْتَهُ الْجُمُعَةُنوقضا کیږی ترې د جمعې مونځ تَوَضَّأَ نواودس دې اوکړی فَإِنْ أَدْرَكَ الْجُمُعَةَکه جمعه نې رالاندې.کړه صَلَّاهَانواودے کړی وَاِلَّا صَلَّى الظُّهْرَ أَرْبَعًااوکه نه نو څلور رکعته دے د ماسپخین اوکړی

حل اللغة ﴿①خاف خوف (س): ویریدل ② ادرك ادراکا: موندل، پوهیدل ③تفوت، فات فوتاً (ن) فوت کیدل]

تشریح ﴿ **عدم جواز التیمم عند فوت الجمعة** ﴿ مسئله دا ده.که په اودس کښې مشغول کیدو باندې د جمعې دفوت کیدو ویره وی.نوبیا هم د تیمم کولواجازت نشته. بلکه اودس ضروری دې.نوکه ده اودس اوکړلو.اودجمعې مونځ ئې رالاندې کړلو.ډیره ښه ده.اوکه دجمعې مونځ نې رالاندې نکړلو.نود ماسپخین مونځ چه خلیفه دې.هغه دے ادا کړی.

دلیله﴿① د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه چا تپوس اوکړلو.که یوسړی ته ناڅاپه جنازه حاضره شی. او دے بےاودسه وی؟ نو هغوی اوفرمائیل:تیمم دےاوکړی. او د جنازے مونځ دےاوکړی.([1])

الاستدلال﴿ د جنازے په مانځه کښې خو دا اثر نص دې.چه تیمم به کوی.اوس چه مونږ نظر اوکړلو.نو د جنازے د مانځه په موقع د تیمم جواز ځکه دې.چه دهغې نائب اوخلیفه نشته. اوهم دا علت داختر په مانځه کښې هم دې.یعنی داختر د مانځه نائب اوخلیفه هم نشته.نو دعلت مشترکه د وجه مو داختر مونځ د جنازے په مونځ قیاس کړلو.اودا نتیجه راووتله.چه داختر په مانځه کښې هم که دغه صورت پیښ شی.نو تیمم به کوی.اودس دےنه کوی.شاه فیصل عفی عنه

② بل دلیل دا دې.اګرچه جمعه ترے فوت شوه.لیکن ددې خلیفه چه د ماسپخین مونځ دې.هغه موجود دې.نوچه اوبه موجود وی.نوهغې په وجود کښې صرف د فوت کیدو د ویرے د وجې تیمم جائز نه دې.

د وختی مونځ د فوت کیدو په وخت کښې د تیمم حکم

وَكَذَا إِنْ ضَاقَ الْوَقْتُ فَخَشِيَاوهم دغه شان که تنګ شو وخت نو ویریدلو اَنْ تَوَضَّأَ فَاتَهُ الْوَقْتُکه چرته اودس کوی‌نووختی مونځ ترے قضاء کیږی لَمْ يَتَيَمَّمْتیمم دے نه کوی وَلٰكِنَّهٗ يَتَوَضَّأُبلکه اودس دے اوکړی وَيُصَلِّيْ فَائِتَتَهٗاود قضاء شوی مونځ قضاء دے راوړی

حل اللغة ﴿①خاف خوفا)س) ویریدل ② توضا توضیا: اودس کول

تشریح﴿ **حکم التیمم عند خوف فوت الصلاة الوقتیة** ﴿مسئله دا ده.که په اودس کښې مشغول کیدو کښې د وختی مونځ د فوت کیدو ویره وی.بیا به هم تیمم نه کوی. بلکه اودس به کوی.اود فوت شوې مونځ به قضاء راوړی.

[1]) شرح معانی الآثار فی الطهارة باب ذکر الجنب والحائض والذی لیس علی وضوء و قرائهم القرآن ۸۶/۱ الر ضعیف لکن له شواهد وان کان فی کلها کلام لکن کثرة الطرق یقوی ضعف الحدیث کما ذکره الزیلعی فی تحقیق هذا الاثر

دليله> ځکه چه د وختي مونځ فوت کيدل فوت الی خلف دي.اوورانديږ تير شوی دی.چه کوم خيز خليفه ته منتقل کيږي.نودهغې د فوت کيدو د وجے په تيمم بانديږ دهغې ادا کول جائزنه دی. (بلکه اودس به کوی.اوچه کوم خيز ته هغه منتقل شوي وی.هغه به کوی)

د مسافرليمم ګول او په کجاوه کښي د اوبو هيريدوحکم

وَالْمُسَافِرُ إِذَا نَسِيَ الْمَاءَ فِيْ رَحْلِهِ اودمسافر نه چه کله په خپله کيجاوه کښي اوبه هيرے شی فَتَيَمَّمَ اوتيمم ئې اوکړلو وَصَلّٰى او مونځ ئې اوکړلو ثُمَّ ذَكَرَ الْمَاءَ فِي الْوَقْتِ بيا ورته اوبه وريادے شوی په وخت کښي لَمْ يُعِدْ صَلَاتَهُ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رحمهما الله نود طرفينو رحمهما الله په نيز به مونځ نه راګرخوی وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ رحمه الله اوامام ابويوسف رحمه الله فرمائي يُعِيْدُ چه اعاده به کوی

حل اللغة > ① نسي، نسيانا (س): هيرول ② رحل: کجاوه ③ لم يعدها، اعاد اعادة: واپس کول ④ وضعه، وضع وضعا (ف) ساتل ⑤ ستر: پټول]

تشريح> **نسيان الماء في الرحل**> مسئله دا ده.که مسافر په تيمم بانديږ مونځ اوکړلو.حالانکه دهغه په کجاوه کښي اوبه موجود وي. نو په دي صورت کښي د طرفينو رحمهما الله په نيز په ده بانديږ د مانځه اعاده واجب نه ده.

دليلهما > او دطرفينو رحمهما الله دليل دا دي.چه په اوبوبانديږ قدرت بغير دعلم نه نۀ راځي.اود اوبو د موجودوالی نه هم دا مراد دي.چه داوبوپه استعمال دده قدرت وی.نوچه دده ته علم نشته.نوقدرت هم رانغلو.اوچه قدرت رانغلو.نو اوبه ورته حاصلے نشوي.اوچه اوبه ورته حاصلے نه وی.نو په دي صورت کښي تيمم جائزدي.

اختلاف ابي يوسف رحمه الله > د ابويوسف رحمه الله په نيز پرے د مانځه اعاده واجب ده.که او به ورته په وخت کښي وريادے شوي وی اوکه د وخت نه پس.اودا دامام شافعي رحمه الله قول هم دي.

دلائله > ① دليل دا دي.چه په عادت کښي دا معمول دے چه دمسافر کجاوه داوبو دپاره معدن او خاني وی.نوځکه په ده بانديږ په کجاوه کښي د اوبو لټول واجب وی.نوچه دده لټون اونکړلو.نومعذور نشو.اوبه دده بانديږ اعاده واجب شوه.

الجواب عنه> خوددي جواب دا دي.چه په کجاوه کښي عام طور د څکلو اوبه کيخودي شی.داودس اوغسل اوبه نشی کيخودي.

② دامام ابويوسف رحمه الله دويم دليل دا دي.چه دا کس د اوبومومندونکے دي.اوتيمم دهغه کس دپاره مشروع شوي دي.چه هغه سره اوبه نه وی.نود ده تيمم جائز نه دي.اودا داسي ده. لکه يوسړي سره په کجاوه جامے وی. او دده نه هيرے شي.اومونځ ئي په بربنډه اوکړلو.يا ئي په پليتوجاموکښي اوکړلو . نو چه پاکه جامه ورته ورياده شی.(چه ما خو په کجاوه کښي جامے ايخودے دی) نو په ده بانديږ د مانځه دوباره کول واجب دی.

الجواب الإنكاري عنه >خو دجامے مسئله هم مختلف فيه ده.د طرفينو رحمهما الله په نيز که په کجاوه کښي جامے هيرے کړي.او په بربنډه يا په پليتوجامو کښي مونځ اوکړی.اوبيا ورته پاکي جامے وريادے شی.نومونځ راګرځول پرے نشته.

الجواب التسليمي عنه >اوکه دا اومنلے شي.چه د جامو مسئله هم متفق علیه ده.نوبیا هم دا داوبو مسئله د جامو په مسئله قیاس کول ټیک نه دی.ځکه چه ددې دواړو په مینځ کښې فرق دې.فرق دا دې.چه د بدن پټول فرض دې.نوکه دا فرض فوت شی.ددې څه خلیفه نشته.اوکه د اوبو په ذریعه دطهارت حاصلول فوت شی.نوددې خلیفه شته چه تیمم دې. (نودا قیاس،قیاس مع الفارق شو.اودا ناجائزدې.)

التنبیه علي محل الاختلاف>علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی چه دا مذکور اختلاف په هغه وخت کښې دې چه په کجاوه کښې ده په خپله اوبه کیخودې وی یا بل چا د ده په حکم باندې کیخودې وی او ده ته په وخت کښې وریادې شوې یا د وخت تیرو نه پس په ټولو صورتونوکښې دواړه صورتونه برابر دی یعنی اختلاف په کښې موجود دې اوکه ده په خپله نه وی کیخودې نو بیا په ده باندې د مانځه اعاده واجب نه ده ځکه چه ده ته علم نشته.

د متیمم دپاره داوبود لټون حکم

وَلَيْسَ عَلَى الْمُتَيَمِّمِ او په متیمم باندې واجب نه دی طَلَبُ الْمَاءِ إِذَا لَمْ يَغْلِبْ عَلَى ظَنِّهٖ لټون د اوبو ترڅوچه د ده غالب ګمان نه وی أَنَّ بِقُرْبِهٖ مَاءً چه ده سره نزدې اوبه دی أَنْ يَّطْلُبَ الْمَاءَ چه تلاش کړی اوبه

حل اللغة >①متیمم: تیمم کونکې ② طلب: لټون، غوښتل ③ظن: ګمان

تشریح> **طلب الماء عند غلبة الظن**> ①که اوبه نه مومی.نوپه هغه باندې د اوبو تلاش واجب نه دې.ترڅوچه هغه ته داوبو د نزدیکت غالب ګمان نه وی.

دلیله > دلیل دا دې.چه په آیت کښې عدم وجدان مطلق دې.د طلب یا دغیر دقید نه معری اوخالی دې.نوددې وجې به د [المطلق یجری علی إطلاقه] قاعده باندې عمل کولے شوې شی.او آیت به د طلب وغیره په قید سره نشی مقید کولې. او چونکه عام طور باندې په بیابانونو کښې اوبه نه وی.او د اوبو په وجود باندې څه دلیل هم نشته.نوځکه به دا وئیلی شی.چه دا کس داوبو موندونکے نه دې.او په دې صورت کښې به تیمم کول جائز وی.نوځکه بغیر د اوبو د لټون نه تیمم جائز اوګرځولې شو

وَإِنْ غَلَبَ عَلَى ظَنِّهٖ اوکه دده غالب ګمان دا وی أَنَّ هُنَاكَ مَاءً چه هلته کښې اوبه دی لَمْ يَجُزْ لَهٗ أَنْ يَّتَيَمَّمَ نوده دپاره تیمم جائزنه دے حَتّٰى يَطْلُبَهٗ ترڅوچه داوبولټون اونکړی

تشریح> **حکم التیمم في صورة غالب الظن**> اوکه غالب ګمان دا وی.چه دلته کښې اوبه دی.نو په دې صورت کښې ورته تیمم کول جائزنه دې.ترڅوچه ئې اوبه لټولې نه وی.

دلیله>ځکه چه دلیل ته په نظر کولو سره دے د اوبوموندونکے دې.اودلیل غلبه دظن ده.او په عباداتو کښې غالب ګمان قائم مقام د علم دې.نوکه نزدے ورته د اوبو د وجود علم وو.نو تیمم به جائزنه وو.نو دغه شان چه د اوبود نزدیکت ورته غالب ګمان وی.نوهم به تیمم جائزنه وی.

حدالطلب>باقي پاتې شوه دا خبره چه دا کس به څومره لرے پورې د اوبولټون کوی.نو په دې باره کښې د صاحب هدایه رحمه الله تحقیق دا دې.د یوغشی په مقدار دے لاړ شی.اود یومیل په اندازه دے لرے نه ځی.ځکه چه دخپلو ملګرو نه به پاتې شی.**غلوة**دلام په زور سره دا دې.چه تیرانداز د خپل کمان نه غشے اولی.نود تیر ویشتلو دځائې نه ترغشی غورځیدلوځائې پورې چه کومه فاصله ده.دا **غلوة** ده.او

بعضې حضراتو فرمائيلي دي.چه د درې سوو ګزونو نه تر ځلورو سوو ګزونو پورې "فاصله غلوة" ده.
(يعني چه دے په لينده کښې غشی کيدې.اوهغه اولی.نوچه ترکومے پورې هغه رسيدې شی.د هغه
هومره مسافت په اندازه په ده د اوبو لټون لازم دې.)

دملګري نه د اوبو غوښتلوپه صورت کښې دتيمم حکم

وَإِنْ كَانَ مَعَ رَفِيقِهِ مَاءٌ که دده دسفر ملګری سره اوبه وی طَلَبَ مِنْهُ قَبْلَ أَنْ يَتَيَمَّمَ نودتيمم کولو نه
وړاندې دے دهغه نه اوغواړی فَإِنْ مَنَعَهُ مِنْهُ که هغه ترے منع کړې تَيَمَّمَ نو تيمم دې اوکړی وَصَلَّى او
مونځ دې اوکړی

حل اللغة < ① رفيق: ملګرې ② طلب، طلبًا: لټول غوښتل

تشريح < **طلب الماء من الرفيق قبل التيمم** < مسئله دا ده.که د سفر دملګری سره اوبه وی.نوحکم دا دې. چه د
تيمم کولو نه وړاندې دے دهغه نه اوبه اوغواړی. که هغه اوبه ورکړې.نواودس دے اوکړی.او مونځ دے
اوکړی .ګنی تيمم دے اوکړی.

دليله< دليل دا دې.چه عام طورباندې د اوبو نه منع نشی کولې.او په غوښتلوسره ورکولې شی.نوځکه
د تيمم کولو نه وړاندې غوښتل پکار دی.اوچونکه چه انکار اوکړی.نو عجز متحقق شو.نوځکه به په
دې صورت کښې تيمم کوی.

صورة وجوب طلب الماء< دبعضےعالمانو ﷺ دا رائې ده.که ده ته دا غالب ګمان وی.چه په غوښتلو به ده ته
اوبه ورکړی.نوپه ده باندې طلب کول واجب دې.اوکه غالب ګمان نه وی.نو واجب نه دې.(کفايه)

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

ترجمه< (دا) باب په موزو باندې د مسح کولو (داحکامويه بيان کښې) دې.

تشريح< **وجوه إيراد المسح بعد التيمم**< مصنف رحمه الله دتيمم نه پس متصل د مسح على الخفين احکام ذکر
کړل. ډير خو وجوهاتو له کبله

① تيمم اومسح دواړه رخصت موقته دی
② په دې دواړو کښې هر يو طهارت مسح ده.
③ په دې دواړو کښې هر يو عارض دې.ځکه چه اصل وينځل دی.
④ په دې دواړو کښې هر يو بدل دې.تيمم داودس بدل دې. او مسح على الخفين د غسل الرجلين
بدل دې.
⑤ په تيمم او مسح دواړو کښې د اودس په بعضےاندامونو باندې اکتفی کولې شی.

دمسح ثبوت په سنت باندې

الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ جَائِزٌ بِالسُّنَّةِ په دواړوموزوباندې مسح په سنت سره (ثابته) ده

حل اللغة < ①خفين، دَ خف تثنيه، موزې

تشريح< **ثبوت المسح من السنة** < شيخ قدوری رحمه الله فرمائی.چه د مسح على الخفين ثبوت د قرآن نه شوی
دې.او په دې باره کښې ډير قولی اوفعلی احاديث مشهور دی.ترديےکه يوکس مسح على الخفين

جائزنه ګڼړی.نودا کس بدعتی دي.اوکه یوکس ئې جائزګڼړی.لیکن په عزیمت عمل کوی.یعنی پښې وینځی.نودا کس عندالله ماجور دي.اوده ته به ثواب ملاویږی. په عین الهدایه کښې دی.که په مسح نه کولو کښې په ده باندې د خارجی یا رافضی شك راځی.نوبیا مسح کول افضل ده.

د مسح علی الخفین دجواز شرطونه

مِنْ كُلِّ حَدَثٍ مُوجِبٍ لِلْوُضُوءِ اوجائزده دهر حدث نه چه موجب د اودس وی **إِذَا لَبِسَ الْخُفَّيْنِ عَلَى طَهَارَةٍ كَامِلَةٍ** خوچه دواړه ئې په کامل طهارت باندې اغوستي وی **ثُمَّ أَحْدَثَ** او بیا بې اودسه شوی وی

حل اللغة ﴿۱﴾ یجوز، جاز جوازًا (ن) روا کیدل ﴿۲﴾ موجب: واجب کونکې ﴿۳﴾ لبس ، لبس لبسًا(س): اغوستل

تشریح﴿ جوازالمسح في الحدث الأصغردون الأكبر﴾ مسئله دا ده.چه دمحدث دپاره مسح کول جائز ده.که محدث سړې وی اوکه ښځه وی.خوچه دواړه ئې په کامل طهارت باندې اچولې وی.او کوم کس باندې چه غسل واجب شوې وی.دهغه دپاره په موزو باندې مسح کول جائز نه ده.

تخصیص المسح بالامرین﴿ ﴿۱﴾صاحب دقدوری رحمه الله مسح علی الخفین په دوو خبرو پورې خاص کړله.یودا چه حدث موجب د اودس وی.ځکه که په طهارت کامله ئې موزې واچولې.اوبیا داسې حدث راغلو.چه په هغې باندې غسل واجبیږی.نو په دې صورت کښې مسح علی الخفین جائز نه ده.

﴿۲﴾دویمه خبره دا ده.چه حدث د اودس کولونه پس راغلی وی.ځکه چه موزه حدث د سرایت نه منع کوی. حدث نه لرې کوی.(یعنی کله چه یو سړی موزې اچولې وی.نوکه ده ته حدث پیښ شی.نودغه حدث نورو اندامونو ته ورشی.اوهغه په نجاست حکمی سره پلیت کړی.لیکن چه کله پښو ته اورسی.نودلته ورته رکاوټ اوحائل مخامخ شی.چه موزې دی.نو دغه حدث قدمونوته نشی ورتلې. اوکه په حدث سابق باندې مسح کول جائز ګرځولې شوې وه.نوچه مستحاضه ښځې موزې اچولې وی.اوبیا وخت اوځی.اومتیمم چه موزې ئې په پښو کړی وی.او بیا اوبه اومومی.نوموزې به رافع د حدث شی.حالانکه موزې رافع د حدث نه دی.بلکه مانع دی.

کون لبس الخفین علي طهارة کاملة﴿ اودامام قدوری رحمه الله دا قول چه [اذالبس الخفین علی طهارة] دا قول دا فائده نه ورکوی.چه د موزې اچولو په وخت کښې طهارت کامله شرط دې.بلکه د حدث په وخت کښې طهارت کامله ضروری دې.هم دا زمونږ مذهب دې.نوکه یوکس اول خپلې پښې اووینځلې.او موزې ئې واچولې.او بیا ئې باقی اودس پوره کړلو.او بیا بې اودسه شو.نود هغه دپاره په موزو باندې مسح کول جائز ده.ځکه چه د موزو د اچولو په وخت کښې اګرچه طهارت کامله نه وو موجود.لیکن د طهارت په وخت کښې طهارت کامله موجود وو.

دلیله﴿ دلیل دا دې.چه موزه قدم ته د حدث سرایت نه پریږدی.نود منع په وخت کښې به د طهارت کامله رعایت کولې شی.تردې که په دغه وخت کښې طهارت ناقص وو.نو موزه رافع د حدث نه ده.

د مسحې موده

فَإِنْ كَانَ مُقِيمًا مَسَحَ يَوْمًا وَلَيْلَةً که مقیم وی نو مسح دې کوی یوه ورځ او شپه **وَإِنْ كَانَ مُسَافِرًا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهَا** اوکه مسافر وی نو مسح دې کوی درې ورځې اودرې شپې

حل اللغة ⟨ ① مقیم: چه په خپل کلي او ښار کښې اقامت کونکې. ② چه د خپل کلي نه اته څلويښت ميله بهر تلی مسافر وی

تشريح ⟨ **مدة مسح المقيم والمسافر** ⟨ په دې عبارت کښې د مسح د مودے بيان دې. فرمائی چه مسح د مقيم په حق کښې يوه ورځ اويوه شپه ده. او د مسافر په حق کښې درې ورځې او درې شپې دی.

دليله ⟨ دليل مشهور حديث دې. يعنی د نبی ﷺ قول چه [يمسح المقيم يوما وليلة والمسافر ثلاثة أيام ولياليها] او عامو عالمانو ﷫ ددې حديث نه استدلال کړې دےکوم چه د حضرت صفوان بن عسال ؓ نه مروی دې. [قال أتيت رسول الله ﷺ فقال لی ما جاء بك فقلت طلب العلم فقال ﷺ إن الملائكة لتضع أجنحتها لطالب العلم رضا بما يصنع فما ذا جئت فسل، قال فسألته عن المسح على الخفين فقال ﷺ للمقيم يوما وليلة وللمسافر ثلاثة أيام ولياليها (كفايه)

حضرت صفوان بن عسال ؓ فرمائی. چه زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم. نونبی ﷺ رانه تپوس اوکړلو. څه خيزراوستے ئې. ماورته عرض اوکړلو. د علم طلب. نونبی ﷺ اوفرمائيل: فرښتے خپلے وزرے دعلم دين طالب ته خوره وی. دده په عمل د خوشحالئ د وجې. بيا راته نبی ﷺ اوفرمائيل: دڅه دپاره چه راغلے ئې. دهغې تپوس کوه. فرمائی. ما ترے په موزو باندې د مسحے کولو تپوس اوکړلو. نونبی ﷺ اوفرمائيل: مقيم به يوه ورځ او يوه شپه مسح کوی. اومسافر به درې ورځې او درې شپې مسح کوی.

د مسحې د موده شروع به د څوم وخت نه کیږي؟

وَابْتِدَاؤُهَا عَقِيْبَ الْحَدَثِ اود مسح ابتداء دحدث نه پس ده

حل اللغة◄ ① خف : موزه ② عقيب: روسته

تشریح◄ **إبتداء مدة المسح**◄ د مسحې موده به د حدث د وخت نه شروع کیږي. یعنی کله چه بې اودسه شي نود هغه وخت نه به دمسحې موده حسابیږي

د مسح مسنون طریقه

وَالْمَسْحُ عَلٰى ظَاهِرِهِمَا اومسح د دواړو موزو په ظاهري حصه ده **خُطُوْطًا بِالْأَصَابِعِ** په داسې حال کښې چه دا په ګوتو باندې کرښې راښکل دی **يَبْدَأُ مِنْ قِبَلِ الْأَصَابِعِ** داسې چه) شروع به کوی.د (پښې ګوتو نه **إِلَى السَّاقِ** (د پنډو طرف ته.(چه راښکلې شی)

حل اللغة◄ ① اصابع واحد اصبع: ګوتې ② يبدأ، بدا بدءأ: شروع کول

تشریح◄ **كيفية المسح**◄ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه زمونږ په نیز د موزو په بڼکاره طرف مسح کول ضروری ده.صورت دا دې.چه د ښی لاس ګوتې دې د ښئ موزې په مخکښئ او د ګس لاس ګوتې دې د ګسې موزې په مخکښئ حصه کیږدی.او بیا دې دواړه پنډئ طرف ته د ګیټو دپاسه راکاږی.او ګوتې دې پرانستې ساتی.په موزو باندې د مسحې کولو دا طریقه مسنون ده.اوکه په یوه ګوته درې خله مسح اوکړی.اوبه هر خل نوې اوبه راخلی.نوجائز ده ګنی نه ده جائز.

دلیله◄ دلیل د حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه حدیث دې.چه رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه په خپلو دواړو موزو باندې کیخودل.اوپورته طرف ته نې راښکل.مغیره رضی الله عنه فرمائی.چه لکه زه د رسول الله ﷺ په موزو باندې هغه نښې وینم.کومې چه د ګوتو دوجې پیدا شوی وې.

په دې حدیث کښې دا هم ذکر دی.چه نبی ﷺ یوخل مسح اوکړله. ددې وجې عالمانو رحمهم الله فرمائیلی دی.چه په مسح کښې تکرار کول غیرمشروع دې.په ترمذی کښې دا حدیث په دې الفاظو مروی دې.[قال رأيت النبي ﷺ يمسح على الخفين على ظاهرهما] مغیره رضی الله عنه فرمائی.چه ما نبی ﷺ لیدلې وو.چه دموزو په ظاهرباندې نې مسح کوله.صاحب دهدایه رحمه الله فرمائی.چه د مسحې محل دموزو ظاهر دې.باطن نه دې.نوځکه به د موزو په ظاهر باندې مسح کول واجب وی.

المسح علي ظاهر الخف◄ اوکه دموزو په باطن نې مسح اوکړله.یا په پونده باندې یا ددې په پنډئ.نومسح جائز نه ده.ځکه چه په موزو باندې مسح خلاف قیاس ثابته ده.نوچه په کوم څیز باندې نص وارد شوی وی.دهغې به پوره پوره خیال ساتلې شی.اوچونکه دنص ورود د موزې په ظاهرباندې شوې دې.نوځکه به مسح دموزو په ظاهر باندې مشروع وی په باطن نه.

دلیله◄ دې طرف ته د حضرت علی رضی الله عنه په قول کښې اشاره ده. [لوكان الدين بالرأى لكان أسفل الخف أولى بالمسح من ظاهره ولكني رأيت رسول الله ﷺ يمسح على ظاهر الخفين دون باطنهما] حضرت علی رضی الله عنه فرمائی.که

چرته دين دعقل تابع وي. نو دموزے باطن به د ظاهرنه د مسحے کولو دپاره زيات مناسب وو.ليکن ما رسول الله ﷺ ليدلے وو.چه ددي په ظاهر به ني مسح کوله په باطن به ني نه کوله.

إبتداء المسح من الأصابع> او د گوتو نه د مسح شروع کول مستحب ده.نوکه د پنډئ نه ني شروع اوکړله.نوهم جائزده.وجه داستحباب په وينخلو باندې قياس دي.يعني لکه څنګه چه د پښو په وينخلو کښې دګوتو نه شروع کول مستحب ده. دغه شان د موزو په مسح کښې هم د ګوتو نه شروع کول مستحب دی.

په مسح کښي فرض مقدار

وَفَرْضُ ذٰلِكَ مِقْدَارُ ثَلَاثِ أَصَابِعِ مِنْ أَصَابِعِ الْيَدِ او ددې فرض د لاس په ګوتو کښې د درې ګوتو په اندازه دی

تشريح> **قدر المفروض**> صاحب د هدايه رحمه الله فرمائيلي دی ① چه د درې ګوتو په مقدار باندې مسح کول فرض ده.خو په دې کښې اختلاف دې.چه د پښو ګوتې معتبرے دی اوکه د لاسونو.نو د عامو عالمانو مذهب دا دې.چه د لاسونو ګوتې معتبرے دی.

د موزې د څيروالي په صورت کښي د مسح حکم

وَلَا يَجُوزُ الْمَسْحُ اوجائزنه دی مسح کول عَلٰى خُفٍّ فِيهِ خَرْقٌ كَبِيرٌ په داسې موزو باندې چه په هغې کښې زيات څيرے والے وی يُبَيِّنُ مِنْهُ قَدْرَ ثَلَاثِ أَصَابِعِ الرِّجْلِ چه په هغې کښې د پښو په ګوتوکښې درې ګوتے ښکاری فَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ اوکه ددې نه کم وی جَازَ نوجائز ده

حل اللغة> ①لايجوز، جاز جوازًا(ن): روا کيدل ②خف: موزه ③ خرق: شليدلي ④ کثير: ډير ⑤ اصابع: ګوتې ⑥ رجل: پښې انکشف انکشافًا: ښکاره کيدل

تشريح> **المسح عند الخرق**> که په موزه کښې څيرے والے وی.نوکه کم وی.نومسح جائز ده.اوکه زيات وی.نومسح جائز نه ده.

دليله> دليل دادې.چه موزه عام طور د لږ څيروالي نه خالي نه وی.نوکه د لږ څيروالي په صورت کښې د وينځلوحکم ورکړو.خلق به په مشقت کښې واقع شی.نوکه په دې کښې معمولي څيروالے وی.نوهغه به معاف وی.اود خرق کثيرنه عام طور موزے خالي وی.نو په دې صورت کښې د موزو په ويستلوکښې حرج نشته.نوځکه دا خرق کثير معاف نه دې.

الأقوال الثلاثة في معيارخرق القليل والكثير>باقي پاتې شوه دا خبره چه د خرق قليل اوکثير معيار څه څيزدې.نو په دې باره کښې صاحب د هدايه رحمه الله فرمائي.

①که د پښو د درې ووړوګوتوپه مقدار موزه کهولاو شوه.يا ددې نه زياته نو دا خرق کثير دې.اوکه ددې نه کمه وی.نو دا خرق قليل دې.او دا قول زيات صحيح دې.

② اوحسن بن زياد د امام اعظم رحمه الله نه روايت کړې دې.چه د لاس ګوتې معتبر دی.

③ اوامام شمس الائمه حلواني رحمه الله فرمائي.که څيروالے په غټو ګوتو وو.نوغټې ګوتې معتبر دی.اوکه په ورو ګوتو وو.نو ورے ګوتے معتبردی.

دليل القول الأصح>دقول اصح دليل دا دې.چه په پښوکښې اصل ګوتې دی.که يوکس د بل کس د پښوګوتے

کټ کړلي.نو په هغه باندې پوره دیت واجبیږي.نو په پښه کښې اصل ګوتې دي.او په پنځو کښې درې اکثرے دي.اود اکثر دپاره حکم د کل دې.نودرې ګوتې به د کل قائم مقام شي.نوچه درې ګوتې ښکاره شي.دا داسې شوه.لکه چه ټوله پښه ښکاره شوه.او په ګوتو کښې د ورو اعتبار داحتیاط د وجے شوې دې.یعنی په دې کښې د غټو ګوتو په نسبت احتیاط زیات دې.اوکه په موزه کښې داسې سورے وي.چه په هغې کښې درې ګوتې ننوځي.لیکن د مزل په وخت کښې پښه نه ښکاري.نوددې څه اعتبار نشته.یعنی په داسې موزه باندې مسح کول جائز ده.

اعتبار الخرق في خف واحد ﴿ صاحب د هدایه رحمه الله فرمائي.چه مقدار به په هره موزه کښې جدا جدا معتبر وي. که په یوه موزه کښې ګنړ واړه واړه سورې راجمع کړې شي.اوهغه د درې ګوتو مقدار ته رسي.نو مسح پرے جائز نه ده.اوکه په دوو موزو کښې واړه واړه سورې اوشي.نودهغې اعتبار نشته.یعنی د دوو موزو سورې که د درې ګوتو مقدار ته اورسي. نومسح پرے بیاهم جائز ده.ځکه چه په یوه موزه کښې سورے په بله موزه کښې د سفر کولو نه مانع نه دې.

دجنب دپاره دمسح عدم جواز

وَلَا يَجُوْزُ الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ اوپه موزو باندې مسح جائز نه ده. لِمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْغُسْلُ دهغه کس دپاره چه غسل پرے واجب وي

حل اللغة ﴿ وجب وجوبًا (ض) واجب کیدل

تشریح ﴿ **عدم جوازالمسح للجنب** ﴿ مسئله دا ده.چه په کوم کس غسل واجب وي.نو د هغه دپاره په موزو باندې مسح کول جائز نه ده.صورت دمسئلې دا دې.چه یوکس اودس اوکړلو.او موزې ئې اوکړلو.بیا دے جنب شو.خو ده ته دومره اوبه ملاویدې.چه ده پرے اودس کولے شو.خو غسل ئې نشو کولې.نودے به د غسل دپاره تیمم اوکړي.او د اودس دپاره به دغه اوبه استعمال کړي.او پښے به اووینځي.مسح کول ورته جائز نه دي.

دلائل ﴿ ① د حضرت صفوان بن عسال رضي الله عنه حدیث دې.په هغې کښې ذکر دي.چه د جنابت په حالت کښې د دواړو موزو ویستل او دهغې وینځل ضروري دي.خوکه اودس د متیازو یا خوب د وجے مات شوي وي.نو په دې صورت کښې د موزو ویستلو ضرورت نشته.بلکه مسح پرے جائز ده.

②عام طور جنابت مکرر نه وي.بلکه کله کله دجنابت موقع پیښیږي.او حدث باربار پیښیږي. نو د جنابت په صورت کښې په موزو ویستلو کښې حرج نشته.نومسح جائز نشوه. اود حدث په صورت کښې په بار بار موزو ویستلو کښې حرج شته.اودا خبره معلومه ده.چه مسح علی الخفین د حرج د دفع کولو دپاره مشروع شوې ده.نوچه په کوم ځائې کښې په موزو ویستلو کښې حرج نه وي. هلته به موزے ویستل او د پښو وینځل فرض وي.مسح به جائز نه وي

د مسح نواقض

وَيَنْقُضُ الْمَسْحَ او مسح ماتوي مَا يَنْقُضُ الْوُضُوْءَ کوم څیز چه اودس ماتوي

حل اللغة ﴿ ینقض، نقض نقضًا(ن) ماتول

تشریح ﴿ **ورودناقض الوضوء** ﴿ امام قدوري رحمه الله فرمائي.چه کوم څیزاودس ماتوي.هغه مسح هم ماتوي.

دلیله> ځکه چه مسح علی الخف د اودس جزء دې.اوکوم څیز چه دکل دپاره ناقض وی.د جزء دپاره به په طریقه اولی سره ناقض وی.

وَيَنْقُضُهُ أَيْضًا نَزْعُ الْخُفِّ اود موزے ویستل هم مسح ماتوی

تشریح> خروج الخفین> اودموزے ویستل هم ناقض دی.ځکه چه موزه د حدث دپاره مانع وه.اوچه موزه اووتله.نو مانع ختم شو.او حدث سرایت اوکړلو. او مسح ماته شوه.

دلیله> دحضرت عبدالله بن عمر ﷛ نه روایت دې.چه دوی په یوغزا کښې وو.نبی ﷺ موزے اوویستلې. اوپښے ئې اووینځلې.اود باقی اودس اعاده ئې اونکړله .دغه شان د نورو صحابه کرامو﷡ نه هم منقول دی.

خروج إحد الخفين> دغه شان که په دواړو موزو کښې یوه اووتله.نودواړه موزے به اوباسی.او پښے به اووینځی.او مونځ به اوکړی.

دلیله> دلیل دا دې.چه د غسل او مسحے دواړو په یو عبادت کښې جمع کول متعذر دی.نو بله موزه به هم اوباسی.اودواړه پښے به اووینځی.

دمودې تیریدل اوموزې ویستل

وَمُضِيِّ الْمُدَّةِ او د مسحے د مودے تیریدل (مسح ماتوی)

حل اللغة> ① مضی: تیریدل

تشریح> نقض المسح بمضي المدة> مسئله دا ده.چه د مسح د موده په تیریدو باندې هم مسح ماتیږی.دلیل حدیث سابق دې.یعنی دنبی ﷺ قول [يمسح المقيم يوما وليلة والمسافر ثلاثة أيام ولياليها]

فَإِذَا مَضَتِ الْمُدَّةُ اوکله چه موده پوره شی نَزَعَ خُفَّيْهِ نو دواړه موزے به اوباسی وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ او دواړه پښے به اووینځی وَصَلَّى او مونځ به اوکړی وَلَيْسَ عَلَيْهِ إِعَادَةُ بَقِيَّةِ الْوُضُوءِ او په ده باندې د باقی اودس راګرځول نشته

تشریح> ما يفعل بعد مضي المدة> کله چه موده د مسحے پوره شی.نو موزے به اوباسی.اوپښے به اووینځی.اود باقی اودس راګرځول واجب نه دی.خو په دې شرط چه بل ناقض موجود شوې نه وی.

دلائله> ① دلیل دا دې.چه حدث نوم دے د نجاست د وتلو او دمسحے موده تیریدل داسې نه دی.نویوبه بل باندې قیاس کول قیاس مع الفارق دې.

② دحضرت عبدالله بن عمر ﷛ په اثر سره هم ښکاره کیږی.چه دوی په یوه غزا کښې وو.دوی موزے اوویستلې.او صرف پښے ئې اووینځلې.او باقی اودس ئې اونکړلو.

نقض المسح إخراج الخفين قبل المدة> اوهم دا حکم په هغه صورت کښې دې.چه دمودے د ختمیدو نه وړاندې ده په خپله موزے اوویستلې.یعنی په دې صورت کښې به هم صرف پښے وینځی.د اودس راګرځولو حکم نشته.

دلیله> اودلیل دا دې.چه د موزو ویستلو په وخت کښې سابقه حدث قدمونو ته سرایت اوکړلو.نودا داسې شوه چه ده هډو دواړه پښے وینځلے نه وې.

مقيم چه مسافرشي نو د مسح حکم

وَمَنْ ابْتَدَأَ الْمَسْحَ وَهُوَمُقِيمٌ او کوم کس چه په حالت د اقامت کښې مسح شروع کړله فَسَافَرَ قَبْلَ تَمَامِ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ اوبيا د يوے ورځې او شپې پوره کيدو نه وړاندې مسافر شو مَسَحَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهَا نو درې ورځې اودرې شپې به مسح کوی

حل اللغة ﴿ ①ابتداء ابتداءً: شروع کول ② تمام: پوره کيدل ③سافر، مسافرة: سفرکول

تشريح ﴿ **الصور الثلاثة للمسئلة** ﴿ ددې مسئلې درې صورتونه دی. ①يودا چه په کوم حالت کښې نې موزے اچولے وې.دهغې د ماتيدو نه وړاندې نې سفر شروع کړلو.او بيا په حالت د سفر کښې د څه ناقض د وجے د ده مسح ماته شوه.نو په دې صورت کښې به په اتفاق سره موده د اقامت موده د سفر ته منتقله شی.يعنی درې ورځې او درې شپې به مسح کوی.

② چه دحدث نه پس اود مسحے د مودے پوره کيدو نه پس سفراوکړی.نو په دې صورت کښې په اتفاق سره موده د اقامت مودے د سفر ته نه منتقل کيږی.يعنی په دې صورت کښې به د يوے ورځې اويوے شپې پوره کيدو نه پس موزے اوباسی.

③ چه سفرشروع کړی. د حدث نه پس اود اقامت دمودے پوره کيدو نه وړاندې.نو په دې صورت کښې به زمونږ په نيز موده داقامت مودے د سفر ته منتقل کيږی.يعنی درې ورځې او درې شپې به مسح کوی.

دلائله ﴿ ①دليل د رسول الله ﷺ د قول [يمسح المقيم يوما وليلة والمسافر ثلاثة أيام ولياليها] اطلاق دې.يعنی دهر مسافر دپاره درې ورځې او شپې د مسحے اجازت دې.اوچونکه دے هم مسافر شو.نوده ته به هم دمسحے کولو اجازت وی.

② دويم دليل دا دې.چه دمسحے حکم د وخت سره متعلق دې.او دکوم څيز حکم چه دوخت سره متعلق وی.په هغې کښې به د آخری وخت اعتبار وی.

النظيران له ﴿ ①لکه حائضه چه په آخری وخت کښې پاکه شی.نو د دغه وخت قضاء به راوړی.اودغه شان که پاکه ښځه په آخری وخت کښې حائضه شی.نود دغه وخت مونځ ساقط شو.

②دغه شان که مسافر په آخر وخت کښې مقيم شو.نوپوره مونځ به کوی.اوکه مقيم په آخری وخت کښې مسافر شو.نو قصر به کوی.نوهرکله چه آخری وخت معتبر شو.نومقيم چه د اقامت د مودے پوره کيدو نه وړاندې سفر شروع کړی.نو دسفر موده به پوره کوی.

عکس صور المتن ﴿ په خلاف چه ده د اقامت يوه ورځ او شپه د مسحے موده يوه ورځ اويوه شپه پوره کړې وی.اوبيا سفر شروع کړی.نودے به د سفر موده نه پوره کوی.ځکه چه حدث خو قدم ته سرايت کړې دې.او موزه خو رافع د حدث نه ده.نو د رفع د حدث دپاره به د پښو وينځل ضروری وی.

مسافرچه مقيم شي

وَمَنْ اِبْتَدَأَ الْمَسْحَ وَهُوَمُسَافِرٌ اوڅوک چه شروع کړی په مسح او دې مسافروی ثُمَّ أَقَامَ بيا مقيم شی فَإِنْ كَانَ مَسَحَ يَوْمًا وَلَيْلَةً نو که مسح نې کړی وی يو ورځ او يوشپه أَوْأَكْثَرَ او يا زيات لَزِمَهُ نَزْعُ

خُفَّيْهِ نو لازمیږی په ده باندې ویستل د دواړو موزو خپلو وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْهُ اوکه مسح ئې کمه کړې وی د دې نه تَمَّمَ مَسْحَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ نو پوره دې کړی مسح د یوې ورځې او شپې

تشریح> حکم مسح المسافر إذا أقام> په دې عبارت کښې داولنی صورت عکس دې تفصیل په هغې کښې تیر شوی دې

په جرموقینو باندې دمسحې حکم

وَمَنْ لَبِسَ الْجُرْمُوقَ فَوْقَ الْخُفِّ او چا چه په موزه باندې جرموق واچولې مَسَحَ عَلَيْهِ نو په جرموق به مسح کوی

حل اللغة> ① لبس لبسًا(س) اغوستل ② جرموق: ینځه ③ خف: موزه

تشریح> تعریف الجرموق> جرموق هغه موزه ده.چه په موزو باندې دپاسه اچولې شی .چه موزه دختو نجاست وغیره نه بچ کوی.او دجرموق ساق د موزې دساق نه ورکوټې وی.

في المسح علي الجرموق> زمونږ په نیز موزو دپاسه په جرموق باندې مسح کول جائز ده.

دلائله> ① دلیل دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما حدیث دې.فرمائی.[رأیت رسول الله ﷺ یمسح علی الجرموقین] (۱) یعنی ما رسول الله ﷺ لیدلې وو.چه په جرموقینو ئې مسح کوله.

② عقلی دلیل دا دې.چه په استعمال او غرض کښې جرموق د موزې تابع وی.په استعمال کښې خو ددې وجې چه جرموق د موزې سره وی.اوبه غرض کښې دے وجے چه جرموق دموزې دحفاظت دپاره وی.لکه څنګه چه موزه دپښې د حفاظت دپاره وی . نو په موزه به جرموق داسې وی.لکه ډبله موزه شوه.اود ډبلې موزې په پورتنی طرف باندې مسح کول په اتفاق سره جائز ده.نودموزو دپاسه چه کومې جرموقین وی.په هغې به هم مسح جائزوی.

په جورابو باندې د مسح حکم

وَلَا يَجُوزُ الْمَسْحُ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز په جوربینو باندې مسح کول جائز نه ده إِلَّا أَنْ يَكُونَا مُجَلَّدَيْنِ أَوْ مُنَعَّلَيْنِ مګر دا چه هغه مجلدې یا منعلې وی

حل اللغة> ① جوربین: جورابې

تشریح> قسمي الجورب> مجلده هغه ده.چه دهغې لاندې اوپورته څمړه لګیدلې وی. اومنعله هغه ده.چه دهغې لاندې څمړه لګیدلې وی.د مسح علی الجوربین درې صورتونه دی.

الصور الثلاثة للمسح علي الجوربين> ① چه هغه د ډبلې کپړې وی.اومنعله او یا مجلده وی. په دې صورت کښې په اتفاق سره په جوربینو مسح جائزده.

② چه نه د ډبلې کپړې وی.اونه منعله وی.نو په دې صورت کښې په اتفاق سره پرې مسح جائز نه ده.

③ چه د ډبلې کپړې وی.خومنعله نه وی.نو په دې صورت کښې پرې د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز مسح جائزنه ده.

---

۱) من حديث عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه اخرجه أبوداود في الطهارة باب ٦٠ رقم ١٥٣)۔

دليله ﴿ اود امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دي.چه جورب په موزے پورې ملحق کول په هغه وخت کښې ټيك دی.چه جورب من کل الوجوه د موزے په معنی کښې وی.حالانکه جورب د موزے په معنی کښې نه دی.خکه چه موزے واچوی.نو مسلسل تګ په کښې ممکن دی.او په جورابوکښې مسلسل تګ کول ممکن نه دي.البته که جوراب منعلے وی.نوچونکه په هغې کښې مسلسل تګ کول ممکن دي.نوخکه پرے مسح جائزده.

په ذکرشوی دريم صورت کښې دصاحبينو رحمهما الله په نيز مسح جائز ده.

دلائلهما ﴿ ① دليل د حضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه حديث[أن النبي ﷺ مسح على الجوربين](۱) دي. چونکه حديث مطلق دي.نوپه مطلق جورب باندې به مسح جائزوی.که منعله وی اوکه غير منعله وی.

② عقلی دليل دا دي.که جوربين د داسې ډبلے کپړې وی.چه بغير د تړلو نه په پنډۍ باندې ايساريږی. اوپه هغې کښې مزل کول اوسفر کول ممکن وی.نودا جوربين د موزو مشابه شوې.نولکه خنګه چه په موزو مسح جائزده.دغه شان به په دې هم جائزوی.

الجواب عنه ﴿ اود ابوموسی اشعری رضي الله عنه دحديث محمل هم دا دي.چه هغه جوراب منعلے وي.

رجوع أبي حنيفة إلي قول الصاحبين رحمهم الله ﴿ اودامام ابوحنيفه رحمه الله نه روايت دي.چه دوی د مرض الوفات نه اووه ورځې يا درې ورځې وړاندې په جوربين غير منعلين باندې مسح کړې ده.اوچه کوم حضرات د بيمارپرسۍ دپاره ورغلی وو.هغوی ته ئې اوفرمائيل: [فعلت ماكنت أمنع الناس عنه] ما چه به خلق د کوم کار نه منع کولو.هغه کار مے په خپله اوکړلو.ددې نه معلومه شوه.چه امام ابوحنيفه رحمه الله د صاحبينو رحمهما الله قول ته رجوع کړې ده.صاحب دهدايه رحمه الله فرمائي.چه فتوی په دې مرجوع اليه قول باندې ده.

په څه باندې مسح جائز نه ده

وَلَا يَجُوْزُ الْمَسْحُ اومسح جائزنه ده عَلَى الْعِمَامَةِ په پټکی باندې وَالْقَلَنْسُوَةِ په ټوپۍ باندې وَالْبُرْقَعِ په بورقه باندې وَالْقُفَّازَيْنِ او په دستانوباندې

حل اللغة ﴿ ① عمامة: پټکی ② قلنسوة: ټوپۍ ③ برقع: برقعه ④ قفازين: دستانې

تشريح ﴿ **المسح علي العمامة** ﴿ ① په پټکی په ټوپۍ په بورقه او په دستانوباندې مسح کول جائزنه ده.

دلائله ﴿ ① احناف علماء کرام په آيت قرآنی باندې استدلال کوی.چه ﴿وامسحوا برءوسكم﴾ دا قطعی دي.او د پټکی دمسحے احاديث اخبار احاد دی.اوپه هغې باندې په کتاب الله زيادت ممکن نه دي.په خلاف د مسح علی الخفين خکه چه اول خود قرآن کريم د "جر" په قرات کښې دے طرف ته اشاره ملاويږی.يعنی وارجلكم چه په وامسحوا باندې عطف شی.او مجرور اووئيلی شی.نومعنی به دا شی .چه په پښو بانده مسح کوئ.اودا خبره معلومه ده. چه بغير د موزو نه په پښو مسح کول جائز نه دی.نوپه قرات دجر باندې د عمل کولو دپاره دا وئيلی شی.چه دا قرات د موزو په صورت باندې محمول دي.يعنی کله چه تاسو موزے په پښوکړی وی.نو مسح کوئ.اوبله دا چه د مسح علی الخفين احاديث متواتر دی.نو په دې سره په کتاب الله باندې زيادت جائز دي.

(۱) من حديث مغيرة بن شعبة رضي الله عنه أخرجه أبوداود في الطهارة باب ٦٢ رقم ١٥٩ والترمذی في الطهارة باب ٧٤ وابن ماجه في الطهارة باب ٨٨ رقم ٥٥٩)۔

② په موزو باندې د مسحې کولو رخصت د حرج لرې کولو دپاره ثابت دې.او ددې څيزونوپه لرې کولو کښې څه حرج نشته.نوځکه په دې څيزونو مسح کول جائز نه ده.

په پټو باندې د مسحې کولو حکم

وَيَجُوزُ الْمَسْحُ عَلَى الْجَبَائِرِ اومسح جائزده په پټو باندې وَإِنْ شَدَّهَا عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ اګرکه هغه ئې بغير د اودس نه تړلې وی

حل اللغة﴿ ① جبائر واحد جبيرة: پټئې ② شد شدة (ض) سختيدل، تړل

تشريح﴿ **تعريف الجبيرة**﴿ جبائر د **جبيرة** جمع ده.او جبيره هغه لرګی ته وائي.چه په مات شوی هډوکی پورې تړلې شي.

جوازالمسح علي الجبيرة﴿ قاضی خان فرمائي.چه په جبيره باندې به د مسحې کولو اجازت په هغه وخت کښې وی.چه په زخم باندې مسح کول تکليف ورکوی. اوکه په زخم باندې مسح کول تکليف نه ورکوی.نوپه جبيره به مسح نه کوی. حاصل دا چه په جبائر به مسح کوی.اګرچه بغير د اودس نه ئې تړلې وی.

دلائله﴿ ①دليل دا دې.چه جبيره تړلې شي.په وخت د ضرورت.اوپه هغه وخت کښې د طهارت شرط لګول مفضی الی الحرج دې.نوځکه د طهارت شرط اونه لګيدلو.او په دې باره کښې اصل دا دې. چه نبی ﷺ په خپله هم په جبيره باندې مسح کړې ده.

② د احدپه ورځ چه کله د حضرت علی رضي الله عنه د لاس مروند مات شو.نونبی ﷺ حضرت علی رضي الله عنه ته په جبيره باندې د مسحې کولوحکم کړې وو.(۲)

صاحب د عنايه پوره واقعه داسې ليکلې ده.چه حضرت علی رضي الله عنه د نبی ﷺ جنډه په لاس کښې نيولې وه.چه کله دحضرت علی رضي الله عنه لاس مات شو.او جنډه اوغورځيدله.نونبی رضي الله عنه اوفرمائيل.جنډه په ګس لاس اونيسه.ځکه چه علی په دنيا او آخرت کښې زما د جنډې مالك دې.حضرت علی رضي الله عنه عرض اوکړلو.[مااصنع بالجبائر] په پټو باندې څه اوکړم.نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل: [امسح عليها] په پټو مسح کوه. په دې حديث کښې ددې څه تفصيل نشته.چه پټئ ئې په طهارت تړلې وه اوکه بغير د طهارت نه.نومعلومه شوه.چه په مطلق جبيره باندې مسح کول جائز ده.که په طهارت ئې تړلې وی.اوکه بغير دطهارت نه.

③عقلی دليل دا دې.چه د موزې په ويستولو کښې چه څومره حرج وی.نو د جبيره په لرې کولوکښې دهغې نه زيات حرج وی. نو هرکله چه د حرج لرې کولو د وجې په موزو مسح جائزشوه.نو په جبائرو خوبه په طريق اولی سره جائزوی.

حکم المسح علي بعض الجبيرة وفضلها﴿ باقی پاتې شو ددې حکم که په بعضې جبيره باندې ئې مسح کړې وی اوپه بعضې نه وی کړې.نودا به کافی کيږی که نه ؟ نو په دې باره کښې ظاهر روايت کښې څه ذکر نشته.البته د حسن رحمه الله په امالی کښې دی.چه په اکثره جبيره ئې مسح اوکړله.نوجائز به شي.اوکه د نصف يا ددې نه په کمه ئې مسح اوکړله.نوکافی به نه وی.

۲) حديث علی رضي الله عنه اخرجه الدارقطنی فی سننه (۲۲۶/۱)۔

عدم التوقيت للمسح علي الجبيرة> په جبيره باندې د مسحې كولو دپاره څه موده مقرر نه ده.بلكه د زخم د ښه كيدو پورې به په دې مسح كوی.ځكه چه د مسح على الجبيره د تحديد په باره كښې څه حديث وارد نه دې.

> وَإِنْ سَقَطَتْ مِنْ غَيْرِ بُرْءٍ اوكه جبيره د ښه كيدو نه بغير پريوتله لَا يَبْطُلُ الْمَسْحُ نومسح نه باطليږى وَإِنْ سَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ اوكه په ښه كيدو سره اوغورځيدله بَطَلَ نو مسح باطله شوه

تشريح> په دې عبارت سره په مسح على الجبيره او مسح على الخفين په مينځ كښې فرق كولو ته هم اشاره اوشوه.

الفرق بين المسح علي الجبيرة والمسح علي الخفين> ① ځكه چه په مسح على الخف كښې وخت مقرر دې.او په مسح على الجبيره كښې وخت مقرر نه دې.

② دويم فرق دا دې.چه مسح على الجبيره بغير دطهارت نه هم جائز ده.ليكن مسح على الخف بغير د طهارت نه جائز نه ده

③ دريم فرق دا دې.كه جبيره د زخم د ټيك كيدو نه بغير پريوتله.نومسح نه باطليږي.په خلاف د موزې د مسحې ځكه كه هغه د پښې نه اووتله.نومسح به باطله شي.

دليله>دليل دا دې.چه عذر باقي دې.اوچه تركومې پورې عذر باقي وي.نوپه جبيره باندې مسح كول داسې دی. لكه ددې د لاندې حصې وينځل.ترد ے كه په يوه پښه باندې جبيره وي.اوپه هغې نې مسح كړې وي.نوچه بلې پښې ته موزه واچوي.نوپه هغه موزه باندې مسح كول جائز نه ده.ددې دپاره چه په غسل او مسح كښې جمع لازم نشي.اوكه جبيره پريوتله د زخم ښه كيدو په وجه نو مسح على الجبيره به باطله وي.ځكه چه د كوم عذر د وجې مسح على الخفين جائز وه.هغه عذر زائله شو.

فساد الصلاة بسقوط الجبيرة فيها>اوكه جبيره د مونځ په مينځ كښې اوغورځيدله .په داسې حال كښې چه زخم ښه شوې وي.نود اول نه به مونځ شروع كړي.ځكه چه دا كس په بدل باندې د مقصود حاصلولو نه وړاندې په اصل قادر شو.لكه څنګه چه متيمم د مانځه په دوران كښې په اودس قادر شي.نود سر نه به مونځ كوی.

بَابُ الْحَيْضِ وَالْاِسْتِحَاضَةِ

ترجمه> (دا) باب د حيض او استحاضه (په بيان كښې) دې.

تشريح> **ربط الباب بما قبله**>اوس ددې باب د ماقبل سره مناسبت دا دې.چه په ماقبل كښې د هغه احداثو بيان وو.چه هغه كثير الوقوع وو.او په دې باب كښې دهغه احداثوبيان دې.چه قليل الوقوع دی.

هما من الأحداث أوالأنجاس؟> په دې باره كښې اختلاف دې.چه حيض او نفاس د احداثو نه دی اوكه د انجاسو نه دی.دبعضورائې دا ده.چه دواړه د انجاسونه دی.اود بعضورائې دا ده.چه دواړه د احداثونه دی.دويم زيات مناسب دې.ځكه چه مصنف رحمه الله ددې نه پس باب الانجاس ذكر كړې دې.نوكه دا دواړه د انجاسو د قبيلې نه اومنلې شي.نودا به صرف تكرار شي.

الإعتراض والجواب>لیکن دلته سوال دا دی.چه هرکله دواړه په معنی کښې یو دی.نوبیا به ئې په باب د نفاس ذکر کړې وو.اود حیض به ئې نه کولو.داسې ئې ولې اونکړلو.ددې جواب دا دې.چه د حیض وقوع زیاته ده په نسبت سره نفاس ته. نو ځکه ئې د حیض ذکر اوکړلو.

تعریف الحیض وسببه> حیض په لغت کښې وتونکې وینې ته وائی.او د فقهاؤ په نیزحیض هغه وینه ده.چه د داسې ښځې د رحم نه څی.چه هغه د بیمارئ او ورکوتوالی نه خالی وی.(عنایه فتح القدیر)

سبب بدأ الحیض>په اول کښې دحیض جاری کیدوسبب دا وو.چه حضرت حواء بی بی د منع شوې ونې نه خوراك اوکړلو.نودهغې نه دا وینه روانه شوه. او تراوسه پورې دا امتحان د هغې په لونړو جاری دې.او ترقیامته پورې به جاری وی.

وجه عدم ذکر النفاس في الباب>اوباقی پاتې شوه دا خبره چه په دې باب کښې ئې د نفاس ذکر ولې اونکړلو .حالانکه د نفاس حکم په دې باب کښې مذکور دې. جواب دا دې.چه نفاس د حیض په معنی کښې دې.ځکه چه دحیض ذکر په حقیقت کښې د نفاس ذکر دې.نوچه حیض ئې ذکر کړلو.د نفاس نه مستغنی شو.

دحیض په کمه موده کښې اختلاف

أَقَلُّ الْحَيْضِ دحیض کمه موده ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا درې ورځې او درې شپې دی وَمَا نَقَصَ مِنْ ذٰلِكَ اوکوم چه ددې نه کم وی فَلَيْسَ بِحَيْضٍ فَهُوَ اسْتِحَاضَةٌ نوهغه حیض نه دې بلکه هغه به استحاضه وی

حل اللغة>① حیض: ماهواری وینه

تشریح> **أقل مدة الحیض**> ① زمونږ په نیز دحیض کمه موده درې ورځې او درې شپې دی.اوکومه وینه چه ددې مودې نه کمه وی.هغه استحاضه ده.

دلیله > ①زمونږ دلیل هغه حدیث دې.کوم چه ابوامامه باهلی، عائشې ، عاتکې ، انس او ابن عمر روایت کړې دے[أنه ﷺ قال أقل الحيض للجارية البكر والثيب ثلاثة أيام ولياليها وأكثره عشرة أيام] هم دا مدت د حضرت عمر، علی، ابن مسعود، ابن عباس ، عثمان، ابن ابی العاص،اوانس بن مالك نه منقول دې.او ددې حضراتوروایت داسې دې.لکه چه د نبی ﷺ نه روایت دې.ځکه چه په مقادیرو کښې د قیاس څه دخله نه وی.نو دے حضراتویه د نبی ﷺ نه اوریدلے وی. او د حضرت معاذبن جبل د حدیث الفاظ دا دی [لاحيض دون ثلاثة أيام ولا فوق عشرة أيام]

مذهب ابي یوسف >د امام ابویوسف په نیز دوه ورځې او د دریمې ورځې اکثره حصه موده د حیض ده

دلیله> ځکه چه اکثر قائم مقام د ا کل ده اویه دې قاعده باندې عمل کوی چه ((للاكثر حكم الكل))[1]

دحیض اکثره موده

وَأَكْثَرُهُ اود حیض اکثره موده عَشَرَةُ أَيَّامٍ لس ورځې دی وَمَا زَادَ عَلٰى ذٰلِكَ اوکومه چه په دې باندې زیاته وی فَهُوَ اسْتِحَاضَةٌ هغه به استحاضه وی

[1] **مذهب الشافعي** :-د امام شافعی په نیز یوه ورځ او یوه شپه اقله موده د حیض ده.

حل اللغة ① زائد: زیاتی

تشریح **اكثر مدة الحيض** زمونږ په نیز دحیض اکثره موده لس ورځې دی.

دلیله دلیل هغه حدیث دي. کوم چه په مخکنئ مسئله کښې تیر شوي دې. یعنی [اكثره عشرة أيام]

دحیض دوینې رنګونه

وَمَا تَرَاهُ الْمَرْأَةُ او هغه چه ښځه ئې وینی مِنَ الْحُمْرَةِ یعنی سرخی، وَالصُّفْرَةِ زیړوالې وَالْكُدْرَةِ او خړوالې، فِي أَيَّامِ الْحَيْضِ په ورځو د حیض کښې فَهُوَ حَيْضٌ نوهغه حیض دي. حَتَّى تَرَى الْبَيَاضَ خَالِصًا تر دې چه خالص سپین والې اووینی

حل اللغة ① تراه، رای رؤیة(ف): لیدل ② حمرة: سرخی ③ صفرة: زیړوالي ④ کدرة: خړوالي ⑤ بیاض: سپینوالي

تشریح **الوان الحیض** دحیض رنګونه شپږدی. ① تور ② سور ③ زیړ ④ خړ ⑤ شین ⑥ خاکی. مصنف رحمه الله د تور رنګ ذکر ځکه اونکړلو. چه په دې کښې څه اشکال نشته. چه دا د حیض وینه ده. ځکه چه د نبی ﷺ ارشاد دي. [دم الحیض أسود غبیط محتدم] یعنی د حیض وینه توره تازه او تکه سره وی. په حدیث کښې د غبیط معنی د تازه ده. او د محتدم معنی ده تکه سره. سور رنګ چه کله ډیر سور شی. نو هغه توروالی ته مائل شی. اود خاکی رنګ ذکر ئې ځکه اونکړلو. چه دا خړ رنګ ته نزدې دې. نود خړ رنګ سره د خاکی رنګ ذکر هم اوشو. حاصل دا چه تور او سور رنګ په اجماع سره د حیض وینه دد. او تک شین رنګ په اصح قول سره حیض دي.

اللون المکدر اود طرفینو رحمهما الله په نیز د خړ رنګ وینه حیض دي. که دحیض په اولوورځو کښې وی اوکه په آخری ورځو کښې وی

دلیله دلیل دا دي. چه حضرت عائشي رضي الله عنها د خالص سپینوالی نه علاوه نور ټول رنګونه حیض ګرځولي دي. امام مالك رحمه الله په خپل موطا کښې حدیث بیان کړي دي. [عن علقمة بن ابي علقمة عن أمه مولاة عائشة ام المومنین أنها قالت كان النساء يبعثن إلى عائشة بالدرجة فيها الكرسف فيه الصفرة من دم الحيض ليسألنها من الصلاة فتقول لهن لا تعجلن حتى ترى القصة البيضاء] حضرت علقمه بن ابی علقمه رحمه الله دخپلې مور نه چه هغه د ام المومنین حضرت عائشي رضي الله عنها آزاده شوي وینزه وه. روایت کوی. چه ښځویه حضرت عائشي رضي الله عنها ته ډبی رالیږل. په هغې کښې به د حیض په وینه باندې رنګ شوې کپړه وه. دغه ښځو به د مونځ په باره کښې تپوس کولو. نوحضرت عائشي رضي الله عنها به ورته فرمائیل: تاسو جلتی مه کوئ. ترڅوچه مو خالص سپینوالې نه وی لیدلي. ددې حدیث نه هم ثابته شوه. چه د سپین رنګ نه علاوه باقی نور ټول رنګونه د حیض دی. اوښکاره ده. چه حضرت عائشي رضي الله عنها چه څه کولو. اوځه ئې فرمائیل: هغه به ئې د رسول الله ﷺ نه اوریدلی وی

کون اللون الأخضر من الحیض اوباقی پاتې شوه د شین رنګ وینه نو په دې باره کښې صحیح قول دا دې. که ښځه د ذوات الحیض نه وی. یعنی د داسې عمر وی. چه حیض ئې راځی. نوددې د وینې شین رنګ به حیض وی. او په دې به حمل کولې شی. چه ددې خوراك په هضم کښې څه خرابی ده. چه په

هغې سره ددې د وینې رنګ شین شوې دې.(لکه څنګه چه په بعضې وخت کښې خیټه خرابه شی.او د غټو بولو رنګ بل شان شی.

په حیض باندې د روژې اومونځ ساقط کیدل

وَالْحَيْضُ يُسْقِطُ اوحیض ساقطوی عَنِ الْحَائِضِ الصَّلَاةَ دحائضې نه مونځ کول وَيُحَرِّمُ عَلَيْهَا الصَّوْمَ او په دې باندې روژه نیول حراموی وَتَقْضِي الصَّوْمَ او حائضه ښځه به د روژو قضاء راوړی وَلَا تَقْضِي الصَّلَاةَ اود مونځونو قضاء به نه راوړی

حل اللغة﴿① یسقط، اسقط اسقاطاً: غورزول ② یحرم، حرم تحریماً: حرام کوم ③ تقضی قضی یقضی قضاءً: قضا کول

تشریح﴿ **سقوط الصوم والصلاة**﴾ ددې خائې نه د حیض د احکامو بیان دې. په نهایه کښې لیکی. چه دحیض په باره کښې دولس احکام دی.اته خوداسې دی.چه په هغې کښې حیض اونفاس مشترك دی. اوڅلور داسې دی.چه په هغې کښې حیض خاص دې.په دغه اتوکښې یو مونځ پریخودل او قضاء نې نه راوړل دی.بل دروژې پریخودل اوبیا قضاء راوړل دی.یعنی دحائضه ښځې نه مونځ ساقطیږی. او ددې قضاء پرې نشته.او روژه ترې ساقطیږی.خو دهغې قضاء پرې شته.

دلائله﴾ ① دلیل دا دې.چه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی.چه په مونږ زنانو کښې به څوك د رسول الله ﷺ په زمانه کښې پاکه شوه.نود مونځونو قضاء به نې نه راوړله.اود روژو قضاء به نې راوړله.

② عقلی دلیل دا دې.چه د مونځونو په قضاء کښې حرج دې.څکه چه هغه دوچنده کیږی.اود روژو په قضاء کښې حرج نشته.یعنی که په ټول کال کښې د یوې ښځې نه دحیض د وجې مثلاً لس روژې پاتې شی.نو په باقی یوولسو میاشتوکښې به د هغې قضاء راوړی.اومونځ داسې نه دې.څکه روزانه پنځه مونځونه فرض دی.نوچه د پاکۍ راتلو نه پس دا روزانه د پنځو وختونو مونځونو قضاء راوړی .نو روزانه لس مونځونه شو.پنځه قضاء او پنځه ادې.نو داسې په دې باندې دوچنده مونځونه شو.اوحیض خو په هره میاشت کښې راځی.نوښکاره خبره ده.چه په دې کښې حرج اوتکلیف دې.اوالله تعالی د خپلوبندګانو نه تکلیف لرې کړې دې. فرمائی.﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾ نوځکه په حائضه ښځه باندې د مونځونو قضاء نشته.

الإعتراض والجواب﴾دلته کښې یواشکال راځی.چه وجوب قضاء موقوفه ده په وجوب ادا باندې.څکه چه قضاء خلیفه دې د ادې.اوخلیفه په هغه سبب باندې واجبیږی.په کوم سبب چه اصل واجب شوې وی.نوهرکله چه په حائضه باندې د روژې نیول واجب نه دی.نودغه شان پرې دروژې قضاء هم پکار ده چه واجب نه وی.ددې جواب دادې.چه قاعده خوهم دا ده. لیکن د روژې قضاء خلاف القیاس په نص سره ثابته شوې ده.نوځکه روژې قضاء راوړلې شی.

جمات ته د داخلیدو ممانعت

وَلَا تَدْخُلُ الْمَسْجِدَ اوحائضه به جمات ته نه داخلیږی

حل اللغة﴿① لاتدخل، دخل دخولاً (ن): داخل کیدل ② جنب: جنبی ③ لاحل احلالاً: حلال کیدل ④ عبور: پورې وتل ⑤ مرور: تیریدل]

تشریح﴿ دخول المسجد بطریق العرور﴾ دریم حکم دا دې.چه حائضه به جمات ته نه داخلیږی.او دغه شان حکم د جنب هم دې.

دلیله﴿دلیل د حضرت عائشې رضي الله عنها حدیث دې.چه [أن النبی ﷺ قال وجهوا هذه البیوت عن المسجد فإنی لا أحل المسجد لحائض ولا جنب](۱)چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.د کورونو دروازے دجمات نه واړوئ. ځکه چه زه جمات د حائضے او جنب دپاره نه جائزکوم.

یعنی چه ستاسو د کورونو دروازے جمات طرف ته وی.نوښکاره خبره ده.په بعضې وخت کښې سړې جنب وی.یا دغه شان ښځه حائضه وی.چونکه چه دروازه جمات طرف ته وی.نوتګ راتګ به هم په جمات وی.چونکه جمات دالله تعالی کور دې.اومقدس مقام دې.نوتاسو ځکه منع کوم.چه دا دروازے د جمات نه واړوئ.ځکه چه په حالت د جنابت اوحیض کښې ستاسو تیریدل هم جائزنه دی

د طواف او وطې کولو حرمت

وَلَا تَطُوفُ بِالْبَيْتِ اوحائضه به دخانه کعبې نه به طواف نه کوی

حل اللغة﴿ ① لاتطوف، طاف طوافًا (ن): طواف کول، راتاویدل]

تشریح﴿ حرمة الطواف وعلتها﴾ څلورم حکم دا دې.چه حائضه به د بیت الله نه طواف نه کوی. دلیل دا دې .چه خانه کعبه په مسجدحرام کښې ده.او د حائضے دپاره جمات ته داخلیدل جائز نه دې.نوطواف هم جائز نشو.

تضعیف العلة﴿علامه نجم الدین زاهدی رحمه الله فرمائی.چه دحرمت طواف دپاره په دې علت کښې ضعف دې.ځکه چه ددې تقاضا دا ده.چه دحائضے دپاره طواف ځکه ممنوع دې.چه د خانه کعبه په جمات کښې ده.اود حائضے دپاره جمات ته داخلیدل ناجائزدی.نوطواف هم ناجائزشو.که دا علت وی.نویکار دا وه.که حائضه د جمات نه بهر وی.او خانه کعبې نه طواف کوی.چه دا طواف صحیح وی.لیکن ددې دپاره طواف مطلقاً ناجائزدې.که د مسجد حرام نه بهر وی اوکه دننه.حالاتکه د پاکې ښځې دپاره د مسجد نه بهر طواف کول جائز دی.

العلة الصحیحة﴿نوځکه زیات مناسب دا وه.چه د حرمت طواف دپاره علت دا ګرځولې شوې وو.چه طواف د مونځ پشان دې.او نبی ﷺ فرمائیلی دی.[الطواف بالبیت صلاة] یعنی دبیت الله نه طواف کول مونځ دې.نولکه څنګه چه د حائضے دپاره مونځ ممنوع دې.دغه شان طواف هم ممنوع شو.ځکه چه طواف هم حکماً مونځ دې.

وَلَا يَأْتِيهَا زَوْجُهَا اودے (حائضې) ته به ددې خاوند نه ورځی

تشریح﴿ حرمة الوطئ﴾ اوپنځم حکم دا دې.چه حائضے ښځې سره جماع کول حرام ده.

دلیله﴿دلیل دالله ﷻ قول دې.﴿وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ﴾ نوکه خاوند په حالت د حیض کښې بی بی سره وطی کول حلال اوګنړلو . نو دے کافر کیږی.اوکه حرام ئې ګنړی. نوفاسق شو.او دګناه کبیره مرتکب شو.

۱) من حدیث عائشة رضي الله عنها أخرجه أبوداود فی الطهارة باب ۹۲)۔

حکم الصدقة عند الوطي في حالة الحیض> اوکه په حالت دحیض کښې ئې وطی اوکړله. ① نوتویه پرې واجب ده.او یودینار یا نیم دینار به صدقه کوی.

② اوبعضو فرمائیلی دی.که د حیض په اول کښې ئې وطی اوکړله.نو یو دینار به ورکوی. اوکه په آخر دحیض کښې ئې وطی کړې وی.نونیم دینار به ورکوی.

دحائضې اوجنب دپاره د قرآن د تلاوت حرمت

وَلَيْسَ لِلْحَائِضِ وَالْجُنُبِ وَالنُّفَسَاءِ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ اوجائزنه دی د حائضې جنب او نفاسې دپاره د قرآن پاك لوستل

حل اللغة> ① نفساء: دَ نفاس والا ښځه ② قرا، قرا قراءةً (ف) لوستل

تشریح> **حکم قراءة القرآن**>شپږم حکم دا دې. چه د قرآن پاك لوستل جائزنه دی.د حائضې دپاره او د جنب دپاره که ښځه وی اوکه سړې وی.اود ماشوم دپاره هم جائزنه دې.نه د یو آیت لوستل جائز دی.اونه ددې نه کم.

دلیله> دلیل د نبی ﷺ ارشاد دې.چه [لاتقرأ الحائض ولا الجنب شیأمن القرآن](۱)

دقرآن پاك د مسه کولو حکم

وَلَايَجُوْزُ لِلْمُحْدِثِ مَسُّ الْمُصْحَفِ اوجائزنه دی د بې اودسه دپاره د قرآن پاك مسه کول إِلَّا أَنْ يَأْخُذَهُ بِغِلَافِهِ مګر دا چه د هغې په غلاف سره ئې اونیسی

حل اللغة> ① مس: لاس لګول ② غلاف : استر

تشریح> **مس القرآن للمحدث**> اووم حکم دا دې.چه د بې اودسه دپاره دغه شان دحائضې نفاسې او جنب دپاره د قرآن پاك مسه کول جائز نه دی.اوهغه روپئ چه په هغې کښې د قرآن پاك یو آیت وی. د هغې مسه کول هم جائز نه دی.مګرپه همیانئ یعنی تیلئ سره ددې مسح کول جائز دې.اودا حکم د بې اودسه سړی هم دې.

دلیله> دلیل د نبی ﷺ ارشاد دې. چه [لایمس القرآن إلا طاهر](۲)یعنی قرآن به صرف پاك سړې مسح کوی.

وجه الفرق بین المحدث والجنب في حکم القراءة>صاحب دهدایه رحمه الله فرمائیلی دی .چه حدث اوجنابت دواړه د مصحف د مسه کولو په حکم کښې برابر دی. خو د قرآن د تلاوت په حکم کښې دواړه جدا جدا دی.نوبې اودسه دپاره د قرآن تلاوت جائز دې.او د جنب دپاره جائز نه دې.وجه دا ده.چه حدث اوجنابت دواړه په لاس کښې حلول کوی.نوځکه مصحف ته لاس اوړل جائز نه دی.اوحدث په خوله کښې دننه سرایت نه کوی.هم دا وجه ده.چه په اودس کښې خوله کښې اوبه اچول فرض نه دی.او جنابت په خوله کښې حلول کوی.(ځکه خو په غسل کښې د خولې وینځل فرض دی) نود بې اودسه دپاره تلاوت جائزاو دجنب دپاره ناجائز شو.

---

۱) من حدیث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه الترمذی فی الطهارة باب ۱۲۶ رقم ۱۴۵۔

۱) من حدیث عمروبن حزم رضي الله عنه أخرجه الحاکم فی المستدرك (۱\۳۹۵) والدارقطنی فی سننه (۱\۱۲۱) والبیهقی فی السنن الکبری (۱\۱۴۱)ومعرفة السنن والآثاررقم ۱۰۶۔

حکم المس بغلاف ﴿ صاحب دقدوری فرمائی.چه غلاف هغه دې.چه د مصحف سره لګیدلے نه وی.یعنی د ماس (ګوتې اوړونکی) او ممسوس (چه څه ته ګوتې وراوړی) په مینځ کښې واسطه وی.او مصحف سره متصل نه وی.لکه مشر (چه په شریشولګیدلے) وی.حاصل دا چه د غلاف نه د قرآن پاك تیلی مراد ده.

المراد من الغلاف ﴿ صاحب نقایه فرمائی.چه د غلاف په مصداق کښې عالمانو اختلاف کړې دې. ① بعضو فرمائیلی دی.چه غلاف هغه دې.چه مصحف سره متصل وی.یعنی شریش شوې وی.(دغه شان چه ګنډلے شوی وی.یا په پن سره لګیدلے وی.هغه هم د مشرز په حکم کښې دې. ② او بعضې عالمان فرمائی .چه لستونړی مراد دې.

③ او بعضو فرمائیلی دی.چه د غلاف نه مراد هغه تیله ده.چه قرآن په کښې کیخودلے شی.دا قول زیات صحیح دې.ځکه چه شریش شوې خو د قرآن تابع دې.او لستونړے د مسه کونکی تابع دې.اوتیله په دې دواړو کښې د یو تابع هم نه ده.

حکم الکتب الشرعیة ﴿شرعی کتابونه ددې په خلاف دی.ځکه چه د اهل علم دپاره په لستونړی سره ددې د مسه کولو اجازت شته.ځکه چه د هغوی ضرورت دې.او دعامو مشائخو ﷺ هم دا رائې ده.

حکم مس الصبیان ﴿اوړے اودسه ماشومانوته دقرآن پاك په ورکولوکښې څه باك نشته.ځکه که دا اجازت ورنکړې شی.نودوه صورتونه دی.یاخو به دوی د قرآن د مسه کولو نه منع کولې شی.اویا به ورته د طهارت حاصلولوحکم ورکولې شی.په اول کښې د قرآن پاك ضائع کیدل لازمی دی.او په دویم صورت کښې ماشومان په مشقت اوحرج کښې اچول دی.(اوحرج د لویوپه حق کښې مرفوع دےنود ماشومانو په حق کښې خویه په طریق اولی سره مرفوع وی.

دلسو ورځونه وړاندې د وینې اودریدل

فَإِذَا انْقَطَعَ دَمُ الْحَيْضِ لِأَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ أَيَّامٍ اوکله چه د حیض وینه د لس ورځو نه په کمه موده باندې اودریږی لَمْ يَجُزْ وَطْؤُهَا نود دغه ښځې سره وطی کول جائزنه دی حَتّٰى تَغْتَسِلَ تردے چه غسل اوکړی أَوْ يَمْضِيَ عَلَيْهَا وَقْتُ صَلَاةٍ كَامِلَةٍ اویا په دې باندې دکامل مانځه وخت تیر شو

حل اللغة ﴿ ①انقطع: بندیدل ②دم: وینه ③ مضی مضیاً(ض) تیریدل

تشریح ﴿ **صورتې جوازالوطئ؟** ﴿ اتم حکم دا دې.

①که دعادت مطابق د لسو ورځو نه په کمه موده باندې وینه اودریدله.نووطی کول جائزنه دی.تردے چه دغه ښځه غسل اوکړی.

دلیله ﴿ دلیل دا دې.چه وینه کله جاری کیږی اوکله اودریږی.نو د اودریدو جانب ته ترجیح ورکولو دپاره غسل کول ضروری دی.

②که ښځې د انقطاع نه پس غسل اونکړلو.اودومره وخت تیر شو.چه دے په کښې غسل کولے شو. او تکبیر تحریمه ئې ترلے شوه.نواوس ورسره وطی کول حلال دی.

دلیله﴿ځکه چه مونځ ددې په ذمه قرض شو.نوحکماً دا پاکه شوه.ځکه چه کله شریعت ددې په ذمه مونځ فرض کړلو. نو ګویاچه شریعت ددې د طهارت حکم ورکړلو.ځکه چه په حالت دحیض کښې خو مونځ صحیح نه دې.

حکم الإنقطاع فوق الثلاثة وقبل العادة ﴾صورت دمسئلې دا دې.که وینه د درې ورځو نه په زیاته موده اود عادت نه په کمه موده اودریدله.مثلاً عادت ئې اووه ورځې وو.اووینه په پنځمه اودریده.نوپه داسې صورت کښې د داسې ښځې سره وطی کول جائز نه دی.ترڅو چه عادت ئې پوره شي.اګرچه غسل اوکړي.ځکه چه په عادت کښې اکثر وینه بیا راځی.نو احتیاط هم په دې کښې دې.چه د وطی نه اجتناب اوکړی.

وَاِنِ انْقَطَعَ دَمُهَا اوکه د دې وینه اودریده **لِعَشَرَةِ اَيَّامٍ** په لسمه ورځ **جَازَ وَطْيُهَا** نو دے سره وطی کول جائز ده **قَبْلَ الْغُسْلِ** وړاندې د غسل نه

تشریح ﴾ **حکم إنقطاع الدم بالعشرة**﴾ اوکه په لسمه ورځ وینه اودریدله.نو دے سره د غسل نه وړاندې وطی کول جائزدی.ځکه چه د حیض وینه د لسو ورځو نه زیاته نه وی.نو معلومه شوه.چه حیض ختم شوې دې.

استحباب تاخیرالوطي الي بعد الغسل﴾البته دومره ده.چه دغسل نه وړاندې وطی کول مستحب نه دی. دهغه ممانعت دوجے کوم چه په قراءت د تشدید کښې راغلے دې.په قراءت د تشدید کښې یعنی ﴿وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتّٰى يَطَّهَّرْنَ﴾ (دطاء او هاء په شد سره) په دې قراءت کښې مبالغہ مطلوب ده.(چه دوی ښه پاکې شی. او مبالغه (یعنی ښه پاکې. از مترجم) به هله راشی. چه د وینے بندیدو نه پس غسل هم اوکړی.دا قراءت اګرچه دواړو صورتونو ته شامل دې.که لس ورځې وی اوکه د لسو نه کمے وی.لیکن فرق به دا وی.که د لسو نه کمه موده باندې وینه اودریدله .غسل به ضروری وی.دغسل نه وړاندې ورسره وطی کول جائز نه ده.اوکه په لسمه ورځ اودریدله .نو دغسل نه وړاندې هم وطی جائزده.لیکن مستحب دا ده.چه غسل اوکړی.

د طهرفاصل او غیر فاصل بیان

وَالطُّهْرُ اِذَا تَخَلَّلَ بَيْنَ الدَّمَيْنِ اوطهرکله چه د دوو وینو په مینځ کښې واقع شی **فِي مُدَّةِ الْحَيْضِ** په موده د حیض کښې **فَهُوَ كَالدَّمِ الْجَارِيْ** نودا جاری وینے پشان دې.

حل اللغة﴾ ① طهر: پاکی ② تخلل تخللاً: په مینځ کیدل

تشریح﴾ **أقسام الطهر**﴾طهر(د طاء په پیښ سره) د دوو حیضو په مینځ کښې هغه وخت ته وائی.چه جداوالے ئے راوستے وی.بیا طهر په دوه قسمه دې.طهرفاسد (ناقص) اوطهر کامل. طهر کامل په اتفاق سره فاصل وی.

توضیحه﴾ طهرناقص که په پنځلس ورځو کښې د دوو وینو په مینځ کښې دحیض په موده کښې واقع شو.نودا طهر به فاصل نه وی.بلکه دا ټوله موده به حیض ګڼړلې شی.مثلاً یوه داسې ښځه چه په اول خل پرے حیض راشی.یوه ورځ وینه جاری وی.بیا اته ورځې بنده وی. بیائې یوه ورځ وینه اولیدله.نو دا لس واړه ورځې به حیض وی.دا روایت امام محمد رحمه الله د امام اعظم رحمه الله نه کړې دې.

دلیله﴾ دلیل دا دې.چه دحیض په موده کښې مسلسل وینه راتلل د چا په نیز باندې شرط نه دې.نود وینے په راتلو کښې به اول او آخر معتبر وی.لکه څنګه چه د زکاة په وجوب کښې د کال اول او آخر معتبر وی.(چه دکال په اول او آخر کښې ورسره نصاب برابر وی.نوکه مینځ کښې د نصاب نه مال کم شوې وی.بیا هم زکاة واجب دې. د ټول کال راګیرول شرط نه دې.

الرواية الثانية> د امام ابوحنيفه رحمه الله نه په دې مسئله کښې دويم روايت دا منقول دی چه طهرناقص مطلقاً فاصل نه دې.اګرچه دا طهر د لسو ورځو نه زيات ولې نه وی.دا قول داامام ابويوسف رحمه الله دې.اودا د امام ابوحنيفه رحمه الله آخرى قول دې. ددې قول په بناء د حيض اول اوآخر دواړه طهر کيدے شی.ددې صورت دا دې. چه د يوے ښځې عادت دا وی.چه دهرے مياشتې د اول تاريخ نه تر لسم تاريخ پورې وينه وينی.نودے د خپل عادت نه يوه ورځ وړاندې وينه اوليدله.او بيا لس ورځې پاکه وه.نواوس دا لس ورځې به حيض وی.چه په دغه کښې ئې هډو وينے ليدلے نه ده.اود عادت نه يو ورځ وړاندې وينه اود لسو ورځو نه پس يوه ورځ وينه دا دواړه به استحاضه وی.په مفتی اومستفتی دواړو باندې د آسانتيا دوجے دا قول مفتی به دې.(كذافى الهدايه)

د طهر موده

وَأَقَلُّ الطُّهْرِ خَمْسَةَ عَشَرَيَوْمًا او د طهر ادنی موده پنځلس ورځې دی

تشريح> **أقل مدة الطهر**> فرمائی.چه کمه موده د طهر پنځلس ورځې دی.اودا قول د ابراهيم نخعی تابعی رحمه الله نه هم منقول دې.

دلائل> ①دا ښکاره ده.چه ابراهيم نخعی رحمه الله به د صحابی نه اوريدلی وی.او صحابی به د نبی ﷺ نه اوريدلی وی.ځکه چه دا مقدار دې.اوپه شريعت کښې مقدار په سماع سره ثابتيږی.په قياس سره د مقاديرو اندازه نشی کولې.

②شيخ ابومنصور ماتريدی رحمه الله ددې دپاره استدلال کړې دې.چه د طهر کمه موده پنځلس ورځې دی.چه الله تعالی د صغيرے اوآئيسے په حق کښې يوه مياشت د طهر او حيض دواړو قائم مقام ګرځولې دی.اوقاعده دا ده.چه کوم څيز دوو څيزونوته منسوب وی.نو هغه څيزبه په دواړو برابر برابر تقسيمولے شی.نومناسب خودا وه.چه نيمه مياشت دحيض وه اونيمه د طهر.ليکن په دې باندې نص موجود دې.چه حيض د نيمے مياشتې نه کم وی.نوحيض دپنځلسو ورځو نه کم شو.اوطهر به خپل تقسيمی موده باندې باقی پاتې شو.

③په مبسوط کښې دی.چه موده د طهرد اقامت د مودے نظير دې.نولکه څنګه چه په حالت داقامت کښې کم شوې مونځونه واپس پوره کيږی. اودغه شان روژه چه په حالت د سفر کښې نې نيول معاف وی.نوپه حالت د اقامت کښې دهغې راګرځول فرض کيږی.اود احاديثو نه دا خبره ثابته ده.چه کمه موده د اقامت پنځلس ورځې ده.نودغه شان به کمه موده د طهر هم پنځلس ورځې وی.اوهم ددې وجې د سفر په کمه موده چه درې ورځې دی. کمه موده د حيض مقدرکړې شوې ده.چه درې ورځې دی.ځکه چه دواړوکښې هر يوپه مونځ او روژې کښې تاثير کوی.(ځکه چه د درې ورځو سفر په مانځه کښې قصر پيدا کوی.او په روژه کښې افطار جائز کوی.اودغه شان حيض مونځ او روژه ساقط کوی.

وَلَا غَايَةَ لِأَكْثَرِهِ او د زيات طهر څه اندازه نشته

تشريح> **أكثر مدة الطهر**>اود اکثر طهرڅه اندازه مقرر نه ده.نوترڅو پورې چه دا طهر ګوری.نو مونځونه او روژې دے نيسی.اګرچه دا طهر ددې ټول ژوند راګير کړی. ځکه چه بعضې وخت طهر يوبو کال دوه

دوه کاله جاري وي.بلکه ددې نه هم زيات وي. ددې وجې د طهر د زياتے موده څه حد نشي مقرر کولې.

أيام طهر المبتدئة المستحاضة> البته که د ښځې وينه هميشه دپاره جاري شي.نو په دې صورت کښې دعامو عالمانو ﷫ په نيز خامخا څه مقدار مقرر کول ضروري دی.نوکه يوه ښځه په اول ځل حائضه شي. او ددې وينه بنده نشوه.نوپه هره مياشت کښې به لس ورځې د حيض وي.اوباقي ورځې به طهر شمارلے شي.نوکه مياشت د ديرشو ورځو وي.نوطهر به شل ورځې وي.اوکه مياشت د يوکم ديرش ورځو وي.نو طهربه نورلس ورځې وي.

استحاضه څه نه منع کوي

وَدَمُ الِاسْتِحَاضَةِ او داستحاضه وينه **هُوَمَا تَرَاهُ الْمَرْأَةُ** دا هغه وينه ده چه وينې ئې ښځه **أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ** کمه د دريو ورځونه **أَوْأَكْثَرَمِنْ عَشَرَةِ أَيَّامٍ** اويا زياته د لسو ورځو نه **فَحُكْمُهُ حُكْمُ الرُّعَافِ** نود دې حکم پشان د حکم د پوزے دوينے پشان **لَايَمْنَعُ الصَّلَاةَ وَلَا الصَّوْمَ وَلَا الْوَطْي** نه مونځ منع کوی نه روژه منع کوی اونه وطی

حل اللغة> ① رعاف: نکسير ②لايمنع، منع منعًا(ف): منع کيدل ③حصير: پوزکې]

تشريح> وجه المشابهة مع الرعاف> داستحاضه وينه د پوزے د وينے پشان ده.يعنی څنګه چه د پوزے وينه د رګ نه راځي.دغه شان د استحاضه وينه هم د رګ نه راځي.نولکه څنګه چه د پوزے وينه روژه مونځ او وطي نه منع کوی.دغه شان داستحاضه وينه هم داځيزونه نه منع کوي.

دليله> دليل هغه حديث دې.کوم چه ابن ماجه دام المومنين ﷞ نه نقل کړې دې. پوره حديث دا دي.[عن عائشة قالت جاءت فاطمة بنت أبي حبيش إلى النبي ﷺ فقالت إني إمرأة أستحيض فلا أطهر أبدا أفأدع الصلاة فقال ﷺ لا إجتنبي الصلاة أيام محيضك ثم اغتسلي وتوضئ لكل صلاة ثم صلي وإن قطر الدم على الحصير] (١) ام المومنين حضرت عائشه ﷞ فرمائي.چه فاطمه بنت ابی حبيش نبی ﷺ ته راغله.او عرض ئې اوکړلو.چه زه استحاضه ښځه يم. هميشه دپاره رانه وينه روانه وي.آيا زه مونځ پريږدم؟نبی ﷺ ورته اوفرمائيل: نه بلکه د حيض په ورځو کښې مونځ پريږده.اوبيا غسل کوه.اودهر مانځه دپاره اودس کوه.اومونځ کوه. اګرچه په پوزی باندې وينه څاڅي.

وَإِذَا زَادَ الدَّمُ عَلَى عَشَرَةِ أَيَّامٍ او کله چه زياتی شی وينه په لسو ورځو **وَلِلْمَرْأَةِ عَادَةٌ مَعْرُوفَةٌ** اودښځې معلوم عادت وی **رُدَّتْ إِلَى أَيَّامِ عَادَتِهَا** نو واپس کولې به شی ورځو دعادت خپل ته **وَمَا زَادَ عَلَى ذٰلِكَ فَهُوَاسْتِحَاضَةٌ** او کومه وينه چه زياتی وی په هغې (عادت) باندې نو هغه به استحاضه وی

تشريح> الزيادة على العادة التي تكون أقل من عشرة أيام> داحنافوعالمانو ﷫ په نيز چه کوم حکم متفق عليه وو .امام قدوری ﷬ هغه حکم بيان کړلو.اود مختلف فيه ذکرئې اونکړلو . نو اول مختلف فيه اوګوری.

---

١) من حديث عائشة ﷞ قالت جاءت فاطمة بنت أبي حبيش إلى النبيﷺ الحديث أخرجه ابن ماجه في الطهارة باب ١١٥ والنسائي في الطهارة باب ١٢٠ والدارمي في الوضوء باب ٨٦ وأحمد في المسند (٤٢\٦)۔

الزيادة علي العادة وعلي عشرة أيام> چه د يوے ښځې عادت د لسو ورځو نه كم وي.ليكن دا خل نې وينه د لسو ورځو نه زياته شوه.نو په دې صورت كښې حكم دا دې.چه كومه وينه د عادت په ورځو كښې راغلے وي.نوهغه به حيض وي.اوچه كومه وينه په زياتى ورځو كښې راغلے وي. هغه به استحاضه وي.

دلائله> ① د نبى ﷺ دا ارشاد دې.چه [تدع المستحاضة الصلاة أيام أقرائها](٣)په حديث كښې د[أيام أقرائها]نه مراد دعادت ورځې دى.نود حديث مطلب دا شو.چه مستحاضه ښځه به د خپل عادت په ورځو كښې مونځ پريږدى .او د عادت د ورځو نه په زياتى ورځو كښې به مونځ نه پريږدى.
② عقلى دليل دا دې.چه د عادت د ورځونه زياتى وينه د لسوورځو نه د زياتى وينے پشان ده.اوكومه وينه چه دلسو ورځونه زياته وى.هغه په اتفاق سره استحاضه ده.نودغه شان چه كومه وينه په عادت باندې زياتى وى.هغه به هم استحاضه وى.

وَإِنِ ابْتَدَأَتْ مَعَ الْبُلُوغِ مُسْتَحَاضَةًاو كه په بلوغت سره مستحاضه شوه فَحَيْضُهَا عَشَرَةُ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ نودهغې حيض به په هره مياشت كښې لس ورځې وي وَالْبَاقِي اسْتِحَاضَةٌاوباقى به استحاضه وى

تشريح> طهر من إبتدأت مستحاضة> اوكه دا سې ښځه وى.چه ورانديې پرے حيض نه وى راغلې. بلكه په اول خل حائضه شى.اوهم ددې حيض نه مستحاضه شى.نوپه هره مياشت كښې به لس ورځې د حيض وى.او باقى به استحاضه وى.

دليله> خكه كه په لسمه ورځ ددې وينه اودريدله.نودا لس ورځې به ټولې دحيض وې.خو هركله چه وينه د لسونه زياته شوه.نو په دې كښې شك راغلو.چه د درې ورځو نه زياتى حيض دے كه استحاضه؟ نويقينى څيز به ددې شكى څيز د وجے نشى زائله كيدې.(يعنى دا يقينى خبره ده.چه د حيض لس ورځې اكثره موده د حيض ده.او دا احتمالى خبره ده.چه كيدے شى.ددې حيض د لسو ورځو نه كم وى.نويقنى چه لس ورځې دى د شكى چه د لسو نه كمے دى.د وجے نشى زائله كيدې.

د هرمانځه د وخت دپاره د مستحاضه اودس

وَالْمُسْتَحَاضَةُ مستحاضه وَمَنْ بِهِ سَلَسُ الْبَوْلِ اوكوم سړى باندې چه د متيازو بيمارى وى وَالرُّعَافُ الدَّائِمُ اودچا چه هميشه دپاره د پوزے نه وينه روانه وى وَالْجُرْحُ الَّذِي لَا يَرْقَأُ او هغه زخم چه جوړيږى نه يَتَوَضَّئُونَ لِوَقْتِ كُلِّ صَلَاةٍ نودا خلق به اودس كوى دهرمانځه د وخت دپاره وَيُصَلُّونَ بِذَلِكَ الْوُضُوءِ فِي الْوَقْتِ مَا شَاءُوا اوپه دغه اودس چه په وخت كښې دننه ئې څومره خوښ وى مونځ كوى مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ فرض او نفل

حل اللغة> ①سلسل البول: دَ متيازو نه بنديدل ② رعاف: نكسير دَ پوزې نه وينه راتلل ③لايرقا، رقأ: اوچيدل

(٣) من حديث جدعدى بن ثابت رضي الله عنه أخرجه أبوداود فى الطهارة باب ١١٢ رقم ٢٩٧ والترمذى فى الطهارة باب ٩٤ وابن ماجه فى الطهارة باب ١١٥ والبيهقى فى السنن الكبرى (١\٥١١) رقم ١٦٢٣)۔

تشريح﴾ وجه تاخير الإستحاضة عن الحيض وتقديمها على النفاس﴾ حيض چونکه د نفاس او استحاضه په نسبت کثير الوقوع وو.خکه ئې هغه وړاندې بيان کړلو.اودے پسې ئې د استحاضه حکم بيان کړلو.خکه چه د نفاس نه پس د زياتو اسبابو دوجے استحاضه کثيرالوقوع دې.

أسباب الإستحاضة﴾ ①خکه چه ښځه کله ددې وجې مستحاضه ګرځي.چه د نفاس د عدت نه زياته وينه اووينی. ②اوکله ددې وجې مستحاضه ګرځي.چه دحيض وينه د لسوورځونه زياته اووينی.③اوکله ددې وجې مستحاضه ګرځي.چه دخپل عادت نه وينه زياتی شي. او دلسوورځو نه تيره شي.

④اوکله ددې وجې مستحاضه شي.چه د درې ورځو نه کمه وينه اووينی.

⑤يا ددې وجې مستحاضه شي.چه د طهرد مودے پوره کيدونه وړاندې وينه راشي.

⑥يا دعاموعالمانوپه نيز د نهوکالونه وړاندې وينه راشي.نودا هم مستحاضه ګرځي.ددې په خلاف د نفاس صرف يو سبب دې.چه ولادت د ماشوم دې.

تعريف المستحاضة﴾ مستحاضه هغه ښځه ده.چه د فرض مونځ يووخت پرے داسې نه تيريږي. مګرچه په کوم عذر کښې دا اخته وی.هغه په کښې موجوديږي.اوداحکم دهغه چاهم دې.چه هغه د مستحاضه په معنی کښې وی .لکه کوم کس چه دهغه متيازې نه اودريږي.اوهغه څوك چه د پوزے وينه ئې نه اودريږي.اوهغه زخم چه وينه ئې نه اودريږي.او هغه څوك هم معذور دې.چه د اسهال بيماری ئې وی.اوخيته ئې نه اودريږي.بلکه باربار اودس ماتی ته کيني.اوچه بے اختيار د باد وتلوبيماری ئې وی.خکه چه ضرورت ددې عذرونو سره متحقق کيږي.او ضرورت ټولو ته شامل دې.نويه دوی کښې به هريو کس دمعذوريه حکم کښې وی.

أداء الصلاة بوضوء المعذور﴾ مسئله دا ده. ① چه څوك مستحاضه وی.يا د چا متيازې نه اودريږي.يا دچا د پوزے نه وينه روانه وی.يادچا داسې زخم وی .چه د هغې وينه نه اودريږي. نومسئله دا ده.چه د داسې معذورينودپاره زمونږ په نيز په وخت کښې دننه په يو اودس باندې چه څومره ئې خوښه وی. مونځونه کولی شي.که فرض وی اوکه نفل که واجب وی اوکه نذر.① عقلی دليل دا دې.چه دآسانتيا دپاره وخت د مونځ قائم مقام ګرځولې شوې دې.نود حکم مدار به په وخت وی.په ادا کولوبه نه وی.خکه چه کله يوځيز د بل ځيز قائم مقام وی. نو مقصود به هم هغه وی.

د معذورينو اودس په ناقض کښې مذاهب

فَإِذَاخَرَجَ الْوَقْتُ اوکله چه وخت اووتل بَطَلَ وَضُوْءُهُمْ نو ددې معذورينو اودس باطل شو وَكَانَ عَلَيْهِمُ إِسْتِيْنَافُ الْوَضُوْءِ لِصَلَاةٍ أُخْرٰى اودبل مونځ دپاره به بل اودس کوی

حل اللغة﴾ ①خرج خروج: راوتل② بطل بطلانًا: باطل کيدل③ استيناف ، استانف استينافًا: دَ نوې سر نه شروع

تشريح﴾ نقض وضوء المعذورين بخروج الوقت﴾ صورت دمسئلې دا دې. چه کله د فرض مونځ وخت اووتلو.نو ددې معذورينواودس مات شو.که څوك بل فرض مونځ کول غواړي.نو دهغې دپاره به بل اودس کوی.

صورة المسئلة﴾ که يومعذور د نمر راختلو په وخت کښې اودس اوکړلو. نود طرفينو رحمهما الله په نزد په دغه اودس باندې مونځ کولې شي.تردے چه د ماسپخين وخت خارج شي.خکه چه د طرفينو رحمهما الله په نيز

خروج دوخت ناقض دي.او په دې صورت کښې دماسپخين دوخت دخول خوموجود شو.ليکن خروج د وخت نه دے موجود شوې.ځکه چه هغه خو د نمر راختونه پس اودس کړې دې

دليله > دليل دا دې.چه دوخت نه وړاندې طهارت حاصلول ضروري دې.چه څنګه وخت داخل شي.نود مونځ په ادا کولو باندې قادر وي.حاصل دا دې.چه وخت د ادا قائم مقام دې. او د فرض په ادا کولوباندې د طهارت تقديم واجب دې.نود قياس تقاضا دا وه.چه د ادا په خليفه يعني وخت باندې دے هم د طهارت وړاندې والے واجب وي.ليکن د خليفه مرتبه د اصل دمرتبې نه د کمولو دپاره په خليفه باندې د طهارت تقديم جائز اوګرځولې شو.نوهرکله چه په وخت باندې د طهارت تقديم جائز شو.نودخول د وخت ناقض نشي جوړيدې.ځکه که دخول د وخت دطهارت دپاره ناقض اوګرځولې شي.نوتقديم د طهارت به ناممکن شي.او خروج دوخت چونکه د حاجت د زوال دليل دې.نوپه هغه وخت کښې به د حدث سابق ظهور معتبر وي .نو چه څنګه وخت خارج شي.اودس به ماتيږي.

حقيقة نسبة النقض إلي الوقت > داخبره يادساتئ چه په حقيقت کښې نه دخول د وخت ناقض دې.اونه خروج دوخت.بلکه په حقيقت کښې حدث سابق ناقض دې.ليکن چونکه د حدث د ظهور نه وخت مانع وو.کله چه وخت ختم شو.نو حدث ښکاره شو.نوځکه د نقض نسبت مجازي طور دخول د وخت اوخروج د وخت ته شوې دې.

الوقت المعتبرفي الخروج والدخول > ① صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلي دي.چه دکوم وخت د دخول او خروج اعتبار کړې شوې دې.دهغې نه د فرضي مونځ وخت دې.د نفل او واجب مونځ وخت نه دې.ترد ے که معذور د اختر دمانځه دپاره اودس اوکړلو.نود طرفينو رحمهما الله په نيز په دې اودس باندې د ماسپخين د مونځ کولو اجازت شته.او هم دا صحيح قول دې.ځکه چه داختر مونځ د څاښت د مونځ پشان دې.يعنې چه فرض نه دې.نو دا اود څاښت مونځ دواړه په يومرتبه کښې دي. اګر چه داختر مونځ واجب دې.نود فرض مونځ وخت د عدم خروج د وجے دده اودس نه ماتيږي.نوځکه ورته په دغه اودس باندې د ماسپخين د مونځ کولواجازت شته.

② اود بعضې فقهاؤ دا رائې ده.چه په دغه اودس باندې ده ته د ماسپخين د مونځ کولو اختيار نشته.ځکه چه د واجب مونځ وخت اووتلو.ځکه چه د اختر مونځ واجب دې.اوواجب په منزله د فرض وي.

د نفاس تعريف

وَالنِّفَاسُ هُوَالدَّمُ اونفاس هغه وينه ده الْخَارِجُ عَقِيْبَ الْوِلَادَةِ چه د ولادت نه پس راوځي

حل اللغة > ① دم: وينه ② عقيب: پس ③ ولادة: بچي]

تشريح > **تعريف النفاس** > نفاس دنون په زور او زير سره لوستلے شوې دې.کومه وينه چه د ښځې سره خاص ده. هغه دري قسمه ده.① حيض ② استحاضه ③ نفاس دحيض او داستحاضه د احکامو دفراغت نه پس په دې فصل کښې د نفاس بيان کوي.نفاس مصدر دے د [نفسة المرأة] نه (دنون په ضمه او فتحه سره) اوکله نفاس د نفساء دجمعې دپاره استعماليږي. د فقهاؤ په اصطلاح کښې نفاس هغه وينې ته وائي .چه دولادت نه پس راځي.

حکم وجوب الغسل بالولادة من غير رؤية دم ① علامه ابن الهمام رحمه الله فرمائي.د صاحب قدوري رحمه الله د عبارت

نه دا معلومیږی.که د ښځې ولادت اوشی.اووینه اونه وینی.نودا نفاسه نه ګرځی.او په دې باندې به غسل واجب نه وی.دا دصاحبینو ﷫ نه نقل دی.

دولادت نه وړاندې د وینې حکم

وَالدَّمُ الَّذِي تَرَاهُ الحَامِلُ اوهغه وینه چه حامله ښځه ئې اووینی (که په اول کښې وی یا د ولادت په دوران کښې وی) قَبْلَ خُرُوجِ الوَلَدِد ماشوم د پیدا کیدونه وړاندې وی اِسْتِحَاضَةٌ نوهغه استحاضه ده

حل اللغة> ① دم جمع دماء: وینه ② تراه، رای رؤیة (ف): کتل ③ حامل: حامله ښځه ④ خروج: راوتل

تشریح> **حکم الدم الذی یکون فی حالة الحمل أو قبل الولادة**> مسئله دا ده.که حامله ښځې د حمل په حالت کښې وینه اولیدله.یا ئې د ماشوم پیدا کیدو نه وړاندې د ولادت په حالت کښې.نودا وینه زمونږ په نیز داستحاضه ده.اګرچه د حیض مودے ته اورسی.

دلیله> دلیل دا دې.چه حیض د رحم وینه وی.او د رحم وینه راتلل د حاملې نه ممکن نه دی. ځکه چه دالله تعالی عادت په دې جاری دې.چه د حمل دوجې د رحم خوله بنده شی.چه په رحم کښې دننه څیز رابهر نشی.نوکله چه د حاملې د رحم خوله بنده وی.نو دحمل په حالت کښې چه کومه وینه راوځی.هغه به د رحم نه علاوه د بل ځائې نه وی.اود رحم نه سوا چه کومه وینه راځی.هغه د استحاضه وینه وی.نوځکه به دا وینه د استحاضه وی.

حکم ولادة السقط> مسئله: ناقص ماشوم چه بعضې اندامونه ئې جوړ شوی وی.مثلاً ① ګوتې، نوکونه، ویښته وغیره.نودا دکامل ماشوم په حکم کښې دې.یعنی ښځه په دې باندې نفاسه ګرځی.② اوکه دا د چا وینزه وی.نوأم ولده ګرځی.

③ اوکه مطلقه ښځه وی.نوعدت ئې پوره کیږی.ځکه چه د حاملې عدت وضع د حمل وی. اوکه صرف چیمره وی.څه اندامونه په کښې جوړ شوی نه وی.نو ددا سې ښځې په حق کښې دنفاس حکم نشی ورکولې.نوکه دے ښځې وینه اولیدله.اوهغه وینه د حیض وینه ګرځول ممکن وی.چه کمې مودے د حیض ته رسیدله.نودا به حیض ګرځولې شی.او که حیض ګرځول ئې ممکن نه وی.نواستحاضه به وی.

دنفاس د کمې اوزیاتې مودې بیان

وَأَقَلُّ النِّفَاسِ لَا حَدَّ لَهُ اودکمې مودے دنفاس څه حد نشته وَأَكْثَرُهُ أَرْبَعُونَ يَوْمًا اوزیاته موده دنفاس څلویښت ورځې دی.. وَمَا زَادَ عَلَى ذٰلِكَ فَهُوَ اسْتِحَاضَةٌ اوچه څه په دې باندې زیادت وی هغه استحاضه ده

حل اللغة> ① اقل: کم ② خروج: راوتل

تشریح> **لاحد لأقل مدة النفاس**> زمونږ دعالمانو ﷫ په دې باندې اتفاق دې.چه د نفاس د کمې مودے دپاره څه حدنشته.که د ښځې ولادت اوشو.اولږ وخت پس ئې وینه بنده شوه.نودا پاکه شوه.نواوس به روژه نیسی او مونځونه به کوی.

دلیل أن لاحد لأقل مدة النفاس> دنفاس دکمې مودے د څه حد نه مقررتیا دلیل دا دې.چه د ماشوم پیدائش ددې خبرے علامه ده.چه دا وینه د رحم نه راغلې ده. او د ماشوم د پیدائش نه پس چه کومه وینه

راخي.هغه نفاس دي.نواوس د څه اضافي نښې ضرورت نشته.اوحيض ددې په خلاف دې.ځکه چه په هغې کښې کم ازکم درې ورځې شرط دی.چه ددې وينې د رحم نه راتلل معلوم شی.ځکه چه ددې په حيض کيدو باندې بله څه علامت نشته.(سوا ددې نه چه درې ورځو ته دا وينه اورسی.

اکثر مدة النفاس> د نفاس اکثره موده څلوېښت ورځې دی.

دلائله > ① دحضرت ام سلمے رضی الله عنها حديث دې. چه[أن النبی ﷺ وقت للنفساء أربعين يوما] اوپه ابوداود او ترمذی کښې دا حديث په دې الفاظومروی دې. [قالت کانت النساء تقعد علی عهد رسول الله أربعين يوما](۱) ام سلمه رضی الله عنها فرمائي.چه دنفاس زنانه به د نبی ﷺ په زمانه کښې څلوېښت ورځې کيناستلې. زمونږ دا مذهب د ام سلمے رضی الله عنها نه علاوه د حضرت ابن عمر رضی الله عنه، عائشه رضی الله عنها ، ام حبيبه رضی الله عنها او ابوهريره رضی الله عنه نه هم نقل دې. او ښکاره خبره ده.چه دا حديث به دے حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبی ﷺ نه اودريدلی وی.

②عقلي دليل دا دې.چه اکثره موده د نفاس د حيض د اکثرے مودے په څلورچنده ده.او په باب الحيض کښې دا خبره تحقيق ته رسيدلے ده.چه زمونږ په نيز اکثره موده د حيض لس ورځې دی.نوددې څلورچنده څلوېښت ورځې شوې ـ

په نفاس کښې د څلوېښتو ورځونه د وينې زيادت

وَلَوْتَجَاوَزَالدَّمُ عَلَى الْأَرْبَعِينَ اوکه وينے د څلوېښتوورځو نه تجاوز اوکړلو وَقَدْكَانَتْ هٰذِهِ الْمرأةُ وَلَدَتْ قَبْلَ ذٰلِكَ اوحال دا ووچه ددې ښځې وړاندې هم ولادت شوې وو وَلَهَا عَادَةٌ فِي النِّفَاسِ اودهغې په نفاس کښې خپل عادت وو وَرُدَّتْ إِلٰى أَيَّامِ عَادَتِهَا نوهغه به خپل عادت طرف ته واپس کولې شی وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهَا عَادَةٌ اوکه ددې ښځې څه عادت معروفه نه وو فَنِفَاسُهَا أَرْبَعُونَ يَوْمًا نو ددې نفاس به دڅلوېښتو ورځو نه وی

حل اللغة> ① جاوز مجاوزةً: زياتيدل، تيريدل ② ولدت، ولد ولادةً (ض) ماشوم پيداکيدل ③ردت، رد رداً(ن) واپس کول]

تشريح> **إستحاضة النفساء**> صورت د مسئلې دا دې.چه د يوے ښځې د ولادت نه پس د څلوېښتو ورځو نه زياته وينه راغله.نواوس به کتلی شی.چه ددې ښځې په نفاس کښې وړاندې څه عادت وو اوکه نه.که عدت ئې وو. نودعادت ورځې به نفاس شمارلے شی.او باقی استحاضه.دليل هغه دے کوم چه په باب النفاس کښې تير شوې دې.(که دحائضے په عادت باندې وينه زياتی شوه.اوهغه وينه د لسو ورځونه زياته وه.هغه به استحاضه وی.اوکه ددې څه معلوم عادت نه وو.نو په دې صورت کښې به څلوېښت ورځې د نفاس وی.اوباقی به استحاضه وی.ځکه چه څلوېښت ورځې د نفاس موده ګرځول ممکن هم دی.اوددې نه ګرځولو کښې شك دې.(ځکه چه کيدے شی.ددې د نفاس وينه څلوېښت ورځې راغلی. نوځکه به موده د نفاس څلوېښت ورځې وی.

(۱) من حديث أم سلمة رضی الله عنها اخرجه أبوداود فی الطهارة باب ۱۱۹ رقم ۳۱۱ والترمذی فی الطهارة باب ۱۰۵ وابن ماجه فی الطهارة باب ۱۲۸ رقم ٦٤٨ والدارمی فی الوضوء باب ۹۹)ـ

د يوې خيټې د ماشومانو حکم

ومن وَلَدَتْ وَلَدَيْنِ فِي بَطْنٍ وَاحِدٍ اوهغه ښځې چې اوزيږوي په يوه خيټه دوه ماشومان اوخيږول فَنِفَاسُهَا مَا خَرَجَ مِنَ الدَّمِ الْأَوَّلِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رحمهما الله نو ددې نفاس د شيخينو رحمهما الله په نيز دهغه وينې نه دې کومه چه داولنی ماشوم نه پس راوتلې وی وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ رحمهما الله اوامام محمداوامام زفر رحمهما الله فرمائي مِنَ الْوَلَدِ الثَّانِي چه ددويم ماشوم نه نفاس شروع کيږي

حل اللغة ① تنقضي، انقضى انقضاءً: پوره کيدل ② انسداد: بنديدل ③ انفتح انفتاحًا: کولاويدل ④ خروج: وتل ⑤ فيتناول، تناول تناولاً: شامليدل]

تشریح ﴿ بدء العدة في تولد التوأمين ﴾ صورت د مسئلې دا دې.که ديوې ښځې دوه بچی د يوې خيټې نه پيدا شو.نو دهغې دنفاس شروع د شيخينو رحمهما الله په نيز د اول ماشوم نه کيږي.اگرچه د دواړو په مينځ کښې خلويښت ورځې وی.

دليل الشيخين رحمهما الله ﴾ دشيخينو رحمهما الله دليل دا دې.چه دحمل په دوران کښې د حيض وينه ځکه نه راځي.چه د رحم خوله په ماشوم باندې بنده وی.خوچه کله ماشوم پيدا شو.نود رحم خوله کُهلاو شوه.نود هغې نه پس چه کومه وينه راځي.هغه به خامخا د نفاس وی.ځکه چه د ولادت نه پس چه د رحم نه کومه وينه راځي.هغه به د نفاس وی.

④ په دې مسئله کښې امام محمداوامام زفر رحمهما الله فرمائي.چه د دويم ماشوم نه به کيږي.

دليل الامامين ﴾ د (يوې) خيټې نه مراد دا دې.چه د دواړو ماشومانو په ولادت کښې د شپږو مياشتو نه کمه موده وی.دامام محمد رحمه الله دليل دا دې.چه د اول ماشوم پيدا کيدو نه پس هم دا ښځه حامله ده.اوحاملې ته چه ځنګه حيض نه راځي.دغه شان هغه نفاسه هم نشي جوړيدې.اوهم دا وجه ده.که ښځه مطلقه وی. نو د هغې عدت به په اتفاق سره د دويم نه حسابيږي. نو هم ددې نه به نفاس هم شروع کيږي.

الجواب عنه ﴾اود امام محمد رحمه الله دقياس نه جواب دا دې.چه دعدت پوره کيدل د داسې حمل وضع سره متعلق دې.چه دهغې نسبت ښځې ته کيږي.الله تعالى فرمائيلى دى.﴿ وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ﴾ اوحمل ونيلی شی [اکل مافي البطن] ته يعني څه چه په خيټه کښې وی.نوداول ماشوم په پيدائش باندې پوره وضع د حمل اونشوه.بلکه د بعضې حمل وضع اوشوه.اود حاملې عدت پوره کيږي . په پوره وضع دحمل سره.نوځکه به عدت د دويم ماشوم په پيدا کيدو پوره کيږي په اول به نه پوره کيږي.

د پليتو او دهغې د پاکولو بيان

بَابُ الْأَنْجَاسِ وَتَطْهِيرِهَا

ترجمه ﴾ (دا) باب د پليتو او ددې د پاکولو (په بيان کښې) دې.

تشریح ﴾ معني النجاسة لغة ﴾ نجاست (بفتح الجيم) ذات دنجاست او بسکر الجيم هغه څيز چه پليت وی. وړاندې مصنف رحمه الله دنجاست حکمی او د هغې د پاکولو بيان اوکړلو .او ددې ځائې نه د نجاست حقيقی او د هغې د پاکولو بيان شروع کوی.

وجہ تقدیم النجاسة الحکمیة< چونکه نجاست حکمي قوي دے په نسبت سره نجاست حقیقي ته.نوځکه ئې د نجاست حکمي احکام وړاندې ذکر کړل.باقي پاتې شوه دا خبره چه نجاست حکمي څنګه اقوی دې.ددې وجه دا ده.چه نجاست حکمي که کم هم وي.خوهغه د مونځ د جواز نه مانع دې.اوددې په خلاف نجاست حقیقي که کم وي.نو د مونځ د جواز نه مانع نه دې.

دنجاست نه د پاکئ ضرورت

تَطْهِیْرُ النَّجَاسَةِ دنجاست پاکول واجب دی وَاجِبٌ مِنْ بَدَنِ الْمُصَلِّي د مونځ ګذار دبدن نه وَثَوْبِهٖ او د هغه دجامونه وَالْمَكَانِ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْهِ اودهغه ځائے نه چه کوم کښې مونځ کوی

حل اللغة< ① تطهیر: پاکول ② بدن: وجود ③ مکان: ځائی ④ ثوب: کپړې

تشریح< **طریقې التطهیر**< په عبارت کښې د واجب نه مراد فرض دې.اود تطهیر دوه طریقې دی.یو د طهارت ثابتول او بل د نجاست زائله کول. په اول صورت کښې به ترجمه دا وي.محل دنجاست پاکول،او په دې کښې طهارت ثابت کول،اوپه دویم صورت کښې به ترجمه دا وي.د نجاست زائل کول فرض دی.بهرحال د مونځګذار د بدن اوجامو او هغه ځائې نه چه په کوم کښې مونځ کوی نجاست لرے کول فرض دی.

دلائل شرطیة طهارة الثوب < ① دجامو په پاکولو باندې دلیل دالله ﷻ ارشاد دے ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ په دې طریقه چه صیغه د طهر، امر دې.او امر د وجوب دپاره راځي.نود جامو پاکوالے په عبارت النص سره ثابت شو.

② دنبی ﷺ حدیث دې.دوی فرمائیلی دی.دا(جامے) اومږه.او بیا ئې اوګروه.او بیا ئې په اوبو سره اووینځه. علامه ابن همام رحمہ اللہ دا حدیث داسې نقل کړې دې.[عن أسماء بنت أبي بكر الصديق رضي الله عنهما قالت جاءت إمرأة إلى النبي ﷺ فقالت إحدانا يصيب ثوبها من دم الحيض كيف تصنع به،قال ﷺ تحته ثم تقرصه بالماء ثم تنضحه ثم تصلي فيه](متفق علیه) حضرت اسماء بنت ابی بکر رضي الله عنهما فرمائي.یوه ښځه رسول الله ﷺ ته راغله.او عرض ئې اوکړلو.چه په مونږ کښې دیوے ښځې جامو ته د حیض وینه اورسی.نوهغه څه اوکړی.نبی ﷺ ورته اوفرمائیل: هغه په لرګی یا بل څه اوګروه.بیا ئې په اوبو باندې اووینځه.او بیا پرے اوبه تیرے کړه.اوبیا په کښې مونځ کوه.صاحب دهدایه رحمہ اللہ فرمائي.که د وینځلو نه پس په جامه باندې داغ پاتې شي.نوهغه نقصاني نه دې.یعنې د مونځ د جواز نه مانع نه دې.

دلیل شرطیة طهارة البدن والمکان < او د بدن اوځائې پاکوالے په دلالت النص سره ثابت شو.اودا په دې طریقه چه مونځ د خپل مالك سره مناجات دې.نوبکار دا ده.چه مونځګذار په ښه حالت کښې وي.اود مونځګذار دپاره به ښه حالت په هغه وخت کښې ثابتیږي.چه دے په خپله هم پاك وي.او چه کوم څیزونه ده سره یوځائې وي. هغه هم پاك وي.نوهرکله چه د جامے پاکوالے فرض دې.حالانکه دا د مونځګذار سره متصل نه دی.(بلکه بغیر دجامونه هم پاتې کیدے شي. نود بدن او ځائې پاکوالے خویه خامخا فرض وي.ځکه چه دا جدا کیدے نشي.اوکامل اتصال ئې دے ورسره

شرطیة طهارة موضع القدم< داخبره دے یاده وي.چه د ځائې په پاکوالي کښې د قدم د ځائې پاکوالے معتبر دې.یعنې د اودریدو د ځائې پاکوالے ضروري دې.نوکه د قیام په ځائې کښې د یو درهم نه زیاته اندازه باندې پلیتي وي.نومونځ به فاسد وي.باقي پاتې شوه دا خبره چه د سجدے د ځائې پاکوالے هم ضروري

دے اوکه نه.نو په دې کښې اختلاف دې.

الروايتان في طهارة موضع السجود ①امام محمد رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله نه يو روايت نقل کړې دې.چه د سجدے د ځائې طهارت هم لکه د قيام د ځائې د طهارت پشان ضروري دې.ځکه چه لکه څنګه قيام رکن دې.دغه شان سجده هم رکن دې.نولکه څنګه چه د قيام دپاره طهارت شرط دې.دغه شان به د سجدے دپاره هم شرط وي.

②اوامام ابويوسف رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله نه روايت کړې دې.چه د سجدے د ځائې پاکوالے شرط نه دې.ځکه چه سجده په پوزه باندې کيږي.اوپوزه د يو درهم نه کمه ده.او ديو درهم نه کم نجاست د مونځ د جواز نه مانع نه دې.نوځکه د سجدے د ځائې طهارت شرط نشو.اودطرفينو رحمهما الله په نيزد سجدے د ځائې طهارت شرط دې.ځکه چه سجده کيږي په تندی باندې.اود تندی ځائې د يو درهم دمقدار نه زيات دې.نوځکه ددې پاکوالے ضروري دې.

په کومو څيزونو چه نجاست زائله کيږي

وَيَجُوزُ اوجائز دے **تَطْهِيرُهَا بِالْمَاءِ** پليتو لرے کول په اوبو باندې **وَبِكُلِّ مَائِعٍ** اوبه هر هغه څيز باندې چه بهيدونکې وي **طَاهِرٍ** اوپاك وي **يُمْكِنُ إِزَالَتُهَا بِهِ** اوبه هغې باندې د نجاست لرے کول ممکن وي **كَالْخَلِّ** لکه سرکه **وَمَاءِ الْوَرْدِ** اود ګلابو اوبه

حل اللغة ①يجوز: رواکيدل ②مانع: بهيدونکې ③يمكن، امكن امكاناً: ممکن کيدل ④ازالة: زائل کول ⑤خل: سرکه ⑥ماء الورد: عرق ګلاب

تشريح **إزالة النجاسة الحقيقية بالمائع الطاهر** دامام ابويوسف اوامام ابوحينفه رحمهما الله په نيز په هر بهيدونکی څيزباندې نجاست زائله کيږي.چه پاك وي.اود نجاست زائله کول پرے ممکن وي.لکه سرکه او د ګلاب اوبه اوداسې څيزچه په نچوړولو سره نچوړ کيږي.نود ماکول اللحم ځناورو متيازو باندې نجاست نه پاکيږي.ځکه چه متيازې پليتے دی.او په تيلو باندې هم نجاست نه پاکيږي.اګرچه تيل پاك دی.ليکن په نچوړولو سره نه نچوړ کيږي.بلکه په کپړه کښې جزب کيږي.

دليلهما دشيخينو رحمهما الله دليل دا دې.چه داوبو نه علاوه بل مانع څيز ځکه پاکونکےدې.چه په دې باندې نجاست زائله کيږي.او اوبه ځکه پاکونکې دی.چه په دې کښې د نجاست لرے کولو معنی پرته ده.نوکه دغه معنی د نجاست زائله کولو په بل څيز کښې موجود شي. نويکار ده چه هغه هم پاکونکې وی.بلکه اوبه خو د بعضې رنګدار نجاست رنګ نه زائله کوی.او سرکه دغه رنګ زائله کوی.

الروايتان في تطهيرالبدن بالمائع صاحب دهدايه فرمائيلي دی. ①چه په قدوری کښې کوم حکم ذکر دې.په دې کښې د جامے او بدن په مينځ کښې څه فرق نشته.يعنی لکه څنګه چه په اوبو اوبهيدونکی څيز باندې جامه پاکيږي.دغه شان بدن هم په دواړو باندې پاکيږي.اودا د امام ابوحنيفه رحمه الله نه يو روايت هم دې.او د امام ابويوسف نه په دوو روايتونو کښې يو روايت هم دې.

②اود امام ابويوسف رحمه الله نه دويم روايت دا دې.چه هغوی په جاماو بدن کښې فرق کړې دې.چه بدن صرف په اوبو باندې پاکيږي.اوجامه په اوبو او بهيدونکی پاك څيز باندې هم پاکيږي.

د جوته دار نجاست نه د موزې پاکول

وَإِذَا أَصَابَتِ الْخُفَّ اوکله چه اولګی موزے سره **نَجَاسَةٌ لَهَا جِرْمٌ** داسې نجاست چه دهغې جوته وی **فَجَفَّتْ** او

بیا دا نجاست اوچ شی فَدَلَكَهُ بِالْأَرْضِ اوبیا ئې په زمکه باندې اومګی جَازَتِ الصَّلَاةُ فِيْهِنو جائز دې مونځ په هغې کښې

حل اللغة ﴿①اصاب اصابة: رسیدل ② فجفت، جف جفافًا(ض): اوچیدلې ③ فدلكه، دلك دلكًا (ن) یوځای کیدل، مږل

تشریح ﴿ **تطهير الخف من النجاسة العينية** ﴿مسئله دا ده. ①که موزې سره داسې پلیتې اولګیدله. چه هغه جوثه داره وی.لکه خاشنړه، غټ بول، وینه او منی، او اوچه شی.او په زمکه پوره ئې اومګی. یا ئې په لرګی یا بل څه اوګروی.اوصفا ئې کړی. نوهغه موزه پاکه شوه.چه هغه واچوی.اومونځ کوی.نو جائز ده.دا حکم استحسانی دې.یعنی د قیاس جلی خلاف دې.

دلائله ﴿ ① دلیل دحضرت ابوسعید خدری ﷺ حدیث دې.چه [أن النبي ﷺ كان يصلي فخلع نعليه فخلع القوم نعالهم فقال ﷺ لهم بعد الصلاة لما خلعتم نعالكم؟ قالوا رأيناك خلعت نعليك فخلعنا فقال ﷺ أخبرني جبرئيل ① أن فيهما قذرا إذا أتى أحدكم باب المسجد فليقلب نعليه فإن رأى فيهما قذرا فليمسحهما بالأرض] یعنی نبی ﷺ مونځ کولو.نوخپلې پڼړې ئې اوویستلې.نوصحابه کرامو ﷺ هم خپلې پڼړې اوویستلې.کله چه نبی ﷺ د مانځه نه فارغ شو.نو صحابه کرامو ته ئې اوفرمائیل: تاسو ولې پڼړې اوویستلې؟هغوی ورته عرض اوکړلو.یارسول الله مونږ اوکتل.چه تاسو خپلې پڼړې اوویستلې.نومونږ هم پڼړې اوویستلې.نبی ﷺ اوفرمائیل: ماخو څکه پڼړې اوویستلې.چه حضرت جبرئیل ﷺ راته خبر راکړلو.چه ستا په پڼړوکښې ګندګی ده.کله چه په تاسوکښې څوک د جمات دروازې ته راشی.نو پڼړې دې راواړوی.او اودې ګوری. که څه ګندګی پرې اووینی.هغه دې په زمکه باندې اومګی.او په یوروایت کښې داسې الفاظ راغلی دی.چه [فإن الأرض لهما طهور] یعنی زمکه ددې دپاره مطهریعنی پاکونکې ده.ددې حدیث نه معلومه شوه.که موزې پورې نجاست لګیدلې وی.نو هغه دې په زمکه باندې اومګی.د وینځلو ضرورت نشته.

②عقلی دلیل دا هم دې.چه موزه چونکه د څرمن نه جوړه شوې وی.نو په دې کښې د نجاست اجزاء نه جذب کیږی.مګر ډیر لږ غوندې.بیا چه دا لږ هم اوچ شی.نو ددې جوثه نجاست جذب کړی.او چه کله جوثه زائله شی.نو د هغې د زائله کیدو سره د نجاست اجزاء هم زائله شی.

الروايتان في طهارة النجاسة الرطبة من الخف ﴿مسئله دا ده. ①که موزې ته لوند نجاست اورسی.لکه خاشنړه ،غټ بول، وینه وغیره .او تراوسه پورې اوچ شوې نه وی.نو په زمکه پورې مګولو سره دا نه پاکیږی.بلکه ددې پاکول ضروری دی. څکه چه لوند نجاست په زمکه باندې اومګلی شی.نوهغه نور هم خوریږی.اوبنکاره خبره ده.چه په دې باندې به موزه نوره هم بلیته شی.پاکیږی پرې نه.

②اودامام ابویوسف ﷫ نه مروی دی.چه د لوند نجاست په صورت کښې چه هغه زمکه باندې اومګی.اواثر دنجاست زائله شی. نو موزه پاکیږی.ددې د وینځلو ضرورت نشته.

دلائله ﴿ ①څکه په دې کښې عموم بلوی ده.یعنی عام طور خلق په دې کښې اخته دې.که وینځل ضروری اوګرځولې شی.نو په دې کښې حرج دې.(اوحرج په دین کښې مرفوع دې.

②دویمه خبر دا ده.چه حدیث [فلیمسحهما بالأرض] مطلق دي. په دې کښې د اوچ او لوند نجاست څه فرق نشته.نوموزه به په زمکه باندې مګولو سره پاکیږي.که په هغې باندې لوند نجاست وی اوکه اوچ.زمونږ د مشائخو هم دا قول دې.او په دې باندې فتوی ده.

الروايتان في طهارة النجاسة الرطبة العينية من الخف > مسئله دا ده. ①که داسې نجاست موزے ته اورسی.چه د هغې جوثه نه وی.لکه متیازې اوشراب شو.نو په دې صورت کښې ددې پاکې صرف په وینځلو سره حاصلیږي.د اوچید نه پس په زمکې باندې مګولو سره نه حاصلیږي. ځکه چه د نجاست اجزاء په موزه کښې دننه جذب کیږي.اودلته داسې څه جوثه نشته.چه په اوچیدو باندې هغه د نجاست اجزاء جذب کړي.(اوبیا ددغه جوثې په لرے کولو سره د نجاست اجزاء هم ختم شي. از مترجم) بلکه د دغه جذب شوی اجزاؤ د لرے کولو دپاره د موزے وینځل ضروري دي.

②داامام ابویوسف رحمه الله نه مروی دی.که موزے پورې متیازې اولګیدلې. اوبیا په دغې پورې شګه یابل داسې څه جوثه دار څیزاولګیدلو.اوبیا هغه اوچ شي.او په زمکه ئې اومګي.نو په دې سره موزه پاکیږي.په اوبو سره د وینځلو ضرورت نشته.شمس الائمه امام سرخسی رحمه الله فرمائیلی دی.چه هم دا قول صحیح دې.

د نجاست نه د جامې پاکولو طریقه

تطهیر الثوب من النجاسة بالغسل > مسئله دا ده.که جامې ته نجاست اورسی .اګرچه هغه اوچ وی. نوبغیر دوینځلو نه جامه نه پاکیږي.دلیل دا دې.چه په جامه کښې کلك والے نه وی.بلکه هغه رانغښتلے شی.نوځکه د نجاست زیات اجزاء په جامه کښې داخلیږي.او د هغې د اجزاؤ د راویستلودپاره په اوبو یا بل څه سره وینځل ضروري دی.په زمکه باندې مګل کافي نه دی.

د منۍ د محل د پاکولو طریقه

وَالْمَنِيُّ نَجِسٌ منی پلیته ده یَجِبُ غَسْلُ رَطْبِه واجب دی وینځل د لمده منۍ فَإِذَا جَفَّ عَلَى الثَّوْبِ او چه په جامه باندې اوچه شی أَجْزَأَفِيهِ الْفَرْكُ نو په دې کښې ګرول کافی دی

حل اللغة > ①نجس: ناپاك ② رطبا: لمنده ③جف جفافًا(ض) اوچیدل ④فرك: رژول ⑤اصاب اصابة: رسیدل ⑥اشد: زیات سخت]

تشریح > **نجاسة المني عندالأحناف** رحمهم الله > د سړی منی پلیته ده.که دا لونده وی نوبغیر د وینځلونه نه پاکیږي او که وچه وی نوپه ګرولو سره هم پاکیږي لکه ځنګه چه د دلائلو نه معلومیږي

دلائله > ①رسول الله ﷺ حضرت عائشې رضی الله عنها ته فرمائیلی وو[فاغسليه إن كان رطبا وافركيه إن كان يابسا] اودارقطنی او مسند بزار داحدیث داسې نقل کړې دې. [عن عائشة رضی الله عنها قالت كنت أفرك المني من ثوب رسول الله ﷺ إن كان يابسا وأغسله إذا كان رطبا] حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی.ما به د رسول الله ﷺ د جامو نه منی ګروله.که هغه به اوچه وه.او وینځله به مې کله چه به لونده وه.

② د حضرت عماربن یاسر رضی الله عنه د حدیث نه هم ښکاره کیږي.[أن النبي ﷺ مر على عمار بن ياسر رضی الله عنه وهو يغسل ثوبه من النخامة فقال ﷺ ما نخامتك و دموع عينيك ، والماء الذي في ركوتك إلا سواء وإنما يغسل الثوب من خمس من البول والغائط والدم والمني والقيء] یعنی نبی ﷺ په حضرت عماربن یاسر رضی الله عنه باندې تیرشو.اوهغه

کرنګک وينځلو.نونبی ﷺ ورته اوفرمائيل:ستا ګرنګک، او ستا د سترګو اوښکې،او هغه اوبه چه ستا په لوته کښې دی.برابر دی. او جامه خو د پنځو څيزونو نه وينځلی شی.دمتيازو او د غټو بولو او د وينې او د منی او د قی نه.په يو روايت کښې د قی په ځائې د شرابو ذکر راغلې دې. بهرحال دا احاديث د منې په نجاست باندې دلالت کوی

الروايتان في تطهير البدن من المني> صاحب دهدايه فرمائی. ①که منی په بدن باندې اولګی.نو په دې صورت کښې هم د ماوراء النهر دعالمانو رحمهم الله په نيز منی په ګرولو پاکيږی.ځکه چه منی خو د جامې نه جدا کيدې شی.او د بدن نه جدا کيږی نه.

②د امام ابوحنيفه رحمه الله نه يو روايت دا هم دې.چه منی په بدن پورې اوچه شی.نو په ګرولو باندې نه پاکيږی .بلکه دهغې وينځل ضروری دی.اودليل دا وائی. چه د بدن ګرمی منی جذب کوی.او د جذب کولو نه پس د منې اثر د منې جوڼې ته نه واپس کيږی.يعنی يو ځل چه بدن دغه نجاست جذب کړی.نود بدن د حرارت د وجې هغه منی بيا نه رابهرته کيږی.چه د منې جوڼه نې جذب کړی وی.(او په ګرولو سره د جوڼې د زوال سره اثر د نجاست هم زائل شی.داسې نه ده. او دبدن ګرول هم ممکن نه دی.نو وينځل نې ضروری شو.

د توري وغيره د پاکولو طريقه

وَالنَّجَاسَةُ إِذَا أَصَابَتْ اونجاست چه کله اولګی الْمِرْآةَ شيشې پورې أَوِالسَّيْفَ او په تورې پورې اكْتُفِيَ بِمَسْحِهِمَا نوددې په مسح به اکتفا کولې شی

حل اللغة> ① مراة: شيشه ② سيف جمع سيوف: توره

تشريح> تطهير السيف وغيره > مسئله دا ده.که نجاست شيشې يا تيره توره پورې يا په چاړه پورې اولګی.نودا څيزونه په زمکه پورې رابنکلوسره پاکيږی.په اوبو وغيره وينځل شرط نه دې.امام مالك رحمه الله ددې قائل دې.دليل دا دې.چه دا څيزونه دننه نه ورځی.نو ددې د دننه نه د راويستلو څه ضرورت نشته. اوکه باقی پاتې شو هغه نجاست کوم چه دپاسه وی.نوهغه په مګلوسره زائله کيږی.نوپه اوبو باندې دهغې د وينځلو ضرورت نشته.البته که توره وغيره نقش داره وی.يا زيږه وی.يا په هغې پورې څه خيرې وی.اونجاست ورپورې اولګی.نو د وينځلو نه بغير نه پاکيږی.

د زمکې دطهارت طريقه

وَإِنْ أَصَابَتِ الْأَرْضَ نَجَاسَةٌ اوکه نجاست په زمکه پورې اولګيدلو فَجَفَّتْ بِالشَّمْسِ او بيا په نمرباندې اوچ شو وَذَهَبَ أَثَرُهَا اواثر نې هم ختم شو جَازَتِ الصَّلاَةُ عَلَى مَكَانِهَا نو د دغه نجاست په ځائې مونځ کول جائز دې وَلَا يَجُوزُ التَّيَمُّمُ مِنْهَا او په دې باندې تيمم جائزنه دې

حل اللغة> ① ذهب ذهاباً(ف): تلل ② اثر : نښه ③ مکان: ځائې

تشريح> جواز الصلاة بالأرض الجافة من النجاسة> ①که په زمکه پورې نجاست اولګی.اوبيا هغه اوچه شی.په نمر يا په اور يا په هوا يا په بل څيز.اود پليتئ اثر رنګک بوئ وغيره هم ختم شی.نوپه دغه ځائې باندې مونځ جائز دې.البته تيمم پرې جائزنه دې.

دليله> دليل د رسول الله ﷺ قول دې.چه [ذكاة الأرض يبسها] يعنی د زمکې پاکوالې ددې اوچوالې دې.او

ددې هم معنی حدیث داهم دې.چه [أیما الأرض جفت فقد طهرت] یعنی کومه زمکه چه اوچه شوه. نو هغه پاکه شوه.

په نجاست غلیظه کښې د معاف شوی مقدار حد

وَمَنْ اَصَابَهُ مِنَ النَّجَاسَةِ الْمُغَلَّظَةِ او چاته چه اورسی د نجاست غلیظه نه کَـالدَّمِ وَالْبَوْلِ وَالْخَمْرِ وَخُرْءِ الدَّجَاجِ وَبَوْلِ الْحِمَارِ لکه وینه ،متیازې ،شراب ، دچرګې ګندګی او د خر متیازې د یو درهم په مقدار یا ددې نه کم (معاف دی) جَازَتِ الصَّلَاةُ مَعَهُ دے سره مونځ جائز دې وَإِنْ زَادَ اوکه ددې نه زیات وی لَمْ يُجْزِنو جائزنه دې

حل اللغة﴿ ① قدر: اندازه مقدار ②دون: کم③بول: متیازې ④خمر شراب ⑤خرء:ګندګی ⑥ دجاج: چرګه

تشریح﴿ **الخلاف في تعریف النجاسة الغلیظة والخفیفة**﴿د نجاست دوه قسمونه دی.نجاست غلیظه او نجاست خفیفه.ددې په تعریف کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله او صاحبینو رحمهما الله اختلاف دې.

① دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز نجاست غلیظه هغه دې.چه دهغې ثبوت په داسې قطعي نص سره شوې وی.چه دهغې معارض بل نص دطهارت ثابتونکې نه وی.اوکه دوه نصین په خپل مینځ کښې متعارض وی.دیونه طهارت ثابتیږی.او دبل نه نجاست.نودا به نجاست خفیفه وی.

②اود صاحبینو رحمهما الله په نیز نجاست غلیظه هغه دې.چه د هغې په نجاست باندې اجماع واقع شوې وی. او نجاست خفیفه هغه دې.چه په هغې کښې عالمانو رحمهم الله اختلاف کړې وی.

ثمرة الإختلاف﴿ثمره د اختلاف په خاشنړو کښې ښکاریږی.ځکه چه خاشنړه دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز نجاست غلیظه دې.ځکه چه د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې.چه لیلة الجن کښې دوی نبی ﷺ ته د قضاء حاجت دپاره دوه کاڼړی اوخاشنړه راوړل.نو نبی ﷺ ترے کاڼړی واخستل.او خاشنړه ئې واپس کړلو.اوددې سره بل داسې معارض نص نشته.چه دهغې نه د خاشنړو طهارت ثابتیږی. اود صاحبینو رحمهما الله په نیز خاشنړه نجاست خفیفه دې.ځکه چه دامام مالك رحمه الله په نیز خاشنړه پاك دی.

القدر المعفو في النجاسة الغلیظة﴿ددې تمهید د کتلو نه پس دا اوګورئ.چه د مصنف رحمه الله ددې عبارت نه مقصد دا دې.چه د نجاست څومره مقدار معاف دې.او څومره معاف نه دې.نو فرمائی.چه نجاست غلیظه (لکه بهیدونکې وینه متیازے، شراب، د چرګې ګندګی او د خر متیازې) په صورت کښې د یودرهم هومره مقدار معاف دې.یا ددې نه کم.که د دومره مقدار نجاست سره ئې مونځ اوکړلو.نومونځ ئې جائز دې.(خودا جواز په هغه صورت کښې دې.چه د اول نه ده ته پته نه وی.دمانځه نه پس ورته معلومه شی.چه زما په جامه کښې خو دومره ځائې نجس وو.اوکه د اول نه جامه کښې نجاست وینی.نو هغه به اول وینځی.او بیا به مونځ کوی. برابره ده که دا مقدار پلیتی په جامے پورې لګیدلے وی.اوکه په بدن پورې.اوکه د یودرهم نه زیاته وی.نوهغه معاف نه ده.اودهغې سره مونځ جائزنه دې.

تقدیر الکثیر بالدرهم ووجهه﴿باقی پاتې شوه دا خبره چه د کم او زیات مقدار معیار څه څیزدې. نوزمونږ د عالمانو په نیز د یو درهم په مقدار باندې کم دې.او ددې نه زیات مقدر زیات دې.اودا اندازه مونږ د استنجاء په ځائې باندې قیاس کړې دې. ځکه چه د استنجاء ځائے په اجماع سره معاف دې.(یعنی که سړې په لوټه باندې استنجاء اوکړی.نوبه لوټه باندې مخرج بیخی نه پاکیږی.لیکن ددې باوجود که

سرې په اوبواستنجاء اونکړی.او مونځ اوکړی.نو مونځ جائز دې. حالانکه په مخرج کښې به خامخا څه گندگی وی.نومعلومه شوه.چه دومره کم مقدار معاف دې. یعنې ځائې د استنجاء معاف دې.نو مونږ په دې باندې قیاس اوکړلو. اوبه دومره مقدار کښې مو نجاست معاف اوګرځولو.

الروایتان في نوعیة قدر الدرهم> بیا د امام محمد رحمه الله نه د یو درهم په تقدیر کښې دوه روایتونه دی. ① یو روایت د مساحت دې.یعنې چه دلاس د تلی په پلنوالی باندې یعنې کله چه سړې لاس نیغ اونیسی.او په تلی کښې څومره اوبه اودریږی.نو دغه مقدار معاف دې

② اوبل روایت دا دې.چه د درهم مقدار د وزن په اعتبار سره دې.یعنې د درهم نه مراد دا دې.چه د هغې وزن د یو درهم د وزن برابر وی.

وجه التوفیق بین الروایتین> فقیه ابوجعفر رحمه الله فرمانیلی دی.چه په دواړو قولینو کښې تطبیق داسې کیدے شي .چه د مساحت اعتبار یعنې د یو درهم په مساحت باندې چه پلیتی وی.نودا به د نرمې پلیتۍ سره اولګوی . (لکه متیازې شوې. اود وزن د اعتبار روایت به د هغه نجاست سره اولګوی.چه هغه ټینګ وی. (لکه غټې بول شو. نوکه د سړی متیازې وی. نوهغه به د مساحت په اعتبار سره د یو درهم په اندازه معاف وی.اوددې نه زیاتی به معاف نه وی.اوکه غټې بول وی.نود وزن په اعتبار سره چه د یو درهم برابر وی.نوهغه معاف دی. او ددې نه زیاتی معاف نه دی.

تغلیظ النجاسات المذکورة في المتن> په متن کښې چه څومره څیزونه ذکر شوی دی.دا ټول نجاست غلیظه دی.څکه چه ددې څیزونو نجاست په دلیل قطعی سره ثابت دې.اود طهارت معارض نص ورسره هم نشته.

د نجاست خفیفه د معاف شوی مقدار بیان

وَإِنْ أَصَابَتْهُ نَجَاسَةٌ مُخَفَّفَةٌ اوکه اورسی ورته نجاست خیفیفه كَبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ لکه د ماکول اللحم خناورو متیازې شوې جَازَتِ الصَّلَاةُ مَعَهُ نودے سره مونځ جائزدې مَا لَمْ تَبْلُغْ رُبُعَ الثَّوْبِ تردے چه نه وی رسیدلې څلورمې حصې ته

حل اللغة> ① مخففة:سپك ②یؤکل، اکل اکلاً (ن) خوراك ③ لحم: غوښه ④ تبلغ، بلغ بلوغاً(ن) : رسیدل ⑤ربع: څلورمه

تشریح> **الربع في النجاسة الخفیفة غیرمعفو عنه**> په دې عبارت کښې د نجاست خفیفه دهغه مقدار بیان دې.کوم چه معاف وی.نوفرمائی.چه نجاست خفیفه د جامې د څلورمې نه کمې حصې پورې معاف دې.لکه د ماکول اللحم خناور متیازې شوې . او د څلورمې حصې د مقدارپه برابری معاف نه دې. یعنې که په جامه باندې نجاست خفیفه د جامې د څلورمې حصې نه کم لګیدلې وی.نو د هغې سره مونځ جائز دې.او که ددې برابر یا ددې نه زیات لګیدلې وی.نو دهغې سره مونځ جائز نه دې دا د امام ابوحنیفه رحمه الله نه روایت دې.

دلیله> دلیل دا دې.چه د نجاست خفیفه په باره کښې د کثیرفاحش سره اندازه کړې شوې ده یعنې که نجاست خفیفه زیات اولګی.نومونځ ورسره جائز نه دې. او په ډیرو احکامو کښې څلورمه حصه د کل برابر ده.لکه د سر څلورمه حصه مسح د ټول سر دمسح برابر ده.او په عورت کښې د څلورمې حصې ښکاره کیدل د کل عورت د ښکاره کیدو برابر دی.او دغه شان په حالت د احرام کښې د څلورمې

حصې سر خرئیل د ټول سره برابر ګرځولې شوې دی.حاصل دا دې.چه څلورمه حصه دکل قائم مقام ده.او د کل نجاست خفیفه نه فاحش کثیر ثابتیږی.(یعنی چه څلورمه حصه پلیته وی.نودا داسې ده.لکه چه ټوله پلیته ده. اوچونکه فاحش کثیر په نجاست خفیفه کښې معاف نه دې.نوځکه مونږ وایو.که څلورمې حصې ته نجاست اورسیدلو.نوددې سره مونځ جائزنه دې.

المراد من الربع ﴿باقی پاتې شوه دا خبره چه څلورمه حصه د څه مراد ده.نو په دې باره کښې د فقهاؤ اختلاف دې. دامام ابوحنیفه رحمه الله نه یو روایت دا نقل دی.چه د ټول بدن څلورمه حصه ده.اود جامې څلورمه حصه مراد ده.اګرچه جامه لویه وی.امام ابن الهمام رحمه الله فرمائیلی دی.چه دا قول احسن دې.

د نجاست مرئي د طهارت طریقه

وَتَطْهِيْرُ النَّجَاسَةِ الَّتِيْ يَجِبُ غَسْلُهَا عَلٰى وَجْهَيْنِ اوپاکول د هغه نجاست چه واجب وی وینځل د هغې په دوه قسمونه دی فَمَا كَانَ لَهُ عَيْنٌ مَرْئِيَّةٌ نوچه د کوم دپاره جوثه وی لیدونکې وَغَيْرُ مَرْئِيَّةٍ او غیرمرئی فَمَا كَانَ مِنْهَا مَرْئِيًّا نوکوم چه مرئی وی فَطَهَارَتُهٗ زَوَالُ عَيْنِهَا نو دهغې طهارت دهغې د ذات په زائله کولو سره راځی

تشریح ﴿ **طريقة تطهير النجاسة المرئية** ﴾شیخ قدوری فرمائی.چه د نجاست دوه قسمونه دی.نجاست مرئی او غیر مرئی.ځکه چه د نجاست د اوچوالی نه پس به نجاست یا په نظر راځی او یا به نه راځی.نوکه اول وی.دا مرئی دې.او که دویم صورت وی .نودا غیرمرئی دې.د نجاست مرئی پاکولوطریقه دا ده.چه دهغې ذات زائل شی. اګر چه دهغې د اثر څنې بعضې باقی وی.لکه رنګ او بوئی وغیره .

دلیله ﴿دلیل دا دې.چه نجاست په اعتبارد خپل ذات سره په محل کښې حلول کړې دې.نوچه د نجاست ذات او عین زائله شی.نودے سره نجاست هم زائله شو.

دلائل عفو أثر النجاسة ﴿ ① البته دومره ده چه د نجاست کوم اثر باقی وی . چه دهغې لرے کول ګران وی. نوهغه باقی پاتې شی.نوددې جواب دا دې.چه چونکه ددې په لرے کولو کښې حرج دې.او په شریعت کښې حرج لرے کړې شوې دې.نو ددې وجود څه نقصان نه رسوی. .

② دحضرت خوله بن یسار رضی الله عنها په حدیث سره هم ښکاره کیږی.[أنها قالت یارسول الله إن لی ثوبا واحدا وانی أحیض فیه فقال ﷺ رشیه واقرصیه ثم اغسلیه بالماء فقالت یارسول الله یبقی له أثره فقال رسول الله ﷺ یکفیك الماء فلا یضرك أثره] یعنی خوله بنت یسار رضی الله عنها فرمائی.چه دے رسول الله ﷺ ته عرض اوکړلو.چه زما یوه جامه ده.اوزه په هغې کښې حائضه کیږم. نونبی ﷺ ورته اوفرمائیل:په هغې باندې اوبه واچوی.اوبیائې په اوبواووینځه.هغې تپوس اوکړلو.که دهغې اثر باقی پاتې شی.نونبی ﷺ ورته اوفرمائیل :ستا دپاره په اوبو باندې وینځل کافی دی.داثرباقی کیدل تاته څه نقصان نه رسوی. اودلته دمشقت تفسیردا دې .چه ددې لرے کولو کښې د اوبونه علاوه د بل څیز لکه صابون وغیره ته حاجت پیښیږی.

ما يفهم من عبارة القدوري؟ ﴿صاحب د هدایه فرمائیلی دی.چه دامام قدوری عبارت دے طرف ته اشاره کوی.چه د نجاست د ذات لرے کیدو نه پس د ځائې وینځل شرط نه دې.اګرچه د نجاست ذات په یوځل وینځلو سره لرے شی.یعنی که د نجاست ذات په یوځل وینځلو سره لرے شی.دا کافی دې.اوکه د نجاست ذات په درې ځله وینځلو سره هم لرے نشی.نوترهغه وخته پورې به ئې وینځی.چه د نجاست ذات لرے شوې نه وی.

القول الراجع في عدد غسل محل النجاسة المرئية إذا زال بدون ثلاث مرات ﴿ صاحب دهدایه رحمه الله فرمائیلی دی.چه په یوځل ذات د نجاست لرے شی.نو په دې کښې عالمانوخبرے کړې دی.څوک وائی.که په یوځل هم لرے شی.نو درې ځله به نې وینځی.ځکه چه ذات د نجاست لرے شو.نوددې نه پس دغه محل دنجاست غیر مرئی پشان شو.اوپه نجاست غیرمرئی کښې درې ځله وینځل ضروری دی.نوددې وینځل هم ضروری دی.فقیه ابوجعفر رحمه الله فرمائی.چه یو ځل ځونې وینځلے دې. نو دوه ځله دے نورهم اووینځی.چه د دریو عدد متحقق شی.لیکن تحقیقی خبره هم هغه ده.کومه چه صاحب دهدایه رحمه الله ذکر دې.

دنجاست غیر مرئی د طهارت طریقه

وَمَا لَيْسَ لَهُ عَيْنٌ مَرْئِيَّةٌ اوهغه نجاست چه نه وی د هغې جوثه لیدونکې فَطَهَارَتُهُ نودهغې طهارت دا دې أَنْ يُغْسَلَ چه هغه وینځلے شی حَتّٰى يَغْلِبَ عَلٰى ظَنِّ الْغَاسِلِ تردے چه د وینځونکی په ګمان باندې غالب شی أَنَّهُ قَدْ طَهُرَ چه دا پاك شو۔

حل اللغة ﴿ ①ان یغسل، غسل غسلاً(ض) وینځل

تشریح ﴿ **حکم تطهیرالنجاسة غیر المرئیة** ﴿ په دې عبارت کښې د نجاست د دویم قسم یعنی نجاست غیرمرئی بیان دې.لکه متیازې شراب وغیره.ددې حکم دا دې.چه جامه به دومره وینځی.چه د وینځونکی دا غالب ګمان پیدا شی.چه جامه پاکه شوه.

دلیل العمل بغالب الظن ﴿ دلیل دا دې.چه د نجاست د ویستلو دپاره تکرار ضروری دې.او چونکه نجاست غیرمرئی دې.نود زوال علم ئے په یقین سره نشی راتلې.نوځکه په کښې د غالب ګمان اعتبار اوکړې شو.لکه څنګه چه د جهت د قبلې په مسئله کښې دا خبره ده.یعنی چه یوکس باندې قبله مشتبه (ګډه وډه) شی. او خبرونکې هم څوك نه وی.نودے به تحری (سوچ اوفکر) اوکړی.اود تحری نه پس چه کوم طرف ته نې غالب ګمان پیدا شو.چه دے طرف ته قبله ده.هغه طرف ته دے مونځ اوکړی.هم هغه طرف معتبر دې.تردےکه د مونځ نه پس ورته خپله غلطی ښکاره شی.نو هم پرے د مونځ دوباره راګرځول نشته.(ځکه چه ده په غالب ګمان باندې عمل کړې وو.اوغالب ګمان قائم مقام د یقین دې.)

تثلیث الغسل یفید غلبة العلم ﴿ صاحب دهدایه رحمه الله فرمائیلی دی.چه فقهاؤ درې ځله وینځل د غالب ګمان دپاره معیار ګرځولې دې.ځکه چه په دې تعداد باندې غالب ګمان پیدا کیږی. نود آسانتیا دپاره دا ظاهری سبب چه درې ځله دی.قائم مقام د غالب ګمان اوګرځولې شو.یعنی په درې ځله وینځلو به د پاکئ حکم لګولې شی.او ددې تائید په هغه حدیث سره کیږی.چه په هغې کښې دخوب نه رابیداریدونکی سړی دپاره تعلیم موجود دې. **[اذا استيقظ أحدكم من منامه فلا يغمسن يده في الإناء حتى يغسلها ثلاثا فإنه لا يدري أين باتت يده]** یعنی کله په تاسوکښې څوك د خوب نه رابیدارشی.نوخپل لاس دې په لوښی کښې نه وردننه کوی.تردے چه درې ځله نې اووینځی.ځکه چه ده ته پته نه لګی.چه دده لاس په کوم ځائې کښې شپه تیره کړې ده.(یعنی دده په بدن کښې په شرمګاه پروت وو اوکه په بل پاك ځائې . په دې حدیث کښې د یو وهمی نجاست د وجے درې ځله د وینځلوحکم کړې شوې دې.(یعنی دا په یقین سره معلومه نه ده.چه دده لاس به د شپې په خوب کښې د نجاست سره لګیدلے وی. صرف یواحتمال قدر وو.خونبی ﷺ اوفرمائیل:چه په اوبو کښې دے لاس نه ورداخلوی.ځکه چه اوبه به پرے پلیتے شی . نو کوم نجاست چه متحقق وی.نوده هغې د وینځلو حکم خو به خامخا درې ځله وی.

حکم التعمیر في النجاسة غیر المرئیة >اوبیا په ظاهر روایت کښي دهرځل وینځلو نه پس نچوړول ضروري دي.ځکه چه په نچوړولوسره نجاست خارجیږي . اوپه غیر ظاهر روایت کښي د امام محمد رحمه الله نه نقل دی .چه په دریم ځل نچوړول کافی دي.هرځل نچوړولو ته ضرورت نشته.

په استنجاء کښي د کاڼړو د عدد حکم

اَلْاِسْتِنْجَاءُ سُنَّةٌ استنجاء سنت ده يُجْزِءُ فِيهِ الْحَجَرُ وَالْمَدَرُ وَمَا قَامَ مَقَامَهُمَا جائزدي په دي کښي کاڼړي لوټه اوهغه چه د دي قائم مقام وی يَمْسَحُهُ حَتّٰى يُنَقِّيَهُ مسح کوی به ئي تردي چه پاک ئي کړی

تشریح > **وجه ذکرالإستنجاء في باب الأنجاس** >امام قدوری رحمه الله په دي فصل کښي د استنجاء بیان کوی.د بعضي عالمانو رحمهم الله خیال دي.چه دا استنجاء د اودس په سنتو کښي ده.نودا د اودس په بیان کښي ذکر کول مناسب وو.جواب چونکه د سبیلینو نه د نجاست حقیقی لرے کولو نوم استنجاء ده.نوځکه ئي دا په [باب الانجاس وتطهیرها] کښي ذکر کړله.

تشریح الکلمات المستعملة في الإستنجاء >استنجاء ،استطابه او استنجمار دري واړه الفاظ هم معنی دی.خو استنجاء او استطابه عامه ده.که په اوبو سره وی اوکه په بل پاکونکی څیز سره وی.اواستجمار د لوټو او کاڼړو سره خاص دي.داستنقاء معنی هم په کاڼړی وغیره سره پاکول دی.اواستبراء په زمکه باندي پښه وهلو ته وائی.اواستنزاه د متیازو نه ځان ساتلو ته وائی. استنجاء ماخوذ ده.د "نجو" نه او "نجو" وائی.هغه څیز ته چه د خیټي نه راوځی.اواوچت ځائي ته هم "نجو" وائی.

حکم الإستنجاء > استنجاء زمونږ په نیز سنت موکده ده.اوامام مالك رحمه الله او امام مزنی رحمه الله هم ددي قائل دی.

دلائله >د استنجاء د مسنونیت دلیل د نبی ﷺ همیشوالي دي.د بخاری او مسلم حدیث دي.[عن أنس رضي الله عنه قال کان رسول الله ﷺ یدخل الخلاء فأحمل أنا وغلام نحوی إداوة من ماء وعنزة فیستنجی بالماء]حضرت انس رضي الله عنه فرمائی. چه کله به نبی ﷺ بیت الخلاء ته داخلیدلو. نو ما او زماپشان یو هلك به د اوبو یوه لوټه اوړله.نو نبی ﷺ به په اوبو باندي استنجاء کوله.

(۲) په ابن ماجه کښي دحضرت عائشي رضی ا لله عنها نه روایت دي.[قالت ما رأیت رسول الله ﷺ خرج من غائط قط إلا مس ماء] یعنی ما رسول الله ﷺ کله هم نه دے لیدلي.چه د لوئی اودس ماتی نه به فارغ شو. نو خامخا به ئي اوبه استعمالولي.ددي دواړو احادیثو نه ثابته شوه.چه نبی ﷺ په استنجاء باندي همیشوالي کړي دي.

الإشکال > په دي مقام کښي تسو د استنجاء د مسنونیت دپاره د نبی ﷺ مواظبت او همیشوالي دلیل ګرځوئ.حالانکه د نورو دلائلو نه ثابته شوي ده.چه مواظبت دلیل د وجوب دي.نه د سنتیت دي.پکار دا وه.

الجواب > چه شارح ددي وضاحت کړي وي.په امداد الفتاح شرح نور الایضاح کښي علامه شرنبلالی رحمه الله فرمائی.چه واجب ځکه نه ده.چه نبی ﷺ کله کله پریخودے ده. ددي نه معلومه شوه.چه استنجاء سنت ده.فرض نه ده.

مایجوز به الإستنجاء؟ په استنجاء کښې د کاڼړی او څه چه ددې قائم مقام دې.دهغې استعمال جائز دې .او ددې طریقه دا ده.چه د استنجاء محل به دومره مسح کوی.چه هغه پاك شي. ځکه چه پاکول مقصود دی.نوچه کوم څیز مقصود وی.دهغې خیال به ساتلی شي.

وَلَيْسَ فِيهِ عَدَدٌ مَسْنُونٌ او په دې کښې څه مسنون شمار نشته

تشریح > **عدد الأحجار في الإستنجاء** > امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه په استنجاء کښې د کاڼړو مسنون شمار نشته .بلکه چه په څومره باندې پاکې حاصلیږی .که درې وی.اوکه د دریو نه کم وی اوکه زیات وی . ځکه چه مقصود پاکې حاصلول دی.چه په هرڅومره کاڼړو وی.

دلائله > دلیل دا دې. **[عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ من إكتحل فليوتر من فعل فقد أحسن ومن لا فلا حرج، ومن إستجمر فليوتر فمن فعل فقد أحسن ومن لا فلا حرج، ومن أكل فما تخلل فليلفظ وما لاك بلسانه فليبتلع من فعل فقد أحسن ومن لا فلا حرج ،ومن أتى الغائط فليستتر فإن لم يجد إلا أن يجمع كثيبا من رمل فليستدبره فإن الشيطان يلعب بمقاعد بني آدم من فعل فقد أحسن ومن لا فلا حرج]** ابوداود)

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی.چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.څوك چه رانجه اچوی.نوناتکئ دے اچوی.چاچه داسې اوکړلو.نو ښه ده.اوچا چه اونکړلو.نوڅه ګناه په کښې نشته.اوڅوك چه استنجاء کوی.نوناتکئ کاڼړی دے استعمالوی. چاچه داسےاوکړلو.نو ښه ده.اوچا چه اونکړلو. نوڅه ګناه په کښې نشته.اوڅوك چه خوراك کوی.نوچه څه په خلال سره راوباسی. هغه دے اوغورځوی.اوکوم چه په ژبه باندې راوباسی.هغه دے تیر کړی. چاچه داسې اوکړلو .نو ښه ده.اوچا چه اونکړلو.نوڅه ګناه په کښې نشته.اوڅوك چه غټ اودس ماتی ته لاړ شي.نوځان دے پټ کړی. چاچه داسےاوکړلو.نو ښه ده.اوچا چه اونکړلو . نو څه ګناه په کښې نشته. څوك ه د شګو یوډیرے راجمع کړی.نوهغې ته دے شا کړی .ځکه چه شیطان د بنی آدم په مقعد باندې لوبے کوی. چاچه داسې اوکړلو. نو ښه ده.اوچا چه اونکړلو.نوڅه ګناه په کښې نشته.

وجه الإستدلال > علامه ابن همام رحمه الله فرمائیلی دی.چه ایتار په یوباندې هم واقع کیږی.او په حدیث کښې فرمائیلی شوی دی.چه دایتار په پریخودوکښې څه ګناه نشته .ددې حاصل دا دې.چه د استنجاء په پریخود کښې څه ګناه نشته.اودکوم څیزپه پریخود کښې چه ګناه نه وی.هغه فرض یا واجب نه وی.نومعلومه شوه.چه استنجاء فرض نه ده.بلکه سنت ده.او ایتار لکه څنګه چه د دریو په شمار سره راځی.دغه شان د یو په شمار سره هم راځی.نوځکه د دریو شمار هم ضروری نشو.

الإعتراض > د حدیث نه په عدم وجوب د استنجاء باندې استدلال ټیك نه دې.ځکه چه په دې کښې داسې الفاظ راغلی دی. **[من إستجمر فليوتر، من فعل فقد أحسن ومن لا فلا حرج]** یعنی په دې کښې نفی د استنجاء کولو نه نه ده راغلې.بلکه نفی د ایتار نه راغلے ده.یعنی چاچه په استنجاء کښې ایتار اونکړلو.نوګناه نشته.دا مطلب نه دې.چه چا استنجاء اونکړله.نو ګناه په کښې نشته.ځکه چه د **[من استجمر]** کلمه خو حکایت د واقعه ده.ددې د حکم سره څه تعلق نشته.نوزما په نزد د استنجاء د عدم فرضیت دپاره دلیل هغه دې.کوم چه ما په خپله پښتو شرح مفتاح الفلاح شرح نورالایضاح کښې د شرنبلالی رحمه الله د شرح امدادالفتاح نه نقل کړې دې.چه بعضے وختونوکښې نبی ﷺ استنجاء پریخودے

هم ده. او ترک دلیل د عدم وجوب او عدم فرضیت دی.البته دلته کښې دا خبره دتحقیق محتاجه ده.چه هغه کوم مواقع دی.چه نبی ﷺ په کښې استنجاء نه ده کړې.شرنبلالی هم په څه حدیث سره دهغې اثبات نه دے کړې. شاه فیصل عفی عنه.

په اوبو باندې د استنجاء کولوحکم

وَغَسْلُهُ بِالْمَاءِ أَفْضَلُ اوبه اوبو سره استنجاء کول غوره ده

تشريح > **فضل الإستنجاء بالماء** > امام قدوری رحمه الله فرمائیلی دی.چه په لوټو سره د اوچولو نه پس په اوبو باندې وینځل افضل دی.

دليله > دلیل دالله تعالی قول دې.﴿فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا﴾ دا آیت د اهل قبا په باره کښې نازل شوې دې.اود اهل قبا دا عادت وو.چه هغوی به په کانړو باندې د استنجاء نه پس په اوبو استنجاء کوله.

إستحباب الإستنجاء بالماء > داخبره دے واضحه وی.چه په کانړوباندې د استنجاء کولونه پس په اوبو باندې استنجاء کول ادب او مستحب دې.ځکه چه نبی ﷺ به کله په اوبو باندې استنجاء کوله. اوکله به نې پریخودله.اوښکاره خبره ده.چه دا د استحباب خبره ده

سنية الإستنجاء في زماننا > بعضې حضراتوفرمائیلی دی.چه زمونږ په زمانه کښې په اوبو باندې استنجاء کول مسنون ده.اودا قول د حسن بصری رحمه الله نه منقول دې.دلیل دحضرت علی رضي الله عنه اثر دې. [قال إن من كان قبلكم كانوا يبعرون بعرا وأنتم تثلطون ثلطا فاتبعوا الحجارة الماء] حضرت علی رضي الله عنه فرمائیل:چه ستاسونه وړاندې خلقو به پچے کولې.او تاسو خو غټ بول کوئ.

الروايتان في عدد الغسلات للوسواس > صاحب دهدایه رحمه الله فرمائیلی دی.چه د استنجاء په ځائې به اوبه ترهغه وخته پورې بیوی.چه ترځوټې دنجاست په لرے کېدو غالب گمان نه وی پیدا شوې.اود درې یا پنځه کرته څه حد نشته.

① خوکه یو کس وسواسی وی.نودهغه دپاره درې خله مقررولی شی.لکه چه څنګه په نجاست غیرمرئی کښې دی.اوغټ بول اګرچه مرئی دی. لیکن دا چونکه لیدلے نشی.نوهغه هم د ده په حق کښې د متیازو یعنی نجاست غیرمرئی پشان دی.

② اوبعضې عالمانو په اووه خله مقرر کړی دی.په هغه حدیث باندې عمل کولو د وجے کوم چه د سپی جوټه شوی لوښی اووه خله وینځلو په باره کښې وارد شوې دې.

دمحل نه د نجاست د تجاوز په صورت کښې د استنجاء حکم

وَإِنْ تَجَاوَزَتِ النَّجَاسَةُ مَخْرَجَهَا اوکه نجاست د مخرج نه تجاوز اوکړلو لَمْ يَجُزْ فِيهِ إِلَّا الْمَاءُ نود اوبونه سوا بل څیزجائزنه دې أَوِ الْمَائِعُ اویا بهیدونکې څیز

حل اللغة > ① تجاوزت، جاوز مجاوزةً: زیاتې کول ② لم یجز، جاز جوازاً (ن) : نه رواکیدل ③ مائع: بهیدونکې

تشريح > **صورة المسئلة** > مسئله دا ده.چه کله نجاست د محل د استنجاء نه تجاوز اوکړی.نودا صرف په اوبو باندې پاکیږی.اودغه شان په بهیدونکی څیزباندې پاکیږی.که دغه بهیدونکې څیز اوبه وی او که د اوبونه علاوه بل څه څیزوی لکه سرکه وغیره شوه.البته په مائع باندې د نجاست دپاکیدو

دپاره دا شرط دې چه دغه مانع څیز پاک وی لکه څنګه چه د دې تفصیل وړاندې په باب الانجاس کښې تیر شوې دې

دليل فرضية الغسل عند تجاوز النجاسة من المحل> باقی پاتې شو ددې خبرے دلیل چه نجاست کله د مخرج نه تجاوزاوکړی.نودهغې وینځل فرض دی.هغه دا دې.چه په کاڼړی وغیره اوچولوسره نجاست زائله کیږی نه.بلکه نور هم خوریږی . لیکن د ضرورت د وجے په باب د استنجاء کښې خلاف قیاس په کاڼړی وغیره سره ددې پاکول طهارت شمار کړې شو.اودا قاعده ده.چه کله یو څیز د څه ضرورت د وجے خلاف قیاس ثابت شی. نوهغه به خاص وی په دغه محل د ضرورته پورې.بل څیز ته به دغه حکم تجاوز نه کوی.نوپه دلیل سره ثابته شوه.که نجاست تجاوز کړې وی .نوپه اوبو وغیره سره د وینځلو نه بغیر دهغې طهارت نشی راتلې.

الخلاف في محل قدرالدرهم المعفوعنه > داخبره یاده ساتې:چه هغه مقدار چه دمانځه د جواز دپاره مانع دې.

① د شیخینو ﷺ په نیز د استنجاء نه علاوه ځانې دې.یعنی د استنجاء ځانې په کښې حساب نه دې.څکه چه هغه یوځل معاف شوې دې.(نودوباره پکښې هغه حسابول ټیك نه دی) نوچه د یو درهم نه زیات وی.نو په اوبو سره د هغې وینځل فرض دی.

② د امام محمد ﷺ په نیز چه د استنجاء ځانې سره ملاؤ شی.او د یو درهم نه زیات شی.نومانع د مانځه دې.په نورو ځایونو باندې قیاس کوی.یعنی لکه څنګه چه په نورو ځایونو کښې د یو درهم په برابری باندې نجاست معاف دې. ددې نه زیاتی معاف نه دې.نودغه شان د استنجاء په باب کښې هم د یوے روپۍ مقدار معاف دې.اوددې نه زیاتی معاف نه دې.

په کوموڅیزونو استنجاء مکروه ده؟

وَلَایَسْتَنْجِی بِعَظْمٍ وَلَا بِرَوْثٍ اوپه کاڼړی او خاشنړودے استنجاء نه کوی

حل اللغة > ①لایستنجی، استنجی استنجاء: استنجاء کول ② عظم: هډوکې ③روث: سوته ④ نهیا(ف): بندول منع کول ⑤زاد: توښه خوراك]

تشریح > كراهية الإستنجاء بالعظم والروثة > مسئله:په خاشنړواوهډوکی باندې استنجاء کول مکروه ده.

دلائله > ① څکه چه په صحیح بخاری کښې د حضرت ابوهریره ﷺ حدیث دې.چه [قال له النبی ﷺ ابغنی أحجارا أستنفض بها ولا تأتنی بعظم ولا بروثة قلت ما بال العظام والروثة قال ﷺ هما من طعام الجن] نبی ﷺ حضرت ابوهره ﷺ ته اوفرمائیل :زما دپاره کاڼړی اوګوره.چه زه پرے استنجاء اوکړم.خو هډوکے او دخوراك څیز راته مه راوړه.حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی. ما عرض اوکړو.په هډوکی اوخشنړو کښې څه وجه ده؟ نبی اوفرمائیل دا دواړه د پیریانوخوراك دې.

② امام ترمذی روایت کړې دې.چه [لا تستنجوا بالروث ولا بالعظام فإنه زاد إخوانكم من الجن] یعنی تاسو په خاشنړواو هډوکو استنجاء مه کوئ.څکه چه دا ستاسو د پیریانو رورنړوخوراك دې.

علة الكراهة في العظم والروثة > اوکه د ممانعت باوجود ئې په دې څیزونواستنجاء اوکړله. نواستنجاء اوشوه .څکه چه مقصود حاصل شو.چه د نجاست لرے کول وو.خوسنت ادا نشو.او په خاشنړوکښې دممانعت وجه ددې نجاست دې.اوپه هډوکی کښې د ممانعت وجه دا ده.چه دا د پیریانوخوراك دې.

په طعام اوښي لاس د استنجاء کولو کراهت

وَلَا بِطَعَامٍ او استنجاء به نه کوی په طعام باندې وَلَا بِيَمِينِهٖ او استنجاء دے نه کوی په ښی لاس

تشریح﴿ دلیل کراهة الإستنجاء بالطعام﴾ اود خوراك په څيزهم استنجاء كول جائز نه ده. ځكه چه دا ضائع كول او اسراف دې.اودا دواړه خبرے حرامے دی.

دلیل کراهة الإستنجاء بالیمین﴾ اوپه خپل ښی لاس باندې استنجا نه کوی.ځکه چه نبی ﷺ په ښی لاس باندې داستنجاء کولونه منع فرمائیلے ده. د حضرت ابوقتاده رضي الله عنه نه روایت دې.

[قال إذا بال أحدكم فلا يأخذن ذكره بيمينه، ولا يستنجي بيمينه ولا يتنفس في الإناء](٢) یعنی فرمائیلی ئې دی.کله چه په تاسو کښې څوك متيازې كوى.نوخپل خاص اندام دے په ښی لاس نه نيسي. اوپه ښی لاس دې استنجاء نه کوی. اوپه لوښی کښې دے ساه نه اخلی. په دې حديث کښې ښکاره په ښی لاس داستنجاء کولو نه منع راغلے ده.

کِتَابُ الصَّلٰوۃ

ترجمه: (دا) کتاب د مونځ (داحکامو په بیان کښې) دې.

تشریح﴿ وجه تقدیم الطهارة على الصلاة﴾ مونځ د عباداتو اصل او د طاعاتو بنیاد دې. نوځکه دا په ټولومشروعاتو باندې مقدم کړې شو.اوطهارت دمانځه شرط دې. او شرط مقدم وی په مشروط باندې. نوځکه کتاب الطهارة په کتاب الصلاة باندې مقدم کړې شو.

معني الصلاة لغة﴾ صلاة په لغت کښې د دعا په معنی کښې راځی.لکه ﴿وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ﴾ یعنی ته د دوی دپاره دعا غواړه.بیشکه ستا دعا د دوی دپاره سبب د اطمینانَ دې.اود نبی ﷺ قول دې.[وصلت عليكم الملائكة] یعنی فرښتے تاسو ته دعاګانے کوی.او دنبی ﷺ ارشاد [إذا دعى أحدكم إلى الطعام فليجب فإن كان مفطراً فليأكل وإن كان صائماً فليصل] یعنی کله چه چا ته دعوت ملاوشی.نوهغه قبلول پکار دی.که روژه دارنه وی.خوراك دے اوکړی .اوکه روژه داروی.نوهغه دپاره دے د خیر اوبرکت دعا اوکړی.

معني الصلاة شرعا﴾ اودشریعت په اصطلاح کښې د افعال معلومه ؤ او ارکان مخصوصه ؤ نوم دې. او دے افعال معلومه ؤ او ارکان مخصوصه ؤ ته صلاة ځکه وائی.چه دا د دعا په معنی مشتمل دې.د وجوب صلاة سبب ددې وخت دې. او د مونځ ادا کولو سبب دالله تعالى امر تقدیری دې.

حکم الصلاة﴾ او ددې حکم په دنیا کښې د ذمه نه د واجب سقوط دې.اوپه آخرت کښې دهغه ثواب حاصلیدل دی.چه وعده ئې شوې ده.

دلائل فرضیة الصلاة﴾ دمونځ فرضیت په کتاب، سنت او اجماع درې واړو باندې ثابت دې. ①کتاب الله مثلاً ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾ او ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا﴾ دې. ②او سنت د رسول الله ﷺ لکه رسول الله ﷺ فرمائی .[إن الله تعالى فرض على كل مسلم ومسلمة في كل يوم وليلة خمس صلوات] ③او اجماع دا ده.چه د نبی ﷺ د زمانې نه واخله تر اوسه پورې د مونځ په فرضیت باندې د ټول امت اجماع ده.

(٢) من حديث أبي قتادة رضي الله عنه أخرجه البخاري في الوضوء باب ١٨ رقم ١٥٣ ومسلم في الطهارة رقم ٦٣ وأبوداود في الطهارة باب ١٨ والترمذي في الطهارة باب ١١ والنسائي في الطهارة باب ٤١ وابن ماجه في الطهارة باب ١٥۔

إثبات الصلوات الخمس من سورة البقرة> داخبره چه مونځونه پنځه دی.دا هم دکتاب الله نه ثابته ده.الله تعالى فرمائی.﴿حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى﴾ دا آيت د مونځ په فرضيت هم دلالت کوی.اوپه دې وجه هم چه دا پنځه دی.دا په دې طريقه چه الله تعالى د ټولو مونځونو د محافظت حکم کړې دې.او په دې باندې ئې د ،،صلاة وسطى،،عطف کړې دې.اواقل د جمعې چه وسط په کښې متحقق وی. ځلور دی. نو په ،،على الصلوات،، کښې د ځلورو مونځونو ذکر دې.او په صلاة وسطى کښې د يو يل مونځ.نوداسې دا پنځه مونځونه شو.

تاريخ فرضية الصلاة>باقی پاتې شوه داخبره.چه مونځ کله فرض شوې وو.او د مونځ دفرضيت نه وړاندې د نبی ﷺ دعبادت طريقه څه وه؟نو په دې باندې خو د تاريخ او سيرت د ټولو عالمانو اتفاق دې.چه مونځ د معراج په شپه باندې فرض شوې دې.خو بيا دمؤرخينو د معراج د شپې په باره کښې اختلاف دې.چه دا په کوم کال کښې واقع شوې وه.نو د نبوت د پنځم کال نه تر لسمه پورې په کښې مختلف اقوال منقول دی.جمهور عالمان د پنځم کال قائل دی.

الخلاف في فرضية الصلاة قبل الخمس>بيا په دې کښې اختلاف دې.چه د معراج د شپې نه وړاندې څه مونځ فرض وواوکه نه؟ ① دزياتو عالمانو هم دا خيال دې.چه د پنځو مونځونو نه وړاندې څه مونځ فرض نه وو. ② خو د امام شافعی رحمه الله قول دې.چه د معراج نه وړاندې د تهجدو مونځ فرض وو.ددې دليل د سورت مزمل اولنی آياتونه ﴿قم الليل إلا قليلا﴾ دې.دا سورت په مکه کښې بالکل په اولنۍ زمانه کښې نازل شوې وو.

الجواب عن إستدلال الشافعي رحمه الله وضعفه> بعضې حضراتوجواب ورکړې دې.چه په سورت مزمل کښې د مونځ حکم مدنی دې.ځکه چه ددې سورت په آخر کښې ﴿ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ مزمل: ۲۰]راغلی دی.او قتال په مدينه منوره کښې شروع شوې وو.خو دا خبره صحيح نه ده.ځکه چه د قتال ذکر په دې سياق کښې دې.﴿عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّهِ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ په دې آيت کښې صيغه د مستقبل ده.دا په دې باندې دلالت کوی.چه دا حکم به روستو ورکولې شی.اود آيت د نزول په وخت کښې قتال نه وو.نوکه دا سورت مکی اوګنړلې شی. په دې کښې څه قباحت نشته.نو داامام شافعی رحمه الله استدلال ټيک دې.خو د بعضې عالمانو قول دې.چه د تهجدو مونځ صرف په نبی ﷺ باندې فرض وو.په باقی امت باندې فرض نه وو.

هل فرض علي المسلمين صلاة قبل الإسراء> بيا په دې کښې اختلاف دې. چه عامو مسلمانانو هم د پنځه مونځونو نه وړاندې څه مونځ کولو که نه؟د بعضې عالمانو رحمهم الله دا خيال دې.چه د صبا او مابنام مونځ د معراج دشپې نه وړاندې فرض شوی وو.ددې دليل دا آيت دے﴿وَسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ﴾ آل عمران:۴۱] دا آيت د معراج نه وړاندې نازل شوې دې.او په دې کښې هم ددې دوو مونځونو ذکر دې.

القول المحقق> په دې باره کښې تحقيقی خبره دا ده.چه دومره خبره خو د رواياتو نه ثابته ده.چه نبی ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم به د معراج نه وړاندې دصبا او مابنام مونځونه کول.په سورت جن کښې چه د جناتو د قرآن اوريدو کومه واقعه راغلې ده.هغه د صبا په مانځه کښې پيښه شوې وه.اوغالباً دا د

معراج نه وړاندې وه.خودا دواړه مونځونه په نبی ﷺ فرض وو.که دوی به دا نفلی کول.نوددې څه دلیل او صراحت په روایاتو کښې نشته.

الحکم في عدد الخمس﴾باقی پاتې شوه دا خبره چه دا پنځه مونځونه ولې فرض شوی دی.ددې نه کم یا زیات ولې نه دی؟نوددې څو حکمتونه بیان شوی دی.وے ګورئ.

① **بحسب الحواس الخمسة**﴾ الله تعالی د ظاهری څیزونو معلومولو دپاره په انسان کښې پنځه قوتونه پیدا کړی دی.① قوت باصره ② قوت سامعه ③ قوت شامه ④ قوت ذائقه ⑤ قوت لامسه. نو ددې پنځو قوتونو په مقابله (یعنی شکریه کښې الله تعالی پنځه مونځونه فرض کړل.

② **بحسب النعماء الخمس**﴾ خالق کائنات چه د کوم وخت نه په دنیا کښې دانسان د پیدائش اراده اوکړه.نود ټولو نه وړاندې ئې ده ته وجود ورکړلو.اوبیا ئې د ده د ضرورت دپاره پنځه غټ غټ نعمتونه پیدا کړل. ① دخوراك څکاك څیزونه ② ګرمے او یخے جامے ③ د استوګنے دپاره کور ④ او د خدمت وغیره دپاره ښځه اوخدمتګار وغیره ⑤ د سفر دپاره سورلئ. د ده دوجود شکریه خو کلمه طیبه [لاإله الله محمد رسول الله] ده.او ددې پنځه نعمتونو په مقابله کښې ئې پنځه مونځونه فرض کړل.چه په یو مونځ سره د یو لوئي نعمت شکر ادا شي.

③ **بحسب أحوال الإنسان**﴾ دانسان ټول ژوند په پنځو حالتونو کښې تیریږی. ① ملاسته ② ناسته ③ ولاړه ④ خوب ⑤ ویخه. په دې پنځو حالتونو کښې په انسان باندې دالله تعالی نعمتونه د باران پشان وریږی.چه دهغې شمار هم ګران دې.نو الله تعالی ددې ټولو نعمتونو د شکریه دپاره د پنځو وختونو مونځونه فرض کړل.لکه چه چا پنځه مونځونه اوکړل.نوده په هر حالت کښې دالله تعالی د هر نعمت شکر ادا کړو.

④ **بحسب عدد الشدائد بعدالحیاۃ**﴾ د دنیاوی ژوند په ختمیدو باندې په انسان پنځه قسمه مصیبتونه راځی. ① مرګ ② قبر③ پل صراط④ عمل نامه په ګس لاس ملاویدل⑤ د جنت دروازه بندیدل.مهربانه رب ددې پنځو مصیبتونو لرے کولو دپاره پنځه مونځونه فرض کړل.علامه ابن حجرمکی رحمه الله فرمائی.[من حافظ علی الصلاۃ آکرمه الله بخمس خصال یرفع عنه ضیق الموت وعذاب القبر ویعطه الله کتابه بیمینه ویمر علی الصراط کالبرق ویدخل الجنة بغیرحساب] چاچه پنځه مونځه اوکړل.الله تعالی به ورته پنځه نعمتونه ورکړی. ① دمرګ د سختئ نه به ئې محفوظ کړی. ② دقبر دسختئ او تیارهٔ نه به ئې محفوظ کړی. ③ عمل نامه به ورته په ښی لاس ورکړی. ④ په پل صراط به د بجلئ د برق پشان تیر شی. ⑤ جنت ته به بے حسابه داخل شی.

دصبا د مونځ اول او آخر وخت

أَوَّلُ وَقْتِ الْفَجْرِ د صبا اولنی وخت إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ الثَّانِي کله چه فجرثانی راوخیژی وَهُوَ او فجر ثانی هغه دې اَلْبَيَاضُ الْمُعْتَرِضُ فِي الْأُفُقِ چه په افق کښې یو سپینه رڼړا په پلنوالی خور شوې وی وَآخِرُ وَقْتِهَا مَالَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ او د صبا آخری وخت ترڅو چه نمر نه وی راختلې

حل اللغة﴾ ①طلع طلوعًا(ف): راوتل. ښکاره کیدل ②معترض: خوریدونکې ③بیاض: سپینوالی

تشریح> وجه تقدیم المواقیت علی الصلاة> د مونځ وختونه د مونځ د وجوب دپاره اسباب دی.او سبب مقدم وی په مسبب باندې.نوځکه ئې د مونځ د وختونو بیان مقدم کړو.

وجه تقدیم الفجر علی غیرها> په حدیث کښې اګرچه د ماسپخین وخت مقدم دې.خو دلته د څو وجوهاتو نه د صبا وخت مقدم شو.

① اوله وجه دا چه د صبا اول او آخر وخت اتفاقی دې. نو ځکه دا مقدم ګړې شو.ددې په خلاف د نورو مونځونو په وختونو کښې لږ ډېر غوندې اختلاف شته.

② دویمه وجه دا ده.چه د صبا مونځ د ټولو نه اولنی انسان حضرت آدم کړې وو.

③ دریمه د صبا مونځ په ورځ کښې اولنې مونځ دې. ځکه ئې په ذکر کښې هم مقدم کړو.

④ څلورمه وجه دا ده.چه اوده سړې چه د مرې پشان وی.په هغه د ټولو نه اولنې مونځ چه واجبیږی.هغه د صبا مونځ دې.نو ځکه د صبا وخت وړاندې ذکر کړې شو.(حاشیه ملا عبدالغفور عنایه)

تعریف الفجر الصادق والکاذب> نو د صبا د مونځ وخت د صبا صادق په راختو شروع کیږی.او په نمر راختو ختمیږی.اوصباصادق هغه رڼائی ده.چه په پلنوالی په آسمان کښې خوره شی.او صبا کاذب هغه رڼائی ده.چه په اوږد والی په آسمان باندې ښکاره شی.اودهغې نه پس بیا تیاره شی.عربیانو به صبا کاذب ته،،ذنب السرطان،، (د شرمخ لکۍ) وئیله.

دلیل وقت الفجر> دصبا د اول اوآخر وخت دلیل په امامت جبرئیل علیه السلام حدیث دې.صاحب د عنایه پوره حدیث دا سې بیان کړې دے[عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّنِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ عِنْدَ الْبَيْتِ مَرَّتَيْنِ فَصَلَّى بِي الظُّهْرَ حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ وَكَانَتْ قَدْرَ الشِّرَاكِ وَصَلَّى بِي الْعَصْرَ حِينَ صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ وَصَلَّى بِي الْمَغْرِبَ حِينَ غَابَتِ الشمس وصلى بي العشاء حين غاب الشفق وصلى بي الفجر حين طلع الفجر وصلى بي الظهر في اليوم الثاني حين زالت الشمس وصار ظل كل شيء مثله وصلى به العصر حين صار ظل كل شيء مثليه وصلى بي المغرب حين غربت الشمس لوقته بالأمس وصلى بي العشاء حين مضى ثلث الليل أوقال نصف الليل فصلى بي الفجر حين طلع الفجر واسفر وكادت الشمس أن تطلع ثم قال يا محمد ﷺ هذا وقتك ووقت الأنبياء من قبلك] (۱)

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې.چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل.حضرت جبرئیل ماته د خانه کعبے سره دوه ځله امامتی راکړې وه.په اولنۍ ورځ ئې راته د ماسپخین مونځ اوکړو.چه نمر زائله وو.او سورے د شراك (د پنړے د تسمے) پشان وو.او د مازیګر مونځ ئې راته اوکړو.په داسے وخت کښې چه دهر څیز سورے دهغے په دوچنده شو.اود ماښام مونځ ئې راته په هغه وخت کښې اوکړو.چه نمر پریوتے وو.اود ماسخوتن مونځ راته راکړو.په هغه وخت کښې چه شفق غائب شو.او د سحر مونځ ئې راته راکړوکله چه صبا راوختلو.او مونځ ئې راته راکړه د ماسپخین د مانځه په دویمه ورځ کله چه نمر زائله شو.او دهر څیز سورے دو چنده شو.او مونځ ئې راته راکړلو د مازیګر کله چه دهرڅیز سورے د هغې په یوچند شو.او د ماښام مونځ ئې راته راکړلو.چه نمر پریوتلو .هم په هغه وخت کښې چه پرون ئې راته په کښې (د ماښام مونځ کړې وو . او دماسخوتن مونځ ئې راته اوکړو.چه د شپې دریمه حصه تیره شوې

---

۱) من حدیث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه ابوداود فی الصلاة باب ۲ والترمذی فی المواقیت باب ۱ واحمد فی المسند (۳۳۳۱/۱) والبیهقی فی السنن الکبری (۵۲۵/۱) رقم ۱۷۰۲)۔

وه. یا نبی ﷺ اوفرمائیل . چه نیمه شپه تیره شوي وه.او د صبا مونځ ئې راته اوکړه.په هغه وخت کښې چه رنړا شوي وه.او نمر راختو ته نزدے وو.بیا حضرت جبرئیل اوفرمائیل .اے محمده! دا ستا وخت دي.او ستا نه وړاندې د پیغمبرانو علیهم السلام وخت وو.

توضیح اذان بلال رضی الله عنه ﴿صاحب دهدایه رحمه الله فرمائي.چه د صبا په مانځه کښې صبا صادق معتبر دې. صبا کاذب معتبر نه دې.دلیل هغه حدیث دې.کوم چه په صحیح مسلم ترمذی وغیره کښې دې.واقعه داسې وه.چه حضرت بلال رضی الله عنه به د صبا صادق راختلو نه وړاندې د تهجدو یا پیشمنی دپاره اذان کولو.او عبدالله بن ام مکتوم رضی الله عنه به دصبا راختونه پس اذان کولو. په دې باندې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.[لایغرنکم أذان بلال ولا الفجر المستطیل](۱)یعنی د بلال اذان دے تاسو دهوکه نکړی.یعنی د بلال په اذان باندې دا گمان مکوئ.چه د صبا د مونځ وخت داخل شو.ځکه چه دا د صبا دپاره نه دې.بلکه د تهجدو یا پیشمنی دپاره دې.اونه دے تاسو فجر مستطیل دهوکه کړی.فجر مستطیل یعنی صبا کاذب هغه پلنه رنړا ده.چه په آسمان کښې خوره شي.

د ماسپخین اول او آخری وخت

وَأَوَّلُ وَقْتِ الظُّهْرِ اود ماسپخین اول وخت إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ کله چه نمر زائله شي

حل اللغة ﴿① زالت، زال زوالاً (ن) زائل کیدل ② شمس: نمر

تشریح ﴿ **طریق معرفة زوال الشمس** ﴿صاحب د عنایه د محمد بن شجاع په حواله سره د فيئ زوال معلومولو طریقه بیان کړې ده.چه اول دے زمکه داسې همواره کړې شي .چه په دې کښې د ویخته برابر اوچتوالے او ښکته والے پاتې نشي.بیا دے په دې کښې یو لرگے ښخ کړې شي.اوچه تر کوم ځائې پورې دهغې سورے رسي. هلته دے یوه نښه اوکړې شي.نوچه ترڅو دغه سورے کمیږی.نودا د زوال نه وړاندې وخت دې.نو په دغه وخت کښې چه کوم سورے وی.هغے ته فيئ زوال او اصلی سورے وئیلے شي.اوکله چه سورے په اوږدیدو شي.نوپوهه شه.چه نمر زائله شو.او د ماسپخین د مانځه وخت داخل شو.

اول وقت الظهر ﴿بهرحال دماسپخین اول وخت د زوال نه پس شروع کیږی.

دلیله ﴿ او ددې دلیل دا دې.چه حضرت جبرئیل په اوله ورځ دماسپخین مونځ هم په دې وخت کښې کړې وو.(۲)

وَآخِرُ وَقْتِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دماسپخین آخری وخت) إِذَا صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَيْهِ کله چه د هر څیز سورے دهغه په دوچنده شي سِوَى فَيْءِ الزَّوَالِ علاوه د سوری د زوال (اصلی) نه

حل اللغة ﴿① ظل جمع ظلل: سوري ② فئ:سوري

تشریح ﴿ **مذهب ابي حنيفة رحمه الله في آخر وقت الظهر** ﴿ د ماسپخین په آخری وخت کښې احناف عالمان په خپلو

---

۲) من حدیث سمرة بن جندب رضی الله عنه أخرجه مسلم فی الصیام رقم ۴۳ وأبوداود فی الصوم باب ۱۷ والترمذی فی الصوم باب ۱۵ وابن ماجه فی الصیام باب ۲۳ واحمد فی المسند(۲۳/۱٤)۔

کښې مختلف دي.دامام ابوحنیفه رحمه الله نه په دې باره کښې درې روایات نقل دي. ①یوروایت کوم چه امام محمد رحمه الله نقل کړې دې.چه کله د اصلي سورې نه علاوه دهر څیز سورے دوچنده شي.نود ماسپخین وخت ختمیږی.اود مازیګر وخت داخلیږی.دا روایت د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دې.

دلیله ﴿ دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه حدیث دې.یعنی [ابردوا بالظهرفان شدة الحرمن فیح جهنم]() په دې حدیث باندې استدلال داسې کیږی.چه نبی ﷺ د ماسپخین مونځ د یخنۍ په وخت کښې د کولو حکم کړې دې.او په عرب ملکونو کښې سخته ګرمی هم په دې وخت کښې وی.(چه کله دهر څیز سورے دهغې برابر شي. نومعلومه شوه.چه نبی ﷺ د یو مثل نه پس دماسپخین دمونځ کولو حکم کړې دې.اوکله چه د یومثل نه پس د ماسپخین وخت باقی وی.نودیومثل نه پس دمازیګروخت څنګه شروع کیدے شي؟

وَقَالَ أَبُويُوسف وَمُحَمّد رحمهما الله اوصاحبین رحمهما الله فرمانی إِذَا صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ چه کله د هر څیز سورے دهغې برابرشي

مذهب الصاحبين﴿ د صاحبینو امام زفر او امام شافعی مذهب دا دې. او دا د امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم یوروایت دې کوم چه حسن بن زیاد نقل کړې دې.چه کله دهرڅیز سورے د هغې داصلي سورې نه علاوه دهغې په دوچند شي.نودماسپخین وخت اووتلو.اود مازیګر وخت داخل شو.

دليلهما ﴿ دصاحبینو رحمهما الله دلیل دا دې.چه حضرت جبرئیل په اوله ورځ د مازیګر مونځ هم په هغه وخت کښې کړې وو.چه دهر څیز سورے د هغې برابر وو.نومعلومه شوه.چه په دغه وخت د مازیګر وخت شروع کیږی.او د ماسپخین وخت خارجیږی.

الاجوبه عنه ﴿ ① دامامت دجبرئیل دحدیث نه علامه ابن همام رحمه الله دا جواب کړې دې.چه د مونځ د وختونو په باره کښې دا حدیث د ټولو نه وړاندې دې.اوکوم حدیثونه چه ددې نه مخالف دی.نوهغه ټول روستنی دی.او مؤخر د مقدم دپاره ناسخ وی.نومعلومه شوه.چه حدیث جبرئیل منسوخ دې.نوقابل استدلال پاتې نشو.

② صاحب دهدایه رحمه الله داسې استدلال کړې دی.چه حدیث دامامت جبرئیل علیه السلام دې دلالت کوی.چه په یومثل سره دماسپخین وخت ختمیږی.اودحدیث [ابردوا بالظهر] نه معلومیږی.چه په یو مثل باندې د ماسپخین وخت نه ختمیږی.بلکه باقی وی.نوپه یو مثل باندې د ماسپخین د وخت وتل مشکوک شو.حالانکه د یو مثل نه وړاندې د ماسپخین د وخت وجود یقیني وو.او دا قاعده ده.چه یو څیز په یقین سره ثابت وی.نوپه شك سره نه ختمیږی.(لکه چه یو سړی ته خپل اودس په یقین سره یاد وی.خو په اودس ماتی کښې ئې شك شی.چه ما اودس مات کړې دے که نه؟نو فقهاء لیکی.چه اودس کول پرے نشته.) نو چه دهر څیز سورے دهغې په مثل شي. په دې باندې د ماسپخین د وخت وتل مشکوك شو.نو نه خارجیږی.

التسامح من صاحب القدوری﴿ دلته کښې د امام قدوری رحمه الله په عبارت کښې لږ غوندې تسامح دې. هغه دا چه امام قدوری رحمه الله فرمانی.چه د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د ماسپخین آخر وخت دا دې. چه دهر

---

۱) من حديث أبي سعيدالخدرى رضی الله عنه اخرجه البخارى فى المواقيت باب ۹ رقم ۵۳۶ ومسلم فى المساجد ومواضع الصلاة رقم ۱۸۰ رأبوداود فى الصلاة باب ٤ والترمذى فى المواقيت باب ۵ والنسائى فى المواقيت باب۵ وابن ماجه فى الصلاة باب٤)

خیز سورے دهغې دوچنده شی.اود صاحبینو ﷬ په نیز چه یوچند شی.حالانکه په هغه وخت کښې خو د ماسپخین وخت خارج شوې وی.(یعنی چه سورے یوچند او دوچنده شی. نو په دې خو د ماسپخین وخت ختم شو.(دا خونې آخری وخت نه دې) نو ددې د آخری وخت څه مطلب شو.ددې جواب دا دې. چه د آخر نه مراد هغه وخت دې.چه په هغې سره د ماسپخین د وخت وتل متحقق کیږی.

د مازیګر اول او آخر وخت

وَأَوَّلُ وَقْتِ الْعَصْرِ إِذَا خَرَجَ وَقْتُ الظُّهْرِ او د مازیګر اول وخت چه کله د ماسپخین وخت اوځی عَلَى الْقَوْلَيْنِ په دوارو قولونو باندې وَآخِرُ وَقْتِهَا اود مازیګر آخر وخت مَا لَمْ تَغْرُبِ الشَّمْسُ ترڅو پورې چه نمر نه وی دوب شوې

حل اللغة< ① لم تغرب، غرب غروبًا (ن) :ډوبیدل ② ادرک ادرې کًا: موندل]

تشریح< **أول وقت العصر وآخره**> د مازیګراول وخت هله شروع کیږی.چه دماسپخین وخت ختم شی.برابره ده. که د ماسپخین وخت په دوچنده باندې ختم شی.لکه چه داامام ابوحنیفه ﷫ مذهب دې.اوکه په یوچند باندې ختم شی.لکه چه د صاحبینو ﷬ مذهب دې.او د مازیګر وخت د نمر ډوبیدو نه وراندې پورې دې.

دلیله< دلیل دحضرت ابوهریره ﷜ حدیث دې.[قال قال رسول الله ﷺ من أدرک من الصبح رکعة قبل أن تطلع الشمس فقد أدرک الصبح ومن أدرک رکعة من العصر قبل أن تغرب الشمس فقد أدرک العصر] (۱) (صحیحین حضرت ابوهریره ﷜ فرمائی.چه نبی ﷺ فرمائیلی دی . چا چه د نمر راختلو نه وراندې د صبا یو رکعت رالاندې کړه. نوهغه صبا رالاندې کړه.اوچاچه د نمر پریوتو نه وراندې د مازیګر یو رکعت رالاندې کړه.نوده مازیګر رالاندې کړه.ددې حدیث نه معلومه شوه.چه د مازیګر وخت د نمر ډوبیدو نه وراندې پورې باقی وی.

دماښام اول او آخر وخت

وَأَوَّلُ وَقْتِ الْمَغْرِبِ اود ماښام اول وخت إِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ چه کله نمر ډوب شی وَآخِرُ وَقْتِهَا مَا لَمْ تَغِبِ الشَّفَقُ اود ماښام آخری وخت چه ترڅوپورې شفق ختم شوې نه وی

حل اللغة< ① لم یغب، غاب غیبةً: غائبیدل ② شفق: سرخی ③ بیاض: سپینوالې ④ حمرة: سرخی]

تشریح< **اول وقت المغرب**> دماښام اول وخت د نمر ډوبیدو نه شروع کیږی.او د شفق ختمیدو پورې باقی وی.

دلیله< دلیل د حضرت ابوهریره ﷜ حدیث [أول وقت المغرب حین تغرب الشمس وآخرها حین یغیب الشفق] دې.

---

۱) من حدیث أبي هریرة﷜ أخرجه البخاری فی مواقیت الصلاة باب ۲۸ رقم ۵۷۹ ومسلم فی المساجد رقم ۱۶۳ والترمذی فی الصلاة باب ۲۳ رقم ۱۸۶ والنسائی فی المواقیت باب ۱۱ وابن ماجه فی الإقامة باب ۹۱ ومالک فی الموطاء فی کتاب وقوت الصلاة باب ۳ رقم ۱۵)۔

وَهُوَ الْبَيَاضُ الَّذِي بيا شفق هغه سپينوالے دے يُرَى فِي الْأُفُقِ بَعْدَ الْحُمْرَةِ چه په افق کښې د سرخئ خوريدونه پس وى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله دا د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دے وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّد رحمهما الله هُوَ الْحُمْرَةُ.او صاحبين فرمائى چه دا سرخى ده

الاختلاف في تعين الشفق> دا خبره دے باده وى.چه د شفق په تعين کښې د عالمانو اختلاف دے. ① حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى.شفق هغه سپين والے دے.چه د سوروالى نه پس په افق خور شى.اودا قول د صديق اکبر،معاذ ، انس،ابن زبير رضي الله عنه دے.

دليله>اودامام ابوحنيفه رحمه الله دليل هغه دے.کوم چه حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت کړے دے. [أن النبى ﷺ قال وآخر وقت المغرب إذا اسود الأفق] چه نبى ﷺ فرمائيلى دى.د مابنام آخرى وخت چه کله افق تور شى.او معلومه ده. چه په افق باندې توروالے د سوروالى نه پس خوريږى.نو معلومه شوه.چه د سپين والى پورې وخت باقى وى. نوپه حديث کښې د شفق نه مراد سپين والے شو.

مذهب الصاحبين> په زير بحث مسئله کښې صاحبين رحمهما الله فرمائى.چه دسرخئ نوم شفق دے.اودا د امام ابوحنيفه رحمه الله نه هم يو روايت دے.اودا د امام شافعى رحمه الله قول دے.

دليلهما> دصاحبينو رحمهما الله دليل د نبى ﷺ قول [الشفق الحمرة] دے.

الجواب عنه> خودا حديث په حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه باندې موقوف دے.اوامام مالك رحمه الله په موطا کښې موقوف ذکر کړے دے.اوحديث موقوف حجت نه وى.نوځکه دا حديث قابل استدلال پاتې نشو.

الجواب التسليمي>اوکه دا اومنلے شى.چه دا حديث مرفوع دے.نومونږ جواب ورکوو.چه ددې حديث په مراد کښې دصحابه کرامو رضي الله عنهم اختلاف دے.د بعضو په نيز شفق نه مراد سپينوالے دے.او د بعضو په نيز سوروالے دے.اوپه حديث مرفوع کښې هم که د صحابو رضي الله عنهم اختلاف وى.نوهغه قابل استدلال نه وى.

د ماسخوتن اول او آخر وخت

وَأَوَّلُ وَقْتِ الْعِشَاءِ او د ماسخوتن اول وخت إِذَا غَابَ الشَّفَقُ چه کله شفق غائب شى وَآخِرُ وَقْتِهَا مَا لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ الثَّانِي او آخر وخت چه تر څو صبا نه وى راختلې

حل اللغة> ①غاب، غيبة(ض) غائبيدل ② لم يطلع، طلع طلوعاً(ف): راختل

تشريح> **وقت العشاء** >دماسخوتن وخت د شفق د ختميدو نه شروع کيږى.اود صبا راختونه وړاندې پورې وى.

دليله > دحضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث [أنه ﷺ قال وآخر وقت العشاء حين يطلع الفجر](۱) دے. دا حديث په دې خبره دلالت کوى. چه د ماسخوتن وخت تر صبا راختو پورې باقى وى.

---

۱) قال الزيلعى رحمه الله غريب ثم نقل قول الطحاوى رحمه الله وحسنه انه يثبت من مجموعة الروايات ان وقت صلاة العشاء ان الليل كله وقت لها إلا ان أفضل وقتها الأول ثم نصف الليل ثم بعد نصف الليل (نصب: ۱\۲۰۲)۔

د وترو اول او آخر وخت

وَأَوَّلُ وَقْتِ الْوِتْرِ بَعْدَ الْعِشَاءِ او د وترو اول وخت دماسخوتن نه پس دې وَآخِرُ وَقْتِهَا مَا لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ او آخر وخت د دې چه تر څو صبا شوې نه وی

حل اللغة ① لايقدم، قدم تقديماً: وړاندې کول، مخکې کول]

تشريح > **أول وقت الوتر** > دوترو په اول وخت کښې اختلاف دې. د صاحبينو رحمهما الله په نيز د ماسخوتن دمونځ کولو نه پس د وترو وخت شروع کيږی .اوترصبا راختو پورې باقی وی.اود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز هم د ماسخوتن وخت د وترو وخت دې.

دليله > د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه وتر عملاً فرض دی.اوکه په وخت کښې دوه واجب مونځونه جمع شی.نودهغه دوارو مونځونو يو وخت وی.لکه فوتی او وختی مونځ.

الإعتراض علي أبي حنيفة رحمه الله > په حضرت امام صاحب رحمه الله باندې دا اعتراض کيدے شی.که د دوارو يو وخت وو.نو بيا پکار دا وه.چه د وتر په ماسخوتن باندې وړاندې کول جائز وو.حالانکه داسې نه ده.

الجواب > جواب د يادوالی په حالت کښې خکه تقديم د وترو په ماسخوتن جائز نه دې.چه د ماسخوتن او وترو په مينځ کښې ترتيب واجب دې.نوکه قصداً وتر په ماسخوتن باندې وړاندې کړې شی .نو په اتفاق سره ددې راګرځول ضروری دی.اوکه د ماسخوتن مونځ ترے هير شو.او وتر ئې اوکړلو.او بيا ورته د ماسخوتن مونځ ورياد شو.نوداامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز باندې د وترو اعاده واجب نه ده.خکه چه په هيره سره ترتيب ساقط شو.

مذهب الصاحبين رحمهما الله **في تقديم الوتر علي العشاء** > او د صاحبينو رحمهما الله په نيز به اعاده کوی.خکه چه د صاحبينو رحمهما الله په نيز وتر د ماسخوتن سنت دی. لکه څنګه چه د ماسخوتن نه پس دوه رکعته سنت دی.نوکه دوه رکعته په ماسخوتن مقدم کړی.جائزنه دی.که په قصد وی اوکه په هيره. نودغه شان وتر هم په ماسخوتن باندې وړاندې کول جائز نه دی.نه په قصد او نه په هيره.

دليلهما > د صاحبينو رحمهما الله دليل د حضرت خارجه بن حذافه رضي الله عنه حديث دې.[**قال خرج علينا رسول الله ﷺ فقال إن الله زادكم بصلاة هي خير لكم من حمر النعم وهي الوتر فجعلها لكم فيما بين العشاء إلى طلوع الفجر**] حضرت خارجه بن حذيفه رضي الله عنه فرمائی.رسول الله ﷺ مونږ ته تشريف راوړلو.او بيا ئې اوفرمائيل.الله تعالی ستاسو دپاره يو مونځ زيادت اوکړلو.چه هغه ستاسو دپاره د سور رنګ اوښانو نه زيات بهتر دې.او هغه د وترو مونځ دې.دا د ماسخوتن او صبا په مينځ کښې کوئ.(فتح القدير) صاحب دهدايه فرمائی.چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی .[**فصلوها ما بين العشاء إلى طلوع الفجر**] (١) دا د ماسخوتن او صبا صادق په مينځ کښې کوئ.

د صبا افضل وخت

(وَيُسْتَحَبُّ الْإِسْفَارُ بِالْفَجْرِ) او د صبا په مونځ کښې اسفار کول افضل دی

حل اللغة > ① اسفار: روښانه

١) من حديث خارجه بن حذافه رضي الله عنه اخرجه ابوداود فی الوترباب ١ و الترمذی فی الوتر باب ١ وابن ماجه فی الإقامة باب ١١٤)

تشریح الربط بما قبله ومابعده په تیرو شوو صفحاتو کښې د مونځونو د مطلقو وختونو بیان وو.اوس ددې خائې نه د کامل اوناقص وختونو ذکر کوی.نود دوارو دپاره نې جدا جدا فصل راوړلو.په اولنی فصل کښې نې د اوقات کامله یعنی مستحب وختونو بیان کړې دې.اوپه دویم فصل کښې نې د اوقات ناقصه یعنی مکروه وختونو بیان کړې دې.

فضل الإسفار د صبا مونځ په اسفار (رنړائې) کښې کول مستحب دی.اود اسفار اندازه دا ده.چه رنړا خوره شی.ددې نه پس په مسنون قراءت سره مونځ شروع کړی.ددې نه پس که د اودس وغیره ضرورت پیښ شی. (یعنی که په څه وجه نې مونځ مات شی.نو چه دومره وخت باقی وی. چه د نمر ختلو نه وړاندې د هغې دپاره اودس کول اوده هغې راګرځول ممکن وی. خلاصه دا چه مونځ دے په اسفار کښې شروع کولې شی.او په اسفار کښې دے ختمولے شی.نو دا په استحباب باندې عمل دې.

الأفضل عندالطحاوی رحمه الله امام طحاوی رحمه الله فرمائیلی دی.مستحب دا دی .چه مونځ په غلس (تیاره) کښې شروع کړی.او په اسفار کښې نې ختم کړی.خلاصه دا چه د اوږد قراءت په ذریعه غلس او اسفار دواړه جمع کړی.

دلیله دلیل د رافع بن خدیج رضي الله عنه چه [اسفروا بالفجرفإنه أعظم للأجر] (۱)حدیث دې.طریقه د استدلال دا ده.چه په حدیث کښې په اسفار باندې امر شوې دې.او دامر ادنی درجه ندب او استحباب وی.نوخکه اوونیلے شو.چه د صبا په مانخه کښې اسفار کول مستحب دې.

په ګرمئ کښې د ماسپخین مستحب وخت

وَالْإِبْرَادُ بِالظُّهْرِ فِي الصَّيْفِ اود ګرمئ په موسم کښې دماسپخین مونځ په یخنئ کښې کول (مستحب دی) وَتَقْدِيمُهَا فِي الشِّتَاءِ او په یخ وخت کښې ددې نه وړاندې کول

تشریح دلائل فضل الإبراد بالظهرفي الحر او دګرمئ په موسم کښې دماسپخین مونځ په یخ وخت کښې کول اودیخنئ په موسم کښې زر کول مستحب دی. ①دلیل هغه حدیث دې.کوم چه مونږ وړاندې ذکر کړې دې. یعنی [ابردوا بالظهر]

② د حضرت انس رضي الله عنه حدیث هم مستدل دې.په بخاری کښې پوره حدیث داسې دې.خالد بن دینار رحمه الله فرمائی .چه زمونږ امیر مونږ ته د جمعې مونځ اوکړلو.بیا نې حضرت انس رضي الله عنه ته اوونیل.[کیف کان رسول الله ﷺ یصلی الظهرقال کان رسول الله ﷺ إذا اشتد البرد بکر بالصلاة وإذا اشتد الحر أبرد بالصلاة] (۱)یعنی د حضرت انس رضي الله عنه نه نې تپوس اوکړلو.چه رسول الله ﷺ به څنګه د ماسپخین مونځ کولو؟ نوحضرت انس رضي الله عنه جواب ورکړلو.چه کله به د یخنئ موسم وو.نورسول الله ﷺ به د ماسپخین مونځ وختی کولو.اوچه کله به ګرمی زیاته وه.نود ماسپخین مونځ به نې په یخ وخت کښې کولو۔

---

۱) من حدیث رافع بن خدیج رضي الله عنه اخرجه أبوداود فی الصلاة باب ۸ والترمذی فی الصلاة باب ۳ والنسائی فی المواقیت باب ۲۷ وابن ماجه فی الصلاة باب ۲)۔

۱) من حدیث أنس رضي الله عنه اخرجه البخاری فی الجمعة باب ۱۷)۔

د ماز يګر د مونځ د روستوالي استحباب

> وَتَأخِيرُ الْعَصْرِ او (مستحب دی) د مازیګر مونځ روستو کول مَا لَمْ تَتَغَيَّرِ الشَّمْسُ ترڅو چه نمر متغير شوي نه وي (په اوړي او ژمي کښې)

تشريح> إستحباب تاخير العصر> دمازیګر مونځ په هر موسم کښې روسته کول مستحب دی. خو په دې شرط چه نمر متغير نشي.

دليله> دليل دا دې. چه د مازیګر په روستو کولو کښې نوافلو ته زياته موقع ملاويږي. ځکه چه د مازیګر نه پس نفل کول مکروه دی. نو دمازیګر مونځ دے روستو کوی. چه د مازیګر نه وړاندې به ورته د زياتو نفلونو کولو موقع باقی وی.

الأقوال الثلاثة في تغير الشمس> ① صاحب دهدايه رحمه الله فرمائی. چه د نمر د ټکورې د متغير کيدو نه مراد دا دې. چه نمر په داسے حالت کښې وی. چه دے ته د کتونکی سترګے نه بريښی. بلکه سترګے ورته نيولے شی. ② ابراهيم نخعی رحمه الله فرمائی. چه د نمر متغير کيدو نه مراد ددې د رڼا بدليدل دی. کومه چه په ديوالونو باندې پريخوی. خو دا صحيح قول نه دې. (ځکه چه د رڼا بدليدل خو د زوال نه پس شروع کيږی. ③ صاحب د عنايه رحمه الله فرمائی. چه د نمر د ټکورې متغير کيدل دا دی. چه دا د يوے نيزے د مقدار نه کمه شی. اوکه د يوے نيزے د مقدار نه کمه نه وی. نو د ټکورې متغير کيدل نه دی واقع شوي.

حکم تاخير العصر إلي الإصفرار> صاحب دهدايه فرمائی. چه د نمر تغير کيدو پورې د مونځ روستو کول مکروه دی. نوځکه ئې وړاندې ادا کول مستحب دی.

دماښام مستحب وخت

> وَتَعْجِيلُ الْمَغْرِبِ او دماښام په مونځ کښې جلتی کول مستحب دی

حل اللغة> ① تعجيل: تندی کول ② تاخير: روستوالي کول ③ تشبه: يوشان والي کول]

تشريح> کراهة تاخيرالمغرب> مسئله، د ماښام په مونځ کښې جلتی کول مستحب دی. يعنی د اذان او اقامت په مينځ کښې دے څه فصل نه کوی. سوا د لږے غونډې ناستے نه.

دلائله> ① د ماښام مونځ روستو کول مکروه دی. او تاخير ددې وجې مکروه دې. چه په دې کښې يهوديانوسره مشابهت لازميږی. ځکه چه يهودوبه د ماښام په مونځ کښې تاخير کولو.

② د نبی کريم ﷺ ارشاد دې. چه [لايزال أمتي بخيرما عجلوا المغرب وأخروا العشاء] (۱)

دماسخوتن مستحب وخت

> وَتَأخِيرُ الْعِشَاءِ او (مستحب دی) د ماسخوتن روستو کول إِلَى مَا قَبْلَ ثُلُثِ اللَّيْلِ تر لږ غونډې وړاندې د دريمے حصے د شپې پورې

حل اللغة> ① ثلث: دريمه حصه

---

۱) قال الزيلعي رحمه الله غريب وروى أبوداود في سننه (أى في الصلاة باب ٥ رقم ٤٠٤) ...عن أبي أيوب رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لا تزال أمتي بخير أوقال على الفطرة مالم يؤخروا المغرب إلى أن تشتبك النجوم (نصب: ۱\۳۱۷)۔

تشريح﴿ استحباب تأخير العشاء إلي ثلث الليل﴾ دماسخوتن مونځ د شپې د دريمې حصې نه لږ غونډي وړاندې پورې روستو کول مستحب دی.او په شرح وقايه کښې دی.چه تر دريمې حصې د شپې پورې روستو کول مستحب دی.

دلائله﴾ ①دنبی ﷺ ارشاد دې.[لولاأن أشق علی أمتي لأخرت العشاء إلی ثلث الليل] (۲)

② د ماسخوتن د مانځه نه پس قصې کول شرعاً ممنوع دی.ارشاد دې.[لا سمر بعد العشاء] (۱) يعنی نبی ﷺ فرمائيلی دی .د ماسخوتن نه پس قصې بيانول نشته.

③ په يو حديث کښې دی.[أن النبی ﷺ كان يكره النوم قبلها والحديث بعدها] يعني نبی کريم ﷺ به د ماسخوتن نه وړاندې اوده کيدل او روستو خبرې کول مکروه ګنړل.

الإستدلال﴾حاصل دا چه دماسخوتن نه پس خبرې کول اوقصې کولو نه منع شوې ده.اوچه د ماسخوتن مونځ تردريمې حصې پورې روستو شی.نو په دې کښې ددې قصو ختميدل دی.خکه چه کله مونځ روستو کوی.نو دماسخوتن کيدو نه پس به ورسره دخوب فکر وی.(چه زر اوده شی.نو په وخت به د سحر مانځه ته راپاسی. د قصو فکر به ورسره نه وی. نوځکه تردريمې حصې د شپې پورې روستو کول مستحب اوګرځولی شو.

إستحباب التعجيل في الشتاء عندالبعض﴾ بعضې فقهاؤ ليکلی دی.چه د ګرمۍ په موسم کښې د ماسخوتن مونځ په جلتۍ سره کول پکار دی.ځکه چه د ګرمۍ په موسم کښې شپې وړې وی.(د خلقو خوب نه پوره کيږی. نو خلق زر اوده کيږی.

إباحة تأخير العشاء إلي نصف الليل ودليله﴾صاحب دهدايه رحمه الله فرمائی.چه د ماسخوتن مونځ ترنيمې شپې پورې روستو کول مباح دی.دليل دا دې.چه په تاخير کښې ددې وجې کراهت دې.چه تقليل د جماعت په کښې راځی.او په دې وجه مندوب دې.چه د قصو بيانول په کښې بيخی ختميږی. (ځکه چه هرسړې زر اوده کيږی.چه په وخت مانځه ته پاسی. نوهرکله چه په دليل د استحباب او دليل د کراهت کښې تعارض راغلو.نودواړه دلائل ساقط شو.او اباحت باقی پاتې شو.

كراهة التأخير إلي نصف الأخيرودليله﴾ او د نصف اخير پورې روستو کول مکروه دی.ځکه چه دليل د کراهت او دليل د تقليل جماعت دواړه موجود دی.او دليل داستحباب ورسره معارض نه دې.ځکه چه د قصو بيانول خو ددې نه وړاندې ختم شوی وی.نو دليل د استحباب باقی پاتې نشو.(چه دليل داستحباب نشته.نو اباحت هم نه پيدا کيږی.لکه څنګه چه په وړاندينی صورت کښې اباحت پيدا شوې وو. از مترحم)

---

۲) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه الترمذي في الصلاة باب ۱۰ رقم ۱۶۷ وابن ماجه في الصلاة باب ۸ رقم ۶۹۰ وأحمد في المسند (۲۵۰\۱۲)۔

۱) فيه إشارة إلی حديث أبي برزة رضي الله عنه عن النبي ﷺ أنه كان يكره النوم قبلها يعني العشاء والحديث بعدها أخرجه البخاري في المواقيت باب ۱۳ ومسلم في المساجد رقم ۲۳۵ وأبوداود في الأدب باب ۲۳ رقم ٤٨٤٩ والترمذي في الصلاة باب ۱۱ رقم ۱۶۸ والنسائي في المواقيت باب ۲ وابن ماجه في الصلاة باب ۱۲ رقم ۷۰۱)۔

د وترو مستحب وخت

وَيُسْتَحَبُّ فِي الْوِتْرِ لِمَنْ يَأْلَفُ صَلَاةَ اللَّيْلِ أَنْ يُؤَخِّرَ الْوِتْرَ إِلَى آخِرِ اللَّيْلِ او د هغه کس دپاره چه د شپې مونځ خوښوی.مستحب دي چه وتر آخری شپه پورې دې مؤخر کړی. وَإِنْ لَمْ يَثِقْ بِالْإِنْتِبَاهِ نوکه په بيداريدو باندې ئې بهروسه نه وی أَوْتَرَ قَبْلَ النَّوْمِ نود اودۀ کيدو نه وړاندې دے وتر کوی

حل اللغة> ① يالف، الف الفًا (س): مينه کول② لم يثق، وثق وثوقًا (ض): يقين اوباور کول ③انتباه: بيدارکيدل هوښياريدل

تشريح> تاخير الوتر إلي حكمين بإعتبار الأشخاص> ① مسئله دا ده.چه څوك د تهجدو د مانځه عادی وی.اود هغه په پاسيدو بهروسه هم وی.نودهغه دپاره مستحب دی.چه وتر د تهجدو نه پس د شپې په آخره حصه کښې اوکړی.

② که په پاسيدو ئې بهروسه نه وی.یا په شپه کښې د تهجدو دمونځ عادی نه وی. نو داسې کس دے د اودۀ کيدو نه وړاندې وتر کوی.

دليله> صاحب دهدايه رحمه الله د رسول الله ﷺ په حديث باندې استدلال کړې دې.دحديث الفاظ دا دی.[من خاف أن لايقوم آخر الليل فليوتر أوله ومن طمع أن يقوم آخر الليل فليوتر آخره] (١)

ضابطة تاخير الصلاة وتعجيلها في الغيم>وړاندې د هغه پنځومستحب وختونو بيان وو.چه آسمان شين وی.اوکه آسمان شين نه وی.بلکه وريځ وی.نو په دې صورت کښې صاحب دعنايه ضابطه بيان کړې ده.،،العين مع العين،، يعنی هر هغه مونځ چه په هغې کښې ،،عين،، وی.يعنی ماسخوتن او مازيگر، نوهغه به د وريځ په ورځ وارندې کولې شی.اودې دواړو نه علاوه په نورو مونځونو کښې تاخير مستحب دې.

وجه تعجيل العشاء في الغيم> د وريځ په ورځ د ماسخوتن په مونځ کښې د عجلت وجه دا ده.که په داسې حالت کښې د ماسخوتن جماعت روستو کړې شی. نود باران احتمال په کښې وی. او خلق په کښې سستی کوی.اوپه رخصت به عمل کوی.څکه چه د باران ورځ به وه.نو نبی ﷺ به د اذان نه پس دا اعلان کولو.[ألاصلوافي رحالكم]خبردارا په خپلو خپلو کورونو کښې مونځ اوکړئ.

وجه تعجيل العصر في الغيم> اوپه مازيگر کښې د تعجيل داستحباب وجه دا ده .چه د وريځ په ورځ د مازيگر دمونځ په مکروه وخت کښې د واقع کيدو احتمال وی.نوځکه دمازيگر په مونځ کښې تعجيل مستحب دې.

وجه تاخير الفجر في الغيم> ددې په خلاف دصبا په مانځه کښې دا گمان نه وی.ځکه چه د صبا د مانځه وخت (د صبا راختو نه واخله تر نمر راختو پورې) اوږد وی.نوکه دصبا مونځ روستو هم کړی.نو په دې کښې د نمر راختو په وخت کښې د مونځ واقع کيدو دگمان ويره نشته.نوځکه د وريځ په ورځ د صبا په مونځ کښې تاخير مستحب دې.

---

١) من حديث جابر رضي الله عنه أخرجه مسلم في صلاة المسافرين وقصرها رقم ١٦٢ والترمذی فی الوتر باب ٣ وابن ماجه فی الإقامة باب ١٢١)_

وجه تاخير الظهر والمغرب في الغيم ﴾ اوپه ماسپخين او ماښام کښې تاخير ښکه مستحب دې.که د وريځ په ورځ دا وراندې اوکړې شي.نود وخت نه وراندې د ادا کولو احتمال په کښې شته.او د وخت نه وراندې مونځ کول جائز نه دی.نوځکه په دې کښې تاخير مستحب دې.

رواية التاخير في جميع الصلوات ﴾ حسن بن زياد د ابوحنيفه رحمه الله نه نقل کړی دی.چه د وريځ په ورځ احتياط په دې کښې دې.چه په ټولو مونځونو کښې تاخير اوکړې شي.ښکه چه تعجيل کښې د وخت نه وراندې د ادا کولو احتمال شته.او په تاخير کښې د وخت نه روستو د ادا کولو احتمال شته.اودا خبره منلې شوې ده.چه د وخت نه پس مونځ کول جائز دې.اګرکه قضاء وی.خو د وخت نه وراندې کول جائز نه دی.نه ادا او نه قضاء.

بَابُ الْأَذَانِ

ترجمه: (دا) باب د اذان (د احکامو په بيان کښې) دې.

تشريح ﴾ **الربط بما قبله** ﴾چونکه اذان د مونځونو دوختونو اعلان دې.نوځکه ئې اول د وختونو بيان اوکړلو.او بيا وروستو د اذان.

الأذان لغة ﴾ اذان په لغت کښې اعلان او اعلام ته وائی.اوبيا د مونځونو دپاره چه کوم خاص الفاظ وئيلی شی. د هغې دپاره مستعمل شو.نوکله چه هم د اذان لفظ ذکرشی.مراد به ترې دغه د مانځه دپاره اعلان وی.دا لغوی معنی د الله تعالی په دې قول ﴿وَأَذَانٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ﴾او﴿وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا﴾ مستعمل ده.

الأذان شرعاً ﴾اوپه شريعت کښې داذان تعريف دا دې.په مخصوصو الفاظو کښې په مخصوص طريقه د مانځه د وخت داخليدو خبر ورکول.

إثبات الأذان من حم السجدة ﴾ دويم آيت ﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾حم السجدة:۳۳]دې.علامه بغوی رحمه الله فرمائی.چه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی.زما خيال دې.چه دا آيت د موذنينو په باره کښې نازل شوې دې.حضرت عکرمه رحمه الله فرمائی. ﴿قَوْلًا مِّمَّن دَعَا إِلَى اللَّهِ﴾ نه مراد موذن دې.او ابوامامه باهلی رضي الله عنه فرمائيلی دی.چه په دې آيت کښې ﴿وَعَمِلَ صَالِحًا﴾ نه مراد دا دې.چه د اذان او اقامت په مينځ کښې دوه رکعته اوکړی.

القولان في تاريخ مشروعية الأذان ﴾ باقی پاتې شوه دا خبره.چه اذان کله مشروع شوې دې.ددې په باره کښې ملا علی قاری رحمه الله په شرح نقايه کښې دوه اقوال ذکر کړی دی.يودا چه اذان په اول کال د هجرت کښې مشروع شوې وو.دويم دا چه په دويم کال دهجرت مشروع شوې وو.

مشروعية الأذان في السنة الثانية من الهجرة ﴾ د دويم قول دليل دا دې.چه ابن اسعدد نافع بن جبير ،عروه بن زبير، او سعيد بن مسيب رضي الله عنه نه نقل کړی دی.چه [أنهم قالوا كان الناس في عهد رسول الله ﷺ قبل أن يؤمر بالأذان ينادي منادي رسول الله ﷺ ،،الصلاة جامعة،، فتجتمع الناس فلما صرفت القبلة أمر بالأذان] يعنی دا درې واړه حضرات صحابه کرام رضي الله عنهم فرمائی.چه خلقوبه دنبی ﷺ په زمانه کښې د اذان د حکم راتلو نه وراندې د ،،الصلاة جامعة،، آواز کولو. خلقوچه به دا آواز واوريدل.نو راجمع به شو.خوچه کله قبله بدله شوه.نو د

اذان حکم اوشو.او دا خبره معلومه ده.چه تحویل د قبله په دویم کال د هجرت کښي شوي وو.نوثابته شوه.چه د اذان مشروعیت په دویم کال د هجرت شوي دي.

مشروعية الأذان ليلة الإسراء >دهندوستان علامه عبدالحی رحمه الله په السعایه کښي دحافظ ابن حجر العسقلاني رحمه الله په حواله سره لیکلي دی.چه د بعضي احادیثو نه دا معلومیږی.چه اذان په مکه مکرمه کښي د هجرت نه وړاندي مشروع شوي وو.

دلائله > ① په طبراني کښي دی.[أنه لما أسرى بالنبي ﷺ أوحى الله إليه الأذان فنزل به فعلمه بلالاً] یعنی په شپه د معراج الله تعالی نبی ﷺ ته د اذان وحی کړي وه.نو نبی ﷺ د اذان سره واپس تشریف راوړلو.او حضرت بلال رضی الله عنه ته ئې تعلیم ورکړلو.

② په دارقطني کښي د حضرت انس رضی الله عنه حدیث دي. چه [أن جبريل أمر النبي ﷺ بالأذان حين فرضت الصلاة] یعنی په کوم وخت کښي چه مونځونه فرض شو.نوجبرئیل علیه السلام نبی ﷺ ته د اذان حکم کړي وو. ددي دواړو روایاتونو نه معلومیږی.چه اذان د هجرت نه وړاندي په مکه کښي مشروع شوي دي.خو حافظ بن حجر رحمه الله ددي احادیثو د عدم صحت دعوی کړي ده.

الرائي الراجح في تاريخ مشروعية الأذان >علامه عبدالشکور صاحب لکهنوی په ،،علم الفقه،، کښي لیکلي دی.چه د اذان شروع په مدینه منوره کښي د هجرت په اول کال شوي وه.ددي نه وړاندي به مونځونه بغیر د اذان نه کیدل.چونکه په هغه وخت کښي د مسلمانانو شمار څه زیات نه وو.نوځکه د مانځه دپاره د دوی راجمع کیدل هم څه ګران نه وو.بیا چه کله ورځ په ورځ اسلام ترقی کوله .او د مختلفو طبقو خلق ډلې ډلې په اسلام کښي داخلیدل. نو ددي خبرے ضرورت پیښ شو.چه دمانځه د وخت په راتلو او د جماعت د اودریدو خبر دوی ته ورکولې شی.چه په دې سره دوی د نزدے او لرے ځایونو نه جماعت ته راتلې شی.نو د اذان دا طریقه ددي مقصد دپاره مقرر کړي شوه.او اذان ددي امت خصوصیت دي.په پخوانو امتونو کښي نه وو.

مشاورة الصحابة رضی الله عنهم في أمر الأذان >داذان دمشروعیت لنډه قصه دا ده.چه کله صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د مونځ او د جماعت د وختونو خبر ورکولو ضرورت محسوس شو.نو هغوی په خپلو کښي مشوره اوکړله .بعضو مشوره ورکړه.چه د یهودیانو پشان دے بنکر غږولې شی.بعضي حضراتو اووئیل.چه اور دے بلولې شی. خو نبی ﷺ دا رائیګانے خوښے نکړې.حضرت عمر رضی الله عنه دا رائې ورکړه.چه د مانځه په وخت کښي دے ،،الصلاة جامعة،، وئیلې شی.

رؤيا عبدالله بن زيد وعمر رضی الله عنهما >ددې نه پس حضرت عبدالله بن زید رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه خوبونه اولیدل .چه یوے فرښتے د اذان دا طریقه چه وړاندي بیانولې شی.اوخودله.چه په دې طریقه د مونځ د وختونو او د جماعت خبر مسلمانانو ته ورکوئ.په بعضي روایاتو کښي راځی.چه حضرت عبدالله بن زید رضی الله عنه اوفرمائیل.که په ما باندې د بدګمانئ ویره نه وه.نوما به دا وئیلی وو.چه زه بالکل اوده نه وم.(بلکه ویخ وم) ددې وجې بعضې عالمانو دا واقعه په حال او کشف باندې حمل کړې ده.چه ارباب باطن ته په حالت دبیدارئ کښي نصیب کیږی.مختصر دا چه صبا ته حضرت عبدالله بن زید رضی الله عنه د نبی ﷺ په خدمت کښي واقعه بیان کړه.نو نبی ﷺ اوفرمائیل.بیشکه دا خوب حق دي.او حضرت بلال رضی الله عنه ته ئې حکم اوکړلو.چه هم په دې طریقه اذان اوکړی.بیا حضرت عمرفاروق رضی الله عنه راغلو.او خپل خوب ئې بیان

کړلو.

تعلیم الأذان بالوحي ﴾ په بعضې روایاتو کښې دی.چه ددې نه وړاندې نبی ﷺ باندې وحی نازل شوې وه. لکه څنګه چه عبدالرزاق په خپل مصنف او ابوداود په خپل مراسیل کښې دا روایت نقل کړې دې.

ضعف روایة تعلیم جبریل الأذان لیلة الإسراء ﴾ په بعضې احادیثو کښې دا هم راغلی دی.چه په شپه د معراج حضرت جبرئیل علیه السلام نبی ﷺ ته د اذان تعلیم ورکړې وو .خو دا احادیث صحیح نه دی.اوکه بالفرض دا صحیح اوګڼرلې شی. نو ددې نه هغه د معراج واقعه مراد نه ده.چه په مکه کښې واقعه شوې وه.څکه چه نبی ﷺ ته به روحانی معراج بیا بیا کیدلو.نو ددې نه به مراد هغه شپه وی.په کومه کښې چه به نبی ﷺ دا خوب لیدلے وی.والله اعلم

د اذان اهمیت او فضیلت

اذان د الله تعالی په ذکرونو کښې یو ډیراوچت ذکر دې. په دې کښې د توحید او رسالت دګواهئ اعلان کولې شی.او په دې باندې د اسلام شان او شوکت ښکاره کیږی.په ډیرو حدیثونو کښې د اذان فضیلت راغلے دې.

① **شهادة الإیمان للمؤذن**﴾ د اذان آواز چه ترڅومره پورې رسی.اوکوم کسان دا اوری.که جنات وی اوکه انسانان د قیامت په ورځ به د مؤذن دپاره دایمان ګواهی ورکوی.(بخاری،نسائی، ابن ماجه)

② **دخول الجنة عقیب الأنبیاء والشهداء**﴾ دالله تعالی د ریښتینی پیغمبر ﷺ وینا ده.چه د پیغمبرانو علیهم السلام او شهیدانو نه به پس مؤذنان جنت ته داخلیږی .او په بعضې احادیثو کښې دا هم دی.چه د مؤذن مرتبه د شهید برابر ده.

③ **العتق من النار**﴾ یتیم ﷺ د عبدالله وئیلی دی.کوم کس چه اووه کالو پورې اذان اوکړلو.او په دې باندې دده غرض صرف ثواب وو.نودهغه دپاره د دوزخ نه آزادی اولیکلې شی.(ابوداود ،ترمذی)

④ **القرعة لتحصیل فضل الأذان**﴾نبی ﷺ فرمائیلی دی.که خلقو ته معلومه شی. چه په اذان کښې څومره زیات ثواب دې.بیا ورته دا منصب د قرعه اندازئ نه بغیر نه ملاویږی.(څکه چه هر سړې دا وائی.چه اذان به زه کوم.نو بیشکه ددې دپاره به قرعه اندازی واچوی.خلاصه دا چه ددې منصب دپاره به ډیر کوشش کوی .(بخاری ،مسلم ،ترمذی، نسائی) د صحابه کرامو ﷺ په زمانه کښې داسې شوې وو . چه د اذان په کولو باندې په خلقو کښې اختلاف پیدا شو. هرکس غوښتل.چه دا مبارک منصب ماته ملاؤ شی.تردے چه قرعه اندازئ ته خبره اورسیدله.(تاریخ بخاری)

⑤ **المؤذن علی المسک یوم القیامة** ﴾رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.د قیامت په ورځ به درې قسمه خلق د مشکو په ډیرو ولاړ وی.نه به پرے حساب وی.اونه به حیران او پریشان وی. ①یوهغه کس چه د الله تعالی د رضا دپاره ئې قران لوستے وی. ② دویم هغه کس چه د غلامئ په عذاب کښې اخته وی.خو بیا هم دآخرت نه غافله نه وی. ③ دریم مؤذن (المرشد الامین)

⑥ **الشفاعة یوم القیامة** ﴾دقیامت په ورځ به مؤذنینو ته هم د شفاعت کولو اجازت اوشی.اوهغوی به د خپلو خپلوانو اودوستانو یا د چا دپاره چه ئې خوښه وی. الله تعالی ته شفارس کوی.

⑦ **فرار الشیطان من الأذان** ﴾داذان په وخت به شیطان ډیره ویره اوهیبت وی. او د ډیرے وارخطائې نه تختی.ترکومے پورې چه دموذن آواز رسی.هلته نه ایساریږی . (بخاری ،مسلم)

⑧ **طول الأعناق یوم القیامة** ﴾د قیامت په ورځ به د اذان کونکو څټونه غړئ اوږدے وی.یعنی دوی به په ډیرو

عزتمندو او اوچتو خلقو کښې وی.اودقیامت د ویرے او مصیبت نه به محفوظ وی.

⑨ **صيانة مكان الأذان** ﴿ په کوم ځائې باندې چه اذان کولې شی.هلته د الله تعالی رحمت نازلیږی.د عذاب اومصیبتونونه هغه ځائې محفوظ وی.

⑩ **دعاء النبي ﷺ للمؤذنين** ﴿ نبی ﷺ د اذان کونکو دپاره د مغفرت دعاګانے کړی دی.

د اذان شرعی حیثیت

الْأَذَانُ سُنَّةٌ لِلصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ وَالْجُمُعَةِ اذان د پنځو مونځونو او جمعې دپاره سنت دي دُوْنَ مَا سِوَاهَا نه چه د ما سوا دپاره

حل اللغة ﴿ ①اذن تاذيناً: اذان ورکول ② ملك: فرښته ③ سماء جمع سموات: آسمانونه]

تشريح ﴿ **حكم الأذان**① ﴿ اذان د پنځو مونځونو او جمعے دپاره سنت مؤکده دې.[1]

دليله ﴿ د اذان په مسنونیت باندې نقل متواتر دلیل دې.یعنی دا خبره په تواتر سره ثابته ده.چه نبی ﷺ د پنځو مونځونو او جمعې دپاره د اذان حکم کړې دې.او ددې نه علاوه د وترو، عیدینو، کسوف، خسوف، استسقاء، دجنازے مونځ او د نفلونو دپاره نې د اذان حکم نه دے کړې.

دليل إثبات الأذان للجمعة ﴿ او جمعې د اذان دپاره د سائب بن يزيد ﷺ حديث دليل دې.چه په صحيحينو کښې دې.[2]

ألفاظ واقعة نزول الملك المؤذن ﴿ صاحب دهدايه فرمائی.چه د اذان کیفیت معلوم دې.اودا په هغه طریقه دې.څنګه چه د آسمان نه نازل شوې فرښتے کړې وو.ددې تفصیل د حضرت عبدالله بن زيد رضي الله عنه په حديث کښې تفصيل سره تيرشوي دې.دحديث الفاظ دا دی.[عن معاذ بن جبل قال قام رجل من الأنصار عبدالله بن زيد يعني إلى النبي ﷺ فقال يا رسول الله ﷺ إني رأيت في النوم كأن رجلاً نزل من السماء عليه بردان أخضران أذن على جذم حائط من المدينة فأذن مثنى مثنى ثم جلس قال أبوبكر بن عياش على نحو من أذاننا اليوم قال عليها بلال فقال عمر رضي الله عنه ورأيت مثل الذي رأى ولكنه سبقني]

من هو الملك المؤذن ؟ ﴿ باقی پاتې شوه دا خبره چه دا کومه فرښته وه.نو علامه بدرالدين عينی رحمه الله فرمائیلی دی چه دا جبرئيل امين عليه السلام وو.او د بعضې حضراتو رائې ده.چه دا بله يوه فرښته وه.

دليل عدم الأذان للعيدين ﴿ په مسلم کښې د جابربن سمره رضي الله عنه نه روايت دې.چه [صليت مع رسول الله ﷺ العيد غير مرة ولا مرتين بغير أذان ولا إقامة] يعنی ما د رسول الله ﷺ سره د اخترونو مونځ يو څل دوه څله نه دے کړې.(بلکه ډير څله مے کړې دې. بغير د اذان او اقامت نه.

دليل عدم الأذان للكسوف والخسوف ﴿ دحضرت عائشې رضي الله عنها روايت دې.چه [خسفت الشمس على عهد رسول الله ﷺ فبعث مناديا ينادي بالصلاة جامعة] يعنی د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به نمر تندر نيول.نو نبی ﷺ به يو

---

[1] بعضې مشائخو رحمهم الله فرمائيلی دی.چه واجب دې.

(۱) البخاری في الجمعة باب الأذان للجمعة رقم ۸۶۱)

آواز کونکي اوليږلو.هغه به د ،،الصلاة جامعة،، الفاظ ونيل.ددې دوارو احاديثو نه ثابته شوه.چه د عيدينو او کسوف او خسوف دپاره اذان نشته.

دليل عدم الأذان للوتر،والسنن والنوافل> او وتراګرچه واجب دی.خو د ماسخوتن اذان کافی دې.ځکه چه د وترو وخت هغه دې.کوم چه د ماسخوتن دې.اوباقی پاتې شوسنتونه او نوافل نودا د فرضو تابع دی.ددې دپاره د جدا اذان څه ضرورت نشته.

په اذان کښې د ترجيع حکم

وَلَاتَرْجِيعَ فِيهِ او په اذان کښې ترجيع نشته

تشريح> **صورة الترجيع**>په اذان کښې د ترجيع صورت دا دې.چه [أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدا] الفاظ څلور څله وائی.دوه څله په رو آواز سره او دوه څله په اوچت آواز سره. نوزمونږ په نيز په اذان کښې ترجيع نشته.

دلائله> ① د اذان په باره کښې چه کوم احاديث راغلي دی.په هغې کښې ترجيع نشته.من جمله د دغه احاديثو نه د حضرت عبدالله بن زيد بن عبد ربه رضي الله عنه او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايات دی. په دې کښې ترجيع نشته.د ابن عمر رضي الله عنهما د حديث الفاظ دا دی.[قال إنما كان الأذان على عهد رسول الله ﷺ مرتين مرتين والإقامة مرة مرة]

② عقلی دليل دا دې.چه په اذان کښې مقصود ،،حی علی الصلاة او حي علی الفلاح،، دي.

او په دې کلماتو کښې ترجيع نشته.نوددې نه په علاوه کلماتو کښې خو به په طريقه اولی سره ترجيع نه وی.

د صبا په مانځه کښې د ،،الصلاة خير من النوم زيادت

وَيَزِيدُ فِي أَذَانِ الْفَجْرِ بَعْدَ الْفَلَاحِ الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ مَرَّتَيْنِ اود صبا په مانځه کښې دے د ،،حي على الفلاح،، نه پس دوه څله ،،الصلاة خيرمن النوم،، زياتی کړی

حل اللغة>① يزيد ، زاد زيادةً (ض): زياتول نوم: خوب

تشريح> **زيادة ،،الصلاة خيرمن النوم**>فرمائی.چه د صبا په اذان کښې دے د ،،حی علی الفلاح،، نه پس د ،،الصلاة خير من النوم،، زيادت کوی.اودا زيادت مستحب دې.

دليله> دليل دا دې.چه يوه ورځ حضرت بلال رضي الله عنه د صبا اذان اوکړلو.او بيا د حضرت عائشې رضي الله عنها د حجرے دروازے ته راغلو.اوعرض ئې اوکړلو ،،الصلاة يا رسول الله،، حضرت عائشې رضي الله عنها ورته اوفرمائيل: ،،الرسول نائم،، رسول الله ﷺ اوده دې.نوبلال اووئيل: ،،الصلاة خير من النوم،، نو نبی ﷺ بيدارشو.حضرت عائشې رضي الله عنها ورته خبر ورکړلو.نبی ﷺ دا کلمه خوښه کړه. اووے فرمائيل: بلاله! دا په خپل اذان کښې شامله کړه.(۱)

وجه تخصيص الزيادة في الفجر>باقی پاتې شوه دا خبره چه دا زيادت د صبا د مانځه سره ولې خاص شو.نو جواب دا دې.چه دا وخت د خوب او د غفلت وی. نوځکه دا زيادت د صبا اذان سره خاص شو.

۱) اخرجه الطبرانی فی معجمه الکبیررقم (۱۰۸۱)۔

اقامت د اذان پشان دي

وَالْإِقَامَةُ مِثْلُ الْأَذَانِ اقامت د اذان پشان دي إِلَّا أَنَّهُ يَزِيدُ فِيهَا بَعْدَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ مَرَّتَيْنِ خوبه اقامت كښې به د ،،حي على الفلاح،، نه پس دوه كرته ،،قدقامت الصلاة،، زياتوی

حل اللغة ﴿①﴾ ملك جمع ملائك: فرښته ﴿②﴾ فرادی: يوازې، يوځل]

تشريح ﴿ كلمات الإقامة ﴾ ①شيخ قدوری رحمه الله فرمائي.چه اقامت هم د اذان پشان دې.صرف دومره فرق دې.چه په اقامت كښې دے د ،،حي على الفلاح،، نه پس د ،،قدقامت الصلاة،، زيادت كوی.

دليله ﴿ دآسمان نه كومه فرښته نازله شوې وه.هغې د اذان پشان اقامت هم دوه دوه كلمے وئيلے وې.مصنف بن ابی شيبه د عثمان بن ابی ليلي نه روايت كړې دې.چه مونږ ته د نبی ﷺ صحابوؓ ددې بيان كړې دې.چه عبدالله بن زيد انصاری رحمه الله رسول الله ﷺ ته راغلو. او عرض ئې اوكړلو.چه يو ويونكے كس چه هغه دوه شنې جامے اغوستے وې.په يو ديوال باندې اودريدلو. او هغه اذان دوه دوه خله او اقامت دوه دوه خله اوكړل.(١)

په اذان كښې ترسيل او اقامت كښې حدر كول

وَيَتَرَسَّلُ فِي الْأَذَانِ په اذان كښې دے ترسيل كوی وَيَحْدُرُ فِي الْإِقَامَةِ اوپه اقامت كښې حدر

حل اللغة ﴿①﴾يترسل، ترسل ترسلاً: نرمی كول په مزه كول]

تشريح ﴿ الترسيل في الأذان والحدر في الإقامة ﴾ترسيل دا دې.چه د دوو كلماتو په مينځ كښې په سكته سره فصل (جداوالې) اوكړی.او ،،حدر،، دا دې.چه فصل نه كوی . فرمائي.چه اذان كښې ترسيل مستحب دې.اوپه اقامت كښې حدر.

دليله ﴿ دليل دا دې.چه نبی ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته هم ددې حكم كړې وو.(٢)

القولان في عكس هذا ﴿ نوكه په اقامت كښې ئې ترسيل اوكړلو. ①نو د بعضې عالمانو رحمهم الله په نيز ددې وجې مكروه دې.چه خلاف سنت دې.② خو د هدايه د عبارت نه عدم كراهت معلوميږی. ځكه چه صاحب د هدايه فرمائي،،وهذا بيان الاستحباب،، اوښكاره خبره ده.چه د مستحبو په پريخودو سره كراهت نه راځی.

ترجيح القول الأول ﴿ابن همام رحمه الله فرمائي.چه اول قول حق دې.يعنی په اذان كښې ترسيل او په اقامت كښې د حدر مسنونيت ثابت دې.(نو په ترك سره ئې كراهت راځی.)

په اذان او اقامت كښې د استقبال قبلې حكم

وَيَسْتَقْبِلُ بِهِمَا الْقِبْلَةَ اوپه اذان او اقامت كښې به قبلې ته مخ كوی وَإِذَا بَلَغَ إِلَى الصَّلَاةِ وَالْفَلَاحِ حَوَّلَ وَجْهَهُ يَمِينًا وَشِمَالًا او كله چه ،،حي على الصلاة،، او ،،حي على الفلاح،، ته اورسی نو خپل مخ به ښی او كس طرف ته كرځوی

حل اللغة ﴿①﴾ يمينا: ښی طرف ② شمالا: كس طرف ③يحول: كرځوی به

٢) من حديث معاذبن جبل رضي الله عنه أخرجه أبوداود في الصلاة باب ٢٨ رقم ٥٠٠)۔

١) من حديث جابر رضي الله عنه أخرجه الترمذی في الصلاة باب ٢٩)۔

تشریح ﴿ **إستقبال القبلة في الأذان** ﴾ صاحب دعنایه ﷫ فرمائیلی دی.چه په اذان او اقامت کښې به مخ په قبله اودریږی. یعنی قبلې طرف ته دے مخ کړی.سوا د ،،حی علی الصلاة،، او ،،حی علی الفلاح،، نه.

دلیله ﴿ دآسمان نه چه کومه فرښته راکوزه شوې وه.هغې داسې اذان کړې وو. (۲)اوکه په اذان کښې ئې استقبال د قبلې پریخودلو.نو جائزدې.خود سنت پریخودو د وجې مکروه تنزیهی دې.

وجه تحويل الوجه في الحيعلتين ﴾اود ،،حی علی الصلاة،، او حی علی الفلاح ،، په وخت دے صرف خپل مخ ښی اوګس طرف ته ګرځوی.ځکه چه په دې دواړو کلماتو کښې قوم ته خطاب دې.نوخطاب به هغوی ته مخامخ شی.چه مانځه طرف ته او د دواړو جهانونو کامیابۍ طرف ته راشی.

الإعتراض ﴾دلته کښې دا اعتراض کیدے شی.چه خلق لکه څنګه ښی او ګس طرف ته وی.نو دغه شان شاه طرف ته هم وی.نولکه څنګه چه ښی او ګس طرف ته د مخ ګرځولو حکم دې.دغه شان شاه طرف ته هم د ګرځولو حکم پکار وو؟

الجواب ﴾ په دې صورت کښې قبلې ته شاه راځی.حالانکه مؤذنین خلقو ته قبلې ته دمخ کولو دعوت ورکوی.نو ددې وجې صرف په ښی او ګس طرف اکتفاء اوکړې شوه.ځکه چه دے سره دآواز رسولو مقصود حاصلیږی.

دقضاء شوو مونځونودپاره د اذان حکم

وَيُؤَذِّنُ لِلْفَائِتَةِ اود قضاء شوو مونځونو دپاره دے اذان کوی وَيُقِيمُ او اقامت دے هم کوی.

حل اللغة ﴾ ①یؤذن، اذن تاذینًا: اذان ورکول ② یقیم، اقام اقامةً: اقامت وئیل، اودریدل

تشریح ﴾ **الأذان للفائتة** ﴾ ① مسئله دا ده.چه مونځ قضاء شی.نو د هغې دپاره دے اذان کوی. او اقامت دے کوی.که څان ته ئې قضاء راوړی اوکه په جماعت سره.

دلیله ﴾ دلیل د لیلة التعریس واقعه ده.تعریس وئیلی شی.د شپې په آخر کښې په یو ځائې کښې د آرام کولو دپاره ډیره اچول.دا واقعه د حدیث په کتابونوکښې په مختلفو الفاظو سره نقل ده.علامه ابن همام ﷫ د ابوداود په حوالے سره دا الفاظ نقل کړی دی.[أنه أمر بلالا بالأذان والإقامة حين ناموا عن الصبح وصلوها بعد إرتفاع الشمس] (۱)یعنی نبی ﷺ حضرت بلال ﷜ ته د اذان او اقامت کولو حکم اوکړلو.څه وخت چه نبی ﷺ د صبا د مانځه نه اوده پاتې شوې وو.اود نمر راختلو نه پس ئې مونځ اوکړلو.

د زیاتو قضاء شوو مونځونو دپاره د اذان او اقامت حکم

فَإِنْ فَاتَتْهُ صَلَوَاتٌ بیاکه چرته دده نه څو مونځونه قضاشو أَذَّنَ لِلْأُولَى .نو د اولنی مونځ دپاره دے اذان اوکړی وَأَقَامَ اواقامت دے اوکړی وَكَانَ مُخَيَّرًا فِي الثَّانِيَةِ اود دویم مونځ په حق کښې ورته اختیار دې إِنْ شَاءَ أَذَّنَ که غواړی. (دهریودپاره دے) اذان اوکړی وَأَقَامَ اواقامت دے اوکړی وَإِنْ شَاءَ اقْتَصَرَ عَلَى الْإِقَامَةِ اوکه غواړی نو په اقامت دے اکتفاء اوکړی

حل اللغة ﴾ ①فاتت، فات فوتًا(ن) فوت کیدل ②اقتصر، اقتصارا: اکتفاء کول

(۲) تقدم تخريجه من حديث معاذبن جبل﷜ عندابي داود۔

(۱)من حديث ابي هريرة﷜ اخرجه ابوداود فی الصلاة باب ۱۱ رقم ۴۳۶)۔

تشریح ﴿ الإذان والإقامة للأولي من الفائتة ﴾ مسئله دا ده که دیوکس نه څو مونځونه قضاء شي.نو د اولنې مونځ دپاره دے اذان اوکړي.اواقامت دے هم اوکړي.دليل حديث د ليلة التعريس دې.
الأذان للفائتة الباقية ﴿ اود باقي مونځونو په حق کښې ورته اختيار دې.که زړه ئې غواړي.نود هرمانځه دپاره دے اذان هم کوی او اقامت هم.چه قضاء د ادا پشان شي.
دليله ﴿ ددې تائيد دهغه روايت نه هم کيږي.کوم چه علامه ابن الهمام رحمه الله د امام ابويوسف رحمه الله په واسطه بيان کړې دې. [أنه حين شغلهم الكفار يوم الأحزاب عن أربع صلوات عن الظهر والعصر والمغرب والعشاء قضاهن على الولاء وأمر بلالا أن يؤذن ويقيم لكل واحدة منهن] دغزوه احزاب په موقع چه کافرانو نبي ﷺ د څلورو مونځونو نه بند کړي وو.يعنې دماسپخين ،مازيګر، ماښام او ماسخوتن نه.نو نبي ﷺ په ترتيب سره د هغې قضاء راوړله.اوبلال رضي الله عنه ته ئې حکم اوکړلو.چه په دې کښې دهر يو دپاره اذان او اقامت اوکړي.
الإكتفاء على أذان الأولي ودليله العقلي ﴿ اوکه زړه ئې غواړي.نوپه اقامت دے اکتفاء اوکړي.دليل ئې د' د پ.چه اذان کيږي.د حاضرولو دپاره اودلته کښې ټول حاضر دی.

د اذان او اقامت دپاره دطهارت حکم

وَيَنْبَغِي اومناسب دی أَنْ يُؤَذِّنَ چه اذان اوکړي وَيُقِيمَ او اقامت کوی عَلَى طُهْرٍ د اودس په حالت کښې فَإِنْ أَذَّنَ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ نوکه بغير اودسه ئې اذان اوکړلو جَازَ جائز دي

حل اللغة ﴿ ① ينبغي: انبغاء: غوښتل ② طهر: پاکی]
تشریح ﴿ إستحباب الوضوء للأذان ﴾ مستحب ده.چه اذان او اقامت په اودس کښې اوکړې شي.خو که بغير د اودسه ئې اذان اوکړلو.نو د ظاهر روايت مطابق بغيرد کراهت نه جائز دې.
دليله ﴿ دليل دا دې.چه اذان دالله تعالى ذکر دې.مونځ نه دې.اود ذکردپاره اودس مستحب دې.واجب نه دې.نوځکه د اذان کولو دپاره اودس مستحب شو. لکه د قرآن لوستلو دپاره چه اودس کول مستحب دې.

بغيرد اودس نه د اقامت کراهت

وَيُكْرَهُ أَنْ يُقِيمَ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ اوبے اودسه اقامت کول مکروه دې

تشریح ﴿ كراهة الإقامة بغير طهارة ﴾ مسئله بے اودسه اقامت کول مکروه دی.
دليله ﴿ ځکه چه په دې صورت کښې په اقامت او مونځ کښې فصل لازميږي .حالانکه اقامت د مونځ سره متصل مشروع دې.
رواية عدم كراهة الإقامة بغير طهارة ﴿ امام کرخي رحمه الله روايت کړې دې.چه اقامت هم بے اودسه مکروه نه دې . ځکه چه اقامت په دوو اذانونو کښې يو اذان دې.اواذان بے اودسه مکروه نه دې.نواقامت به هم بے اودسه مکروه نه وی.

په حالت د جنابت کښې د اذان حکم

أَوْيُؤَذِّنَ وَهُوَجُنُبٌ اويا دا چه اذان اوکړي په داسې حال کښې چه دې جنب وی

تشریح ﴿ كراهة إقامة الجنب ﴾ مسئله دا ده.چه په حالت د جنابت کښې اذان کول مکروه دې.او په دې کښې صرف يو روايت دې.يعنی د کراهت روايت دې.اود عدم کراهت روايت نشته.او وړاندې تير

شو.چه د يے اودسه په اذان کښې د کراهت او عدم کراهت دواړه روايتونه شته.

وجوه المشابهة بين الأذان والصلاة >نود جنب د اذان په کراهت اود محدث د اذان په عدم کراهت کښې فرق دا دې.چه اذان د مونځ مشابه دې.هغه داسې :

① چه دواړه د تکبير تحريمې نه شروع کيږي.② دواړه مخ په قبله ادا کولے شي.③ اود اذان کلمات داسې مرتب دي.لکه څنګه چه د مونځ ارکان مرتب دي.دواړه د وخت سره خاص دي.

④او په دواړو کښې په مينځ کښې خبرے کول ممنوع دي.نو په دې اعتبار سره اذان د مونځ مشابه شو.خو اذان په حقيقت کښې مونځ نه دې. حاصل دا شو.چه اذان من وجه د مونځ مشابه دې.اومن وجه مشابه نه دې.نو که د مشابهت اعتبار اوکړې شي.نوپکار ده چه اذان بے اودسه ناجائز شي.اود جنابت سره هم ناجائزشي.اوکه دعدم مشابهت اعتبار اوکړې شي.نوبه دواړو صورتونو کښې اذان بغير د کراهته پکار چه جائز شي.

العمل علي مقتضي المشابهة وعدمها>نومونږ په دواړو مشابهتينو باندې عمل اوکړلو.نود جنابت په صورت کښې مو د مونځ سره د مشابهت اعتبار اوکړلو. اوحکم مو اوکړلو.چه د اذان دپاره طهارت شرط دي.نو په حالت د جنابت کښې اذان کول مکروه دې.اود بے اودسئ په صورت کښې مو د عدم مشابهت اعتبار اوکړلو.او حکم مو اوکړلو.چه د اذان دپاره طهارت شرط نه دې.نو په حالت د بے اودسئ کښې اذان کول مکروه نه دې.

قول محمد رحمه الله في الجامع الصغير>امام محمد رحمه الله په جامع الصغير کښې فرمائيلي دي.که بغير اودسه ئې اذان اوکړلو.او اقامت ئې اوکړلو.نو اذان اواقامت دے نه راګرځوي.اوکه جنب اذان اوکړلو.يا ئې اقامت اوکړلو.نو زما په نيز اعاده مستحب ده.

مراد قول محمد رحمه الله >صاحب دهدايه رحمه الله فرمائي.چه د امام محمد رحمه الله قول [ان لم يعد أجزأه] ددې مراد دا دې.چه مونځ کافي دې.څکه چه مونځ خو بغير د اذان او اقامت نه هم جائز دې.نوبغير د اعاده نه به په درجه اولی سره جائز وي.

مواقع إستحباب الإعادة >په شرح طحاوي کښې ذکر دي.چه د څلورو کسانو د اذان اعاده مستحب ده.

① د جنب ② د ښځې ③ د نشے په حالت کښې ④ د ليوني.

عدم إعادة الأذان والإقامة علي الجنب>خوکه جنب د اذان اواقامت اعاده اونکړله.نو بيا هم کافي دې.بهر حال د بے اودسه اذان او اقامت نه راګرځول ددې وجې دي.چه بے اودسي سپک نجاست دې.

او باقي پاتې شو دويم يعنی د جنب اذان او اقامت يعنی د جنب اذان او اقامت نو په دې کښې دوه روايتونه دي.يو دا چه واپس دے راوګرځوي.اودويم دا چه نه دے راګرځوي.فقه سره زيات مشابه دا ده.چه د جنب د اذان اعاده دے اوکړې شي.او د اقامت دے نشي راګرځولې. څکه په اذان کښې في الجمله تکرار جائز دې.لکه په جمعه کښې چه اذان دوه ځله کولې شي.خو په اقامت کښې تکرار مشروع نه دې.

دوخت نه وړاندې د اذان کولو په حکم کښې د فقهاو اقوال

وَلَا يُؤَذَّنُ لِصَلَاةٍ قَبْلَ دُخُولِ وَقْتِهَا اواذان به نشی کولے د يو مونځ دپاره دهغې د وخت داخليدو نه وړاندې **إِلَّا فِي الْفَجْرِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ** خو جائز دې د صبا د پاره په نيز د امام ابويوسف رحمه الله

حل اللغة >① دخول: داخليدل ② اعلام : خبرول ③ تجهيل: جهالت کښې اچول، جاهل جوړول ④

حجة: دليل ⑤ يستبين استبانة: ښكاره كيدل ⑥ عرضا: پلنوالي]

تشريح > **عدم جوازالأذان قبل الوقت** > مسئله دا ده.چه د وخت د داخليدو نه وړاندې اذان كول معتبر نه دي.نوكه چا د وخت نه وړاندې اذان كړې وي.نو په وخت كښې به ئې اعاده كوي.

دلائله > ① دليل دا دې.چه د اذان مقصود خلقو ته د وخت د داخليدوخبر وركول دى.او د وخت نه وړاندې اذن كول خلق په غلطئ كښې اچول دى. نوځكه د وخت نه وړاندې اذان كول په شريعت كښې معتبر نه دې.

② بلال رضي الله عنه ته نبي صلى الله عليه وسلم فرمائيلي وو.چه ته اذان مۀ كوه.تردے چه صبا ښكاره شي.راوى فرمائي.چه نبي صلى الله عليه وسلم خپل دواړه لاسونه په پلنوالى باندې خواره كړل.او اشاره ئې اوكړله. اوددې نه صبا صادق طرف ته اشاره وه.

③ ابن عبدالبر رحمه الله دابراهيم رحمه الله نه روايت كړې دې.[قال كانوا إذا أذن المؤذن بليل قالوا له إتق الله واعد اذانك]ابراهيم تابعي رحمه الله فرمائي.چه د صحابه كرامو رضي الله عنهم دا شان وو.چه كله به يو مؤذن په شپه كښې اذان اوكړلو.نوهغه ته به ئې وئيل:دالله نه اوويرېږه.اوخپل اذان راوګرځوه.

الإعتراض > خوكه اعتراض اوشى.چه په حديث كښې راغلى دى.چه [لايغرنكم أذان بلال] د بلال اذان دے تاسو دهوكه نكړي.ددې نه معلوميږى .چه بلال رضي الله عنه به د وخت نه وړاندې اذان كولو.

الجواب > ددې جواب دا دې.چه دا هم زمونږ دپاره حجت دې.ځكه چه نبي صلى الله عليه وسلم د بلال رضي الله عنه اذان ته څه اعتبار نه دے وركړې.بلكه په دې باندې د دهوكه كيدو او دے ته د څه اهميت وركولو نه ئې منع كړې ده.

جوازأذان الفجر قبل الوقت عندأبي يوسف > امام ابويوسف رحمه الله فرمائي. چه د صبا دپاره د شپې په آخرى نيمه حصه كښې اذان كول جائز دې.ددې حضراتو نه يو روايت دا هم دې.چه ټوله شپه د صبا د اذان دپاره وخت دې. اودا قول د امام شافعي رحمه الله هم دې.

دلائله > ① په اهل مكه او اهل مدينه كښې دا خبره په توارث سره راروانه ده.چه دصبا دپاره اذان د شپې په آخرى نيمه حصه كښې كوى.

② نبي صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دى.[إن بلالا يؤذن بليل فكلوا واشربوا حتى تسمعوا أذان ابن مكتوم] يعني بلال رضي الله عنه د شپے اذان كوى.نو تاسو خوراك څكاك كوئ. تردے چه د ابن ام مكتوم رضي الله عنه اذان واورئ.ددې حديث نه معلوميږى.چه بلال رضي الله عنه به د صبا نه وړاندې په شپه كښې اذان كولو.

الجواب عنه > خوكه غور اوكړې شي.نودا حديث زمونږ دپاره حجت دې.د امام ابويوسف دپاره حجت نه دي.ځكه چه د بلال رضي الله عنه دا اذان د تهجدو او پيشمنى دپاره وو.د صبا د مانځه دپاره نه وو. بلكه د صبا د مانځه دپاره به ابن ام مكتوم اذان كولو.اوهغه به د صبا راختو نه پس وو.ګنى د [حتى تسمعوا أذان ابن مكتوم] به څه مطلب وى؟

بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ الَّتِي تَتَقَدَّمُهَا

ترجمه: (دا) باب د مونځ دهغه شرطونو (په بيان کښې) دې.چه په مونځ باندې وړاندې وی.

تشريح﴿ الألفاظ الثلاثة في هذا المقام﴾ ددې موقع دپاره درې الفاظ ونيلی شی. ① شروط ② شرائط ③ اشراط په عامو کتابونو کښې اولنۍ لفظ ذکر دې. شروط جمع د شرط (بسکون الراء) ده.لغوی معنی ئې نښنه ده.او اصطلاحی معنی ئې هغه څیزدې.چه په هغې باندې د بل څیز وجود موقوف وی.اود دغه څیز(مشروط) په ماهیت کښې داخل نه وی.

أقسام الشروط﴾ دمونځ شرطونه په درې قسمه دی. ①اول شرط انعقاد لکه نيت ، تحريمه، وخت، د جمعې خطبه ② دويم شرط دوام لکه طهارت، ستر عورت ، استقبال قبله ③ دريم شرط بقاء لکه قرات.(کفايه)

الربط بما قبله﴾ په تيرو صفحو کښې د مونځ د اسبابو يعنی وختونو ذکر اوشو .بيا د وختونو دعلاماتو يعنی د اذان ذکر اوشو.اوس په دې باب کښې د مونځ شرطونه ذکر کوی.کوم چه په مانځه مقدم وی.

د مونځ ګذار دپاره د بې اودسو او پليتو نه د طهارت وجوب

يَجِبُ عَلَى الْمُصَلِّي په مونځګذار باندې واجب دی. أَنْ يُقَدِّمَ الطَّهَارَةَ چه پاکوالے مقدم کړی مِنَ الْأَحْدَاثِ وَالْأَنْجَاسِ په احداثو او انجاسو باندې عَلَى مَا قَدَّمْنَاهُ دهغې مطابق څنګه چه مونږ بيان کړل

حل اللغة﴾ ①يجب، وجب وجوبا (ض) واجب کيدل ②ان يقدم، قدم تقديما: وړاندې کول

تشريح﴾ تقديم الطهارة من الأحداث والأنجاس﴾ دلته کښې واجب په معنی دفرض دې. يعنی په مونځګذار باندې فرض دی.چه دهرقسم حدث نه پاکې وړاندې کړی. حدث که موجب د اودس وی.(لکه باد وتل وغيره او که موجب د غسل وی.(لکه خروج د منۍ وغيره شو يعنی که بے اودسه وی.نواول دے اودس اوکړی.بيا دے په مانځه اودريږی. اوکه په جنابت کښې وی.يا حائضه د حيض نه پاکه شی.يا نفاسه دنفاس نه پاکه شی.نواول دے غسل اوکړی.بيا دے مونځ شروع کړی. اودغه شان د انجاسو(يعنی حقيقی پليتۍ چه په نظر راځی. دهغې نه به هم طهارت وړاندې کړی.(يعنی نجاست حقيقی که په بدن يا جامه يا ځائې باندې وی.هغه به پاک کړی. لکه مونږ چه وړاندې بيان اوکړو (په باب الانجاس کښې

دلائل وجوب الطهارة﴾ دليل دالله تعالی ارشاد دې.﴿ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴾(دجامو د طهارت دپاره) او ﴿وَإِنْ كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا ﴾ دې.(د بدن د طهارت دپاره)

د ستر عورت وجوب

وَيَسْتُرُ عَوْرَتَهُ او پټوی به خپل عورت

تشريح﴾ شرط ستر العورة ﴾ اودويم شرط د خپل ستر عورت پټول دی.يعنی په دومره اندازه باندې د عورت پټول واجب دی.چه دهغې ښکاره کول قبيح او بے حيائی ګنړلې شی.(زما په نيز دا تعريف قابل نظر ښکاری.ځکه چه په موجوده زمانه کښې د فيشن دور دې.ښځو چه کوم قميصونه اغوستی وی.په هغې کښې ئې متې هم ښکاری.حالانکه دا هغوی قبيح نه ګنړی.ځکه چه فيشن ترے جوړ شوې دې.

.نود پورتنی تعریف په بنا پکار دا ده.چه په دې قمیصونو کښې مونځ جائز شی. حالانکه څوك هم ددې قائل نه دی. دا زمونږ په نیز او دامام شافعی امام مالك او عامو فقهاؤ ﷺ په نیز دې.

دلائله > ①دلیل دالله تعالی ارشاد دې. ﴿خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ﴾ یعنی واخلئ خپل زینت دهر جمات سره په آیت کښې د زینت نه مراد هغه څیز دې. چه عورت پټوی.او د جمات نه مرادمونځ دې.اوس به ترجمه داشی.چه کوم څیز ستاسو عورتونه پټوی.هرمانځه ته هغه څیز ځان سره واخلئ.نو ددې آیت نه د مانځه په دوران کښې د عورت د پټولو فرضیت ثابت شو.

الإعتراض>خودابن عباس ﷺ نه نقل دی.چه دا آیت په برینډه دطواف کونکو په باره کښې نازل شوې دې.دمانځه په حق کښې نه دې.نو ددې آیت نه په مانځه کښې د عورت د پټولو فرضیت څنګه ثابتیږی.

الجواب> ددې جواب دا دې.چه اعتبار عموم د لفظ لره وی.خصوص د سبب لره نه وی.او [عندکل مسجد] عام دې.د مسجد حرام تخصیص پکښې نشته.

② دویم دلیل دا دې.چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.[لایقبل الله صلاة حائض إلا بخمار] الله تعالی نه قبلوی مونځ د حائضې مګرپه پړونګې کښې.دحائضې نه مراد بالغه ده.یعنی الله تعالی د بالغې مونځ بغیر د پړونی نه نه قبلوی.

الإعتراض علي فرضية سترالعورة >دلته دا اشکال کیدے شی.د سترعورت د فرضیت دپاره چه صاحب دهدایه ﷺ کوم آیت او حدیث ذکر کړې دې.ددې نه د ستر عورت فرضیت نه ثابتیږی.څکه چه د ﴿ خُذُوا زِينَتَكُمْ﴾ آیت د طواف په حق کښې وجوب د ستر عورت ثابتوی.هم دا وجه ده.چه په برینډه طواف کول په شریعت کښې معتبر دې.اګرچه ګناهګار به ضرور وی.نوکه د مونځ دپاره د فرضیت ثابتونکې شی.نولفظ د ،،خذوا،، د واجب او فرض دواړو په معنی کښې مستعمل شو.اودا ناجائز ده.(چه یو تکے دے په یووخت کښې د فرضیت او وجوب دواړو ثابتونکے شی. څکه چه په دې صورت کښې د حقیقت او مجاز په مینځ کښې جمع والے راغلو.(اوپه یو وخت د یو لفظ نه حقیقی او مجازی معنی اخستل ناروا ده. اوباقی پاتې شو حدیث.نوهغه خبر واحد دې.او په خبر واحد سره فرضیت نه ثابتیږی.نوځکه دا حدیث د فرضیت ثابتونکے نه دې.

الجواب> جواب دا دې.اګرچه آیت قطعی الدلالة نه دې.خو قطعی الثبوت ضرور دې.او حدیث اګرچه د خبر واحد د وجې ظنی الثبوت دې.خود اداة حصر د وجې قطعی الدلالة دې. نو ددې دواړو د مجموعې نه فرضیت ثابت شو.

دسړی عورت .او د نامه او پنډئ په عورت کښې اختلاف

وَالْعَوْرَةُ مِنَ الرَّجُلِ او د سړی واجب الستر عورت مَا تَحْتَ السُّرَّةِ إِلَى الرُّكْبَةِ دده د نامه نه واخله تر پنډو پورې دے وَالرُّكْبَةُ عَوْرَةٌ او پنډئ په عورت کښې داخل ده

حل اللغة >①سرة: نوم ② رکبة: زنګون

تشریح> **حدعورة الرجل**> په دې عبارت کښې د سړی د بدن واجب الستر اندازے حد بندی شوې ده. د سړی عورت د نامه نه لاندې ترپنډو پورې دې.یعنی نوم عورت نه دې.او پنډئ عورت ده.

دلیله ﴿ دلیل د نبی ﷺ قول چه [عورة الرجل ما بین سرته إلی رکبته] دي.او په یو روایت کښې دی.[ما دون سرة حتی تجاوز رکبة] یعنی د سرې عورت د نامه او د پنډئ په مینځ کښې حصه ده.او په بل روایت کښې دی. چه د نامه د لاندې نه تر دے چه د پنډئ نه تیر شی.ددې دوارو حدیثونه نه ثابته شوه.چه نوم په عورت کښې داخل نه دې.خو پنډئ په کښې داخل ده.

الإعتراض ﴿خوکه اعتراض اوشی.چه په اولنی روایت کښې کلمه د ،،الی،، د غایه دپاره ده .اوغایت په مغیا کښې داخله نه وی.نو پنډئ د سرې په عورت کښې داخله نشوه.

الجواب ﴿نوجواب دا دې.چه مونږ کلمه د ،،الی،، د ،،مع،، په معنی حمل کوو.لکه دالله تعالی په دې قول کښې ﴿وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ إِلَى أَمْوَالِكُمْ﴾چه ،،الی،، د ،،مع،، په معنی راغلے ده.او په دې باندې قرینه یوخو هغه حدیث دې.چه په هغې کښې [حتی تجاوز رکبة] دې.

(۲) دویم دلیل د نبی ﷺ قول چه [الرکبة من العورة](۱)دې.حاصل دا دې.چه په درې واړه روایاتوکښې تطبیق هله کیدے شی. چه کلمه د ،الی، په ،،مع،، باندې حمل کړې شی.

د اصلي ښځې د عورت حکم

وَبَدَنُ الْمَرْأَةِ الْحُرَّةِ كُلُّهُ عَوْرَةٌ او د اصلې ښځې ټول بدن عورت دې إِلَّا وَجْهَهَا وَكَفَّيْهَا سوا ددې د مخ او د دوارو تلو ورغوو نه

حل اللغة ﴿(۱) بدن جمع ابدان: جوثه (۲)حره: آزاده ښځه (۳)وجه جمع وجوه: مخ (۴)کف: تلې

تشریح ﴿ **حد عورة المرأة الحرة** ﴿ دآزادے ښځه د مخ او دوارو ورغوو نه علاوه باقی ټول بدن عورت دې.

دلیله ﴿دلیل د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دې.چه [أنه ﷺ قال المرأة عورة فإذا خرجت إستشرفها الشیطان] ښځه عورت دې.یعنی واجب الستر ده.کله چه دا (د کور نه) راوځی.نو شیطان دا په کتلو کښې ښائسته کوی.

علة إستثناء الوجه والکفین ﴿اود مخ او ورغوو استثناء ئې ددې وجې اوکړله .چه ددې دوارو اندامونو ښکاره کولوته ضرورت دې.ځکه چه په کار کولواو ورکړه راکړه کښې ددې نه بغیر ګزاره نه کیږی.ددې تائید د ابوداود د یو مرسل حدیث نه هم کیږی.[ان الجاریة إذا حاضت لم یصلح أن یری منها إلا وجهها ویدها إلی المفصل] یعنی جینئ چه کله بالغه شی.نومناسب نه دی.چه اولیدے شی.سوا ددې د مخ او دوارو لاسونو نه تر جورونو پورې.

دخول القدمین في العورة ﴿صاحب دهدایه رحمه الله فرمائی.چه د متن دا قول په دې خبره ښکاره دلالت کوی.چه د ښځې قدم هم عورت دې.ځکه چه د ټول بدن نه صرف د مخ او ورغوو استثناء شوې ده.

عدم دخول القدمین في العورة ﴿اوامام حسن د ابوحنیفه رحمه الله نه روایت کړې دې.چه دواړه قدمونه هم عورت نه دې.اودا اصح روایت دې.امام کرخی رحمه الله هم ددې قائل دې.

دلیل عدم عورة القدمین ﴿ د قول اصح دلیل دا دې.چه د ښځې د قدم په کتلو باندې دومره شهوت نه پیدا

(۲) من حدیث ابن عمر رضي الله عنهما اخرجه الدارقطنی فی سننه (۱\۲۳۱)۔

کیږی.لکه ځنګه چه ددې د مخ په کتلو سره پیدا کیږی.نو چه د کثرت شهوت باوجود مخ عورت نه دې. نو پکار ده.چه قدمونه خو په طریق اولی سره عورت نشی.

فائدة > خیال ساتل پکار دی.چه مخ عورت نه دې.نو ددې نه دا نه لازمیږی. چه دے ته په کتلو کښې هم حرمت نشته.ځکه کتل په هغه وخت کښې حلال دی.چه د شهوت ویره نه وی.هم دا وجه ده.چه د ښځې او امرد (بے ګیرے هلك) مخ ته کتل حرام دی.حالانکه دا عورت نه دې.ځکه چه د شهوت احتمال په کښې قوی دې.

د وینزې د عورت بیان

وَمَا كَانَ عَوْرَةً مِنَ الرَّجُلِ اوځومره بدن چه دسړی عورت دې فَهُوَ عَوْرَةٌ مِنَ الْأَمَةِ هغه هومره د وینزے عورت دې وَبَطْنُهَا وَظَهْرُهَا عَوْرَةٌ او ددې خیټه او ،ملا، هم عورت دې وَمَا سِوَى ذٰلِكَ مِنْ بَدَنِهَا لَيْسَ بِعَوْرَةٍ او ددې نه علاوه باقی ټول بدن عورت نه دے

تشریح > **حد عورة الأمة** > په دې عبارت کښې د وینزےعورت بیان شوې دې. فرمانی . چه د سړی په بدن کښې څومره حصه عورت دې.یعنی د نامه نه لاندې تر ګنډو پورې نوهم دغه حصه د وینزے په بدن کښې عورت دې.ددې نه علاوه د وینزے خیټه او ملا هم عورت دې.ځکه چه دا دواړه د شهوت ځایونه دی.نو ددې پټول هم فرض دی.خو ددې نه علاوه نور بدن ئې عورت نه دې.

دلائله > ① یو ځل حضرت عمر رضي الله عنه یوه وینزه اولیدله.چه پړونې ئې په سرکړې وو.نوورته ئې اوفرمائیل: اے وینزے دځان نه پړونےلرے کړه .ته ځان د اصیلو ښځو سره یوشان کوې.(۱)او په یو روایت کښې داسې الفاظ دی . [اکشفی عن رأسك ولاتشبهی بالحرائر] خپل سر ښکاره کړه.د اصیلو ښځو مشابهت مه کوه.

② وینزه د خپل مالك د ضرورتونو پوره کولو دپاره د خدمت په جامو کښې د کور نه بهرته اوځی.نو د ټولو سرو په حق کښې دا په ذوات المحارم باندې قیاس کړې شوه.چه حرج لرے شی.یعنی وینزے د پردے په حکم کښې د ټولو سرو دپاره د ذوات المحارمو پشان ګڼرلې شی.یعنی لکه ځنګه چه د مور د خپل خوی نه او د خور د خپل ورور نه پرده واجب ده. نو هم په دغه اندازه په وینزه باندې د هر سړی نه پرده واجب ده.

د نجاست زائله کونکې څیز نه موندلو په وخت د مونځ حکم

وَمَنْ لَمْ يَجِدْ اوڅوک چه داسې څیز اونه موندلو مَا يُزِيلُ بِهِ النَّجَاسَةَ چه په هغې سره ئې نجاست لرے کړې وې صَلَّى مَعَهَا نوهم په دغه پلیته جامه کښې دے مونځ اوکړی وَلَمْ يُعِدْ او اعاده دے نه کوی

حكم الصلاة في ثوب نجس > مسئله دا ده.که د یوکس سره د پلیتے جامے نه سوا بله جامه نه وی.او داسې څیز ورسره هم نه وی.چه پلیتے پرے لرے کړی. نوهم په دغه پلیته جامه کښې دے مونځ اوکړی.اوبیا دے د هغې اعاده هم نه کوی.

حكم الصلاة عند طهارة الربع أو الأكثر > په دې مسئله کښې دوه صورتونه دی. یو دا که څلورمه یا ددې نه

---

(۱) أخرجه عبدالرزاق ق مصنفه (۱۲۸\۳)۔

زياته حصه پاکه وی.نو لازمی به هم په دغه جامه کښي مونځ کوی.اوکه په برينډه ئې اوکړلو.نوجائز نه دي.ځکه چه څلورمه حصه د ټول پشان ده.نود څلورمې حصې پاکوالے لکه د ټولې پاکوالے دي.اوچه پاکه جامه پريږدی.اوپه برينډه مونځ کوی. نودا جائز نه ده.نوځکه دے هم په دغه جامه کښي مونځ اوکړی.

په برينډه دمونځ کولو حکم

وَمَنْ لَمْ يَجِدْ ثَوْبًا اوچا چه جامه اونه موندله صَلّٰى عُرْيَانًا نومونځ دے کوی په برينډه قَاعِدًا په ناسته يُوْمِئُ بِالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ په داسې حالت کښي چه رکوع اوسجده په اشاره کوی

حل اللغة ① لم يجد وجد وجدانا (ض): موندل ② عريانًا: برينډول ③ فعله فعل فعلاً (ف): کول ④ قاعدي: په ناسته

تشريح **كيفية صلاة العاري** مسئله دا ده.که د يو کس سره جامه نه وی.که پاکه وی او که پليته وی.نودا کس دے په ناسته باندې مونځ کوی.رکوع او سجده دے په اشاره کوی.

دلائله ① د نبی ﷺ صحابو ﷺ هم داسې کړی وو. د انس بن مالك ﷺ نه روايت دي.[أنه قال أن أصحاب رسول الله ﷺ ركبوا في سفينة فانكسرت بهم السفينة فخرجوا من البحر عراة فصلوا قعوداً] (۱) دانس بن مالك ﷺ نه روايت دي.چه د نبی ﷺ څه صحابة ﷺ په يوه کشتئ کښي سوارة وو.نو کشتئ ماتة شوه.او هغوی د درياب نه برينډ راوؤتل.نوپه ناسته ئې مونځ اوکړلو.

② د ابن عباس ﷺ او ابن عمر ﷺ نه روايت دي.[أنهما قالا العاری يصلی قاعداً بالإيماء] ابن عباس ﷺ او ابن عمر ﷺ فرمائيلی دی.چه برينډ سړی دے په ناسته مونځ کوی.

الإعتراض دلته کښي يو اعتراض کيدے شی.هغه دا چه نبی ﷺ عمران بن حصين ﷺ ته فرمائيلی وو.[صل قائماً فإن لم تستطع فقاعداً] يعنی مونځ په ولاړه کوه.اوکه د ولاړے نه عاجزه شوې.نوپه ناسته کوه.دا حديث ددې خبرے تقاضا کوی.چه د برينډ دپاره په ناسته مونځ کول جائز نه دي.

الجواب ددې جواب دا دې.چه دا کس حکماً د قيام نه عاجز دي.ځکه چه دے د عورت (عورت غليظه) په پټولو بغيرد قيام او رکوع پريخودلو نه قادر نه دي. (يعنی چه عورت غليظه پټوی.نوقيام او رکوع به پريږدی.هله به ئې عورت غليظه پټ وی) اوچه د قيام نه عاجز شو.نو په ناسته ئې مونځ کول صحيح شو.

اوکه په ولاړه ئې مونځ اوکړلو.نودا هم جائز دي.ځکه چه په ناسته مونځ کولو کښي د عورت غليظه پټول دی.او په ولاړه مونځ کولو کښي د قيام رکوع او سجدے ادا کول دی.نوپه دواړو صورتونو کښي چه کوم غواړی.هغه دے اوکړی

فَإِنْ صَلّٰى قَائِمًا وَالْأَوَّلُ أَفْضَلُ خو اولنے حالت افضل دي

تشريح **فضل صلاة العاري قاعداً** خو اول صورت يعنی په ناسته مونځ کول غوره دي.

---

(۱) قال الزيلعی رحمه الله غريب وروی عبدالرزاق فی مصنفه (ای فی ۲\۵۸۱) عن ابن عباس رضي الله عنهما قال الذی يصلی فی السفينة والذی يصلی عرياناً يصلی جالساً۔

دلائله ﴿ ① دليل دا دې چه پرده کول د مونځ او خلقو د حق د وجې واجب ده. او طهارت صرف دمانځه دپاره واجب دې.

② بله دا چه د عورت پټولو فرضيت د رکوع او سجدې کولو په نسبت زيات مؤکد دې. دليل دا دې چه نفلي مونځ سره د قدرت نه په سورلۍ بغير د رکوع او سجدې نه په اشاره سره جائز دې.اوپه حالت د قدرت کښې په هيڅ صورت کښې په بربنډه مونځ نه دے جائز.اود بربنډ سړی دپاره په ناسته مونځ کولو کښې د قيام په نسبت پرده زياته ده.نوځکه مونږ اووئيل.چه د بربنډ دپاره په ناسته مونځ کول غوره دی.

③ د عورت پټولو خليفه نشته.اود ارکانو يعنی رکوع او سجدې خليفه اشاره کول دی.او قاعده دا ده.چه ،،ترك الی خلف غوره دے په نسبت سره ترك لا الی خلف ته،، نو که بربنډ په ناسته مونځ اوکړلو.نود رکوع او سجدې پريخودل به خليفه ته پاتې شی.چه اشاره ده.اوکه په ولاړه ئې مونځ اوکړلو.نودعورت پټولو دپاره بل څه خليفه نشته.چه هغې ته پاتې شی . او اوس بيان اوشو.چه يو څيز پريخودې شی.او خليفه ئې وی.دا غوره ده. په نسبت سره دے ته چه پريخودې شی.او خليفه ئې نه وی.نوځکه د بربنډ دپاره په ناسته مونځ کول د ولاړې په نسبت غوره دې.

په نيت اوتکبيرتحريمه کښې په بل عمل سره د فصل کولوحکم

وَيَنْوِي لِلصَّلَاةِ الَّتِي يَدْخُلُ فِيهَا بِنِيَّةٍ اونيت دې کوی دهغه مونځ چه په کښې شروع کوی لَا يَفْصِلُ بَيْنَهَا وَبَيْنَ التَّحْرِيمَةِ بِعَمَلٍ په داسې نيت سره چه د دغه نيت او تکبير تحريمه په مينځ کښې په بل کار سره فصل اونکړی

حل اللغة ﴿ ① ينوی، نوی نية(ض): نيت کول، اراده کول ② يدخل، دخل دخولاً(ن): داخليدل ③ لايفصل فصل فصولاً (ض): جداکول

تشريح ﴿ **تعريف النية** ﴿ نيت دارادې نوم دې.يعنی د خاص ارادې نوم نيت دې.اوهغه په دې مقام کښې دالله تعالی دپاره مونځ کول دی.

شرط النية ﴿ اود نيت دپاره شرط دا دې.چه په زړه کښې پوهيږی.چه دا کوم مونځ کوم.او ددې دپاره نښه دا ده.چه کله دده نه تپوس اوشی.چه کوم مونځ کوې.نو بغير سوچه جواب ورکولې شی.چه فلاتې مونځ کوم.اوکه ده په جواب کښې توقف اوکړلو.نو معلومه شوه.چه ده ته دا علم نشته.چه دا کوم مونځ دې.

حکم التلفظ بالنية ﴿ اوپه ژبه باندې د نيت تلفظ کول نو د مانځه د جواز دپاره ددې څه حيثيت نشته.خوپه ژبه باندې نيت ووئيل ښه خبره ده.ددې دپاره چه د زړه اراده جمع او مضبوطه شی.

حکم مطلق النية في غير الفرض والقولان فيه ﴿ **ثم إن كانت الصلاة نفلاً إلخ** ددې ځائې نه دنيت د کيفيت بيان کوی.خلاصه دا ده.چه په کوم مونځ کښې شروع کوی .هغه به يا فرض وی يا غيرفرض. که غير فرض وی.نو په هغې کښې مطلق نيت کافی دې. ①که نفل وی اوکه سنت وی. صحيح قول هم دا دې. ځکه نيت په عادت او عبادت کښې د امتياز دپاره وی.اودا مقصد
په مطلق نيت سره حاصليږی.نو مطلق نيت کافی دې.

② د بعضو رائې ده.چه که سنت کوی.نو د رسول الله ﷺ د سنتو نيت کول ضروری دی. ځکه چه سنت مطلق نيت باندې يو زياتی صفت دې.نو ددې زياتی صفت نيت کول ضروری دې. مطلق نيت به ورله

کافي نه وي.

حكم النية في الفرض للمنفرد> اوكه دغه مونځ فرض وي.نو ددې هم دوه صورتونه دي.يو دا چه دا منفرد ادا كوي.اوبل دا چه داامام په اقتداء كښې ئې ادا كوي.نوكه دے منفرد وي.نود مونځ متعين كول ضروري دي.مثلاً د ماسپخين په مانځه شروع كوي.نود ماسپخين متعين كول ضروري دي.صرف دومره وئيل كافي نه دي.چه ما د فرضو نيت اوكړلو.ځكه چه فرض مختلف دي.نو په دې كښې امتياز پكار دې.

شرط نية المأموم> په آخري عبارت كښې د دويم صورت بيان دې.يعنى كه فرض مونځ د بل چا په اقتداء كښې كوي.نو د پورتني نيت نه علاوه به د امام د تابعدارئ نيت هم كوي.ځكه چه په مقتدي باندې د امام د طرفه فساد راځي. يعنى كه د امام مونځ فاسد شي.نو د مقتدي مونځ به هم فاسديږي.نوځكه د متابعت نيت ضروري شو.ددې دپاره چه كوم فساد راځي.نو دهغې نقصان ده ته ددې وجې رسي.چه ده په ځان متابعت لازم كړې وي.

عدم الفصل بين النية والتكبير> مسئله دا ده.چه په كوم مونځ كښې شروع كوي.نو د هغې نيت به كوي.خو په دې شرط چه د نيت او تكبيرتحريمے په مينځ كښې په څه داسے عمل سره فصل نه وي.چه هغه د مونځ منافي وي.مثلاً د نيت نه پس په خوراك څكاك يا خبرو كښې مشغول شي.اوبيا تكبيز تحريمه اووائي. او مونځ شروع كړي.نو دا نيت معتبر نه دې.

دلائل شرطية النية> ① د نيت په شرطيت كښې د نبى ﷺ قول [الأعمال بالنيات] اصل دې.ددې وضاحت داسې كيدے شي.چه مونځ يو عمل دې.او د اعمالو تعلق د نيت سره وي.نو مونځ به هم د نيت سره متعلق وي.اوكوم مونځ چه بغير دنيته اوشي.هغه په حقيقت كښې هډو مونځ نه دې.

كون النية مقدماً على التكبير> كه د تكبير د وخت نه وړاندې ئې نيت اوكړلو.نو دا داسې ده.لكه چه د تكبير په وخت كښې ئې نيت كړې وي.خلاصه دا ده.چه اصل خو دا دې.چه نيت د تكبير سره متصل او يوځائې وي.خوكه د تكبير نه وړاندې ئې نيت اوكړلو.او دنيت او تكبيرتحريمے په مينځ كښې داسې عمل رانشي.چه د مونځ سره منافي وي.اومونځ پرے ماتيږي.نوهم صحيح دې.

صورة عدم المنافي> مثلاً داامام محمد رحمه الله نه روايت دې.كه د اودس په وخت كښې دا نيت اوكړي.چه د ماسپخين مونځ به د جماعت سره كوم.اود اودس نه پس په داسې عمل كښې مشغول نه شو.چه د مانځه سره منافي وي.اوجمات ته لاړلو.اوځه وخت چه په مانځه شروع كوي.نو په هغه وخت كښې ورته نيت ياد نه وي.نوهم په دې نيت سره به دده مونځ جائز شي.دغه شان د شيخينو رحمهما الله نه هم نقل دي.

صورة المنافي> اوكه د نيت او تكبيرتحريمے په مينځ كښې عمل منافي يا داسې عمل چه مونځ پرے ماتيږي.واقع شي.نودا نيت نه كافي كيږي.مثلا د اودس په وخت كښې ئې د امام سره د ماسپخين د مونځ نيت اوكړلو.بيا په خوراك يا څكاك كښې مشغول شو.نو اوس به دے دوباره نيت كوي.اولنے نيت كافي نه دې.

عدم إعتبار النية بعد التكبير> اوكه نيت ئې د تكبيرتحريمه نه پس اوكړلو.نوپه شريعت كښې دا معتبر نه دې.

دليله> ځكه چه كومه حصه د تكبير نه پس او د نيت نه وړاندې ده.هغه د نيت د نشتوالي د وجے عبادت نه شو.اوچونكه د مانځه نورے حصې د مانځه په اولنو حصو باندې موقوف وي. نوهغه هم عبادت نه شو. نو ځكه مونږ وايو.كه د تكبير تحريمے نه پس ئې نيت اوكړلو. نو هغه نه صحيح كيږي.

په مانځه کښې قبلې ته د مخ کولو حکم

وَيَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ او قبلې طرف ته به مخ کړي

تشريح > **شرطية إستقبال القبلة ودليله** > قبلې ته مخ کول هم د مونځ په شرطونو کښې يو شرط دې.دليل دا الله تعالى ارشاد دې.﴿فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ﴾ وجه د استدلال دا ده.چه الله تعالى فرمانيلى دى.﴿فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا﴾مونږ به تا ،ستا خوښې قبلې طرف ته وارووو.او بيا ئې مسجد حرام ته د مخ اړولو حکم اوکړلو.

صورة إستقبال عين الكعبة > بيا دمانځه دوه صورتونه دى.يا خو به دا په مکه مکرمه کښې ادا کوى.اويا به د مکې نه بهر په بل ځائې کښې ادا کوى.نو په اول صورت کښې عين کعبې ته مخ کول ضرورى دى.

دليله > ځکه چه نبى ﷺ به په مسجد حرام کښې مونځ کولو.نو عين کعبې ته به ئې مخ کولو.اوهم دا معمول د صحابه کرامو ﷺ او تابعينو ﷺ هم پاتې شوې دې.لکه چه په دې باندې اجماع ده.

صورة إستقبال جهة القبلة > او په دويم صورت کښې قبلې طرف ته مخ کول فرض دى.

دليله > دليل ئې دا دې.چه نبى ﷺ او مسلمانان په مدينه منوره کښې وو.نو الله تعالى هغوى ته مسجد حرام طرف ته د مخ کولو حکم کړې وو.کعبې طرف ته دمخ کولوحکم ئې نه وو کړې.نومعلومه شوه.چه کوم سړې د مکې نه بهر وى .دهغه دپاره عين کعبې ته مخ کول فرض نه دى.ځکه چه الله تعالى بندګان د هغوى د طاقت مطابق مکلف کوى.دالله تعالى ارشاد دے﴿لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾

د ويريدونکي سړي د قبلې حکم

إِلَّا أَنْ يَكُونَ خَائِفًا مګر دا چه ويريدونکى وى فَيُصَلِّي إِلَى أَيِّ جِهَةٍ قَدَرَ نو چه کوم طرف ته قادر وى.مونځ دے کوى

تشريح > **حکم إستقبال القبلة للخائف** > مسئله دا ده.که يوکس د ويرے د وجے قبلې ته په مخ کولو قادر نه وى.نو کوم طرف ته چه قادر وى.هغه طرف ته دے مخ کوى.ويره که مالي وى يا جانى وى.که د دشمن وى اوکه د ځناور وى.اوکه د ډاکو وى.مثلاً چه يو کس سره دا ويره وى.که زه اوخوزيدم.او قبلې ته مې مخ کړلو.نو دشمن ته به پته اولګى. نو دهغه دپاره په ناسته يا په ملاسته چه څنګه ممکنه وى.هغے طرف ته مخ کول جائزدى .مونځ دے اوکړى.

دليله > دليل دا دې.چه د اشتباه دحالت په شان دده عذر هم متحقق دې.نو دده دپاره به حقيقةً استقبال د قبلې شرط نه وى.

د مشتبه قبله . سړي د قبلې حکم

فَإِنِ اشْتَبَهَتْ عَلَيْهِ الْقِبْلَةُ نوکه په مونځګذار قبله مشتبه شوه وَلَيْسَ بِحَضْرَتِهِ اوحال دا وو.چه څوک موجود هم نه وو مَنْ يَسْأَلُهُ عَنْهَا چه دهغه نه د قبلې تپوس اوکړى اِجْتَهَدَ نواجتهاد دے کوى وَصَلَّى اومونځ دې کوى

حل اللغة > ① اشتبهت، اشتبهاشتباها: مشتبه کيدل، په شك کښې پريوتل ② اجتهدا اجتهاداً: کوشش کول

تشريح > **متي يجب الإستقبال بالتحري؟** > صورت د مسئلې دا دې.که په يوکس باندې د قبلې طرف مشتبه شى.او ورسره داسې څوك هم نه وى.چه هغه د قبلې دجهت نه خبر وى.اودهغه نه تپوس اوکړى. نوددې

سري دپاره تحري (اجتهاد) كول پكار(واجب دی.نوچه كوم طرف ته ئي غالب گمان راغلو.هغه طرف ته دے مونځ اوكړی.

صورة عدم جوازالتحري> مصنف فرمائي. [وليس بحضرته من يسأله عنها] ددې نه معلومه شوه.كه يو كس د قبلې خودونكے موجود وی.نودهغه نه دے تپوس اوكړی. په دې صورت كښې به تحري جائز نه وی.او فرمائي.[اجتهد] ددې نه معلومه شوه.چه بغير د تحري نه مونځ نه كيږی.د تحري د جواز دپاره **دليله**> دليل دا دې.چه يوځل په صحابه كرامو ﷺ باندې قبله مشتبه شوه. نو هغوی تحري اوكړله. اومونځ ئي اوكړلو.بيائې دا واقعه رسول الله ﷺ ته ذكر كړله.نو نبی ﷺ پرے څه انكار اونكړلو.

التحري بعدالإستخبار> (اول خو دا ضروری ده.چه د چانه تپوس اوكړی.اودا تپوس كول ښكه ضروری دی. چه تپوس كول د تحري نه قوی دی. نو چه تركومے پورې تپوس كول ممكن وی.ترهغه وخته پورې تحري كول ناجائز ده .او كه خبروركونكې څوك موجود نه وی.او تپوس كول د تحري نه اوچت دی. نو تر څو پورې چه تپوس كول ممكن وی.نوترهغه وخته پورې تحري كول جائزنه ده.

د مونځ كولو نه پس په استقبال د قبله كښې د غلطۍ علم

فَإِنْ عَلِمَ أَنَّهُ أَخْطَأَ بَعْدَمَا صَلَّى اوكه بيا ورته دمانځه نه پس معلومه شوه.چه دے غلط شوې دې فَلَا إِعَادَةَ عَلَيْهِ نو اعاده نشته په هغه باندې

حل اللغة > ① علم علماً(س): پيژندل ② اخطا اخطاءً: غلطی كول ③ اعادة ، اعاد اعادةً: واپس كول

تشريح> **ظهورالخطافي جهة القبلة** > صورت د مسئلې دا دې.كه يوكس باندې د قبلې اشتباه راغلے وه.او هغه د قبلې د طرف معلومولو دپاره تحري اوكړه.اومونځ ئې اوكړلو.د مانځه نه پس ورته معلومه شوه.چه د قبلې طرف ترے خطا شوې وو. يعنی د قبلې نه علاوه بل طرف ته ئې مونځ كړې وو.

عدم الإعادة >نو په دې صورت كښې په ده باندې د مونځ اعاده نشته.ځكه چه داسې وخت كښې شرعی قبله جهت د تحري وی.او هغه د شرعی حكم مطابق مونځ اوكړلو.

د مانځه په دوران كښې د قبلې په طرف پوهيدل

وَإِنْ عَلِمَ ذٰلِكَ وَهُوَفِي الصَّلَاةِ اوكه متحري ته په قبله كښې د غلطۍ پته اولګيدله اوهغه په مانځه كښې وو اسْتَدَارَإِلَى الْقِبْلَةِ نو قبلې طرف ته دے اوګرځی وَبَنَى عَلَيْهَا اوبناء دې كوی په هغې باندې

تشريح> **الإنصراف إلي جهة الكعبة لتغيرالتحري**> كه يوكس په تحري سره مونځ شروع كړی وی.اوهغه ته د مانځه په دوران كښې معلومه شوه.چه زه د قبلې په طرف كښې خطا شوې يم.نودا كس دے د مانځه په دوران كښې قبلې طرف ته اوګرځی

دليله> دليل دا دې.چه اهل قبا ته كله په مانځه كښې دا معلومه شوه.چه قبله بدله شوه. يعنی د بيت المقدس په ځائې خانه كعبے ته د مخ ګرځولو حكم اوشو. نو په هم په مانځه كښې د ركوع په حالت كښې قبلې طرف ته اوګرځيدل.اوبيا چه كله نبی ﷺ ته ددې علم اوشو.نو هغوی د دوی تعريف اوكړلو.انكار ئې اونكړلو.(۱)

---

(۱) من حديث عبدالله بن عمر اخرجه البخاری فی الصلاة باب ۳۲ ومسلم فی المساجد رقم ۳ والنسائی فی الصلاة باب ۲۴

حکم تغیر جهة التحری في الصلاة > او دا حکم په هغه صورت کښې هم دے چه کله د مانځه په دوران کښې دده رائې بدله شي.یعنی کلکه شی.نوهغه طرف ته دے اوګرځی.تردے که په ګرځیدو کښې ئې په قصد څه روستووالے اوکړلو. نو مونځ ئې ماتیږی.ځکه چه د مانځه په باقی حصه کښې په ده باندې د اجتهاد مطابق عمل کول واجب وو.بغیردماتولو د هغه حصې نه چه ورانده ئې کړې وه.

د مونځ د صفت بیان

بَابُ صِفَةِ الصَّلاةِ

ترجمه: (دا باب) د مونځ د صفت (په بیان کښې) دی.

تشریح> الربط بما قبلها> تراوسه پورې د مونځ د وسائلو او مقدماتو بیان وو.اوس دده ځائې نه د مقصود یعنی مونځ ذکر کوی.

الفرق بین الوصف والصفة> داهل لغت په نیز وصف او صفت دواړه مترادف دی.او دواړه مصدر دی.لکه ،،وعد،، او ،،دعوة،، او په متکلمینو کښې زمونږ د عالمانو ﷺ په نیز وصف د واصف کلام دی.او صفت هغه معنی ده.کومه چه موصوف سره قائمه وی.نو،،زید عالم،، د زید وصف دی.صفت ئې نه دی.او دده علم کوم چه ده سره قائم دی.صفت دی.وصف نه دی.

المراد من الصفة> باقی پاتې شوه دا خبره چه دلته د ،،صفت،، نه څه مراد دی.نو په دې باره کښې اختلاف دی. ① او بعضو وئیلی دی.چه دلته مضاف محذوف دی.تقدیری عبارت دا دی.[باب صفة أجزاء الصلاة] په دې صورت کښې د صفت نه مراد کیفیت دی.یعنی دا باب د مونځ د اجزاؤ د کیفیت،وجوب ،اوفرضیت وغیره په بیان کښې دی.

②اود بعضو خیال دا دی.چه د صفت نه مراد هغه امور دی.کوم چه په دې باب کښې مذکور دی.یعنی واجبات،فرائض،سنن او مندوبات نو په دې صورت کښې د صفت اضافت ،،صلاة،، ته د ،،اضافت جزء الی الکل،، د قبیلې څخه دی. ځکه چه په صفات مذکوروْ کښې هر یوصفت د مانځه جزء دی.

③ صاحب د ،،عنایه،، فرمائی.چه ظاهره دا ده.چه د صفت نه مراد د مانځه هغه هیئت دی.کوم چه ددې د ارکانو او عوارضو نه حاصل وی

د مونځ فرائض

فَرَائِضُ الصَّلاةِ سِتَّةٌ دمونځ فرائض شپږ دی

حل اللغة > ①فرائض واحد فریضة: معنی فرض

تشریح> إیراد لفظ الفرائض دون الأرکان> باقی پاتې شوه دا خبره چه مصنف رحمه الله ،،فرائض الصلاة،، ولے اووئیل .او ،،ارکان الصلاة،، ئې اونه وئیل.نو ددې جواب دا دی.چه لفظ د ،،فرائض، عام دی.کوم چه ارکان او غیر ارکان (شرائط) ټولو ته شامل دی.او دلته تحریمه چه کومه مذکور ده.هغه مانځه رکن نه دی . بلکه د جواز صلاة شرط دی.او آخری قعده اګرچه فرض ده.خو رکن اصلی نه دی.

دلیله> او ددې دلیل چه رکن اصلی نه دی.دا دی.چه آخری قعده په اولنی رکعت کښې نه ده مشروع شوې .بهر حال که مصنف رحمه الله د فرائض د لفظ په ځائې ،،ارکان،، ذکر کړې وې.نودا به تحریمه

وغیره ته شامل نه وو.نوځکه ئې داسې لفظ ذکر کړلو.کوم چه ټولو ته عام دې.

تعریف الفرض والرکن> فرض هغه دې.چه د هغې کول په دلیل قطعی سره لازم وی.قطع نظر ددې نه چه هغه رکن وی یا شرط.او رکن هغه دې.کوم چه د مانځه په ماهیت کښې داخلی جزء وی.(بحرالرائق) اوکله هغې ته هم فرض وئیلی شی.کوم چه نه رکن وی اونه شرط.

الإعتراض علی إیراد ,,ستة،،> دلته د قیاس تقاضا دا وه.چه امام قدوری رحمه الله [فرائض الصلاة ست] فرمائیلی وې.ځکه چه د دریو نه واخله تر نهه پورې د اعدادو د استعمال قاعده دا ده.که معدود مذکر وی.نوعدد به مونث وی.اوکه معدود مونث وی.نوعدد به مذکر وی.او په دې ځائې کښې (معدود) ،،فریضة،، جمع ده.او فریضة،، مونث دې.نوځکه عدد مذکر راوړل پکار وو.

الجواب عنه> جواب: دلته فرائض د فروض په تاویل کښې اخستلے شوی دی.او فروض جمع ده د فرض،او فرض مذکر دې.نو ،،ستة،، مونث راوړل د قاعدې مطابق شو.صاحب د عنایه رحمه الله لیکلی دی.چه په بعضې نسخو کښې [فرائض الصلاة ست] دې.نو ددې نسخے په اعتبار سره هډو څه اشکال نه واقع کیږی.

(التحریمة)تحریمه (فرض ده)

تشریح> تعریف التحریمة> د مانځه په فرائضو کښې اول تحریمه ده.او په لغت کښې تحریمه وائی.[جعل الشئ محرماً] یعنی یو څیز حرام ګرځول.دلته تحریمه د تکبیر اولی نوم دې.ځکه چه تکبیر اولی هغه ټول څیزونه حراموی.کوم چه ددې نه وړاندې مباح وی.ددې په خلاف د نورو تکبیرونو دا حیثیت نه دې.

حیثیة إطلاق التحریمة علی التکبیر> علامه ابن الهمام رحمه الله فرمائیلی دی.چه تکبیر ته تحریمه وئیل مجازی دی.ځکه چه تحریم بذات خود تکبیر نه دې.بلکه په دې سره تحریم ثابتیږی.او دے ته په دې حدیث کښې اشاره ده.[مفتاح الصلاة الطهور وتحریمها التکبیر وتحلیلها التسلیم] (ابوداود ،ترمذی) د مانځه کنجی خو طهور دې.او تحریم ئې تکبیر دې.او ددې تحلیل تسلیم دې.

دلائل فرضیة التحریمة> د تکبیر تحریمے په فرضیت باندې څلور دلائل دی. ① اول په تکبیر تحریمه باندې د نبی صلی الله علیه وسلم همیشوالې کول.او بغیر د ترك نه په یو څیز باندې د نبی صلی الله علیه وسلم همیشوالې کول د وجوب علامت دې.

② دویمه اجماع ده.ځکه چه د نبی صلی الله علیه وسلم د زمانې نه واخله ترننه ورځې پورې د تکبیر اولی په وجوب کښې د چا اختلاف منقول نه دې.

③ دریم دلیل دالله تعالی قول دې.﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾ په آیت کښې ،،الله اکبر،، وئیل مراد دی.ځکه چه روایت دې.[أنه لما نزل قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الله اکبر فکبرت خدیجة وفرحت وأیقنت أنه الوحی] یعنی کله چه دا آیت نازل شو.نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ،،الله اکبر،، اووئیل.حضرت خدیجے رضی الله عنها هم تکبیر اووئیل.اوخوشحاله شوه.او یقین ئې اوکړلو.چه دا وحی ده.

طریقة الإستدلال> ①وجه د استدلال دا ده.چه د ټولو مفسرینو په دې اجماع ده.چه ددې نه مراد تکبیر تحریمه ده. ②دغه شان ،،کبر،، د امر صیغه ده.او د امر موجب وجوب وی.او دا خبره په اجماع سره

ثابته ده.چه د مانځه نه بهرهيڅ تکبير واجب نه دي.نو متعينه شوه.چه ددې نه د مانځه تکبير مراد دي.

(وَالْقِيَامُ)او قيام (فرض دي)

تشريح> فرضية القيام > دويم فرض قيام دي.يعنی فرض مونځ او وتر او کوم چه په فرضو پورې ملحق وی. مثلاً دنذر مونځ ،په ولاړه کول فرض دی.خو په دې شرط چه په قيام او سجده کولو باندې قادر وی.او که قيام کولې شي.خو سجده نشي کولې.نو دده دپاره په ناسته په اشاره مونځ کول بهتر دي.

دليل فرضيته> د قيام د فرضيت دليل د الله تعالی ارشاد دي.﴿وَقُومُوا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ﴾ يعنی اودريږئ الله تعالی ته په حالت د خشوع يا خاموشئ کښې.

معني القنوت> ① د قنوت معنی اطاعت کول دی.② د بعضو په نيز خشوع

③ د بعضو په نيز سکوت او خاموشی.

④ د عبدالله بن عمر ﷺ نه روايت دي.چه د قنوت معنی په مانځه کښې طول قيام دي.

وجه الإستدلال>په آيت به استدلال داسې وی.چه الله تعالی د قيام حکم کړې دي.او امرد وجوب دپاره وی.اوقيام د مانځه نه بهر په اتفاق سره واجب نه دي.نو ثابته شوه.چه قيام په مانځه کښې واجب (فرض) دي.

(وَالْقِرَاءَةُ)او قرات (فرض دي)

تشريح> فرضية القراءة ودليلها>دريم فرض قرات دي.دليل د الله تعالی قول دي.﴿ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ﴾ وجه د استدلال دا ده.چه د قرات حکم د امر په صيغه دي.او امر دوجوب دپاره راځی.اود مانځه نه بهر په اجماع سره قرات فرض نه دي.نو په مانځه کښې د قرات فرضيت ثابت شو.باقی پاتې شوه دا خبره چه څومره مقدار ونيل فرض دی.نو ددې په باره کښې به په ،،فصل القراة،، کښې په تفصيل سره کلام راشي.

(وَالرُّكُوعُ وَالسُّجُوْدُ) او رکوع او سجود(فرض ده)

تشريح> فرضية الركوع والسجود> څلورم فرض رکوع او پنځم سجده ده.دليل د الله تعالی قول دي.﴿ وَارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا ﴾ يعنی رکوع او سجده کوئ.

وجه الإستدلال>وجه داستدلال هم هغه ده.کومه چه وړاندې تيره شوه.چه د رکوع او سجود حکم د امر په صيغه دي.او امر موجب د وجوب وی.د بعضې حضراتو وينا ده.چه د اسلام په اولنئ زمانه کښې به خلقو سجده کوله.خو رکوع به ئې نه کوله.او چا به رکوع کوله.خو سجده به ئې نه کوله.نو دوی ته حکم اوشو.چه د رکوع او سجدې سره مونځ کوئ.

فرضية السجدة الثانية > ①صاحب د ،،شرح نقايه،، ليکلی دی.ظاهره دا ده.چه دويمه سجده واجب يعنی فرض عملی دي.ځکه چه ددې ثبوت په دليل قطعی سره نه دي.

②اود بعضې فقهاؤ قول دي.چه د دويمې سجدې فرضيت په اجماع سره ثابت دي.تردې که په دې

دوارو کښي ئې يوه پريخودله.نو مونځ به فاسد شي.بيا فرمائی.چه په هررکعت کښي تکرار د سجود امر تعبدی دې.يعنی خلاف قياس دې.

③اوبعضو وئيلی دی.چه اوله سجده د (مالك) د حکم د تعميل دپاره ده.او دويمه سجده د ابليس د رسوا کولو او ذليل کولو دپاره ده.ځکه چه هغه د الله تعالی د حکم باوجود د تکبر په وجه سجده نه وه کړې.

④ او د بعضو قول دې.چه اوله سجده للامر او دويمه سجده للشکر ده.

⑤ بعضو وئيلی دی.چه اوله سجده د ايمان د وجې ده.اودويمه سجده د بقائي ايمان دپاره ده.

⑥او بعضو وئيلی دی.چه په اوله سجده د انسانی پيدائش ابتداء طرف ته اشاره ده.او په دويمه کښي د ده حالت بقاء طرف ته اشاره ده.لکه چه د الله تعالی قول ﴿مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى﴾ کښي دے طرف ته اشاره شوې ده.

(وَالْقَعْدَةُ الْاَخِيْرَةُ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ). اوآخری قعده د تشهد په مقدار (فرض ده)

تشريح ﴿ **فرضية القعدة الأخيرة بقدر التشهد** ﴾ شپږم فرض د تشهد په اندازه آخری قعده ده.يعنی دومره اندازه باندې کيناستل فرض دی.چه په هغې کښي د [التحيات نه عبده ورسوله] پورې وئيل ممکن وی

دلائلها ﴾دليل دا دې.چه امام احمد امام ابوداود او امام طحاوی رحمهم الله دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت کوی.چه [أن النبی ﷺ أخذ بيده وعلمه التشهد] بيا د حديث په آخر کښي دی.[إذا قلت هذا أو قضيت هذا فقد قضيت صلاتك إن شئت أن تقوم فقم وإن شئت أن تقعد فاقعد] صاحب د هدايه رحمه الله هم ددې په معنی دا الفاظ نقل کوی.[إذا قلت هذا أو فعلت هذا فقد تمت صلاتك] (۱) يعنی نبی ﷺ ابن مسعود رضی الله عنه د لاس نه اونيولو.او د تشهد تعليم ئې ورته ورکړلو.او په آخر کښي ئې ورته اوفرمائيل.کله چه تا دا اووئيل يا دے دا اوکړل.نو ستا مونځ پوره شو.که اودريدل غواړې.نو اودريږه.او که کيناستل غواړې.نو کينه.

وجه الإستدلال ﴾ په دې حديث به استدلال داسے وی.چه د الله تعالی خوږ پيغمبر ﷺ د مونځ پوره کيدل د [القعود مع قراءت التشهد او القعود بدون قراءت التشهد] پورې معلق کړې دې.ځکه چه د [إذا قلت هذا] معنی دا ده.که تا په قعده کښي تشهد اووئيل.ځکه چه د تشهد لوستل د قعود نه بغير معتبر نه دې.او د [أو قضيت هذا] يا [أو فعلت هذا] معنی ده.چه يا تا نفس قعود اوکړلو.يعنی کيناستل موجود شو.خو تشهد موجود نشو.نو ستا مونځ پوره شو.حاصل دا دې.چه دمونځ پوره کيدل په قعود پورې موقوف دې.که څه ئې وئيلی وی اوکه نه،نو معلومه شوه.چه د تشهد په اندازه باندې کيناستل فرض دی.

②دغه شان عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنهما د نبی ﷺ نه روايت کوی. [أنه قال إذا رفع رأسه من السجدة الأخيرة فقعد قدر التشهد ثم أحدث فقد تمت صلاته] نبی ﷺ فرمائيلی دی.چه کله دے د آخری قعدے نه خپل سر اوچت کړی.او د تشهد په اندازه باندې کينی.او بيا دے بے اودسه شی.نو دده مونځ پوره شو.

---

(۱) أخرجه أبوداود في الصلاة باب ۱۷۸)۔

وجه الإستدلال ﴾ په دې حدیث کښې هم نبی ﷺ دمونځ پوره کیدل د تشهد په اندازه باندې په کیناستلو پورې معلق کړې دې.نو ددې نه هم ثابته شوه.چه د تشهد په اندازه کیناستل فرض دی.(حاشیه شرح نقایه از شیخ الادب)

د مونځ واجبات

وَمَا زَادَ عَلٰى ذٰلِكَ او هغه افعال چه زیاتی دی په دې **فَهُوَ سُنَّةٌ** نو هغه سنت دی

تشریح ﴾ **الإعتراض علي القدوري** رحمه الله ﴾ شیخ قدوری رحمه الله فرمائی.چه د ذکرشوو څیزونو یعنی د فرائضو نه سوا ټول سنت دی.صاحب د هدایة رحمه الله فرمائی.چه قدوری رحمه الله د سنت لفظ استعمال کړې دې.حالانکه په دې افعالو کښې واجبات هم شته.نو دلته د ،،سنت،، د لفظ اطلاق صحیح نه دې.البته دا وئیلی شی چه چونکه د دې واجباتو ثبوت په سنت سره شوې دې د دې وجې نې ورته سنت وئیلی دی.

د مونځ طریقه اود تکبیر تحریمه حکم

وَإِذَا دَخَلَ فِي صَلَاتِهٖ كَبَّرَ فرمائی اوکله چه مونځ شروع کړی.نو تکبیر به وائی

حل اللغة ﴾ ① دخل ، دخولا (ف) داخلیدل ② تلونا ، تلا تلاوة (ن) لوستل تلاوت کول ③ یؤدی، ادی تادیةً: ادا کول ④ تطوع: زیاتی، نفل ⑤ ساتر: ټول ⑥ ایة : علامت، نښه ⑦ فصلی، صلی صلاةً، دعاکول،مونځ کول ⑧ مغیرة: بدلون کول مخالفت کول غیر کیدل⑨ مراعاة: رعایت ⑩یتصل، اتصل اتصالاً: ملاویدل]

تشریح ﴾ **التكبير في حالة القيام والصور الثلاث لها** ﴾ مسئله :کله چه د مونځ شروع کولو اراده اوکړی.که فرض مونځ وی،او که نفل،نو تکبیر تحریمه به په ولاړه وائی. ①نو که یو کس په ناسته تکبیر تحریمه اووئیله.او بیا اودریدلو.نو هغه به د مونځ شروع کونکې نه وی.

②او که یو سړې په مونځ کښې دشرکت په اراده باندې راشی.او امام په رکوع کښې وو.نو هغه خپله شاه ښکته کړله.او تکبیر نې اووئیل.نو په دې صورت کښې که دا سړې د تکبیرد وئیلو په وخت کښې قیام ته نزدے وو.نو جائز ده.ګنی نه ده.

③اوکه یو کس امام په رکوع کښې رالاندې کړلو.بیا هغه د رکوع د تکبیر په اراده په ولاړه تکبیر اووئیل.نو هم جائز دې.ځکه چه دده اراده لغو ده.او په حالت د قیام کښې به دده تکبیر د تحریمے دپاره ګرځولې شی.

دلیل فرضية التكبير ﴾دلیل هغه آیت دې.کوم چه وړاندې تیر شو.یعنی ﴿ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴾ او دویم دلیل د نبی ﷺ قول دې.[تحریمها التکبیر] دې.

لاسونه د تکبیر سره اوچتول

وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ مَعَ التَّكْبِيرِ او (سړې) به خپل دواړه لاسونه د تکبیر سره پورته کوی.

حل اللغة ﴾① یرفع، رفع رفعاً (ف): اوچتول ②ید جمع ایدی: لاس

تشریح ﴾ **حكم رفع اليدين في الإبتداء** ﴾ فرمائی.چه سړې دے خپل دواړه لاسونه د تکبیر سره اوچتوی.او د مونځ په شروع کښې د لاسونو اوچتول سنت دی.

وقت الرفع ← ① شيخ الاسلام او قاضي خان رحمه الله فرمائيلي دي.چه لاسونه اوچتول او تکبير وئيل دواړه دے يو ځاي وي. د قدوري رحمه الله عبارت هم دے طرف ته اشاره کونکې دې. ځکه چه علامه قدوري رحمه الله فرمائي. [ويرفع يديه مع التكبير] او لفظ د ،،مع،، په مقارنت دلالت کوي.او هم دا د امام ابويوسف رحمه الله قول دې.او امام طحاوي رحمه الله هم په دې باندې عمل کړې دې.

دليله ← [عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ وَمَوْلًى لَهُمْ أَنَّهُمَا حَدَّثَاهُ عَنْ أَبِيهِ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ يَدَيْهِ حِينَ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ وَصَفَ هَمَّامٌ حِيَالَ أُذُنَيْهِ] (۱)

د لاسونو پورته کولو اندازه

حَتّٰى يُحَاذِيَ بِإِبْهَامَيْهِ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ تردے چه خپلے دواړه ګوتے د خپلو دواړو غوږونو پوسکو سره برابر کړي.

حل اللغة ← ①يحاذي، حاذى محاذاة: برابريدل، مقابل کيدل ②ابهام: غټه ګوته ③شحمة: نرمي ④اذان جمع اذان، أذن: غوږ

تشريح ← **حد رفع اليدين عند التحريمة** ← مسئله دا ده.چه د تکبير تحريمے په وخت کښې به خپل دواړه لاسونه په دومره اندازه پورته کوي.چه دواړه ګوتے د دواړو غوږونو د پوسکو سره برابر شي.

دلائله ← ①دليل هغه حديث دې.کوم چه وائل بن حجر ،براء بن عازب او حضرت انس رضي الله عنه روايت کړې دې. [أن النبي ﷺ كان إذا كبر رفع يديه حذاء أذنيه] يعني نبي ﷺ چه به کله تکبير وئيل.نو خپل دواړه لاسونه به ئې غوږونو ته مخامخ کول.(حاکم)

② دارقطني د حضرت انس رضي الله عنه نه دا حديث په دې الفاظو سره نقل کړې دې. [قال كان رسول الله ﷺ إذا افتتح الصلاة كبر ثم رفع يديه حتى يحاذي إبهاميه أذنيه] کله چه به رسول الله ﷺ مونځ شروع کولو.نو تکبير به ئې وئيل.بيا به ئې خپل دواړه لاسونه اوچتول.تردے چه خپلے دواړه ګوتے به ئې دواړو غوږونو ته مخامخ کړې.ددې دواړو احاديثو نه ثابته شوه.چه د تکبير تحريمے په وخت کښې به نبي ﷺ دواړه لاسونه دومره اوچتول.چه غوږونو ته به برابر شول.

③عقلي دليل دا دې.چه د تکبير تحريمے په وخت کښې لاس اوچتول کونړ سړی ته په مانځه کښې د شروع خبر ورکولو دپاره دې.او دا خبر هم په دې طريقے سره ورکولې شي. کومه چه مونږ بيان کړه.يعني غوږونو پورې لاسونه اوچتولو کښې ،ځکه چه کله امام ترغوږونو پورې لاسونه اوچت کړي.نو کونړ سړې به پوهه شي.چه تکبير اووئيلے شو.نو هغه به هم تکبيراووائي.اومونځ به شروع کړي.

الإعتراض عليه ← که دا اعتراض اوکړې شي.چه د تکبير په وخت کښې لاسونه اوچتول کونړ سړی ته دخبر ورکولو دپاره وي.نو منفرد به غوږونو پورې لاسونه نه پورته کول ځکه چه د هغه په حق کښې دا علت نشته.

الجواب ← نو ددې جواب دا دې.چه اصل خو مونځ په جماعت سره ادا کول دی.د الله تعالى ارشاد دې. ﴿

---

(۲) اخرجه مسلم في الصلاة باب وضع يده اليمنى على اليسرى إلخ رقم ۶۰۸)

وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴾ نو منفرداً مونځ ادا کول نادر وی.او د نادرڅيز اعتبار نه وی.ځکه چه قاعده ده.[النادر كالمعدوم]

الإعتراض الثاني﴿خو بيا به اشكال كيږی.چه د مقتدی په حق كښې د غوږونو پورې لاس پورته كولو ته څه ضرورت دې.

الجواب عنه﴿ددې جواب ممكن دې.چه كونړ سړې په آخری صف كښې وی.او هغه امام نه وينى.نوپه داسې صورت كښې به هغه دخپل ځان نه وړاندې مقتديان وينى او مونځ به شروع كوی.نوځكه د مقتديانو دپاره هم تر غوږونو پورې لاسونه پورته كول ضروری دی.

الروايتان في رفع المرأة اليدين﴿ ① د تكبير تحريمے په وخت به ښځه خپلو اوږو پورې لاسونه پورته كوی.صحيح قول هم دا دې.

دلائله ﴿ ①عن وائل بن حجر قال جئت النبي صلى الله عليه وسلم فقال هذا وائل بن حجر جاء كم لم يجئكم رغبة ولا رهبة جاء حبا لله ولرسوله وبسط له رداءه وأجلسه إلى جنبه وضمه إليه وأصعد به المنبر فخطب الناس فقال لأصحابه ارفقوا به فإنه حديث عهد بالملك فقلت إن أهلي قد غلبوني على الذي لي قال أنا أعطيكه وأعطيك ضعفه فقال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم يا وائل بن حجر إذا صليت فاجعل يديك حذاء أذنيك والمرأة تجعل يديها حذاء ثدييها (1)

تنبيه﴿ په دې اثر كښې اګرچه ذكر د صدر دې. خومراد ترے منكبين دی.چه لاسونه صدر ته اوچت شی.نود اوږو برابر وی.

② عقلی دليل دا دې چه اوږو پورې لاسونو پورته كولو كښې د ښځې دپاره زياته پرده ده.نو ځكه د ښځې دپاره د اوږو پورې لاسونه پورته كول مناسب دی.

دالله اكبر په ځائې د نورواسماء حسنى وئيلو حكم

فَإِنْ قَالَ بَدَلًا مِّنَ التَّكْبِيْرِ يعنى كه ده د تكبير په بدله كښې اوونيل اَللّٰهُ اَجَلُّ اَوْاَعْظَمُ اَوِالرَّحْمٰنُ اَكْبَرُ [الله اكبر الله أجل،يا ،الله أعظم،يا الرحمن أكبر] اَجْزَأَهٗ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رحمهما الله نو د طرفينو رحمهما الله په نيز كافى دې.

حل اللغة ﴿①اعظم: ډير بزرګ ②اكبر: ډير لوئ ③

تشريح﴿ **ما يجوز به الشروع عند الطرفين** ﴿ په دې عبارت كښې د افتتاح دالفاظو بيان دې. ①د طرفينو رحمهما الله په نيز په هر هغه لفظ باندې مونځ كښې شروع جائز ده.كوم چه د الله تعالى په تعظيم باندې دلالت كوی.كه [الله أكبر] وی يا [الله الأكبر] يا [الله كبير] يا [الله الكبير] يا [الله أجل] يا [الله أعظم] يا [الرحمن أكبر] يا [لا إله إلا الله] يا [الحمد لله] يا [سبحان الله] يا د الله په اسماؤ كښې په بل يونوم باندې شروع اوكړی.نو ټول جائز دی.

(١) اخرجه الطبراني في المعجم الكبير رقم ٢٨ (١٩/٢٢) ابده العثماني بحديث في الحاشية تحت هذا الحديث من مجمع الزوائد إعلاء السنن في الصلاة باب إفتراض التحريمة وسننها رقم ٦٥٦

دليلهما﴿د طرفينو ﷭ دليل دا دې.چه په لغت کښې تکبير د تعظيم په معنی کښې دې. دالله تعالی قول دې ﴿ وَ رَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴾ يعنی فعظم او﴿ فَلَمَّا رَأَيْنَهٗٓ أَكْبَرْنَهٗ ﴾ اودا تعظيم ددې ټولو الفاظو نه حاصليږي.کوم چه موږ ذکر کړل.نوځکه د مونځ افتتاح په هر هغه لفظ باندې کيدے شي.کوم چه د الله تعالی په تعظيم باندې دلالت کوي.

> **وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ** ﷫ او امام ابويوسف ﷫ فرمائيلي دی **لَا يَجُوْزُ إِلَّا أَنْ يَّقُوْلَ اللهُ أَكْبَرُ أَوِ اللهُ الْأَكْبَرُ أَوِ اللهُ الْكَبِيْرُ** چه جائزنه دی مګردا چه اووائی الله اکبر.يا الله الاکبر يا الله الکبير

تشريح﴿ **مذهب ابي يوسف** ﷫ ﴾ امام ابويوسف ﷫ فرمائی.که په ښه شان په تکبير ونيلو باندې قادر نه وی. نوصرف درې الفاظ [الله اکبر يا،الله الاکبر،يا الله الکبير] کښې په يو لفظ باندې په مانځه کښې شروع کول جائز دی.ددې نه علاوه په بل هيڅ قسم سره جائز نه ده.

دليل أبي يوسف ﷫ ﴾دامام ابويوسف ﷫ دليل دا دې.چه دالله تعالی په صفاتو کښې د ،،افعل،، په وزن اسم تفضيل او ،،فعيل په معنی د فاعل ټول برابر دی.ځکه چه دالله تعالی په صفاتو کښې زيادت مراد نه دےځکه چه په اصل لوئي کښې دالله تعالی سره څوک برابر نه دې.تردےچه د ،،افعل،، صيغه د زيادت دپاره ګرځولےشي.لکه څنګه چه د بندګانو په اوصافو کښې وی.نو ،،افعل او ،،فعيل،، دواړه دالله تعالی په صفاتو کښې برابر دی.ددې په خلاف که دغه کس په ښه شان تکبير نشی ونيلې.نو څنګه چه دده نه کيدےشي.د تعظيم معنی دے ادا کړی.ځکه چه دا کس صرف په معنی باندې قادر دې.په الفاظو تکبير باندې قادر نه دې.

په قيام کښې دلاس کيخودو طريقه اومحل

> **وَيَعْتَمِدُ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى** او تکيه کوی به خپل ښے لاس په ګس لاس باندې **وَيَضَعُهُمَا تَحْتَ السُّرَّةِ** اوږدی به دا دواړه د نامه نه لاندې.

حل اللغة﴿① يعتمد ، اعتمد اعتماداً: يقين او باور کول ② يمنی: ښې ③ يسری: ګس ④ سرة: نوم ⑤ وضع: ساتل

تشريح﴿ دلته يوه مسئله دا ده چه په مانځه کښې ښے لاس په ګس باندې کيخودل مسنون دی.دويمه مسئله دا ده چه لاسونه د نامه نه لاندې کيخودل سنت دی.

دلائل الأحناف ﷭ ﴾ ① حضرت علی ﷜ فرمائی.[من السنة أن يضع المصلی يمينه علی شماله تحت السرة في الصلاة](١) حضرت علی ﷜ فرمائی چه په مانځه کښې ښے لاس په ګس باندې کيخودل مسنون دی.

②د احنافو دويم عقلی دليل دا دې.چه د نامه نه لاندې لاس تړلو کښې تعظيم دې.او په مانځه کښې هم تعظيم مقصود دې.نو ځکه د نامه نه لاندې لاس کيخودل افضل دی.

③ صاحب د کفايه ليکلی دی.دنامه نه لاندې لاس تړولو کښې د اهل کتابو سره د مشابهت نه لرے والے دې.اوستر عورت ته نزديکت دې. ددې وجې هم د نامه نه لاندې لاس تړل غوره دی.

---

(١) من حديث علی ﷜ أخرجه ابوداود في الصلاة باب ١١٨ رقم ٧٥٦)

په ثناء کښې ماثوره دعاء

ثُمَّ يَقُوْلُ : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ بیا دے [سبحانك اللهم وبحمدك] تر آخره پورې اووائی.

حل اللغة ﴿ ① یقول، قال قولاً (ن): ونیل ② یضم، ضم ضماً (ن) جمع کول یوځای کول

تشریح ﴿ کلمات الثناء ﴿ امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه مونځ ګذاربه د لاس ترلو نه پس ثناء وائی.او ثناء دا ده [سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا إله غيرك] او په بعضوغیر مشهورو روایاتو کښې [وتعالى جدك وجل ثناؤك ولا إله غيرك] دی.خوچونکه [جل ثناءك] په مشهورو روایاتو کښې مذکور نه دی.نو ځکه به دا په فرائضو کښې نه وائی.

دلیله ﴿ د طرفینو رحمهما الله دلیل د حضرت انس رضی الله عنه روایت دې.چه [أن النبي ﷺ كان إذا افتتح الصلاة- كبر وقرأ سبحانك اللهم وبحمدك إلى آخره]

د تعوذ احکام

وَيَسْتَعِيْذُ بِاللّٰهِ او پناه به غواړی په الله سره مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ د شیطان مردود نه .

حل اللغة ﴿ ① یستعیذ ، استعاذ استعاذةً: پناه غوښتل ② رجیم: مردود ، شړې شوې

تشریح ﴿ زمونږ په نیز د مونځ په شروع کښې تعوذ مسنون دی.(فتح القدير)

دلیله ﴿ دلیل دَ الله تعالی قول دی. ﴿فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ﴾ په آیت کښې د ،،استعذ،، صیغه د امر اګرچه دا تقاضا کوی.چه تعوذ واجب دې.لکه چه عطاء او ثوری رحمهما الله فرمائی.خو چونکه اسلافو ددې په سنتیت باندې اجماع کړې ده.نوځکه زمونږ عالمان رحمهم الله د تعوذ د مسنونیت قائل دی.

الروايات الثلاثة في صيغة التعوذ ﴿ ① د تعوذ په الفاظو کښې غوره دا دی.چه [أستعيذ بالله من الشيطان الرجيم] اووائی.چه دالله تعالی د قول ﴿فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ﴾ سره موافق شی.

② خو په زیاتو اخبارو او آثارو کښې [أعوذ بالله من الشيطان الرجيم] راغلی دی. ددې وجې صاحب د هدایه رحمه الله اووئیلې.چه ،،استعیذ،، ته نزدې [أعوذ بالله] هم ده.خو مختار مذهب هم دا دې.او هم په دې باندې دَ فتوی ورکولې شی.③ او بعضې حضرات وائی.چه نبی ﷺ [أعوذ بالله العظيم السميع العليم من الشيطان الرجيم] وئیلے ده.نو دا دے اختیار کړې شی.

تسمیه

وَيَقْرَأُ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ : او بسم الله الرحمن الرحیم دے وائی.

تشریح ﴿ حكم التسمية قبل الفاتحة ﴿ د سورۀ فاتحې نه وړاندې به بسم الله الرحمن الرحیم وائی د دې وئیل سنت دی

دلیله ﴿ دلیل دا حدیث دې عن ابن عباس رضي الله عنهما قال كان النبي ﷺ يفتتح صلاته ببسم الله الرحمن

الرحیم(۱)

په تعوذ تسمیه او آمین کښې دجهر او اخفاء حکم

(وَيُسِرُّبِهِمَا)او بسم الله او تعوذ به په پټه وائی.

تشریح ﴿ **إخفاء التعوذ والتسمية** ﴾ ①صاحب د قدوری رَحِمَهُ اللهُ فرمانی.چه په تعوذ اوتسیمه کښې به پټوالے کوی.یعنی په مانځه کښې به دا په پټه وائی.

دلائله ﴿ ①دلیل دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول دې.چه څلور څیزونه دا سې دی.کوم چه امام پټ وائی.هغه څلور څیزونه دا دی. تعوذ،تسمیه ،تحمید (ربنالك الحمد)او آمین، (۲)صاحب د شرح نقایه د تحمید په ځانې ثناء ذکر کړې ده.څکه چه امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په آثار کښې روایت کړې دې.[عن أبي حنيفة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن حماد عن ابراهيم النخعي أنه قال أربع تخفيهن الإمام التعوذ وبسم الله الرحمن الرحيم، وسبحانك اللهم وبحمدك وآمين] (شرح نقايه)

② دحضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول دې.ارشاد دې.[صليت خلف رسول الله ﷺ وخلف أبي بكر وعمر وعثمان فلم أسمع أحدا منهم يقرأ بسم الله الرحمن الرحيم] او د مسلم په یو روایت کښې دی.[فلم أسمع أحدا منهم يجهرون ببسم الله الرحمن الرحيم] حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمانی.چه ما په رسول الله ﷺ،ابوبکر،عمرو او عثمان ﷺ پسې مونځ کولو،ما په دوی کښې د یو نه هم په بسم الله باندې جهر نه دے اوریدلې.

د سورة فاتحه او ضم سورت حکم

ثُمَّ يَقْرَأُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ بیا دے سورة فاتحه اووائی. وَسُورَةً أَوْ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ أَيِّ سُورَةٍ شَاءَ او د دې سره یو سورة یا درې آیتونه چه کوم سورة نه ئې خوښه وی.

حل اللغة ﴿ ① يقرا، قرا قراءة: لوستل

تشریح ﴿ **حكم الفاتحة وضم السورة** ﴾ مطلقاً د قران قرات فرض دې.که یو آیت ئې اوونیل.نو رکن قرات ادا شو.باقی د سورة فاتحه لوستل او ددې سره د سورت ملاوول دا دواړه په واجباتو کښې دی.

دليله ﴿ دلیل د الله تعالی ارشاد دے ﴿فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ﴾ دې.ددې آیت نه داسې استدلال کیږی.چه ﴿مِنَ الْقُرْاٰنِ﴾ مطلق دې.نود [المطلق يجرى على إطلاقه] قاعده ده.چه په کوم ادنی مقدار باندې قرآن صادق راځی. د هغې لوستل به فرض وی.څکه چه هم دا اندازه مامور به ده.اوچونکه د قرآن نه بهر د قرآن قرات فرض نه دې.نو څکه په مانځه کښې دننه به ددې فرضیت متعین وی.

د امام او مقتدی دپاره د آمین وئیلو حکم

وَإِذَا قَالَ الْإِمَامُ وَلَا الضَّالِّيْنَ او کله چه امام [وَلَا الضَّالِّيْنَ] اووائی. قَالَ آمِيْنَ او په خپله به امام آمین وائی. وَيَقُوْلُهَا الْمُؤْتَمُّ او مقتدی به هم وائی.

---

(۱) أخرجه الترمذی فی الصلاة باب ٦٧ رقم ٢٤٥)۔

(۲) غريبه الزيلعي ثم قال ويعناه عنه ﷺ كان يخفي بسم الله الرحمن الرحيم والإستعاذة وربنا لك الحمد أخرجه ابن ابي شيبة (نصب:١١٠٤١

حل اللغة ﴿۱﴾قال قولاً (ن): وینا کول ﴿۲﴾ فامنوا، امن تامینا: آمین ونیل]

تشریح ﴿الآمین من یقولها؟﴾ ﴿۱﴾ مسئله دا ده.چه د سورة فاتحې په ختمیدو باندې چه کله امام [وَلَا الضَّآلِّيْنَ] اووائی.نو امام او مقتدی دواړو لره آمین ونیل پکار دی.

دلیله ﴿ دلیل دا حدیث دې.[إذا أمن الإمام فأمنوا فإنه من وافق تأمینه تأمین الملائکة غفرله ما تقدم من ذنبه] (۱)کله چه امام آمین اووائی.نوتاسو هم آمین وائې.ځکه چه د چا آمین ونیل برابر شی د فرشتو د آمین ونیلو سره نو د هغه تیر شوی ټول ګناهونه معاف کولې شی.

په آمین کښې دجهر او اخفاء حکم

وَيُخْفِيْهَا دا ټول خلق به آمین په پټه وائی.

تشریح ﴿التامین سراً﴾ د امام او مقتدی دواړو دپاره آمین په پټه ونیل مسنون دی.

دلائله ﴿ ﴿۱﴾دلیل د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه حدیث دې.کوم چه وړاندې تیر شو.یعنی [قال أربع یخفیهن الإمام التعوذ وبسم الله الرحمن الرحیم واللهم ربنا لك الحمد وآمین] او په یو روایت کښې دی.[خمس یخفیهن الإمام] او دذکر شوی څلورو څیزونو نه علاوه ئې [سبحانك اللهم وبحمدك] هم ذکر کړې دې.ددې روایت نه آمین په پټه ونیل ثابت شو.

﴿۲﴾آمین د استجب په معنی کښې دعا ده.او په دعا کښې اخفاء غوره ده.ځکه چه الله تعالی فرمائی.﴿اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً﴾ د امام شافعی رحمه الله د طرف نه پیش شو.حدیث د وائیل بن حجر رضی الله عنه نه جواب دا دې.چه علقمه بن وائل د خپل پلار وائل نه روایت کړې دې.په هغې کښې [خفض به صوته] دی.نو د تعارض د وجې به د وائل رضی الله عنه دواړه روایاتونه ناقابل استدلال وی.او د ابن مسعود رضی الله عنه روایت به کوم چه زمونږ مستدل دې.قابل استدلال وی.

رکوع ته د تګ په وخت کښې تکبیر ونیل

ثُمَّ يُكَبِّرُ وَيَرْكَعُ او تکبیر به وائی او رکوع به کوی.

حل اللغة ﴿۱﴾یکبر، کبر تکبیراً: تکبیرونیل، بزرګی بیانول ﴿۲﴾یرکع، رکع رکوعاً(ف): ټیټیدل

تشریح ﴿الروایتان وقت التکبیر عند النهوض للرکوع ﴿۱﴾﴾مسئله دا ده.چه د قرات پوره کولو نه پس به بغیر د توقف نه تکبیر وائی.او رکوع به کوی.یعنی اول به اودریږی.او تکبیر به اووائی.بیا به رکوع اکری.د امام قدوری رحمه الله په نیز هم دا مذهب صحیح دې.

﴿۲﴾ په جامع صغیر کښې دی.چه رکوع ته په تګ کښې به تکبیر وائی.یعنی رکوع ته د ښکته کیدو په وخت کښې به تکبیر شروع کوی.او رکوع به پوره کوی.امام طحاوی رحمه الله فرمائی.چه هم دا صحیح ده.

(۱) من حدیث ابن هریرة رضی الله عنه أخرجه الأئمة الستة فی کتبهم منهم البخاری فی الأذان باب ۱۱۱)۔

دليله ﴿دليل دا دې.چه نبي ﷺ به تكبير ونيل.د هر ښكته كيدو او پورته كيدو په وخت كښې ابن مسعود رضي الله عنه ددې روايت داسې بيان كړې دې.[كان يكبر في كل خفض ورفع وقيام وقعود وابوبكر وعمر رضي الله عنهما] (۱) يعنى رسول الله ﷺ به تكبير ونيل په هر ښكته كيدو او پورته كيدو او اودريدو او كيناستو او ابوبكر او عمر رضي الله عنهما هم دے حديث نه هم ركوع ته د تګ په وخت كښې تكبير ونيل ثابت شو.

د ركوع كيفيت او تسبيح

وَيَعْتَمِدُ بِيَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ او خپل دواړه لاسونه به په ګيټو باندې تكيه كړي. وَيُفَرِّجُ أَصَابِعَهُ او به خپلو ګوتو كښې به ارتوالے ساتي.

حل اللغة ﴿①يعتمد، اعتمدا اعتمادا: باور كول يقين كول ②ركبة: زنګون

تشريح ﴿ **أخذالركبتين باليدين وتفريج الأصابع في الركوع** ﴾ په دې عبارت كښې د ركوع كولو كيفيت او د ركوع د تسبيح بيان دې.چونكه د ركوع مسنون ذريعه دا ده.چه مونځ ګذار په خپلو دواړو لاسونو خپلې دواړه كونډئ اونيسي.اود لاس ګوتې دے ارتې پريږدي.اودواړه پنډئ دے نيغې ساتي.

دليله ﴿ دليل دا دې.چه نبي ﷺ حضرت انس رضي الله عنه ته چا چه به خدمت كولو فرمائيلي وو.اے بچيه!كله چه ته ركوع كوې.نو دواړه لاسونو په كونډو باندې اږده.او خپلې ګوتې ارتې ساته.(۲)

محل ضم الأصابع وتفريجها في الصلاة ﴿صاحب دهدايه فرمائي.چه دركوع په حالت كښې ګوتې ارتې ساتل مندوب او مستحب دى.چه په ګوتو باندې كونډئ نيول ممكن شي.اود ركوع د حالت نه سوا ګوتې ارتې ساتل مندوب نه دى.او دسجدے په حالت كښې د لاس ګوتې ملاوول مستحب دى.يعنى دابه نه ملاوولې شي اونه به ارتولې شي.بلكه په وضع طبعي به پريخودے شي.

وَيَبْسُطُ ظَهْرَهُ او همواره به ساتي خپله شا_

تشريح ﴿ د ركوع په حالت كښې به شاه داسې همواره او برابر ساتلې شي.كه دده په شاه باندې د اوبو ډكه پياله كيخودې شي.نو پاتې كيدې شي.

دلائله ﴿ ① دليل دا دې.چه نبي ﷺ به كله ركوع كوله.نو خپله شا به نې همواره او برابر ساتله.
دحضرت عائشې رضي الله عنها روايت دې.چه [أنه كان يعتدل لو وضع على ظهره قدح ماء تستقر] يعنى نبي ﷺ به شا دومره همواره ساتله.كه د دوى په شاه باندې د اوبو ډكه پياله كيخودې شوې وه.نو هغه به پاتې وه.

② اود وابصه بن معبد په حديث كښې دى.چه [سوى ظهره حتى لو صب عليه الماء لاستقر] (۳) يعنى خپله شاه به نې همواره ساتله.تردے كه په دې اوبه اوبيولې شوې.نوهغه به ايساريدې.

وَلَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ او سربه نې نه اوچتولو. وَلَا يُنَكِّسُهُ اونه به نې ټيټولو.

---

(۱) من حديث عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اخرجه الترمذي في الصلاة باب ۷۴ والنسائي في التطبيق_

(۲) اخرجه الطبراني في معجمه الصغير والكبير(نصب:۱\۴۴۹)_

(۳) من حديث وابصة بن معبد رضي الله عنه اخرجه ابن ماجه في الإقامة باب ۲۵۸)_

تشریح> إستواء الرأس مع العجز في الركوع >امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه د رکوع په حالت کښې به سر نه اوچتوی.اونه ښکته کوی.یعنی د کوناټو سره به ئې برابروی.

دليله>دلیل دا دې.چه رسول الله ﷺ به کله رکوع کوله.نوخپل سر به ئې نه ښکته کولو اونه اوچتولو.(۳)

وَيَقُولُ فِي رُكُوعِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ ثَلَاثًا او درې خله دے په رکوع کښې [سبحان ربي العظيم] وائی. وَذَلِكَ أَدْنَاهُ او دا ادنی مقدار دې.

تشریح> تسبيحات الركوع>د رکوع د حالت تسبیح دا دی.چه درې خله به [سبحان ربي العظيم] وائی.او درې خله ویل دا کم نه کم مقدار دې.ګنی پنځه خله یا اووه خله یا ددې نه زیات ویل دی.

دليله>دلیل د نبی ﷺ قول دې.[إذا ركع أحدكم فليقل في ركوعه سبحان ربي العظيم ثلاثا](۴)یعنی کله چه په تاسو کښې څوک رکوع کوی.نوبه خپله رکوع کښې دے درې خله [سبحان ربي العظيم] وائی.او درې خله ویل د کامل جمعې کمه درجه ده.

په مانځه کښې د تحمید او تسمیع احکام

ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ بیا دے خپل سر اوچت کړی. وَيَقُولُ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ او اودے وائی. [سمع الله لمن حمده] وَيَقُولُ الْمُؤْتَمُّ: رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ او مقتدی دے [ربنالك الحمد] وائی.

حل اللغة >①یرفع،رفع رفعا(ف): اوچتول ②سمع، سمعا(س): اوریدل ③موتم: مقتدی

تشریح> تقدير عبارة التسميع> [سمع الله لمن حمده] معنی ده [قبل الله حمد من حمده] یعنی څوک چه د الله تعالی حمد وائی.الله تعالی دے دهغه حمد قبول کړی.حاصل دا چه تړوله د حمد قبولیت دعا ده.او د سماع لفظ د قبول په معنی کښې هم استعمالیږے شی.لکه حاکم چه د چا درخواست قبول کړی.نو ونیلی شی.[سمع الأمير كلام فلان] په [حمده] کښې ،،هاء،، دسکته دپاره ده.یا ،،هاء،، کنایه ده.دواړه قولونه شته.خو اول قول د ثقاتو نه منقول دې.

أظهر الرواية في التسميع والتحميد>حاصل د مسئلې دا دې.چه په اطمینان سره دے د رکوع نه پس خپل سر اوچت کړی.او وائې دې.چه [سمع الله لمن حمده] که امام وی.نو په اجماع سره دے دا وائی.او جهر دے کوی.او که مقتدی وی.نو [ربنالك الحمد] دے وائی.اظهر روایت هم دا دې.او [ربنا ولك الحمد] او [اللهم ربنالك الحمد] هم مروی دی.(عنایه)

د قومه نه تر سجدې پورې د احکامو بیان

فَإِذَا اسْتَوَى قَائِمًا کله چه دے اودریږی. (كَبَّرَ وَسَجَدَ)نو تکبیر دے اووائی.او سجده دے اوکړی

(۳) من حديث أبي حميد الساعدي رضي الله عنه أخرجه الترمذي في الصلاة باب ۱۱۰ـ

(۴) من حديث ابن مسعود رضي الله عنه أخرجه الترمذي في الصلاة باب ۷۹ رقم ۲۶۱ـ

حل اللغة ﴿ ①استوى، استواء: برابرکیدل ②سجد، سجودا(ن): ټیټیدل سجده کول

تشریح ﴿ **التکبیر عندالنهوض إلي السجدة** ﴾مسئله دا ده.چه مونځ کزارکله د رکوع نه نیغ اودریږی. نو تکبیر دے وائی.او سجدے ته دے لاړ شی.

دلیله ﴿ دلیل وړاندې تیر شوي دي.چه [أنه ﷺ كان يكبر عند كل خفض ورفع] او په سجده باندې په اول باب کښې دالله تعالی قول چه ﴿ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا﴾ باندې استدلال شوي دي.

دسجدې کیفیت

(وَاعْتَمَدَ بِيَدَيْهِ عَلَى الْأَرْضِ)اوخپل دواړه لاسونه به په زمکه اړدی وَوَضَعَ وَجْهَهُ بَيْنَ كَفَّيْهِاو خپل مخ به د دواړو تلو په مینځ کښې اړدی وَيَدَيْهِ حِذَاءَ أُذُنَيْهِ.او دواړه لاسونه ئې دواړو غوږونو ته مخامخ کیخودل

حل اللغة ﴿ ①یعتمد اعمتد اعتمادا: یقین کول، باور کول،

تشریح ﴿ **الاعتماد علي الارض ووضع الجبهة** ﴾ په دې عبارت کښې د سجدے د کیفیت بیان دې.فرمائی.چه د سجدے کیفیت دا دې.چه دواړه لاسونه به په زمکه باندې تکیه کرې.او مخ به د دواړو تلو په مینځ کښې او دواړه لاسونه غوږونو ته مخامخ کیږدی.

دلائلها ﴿دلیل د وائل بن حجر. حدیث دې. ①حضرت وائل رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د مونځ کیفیت بیانوی او فرمائی.[فسجد وادعم علی راحتيه ورفع عجيزته](١)یعنی نبی ﷺ سجده اوکړله.او دواړه تلی ئې په زمکه باندې کیخودل. او کوناتی ئې اوچت کړل.

②اوهم د وائل بن حجر رضی الله عنه نه مروی دی.[قال رمقت النبي ﷺ فلما سجد وضع يديه حذاء أذنيه] (٢) فرمائی.چه ما رسول الله ﷺ لیدلے وو.کله چه به ئې سجده کوله.نو خپل دواړه لاسونه به ئې دواړو غوږونو ته مخامخ کیخودل

په پوزه او تندي باندې د سجدې کولو حکم

وَسَجَدَاوسجده دے کوی.عَلَى أَنْفِهِ وَجَبْهَتِهِپه خپله پوزه او تندی باندې

حل اللغة ﴿ ①سجد ،سجودا(ن): ټیټیدل، سجده کول ②انف: پوزه ③جبهة: تندي

تشریح ﴿ **القاعدة في وضع الأعضاء ورفعها في السجود** ﴾صاحب د عنایه لیکلی دی.چه د سجدے کیفیت او د سجدے نه د اودریدو کیفیت په باره کښې دا ضابطه ده.چه کوم اندام د زمکے سره نزدے وی.د سجدے

---

(١) قال الزيلعي غريب من حديث وائل بن حجر رضي الله عنه ورواه ابويعلى الموصلي في مسنده من حديث البراء بن عازب رضي الله عنه فقال .....عن أبي اسحاق قال وصف لنا البراء بن عازب رضي الله عنه السجود فسجد فادعم على كفيه، ورفع عجيزته وقال هكذا كان يفعل رسول الله ﷺ (نصب:١\٤٥٩)۔

(٢) قال الزيلعي لم اجده إلا مفرقا فروى مسلم في صحيحه (في الصلاة رقم ٥٤) صدره الأول من حديث وائل أن النبي ﷺ سجد فوضع وجهه بين كفيه مختصرورروى اسحاق بن راهويه في مسنده بالفه فقال ...عن وائل بن حجر رضي الله عنه قال رمقت النبي ﷺ فلما سجد وضع يديه حذاء أذنيه (نصب:١\٤٥٩)۔

په وخت کښې به د ټولو نه مخکښې هغه په زمکه اږدي.او کوم اندام چه آسمان ته نزدے وی.د ټولو نه وراندې به هغه اوچتوی.نو اوس به د سجدوکیفیت دا وی.چه اول به په زمکه دواړه ګونډې کیږدی.بیا دواړه لاسونه بیا مخ او بعضو وئیلی دی.چه د لاس کیخودلو نه پس به پوزه اږدی.بیا به تندے اږدی.اود پاسیدو په وخت کښې به ترتیب دا وی.چه اول به خپل مخ اوچت کړی.بیا دواړه لاسونه بیا دواړه کونډې.

دلیله دلیل دا دې چه نبی ﷺ همیشه دپاره هم داسې سجده کړې ده.(۱)

فَإِنِ اقْتَصَرَعَلَى أَحَدِهِمَا بیا که په دې دواړو کښې نې په یو باندې اکتفاء اوکړله جَازَعِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰه..نو د ابوحنیفه رحمه الله په نیز جائز ده.

تشریح جوازالاکتفاء علی الأنف عندأبي حنیفة اوکه په یو باندې اکتفاء اوکړی.نو ددې دوه صورتونه دی. یو صورت دا دې چه صرف په تندی باندې سجده اوکړی. په دې صورت کښې زمونږ د احنافو عالمان ﷺ د سجدے په جواز باندې متفق دی.(۱)دویم صورت دا دې چه صرف په پوزه باندې سجده اوکړی.نودا صورت د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز سره د کراهت نه جائز ده.

دلیله دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې.چه په قرآن کریم کښې مطلقاً د سجدے حکم ورکړې شوې دې.او سجده د بعضې مخ په کیخودو سره متحقق کیږی.ځکه چه د ټول مخ کیخودل ناممکن دی.ځکه چه پوزه او تندے داسې راپورته هدوکی دی.چه د ټول مخ په زمکه باندې د کیخودو نه مانع دی.بهرحال هرکله چه د ټول مخ په زمکه باندې کیخودل متعذر دی.نود بعضې مخ په زمکه باندې کیخودل مامور به شو.

خروج الخد والذقن من السجدة البته انګې او زنه په اجماع سره خارج ده.یعنی آیت د خپل اطلاق د وجے اګرچه دے ته هم شامل دې.خو په اجماع سره په آیت کښې دا مراد نه دی.ځکه چه د سجدے نه مراد تعظیم دې.اود انګی او زنې په زمکه کیخودو سره تعظیم مشروع نه دې.نو ځکه دا دواړه د سجدے د مفهوم نه خارج شو.

وجه الإستدلال اوس پوزه او تندے باقی پاتې شو.او دا دواړه د سجدے محل دې.نوځکه په دواړه باندې سجده جائز ده.لکه څنګه چه په تندی باندې اکتفاء کول جائز دی.نو دغه شان په پوزه باندې هم اکتفاء جائز ده.

عدم جوازالاکتفاء علی الأنف صاحبین رحمهما الله فرمائی.چه بغیر دعذر نه په پوزه اکتفاء کول جائزنه دی.البته که عذروی.نو شرعاً جائز ده.

دلیلهما د صاحبینو رحمهما الله دلیل هغه حدیث دې.کوم چه په کتب ستۀ کښې مذکور دې.[عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ أمرت أن أسجد على سبعة أعظم على الجبهة واليدين والركبتين وأطراف القدمين](۲) ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی.چه رسول الله ﷺ فرمائیلی.چه ماته حکم شویدې.چه زه سجده اوکړم. په اووه هډوکو،په تندی باندې ،په دواړو لاسونو ،دواړوګونډو او د دواړو قدمونو ارخونو باندې.

---

(۱) من حدیث أبي حمید رضي الله عنه أخرجه البخاری رقم ۸۲۸۔

(۲) من حدیث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه الأئمة الستة فی کتبهم منهم البخاری فی الأذان باب ۱۳۳ ۔

وجه الإستدلال> وجه داستدلال دا ده.چه په کومو اووه اندامونو باندې د سجدےحکم ورکړې شوې دې.په هغې کښې د پوزے حکم نشته.نو ښکه ثابته شوه.چه پوزه د سجدے محل نه دې.اوهرکله چه پوزه محل د سجدے نه دې.نو په پوزه باندې اکتفاء کول هم ټيک نه دی

الجواب عنه > خو د دې نه جواب دا دې.چه په مشهور روايت کښې د [جبهة] په ځاني [وجه] مذکور دې.په سنن اربعه کښې د حضرت عباس بن عبدالمطلب نه نقل دی.[أنه سمع رسول الله ﷺ يقول إذا سجد العبد سجد معه سبعة آراب وجهه وكفاه وركبتاه وقدماه] يعني نبي ﷺ نه مې اوريدلی دی چه فرمائيل نې.بنده چه کله سجده کوی.نو ده سره اووه اندامونه سجده کوی.دده مخ او تلی دده پنډئ او دده دواړه قدمونه ، په دې حديث کښې[وجه]مذکور ده.او وړاندې تير شوی دی.چه د [وجه] نه پوزه او تندے دواړه مراد دی.ځکه مونږ اووئيل .چه د سجدےپه حکم کښې پوزه او تندے دواړه برابر دی

د پټی په پلو او په زياتی جامه باندې د سجدې حکم

فَإِنْ سَجَدَ که مونځګذار سجده اوکړه، **عَلٰى كَوْرِ عِمَامَتِهِ أَوْ فَاضِلِ ثَوْبِهِ** د پټکی په ول يا په زياتی جامه باندې **جَازَ** نوجائز ده.

حل اللغة > ①کور: پيچ، مروړ ②فاضل: فالتو، زياتی ③جاز، جاز جوازا(ن): جائزکيدل، روا کيدل

تشريح > **السجدة علي كور العمامة وفاضل الثوب** > ①مسئله زمونږ په نيز د پټکی په ول يا په زياتی جامه باندې سجده کول جائز دی.

دلائله > ① دليل د ابن عباس ﷠ حديث دې.[أن النبي ﷺ كان يسجد على كور عمامته](۱)يعني نبي ﷺ به د پټکی په ول باندې سجده کوله.د عبدالله بن ابی اوفی نه نقل دی.چه [قال رأيت رسول الله ﷺ يسجد على كور عمامته] عبدالله بن ابی اوفی ﷛ فرمائی. چه ما رسو ل الله ﷺ ليدلے وو.چه د خپل پټکی په ول به نې سجده کوله.

② ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دی.[أن النبي ﷺ صلى في ثوب واحد يتقي بفضوله حر الأرض وبردها](۲) يعني نبی ﷺ په يوه جامه کښې مونځ کولو.دوی به د هغې په زياتی حصه د زمکے د حرارت او بروددت نه ځان بچ کولو.

دواړه متې په سجده کښې کهلاؤ ساتل

وَيُبْدِي ضَبْعَيْهِ او لرے دے ساتی خپلے دواړه متے

حل اللغة > ①يبدی، ابدی ابداء: کولاوول ②ضبع: مټ]

تشريح > **كيفية وضع الضبعين في السجدة** > مسئله :د سجدے په حالت کښې به مونځګذار خپلے متے ښکاره کوی .يعنی کُهلاؤ به نې ساتی.د ځناورپشان به نې په زمکه باندے نه خوروی.

(۱) من حديث أبي هريرة ﷺ أخرجه عبدالرزاق في مصنفه (۴۰۰/۱) رقم ۱۵۶۴)۔

(۲) من حديث ابن عباس ﷠ أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه وأحمد في مسنده (۲۵۶/۱)۔

دليله ﴿ دليل دا روايت دي. [عن آدم بن علي البكري قال رآني ابن عمرو أنا أصلي لا أتجافى عن الأرض بذراعي فقال يا ابن أخي لا تبسط بسط السبع وادعم على راحتيك وابد ضبعيك فإنك إذا فعلت ذلك سجد كل عضو منك] آدم بن علي البكري فرمائي.چه ابن عمر ﷺ زه اوليدم.په داسې حال كښې چه ما مونځ كولو.او د زمكې نه مې خپل لاسونه نه جدا كول.نو وې فرمائيل.اے وراره ! دځناورو پشان مه خوريږه.او په خپلو تلو باندې تكيه اولګوه.او خپلے متې كهلاو كړه.ځكه چه كله ته داسې كوې.نو تا سره به هر اندام سجده كوى.

الرواية الثانية ﴿ صاحب د هدايه فرمائي.چه په يو روايت كښې [ابدا] د دال په تشديد سره راغلے دے.د [ابداد] نه مشتق دے.چه معنى ئې رابنكل ده.يعنى خپلے متې راكاږه.او اول د [ابداء] نه مشتق ده.چه معنى ئې ښكاره كول دى.يعنى خپلے متې ښكاره يعنى خه كهلاو كړه.

په سجده كښې خيټه د پتونانو نه جدا ساتل

وَيُجَافِي بَطْنَهُ عَنْ فَخِذَيْهِ او خپله خيټه به د پتونانو نه جدا ساتي.

حل اللغة ﴿ ① يجافى، جافى مجافاة: لرې ساتل ② بطن جمع بطون: خيټه ③ فخذ جمع افخاذ: پتون

تشريح ﴿ **إبعاد البطن عن الفخذين في السجود** ﴿ مسئله دا ده.چه مونځګذار به د سجدے په حالت كښې خپله خيټه د خپلو پتونانو نه جدا ساتي.

دليله ﴿ دليل دا دے.چه نبي ﷺ به كله سجده كوله.نو تجافى به ئې كوله،يعنى خيټه به ئې د پتونانو نه جدا ساتله.او څنګلے به ئې زمكې نه اوچتے ساتلې.تردے كه د چيلئ بچى به د نبي ﷺ د لاسونو په مينځ كښې تيريدل غوښتل.نو تيريدے به شو.(۱)

صورة استثنائية ﴿ بعضې فقهاؤ وئيلى دى.كه په صف كښې دننه وى.نو لاسونو ته دے جوف نه وركوى.يعنى دا دے نه خوروى.چه ورسره نزدے كس (ګاوندى) ته تكليف نه وى.

د پښو د ګوتو مخ قبلې طرف ته كول

وَيُوَجِّهُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ نَحْوَ الْقِبْلَةِ او د خپلو پښو دګوتو مخ دے قبلې طرف ته كړى.

حل اللغة ﴿ ① يوجه،وجه توجيها: متوجه كول ② نحو:پورې،طرف ③ عضو جمع اعضاء: اندام

تشريح ﴿ صورت د مسئلې ښكاره او آسان دے

دليله ﴿ دليل دا دے چه نبي ﷺ فرمائيلى دى.كله چه مومن سجده كوىنو دده هر اندام سجده كوىنو چه څومره ئې وس كيږى.خپل اندمونه دے قبلې طرف ته كوى.(۲)

د سجدې تسبيح

وَيَقُولُ فِي سُجُودِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى ثَلَاثًا او د سجدے په حالت كښې دے درے ځله [سبحان ربي الأعلى] وائي وَذٰلِكَ أَدْنَاهُ.او دا ادنى اندازه ده.

---

(۱) من حديث ميمونة ﷺ اخرجه مسلم في الصلاة رقم ۲۳۷ ۔

(۱) خرجه الزيلعي ﷺ بهذا اللفظ ثم نقل عن عبدالله بن عمر عن أبيه ﷺ قال من سنة الصلاة أن ينصب القدم اليمنى واستقباله بأصابعها القبلة والجلوس على اليسرى وعزاه إلى النسائي (أي في السنن الكبرى (۱/۲٤۸) رقم ۷٤٤) (نصب: ۱/٤٦٦)۔

حل اللغة ﴿①ان یزید ، زاد زیادة: زیاتول ②ان یختم، ختم ختاما(ض): ختم کول

تشريح ﴿ **تسبیحات السجود ثلاثا** ﴾امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه د سجدے په حالت کښې به درې خله [سبحان ربي الأعلى] وائی.او دا درې خله وئیل د کم نه کمه درجه ده.عالمانو ﷺ لیکلی دی.چه ددې پریخودل یا په کښې کمے کول مکروه دی.

دليله ﴿ ددې دلیل د نبی ﷺ ارشاد دې.[إذا سجد أحدكم فليقل في سجوده سبحان ربي الأعلى ثلاثا] (١)

إستحباب الزيادة على الثلاث ﴿او په رکوع او سجده کښې په درې خله باندې زیادت کول مستحب دی.خو په دې شرط چه په طاق عدد باندې ختموی.

دليله ﴿ نبی ﷺ به د رکوع او سجدے تسبیحات په طاق عدد باندې ختمولو.(٢)او په مشهور حدیث [إن الله وتر يحب الوتر] باندې هم استدلال شوی دې.

حق الزيادة للإمام ﴿ صاحب د هدایه رحمه الله فرمائی.که په خپله امام وی.نوپه درې خله دے دومره زیادت نه کوی.چه خلق ستړی شی.او د هغوی په زړونو کښې نفرت او ناخوښی پیدا شی.دا خبره دے معلومه وی.چه د رکوع او سجدے تسبیحات سنت دی.څکه چه نص یعنی ﴿ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا﴾ رکوع او سجدے ته شامل دې.ددې تسبیحاتو ته نه دے شامل.نو ثابته شوه چه د رکوع او سجدے تسبیخات فرض نه دی.

كيفية سجدة المرأة ﴿ په دې عبارت کښې د ښځې سجدے د کیفیت بیان دې.فرمائی چه ښځه دے د سجدے کولو په وخت کښې راغونډه شی.یعنی زمکے ته دے نزدے شی.او خیټه دے د پتونانو سره ملاؤ کړی.دلیل دا دې.چه په دې کیفیت باندې سجده کولو کښې د ښځې په حق کښې زیاته پرده ده.حالانکه د ښځې په حق کښې پرده مطلوب هم ده.

دليله ﴿ عن علي قال إذا سجدت المرأة فلتحتفز ولتلصق فخذيها ببطنها(٣)

د سجدې نه د پورته کیدو او جلسې طریقه

ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ بیا به خپل سر پورته کړی وَيُكَبِّرُ او تکبیر به اووائی. وَإِذَا اطْمَأَنَّ جَالِسًا.بیا چه کله په اطمینان سره کینی كَبَّرَ وَسَجَدَ نو تکبیر دے اووائی.او سجده دے اوکړی

حل اللغة ﴿①اطمان، اطمینانا:مطمئن کیدل ② جالسا: په ناسته

تشريح ﴿ **التكبير عند الرفع من السجدة الأولى** ﴾په دې عبارت کښې د دویمے سجدے د کیفیت بیان دې.فرمائی چه د اولنۍ سجدے نه په سر راپورته کولو کښې به تکبیر اووائی.

---

(١) تقدم تخريجه في فصل صفة الصلاة۔

(٢) قال الزيلعي رحمه الله غريب جداً (نصب:٤٦٧\١)۔

(٣) كذا في مصنف عبدالرزاق رقم ٥٠٧٢ (١٣٨/٣) حسنه العثماني إعلاء السنن في الصلاة باب طريق السجود بطريق الأحوص و عزاه إلى مصنف ابن أبي شيبة لكن ماوجده فيه العبدالضعيف شاه فيصل

دليله﴾دليل دا دې.چه اعرابي ته نبي د مونځ تعليم ورکولو.نو نبي ﷺ فرمائيلي وو.[ثم ارفع رأسك حتى تستوي جالساً](١)يعني بيا سر پورته کړه.ترد ے چه ته نيغ کينې.

وجوه تكرار السجود دون الركوع﴾باقي پاتې شوه دا خبره چه په هر رکعت کښې يوه رکوع او دوه سجدے ولے دی؟نو په دې باره کښې د اکثرو عالمانو ﷺ دا رائې ده.چه دا توقيفي څيز دې. عقل او قياس ته په دې کښې دخل نشته.

② او بعضي حضراتو دا حکمت ذکر کړې دې.چه دوه سجدے د شيطان ذليل کولو دپاره دی.څکه چه د تخليق آدم ﷺ نه پس چه کله الله تعالى هغه ته حکم کړې وو.چه دے آدم ﷺ ته سجده اوکړی.نو هغه آدم ﷺ ته سجده اونکړله.نو مونږ د شيطان د رسوا کولو او ذليل کولو دپاره دوه سجدے کوو.په سجده د سهوے کښې نبي ﷺ دے طرف ته اشاره کړې ده.[هما ترغيما للشيطان] يعني د سهوے دواړه سجدے د شيطان رسوا کولو دپاره دی.

③ اوبعضو وئيلي دی.چه په اوله سجده کښې دے طرف ته اشاره کړې شوې ده.چه انسان د خاورے نه پيدا شوې دې.او په دويمه کښې دا اشاره ده.چه هم دے ته به واپس کيږی.الله تعالى فرمائى.﴿مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ﴾

دسجدې نه د اودريدو کيفيت

فَإِذَا اطْمَأَنَّ سَاجِدًا اوچه کله د سجدے په حالت کښې په اطمينان شی كَبَّرَ.نو تکبير دے اووائی وَاسْتَوَى قَائِمًا او نيغ دے اودريږی.عَلَى صُدُورِقَدَمَيْهِ د خپلو قدمونو په تلو باندې

حل اللغة﴾①استوى، استواء: برابرول ②قدميه: تثنيه د قدم ده يعني دواړه خپې

تشريح﴾ **التكبير عند الرفع إلي القيام**﴾فرمائى.چه کله د سجدے په حالت کښې په اطمينان شی.نود اودريدو دپاره دے تکبير اووائی.دليل وړاندې تير شوې دې.يعني [أن النبي ﷺ كان يكبر عند كل خفض ورفع](١)

وَلَا يَقْعُدُ.اونه دے کينی وَلَا يَعْتَمِدُ بِيَدَيْهِ عَلَى الْأَرْضِ او نه دے تکيه لګوی.په خپلو لاسونو سره په زمکه باندې

تشريح﴾ **كيفية القيام من السجدة الثانية**﴾ ①امام قدوری ﷫ فرمائى.چه د دويمے سجدے د فراغت نه پس دے د خپلو تلو په ذريعه نيغ اودريږی.نه دے کينی او نه دے په خپلو لاسونو باندې په زمکه تکيه لګوی.که عذر نه وی.نومستحب دادی.

دلائله﴾ ①د حضرت ابوهريره ﷛ حديث دې.[أن النبي ﷺ كان ينهض في الصلاة على صدور قدميه](٢)يعني نبي ﷺ به په مانځه کښې دخپلو پنجو په تلو باندې اودريدلو.

---

(٢) تقدم تخريجه۔

(١) أخرجه البخاري عن مالك بن الحويرث في الصلاة باب ١٤٣ (حديث ٨٢٤)

② د امام شعبی رحمه الله نه مروی دی.[قال کان عمر وعلی وأصحاب النبی ﷺ ینهضون فی الصلاة علی صدور أقدامهم] امام شعبی رحمه الله فرمائی.چه حضرت عمر،حضرت علی او د رسول الله ﷺ صحابه ؓ به په مانځه کښې دخپلو قدمونو په پنجو باندې اودریدل.
③ عقلی دلیل دا دې.چه دا کیناستل د استراحت دپاره دی.او مونځ د استراحت او آرام دپاره نه دے وضع شوې.نو ځکه دا قعده نشته.

د دویم رکعت پوره کولو طریقه

وَيَفْعَلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ او په دویم رکعت کښې دے هم هغه شان اوکړی مِثْلَ مَا فَعَلَ فِي الْأُولَى ځنګه چه ئې په اولنی رکعت کښې کړی وو إِلَّا أَنَّهُ لَا يَسْتَفْتِحُ وَلَا يَتَعَوَّذُ..البته دا چه [سبحانك اللهم] او [أعوذبالله] دے نه وائی

حل اللغة ① یفعل، فعل فعلاً (ف): کول ② یستفتح، استفتح استفتاحاً: شروع کول ③یتعوذ، تعوذ تعوذاً:پناه غوښتل، اعوذبالله وئیل]

تشریح كيفية الركعة الثانية د اولنی رکعت د فراغت نه پس دے مونځ ګذار دویم رکعت اوکړی.او په دویم رکعت کښې به تول هغه څه کوی.کوم چه ئې په اولنی رکعت کښې کړی وو.
دلیله دلیل دا دې.چه دویم رکعت کښې د ارکانو تکرار دې.او تکرار د اول د اعادے تقاضا کوی.ځکه چه وئیلی شوی دی.چه دویم رکعت کښې به هغه شان کوی.ځنګه چه ئې په اولنی رکعت کښې کړی وو
.

عدم التسبیح والتعوذ البته دومره فرق ضرور شته.چه په دویم رکعت کښې به نه [سبحانك اللهم] وائی.او نه [أعوذبالله] وائی.
دلیله ځکه چه دا دواړه خبرے یو ځل مشروع شوی دی.ځکه چه کوم حضرات صحابه کرام د نبی ﷺ مونځ نقل کوی.نوهغوی دا څیزونه صرف یو ځل روایت کړی دی.

د رفع یدین حکم

وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ اوخپل لاسونه دے نه اوچتوی. إِلَّا فِي التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى مګرپه تکبیر تحریمه کښې

حل اللغة ①رفع: اوچتول ②ایدی جمع ید: لاس ③مواطن: ځایونه]

تشریح عدم رفع اليدين عندالركوع والرفع منه ① مسئله دا ده.چه د تکبیر تحریمے نه بغیر به په تکبیر کښې لاس نشی اوچتولې.

دلائله ① دلیل د ابن عباس ؓ حدیث دې.چه [لاترفع الأيدی إلا فی سبع مواطن. الحديث] د ابن عباس ؓ نه نقل دی.چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.لاس به نشی اوچتولې.مګر په اووه ځایونو کښې ① په تکبیرتحریمه کښې ② تکبیر قنوت کښې ③ تکبیرات عیدین کښې ④ تکبیر عرفات کښې ⑤ تکبرات جمرتین کښې ⑥ تکبیر صفا مروه کښې ⑦ تکبیر استلام کښې.
② دحضرت عبدالله رضی الله عنه نه روایت دې.فرمائی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم به د اولنی تکبیر په وخت کښې لاسونه پورته کولو.او بیا به

لاسونو پورته کولو ته نه واپس کیدلو.(۱)

رفع الیدین عند الشافعي رحمه الله > امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه د تکبیر تحریمے نه علاوه به په دوو تکبیرونو کښې لاس اوچتوی.یو رکوع ته د تلو په وخت کښې او دویم د رکوع نه پورته کیدو په وخت.

دلیله >د امام شافعي دلیل دابن عمر رضي الله عنه حدیث دې.[أن النبي ﷺ کان یرفع یدیه عند الرکوع وعند رفع الرأس من الرکوع]د ابن عمر رضي الله عنه حدیث دې.چه نبي ﷺ به خپل دواړه لاسونه پورته کول. رکوع ته د تلو په وخت کښې او د رکوع نه سر پورته کولو په وخت کښې ،

الجواب عنه > خو دا حدیث به په ابتدائے اسلام باندې حمل کولې شي.یعنی په ابتدائي اسلام کښې رفع یدین وو.بیا منسوخ شو.هم دغه شان د عبدالله بن زبیر رضي الله عنه نه منقول دی.د ابن زبیر رضي الله عنه نه مروی دی.[أنه رأی رجلا یصلي في المسجد الحرام یرفع یدیه في الصلاة عند الرکوع وعند رفع الرأس من الرکوع فلما فرغ من صلاته قال له لاتفعل فان هذا شئ فعله رسول الله ﷺ ثم ترکه]

مناظرة ابیحنیفة والأوزاعي رحمهما الله > شارحینو رحمهم الله دهدایه (عنایه ،فتح القدیر ،کفایه) په دې مسئله کښې یوه خوندوره واقعه ذکر کړې ده.هغه دا چه یو ځل په مسجد حرام کښې امام اوزاعی رحمه الله دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله سره ملاؤ شو.امام اوزاعی رحمه الله اوفرمائیل. څه خبره ده چه اهل عراق د رکوع کولو په وخت کښې اود رکوع نه سر پورته کولو په وخت کښې خپل لاسونه نه اوچتوی.حالانکه ماته [زهری عن سالم عن ابن عمر رضي الله عنه] نه دا حدیث رارسیدلے دې.چه نبي ﷺ به په دې مواقعو باندې خپل لاسونه اوچتول.امام ابوحنیفه رحمه الله اوفرمائیل.[حدثني حماد عن ابراهیم عن علقمة عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه أن النبي ﷺ کان یرفع یدیه عند تکبیرة الإفتتاح ثم لایعود] یعنی نبي ﷺ به د تکبیر تحریمه په وخت کښې خپل لاسونه اوچتول.بیا به ئې اعاده نه کوله.

امام اوزاعی رحمه الله اوفرمائیل.امام ابوحنیفه باندې تعجب دې.چه زه ورته حدیث بیانوم.[حدیث زهری عن سالم عن ابن عمر رضي الله عنه] او هغه حدیث بیانوی.[حدیثني حماد عن ابراهیم عن علقمة عن ابن مسعود رضي الله عنه] حاصل دا چه امام اوزاعی د علو سند لحاظ اوکړلو.او د ابن عمر رضي الله عنه حدیث ته ئې ترجیح ورکړله.حضرت امام اعظم رحمه الله اوفرمائیل [أما حماد فکان أفقه من الزهري وإبراهیم کان أفقه من سالم ولولا سبق ابن عمر لقلت بأن علقمة أفقه منه أما عبدالله فعبدالله] یعنی حماد دزهری په مقابله کښې لوئې فقیه دې.او ابراهیم د سالم نه زیات فقیه دې.او که چرته ابن عمر رضي الله عنه ته د تقدیم زمانی فضیلت حاصل نه وو.نوما به وئیلی وو.چه علقمه د ابن عمر رضي الله عنه په مقابله کښې زیات فقیه دې.اوعبدالله خو عبدالله رضي الله عنه دې.یعنی دهغه خو نظیر نشته. حاصل داچه امام ابوحنیفه رحمه الله دفقه روایت په اعتبارسره ابن مسعود رضي الله عنه ته ترجیح ورکړله.

الإستدلال >د دې واقعے نه دومره خبره ثابته شوه.چه د رفع یدین په سلسله کښې دابن عمر رضي الله عنه او ابن مسعود رضي الله عنه حدیث په خپلو کښې معارض دی.او په دې دواړو حدیثونو کښې د نبي ﷺ فعل بیان

---

(۱) رواه الطحاوي في شرح معاني الآثار(۱/۲۲٤)۔

شوي دي.نو دتعارض د وجے دواړه احاديث ساقط شو.اود نبي ﷺ قول [لاترفع الأيدى إلا فى سبع مواطن الحديث] طرف ته به رجوع كولي شي.په داسې حال كښې چه دا حديث مشهور دي.ددې نه علاوه د ابن عمر رضي الله عنهما حديث ساقط دي.ځكه چه مجاهد رحمه الله فرمائيلي دى.[صليت خلف ابن عمر رضي الله عنهما سنتين فلم أره يرفع يديه إلا لإفتتاح الصلاة] مجاهد رحمه الله فرمائي.چه ما دوه كاله په ابن عمر رضي الله عنه پسې مونځ كړې دې.خو د تكبير تحريمه نه علاوه ما چرته هغه په لاس اوچتولو نه دے ليدلې.اوقاعده دا ده.چه راوى كله دخپل روايت خلاف عمل كوى.نودهغه روايت ساقطيږى.(نورالانوار)

نوعية الاختلاف > شيخ الاسلام مفتى محمد تقي عثماني دامت حياتهم العاليه په درس ترمذى كښې فرمائى:چه دا خبره ياده ساتئ:چه د امامانو په مينځ كښې په دې مسئله كښې اختلاف دجواز او عدم جواز نه دې.بلكه د افضليت او عدم افضليت دې.د فريقينو په نزد دواړه طريقے بے دكراهته جائز دى.البته په محدثينو كښې امام اوزاعي او امام حميدى او امام ابن خزيمه رحمهم الله رفع اليدين ته واجب وائى. (ذكره الحافظ في فتح الباري ج۲ص۱۷۴) خوچه روستو بيا په دې مسئله باندې د مناظرو بازار ګرم شو.او د فريقينو د طرف نه په دې مسئله كښې اوږده اوږده بحثونه او مبالغه شروع شوه.نو بعضې شافعيانو هم په ترك درفع اليدين باندې د فساد حكم اوكړو. او په احنافو كښې صاحب د منيى المصلى رفع يدين ته مكروه اووئيل:ليكن حقيقت هغه دې.كوم چه مونږ وړاندې بيان كړلو.تركومے پورې چه د رواياتو تعلق دې.نو حقيقت دا دې.چه دواړه عملونه د نبي عليه السلام نه ثابت دى.حضرت شاه انور شاه كشميرى رحمه الله د ،،رفع اليدين،، په مسئله يوه مستقله رساله ليكلے ده.او نوم ئې ورته ،،نيل الفرقدين في رفع اليدين،، ايخے دې.په دې رساله كښې هغوى فرمائى.د رفع اليدين احاديث معنى متواتر دى.او د ترك رفع اليدين احاديث عملا متواتر دى.يعنى په ترك د رفع اليدينو باندې دامت عمل راروان دې.او ددې دليل دا دې.چه د عالم اسلام دوه لوئې مركزونه مدينه منوره اوكوفه وو.اوددې دواړو ښارونو خلق بلا استثناء په ترك رفع اليدين باندې عمل كونكى وو.(درس ترمذي ج، ۲ص۲۷) چونكه احناف د ترك رفع اليدين قائلين دى.

په قعده كښې د كيناستو كيفيت

(وَإِذَارَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ او كله چه د دويم ركعت دپاره د دويمے سجدے نه سر راپورته كړى اِفْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰي نوخپله ګسه پښه به اوغزوى فَجَلَسَ عَلَيْهَا..او په دې به كينى وَنَصَبَ الْيُمْنٰى نَصْبًا.او خپله ښئ پښه به بيخى نيغه اودروى وَوَجَّهَ أَصَابِعَهُ نَحْوَالْقِبْلَةِ.او خپلے ګوتے به قبلې طرف ته كړى

حل اللغة >① رفع رفعا(ف): اوچتول ②افترش، افتراشا: خورول ③ فجلس، جلس جلوسا(ض): كيناستل ④ نصب، نصبا (ن،ض): اودرول، ورخښول ⑤نحو: طرف ⑥ توجيه: متوجه كول ⑦ اصابع، اصبع: ګوته ⑧ اخرجت، اخراج اخراجا: راويستل ⑨ جانب: طرف ⑩ايمن: ښى]

تشريح > **كيفية الجلوس في القعود** > په دې عبارت كښې د قعدے كيفيت بيان شوې دې. فرمائى.چه كله د دويم ركعت دپاره د دويمے سجدے نه سر راپورته كړى.نو خپله ګسه پښه به اوغزوى.او په دې به كينى.او ښئ به اودروى.اود دواړو پښو ګوتے به قبلې طرف ته متوجه كړى.

دليله> دليل دا دي.چه ام المؤمنين حضرت عائشي ﷞ د نبی ﷺ په مانځه کښې د کيناستو کيفيت هم داسې بيان کړې دې.(٢)

وَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ او خپل دواړه لاسونه به په دواړو پتونانو باندې کيږدی **وَيَبْسُطُ أَصَابِعَهُ** اودخپلو لاسونو ګوتې به اوغزوی. **ثُمَّ يَتَشَهَّدُ** او تشهد به اووائی

تشريح> وضع اليدين علي الفخذين >چه کينی نو خپل دواړه لاسونه به په دواړو پتونانو کيږدی.او ګوتې به خورې کړی .يعنی چه په کوم حالت کښې وی.هم په هغه حالت کښې دې پريږدی.يوځائې کوی دې نه.او په لاسونو دې پنډئ نه نيسی.

دليله>دليل دا دي.چه دحضرت وائل بن حجر ﷛ حديث هم په دې کيفيت سره روايت شوې دې.اوعقلی دليل دا دې.چه په دې وضع کښې د لاسونو ګوتې مخ په قبله وی.او ترکومې چه هراندام قبلې طرف ته متوجه کول ممکن وی.نودا غوره ده.

صاحب دعنايه ليکلی دی.چه امام محمد رحمه الله دنبی ﷺ يو حديث بيان کړې دې.په هغې کښې دی.چه رسول الله ﷺ به د شهادت په ګوته باندې اشاره کوله.نو مونږ به هم داسې کول.او هم دا قول د ابوحنيفه رحمه الله دې.او ددې اشارې تفصيل دا دې.چه د ښی لاس کچه او قتيه ګوتې به بندې کړی.اود مينځئ او متې ګوته دې حلقه جوړه کړی.اوپه مسواکه ګوته دې اشاره کوی.دامام حلوانی رحمه الله نه منقول دی چه په تشهد کښې به د [لااله] د لفظ په وخت کښې خپله د شهادت ګوته پورته کوی.اود [الا الله] په وخت کښې به ئې ښکته کوی.چه د ګوتې پورته کول د غيرالله نه نفی او ښکته کول داالله تعالی دپاره اثبات شی،

په مسواکه ګوته باندې په تشهد کښې اشاره کول سنت دی.او چا چه ترې انکار کړې دې.نو دهغوی قول ته څه اعتبار نشته.ځکه چه اشاره په احاديثو صحيحو سره ثابته ده.اومتاخرين عالمان ددې په سنتيت باندې قائل دی.او دا قول د روايت او درايت دواړو په رڼا کښې معتبر دې.چه اشاره سنت ده.البته په احاديثو کښې د اشارې کولو په کيفيت کښې مختلف طريقې راغلی دی.ټولې جائز دی.خو داحنافو په نيزدمعتمده طريقه دا ده.چه د تشهد داول نه به دواړه لاسونه په پتونانو کيږدی.چه کله [أشهد أن لا إله الا الله] ته اورسی.نو د قتيې او منځنئ ګوتې نه به حلقه جوړه کړی.او د الوهيت د نفی په وخت کښې يعنی چه کله [لا إله] وائی نو مسواکه ګوته به پورته کړی.او د الوهيت داثبات يعنی [الاالله] په وخت کښې به مسواکه ګوته اړدی.چه په پورته کولو کښې نفی دالوهيت ته او په کيخودلو کښې اثبات د الوهيت ته اشاره اوشی.علامه تقی عثمانی حفظه الله په درس ترمذی کښې فرمائيلی: داشارې په باره کښې مختلف کيفيات منقول دی.په ټولو باندې عمل جائز دې. خو داحنافو په نزد باندې دا طريقه غوره ده.کومه چه مخکښې تاسو اولوستله.

---

(٢) غربه الزيلعي هذا اللفظ واورد بمعناه عن عائشة وعزاه إلى مسلم في الصلاة حديث (٢٤٠)۔

دليله ◁ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی:رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به کله په تشهد کښي کیناستلو. نو ګس لاس به ئې په ګسه پنډۍ کیخودلو.او ښې لاس به ئې په ښۍ پنډۍ کیخودلو.او د پنځوسو نښه به ئې جوړه کړله.او په مسواکه ګوته به ئې اشاره اوکړله. (۱)

كيفية قعود المراة ◁اود ښځي د کیناستو کیفیت دا دی.چه هغه به په خپل ګس کوناټی باندې کینی.او دواړه پښې به ښی طرف ته راوباسی.ځکه چه دا طریقه د ښځي دپاره زیاته د پردے ده

دليله ◁عن خالد بن اللجلاج قال كانت النساء يؤمرن أن يتربعن إذا جلسن في الصلاة ولا يجلسن جلوس الرجل على أوراكهن يتقى ذلك على المرأة مخافة أن يكون منها الشيء (۲)

د ابن مسعود رضی الله عنه تشهد

وَالتَّشَهُّدُاوتشهد دا دی اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ ټول قولی عبادتونه الله لره دی وَالصَّلَوَاتُاو ټول بدنی عبادتونه (الله لره دی) وَالطَّيِّبَاتُ،او ټول مالی عبادتونه (الله لره دی) اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ سلام دې وی په تا باندې أَيُّهَا النَّبِيُّ اې نبی وَرَحْمَةُ اللّٰهِ او رحمت دالله تعالی وَبَرَكَاتُهُ او د الله تعالی برکتونه دی وی اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا او سلام دې وی په مونږ وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ او د الله تعالی په نیکانو بندګانو باندې أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ګواهی کوم چه د الله نه سوا بل څوک د عبادت لائق نشته وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ او ګواهی کوم چه محمد ﷺ د الله تعالی بنده او رسول دی۔

حل اللغة ◁①علمنی، علم تعليما: خودل ②اخذ: اخستل، نیول]

تشريح ◁ **تشهد ابن مسعود** رضی الله عنه ◁ددې عبارت حاصل دا دی.چه قعده اولی کښي د اصح قول په بناء تشهد لوستل واجب دی.او د تشهد په الفاظو کښي صحابه کرامو رضی الله عنهم اختلاف کړی دی.د ابن مسعود رضی الله عنه تشهد دی.او دوی نه علاوه د نورو صحابوؓ نه هم تشهد منقول دی. د احنافوعالمانو رحمهم الله تشهد د ابن مسعود غوره کړی دی.

دليله ◁ ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی.چه رسول الله ﷺ زما لاس اونیولو.او ماته ئې د تشهد تعلیم راکړلو.او وے فرمائیل.[قل التحيات لله] په دې حدیث کښي د نبی ﷺ قول [قل] د امر صیغه ده.او د امر کمتره درجه د استحباب ده.(۳)

وجوه ترجيح تشهد ابن مسعود رضی الله عنه ◁ احنافو عالمانو رحمهم الله فرمائیلی دی.چه د ابن مسعود رضی الله عنه تشهد اختیارول هم د څو وجوهو له کبله افضل دی.

---

(۱) رواه مسلم في الصلاة باب:صفة الجلوس في الصلاة وكيفية وضع اليدين إلخ رقم الحديث ۹۱۲)

(۲) رواه ابن أبي شيبة في الصلاة باب في المرأة كيف تجلس في الصلاة رقم ۲۷۹۱ (۱/۲٤۲)۔

(۱) أخرجه الجماعة إلا البخارى (مسلم في الصلاة باب حديث ٦٠، وأبوداود في الصلاة باب ۱۷۸، والترمذی في الصلاة باب ۱۰۰، والنسائی في التطبيق باب ۱۰۳، وابن ماجه في الإقامة باب ۲٤، وأحمد في المسند (۱/۲۹۲)۔

① السلام علیك په الف لام سره مفید د استغراق دي.
② والصلوات د واؤ سره مفید دتجدید دي.
③ دنبی ﷺ لاس نیول اود قرآن د سورت پشان تعلیم ورکول مفید د تاکید دی.
④ التحیات صلاة او غیرصلاة ټولو ته شامل دي.خوکله چه دابن عباس رضی الله عنهما په تشهد کښې [الصلوات] بغیر د واؤ نه دي.نودا تخصیص شو.اود [التحیات] نه مراد صرف [صلوات] شو.او چه [والصلوات] د واو سره وی.لکه چه د ابن مسعود رضی الله عنه په نشهد کښې دي.نو اول یعنی [التحیات] عام پاتې شو.اوچونکه په عامه کلمه سره ثناء ونیلو کښې مبالغه وی.نوځکه دا اولی دې.

معنی کلمات التشهد وشان ورودها> د ،،التحیات،، معنی عبادات قولیه دی.د ،،الصلوات،، معنی عبادات بدنیه دی او د ،،الطیبات،، معنی عبادات مالیه دی.او [السلام علیك] دا دهغه سلام حکایت دې.کوم چه په شپه د معراج د نبی ﷺ په دربار کښې په جواب کښې فرمائیلی شوی وو.[السلام] د [التحیات] په مقابله کښې دي.او رحمت د صلوات په مقابله کښې دي.او برکت د التحیات په مقابله کښې دي.اود برکت معنی نما او زیادت راځی.په شپه د معراج کښې د الله تعالی په دربار کښې دحاضرئ په وخت کښې نبی ﷺ فرمائیلی وو.[التحیات لله والصلوات والطیبات] رب العالمین په جواب کښې اوفرمائیل. [السلام علیك أیها النبی ورحمة الله وبرکاته] بیا نبی ﷺ اوفرمائیل[السلام علینا وعلی عباد الله الصالحین] چه فرښتو دا واوریدل.نو وے فرمائیل. [أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدا عبده ورسوله]

په اولنئ قعده کښې په قدر د تشهد باندې د زیادت ممانعت

وَلَا يَزِيْدُ اوزیادت به نه کوی عَلٰی هٰذَا په دې تشهد باندې فِی الْقَعْدَةِ الْأُوْلٰی په اولنئ قعده کښې

حل اللغة> ①لایزید ، زاد زیادة (ض): زیاتول

تشریح> **عدم الزیادة علی قدر التشهد فی القعدة الأولی**>فرمائی.په اولنئ قعده کښې به په مقدار دتشهد باندې اضافه نه کوی.

دلیله>دلیل د ابن مسعود رضی الله عنه قول دې.چه [علمنی النبی ﷺ التشهد فی وسط الصلاة وآخرها فإذا کان فی وسط الصلاة نهض إذا فرغ من التشهد وإذا کان آخر الصلاة دعا لنفسه ما شاء](۱)

د آخرې دوو رکعتونو د کولو طریقه

وَيَقْرَأُ فِی الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ خَاصَّةً او په آخرې دوو رکعتونو کښې دے صرف فاتحة الکتاب اووائی

حل اللغة> ①یقرأ ، قرأ قراءة (ف): لوستل ②یاتیك ، اتی اتیانا (ض): راتلل

(۱) رواه أحمد فی مسنده (۱/۴۵۹)

تشریح ﴿ قراءة الفاتحة فقط في الركعتين الأخريين ﴾ مسئله دا ده.چه د ماسپخین، مازیګر او ماسخوتن په دوو آخری رکعتونو کښې او د ماښام په آخری یو رکعت کښې به صرف سورة فاتحه وائی.

دلیله ﴿ دلیل د ابوقتاده رضی الله عنه حدیث دې.[أنه ﷺ کان یقرأ في الرکعتین الأولیین من الظهر والعصر بفاتحة الکتاب و سورتین وفي الأخریین بفاتحة الکتاب] (صحیحین) یعنی نبی ﷺ به د ماسپخین ، او مازیګر په اولنو دوو رکعتونو کښې سورة فاتحه او دوه سورتونه لوستل.او په آخری دوو رکعتونو کښې به ئې سورة فاتحه لوستله.

الروایتان في حکم الفاتحة في الأخریین ﴿ ① صاحب د هدایه رحمه الله فرمائی.چه دا د افضل بیان دې.یعنی په آخری دوو رکعتونو کښې سورة فاتحه وئیل افضل او مستحب دی.که په آخری دوو رکعتونوکښې فاتحه او تسبیح دواړه ترک کړی.نو څه حرج نشته.اوپه ده باندې سجده سهوه هم واجب نه ده.خو قرات افضل دې.هم دا صحیح روایت دې.

② حسن بن زیاد رحمه الله د امام اعظم رحمه الله نه یو روایت دا هم نقل کړې دې.چه په آخری دوو رکعتونو کښې د سورة فاتحه لوستل واجب دی.نوکه په هیره باندې پریخودے شی. سجده سهوه به لازمیږی.

دلیله ﴿ په آخری رکعتونو کښې قیام مقصود دې.نودا د ذکراو قرات دارو نه خالی کول مکروه دی.لکه څنګه چه رکوع او سجده د ذکر نه خالی کول مکروه دی.اود صحیح قول دلیل دا دې.چه قرات صرف په اولنی دوو رکعتونو کښې فرض دې.ان شاء الله ددې تفصیل به روستو راشی.﴿فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّیْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِیْنَ﴾

آخری قعده د اولنۍ په شان ده

فَاِذَا جَلَسَ فِي اٰخِرِ الصَّلَاةِ جَلَسَ کله چه کینی په آخر د مانځه کښې نو کینی به داسې كَمَا جَلَسَ فِي الْأُوْلٰی.څنګه چه په اولنۍ قعده کښې ناست وو.

حل اللغة ﴿ ①جلس جلوساً(ض): کیناستل ②اشق: ډیرمشقت کونکې ③تورك: په کوناټو باندې اړه لګول ④یمیل، مال میلاً (ض): مائل کیدل]

تشریح ﴿ عدم التورك في القعود ﴾ فرمائی. چه په آخری قعده کښې به هم په هغه کیفیت باندې کینی.په کوم کیفیت چه په اولنۍ قعده کښې ناست وو.

دلائله ﴿ ①او زمونږ دلیل هغه حدیث دې.کوم چه مونږ د وائل بن حجر اوحضرت عائشې رضی الله عنها نه نقل کړې دې.نو ددې ناستے د بعضې حالاتو بیان خو د وائل رضی الله عنه په حدیث کښې وو. او کیفیت یعنی ګسه پښه خورول او ښۍ پښه اودرول د عائشې رضی الله عنها په حدیث کښې تیر شوی دی.② په دې کیفیت باندې ناسته په بدن باندې ګرانه وی .او په عبادت کښې چه په نفس باندې کوم کیفیت سخت وی.هغه افضل وی.نوځکه مونږ وایو.چه په دې طریقه ناسته غوره ده. علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی چه عدم تورك افضل دې د تورك نه ـ

د تشهد حکم

وَتَشَهَّدَ او تشهد دې وائی. وَصَلَّی عَلَی النَّبِيِّ عَلَیْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ.اوپه نبی ﷺ دې درود وائی

حل اللغة ⟵ ① تشهد، تشهد تشهداً: گواهي غوښتل

تشريح ⟵ **حكم التشهد والصلاة على النبي ﷺ** ⟵ ① په آخرى قعده کښې تشهد ونيل زمونږ په نيز واجب دي. اودرود شريف ونيل فرض نه دى. بلکه مسنون دي.

دليله ⟵ عَنْ أَبِي هَانِئٍ أَنَّ أَبَا عَلِيٍّ الْجَنْبِيَّ حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ فَضَالَةَ بْنَ عُبَيْدٍ يَقُولُ سَمِعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَدْعُو فِي صَلَاتِهِ لَمْ يُمَجِّدِ اللهَ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَجِلْتَ أَيُّهَا الْمُصَلِّي ثُمَّ عَلَّمَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَمِعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يُصَلِّي فَمَجَّدَ اللهَ وَحَمِدَهُ وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْعُ تُجَبْ وَسَلْ تُعْطَ] [1]

كلمات الصلاة ⟵ باقي پاتې شوه دا خبره چه نبى ﷺ به په کومه طريقه باندې درود ونيل.

① نو په دې باره کښې عيسى بن ابان رحمه الله په [كتاب الحج على أهل المدينة] کښې ذکر کړى دى. چه دامام نه د [صلاة النبى] په باره کښې تپوس اوشو. نو وے فرمائيل. چه دا دے وائى. [اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد] صاحب دکفايه ليکلى دى. چه دا درود د کعب بن عجره رضي الله عنه دحديث موافق دې.

② حضرت على، ابن عباس او جابر رضي الله عنهم نبى ﷺ ته عرض اوکړلو. چه مونږ خو په تاسو باندې د سلام اچولو طريقه پيژنو. خو درود به څنګه وايو. نو نبى ﷺ اوفرمائيل. داسې وائې. [اللهم صل على محمد وعلى آل محمد وبارك على محمد وعلى آل محمد وارحم على محمد وعلى آل محمد كما صليت وباركت وترحمت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم في العالمين إنك حميد مجيد]

د ماثوره دعاګانو وئيلو حکم

وَدَعَا بِمَا شَاءَ مِمَّا يُشْبِهُ أَلْفَاظَ الْقُرْآنِ وَالْأَدْعِيَةِ الْمَأْثُورَةِ او دعا دې کوى. هغه چه خوښه ئې وى د هغه دعاګانو نه د قرآن د الفاظو او ماثوره دعاګانو سره مشابه وى

حل اللغة ⟵ ① دعا، دعاء (ن): رابلل، دعا غوښتل ② يشبه، شبه شبها (س): په شان کيدل ③ ادعيه واحد دعاء: دعاګول ④ ماثوره: مسنون

تشريح ⟵ **الأدعية المأثورة بعد الصلاة على النبي ﷺ** ⟵ مسئله ⟵ په آخرى قعده کښې د صلاة على النبي ﷺ نه پس په عربئ ژبه کښې دے دا دعا اوکړى.

دعا دے کوى د قرآن پاك د الفاظو سره مشابه مثلاً ① ﴿رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ﴾ [النوح:۲۸]

② او ﴿رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ⑩﴾ الحشر:۱۰)

---

[1] اخرجه النسائي في السهو باب التمجيد والصلاة على النبي ﷺ رقم ۱۲۶۷)

③﴿ رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾ الأعراف: ٢٣

④﴿ رَبَّنَا إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ۝ رَّبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِي لِلْإِيمَانِ أَنْ آمِنُوا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا ۚ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ ۝ رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ ۝ ﴾

یا چه د هغه دعاګانو سره مشابه وی.کومې چه د نبی ﷺ نه منقول وی.

الأدعية المأثورة ﴿ اومسنون دعاګاني دی کوی ①مثلا دحضرت ابوبکر رضی الله عنه نه روایت دي.[أنه قال لرسول الله ﷺ علمنی یا رسول الله دعاء أدعو به فی صلاتی قال قل اللهم إنی ظلمت نفسی ظلما کثیرا وإنه لا یغفر الذنوب إلا أنت فاغفر لی مغفرة من عندك إنك أنت الغفور الرحیم]

②حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه به په دې الفاظو سره دعا کوله.[اللهم إنی أسئلك من الخیر کلها ما علمت منه وما لم أعلم وأعوذبك من الشر کله ما علمت منه وما لم أعلم] دلیل د ابن مسعود رضی الله عنه دا حدیث دی.یعنی [إذا کان آخر الصلاة دعا لنفسه بما شاء] بیا ددې حدیث په آخر کښې دی.چه نبی ﷺ ابن مسعود رضی الله عنه ته اوفرمائیل.[ثم إختر من الدعاء أعجبه وأطیبه إلیك] په [أعجبه او أطیبه]کښې ضمیرمذکر د سنن روایت مطابق دې.

دخلقو د خبرو سره د مشابه دعا ممانعت

وَلَا يَدْعُو بِمَا او په داسې الفاظو سره دې دعا نه کوی يُشْبِهُ كَلَامَ النَّاسِ کوم چه د خلقو د خبرو سره مشابه وی

حل اللغة ﴿ ① لایدعو، دعا دعاءً (ن): رابلل، دعا کول

تشریح ﴿ **لایدعو بما یشبه کلام الناس** ﴿مسئله دا ده.چه په نبی ﷺ باندې د درود نه پس به په داسې الفاظو سره دعا نه کوی.کوم چه د خلقو د خبرو سره مشابه وی.ددې دپاره چه د مونځ هغه جزء کوم چه د خلقو د خبرو سره متصل وی.د فساد نه محفوظ شی.هم ددې وجې ونیلې شوی دی.چه مونځ ګذار ته پکار دی.چه ماثوره دعاګانې کوی.

صورة عدم فساد الصلاة بالدعاء بما یشبه کلام الناس ﴿دا خبره دې ښکاره وی. که دتشهد نه پس په داسې الفاظو سره دعا اوکړی.چه هغه د خلقو د الفاظو سره مشابه وی.نو په دې سره ټول مونځ نه فاسدیږی.ځکه چه دتشهد نه پس که په حقیقت کښې کلام الناس موجود شی.نو مونځ نه فاسدیږی . نوکه دکلام الناس سره مشابه کلام وی.نو خامخا به مونځ نه فاسدیږی. دا حکم خو د صاحبینو رحمهما الله په نیزښکاره دې.او دغه شان د امام صاحب رحمه الله په نیز هم فاسد نه دې.ځکه چه کلام الناس د مونځ ګذار د طرفه خروج بصنعه دې.نو په دې سره به دده مونځ پوره شی.او هغه دعا کومه چه د تشهد نه پس د کلام الناس سره مشابه الفاظو سره شوې وی.هغه به د مانځه نه بهر وی دننه به نه وی.(عنایه)

مایشبه کلام الناس؟ ﴿ اوس باقی پاتې شوه دا خبره چه کومه دعا د کلام الناس سره مشابهت لری .اوکومه دعا د کلام الناس سره مشابهت نه لری.نودې باره کښې فرمائی.چه د کومو څیزونو چه د بندګانو نه غوښتل محال نه وی.لکه [اللهم زوجنی فلانة] نودا د کلام الناس سره مشابه دې.او د کوم چه د خلقو نه

غوښتل محال وي.لکه [اللهم اطعمنی] نودا د کلام الناس سره مشابه نه دي.اوکه مونځګذار اووائي.
[اللهم ارزقنی] اے الله ماته رزق راکړه.نودا د اول قسم ځنې دي.یعنې د کلام الناس سره مشابه ده.هم دا صحیح ده.دلیل دا دي.چه دا کلام په خلقوکښې عام طورمستعمل دي.ونیلی شی.[رزق الأمیرالجیش] مالدارلښکرته رزق ورکړلو.

ښي اوګس طرف ته سلام ګرځول

ثُمَّ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ بیا دے خپل ښي طرف ته سلام اوګرځوي وَيَقُولُ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ.بیا دے اووائي.[السلام علیکم ورحمة الله] وَيُسَلِّمُ عَنْ يَسَارِهٖ مِثْلَ ذٰلِكَ او خپل ګس طرف ته ددې پشان سلام اوګرځوي

حل اللغة ⟨ ① يسلم، سلم تسليما: سلام ګرځول ② يمين: ښي طرف ③ يسار: ګس طرف

تشریح ⟨ **سنة السلامين للخروج من الصلاة** ⟨ ددې عبارت حاصل دا دي چه د تشهد او نبي ﷺ باندې د درود او دعا ونيلو نه پس به دواړو طرفونو ته سلام ګرځوي.اول ښي طرف ته او بيا ګس طرف ته او د سلام الفاظ دا دی.[السلام عليكم ورحمة الله] یعنې په تاسو دے سلام وي.اودالله رحمت ،د جمهوروعالمانو ﷺ او لوئي صحابه کرامو حضرت عمر،او حضرت علی،او حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ هم دا مذهب دي.

دلیله ⟨ دلیل دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ حدیث دي.[أن النبی ﷺ کان یسلم عن یمینه حتی یری بیاض خده الأیمن وعن یساره حتی یری بیاض خده الأیسر](۱)

ماينويه عندالسلامين ؟ ⟨ ددې مسئلې مزيدوضاحت دا دي چه د اولنی سلام ګرځولو په وخت کښې به دهغه خلقو نیت کوی کوم چه دده ښي طرف ته وی.که سړی وی اوکه ښځې وی.او د حفاظت کونکو فرښتو نیت دے کوی.اودغه شان ګس طرف ته د سلام ګرځولو په وخت کښې دے دهغوی نیت کوی.څوك چه دده ګس طرف ته وی.

دلیله ⟨ دلیل دا دي.چه ددې اعمالو دارومدار په نیت دي.لکه څنګه چه په حدیث کښې دی.

نیة النساء في العهد الحاضر ⟨ صاحب دهدایه رحمه الله فرمائي.زمونږ په زمانه کښې به د ښځو نیت نه کوی.ځکه چه په دے زمانه کښې د ښځو د جماعت مانځه ته حاضرېدل په اجماع د متاخرینو سره متروك دی.

الروايتان في نية غير المشاركين في الجماعة ⟨ ① او کوم مسلمانان چه په مانځه کښې شریك نه وی.د هغوی نیت به هم نه کوی.هم دا صحیح قول دي.

② حاکم شهید رحمه الله ونیلی دی.چه د ټولو سړو او ښځو نیت دے کوی.که په مانځه کښې شریك وی

---

(۱) أخرجه النسائي في التطبيق باب ۸۳، والسهو باب ۶۸، ۷۰، ۷۱، من المجتبى وفي السنن الكبرى (۱/۳۹۴) ورواه أبوداود في الصلاة باب ۱۸۴، رقم الحديث ۹۹۶، وابن ماجه في الإقامة باب ۲۸، والدارمي في الصلاة باب ۸۷، وأحمد في المسند (۱/۱۷۲، ۱۸۱، ۳۸۶، ۳۹۰، ۳۹۴، ۴۰۶، ۴۰۸، ۴۰۹، ۴۱۴، ۴۲۷، ۴۴۴، ۴۴۸، ۴۶۵) والترمذي في الصلاة باب ۱۰۵، رقم الحديث ۲۹۵، والبيهقي في السنن الكبرى (۲/۲۵۱) رقم الحديث ۲۹۷۴)۔

اوکه نه وي.چه د تشهد سلام يعني [السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين] سره موافق شي.
د قول صحيح دليل دا دي.چه سلام تحيه دخطاب ده.او خطاب د حاضرينو حصه ده.نوچه کوم خلق په مانځه کښې شريك نه وي.هغوی به په سلام کښې شامل نه وي.

ينوي الإمام في اليمين والشمال ﴿مسئله داده..چه د سلام ګرځولو په وخت کښې د مقتدی دپاره ضروری دی.چه دے د خپل امام نيت اوکړی.امام که ښی طرف ته وی.نو ښی طرف ته په سلام ګرځولوکښې به ئې نيت کوی.اوکه ګس طرف ته وی.نو ددې طرف په سلام کښې به ئې نيت کوی.

المذهبان في نية المحاذي للإمام ﴿ ① او که مقتدی بيخی د امام نه شاه ته وو.يعني برابر وو.نو په دې صورت کښې د ابويوسف رحمه الله مذهب دا دې.چه مقتدی به ښی طرف ته په سلام ګرځولو کښې د امام نيت کوی.

دليله ﴿امام ابويوسف رحمه الله ښی طرف ته ترجيح ورکړې ده.ځکه چه په شريعت کښې تيامن معتبر دې.

② دامام محمد رحمه الله مذهب دا دې.چه په د دواړو طرفونو په سلام کښې به د امام نيت کوی. هم دا يو روايت دے د ابوحنيفه رحمه الله نه.

دليله ﴿اودامام محمد رحمه الله دليل دا دې.چه محاذی(مخامخ) د دواړو طرفونو حصه دار دې.نو ځکه د دواړو طرفونو په سلام کښې د امام نيت اوکړې شی.نو غوره به وی.

الجواب عن دليل أبي يوسف رحمه الله ﴿دويمه خبره دا ده.چه د تعارض په وخت کښې که جمع ممکن وی. نو ترجيح طرف ته به رجوع نشی کولې. ددې وجې هم امام محمد رحمه الله فرمانيلی دی.چه دواړو طرفونو په سلام کښې به د امام د سلام نيت کوی.

ما ينويه المنفرد؟ ﴿ اومنفرد به د حفاظت کونکو فرښتو نيت کوی. نه بل څوك ځکه چه دمنفرد سره د حفاظت کونکو فرښتو نه سوا بل څوك نه وی.

الأقوال الثلاثة فيمن ينويه الإمام في سلاميه ﴿مسئله:امام به په خپلو دواړو سلامونو کښې د حفاظت کونکو فرښتو او د دواړه طرف مقتديانو نيت کوی.هم دا صحيح قول دې.

② بعضو ونيلی دی.چه امام د نيت محتاج نه دې.

③ او بعضو ونيلی دی.چه په يو سلام کښې نيت کول کافی دی.

لاينوي العدد المعين في الملائكة ﴿ صاحب د هدايه رحمه الله فرمائی.چه په فرښتو کښې به د معين عدد نيت نه کوی.بلکه مطلقاً د فرښتو نيت به کوی ځکه چه دحفاظت کونکو فرښتو په شمار کښې آثار او احاديث مختلف وارد شوی دی.

الخروج من الصلاة بلفظ السلام ﴿ ① دا خبره دے ښکاره وی.چه زمونږ په نيز د سالم لفظ ادا کول واجب دی. فرض نه دی.

دليله ﴿ دليل دا دې.چه نبی ﷺ کله عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته د تشهد تعليم ورکولو.نو نبی ﷺ ابن مسعود رضي الله عنه ته فرمانيلی وو. [إذا قلت هذا أو فعلت هذا فقد تمت صلاتك فإن شئت أن تقوم فقم وإن شئت أن تقعد فاقعد] ددې حديث نه په دې طريقه استدلال کيږی.چه د الله تعالی په حقه نبی ﷺ تشهد سره د مونځ پوره کيدو حکم لګولې دې.اوده ته ئې د کيناستو او اودريدو په مينځ کښې اختيار ورکړې دې.او اختيار ورکول د څيز د فرضيت يا وجوب سره منافی وی.نو ثابته شوه.چه په مقدار د تشهد نه پس

سلام وغیره بل هیڅ څیز فرض نه دي.

الإعتراضخو که څوك اعتراض اوکړي.چه اختیار ورکول خو د وجوب سره هم منافي دی.نو پکارده چه سلام ګرځول واجب هم نه وی.حالانکه احناف عالمانو رحمهم الله دتسلیم دوجوب قائلین دی.

الجوابنو مونږ وجوب احتیاطاً دهغه حدیث د وجې ثابت کړې دې.کوم چه امام شافعی رحمه الله روایت کړې دې.یعنی [تحریمها التکبیرالحدیث] او دا حدیث خبرواحد دې.او د خبر واحد نه وجوب ثابتیږی.فرضیت نه ثابتیږی.

په قرات کښې د جهر حکم

وَيَجْهَرُ بِالْقِرَاءَةِ او قرآت باندې په جهر کوی. فِي الْفَجْرِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ د صبا او د ماښام اود ماسخوتن په اولنو دوو رکعتونو کښې إِنْ كَانَ إِمَامًا که امام وی وَيُخْفِي الْقِرَاءَةَ فِيمَا بَعْدَ الْأُولَيَيْنِ.او د اولنو رکعتونو نه روستو چه کوم رکعتونه وی په هغې کښې به قراءت په پټه لولی

حل اللغة ①یجهر، جهر جهرا (ف): ښکاره کیدل ②اولیین: اولنی دوه ③اخریین: آخرنی دوه رکعتونه

تشریحامام قدوری رحمه الله چه کله دمونځ د صفت ددې کیفیت او ددې د ارکانو، فرائضو، واجباتو اوددې دسنتونه فارغ شو.نواوس په دې مقام کښې دقرات احکام ذکرکوی.

وجوب الجهر في الجهرية والسر في السرية امام قدوری رحمه الله فرمائی.مونځ ګذار که امام وی.نو د صبا په دوو رکعتونو او دماښام او ماسخوتن په اولنودوو رکعتونو کښې په قرات باندې جهر کول واجب دی.

دلائله ① وما رواه أنس رضي الله عنه أن جبريل عليه السلام أتى النبي صلى الله عليه وسلم وفيه ثم أمهل حتى وجبت الشمس ،فصلى بهم ثلاث ركعات يجهرفي ركعتين بالقراءة ولا يجهرفي الثالثة ،ثم أمهله حتى إذا ذهب ثلث الليل صلى بهم أربع ركعات يجهرفي الأوليين بالقرأة ولا يجهرفي الأخريين بها الحديث(۱)

②دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې.[أنه قال في كل صلاة يقرأ فما أسمعنا رسول الله صلى الله عليه وسلم أسمعناكم وما أخفى علينا أخفيناعليكم] یعنی هر مونځ کښې چه د قرآن قرات کولې شی.چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په کوم کښې مونږ ته اورول کړی دی.نو مونږ تاسو ته اورول کوو.او چه په کومو کښې ئې په مونږ اخفاء کړې ده.نو مونږ ستاسو نه اخفاء کوو.

توضیح الدلیلحاصل دا چه په کومو مونځونو کښې رسول الله صلى الله عليه وسلم جهر کړی وی.اومونږ ته ئې اورول کړی دی.په هغې کښې مونږ جهر کړې دې.او تاسو ته مو اورول کړی دی.او په کومو مونځونو کښې چه نبی صلى الله عليه وسلم اخفاء کړې وه.نو په هغې کښې مونږ هم اخفاء کوو.نو معلومه شوه.چه په جهری مونځونو کښې جهر او په سری موځونو کښې اخفاء سنت سره ثابت ده.او د امت اجماع هم دلیل دې.ځکه چه د

(۱) روه الدارقطني (۱/۲٦۰) وكذا روى الزهري مرسلاً ما فيه الإسرار في الركعتين الأخريين من الظهروالعصر والمغرب والعشاء رواه أبوداود في مراسيله (ص،۱۲٤) رقم الحديث ٤۰) والحسن مرسلاً وذكرهما عبدالحق في ،،احكامه،، من جهة أبي داود وقال إن مرسل الحسن أصح)۔

نبی ﷺ د زماني نه واخله تر اوسه پورې په جهری مونځونو کښې جهر او سری مونځونو کښې په اخفاء باندې د ټول امت اجماع ده.

وَإِنْ كَانَ مُنْفَرِدًا.اوکه خانله مونځ کونکې وی فَهُوَ مُخَيَّرٌ.نو هغه ته اختيار دی إِنْ شَاءَ جَهَرَ وَأَسْمَعَ نَفْسَهُ که جهر کوی.او خپل خان ته ئې اوروی.وَإِنْ شَاءَ خَافَتَ..اوکه غواړی نو اخفاء دے کوی

تشريح> **خيار المنفرد في الجهر والإخفاء<** اوکه مونځګذار منفرد وی.نوده ته اختيار دې.که خوښه ئې وی.نو جهر دے اوکړی.اوخپل خان ته دے واوروی. اوکه خوښه ئې وی.نو اخفاء دے کوی.

دليله> په جهر کښې ورته اختيارځکه دې چه دے دخپل خان په حق کښې امام دې.اود اخفاء اختيار ورته ځکه دې چه دده سره څوک داسې کس نشته.چه دے ورته اورول اوکړی.باقی پاتې شو الله تعالی نو هغه هر پټ او ښکاره اوری.حاصل دا چه منفرد باندې نه جهر واجب دے اونه اخفاء،البته جهر افضل دې.ددې دپاره چه د منفرد مونځ د جماعت په هيئت شی

جهرالقراءة في الفجر> عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ انْطَلَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَائِفَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ عَامِدِينَ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ وَقَدْ حِيلَ بَيْنَ الشَّيَاطِينِ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ وَأُرْسِلَتْ عَلَيْهِمُ الشُّهُبُ فَرَجَعَتِ الشَّيَاطِينُ إِلَى قَوْمِهِمْ فَقَالُوا مَا لَكُمْ فَقَالُوا حِيلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ وَأُرْسِلَتْ عَلَيْنَا الشُّهُبُ قَالُوا مَا حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ إِلَّا شَيْءٌ حَدَثَ فَاضْرِبُوا مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا فَانْظُرُوا مَا هَذَا الَّذِي حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ فَانْصَرَفَ أُولَئِكَ الَّذِينَ تَوَجَّهُوا نَحْوَ تِهَامَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِنَخْلَةَ عَامِدِينَ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ وَهُوَ يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ صَلَاةَ الْفَجْرِ فَلَمَّا سَمِعُوا الْقُرْآنَ اسْتَمَعُوا لَهُ فَقَالُوا هَذَا وَاللهِ الَّذِي حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ فَهُنَالِكَ حِينَ رَجَعُوا إِلَى قَوْمِهِمْ وَقَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا فَأَنْزَلَ اللهُ عَلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ وَإِنَّمَا أُوحِيَ إِلَيْهِ قَوْلُ الْجِنِّ] [1]

جهرالقراءة في المغرب> عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ [2]

جهرالقراءة في العشاء> عَنْ عَدِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي سَفَرٍ فَقَرَأَ فِي الْعِشَاءِ فِي إِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ بِالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ [3]

په پټه د قرات لوستلو مواقع

وَيُخْفِي الْإِمَامُ الْقِرَاءَةَ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ اوامام به په ماسپخين او مازيګر کښې قرامت په پټه وائی

حل اللغة > ① يخفي، اخفى اخفاء: پټول

[1] اخرجه البخاري في الأذان باب جهرالإمام بصلاة الفجررقم ۷۳۱)

[2] اخرجه البخاري في الأذان باب الجهر في المغرب رقم ۷۲۳)

[3] اخرجه البخاري في الأذان باب الجهر في العشاء رقم ۷۲۵)

تشریح ﴿ وجوب الإخفاء في الظهر والعصر ﴾ د ماسپخین او مازیګر په مانځه کښې په امام باندې اخفاء یعنی په پټه قرآت کول واجب دی.نو هرکله چه د جماعت په حالت کښې کوم چه موجب د جهر دې.اخفاء کول واجب دی.نو په منفرد باندې به په درجه اولی په ماسپخین اومازیګر کښې اخفاء واجب وی.

دلیله ﴿ دلیل د نبی ﷺ قول [صلاة النهار عجماء] (۲) دې.یعنی د ورځې مونځونو کښې داسې قرات نشته.چه واوریدے شی.

عدم صحة تفسیر إبن عباس ﷺ ﴾ حاصل دا چه د ورځې په مونځونوکښې قرات خو شته.خو په پټه دې.په جهر نه دې.حضرت ابن عباس ﷺ ددې حدیث تفسیر داسې کړې دې.[لاقراءة في هاتين الصلاتين] یعنی د ورځې په دې دوو مونځونو کښې قرات نشته.نه په جهر او نه په پټه خو د ابن عباس ﷺ دا تفسیر صحیح نه دې.

دلیل القراءة في الظهر والعصر ﴾ اود عدم صحت دلیل دا دې.چه یو ځل خباب بن ارت ﷺ نه تپوس اوشو.[بم عرفتم قراءة رسول الله ﷺ في صلاة الظهر والعصر قال باضطراب لحيته] یعنی تاسو څنګه اوپیژندل.چه نبی ﷺ د ماسپخین او مازیګر په مانځه کښې قرات کولو.نو خباب بن ارت ﷺ اوفرمانیل. چه د نبی ﷺ د ږیرے مبارکې د ویختو په خوزیدو باندې.

دلیل القراءة في الظهر ﴾ اود حضرت ابوقتاده ﷺ نه روایت دې.[قال كان رسول الله ﷺ يسمعنا الآية والآيتين في الظهر أحياناً] فرمانی.چه رسول الله ﷺ به کله کله مونږ ته د ماسپخین په مانځه کښې یو یا دوه آیاتونه اوروول.نو معلومه شوه.چه د ورځې په مونځونو کښې قرات په پټه دې.

الجهر في الجمعة والعيدين ﴾ مسئله:د جمعې او اخترونو په مونځ کښې هم په امام باندې جهر واجب دې.

دلیله ﴾ دلیل احادیث مشهوره دی.د بخاری نه سوا د محدثینو یو جماعت روایت کړې دې. [أنه ﷺ كان يقرأ في العيدين ويوم الجمعة ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ۝﴾ و﴿هَلْ أَتٰكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ ۝﴾] او د مسلم په روایت کښې دی. [عن أبي واقد الليثي سألني عمر ما كان يقرأ به رسول الله ﷺ في الأضحى والفطر فقال كان يقرأ ب﴿ قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ۝﴾ و﴿ اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ ﴾] یعنی د ابوواقد ﷺ نه مروی دی.چه زما نه عمر ﷺ تپوس اوکړلو.چه نبی ﷺ به د لوئې او ورکوټی اخترونو په مونځونو کښې څه وئیل؟ نودوی اوفرمانیل.سورة ﴿ قٓ ﴾ او﴿ اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ ﴾ ددې روایاتو نه معلومه شوه.چه نبی ﷺ به په جمعه او اخترونو کښې جهر کولو.

كيفية الجهر في نوافل الليل والنهار ﴾ د ورځو په نفلو کښې اخفاء واجب ده.او د شپې په نوافلو کښې اختیار دې.که جهر کوی او که اخفاء

---

(۲) قال الزيلعي (نصب الراية ،۲، ۴/۲) غريب ورواه عبدالرزاق في ،،مصنفه ،، من قول مجاهد وأبي عبيدة فقال أخبرنا محمد عن عبدالكريم الجزري ،قا ل:سمعت أبا عبيدة يقول :صلاة النهار عجماء ،، إنتهى أخبرنا إبن جريج ،قال قال مجاهد صلاة النهار عجماء)

دلائله ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ يَرْفَعُ طَوْرًا وَيَخْفِضُ طَوْرًا (۱)

②دویم دلیل دا دي چه نفلي مونځ کونکې قیاس شوي دي.په مفترض منفرد باندي یعني خانله فرض مونځ کونکی باندي ،یعني لکه څنګه چه په فرضو کښې د منفرد حکم دي.چه په ورځ کښې په فرائضو باندي وجوباً اخفاء کوی.اوپه شپه کښې ده ته اختیار دي.که غواړی نو جهر دے کوی او که غواړی نو اخفاء دے کوی.

وجه القیاس>او ددي قیاس وجه دا ده.چه نفل د فرضو تکمیل دي.نو نفل د فرضو تابع شو.او د شپې په مونځونو کښې منفرد ته اختیار وی.که جهر کوی او که اخفاء.دغه شان د شپې په نفلو کښې هم اختیار دي.اوچونکه د ورځې په فرضوکښې اخفاء متعین ده.نو د ورځې په نوافلو کښې به هم اخفاء متعین وی.

کیفیة القراءة في القضاء حسب الأداء> **مسئله**> که یو کس نه د ماسخوتن یا ماښام یا صُبا مونځ قضا شو.اوبیا د نمرراختلو نه پس ددې قضا راوړی.نو ددې دوه صورتونه دی.یا خو به په جماعت سره قضا راوړی.یا به خانله قضا راوړی.که په جماعت سره قضا راوی.نو جهر به کوی.

دلیله >اودلیل دا دې.چه د لیلة التعریس په موقع چه کله نبی ﷺ د صبا د مونځ په جماعت سره قضاء راوړله .نو نبی ﷺ جهر کړې وو. (۲)

واقعة لیلة التعریس>مختصر واقعه دا ده.چه دجهاد د سفر نه په واپسئ باندې د صحابه، په درخواست باندې نبی ﷺ د لښکر سره په یوځائے کښې پړاؤ اوکړلو.اوحضرت بلال ﷺ د ویخ پاتې کیدو ذمه واری واخستله .خو اوده شو.او په هغه وخت کښې رابیدار شو.چه په دوی باندې نمر اولګیدلو.نو نبی ﷺ د هغه ځائې نه کوچ حکم اوکړلو.او وړاندې لاړل.کله چه نمر په نیزه اوچت شو.نونبی ﷺ راکوز شو.اودس ئې اوکړلو.او موذن ته ئې د ذان حکم اوکړلو.بیا ئې دوه رکعته اوکړل.یعنی د صبا سنت،بیا دمانځه دپاره اقامت اوشو.بیا د صبا مونځ اوشو.لکه څنګه چه به ئې روزانه کولو.او ښکاره ده.چه نبی ﷺ به د صبا په مانځه کښې په قرات باندې جهر کولو.نو ثابته شوه.چه نبی ﷺ به دلیلة التعریس په موقع د صبا د مونځ قضاء په قرات بالجهر سره راوړے وی.

---

(۱) أخرجه ابوداود في الصلاة باب رفع الصوت بالقراءة في الليل رقم ۱۳۲۱ رجاله ثقات).

(۲) رواه مسلم في المساجد ومواضع الصلاة رقم الحديث ۳۱۱) ومالك في الموطاء كتاب وقوت الصلاة باب النوم عن الصلاة رقم الحديث ۲۶ والبيهقي في السنن الكبرى (۵۹۳/۱) موصولاً عن سعيد بن المسيب عن أبي هريرة).

كيفية قراءة قضاء المنفرد ≺ اوكه ذكر شوې قضا مونځ خانله كوی.نو اخفاء واجب ده.او ده ته په جهر او اخفاء كښې اختيار نشته.هم دا قول صحيح دې.

دليله ≺ دعدم تخيير دليل دا دې.چه قضا د ادا موافق وی.او د شپې د موځونو په ادا كولو كښې منفرد ته اختيار دې.كه جهر كوی.اوكه اخفاء.

القاعدة في الجهر والإخفاء ≺ حاصل دا دې.چه جهر او اخفاء په شرعی توفيق باندې موقوف دی.اومونږ په شريعت كښې جهر په دوو طريقو باندې بيا موندے دې.

① يو دجهر وجوب دا په هغه وخت كښې چه په جماعت سره جهری مونځ كوی.كه ادا وی اوكه قضاء وی.

② دويم جهر مخير:دا په هغه وخت كښې دې.كله چه منفرد په وخت كښې دننه جهری مونځ كوی.او دلته چه منفرد د نمر راختو نه پس جهری مونځ كوی.نو په دواړو خبرو كښې يوه خبره هم نشته.يعنی نه په جماعت سره مونځ شته.اونه وخت،نو ځكه په دې صورت كښې نه جهر واجب دې.اونه جهر مخير،بلكه اخفاء واجب ده.

د وترو درې ركعتونه په يو سلام پوره كول

وَالْوِتْرُ ثَلَاثُ رَكَعَاتٍ اووتردرې ركعتونه دی لَا يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِسَلَامٍ.په دې كښې به په سلام سره جدائی نه كوی

حل اللغة ≺ ①لايفصل، فصل فصلاً (ض): جدا كول

تشريح ≺ **الأقوال الثلاثة في ركعات الوتر وسلامه** ≺ د وترو د ركعتونو په شمار كښې اختلاف دې.او په دې خبره كښې هم اختلاف دې.چه وتر به په يو سلام سره كوی.اوكه په دوو سلامنو سره، ① د احنافو عالمانو ﷺ په نيز د وترو درے ركعتونه په يو سلام سره واجب دی.په مينځ كښې به په سلام ګرځولو سره فصل نه كوی.

دلائله ≺ زمونږ دلائل دادی.①دحضرت عائشه ﷞ نه نقل دی.[أن النبي ﷺ كان يوتر بثلاث ركعات]

② حسن بصری ﷫ په يو سلام د وترو د درې ركعتونو اجماع نقل كړې ده.دحسن بصری ﷫ نه مروی دی.[قال أجمع المسلمون على أن الوتر ثلاث لا يسلم إلا في آخرهن] يعنی فرمائی.چه مسلمانانو په دې خبره باندې اجماع كړې ده.چه وتر درې ركعتونه دی.صرف ددې په آخر كښې به سلام ګرځوی. ③ [عن عائشة ﷞ قال كان رسول الله ﷺ لا يسلم في الركعتين الأوليين من الوتر] يعنی حضرت عائشه ﷞ فرمائی.چه نبی ﷺ به د وترو په اولنو دوو ركعتونو كښې سلام نه ګرځولو.

④د ابن مسعود ﷛ نه نقل دی.[وتر الليل ثلاث كوتر النهار] يعنی د شپې وتر درې ركعتونه دی. لكه د ورځ وتر چه درې ركعته دی.د ورځې د وترو نه مراد د ماښام مونځ دې.(فتح القدير)

⑤ابوخالد بيان كړې دې.چه ما د جليل القدر تابعی ابوالعاليه ﷫ نه د وترو په باره كښې تپوس اوكړلو.نو وے فرمائيل.[علمنا أصحاب رسول الله ﷺ أن الوتر مثل صلاة المغرب هذا وتر الليل وهذا وتر النهار] يعنی مونږ ته د نبی ﷺ صحابوﷺ تعليم راكړې دې.چه وتر د ماښام د مونځ پشان دی.دا د شپې وتر دی.او دا يعنی ماښام د ورځې وتر دی.دے نه هم معلومه شوه.چه د ماښام پشان وتر هم درې ركعتونه

دی.

⑥ من عائشة رضي الله عنها أن النبي ﷺ كان يوتر بثلاث يقرأ في الركعة الأولى ،، سبح اسم ربك،، وفي الثانية قل يا ايها الكافرون وفي الثالثة قل هو الله أحد، والمعوذتين] يعني نبي ﷺ به درې ركعته وتر كول.په اولنى ركعت كښې به ئې ﴿سبح اسم ربك﴾ او په دويم ركعت كښې به ئې ﴿قل يا ايها الكافرون﴾ او په دريم ركعت كښې به ئې ﴿قل هو الله أحد﴾ او معوذتين وئيل.

⑦ مشهور اثر دې.[نهى رسول الله ﷺ عن البتيراء] يعني نبي ﷺ د صلاة بتيراء يعني د يو ركعت كولو نه منع فرمائيلې ده.

په وترو كښې د قنوت وئيلو محل

وَيَقْنُتُ فِي الثَّالِثَةِ قَبْلَ الرُّكُوعِ اوبه دريم ركعت كښې د ركوع نه وړاندې دے قنوت وائي.

حل اللغة > ①يقنت، قنت قنوتاً (ن): اطاعت كول، په مانځه كښې اودريدل، دَ الله تعالى په وړاندې عاجزى كول، دعائې قنوت لوستل]

تشريح > **محل قنوت الوتر** > په دې عبارت كښې د دعاء قنوت محل ذكر دې. زمونږ په نيز د دعاء قنوت محل د ركوع نه وړاندې دې.

دلائله > ①دليل د ابى بن كعب رضي الله عنه روايت دې.[أن رسول الله ﷺ كان يوتر فيقنت قبل الركوع] يعني نبي ﷺ به وتر كولو.نو قنوت به ئې د ركوع نه وړاندې وئيل.كوم الفاظ چه صاحب د ،،هدايه،، بيان كړى دى.هغه د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل دى.

② [عن عاصم الأحول سألت أنساً عن القنوت في الصلاة قال نعم فقلت أكان قبل الركوع أو بعده قال قبله قلت فإن فلاناً أخبرني عنك أنك قلت بعده قال كذب إنما قنت رسول الله ﷺ بعد الركوع شهراً] يعني د عاصم احول نه نقل دى.چه ما د حضرت انس رضي الله عنه نه په مانځه كښې د قنوت په باره كښې تپوس اوكړلو.نو هغوى اوفرمائيل.آو ما تپوس اوكړلو.چه د ركوع نه وړاندې كه پس؟ وے فرمائيل.د ركوع نه وړاندې ،ما اوئې.چه فلانى ماته ستاسو د طرفه دا خبر راكړې دې.چه تاسو وائې.چه د ركوع نه پس قنوت وائې انس رضي الله عنه اوفرمائيل.چه هغه كس دروغ وائى.نبي ﷺ صرف يو مياشت د ركوع نه پس قنوت وئيلے دې.

په ټول كال كښې د قنوت وئيلو حكم

فِي جَمِيعِ السَّنَةِ په پوره كال كښې به قنوت وائى.

تشريح > **مدة القنوت** > ① په وترو كښې ټول كال دعائې قنوت وئيل واجب دى.

دليله > دليل دا حديث دې. چه نبي ﷺ حسن بن على رضي الله عنه ته د دعاء قنوت تعليم وركړلو.او بيا ئې ورته اوفرمائيل.[اجعل هذا في وترك] يعني دا دعاء په خپل وترو كښې داخله كړه.په دې كښې د رمضان او غير رمضان څه تفصيل نشته.نو پوره كال دعاء قنوت وئيل ثابت شو.

په وترو كښې د فاتحه او سورت د لوستلو حكم

وَيَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ مِنَ الْوِتْرِ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ او د وترو په هر ركعت كښې به فاتحه وَسُورَةً مَعَهَا او يو سورت به د دې سره لولى

حل اللغة ⟵ ① يقرأ، قرأ قراءة (ف): لوستل ② تيسر تيسرا: آسانيدل

تشريح ⟵ **وجوب الفاتحة وضم السورة في الوتر** ⟵ د وترو په هر رکعت کښې د سور فاتحه او بل يو سورت وئيل په اتفاق سره واجب دی.

دليله ⟵ د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز وتر اګرچه واجب دی.خو چونکه د وترو د وجوب ثبوت په سنت سره دې. او سنت مفيد د يقين نه دی.نو ځکه ددې په وجوب کښې يوقسم شك پاتې شو.نو د احتياط د وجې امام ابوحنيفه رحمه الله په هر رکعت کښې قرات واجب اوګرځولو.لکه څنګه چه په سنتو او نوافلو کښې په هر رکعت کښې قرات واجب دې.

د قنوت لوستلو طريقه

> فَإِنْ أَرَادَ أَنْ يَقْنُتَ او که قنوت وئيل غواړی كَبَّرَ نو تکبيردے اووائی وَرَفَعَ يَدَيْهِ ثُمَّ قَنَتَ. اولاسونه به پورته کړی اوبيا دې قنوت اووائی

حل اللغة ⟵ ① أراد، اراد ارادة: اراده کول ② کبر، کبر تکبيرا: لوئی بيانول، تکبير وئيل ③ رفع، رفع رفعا (ف) : اوچتول

تشريح ⟵ **تكبير القنوت** ⟵ مسئله دا ده.چه په دريم رکعت کښې د سورة فاتحه د قرات او ضم د سورت نه پس چه کله د دعاء قنوت وئيلو اراده اوکړی.نو خپل دواړه لاسونه به د غوږونو پورې پورته کړی.او تکبير دے اووائی.بيا دے دعاء قنوت اووائی.تکبير وئيل واجب دی.

دليله ⟵ دليل دا دې.چه د مصلی حالت بدل شو.په دې طريقه چه اول په حقيقی قرات کښې مشغول وو.او اوس په شبيه قرات يعنی دعاء قنوت کښې مشغوليږی.او چونکه تکبيرات مشروع شوی دی.د حالت تبديلئ په وخت کښې نو ځکه په دې موقع هم تکبير وئيل واجب دې.

الإعتراض على الدليل ⟵ خو په دې دليل باندې بعضې حضراتو رحمهم الله اعتراض کړې دې.هغه دا چه تکبير په هغه وخت کښې مشروع شوې دې.کله چه په افعالو کښې دننه تبديلی واقع شی.يعنی د يو فعل نه بل فعل ته د منتقل کيدو په وخت کښې ،لکه د ټيټيدو په وخت يا د اودريدو په وخت تکبير مشروع دې.په اقوالو کښې دننه د تبديلئ په وخت تکبير ميشروع نه دې.تاسو غور اوکړئ.چه مصلی کله ثناء اووائی.او قرات شروع کړی.نو په هغه وخت کښې تکبير نشته.حالانکه د ثناء نه پس د قرات طرف ته حالت بدليږی.نو معلومه شوه.چه د اختلاف احوال او اقوال په وخت کښې تکبير مشروع نه دې.بلکه د اختلاف افعال په وخت کښې مشروع دې.

الجواب عن الإعتراض ⟵ ددې جواب دا دې.چه په دې حالت کښې لاسونه پورته کول د نبی ﷺ د قول [لاترفع الأيدی إلا فی سبع مواطن] (۱) نه ثابت دی.او په مانځه کښې دننه بغير دتکبير نه د لاسونو اوچتولو غير مشروع دی.لکه تکبير د افتتاح او تکبيرات د اخترونو.نو په دې حديث سره تکبير وئيل هم ثابت شو.

د وترو نه سوا د قنوت وئيلو حکم

> وَلَا يَقْنُتُ فِي صَلَاةٍ غَيْرِهَا او د وترو نه سوا به په بل مونځ کښې قنوت نه وائی

---

(۱) غريبه الزيلعی رحمه الله بهذا اللفظ و نقل الهيثمی بمعناه عن ابن عباس وعزاه إلى معجم الطبرانی مجمع الزوائد (۲/۱۰۲)۔

حل اللغة ﴿ ① شهر: میاشت ②ترکه، ترك تركا (ن): پرېښودل]

تشريح ﴿ عدم القنوت في غير الوتر ﴾ د وترو نه سوا په بل مونځ کښې قنوت نشته.

دلائله ﴿ ①د احنافو رحمهم الله دليل د ابن مسعود رضي الله عنه حديث دې. [أن النبي ﷺ قنت في صلاة الفجر شهراً يدعو على حي من أحياء العرب] نبي ﷺ يوه مياشت د صبا په مانځه کښې قنوت ونيل.د عربو د يوے قبيلے دپاره ني خيرې کولې.

② په خپله د حضرت انس رضي الله عنه نه نقل دی.چه [قال قنت رسول الله ﷺ في صلاة الفجر شهراً أو قال أربعين يوما على أهل ذكوان وعصية حين قتلوا القراء وهم سبعون رجلاً أو ثمانون] يعنی نبي ﷺ يو مياشت يا څلوېښت ورځې قنوت ونيلے وو.مقصد هغه خلقو ته خيرې كول وو.چا چه اويا يا اتيا قاريان شهيدان کړی وو.ددې حديث نه هم معلومه شو.چه نبي ﷺ د صبا په مانځه کښې د څو ورځو نه علاوه دعاء قنوت نه دے ونيلې.

③ابوعثمان نهدی رحمه الله فرمائی [صليت خلف أبي بكر رضي الله عنه سنتين وصليت خلف عمر رضي الله عنه كذلك فلم أر واحداً منهما يقنت في صلاة الفجر] يعنی ما په ابوبکر او عمر رضی الله عنهما پسې دوه کاله مونځ کړې دې.خو په دوی کښې مے څوك هم د صبا په مانځه کښې د دعاء قنوت په ونيل نه دے ليدلې.

د قراءت دپاره د سورت مقرر کولو حکم

وَلَيْسَ فِي شَيْءٍ مِنَ الصَّلَوةِ قِرَاءَةُ سُوْرَةٍ بِعَيْنِهَا په هيڅ مونځ کښې د مقرر سورت لوستل نشته.لَا يَجُوْزُ بِغَيْرِهَا چه د هغې نه سوا بل جائز نه وی.وَيُكْرَهُ اومکروه دی أَنْ يَتَّخِذَ قِرَاءَةَ سُوْرَةٍ بِعَيْنِهَا لِلصَّلَاةِ چه يو معين سورة د يو مانځه د قراءت دپاره مقرر کړی لَا يَقْرَأُ فِيْهَا غَيْرَهَا چه د هغې نه سوا پکښې بل نه لولی

حل اللغة ﴿ ①لايجوز، جاز جوازا(ن): جائزکيدل

تشريح ﴿ تعيين سورة أو آية لصلاة ﴾مسئله دا ده.چه په يو مونځ کښې داسې په تعين سره يو معين سورت ونيل چه د هغې نه سوا په بل باندې مونځ جائز نه وی.ټيك نه ده.

دليله ﴾دليل دالله تعالى دا قول ﴿فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ﴾ اطلاق دې.اود اطلاق تقاضا دا ده.چه هيڅ يو سورت متعين نه وی.

كراهة تعين سورة أو آية ﴾اود يو مونځ دپاره د څه سورت يا آيت تعين کول مکروه دی.

دلائله ﴾ ① ځکه چه په دې کښې يوخود باقی قرآن پرېښودل لازميږی② او دويم د تفضيل وهم پيدا کيږی.چه دا سورت د قرآن په نورو سورتونو باندې افضل دې.حالانکه په افضيلت کښې ټول قرآن برابر دې.

د مونځ د صحت دپاره د کم نه کم قرات اندازه

وَأَدْنٰى مَا يُجْزِءُ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِي الصَّلَاةِ اود قرات ادنی مقدار کوم چه په مونځ کښې کافي کيږی.مَا يَتَنَاوَلُهُ اِسْمُ الْقُرْاٰنِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رحمه الله هغه چه شامليږی هغې ته نوم د قرآن د امام ابوحنيفه رحمه الله وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ اوصاحبين رحمهما الله فرمائی.لَا يَجُوْزُ جائز نه دی أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثِ

آيَاتٍ قِصَارٍ أَوْآيَةٍ طَوِيلَةٍ په کم د درې ورو آياتونه يا يو اوږد آيت نه بغير

حل اللغة ﴿ ①يجزى، اجز اجزاء: كفايت كول، بدله وركول ②قصار: وړوکې

تشريح ﴿ **ادنى مايجوز به الصلاة** ﴾ په دې عبارت کښې د [مايجوز به الصلاة] مقدار بيانيږی.که په حضر کښې وی اوکه په سفر کښې وی.نو فرمائی.چه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د قرات ادنى مقدار چه په هغې باندې مونځ جائز کيږی.يو آيت دې.نو که يوآيت په دوو کلمو يا په زياتو مشتمل وی.نو په اتفاق د مشانخو پرے مونځ جائز دې.لکه د الله تعالى قول ﴿ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ۝ ثُمَّ نَظَرَ ۝﴾

دليله ﴿ دليل د الله تعالى قول دې.چه ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ په دې باندې استدلال داسې دې.چه دا مطلق دې.په دې کښې د آيت او ما فوق الآيت څه تفصيل نشته.نو لکه څنګه چه مافوق الآية د جواز الصلاة دپاره کافی دی.دغه شان يو آيت هم کافی دې.او ددې وجه دا ده.چه يو آيت په حقيقت کښې هم قرآن دې. او حکماً هم،حقيقتاً قرآن کيدل خو ښکاره خبره ده.او حکماً څکه دې.چه د يو آيت قرات په حائضه او جنب باندې حرام دې.نو يو آيت به د قرآن په اطلاق کښې داخل وی.

الإشكال ﴿ خو په دې باندې اشکال کيږی.هغه دا چه که ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ مطلق دی.او په دې کښې څه تفصيل نه وی.نو لکه څنګه چه يو آيت دجواز دپاره کافی دې.نو دغه شان د يو آيت نه کم باندې به هم مونځ جائز وی.څکه چه اطلاق دواړو ته شامل دې.حالانکه د آيت نه په کم باندې مونځ جائز نه دې.نودغه شان په يو آيت باندې هم پکار ده چه مونځ جائز نه شی.حالانکه امام صاحب د جواز قائل دې.

الجواب ﴿ ددې جواب دا دې.چه د آيت نه کم په اجماع سره د قرآن په اطلاق کښې داخل نه دې.څکه چه مطلق کله اونيلی شی.نو ددې نه د هغې فرد کامل مراد وی.او د قرآن فرد کامل هغه دې.کوم چه په حقيقت کښې هم قرآن وی.او په حکم کښې هم قرآن وی.د آيت نه کم اګرچه په حقيقت کښې قرآن دې. ليکن حکماً قرآن نه دې.نوځکه د آيت نه د کم قرات د جنب او حائضے دپاره جائز دې.نو د آيت نه کم په اجماع سره په ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ کښې داخل نه دې.

الاعتراض ﴿ اوکه څوک دا اووائی.چه کله [مادون الآية] د قرآن په اطلاق کښې داخل نه دې.نو آيت دے هم ددې سره لاحق کړې شی.

الجواب ﴿ نو ددې جواب صاحب دهدايه رحمه الله دا ورکړې دې.چه آيت د [مادون الآية] په معنی کښې نه دې.نو ددې وجې د [مادون الآية] سره نه لاحق کيږی.

مذهب الصاحبين رحمهما الله ﴾ صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه د [مايجوز به الصلاة] مقدار درې واړه آياتونه دی.يا يولوئې آيت لکه آية الکرسی او آيت مداينه .

دليلهما ﴾ دصاحبينو رحمهما الله دليل دا دې. چه د ورو درې آياتونو يا يو لوئې آيت نه کوم لوستونکی ته به عام عرف کښې قاری د قرآن نشی وئيلې.نودده قرآن به د مادون الآية د قرآت سره مشابه نه وی.او مادون الآية د مانځه دپاره کافی نه دې.نو د دريو ورو آياتونو يا د يو لوئې آيت نه کم قرات هم کافی نه وی.د صاحبينو رحمهما الله د دليل حاصل دا دې.چه يو آيت اګرچه په حقيقت کښې قرآن دې.خو په عرف

کښې په درې ورو آیاتونو یا یو لوئې آیت باندې د قرآن اطلاق کیږی.نوځکه به دے طرف ته رجوع کولې شی.

د وترو احکام

حکم الوتر> د وترو په مسئله کښې د امام ابوحنیفه مذهب دا دې چه وتر واجب دی.

دلائله> ① سردار دوجهان ﷺ فرمائیلی دی.[الوتر حق واجب فمن لم یوتر فلیس منا] یعنی وتر حق واجب دی.چا چه وتر اونکړلو.نو هغه زمونږ نه نهٔ دې.(ابوداود) په مسلم شریف کښې د ابوسعید خدری ﷺ حدیث دې.[أن النبی ﷺ قال أوتروا قبل أن تصبحوا] یعنی نبی ﷺ فرمائیلی دی.د صبا راختو نه وړاندې وړاندې وتر کوئ.په دې حدیث کښې [اوتروا] د امر صیغه ده.او په وجوب باندې دلالت کوی.

② د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل د نبی ﷺ دا ارشاد دې.[إن الله تعالى زادكم صلاة ألا وهى الوتر فصلوها ما بين العشاء إلى طلوع الفجر]

الإستدلال بالوجوه الثلاثة لوجوب الوتر من الحديث> صاحب د عنایه رحمه الله لیکلی دی.چه ددې حدیث نه په درې طریقو سره استدلال شوې دې. ① اول دا چه د زیادت نسبت الله تعالی ته شوې دې.اود سنتو نسبت رسول الله ﷺ ته کیږی.نو که وتر سنت وې.نو په حدیث کښې به الله تعالی ته د نسبت په ځائې رسول ﷺ ته شوې وو.خو چونکه نبی ﷺ ته نسبت نه دے شوې.نو د وترو مونځ سنت نه دې.بلکه واجب دې.

②دویم دا چه په یو څیز باندې زیادت په هغه وخت کښې کیږی.چه [شئ مزید علیه] (په کوم چه زیادت شوی وی.) محدود العدد وی.او دا خبره منلې شوې ده.چه نوافل غیر محدود دی.ددې څه انتهاء نشته.نو زیادت په فرائضو کښې کیږی.ځکه چه محدود العدد دی.او چونکه مزید (د کوم چه زیادت شوی وی) د مزید علیه د جنس نه کیدل ضروری دی.نوځکه ددې مقتضی دا ده.چه په فرائضو د کوم څیز زیادت شوی وی.یعنی وتر دے هم فرض وی.خو چونکه حدیث خبر واحد دې.او دا غیر قطعی دلیل دې.او په دلیل غیر قطعی سره واجب نه ثابتیږی .اونه پرے فرض ثابتیږی.نو ځکه وتر واجب نه دی.

③ دریم دا چه په ذکر شوی حدیث کښې [فصلوها] د امر صیغه ده.او امر دپاره د وجوب وی. نو ددې نه هم د وجوب ثبوت کیږی.

مذهب الصاحبين> دویم دا چه وتر سنت موکده دی.هم دا صاحبینو رحمهما الله او امام شافعی رحمه الله اختیار کړے دې.

دلائلهما> ①د صاحبینو رحمهما الله دلیل دا دې.چه په وترو کښې د سنتو آثار ښکاره دی. مثلاً د سنتو پشان د وترو منکر هم کافر نه دې.او نه د وترو دپاره اذان کولې شی.لکه د سنتو دپاره چه اذان نشته.نو معلومه شوه. چه وتر سنت دی.

الجواب عنه> خو د دې نه جواب دا دې.چه د وترو منکر ځکه کافر نه دې.چه د وترو ثبوت په سنت غیر متواتره سره دې.او دا چه د امام ابوحنیفه رحمه الله نه روایت شوې دې.چه وتر سنت دی.ددې معنی هم دا ده.چه د وترو ثبوت په سنت سره شوې دې.او چونکه د وترو مونځ د ماسخوتن په وخت کښې ادا

کولې شي.نو ځکه د ماسخوتن په اذان او اقامت باندې اکتفاء کړې شوې ده.د وترو دپاره د ځانله اذان او اقامت ضرورت نشته.

④ صاحب د شرح نقایه رحمه الله د صاحبینو رحمهما الله د طرفه نقلي دليل بيان کړې دې.دليل دا دې.چه نبي ﷺ يو باندې چې ته اوفرمائيل.[خمس صلاة كتبهن الله عليك قال هل علي غيرها قال لا إلا أن تطوع] يعنى الله تعالى په تا باندې پنځه مونځونه فرض کړې دي.باندېچي اوونيل.آيا ددې نه علاوه هم په ما باندې فرض شته.نبي ﷺ اوفرمائيل.نه مګردا چه نفل کوې.ددې حديث نه معلومه شوه.چه د پنځه وخته مونځونو نه علاوه باقي ټول نفل دي.نود وترو وجوب نه ثابتيږي.ځکه چه وتر د پنځو مونځونو نه علاوه دی.

الجواب عنه > خود دې نه جواب دا دې.چه دا حديث د وجوب وتر نه وراندې دې.

⑤ دويم دا چه په صحيحنوکښې د ابن عمر رضي الله عنهما نه نقل دی.[أن النبي ﷺ أوتر على البعير] يعنى نبي کريم ﷺ وتر په سورلۍ باندې کړې دی.او دا خبره ښکاره ده.چه په سورلۍ باندې نفل مونځ ادا کيږي. فرض او واجب نه ادا کيږي.که وتر واجب مونځ وو.نو نبي ﷺ به په سورباندې نه وو ادا کړې.

الجواب عنه > خو ددې جواب د طحاوی رحمه الله د قول مطابق دا دې. چه حديث د ابن عمر د حديث حنظله بن ابی سفيان عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنهما سره معارض دې.د حنظله د حديث الفاظ دا دی.[أنه كان يصلي على راحلته ويوتر بالأرض ويزعم أن النبي ﷺ فعل ذلك] يعنى ابن عمر رضي الله عنهما به په خپله سورلۍ باندې مونځ کولو.خووتر به ئې په زمکه کولو.او ابن عمر رضي الله عنهما به فرمائيل.چه نبي ﷺ داسې کړې دی.يعنى وتر به په زمکه باندې ادا کولو.نو هرکله چه د ابن عمر رضي الله عنهما په دواړو روايـاتونو کښې تعارض راغلو.نودواړه ساقط شول.

د قرات خلف الامام شرعي حکم

وَلَا يَقْرَأُ الْمُؤْتَمُّ خَلْفَ الْإِمَامِ او مقتدی به په امام پسې شاته قرآت نه کوی

حل اللغة > ①لايقرا ، قرا قراءة (ف): لوستل ②موتم: مقتدی ③حظ: صحه ④انصات:چپ پاتې کيدل ⑤استماع: غوږ کيخودوسره اوريدل]

تشريح > **عدم قراءة الفاتحة خلف الإمام** > امام قدوری رحمه الله د احنافو رحمهم الله مسلك نقل کوی.اوفرمائی.چه مقتدی به په امام پسې بيخي قرات نه وائي.نه فاتحه او نه سورت،که جهري مونځ وی اوکه سری مونځ وی. قرات خلف الامام مکروه دې.ځکه چه د قرات خلف الامام په باره کښې وعيد راغلې دې[1][2]

---

[1] البته دامام محمد رحمه الله نه يو روايت دا دې.چه د احتياط دپاره قرات فاتحه خلف الامام مستحسن دې.ځکه چه د عباده بن صامت رضي الله عنه حديث کښې دی.چه [لا تفعلوا ذلك إلا بفاتحة الكتاب فإنه لا صلاة لمن لم يقرأها]

[2] **مذهب الشافعي** رحمه الله :- دامام شافعی رحمه الله په سورة فاتحه کښې اختلاف دې.يعنى په مقتدی باندې د امام شاه ته فاتحه ونيل واجب ده.دامام شافعی رحمه الله قديم قول خو دا دې.چه په مقتدی باندې په سری منځ کښې چه په کومو رکعتونو کښې جهر نه وی.په هغې کښې فاتحه ونيل واجب دی.هم دا د امام

دلائله ① دلیل د نبی ﷺ ارشاد دی.[من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة] وجه د استدلال دا ده.چه دامام قرات حکماً د مقدی دپاره کافی کیږی.نو هرکله چه د مقتدی دپاره حکماً قرات موجود شو.نو اوس به مقتدی دوباره قرات نه کوی.گنی د مقتدی به دوباره قرات کول لازم شی.حالانکه په مانځه کښې دوباره قرات کول مشروع نه دی.

② نبی ﷺ فرمائیلی دی.[إذا قرأ فأنصتوا] کله چه امام قرات کوی.نو تاسو چپ اوسئ.

③ او دالله تعالی ارشاد دی.﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ یعنی کله چه قرآن لوستلے شی.نو تاسو غوږ ایږدئ .اوچپ اوسئ.اودا آیت د مونځ په باره کښې نازل شوی دی.ځکه چه د ابن عباس ﷠ نه مروی دی.چه [أن أصحاب رسول الله ﷺ قرأوا خلفه فخلطوا عليه القراءة فنزلت] یعنی د رسول الله ﷺ صحابوﷺ په نبی ﷺ پسې قرات لوستلو.نو نبی ﷺ باندې په قرات کښې گډوډے راغلو.نو دا آیت نازل شو.

④ د ابوهریره ﷜ نه روایت دی.[أنه ﷺ قال إنما جعل الإمام ليؤتم به فإذا كبر فكبروا وإذا قرأ فأنصتوا] یعنی امام ددې دپاره مقرر شوی دی.چه دده اقتداء اوکړې شی.کله چه هغه تکبیر وائی.نو تاسو هم تکبیر وائې.او کله چه هغه قرات وائی.نوتاسو چپ اوسئ.

⑤ نبی ﷺ فرمائیلی دی.[من قرأ خلف الإمام ففى فيه جمرة وقال قد خطأ السنة]کوم کس چه په امام پسې قرات اووائی.نودهغه په خوله کښې سکروټه واچوئ.اووے فرمائیل.چه ده د سنت نه خلاف اوکړلو.

⑥ د سعد بن ابی وقاص ﷜ نه نقل دی.[أنه قال من قرأ خلف الإمام فسدت صلاته] یعنی کوم کس چه په امام پسې قرات اوونل.نو د ده مونځ فاسد شو.

⑦ دحضرت عمربن خطاب ﷜ نه نقل دی.[قال ليت فى فم الذى يقرأ خلف الإمام حجرا أو غيرذلك] عمربن خطاب ﷜ فرمائی.کوم کس چه په امام پسې قرات وائی. کاش چه دده په خوله کښې کاڼړے وی.

وَمَنْ أَرَادَ الدُّخُولَ فِي صَلَاةِ غَيْرِهِ اوخوک چه اراده اوکړی د داخلیدو په مانځه د بل چا کښې يَحْتَاجُ إِلَى نِيَّتَيْنِ نو دې محتاج دې دوو نیتونو ته نِيَّةُ الصَّلَاةِ وَنِيَّةُ الْمُتَابَعَةِ نیت د مانځه اونیت د تابعداری داما م

تشریح په دې عبارت کښې صاحب د قدوری ﷫ فرمائی کله چې یو کس د بل چا په مانځه کښې د داخلیدو اراده اوکړی یعنی په هغه پسې اقتداء کول غواړی نو ده دپاره دوه څیزونه ضروری دی یو د مانځه د نیت چې زه دا فلانې مونځ کوم مثلاً د صبا مونځ کوم او دویم د امام د تابعدارئ نیت کول ورله هم ضروری دی.چې زه په دې امام پسې اقتداء کوم باقی د معین امام نیت ضروری نه دې بلکه د مطلق امام د تابعدارئ نیت به کوی.ځکه که ده د یو معین امام مثلاً په زید پسې د اقتداء نیت اوکړو.او هغه بې اودسه شو عمرو ئې خپل خلیفه جوړ کړو.نو

مالک ﷫ قول دی. اود امام شافعی ﷫ قول جدید او صحیح مذهب دا دی. چه په مقتدی باندې په هر مانځه کښې فاتحه ونیل واجب دی.که جهری مونځ وی اوکه سری وی.

په دې صورت کښې به د ده مونځ ماتيږي.نو د دې وجې د مطلق امام د تابعدارئ نيت پکار دې.

د امامت د احکامو بيان

بَابُ الْإِمَامَةِ

ترجمه> (دا) باب د امامت (د احکامو په بيان کښې) دې

د جماعت شرعي حيثيت

وَالْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ جماعت سنت موکده دې.

حل اللغة > ①لايتخلف، تخلف تخلفا: روستو پاتې کيدل]

تشريح> الربط بما قبله>امام قدوری رحمه الله ورانديې د امام د افعالوذکر اوکړل.يعنې وجوب جهر او جوب اخفاء تحديد د قرات او د مقتدي د افعالو ذکر ئې اوکړلويعنې وجوب استماع او انصات،اوس دلته د امامت د مشروعيت صفت بيانوي.نو د ټولونه وړانديې د امام ذکر کوی.په دې پسې د امامت دخواصو بيان دې.

حکم الجماعة>جماعت سنت موکده دې.ځکه چه نبی ﷺ فرمائيلي دی.جماعت د سنن هدى ځنې دې.ددې نه به صرف منافق پاتې کيږي.

قسمُ السنة>سنت په دوه قسمه دې.سنن هدى او دويم سنن زائد ، ①سنن هدى هغه دی.په کوم باندې چه نبی کريم ﷺ په طريق د عبادت مواظبت کړې وی.خو کله کله ئې پريخودلې وی.ددې پريخودل ضلالت دې.اودا په شعائرو داسلام کښې دې.

②اوسنت زائده هغه دې.کوم چه نبی ﷺ په طريقه دعادت کړې وی.ددې په پريخودلو کښې څه حرج نشته.لکه د تهجدو مونځ، بهرحال جماعت سنت موکده دې.بغير د عذر نه ددې پريخودل جائز نه دی.ترديے که د يو ښار خلق جماعت پريږدی.نوهغوی ته به د جماعت د مونځ کولو حکم کولې شی.که هغوی په دې باندې عمل اوکړلو.نو ډيره ښه ده.ګنې هغوی سره قتال کول جائز دې.

دلائل سنية الجماعة موكدا>د جماعت د سنت موکده کيدو تائيد ددې احاديثو نه هم کيږي.کوم چه د جماعت په فضيلت کښې راغلي دی

① نبی ﷺ فرمائيلي دی. الجماعة سنة من سنن الهدى لايتخلف عنها إلا منافق.جماعت د سنن هدی ځنې دې ددې نه به نه پاتې کيږي.مګر منافق.(۱)

② د نبی ﷺ ارشاد دې. [صلاة الجماعة أفضل من صلاة أحدكم وحده بخمسة وعشرين درجة] يعنې د جماعت مونځ د خانله مونځ په نسبت يو په پنځويشت درجے افضل دی.او په يو روايت کښې دی.چه په اوويشت درجے افضل دې.

③امام ابوداؤد ،ترمذی،او ابن ماجه د ابی بن کعب رضي الله عنه په حديث کښې روايت کړی دی.[صلاة الرجل مع الرجل أزكى من صلاته وحده، وصلاة الرجل مع الرجلين أزكى من صلاته مع رجل وما زاد فهو أحب إلى الله تعالى] يعنې

---

(۱) حديث عبدالله بن مسعود رضي الله عنه رواه مسلم في المساجد ومواضع الصلاة رقم۲۵٦، و ۲۵۷۔

د دوو کسانو جماعت د خان له کس دمونځ نه غوره دې.اوددوو کسانو مونځ د درې کسانو دجماعت نه غوره دې.او څومره چه زیات وی.دالله تعالی خوښ وی.

د امامت زیات حقدار

وَأَوْلَى النَّاسِ بِالْإِمَامَةِ اوپه خلقو کښې دامامت دپاره ښه حقدار هغه دې أَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ کوم کس چه د ټولونه زیات په سنت عالم وی.

حل اللغة ۞ لابد: ضروری، د کوم نه چه بغیرڅه لار نه وی ② نقول، قال قولاً(ن): وینا کول ③سائر: ټول]

تشریح ۞ **من هو أحق بالإمامة** ۞ د امامت د ټولو نه زیات مستحق هغه کس دې.څوک چه سنتو باندې زیات واقف وی.یعنی دهغه احکامو زیات پیژندونکې وی.کوم چه د مانځه سره متعلق وی.مثلاً د مانځه شرطونه د مانځه ارکان د مانځه سنتونه اوددې آداب،خو په دې شرط چه [مایجوز به الصلاة] قرات باندې قدرت لری.

دلائله ۞ ① نبی ﷺ فرمائیلی دی. [یؤم القوم أقدمهم هجرة فإن کانوا فی الهجرة سواء فأفقههم فی الدین فإن کانوا فی الفقه سواء فأقرءهم للقرآن] (شرح نقایه) یعنی قوم ته به امامت هغه کس ورکوی.چه په هجرت کښې مقدم وی.اوکه په هجرت کښې ټول برابر وی.نوپه دې کښې زیات پوهه به امامت ورکوی.اوکه په فقاهت کښې هم ټول برابر وی.نوچه د قرآن ښه قاری وی.هغه به امات ورکوی.په دې حدیث کښې افقه في الدین په یعنی اعلم ته په اقرا باندې مقدم کړې شوې دې.

② حضرت انس رضی الله عنه حدیث دې. [إن الذین جمعوا القرآن علی عهد رسول الله ﷺ أربعة کلهم من الأنصار أبی بن کعب ومعاذ بن جبل وزید بن ثابت وابوزید رضی الله عنهم فهولاء أکثر قراءة من أبی بکر رضی الله عنه حتی قال ﷺ أقرئکم أبی رضی الله عنه] یعنی د نبی ﷺ په زمانه کښې څلور کسان جامع د قرآن وو.و ددې څلورو وارو تعلق دانصارو سره وو.ابی بن کعب، معاذ بن جبل، زید بن ثابت رضی الله عنه او ابوزید رضی الله عنه نو دا څلور واړه ابوبکر رضی الله عنه ته به نسبت سره په قرآن ښه پوهیدونکی وو.خو دے باوجود نبی ﷺ د امامت ورکولو دپاره ابوبکر رضی الله عنه وراندې کړلو.نو معلومه شوه.که په اقرا او اعلم کښې مقابله راشی.نو ،،اعلم،، به مقدم کولې شی ګنی ،اقرا (به وراندې کولې شی)

په علمیت کښې د برابرۍ نه پس د امامت حقدار

فَإِنْ تَسَاوَوْابیا که په علم کښې ټول برابر وو فَأَقْرَؤُهُمْ.نو په دوی کښې چه څوک زیات قاری وی هغه به حقداروی.

حل اللغة ۞ ① تساووا، تساوی تساویًا: برابرکیدل ② اقرا: د ټولونه زیات قراءت کونکې]

تشریح ۞ **تقدیم الأقرء بعد العالم بالسنة** ۞ مسئله دا ده.که ،،اعلم بالسنة،، کښې دټول جماعت خلق برابر وی.نو اوس به په دوئ کښې چه څوک قاری وی.هغه به حقداروی.

دلیله >دلیل د نبی ﷺ قول دی.[یؤم القوم أقرأهم لکتاب الله فإن کانوا سواء فأعلمهم بالسنة] په دی حدیث باندې وجه د استدلال ښکاره ده.خو په دوو طریقو باندې اعتراض کیږی.(۱)

الإعتراض الأول> اولنۍ اعتراض دا کیږی.چه [یؤم القوم] د امر په معنی کښې دی.او امر د وجوب دپاره وی.نو کوم ترتیب چه په حدیث کښې ذکر دی.دهغې خیال ساتل واجب دی. یعنی ،،اقرأ،، به په ،،اعلم،، باندې مقدم وی.حالانکه داسې نه ده.ځکه چه ذکرشوې ترتیب د افضلیت د بیان دپاره دی.د جواز د بیان دپاره نه دی.

الجواب عنه > ددې نه جواب دا دی.چه په [یؤم القوم] کښې امرنه دی. بلکه صیغه د اخبار ده.د بیان مشروعیت دپاره،او دا حقیقت او قاعده ده.چه تر څو پورې په حقیقت باندې عمل کول ممکن وی.نو مجاز ته به تګ نشی کولې.نوځکه به دلته مجاز ته تګ نشی کولې.اودا صیغه د امر په معنی کښې نه ده.

الإعتراض الثاني> دویم اعتراض دا دی.چه په دې حدیث باندې استدلال د مدعی خلاف دی. حالانکه مدعی د ،،اعلم بالسنة،، تقدیم دی.او حدیث دلالت کوی.په ،،اقرا لکتاب الله،، په تقدیم باندې ،نودا حدیث په استدلال کښې پیش کولو دپاره څنګه صحیح کیدے شی؟

الجواب عنه > ددې نه جواب دا دی.چه صحابه کرام ﷺ ټول قاریان وو.او عالمان هم وو.ځکه چه په هغه زمانه کښې به خلقو قرآن د هغه د احکامو سره یادولو.دحضرت عمر ﷺ نه نقل دی.چه دوی په دولس کاله کښې سورة بقره یاد کړې وه.ښکاره ده.چه حضرت عمر ﷺ په دومره اوږده موده کښې سورة بقره د احکامو سره یاده کړې وه.نود صحابه کرامو ﷺ په زمانه کښې چه به څوک ،،اقرا،، وو.هغه به ،،اعلم،، هم وو.نوځکه په حدیث کښې ،،اقرا،، ته په اعلم،، باندې تقدیم ورکړې شوې دی.او زمونږ په زمانه کښې چونکه داسې نه دی.نوځکه مونږ ،،اعلم،، ته په ،،اقرا،، باندې تقدیم ورکوو.

په علم او قرات کښې د برابرۍ په صورت کښې دامامت حقدار

فَإِنْ تَسَاوَوْا بیا که په علم او قرات کښې برابر وی. فَأَوْرَعُهُمْ نو په دوی کښې چه څوک ،،اورع،، (زیات تقوی دار) وی. هغه حقداردی

حل اللغة >① اورع: د ټولونه زیات متقی

تشریح> الفرق بین الورع والتقوی >په ورع او تقوی کښې فرق دا دی.ورع وائی.د شبهاتو نه پرهیزکولو ته او تقوی وائی دمحرماتو نه ځان ساتلو ته.

إستحقاق الأورع بعدالأقرأ>مسئله دا ده.که د جماعت ټول خلق په علم او قرات کښې برابر وو.نو په دوی کښې اورع حقدار دی.

دلیله >دلیل د نبی ﷺ قول دی.[من صلی خلف عالم تقی فکأنما صلی خلف نبی ﷺ](۱) ددې حدیث په باره کښې ملاعلی قاری رحمه الله فرمائیلی دی.چه دا حدیث موضوعی دی.

(۱) حدیث ابومسعود الأنصاری ﷺ رواه مسلم في المساجد ومواضع لاصلاة رقم ۲۹۰، ۲۹۱، ابوداود في الصلاة باب ۶۰،رقم ۵۸۴، والترمذی في الصلاة باب ۶۰ رقم ۲۳۵ والنسائی في الإمامة باب ۳، ۶ وابن ماجه في الإقامة باب ۴۶ واحمد في المسند (۱/۱۱۸، ۱۲۱، ۱۲۲ ورواه ایضاً ابوداود الطیالسی رقم ۶۱۸ و ابن الجارود (۱۵۵)۔

دامامت دپاره د تقوی نه پس د استحقاق صفت

فَإِنْ تَسَاوَوْابيا که په ذکر شوو څیزونو کښې ټول برابر وو فَأَسَنُّهُمْ.نو څوك چه په دې کښې عمر په اعتبار سره مشر وی.هغه به حقداروی

حل اللغة >① اسن: بوډا ② تکثیر: زیاتول]

تشریح > **تقدیم الأسن بعد الأورع**>مسئله دا ده.که په ذکر شوو څیزونو کښې د جماعت ټول خلق برابر وی.نو په دوی کښې چه څوك زیات مشر وی.هغه دامامت دپاره زیات مناسب دې.

دلائله > ①دلیل دنبی ﷺ قول دې.د ابوملیکه رضي الله عنه دوو خامنو ته [وليؤمكماأكبركماسناً](۱)

②دویم دلیل دا دے چه دمشر سړی په وړاندې کولو کښې د جماعت زیادت وی.او وړاندې تیرشوی دی.چه د جماعت زیادت الله تعالی ته زیات خوښ دې.او په حدیث کښې فرمائی.[من لم يوقر كبيرنا فليس منا] اوکله چه تې دے خپل امام جوړ کړلو.نودا دده په عزت کښې بےادبی نه پاتې کیږی.

من يؤم بعدالأسن؟ >امام قدوری دا نه دی وئیلې.که ټول په عمر کښې برابر وو.نو بیا به څوك غوره وی.حالانکه د دوی نه سوا نورو فقهاؤ لیکلی دی.که ټول په عمر کښې برابر وی.نوپه دوی کښې د ښه اخلاقو خاوند به غوره وی.ځکه چه په حدیث کښې فرمائیلی شوی دی.[خیارکم أحسنکم أخلاقاً] او که په اخلاقو کښې ټول برابر وی.نو په دوی کښې چه څوك زیات ښکلې وی. هغه به دامامت دپاره غوره وی.

خلاصة الكلام>حاصل دا دې.چه د امامت دټولو نه زیات مستحق هغه دې.څوك چه په علم، قرات،صلاح، نسب، اخلاق، ښکلې والی ،په دې ټولو څیزونو کښې په قوم کښې غوره وی.ځکه چه په دې کښې د نبی ﷺ اقتداء ده.ځکه چه نبی ﷺ ترمرګه پورې امامتی کړې ده.او نبی ﷺ په دې ذکر شوو صفاتو کښې د ټولو نه زیات وړاندې وو.ثم الافضل فالافضل

د مکروه الامامت کسانو بیان

وَيُكْرَهُ تَقْدِيمُ الْعَبْدِاو غلام وړاندې کول مکروه دی وَالْأَعْرَابِي اوباندیچی وَالْفَاسِقِ اود فاسق(امامت مکروه دې)وَالْأَعْمٰى او د ړوند، (امامت مکروه دې)وولد الزنااو د ولد الزنا (امامت مکروه دې) فَإِنْ تَقَدَّمُوْاجَازَ.اوکه دا کسان وړاندې شو.نو جائز دی.

حل اللغة >① تقدیم: وړاندې کول

(۱)خرجه الزيلعی هذا للفظ ثم ذكر ما هو بمعناه عن مرثد بن ابی مرثد الغنوی رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ (من سركم أن تقبل صلاتكم فليؤمكم علماؤكم فإنهم وفدكم فيما بينكم وبين ربكم مجمع الزوائد للهيثمی (۲/٦٤) والحاكم في المستدرك في كتاب الفضائل (۳/۲۲۲)-

(۱)حديث مالك بن الحويرث رضي الله عنه رواه البخاری عن مالك بن الحويرث رضي الله عنه في الأذان باب الأذان للمسافر رقم،٥٩٤، ومسلم في المساجد باب من أحق بالإمامة رقم ۱۰۸۱، والترمذی في الصلاة وابن ماجه في الأذن في الصف رقم ۱۸۹ والنسائی في الأذان باب ....اذان المنفردين في السفر رقم ٦٣٠، وأبوداود في الصلاة باب من أحق بالإمامة رقم ٤٩٨، وابن ماجه في إقامة الصلاة باب من أحق بالإمامة رقم ،٩٦٩)۔

تشریح> كراهة إمامة العبد> مسئله دا ده.چه غلام د امامت دپاره وراندې کول مکروه دی.اګرچه هغه آزاد شوې وی.یعنی که آزاد شوې غلام او اصلي آزاد جمع شي.نو اصلي آزاد د امامت زیاد مستحق دې.

دليله> دلیل دا دې.چه غلام ته د مونځ د احکامو ایزده کولو فرصت نه ملاویږی.څکه په هغه پسې مونځ کول مکروه دې.

كراهة إمامة الأعرابي> د بانډیچی وراندې کول هم مکروه دی.

دليلاه> ① څکه چه په دوی کښې د جهالت غلبه وی.

② دغه شان دنبی ﷺ قول دې.[ألا لايؤمن إمرأة رجلاً ولا أعرابي] خبردار ښځه دے سړی ته امامت نه ورکوی اونه بانډیچی،

كراهة إمامة الفاسق> اود فاسق وراندې کول هم مکروه دی.

دليله> څکه چه دے د دین په معامله کښې اهتمام نه کوی.

كراهة إمامة الأعمي> د امامت دپاره روند وراندې کول هم مکروه دی.

دليله> څکه چه هغه د روندوالی د وجے د پلیتئ نه ځان نشی بچ کیدې.

كراهة إمامة ولد الزنا> اوولدالزنا وراندې کول هم مکروه دی.

دليله> څکه چه د هغه پلار نه وی.چه په هغه باندے شفقت اوکړی.هغه ته ادب اوښائی.او هغه ته تعلیم ورکړی.

الدليل المشترك> صاحب دهدایه رحمه الله د مشترکه دلیل په طور فرمانیلی دی.چه ددې کسانو وراندې کول د جماعت د خلقو د نفرت سبب دې.نوځکه د دوی وراندې کول مکروه دی.البته که دا خلق په خپله وراندې شول.نو مونځ جائزدې.څکه چه نبی ﷺ فرمانیلی دی. [صلوا خلف كل بر وفاجر] وجه د استدلال دا ده.چه په ذکر شوو خلقو کښې هر یو به یا نیک وی یا بد،نو په هغوی پسې په هر حالت کښې مونځ جائز دې.

د اوږد مونځ حکم

وَيَنبَغِي لِلْإِمَامِ أَن لَا يُطَوِّلَ بِهِمُ الصَّلَاةَ او د امام دپاره مناسب دی چه په مقتدیانو مونځ نه اوږدوی.

حل اللغة > ①اضعف: د تولونه زیات ضعیف② مریض: ناجوړه]

تشريح> كراهة تطويل القراءة للإمام> مسئله :امام به خلقو ته اوږد مونځ نه ورکوی.دلیل دادې.چه نبی ﷺ فرمانیلی دی.څکه چه قوم ته امامتی کوی.نو په هغوی کښې دے د هغوی د کمزوری سړی مونځ کوی.(۱)

دليله> دلیل دا دې چه په مقتدیانو کښې بیماران هم وی اوبوډاګان هم،او ضرورت منده،اود معاذ بن جبل رضي الله عنه حدیث هم مستدل دې.څکه چه معاذ رضي الله عنه خپل قوم ته اوږده مونځونه کول.نو د قوم خلقو نبی ﷺ ته ګیله اوکړه.نبی ﷺ اوفرمانیل[أفتان أنت يا معاذ] دا حدیث وراندې تیر شوې دې.اودا خبره د صحت په طریقه باندې ثابته ده.چه یو وارے نبی ﷺ د صبا مونځ کښې معوذتین اولوستلو .کله چه

---

(۱) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه رواه البخاري في الأذان باب ٦٢ ومسلم في الصلاة رقم ١٨٣ ومالك في المؤطا في صلاة الجماعة رقم ١٣ وابوداؤد في الصلاة باب ١٢٤ والنسائي في الإمامة باب ٣٥ واحمد في المسند (٤٨٦/٢، ٥٠٢)_

نبي ﷺ د مانځه نه فارغ شو.نو صحابوﷺ عرض اوکړلو.اے دالله پیغمبره تاسو ډیر اختصار اوکړلو .نو نبي ﷺ اوفرمائي.د ماشوم د ژړا د آواز د وجے چه دده مور په فتنه کښې واقع نشي.ددې واقعے نه معلومه شوه.چه د امام دپاره د خپل قوم د حالت خیال ساتل مناسب دی.

دښځو د امامت کراهت

> وَيُكْرَهُ لِلنِّسَاءِ أَنْ يُصَلِّيْنَ وَحْدَهُنَّ بِجَمَاعَةٍ اود ښځو دپاره یواځے جماعت کول مکروه دي. فَإِنْ فَعَلْنَ.او که ښځو د جماعت مونځ اوکړلو وَقَفَتِ الْإِمَامَةُ وَسَطَهُنَّ.نو امام به د دوی په مینځ کښې اودریږی كَالْعُرَاةِ لکه څنګه چه بربنډ کسان (د جمعې مونځ) کوی

حل اللغة ﴿①عراة، د عاری جمع بربنډ ② وسط:مینځ ③کشف: کولاویدل]

تشریح﴿ **کراهة جماعة النساء وحدهن**﴿دښځو خانله جماعت سره مونځ کول مکروه تحریمی دی.

دلائلها﴿څکه چه د ښځو جماعت کول د حرام فعل (مکروه) نه خالی نه وی. څکه چه د دوی امامه به یا د مقتدیان ښځو نه وړاندې ولاړه وی.یا به ددوی په مینځ کښې وی. ①په اولنی صورت کښې د عورت ښکاره کیدل زیات وی.حالانکه دا مکروه دی.

②او په دویم صورت کښې داامام خپل مقام پریخودل لازمیږی.حالانکه دا هم مکروه دی.او جماعت سنت دې.او قاعده دا ده.چه د مکروه د ارتکابو په نسبت د سنت پریخودل غوره دی.نوځکه د ښځو په حق کښې دجماعت سنت پریخودلے شو.اود ښځو حالت د بربنډو د حال پشان دې.یعنی لکه څنګه چه د بربنډو جمات مکروه دې.دغه شان د ښځو جماعت مکروه دې.

کیفیة قیام الإمام في جماعة النساء﴿ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه که د کراهت تحریمی باوجود ښځو د جماعت مونځ کولو.نوامام به د دوی په مینځ کښې اودریږی.څکه چه حضرت عائشې رضي الله عنها هم داسې کړې وو .

الإعتراض﴿ خو اوس اشکال دا دې.چه هر کله حضرت عائشې رضي الله عنها په د جماعت مونځ کړې وو.نودا مکروه تحریمی ولے دے؟

الجواب عنه ﴿ددې جواب دا دې.چه د ام المومنین رضي الله عنها دا فعل د ابتداء د اسلام باندې حمل کولې شی.

الإعتراض علي الجواب﴿خو په دې جواب باندې اشکال دې.چه د نبوت نه پس نبی ﷺ دیارلس کاله په مکه مکرمه کښې تیر کړل.اوبیائې په مدینه منوره کښې د شپږو کالو په عمر کښې د حضرت عائشې رضي الله عنها سره نکاح اوکړله.بیا چه کله د نهو کالو شوه.نووادهٔ ئې ورسره اوکړلو.یعنی د حضرت عائشې رضي الله عنها رخصتی اوشوه .او د دوی په ژوند کښې نهه کاله پاتې شوه.نو د حضرت عائشې رضي الله عنها د امامت واقعه د بلوغت نه پس شوي ده.او په دې صورت

کښې دا فعل په ابتداء د اسلام باندې څنګه حمل کولې شی؟

الجواب عنه ﴿نو ددې جواب دا دې.چه په ابتداء د اسلام باندې د حمل کولو نه مراد دا دې.چه د ښځو د جماعت حکم منسوخ دې. لکه څنګه چه په دې حدیث کښې راغلی دی

(قال وهب: عن ابن أبي ذئب.. مولى لبني هاشم أخبره عن علي ابن ابي طالب رضي الله عنه قال: لاتؤم المرأة)[1]

---

(۱) متن إعلاء السنن، (المدونة، لمالك ،۸۶/۱) ثم صحح العثماني سنده (متن إعلاء السنن باب كراهة جماعة النساء رقم الحديث

د یو مقتدي په امام پسې اقتداء

وَمَنْ صَلّٰى مَعَ وَاحِدٍ اوکوم کس چه د یو کس سره مونځ کوی. أَقَامَهُ عَنْ يَمِيْنِهٖ نو هغه دے خپل ښي طرف ته اودروی

حل اللغة ﴿۱﴾ صلی،صلی صلاةً: دعا کول، مونځ کول ﴿۲﴾ اقامة،اقام اقامة: قائم کول

تشریح ﴿ قیام الواحد عن یمین الإمام ﴾مسئله دا ده.که یو سړي یو مقتدی سرې ته امامتي ورکوی.نو دا مقتدی دے خپل ښي طرف ته اودروی.

دلیله ﴾دلیل دابن عباس رضي الله عنهما حدیث دي.پوره حدث دا دي.[بت عند خالتی میمونة رضي الله عنها لاراقب صلاة النبی ﷺ باللیل فانتبه قال نامت العیون وغابت النجوم وبقی الحی القیوم ثم قرأ آخر سورة آل عمران ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ﴾ إلی آخرها ثم قام إلی شن معلق فتوضأ وافتتح فقمت وتوضأت ووقفت علی یساره وأخذ بأذنی وأدارنی خلفه حتی أقامنی عن یمینه] (۲) یعنی ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی.چه ماد خپلے ترور میمونے رضي الله عنها کره شپه تیره کړه.چه د نبی ﷺ د شپې مونځ اوګورم. نو نبی ﷺ پاسیدلو.او وے فرمائیل. سترګے اودے شوی دی.او ستوری ډوب شوی دی.او حی او قیوم ذات باقی دي.بیا دوی سورة آل عمران آخری آیتونه ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ﴾ نه تر آخر سورت پورې اولوستل.بیا نبی ﷺ په یو میخ پورې د زوړند مشك نه اوبه واخستلے او اودس ئې اوکړلو.او مونځ ئې شرع کړلو.نو زه هم پاسیدم. اودس مے اوکړلو.او د نبی ﷺ کس طرف ته اودریدم.نو نبی ﷺ زه د غوږ نه اونیولم.او زه ئې خپلے شاه طرف ته راښکلم.تردے چه خپل ښي طرف ته ئې اودرولم.ددې حدیث نه معلومه شوه.چه د امام سره یو مقتدی وی.نو هغه د امام ښي طرف ته اودریږی. مختار قول دي.په ظاهر الروایة کښې دی.چه یومقتدی به په امام پسې شاه ته نه اودریږی.

روایة محمد رحمه الله في قیام الواحد عن الإمام ﴾اود امام محمد رحمه الله نه نقل دی.چه مقتدی به خپلے ګوتے د امام د پوندے سره برابر کوی.او اول قول ظاهر دي.او که یو مقتدی د امام شاه ته یا ګس طرف ته مونځ اوکړلو.نو هم جائز دي.یعنی مونځ ئې نه فاسدیږی.خوګناهګار دي.ځکه چه ده د سنتو خلاف عمل اوکړلو.

د دوو مقتدیانو د اودریدو مقام

وَإِنْ كَانَا اثْنَيْنِ اوکه دوو سړو ته امامتي ورکوی تَقَدَّمَهُمَا .نوامام به په دواړو مقدم وی

حل اللغة ﴿۱﴾ تقدم: تقدماً: وړاندې کیدل ﴿۲﴾ نقل،نقل نقلاً (ن): نقل کول ﴿۳﴾اثر: حدیث،نښانی ﴿۴﴾ اباحت: مباح کیدل]

۱۲۲۰، (۱/۲۹۶) یستدل بهذا الأثر علی نسخ إمامتهن لکن یقول العبد الضعیف شاه فیصل إذا صار إمامتهن منسوخاً فما معنی جواز إمامتهن مع الکراهة وقیام الإمام وسطهن لأن النسخ لا یجتمع مع الجواز، إلا أن یقال نسخت سنیة جماعتهن وأما نفس الجماعة فجائز۔

(۲)حدیث ابن عباس رضي الله عنهما رواه البخاری فی باب العلم باب ٤١، ومسلم فی صلاة المسافین وقصرها رقم ۱۸۱، وأبوداود فی التطوع باب ۲٦، والنسائی فی الإمامة باب ۲۲، وابن ماجه فی الطهارة باب ٤٨، ومالك فی صلاة اللیل رقم ۱۱)۔

تشریح> مقام الإثنين من الإمام> اوکه دامام نه سوا نور دوه مقتدیان وی.نو امام به په دې دوارو باندې وړاندې اودریږی.

دلیله> دلیـل دا دې.چه کله نبی ﷺ حضرت انس او یتیم ﷺ ته امامتی کوله.نونبی ﷺ د هغوی دوارو نه وړاندې ولاړ وو.(۲)نود نبی ﷺ وړاندې اودریدل د افضلیت دلیل دې.

د سړو دپاره په ښځو اوماشومانو پسې د اقتداء حکم

وَلَا يَجُوزُ لِلرِّجَالِ د سړو دپاره جائزنه دی. أَنْ يَقْتَدُوا بِإِمْرَأَةٍ وَصَبِيٍّ چه دوی په ښځو یا ماشومانو پسې اقتداء اوکړی.

حل اللغة > ① لایجوز،جاز جوازًا (ن): جائز کیدل، روا کیدل

تشریح> عدم جواز إقتداء الرجل بالمرأة> مسئله:د سړو دپاره د ښځو پسې اقتداء کول جائز نه دی.

دلیله >د ښځې پسې اقتداء کول خو ددې وجې ناجائزده.چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.[أخروهن من حيث أخرهن الله]

التوجيهان في الإستدلال> ① وجه د استدلال دا ده.چه لفظ د ،،حیث،، نه مراد خائې دې.او چه په کوم خائې کښې د ښځو تاخیر واجب وی.هغه د مانځه د خائې نه سوا بل خائې نه دې. نو ثابته شوه.چه الله تعالی ښځې د مانځه په خائې کښې روستو کړې دی. یعنی دا حق ئې نه دے ورکړې.چه دوی سړو ته امامتی ورکړی.

②اوبعضې حضراتو فرمائیلی دی.چه ،،حیث،، د تعلیل دپاره دې.نو اوس ترجمه دا شوه. چه ښځې روستو کوئ.ځکه چه الله تعالی دوی روستو کړی دی.الله تعالی دوی په شهادت، وراثت،سلطنت او ټولو ولایاتو کښې روستو کړی دی.نو هرکله چه الله تعالی ښځه روستو کړې ده.نو ددې وړاندې کول یعنی دا امام جوړول به هم جائز نه وی.

عدم جواز الإقتداء بالصبي> په متن کښې دویمه مسئله دا بیان شوې ده چه د سړو اقتداء په ماشوم پسې جائزنه ده نو دده امامت ددې وجې جائز نه دې.چه دے نفل کونکې دې.نو د مفترض په ده پسې اقتداء کول جائز نه دی.یعنی د بالغ فرض مونځ په ده پسې جائز نه دې.

دلیله >ددې مختار مذهب دلیل دا دې.چه د ماشوم مونځګذار نفل د بالغ مونځګذار د نفلو نه په درجه کښې کم دی.ځکه چه په اتفاق سره که ماشوم په نفلو کښې شروع اوکړی. اوبیا فاسد ئې کړی.نو په ده باندې قضاء واجب نه ده.اوکه بالغ سړی نفلي مونځ فاسد کړلو. نو د هغه په ذمه قضاء واجب ده.اوقاعده دا ده.چه د قوی بناء په ضعیف باندے نه کیږی. نوځکه به د بالغ د نفلو بناء د ماشوم په نفلو باندې نشی کولې.

د صفونو ترتیب

وَيَصُفُّ الرِّجَالُ اوصف به جوړولې شی د سړو ثُمَّ الصِّبْيَانُ بیا ماشومان ثُمَّ الْخُنْثٰى بیا خنثی ګان ثُمَّ النِّسَاءُ بیا ښځې ،

---

(۲)حديث أنس بن مالك ﷺ رواه البخاري في الصلاة باب ۲۰، ومسلم في المساجد ومواضع الصلاة رقم ۲۶۶ وأبوداود في الصلاة باب ۷۰، والترمذي في الصلاة باب ۵۹، والنسائي في الإمامة باب ۱۹، وابن ماجه في المساجد باب ۸، رقم ۷۲۷)۔

حل اللغة ①يصف، صف صفوفا (ن): صف ترل

تشريح **الترتيب في الصفوف** په دې عبارت كښې په امام پسې روستو د اودريدو دترتيب بيان دې.فرمائي.چه په امام پسې به د ټولو نه وړاندې سړي اودريږي.بيابه هغوي پسې ماشومان اودريږي.
او په هغوي پسې خنثى اوبيا به هغوي پسې ښځې اودريږي.

دلائله ① د ابومالك اشعرى نه نقل دى.[أنه قال يا معشر الأشعريين :اجتمعوا واجمعوا نساءكم وأبناءكم حتى أريكم صلاة رسول الله ﷺ فاجتمعوا وجمعوا أبناءهم ونساءهم ثم توضأ وأراهم كيف يتوضأ ثم تقدم فصف الرجال في أدنى الصف وصف الولدان خلفهم وصف النساء خلف الصبيان]
يعني ابومالك اشعرى ﷺ اوفرمائيل.اے داشعرى قبيلے خلقو تاسو په خپله هم راجمع شئ.او خپلے ښځې او بچى هم راجمع كړئ.چه زه تاسو ته د رسول الله ﷺ مونځ اوښايم.نو هغوي هم راجمع شول.او خپل خامن او ښځې نې هم راجمع كړې.بيائې اودس اوكړلو.اوهغوي ته ئې اوخودل.چه نبي ﷺ به څنګه اودس كولو.بيا ابومالك وړاندې شو.بيا د سړو صف اودريدلو.او د هلكانو په هغوي پسے روستو اود ښځوصف دماشومانو نه روستو جوړكړې شو.
② عقلي دليل دا دې.چه د ښځې په محاذات باندې دسړى مونځ ماتيږي.نوځكه به ښځې روستو كولې شى.

د ښځې د محاذات مسئله

فَإِنْ قَامَتِ امْرَأَةٌ إِلَى جَنْبِ رَجُلٍ كه اودريده ښځه په اړخ د سړى كښې وَهُمَا مُشْتَرِكَانِ فِي صَلَاةٍ وَاحِدَةٍ.او حال دا وى.چه دواړه په يو مونځ كښې شريك وى فَسَدَتْ صَلَاتُهُ.نو د سړى مونځ فاسديږى.

حل اللغة ①حاذته، حاذى محاذاة: برابركيدل ②فسدت، فسد فسادا (ن): فاسيد كيدل ③ نوى، نية: نيت كول، اراده كول ④ تارك: پريخودونكي ⑤ ماموم: مقتدى]

تشريح **فساد صلاة الرجل بمحاذاة المرأة** ① صورت د مسئلے دا دې.كه يوه ښځه د سړى سره برابر اودريږى.په داسې حال كښې چه سړې او ښځه دواړه په يو مونځ كښې مشترك وى.او امام دے ښځې دامامت نيت هم كړې وى.نوپه داسې صورت كښې به دسړى مونځ فاسديږى.

دليله دليل د عبدالله بن مسعود ﷺ حديث [أن رسوالله ﷺ قال أخروهن من حيث أخرهن الله] په دې حديث كښې سړو ته حكم شوې دې.چه دوى ښځې روستو كړى.نوهركله چه ښځه ده سره برابر شى. نو لكه چه سړى خپل فرض مقام پريخودلو.ځكه چه داسې مونځ چه په هغې كښې سړى او ښځې دواړه شريك وى.د ښځې روستو كول د سړى فرض دى.او داخبره منلے شوې ده.چه چا فرض پريخودے وى.د هغه مونځ فاسد وى.د بل چا نه ،نو ځكه مونږ دا وايو.چه د محاذات په وجه د سړى مونځ فاسديږى.د ښځې نه.
الاعتراض اوكه دا اعتراض اوكړې شى.چه دا خبر واحد دې.او په خبر واحد باندې فرضيت نه ثابتيږى.
الجواب عنه نو ددې جواب صاحب د هدايه رحمه الله دا كړې دې چه دا حديث په مشهورو احاديثوكښې دې.ځكه خبر مشهور قطعي الدلالة وى.اوپه حديث مشهور سره فرضيت ثابتيږى.نو څه اعتراض پاتې

نشو.

فوائد> محاذات مفسده دا دې.چه په مانځه کښې دننه د ښځې قدم د سړی دقدم سره برابر او مقابل وی.

صورة عدم نية الإمام إمامتها>اوکه امام د محاذی ښځې د امامت نیت نه وی کړې.یعنی دا نیت نې نه وی کړې.چه زه ددې ښځې امام یم.نو په دې صورت کښې د ښځې محاذات سړی ته څه ضرر نه رسوی.او ددغه ښځې مونځ هم جائز نه دې.

دلائله> ① دلیل دا دې.چه زمونږ په نیز بغیر د نیت نه اشتراك في الصلاة نه ثابتیږی.

②دویم دلیل د [أخروهن] احادیث دی.د مقتدیانو په ترتیب سره د اودرولو ذمه واری په امام باندې ده.یعنی ترتیب د مقام په امام باندې لازم دې.او په کوم کس چه څه څیز لازم وی.نو هغه به د هغه په لزوم باندې موقوف وی.یعنی که امام ئې لازم کړی.نو لازم به وی. ګنی نه وی.لکه څنګه چه د اقتداء حال دې.چه د مقتدی د اقتداء کولو نیت شرط دې.ځکه چه هم ددې اقتداء د نیت په وجه هغه خپل مونځ د امام په ضمانت کښې ورکوی.که د امام په څه حرکت کولو سره په مانځه کښې نقص او ضرر پیدا شی.نو مقتدی به هغه قبلوی. اودهغه په رضا سره به په هغه باندې لازمیږی.دغه شان د امام ښځو ته د امامتې ورکولو نیت شرط دې.چه د ښځو د طرفه که څه ضرر پیش شی.نو هغه به امام قبول کړې وی.

③شمس الائمه سرخسی رحمه الله بغیر د امامت د نیت نه دامام د مونځ دعدم فساد وجه دا بیان کړې ده.که بغیر دامامت د نیت نه د ښځې اقتداء صحیح اوګرځولې شی.نو هره ښځه به چه څنګه غواړی.د سړی د مونځ په فاسدولو باندې قادره وی.هغه داسې چه په سړی پسې به اقتداء کوی.اود هغه په اړخ کښې به اودریږی.او ښکاره ده.چه په دې کښې سړی ته ضرر دې. ددې وجې د سړی دپاره د امامت شرط اوګرځولې شو.ددې دپاره چه دا ضرر د سړی په رضا منډئ سره په ده باندې لازمیږی.

دمحاذاة شرطونه

الإشتراك في التحريمة>په دې عبارت کښې مفسد محاذات شرطونه ذکر شوی دی. ①اول داچه د دواړو مونځ په تحریمه او ادا کښې مشترك وی.په تحریمه کښې د اشتراك مطلب دا دې.چه د دواړو د تحریمې بناء د امام په تحریمه باندې وی.یا په دې دواړو کښې یو د بل په تحریمه باندې بناء کړې وی.په دې طریقه چه په ښځه او سړی کښې یو امام او بل مقتدی وی.او په ادا کښې د اشتراك مطلب دا دې.چه کوم مونځ دا دواړه کوی.په هغې کښې ددې دوړو دپاره امام وی.حقیقة یا حکماً ،

مثاله >مثلاً یو سړی او یوے ښځې په دریم رکعت کښې په امام پسې اقتداء اوکړله.بیا دا دواړه یے اودسه شو.او دواړه لاړل.بیا راغلل.اومونځ کول ئې شروع کړل.او ښځه دده سره محاذی شی.نوکه ښځه د امام په دریم او څلورم رکعت کښې محاذی شوې وی.کوم چه ددې دواړو اولنې او دویم رکعت وی.نو د سړی مونځ به ددې محاذات د وجې فاسدیږی.ځکه چه په دریم او څلورم رکعت کښې د تحریمې او د ادا دواړو په اعتبار سره اشتراك دې.اشتراك في التحريمه خو ددې دپاره دې.چه د دواړو د تحریمې بناء د امام په تحریمه باندې وی.او اشتراك في الاداء ددې وجې دې.چه په دویم او څلورم رکعت کښې د دواړو دپاره یو امام دې.اګرچه حکماً دې.حکماً ددې وجې دې.چه کله دواړه د اودس کولو دپاره لاړ شی.نو امام خپل جماعت پریږدی نوامام خپل مونځ پوره کړی وی.نو په دریم او څلورم رکعت کښې دا

دواړه لاحق شو.او د لاحق دپاره اګرچه په حقیقت کښې امام نه وی.خو حکماً امام وی.
ادراک الرکعتین الأخریین مع الإمام> اوکه روستنی دواړه رکعتونه اوکړی.او په خپل دریم او څلورم (کوم چه په حقیقت کښې د دوی اولنۍ او دویم رکعت دے) لاړه شی.او د سړی سره محاذی شی.نود سړی مونځ نه ماتیږی.ځکه چه په اولنی او دویم رکعت کښې دا دواړه مسبوقان دی.اومسبوق چه کله خپل فوت شوی رکعتونه کوی.نودهغه دپاره نه حقیقةً امام وی.اونه حکماً امام وی.او په دې دواړو رکعتونو کښې شرکت في التحریمه اګرچه موجود دې.خو شرکة في الاداء موجود نه دې.نو ځکه په دې صورت کښې هم محاذات مفسد د مانځه نه دې.
②دویم شرط دا دې.چه صلاة مطلقه وی.(د رکوع او سجدے مونځ) اګرچه د څه عذر د وجے دا په اشاره باندې ادا کوی.نود جنازے په مانځه کښې محاذات مفسد نه دې.
③دریم شرط دا دې. چه ښځه مشتهاة (قابل شهوت) وی.برابره ده که دا ښځه وینځه وی اوکه اصیله وی.بی بی وی یا مور یا خور وغیره محرمه وی.
④څلورم شرط دا دې.چه د دواړو په مینځ کښې څه څیز پرده نه وی.مثلاً ستن،یا بل څه څیزیا دومره خائے خالی وی.چه په هغې کښې یو سړې اودریدے شی.

دلیله > عَنِ الْحَارِثِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْكِنْدِيِّ أَنَّهُ رَكِبَ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَسْأَلُهُ عَنْ ثَلَاثِ خِلَالٍ قَالَ فَقَدِمَ الْمَدِينَةَ فَسَأَلَهُ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَا أَقْدَمَكَ قَالَ لِأَسْأَلَكَ عَنْ ثَلَاثِ خِلَالٍ قَالَ وَمَا هُنَّ قَالَ رُبَّمَا كُنْتُ أَنَا وَالْمَرْأَةُ فِي بِنَاءٍ ضَيِّقٍ فَتَحْضُرُ الصَّلَاةُ فَإِنْ صَلَّيْتُ أَنَا وَهِيَ كَانَتْ بِحِذَائِي وَإِنْ صَلَّتْ خَلْفِي خَرَجَتْ مِنَ الْبِنَاءِ فَقَالَ عُمَرُ تَسْتُرُ بَيْنَكَ وَبَيْنَهَا بِثَوْبٍ ثُمَّ تُصَلِّي بِحِذَائِكَ إِنْ شِئْتَ الحديث(۱)

د ښځو دپاره په جماعت کښې شرکت

وَيُكْرَهُ لِلنِّسَاءِ حُضُورُ الْجَمَاعَةِ اود ښځو دپاره جماعت ته حاضریدل مکروه دی

تشریح > **حضورالنساء الجماعة** > ①د خوانانو (پیغلو) ښځو جماعت ته حاضریدل مکروه دی.
دلائله > ①زمونږ دلیل دا دې.چه د خوانانو (پیغلو) ښځو په حاضرئ کښې د فتنے ویره ده.ځکه به دوی جماعتونو ته د حاضریدو نه منع کولې شی.
② دویم دلیل دا دې.چه کله حضرت عمر رضی الله عنه ښځې جماعتونو ته د تلو نه منع کړلې.نوښځو حضرت عائشې رضی الله عنها ته شکایت اوکړلو.نو ام المومنین رضی الله عنها ورته اوفرمائیل.که نبی ﷺ ته ددې حالت علم شوې وې.د کوم چه عمر رضی الله عنه ته علم دې.نو نبی ﷺ به ښځی اجازت نه وو ورکړې.په یو روایت کښې دی.که نبی ﷺ دنن پشان مونځګذارو حالت لیدلے وې.نولکه څنګه چه د بنی اسرائیلو ښځې منع شوې وې.تاسو به هم منع شوې وئ.
③ ابن عبدالبر رحمه الله په خپل سند سره د حضرت عائشې رضی الله عنها نه نقل کړې دې. [أيها الناس إنهوا نساءكم عن لبس الزينة والتبختر في المساجد فإن بني إسرائيل لم يلعنوا حتى لبست نساءهم الزينة وتبختروا في المساجد] یعنی اے خلقو خپلے ښځې په جماتونو کښې د زینت او تکبر د لباس اغوستلو نه منع کړئ.ځکه چه بنی

(۱) اخرجه ابوداود في الصلاة باب إذا أحدث في صلاته فليستقبل رقم ۸۵۳ رجاله ثقات)

اسرائیل ملعون شوی نه وو،ترڅو چه د هغوی ښځو په جماتونو کښې د زینت او فخر او غرور جامې واچولې. چونکه زمونږ په زمانه کښې د فاسقانو غلبه ده.نو ځکه به غیر مزینې زنانه هم منع کولې شي.

د بوډۍ ګانو ښځو دپاره په جماعت کښې شرکت

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ تَخْرُجَ الْعَجُوزُ اونشته څه قباحت چه بوډۍ ښځې راوځي فِي الْفَجْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ د صبا،مابنام او د ماسخوتن په مانځه کښې اوځي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ. د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ او صاحبين رحمهما الله فرمائي يَجُوزُ خُرُوجُ الْعَجُوزِ فِي سَائِرِ الصَّلَوَاتِ جائز دی وتل د بوډیګانو په ټولو مونځونو کښې

حل اللغة ﴿①عجوز: بوډئ ښځه

تشريح ﴿ عدم جواز خروج العجوزات إلي المساجد﴾ حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله بوډۍ ګانې ښځې د ماسپخين اومازيګر په وخت کښې د وتلو نه منع کړې دی.البته د ماسخوتن او مابنام په وخت کښې ئې د وتلو اجازت ورکړې دی.

دليله ﴿ داامام ابوحينفه رحمه الله دليل دا دې.چه د شهوت زيادت د جماع باعث جوړيږی. نو د بوډۍ ګانو ښځو په وتلو کښې هم فتنه واقع کيږی.البته دومره خبره ضروری ده.چه فاسقان خلق په ماسپخين او مازيګر او د جمعې د مانځه په وختونو کښې ګرځی.نو ځکه به په دې وختونو کښې بوډۍ ګانې ښځې نه اوځی.باقی پاتې شو د صبا او ماسخوتن په وخت کښې نو دوی په دغه وخت کښې اوده وی.او دمابنام په وخت کښې په خوراك کښې مشغول وی.او معلومه شو.چه په دې دريو وختونو کښې د فاسقانو نه امن وی.ځکه په دې دريې واړه وختونو کښې بوډۍ ګانوښځې ته د مانځه دپاره د وتلو اجازت ورکړې شو.

مذهب الصاحبين﴿او صاحبينو رحمهما الله بوډۍ ګانې ښځو ته په ټولو مونځونو کښې د وتلو اجازت ورکړې دې.

دليلهما ﴿ دليل دا دې.چه بوډۍ ګانو ښځو ته د طبيعت د ميلان دکمی دوجې څه فتنه نه وی.نوځکه د دوی وتل هم مکروه نه دی.لکه په اختر کښې چه ئې وتل په اتفاق سره جائز دی.

الجواب عن قياس الصاحبين﴿صاحب دهدايه رحمه الله فرمائی.چه دصاحبينو رحمهما الله په اختر کښې وتلو باندې قياس صحيح نه دې.ځکه چه د اختر په ورځ عام طور مونځ په صحراء کښې وی.او صحراء لويه وی.نو په لوئې ميدان کښې د بوډۍ ګانو ښځو د سرو نه يوخواته کيدل ممکن وی.ځکه د دوی په اختر کښې وتل مکروه نه دی.

فائده﴿ نن صبا چونکه فساد عام دې.نو په ټولو مونځونو کښې د بوډۍ ګانو ښځو دپاره وتل مکروه دی.(عنايه)

دطاهره دپاره د مستحاضه اقتداء کول

وَلَا يُصَلِّي الطَّاهِرُ خَلْفَ مَنْ او پاك سړې دې په هغه کس پسې مونځ نه کوی. بِهِ سَلَسُ الْبَوْلِ چه په هغه د متيازو څڅيدو مرض وی وَلَا الطَّاهِرَاتُ خَلْفَ الْمُسْتَحَاضَةِ.او نه پاکې ښځې په مستحاضة ښځه پسې مونځ کوی.

تشریح > **عدم جواز اقتداء الطاهر من به سلسل البول** > دچا نه چه متیازې بهیږي نوهغه کس معذور دې نو پاك سړې به په معذوره پسې مونځ نه کوی.اونه پاکه ښځه په معذورې ښځې پسې.

مفهوم الإستدلال > د دلیل نه وراندې دا خبره په ذهن کښې کینوئ.چه ددې پشان د تولو مسئلو اصل دنبی ﷺ ارشاد دے [الإمام ضامن] اود حدیث معنی دا ده.چه د امام مونځ دمقتدی د مونځ متضمن دې. دا معنی نه ده.چه دمقتدی د مونځ ذمه وار یعنی مکلف دې.دویمه خبره چه دخپل ځان نه کم لره متضمن دې.یا د خپل ځان پشان لره.خو دخپل ځان اوچت لره متضمن نه دې.

حاصل الدلیل > اوس ددلیل حاصل دا شو.چه په ذکر شوی صورت کښې مقتدی چونکه پاك او غیر معذور دې.او امام د معذور په حکم کښې دې.نوځکه د مقتدی د مونځ حال د امام د مانځه د حالت نه قوی او اوچت دې.او دامام دمانځه حال کم او ادنی دې.اوچونکه کم او اضعف اقوی لره نشی متضمن کیدې.نوځکه دامام مونځ د مقتدی دمانځه دپاره نشی متضمن کیدې.حالانکه دامام مونځ د مقتدی د مانځه دپاره متضمن وی.نوځکه د پاك او غیر معذور سړی اقتداء په معذور پسے جائز نه ده.

دقاری په امی او د کاسی په عاری پسې اقتداء

وَلَا الْقَارِءُ خَلْفَ الْأُمِّيِّ اومونځ به نه کوی قاری په امی پسې.وَلَا الْمُكْتَسِي خَلْفَ الْعُرْيَانِ اونه عورت پټونکې په بربنډ پسې

حل اللغة > ①امی: ان پړه ②مکتسی: کپړې اغوستونکې ③عریان: بربنډ ، چاسره چه کپړې نه وی]

تشریح > **تعریف الأمي** > أمی،،ان پړه،، منسوب الی الام یعنی څنګه چه دے خپل مور ځیګولے وی .هم هغه شان وی.او په کتاب الله ،حدیث او د عربو په ژبه کښې چه چرته هم دا لفظ راغلے دې. ددې نه مراد هغه کس دې.څوك چه په لیکلو او لوستلو قدرت نه لرې.کوم کس چه د قرآن یو آیت لوستلے شی.دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز هغه د امیت نه خارج دې.او د صاحبینو رحمهما الله په نیز څوك چه د درې آیاتونو یا یواوږد آیت په لوستلو قادر وی.نو هغه د امیت نه خارج دې.(عنایه)

باقی صورت د مسئلې ښکاره او واضحه ده

دلیله > دلیل دا دې چه د قاری او مکتسی حال د امی او عاری په نسبت سره قوی دې.

اودس کونکو دپاره په تیمم کونکو پسې اقتداء

وَيَجُوزُ أَنْ يَؤُمَّ الْمُتَيَمِّمُ الْمُتَوَضِّئِينَ جائز دی چه تیمم کونکی اودس کونکو ته امامتی ورکړی.

حل اللغة > ①ان یوم، ام امامة (ن): امامت کول ②متوضئین: اودس کونکی

تشریح > **إقتداء المتوضي بالمتیمم** > چه متوضی په متیمم پسې اقتداء کولے شی

دلیله > دلیل دادې.چه تیمم طهارت مطلقه غیر موقته دې.یعنی تیمم مطلقاً طهارت دی.د مستحاضة د طهارت پشان موقت نه دې.هم دا وجه ده چه په قدر د جاحت پورې مقدر نه دې.بلکه ترلس کالو پورې که اوبهٔ پیدا نشو.یا ددې په استعمال باندې قدرت نه وی.نو تیمم په مشروع وی. نو هرکله چه تیمم طهارت مطلقه شو. نو د متیمم او متوضی دواړو حالت یو شان شو.اوهرکله چه د دواړو حالت یو شان شو.نو یو د بل امامت کولے شی

په ماسح پسې د غاسل اقتداء

وَالْمَاسِحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ او په موزو باندې مسح کونکی اَلْغَاسِلِيْنَ پښو وينځونکو امامتی ته ورکولې شي

حل اللغة ﴿ ①ماسح: مسح کونکې ②غاسلين: وينځونکی ③خف: موزه

تشریح﴿ جوازامامة الماسح للغاسل﴾صورت د مسئلې دا دې.چه په موزو باندې مسح کونکې پښو وينځونکی امامتی کولې شي.

دليله﴾دليل دا دې.چه صاحب د موزے خپلو پښو وينځلونه روستو موزے اچولې دی.او موزه قدم ته د حدث سرايت نه پريږدی.نوداکس د پښو وينځونکے پاتې شو.

الاعتراض﴾ اوکه څوک دا اعتراض اوکړی چه حدث په موزه کښې ورداخل شوې دې.نو ددې جواب دا دې.چه څه په موزه کښې ورداخل شوی وی.هغه په مسح لرے کيږی.نو خکه د موزے د خاوند طهارت د وينځونکی پشان باقی دې.

د قائم په قاعد پسې اقتداء

وَيُصَلِّي الْقَائِمُ خَلْفَ الْقَاعِدِ او ولاړ سړې په ناست پسې مونځ کولې شي

حل اللغة ﴿ ① يصلى، صلى صلاةً: مونځ کول، دعاکول ② خلف: روستو ③ قاعد: کيناستونکې

تشريح﴾ صلاة القائم خلف القاعد﴾مسئله :قائم دقاعد اقتداء کولے شي.

دليله﴾ نبی ﷺ چه کله په مرض الوفات کښې مبتلا شو.نو نبی کريمﷺ اوفرمائيل.چه ابوبکر ؓ ته اووائې.چه خلقو ته مونځ ورکړی.چه دا ئې واوريدلو.نوحضرت عائشې ؓ (حضرت حفصےؓ ته اووئيل.چه ته د الله پيغمبر ته اووايه.چه ابوبکر ؓ دنرم زړه سړې دې.چه ستاسو په ځائې په مصلی اودريږی.نو په خپل ځان به ئې قابو رانشی. ددې وجې بل چاته د مونځ ورکول حکم اوکړئ.عائشې ؓ د خبره دوباره اوکړله.نو نبی ﷺ اوفرمائيل. [اُنتن صواحبات يوسفؑ] ابوبکر ته اووائې.چه خلقو ته مونځ ورکړی.بيا چه کله صديق اکبر مونځ شروع کړلو.نو نبی ﷺ په مرض کښې خفت محسوس کړلو.بيا ئې د حضرت عباس او حضرت علی ؓ په سهارا باندې جمات ته تشريف يوړلو.چه کله ابوبکر ؓ د نبی کريم ﷺ په راتګ باندې پوهه شو.نو روستو شو.او نبی ﷺ وړاندې شو.او په ناسته ئې مونځ کولو.او ابوبکر ؓ به دنبی ﷺ په مانخه پسې مونځ کولو.اوخلقو به دابوبکر ؓ په مانخه پسې مونځ کولو.مراد دا دې.چه نبی ﷺ په ناسته امامتی کوله.او ابوبکر ؓ چه به د نبی ﷺ د تکبير آواز واوريدلو.نو تکبير به ئې کولو.اوچه خلقو به د ابوبکر ؓ د تکبير آواز واوريدلو.نوتکبير به ئې ونيل.دا دنبی ﷺ آخری مونځ وو.په دې کښې نبیﷺ امامتی ورکړې وه.ددې حديث نه معلومه شوه.چه د ولاړه سړی مونځ په ناسته مونځ کونکی پسے کيږی.

د راکع او ساجد دپاره د مومی پسې اقتداء

وَلَا يُصَلِّي الَّذِي يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ او رکوع او سجده کونکې به اقتداء نه کوی خَلْفَ الْمُومِيْ په اشاره مونځ کونکی پسې

حل اللغة ﴿ ①يركع، ركع ركوعًا (ف): ټيټيدل، رکوع کول ②مومی: اشاره کونکې]

تشریح ﴿ اقتداء الراکع بالمؤمي ﴾ ① مسئله دا ده.چه په رکوع او سجدے سره موخ کونکي به په اشاره کونکی پسې مونځ نه کوی .
دلیله ﴿ دلیل دا دې.چه په دې مسئله کښې د مقتدی حال اقوی دې.او امام اضعف دې.او وړاندې تیر شوی دی.چه اضعف الحال اقوی الحال ته امامتی نشی ورکولې.

د مفترض دپاره په متنفل پسې اقتداء

وَلَايُصَلِّي الْمُفْتَرِضُ خَلْفَ الْمُتَنَفِّلِ اوفرض کونکې دے په نفل کونکی پسې اقتداء نه کوی

حل اللغة ﴿ ① خلف: روستو، متنفل: نفل مونځ کونکې
تشریح ﴿ عدم جواز اقتداء المفترض بالمتنفل ﴾ د مفترض دپاره په متنفل پسې اقتداء کول جائز نه ده.
دلیله ﴿ ځکه چه اقتداء نوم دے د بناء کولو.او بناء امر وجودی دې.امر عدمی نه دې.او ښکاره ده.چه متابعت مفهوم وجودی دې.مفهوم سلبی نه دې.او د امر وجودی بناء په امر عدمی باندې صحیح نه د.اوچونکه په ذکر شوې مسئله کښې د امام په حق کښې د فرضیت وصف معدوم دې.نوځکه بناء نه متحقق کیږی.او کله چه بناء کول نه متحقق کیږی.نو اقتداء به څنګه صحیح شی.

د یومفترض په بل مفترض پسې اقتداء

وَلَامَنْ يُصَلِّي فَرْضًا فرمائی او اقتداء دے نه کوی هغه کس چه فرض کوی خَلْفَ مَنْ يُصَلِّي فَرْضًا آخَرَ روستو په هغه کس پسې چه بل فرض کوی

حل اللغة ﴿ ① فلابد: ضروری، چه د هغې نه بله لارنه وی
تشریح ﴿ عدم جواز اقتداء المفترض بالمفترض فرضاً آخر ﴾ صورت د مسئلې دا دې.چه د یو فرض کونکې به په بل فرض کونکی پسې اقتداء نه کوی.مثلاً د ماسپخین مونځ کونکې به د مازیګر مونځ کونکی پسې اقتداء نه کوی.
دلیله ﴿ دلیل دادې.چه اقتداء نوم دې.په تحریمه کښې د شرکت او په افعال بدنیه کښې د موافقت ،او شرکت کښې موافقت په هغه وخت کښې کیدے شی.چه د دواړو تحریمه او افعالوکښې اتحاد وی .اوچونکه په ذکر شوی صورت کښې اتحاد نشته.نوځکه اقتداء هم صحیح نه ده.

د متنفل دپاره په مفترض پسې اقتداء

وَيُصَلِّي الْمُتَنَفِّلُ خَلْفَ الْمُفْتَرِضِ او مونځ د.کوی متنفل په مفترض پسې

حل اللغة ﴿ ① متنفل: نفل مونځ کونکې
تشریح ﴿ جواز اقتداء المتنفل بالمفترض ﴾ نفلی مونځګذار په فرضی مونځګذارپسې اقتداء کولې شی.
دلیله ﴿ دلیل دا دې.چه د متنفل په حق کښې صرف د اصل مونځ ضرورت وی.او اصل مونځ د امام په حق کښې موجود دې.ځکه دمتنفل په مفترض پسې اقتداء متحقق ده.وجه ددې دا ده.چه د نفلی مونځ دصحت دپاره مطلق نیت کافی دې.او په مطلق نیت باندې فرض هم مشتمل دې.ځکه اقتداء صحیح ده.

په بې اودسه امام پسې د اقتداء حکم

وَمَنْ اقْتَدَى بِإِمَامٍ اوچا چه په یو امام پسې اقتداء اوکړله. ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ عَلَى غَيْرِ طَهَارَةٍ بیا معلومه

شوه.چه د ده امام بے اودسه وو أَعَادَالصَّلَاةَنودے به مونځ راګرځوي. (اوقوم به هم مونځ ګرځوي)

حل اللغة ۱ اقتدى، اقتدي اقتداء: پیروی کوی ۲ علم، علما(س): پیژنګلو، پیژندل ۳ غیرطهارة: بې اودسه ۴ اعاد، اعاد اعادة: واپس کول

تشریح **إعادة الصلاة بالإقتداء بالإمام المحدث** ۱ صورت د مسئلې دا دې.چه که یو کس امام پسے اقتداء اوکړله .بیا مقتدی ته علم اوشو.چه دده امام بے اودسه وو.نو دا کس دے د خپل مونځ اعاده اوکړي.اوکه د اقتداء کولو نه وړاندې د امام بے اودسی معلومه شوې وه.نو په اجماع سره اقتداء کول جائز نه دی.

دلائله ۱ نبی ﷺ فرمائیلی دی «من أم قوما.ثم ظهر أنه کان محدثا أو جنبا أعاد صلاته وأعادوا.»[1] چا چه یو قوم ته امامتی ورکړله.بیا معلومه شوه چه دے محدث یا جنب وونو دخپل مونځ اعاده دے اوکړی

۲ علامه ابن الهمام رحمه الله د حضرت جعفر نه د حضرت علی رضی الله عنه دا فعل نقل کړې دې. [أن علیاً رضی الله عنه صلی بالناس وهو جنب أو علی غیروضوء فأعاد وأمرهم أن یعیدوا] حضرت علی رضی الله عنه خلقو ته په حالت جنابت یا بغیر د اودس مونځ اوکړلو.بیا ئې د مونځ اعاده اوکړله.اوخلقو ته ئې هم د اعادے حکم اوکړلو.ددې نه معلومه شوه.چه د مقتدی مونځ د امام د مونځ په فساد سره فاسد یږی.

وَيَكْرَهُ لِلْمُصَلِّي او مکروه دی د مونځګذار دپاره أَن يَّعْبَثَ بِثَوْبِه. چه لوبے کوی د خپلو جامو أَو بِجَسَدِهٖ یا بدن سره

حل اللغة ۱ یعبث، عبث عبثاً (س): لوبې کول ۲ ثوب جمع اثواب: کپړې ۳ جسد جمع جسود: بدن ۴ ظن: ګمان خیال]

تشریح **الربط بما قبله** وړاندې د مفسداتو دمانځه بیان وو.په دے ځائې کښې دمکروهاتو ذکر دې.

تعریف العبث د امام بدرالدین کردری رحمه الله د قول مطابق عبث هغه فعل دې.چه په هغې کښې غرض خو وی.خو شرعی نه وی. مسئله دا ده.چه د مصلی د خپلو جامو یا بدن سره لوبے کول مکروه دی.

دلائله ۱ دلیل دا دې.چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.الله تعالی ستاسو دپاره درې څیزونه مکروه کړی دی.په دې کښې یو په مانځه کښې لوبے کول او په باقې دوو کښې یو د روژې په حالت کښې ګنده خبرے کول.او بل څیز په مقبره کښې په قهقهه خاندل.[2]

۲ دویم دلیل دا دې.چه عبث فعل د مونځ نه بهرحرام دې.نو په مانځه کښې ستا څه خیال دې.یعنی په مانځه کښې خو به په درجه اولی سره حرام وی.

---

[1] ، غربه الزیلعی بهذا اللفظ (نصب الرایة ۱/۵۷) ثم قال وبه اثر عن علی رضی الله عنه ورواه محمد بن الحسن فی (کتابه الآثار) ... ان علی بن ابی طالب رضی الله عنه قال فی الرجل یصلی بالقوم جنبا قال یعید ویعیدون إنتهی و رواه الدارقطنی فی سننه (۱/۳٦٤)۔

[2] ، قال الزیلعی رحمه الله رواه القضاعی فی مسند الشهاب ... عن یحیی بن ابی کثیرمرسلاً ثم ذکر ضعف هذا الحدیث (نصب الرایة ۲/۸۵) والعبدالضعیف شاه فیصل ینقل لکراهة العبث فی الصلاة حدیثاً من کتابه ،،سنن الصلاة فی فقه الأحناف،، قَالَ حَجَّاجٌ الْأَمَوِيُّ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ وَرَأَى رَجُلًا يَعْبَثُ فِي صَلَاتِهِ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ لَا تَعْبَثْ فِي صَلَاتِكَ وَاصْنَعْ كَمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ،رواه احمد فی مسندالصحابة حدیث ابن الخطاب رقم ٤٨٠٠ رجاله ثقات)۔

په مانځه کښې دګټکو اړولو راړولو کراهت

وَلَايَقْلِبُ الْحَصٰى او نه به اړوی راړوی ګټکی (په مانځه کښې) إِلَّا أَنْ لَّا يُمْكِنَهُ السُّجُوْدُ. البته دا چه نه وی ممکن سجده کول فَيُسَوِّيَهُ مَرَّةً وَّاحِدَةً. نو برابر دی کړی دا یو ځل

حل اللغة ۞ ① لايقلب. قلب تقليبا: واپس ګرځيدل ② فيسويه، سوى تسوية: برابرول ③ مرة: يوځل

تشريح ۞ **كراهية تقلب الحصى** ۞ مسئله دا ده. چه د مونځ په حالت کښې ګټکی نه اړوی. ځکه چه دا یو قسم عبث فعل دې. البته که سجده کول ورته ممکن نه وی. نو په یوځل دے اخوا کړی. یعنی یو ځل دے د سجدے ځائې برابر کړی. په غیر ظاهر روایت کښې د دوو ځلو اجازت هم شته.

دلائله ۞ ① عبدالرزاق د حضرت ابوذر رضي الله عنه نه نقل کړی دی [سألت النبي ﷺ عن كل شئ حتى عن مسح الحصى فقال واحدة أو دع] حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمائی. چه ما د رسول الله ﷺ نه دهر څيز تپوس کړې دې. تردے چه د ګټکو اخوا کولو په باره کښې هم، نو نبی ﷺ اوفرمائيل. چه یو ځل ګنی پريږدې ده. او د معيقيب نه روايت دې. [أنه ﷺ قال لا تمسح الحصى وأنت تصلي فإن كنت لابد فاعلاً فواحدة] يعنی نبی ﷺ فرمائيلی دی. چه ګټکی مه اخوه کوه. په داسې حالت کښې چه ته په مانځه کښې نې. اوکه ضرورت پيښ شی. نو يوځل.

② عقلی دليل دا دې. چه ګټکی اخوا کول د خپل مونځ د اصلاح دپاره دی. او په کوم عمل سره چه د مونځ اصلاح مقصود وی. نو په هغې کښې څه حرج نشته.

د ګوتو نه د ټقونو ويستلو او په تشی د لاسونو کيخودلو کراهت

وَلَايُفَرْقِعُ او ټقونه به نه اوباسی أَصَابِعَهُ د خپلو ګوتو نه به ټقونه نه اوباسی وَلَايُشَبِّكُ او په يو بل کښې به ګوتې نه ننباسی. وَلَايَتَخَصَّرُ او تو تی به لاسونه نه ږدی.

حل اللغة ۞ ① لايفرقع، فرقع فرقعة: چغې وهل ② اصابع: ګوته ③ لايتخصر، تخصر تخصرا: په خيټه لاس کيخودل ④ وضع: ساتل ⑤ يد جمع ايدى: لاس]

تشريح ۞ **كراهة فرقعة الأصابع** ۞ په مانځه کښې د ګوتو نه ټقونه ويستل هم مکروه دی.

دليله ۞ دليل دا دې. چه نبی ﷺ حضرت علی رضي الله عنه ته فرمائيلی وو. [إني أحب لك ما أحب لنفسي لا تفرقع أصابعك وأنت تصلي] (۱) یعنی زه ستا دپاره هغه څيز خوښوم. کوم چه زه دخپل ځان دپاره خوښوم. نو په حالت د مانځه کښې د خپلو ګوتو نه ټقونه مه اوباسه. د بعضو په نيز د مانځه نه بهرهم د ګوتو نه ټقونه ويستل مکروه دی. وجه د کراهت دا ده. چه دا د قوم لوط عمل دې.

الأقوال الثلاثة في تعريف المختصر ۞ ① د مختصر يو تفسير خوصاحب د هدايه کړې دې. يعنی په تشو باندے لاسونه کيخودل، هم دا تفسير غوره او مناسب دې.

② او بعضو وئيلی دی. چه مختصر په همسا باندې تکيه لګونکی ته وائی.

③ او بعضو وئيلی دی. چه تخصر دا دې. چه د سجدے يو آيت حذف کړی. او باقی اووائی.

كراهة التخصر ۞ د مانځه په حالت کښې تخصر هم مکروه تحريمی دې.

---

(۱) حديث على رضي الله عنه رواه ابن ماجه في الإقامة باب ٤٢ رقم الحديث ٩٦٥ ولفظه فيه ،،لاتفقع،،

دلائله ① دليل دا دي چه په حالت د مانځه کښې دتخصر نه نبی ﷺ منع فرمائيلې ده. حضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ روايت کړي دي. [أنه ﷺ نهى عن الإختصار فى الصلاة] (۱)

② عقلي دليل دا دي.چه د تخصر په صورت کښې د مسنون طريقې پريخودل لازميږي.اود مانځه نه بهر هم د سرى او ښځې دپاره مکروه تنزيهی دي.

په مانځه کښې د جامې راغوندول او د سدل کراهت

ولَا يَسْدُلُ ثَوْبَهُ وَلَا يَكُفُّهُ او نه به زوړند وی جامې خپلې اونه به ئې راغوندوی.

حل اللغة ① لايسدل، سدل سدلاً: کېږه زوړندول ② لايکف، کف کفًا (ف): راغوندول

تشريح **كراهة السدل** او جامې دے په طريقې نه زوړندوی.

تعريف السدل صاحب د کفايه رحمہ اللہ فرمانی.چه سدل دے ته وائی.چه څادر يا قباء په خپلو اوږو باندې واچوی.او خپل لاسونه په لستونړو کښې نه اچوی.که د قميص دپاسه وی اوکه د قميص لاندې وی.

دليله دليل دا دي.چه امام ابوداود د ابوهريره رضی اللہ عنہ نه روايت کړي دي. [أنه ﷺ نهى عن السدل فى الصلاة وأن يغطى الرجل فاه] (۲) يعنی نبی ﷺ په مانځه کښې د سدل نه منع کړې ده.او ددې نه ئې منع کړې ده.چه سړې خپله خوله پټه کړی.سدل دا دي.چه خپله جامه په خپل سر او اوږو باندې راواچوی.او د هغې اړخونه دواړو طرفونو نه زوړند پريږدی.

كراهية كف الثوب کف د جامې دا دي.چه کله د سجدې کولو اراده اوکړی.نو دخپلې مخې يا شاه نه جامه راوچته کړی.اوس حاصل د مسئلې دادي.چه که جامه په زمکه باندې راوغورځيږی نو دا دے نه رانيسی.ځکه چه په دې کښې يو قسم تکبر دي.

دليله عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةٍ لَا أَكُفُّ شَعْرًا وَلَا ثَوْبًا

وَلَا يَعْقِصُ شَعْرَهُ. او نه دې معقوص کوی ويخته خپل

حل اللغة ① شعر: ويښته

كراهة العقص د مانځه په حالت کښې د سر ويختو کلکول هم مکروه دی. صاحب د کفايه د ويختو د معقوص کولو درې صورتونه ليکلی دی.

① د سر نه ګير چاپيره د ويختو نه کونسۍ جوړے کړی.لکه څنګه چه ښځې کوی.

② په تندی ئې جمع کړی.او په تار ئې اوتړی

③ په څه څليخدار څيز يا ګوند باندې ئې کلک کړی.

(۱) حديث ابي هريرة رضی اللہ عنہ رواه البخاری فی العمل فی الصلاة باب ۱۷ ومسلم فی المساجد ومواضع الصلاة حديث ۴۷ وابوداود فی الصلاة باب ۱۷۲ رقم الحديث ۹۴۷، والترمذی فی الصلاة باب ۱۶۴، والنسائی فی الإفتتاح باب ۱۲ والدارمی فی الصلاة باب ۱۳۸ واحمد فی المسند (۲۳۲/۲) والحاكم فی المستدرك (۲۶۴/۱)۔

(۲) حديث ابي هريرة رواه ابوداود فی الصلاة باب ۸۵ والترمذی فی الصلاة باب ۱۶۱ وأحمد فی المسند (۲۹۵/۲) وابن حبان فی صحيحه انظرموارد الظمآن إلى زوائد ابن حبان رقم ۴۷۸، والحاكم فی المستدرك (۲۵۳/۱)۔

دلائله ﴿ ① د ابورافع حديث دي. [قال نهى رسول الله ﷺ أن يصلي الرجل ورأسه معقوص](۱) يعني نبي ﷺ سړي په دې حالت کښې د مانځه نه منع کړې دې.چه دده په سر باندې د ويختو چونټه جوړه وي.

② دغه شان د نبي ﷺ نه نقل دی. [أمرت أن أسجد على سبعة وأن لا أكف شعراً ولا ثوباً] يعني ماته په اووه اندامونو باندې د سجدے کولو حکم شوی دی.او ددې خبرے چه ويخته نه راغوندوم. اونه جامے.اود ويختو په چونټه کولو کښې ددې کف دې.نو ځکه د چونټه کولو نه منع شوې ده.

③ د حضرت عمر ﷺ نه نقل دی. [أنه مر برجل ساجد عاقص شعره فحله حلاعنيفاً وقال إذا طول أحدكم شعرة فليرسله ليسجد معه] يعني حضرت عمر ﷺ يو سړي سره خواه کښې تير شو.او هغه سجده کوله.او د هغه ويختو نه چونټه جوړه شوې وه.نو حضرت عمر ﷺ په سختۍ سره هغه پرانستله.او وے فرمائيلی .کله چه په تاسو کښې د چا ويخته اوږده وی.نو هغه دے زروند پريږدی.چه هم هغې سره سجده کوی.

په مانځه کښې ښي اوکس طرف ته د کتلو کراهت

وَلَا يَلْتَفِتُ او التفات دې نه کوی(په مانځه کښې) يَمِيْنًا وَشِمَالًا ښي او کس طرف ته

حل اللغة ﴿ ① لايلتفت، التفت التفاتاً: متوجه کيدل ،کتل

تشريح ﴿ **كراهة الالتفات في الصلاة** ﴿ مسئله د ښې په اړولو سره دے التفات نه کوی.ځکه چه په دې کښې کراهت دې .

دلائله ﴿ ① نبي ﷺ فرمائيلی دی «لوعلم المصلي من يناجي ما التفت»که مصلي پوهيدلې چه چاسره مناجات کوی نو التفات به ئې نه کولو(۱)

② دليل دا دې.چه نبي ﷺ فرمايلی دی.که مصلي پوهيدلے چه چاسره مناجات کوی.نو [اعنوا ديغوا] به ئې التفات نه کولو.

③ دغه شان د نبي ﷺ نه نقل دی. [أن الرحمة تواجه العبد ما دام في صلاته فإذا التفت أعرض عنه] يعني الله تعالى برابر بنده ته په مانځه کښې په مخ سره متوجه وی.خو چه کله دے التفات اوکړی.نو هغه خپل مخ دده نه واړوی.

④ عقلي دليل دا دې.چه د ښې د اړولو سره التفات کولو کښې د بعضې ښې سره د قبلې نه اوريدل راځي.که په پوره بدن سره د قبلې نه اوريدل اوشی.نو په ے سره مونځ فاسد يږی.نو چه کله بعضې بدن د قبلې نه واوړی.نو مونځ به مکروه وی.ځکه چه عمل کثير مفسد د صلاة دې. حضرت عائشه ﷺ فرمائي. [سألت رسول الله ﷺ من التفات الرجل في الصلاة فقال هو اختلاس يختلسه الشيطان من صلاة

---

(۱) حديث أبي رافع ﷺ اخرجه ابن ماجه في الإقامة باب ٦٧، وابوداود في الصلاة باب ٨٧ والترمذی في الصلاة باب ١٦٥ وأحمد في المسند (١٤٦/١) والترمذی في الصلاة وحسنه والطبراني في معجمه وإسحاق بن راهويه في مسنده)_

(۱) غربه الزيلعي بهذا اللفظ (نصب الراية ٨٨/٢) واخرجت في تاليفی سنن ا لصلاة في فقه الأحناف مايدل على كراهة الإلتفات في الصلاة (عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الِالْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ هُوَ اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ الْعَبْدِ (البخاري في الأذان باب الإلتفات في الصلاة رقم ٧٠٩)_

العبد] يعنى ما د رسول الله ﷺ نه په مانځه کښې دسرې د التفات په باره کښې تپوس اوکړلو. نو نبی ﷺ اوفرمائیل.چه دا اختلاس (دهوکه کول او تښتول) دی.چه دا د بنده د مونځ نه شیطان تښتوی. بهر حال ددې رواياتو او عقلى دليل نه دا خبره ثابته شوه.چه التفات مفسد د صلاة نه دې.اگرچه بنی او گس طرف ته د قبلې نه اوړیدل راشی.خو په دې شرط چه قبلې ته شا رانشی.

عدم الكراهة بموق العينين﴾اوکه مصلی د خپلو سترگو په گوټونو سره ښی او گس طرف ته کتل،بغير د څټ اړولو نه،نو دا مکروه نه دی.

دليله﴾ځکه چه نبی ﷺ به په مانځه کښې خپلو صحابوؓ ته د خپلو سترگو په گوټونو باند ے کتل.البته آسمان طرف ته کتل مکروه دی.

په مانځه کښې د سپی پشان کيناستلو کراهت

وَلَايُقْعِي كَاِقْعَاءِالْكَلْبِاو نه به کينی پشان د ناستې د سپی

حل اللغة﴾①لايقعى، اقعى اقعاء: د سپی په شان کيناستل

تشريح﴾ كراهة الإقعاء﴾صاحب د قدورى رحمه الله فرمائی. چه اقعاء کول مکروه دی.

دليله قول أبي ذر رضی الله عنه وغرابته﴾ ①امام احمد رحمه الله په خپل مسند کښې د ابوهريره رضی الله عنه قول روايت کړې دی.مراد دا دې.چه د ابوذر رضی الله عنه قول غريب دې.د حديث متن دا دې.[نهانى رسول الله ﷺ عن ثلاثة عن نقرة كنقرة الديك وإقعاء كإقعاء الكلب، والتفات كالتفات الثعلب] ابوهريره رضی الله عنه فرمائی رضی الله عنه چه زه رسول الله ﷺ د درې څيزونو نه منع کړې يم.يو د چرگ پشان ټونگو وهلو نه يعنى چه سجده دومره زر اوکړم.لکه څنگه چه چرگ ټونگې وهی.دويم د سپی پشان ناستے نه.يعنى په التحيات کښې دداسې ناستے نه، او دوارو سجدو په مينځ کښې د سپی پشان کيناستلو نه ئې منع فرمائيلے ده.دريم د لومبړے پشان يو خوا بل خوا کتلو نه ئې منع کړې يم.

تفسير الإقعاء﴾د اقعاء دوه تفسيرونه شوى دى.① د امام طحارى رحمه الله په نيز اقعاء دا ده.چه په خپلو کوناتو باندې کينی.او خپل دواړه پتونان اودروی.او خپلے دواړه کوندئ د سينے سره جختے کړی.او دواړه لاسونه په زمکه کيږدی.هم دا صحيح تفسير دې. او هم دا صاحب د هدايه رحمه الله اختيار کړې دې.

② د امام کرخى رحمه الله په نيز اقعاء دا ده.چه خپل دواړه قدمونه اودروی.او په کوناتو باندې کينی.او دواړه لاسونه په زمکه کيږدی.

په مانځه کښې د سلام جواب ورکولو حکم

وَلَايَرُدُّالسَّلَامَ بِلِسَانِهٖاو د سلام جواب نه ورکوی په ژبه خپله وَلَابِيَدِهٖاو نه په لاس خپل سره،

حل اللغة﴾①لايرد، رد ردا (ن): واپس كيدل،واپس کول

تشريح﴾ رد السلام باللسان﴾په مانځه کښې په ژبې سره د سلام جواب ورکول د مونځ فاسدونکے دې.

دليله﴾ ځکه چه دا کلام دې.او په کلام سره مونځ ماتيږی.نو د سلام په جواب سره به هم مونځ ماتيږی.ددې خبرے دليل چه سلام او د سلام جواب ورکول کلام دې.دا دې.چه يوکس قسم اوخوړلو.چه زه به د فلانی سره خبرے نه کوم.بيا ئې هغه ته سلام اوکړلو .نو دا کس به حانثيږی.

كراهة رد السلام باليد﴾او په لاس سره د سلام جواب ورکول مکروه دې.ځکه چه دا هم معنیً سلام دې.نو که

د سلام په نیت باندې مصافحه اوکړی.په دې سره مونځ ماتیږی.

الإعتراض﴿دلته یو اعتراض دا دې.چه حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمائیلی دی.ما حضرت بلال رضي الله عنه ته اووئیل [کیف کان النبی ﷺ یرد علیهم حین کانوا یسلمون علیه وهو فی الصلاة قال کان یشیر بیده] یعنی په کوم وخت کښے چه به نبی ﷺ په مانځه کښې وو.اوخلقو به په نبی ﷺ باندې سلام واچولو.نونبی ﷺ به څنګه جواب ورکولو.بلال رضي الله عنه اوفرمائیل.چه د لاس په اشاره به ئې جواب ورکولو . ددې نه معلومه شوه.چه د په لاس سره د سلام جواب ورکول مکروه نه دی.

الجواب﴿دا واقعه د هغه وخت ده په کوم وخت کښې چه په مانځه کښې د سلام دجواب ورکولو اجازت وو ورستو بیا دا اجازت منسوخ شو نو دا د عدم کراهت دلیل نه دې.

په مانځه کښې د پړلتۍ وهلو او د وېښتو معقوص کولو کراهت

وَلَایَتَرَبَّعُاو پړلتۍ دې نه وهی اِلَّامِنْ عُذْرٍ مګر د عذر د وجې

حل اللغة﴿①لایتربع، تربعا تربعاً: په څلوربوري کیناستل

تشریح﴿ **كراهة التربع في الصلاة**﴿مسئله: د مونځ په حالت کښې بغیر د عذر نه پړلتۍ وهلو سره ناسته مکروه ده.څکه چه په دے ناسته کښې د سنت ناستې پریخودل دی.

تضعیف کراهة التربع خارج الصلاة بدلیلین﴿نو ددې علت په بناء دا ناسته د مانځه نه بهر هم مکروه ده.خو شمس الائمه سرخسی رحمه الله وغیره دا قول رد کړې دې. ①څکه چه د مانځه نه بهر د نبی ﷺ د خپل صحابوؓ سره په پړلتۍ ناسته ثابته ده.(فتح القدیر ②دغه شان په مسجد نبوی ﷺ کښې د فاروق اعظم رضي الله عنه عام طور ناسته هم د پړلتۍ وه.صحیح خبره هم دا ده.چه د پړلتۍ د ناستې په نسبت په دواړه کونډو باندې ناسته تواضع ته زیاته نزدے ده.نو د مانځه په حالت کښې هم دا ناسته غوره ده.مګر دا چه څه عذر وی.

په مانځه کښې په قصد یا په هیره خوراک څکاک کول

وَلَایَاْكُلُ وَلَایَشْرَبُ.او (په مانځه کښې)دے نه خوراک کوی اونه څکاک کوی.

حل اللغة﴿① اکل، اکل اکلاً (ن): خوراک②شرب، شرباً(س): څکل

تشریح﴿ **فساد الصلاة بالأكل والشرب مطلقاً**﴿مسئله دا ده.چه د مانځه په حالت کښې خوراک یا څکاک کول د مونځ ماتونکی دی.که مونځ فرض وی اوکه نفل وی.او خوراک څکاک که په قصد وی او که په سهو یا په نسیان سره ،

دلیله﴿دلیل دا دې.چه خوراک او څکاک په دې دواړو کښې هریو عمل کثیر دې.اوعمل کثیر مفسد د صلاة دې.نوځکه په دې صورتونو کښې مونځ ماتیږی.

الاعتراض ﴿ د مانځه په حالت کښې په هیره سره خوراک څکاک دغه شان معاف کیدل پکار وو.لکه څنګه چه په حالت د روژه کښې معاف دی.

الجواب﴿ د مونځ حالت د روژې د حالت پشان نه دې.څکه چه د مونځ حالت یادونکے دې. یعنی د بیدارئ او هوښیارئ حالت دې.نو د مونځ په حالت کښې خوراک څکاک په هیره او سهو سره نه کیږی.ددې په خلاف د روژې حالت هغه یادونکے نه دې. ددې وجې د روژې په حالت کښې هیره او

نسیان معاف دی.(ګوری نه چه د روژې په حالت کښې روژه دار اوده کیدےهم شی. اوداسې کار هم کولے شی.چه په هغې کښې ورته روژه هډو یاده نه وی.)

په مانځه کښې د امام بې اودسه کېدل

فَإِن سَبَقَهُ الْحَدَثُ کوم کس بے اودسه شی اِنْصَرَفَ.نواودے ګرځی وَتَوَضَّأَ.او په خپله دے اودس اوکړی وَبَنٰى.او بناء دے اوکړی اِن لَّمْ يَكُنْ اِمَامًا که امام نه وی فَإِنْ كَانَ اِمَامًا اوکه امام وی اسْتَخْلَفَ بل کس به خپل نائب جوړ کړی وَتَوَضَّأَ او اودس دې اوکړی وَبَنٰى عَلٰى صَلَاتِهٖ اوپه خپل مونځ دې بناء کوی مَالَمْ يَتَكَلَّمْ ترڅو پورې چه ئې خبرې نه وی کړې

حل اللغة ﴿۱﴾ سبقه، سبق سبقا(ن،ض): وراندې والې کول، مخکښې کیدل ﴿۲﴾ انصرف، انصرافا: واپس کیدل ﴿۳﴾ استخلف، استخلافًا (ن،ض): خلیفه جوړول

تشریح﴿ الربط بما قبله﴾ مصنف رحمه الله وړاندې په تفصیل سره د عوارضو نه د سلامتیا احکام ذکر کړل.اوس په دے ځائې کښې به هغه عوارض ذکرکوی.کوم چه مانځه کښې پیښیږی.او مونځ فاسدوی.چونکه د سلامتیا احکام اصل دی.اود اصل وړاندې کول غوره وی.نوځکه ئې د سلامتیا احکام وړاندې ذکر کړل.

توضیح المسئلة﴾ صورت دا دې.که یوکس په مانځه کښې بےاودسه شو.یعنی غیر اختیاری بے اودسی ورته پیښه شوه.چه حدث سماوی ورته وئیلی شی.نو په داسې صورت کښې دے سمدستی بغیر د څه توقف نه واپس شی.سمدستی د مانځه نه د واپس کیدو حکم ددې وجې دې.چه د حدث نه پس که یو ساعت هم ایسار پاتې شو.نودا کس د حدث د یو جزء سره د مانځه ادا کونکې شو.او په حالت د بے اودسۍ کښې مونځ کول جائز نه دی.نو د مانځه کوم جزء چه د حدث سره مقارن ادا شی.هغه به فاسد وی.اوچونکه د جزء فساد مستلزم وی.فساد د کل لره.نوځکه ټول مونځ فاسدیږی.او فساد د جزء فساد د کل لره ځکه مستلزم دې.چه فساد تقسیم نه قبلوی.یا داسې اووایه.چه کله د مانځه یو جزء فاسد شو.نو باقی مونځ به هم فاسد وی.ځکه چه [صلاة واحدة] او صحة او فساداً تقسیم نه قبلوی.

کیفیة التخلف﴾ اوس دا کس چاته چه حدث لاحق شوې دې.که امام وی.نو په مقتدیانو کښې دے څوک خپل خلیفه جوړکړی.او دخلیفه جوړولو صورت دا دې.چه د هغه جامه دے اونیسی.او خپل محراب ته دے رابنکی.او په خپله دے اودس اوکړی.او بناء دے اوکړی.یعنی دغه مونځ دے د اودس نه پس شروع کړی.

اوقیاس دا دې. چه د سر نه دے مونځ شروع کړی.

دلائله ﴾ ﴿۱﴾دلیل د نبی ﷺ دا ارشاد دې.[من قاء أورعف أو أمذى في صلاته فلينصرف وليتوضأ وليبن على صلاته مالم يتكلم] د عبارت د ترجمے عنوان لاندې ددې حدیث ترجمه تیره شوې ده.

﴿۲﴾ دویم دلیل د نبی ﷺ دا ارشاد دې.[إذا صلى أحدكم فقاء او رعف فليضع يده على فمه وليقدم من لم يسبق بشيء] یعنی کله چه په تاسو کښې څوک د مانځه په دوران کښې قئ اوکړی.یا ئې پوزه ماته شی.نو په خپله پوزه دے لاس کیږدی.اوغیر مسبوق یعنی مدرك دے وړاندې کړی. یعنی خلیفه دے جوړ کړی.

إستخلاف المدرك دون المسبوق﴾ ددې حدیث نه معلومه شوه.چه مدرك دے خلیفه جوړ کړی. مسبوق دے

خليفه نه جوړوي.څکه که مسبوق خليفه جوړ کړي.نود سلام ګرځولو نه وړاندې به هغه بل مدرك خليفه جوړوي.چه مدرك د سلام ګرځولو سره د خلقو مونځ پوره شي.اوچه مسبوق امام خپل مونځ پوره کړي.نو چه مسبوق خليفه جوړ کړې شي.په دې کښې د خليفه جوړولو تکرار لازميږي.نوځکه بهتره دا ده.چه د اول نه غير مسبوق يعنی مدرك خليفه جوړ کړي.چه د دوباره خليفه جوړولو د قباحت نه نجات حاصل شي.بهرحال د ذکر شوی حديث نه د بناء جواز داسې ثابتيږي.چه په حديث کښې دی.[وليبن على صلاته] دا دامر صيغه ده.اود امر ادنی مرتبه اباحت دې.نوځکه د بناء اباحت ثابت شو.

الإعتراض>خودلته يو اشکال کيږي.هغه دا چه په حديث کښې [ليتوضأ] صيغه د امر د وجوب دپاره ده.نو[وليبن على صلاته] هم پکار ده چه د وجوب دپاره وي.حالانکه احناف فقهاء ﷭ د وجوب بناء قائلين نه دی.

الجواب>جواب دا دی.چه زمونږ په نيز[قران في اللفظ قران في الحکم] نه واجبوی.نوځکه دا اعتراض لغو دی.

③ ددې نه علاوه خلفاء راشدينو ﷺ او فقهاء صحابو [عبدالله بن مسعود،عبدالله بن عباس،عبدالله بن عمر،انس بن مالك، سلمان فارسی ﷺ] په دې خبره باندې اجماع کړې ده.دکومې چه مونږ قائل يو.يعنی د بناء په جواز باندې نه په وجوب باندې ،اود اجماع په وجه قياس پريخودے شی.نو [ليبن على صلاته] په [وليتوضأ] باندې نشی قياس کولې.

فضل إستخلاف غيرالمسبوق>په دويم حديث کښې صرف د استخلاف بيان دې.اود نبی ﷺ ارشاد [من لم يسبق بشئ] کښې د افضليت بيان دې.څکه چه مدرك(غيرمسبوق) د مسبوق په نسبت په پوره مونځ ادا کولو باندې زيات قادر دې.نو مسبوق خليفه جوړول به خيانت وي.

د سرنه د مونځ شروع کولو افضليت

وَالإِسْتِئْنَافُ أَفْضَلُ او د سرنه شروع کول افضل دی

حل اللغة >① استيناف: واپس کول

تشريح> **الأقوال الثلاثة في فضل الإستيناف وعدمها**> ①صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه په ذکر شوې مسئله کښې اګرچه بناء جائز ده.خو د سر نه شروع کول افضل دی.چه د اختلاف د شبې نه احتراز راشی.اوکه څوك دا اووائی.چه په استيناف کښې د عمل ابطال دې.نو مونږ جواب ورکوو .چه بې شکه ابطال د عمل دې.خو د اکمال دپاره وو.داسې ابطال د عمل محمود دې.مذموم نه دې.

② بعضې مشائخو ﷭ فرمائيلی دی.چه منفرد لره د سر نه شروع کول افضل دې.او د امام او مقتدی دپاره بناء کول افضل دی.چه د جماعت افضليت محفوظ شی

③او بعضې حضراتو ونيلی دی.که امام او مقتدی ته بل جماعت ملاويدے شی.نو استيناف افضل دې.اوکه نشی ملاويدې.نو بناء افضل ده.

إختيار المنفرد في إتيان الموضع الأول >فرمائی.چه منفرد ته اختيار دې.که خوښه ئې وی.نو بناء دے اوکړي.اوپه کوم ځائې کښې چه ئې اودس کړې وی.هلته دے مونځ پوره کړي.څکه چه په دې کښې کموالے د تګ دې.اوکه خوښه ئې وی.نو خپل ځائې ته دے واپس راشی.تول مونځ دے په يو ځائې ادا کړي.اولنے قول

زمونـږ د مـشـائخودي.او قـول ثـانـي د شـمـس الائمـه سرخـسـي رحمه الله او شـيـخ الاسـلام خواهرزاده رحمه الله دي.

وجوب الإتيان الي الموضع الأول للمأموم>اومقتدی به خپل ځاني ته واپس راځي.او مونځ به پوره کوي.اګرچه دا مقتدي امام محدث وي.چا چه خليفه جوړ کړی وي.د مقتدي دپاره دا حکم واجب او لازم دي.

إستثناء الصورتين من الوجوب>خو دوه صورتونه دي حکم نه مستثنی دي.

① چه دده امام فارغ شوی وي.

② چه دده اود امام په مينځ کښې د اقتداء نه مانع څيز حائل نه وي.يعنې مقتدي چه په کوم ځاني کښې اودس کړی وي.هلته په امام پسې اقتداء کولو کښې څه څيز حائل نه وي.چه هغه د اقتداء مانع وي.لکه پلنه لاره وي.،لوئي درياب وي.د کړکو نه بغير اوچت ديوال وي.نو په دې دواړو صورتونوکښې که مقتدي د اودس په ځاني کښې مونځ پوره کول غواړي.نوڅه قباحت په کښې نشته.

دمونځ په دوران کښې د ليونتوب،احتلام،او بيهوشئ راتلل

وَإِن نَّامَ اوکه اوده شو فَاحْتَلَمَ نو احتلام ئې اوشو أَوجُنَّ اويا ليوني شو أَوْأُغْمِيَ عَلَيْهِ.يا په ده باندې بې هوشي راغله.أَوقَهْقَهَ اويا ئې په کړس کړس اوخاندل إِسْتَأْنَفَ الْوَضُوءَوَالصَّلَاةَنو اودس او مونځ به د سرنه شروع کوي

حل اللغة >①جن، جنونا(ن): ليونې کيدل ②فاحتلم، احتلم احتلاما: بالغ کيدل احتلام کيدل③ قهقه قهقهة: په زوره خندا کول

تشريح> **صورإستيناف الصلاة** >①مسئله دا ده.که مونځ ګذار په حالت د مانځه کښې اوده شو.او احتلام ورته اوشو ،②يا ليونې شو.که امام وي او که مقتدي يا منفرد . ③يا په ده باندې بيهوشي راغله.④ يا ئې په زوره اوخاندل نو د سرنه به مونځ شروع کوي.

دليله>دليل دا دي.چه په مانځه ددې عوارضو پيښيدو نادر دی.نو دا عوارض د هغه عوارضو پشان نه دی.په کومو چه نص راغلې دي.يعنې د نبي ﷺ قول [من قاء أو رعف في صلاته الخ]حاصل دا دي.چه حدث غيرنادرالوجود دي.په هوا وتلو او پوزې ماتيدلو کښې بناء جائزده.او په حدث ،،نادر الوجود ،،کښې بناء جائز نه ده.اوهم دغه شان که ده په خندائې قهقه سره اوخاندل.نو هم باء جائز نه ده.بلکه د سرنه به مونځ شروع کوي.ځکه چه د قهقهې فعل په منزله د خبرو دي.او خبرې د مونځ ماتونکې دی.ځکه چه نبي ﷺ فرمائيلی دی.[مالم يتکلم] يعنې تردې چه ئې خبرې نه وی کړي.نو بناء کولې شي.اوکه خبرې ئې اوکړلې.نو بناء جائز نه ده.

وَإِنْ تَكَلَّمَ فِي صَلَاتِهِ اوکوم کس چه په خپل مونځ کښې خبرې اوکړلې. سَاهِيًا أَوعَامِدًا که سهو وي اوکه په قصد وي. بَطَلَتْ صَلَاتُهُ نو دده مونځ باطل شو.

حل اللغة >①تکلم، تکلم تکلما: خبرې کول ② ساهيا: په هيره سره ③ عامدا: په قصدسره

تشريح> **الفرق بين السهووالنسيان والخطا**>سهو وائي.د قوت مدرکه نه د صورت زائله کيدل او نسيان د قوت حافظه نه د صورت زائله کيدل.تردې چه د کس جديد محتاج شي.او خطاء دا ده.چه صورت خو باقي وي.خو چه کله د يو څيز د تکلم اراده اوکړي.نو بغير د ارادې نه بل څيز په ژبه باندې راشي.په دې ځاني کښې د سهو نه عامه معنی مراد ده.کومه چه درې واړه قسمونو ته شامل ده.او چونکه په

سهو او نسیان کښې د شرعی حکم په اعتبار سره څه فرق نشته.نوځکه مصنف رحمه الله هم ددې دواړو په مینځ کښې څه فرق اونکړلو.

فساد الصلاة بالكلام ① مسئله :که یو کس په خپل مونځ کښې په قصد یا په سهوه کلام اوکړلو.نو دده مونځ باطل شو.کلام د داسې حروفو آواز ته وائی.چه مفید د معنی وی.کله یو حرف وی.لکه .ق. یعنی بچ شه ،اوکه یوحرف بےمعنی وی.نوکلام نه دې.

دلیله دلیل د معاویه بن الحکم اسلمی رضی الله عنه حدیث دې.پوره حدیث داسې دې. [قال صليت خلف رسول الله ﷺ فعطس بعض القوم فقلت يرحمكم الله فرماني القوم بأبصارهم فقلت واثكل اماه مالى أراكم تنظرون إلى شزرا فضربوا بأيديهم على أفخاذهم فعلمت أنهم يسكتونني فلما فرغ النبي ﷺ دعاني فوالله ما رأيت معلماً أحسن تعليما منه كما كهرني ولا زجرني ولكن قال إن صلاتنا هذه لايصلح فيها شئ من كلام الناس وانما هى التسبيح والتهليل وقراءة القرآن]

یعنی معاویه بن حکم رضی الله عنه فرمائی .چه ما په رسول الله ﷺ پسې مونځ کولو. نو یو کس انتوشے اوکړلو.ما ورته [يرحمك الله] اوویل.نو خلقو ماته خپل نظرونه تیز کړل. نو ما اووئې.ددوی میاندے دے بوری شی. ما څه چل کړې دې.چه زه تاسو ته ګورم.چه په برندو سترګو ګورئ.نو هغوی خپل پتونان په خپلو لاسونو اووهل،نو زه پوهه شوم.چه دوی ما چپ کول غواړی.چه کله نبی ﷺ د مانځه نه فارغ شو.نو زه ئې راؤ غوښتلم.په الله قسم چه ما د نبی ﷺ نه ښه معلم نه دے لیدلې.دوی ماته نۀ په غصه شو.اونه ئې زه اورټلم. بلکه وے فرمائیل.چه زمونږ په دې مونځ کښې د خلقو د خبرو نه دڅه څیز ګنجائش نشته.دا خوصرف تسبیح ،تهلیل او قرات د قران دې.

وجه الأستدلال ددې حدیث نه معلومه شوه.چه په مونځ کښې د کلام عدم وجود د مونځ حق دې.لکه څنګه چه د طهار وجود د مونځ حق دې.نو لکه څنګه چه دعدم طهارت سره مونځ جائز نه دې.دغه شان د کلام د وجود سره هم مونځ جائز نه دې.

دتشهد نه پس د بې اودسئ راتلل

وَإِن سَبَقَهُ الْحَدَثُ اوکه مونځ ګذار بے اودسه شو بَعْدَمَا قَعَدَ قَدْرَ التَّشَهُّدِ پس د دې نه چه ناست وو په اندازه د تشهد . تَوَضَّأَ وَسَلَّمَ نو اودس دے اوکړی. اوسلام دے اوګرځوی.

حل اللغة ①سبقه، سبق سبقا (ض): وراندې کیدل ②فلابد : ضروری]

تشریح مسئله داده.چه مونځ ګذار د تشهد نه پس بے اودسه شو.نو حکم دا دې.چه دے به اودس اوکړی.او بیا به سلام اوګرځوی.ځکه چه سلام ګرځول واجب دې.نو ددې وجې اودس کول ضروی شو.چه واجب سلام ادا کړی.

د تشهد نه پس په قصد بې اودسه کیدل

وَإِن تَعَمَّدَ الْحَدَثَ فِي هٰذِهِ الْحَالَةِ اوکه ده په دې حالت کښې په قصد خان بے اودسة کړلو. أَوْتَكَلَّمَ یا ئې خبرے اوکړلې. أَوْعَمِلَ عَمَلاً يُنَافِي الصَّلَاةَ یا ئې داسې څه عمل اوکړلو.کوم چه د مانځه سره منافی وی. تَمَّتْ صَلَاتُهُ نو دده مونځ پوره شو

حل اللغة ①تعمد ،تعمد تعمداً: اراده اوقصد کول ②تکلم، تکلم تکلماً: خبرې کول ③عمل عملا (س): کارکول

تشریح > صورت د مسئلې ښکاره دي

دليله > دليل دا دې چه د مونځ ماتونکی څيز موجوديدو په وجه بناء کول متعذر شوخو په د. باندې د مونځ راکرخول نشته ځکه چه په اِرکانو کښې په ده باندې دځه څيز باقی نه دې

د متيمم په مانځه کښې د اوبو ليدل

وَإِنْ رَأَى الْمُتَيَمِّمُ الْمَاءَ فِي صَلَاتِهِ که متيمم په خپل مونځ کښې اوبهٔ اوليدلې. بَطَلَتْ صَلَاتُهُ نو دده مونځ باطل شو وَإِنْ رَآهُ بَعْدَ مَا قَعَدَ قَدْرَ التَّشَهُّدِ اوکه متيمم د تشهد په اندازه د کيناستلو نه پس اوبه اوليدل ① أَوْ كَانَ مَاسِحًا فَانْقَضَتْ مُدَّةُ مَسْحِهِ ② په موزه باندې مسح کونکې وو. دهغه د مسح موده تيره شوه. أَوْ خَلَعَ خُفَّيْهِ بِعَمَلٍ قَلِيلٍ ③ يا نې خپلې دواړه موزې اوويستلې. په عمل قليل سره، أَوْ كَانَ أُمِّيًّا فَتَعَلَّمَ سُورَةً ④ يا امی وو. نو څه سورت ياد کړلو. أَوْ عُرْيَانًا فَوَجَدَ ثَوْبًا ⑤ يا بربنډ وو. نو جامې نې اوموندلې أَوْ مُومِيًا ⑥ يا په اشاره سره رکوع او سجده کونکې وو. فَقَدَرَ عَلَى الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ بيا په رکوع او سجده قادر شو. أَوْ تَذَكَّرَ أَنَّ عَلَيْهِ صَلَاةً قَبْلَ هٰذِهِ ⑦ او يا ورته ورياد شو چه په ده باندې مونځ دې وراندې د دې نه (يعنی قضا شوې مونځ) أَوْ أَحْدَثَ الْإِمَامُ الْقَارِئُ ⑧ يا امام قاری بې اودسه شو. فَاسْتَخْلَفَ أُمِّيًّا نو هغه امی کس خليفه جوړ کړو. أَوْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ ⑨ يا په مونځ د صبا کښې نمر راوختلو. أَوْ دَخَلَ وَقْتُ الْعَصْرِ ⑩ يا داخل شو. د مازيګر وخت فِي الْجُمُعَةِ په داسې حال کښې چه ده د جمعې مونځ کولو. أَوْ كَانَ مَاسِحًا عَلَى الْجَبِيرَةِ ⑪ يا په جبيره باندې مسح کونکې وو. فَسَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ نو پټه شو. او اوغورځيدله. أَوْ كَانَتْ مُسْتَحَاضَةً ⑫ يا دا معذوره وه. فَبَرَأَتْ ددې عذر ختم شو. بَطَلَتْ صَلَاتُهُمْ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله داامام ابوحنيفه رحمه الله د قول مطابق د دوی مونځ باطل شو. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رحمهما الله او صاحبين رحمهما الله فرمائی. تَمَّتْ صَلَاتُهُمْ چه د دوی مونځ پوره شو فِي هٰذِهِ الْمَسَائِلِ په دې ټولو مسئلو کښې

حل اللغة > ① راه، رای رؤيۃ(ف): کتل ② قعد، قعد قعودًا (ن): کيناستل ③ ماسحا: مسح کونکې ④ فانقضت، انقضی انقضاءً: پوره کيدل ⑤ خلع، خلع خلعًا (ف): ويستل ⑥ خف: موزه ⑦ عريانًا: بربنډيدل ⑧ فوجد، وجد وجدانًا(ض): موندل ⑨ مومِيا: اشاره کونکې ⑩ فائتة: فوت شوې ⑪ امی: ان پړه ⑫ فانقطع، انقطع انقطاعًا: منقطع کيدل، جدا کيدل ⑬ جبيرة جمع جبائر: پټئی

تشريح > **مواقع فساد الصلاة المسمي بالمسائل اثناء عشر** > په دې عبارت کښې د مسائل اثناء عشره بيان دې. کومې چه د تشهد په اندازه د کيناستلو نه پس پيښې شی.

① سيمم مونځګذار د تشهد په مقدار باندې د کيناستلو نه پس اوبهٔ اوليدلې.

② په موزو باندې مسح کونکې وو. د تشهد په اندازه دکيناستلو نه پس نې د مسح مودهٔ پوره شوه.

③ ياد تشهد نه پس نې د په عمل قليل سره دواړو موزوو کښې يوه اوويستله. اوعمل قليل دادې چه موزې داسې سستې وی. چه د لاسونو ضرورت پيښ نشی. صرف د پښو په حرکت سره يوه موزه اوځی

④ يا مونځګذار وو. د تشهد په اندازه کيناستلو نه پس نې دقرآن يو سورت ياد کړلو. صاحب د عنايه رحمه الله فرمائيلی دی. چه قران ترې هير شوی وی. خود تشهد د مقدار نه پس ورته ورياد شی. مطلب دا

نه دي.چه ده په مانځه کښې زده کړلو.ځکه چه د تعليم دپاره زده کول ضروري وي.او زدکړه د مونځ د فعل سره منافي دي.په دې باندې په اتفاق سره مونځ پوره کيږي.او بعضو وئيلي دي.چه د سورت زده کولو مطلب دا دې.چه بغير د اختياره واوريدلو.او بغير د کوشش نه ورته ياد شو.

⑤ يا مصلي برينډ مونځ کولو.ده د مقدار د تشهد نه پس جامه اوموندله.

⑥ يا مصلي په اشاره سره رکوع او سجده کونکې وو.دے د تشهد د اندازه نه پس په رکوع او سجده باندې قادر شو.

⑦ يا مصلی ته د تشهد د اندازے نه پس قضا مونځ ورياد شو.کوم چه په ده باندې ددې مونځ نه وړاندې واجب القضاء وو.مثلاً په ماسپخين کښې ورته د تشهد اندازه نه پس ورياد شو.چه د صبا مونځ ترے قضاء شوېدې.حالانکه د ترتيب د فرضيت د وجې هغه وړاندې کول پکار وو

⑧ ياد تشهد د اندازے نه پس امام قاري بے اودسه شو.او هغه امي کس خليفه جوړ کړلو.

⑨ يا د تشهد د مقدار نه پس د صبا په مانځه کښې نمر راوختلو.

⑩ يا د تشهد دمقدار نه پس دمازيګر وخت داخل شو.حالانکه دا کس د جمعې په مانځه کښې وو.

⑪ يا مصلی په پټئ باندې مسح کونکې وو.نو دتشهد دمقدار نه پس پټئ د روغوالی د وجې اوغورځيدله.

⑫ يا معذور وو.ځو د تشهد د مقدار نه پس دده عذر منقطع شو.يعنی هغه عذرختم شو.لکه مستحاضه ښځه،يا څوك چه ددې په معنی کښې وی.لکه هغه کس چه متيازې ترے روانے وی.يا د پوزے وينه د روانيدو عذر ئے وی.

فساد الصلاة وعدمه ① په دې دولسو مسائلو کښې د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز مونځ باطل شو.

دليله دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دا دې.چه د بل مونځ په خپل وخت کښې ادا کول فرض دی.او دا ممکن نه دی.چه ترڅو پورې د دغه موجوده مونځ نه خارج شوې نه وی.چه بل مونځ شروع اوکړی.نو ددې موجوده مونځ نه وتل د بل فرض مونځ ادا کول دپاره ذريعه شوه.يعنی د بل فرض مونځ ادا کول ددې موجوده مونځ نه په وتلو موقوف دی.اوچونکه د فرض موقوف عليه هم فرض وی.نوځکه ددې موجوده مونځ نه وتل هم فرض شو.

تائيده هم دا وجه ده.چه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د مونځ نه وتل په ،،صنعه،، فرض دی.ددې نظيردا دې.چه په يو کس باندې نفقه واجب وی.او هغه بغير د ګټلو نه نشي حاصليدې.نو په ده باندې ګټه کول هم فرض دی.يا مثلاً سجده فرض ده.او دا تر هغه وخته پورې ممکن نه ده.ترڅو چه د رکوع نه منتقل شوې نه وی.نو دا انتقال هم فرض شو.ځکه چه د فرض موقوف عليه فرض وی.

مذهب الصاحبين په دې مسئله کښې صاحبينو رحمهما الله فرمائيلی دی.په دے ټولو صورتونو کښې مونځ پوره شو.

دليلهما دصاحبينو رحمهما الله دليل د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حديث دې.حديث دا دې.چه رسول الله ﷺ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ته فرمائيلی وو.[إذا قلت هذا أو فعلت هذا فقد تمت صلاتك إن شئت أن تقوم فقم] يعنی کله چه تا دا اووئيل.يا دے دا اوکړلو.نوستا مونځ پوره شو.که ستا زړه پاسيدل غواړی.نو اودريږه په دې حديث باندې استدلال داسې دې.چه نبی ﷺ د مونځ پوره کيدل په تشهد وئيلو يا د تشهد په مقدار ناسته پورې معلق کړلو.نو کوم کس چه د مونځ پوره والے په بل څيز پورے معلق کړلو.نوده د نص

مخالفت اوکړلو.حاصل دا دې چه په دې مسائلو کښې د آخرۍ قعدے نه پس ددې عوارضو ذکر دې.او په آخری قعده باندې مونځ پوره شو.نو هرکله چه په آخری قعده باندې مونځ پوره شو.نو ددې نه پس د مونځ باطليدلو څه سوال پيدا کيږي!

الجواب عنه> خوددې نه جواب دا دې چه په حديث کښې [تمت صلاتك] معنى [قاربت التمام] ده.يعنى کله چه ده دا اووئې.نو ستا مونځ پوره کيدو ته نزدے شو.

نظيره>دا داسې ده.لکه څنګه چه د نبیﷺ قول [من وقف بعرفة فقد تم حجه] يعنى چا چه په عرفه باندې وقوف اوکړلو.نود ده حج پوره شو. حالانکه د وقوف عرفه نه پس هم لا تراوسه پورې طواف زيارت فرض باقى پاتې وى.نو دلته هم دا معنى ده.چه حج پوره کيدو ته نزدے شو.

الاعتراض>خوڅوک دا سوال اوکړی چه کله امام قارى بے اودسه شى.اوده امى کس خليفه جوړ کړلو.نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز پکار ده چه مونځ فاسدنشى.څکه چه خليفه جوړول دمونځ ماتونکې نه دى.يعنى که قارى محدث بل څوك قارى جوړ کړى.نو مونځ نه فاسديږى.نو دغه شان دلته هم پکار ده چه فاسد نشى.

الجواب> بيشکه خليفه جوړول مفسد د صلاة نه دى.څکه خو د قارى بل قارى خليفه جوړول جائز دى.خو په ذکر شوى صورت کښې فساد د استخلاف د وجے نه دې.بلکه د بل څيز د وجے دې.او هغه بل څيز د حکم شرعى ضرورت دې.او د امر شرعى ضرورت دې.چه امى څوك چه خليفه جوړولے شى.په هغه کښې دامامت صلاحيت نه وو.نو په امام کښې د امامت د صلاحيت د فقدان د وجے مونځ فاسديږى.د خليفه جوړلو د وجے نه.

الأصل المختلف فيه>بعضې مشائخو ﷺفرمائيلى دى.چه په دې باب کښې اصل دا دې.چه دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د مانځه نه بهر وتل د مصلى په اختيار سره فرض دى.او د صاحبينو رحمهما الله په نيز فرض نه دى.نو ددې اصل په بناء دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د آخرى قعدے نه پس دے عوارضو راتلل کوم چه په هر مسئله کښې جدا جدا ذکر شول.داسې دى.لکه چه د مانځه په مينځ کښې راغلى وى.اود مونځ په مينځ کښې ددې عوارضو راتلل د مونځ مفسد دى.نوکه آخرى قعدے نه پس هم دا عوارض راتلل د مانځه فاسدونکى دى.نوځکه د آخرى قعدے نه پس هم که دا عوارض پيښ شى.نو مونځ به باطل وى.

②دصاحبينو رحمهما الله په نيز د آخرى قعدے نه پس ددې عوارضو راتلل داسې دى.لکه څنګه چه د سلام نه پس وى.او دا ښکاره خبره ده.چه د سلام ګرځولو نه پس هيڅ يو عارض مونځ نه فاسدوى.نوځکه د آخرى قعدے نه پس ددې عوارضو راتلل د مونځ فاسدونکى نه دى.

د فوت شوو مونځونو بيان

بَابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ

ترجمه> (دا) باب دفوت شوومونځونو دقضاء(په بيان)کښې دې.

تشريح> په تيرشوى باب کښې د ادا اوددې دمتعلقاتود احکامو بيان وو.اوس په دې باب کښې دقضاء احکام ذکرکيږى،چونکه ادا اصل اوقضاء ددے خليفه دې.څکه ئې ادا مخکښې اوقضاء روستو ذکرکړې ده.اداء وائى عين واجب ددې مستحق ته سپارل،او قضاء وائى مثل د واجبو(مستحق)ته

سپارل.

د فوت شوي مونځ د قضاء راوړو وخت

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَاةٌ چه دیوکس مونځ فوت شي قَضَاهَا إِذَا ذَكَرَهَا .نوددې قضاء دے راوړي چه کله وریادشي وَقَدَّمَهَا عَلَى صَلَاةِ الْوَقْتِ .اوداد ے مخکښې کړي.د وختي فرض نه

حل اللغة ﴿①فاتته، فات فوتا (ن): فوت کيدل ②قضاها، قضى قضاء (ض): اداکول، قضا کول ③ قدمها، قدم تقديما: وړاندې کول

تشريح ﴿ ترتيب قضاء الفوائت﴾ مسئله داده.که دچا نه مونځ فوت شي.نوچه کله وریاد شي.دهغې قضاء دے راوړي.اودا دے په وختي مونځ مقدم کوي.ضابطه داده.چه زمونږ په نیز دفوت شوي او وختي په مينځ کښې ترتيب واجب دې.

دليله ﴾ دليل داللفظ دنبي ﷺ ارشاد دے [من نام عن صلاة او نسيها فلم يذكرها الاوهو مع الامام فليصل التي هو فيها ثم ليصل التي ذكرها ثم ليعد التي مع الامام] (۱) دحديث حاصل دا دې.که مونځ فوت شو. اودےکس د امام سره وختي (مونځ) شروع کړو.نود امام سره دے وختي مونځ پوره کړي.بيا دے د فوت شوي مونځ قضا راوړي.بيا دے د هغې مونځ اعاده اوکړي.کوم نې چه د امام سره کړې وي.ددې حديث نه معلومه شوه.کوم چه مونځ ئې د امام سره کړې دے چونکه داد فوت شوي مونځ نه مقدم شوې دې.حالا نکه دفوت شوي مقدم کول واجب وو.په دې وجه دد ے راګرځولوحکم دې.چه دفوت شوي او وختي په مينځ کښې ترتيب متحقق شي.

الاعتراض﴾خو دلته کښې يواعتراض دې.هغه دا چه حديث د اخبار آحاد څخه دې.اوپه خبرواحد سره فرضيت نه ثابتيږي.نوپه دې حديث ترتيب فرضيت نه ثابتيږي.

الجواب﴾داحديث خبرمشهوردې.خبرواحد نه دې.اوکه اومنو.چه دا خبرواحد دې.نوجواب دا دې.چه ترتيب خوپه کتاب الله يعني (اقيموا الصلاة) سره ثابت دے.يعني کتاب الله مجمل دے په دې وجه دا حديث د مجمل کتاب بيان واقع شوې دې.

په فوت شوو او وختي مونځونو کښې ترتيب

إِلَّا أَنْ يَخَافَ فَوْتَ الْوَقْتِ مګر داکه ويريږي د وتلو د وخت فَيُقَدِّمُ الْوَقْتِيَّةَ نو وختي مونځ به وړاندې کوي عَلَى الْفَائِتَةِ په فوت شوي مونځ باندې ثُمَّ يَقْضِيهَا بيا دے دفوت شوي قضاء راوړي

حل اللغة ﴾① خاف، خاف خوفا(س): ويريدل ② يقدم، قدم تقديما: وړاندې کول،مقدم کول ③ ضيق: تنګى سختى ④نسيان: هيرول ⑤تفويت: فوت کول]

تشريح ﴾ اسباب سقوط الترتيب﴾ په مخکښې مسئلې کښې تيرشوي دي.چه د فوت شوي اود وختي مونځ په مينځ کښې ترتيب واجب دې.خوکه وخت تنګ شو اوددےخبرے ويره شوه .که دفوت شوي په قضاء کښې مشغول شي.نو وخت به اوځي په داسې صورت کښې دے وختي مونځ مقدم کړي بيا ددې نه پس دے د فوت شوي قضاء راوړي.څکه چه په درې څيزونو ترتيب ساقطيږي. ① د وخت تنګوالے ②

---

(۱) من حديث إبن عمر رضي الله عنه روه الدارقطني في سننه (۱/ ۴۲۱) والبيهقي في السنن ا لكبرى (۲/ ۲۱۳) رقم ۳۱۹۳)۔

هیره ③ دفوت شوی (مونځونو) کثرت دکثرت مقدار شپږ مونځونه دی.په دے خیزونوسره ترتیب ځکه ساقطیږی.چه وختی مونځ فوت کیدل لازم نشی.

جواز تقدیم الفائتة علی الوقتیة مع الإثم ﴾ مسئله دا ده .که د وخت د تنګئ باوجود نې فوت شوې مونځ اوکړو.او وختی (مونځ) نې پریخودلو.نوفوت شوې به ادا شی.خود وخت(مونځ) په خپل وخت کښې دننه د نه ادا کولو د وجے به ګناهګار وی.ځکه چه د فوت شوی(مونځ) ددامې تنګئ په حالت کښې په مقدم کولو کوم چه ممانعت دےنودا د داسې معنی په وجه دےچه په غیرکښې ده.یعنی وختی (مونځ) پریخودل، نو د وختی پریخودلو د وجے دفوت شوی په ادا کښې هیڅ نقصان رانغلو،اود وختی په پریخودلو به په ده عظیمه ګناه وی.

عدم جواز تقدیم الوقتي علی الفائتة ﴾ ددې په خلاف که په وخت کښې ګنجائش وی اوبیا وختی مونځ مقدم کړی.نودا جائز نه دی.ځکه چه ده وختی مونځ دخپل وخت نه مخکښې اداکړو.د وخت نه مخکښې اداکول په دې وجه لا زمیږی.چه د حدیث نه ثابت دی.چه د وختی (مونځ) وخت د فوت شوی نه پس دې.اوکوم چه مونځ د وخت نه مخکښې ادا شی هغه ټیك نه وی. په دې وجه په وخت کښې دننه د ګنجائش په صورت کښې به د وختی په فوت شوی مقدم کول جائزنه وی.

په فوت شوی مونځونو کښې دترتیب حکم

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَوَاتٌ اوهغه څوک چه فوت شی د هغه نه څو مونځونه رَتَّبَهَا فِي الْقَضَاءِنو په قضاء کښې دے دا په ترتیب سره راوړی كَمَا وَجَبَتْ فِي الْأَصْلِ لکه څنګه چه په اصل کښې واجب شوی وی إِلَّا أَنْ تَزِيدَ الْفَوَائِتُ عَلَى خَمْسِ صَلَوَاتٍ.خودا چه فوت شوی مونځونه پنځو ته اورسی (نو بیا په کښې ترتیب ساقطیږی) فَيَسْقُطُ التَّرْتِيبُ فِيهَا.نوپه دې کښې ترتیب ساقطیږی

حل اللغة ﴾① فاتته، فات فوتا (ن): فوت شوې ②رتبها ،رتب ترتیبا: ثابت کول، د مرتبې په لحاظ باندې ساتل ③وجبت، وجب، وجوبًا (ض): واجب کیدل

تشریح﴾ **وجوب الترتیب بین الفوائت**﴾ مسئله داده.چه ترتیب څنګه د وختی او فوت شوی په مینځ کښې فرض دې.هم دغه شان په خپله د فوت شوو مینځ کښې هم فرض دې.که څومونځونه فوت شی.نوددې قضاء دے هم په هغه ترتیب راوړی. په کوم ترتیب چه ادا واجب شوی وو.

دلیله ﴾ دلیل د رسول الله ﷺ حدیث دے د حدیث الفاظ دا دی [عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال ان المشرکین شغلوا رسول الله ﷺ عن اربع صلوات یوم الخندق ذهب من اللیل ماشاء الله فامر بلالا فأذن ثم اقام فصلی الظهر ثم اقام فصلی العصر ثم اقام فصلی المغرب ثم اقام فصلی العشاء] (۱) ابن مسعود اوونیل چه مشرکانو رسول پاك ﷺ د خندق په ورځ دځلورو مونځونو نه مشغوله کړې وو.تردے چه شپه تیره شوه.نونبی کریم ﷺ بلال رضی الله عنه ته امر اوکړو.بلال رضی الله عنه اذان اوکړو.بیانې اقامت اوکړو.بیانې د ماسپخین مونځ اوکړو.بیانې اقامت اوکړو.بیانې د مازیګر مونځ اوکړو.بیا نې اقامت اوکړو بیانې د ماښام مونځ اوکړو.بیانې اقامت اوکړو بیانې د ماسخوتن مونځ اوکړو.بیانې اوفرمائیل چه [صلوا کما رأیتمونی أصلی] تاسوداسےمونځ کوئ لکه څنګه چه تاسوما وینئ چه زه مونځ کوم.

(۱) من حدیث إبن مسعود رضی الله عنه رواه الترمذی في المواقیت باب ۱۸ والنسائي في المجتبی (۱/۱۰۷) و رواه احمد۔

په حدیث کښې دغورکولونه پته لګی.چه په کوم ترتیب سره مونځونه فوت شوی وو،نبی کریم ﷺ هم په هغه ترتیب سره دهغې قضاء راوړله.اوبیاني حکمًا اوفرمائیل چه[صلوا کما رأیتمونی أصلی] یعنی راتلونکی وخت دپاره هم داحکم دې.بهرحال په دې حدیث سره دفوت شوو په مینځ کښې ترتیب ثابت شو.

سقوط الترتیب بالکثرة> اوکه دفوت شوو تعداد زیات شی.اوشپږشی.نوددې په مینځ کښې به ترتیب ساقط شی.

دلیله> دلیل دادې.چه په دې صورت کښې قضا شوی زیات دی.اود زیات فوت شوومونځونو په مینځ کښې دحرج دفع کولو دپاره ترتیب ساقطیږی.لکه څنګه چه د زیاتو قضا شوو او وختی مونځونو په مینځ کښې ترتیب ساقطیږی.اودکثرت مقدار دادے چه فوت شوی مونځونه شپږشی. یعنی دشپږم مونځ وخت اوخی.

ذکرالمسئلة في الجامع الصغیر> هم دا مسئله په جامع صغیر کښې په دې طریقه بیان شوې ده. که فوت شوی مونځونه دیوے ورځې او یوے شپې نه زیات شوی وی نودکوم مونځ نه چه شروع کوی هغه به جائز وی.ځکه چه دیوے ورځې شپې نه د زیاتیدو په وجه فوت شوی مونځونه شپږشی.او شپږ مونځونه برابریدل دکثرت علامه ده.او مخکښې تیرشوی دی.چه قضاشوی مونځونه که زیات وی نوددې په مینځ کښې ترتیب ساقطیږی.نوچه دکوم مونځ نه هم دقضاء ابتداء کوی ټیک ده،ترتیب وار وی اوکه بغیرد ترتیبه وی.

اصل هذه المسئلة> صاحب دعنایه لیکلی دی چه ددې اصل،قضاء بالاغماء ده یعنی د بےهوشئ دوجےکه مونځونه زیات فوت شی.نوددې قضاء به واجب نه وی اوکه کم مونځونه فوت شی.نوددې قضاء واجب ده، او دا خبره د ثبوت حدته رسیدلےده،چه حضرت علی رضی الله عنه دیوے ورځې اوشپې نه کم بےهوشه شوې وو .نو هغوی رضی الله عنه د مونځونوقضاء راوړله.او عمار بن یاسر رضی الله عنه پوره یوه ورځ اوشپه بےهوشه وو.نوهغوی هم د یوے ورځې اوشپې دمونځونو قضائی فرمائیلے ده.اوحضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما دیوے ورځې شپږنه زیات بےهوشه پاتې شوې وو.نوهغوی قضائی اونکړه.ددې دريځ واړو حضراتو واقعاتونه ثابته شوه چه د کثرت په تعریف کښې تکرارمعتبردې.یعنی دشپږم مونځ وخت وتل.

هغه درې وختونه چه مونځ په کښې مکروه دې

بابُ الأوقات

دا باب دهغه وختونو په بیان کښې دې

اَلَّتِي تُكْرَهُ فِيهَا الصَّلَاةُ چه په کومو کښې مونځ مکروه دې.: لَا تَجُوزُ الصَّلَاةُ مونځ جائزنه دې عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ د نمر راختو په وخت وَلَا عِنْدَ غُرُوبِهَا اونه د پریوتو په وخت إِلَّا عَصْرَ يَوْمِهِ مګر د مازیګر مونځ هم په دغه ورځ کښې وَلَا عِنْدَ قِيَامِهَا فِي الظَّهِيرَةِ اونه په غرمه کښې د نمر د قیام په وخت

حل اللغة> ① ظهیرة: غرمه

تشریح> کراهة الصلاة في الأوقات الثلاثة> په ماقبل کښې د وخت په دوو قسمونو کښې د یو بیان وو.یعنی اوقات مستحبه،اوپه دې باب کښې د دویم قسم یعنی د مکروه وختونو بیان دې. دلته کښې کراهت عام دې.چه جوازمع الکراهة اوعدم جواز مع الکراهة دواړو ته شامل دې.حاصل د مسئلې دا دې.دنمر راختو، ډوبیدو او نصف النهار په وخت کښې نه فرض مونځ جائز دې.اونه نفل.

دلیله > دلیل د حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه حدیث دې. [قال ثلاث ساعات كان رسول الله ﷺ ينهانا أن نصلي فيهن أو أن نقبر فيهن موتانا عند طلوع الشمس حتى ترتفع وعند زوالها حتى تزول وحين تضيف للغروب حتى تغرب] () په حدیث د عقبه بن عامر رضی الله عنه کښې ،،صلاة،، عام دې.که فرض وی اوکه نفل وی.او د ،، أن نقبر، نه مراد د جنازې مونځ دې.ځکه چه په دے وختونو کښې دمړی ښخول مکروه نه دی . نو اوس مطلب دا شو.چه نبی ﷺ په دے وختونو کښې د مطلق مونځ کولو نه منع کړې ده.که فرض وی اوکه نفل اوکه دجنازې مونځ وی.

إستثناء عصراليوم > شیخ ابوالحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه په دريو وختونوکښې مطلقاً مونځ مکروه دې.خو د دغه ورځ د مازیگر مونځ ددې نه مستثنی دې.یعنی که په دغه ورځ د مازیگر مونځ اونکړی. تردے چه د نمر پریوتو وخت شی.نوپه دغه وخت کښې هم صرف د دغه ورځ د مازیگر مونځ کولې شی. نور مونځونه نشی کولې.دغه شان د بلې ورځ د مازیگر قضاء شوې مونځ هم نشی کولې.

فهم الأمور الأربعة > په دلیل کښې یو څو خبرے په ذهن کښې کینوئ.

① دمونځ وختونه ددې د ادا کولو سبب وی.

② سبب په مسبب باندې مقدم وی.

③ چه څنګه سبب وی.هغه شان به مسبب وی.یعنی که سبب کامل وی.نومسبب به هم کامل وی.اوکه سبب ناقص وی.نو مسبب به هم ناقص وی.

④ که مونځ کامل واجب شوې وی.نو په کامله طریقه ادا کول ضروری دی. او که ناقص واجب شوې وی.نود نقصان د صفت سره هم ادا کیدے شی.

الإحتمالات الثلاثة في سبب الصلاة > اوس د دلیل خلاصه دا شوه.کوم کس چه د نمر دوبیدو په وخت کښې د مازیگر مونځ کوی.نوددې په سبب کښې دري احتمالات دی.

① یوداچه پوره وخت سبب اوګرځولې شی.

② دویم دا چه کوم وخت تیر شوې وی.هغه سبب اوګرځولے شی.

③ دریم دا چه د ادا کولو سره متصل جزء سبب اوګرځولې شی.

بطلان الإحتمال الأول > اولنې احتمال باطل دې.ځکه که ټول وخت سبب اوګرځولې شی. نوبکارده چه د وخت نه پس مونځ واجبیږی.ځکه چه مسبب د سبب نه موخر وی.حالاتکه مونځ په وخت کښې دننه واجب دې.د وخت نه پس نه.

بطلان الإحتمال الثاني >اودویم احتمال هم باطل دې.ځکه که تیرشوې وخت سبب اوګرځولې شی.نوکوم کس چه په آخر وخت کښې مونځ کوی.پکارده چه هغه ته قضاء راوړونکے اووئیلے شی.حالاتکه هغه قضاء راوړونکے نه دې.

الجزء المتصل للأداء هو السبب > نومعلومه شوه.چه کوم جزء د ادا کولو سره متصل وی.هغه د وجوب صلاة سبب دې.او په مذکوره مسئله کښې ،،جزء متصله للاداء،، ناقص وخت دې.او وراندې تیر شو.که سبب (وخت) ناقص وی. نو مسبب (مونځ) به هم ناقص واجبیږی.نوپه دې کس چه په کوم صفت مونځ

(۱) من حديث عقبة بن عامر الجهني رضي الله عنه أخرجه مسلم في صلاة المسافرين رقم ۲۹۳ وأبوداود في الجنائز باب ۵۱ والترمذي في الجنائز باب ۸۹ وابن ماجه في الجنائز باب ۳۰۔

واجب شوي وو.هغه شان ئې ادا کړلو.نوځکه مونږ وايو.چه د نن ورځې د مازيگر مونځ د نمر ډوبيدو په وخت کښې هم جائز دے

حکم الصلوات الأخرى عندالغروب﴿ ددې په خلاف هغه نور مونځونه چه ددې ورځې د مازيگر دمونځ نه علاوه دی.هغه په دے وخت کښې کول ځکه جائز نه دی .چه هغه په کامل صفت سره واجب شوی دی.نوپه ناقص وخت کښې به نشی ادا کولې.

په دريږ وختونو کښې د جنازې او د تلاوت د سجدې حکم

وَلَايُصَلّٰى عَلٰى جَنَازَةٍاومونځ به نه کوی په جنازه باندې وَلَايَسْجُدُلِلتِّلَاوَةِاوسجده به نه کوی دپاره دتلاوت

تشريح﴿ **دليل كراهة الجنازة** ﴾ مصنف رحمه الله فرمائی.چه په دريږ وختونو کښې به نه دجنازے مونځ کوی. اونه به سجده د تلاوت کوی.

دليل كراهة صلاة الجنازة فيها﴿دليل هغه حديث دې.چه وړاندې تير شو.يعنی [أن نقبرفيها موتانا]

دليل كراهة سجدة التلاوة ﴾ اود تلاوت د سجدے د عدم جواز دپاره دليل دا دې.چه سجده د تلاوت هم د مونځ پشان ده.په دې طريقه چه کوم شرطونه چه په مانځه کښې دی.لکه طهارت، پټول د عورت، استقبال د قبلې وغيره نودا په سجده د تلاوت کښې هم شرطونه دی.نوهرکله چه سجده دتلاوت د مونځ پشان شوه.نودا په دريږ وختونو کښې د مونځ نه کولو په نهی کښې شامل شوه.حديث مبارک دې.چه [ثلاثة أوقات نهانا رسول الله ﷺ أن نصلى فيها]

الإعتراض﴿خودلته يو اشکال دې.چه هرکله سجده د تلاوت دمانځه پشان شوه .نولکه څنگه چه په خندائې قهقهه باندې مونځ ماتيږی.پکار ده چه دغه شان پرے سجده د تلاوت هم ماتيږی.خوپه سجده د تلاوت کښې په خندائې قهقهه باندې سجده نه ماتيږی.

الجواب﴿ جواب دا دې.چه په حديث کښې کوم مونځ په خندائې قهقهه باندې ماتيدونکے خودلے شوې دې.دهغه نه هغه مونځ مراد دې.چه په هغې کښې تکبير تحريمه ،رکوع او سجده وی.اوسجده دتلاوت داسې نه ده.نوځکه که په دې کښې خندائې قهقهه اوکړی.نو سجده پرے نه ماتيږی.

حكمة النهي عن الصلاة في الأوقات الثلاثة ﴾ اوپه دے دريږ وختونو کښې د مونځ کولو نه څکه منع شوې ده.چه د نمر پرستو سره مشابهت رانشی.(يعنی په دے دريږ وختونو کښې هغه کسان نمر ته سجده کوی.چه د نمر عبادت کوی.نوکه مسلمانان هم په دے دريږ وختونو کښې الله تعالی ته سجده کوی. نو د هغوی سره مشابهت راتللو.څکه نبی ﷺ په دے دريږ وختونو کښې د مونځ کولو نه منع اوکړله.

المراد من النفي في الحديث ﴾صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلی دی.چه د جنازے د مونځ او سجدے د تلاوت جواز چه کومه نفی شوې ده.ددې نه کراهت مراد دې.يعنی دا دواړه په دے وختونو کښې مکروه دی.نوکه په مکروه وخت کښې جنازه حاضره شوه.اوهم په دغه وخت کښې اوکړې شی.يا په مکروه وخت کښې ئې د سجدے آيت اولوستلو.اوهم په دغه وخت کښې سجده اوکړی.نودا جائز دی.

دليل جواز الجنازة وسجدة التلاوة في الأوقات المكروهة ﴾ دليل دا دې.چه دجنازے د وجوب سبب ددې حاضريدل دی.اود سجدے د تلاوت د وجوب سبب ددې تلاوت دې.اوچونکه دا دواړه په ناقص وخت کښې راغلی دی.نوچه څنگه واجب شوی وو.هم هغه شان ادا شو.او ددې په خلاف نور فرائض په دے وختونو

کښې جائز نه دی.ځکه چه هغه کامل واجب شوی دی.نو په کامل وخت کښې به ادا کول ضروری وی.

دصبا او مازیګر نه پس د نوافلو حکم

وَيَكْرَهُ أَنْ يَتَنَفَّلَ بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ اود صبا د مونځ نه پس نفل مکروه دی حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ تردے چه نمر راوخیژی وَبَعْدَ صَلَاةِ الْعَصْرِ اود مازیګرنه پس حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ تردے چه نمر پریوځی

تشریح ﴾ **كراهة النفل بعد الفجر والعصر** ﴾ مسئله دا ده.چه د صبا نه پس تر نمر راختو پورې اود مازیګر نه پس تر نمر پریوتو پورې نفل کول مکروه دی.

دلیله ﴾دلیل د ابن عباس رضي الله عنه حدیث دې.[شهد عندی رجال مرضیون وأرضاهم عندی عمر أن رسول الله ﷺ نهی عن الصلاة بعد الصبح حتی تشرق الشمس وبعد العصر حتی تغرب] (۱) ابن عباس رضي الله عنه فرمائي.داسې کسانو ګواهی کړې ده.چه په هغوی کښې ماته د ټولو نه زیات خوښ حضرت عمربن خطاب رضي الله عنه وو.چه رسول الله ﷺ د صبا نه پس د مانځه نه منع کړې ده.تردے چه نمر راوخیژی . اود مازیګرنه پس تردے چه نمر پریوځی.(بخاری ومسلم)

تعارض الروایتان في الرکعتین بعد العصر ﴾ ①خود عائشې رضي الله عنها حدیث چه صحیحینو نقل کړې دې.ددې سره معارض دې.حدیث دا دې. [رکعتان لم یکن رسول الله ﷺ یدعهما سرا ولاعلانیة رکعتان قبل صلاة الفجر ورکعتان بعد العصر] یعنی دوه رکعته دی.چه رسول الله ﷺ به نه پریخودل.نه په پټه او نه په ښکاره.دوه رکعته د صبا دمانځه نه وړاندې اودوه رکعته د مازیګر نه پس ②اویو بل روایت کښې دی.چه [ماكان النبی ﷺ یأتینی فی یوم بعد العصر إلا صلی رکعتین] یعنی کله هم داسې نه ده شوې.چه رسول الله ﷺ به ماته راغلو د مازیګر نه پس څو دوه رکعته به نې کول.ددې دواړه احادیثو نه معلومیږی .چه دمازیګر نه پس نبی ﷺ دوه رکعته په پابندئ سره کړی دی.

الجواب من التعارض ﴾ جواب دا دې.چه د مازیګر نه پس دوه رکعته مونځ د نبی ﷺ خصوصیت وو.نو امت دپاره ددې اجازت نشته.اوددې دلیل دا دې.چه یوځل د ماسپخین نه پس د وفد عبدالقیس څه خلق د نبی ﷺ خدمت کښې حاضر شو .دهغوی د مشغولیت دوجے نبی ﷺ د ماسپخین نه پس دوه رکعته اونکړې شو.نو نبی ﷺ د تدارك په طور د مازیګرنه پس دوه رکعته اوکړل. او عادت شریف ئے دا وو.چه کله به نبی ﷺ څه عمل کولو.نو په هغې به نې مداومت کولو.نو ځکه نبی ﷺ د مازیګرنه پس همیشه دپاره دوه رکعت شروع کړل.او نور خلق به نې ددې دوو رکعتونو نه منع کول.

واقعة إتيان وفد عبدالقیس ﴾ علامه ابن الهمام د بخاری اومسلم په حواله سره پوره واقعه داسې لیکلے ده.[عن کریب مولی ابن عباس رضي الله عنهما أن عبدالله بن عباس وعبدالرحمن بن الأزهر ومسور بن مخرمة أرسلوه إلی عائشة رضي الله عنها زوج النبی ﷺ فقالوا إقرأ علیها السلام منا جمیعا وسلها عن الرکعتین بعد العصر وقل بلغنا أنك تصلینهما وأن رسول الله ﷺ نهی عنهما قال کریب فدخلت علی عائشة رضي الله عنها فأخبرتها فقالت سل أم سلمة رضي الله عنها فرجعت إلیهم فأخبرتهم فردونی إلی أم

---

(۱) فی حدیث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه البخاری فی المواقیت بَب ۳۰ رقم ۵۸۱ ومسلم فی صلاة المسافرین رقم ۲۸۶ وأبوداود فی التطوع باب ۱۰ رقم ۱۲۷۶ والترمذی فی الصلاة باب ۲۰رقم ۱۸۳ والنسائی فی المواقیت بَب ۳۲ وابن ماجه فی الإقامة باب ۱۴۷ رقم ۱۲۵۰)۔

سلمة رضي الله عنها فقالت أم سلمة سمعت رسول الله ﷺ نهى عنهما ثم رأيته يصليهما فقيل له في ذلك فقال أنه أتاني ناس من عبد القيس بالإسلام من قومهم فشغلوني عن الركعتين اللتين بعد الظهر وهما هاتان] يعنی کریب آزاد کرده غلام د ابن عباس رضي الله عنهما روایت کوی.چه عبدالله بن عباس، عبدالرحمن بن ازهر ،او مسور بن مخرمه رضي الله عنه زه ام المؤمنین عائشي رضي الله عنها ته اولیږلم.چه زمونږ د ټولو طرفه ام المؤمنین ته سلام اووایه.اود مازیګر نه پس د دوو رکعتونو حال ترے معلوم کړه.اوعرض ورته اوکړه .چه مونږ ته دا خبر رارسیدلے دې.چه ته دا دوه رکعتونه کوې.او رسول الله ﷺ ددې نه منع کړې ده.کریب وائی.زه د ام المؤمنین په خدمت کښې حاضر شوم . او پیغام مے ورته اورسولو.هغوی راته اوفرمائیل.لاړ شه د حضرت ام سلمے رضي الله عنها نه تپوس اوکړه.نوواپس راغلم.اوهغوی ته مے واقعه بیان کړه.نوهغوی زه ام المؤمنین حضرت ام سلمے رضي الله عنها ته اولیږم.نو ام سلمے رضي الله عنها اوفرمائیل.چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی وو.چه د مازیګر نه پس نې د دوو رکعتونو نه منع کوله.بیا ما اولیدلو.چه نبی ﷺ دوه رکعته کول.نو په دې باره کښې ما د نبی ﷺ نه تپوس اوکړلو.(چه تاسو خود مازیګر نه پس د نفلو نه منع کړې وه. او اوس نې پخپله کوئ.نو نبی ﷺ اوفرمائیل: ماته د وفد عبدالقیس څه کسان راغلل.دخپل قوم د طرف نه د اسلام قبلولو دپاره.نود ماسپخین نه پس دوو رکعتو نه مشغول شوم.نو دا هغه دوه رکعته دی.(چه اوس نې د مازیګر نه پس کوم. از مترجم (بخاری في المغازی)

د صبا اومازیګر نه د پس دقضا مونځونو د کولو رخصت

وَلَا بَأْسَ اوڅه حرج نشته بِأَنْ يُصَلِّيَ فِي هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ الْفَوَائِتَ که په دې دوارو وختونو کښې قضاء مونځونه اوکړې

تشریح﴿ جوازالفائتة في هذين الوقتين﴾ امام قدوری رحمه الله فرمائی.په دې دوو وختونو کښې یعنی د صبا دمانځه نه پس او د مازیګر د مانځه نه پس د قضاء مونځونو په کولو کښې څه قباحت نشته.

دليل الجوازمن مشغولية الوقت في حقيقة الفرض﴾ دلیل دا دې.چه د صبا اومازیګر نه پس کراهت د صبا او مازیګر د مونځ د وجے وو.چه ټول وخت د دغه وخت په فرض کښې مشغول شی.نوچونکه کراهت د فرضو د حق د وجے وو.نوچه په حقیقت کښې فرض وی.نو دهغې په حق کښې به کراهت نه ښکاره کیږی.(څکه که دیو فرض نه وخت خالی شو.نو په بل فرض ډک شو. څکه چه په حقیقی فرضو کښې د وخت مشغوله کول بهتر دی.په نسبت سره دے ته چه د فرضود حق سره مشغوله شی.نوڅکه د فرضو په حق کښې او څه چه ددې په معنی کښې وی.(یعنی واجب یا فرض وی) نو دهغې په حق کښې کراهت نه ښکاره کیږی.(یعنی دلته کښې دوه څیزونه دی.یود فرضو حق دې.یعنی د فرضو حق دا دې.چه پوره وخت په فرضو کښې مشغول شی.مثلا چه د مازیګر وخت داخل شی. نوچه نیت اوتړی.نوترمانځه پورې د مازیګر په فرض کښې مشغول وی.اوبل څیز پخپله فرض دې.نوچه کله دوه څیزونه په یو وخت کښې جمع شی.یو د فرضو حق او بل حقیقی فرض نو په دې صورت کښې به د حقیقی فرضو کول بهتر وی.لکه په زیربحث مسئله کښې چه سجده د تلاوت حقیقی فرض دی. لکه سجده د تلاوت. څکه چه سجده د تلاوت لذاته واجب ده.څکه چه د تلاوت د سجدے وجوب د بنده په عمل باندې موقوف نه دې.او دلیل ددې دا دې.چه څنګه سجده د تلاوت په تلاوت کولو سره واجبیږی. نو دغه شان

د سجدے آیت اوریدو سره هم واجبیږی. اګرچه د اوریدو اراده ئې نه وی.نو سجده د تلاوت په واجب لذاته کښې د فرضو پشان شوه.

حکم صلاة الجنازة في هذين الوقتين هم دا حال د جنازے د مونځ هم دې.ځکه چه دجنازے د مونځ وجوب هم د بنده په فعل پورې موقوف نه دې. (بلکه که بنده دا نه غواړی.چه فلانے دے مړ شی.خو بیا هم هغه مری.اوچه مړ شی.نو په ده جنازه کول واجب شو.چه حاضره شی.

حکم المنذور في هذين الوقتين البته د صبا اومازیګر نه د نذر کړې شوی مونځ په باره کښې کراهت ښکاره کیږی.ځکه چه نذر شوې مونځ واجب لذاته نه دې.بلکه د نذر کونکی په نذر کولو سره واجب شوې دې.

حکم الطواف في هذين الوقت دغه شان د طواف په دوو رکعتونو کښې هم کراهت ښکاره کیږی.نود صبا اومازیګر نه پس ددې دوو رکعتونو کول مکروه دی.ځکه چه ددې وجوب د طواف د وجے دې.اوطواف کول دطائف فعل دې. نو د طواف دوه رکعته هم واجب لذاته نه دی.

حکم الصلاة الفاسد بعد الشروع فيها اودغه شان د هغه مونځ په باره کښې هم کراهت ښکاره کیږی.چه په هغې کښې شروع شوې وی.او بیا فاسد شوې وی.مثلا چه په نفلی مونځ کښې شروع اوکړی.او بیا د صبا یا مازیګر نه پس ددې قضاء راوړی.نو مکروه ده.ځکه چه دا مونځ لذاته واجب نه دې.بلکه کوم مونځ چه ئے د شروع نه پس فاسد کړې وو. هغه د بطلان نه د بچ کولو دپاره واجب شوې دې.

دصباصادق نه پس د دوه رکعته سنتو نه د زیاتی نوافلو کراهت

وَيُكْرَهُ أَنْ يَتَنَفَّلَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ بِأَكْثَرَ مِنْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ او د صبا راختو نه پس د صبا د دوو رکعتونو نه زیات نفل کول مکروه دی

تشریح صورت د مسئلې ښکاره دې.نووضاحت ته ضرورت نشته

دلیله دلیل دا دې چه نبی ﷺ سره د مانځه د حرص نه په دې دوو رکعتونو زیادت نه دے کړې.(۱)

د ماښام نه پس د فرضو نه وړاندې د نفلو حکم

وَلَا يَتَنَفَّلُ قَبْلَ الْمَغْرِبِ او دماښام د مانځه نه وړاندې به نفل نه کوی

تشریح **حکم النفل قبل الفرض في المغرب** مسئله دا ده.چه نمر ډوب شی.نو د فرضو نه وړاندې د نفلو کول مکروه دی.دلیل دا دې.چه په داسې کولو کښې د ماښام دمونځ تاخیر راځی. حالانکه په ماښام کښې تعجیل مستحب دې.

حکم الصلاة قبل المغرب د ماښام نه وړاندې دوو رکعتونو ته خو امام قدوری رحمه الله مکروه وئیلی دی.خو څه احادیث ددې په مسنونیت کښې وارد دی.

دلیله دحضرت عبدالله بن مغفل رضی الله عنه نه روایت دی.فرمائی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.دهر دوو اذانونو(یعنی اذان اواقامت) په مینځ کښې نفلی مونځ شته. دهر دوو اذانونو (یعنی اذان او اقامت) په مینځ کښې نفلی مونځ شته.او بیا ئې په دریم ځل اوفرمائیل.چه د چا خوښه وی.(نو د اذان اواقامت په مینځ کښې دے مونځ کوی. کذا فی البخاری فی الأذان باب بین کل أذانین صلاة لمن

(۱) من حدیث حفصة رضی الله عنها أخرجه البخاری فی التهجد باب ۲۹ رقم ۱۱۷۳ ومسلم فی صلاة المسافرین رقم ۸۸۔

شاه و مسلم في الصلاة باب بين كل اذانين صلاة)

دحديث د ظاهر نه دا معلوميږی.چه دمابنام د اذان او اقامت په مينځ کښې بل مونځ شته.په دې باره کښې دفقهاء اختلاف دې. دامام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمهما الله په نزد د مابنام نه وړاندې دوه رکعته نفل مستحب دی.او دامام اعظم او امام مالك رحمهما الله په نزدے د مابنام نه وړاندې نفل کول مکروه دی.د شوافعو او حنابلوٓ دليل دحضرت عبدالله بن مغفل دا حديث دې.خو احناف ددې حديث نه جواب کوی.چه ددې نه د مابنام مونځ مستثنا دې.او په دليل کښې ددارقطنی بيهقی او مسند بزار حديث پيښ کوی.د دوی په روايت کښې د مابنام استثنا موجود ده.دحديث الفاظ دا دی.

[قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إن عند كل أذانين ركعتين ما خلا صلاة المغرب]دا حديث د احنافو دليل هم دې.او جواب هم .دتفصيل دپاره درس ترمذی اوګورئ .(درس ترمذی ۱/ ۴۳۰. شاه فيصل عفی عنه)

الأنصاف في هذه المسئلة: د شوافعو سره په خپله مدعی باندې مضبوط دلائل موجود دی.لکه په بخاری کښې دحضرت عبدالله مزنی او حضرت انس رضی الله عنهما دوه روايتونه او په ابوداود کښې د حضرت انس بن مالك رضی الله عنه روايت شو.ددے رواياتونه د مابنام د مانځه نه وړاندې دوه رکعته کول ثابت دی.ددې وجه داحنافو په متاخرينو عالمانو رحمهم الله کښې صاحب دفتح القدير امام ابن الهمام رحمه الله ددې دجواز قول ته ترجيح ورکړې ده.چه د مابنام نه وړاندې دوه رکعته نفل کول جائز دی.شاه انور شاه کشميری رحمه الله هم د جواز قول ته ترجيح ورکړې ده.او فرمائی.د مابنام نه وړاندې د دوو رکعتو نفلو د استحباب نفی خو کيدے شی.چه يو سړې دا اووائی.دا مستحب نه دی.خو دے ته مکروه او بدعت نشی ونيلې.شيخ الاسلام علامه محمد تقی عثمانی مد ظله العالی په درس ترمذی کښې فرمائيلی دی.درواياتو په رڼړا کښې دمابنام نه وړاندې دوه رکعته جائزدی.البته ددې نه کول افضل معلوميږی.

① يو خو ددې وجه چه په احاديثو کښې دمابنام دمانځه دتلوارے حکم راغلې.اوددې دوو رکعتونو دکولو په صورت کښې د مابنام مونځ ورستوکيږی.

② دويمه دا چه په صحابه کرامو ﷺ کښې زياتو صحابو به دا دوه رکعته نه کول. اود حديث صحيح مفهوم د صحابو ﷺ دعمل نه ثابتيږی.چونکه عام طور صحابه کرامو ﷺ دا نه دی کړی.نو ددې نه نه کول افضل معلوميږی.(درس ترمذی ۱/ ۴۳۱)

داحقر شاه فيصل رائې دا ده.که حنفی په داسې جمات کښې د مابنام مونځ کوی. چه د هغې خلق دمابنام نه وړاندې دوه رکعته نفل کوی.نو دوه رکعته نفل دے اوکړی .څکه چه دامام نه خو وړاندې هسے هم مونځ نشی کولې.چه په هغه احاديثو باندې هم عمل راشی. کوم چه ددې دوو رکعتونو په ثبوت کښې راغلی دی.لکه سړې حرمينو شريفينو ته لاړشی.او هغوی هلته کښې دا دوه رکعته نفل کوی.نو ورسره دے اوکړی.

د نوافلو بیان

بَابُ النَّوَافِلِ

ترجمه> (دا) باب د نوافلو (په بیان کښې) دې.

تشریح> وړاندې د فرض او واجب بیان وو.په دې باب کښې د سنتو او نوافلو بیان دې.د نفل معنی (کوم چه په فرض باندې زیاتی وی) چونکه سنتو ته هم شامل ده.نوځکه نې په عنوان کښې صرف نوافل ذکر کړل.او د سنتو ذکر اونکړې شو.

د سنت موکده او غیر موکده بیان د رکعتونو تعداد

سُنَّةٌ فِي الصَّلَاةِ أَنْ يُّصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ طُلُوْعِ الفجر سنت دی.دصبا راختو نه پس دوه رکعته اوکړی وَأَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ او څلور رکعته د ماسپخین نه وړاندې وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا او دوه رکعتونه د ماسپخین نه پس وَأَرْبَعًا قَبْلَ الْعَصْرِ او څلور رکعته د مازیګر نه وړاندې وَإِنْ شَاءَ رَكْعَتَيْنِ او که غواړی نو دوه (دې اوکړی) وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ اود ماښام نه پس دوه رکعته وَأَرْبَعٌ قَبْلَ الْعِشَاءِ او د ماسخوتن نه وړاندې څلور رکعته وَأَرْبَعًا بَعْدَهَا او د ماسخوتن نه پس څلور رکعته وَإِنْ شَاءَ رَكْعَتَيْنِ او که غواړی نو دوه رکعته(دې اوکړی) فَإِنْ صَلَّى بِاللَّيْلِ صَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ او که د شپې ئې مونځ کولو (تهجد) نو اته رکعاته دې اوکړی.

تشریح> قسمي السنة> امام قدوری رحمه الله په دې باب کښې اګرچه د سنتو او نوافلو دواړو ذکرکوی.خو د اهمیت او اشرفیت په وجه د سنتوذکر وړاندې کړې شو ① بیا د سنتو دوه قسمونه دی. مؤکده او غیر مؤکده ،مؤکده هغه سنتو ته وائی.په کومو باندې چه نبی ﷺ کله کله د پریخودو سره مواظبت کړې وی. ② او غیر مؤکده هغه سنت دی.په کومو باندې چه د الله تعالی نبی ﷺ همیشوالې نه وی کړې.

عدد السنن المؤكدة> سنت مؤکده دولس رکعتونه دی.د صبا د مانځه نه وړاندې دوه رکعته ،د ماسپخین نه وړاندې څلور رکعته ،اود ماسپخین نه پس دوه رکعته ،او د ماښام نه پس دوه رکعته ،او د ماسخوتن نه پس دوه رکعته،ددې نه سوا سنت غیر مؤکده دی.

ذکر صاحب القدوری السنن المؤکده وغیرالمؤکدة> صاحب د قدوری رحمه الله مؤکد او غیر مؤکده دواړه په دې طریقه ذکر کړی دی.چه د صبا د مانځه نه وړاندې دوه رکعته.او د ماسپخین نه وړاندې څلور رکعته.اود ماسپخین نه پس دوه رکعته دی.د مازیګر نه وړاندې څلور رکعته دی.که غواړی نو په دوه رکعته دې اکتفاء کوی.اد ماسخوتن نه پس څلور رکعته دی.یا دې په دوه رکعته اکتفاء کوی.

وجه الإبتداء من سنة الفجر> باقی پاتې شوه داخبره چه صاحب د قدوری رحمه الله د صبا د سنتو نه ولې شروع اوکړله.نو ددې وجه دا ده.چه د صبا سنت په سنتو کښې زیات قوی دی.نبی ﷺ د صبا د سنتو په باره کښې فرمائیلی دی.[صلوها ولو طردتکم الخیل] یعنی تاسو د صبا سنت کوئ.اګرچه تاسو اسونه پائمال کوی.

الدلیل الفقهي لأهمیة سنة الفجر> حسن بن زیاد رحمه الله د امام اعظم رحمه الله نه روایت کړې دې.که یو کس د صبا سنت بغیر د عذر نه په ناسته اوکړی.نو جائز نه دی.عالمانو او مشائخو رحمهم الله لیکلی دی.که یو

عالم مرجع د خلقو وی.خلق دده نه د فتوو او د شریعت د مسائلو تپوسونه کوی.نو د خلقو د ضرورت دپاره دده دپاره د ټولو سنتوپرېښودل جائزدی.د صبا د سنتو نه سوا ،ددې نه هم د صبا دسنتو اقوی کېدل ثابتیږی.

دليل سنية إثنتي عشرة ركعة د ذکر شوو دولس رکعتونو په سنت مؤکده کېدو کښې اصل دلیل د نبی ﷺ ارشاد دې.امام ترمذی او ابن ماجه ددې حدیث الفاظ داسې ذکر کړی دی.[عن عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من ثابر على إثنتى عشرة ركعة من السنة بنى الله له بيتا في الجنة أربع ركعات قبل الظهر وركعتين بعدها وركعتين بعد المغرب وركعتين بعد العشاء وركعتين قبل الفجر] (۱) یعنی حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی.چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.کوم کس چه په دولس مسنون رکعتونو باندې همېشوالې اوکړلو.الله تعالی به دده دپاره په جنت کښې یو کور جوړ کړی.(دولس رکعتونو دا دی څلور د ماسپښین نه وړاندې ،دوه د ماسپښین نه پس ،دوه د ماښام نه پس،دوه د ماسخوتن نه پس او دوه د صبا نه وړاندې ،

وجه التخيير بين الإثنين والأربع امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه د رسول الله ﷺ د دولسو رکعتونو د تفسیر په موقع د ماسخوتن نه وړاندې د څلورو رکعتونو ذکر هم نه دے کړې.هم دا وجه ده.چه دا څلور رکعتونه هم د استحباب په درجه کښې دی.خود مثابره د حدیث نه علاوه په نورو احادیث کښې د څلورو رکعتونو ذکردې. دبراء بن عازب رضي الله عنه حدیث دې.[قال قال رسول الله ﷺ من صلى قبل الظهر أربعاً كان كأنما تهجد من ليلة ومن صلاهن بعد العشاء كان كمثلهن من ليلة القدر] یعنی براء بن عازب رضي الله عنه فرمائی.چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.چا چه د ماسپښین نه وړاندې څلور رکعته اوکړل.نو لکه چه ټوله شپه ئې عبادت اوکړلو.او چا چه د ماسخوتن نه پس څلور رکعته اوکړل.نو لکه چه د لیلة القدر څلور رکعته ئې رالاندې کړل.نود حدیث په الفاظو کښې په دووه او څلورو کښې اختلاف دې.نوځکه صاحب د قدوری رحمه الله اختیار ورکړلو.چه د ماسخوتن نه پس دے څلور رکعته اوکړی.اوکه دوه رکعته کوی.خو غوره دا ده.چه څلور رکعته اوکړی.خاص کر د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز،دامام صاحب او صاحبینو رحمهم الله اصل اختلاف په دې کښې دې.چه د شپې مونځ مثنى مثنى افضل دےاوکه په یو سلام سره څلور رکعته کول افضل دی.

د شپې اود ورځو د نوافلو تعداد

نَوَافِلُ النَّهَارِإِنْ شَاءَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ بِتَسْلِيمَةٍوَاحِدَةٍ.اود ورځې نوافل که غواړی نو دوه رکعته دے اوکړی په یوسلام سره وَإِنْ شَاءَأَرْبَعًا.او که غواړی نه څلور رکعته دےاوکړی وَتُكْرَهُ الزِّيَادَةُعَلَى ذٰلِكَ.او په دې باندې زیادت مکروه دې وَأَمَّانَافِلَةُاللَّيْلِ.پاتې شو د شپې نوافل فَقَالَ أَبُوحَنِيفَةَ رحمه الله نو ابوحنیفه رحمه الله فرمائی إِنْ صَلَّى ثَمَانِ رَكَعَاتٍ بِتَسْلِيمَةٍوَاحِدَةٍجَازَ که په یو سلام باندې

(۱) ن حديث ام حبيبة بنت أبي سفيان رضي الله عنها انها سمعت رسول الله ﷺ يقول ما من عبد مسلم يصلى لله في كل يوم ثنى عشرة ركعة تطوعا من غير الفريضة إلا بنى الله له بيتا في الجنة رواه مسلم في صلاة المسافرين وقصرها رقم ۱۰۳ و ابوداود في التطوع باب ۱، والترمذى في الصلاة باب ۱۸۹ رقم ۴۱۵ والنسائي السنن الكبرى (۴۵۹/۱) رقم ۱۴۶۹ وفي قيام الليل من المجتبى باب ۶۷ وابن ماجه في الإقامة باب ۱۰۰ رقم ۱۱۴۱ والدارمي في الصلاة باب ۱۴۴ وأحمد في المسند (۳۲۷/۶، ۴۲۶، ۴۴۳ والحاكم في المستدرك (۳۱۱/۱)_

اته رکعته اوکړی.نو جائز دي﴿وَيُكْرَهُ الزِّيَادَةُ عَلٰى ذٰلِكَ﴾او په دې باندې زيادت مکروه دي﴿وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رحمهما الله﴾.او صاحبين رحمهما الله فرمائی.﴿لَايَزِيْدُ فِي اللَّيْلِ عَلٰى رَكْعَتَيْنِ بِتَسْلِيْمَةٍ وَاحِدَةٍ﴾ چه د شپې دے په يو سلام سره د دوو رکعتونو نه زيادت نه کوی

حل اللغة ﴿①نهار: ورځ ②شاء، شاء شيئا(ف): غوښتل ③جاز، جاز جوازا (ن): جائز كيدل ④لايزيد، زاد زيادة (ض): زياتول

تشريح﴿ **المذهبان في عدد ركعات النوافل بالتسليمة الواحدة**﴾تراوسه پورې د سنتو بيان وو.په راروانو کرښو کښې د نوافلو ذکر دي.عالمانو رحمهم الله د اباحت او افضيلت په اعتبار سره د شپې او ورځې د نوافلو په تعداد کښې اختلاف کړې دي.امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.چه د ورځې په نوافلو کښې دا مباح دی.چه په يو سلام باندې دوه رکعته يا څلور رکعته اوکړی.ددې نه زياتی کول مکروه دي.اود شپې په نفلو کښې په يو سلام باندې اته رکعته کول بغير د کراهت نه جائز دي.او په اتو باندې زيادت کول مکروه دي.

دليل كراهة الزيادة علي ثماني ركعات بتسليمة واحدة﴿ صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلی دی.چه په شپه کښې په يو سلام سره د اتو رکعتونو نه د زيادت په کراهت باندې دليل دا دي.چه نبی ﷺ په اتو رکعتونو باندې زيادت نه دے کړې.(¹)که په يو سلام سره په اتو رکعتونو باندې زيادت مکروه نه وو.نو د جواز د بيان دپاره به يو خل دوه خله نبی په اتو باندې زيادت ضرور کړې وو.خو نبی ﷺ په يو سلام سره د اتو رکعتونو نه کله هم په نفلو کښې زيادت نه دے کړې.نو ځکه په يو سلام سره د اتو رکعتونو نه زيادت کول مکروه دی.

الإعتراض﴿معترض ونيلے شی.چه په شپه کښې په يو سلام باندې د اتو رکعتونو نه زيادت کولو باندې هم سنت وارد شوې دي.نقل شوی دی.[أنه ﷺ كان يصلي بالليل خمس ركعات سبع ركعات تسع ركعات أحد عشر ركعة ثلاث عشرة ركعة] يعنی نبی ﷺ به په شپه کښې پنځه رکعته هم کولو.اواوه رکعته او او نهه هم او يوولس هم او کله به ئې ديارلس هم کول.

الجواب﴿ زمونږ د طرفه ددې جواب دا دي.چه په پنځو رکعتونو کښې دوه رکعته صلاة الليل وو.يعنی نفل او درې رکعته وتر وو.او په اووه رکعتونو کښې څلور رکعته صلاة الليل او درې رکعته وترو.او په نهه رکعتونو کښې شپږ رکعته صلاة الليل او درې رکعته وتر وو.او په يولس رکعتونو کښې اته رکعته صلاة الليل او درې رکعته وتر وو.او په ديارلس رکعتونو کښې اته رکعته صلاة الليل او درې رکعته وتر او دوه رکعته د صبا سنت وو.نبی ﷺ دا ټول رکعتونو په يو سلام سره اد کول.بيا ئې داسې تفصيل بيان کړل.ځکه چه پورته تير شو.نو دے تفصيل نه پس د اعتراض څه ګنجائش پاتې نشو.(فتح القدير)

(١) قال الزيعلي رحمه الله غريب وفي صحيح مسلم خلافه اخرجه من حديث عائشة رضي الله عنها في حديث طويل قال:كنا نعد له سواكه وطهوره فيبعثه الله ما شاء أن يبعثه من الليل فيتسوك ويتوضأ ويصلى تسع ركعات لا يجلس فيها إلا في الثامنة الحديث نصب الراية ١٣٨/٢)_

توضيح عبارة القدوري رحمه الله ﴿ د قدوري دعبارت [وقال ابويوسف ومحمد رحمهما الله لايزيد بالليل على ركعتين بتسليمة] په ظاهره معلوميږي.چه د صاحبينو رحمهما الله په نيز په يو سلام سره د دوو ركعتونو نه زيادت كول جائز نه دي.حالانكه داسې نه ده.بلكه مراد دا دي.چه د صاحبينو رحمهما الله په نيز په دوو ركعتونو باندې زيادت كول افضل نه دی.نود صاحبينو رحمهما الله په نيز په شپه كښې افضل دا دی.چه دوه دوه ركعته كوی.او په ورځ كښې څلور څلور ركعته كوی.

دلائلهما ﴿ ① عقلي دليل دا دې.چه په يو سلام سره څلور ركعته كولو كښې د تحريمې په اعتبار سره دوام دې.نو چه په مينځ كښې نه فارغ كيږی. ددې وجې په كښې مشقت زيات دې.او چه په كوم عبادت كښې مشقت زيات وی.هغه افضل وی.نو څكه په يو سلام سره څلور ركعته كول به افضل وی.په نسبت سره دوو ركعتونو ته،

② د صاحبينو رحمهما الله دليل په تراويحو باندې قياس دې.يعنی دتراويح مونځ په اتفاق سره دوه دوه ركعته كول افضل دی.نودغه شان به د شپې په نفلو كښې به هم دوه دوه ركعته افضل وی.

الجواب عن قياس الصاحبين رحمهما الله ﴿خود دې نه جواب دې. چه بيشكه د تراويح مونځ دوه دوه ركعته كول افضل دی.خو دتراويح مونځ په جماعت سره ادا كولې شی.او په اجتماعی كارونو كښې دعامو خلقو دخيال ساتلو د وجې د سهولت او آسانتيا حكم كولې شی.لكه چه نبی ﷺ فرمائلی دی.امام ته پكار دی.چه مختصر مونځ وركوی. ښكاره ده.چه په دې امر كښې د عامو مقتديانو خيال ساتلې شوې دې.نو چونكه د تراويح مونځ په جماعت سره ادا كيږی.نو څكه د عامو خلقو د آسانتيا د وجې د وو دوو ركعتونو كولو حكم وركړې شوې دې.څكه چه په دوه دوه ركعته كولو كښې آسانتيا ده.په نسبت سره څلورو ركعتونو ته،اوكه څانله تراويح كوی.نوڅلور ركعته كول افضل دی.خو په دې شرط چه طاقت ئې وی.او نوافل چونكه په جماعت سره نه ادا كيږی.څكه په نفلو كښې دا خيال نشی ساتلې.

تائيد أفضلية الأربع في ضوء المسئلة ﴿ هم دا وجه ده كه چا په يو سلام سره د څلورو ركعتونو ادا كولو نذر اومنلو.نوده په دوو سلامونو سره څلور ركعته ادا كړل.نودده نذر نه پوره كيږی. څكه چه نذر ئې په افضله طريقه د ادا كولو كړې وو.چه څلور ركعته دی.او اداء ئې اوكړله په مفضوله طريقه،او قاعده دا ده.چه أفضل او اعلی په مفضول او ادنی سره نه ادا كيږی.او كه په دوو سلامونو سره ئې د ادا كولو نذر كړې نوی.نو په يو سلام سره كولو باندې نذر پوره كيږی.څكه چه د مفضول په ځائې په افضل سره ادا اوكړې شوه. (۱)

په فرائضو كښې د قرأت حكم

> قِرَاءَةٌ فِي الْفَرَائِضِ وَاجِبَةٌ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ په فرض مونځ كښې په دوو اولنو ركعتونو كښې قرأت كول واجب دی

---

(۱) **مذهب الشافعي**:-امام شافعي رحمه الله فرمائيلی دی.چه په يو سلام سره دې په څلورو ركعتونو زيادت نه كوی.اوكه په څلورو ركعتونو ئې زيادت اوكړلو.نو دا به مكروه وی.

تشریح﴾ حکم القراءة في الفرض الرباعي﴾ مصنف رحمه الله چه د فرض واجبو او نوافلود بیان نه فارغ شو.نواوس په دې مقام کښې د قرات د مسئلې ذکر کوی.نو په څلور رکعته مونځ کښې د قرات په مسئله کښې په دوو رکعتونو کښې قرات فرض دې.

دلیله﴾ دلیل د الله تعالی ارشاد دې. ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ په دې طریقه چه [اقرأ] د امر صیغه ده. اوامرد تکرار تقاضا نه کوی.نو په هر رکعت کښې د قرات فرضیت په عبارة النص سره ثابت شو.او چونکه دویم رکعت په هر لحاظ سره د اولنی رکعت مشابه دې.نو ځکه په دلالة النص سره په دویم رکعت کښې هم قرات واجب شو.حاصل دا چه په اولنی رکعت کښې د قرات وجوب په عبارة النص او په دویم رکعت کښې په دلالة النص سره ثابت شو.

الإعتراض﴾دلته کښې یوسوال کیږی.هغه دا چه په اولنی او دویم رکعت کښې مشابهت نشته. بلکه مفارقت دې.ځکه چه په اولنی رکعت کښې ثناء ،تعوذ او تسمیه شته.او په دویم رکعت کښې دا څیزونه نشته.

الجواب﴾ د څیزونه امر زائد دې.اعتبار صرف ارکانو لره دې.او په اصل ارکانو کښې دواړه رکعتونه یوشان دی.

وجوه الفرق بین الرکعتین الأولیین والأخریین﴾باقی پاتې شو آخری دوه رکعتونه نو هغه د اولنو رکعتونو نه مختلف دی.او د فرق وجوهات ئې دا دی. ① د سفر په وجه آخری دوه رکعتونه ساقط کیږی ا اولنی دوه نه ساقط کیږی.

② په اولنو دوو رکعتونو کښې قرات بالجهر کیږی.او په آخرنو دوو رکعتونو کښې په پټه وئیلې شی.

③په اولنو دوو رکعتونو کښې د فاتحې سره د سورت ملاوول هم واجب دی.او په آخرنو دووورکعتونو کښې د فاتحې سره د سورت ضم کول نشته.نو هرکله چه دومره فرق شته.نو آخری دوه رکعتونه د اولنو دوو سره نشی لاحق کولې. ([1])

د فرضو په آخری دوو رکعتونو کښې د قرات حکم

هُوَ مُخَيَّرٌ فِي الْأُخْرَيَيْنِ او مونځ گذار ته په آخری دوو رکعتونو کښې اختیار دې شَاءَ قَرَأَ الْفَاتِحَةَ اوکه غواړی نوقراءت دې اووائی د سورة فاتحې وَإِنْ شَاءَ سَكَتَ که زړه ئې غواړی نو چپ دې اودریږی وَإِنْ شَاءَ سَبَّحَ اوکه غواړی نو تسبیح دې اووائی

حل اللغة ﴾① مخیر، اختیارورکړې شوې ② سکت، سکت سکوتًا (ن): چپ کیدل
③ شاء،شاء شیئًا (ف): غوښتل

تشریح﴾ إختیار المصلي في قراءة الأخریین﴾ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه په آخری دوو

[1] په دې مسئله کښې درې مذاهب نور هم دی ①دامام شافعی رحمه الله په نیز په ټولو رکعتونو کښې قراءت فرض دې.②امام مالك رحمه الله فرمائی.چه په درې رکعتونو کښې قراءت فرض دې.
③ حسن بصری رحمه الله په یو رکعت کښې د قرات د فرضیت قائل دې اوابوبکر اصم په مانځه کښې د قرات دسنتیت قائل دې.ابوبکر رحمه الله قرات په نورو اذکارو باندې قیاس کړې دې.یعنی لکه څنگه چه په مانځه کښې د رکوع او سجدې تسبیحات و ثناء وغیره مسنون دی.دغه شان د قرآن پاك قرات هم مسنون دې.

رکعتونو کښې مصلی ته اختیار دې.که د سورۀ فاتحې قرات کوی.یا د درې تسبیحاتو په اندازه چپ اودریږی.یا درې ځلی تسبیح اوائی.د امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم دا منقول دی.

دلیله> دا تسبیح وئیل حضرت علی،ابن مسعود اوعائشه رضی الله عنها نه هم منقول دې.[1]

فضیلة قراءة الفاتحة في الاخرین> خو په آخرینو کښې د سورۀ فاتحه قرات کول افضل دی.

دلیله> دلیل دا دې چه نبی ﷺ کله کله د پریخودو سره په دې باندې مداومت کړې دې.هم دا وجه ده.چه که په آخرینو کښې ئې قرات د فاتحې پریخودلو.نوپه ده باندې سجده سهوه واجب نه ده.نو ددې نه هم په آخرینو دوو رکعتونو کښې د فاتحې لوستلو افضلیت معلوم شو.صاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلی دی.چه ظاهر روایت هم دا دې.

ترک قراءة الفاتحة والتسبیح في الأخرین> امام حسن بن زیاد رحمه الله د امام اعظم رحمه الله نه روایت کړې دې.چه په آخرینو کښې که مونځګذار نه قرات اوکړلو.او نه ئې په قصد سره تسبیح اووئیل.نو ګناهګار به وی.اوکه په سهو سره ئې دا څیزونه ترک کړل.نو سجده سهو به پرے واجب وی.

دلیله> دلیل دا دې.چه په آخرینو کښې قیام مقصود دې.نو دا د قرات کولو نه خالی کول مکروه دی.صاحب د عنایه رحمه الله فرمائیلی دی.چه ظاهر روایت اصح دې.ځکه چه په قیام کښې خو اصلی قرات دې.او هرکله چه قرات ساقط شو.نو مطلق قیام خو به خامخا باقی وی.نو دا داسې شوه لکه چه د مقتدی قیام،(عنایه)

د نفلو په فساد د قضاء حکم

وَمَنْ دَخَلَ فِي صَلٰوةِ النَّفْلِ څوک چه په نفلی مونځ کښې داخل شو ثُمَّ أَفْسَدَهَا .بیا ئې هغه فاسد کړلو قَضَاهَا.نو ددې به قضاء راوړی

حل اللغة > ① شرع،شرع شروعاً (ف): شروع کول ② افسدها ، افسد افساداً: فاسد کول ③ قضاها، قضی قضاءً (ض): پوره کول، قضاکول

تشریح> **لزوم النفل بالشروع**> ① دا مسئله مختلف فیه ده.چه چه نفلی مونځ یا نفلی روژه په شروع کولو سره لازمیږی. که نه؟ نونفل (که مونځ وی اوکه روژه) په شروع سره لازمیږی.نو د نفلی مونځ شروع کولو نه پس که هغه فاسد کړی.نو د هغې قضا واجب ده.

دلیله > دلیل دا دې.چه د شروع کولو نه پس چه د نفلو کومه حصه ادا کړې شوه.هغه قربت او عبادت واقع شو.او کوم څیز چه قربت او عبادت واقع شی. د هغې پوره کول لازم وی.چه د ابطال حق غیر نه محفوظ اوساتلې شی.ځکه د الله تعالی ارشاد دې. ﴿وَلَا تُبْطِلُوٓا أَعْمَالَكُمْ﴾ خپل عملونه مه ضائع کوئ.نو نفل د شروع کولو نه پس ددې پوره کول واجب دی.نو په مینځ کښې په فساد سره به ددې قضا واجب وی.[2]

---

(۱) قال الزيلعي رحمه الله روى ابن ابي شيبة في مصنفه عن شريك عن ابي إسحاق السبيعي عن علي وابن مسعود قالا اقرأ في الأوليين وسبح في الأخريين وفيه إنقطاع وهن عن عائشة رضی الله عنها غيب نصب الراية (۲/۱۴۳)_

[2] ، دامام شافعی رحمه الله په نیز نفل په شروع سره نه لازمیږی.تردے چه د شوافعو رحمهم الله په نیز که نفلی مونځ د شروع کړلو نه پس فاسد کړی.نو په هغه باندې قضا نشته.

په خلور رکعته مونځ کښې د دویمې شفعې په فساد د قضاحکم

فَإِنْ صَلّٰى أَرْبَعَ رَكْعَاتٍ اوکه د څلورو رکعتو په نیت سره ئې (په نفلي مونځ کښې) شروع اوکړله وَقَعَدَ فِي الْأُولَيَيْنِ.او په اولنو دوو رکعتونو کښې کیناستلو ثُمَّ أَفْسَدَ الْأُخْرَيَيْنِ.بیا ئې روستنی دوه رکعتونه فاسد کړل قَضٰى رَكْعَتَيْنِ.نوهم د دوو رکعتونو قضاء به راوړی

حل اللغة ۞ ① صلي، صلی صلاة: دعا کول، مونځ کول ② قرا، قرا قراءة (ف): لوستل ③ قعد، قعد قعوداً : کیناستل ④ افسد، افسد افساداً: فاسد کیدل

تشریح ۞ **قضاء الشفع الثاني بالشروع فیه** ۞ صورت د مسئلې دا دې.که یو کس د څلورو رکعتو په نیت باندې نفل شروع کړل.او په اولنو دوو رکعتونو کښې ئې واجب قرأت هم ولوستل.او په دوو رکعتو ئې قعده هم وکړله.بیا ئې دویمه شفع (آخری دوه رکعتونه) فاسده کړله.نو په ده باندې صرف د دویمې شفعه قضا واجب ده.په مسئله کښې ئې په دویم رکعت د کیناستو قید ددې وجې نه ذکر کړې دې.که په دویم رکعت باندې نه وی ناست،او آخری شفع فاسده کړی.نو په اتفاق سره پرې د څلورو رکعتونو قضا واجب ده.

حاصل دا که دریم رکعت ته د اودریدو نه پس ئې دویمه شفع فاسده کړله.نو په ده باندې صرف د دویمې شفعې قضاء واجب ده.څکه چه اوله شفع خو پوره شوې ده.او د دریم رکعت دپاره اودریدل د نوې تحریمې په مرتبه کښې دی.نو په دې تحریمه صرف دویمه شفع لازمه شوه.نو ددې د فساد په صورت کښې به هم ددې قضا واجب وی.اودا د طرفینو مذهب دې.[1]

دلیلهما ۞ دلیل دا دې.چه شروع کول د هغه څیز دوجوب سبب وی.کوم چه شروع شوی وی.او د هغه څیز د وجوب سبب وی.په کوم باندې چه د شروع کړې شوی څیز صحت موقوف وی. مثلاً چه نفل مونځ کړی نواولنې رکعت شو.څکه چه اولنې رکعت [ماشرع فیه] دې. یعنی چه په کوم څیز کښې شروع شوی وی.او د اولنی رکعت صحت موقوف دې. په دویم رکعت باندې نو په شروع کولو سره دویم رکعت هم واجب شو.

حکم عدم الشروع في الشفع الثاني ۞ علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی چه د دویمې شفعې د قضا راوړلو حکم په هغه وخت کښې دې چه په دې کښې ئې شروع کړې وی او بیا ئې فاسده کړی اوکه دریم رکعت ته د اودریدو نه وراندې ئې دویمه شفع فاسده کړه.نو په ده باندې د څه څیز قضا واجب نه ده.څکه چه په دویم رکعت باندې قعده کولو سره اولنۍ شفع پوره شوه.او دویمه شفع کښې لا شروع نه ده شوې.نو د اولنۍ شفعې قضا خو دد ے وجې نشته.چه هغه پوره شوې ده.او د دویمې شفعې قضا څکه نشته.چه په هغې کښې شروع نه ده شوې.

وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ رحمه الله او ابو یوسف رحمه الله فرمائیلی دی يَقْضِي أَرْبَعًا چه د څلورو قضاء به راوړی.

تشریح ۞ **وجوب قضاء الأربعة عند أبي يوسف رحمه الله** ۞ دامام ابویوسف رحمه الله نه یو روایت دا دې.چه که اولنۍ شفع فاسده کړی.اوکه دویمه شفع په هرصورت کښې به دڅلورور رکعتو قضا واجب وی.

---

[1])القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في فتح القدير(۱\۳۹٦) ومجمع الأنهر(۱\۱۳۳) والبحرالرائق (۱\۵۹) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱۰۹)-

دليله ﴿امام ابويوسف رحمه الله خلور رکعته نفل مونځ کښې شروع کول په نذر باندې قياس کړې دی.يعنی لکه څنګه چه يود څلورو رکعتونو نفلو په نذرکولوسره څلور رکعته واجبيږی. دغه شان که د څلورو رکعتو په نيت سره ئې نفل شروع کړل.نو څلور رکعته به واجبيږی. که په اولنۍ شفع کښې ئے نفل باطل کړل.نوبيا به هم د څلورو رکعتونو قضاء واجب وی.اوکه په دويمه شفع کښې ئے نفل فاسد کړل.نوهم به د څلورو قضا واجب وی.ددې قياس علت او سبب لزوم دې.يعنی لکه څنګه چه په نذر سره نفل لازميږی.ده شان په شروع کولو سره هم نفل لازميږی.

عدم وجوب الشفعة الثانية بفساد الأولى ﴿پاتې شوه شفع ثانی (آخری دوه رکعتونه نو هغه نه [ماشرع فيه] دی.او نه په هغې باندې د [ماشرع فيه] صحت موقوف دې.نو اولنۍ شفع کښې شروع کولو سره دويمه شفع نه واجبيږی.او هرکله چه دويمه شفع واجب نه شوه.نو داولنۍ شفعے په باطلولو سره د دويمے شفعے قضاء هم نه واجبيږی.دغه شان که دويمه شفع باطله کړی.نو صرف د دويمے شفعے قضاء به واجب وی.د اولنۍ شفعے قضاء به واجب نه وی.ددې په خلاف که په نذر کښې په يو سلام سره د څلورو رکعتونو نذر اوکړی.نوپه يو سلام سره به څلور رکعته واجب وی.او که په دوو سلامونو سره څلور رکعته اوکړی.نونذر نه پوره کيږی.

د قدرت على القيام باوجود په ناسته د نفل کولو حکم

وَيُصَلِّي النَّافِلَةَ قَاعِدًا مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْقِيَامِ او په قيام د قدرت لرو باوجود په ناسته نفل کولې شی.

حل اللغة ﴿① يصلی، صلی صلاة: مونځ کول، دعاکول ② نافله: نفل کول ③ قاعدې:په ناسته

تشريح ﴿**جوازالنفل قاعدأ مع القدرة على القيام** ﴿مسئله، د قادر على القيام دپاره په ناسته نفل کول جائز دی.

دلائله ﴿ ① نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی. [صلوة القاعد على النصف من صلوة القائم] ([1]) يعنی په ولاړه دمونځ کولو په نسبت په ناسته مونځ کولوکښې نيم ثواب دې.ددې حديث نه به استدلال په دې طريقه وی.چه په حديث کښې د رسول الله ﷺ مراد يا خو دادې.چه د عذر په وجه په ناسته مونځ اوکړی يا بغير د عذر نه ،اول خوکيدلے نه شی.ځکه چه د عذر په وجه سره په ناسته او په ولاړه کول، په ثواب کښې دواړه برابر دی.نومتعين شوه.چه بغير د عذر نه په ناسته کول مراد دی . پاتې شو دا چه په حديث کښې فرض مونځ مراد دے يا نفل.نو مونږ وايو فرض په اجماع سره مراد نه دې.ځکه چه بغير دعذر نه په اجماع سره فرض مونځ په ناسته کول جائز نه دی. نو دويم يعنی نفل متعين شو. يعنی دا ثابت شو.چه نفل مونځ بغير د عذر نه کولې شی.البته په ولاړه دکولو په نسبت به ثواب نيم وی.

②دليل عقلی دادې.چه نفل مونځ خيرموضوع دې.يعنی د بنده دپاره دا نيکی داسې مقرر شوې ده.چه په ټولو وختونو کښې ئې کولې شی.دحضرت ابوذر رضی الله عنه نه روايت دې.چه حضور ﷺ اوفرمائيل [الصلوة خير موضوع فمن شاء استقل ومن شاء استكثر] يعنی مونځ خيرموضوع دې. چه څوك غواړی کم دے کوی.اوڅوك چه غواړی ډير دے کوی.

[1]) من حديث عمران بن حصين رضی الله عنه رواه البخاری في التقصير باب ١٧ والترمذی في الصلاة باب ١٥٧ وابوداد في الصلاة باب ١٧٥ رقم ٩٥١ والنسائی في صلاة الليل باب ٢١ وابن ماجه في الإقامة باب ١٤١ واحمد في المسند (٤٤٢/٤ ، ٤٤٣)۔

حاصل المسئلة﴾حاصل دادي.چه نفل مونځ غير واجب دي.او كوم ځيز چه په دے اندازه وی .په هغې كښې داسې څه شرط نه شی لګولې.چه هغه ددې د پريخودلو سبب وی.ځكه چه كوم ځيز د خير د پريخودلو سبب وی .هغه خير موضوع نه شی كيدې.او د قيام شرط لګول د نفل پريخودلو سبب كيدے شی.ځكه چه ډير وخته په مونځګذار باندې قيام سخت وی.نوكه قيام د نفل مونځ دپاره شرط اوګرځولې شی.نو ډير كرته د قيام ګرانيدو په وجه د نفلو پريخودل لازميږی. حالانكه نفل خير موضوع دي.يعنی په ټولو وختونو كښې د حاصلولو نيكی ده.ځكه د نفل مونځ دپاره د قيام شرط اونه لګولې شو.

په مانځه كښې د قيام نه قعود ته د تلو حكم

وَإِنْ افْتَتَحَهَا قَائِمًا اوكه نفل ئې په ولاړه شروع كړل. **ثُمَّ قَعَدَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ** بيا (بغير د عذر نه) كيناستلو **جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ** رحمه الله .نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز جائز دی

حل اللغة﴾①افتتحها، افتتح افتتاحاً: شروع كول ②قائماً: په اودريدو ③قعد، قعد قعوداً (ن): كيناستل

تشريح﴾ **الإختلاف في القعود من القيام في النفل**﴾مسئله داده.كه چا نفل مونځ په ولاړه شروع كړو.بيا بغير د عذر نه كيناستلو. نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز جائز دی.[1]

دليله﴾ دليل دادې.مخكښې تيرشوی دی.چه شروع كول هغه ځيز لازموی.كوم چه شروع شی.او په كوم چه د "ماشرع فيه" صحت موقوف دې.نو په نفلو شروع كولو سره ركعت اولی او ثانيه دواړه واجبيږی.ركعت اولی خو به ځكه واجب وی.چه دا شروع شوې دې.او ركعت ثانيه په دې وجه ،چه په دې باندې د ركعت اولی صحت موقوف دې.ځكه چه صلوة بتيراء ممنوع دې.خو په ذكر شوې مسئله كښې ركعت اولی په ولاړه شروع شوې دې.خو ددې صحت په دې موقوف نه دې.چه ركعت ثانيه هم په ولاړه اوكړې شی.

وَقَالَا لَا يُجْزِيهِ او د صاحبينو رحمهما الله په نيز ناجائز دی **إِلَّا مِنْ عُذْرٍ** مګر دوجې د عذر نه

د صاحبينو رحمهما الله په نيز ناجائز دی.حكم اول استحسانی دې.او ثانی قياسی دې.

دليلهما﴾د صاحبينو رحمهما الله دليل قياس دې.يعنی نفل مونځ شروع كول قياس شوې دے په نذر باندې. په دې طريقه كه چا په ولاړه د نفل مونځ كولو نذر اوكړو.نو دده دپاره به په ناسته كول جائز نه وی. دغه شان كه په ولاړه ئې نفل مونځ شروع كړو.نو په ناسته كول جائز نه دی.

د ښار نه بهر په څاروی باندې د نفل كولو حكم

وَمَنْ كَانَ خَارِجَ الْمِصْرِ اوكوم سړې چه د ښار نه بهر وی **يَتَنَفَّلُ عَلَى دَابَّتِهِ** هغه دے په خپله څارولی باندې نفل مونځ كوی **إِلَى أَيِّ جِهَةٍ تَوَجَّهَتْ** ..كوم طرف ته چه غواری متوجه دے شی. **يُومِئُ إِيمَاءً** په داسې حال كښې چه اشاره كوی

حل اللغة﴾①خارج: بهر ②تنفل، تنفل تنفلاً: نفل كول ③جهة: طرف،اړخ ④توجهت،توجه توجهاً

[1] القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(۱\۵۱۵) وفتح القدير(۱\۲۰۲) ومراقي الفلاح (ص،۲۶۶) والبحرالرائق (۲\۶۳) والهندية (۱\۱۱٤) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱۱۲)-

:متوجه کیدل ⑤یؤمی، امی ایماء: اشاره کول

تشریح> الصلاة علي الدابة > مسئله. دښار نه بهر په سورلۍ باندې نفل مونځ کول جائز دی.که د عذر په وجه وی یا بغیر د عذر نه.دمونځ په شروع کښې د قبلې طرف ته متوجه وی اوکه متوجه نه وی.یعنی کوم طرف ته چه د سورلۍ مخ وی.هم هغه طرف ته دے مخ کړی او ادا دے کړی.

دلالته > ①دلیل د ابن عمر رضي الله عنهما حدیث دی.[قال رأيت رسول الله ﷺ يصلي على حمار وهو متوجه الى خيبر يؤمي ايماء] [1] یعنی حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمائی.چه ما د الله پاک رسول ﷺ په خر باندې اشاره سره په مونځ کولو باندې اولیدلو. په داسې حال کښې چه دوی خیبر طرف ته متوجه وو.

②عقلی دلیل دادې.چه په سورلۍ باندې د نفلو کولو جواز ځکه دې.چه نوافل د هیڅ وخت سره مخصوص نه دی.نو که مونږ په مصلی باندې دسورلۍ نه کوزیدل او استقبال قبله لازم اوګرځوو.نو اوس دوه صورتونه دی.یا خو به د سورلۍ نه راکوزیږی.قبلې طرف ته به متوجه کیږی.او یا به نه د سورلۍ نه راکوزیږی.او نه به استقبال د قبلې کوی.که دویم صورت وی.نو نفل به دده نه منقطع شی.ځکه چه دکومے پورې دے په سورلۍ باندې وی.نفل نه شی ادا کولې.او هرکله چه په دغه وخت کښې نوافل نه شی اداکولې.نو دے د نوافلو د خیر موضوع (یعنی په ټولو وختونو کښې دعمومیت نه محروم شو.حالانکه نوافل خیر موضوع دی.یعنی دا نیکی هر وخت حاصلیدے شی.او که اولنے صورت وی.یعنی د سورلۍ نه راکوزیدل او قبلې طرف ته مخ کولو سره نفل مونځ کول. په دې صورت کښې به دے د قافله نه ورسته پاتې شی.نو ددې عذر په وجه په سورلۍ باندې د نفل مونځ کولو اجازت ورکړې شو.

وجه عدم جواز الفرائض راکبا> پاتې شو فرائض، نو دا د خاص وختونو سره مخصوص دی.نوبه دے مخصوص وختونو کښې په راکوزیدلو او قبلې ته د مخ کولو په لزوم کښې هیڅ تکلیف او حرج نشته دې.په دې وجه په سورلۍ باندې د فرض مونځ کولو اجازت ورنکړې شو.

جواز الفرض راکبا عندالعذر> البته د عذر د وجے فرض مونځ هم په سورلۍ باندې جائز دې. ①مثلاً د غل ویره، یا د درنده ګانو ویره وی.که د سورلۍ نه راکوز شی.او فرض ادا کړی. نو د سورلۍ څاروے او سامان به غل اوتښتوی.یا به ئې درنده هلاک کړی.

②یا مثلا په ټوله زمکه باندې دومره ډیرے خټے او چقړے دی .چه په دې باندې سجده کول ممکن نه دی. ③یا مثلا سور سړې دومره بوډا او شیخ فانی وی.چه دے په سورلۍ باندې یواځے نه شی سوریدې.او هلته کښې د سورولو دپاره بل څوک هم موجود نه وی.نو په دې صورتونو کښې په سورلۍ باندې فرائض ادا کول شرعاً جائز دی.ځکه چه د الله تعالی ارشاد دے ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا﴾ یعنی که تاسو ته ویره وی.نو په ولاړه ولاړه یا په سورلۍ باندې په د سورلۍ په حالت کښې مونځ کوئ.

حکم السنن الراتبة راکبا> صاحب دهدایه فرمائیلی دی سنت مؤکده هم نفل دی.یعنی د نفلو په شان سنت مؤکده هم په سورلۍ باندې جائز دی.پاتې شو وتر،نود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز سورلۍ باندې جائز نه

---

[1] من حديث إبن عمر رضي الله عنهما رواه مسلم في صلاة المسافرين وقصرها رقم ۳۵ وأبوداود في صلاة السفر باب ۸ والنسائي في القبلة باب ۷)_

دی.خکه چه ددوی په نیز د وترو مونځ واجب دی.اود صاحبینو رحمهما الله په نیز جائز دي.خکه چه ددوی په نیز د وترو مونځ سنت دي.او سنت په منزله د نفل په سورلۍ باندې جائز دی.

روایة أداء سنة الفجر نازلاً> د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله نه یو روایت دادې.چه د صبا سنت د سورلۍ نه راښکته اداکړی.خکه چه د صبا سنت په نسبت د نورو سنتو زیات مؤکد دی.په دے وجه به ددے حکم د نورو سنتونو نه مختلف وی.ابن شجاع فقیه ونیلی دی.چه داسې ښکاری. چه د امام صاحب نه دا روایت د افضلیت د بیان دپاره دې.یعنی افضل دادی.چه د صبا سنت د سورلۍ نه راښکته ادا کړی.

جوازالصلاة راكباً لغيرالمسافر> په اصل مسئله کښې دا قید لګول چه د آبادۍ نه بهر وی، دوه خبرے ثابتوی .یوه داچه په سورلۍ باندې د نفل مونځ د جواز دپاره مسافر کیدلو شرط نشته.بلکه د آبادۍ نه بهرکیدل کافي دی.که مقیم وی او که مسافر وی.

عدم جوازالنفل راكباً في المصر> په ښار او آبادۍ کښې دننه په سورلۍ باندې نفل کول جائز نه دی. خکه چه د ښار نه بهر په سورلۍ باندې د نفلو جواز خلاف قیاس په نص سره ثابت دې.او ښار د خارج ښار په حکم کښې هم نه دې.نو په ښار کښې دننه به په قیاس باندې عمل کولې شی.او د ښار نه بهر کښې به خلاف قیاس په نص باندې عمل کولې شی.

وجه ظاهرالرواية> د ظاهرالروایة وجه داده.چه نص یعنی د ابن عمر رضي الله عنه حدیث کوم چه د مسئلې په شروع کښې ذکر شوې دے د آبادۍ نه بهر دمونځ په جواز کښې وارد شوې دې.او د آبادۍ نه بهر د سورلۍ ضرورت هم زیات وی.نو په ښار کښې دننه به په دے نشی قیاس کولې.

دسجده سهو بیان

بَابُ سُجُوْدُ السَّهْوِ

ترجمه> (دا) باب دسهو دسجدو (په بیان کښې) دې.

تشریح> **تشریح**> د ادا اود قضاء د بیان نه چه فارغ شو.نواوس هغه څیزبیانوی.چه په ادا اویه قضاء کښې د واقع کیدونکی نقصان تلافی کوی.یعنی سجده سهو،دسجدے ترکیب د(اضافت المسبب الى السبب) قبیلے څخه دې .خکه چه په مانځه کښې سهودسجدو واجبولو سبب دې.

د سجده سهو وجوب اود اداکولوطریقه

سُجُوْدُالسَّهْوِوَاجِبٌ سجدې د سهو واجب دی **فِي الزِّيَادَةِ وَالنُّقْصَانِ بَعْدَ السَّلَامِ** د زیادت اونقصان په صورت کښې پس د سلام نه **يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ** سجدې به کوی دوه سجدې **ثُمَّ يَتَشَهَّدُ**.بیا دے تشهد اووانی **وَيُسَلِّمُ**.اوسلام دې واړوی

حل اللغة> ①یسجد ،سجد سجدة: تیټیدل، سجده کول ②یسلم سلم تسلیما: سلام کول، سلام ګرځول③سهو: هیرول

تشریح> **سجدة السهو قبل السلام أو بعده**> مسئله داده.که په مانځه کښې د څه فعل زیاتوالے راشی. یا کمې.نویه ده به دوه سجدے د سهوے واجب وی. اودا دوه سجدې د سلام نه وړاندې کول افضل او

غوره دی اوکه د سلام نه پس ئې اوکړی نو هم جائز دی[1]

دلائله> ①دلیل دنبی کریم ﷺ قول[لکل سهوسجدتان بعدالسلام] [2] دې. (ابوداوٗد، ابن ماجه)
②دویم دلیل حدیث فعلي دې.چه نبی کریم ﷺ دسلام نه پس دوه سجدے کړی دی. [3] صاحب دهدایه وائی.چه دوه فعلي حدیثونه متعارض شی.نودا دواړه به پریخودے شی.اودنبی کریم ﷺ په قول به عمل کولے شی.اودنبی کریم ﷺ قول دادې.چه دسهوے دوه سجدے دسلام نه پس دی.
③عقلی دلیل دادې.چه په اجماع سره سجده سهو نشی مکرر کیدے .اود سلام نه مخکښې د سجده سهوے کولو په صورت کښې دتکرار امکان دې.په دےطریقه چه دسلام نه مخکښې ئې سجده اوکړه. بیاچه کله دسلام اړولو وخت راغې.نو د ده شك شو.چه دريم رکعته شوی دی اوکه څلور.په دے سوچ کښې پروت وو.تردے چه په سلام کښې تاخیر اوشو. بیا وریاد شو.چه څلور رکعته شوی دی.نواوس دسلام دتاخیرد وجے په ده دوه سجدے د سهو واجب شوې.نودا کس به دوباره سجده سهوکوی اوکه نه.نودوه صورتونه دی.که ده دوباره سجده سهواونکړه.نوپه ماتخه کښې به داسې نقص باقی پاتې شی.چه د هغې تلافی نه ده شوې.اوکه دوباره ئې سجده سهواوکړه.نوسجده سهو به مکررشی.حالانکه دا په اجماع سره غیر مشروع ده.په دې وجه مناسب دی.چه سجده سهو د سلام نه پس اوشی.چه دټولوسهوو تلافی اوشی.

تسليم السلامين>پاتې شوه دا خبره چه دسجده سهوے نه مخکښې دواړو طرف ته سلام واړوی اوکه یوطرف ته،① په دې باره کښې د هدایه دمصنف رحمه الله په نیزراجح دا دی.چه دواړو طرفونو ته سلام واړوی.هم ددې قائل شمس الائمه سرخسی، صدرالاسلام اوفقیه ابواللیث رحمهم الله دی.

دليله>دهدایه مصنف دقول صحیح دلیل دابیان کړې دې.چه په احادیثوکښې کوم ځائې لفظ دسلام ذکر دې.دهغې نه متعارف اومعهود سلام مراددې.اومتعارف دواړو طرف ته سلام اړول دی.یوطرف ته مراد نه دے،په دې وجه دواړو طرف ته سلام اړول ضروری دی. بعضےحضرات وائی.چه د امام ابوحنیفه اود امام ابو یوسف رحمهما الله په نیزهم داحکم دې.

تسليم السلام الواحد: اودشیخ الاسلام خواهرزاده،علامه فخرالاسلام اودصاحب ایضاح رحمهم الله په نیزراجح دادی.چه صرف ښی طرف ته سلام واړوی.

دليله>د شیخ الاسلام خواهرزاده وغیره دلیل دادې.چه دسلام دوه حکمونه دی .یوخودقوم دپاره تحیه او دعې.او بل قطع کول د احرام.اودلته مونږ قطع کول مقصودنه دی .نومعلومه شوه چه تحلیل مراددې.اوپه تحلیل کښې تکرار نه وی.په دې وجه دسلام دتکرار هیڅ ضرورت نشته.بلکه یوطرف ته به کافی وی.

---

[1] په دې مسئله کښې امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د سلام نه مخکښې سجده د سهو کول غوره ده.
[2] من حديث ثوبان رضي الله عنه اخرجه ابوداود في الصلاة باب ۱۹۵ رقم ۱۳۸ وابن ماجه في الإقامة باب ۱۳٦ واحمد في المسند (۲۸۰/۵) وعبدالرزاق في مصنفه (۳۲۲/۲)۔
[3] من حديث عبدالله رضي الله عنه البخاری في الصلاة باب ۳۲ رقم ٤٠٤ ومسلم في المساجد ومواضع الصلاة رقم ۹۱، ۹۲، وابوداود في الصلاة باب ۹ رقم ۱۰۱۹ والترمذی في الصلاة باب ۱۷۲ رقم ۳۹۲ والنسائی في السهو باب ۲۵ وابن ماجه في الإقامة باب ۱۳ رقم ۱۲۰۵)

المذهبان في الصلاة في قعود الصلاة ﴿ پاتې شوه داخبره چه درود على النبي ﷺ اوماثوره دعاګانې په قعدے د صلوة کښې ونیل پکاردی اوکه په قعده د سهوے کښې ،دقعده صلوة نه د سجده سهوے نه مخکښې قعده مراد ده.اود قعده سهو نه مراد د سجده (سهو) نه پس قعده ده.

① په دې باره کښې امام طحاوی رحمه الله فرمائی.چه په دواړو قعدوکښې دے اووائی.یعنی په قعدے دصلوة کښې هم اوپه قعدے دسهوےکښې هم.

دليله ﴿ امام طحاوی رحمه الله دخپل مذهب تائید کښې یوه ضابطه بیان کړې ده.هغه دا ده.چه هرهغه قعده چه د هغې په آخرکښې سلام وی.په هغې کښې به درود على النبي ﷺ ونیلے شی .نو ددې ضابطے په رڼاکښې دواړو قعدوکښې یعنی په قعدے دصلوة اوپه قعدے دسهوےپه آخر کښې سلام شته.

②اودشیخینو رحمهما الله په نیزبه په قعدے دصلوة کښې وائی.یعنی دسجده سهوے نه مخکښې ،اودامام محمد رحمه الله په نیزبه په قعده د سهوکښې وائی.یعنی دسجده سهونه پس،مصنف دهدایه هم دے ته صحیح ونیلی دی.

دليلهما ﴿ دشیخینو رحمهما الله دلیل دادې.چه درود او دعا د مانځه په آخری قعده کښې ونیلی شی.اوپه کوم کس چه سجده سهوواجب شوه.د هغه دغه سلام کوم چه دسجده سهوے دپاره دې.هغه د مانځه نه ویستل کوی.اوچه دا سلام د مانځه نه ویستل کوی.نوهم قعده د صلوة، قعده د ختم شوه.اود امام محمد رحمه الله په نیزچونکه دا سلام دمانځه نه خارجول نه کوی.بلکه دسجده سهو نه پس کوم چه سلام دے هغه د مانځه نه خارجول کوی.په دې وجه به قعده سهو قعده دختم وی.نه داچه قعده دصلوة ،اود درود او دعاء مقام چونکه دمونځ آخردې.په دې وجه په قعده سهو کښې به درود او دعا ونیلے شی.په قعده دصلوة کښې به نشی ونیلې.د امام محمد رحمه الله قول مفتی به دې.

د جنس صلاة څخه چه نه وی دهغې د زیادت حکم

وَيَلْزَمُهُ السَّهْوُ سهو به لازم وی. **إِذَا زَادَ فِي صَلَاتِهِ فِعْلًا** چه کله په خپل مانځه کښې داسې فعل زیادت اوکړی. **مِنْ جِنْسِهَا** چه هغه د مونځ جنس وی **لَيْسَ مِنْهَا** (خو)دمونځ جزء نه وی

حل اللغة ﴿ ①یلزمه، لزم لزوما (س): لازم کیدل②زاد، زاد زیادة (ض): زیاتول

تشريح ﴿ **وجوب السهو بزيادة ما يكون من جنس الصلاة** ﴿ صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.چه سجده سهو د هرهغه فعل په زیادت لازمیږی .کوم چه فعل د مونځ د جنس څخه وی.خودمونځ جزء نه وی.مثلاً دیو رکعت نې دوه رکوع اوکړی.یانې درې سجدے اوکړې. نویوه رکوع اویوه سجده کوم چه زیاتی ده.هغه اګرچه دمونځ جنس دې .خودمونځ جزء نه دې.نود یوے رکوع په ځانې ئې دوه رکوع اوکړې.یا ددوو سجدو په ځانې ئې درې سجدے اوکړې.نو ددې زیادت په وجه به سجده سهو واجب وی.

حكم سجدة السهو ﴿ صاحب دهدایه رحمه الله فرمانیلی دی.چه دامام قدوری قول[ویلزم السهو إذا زاد ...الخ] دسجده سهو په وجوب دلالت کوی.اود وجوب قول صحیح دې.هم ددې قائل امام مالك او امام احمد رحمهما الله دی.اوبعضې د احناف عالمان لکه امام ابوالحسن کرخی رحمه الله فرمائی. چه سجده سهوسنت ده.

دليل القول الصحيح ﴿ دقول صحیح دلیل دادې.چه سجده سهودهغې نقصان پوره کولو دپاره واجب ده.کوم چه په عبادت کښې پیدا شوې وی.که دسجده سهو په ذریعه نقصان پوره نشو.نود مونځ اعاده به

واجب وي.ددې دپاره چه نقصان پوره شي.اوکله چه دنقصان پوره کولو دپاره دمونځ اعاده واجب ده.نوسجده سهويه هم واجب وي.ځکه چه په دے هم نقصان پوره کيږي.لکه چه دمونځ په اعادے نقصان پوره کيږي.

تائيده بالمثال>اودسجده سهو مثال داسےدي.لکه په حج کښې دم جنايت،يعنى كه د احرام په حالت کښې ترے جنايت اوشي.نو په دې سره به حج کښې نقصان پيدا شي.اوددې نقصان تلافى به په دم جنايت(قرباني) سره کيږي.اودم جنايت واجب وي.نولکه څنګه چه په حج کښې دم جنايت واجب ده.دغه شان په مانځه کښې سجده سهو واجب ده.

السوال التقديرى> كه څوک دا سوال اوکړي چه تاسو وايےچه سجده سهو به په ترک د واجبو واجبيږي.يا په تاخيردواجبو يا په تاخير د رکن.خود زيادت په صورت کښې خو نه ترک د واجب دے اونه تاخير.(لکه چه دوه رکوع اوکړي.يا دري سجدے اوکړي)نود زيادت په صورت کښې د سجده سهو وجوب نه دے پکار.حالا نکه په اول دباب کښې ونيلي شوي دي.چه د زيادت په صورت کښې سجده سهو واجبيږي.

الجواب>جواب دادے چه د زيادت په صورت کښې هم تاخير درکن ياترک د واجب لازميږي . مثلاً چه دري سجدے ئې اوکړې.نوقيام کوم چه فرض رکن دې. په دې کښې به تاخير لازميږي . اوکه د اوله قعده نه پس په هيره پنځم رکعت دپاره پاسيدو.اودائې په سجده مقيد هم کړو.نوحکم دا دے چه دے سره دے شپږم رکعت ملاؤ کړي.چه څلور رکعته فرض اودوه رکعته نفل شي.اوس تاسو اوګورئ.چه ددې دوو رکعتو د زيادت په وجه په څلور رکعتونوکوم چه سلام واجب وو. هغه ترک شو.نوثابته شوه.چه زيادت هم تاخيرد رکن يا ترک د واجب لره مستلزم دي.

د سنت په ترک د سجده سهو حکم

اَوْتَرَكَ فِعْلًامَسْنُوْنًا اويا پريږدي يو فعل مسنون پريږدي(نوسجده دسهو واجبيږي)

تشريح> **المراد من المسنون هو الواجب**>مسئله :صاحب دقدوري رَحِمَهُ اللهُ وائي.چه مونځ کونکې که يوفعل مسنون پريخودلو.نوپه ده به سجده سهو واجب وي.صاحب دهدايه رَحِمَهُ اللهُ فرمائيلي دي. چه په متن کښې د فعل مسنون نه مراد فعل واجب دې.ځکه چه د فعل مسنون په پريخودلو سجده سهو نه واجبيږي.بلکه په ترک د واجب واجبيږي.پاتې شوه دا خبره چه په متن کښې ،،فعلاً مسنونا،، ولې ونيلےشويدي؟ نو ددې جواب دا دې.چه چونکه د واجبو وجوب په سنت سره ثابت دې.(ځکه ئې پرے د سنت اطلاق اوکړلو.)

د واجب په پريښودلو د سهو وجوب

اَوْتَرَكَ قِرَاءَةَ الْفَاتِحَةِ فرمائي.چه يا ئې قرات فاتحه پريخوده **اَوِالْقُنُوْتَ**.يا دعائې قنوت پريږدي. **اَوِالتَّشَهُّدَ اَوْ تَكْبِيْرَاتِ الْعِيْدَيْنِ**.ياتشهد يا تکبيرات د اخترونو پريږدي

حل اللغة>①ترک، ترک ترکا (ن): پريخودل ②قنوت: دعائې قنوت

تشريح> **وجوب سجدة السهو بترک الواجب**>په دےعبارت کښې د هغه څيزونوتفصيل دې.چه دکومو په پريخودلوسجده سهوواجبيږي. فرمائي چه په مانځه کښې دقرات فاتحه پريخودل هم موجب دسجده سهوې دي.ځکه چه قرات د فاتحه واجب دې.خودا خيال ساتل پکاردي. چه دفرضوپه اولنو دوو

رکعتوکښې په ترک د فاتحې سجده سهو واجبیږی.اوپه آخرنو دوو رکعتوکښې په ترک د فاتحې سجده سهونه واجبیږی.ځکه چه په آخری دوو رکعتوکښې د فاتحې وئیل واجب نه دی.بلکه مستحب دی . البته د امام ابوحنیفه رحمه الله نه د حسن بن زیاد رحمه الله روایت دادې.چه په آخرنو کښې هم په ترک د فاتحه سجده سهو واجبیږی.په وترمونځ کښې دعاء قنوت ،تشهد اود اخترونوتکبیرونه پریخودل دا ټول موجب دسجدې دی.

دلائل ①دلیل دادې.چه دا درې واړه څیزونه واجب دی.اوپه ترک د واجب سجده سهو واجبیږی . نوددې په ترک به هم سجده سهو واجبیږی.اوددې څیزونود وجوب دلیل دادې.چه نبی کریم ﷺ په دې څیزونو مواظبت کړې دې.(۱) اوکله نې هم نه دی پریخی.اود رسول پاک ﷺ په یوڅیز بغیرد ترک نه مداومت کول د هغې د وجوب دلیل دې.

②دویم دلیل دادې.چه دا څیزونه ټول مونځ ته منسوب کیږی.لکه چه وئیلې شی قنوت الوتر، تکبیرات صلوة العیدین، تشهدالصلوة ، نو ددې څیزونو ټول مونځ ته منسوب کیدل ددې خبرې دلیل دې.چه دا څیزونه د مونځ د خصائصو څخه دی.اواختصاص ثابتیږی د وجوب نه،نو ثابته شوه چه دا څیزونه د واجباتوڅخه دی.

د جهر په ځائې پټ قرأت وئیل او ددې په عکس

أَوْجَهَرَ الْإِمَامُ اویا امام په هغې مونځونوکښې جهر اوکړی فِيمَا يُخَافِتُ. په کومو کښې چه اخفاء واجب وی أَوْخَافَتَ.یا ئې په هغې مونځونوکښې اخفاء اوکړه فِيمَا يُجْهَرُ.په کوموکښې چه جهرواجب وی(نوپه ده سجده سهولازمیږی)

حل اللغة ①جهر،جهر جهراً (ف): ښکاره کول ②خافت،خافت مخافتة: پټول

تشریح **ترک الجهر أوالإخفاء** ① په سری مونځ کښې جهرکول اوپه جهری مونځ کښې اخفاء کول سجده سهو واجبوی.

دلیله دلیل دادې.چه په کومو مونځونوکښې په جهرقرات کیږی.په هغې کښې جهرکول په امام واجب دی.چه د امام قرات مقتدی هم واوری.اود امام قرات دمقتدی (دقرات)قائم مقام شی. او د ورځې په مونځونوکښې په امام اخفاء ځکه واجب ده.چه اخفاء په دې کښې مشروع شوېده. چه دکافرانو دغلطئ اچولونه قرآن پاک محفوظ شی.لکه چه تاسوته به معلومه وی.چه نبی کریم ﷺ دقرات د اخفاء حکم هغه وخت ورکړې وو.کله چه کافرانو دنبی کریم ﷺ دتلاوت کولو په وخت د غلطئ اچولوکوشش کولو.هم داوجه ده چه د ورځې په مونځونوکښې اخفاء واجب ده.دشپې په مونځونوکښې واجب نه ده.ځکه چه دشپې به داخلق اوده پراته وو،نوحاصل دا شو.چه د ورځې په مونځونوکښې اخفاء دقرآن دحفاظت دپاره مشروع شوې ده.او ددې قسم څیزونو نه د قرآن حفاظت کول واجب دی.نوثابت شو.چه د ورځې په مونځونو کښې اخفاء واجب ده.بهرحال کله چه په سری مونځونوکښې جهراوپه جهری مونځونوکښې اخفاء واجب شوه.نوددې په ترک به سجده سهوه هم واجب وی. ځکه چه په ترک د واجب سجده (سهو) واجبیږی .(الکفایه)

---

(۱) قال الزیلعی رحمه الله هذا معروف ولم ینقل الترک،،نصب الرایه ۲/۱۷۳۔

الروایتان في قدرالجهر والإخفاء> پاتې شوه دا خبره چه په جهری مونځ کښې په څومره قدرې اخفاء اوپه سری مونځ کښې په څومره قدرې جهر سجده سهو واجبیږی.نوپه دې باره کښې روایات مختلف دی.
① په ظاهرروایت کښې دی.چه په دواړو صورتونوکښې قلیل اوکثیر برابر دی.یعنی که په جهری مونځ کښې ئې اخفاء اوکړه.اوکه په سری مونځ کښې ئې جهر اوکړو،قلیل مقداروی.اوکه کثیر مقدار ، دواړوصورتونو کښې سجده سهوواجبیږی،
القول الأصح> صاحب دهدایه وائی.صحیح خبره داده.چه په کوم مقدارمونځ تیک کیږی. هم دومره مقداراخفاء اوجهر ئې په دواړو صورتونو کښې اوکړو . نو سجده سهویه واجب وی. ځکه چه دجهر او اخفاء معمولی مقدار نه بچ کیدل ممکن نه دی.البته د مقدار کثیرنه بچ کیدل ممکن دی.په دې وجه د سهوحکم به مقدارکثیرسره متعلق وی.د مقدار قلیل سره به نه وی.او په څومره مقدار قرات چه مونځ تیک کیږی هغه کثیردې.اوددېنه کم قلیل دې.
المذهبان في قدرما یجوز به الصلاة> پاتې شوه داخبره چه د[مایجوزبه الصلوٰة] نه څه مقدار مراد دې.نوپه دې باره کښې اختلاف دے د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز یو آیت دے او دصاحبینو په نیز درې آیاتونه دی.
حکم وجوب السهوفي حق الإمامة> صاحب دهدایه وائی.چه په سری مونځونوکښې دجهرپه وجه او په جهری مونځونو کښې د اخفاء په وجه دسجده سهو د وجوب حکم د امام په حق کښې دې.دمنفرد په حق کښې نه دې. یعنی که امام داسې اوکړل.نوسجده سهو به واجب وی.
دلیله>دلیل دادے چه جهر او اخفاء دجماعت په خصوصیاتوکښې دی.یعنی په جهری مونځونو کښې جهر اوپه سری مونځونوکښې اخفاء دجماعت په صورت کښې کیږی.اوکه ځانله مونځ کوی. نو ده ته اختیار دې.چه په جهرقرات کوی.اوکه په اخفاء.نوچه په منفرد جهر یا اخفاء واجب نه ده. نوددې په پریخودلو به سجده هم نه واجبیږی،او په امام چونکه واجب دی.په دې وجه د امام د پریخودلو په صورت کښې به په امام سجده سهوواجب وی.
الإعتراض>په دے بعضې خلقو اعتراض کړې دې.هغه دا چه په جهری مونځونوکښې وجوب د جهرمنو،چه دا دجماعت په خصوصیاتو کښې دې.ځکه چه په جهری مونځونو کښې منفرد ته اختیار دې چه هغه بالجهرقرات کوی اوکه په اخفاء.خوپه سری مونځونوکښې د اخفاء وجوب دجماعت په خصوصیاتوکښې نه منو.ځکه چه په سری مونځونوکښې په منفرد هم په پټه قرات واجب دې.نوپه سری مونځونوکښې د اخفاء پریخودلو په وجه په منفرد هم سجده سهو واجب کیدل پکاردی.حالانکه علامه مرغینانی رحمه الله فرمانیلی دی. چه په دې صورت کښې به هم په منفرد سجده سهوواجب نه وی.
الجواب >داد نوادر روایت دې.یعنی په سری مونځونو کښې په منفرد د اخفاء وجوب د نوادر روایت دې.اود ظاهرروایت مطابق په منفرد اخفاء واجب نه ده.ځکه چه د ورځو په مونځونو کښې په قرات کښې اخفاء کول په دې وجه واجب شوی وو.چه د کافرانو دطرفه مغالطه لرے کړې شی. اودکافرانو په قرات کښې مغالطه پیداکول به هغه وخت وی.چه کله مونځ په طریقه دشهرت ادا شی. اود منفرد مونځ دشهرت په طریقه نه وی. ددې وجې په ده اخفاء واجب نه ده.بلکه ده ته اختیار دې.چه په نورو مونځونوکښې هم په اخفاء قرات اوکړی یا په جهرسره اوکړی.اوکله چه منفرد ته اختیاردے نو د ترک اخفاء په وجه په ده سجده سهو نه واجبیږی.(عنایه)

د امام په سهو د مقتدي سهو ده

وَسَهْوُ الْإِمَامِ د امام سهوكول يُوْجِبُ عَلَى الْمُؤْتَمِّ السُّجُوْدَ په مقتدي سجده واجبوي. فَإِنْ لَمْ يَسْجُدْ الْإِمَامُ بيا كه امام سجده اونكره لَمْ يَسْجُدِ الْمُؤْتَمُّ.نومقتدي دے هم سجده نه كوي

حل اللغة ﴿①سهو: هيره ②يوجب، اوجب ايجابا: واجب كول ③موتم: مقتدي

تشريح ﴿ لزوم السجدة علي المأموم بسهوالإمام﴾ مسئله داده.كه د امام نه سهو اوشي.نوسجده سهو په امام هم واجبيږي.اوپه مقتدي هم.ځكه كوم چه سبب د امام په حق كښې سجده سهو واجبونكے دے، هغه دمقتدي په حق كښې هم متحقق شو.

دليله﴿ځكه چه مقتدي په صحت اوفساد او په اقامت كښې د امام متابعت په خپل ځان لازم كړې دې.نود امام د سهو په وجه كوم چه نقصان د امام په مانځه كښې متمكن (پيدا)شوې دے،هغه نقصان دمقتدي په مانځه كښې هم يقينا پيدا شو.او كله چه امام ددې نقصان پوره كولو دپاره سجده كوي.نوبه مقتدي هم په خپل مانځه كښې د پيدا شوي نقصان پوره كولود پاره سجده كول ضروري دي.

كون صلاة المأموم تابع لصلاة الإمام﴿ صاحب دهدايه وائي.چه دمقتدي مونځ د امام دمونځ تابع وي.په دې وجه كه امام او مقتدي ټول مسافروي.اودمونځ په دوران كښې امام د اقامت نيت اوكړو .نود ټولومقتديانو فرض مونځ به څلور ركعته شي.اګر چه د مقتديانوطرفه نيت موجود شوې نه وي

عدم وجوب السجدة علي المأموم إن نسيها الإمام﴿ ①صاحب دقدوري فرمائي.كه د سجده سهو د وجوب باوجود امام سجده سهواونكړه. نو په مقتدي به هم سجده سهوواجب نه وي.

دليله ﴿ دليل دادې.كه مقتدي بغيرد امام د سجده سهوكولونه سجده سهو اوكړه.نود امام مخالفت كول به لازم شي.حالانكه التزام ئې دا كړې وو.چه د امام په اتباع كښې به مونځ اداكوي.حاصل دا چه التزام ئې كړې وو دمتابعت د امام ،اوكړې ئې دے مخالفت، اود متابعت اومخالفت په مينځ كښې منافات دې.خوچه دمقتدي په سجده كولومخالفت متحقق كيږي نومتابعت منتفي شو.

د مقتدي سهو دامام سهو نه ده

فَإِنْ سَهَى الْمُؤْتَمُّ كه مقتدي سهو شو لَمْ يَلْزَمِ الْإِمَامَ وَلَا الْمُؤْتَمَّ السُّجُوْدُ.نونه په امام سجده كول لازم دي اونه په مقتدي

حل اللغة ﴿① موتم: مقتدي ② لم يلزم، لزم لزوما (س): لازم كول

تشريح﴿ صورت دمسئلې دادې.كه د مقتدي نه په مونځ كښې سهو اوشوه.مثلاً په اوله قعده كښې ئې تشهد اونه ونيل.نوپه دې وجه به نه په امام سجده سهولازم وي.اونه په مقتدي،

دليله﴿ دليل دا دې چه دصحت اوفساد په اعتبارسره د امام مونځ د مقتدي په مونځ مبني نه وي. نو د مقتدي د مونځ په نقصان سره به د امام مونځ نه ناقص كيږي.اوكله چه د امام په مونځ كښې هيڅ نقصان واقع نشو.نوپه ده به سجده هم واجب نه وي.اوكله چه په امام سجده سهو واجب نشوه.نوپه مقتدي به هم واجب نه وي.ځكه كه په مقتدي سجده سهو واجب شي.نودے به خانله سجده كوي.يابه دده امام هم ده سره سجده كوي .په اولني صورت كښې د امام مخالفت كول لازميږي.او په دويم صورت كښې قلب موضوع لازميږي .يعنې امام كوم چه اصل وو هغه به تابع شي.او مقتدي چه تابع

وو.هغه به اصل شي.اودا دواړه خبرې جائزنه دي. يعنى مخالفت د امام اوقلب موضوع.خوچه دا دواړه خبرې جائزنه دي. نوبه مقتدي به سجده سهو هم واجب نه وي.

د اولنۍ قعدې د هیرېدو صورت

وَمَنْ سَهَى عَنِ الْقَعْدَةِ الْأُولَى اوکوم کس نه چه اوله قعده هيره شوه. ثُمَّ تَذَكَّرَ بيا ورياده شوه وَهُوَ إِلَى حَالَةِ الْقُعُودِ أَقْرَبُ په داسې حالت کښې چه قعدې ته نزدې وو عَادَ نو راواپس دې شي فَجَلَسَ اوقعده دې اوکړي وَتَشَهَّدَ.اوتشهد دې اووائى

حل اللغة >①تذكر، تذكر تذكراً: يادول ②قعود: کیناستل ③عاد، عاد عوداً (ن): واپس کول ④اقرب، قرب قرباً (ن): نیزدې کيدل

تشریح > **الرجوع إلي القعدة في صورة القرب إلي القعدة**>مسئله داده.چه رباعی یا ثلاثی فرضو کښې که چا اوله قعده پرېخوده.اوبیا ورياده شوه.نودوه صورتونه دي.یاخوبه دې قعدې ته زيات نزدې وي. په دې طريقه چه ده خپلې کونډې نه وې اوچتې کړې.او یا به قيام ته زيات نزدې وي.په دې طريقه چه ده خپلےکونډې اوچتې کړې وي.که اول صورت وي.نوواپس دې شي.او قعده دې اوکړي.او تشهد دې اووائى.ځکه چه قريب الشئ د هغه څيزحکم لري.لکه دجمعې اود اخترونو مونځونو په حق کښې چه فناء دښار ته دښارحکم حاصل دې.

الروايتان في وجوب السهوفي الصورة الأولي>پاتې شوه داخبره،چه په دےصورت کښې به سجده سهو واجب وی اوکه نه. ①نود بعضوحضراتو رائې ده.چه سجده سهوبه واجب ده.ځکه اوله قعده کومه چه واجب ده.په دې کښې تاخير بيا موندلے شو.

②اوقول صحيح دادې.چه سجده واجب نه ده،ځکه چه کله قريب الشئ ته د هغه څيزحکم ورکړې شو.نولکه چه دے هډو اودريدلے نه دې.اوچه اولنۍ قعدې ته راواپس شو.نوقيام متحقق نشو.او په اوله قعده کښې تاخيرهم موجود نشو.اوچه تاخيرموجود نشو.نوسجده سهو هم واجب نشوه.

وَلَوْكَانَ إِلَى حَالِ الْقِيَامِ أَقْرَبَ اوکه قيام ته زيات نزدې وي لَمْ يَعُدْ.نوقعدې طرف ته دې نه واپس کيږي وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ. اوسجده سهودې اوکړي

تشریح > **وجوب السهو في الصورة الثانية**>اوکه دويم صورت وي.نوداکس دے قعدے ته واپس نه راځي. بلکه دريم رکعت دپاره دے اودريږي.

دليله> ځکه چه اوس قاعده تيره شوه.چه قريب الشئ ته د هغه څيز درجه ورکولےشي.نوچه داکس قيام ته ډيرنزدې وي.نومعنًى د قائم په مرتبه کښې شو.اود قائم دپاره اوله قعده ته واپس کيدل جائز نه دي.ځکه چه د دريم رکعت قيام فرض دې.اواوله قعده واجب ده. اود واجب په وجه فرض پريخودل ټيک نه دی.البته په دےصورت کښې به سجده سهو واجب وی. ځکه چه ده واجب يعنى اوله قعده پرېخوده ده.

د پنځم رکعت نه قاعدې ته واپس کیدل

(وَإِنْ سَهَى عَنِ الْقَعْدَةِ الْأَخِيرَةِ اوکه د آخرى قعدې نه سهو شو فَقَامَ إِلَى الْخَامِسَةِ.نرد پنځم رکعت دپاره پاسیدو رَجَعَ إِلَى الْقَعْدَةِ لوقعدې ته دې واپس شي مَا لَمْ يَسْجُدْ.چه ترکومې پورې (د پنځم رکعت)سجده نه وی کړې.

حل اللغة ⟨①قام، قام قیاما(ن): اودریدل ②رجع، رجع رجوعا (ض): واپس کیدل، واپس کول

تشریح ⟨ **الرجوع إلى القعدة في الركعة الخامسة** ⟩ صورت دمسئلے دا دي.که یوکس نه آخری قعده هیره شي. اوپه څلور رکعته مونځ کښې د پنځم رکعت دپاره اودریږی.یا په دري رکعته مونځ (دماښام اووترو)کښې دڅلورم رکعت دپاره اودریږی.یا دوه رکعته مونځ کښې دریم رکعت ته اودریږی.نو ترڅوچه نې دا رکعت یعنی په څلور رکعته کښې پنځم رکعت په سجده مقیدکړې نه وی.نو قعدے ته دے واپس کیږی.

دليله⟩دلیل دادې.چه قعدے ته په واپس راتلو کښې دده دمونځ اصلاح ده.اودده دپاره دمونځ اصلاح ممکن هم ده.ځکه چه دیو رکعت نه په کم پریخودلو کښې هیڅ باك نشته.دیو رکعت نه کم نه خوحقیقتا مونځ دې.اونه دمونځ په حکم کښې دې.هم داوجه ده.که چا قسم اوخوړلو.چه زه به مونځ نه کوم. بیا نې د یو رکعت نه کم اوکړو.نوحانث به نه وی.

وَأَلْغَى الْخَامِسَةَ اوپنځم رکعت دے لغوکړی وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ او سجده سهوه دې اوکړی

تشریح ⟩ **كون الركعة الخامسة لغوا**⟩پاتې شو پنځم رکعت،نوصاحب دقدوری رحمه الله فرمانی.چه پنځم رکعت دے لغوکړی.ځکه چه داکس آخری قعدے ته واپس شوې دې.اود آخری قعدے محل د پنځم رکعت نه مخکښې دې.اوقاعده دا ده.کوم چه کس په افعالو دمانځه کښې د یو فعل نه داسےځیزته واپس شی.چه د هغې محل ددې نه مخکښې وی.نودا فعل مرجوع عنه (دکوم نه چه رجوع شوې ده)لغوکیږی.مثلاً یوکس د تشهد په مقدار کیناستو.بیا وریاد شو.چه دمونځ سجده نې نه ده کړې . یا سجده تلاوت نې نه ده کړې.بیا دده دغه فوت شوې سجده اوکړه.نوسجده سهوکول واجب دی. ځکه چه په دې صورت کښې تاخیر د فرض هم دې.اوتاخیردواجب هم.تاخیرد فرضوځکه چه په قعده آخره کښې تاخیر شوې دې. او
قعده آخره فرض ده.اوتاخیرد واجب ځکه دې.چه لفظ دسلام واجب دے هغه موخرشوې دې.

دليله⟩سجده سهو پرې ځکه واجبیږی چه ده واجب روستو کړو یعنی یعنی د لفظ کوم چه واجب وو د ده په پورته کیدو سره هغه روستو شو اوپه تاخیر د واجب سره سجده سهو لازمیږی نو ځکه پرې سجده سهوه واجبه شوه

آخری قعدې هیرېدلو حکم

وَإِنْ قَيَّدَ الْخَامِسَةَ بِسَجْدَةٍ اوکه پنځم رکعت نې په سجده مقید کړو بَطَلَ فَرْضُهُ نودده فرض باطل شو

حل اللغة ⟩①قید، قید تقییدا: قید کول، خاص کول②بطل، بطل بطلا (ن): باطل کول

تشریح⟩ **بطلان الفرض** ⟩ ① صورت دمسئلې دادې.که قعده آخره هیره شوه.اوپنځم رکعت نې په سجده مقید کړو.نو زموږ په نیزدده فرض باطل شو. (1)

دليله ⟩ دلیل دادې.چه دے کس د پنځم رکعت سجده اوکړله.په دې وجه د نفل شروع کونکےشو.حالا نکه تراوسه پورې دفرض مونځ ټول ارکان مکمل شوی نه دی.ځکه چه قعده آخره چه رکن دې.هغه نه ده

(1) په زیربحث مسئله کښې امام شافعی رحمه الله فرمانی.چه دده فرض باطل نه دی.بلکه قعدےته دے واپس شی.تشهد دے اووانی.اوسجده سهودے اوکړی.اوسلام دے واروی.

موندلے شوې.اود فرض مونځ ټول ارکان مکمل کیدونه مخکښې په پوره عزم سره نفل مونځ شروع کول فرض مونځ فاسدوی.ځکه چه د فرض او نفل په مینځ کښې منافات دي.اوکله چه "احد المتنافیین" یعنی نفل متحقق شو.نوآخریعنی فرض منتفی شو.

الرکعة بغیرالسجدة لیست بصلاة ﴿ صاحب دهدایه فرمائیلی دی.چه رکعت بلاسجده مونځ نه دي. او سجدے سره حقیقتاً مونځ دي.هم دا وجه ده.که چا قسم اوخوړو.او[والله لا أصلی] ئې اووئیل . نو چه یو رکعت سجدے سره اوکړی.نوحانث کیږی.

وَتَحَوَّلَتْ صَلَاتُهُ نَفْلًا او دده مونځ بدل شوپه نفلو کښې

حل اللغة ﴿تحولت، تحولت تحولاً: بدلول]

تشریح ﴿ **صیرورة الصلاة نفلاً** ﴿امام ابوالحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه پنځم رکعت په سجده دمقیدکولوپه وجه د فرضیت وصف باطل شو.اصل صلاة نه دے باطل شوې.

د شپږم رکعت ملاوولوحکم

وَكَانَ عَلَيْهِ أَنْ يَضُمَّ إِلَيْهَا رَكْعَةً سَادِسَةً اوپه ده باندې لازم دی چه دپنځوسره شپږم رکعت ملاؤکړی

حل اللغة ﴿① فیضم، ضم، یضم ضماً

تشریح ﴿ **ضم الرکعة السادسة** ﴿په مخکینو کرښوکښې تیرشوی دی.چه کله ئې پنځم رکعت په سجده مقیدکړو.نودا مونځ نفل شو.اوفرضیت ئې باطل شو.نودے دې ددې پنځو رکعتونو سره شپږم رکعت ملاؤ کړی.چه نفل جفت شی طاق پاتې نشی.ځکه چه نفل جفت مشروع شوی دی.طاق رکعتونه مشروع نه دی.

وجوب السجدة ﴿پاتې شوه دا چه په ده به سجده سهوواجب وی اوکه نه؟①نو د بعضوخیال دې.چه سجده سهودے اوکړی. ②خوصحیح خبره داده.چه په ده سجده سهو واجب نه ده.ځکه چه د آخری قعدے د نه کولو په وجه دده مونځ فاسد شوېدې.اوکوم نقصان چه دفساد په صورت کښې وی.هغه په سجده سهونه پوره کیږی.په دې وجه به سجده سهو واجب نه وی.ځکه چه سجده سهودنقصان دتلافئ د پاره مشروع شوې ده.اوکه ده شپږم رکعت ملاؤ نکړلو.نو په ده هیڅ واجب نه دی.ځکه چه هغه مونځ کوم چه شروع شوې دې.یعنی پنځم رکعت هغه مظنون دې.یعنی ده قصداً نفل نه دی شروع کړی.او وجه ددې داده.چه دےکس دا څلورم رکعت ګنړلےدے او ولاړدے،دا نه چه پنځم رکعت ئې ګنړلې دې.حاصل داچه دامونځ چه دپنځم رکعت نه ئې شروع کړې دې.هغه مظنون دې.اومظنون غیرمضمون وی.په دےوجه ددےمونځ قضاء وغیره واجب نه ده

په څلورم د قعدې نه پس د اودریدلو حکم

وَلَوْقَعَدَ فِي الرَّابِعَةِ اوکه په څلورم رکعت ئې قعده اوکړه، **ثُمَّ قَامَ** بیا اودریدلو **وَلَمْ يُسَلِّمْ** اوسلام ئې اونه ګرځولو **يَظُنُّهَا قَعْدَةَ الْأُولَى** چه ده پرې د اولنۍ قعدې ګمان کولو، **عَادَ إِلَى الْقُعُودِ** نوقعدے ته دے واپس شی. **مَالَمْ يَسْجُدْ لِلْخَامِسَةِ** چه ترکومه ئې د پنځم رکعت دپاره سجده نه وی کړې **وَسَلَّمَ** نوسلام دے واړوی

حل اللغة﴿ ①قعد، قعد قعودا (ن): کیناستل ②قام، قام قیاما (ن): اودریدل ③لم یسلم، سلم تسلیما: سلام گرځول، سلام کول ④ عاد، عاد عودا (ن): اودریدل ⑤لم سجد، سجد سجدة (ن): سجده کول، تیتیدل

تشریح﴿ **العود إلى القعدة من الرکعة الخامسة**﴾صورت دمسئلے دادې.که مونځ گذار په مقدار دتشهد په خلورم رکعت قعده اوکړه.اوسلام ئې وانه ړولو.بلکه په هیره پاسیدو.نوترکومې چه ئې د پنځم رکعت دپاره سجده نه وی کړې.قعدے ته دے واپس شی.خوقعدے ته واپس کیدو نه پس دے دتشهد اعاده نه کوی.بلکه سجده سهودے اوکړی. اوسلام دے اوگرځوی.

دلائله﴿ ①دلیل نقلی دا دې.چه یوځل نبی کریم ﷺ د پنځم رکعت دپاره پاسیدو.دشا نه چا د تسبیح په ذریعه نبی کریم ﷺ ته خبرورکړو.نوقعدے ته واپس شو.بیا نبی کریم ﷺ سلام واړلو.اوسجده سهو ئې اوکړه.

②عقلی دلیل دادې.چه د قیام په حالت کښې سلام گرځول مشروع نه دی.اوبه مشروع طریقه سلام اړول ممکن دی.په دےطریقه چه قعدےته واپس شی.

وجه ترک القیام في الرکعة الخامسة﴾پاتې شوه دا خبره چه په دےصورت کښې د پنځم رکعت پریخودل لازمیږی .نوددې جواب دادې.چه د پنځم رکعت کولونه مخکښې مخکښې هغه دیو رکعت نه کم دې.اودیو رکعت نه کم د پریخودلو محل دې.یعنی د یو رکعت نه د کم مقدار په پریخودلو کښې څه باك نشته.لکه چه یوکس دمانځه په ړومبی رکعت کښې دې.اوتر اوسه ئې په سجده مقید کړې نه دې.ترڅو چه مؤذن تکبیرشروع کړو.نودےکس له پکار دی.چه دا یو رکعت پریږدی. او په جماعت کښې شریك شی.

عدم بطلان الصلاة في صورة ترک أقل من رکعة﴾پاتې شوه داخبره چه دیو رکعت نه کم ولے پریخودے شی؟نوددےجواب دادې.چه رکعت ئې کله په سجده مقیدکړو.او رکعت پوره شو.نودےته دمونځ حکم حاصل شو.اومونځ باطل کول جائز نه دی.ځکه چه دالله تعالی ارشاد دے ﴿وَلَا تُبْطِلُوٓا أَعْمَالَكُمْ﴾ خوچه ترڅوئې چه په سجده مقید کړې نه وی.نو هغه رکعت ناقص دې.دےته دمونځ حکم حاصل نه دې.اوچه د مونځ ورته حکم حاصل نشو.نوددې په باطلولوکښې څه باك نشته.ځکه داپه﴿ وَلَا تُبْطِلُوٓا أَعْمَالَكُمْ﴾ کښې داخل نه دې.

د پنځم رکعت نه پس د شپږم رکعت کول

وَإِنْ قَيَّدَ الْخَامِسَةَ بِسَجْدَةٍ اوکه ده پنځم رکعت په سجده مقید کړو ضَمَّ إِلَيْهَا رَكْعَةً أُخْرَى نو دے سره دے یو رکعت بل ملاؤ کړی وَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُهُ اوودده مونځ پوره شو وَالرَّكْعَتَانِ نَافِلَةٌ اودوه رکعتونه نفل شو

حل اللغة﴿ ① قید، قید تقییدا: قید کول، راگیرول ②تذکر، تذکر تذکرا: یادول، یاد راتلل ③ ضم، ضم ضما (ن): ملاوول، راجمع کول ④ تم، تم تماما (ض): پوره کیدل ⑤لتصیر، صار صیرا (ض):کیدل ⑥ لاتنوبان، ناب نوبة (ن): نائب جوړیدل، قائمقام کیدل ⑦مواظبة: همیشه والي کول]

تشریح﴿ **صحة الفرض بضم الرکعة السادسة**﴾مسئله.که یوکس په څلورم رکعت کیناستو.بیا په هیره پاسیدو .اود پنځم رکعت سجده ئې هم اوکړه.اوس ده ته وریاد شو.چه دا څلورم رکعت نه دې.بلکه پنځم دې.نوده له پکار دی.چه شپږم رکعت هم ملاؤ کړی.په دې صورت کښې فرض مونځ پوره شو.او پنځم

او شپږم دواړه رکعته نفل شو.فرض مونځ خو په دې وجه پوره شو.چه په لفظ دسلام سره وتل زمونږ په نیز واجب دی.او په دې صورت کښې لفظ دسلام باقی پاتې شو.او په ترک د واجبومونځ نه فاسدیږی .نوپه دې صورت کښې هم فرض مونځ نه فاسدیږی.پاتې شوپه ترک دواجب د نقصان پیدا کیدل.نوهغه به په سجده سهو پوره شی

دلیله< امام قدوری رحمه الله وائی.چه دشپږم رکعت ملاوُولوحکم په دې وجه شوې دې.چه دوه رکعته نفل شی.ځکه چه نبی کریم ﷺ دصلوة بُتیراء نه منع کړې ده.په دې وجه یو رکعت کول جائزنه دی.(۱)

حکم ضم الرکعة السادسة>دقدوری دعبارت نه داپته نه لګی چه دشپږم رکعت ملاوُول واجب دی اوکه مستحب یا جائز دی.خو دمبسوط عبارت دے[علیه ان یضیف]اوکلمه د ،،علی ،، ایجاب دپاره راځی. نو د مبسوط په عبارت سره په وجوب دلالت اوشو.

القولان في حساب الرکعة الخامسة والسادسة من سنة الظهرالبعدیة> ①صاحب دهدایه فرمانیلی دی.چه دادوه رکعته یعنی پنځم اوشپږم به دماسپخین نه د روستنو دوو رکعتونوقائم مقام نه وی.قول صحیح هم دادې.

دلیله>د قول صحیح دلیل دادې.چه سنت نوم دے دنبی کریم ﷺ دطریقے اونبی کریم ﷺ به دماسپخین سنت په نوے تحر یمےسره کول.اوچونکه په ذکرشوی صورت کښې نوے تحریمه موجود نشوه.ځکه دا دواړه رکعته دماسپخین دسنتو قائم مقام هم نه دی.

②خود بعضےحضراتومذهب دا دې.چه دا دواړه رکعته به دماسپخین نه د روستنو سنتو قائم مقام شی.

صیرورة الرکعتین نفلاً> صورت دمسئلےدادې.چه کله مونځګذار په څلور رکعتونودتشهد په مقدار کیناستو.بیا په هیره پنځم رکعت دپاره پاسیدو.اودائې په سجده هم مقید کړو. نو اوس دا حکم دې.چه دے سره شپږم رکعت ملاوکړی.اوسجده سهواوکړی.په دےصورت کښې به مخکنی څلور رکعته فرض شی. اوروستنی دوه رکعته به نفل شی.

په دريٍ یا څلور رکعته کولو کښې د شک حکم

وَمَنْ شَكَّ فِي صَلَاتِهِ اوکوم سړی ته چه په مانځه کښې شك شی فَلَمْ يَدْرِ.خوده ته معلومه نه وی أَثَلَاثًا صَلَّى أَمْ أَرْبَعًا چه درې رکعته ئې کړی دی که څلور وَذَلِكَ أَوَّلُ مَا عَرَضَ لَهُ..اودا شك اولنے خل وی چه ده ته وریښ شوې وو.اسْتَأْنَفَ الصَّلَاةَ نودا کس دے د نوی سر نه مونځ اوکړی

حل اللغة >①شك، شك شکًا (ن): شك کول ②فلم یدر، دری یدری درایة(ض): پیژندل ③ استانف، استانف استینافًا: دَ نوې سر کول، واپس کول]

تشریح> مسئله دا ده.چه مونځ ګذار ته په خپل مانځه کښې دا شك وریښ شی.چه درې رکعته شو اوکه څلور.اودا شك په رومبی ځل وریښ شوې وی.نوپه داسې صورت کښې دےمونځ د سرنه اوکړی.

الأقوال الثلاثة في المراد من أول ما عرض له>پاتې شوه داخبره چه د متن دعبارت[أول ما عرض له]نه څه مراد دے؟ نو په دې باره کښې بعضو مشانخو رحمهم الله ونیلی دی.چه ددې جملےنه مراد دا دې.چه سهودده عادت نه وی. بلکه کله کله پیښیږی.دامطلب هرګزنه دې.چه په ټول عمر کښې کله سهو شوې نه وی. دشمس الآئمه سرخسی رحمه الله هم دا رائې ده.

---

(۱) من حدیث أبي سعید رضي الله عنه أخرجه ابن عبدالبر رحمه الله في التمهید قاله الزیلعي رحمه الله في نصب الرایة (۲/۴، ۱۷۳)

②فخر الاسلام رحمه الله فرمائي.مراد دا دي.چه په دے مانځه کښې رومبي: سهوهم دا وي.
③اوبعضو حضراتو وئيلي دي.چه په ژوند کښې په رومبي ځل هم داسهو پيښه شوې وي.د بلوغ نه پس په مانځه کښې چرے هم سهو شوې نه وي.اولنے قول راجح دے،

دليله دليل دا دي چه نبي كريم ﷺ فرمائيلي دي كله چه په تاسو كښې څوك په خپل مانځه كښې دا شك اوكړي چه څومره ئې كړي دي نومونځ دے د نوي سر نه اوكړي.[1]

د سهو د باربار پيښيدو حكم

فَإِنْ كَانَ يَعْرِضُ لَهُ كَثِيرًا اوكه ده ته داشك ډير ورپيښيږي يَبْنِي عَلَى غَالِبِ ظَنِّهِ نو په خپله غالب گمان دے بناء كوي.إِنْ كَانَ لَهُ ظَنٌّ كه چرته دده غالب گمان وي.

حل اللغة ①يعرض، عرض عرضا (ض): مخې ته كيدل،لاحق كيدل ②ظن: گمان خيال

تشريح **الصورتان في وقوع الشك** صورت دمسئلے دادي.كه د ادا شوى ركعتونودمقدار په باره كښې زيات شك پيښيږي.نوددې دوه صورتونه دي. ①ياخوبه ده ته د يوطرف ظن غالب وي يا به نه وي.كه ظن غالب وي.نوهم د هغې مطابق دےعمل كوي.

دلائله ①ځكه چه دنبي كريم ﷺ ارشاد دے[من شك في صلاته فليتحر الصواب]ملاعلي قاري د صحيحنو په حواله دا حديث څه قدرې په تفصيل سره ذكركړي دے[عن ابن مسعود رضي الله عنه ان النبي ﷺ قال اذا شك أحدكم فليتحر الصواب وليتم عليه ثم ليسلم ثم ليسجد سجدتين]يعني چه كله به تاسو كښې چاته شك پيښ شي.نوهغه دے ټيك خبرے دپاره په زړه سره تحري اوكړي.اودتحري اوددظن غالب مطابق دےعمل اوكړي.بيادےسلام واړوي.او دوه سجدے دے اوكړي.
②عقلي دليل دا دي. كه هرځل دمونځ د اعادےحكم وركړې شي.نوحرج به واقع شي. ددې وجې د حرج لرے كولو دپاره به په ظن غالب عمل كولې شي.

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ ظَنٌّ اوكه دده هيڅ رائې نه وي يَبْنِي عَلَى الْيَقِينِ .نو په خپل يقين دےعمل اوكړي

تشريح **التسوية بين الظنين** اوكه ده ته د يوطرف هم ظن غالب نه وي.نو په اقل دے عمل اوكړي.يعني كه په درې يا څلور ركعته كښې شك وي.اود هيڅ يوغالب گمان نه وي.نودرې ركعته دےخيال كړي.

دليله دليل د رسول خدا ﷺ دا فرمان دے[من شك في صلاته فلم يدر أثلاثا صلى أم أربعا بنى على الأقل] امام ترمذي داحديث په دے الفاظوسره ذكركړي دے[عن عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه قال سمعت النبي ﷺ يقول اذا سهى أحدكم في صلاته فلم يدر واحدة صلى او ثنتين فليبن على واحدة فان لم يدر ثنتين صلى أو ثلاثا فليبن على ثنتين فاذا لم يدر ثلاثا أو أربعا فليبن على ثلاث][2]

---

[1]) غربه الزيلعي رحمه الله وقال اخرج ابن ابي شيبة في مصنفه عن ابن عمر رضي الله عنه قال في الذى لايدرى كم صلى اثلاثاً او اربعاً قال يعيد لى يحفظ إنتهى (نصب الراية (۲/۱۷۵)۔

[2]) من حديث عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه أخرجه الترمذى في الصلاة باب ۱۷٤ رقم ۳۹۸ وابن ماجه في الإقامة باب ۱۳۲ رقم ۱۲۹ وأحمد في المسند (۱/۱۹۰، ۱۹۳ والحكم في المستدرك (۱/۳۲٤، ۳۲۵)۔

د بیمار د مونځ بیان

بَابُ صَلٰوةِ الْمَرِيْضِ

ترجمه﴾ (دا) باب د بیمار د مونځ (په بیان کښې) دې.

تشریح﴾ الربط بما قبلها﴾ دصلوة اضافت مریض ته د اضافت فعل الی الفاعل قبیلې څنې دې، مصنف دهدایه رحمه الله د بیمار د مانځه ذکردسجده سهو نه پس په دې وجه کړې دې.چه مرض اوسهو دواړه دعوارض سماویه څخه دی.اوسهوچونکه عام ده مریض اوتندرست ټولو ته پیښیږي.ځکه د سجده سهو ذکر وړاندې اوکړې شو.اودبیمار دمانځه ذکر وریسې اوکړې شو.

د قیام نه د عاجزکس مونځ

إِذَا تَعَذَّرَ عَلَى الْمَرِيْضِ الْقِيَامُ کله چه ګران شی په مریض باندې اودریدل صَلّٰی قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ نوبه ناسته دے په رکوع اوسجده سره مونځ اوکړی.

تشریح﴾ صلاة العاجزعن القیام﴾ صورت دمسئلې دادې.چه بیمارکس که په اودریدلو قادر نه وی.په دا شان چه په اودریدلو کښې د صحت په بنه کیدوکښې د تاخیر ویره وی.یا په ولاړه مونځ کولو کښې سخت ضعف(کمزوری) وی.یا درد وغیره وی.نوده دپاره د قیام پریخودل جائز دی.اوداکس دے په ناسته رکوع اوسجده سره مونځ کوی،

تشریح﴾ دلائله﴾ ①دلیل دعمران بن حصین رضی الله عنه حدیث دے [قال کانت بی بواسیر فسالت النبی ﷺ عن الصلوة فقال صل قائما فان لم تستطع فقاعدا فان لم تستطع فعلی جنب] امام نسائی دالفظ زیات کړې دے [فان لم تستطع فمستلقیا لا یکلف الله نفسا الا وسعها] [1] عمران بن حصین رضی الله عنه فرمائی.چه ماته د بواسیرومرض وو.ما د سیدالانبیاء ﷺ نه په دےحالت کښې دمونځ کولو تپوس اوکړو.نونبی کریم ﷺ اوفرمائیل.په ولاړه مونځ کوه.اوکه ددې طاقت دے نه وی.په ناسته ئې کوه.اوکه ددې طاقت هم نه وی.نوپه اړخ، اوکه ددې طاقت هم نه وی،نو په نیغه ملاسته ئې کوه.الله تعالی څوك دده د طاقت نه زیات نه مکلف کوی.

②عقلی دلیل دا دې چه طاعت په قدر دطاقت وی.یعنی چه څومره قدرې ممکن وی.اوچه څنګه ممکن وی.هغه شان اوهم هغه قدرې طاعت استعمالوه.

توضیح التکلیف بقدرالطاقة﴾ که مریض په لږ شان قیام قادر وی.مثلا دیو آیت وئیلو په مقدار یا تکبیر وئیلو په مقدارقادر وی.اوپه پوره قیام قادر نه وی.نوهم د دومره مقدار قیام حکم به ورکولې شی.چه کله عاجزه شی.نوکینی دې.ځکه چه دطاقت مطابق طاعت دې.دغه شان که مریض تکیه اولګوی یا په همسا دده اولګوی او اودریدے شی.نودده دپاره دقیام ترك كول جائز نه دی.والله اعلم،

---

[1] من حديث عمران بن حصين رضی الله عنه أخرجه البخاری في تقصير الصلاة باب ١٩ والترمذی في الصلاة باب ١٥٧ وابن ماجه في الإقامة باب ١٣٩ وأحمد في المسند (٤/٤٢٦) وابوداود في الصلاة باب ١٧٥ رقم ٩٥٢ والنسائی في قيام الليل بب ٢٢) والحاكم في المستدرك (١/٣١٥)۔

د رکوع اوسجدي نه دعاجز مونځ

فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ.که د رکوع اوسجده قدرت نه لري. أَوْمَأَ إِيمَاءً نواشاره دے کوی. وَجَعَلَ السُّجُودَ أَخْفَضَ مِنَ الرُّكُوعِ.او سجده دے په نسبت د رکوع ښکته کوی

تشريح> صلاة العاجز عن الركوع والسجود> صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.که د رکوع اوسجدے کولوطاقت نه لري.نوبه ناسته دے رکوع اوسجده په اشاره کوی.

دليله> ځکه چه په دے وخت دده طاقت هم دومره قدرې دي.اومخکښې تیرشو.چه طاعت په قدر د طاقت وی.

جعل السجود اخفض من الركوع> البته دسجدے اشاره به د رکوع د اشارے نه په نسبت سره ښکته وی. یعنی دسجدے اشاره کولو په وخت دے سرزيات ښکته کوی.

دليله> ځکه چه اشاره د رکوع اوسجدے قائم مقام ده.نود رکوع اوسجدے په حکم کښې به وی. او چونکه حقیقی سجده په نسبت دحقیقی رکوع ښکته وی.نوپه دې وجه به دسجدے اشاره هم د رکوع د اشارے نه په نسبت سره ښکته وی.

وَلَا يَرْفَعُ إِلَى وَجْهِهِ شَيْئًا.اوخپل مخ طرف ته دے څه څیزنه اوچتوی. يَسْجُدُ عَلَيْهِ چه په هغې سجده اوکړی

تشريح> عدم رفع الشئ إلي وجهه ودليله> شيخ ابوالحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه سجدے کولو دپاره دے څه څیز خپل مخ ته نه اوچتوی.دلیل درسول الله ﷺ حدیث دے [إن قدرت أن تسجد على الأرض فاسجد وإلا فأوم برأسك] (١) امام بزار د امام محمد رحمه الله په خپل مسند کښې داحدیث په دے الفاظوسره ذکرکړې دے [عن جابرأن النبي ﷺ عاد مريضاً فرآه يصلي على وسادة فأخذها فرمى بها فأخذ عوداً ليصلي عليه فأخذه فرمى به وقال صل على الأرض إن استطعت وإلا فأوم إيماءً واجعل سجودك أخفض من ركوعك] یعنی حضرت جابر رضي الله عنه وائی.چه نبی کریم ﷺ د يو بيمار دعيادت دپاره تشریف یوړو.نو وے کتل.چه هغه په تکیه مونځ کولو.نبی کریم ﷺ تکیه واخستله .اووے غورزوله.بیا هغه یو لرګے راواخسته، چه په هغې مونځ اوکړی.نبی کریم ﷺ هغه هم اوغورځولو.او اوے فرمائیل.چه په زمکه مونځ کوه.که قدرت دے وی.ګنی اشاره کوه.اوخپله سجده د رکوع نه ښکته کوه.داحدیث په دې خبره محمول دی.چه دے بیمارتکیه اوچته کړه.اوتندی سره ئې لګوله، نبی کریم ﷺ هغه منع کړو.نوددےحدیث نه معلومه شوه.چه سجده کولو دپاره څه څیز اوچتول او تندی سره لګول ټیک نه دی.

الصورتان في رفع الشئ إلي الوجه> صاحب دهدايه فرمائيلی دی.که مریض تکیه اوچته کړه.اوتندی سره ئې اولګوله .نود دووحالونه خالی نه دی.یا به رکوع او سجدے دپاره خپل سرښکته کوی یا نه.

① که سرښکته کوی.نوکافی شو.ځکه چه په سر ښکته کولواشاره موجود شوه.اوهم دا په ده فرض ده.البته مکروه دی.

---

(١) من حديث جابر رضي الله عنه اخرجه البزار في مسنده والبيهقي في ,,المعرفة،، ورواه البيهقي ايضاً في السنن الكبرى (٤٣٥/٢،٤٣٤) رقم ٣٦٦٩) وانظرمجمع الزوائد للهيثمي (١٤٨/٢)۔

② اوکه تکیه ئې اوچته کړه.اوتندی سره ئې اولګوله.اوسر بیخی ښکته نه شو.نو په دے رکوع اوسجده نه اداکیږی،ځکه چه په دې صورت کښې اشاره معدوم شوه حالانکه دا فرض وه.

د ناستې نه د عاجز کس مونځ

فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الْقُعُودَاوکه مریض ته د ناستےقدرت هم نه وی. اسْتَلْقٰى عَلٰى قَفَاهُ نو په خپل څټ دے څملی وَجَعَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الْقِبْلَةِ.اوخپلې پښے دے قبلې ته کړی وَأَوْمَأَ بِالرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ.او رکوع او سجده دے په اشاره سره کوی

تشریح < **صلاة العاجز عن القعود**>که مریض ته د ناستےقدرت نه وی.نو په خپله شاه دے ستونی سټغ څملی.اود خپل سرلاندې دے اوچته شان تکیه کیږدی.چه د ناستے مشابه شی.چه رکوع او سجده په اشاره کول ممکن وی.ځکه تکیه نه بغیر تندرست کس اشاره نشی کولې.نو بیمار به ئې څه اوکړی.او پښے دے قبلې ته اوګرځوی. اود رکوع اوسجدے اشاره دے کوی.

دلیله>دلیل دنبی کریم ﷺ قول دے [یصلی المریض قائما فان لم یستطع فقاعداً فان لم یستطع فعلی قفاه یومی ایماءً فان لم یستطع فالله تعالیٰ احق بقبول العذر منه] ([1])

المذهبان في مراد الجزء الآخر من الحديث>حدیث آخری جزء د [فالله احق بقبول العذر منه] په تفسیرکښې دعالمانواختلاف دے، ①بعضو عالمانو رحمهم الله وئیلی دی.چه په اشاره قدرت نه لرلو په صورت کښې قضاء نه ساقطیږی،البته مونځ موخر کولې شی.چه کله تندرست شی قضا دے راوړی.ددې حضراتوپه نیزیه ددې تفسیر دا دې.چه الله تعالی د تاخیر عذر قبلولو دپاره زیات لائق دې.

②اوبعضو وئیلی دی.چه په دےحالت کښې قضا ساقطیږی.ددےحضراتو په نیز تفسیر دادې. چه الله تعالی د اسقاط عذر قبلولو زیات لائق دې .صاحب دعنایه هم دے قول ته اصح وئیلی دی.

په اړخ په ملاسته دمونځ کولوحکم

وَإِنِ اضْطَجَعَ عَلٰى جَنْبِهٖ اوکه بیمار په اړخ څملاستو وَوَجْهُهٗ إِلَى الْقِبْلَةِ،اودده مخ د قبلې په طرف وی وَأَوْمَأَ جَازَ او اشاره ئې اوکړه نوجائز ده

تشریح < **المذهبان في كيفية صلاة المستلقي** < ①صاحب دقدوری رحمه الله وائی.چه بیمارکه په اړخ څملی.او په اشاره مونځ اوکړی.په داسې حال کښې چه دده مخ قبلې ته وی.نودا هم جائزده.

دلیله>دلیل دعمران بن حصین رضی الله عنه حدیث دې. چه په اول باب کښې ذکر شوې دې.اود الله تعالی قول: الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّٰهَ قِيَامًا وَّقُعُودًا وَّعَلٰى جُنُوبِهِمْ (الایه) هم په دے دال دې.حاصل دادې.چه دعمران بن حصین رضی الله عنه حدیث [فان لم تستطع فعلی الجنب تومی ایماءً]اود عبدالله بن عمرحدیث[فان لم یستطع فعلی قفا

---

[1] ، غربه الزيلعى بهذا اللفظ (نصب الراية (۱۷۹/۲) وخرجت هذه المسئلة في تالیفی ،،سنن الصلاة ،، عن الحسين بن علي بن أبي طالب رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال يصلي المريض قائما إن استطاع فإن لم يستطع صلى قاعدا فإن لم يستطع أن يسجد أوما وجعل سجوده أخفض من ركوعه فإن لم يستطع ان يصلي قاعدا صلى على جنبه الأيمن مستقبل القبلة فإن لم يستطع أن يصلي على جنبه الأيمن صلى مستلقيا رجله مما يلي القبلة كذا أخرجه البيهقي في الصلاة باب ما روي في كيفية الصلاة على الجنب أو الإستلقاء رقم ۳٤۹۳(۳۰۷/۲)۔

یومی ایماء] متعارض دی. ځکه چه په حدیث دعمران ابن حصین رضی الله عنه کښې په اړخ په ملاسته مونځ کول ذکر دی. اودعبدالله بن عمر رضی الله عنهما حدیث کښې په نیغه په ملاسته مونځ کول ذکر دی. اود بیمار حالت دعذر حالت دې. په دې وجه په دې دواړوحالتونو کښې په هر هیئت مونځ کول جائز دی.
ترجیح الهیئة الأولی> البته په اولنی هیئت(په نیغه ملاسته) مونځ کول غوره دی.
دلیله > د غوره والی وجه داده.چه په نیغه ملاسته دمونځ ادا کولواشاره دکعبې فضا په طرف کیږی.اوپه اړخ ملاستےسره دمونځگذار اشاره دده قدمونو طرف ته کیږی .اومونځ په دے ادا کیږی.چه اشاره دکعبےد فضا طرفته وی.په دې وجه په نیغه ملاسته مونځ اداکول غوره دی.

د سر د اشارې نه د عاجز کس مونځ

> فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الْإِيمَاءَ بِرَأْسِهِ اوکه مریض په خپل سرهم د اشارے قدرت نه لری أُخِّرَتِ الصَّلَاةُ عَنْهُ .نوده نه به مونځ موخرکولےشی وَلَا يُومِئُ بِعَيْنَيْهِ .اواشاره به نه کوی.په خپلوسترګو وَلَا بِحَاجِبَيْهِ .اونه په خپلو وریځو سره وَلَا بِقَلْبِهِ .او نه په خپل زړه

تشریح> **تاخیرالصلاة عن العاجز الذی لایستطیع الإیماء** ① > شیخ ابوالحسن قدوری فرمانی.که مرض دومره زیات شی.چه د سر په اشاره هم د مونځ کولو قدرت نه لری.نومونځ دے روستو کړی.او په سترګو، زړه، او وریځوسره اشاره کول کافی نه دی.

دلائله > ①دلیل هغه حدیث دې.چه مخکښې تیرشوې دے،یعنی[ان قدرت ان تسجد علی الأرض فاسجد والافاومربرأسك]په دې حدیث کښې دمقام بیانولو په موقع په سراکتفاء شوېده.که دسرنه په علاوه اشاره کول جائزوه.نونبی کریم ﷺ به ضرور بیان کړې وه. د نبی کریم ﷺ بیان نه فرمائیل دعدم جواز دلیل دې.
② عقلی دلیل دادې.چه اشاره په حقیقت کښې د رکوع اوسجده بدل دې.او بدل په رائې سره مقررکول ممنوع دی.اوپه حدیث کښې صرف په سرسره د اشارے ذکردې.په سترګو وغیره سره د اشارے کولو ذکر نشته.نوکه په دےخیزونوسره د اشارے کولو اجازت ورکړې شی.نود بدل په رائې سره مقررکول لازمیږی.حالانکه داجائزنه دی.په دې وجه په سترګو وغیره اشاره کول کافی نه دی.
الإعتراض>اوکه څوک دا اووائی چه دا په رائې سره د بدل مقررول نه دی.بلکه داخودسر په حکم قیاس کول دی.یعنی ځنګه چه په سرسره اشاره کول درکوع اوسجده دپاره کافی دی.هم دغه شان په سترګو وغیره سره اشاره کول هم کافی کیدل پکاردی.
الجواب>نوجواب به داوی.چه سترګےوغیره په سر قیاس کول ټیک نه دی.ځکه چه په سرسره د مونځ یو رکن یعنی سجده اداکیږی.او په سترګو،زړه،او وریځوسره سجده نه اداکیږی. یعنی ددې درې واړه اعضاؤ دسجدے په اداکولوکښې څه دخل نشته،نوپه دے فرق یو په بل قیاس کول،ځنګه ټیک کیدے شی.

صحة قول تاخیرالصلاة عنه > ①دقدوری عبارت [اخرالصلاة عنه]سره ددې خبرےنشاندهی کیږی. چه د داسې مریض دذمے نه مونځ نه ساقطیږی.بلکه مونځ به دده په ذمه باقی پاتې وی، د صحت په بنه کیدو به قضا واجب وی.اګرچه دا حالت دیوے ورځې نه زیات وی.په دې شرط چه په دومره وخت کښې مریض په هوش کښې پاتې شوې وی.هم دا قول صحیح دې.ځکه چه دا مریض چه کله په آرام اوپه هوش کښې وی.نود مونځ د ادا حکم پیژنی.اوچه حکم پیژنی.نوده ته حکم متوجه دې.نو په دې وجه په ده د ادا

کولو حکم واجب شو.خود عذر په وجه بالفعل ده ته ادا کولومهلت ورکړې شو.تردے چه ده ته قدرت حاصل شي.

حكم المغمي عليه ﴿ البته ددې په خلاف هغه کس چه هغه دیوے ورځې نه زیات بےهوشه پاتې شو.چونکه دے دخطاب دفهم نه عاجزدې.ځکه به دده دذمےنه مونځ ساقط شي،

②بعضوحضراتو ونیلي دی.چه دبیمارۍ هغه حالت چه په هغې کښې په سرسره اشاره کولو هم قدرت نه وی .که دیوے ورځې نه زیات وی.نوپه ده به قضاء واجب نه وی.اوکه د یوے ورځې شپې نه کم وی. نوقضاء به لازم وی.

په قیام قادر او د رکوع او سجدې نه د عاجزمونځ

> فَإِنْ قَدَرَعَلَى الْقِيَامِ اوکه مریض ته په قیام قدرت وی وَلَمْ يَقْدِرْعَلَى الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ .او په رکوع او سجده ئې قدرت نه وی لَمْ يَلْزَمْهُ الْقِيَامُ.نو په ده قیام لازم پاتې نشو وَجَازَأَنْ يُصَلِّيَ قَاعِدًا.او جائز ده چه په ناسته مونځ اوکړی.يُومِئُ إِيمَاءً په داسې حال کښې چه اشاره کوی

تشريح﴿ **سقوط القيام عن عاجزالركوع والسجود**﴾ ①مسئله داده.که یوکس داسې بیمار وی.چه دے په قیام قادر وی.خوپه رکوع اوسجده قدرت نه لری.نو په ده قیام لازم نه دې.بلکه په ناسته دے په اشاره مونځ ادا کړی.

دليله ﴿دلیل دادې.چه قیام فقط په دے غرض رکن دې.چه دا د سجدے اداکولووسیله وی.اوقیام دسجدے ادا کولو وسیله ځکه ده.چه د قیام نه پس په سجده کولوکښې بےانتها تعظیم دے،نوکله چه د قیام نه پس سجده نه وی.هغه قیام به رکن نه وی.اوچه کله په دےحالت کښې قیام رکن پاتې نشو.نو بیمارمونځ ګذار ته په قیام کولواونه کولوکښې اختیاردې.

فضل الركوع والسجود ايماء﴿البته افضل دادی.چه په ناسته رکوع اوسجده په اشاره کوی.ځکه چه په ناسته دسجدې اشاره کول دحقیقي سجدې سره زیات مشابه ده.ځکه چه په ناسته اشاره کولو په وخت کښې سر زمکے ته زیات نزدے شي. په نسبت په ولاړه داشاره کولو.

په مانځه کښې د قیام نه عاجزه کیدل

> فَإِذَاصَلَّى الصَّحِيحُ بَعْضَ صَلَاتِهِ قَائِمًا اوکله چه تندرست کس دمونځ څه حصه په ولاړه اوکړه ثُمَّ حَدَثَ بِهِ مَرَضٌ بیاده ته مرض پیدا شو أَتَمَّهَا قَاعِدًا نو په ناسته دے مونځ پوره کړی، يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ په داسې حال کښې چه رکوع اوسجده کوی وَيُومِئُ إِيمَاءً او اشاره دې کوی په اشاره کولو سره إِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ که د رکوع اوسجدې قدرت نه لری أَوْمُسْتَلْقِيًا نو په ملاسته(دے مونځ پوره کړی) إِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الْقُعُودَ که په ناسته قدرت نه لری

تشريح﴿ **جوازبناء الأدني علي الأعلي**﴾مسئله داده.که تندرست کس دمونځ یوه حصه په ولاړه اداکړه،بیا په مینځ دمانځه کښې داسےمرض پیدا شو.چه په قیام قادر نشو.نوکه په رکوع اوسجده قدرت لری.په ناسته دے په رکوع او سجده مونځ پوره کړی.اوکه په رکوع اوسجده قدرت نه لری.نود رکوع اوسجدےاشاره دے اوکړی. او مونځ دے پوره کړی.اوکه دومره مریض شو.چه په ناسته هم قدرت پاتې نشو.نوپه نیغه ملاسته دے مونځ پوره کړی.

دليله﴿دلیل دادې.چه په دے درې واړو صورتونوکښې د ادنی بناء په اعلی شوې ده.اود ادنی بناء په

اعلی کول جائزدی.لکه چه د ادنٰی حال والا لره د اعلی حال والا پسې اقتداء کول جائزدي.یعنی څنګه چه په ناسته د مونځ کونکی په ولاړه مونځ کونکی پسې اقتداء جائزده.هم دغه شان په خپله دخپل ځان په حق کښې دا خبره جائزده.چه دمونځ اوله حصه په ولاړه اوکړی،بیا دعذر په وجه روستنۍ حصه په ناسته اوکړی.

په اشاره د رکوع اوسجدې نه په قیام قدرت موندل

وَمَنْ صَلّٰى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ لِمَرَضٍ اوخوك دمرض په وجه په ناسته په رکوع اوسجده سره مونځ کوی ثُمَّ صَحَّ.بیا تندرست شو. بَنٰى عَلٰى صَلَاتِهٖ قَائِمًا په ولاړه به په خپل لمونځ بناء اوکړی

تشریح﴾ بناء الرکوع علي القیام﴾ صورت دمسئلې: که یوکس دمرض په وجه په ناسته په رکوع اوسجدے سره د مونځ یوه حصه ادا کړه.بیا دمونځ په مینځ کښې تندرست شو.په قیام قادرشو.نو اودریږی دې.او په خپل مونځ دے بناء اوکړی.دا دشیخینو مذهب دې.[1]

خلاف محمد رحمه الله﴾ په زیر بحث مسئله کښې د امام محمد رحمه الله په نزد دې دا سرې د سرنه مونځ شروع کړی.

بناء الإختلاف في المسئلة﴾ دامام محمد او دشیخینو رحمهما الله اصل اختلاف په دےخبره کښې دې. چه قائم په قاعد پسې شاته اقتداء کول شی اوکه نه؟ امام محمد رحمه الله فرمائی.چه د قائم په قاعد پسې اقتداء کول جائز نه ده.اوشیخین رحمهما الله فرمائی.جائزده.چونکه د امام محمد رحمه الله په نیزد قائم په قاعد پسې اقتداء کول ناجائز ده. نودحالت قیام دمونځ بناء دحالت قعود په مونځ پسې هم ناجائزده.اود شیخینورحمهماالله په نیزد قائم په قاعد پسې اقتداء کول چونکه جائزده نو په خپل حق کښې هم د حالت قیام د مونځ په حالت قعود
مانځه بنی کول جائزدی.

د اشارې نه په رکوع او قیام قدرت موندل

وَإِنْ صَلّٰى بَعْضَ صَلَاتِهٖ بِإِيْمَاءٍ اوکه دمونځ یوه حصه ئې په اشارےسره اداکړه ثُمَّ قَدَرَ عَلَى الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ.بیا په رکوع اوسجده قادرشو اِسْتَأْنَفَ الصَّلَاةَ نو مونځ دې دوباره د سر نه اوکړی

تشریح﴾ بناء الرکوع علي الإیماء﴾ مسئله: یوکس دعجز په وجه سره دمونځ یوه حصه په اشارے اداکړه.بیا په مینځ دمانځه کښې په رکوع اوسجده قادرشو.نود آئمه ثلاثه ابوحنیفه. صاحبین رحمهما الله په نیز دے دوباره دې د سر نه مونځ اوکړی.

مسلك زفر﴾ په دې مسئله کښې امام زفر رحمه الله فرمائی.چه په دےصورت کښې هم بناء کول جائز دی.

دلیله﴾ دلیل دادې.چه زمونږ په نیزد رکوع کونکی اشاره کونکی پسې اقتداء کول جائز نه دی .اود امام زفر رحمه الله په نیزجائزده. هم داحال د بناءدې.

---

[1]) القول الراجح هوقول الشیخین رحمهما الله کذا في العنایة (۱\۴۶۰) والدرالمختار(۱\۵۶۳) وتبیین الحقائق (۱\۲۰۲) وخلاصة الفتاوی (۱\۱۹۶) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱۳۲)-

د بیهوشۍ وجه د زیاتو قضا شوو مونځونو کښې ترتیب

وَمَنْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ خَمْسُ صَلَوَاتٍ فَمَا دُوْنَهَا اوبه چا چه د پنځو مونځونو پورې یا ددې نه کمه بې هوشي وه قَضَاهَا إِذَا صَحَّ نو چه کله صحیح شی د هغې دے قضا راوړی وَإِنْ فَاتَتْهُ بِالْإِغْمَاءِ أَكْثَرُ مِنْ ذٰلِكَ. اوکه فوت شي د ده نه په بیهوشۍ سره دے نه زیات وی. لَمْ يَقْضِ نوقضا دے نه راوړی

تشریح ﴿ **حکم فوت الصلوات بالاغماء** ﴾ مسئله که یوکس د پنځومونځونو نه زیات بے هوشه شو. نوددې قضا واجب نه ده. دا حکم په نظرد استحسان دې. په دې مسئله کښې زمونږ د عالمانو قاعده دا ده که د اغماء په وجه فوت شوی مونځونه قلیل وی. نو ددې قضاء راوړل واجب دی. اوکه کثیر وی. نوقضا راوړل ئې واجب نه دی.(۱)

دلیله ﴿ دلیل دادې چه موده د اغماء اوږده شی . نو فوت شوی مونځونه به کثیر شی. اوس که دکثیرفوت شوو(مونځونو)د قضا حکم ورکړې شی. نو دغه کس به په حرج کښې واقع شی. اوچونکه په شریعت اسلامی کښې حرج لرے شوې دې. په دې وجه ددےکثیرفوت شوو قضا واجب نه ده. اوکه موده د اغماء کمه ده. نوفوت شوی مونځونه به قلیل وی. اود کمو فوت شوو مونځونو قضا راوړلو کښې هیڅ حرج نشته. خکه د کمو فوت شوو مونځونو د قضا راوړلوحکم ورکړې شوېدې.

حدالکثرة ﴾ واضحه دے وی. چه دکثیرحد دادې چه فوت شوی مونځونه دیوے ورځې نه زیات شی. تردے چه د شپږم مونځ وخت تیرشی. خکه چه د شپږم مونځ وخت تیرشی. نوبه مونځونوکښې به تکرار شروع شی. او د تکرار نه پس دکثرت بنکاره کیدل ضروری دی.

حکم فوت الصلاة بالنوم ﴾ ددې په خلاف خوب که دا زیات هم وی. نو بیابه هم قضا نه ساقطیږی. خکه چه دخوب اوږدیدل نا آشنا دی. نودا به دعذر قاصرسره پیوست کولےشی. دعذرممتد سره به نشی پیوست کولې.

المذهبان في متعلق الكثرة ﴾ احناف عالمان رحمهم الله په دےمتفق دی. چه دکثیرحد دادې. چه قضا مونځونه د یوے شپې او ورځې نه زیات شی. خوپه دې کښې اختلاف دې. چه دا زیاتوالے [من حیث الاوقات] معتبر دې. اوکه [من حیث الساعات] معتبر دې. ①امام محمد رحمه الله فرمائی. چه [من حیث الأوقات] معتبر دې. یعنی که پنځه مونځونه فوت شول. اود شپږم مونځ وخت تیرشو. نوکثرت به ثابت شی. او دکثرت فوائت په وجه به قضا واجب نه وی. اوکه د شپږم مونځ پوره وخت نه وی تیرشوې. بلکه څه لمحات تیرشوی وی. نودامام محمد رحمه الله په نیزکثرت نه ثابتیږی. اودده د ذمےنه قضا نه ساقطیږی . صاحب دهدایه رحمه الله دامام محمد رحمه الله دلیل داذکر کړې دې. چه تکرار به هم په شپږو مونځونو کښې متحقق کیږی. اود شپږو مونځونو فوت کیدل [مفضی إلی الحرج] دی. نودا قضاء ساقطونکی ده. نو د کثرت په تحدید کښې دمونځونو فوت کیدل معتبر دی.

②شیخین رحمهما الله وائی. چه دکثرت په تحدید کښې ساعتونه(لمحات) معتبردی. وختونه معتبر نه دی.

---

(۱) د قیاس تقاضا داده. که بےهوشي د یومونځ پوره وخت راګیرکړی. نوپه ده به قضاء واجب نه وی. هم ددے قائل امام مالك او امام شافعی رحمهما الله دې.

يعنې د يوې ورځې شپې نه كه يو دوه لمحات هم زيات شي.نوكثرت ثابتيږي. هم دا د حضرت علي رضي الله عنه اود حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه منقول دى.

ثمرة الإختلاف﴾ دا ختلاف ثمره په دې صورت كښې ښكاره كيږي.چه په يوكس د ساختى په وخت بې هوشي راغله.بيا بله ورځ د زوال نه يوساعت مخكښې ئې افاقه راغله.(په هوش كښې راغې) . نودا د ساعتونو (لمحاتو) په اعتبارسره د يوې ورځې شپې نه زيات دې.د شيخينو رحمهما الله په نيز به په ده قضا واجب نه وى. اود امام محمد رحمه الله په نيز به په ده قضا واجب وى.ځكه چه په دې صورت كښې د مونځونو په مينځ كښې په پنځومونځونو اضافه نه ده شوې.صحيح حكم خدا ئې ته ښه معلوم دې.[1]

د سجده تلاوت بيان

بَابُ سُجُوْدِ التِّلَاوَةِ

ترجمه﴾ (دا) باب د سجده تلاوت (په بيان) كښې دې.

تشريح﴾ **الربط بما قبله**﴾ مناسب خبره داوه.چه سجده تلاوت ئې د سجده سهو نه فوراً پس ذكر كړې وې.ځكه چه په دې دواړو كښې هريوسجده ده.خود مريض مونځ دعارض سماوى په وجه دې.اوسهوهم په عارض سماوى سره وى.په دې مناسبت سره ئې د سجده سهو نه پس دمريض مونځ بيان اوكړلو.په دې مناسبت سره د سجده سهو نه پس دمريض صلاة بيان شو. نود سجده تلاوت بيان لازماً موخرشو.

نوعية إضافة السجدة إلي التلاوة﴾په سجده تلاوت كښې دحكم اضافت سبب ته شوېدې.ځكه چه د سجده تلاوت سبب هم تلاوت دې.خوكه يوكس اعتراضاً دا اُووائى.چه د تلاوت نه بغير سماع هم د سجده تلاوت سبب دې. نوداسې وئيل پكاروو.چه [سجود التلاوت والسماع] ددې جواب دا دې.چه تلاوت څنګه چه د سجدې سبب دې.دغه شان د سماع هم سبب دې.د تلاوت ذكرمن وجه د سماع په ذكر هم مشتمل دې.په دې وجه د تلاوت په ذكر اكتفاء شوېده.

په قران كريم كښې د سجدو تعداد

فِي الْقُرْآنِ أَرْبَعَ عَشْرَ سَجْدَةً. په قران كښې د تلاوت سجدې ټولې څوارلس دى فِي آخِرِ الْأَعْرَافِ.د سورة اعراف په آخركښې وَفِي الرَّعْدِ.په سورة رعد كښې. وَالنَّحْلِ په سورة نحل كښې. وَبَنِي إِسْرَائِيلَ په سورة بنى اسرائيل كښې وَمَرْيَمَ په سورة مريم كښې وَالْأُولَى فِي الْحَجِّ. رومبئ سجده په سورة حج كښې وَالْفُرْقَانِ. په سورة فرقان كښې وَالنَّمْلِ. په سورة نمل كښې. والم تَنْزِيلِ په سورة الم تنزيل كښې وَصٓ .په سورة صٓ كښې وَحٰمٓ السَّجْدَةِ په سورة خم السجده كښې. وَالنَّجْمِ په سورة النجم كښې الْإِنْشِقَاقِ په سورة انشقاق كښې وَالْعَلَقِ.او په سورة علق كښې

تشريح﴾ صاحب د قدورى وائى.چه په قرآن كريم كښې آيات سجده څوارلس دى.

---

[1]) القول الراجح هو قول محمد رحمه الله كذا في فتح القدير(١\٤٦٣) وردالمحتار(١\٥٦٤) والبحرالرائق (٢\١١٨) والتاتارخانية (٢\١٢٦) نقلاً عن القول الراجح (١\١٣٦)

① د سورة اعراف په آخر کښې ﴿إِنَّ الَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيُسَبِّحُونَهُ وَلَهُ يَسْجُدُونَ۩﴾ (پ۹ ع۱۴)

② په سورة رعد کښې ﴿وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَظِلَالُهُم بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ۩﴾ (پ۱۳ ع۸)

③ په سورة نحل کښې ﴿يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ۩﴾ (پ۱۴ ع۱۲)

④ په سورة بنی اسرائيل کښې ﴿وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا۩﴾ (پ۱۵ ع۱۲)

⑤ په سورة مريم کښې ﴿إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا۩﴾ (پ۱۶ ع۷)

⑥ د سورة حج ورومبئ سجده ﴿وَمَن يُهِنِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن مُّكْرِمٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ۩﴾ (پ۱۷ ع۹)

⑦ په سورة فرقان کښې ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اسْجُدُوا لِلرَّحْمَٰنِ قَالُوا وَمَا الرَّحْمَٰنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُورًا۩﴾ (پ۱۹ ع۳)

⑧ په سورة نمل کښې ﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ۩﴾ (پ۱۹ ع۱۷)

⑨ په سورة سجدة (الم تنزيل) کښې ﴿إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ۩﴾ (پ۲۱ ع۱۵)

⑩ په سورة صٓ کښې ﴿فَغَفَرْنَا لَهُ ذَٰلِكَ ۖ وَإِنَّ لَهُ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَآبٍ۩﴾ (پ۲۳ ع۱۱)

⑪ په سورة حٰم سجده کښې ﴿فَالَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْأَمُونَ۩﴾ (پ۲۵ ع۱۹)

⑫ په سورة النجم کښې ﴿فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا۩﴾ (پ۲۷ ع۷)

⑬ په سورة اذا السماء انشقت کښې ﴿وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ۩﴾ (پ۳۰ ع۹)

⑭ په سورة علق کښې ﴿لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِب۩﴾ (پ۳۰ ع۲۱)

صاحب د قدوری ددې څوارلسوسجدو په ځايونودمصحف عثمانی نه استدلال کړې دې. اومصحف عثمانی معتمد دې.

په تالي او سامع د تلاوت د سجدې وجوب

وَالسُّجُوْدُ وَاجِبٌ فِيْ هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ اوسجده کول په دے ځايونوکښې واجب ده. عَلَى التَّالِيْ په تلاوت کونکی وَالسَّامِعِ. اوپه اوريدونکی هم سَوَاءٌ قَصَدَ سَمَاعَ الْقُرْاٰنِ اَوْلَمْ يَقْصِدْ. که د قران اوريدو اراده ئې کړی وی اوکه نه

تشريح > حکم سجدة التلاوة > امام ابوالحسن قدوری رحمه الله وائی. چه په ذکرشوی څوارلسو مقاماتو کښې سجده کول په قاری اوسامع دواړوواجب ده. که سامع د آوريدو قصد کړې وی اوکه نه.

دلیله ﴿ دلیل داحدیث دے [السجدة علی من سمعها وعلی من تلاها] (۱) وجه استدلال دا دي.چه په حدیث کښې لفظ د "علی" راغلې دي.چه په الزام دلالت کوي.اودا حدیث چونکه د قصد په قید مقید نه دي. ددې وجې به په هر اوریدونکی سجده تلاوت واجب وی.که داوریدو نیت ئې کړې وی.اوکه نه.(۲)

د مقتدی په تلاوت د سجده تلاوت حکم

وَإِذَا تَلَا الْإِمَامُ آيَةَ السَّجْدَةِ اوکله چه امام آیت د سجدے تلاوت کړو سَجَدَهَا وَسَجَدَهَا الْمَأْمُومُ مَعَهُ.نوامام دے سجده اوکړی.اوده سره به مقتدی هم سجده کوی.. وَإِنْ تَلَا الْمَأْمُومُ اوچه مقتدی تلاوت اوکړی لَمْ يَلْزَمِ الْإِمَامَ وَلَا الْمَأْمُومَ نه لازمیږی په امام او نه مقتدی

تشریح ﴿ **وجوب السجدة علي المأموم** ﴿مسئله دا ده.که امام دسجدے دآیت تلاوت اوکړو. نو امام دے په مانځه کښې سمدستی سجده اوکړی.اودده سره دے مقتدیان هم سجده اوکړی.

دلیله ﴿دلیل دادي.چه مقتدی د اقتداء په نیت د امام تابعداری په خپل ځان لازم کړې ده.په داسې صورت کښې که مقتدی دامام سره سجده اونکړی.نود امام مخالفت به لازم شي.

وجوب السجدة بقراءة المأموم ﴿ اوکه مقتدی آیت د سجدے تلاوت کړی.نود شیخینو رحمهماالله په نیز امام اومقتدی دواړه دے سجده نه کوی.نه په مانځه کښې او نه د مانځه نه پس.دا دعاموعالمانو ﷭ مذهب دي.

دلیلهما ﷫ ﴿د شیخینو ﷫ دلیل دادي.امام پسې شاته مقتدی دپاره قرات کول ممنوع دی.مقتدی د پاره قرات کول ځکه ممنوع دی.چه د امام تصرف په ده نافذ دي. یعنی د امام قرات دمقتدی د طرفه هم قرات شمارلے شی.لکه چه د نبی کریم ﷺ ارشاد دے [من کان له إمام فقراءة الإمام له قراءة] بهرحال مقتدی ممنوع عن القرات دي.اوخوك چه دکوم تصرف نه بند شوې وی.دده د تصرف هیڅ حکم نه وی.نومقتدی چونکه ممنوع عن القراءة دي. ددې وجې به دده د قرات هیڅ حکم نه وی.اوچه دده د قرات څه حکم نشته.نو په ده به سجده تلاوت هم واجب نه وی.اوچه په تالی سجده واجب نه ده. نودده په سامع یعنی په امام به هم سجده واجب نه وی.

مذهب محمد ﴿ په زیربحث مسئله کښې حضرت امام محمد ﷬ فرمائی.چه امام کله د مانځه نه فارغ شی.نوټول دے سجده ا وکړی.

دلیله ﴿دلیل دادي.دسجدے سبب یعنی دمقتدی د سجده آیت لوستل اود باقی حضراتو دا اوریدل موجود شو.او مانع د سجدے یعنی ددوی په مانځه کښې مشغولیت لرے شو .او قاعده ده.چه کله د یوڅیزسبب اوموندے شی.اومانع لرے شی.نوهغه څیز په یقین سره متحقق کیږی .په دې وجه دمونځ د فراغت نه پس په امام اومقتدی دواړو باندې سجده واجب ده.

---

(۱) غربه الزیلعی ﷬ ثم قال واخرج ابن ابی شیبة في مصنفه عن ابن عمر ﷛ انه وقال محقق نصب الرایة دحدشمس الدین وفي البخاری في سجود القرآن باب ۱۰ تعلیقا بلفظ إنما السجدة علی من إستمعها (نصب الرایة ۱۸۲/۲)۔

(۲) په زیر بحث مسئله کښې دامام مالك امام شافعي او دحنابله ﷭ مذهب دا دې چه سجده تلاوت سنت ده. واجب نه ده.

دمونځ ګذار د بهر څوك نه د سجدې آيت اوريدل

وَإِنْ سَمِعُوا اوكه خلقو واوريدو وَهُمْ فِي الصَّلَاةِ په داسې حال كښې چه دوى په مانځه كښې دي آيَةَ سَجْدَةٍ مِنْ رَجُلٍ. ديوداسې كس نه آيت د سجدې لَيْسَ مَعَهُمْ فِي الصَّلَاةِ. چه هغه د دوى په مانځه كښې شريك نه وو لَمْ يَسْجُدُوهَا فِي الصَّلَاةِ. نودا خلق دې په مانځه كښې سجده نه كوى وَسَجَدُوهَا بَعْدَ الصَّلَاةِ اود مونځ نه پس دې سجده اوكړى

حل اللغة ۱ سمعوا، اسمع سمعا (س): اوريدل ۲ لم سيجدوها، سجد سجدة (ن): سجده كول ۳ سماع: اوريدل

تشريح سماع المصلي آية السجدة من خارج صورت دمسئلې دادې. كه بعضې خلقو په حالت د مانځه كښې د يوداسې كس نه آيت د سجدې واوريدو. چه هغه ددوى په مونځ كښې شريك نه وو . نو دا خلق دې دې مونځ په حالت كښې سجده تلاوت نه كوى. ځكه چه دا سجده د مونځ سجده نه ده . اود مونځ سجده ځكه نه ده. چه ددې خلقو آيت د سجدې اوريدل د مونځ په افعالوكښې نه دى .

دليله ځكه چه د مونځ افعال ياخو فرض وى يا واجب اويا سنت.اوآيت د سجدې اوريدل په دې كښې يوهم نه دې.حاصل داچه دا سجده د مونځ په افعالو كښې نه ده.اوكوم څيز چه د مونځ په افعالو كښې نه وى.هغه په مانځه كښې اداكول هم جائز نه وى .نو ثابته شوه.چه دا خلق دې په مونځ كښې سجده تلاوت نه كوى. البته د مونځ نه پس سجده تلاوت كول واجب دى.ځكه چه د سجدې سبب يعنې آيت د سجده اوريدل موجود شوې ده.

په مونځ كښې سجده كول كافى نه دى

فَإِنْ سَجَدُوهَا فِي الصَّلَاةِ اوكه دې خلقو په مانځه كښې سجده اوكړه لَمْ تُجْزِهِمْ نودوى د پاره نه كافى كيږى وَلَمْ تُفْسِدْ صَلَاتَهُمْ او نه فاسديږى مونځ د دوى

حل اللغة ۱ سجدوها، سجد سجدة (ن):سجده كول ۲ لم تجزهم، جاز جوازا (ن) جائز كيدل

تشريح عدم إعتبارالسجدة المسموعة في الصلاة من خارج دا مسئله په مخكښې مسئله كښې تيره شوې ده.چه ددې خلقو دپاره په مانځه كښې سجده كول ممنوع دى.خوددې ممانعت باوجود كه ئې سجده اوكړه.نودا به معتبره نه وى.

دليله د سجدې د عدم اعتبار دليل دا دې. چه دا سجده ناقصه ده. ځكه شريعت په مانځه كښې دهر هغه څيز داخلولو نه منع كړې ده.كوم چه د مونځ په افعالوكښې نه وى. بهرحال دا سجده ناقصه ده.اود سماع په وجه چه كومه سجده واجب شوېده.هغه كامله ده.او قاعده ده.چه كامل واجب په ناقصه طريقه ادا كولو سره نه اداكيږى.ځكه ددې خلقو په مونځ كښې په سجده كولو سجده تلاوت نه ادا كيږى.

عدم إعتبارسجدة القوم في الصلاة صاحب د هدايه فرمائيلى دى چه دې خلقويه خپل مونځ كښې كومه سجده د تلاوت كړې ده.چونكه دا شرعا معتبر نه ده. په دې وجه د مونځ نه پس دې ددې اعاده اوكړى.ځكه چه د سجده تلاوت سبب(سماع) موجود شوه.اوچونكه مونځ نه فاسديږى. په دې وجه د مونځ د اعادې ضرورت نشته

الروایتان في فسادالصلاة. ⟵ ①اومونځ ځکه نه فاسدیږی.چه مونځ یاخو فاسدیږی د یو رکن په پریخودو.او یا فاسدیږی د مونځ منافی ځیز په پیښیدو.اودلته دواړه خبرې نشته.ځکه چه سجده د مونځ منافی نه ده.

②اود نوادر روایت دې.چه په دې صورت کښې به مونځ فاسد شی.ځکه چه دې خلقویه مانځه کښې د داسې ځیز اضافه کړې ده.چه د مونځ په افعالو کښې نه دې.بعضې حضرات وائی.چه د مونځ فساد د امام محمد رحمه الله قول دې.د شیخینو رحمهماالله په نیز په دې صورت کښې مونځ نه فاسدیږی.

بناء الإختلاف⟵د اختلاف بنیاد دادې.چه د امام محمد رحمه الله په نیز د سجدې زیاتوالې مفسد د مونځ دې.اود شیخینو رحمهماالله په نیز د یو رکعت نه دکم زیاتوالې مونځ نه فاسدوی.

د یو آیت خارج او صلاة دواړو کښې د لوستلو په وجه د سجدې حکم

وَمَنْ تَلَا آيَةَ سَجْدَةٍ اوکه چا آیت د سجدې تلاوت کړو خَارِجَ الصَّلَاةِ بهر د مانځه نه وَلَمْ يَسْجُدْهَا.بیا نې دا ادا نکړه حَتّٰى دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ.تردې چه په یو مونځ کښې داخل شو. فَتَلَاهَا بیا نې هم هغه آیت د سجدې دوباره(په مانځه کښې) تلاوت کړه وَسَجَدَ.اوسجده نې اوکړه أَجْزَأَتْهُ السَّجْدَةُ عَنِ التِّلَاوَتَيْنِ.نودا سجده ورله د دواړو تلاوتونو نه کافی کیږی.

حل اللغة ⟵① تلا، تلا تلاوة (ن): لوستل ②دخل، دخل دخولاً (ن): داخليدل ③ اجزاته، اجزا اجزاء: كفايت كول

تشریح⟵ **جوازالسجدة عن تلاوتين الخارجية والصلاتية**⟵په دې عبارت کښې د سجده تلاوت د تداخل بیان دې.مسئله داده.که چا خارج د مانځه نه آیت د سجدې تلاوت کړو.اوسجده نې اونکړه.تردې چه په څه نفل یا فرض مونځ کښې داخل شو. بیا نې هم ددې سجدې آیت دوباره تلاوت کړو.او په مانځه کښې نې د تلاوت سجده اوکړه.نودا به د دواړو تلاوتونو دپاره کافی وی.

دلیله⟵دلیل دادې.چه دویمه سجده اقوی ده.او اقوی ځکه ده.چه داد مونځ سجده ده.بهرحال دویمه سجده چه اقوی ده.نو رومبې چه خارج د مانځه نه واجب شوې وه.ددې تابع ده.او چونکه متبوع تابع ته متضمن وی. ددې وجې دویمه سجده به رومبۍ سجدې ته متضمن وی.او په دویمې سجدې اداکولو سره به رومبنۍ سجده هم ادا شی.([1])

دخارجی تلاوت دپاره سجده کول اوبیا په مانځه کښې هم هغه آیت لوستل

وَإِنْ تَلَاهَا فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ اوکه خارج د مانځه نه نې آیت د سجدې اولوستلو فَسَجَدَهَا اوسجده نې اوکړه. ثُمَّ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ. بیا په مانځه کښې داخل شو فَتَلَاهَا.اوهم هغه آیت د سجدې نې تلاوت کړو سَجَدَهَا ثَانِيًا.نوددې دپاره دې دوباره سجده اوکړی وَلَمْ تُجْزِءْهُ السَّجْدَةُ الاولٰى اوکافی نه ده لره اولنۍ سجده

حل اللغة ⟵① تلاها، تلا تلاوة (ن): لوستل ② فسجد، سجد سجدة (ن): سجده كول ③ دخل، دخل دخولاً (ن): داخليدل

[1] **رواية النوادر:-** په زیر بحث مسئله کښې په نادر روایت کښې دی.چه په مانځه کښې د سجده تلاوت په کولو یوه سجده ادا کیږی. دویمه سجده د مونځ نه د فراغت نه پس اداکول ضروری دی.

تشریح> **عدم کفایة السجدة الصلاتیة عن الخارجیة الآیة واحدة>** مسئله داده.که چا د مانځه نه بهر د سجدے آیت تلاوت کړو.اوسجده دتلاوت ئې اوکړه.بیا په مانځه کښې داخل شو.اوهم ددې آیت د سجدے تلاوت ئې اوکړو.نو په ده مانځه کښې د تلاوت کولو په وجه سجده تلاوت واجب شوه.

دلیله> دلیل دادې.چه په مخکنۍ مسئله کښې تیرشوی دی.چه دویمه سجده دمونځ سجده کیدو په وجه اقوی ده.اوداقوی کیدو په وجه هغه ړومبۍ سجدے لره تابع جوړونکے ده.اوچه دویمه سجده د ړومبۍ سجدے لره تابع جوړونکے ده.نوددویمے سجدے ړومبۍ سجدے سره د پیوست کولو هیڅ وجه نشته .ځکه چه که سجده ثانیه دویمےسجدے سره پیوست کړې شوه. نوددې مطلب به داوی.چه د دویمے سجدے دپاره تلاوت روسته شوېدې.اوسجده مخکښې اوکړې شوه.اوداخبره ښکاره ده. چه د سجده تلاوت د وجوب سبب تلاوت دې.نوپه دے صورت کښې د سبب تاخیراودحکم تقدیم لازمیږی.حالانکه داخبره ټیک نه ده. نو ثابته شوه. چه په دے صورت کښې تداخل متعذر دې.او چه تداخل متعذرشو.نودویمه سجده به د دویم تلاوت په وجه واجب وی.

په یومجلس کښې د یو آیت په تکرار سره د سجدې حکم

وَمَنْ كَرَّرَ تِلَاوَةَ سَجْدَةٍ وَاحِدَةٍ فِي مَجْلِسٍ وَاحِدٍ اوکه چا په یومجلس کښې آیت د سجدے مکررتلاوت کړو. أَجْزَأَتْهُ سَجْدَةٌ وَاحِدَةٌ نوده له یوه سجده کافی کیږی.

حل اللغة > ① کرر، کرر تکریرا: باربار وئیل ② اجزاته، اجزا اجزاء: کفایت کول

تشریح> **الصورتان لوجوب سجدة التلاوة>** صورت د مسئلې دادے ① چه یوکس په یومجلس کښې یو آیت د سجدے بار بار تلاوت کړو.نود ټولوتلاوتونو دپاره یوه سجده کافی کیږی. ② دویمه مسئله دا ده.چه یوکس په یومجلس کښې آیت د سجدے تلاوت کړو.اوسجده ئې اوکړه.بیا چرته لاړو.اوواپس راغې.نوبیا ئې هم هغه آیت اولوستل.نودوباره دے سجده د تلاوت اوکړی.اوکه ده د ړومبی مجلس سجده نه وی ادا کړې. نو په ده به دوه سجدے واجب وی.

دلیله> ① جبرئیل امین علیه السلام به په نبی کریم ﷺ یو آیت دسجدے راوړلو.اودا به ئې باربار لوستلو.خونبی کریم ﷺ به ددې دپاره یوه سجده کوله.حالانکه د سجده تلاوت سبب چه ځنګه تلاوت دې.دغه شان سماع هم ده.

② دغه شان د حضرت ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه نه نقل دی چه هغوی رضی الله عنه د کوفے په مسجد کښې ناست وو . اوخلقوته ئې د قران تعلیم ورکولو.اوکه آیت د سجدے به راتلو.نودا به هم باربارلوستلو.چونکه مجلس به یو وو.ځکه به ئې یوه سجده کوله. (الکفایه.عنایه)

تحقق تغیر المجلس> پاتې شوه داخبره.چه دمجلس بدلیدل به کله متحقق وی.نو په دې باره کښې صاحب دکفایه وائی.د ړومبی مجلس نه که پاسیدو.اوچرته لرے لاړو.نودمجلس بدلیدوحکم به لګولې شی.اوکه نیزدے لاړو.نواتحاد مجلس به باقی پاتې وی.اوپه نیزدے اولرے کښې فاصل دا دې.چه دوه یا درې قدمه مقدار نیزدے دې.اوددےنه زیات بعید دې.

دسجدې کولوطریقه

وَمَنْ أَرَادَ السُّجُوْدَ اوچاکه د سجده تلاوت کولو اراده اوکړه كَبَّرَ.نوتکبیردے اووائی وَلَمْ يَرْفَعْ

يَدَيْهِ.اولاسونه دے نه اوچتوی وَسَجَدَ.او سجده دےاوکړی ثُمَّ كَبَّرَ.بیا دےتکبیراووائی وَرَفَعَ رَأْسَهُ.اوخپل سردےاوچت کړی وَلَاتَشَهُّدَعَلَيْهِ وَلَاسَلَامَ.او په ده نه تشهد شته او نه سلام

حل اللغة> ①اراد، اراد ارادة: اراده کول، غوښتل ②لم يرفع، رفع رفعاً (ف): اوچتول ③يد جمع ايدي: لاس ④راس جمع رءوس: سر

تشريح> **كيفية سجدة التلاوة**> په دې عبارت کښې دسجده تلاوت دکیفیت بیان دې.نو کیفیت دا دې.چه کله دسجدے د تلاوت کولو اراده اوکړی.نو بغیرد دواړو لاسونو اوچتولو دے تکبیر اووائی. اوسجده دے اوکړی.بیا دے تکبیر اووائی.اوخپل سردے اوچت کړی.

دليله>دليل د مونځ په سجده قياس دې.هم داد عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل دی.دا په ذهن کښې ساتئ: چه ددې دواړه تکبیرونه مسنون دی.واجب نه دی.

عدم التشهد والسلام فيها>صاحب د هدايه رحمه الله وائی.دسجده تلاوت کونکی باندې نه تشهد شته اونه سلام..

دليله>ځکه چه تشهد اوسلام دمونځ نه د وتلوديپاره مشروع شوې دې.اود مونځ نه وتل تقاضا کوی.چه مخکښې تحريمه وی.او تحريمه دلته کښې معدوم ده.نوتحليل به هم نه کیږی.اوچه تحليل نشته.نوتشهد اوسلام هم نشته.

فوائد>دقدوری اودهدايه عبارت په دې باره کښې خاموش دې.چه په سجدهٔ تلاوت کښې به څه وائی .نو په دے سلسله کښې بعضےدا وائی.چه دمونځ په سجده کښې چه څه وئیلےشی.هم هغه دےپه سجده تلاوت کښې وائی. ②اود بعضوقول دې.چه په سجدهٔ تلاوت کښې دے دا وائی. ﴿سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا﴾

د مسافر د مونځ بيان

بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ

ترجمه>دا باب دمسافر دمونځ (په بيان)کښې دې.

تشريح> **الربط بما قبله**> چونکه د تلاوت په شان سفرهم دهغې عوارضوځنےدې.چه دهغې انسان کسب کوی.په دې وجه دسجده تلاوت احکام بيانولونه پس.دسفراحکام ذکرکړې شول.او چونکه تلاوت اوسجده تلاوت عبادت دې.اوسفرعبادت نه دې.په دې وجه سجده تلاوت مقدم اود سفراحکام مؤخر کړې شول.

المعني اللغوي والشرعي للسفر>دسفرلغوی معنی دمسافت طےکول ده.اود شريعت په اصطلاح کښې سفر هغه دې.چه په هغےاحکام متغيرکيږی.مثلاً دمونځ قصر.په رمضان کښې د افطار اجازت. د مسح موده تر درې ورځو پورې اوږديدل.داخترونو. دجمعې او د قربانئ دوجوب سقوط بغير محرمه د آزادے ښځې د وتلو حرمت خيال ساتل پکار دی.چه دسفرشرعاً اعتبار به هغه وخت وی. چه د سفرنيت وی.اوعملاً سفرموجود شی.که چا د دريو ورځودمسافت دنيت نه بغيرد پوره دنيا چکر اولګولو. نو دا کس د شريعت په نظر کښې مسافر نشی کيدې. اوکه دسفرنيت ئې اوکړو.خوعملاً ئې سفر اونکړو. نو هم به مسافرنه وی. د سفر په وجه په احکاموکښې تغير هغه وخت وی.چه کله نيت دسفراو فعل

سفر دواره. على سبيل الاجتماع موجود شي.

السوال د اقامت دپاره صرف نيت كافى دي.خودسفردپاره صرف نيت كافى نه دي. بلكه فعل د سفرهم ضروري دي.داسې ولې ده؟

الجواب سفرفعل دي.اوپه فعل كښې صرف اراده اوقصدكافى نه وي.بلكه دعمل ضرورت وي. مثلاً مونځ يو فعلي څيز دي.په دې كښې صرف نيت كافى نه دي.بلكه د نيت سره كه قيام ركوع، سجده، وغيره وي.نومونځ به وى ګڼى نه به وى.او اقامت د ترك فعل نوم دي.اوترك فعل صرف په نيت حاصليږي.

د سفر شرعي مسافت

السَّفَرُ الَّذِي يَتَغَيَّرُ بِهِ الْأَحْكَامُ هغه سفرچه په هغې احكام بدليږي. **هُوَأَنْ يَقْصِدَ الْإِنْسَانُ** هغه دا دي چه انسان د تلو اراده اوكړي. **مَوْضِعًا** داسې ځائې **بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمَقْصِدِ** چه په مينځ د ده او د ده د مقصود كښې **مَسِيرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ** درې ورځې (او درې شپې) مسافت وى **بِسَيْرِ الْإِبِلِ** د اوښ په رفتار **وَمَشْيِ الْأَقْدَامِ** يا د قدمونو په چال سره ــ

حل اللغة ①يتغير، تغير تغيراً: بدلول ②يقصد، قصد قصداً (ض): قصدكول،اراده كول ③مسيرة: مسافت، فاصله ④مشي: تګ

تشريح **تقدير المسافة بثلاثة أيام ولياليها** صاحب دقدوري رحمه الله فرمائي.چه په كوم سفر احكام متغيركيږي.هغه سفردادي.چه انسان درې ورځې اودرې شپې دتلو اراده اوكړي. په چال كښې د اوښ چال معتبر دي.يا پياده يا د ريړې . دا خبره په ذهن كښې ساتل پكاردي. چه دهرملك په كال كښې د تولو نه وړه ورځ معتبرده.لكه چه زمونږ دلته شاملي په هند كښې په سخته يخنۍ كښې دټولونه وړه ورځ وى.دغه شان شپه ورځ ۲۴ ګنټې تلل مراد نه دى. بلكه هره ورځ د سحر نه ترزوال وخته پورې تلل مراددى.ځكه چه ۲۴ ګنټې تلل نه دانسان په وس كښې دى.اونه دسوارلۍ ځاروى په طاقت كښې.بهرحال هره ورځ دسحرنه ترزواله يو منزل ته په رسيدو دے آرام كوى. په درې شپو اودرې ورځوكښې چه كوم مسافت اوكړى.هغه مسافت دسفردې.

دلاله ① ددرې ورځو اودرې شپو په تقديرپه حديث رسول ﷺ **يمسح المقيم كمال يوم وليلة والمسافر ثلثة ايام ولياليها** (¹) سره استدلال شوې دې.وجه د استدلال داده. چه "المسافر" كښې الف لام استغراقى دې.نود مسح رخصت به هرمسافر ته شامل وى.يعنى هرمسافردرې ورځې اودرې شپې د مسح په قدرت قادروى.اوهرمسافردرې شپې ورځې په مسح كولو هغه وخت قادروى. چه اقله موده دسفردرې شپې ورځې وى.كه اقله موده دسفر ددې نه كمه اوګنړلې شي.نود هر مسافر درې ورځې اودرې شپې په مسح قدرت ممكن نه پاتې كيږي. حالانكه په حديث كښې د هرمسافردپاره درې ورځې اودرې شپې د مسح كولوقدرت ثابت دې.نوثابته شوه.چه دسفركم نه كم موده درې ورځې اودرې شپې ده.

---

(۱) من حديث عائشة رضي الله عنها اخرجه مسلم في الطهارة رقم ۸۵)ــ

②زمونږ دمذهب تائيد ددےحديث نه هم کيږي. [لا تسافر المراة فوق ثلاثة أيام وليا ليها إلا ومعها زوجها أو ذو رحم محرم منها] په حديث کښې لفظ فوق زائد دي.لکه ﴿ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا ﴾کښې لفظ فوق زائد دي.اوس به دحديث مطلب دا شي.چه هيڅ يوه ښځه دے درې ورځې اودرې شپې سفرنه کوی.خوداچه دےسره يادداخاوند وی.يا ذی رحم محرم وی.دا خبره منو.چه ښځې دپاره دسفردمودےنه دکم مسافت دپاره بغير د محرم نه سفرکولو اجازت دي.نوچونکه په حديث کښې درې ورځې اودرې شپې ښځه بغيرد محرم نه د سفر کولو نه منع شوې ده.په دې وجه د سفرموده به درې ورځې اودرې شپې وی.

په سمندر کښې د اوچې رفتار معتبرنه دې

وَلَا يُعْتَبَرُ اونشته اعتبار فِي ذَٰلِكَ په دې باره کښې بِالسَّيْرِ فِي الْمَاءِ تگ لره په اوبو کښې

حل اللغة ﴿ ① لايعتبر، اعتبر اعتبارا: معتبرکيدل ②سير: تلل]

تشريح ﴿ **الإعتبار إلي سير الوسط البرى في البحر** ﴿صورت دمسئلےدادې.چه په سمندرکښې که په کشتۍ کښې سفر اوکړې شي.نوددې دحال مناسب به اعتبارکولےشي.يعنی که هوا موافق وی.مخالف نه وی.نوپه دې کښې درې ورځو اودرې شپوکښې چه څومره مسافت کولې شي.هغه به موده د سفر بللے شي.لکه څنګه چه د غرونو په سفر کښې د درې ورځو اودرې شپومسافت معتبردې.اګرچه په هواره زمکه کښې دومره مسافت ددې نه په کمه موده کښې پوره کيږي.

توضيح العبارة ﴿دمتن دعبارت حاصل دادې.چه په سمندری سفرکښې د اوچے رفتارمعتبرنه وی.مثلاً يومقام ته درسيدو دوه لارے وی.يود سمندر.اودويمه د اوچې.د اوچے په لاره کښې دغه مقام ته رسيدو دپاره درې ورځې اود درې شپومسافت دې.اود سمندر په لاره د دوو ورځو مسافت دې. نوکه يوکس دا مسافت د اوچے په لاره پوره کوی.نوده ته به د مسافر رخصت حاصل وی . اوکه په سمندری لارلاړو.نودسفر رخصت به حاصل نه وی.

د قصر مونځ شرعی حيثيت

وَفَرْضُ الْمُسَافِرِ عِنْدَنَا فِي كُلِّ صَلَاةٍ الرُّبَاعِيَّةِ رَكْعَتَانِ اوفرض د مسافر په هر څلوررکعته مونځ کښې دوه رکعته دی وَلَا تَجُوزُ لَهُ الزِّيَادَةُ عَلَيْهِمَا..اوجائز نه دې ده لره زيادت په دې باندې

حل اللغة ﴿ ① رباعية: څلور رکعته ②لايزيد ، زاد زيادة (ض): زياتول

تشريح ﴿ **نوعية القصر** ﴿قدوری رحمه الله فرمائی .زمونږ په نيزڅلور رکعته مونځ په مسافر دوه رکعته فرض دې.په دے اضافه کول جائزنه دی.حاصل دا چه زمونږ په نيزدمسافر په حق کښې قصر رخصت اسقاط دې.يعنی په څلور رکعته مونځ کښې دوه رکعته ساقط شوی دی.اودوه رکعته پاتې دی. (۱)

---

۱) **مسلک الشافعي**:- امام شافعی فرمائی دمسافرپه حق کښې قصر،،رخصت ترفيه،، دې.او پوره کول افضل دی.يعنی دمسافر دسهولت پيش نظرده ته ددوورکعتونوکولواجازت ورکړې شوې دے .ګنی په څلور رکعته مونځ کښې په ده څلور رکعته فرض دی.اوهم څلوررکعته کول افضل دی .د دے قائل امام محمد رحمه الله هم دې. او دا امام مالك رحمه الله هم يوقول دې.

دلائله ﴿ ①دلیل دادې. که مسافرقصراوکړی.اوآخری درې رکعته پرېږدی.نود اقامت نه پس نه ددې قضا شته.اونه ددې په پرېخودوګناهګارېږی.اود قضا نه واجبېدل.اونه ګناهګارېدل د دویمې شفعې د نفلیت علامت دې.نو ثابته شوه.چه په مسافرپه څلور رکعته مونځ کښې صرف دوه رکعته واجب دی.②دویم نقلی دلیل [عن عائشة رضی الله عنها قالت فرضت أی الصلوة رکعتین رکعتین فأقرت صلوة السفر و زیدت فی الحضر](بخاری ومسلم) حضرت عائشة رضی الله عنها فرمائی.مونځ دوه دوه رکعته فرض شوېدې. نودسفرمونځ (هم په دې حالت) باقی پاتې شو.اودحضر په مانځه کښې اضافه اوکړې شوه.

③[عن ابن عباس رضی الله عنهما قال فرض الله الصلوة علی لسان نبیکم فی الحضر أربع رکعات و فی السفر رکعتین] ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی.الله تعالی ستاسود رسول په ژبه په حضرکښې څلوررکعته فرض کړل.او په سفر کښې دوه رکعته.

د قصر په ځائې د اتمام حکم

وَإِنْ صَلّٰى أَرْبَعًا اوکه مسافرڅلور رکعته اوکړل وَقَدْ قَعَدَ فِي الثَّانِيَةِ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ.او په دویم رکعت کښ د تشهد په مقدارکیناستو أَجْزَأَتْهُ الرَّكْعَتَانِ عَنِ الْفَرْضِ.نواولنی دوه رکعته به دفرضونه دده دپاره کافی شي وَكَانَتِ الْأُخْرَيَانِ لَهُ نَافِلَةً.او روستنی دوه رکعته به دده دپاره نفل شي وَإِنْ لَمْ يَقْعُدْ فِي الثَّانِيَةِ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ اوکه په دویم رکعت په قدرد تشهد نې ناسته اونکړه فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ په اولنو رکعتونو کښ بَطَلَتْ صَلَاتُهُ.نود ده مونځ باطل شو

حل اللغة ﴿ ①صلی، صلی صلاةً: مونځ کول،دعاکول ②قعد ، قعدقعوداً (ن): کیناستل ③یصیر، صار صیراً (ض): کیدل ④ بطلت، بطل بطلاً (ن): باطل کیدل

تشریح﴿ **صیرورة الرکعتین نفلاً بالإتمام**﴿صورت دمسئلې دادې.چه مسافر په ځائې د دوو رکعتونو څلور اوکړی.اود تشهد په مقدارپه دویم رکعت هم کینی.نو اولنی دوه رکعته فرض او روستنی دوه رکعته نفل شمارلې شی.

دلیله﴿ صاحب دهدایه رحمه الله دسحر په مانځه قیاس کړې دې.یعنی که دسحر نې څلور رکعته اوکړل.او په دویم رکعت کیناستو.نو دسحر دوه رکعته فرض به اداشی.البته په سلام کښې د تاخیرپه وجه به ګناهګاروی.

بطلان الفریضة بعدم القعود علي الرکعتین﴿اوکه دا مسافر په دویم رکعت د تشهد په مقدارکینه ناستو.نودده مونځ به باطل شی.

دلیله﴿دلیل دادې.دفرض ارکان مکمل کیدو نه مخکښې دفرضو سره نفل مخلوط شو. ارکان څکه مکمل نشو.چه قعده آخره رکن دې.هغه نې پرېخوده.اود فرض ارکان مکمل کولو نه مخکښې فرض د نفلوسره مخلوط کول باطلونکې د مونځ دې.څکه دده مونځ باطل شو.

د قصرشروع کولو مقام

ومن خرج مسافراً اوکله چه اوځی مسافر **صلّي رکعتین** نودوه رکعته دې کوی **إذا فارق بیوت المصر** کله چه دښارکورونه پرېږدی

حل اللغة ﴿ ①فارق، فارق، مفارقةً: جداکیدل ②بیوت واحد بیت: کور ③ مصر جمع امصار: ښار ④صلی، صلی صلاةً، مونځ کول

تشریح﴾ إبتداء القصر بالتجاوز من البنيان﴿ سوال دادي.چه دسفر د شروع نه پس قصرکول کله شروع کيږي؟ نو ددےحکم دادي.چه کله د آبادئ نه بهراوځي.نو په ده قصرکول واجب شو.

دلائله﴾ ① دليل دادي.چه مسافرکله دخپل وطن د ښار په آبادئ کښې داخليږي.نود اقامت حکم ورسره متعلق کيږي.نوچه ددې آبادئ نه بهراوځي.نودسفرحکم به پورې متعلق کيږي.

② په دےسلسله کښې دحضرت علی رضي الله عنه اثرهم منقول دي.[لوجاوزنا هذا الخص لقصرنا] (١)خص وائی.د بانړس يا لرګی کوډنئ ته.حاصل داچه حضرت علی رضي الله عنه فرمانيلی دی.که مونږددےکوډنئ نه وړاندې تير شو . نود قصرمونځ به کوو.هم ددې تائيد د انس رضي الله عنه حديث نه هم کيږي [قال صليت مع رسول الله ﷺ الظهر بالمدينه اربعا والعصر بذی الخليفة رکعتين]حضرت انس رضي الله عنه فرمائی.چه مارسول الله ﷺ سره په مدينه منوره کښې د ماسپخين څلور رکعته اوکړل.او د مازيګر مے په ذوالحليفه کښې دوه رکعته اوکړل.

د اقامت د مودې حد

وَلَايَزَالُ عَلَى حُكْمِ السَّفَرِ اودسفر په حکم به هميشه باقی پاتې وی حَتَّى يَنْوِيَ الْإِقَامَةَ فِي بَلْدَةٍ أَوْ قَرْيَةٍ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا فَصَاعِدًا تردےچه په يو ښاريا کلی کښې پنځلس ورځې.يا ددې نه د زياتو د قيام نيت اوکړی فَيَلْزَمُهُ الْإِتْمَامُ نو لازميږی په ده باندې پوره مونځ کول فَإِنْ نَوَى الْإِقَامَةَ أَقَلَّ مِنْ ذَٰلِكَ..اوکه اقامت نيت ئې د دې نه کم نيت اوکړو لَمْ يُتِمَّ نو مونځ دې نه پوره کوی

حل اللغة﴾ ①لايزال، زال زوالاً (س): باقی پاتې کيدل، نه زائل کيدل ②ينوی، نوی نية (ض): نيت کول ③بلدة جمع بلاد: ښار

تشریح﴾ أقل مدة الإقامة﴿ مسئله داده.چه د سفرحکم به هغه وخت باقی پاتې وی.ترکومے چه په يوښار ياکلی کښې د پنځلسو ورځو يا ددې نه زيات د قيام نيت اونکړی.اوچه د پنځلسو ورځو يا ددې نه دزيات قيام نيت اوکړی.نو دسفرحکم به ختم شي.اوداکس به مقيم شمارلے شي.اوکه د پنځلسوورځونه د کمو اوسيدو نيت اوکړی.نو زمونږ په نيز به داکس مقيم نه وی.بلکه قصرمونځ به کوی.

دليله﴾ صاحب د هدايه رحمه الله فرمائيلی دی.د اقامت دمودےپنځلس ورځې کيدل. دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوحضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه نقل کړی دی.لکه چه مجاهد روايت کړې دے [عن ابن عباس وابن عمر رضي الله عنهم قالا إذا دخلت بلدة وأنت مسافر وفي عزمك أن تقيم بها خمسة عشر يوما فأكمل الصلوة وإن كنت لا تدری متى تظعن فاقصر (٢)]يعنی دےدواړوحضرات صحابوؓ فرمائلی دی.چه ته کله يو ښار ته داخل شي.په داسے حال کښې چه ته مسافر ئې.اوستا اراده د پنځلسو ورځو د قيام وی.نوته مونځ پوره کوه.اوکه تاته دا

(١) أورده في ,,سنن الصلاة،، عن أبي حرب بن أبي الأسود أن عليا خرج من البصرة فصلى الظهر أربعا فقال أما انا إذا جاوزنا هذا الخص صلينا ركعتين اخرجه ابن ابي شيبة في الصلاة باب من كان يقصر الصلاة رقم ٨١٦٩ وثق رجاله النيموی آثارالسنن في الصلاة باب القصر إذا فارق البيوت رقم ٨٣٢۔

(١) قال الزيلعي رحمه الله اخرجه الطحاوی عنهما قالا إذا قدمت بلدة وانت مسافر وفي نفسك ان تقيم خمسة عشر يوماً أكمل الصلاة بها وإن كنت لا تدری متى تظعن فاقصرها إنتهى نصب الراية ٢/١٩٠۔

علم نه وي.چه کله به سفر کوم. نو قصر کوه.صاحب دهدایه فرماني.د پنځلسو ورځو تحدید دمقدراتو شرعیه ځنې دي.اود ورځو تقدیراوتحدید داسې څیزدي.چه په دې کښې په عقل سره لاره نشي موندې.اوقاعده ده.چه په [مالایعقل] کښې اثر دصحابی ﷺ په منزله دخبراو د حدیث وي.ګویا چه ابن عباس او ابن عمر ﷺ د پنځلسو ورځو تعین د نبی کریمﷺ نه اوریدلې دي.نو ځکه بیان کړي ئې دي.(۱)

الروایتان في نية الإقامة في الصحراء صاحب دهدایه وائي. ①دامام ابوالحسن قدوری رحمه الله د اقامت دپاره دښار یا قریه قید لګولوکښې دے ته اشاره ده.چه په ځنګل کښې د اقامت نیت کول ټیک نه دی.هم دا ظاهر راویت دې. ②اګرچه قاضي ابویوسف رحمه الله فرماني.که ګډبانه (شپونکی) دګیاه او اوبو په ځائې کښې خیمې اولګوي.اود پنځلسو ورځو ایساریدو نیت اوکړي.نومقیم به شمارلې شي.

بغیرد نیت د قیام نه په پوځائې کښې د قیام حکم

> وَمَنْ دَخَلَ بَلَدًااوڅوک چه داخل شو یو ښار ته وَلَمْ يَنْوِأَنْ يُقِيْمَ فِيْهِاونیت ئې نه وی کړې چه اوسيږی به په دې کښې خَمْسَةَ عَشَرَيَوْمًا.پنځلس ورځې وَاِنَّمَايَقُوْلُ غَدًااَخْرُجُ اَوْبَعْدَ غَدٍاو وائی دې چه صبا ته به روانیږم او پس د صبا نه حَتّٰى بَقِيَ عَلَى ذٰلِكَ سِنِيْنَ تردې چه باقی پاتې شو په دې حالت کښې کلونه صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ نو مونځ دې کوی دوه رکعته

حل اللغة ①دخل، دخل دخولاً (ن): داخلیدل ② غدا: صبا (۳)لم ینوی، نوی نیة (ض): نیت کول (۴) سنین جمع سنة : کال]

تشريح **قصرالصلاة مالم ينوالإقامة** په مخکښې مسئله کښې تیرشو.چه د اقامت دپاره پنځلس ورځې د قیام نیت کول ضروری دي.هم په هغې باندې دا مسئله متفرع کوی او فرمانی.که مسافر یوښارته په دے نیت داخل شی. چه صبا یا بله ورځ به روانیږی.د اقامت دمودے یعنی د پنځلسو ورځود قیام نیت ئې نه وی کړې تردے چه هم په دے نن صبا کښې څوکاله تیرشو.نودے به قصرکوی.مقیم به نشي ګنړلی.

دلیله دلیل دادی.چه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ د آذر بائیجان په مقام شپږ میاشتې قیام کړې وو. چونکه حضرت ابن عمر ﷺ په یووخت پنځلس ورځې دقیام نیت نه ووکړې. په دې وجه به هغه دقصرمونځ کولو.هم ددې په شان د نورو صحابو ﷺ نه نقل دی.لکه د سعدابن ابی وقاص ﷺ په باره

---

[1]) په زیربحث مسئله کښې حضرت امام مالك .اوامام شافعی رحمه الله فرمانی.دڅلور ورځو دقیام په نیت به مقیم کیږی.د امام شافعی رحمه الله یوقول دادې.که دڅلورو ورځونه ئې زیات قیام اوکړ.نودے مقیم شو.که نیت اوکړی اوکه اونکړی.حاصل دا چه زمونږ اود امام شافعی رحمه الله په مینځ کښې دوه ځایه اختلاف دی.یواختلاف دا چه دمقیم کیدو دپاره کم ازکم د څومره ورځو دقیام نیت ضروری دے؟ ①نوزمونږ په نیز د پنځلسو ورځو په نیت مقیم شمارلے شي.②او ددوی په نیز د څلورو ورځو په نیت مقیم شمارلے شی.دویم اختلاف دادې.چه د اقامت دپاره زمونږ په نیزاصل نیت شرط دې.زمونږ په نیز به بغیرد اقامت د نیت نه مقیم نه وی.اګرکه د پنځلسو ورځونه زیات قیام اوکړی.② د امام شافعی رحمه الله په نیزد اقامت دپاره نیت شرط نه دې.

کښې نقل دی.چه دوی د نیشاپور په یوکلی کښې دوه میاشتې قیام کړې وو.اوقصر به ئې کولو.دغه شان علقمه بن قیس رحمه الله په خوارزم کښې دوه کاله قیام کړې وو.اوقصرمونځ ئې کولو.

په دارالحرب کښې د لښکرو د اقامت د نیت حکم

وَإِذَادَخَلَ الْعَسْكَرُفِي أَرْضَ الْحَرْبِ اوکله چه اسلامی لښکر دکافرانو ملك ته داخل شی فَنَوَوْا الْإِقَامَةَ اودپاتې کیدو نیت اوکړی. خَمْسَةَعَشَرَيَوْمًا د پنځلس ورځو لَمْ يُتِمَّ الصَّلَاةَ نو نه به پوره کوی مونځ

حل اللغة ﴿①عسكر جمع عساكر: لښکر ②حرب جمع حروب: جنګ

تشریح ﴿ **عدم إعتبارنية الإقامة في دارالحرب للعسكر** ﴾چه اسلامی لښکر دارالحرب ته داخل شی.اود پنځلسو ورځود قیام نیت اوکړی.نوبیاهم حکم دادې.چه دا اسلامی لښکر دے قصرمونځ کوی.

دليله ﴿خکه چه د اقامت د نیت محل هغه ځائې وی.کوم ځائې کښې چه انسان ته یقیمی آرام اوامن حاصل وی.اودلته کښې صورت دادې.چه اسلامی لښکر دقرار او فرار په مینځ کښې متردد دې.ځکه چه د شکست په صورت کښې به د تیښتې لاره اختیاروی.اود فتح په صورت کښې به ایساریږی. نو د تیښتې او پاتې کیدو په حالت کښې دارالحرب د اسلامی لښکر دپاره دارالاقامت نشی ګرځیدې . لکه چه په دارالاسلام کښې ځنګل داراقامت نه دې.هم دا وجه ده چه په ځنګل کښې د اقامت نیت معتبرنه دې.

د مسافر دپاره دمقیم د اقتداء حکم

وَإِذَادَخَلَ الْمُسَافِرُ اوکله چه داخل شی مسافر فِي صَلَاةِ الْمُقِيمِ په مانځه د مقیم کښې مَعَ بَقَاءِ الْوَقْتِ سره د باقی والی دوخت نه أَتَمَّ الصَّلَاةَ نو پوره دې کوی مونځ.

حل اللغة ﴿①دخل:داخل شی، یعنیٰ اقتدی اوکړی ②مسافر:سفرکونکې ③مقیم: یوځائې حصار ④اتم، اتم تماماً: پوره کول

تشریح ﴿ دے ځائې کښې د دوو خبروحکم بیان شویدې.یودمسافر په مقیم پسې داقتداء کولو حکم. دویم د مقیم په مسافر پسې داقتداء حکم.اولنےصورت په وخت کښې جائزدې. خود وخت وتلونه پس جائز نه دې.اودویم صورت په وخت کښې هم جائزدې.اودوخت نه پس هم.صاحب د قدوری رحمه الله د اولنی صورت بیانولونه پس فرمائی.که مسافر په وخت کښې په مقیم پسې اقتداء اوکړه.یعنی په څلور رکعته مونځ کښې مسافردمقیم اقتداء اوکړه. نو مسافر به پوره څلور رکعته کوی.

دليله ﴿دلیل دادې.چه مسافردې کس دمتابعت التزام کړې دې.اودهغه فرض مونځ څلور رکعته دی.اوخوك چه د هغه کس د متابعت التزام اوکړی.د چا فریضه چه څلور رکعته وی.نود تابع کیدو په وجه دده فریضه په څلورو رکعتونو بدلیږی.لکه څنګه چه د اقامت په نیت دمسافر فریضه څلور رکعتو کښې تبدلیږی.

د مسافر په فوت شوی مونځ کښې په مقیم پسې اقتداء

وَإِنْ دَخَلَ مَعَهُ فِي فَائِتَةٍ اوکه مسافر.مقیم سره په یوفوت شوی مونځ کښې شریك شو لَمْ تَجُزْصَلَاتَهُ خَلْفَهُ.نوجائزنه دې مونځ د هغه (مسافر) روسته دده (مقیم)نه

حل اللغة ﴿ ① دخل، دخل دخولاً (ن): داخليدل ②فائتة: فوت شوې ③ لم يجز، جاز جوازاً (ن):جائز كيدل

تشريح ﴿ **عدم جواز إقتداء المسافر بالمقيم في الفائتة**﴾ مسئله داده.كه مسافرپه قضا مونځ كښې د مقيم د اقتداء نيت اوكړو.نودا جائز نه ده.

دليله ﴿ ځكه چه د وخت تيريدو نه پس دمسافرفريضه نه بدليږي.ځكه چه دفرض مونځ سبب خو وخت دې.او اقتداء چه كوم تغيركوى.هغه چه دسبب سره متصل شي.نو اثر كوى. او چونكه قضا مونځ كښې سبب يعنى د وخت تيريدو په وجه دا اتصال موجود نشو. په دې وجه دمسافر فرض د دوو ركعتو نه په څلورو ركعتو كښې نه بدليږي.لكه چه قضا مونځ په نيت داقامت سره نه بدليږي.حالانكه نيت د اقامت هم دوه ركعته په څلور ركعته كښې بدلوى.

د مسافرمقيمينو ته د امامت حكم

وَإِذَا صَلَّى الْمُسَافِرُ بِالْمُقِيمِينَ اوكله چه مسافرمقيمينو ته مونځ كوى صَلَّى رَكْعَتَيْنِ نومونځ دې كوى دوه ركعته وَسَلَّمَ.اوامام مسافردے سلام واړوى ثُمَّ أَتَمَّ الْمُقِيمُونَ صَلَاتَهُمْ.اوبيا دې مقيم خلق خپل مونځ پوره كړي

حل اللغة ﴿ ① صلى، صلاة: مونځ كول ② مسافر: سفركونكې ③ سلم، سلم تسليما: سلام ګرځول، سلام كول ④ اتم، اتم اتماماً : پوره كول

تشريح ﴿ صورت دمسئلےدادې.كه مقيم خلقو په مسافرپسې اقتداء اوكړه.نومسافردے دوى ته دوه ركعته اوكړي .او قعدے نه پس دے سلام واړوى.اومقيم خلق دے خپل مونځ پوره كړي.

دليله ﴿ دليل دادې.چه مقيم مقتدى امام مسافر اوګڼلو.نو په دوو ركعتونو كښې ئې د موافقت التزام كړې وو. او د كوم چه ئې التزام كړې وو.هغه اداكړې شو.حالانكه د مقيم مقتدى مونځ اوسه پورې نه دے پوره شوې. ددې وجې نه به مقيم مقتدى په باقى دوو ركعتونوكښې منفرد وى.لكه چه د امام د سلام اړولونه پس مسبوق منفرد وى.

مسافر امام دپاره [اتموا صلاتكم فانا قوم سفر] وئيل مستحب دي

وَيُسْتَحَبُّ لَهُ اوډامام دپاره مستحب دى إِذَا سَلَّمَ چه كله دے سلام واړوى أَنْ يَقُولَ لَهُمْ نومقتديانو ته داسےاووائى. أَتِمُّوا صَلَاتَكُمْ. تاسوخپل مونځ پوره كړئ. فَإِنَّا قَوْمٌ سَفْرٌ مونږ مسافريو

حل اللغة ﴿ ①يستحب، استحب استحباب:مستحب كيدل ② سلم، سلم، يسلم تسليماً: سلام ګرځول، سلام كول ③يقول، قال قولاً (ن): ويتا كول ④اتموا ،اتم اتماماً: پوره كول]

تشريح ﴿ **إخبار الإمام للقوم بحاله من السفر**﴾ امام كه مسافر وى.نو په دوو ركعتونو سلام اړولو نه پس دے مقتديانو ته داسې اووائى. تاسوحضرات خپل مونځ پوره كړئ.زه مسافريم.

دليله ﴿ دليل د ابو داؤد او ترمذى روايت كړې حديث دے [عن عمران بن حصين رضي الله عنه قال غزوت مع رسول الله ﷺ وشهدت معه الفتح فأقام بمكة ثمان عشرة ليلة لا يصلي إلا ركعتين يقول يا أهل مكة صلوا أربعا فإنا قوم سفر] عمران بن حصين رضي الله عنه وائي.چه ما د رسول الله ﷺ سره غزاګانې كړي دى.د نبى كريم ﷺ سره په فتح مكه كښې شريك شوې يم.نبى كريم ﷺ اتلس شپې په مكة كرمه كښې قيام اوكړو. په دې موده كښې ئې (به

څلوررکعته مونځ)کښې صرف دوه رکعته کول.اوفرمائيل به ئې.اے د مکے خلقو.تاسوڅلور رکعته کوئ.څه خو مسافر يم.

وطن ته په واپس کيدو د اتمام حکم

وَإِذَادَخَلَ الْمُسَافِرُمِصْرَهُ اوکله چه مسافرخپل وطن کښې داخل شی أَتَمَّ الصَّلَاةَ نو پوره مونځ دے کوی وَإِنْ لَمْ يَنْوِالْإِقَامَةَ فِيهِ..اګرچه په دې کښې ئې د قيام نيت نه وی کړې

حل اللغة ۱دخل، دخل دخولاً (ن) داخليدل ۲ مصر جمع امصار: ښار ۳اتم،اتم اتماماً : پوره کول ۴ لم ينو، نوی نية (ض): نيت کول ۵الاقامة: استوګنه

تشريح الإقامة بمجردالدخول مصره صورت دمسئلې دادې:کله چه ٠مسافرددرې ورځو مسافت اوکړی .اوسفر مکمل کړی.بيا دے خپل وطن اصلی ته داخل شی.نوپه آبادئ کښې داخليدو سره مقيم شو . اګرچه داقامت نيت ئې نه وی کړې.

دليله دليل دادې.د خدائې رسولﷺ اود هغوی صحابوؓ به سفرکولو.او دسفرپوره کيدونه پس چه به وطن ته واپس راغلل.نوبغيرد اقامت د نيت نه به مقيم کيدل.(١)

د اقامت وطن په وطن د اقامت سره باطليږی

وَمَنْ كَانَ لَهُ وَطَنٌ اودچا چه يووطن وو فَانْتَقَلَ عَنْهُ بيا دهغې وطن نه دے منتقل شو وَاسْتَوْطَنَ غَيْرَهُ..اوددې نه علاوه ئې بل ځائې وطن جوړکړو ثُمَّ سَافَرَ.بيا ئې سفراوکړو فَدَخَلَ وَطَنَهُ الْأَوَّلَ.اوخپل اولنی وطن ته داخل شو لَمْ يَتِمَّ الصَّلٰوةَ نومونځ دے نه پوره کوی

حل اللغة ۱کان، کان کونا (ن) :کيدل ۲فانتقل، انتقالاً: منتقل کيدل، وربدليدل ۳استوطن، استيطانًا: وطن جوړول۴ فدخل، دخل دخولاً (ن): داخليدل

تشريح الأقسام الثلاثة للوطن عامو مشائخو ﷭ د وطن درې قسمونه بيان کړی دی

۱وطن اصلی د انسان خپل پيدا ئشی ځائې دې.يا هغه ښار چه په هغےکښې دده اهل وعيال اوسيږی. اوددې نه دمنتقل کيدواراده نه لری.

۲وطن اقامت هغه ښار ياکلےدې.چه په هغې کښې مسافرد پنځلسو ورځودقيام اراده کړې وی. ددے دويم نوم وطن د سفرهم دې.

۳ وطن سکنیٰ هغه ښاردې.چه په هغےکښې مسافر د پنځلسوورځونه کم قيام اراده کړې وی.

قسمي الوطن عندالمحققين محققينودوطن دوه قسمونه بيان کړی دی.وطن اصلی اووطن اقامت .دے حضراتود وطن سکنیٰ اعتبار نه دےکړې.څکه چه په وطن سکنیٰ کښې اقامت نه ثابتيږی .بلکه دسفرحکم باقی پاتې وی. قاعده داده.چه وطن اصلی په وطن اصلی باطليږی. اونه په وطن اقامت باطليږی.اونه په سفرکولوسره.اووطن داقامت په وطن اقامت په سفراوپه وطن اصلی درې واړو باطليږی.

---

(١) قال ا لزيلعی لم اجدله شاهداً والمصنف إستدل به علی أن المسافر إذا دخل مصره اتم الصلاة وإن لم ينوالإقامة نصب الرأية ٢/١٩٥ـ

دليله ﴿دليل دے دادي.چه څيزد خپل ځان نه په لوئي څيز باطليږي.يا په برابر.اودا خبره منلے شوې ده.چه په وطن اصلي بل څيز پورته نشته.نووطن اصلي به په خپل برابر يعني په وطن اصلي سره باطليږي.صورت ددې دا دې.چه ديوکس يو وطن وي.هغه ددې نه منتقل شي.اوبل ځائې خپل وطن جوړکړي.نواولنے وطن اصلي باطل شو.نوکه دسفرشرعي نه پس دے خپل اولني وطن ته داخل شي.نومقيم به نشي شمارلې.بلکه قصربه کوي.هم دغه وجه ده.چه د صاحب شريعت ﷺ وطن اصلي مکه مکرمه وو. خو نبي کريم ﷺ چه هجرت اوکړو. او مدينې منورې ته ئې تشريف يوړو.اومدينه ئې خپل وطن جوړکړو.نومکه وطن اصلي پاتې نشو.هم دا وجه ده.چه دهجرت نه پس نبي کريم ﷺ مکې مکرمې ته تشريف يوړلو. نو خپل ځان ئې مسافر شمارلو. اوفرمائيل ئې [اتموا صلاتکم فانا قوم سفر][1] وطن اصلي د وطن اقامت نه اوچت دې.نو په وطن اصلي باندې وطن اقامت باطليږي.او وطن اقامت د وطن اقامت برابر دې.نووطن اقامت په وطن اقامت هم باطليږي.اووطن اقامت په سفر سره ځکه باطليږي.چه سفر د وطن اقامت ضد دې.اوقاعده ده چه څيز په خپل ضد سره باطليږي.

الإعتراض ﴿اوکه سوال اوشي.چه سفرخود وطن اصلي هم ضد دې.نووطن اصلي هم په سفر سره باطيدل پکاردي.حالانکه داسے نه ده.

الجواب ﴿دوطن اصلي په سفرسره باطيدل د اثر په وجه دي.ځکه نقل دي.چه نبي کريم ﷺ غزاګانو دپاره د مدينې منورے نه وتلو.اولرے علاقو ته به ئې تشريف اوړلو.خوددې باوجود مدينه منوره د هغوی ﷺ وطن اصلي وو.نبي کريم ﷺ چه به کله د سفرنه واپس تشريف راوړو.نود اقامت نيت به ئې نه کولو.که وطن اصلي په سفرسره باطيدلو.نو په واپسئ به نبي کريم ﷺ د اقامت نيت ضرور کولو.

په دوو ښارونو کښې د اقامت د نيت حکم

وَإِذَا نَوَى الْمُسَافِرُ اوهرکله چه مسافر نيت اوکړي. أَنْ يُقِيمَ بِمَكَّةَ وَمِنًى خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا په مکه او منی کښې د پنځلسو ورځو د اقامت لَمْ يُتِمَّ الصَّلَاةَ نو پوره مونځ به نه کوي

حل اللغة ﴿①نوى، نوى نية (ض): نيت کول ②ان يقيم، اقام اقامة: حصاريدل، قيام کول

تشريح ﴿ صورت دمسئلے دادې.چه مسافر په داسې دوو ځايونو کښې د پنځلسو ورځو د پاتې کيدو نيت اوکړي .چه په دې کښې يو هم مستقل نه وي.مثلاً دا چه په مکه اومنی کښې د اقامت نيت اوکړي،نو دے به مقيم نه وي.اومونځ به قصرکوي.

دليله عدم إعتبار نية الإقامة في موضعين ﴿ځکه چه په دوو ځايونوکښې د نيت معتبرکيدل ددې خبرے مقتضی دې.چه د دوو نه په زياتو ځايونوکښې هم نيت معتبر شي.ګنی ترجيح بلا مرجح به لازميږي .اود مسافر په ډيروځايونو کښې د قيام نيت کول ممتنع دي.ځکه چه سفر په ګنړو ځايونوکښې د قيام کولو نه خالي نه وي.بلکه په ډيروځايونوکښې قيام کول ضروري وي.نوکه په ګنړوځايونوکښې د اقامت د نيت اعتبار اوکړې شي.نو ددې مطلب به دا وي.چه سړې کله هم مسافر نه وي.

---

[1] قال الزيلعي رحمه الله يشهد له حديث أنس رضي الله عنه خرجنا مع النبي ﷺ من المدينة إلى مكة فكان يصلي ركعتين ركعتين حتى رجعنا إلى المدينة قيل كم المتم بمكة ؟قال اقمنا بها عشراً)اخرجه البخاري في تقصيرالصلاة باب ١، رقم ١٠٨١ ومسلم في صلاة المسافرين وقصرها رقم ١٥ وابوداود في صلاة السفر باب ١٠ رقم ١٢٣٣ والترمذي في الجمعة باب ٤٠ رقم ٥٤٨ والنسائي في السنن الكبرى (٥٨٧/١ رقم ١٩١٠ وابن ماجه في الإقامة باب ٧٦ رقم ١٠٧٧ واحمد في المسند (٢٨٢/٣)۔

صحة إعتبار الإقامة في موضع المبيت> اوكه صورت دا شي چه په دوو ځايونوكښې د پنځلسو ورځو د اقامت نيت اوکړی او په دې دواړوكښې يو متعين ځائې كښې د شپې تيرولو نيت اوكړي. نو دا نيت به معتبر وي.اوس كه دا سړي مخکښې هغه ځائې ته لاړوكوم ځائې كښې ئې چه ئې د ورځې تيرولو نيت وي.نو دے به مقيم نه وي.اوكه اول هغه ځائې ته لاړوكوم ځائې كښې ئې چه ئې د شپې تيرولو اراده كړې وي.نو دےكلی ته داخليدلو سره به مقيم شي.بيا به هغه کلي طرف ته په تلو باندې مسافر نه وي كوم ځائې كښې چه ئې د ورځې تيرولو نيت كړې وي.ځكه چه د سړي اقامت د شپې تيرولو ځائې طرف ته منسوب كيږي،تاسو اوګورئ چه كوم سړې په بازاركښې كاروباركوى كه دده نه تپوس اوكړې شي چه دے وخت ته كوم ځائې كښې اوسيږے،نودے به د هغې محلے پته ښائى كوم ځائې كښې چه دے شپه تيره وي.

وَالْجَمْعُ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ لِلْمُسَافِرِ او جمع كول په مينځ د دوؤ مونځونو كښې د مسافر دپاره جائز دى **يَجُوْزُ فِعْلًا وَلَا يَجُوْزُ وَقْتًا** په اعتبار د فعل سره او جائز نه دى په اعتبار د خت سره **وتجوز الصلوة في السفينة قاعدا على كل حال عن ابى حنيفة رحمه الله وعندهما لا تجوز الا لعذر** او جائزدې مونځ كول په كشتئ كښ په ناستې سره په هرحال كښ په نزد دامام ابوحنيفه رحمه الله اود امام ابويوسف او امام احمد رحمهما الله په نزد جائزنه دې مګر د عذر د وجې نه.

تشريح> دا باب د سفر د مونځ په بيان كښې دې د سفر په مسائلو كښې يوه مسئله دا هم ده چې مسافر په حالت د سفر كښې دوه مونځونه په يو ځائې ادا كولې شي خو بيا په دې كښې اختلاف دې چې دا جمع كول به حقيقي وى او كه صورى.

صورتى الجمع> جمع حقيقي دې ته وائى چې يو مونځ په خپل وخت كښې اوكړى اود بل وخت مونځ هم په دغه وخت كښې اوكړى.په خپل وخت كښې يې اونكړى او جمع صورى دې ته وائى چې اولنې مونځ بيخى په آخرى وخت كښې اوكړى او دويم مونځ په اولنى وخت كښې اوكړى.مثلاً د ماښام مونځ دومره روستو كړى چې آخرى وخت شى.نو ادا ئې كړى او چې كله د دې نه فارغ شى د ماسخوتن وخت ورپسې داخل شي.نو د ماسخوتن مونځ په اولنى وخت كښې اوكړى.په دې صورت كښې هريو مونځ په خپل خپل وخت كښې اوشو.صرف په وخت كښې دننه تقديم او تاخير اوشو.

مسلك الحنفية> صاحبين او امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چې جمع صورى جائز ده او جمع حقيقي جائز نه ده.

دلائله> ① قرآني آيت دې «إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا» په دې كښې الله تعالى فرمائيلى دى چې مونځ په مسلمانانو په خپل وخت كښې فرض شوې دې.د دې آيت نه د مونځ په خپل وخت كښې د ادا كولو فرضيت معلوميږى.

② عن انس رضى الله عنه عن النبى ﷺ اذا عجل عليه السفر يؤخر الظهر الى اول وقت العصر فيجمع

بینهما ویؤخر المغرب حتی یجمع بینها وبین العشاء حین یغیب الشفق ([1])
دحضرت انس ﷺ نه روایت دې دوی دنبی کریم ﷺ نه روایت کوی چې کله به دوی په سفر کښې په تلوار وو.نو د ماسپخین مونځ به يې د مازيگر اول وخت ته روستو کړو.اوبيا به يې دواړه په يوځائې اوکړو.اود ماښام مونځ به ئې روستو کړونو دا اود ماسخوتن مونځ به يې په يوځائې اوکړو چې شفق (سورخی) به ختمه شوه. د دې حديث نه هم معلوميږی.چې نبی کريم ﷺ به هر مونځ په خپل وخت کښې کولو.البته به يو مونځ به ئې په آخر وخت کښې اوکړواو بل به ئې په اول وخت کښې اوکړو.

د سفر د مونځ په حضرکښې او ددې په عکس

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَاةٌ فِي السَّفَرِاود چا نه چه په سفرکښې مونځ فوت شی قَضَاهَا فِي الْحَضَرِ رَكْعَتَيْنِ.نو په حضرکښې به دوه رکعته قضا راوړی وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَاةٌ فِي الْحَضَرِ.او د چا نه چه په حضرکښې مونځ فوت شی قَضَاهَا فِي السَّفَرِ أَرْبَعًا نو ددې به په سفرکښې څلور رکعته قضا راوړی

حل اللغة ﴿۱﴾فائتة، فات فوتا (ن): فوت کيدل ﴿۲﴾ قضاها ، قضی يقضی قضاءً (ض): قضا کول، اداکول ﴿۳﴾عدم: نشت کیدل]

تشریح ﴿ **حكم فائتة السفر في الحضر وعكسه** ﴾ صورت د مسئلےدادے چه د سفر په حالت کښې که څلور رکعتيز مونځ فوت شی.او په حضر کښې ئې د هغې قضا راوړل اوغوښتل.نو دوه رکعته دے قضا راوړی.اودحضر په زمانه کښې که څلور رکعتيز مونځ فوت شی.بيا د سفر په حالت کښې ئې د هغې قضا راوړل اوغوښتل.نود څلورو رکعتو قضا به راوړی.

دليله ﴿دليل دادې.چه قضاء د ادا موافق واجب وی.يعنی په کوم سرې چه ادا څلور رکعته واجب شول.نودے به قضا هم څلور رکعته کوی.او په چاچه دوه رکعته ادا واجب شی.په ده باندې به قضا هم دوه رکعته واجب وی.

اعتبار اخر الوقت ﴿په اداکښې د وخت آخر معتبردې.د آخرى وخت نه مراد مقدار د تحريمے دې.مثلاً که د ماسپخين په اول وخت کښې مقيم وو.بيا د وخت ختميدلو نه مخکښې د سفر دپاره اووتلو.اود آبادئ نه هغه وخت بهرشو.چه وخت صرف د يو رکعت يا کم باقی وو.نو په ده باندې به دوه رکعته قضا واجب وی.څکه چه په آخرى وخت کښې دے مسافرشو.او هم دا معتبر دې.او په اداکښې د وخت آخر څکه معتبر دے چه په وخت کښې دننه د اداکولو په صورت کښې د مونځ د وجوب په سببيت کښې آخرے وخت معتبردې.

الإعتراض ﴿په دے ځائې کښې يو اعتراض کيدے شی.هغه دا چه زمونږکلام په قضا مونځ کښې دې.اومونځ چه کله دخپل وخت نه فوت شی.نو د اصول فقه د بيان مطابق پوره وخت د مونځ سبب وی.نه دا چه آخری جزء.

الجواب ﴿د بعضےمشائخوپه نيز د مونځ فوت کيدو په صورت کښې د وخت آخری جزء سبب وی. ممکنه ده چه مصنف د هدايه هم دا اختيارکړی وی.

---

[1] مسلم باب جواز الجمع بين الصلاتين في السفر)-

په قصر کښې د نافرمان او تابعدار برابري

وَالْعَاصِي وَالْمُطِيعُ فِي السَّفَرِ اوخوك چه په سفركښې فرمانبرداروي اوكه نافرمان فِي الرُّخْصَةِ سَوَاءٌ (دواړه) په رخصت كښې برابر دي

حل اللغة ﴿ ①عاصي: گناهګار، نافرمان ②مطيع: حكم منونكې

تشريح ﴿ **الأقسام الثلاثة للسفر** ﴾ د فقهاوٗ د بيان مطابق د سفردرې قسمونه دي ①سفر دطاعت لكه حج اوجهاد، ②مباح سفر لكه سفر د تجارت

③ سفر د معصيت لكه د ډاكې اچولو دپاره سفركول يا دښځې بغير د محرم نه حج دپاره سفركول، په دې سفر كښې هم د قصر كولو رخصت شته [1]

الدليلان للاحناف ﴿ ①زمونږ دليل د نصوصو اطلاق دې.يعنى په كومو نصوصو كښې چه رخصت راغلې دې.هغه على الاطلاق هر مسافر ته شامل دى.مثلاً الله تعالى فرمائيلي دى ﴿فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْعَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾ نبى ﷺ فرمائيلي دى [فرض المسافر ركعتان] په بل ځاني كښې ارشاد دې.[يمسح المقيم يوما وليلة والمسافر ثلاثة ايام ولياليها] په دے نصوصو كښې د مطيع اوعاصى هيڅ تفصيل نشته.بلكه هرمسافر ته شامل دې.خواه كه په خپل سفركښې مطيع وى ياعاصى.

② نفس سفر معصيت نه دې.ځكه چه سفرنوم دے د مسافت قطع كولو،اوپه دے معنى كښې هيڅ معصيت نشته.معصيت خوهغه دې.چه كوم د مسافت قطع كولو نه پس وى.مثلاً ډاكه اچول يا غلا كول يا نورځه معصيت،چه د سفر په دوران كښې كيږى.لكه د غلام تښتيدل.نوهركله چه نفس سفرمعصيت نه دې.نو دے سره رخصت متعلق كيدے شي والله اعلم

د جمعې دمونځ بيان

بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ

ترجمه ﴿ (دا) باب د جمعې د مانځه (په بيان كښې) دې.

تشريح ﴿ **الربط بما قبله** ﴾ دا باب د مخكښې باب مناسب دې.ځكه چه په دواړوكښې تنصيف دې. البته په قصركښې د سفر په وجه سره نيموالے شوېدې.او په جمعه كښې د خطبې په واسطے سره ، خوچونكه سفر هر رباعي مونځ لرى نيمونكے دې.او دجمعې خطبه صرف د ماسپخين مونځ نيموى . ددې وجې سفر د هر رباعي مونځ نيمولوته عام شو.اوخطبه صرف د ماسپخين مونځ نيمولو ته خاص ده.او د خاص ذكر چونكه د عام نه پس وى .په دې وجه د سفرد مونځ نه پس د جمعې د مونځ ذكرشو.

ووجه تسميتها ﴾ جمعې ته جمعه ځكه وائى.چه خلق په دے ورځ كښې راجمع كيږى،

الحركتان في الجمعة ﴾ ①جمعه د اجتماع نه ده.لكه څنګه چه فرقت د افتراق نه دې.لفظ دجمعې په ضمه د ميم دې.او په سكون سره هم ونيلے شوې دې. ②بعضې حضراتو د ميم په فتحه سره هم نقل كړې دې.

---

[1]) **مسلك الشافعي**:- اولنى دوه قسمونه په اتفاق سره د رخصت سبب دې. او دريم قسم زمونږ په نيز د رخصت سبب دې.په زيربحث مسئله كښې دامام شافعى رحمه الله په نيز دريم قسم سبب نه دې.

تاریخ فرضیة الجمعة ﴿ کله چه نبی ﷺ د مکے نه هجرت اوکړلو.او مدینے منورے طرف ته ئې تشریف یوړلو.نو هغوی په قباء کښې دننه د عمرو بن عوف ﷛ په محله کښې څوارلس شپې قیام کړې وو.هم په دې دوران کښې هغوی ﷺ دیو جومات بنیاد کیخودو.چه ورته په اسلام کښې د ټولو نه اولنے جومات ونیلے شی.چه قران حکیم ترے نه په ﴿لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى﴾ (الآية) سره تعبیر کړې دې..بیا کله چه نبی ﷺ د قباء نه د مدینے په طرف دجمعې په ورځ روان شو.نو په لاره کښې د سالم بن عوف په محله کښې د جمعې د مانځه وخت راغې.نو نبی ﷺ د سورلۍ نه راکوز شو . په دے جومات کښې ئې دجمعې مونځ اداکړو.او دا د خوږ په مینځ کښې دې.دا په اسلام کښې د ټولو نه اولنے اداکړې شوې جُمعه وه.په دے جُمعه کښې په سوونو مسلمانان شریك شول.په اسلام کښې د ټولو نه د اولنۍ جمعې،او خطبے پوره تفصیل اصح السیر،سیرت مصطفی شرح سیرکبیر کښې اوګورئ .

الشروط المتعلقة بالمصلي لفرضیة الجمعة ﴿ دجمعې د فرضیت دولس شرطونه دی.شپږشرطونه خو داسې دی.چه د هغې د ذات په مونځګذار کښې وجود ضروری دې. ① آزاد وی.په غلام جُمعه فرض نه ده② سړې وی. په ښځه فرض نه ده③ مقیم وی.په مسافر فرض نه ده④ تندرست وی. یعنی داسې بیمارنه وی چه په جُمعه کښې شرکت د تکلیف سبب وی⑤د پښو سلامتیا ⑥ د سترګو سلامتیا ، په شَل او نابینا باندې فرض نه ده.

الشروط المتعلقة بذات المصلي ﴿ شپږ شرطونه داسےدی.چه د هغې تعلق د مونځ کونکی د ذات سره نه دې.
①ښار② جومات ③ بادشاه ④ وخت⑤ خطبه ⑥ عام اجازت

د جُمعې د صحت شرطونه

لَا تَصِحُّ الْجُمُعَةُ إِلَّا فِي مِصْرٍ جَامِعٍ أَوْفِي مُصَلَّى الْمِصْرِجُمعه نه صحیح کیږی مګر په جامع ښارکښې یا دښار په فناءکښې وَلَا تَجُوزُفِي الْقُرَىٰاوجُمعه په کلی کښې جائزنه ده

حل اللغة ﴿①لاتصح،صح صحیحًا (ض): صحیح کیدل ②مصر جمع امصار: ښار ③لاتجوز،جاز جوازًا (ن): جائز کیدل ④قری واحد قریة: کلې]

تشریح ﴿ **صلاة الجمعة في القرية** ﴿صورت دمسئلےدادې.چه دجمعې مونځ په ښار او په فناء دښار دواړو ځایونوکښې جائز دې. البته په کلی کښې جائزنه دې.([1])

دلیله ﴿ دلیل دنبی ﷺ قول [لاجمعة ولاتشریق]([2]) حدیث دې.یعنی دجمعې مونځ، تکبیرات تشریق،وروکے اختر،او لوے اختر صرف په ښارکښې جائزدې.دا قول علامه مرغینانی ﷬ دنبی ﷺ قول ګنړلےدې.خو صحیح خبره داده.چه دا دنبی ﷺ قول نه دې.بلکه د حضرت علی ﷛ قول دےلکه

[1]) امام مالك اوامام شافعي ﷮ په کلی کښې هم دجمعې د جواز قائلین دی.امام شافعی ﷬ فرمائیلی دی.چه په کوم کلی کښې څلویښت آزاد مقیم خلق آباد وی.د خانه بدوشو پشان دګرمئ اویخنئ په موسم کښې کډے نه اوړی. نو په دوی به جمعه فرض وی.

[2]) قال الزیلعي ﷬ غریب مرفوعاوإنما وجدته موقوفا علی علی ﷜ ورواه عبدالرزاق ..وابن أبي شیبة في الصلاة باب من قال لا جمعة ولا تشریق إلا في مصر جامع رقم ٥٠٦٠(٤٣٩/١)۔

خنګه چه صاحب د فتح القدير ليکلي دی.چه ابن ابی شيبه دا قول په حضرت علی ؓ باندې موقوف کړې دې.

شرائط د صحت اداء، رومبې شرط سلطان دی

وَلَا تَجُوزُ إِقَامَتُهَا إِلَّا لِلسُّلْطَانِ اوجمعه قائمول جائزنه دی.مګردخليفه دپاره أَوْلِمَنْ أَمَرَهُ السُّلْطَانُ يادهغه چا دپاره چې خليفه ورته اجازت ورکړې وی.

حل اللغة ۞①لاتجوز، جاز جوازا (ن): جائز کيدل ②اقامة: قائم کول ③امره، امر امرا (ن): حکم ورکول

تشريح ۞ **شرطية الإمام لإقامة الجمعة** ۞ ①دجمعې اداکولو دپاره دسلطان وجود هم شرط دې.سلطان هغه والی وی.چه دده نه پورته بل والی نه وی.لکه خليفه يا هغه سړې چه هغه ته سلطان حکم او اجازت ورکړې وی.لکه امير، قاضی يا خطيب، په دې شرط چه دوی ته دجمعې قائمولو اجازت وی. ([1])

دليله ۞ دليل دادې.چه جُمعه يو عظيم جماعت سره اداکولې شی.خکه چه دا جامع الجماعات دې. او حال دادې.چه کله په وړاندې کيدوکښې جګړه پيښيږی. ①يو واڼی چه زه به امامت کوم.او بل واڼی چه زه به امامت کوم. ②اوکله په وړاندې کولوکښې هم جګړه واقع کيږی.يوه ډله واڼی چه مونږ فلانکې بزرګ امام کوو.او دويمه ډله واڼی چه نه،بلکه فلانکې به امام کوو.اوکله د تقديم او د تقدم نه علاوه په بله خبره کښې جګړه پيښيږی. ③مثلا څه خلق واڼی چه زمونږ په جومات کښې دې جُمعه ادا کړې شی. ④اوڅه خلق رائې ددې خلاف وی.څه واڼی چه زر دې ادا کړې شی.اوڅه روستو کول غواړی.نود مجمع عظيم په دې اختلاف سره شيطان ته د فتنې اچولو ښه موقع ملاويږی.په دې وجه مونږ وايو.چه دجمعې اداکولو دپاره دخليفه يا دده نائب وجود ضروری دې.خيلفه که عادل وی اوکه ظالم،

د جمعې د مانځه دپاره د وخت شرطيت

وَمِنْ شَرَائِطِهَا الْوَقْتُ اودجمعې په شرائطوکښې يو وخت دې فَتَصِحُّ فِي وَقْتِ الظُّهْرِ پس جُمعه به د ماسپخين په وخت کښې صحيح کيږی وَلَا تَصِحُّ بَعْدَهُ او د ماسپخين د وخت نه پس به نه صحيح کيږی

حل اللغة ۞①فتصح، صح، صحيحا (ض): صحيح کيدل

تشريح ۞ **شرطية الوقت للجمعة** ۞ دجمعې د شرائطو نه وخت هم دې. يعنی دجمعې مونځ د ماسپخين په وخت کښې صحيح دې.

دلائله ۞ ①دليل دادې چه نبیﷺ مصعب بن عمير ؓ کله مدينې منورې ته اوليګلو. نو فرمائيلی ئې وو[اذا مالت الشمس فصل بالناس الجمعة] يعنی هرکله چه نمر زائله شی.نوخلقو ته دجمعې مونځ اوکړه.د

[1] ، حضرت امام شافعی ؒ فرمائی چه دجمعې اداکولو دپاره د سلطان يا دده د نائب کيدل شرط نه دی.(عنايه)

بخاری روایت دے [عن انس کان النبی ﷺ یصلی الجمعة حین تمیل الشمس] (۱) دحضرت انس رضی الله عنه نه مروی دی.چه رسول خدا ﷺ به کله نمر زوال اوکړو دجمعې مونځ به ئې کولو.

۲په مسلم کښې دی [عن سلمة بن الاکوع رضی الله عنه کنا نجمع مع رسول الله ﷺ اذا زالت الشمس] یعنی مونږ خلقو به دجمعې مونځ کولو کله چه به نمرزائله شو.

د جمعې دپاره د خطبې شرطیت

وَمِنْ شَرَائِطِهَا الْخُطْبَةُ اودجمعې په شرائطوکښې خطبه ده.

تشریح> شرطیة الخطبة للجمعة> دجمعې یوشرط خطبه دې.دخطبې نه بغیر دجمعې مونځ نه کیږی.
دلیله>دلیل دادے چه بانی د شریعت مطهره ﷺ په خپل ژوند کښې هیڅ یوه جمعه بغیر د خطبې نه نه ده کړې.که چرے خطبه دجمعې په شرائطوکښې نه وې.نو د بیان جواز دپاره به یوځل نبیﷺ خطبه ضرور پریخودے وه.دجمعې خطبه دجمعې دمونځ نه مخکښې او د زوال نه پس واجب ده.(۲)

قَبْلَ الصَّلَاةِاو خطبه د جُمعې د مونځ نه مخکښې شرط دې

تشریح> وقت الخطبة>اوکه دجمعې مونځ نه پس یا د زوال نه مخکښې ئې اوونیله.نوجائز نه ده.
دلیله>دلیل دادې.چه جمعه د ماسپخین قائم مقام خلاف قیاس ده.اوسنت هم په دې طریقه وارد شوې دې.چه جمعه په خطبې سره مقید ده.لکه څنګه چه حدیث کښې راغلی دی.چه رسول خدا ﷺ هیڅ یوه جُمعه بغیر د خطبې نه نه ده کړې.(۳)او قاعده ده چه کوم څیزخلاف قیاس ثابت وی.هغه د خپل مورد سره خاص وی.نودجمعې مشروعیت به هم په دې طریقه وی.خطبه به دمونځ نه مخکښې وئیلے شی.

يَخْطُبُ الْإِمَامُ خُطْبَتَيْنِ او دوه خطبې دے وائی، يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا دواړوخطبو په ما بینځ کښې به بِقَعْدَةٍ په ناستې سره جدائی راولی

تشریح> وجوب الخطبتین> ابوالحسین قدوری رحمه الله فرمانی.چه دوه خطبې واجب دی.د دواړو په منځ کښې به د درې آیاتونو په مقدار ناستې سره فصل کوی.

---

۱ ، قال الزیلعی رحمه الله غریب وخرجت فی تالیفی سنن الصلاة لوقت الجمعة عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الْجُمُعَةَ حِينَ تَمِيلُ الشَّمْسُ كذا فی البخاری فی الجمعة باب وقت الجمعة إذا زالت الشمس رقم ۸۵۳)۔

۲ ، کما خرجت فی ،،سنن الصلاة،، لشرطیة الخطبة(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَلَائِكَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى أَبْوَابِ الْمَسَاجِدِ يَكْتُبُونَ النَّاسَ عَلَى مَنَازِلِهِمْ جَاءَ فُلَانٌ مِنْ سَاعَةِ كَذَا جَاءَ فُلَانٌ مِنْ سَاعَةِ كَذَا جَاءَ فُلَانٌ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ جَاءَ فُلَانٌ فَأَدْرَكَ الصَّلَاةَ وَلَمْ يُدْرِكْ الْجُمُعَةَ إِذَا لَمْ يُدْرِكْ الْخُطْبَةَ) رواه احمد فی مسندالمكثرين الباقي المسندالسابق رقم ۸۱۶۷ رجاله ثقات إلا علی بن زید واوس بن خالد فإنهما ضعيفان)۔

۳ ، قال الزیلعی رحمه الله یوخذ هذا من حدیث السائب بن یزید رضی الله عنه رواه البخاری (ای فی الجمعة باب ۲۱، رقم ۹۱۲، ۹۱۳، ۹۱۵) قال کان الأذان علی عهد رسول الله ﷺ وأبی بکر وعمر یوم الجمعة حین یجلس الإمام ،فلما کان عثمان رضی الله عنه وکثر الناس أمر بالأذان الثانی علی الزوراء) ووجه ان الأذن لا یکون إلا قبل الصلاة فإذا کان الأذان حین الإمام علی المنبر للخطبة دل علی أن الصلاة بعدالخطبة کذا فی نصب الرایة ۲/۲۰۴)۔

دليله ﴿ هم په دے توارث راروان دي. يعنى د بزرګانو نه نسل په نسل هم دغه شان راتلل منقول دی.[1]

حكم الجلسة بين الخطبتين ﴿ دا قعده شرط نه ده. بلکه د استراحت دپاره ده.[2]

دليله ﴿ دليل د جابربن سمره رضي الله عنه حديث دے [ان النبي ﷺ كان يخطب قائما خطبة واحدة فلما اسن جعلها خطبتين يجلس بينهما جلسة] يعنى نبي ﷺ به په ولاړه يوه خطبه ونيله ، هركله چه هغوى بوډا توب ته اورسيدل . نونبي ﷺ به دوه خطبے ونيلے په دې دواړوكښې به ئې جلسه كوله. دے نه معلومه شوه چه په يوه خطبه باندې اكتفاء كول جائزدی.

په خطبه كښې د قيام حكم

وَيَخْطُبُ قَائِمًا عَلَى طَهَارَةٍ اوخطبه دے په طهارت سره په ولاړه وائي

حل اللغة ﴿ ①يخطب، خطب، خطبة : تقريركول ،وعظ كول، د حاضرين په وړاندې خطبه لوستل ②قائما: په ولاړه

تشريح ﴿ **حكم القيام في الخطبة** ﴿ ①صاحب د قدورى رحمه الله فرمائى. چه خطبه دے په ولاړه په طهارت سره اوونيلے شي. په خطبه كښې قيام زمونږ په نيز سنت دي

دليله ﴿ د قيام في الخطبة دپاره دليل دا حديث دي عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يَقْعُدُ ثُمَّ يَقُومُ كَمَا تَفْعَلُونَ الْآنَ[3]

په خطبه كښې په ذكر باندې د اكتفاء حكم

فَإِنِ اقْتَصَرَ عَلَى ذِكْرِ اللهِ كه خطيب په ذكرالله باندې اكتفاء وكړه جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله نو دابوحنيفه رحمه الله په نيزجائز ده

حل اللغة ﴿ ① اقتصر، اقتصر اقتصاراً: قصر كول ②جاز، جاز جوازاً (ن): جائزكيدل

تشريح ﴿ **قدرالخطبة** ﴿ دخطبه په مقداركښې په خپله د احنافو عالمانو رحمهم الله اختلاف دی. ①دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نيزكه دخطيے په اراده صرف "الحمدلله" اووائى يا "سبحان الله" اووائى، يا "لا اله الا الله" اووائى. نو جائز ده. او كه د انتوشى په وجه خطيب "الحمدلله" اووائى يا د تعجب په وجه "سبحان الله" اووائى. نو په اتفاق سره خطبه جائز نه ده.[4]

---

[1]) وخرجت للفصل بين الخطبتين في ،،سنن الصلاة عَنْ سِمَاكٍ قَالَ أَنْبَأَنِي جَابِرُ بْنُ سَمُرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَخْطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يَجْلِسُ ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ قَائِمًا فَمَنْ نَبَّأَكَ أَنَّهُ كَانَ يَخْطُبُ جَالِسًا فَقَدْ كَذَبَ فَقَدْ وَاللَّهِ صَلَّيْتُ مَعَهُ أَكْثَرَ مِنْ أَلْفَيْ صَلَاةٍ) مسلم في الجمعة باب ذكر الخطبتين قبل الصلاة وما فيهما من الجلسة رقم ٢٤٢٧)_

[2]) په دې مسئله كښې دا قعده دامام شافعى رحمه الله په نيز شرط ده. تردے چه ددوى په نيز په يوه خطبه باندې اكتفاء كول جائز نه دى.

[3]) رواه البخاري في الجمعة باب الخطبة قائماً رقم ٨٦٩)_

[4]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(١\٥٩٨) والهندية (١\١٤٦) نقلاً عن القول الراجح (١\١٤٢)_

دلائله ﴿ ①د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل د باری تعالی قول ﴿فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ﴾(الآیة).په دې طریقه چه دډېرو مفسرینو رحمهم الله په نیز د ذکرالله نه خطبه مراد ده.او په دې کښې دقلیل اوکثیر څه تفصیل هم نشته.دے نه ثابته شوه.چه مطلقاً به په ذکرالله سره خواه که قلیل وی اوکه کثیر واجبه خطبه ادا شی.

②دحضرت عثمان رضی الله عنه حال مروی دې.دخلیفه جوړیدلو نه پس چه کله په وړومبی خل دجمعې اداکولو دپاره منبر ته اوختلو اوالحمدلله ئې اوونیله.نو ددوی ژبه بنده شوه.دوی د منبر نه راکوز شول.اوخلقو ته ئې دجمعې مونځ اوکړو.(١) په دغه وخت صحابه عالمان رضی الله عنهم هم موجود وو.خو چا هم دحضرت عثمان رضی الله عنه په دے فعل باندې نکیر او نه اوکړلو .نو د صحابو رضی الله عنهم د سکوتی اجماع نه هم ثابت شو.چه د الله په ذکر باندې اکتفاء کولوسره خطبه جائز ده .

③ هم دغه وجه ده.چه نبی ﷺ هغه سړی ته چاچه [من یطع الله ورسوله فقد رشد ومن یعصهما فقد غوی] اوئیل.[بئس الخطیب انت] فرمائیلی وو.اوګورئ په دومره مقدار کلام کولوسره ئې ده ته خطیب اوونیلې.دے نه معلومه شوه.چه دخطبې دپاره طویل ذکر ضروری نه دې.(فتح القدیر)

وَقَالَا: لَابُدَّ مِنْ ذِكْرٍ طَوِيلٍ يُسَمّٰى خُطْبَةً اوصاحبینو رحمهما الله فرمائلی دی.چې طویل ذکر چې هغې ته خطبه ونیلےشی ،ضروری دې

تشریح ﴿ صاحبین رحمهما الله فرمائی چه دومره قدرې اوږدوالے ضروری دې.چه عادتًا عرفًا ورته خطبه ونیلےشی.

الأقوال الثلاثة في الخطبة المتعارفة ﴿ ①متعارفه خطبه داده.چه خطیب د الله حمد بیان کړی.په رسول ﷺ باندې درود اووائی.اودټولومسلمانانو دپاره دخیردعا اوکړی.

②دامام کرخی رحمه الله په نیز د متعارف خطبه مقدار درې آیاتونه دی.

③اود بعضو په نیز د تشهد مقدار دې.یعنی د"التحیات" نه د "عبده ورسوله" پورې.

دلیلهما ﴿ دصاحبینو رحمهما الله دلیل دادې.چه واجب خو هغه دې.چه ورته خطبه اوونیلےشی.او "الحمدلله" ونیل یا "سبحان الله" ونیل یا "لااله الا الله" ونیل، ددې نوم خطبه نه دې.که خطیب صرف داکلمه اووائی .نوواجب خطبه ادا نشوه.

الجواب عنه ﴿ خودا قول چه لفظ د"الحمدلله" ته عرفًا خطبه نشی ونیلې.بیشکه دے ته عرفًا خطبه نشی ونیلې.خولغةً ورته خطبه ونیلےشی.

فَإِنْ خَطَبَ قَاعِدًا أَوْغَيْرَ طَاهِرَةٍ جَازَاو که په ناسته ئې خطبه او وئیله، یا بغیر د طهارت نه.نوهم جائزدی وَيُكْرَهُخودا مکروه دی

تشریح ﴿ **كراهية الخطبة قاعداًومحدثاً** ﴿ ابوالحسین قدوری رحمه الله فرمائی که خطبه ئې په ناسته بغیر د طهارته اوونیله .نوجائزده.خومکروه ده.جائز دے وجے ده.چه مقصود دخطبې یعنی وعظ او تذکیرحاصل شو.

---

١ قال الزيلعي رحمه الله غريب واشتهرفي الكتب أنه قال على المنبر الحمد لله فرتج عليه فقال إن أبا بكر وعمر رضي الله عنهما كانا يعدان لهذا المكان مقالاً فإنكم إلى إمام فعال أحوج منكم إلى إمام قوّال،نصب الراية،٢/٢٠٥)_

دليله> او په ناسته خطبه ورکول مکروه په دې وجه دی.چه د توارث خلاف ده.او بغیر د طهارته په دې وجه مکروه ده. چه په دې صورت کښې د مونځ اوخطبې په منځ کښې فصل راځي.ځکه چه بغیرد طهارته د(خطبه)ورکولو په صورت کښې به د خطبې نه پس طهارت حاصلوی.بیا به مونځ شروع کوی. دغه شان به یقیناً فصل راځي.

د جُمعې دپاره دجماعت شرطیت

وَمِنْ شَرَائِطِهَا الْجَمَاعَةُ اودجمعې په شرائطوکښې جماعت دې وَأَقَلُّهُمْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله ثَلَاثَةٌ سِوَى الْإِمَامِ اودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز تعداد د جماعت د امام نه سوا درې سړی دی وَقَالَا: اثْنَانِ سِوَى الْإِمَامِ اوصاحبین رحمهما الله فرمائي.چې د امام نه علاوه دوه سړی دی

حل اللغة > ①اقل: کم ②ثلاث:درې ③سوی: علاوه

تشريح > **المذهبان في كم ينعقد بهم الجماعة وفق قول صاحب القدوري**> جماعت په اتفاق سره د جمعې دپاره شرط دې.البته دافرادو په تعداد کښې اختلاف دې. ①د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د امام نه علاوه کم ازکم درې سړی ضروری دی.هم دا د امام زفر رحمه الله قول دې. ②او د صاحبینو رحمهما الله په نیز د امام نه علاوه کم ازکم درې سړی ضروری دی.دا قول د صاحب قدوری رحمه الله د بیان مطابق دې.

نظرصاحب الهداية في المسلكين> علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه رشتیا خبره داده.چه د امام نه علاوه د دوو مقتدیانو وجود فقط دامام ابویوسف رحمه الله قول دې.او پاتې شو امام محمد رحمه الله نود دوی قول د امام صاحب رحمه الله دقول موافق دې.دعلامه مرغینانی د بیان مطابق حاصل دا شو.چه د طرفینو رحمهما الله په نیز دجمعې دجماعت دپاره د امام نه علاوه درې سړی شرط دې[1].او د امام ابویوسف رحمه الله په نیز د امام نه علاوه دوه سړی هم کافي دی.

دلائل شرطية الجماعة> ①د جمعې دپاره جماعت ځکه شرط دې.چه جُمعه د جماعت نه مشتق ده.نوجُمعه بغیر د جماعت نه نۀ متحقق کیږی.لکه ضارب چه د ضرب نه مشتق دې.نو ضارب بغیر د ضرب نه نۀ متحقق کیږی .

② بیشکه جُمعه د اجتماع په معنی دلالت کوی.خو د الله تعالی ارشاد ﴿فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ﴾(الآية) په ذریعه خطاب جمعې سره دې.یعنی دخطاب دپاره دجمع صیغه ذکر شوې ده.اود جمع صحیح اطلاق کم ازکم په دریو باندې کیږی .ځکه چه د دریو شمیرد نوم اومعنی دواړوپه اعتبارسره جمع ده.په دې وجه مونږ وایو.چه د امام نه علاوه کم ازکم د درې سړووجود ضروری دې.

③دغه شان د دې حدیث نه هم د جمعې د مانځه دپاره د جماعت شرطیت ثابتیږی عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اثْنَانِ فَمَا فَوْقَهُمَا جَمَاعَةٌ[2]

دليل أبي يوسف رحمه الله > دجماعت دعدد په سلسله کښې د امام ابویوسف رحمه الله دلیل دادې.چه دجمعې لغوی معنی د جمع کیدو ده.او په دوو کښې د اجتماع معنی موجود ده.په دې طریقه چه په دې کښې

[1] القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في الكفاية في صدر فتح القدير(٢\٣٢) وردالمحتار(١\٦٠٠) والهندية (١\١٤٨) والتاتارخانية (٢\٥٧) والفقه الإسلامي (٢\٢٧٥) نقلاً عن القول الراجح (١\١٤٣)-

[2] أخرجه البخاري في الأذان باب الإثنان فما فوقهما جماعة رقم ٦١٨-

یو د بل سره جمع کیږي.چه د جمعې لغوی معنی د دوو د شمیر نه متحقق ده.نو د امام نه علاوه د دوو سړو وجود د جمعې د جواز دپاره کافي دې.

يَجْهَرُ الْإِمَامُ بِقِرَاءَتِهِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ او جهر به کوی امام په قراءت خپل سره په دوو رکعتونو کښې وَلَيْسَ فِيهِمَا قِرَاءَةُ سُورَةٍ بِعَيْنِهَا او نشته په دې دواړو رکعتونو کښې لوستل د یو سورت معین

تشریح په دې عبارت کښې صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی چې د جمعې په دوؤ رکعتونو کښې به امام قراءت په زوره او جهر سره لولی.

دلیله استخلف مروان ابا هريرة على المدينة ... قال ابوهريرة رضي الله عنه انی سمعت رسول الله يقرا بهما يوم الجمعة يعنی سورة الجمعة و اذا جاءك المنافقون[1] د دې حدیث نه معلومیږي.چې د جمعې په مانځه کښې به نبی کریم صلی الله علیه وسلم قراءت په جهر سره لوستل که جهر نه وې نو ابوهریره رضي الله عنه په څنګه دا فرمائیل چه ما به د نبی کریم نه د جمعې په مانځه کښې سورة جمعه او منافقون اوریدل.

القراءة المستحبة فيهما صاحب د قدوریؒ چې دا فرمائیلي چې په دې کښې د معین سورتونه لوستل نشته.د دې مطلب دا دې چې د معین سورتونو لوستل په کښې فرض نه دی.البته ضرور دی.چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د جمعې په مانځه کښې سورة جمعه او منافقون لوستل.نو د دې لوستل مستحب دی.

په کومو افرادو باندې جُمعه فرض نه ده

وَلَا تَجِبُ الْجُمُعَةُ او جُمعه واجب نه ده عَلَى مُسَافِرٍ په مسافر باندې وَلَا امْرَأَةٍ او نه په ښځه باندې وَلَا مَرِيضٍ او نه په بیمار باندې وَلَا صَبِيٍّ او نه په ماشوم باندې وَلَا عَبْدٍ او نه په غلام باندې وَلَا أَعْمَى. او نه په ړوند باندې

حل اللغة ① لاتجب، وجب وجوبا(ض): واجب کیدل ② مریض: ناجوړه ③ عبد: غلام ④ اعمی: ړوند ، نابینا

تشریح **من لاجمعة عليهم** د جمعې اداکول نه په مسافر باندې واجب دی،نه په ښځه باندې ، نه په بیمار باندې ، نه په غلام باندې او نه په نابینا باندې ،

دلیله دلیل دادے چه مسافر بیمار او نابینا ته دجمعې په حاضریدو کښې تکلیف پېښیږي.او غلام د خپل مالك په خدمت کښې او ښځه دخپل خاوند په خدمت کښې مشغوله وی.نو د دوی نه د تکلیف او ضرر لرے کولو په غرض دا حضرات دجمعے حاضریدو نه معذور اوګرځولی شول.

دمعذورو خلقو په جمعه کښې د شرکت حکم

فَإِنْ حَضَرُوا که داخلق حاضر شول وَصَلَّوْا مَعَ النَّاسِ او دوی دخلکو سره جُمعه اوکړله أَجْزَأَهُمْ عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ نو ددې وخت دَ فرضو نه دوی له جُمعه کافی شوه

حل اللغة ① حضروا، حضر حضوراً (ن): حاضریدل ② صلو، صلی صلاة : مونځ کول

[1] (مسلم فصل في قراءة سورة الجمة في صلاة الجمعة)۔

تشریح > **صحة أداء جمعة المعذورين** >کوم خلق چه د جمعې ادا کولو نه معذورګنړلې شوی دی . که دوی جُمعه ته حاضرشول.او د خلقو سره ئې د جمعې مونځ اداکړو.نود دوی د وخت فرض ادا شو.

دليله >دليل دادې.چه ددې خلقو نه دجمعې ساقطيدل دداسې معنی په وجه نه وو.چه په مونځ کښې اومونډلې شی.بلکه ددوی نه حرج او ضرر لرې کولو په غرض دجمعې فرضيت پورته کړې شوېوو.خوچه کله دوی حرج او مشقت برداشت کړو.او په همت سره ئې دجمعې مونځ اداکړو.نو دا خلق د هغې مسافر په شان شول.چاچه دسفر په حالت کښې روژه اونيوله. حالانکه دمشقت د وجې مسافر ته په رمضان المبارك کښې د روژو نه نيولو اجازت وو.نوکه ده روژه اونيوله جائز ده. بلکه افضله ده.ځکه چه ده د مقيم په نسبت زيات مشقت برداشت کړلو.دغه شان که دےخلقو مشقت اوچت کړو.او د جمعې مونځ ئې اوکړو.نو جائزدی.

خوك خوك د جُمعې امامت کولې شي

وَيَجُوزُ لِلْمُسَافِرِ وَالْعَبْدِ وَالْمَرِيضِ أَنْ يَؤُمَّ فِي الْجُمُعَةِ اود غلام اومسافر، او بيمار دپاره په جُمعه کښې امام جوړيدل جائزدی

حل اللغة >①يجوز،جاز جوازًا (ن): جائز کيدل ②عبد: غلام

تشريح > **صحة إمامة المعذورين في الجمعة** > ①مسئله دا ده.چه مسافر، بيمار او په غلام باندې اګرچه جُمعه فرض نه ده.خو په جُمعه کښې د دوی امام جوړيدل جائزدی.

دليله > دليل دادې.چه مسافر،غلام او په بيمار باندې دجمعې نه فرض کيدل د رخصت د وجې وو.يعنی جُمعه په هر يو باندې فرض عين نه ده.ځکه چه خطاب ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾ عام دې.خو مسافر وغيره ته دحرج لرې کولو دپاره په جُمعه کښې دنه حاضريدو اجازت ورکړې شوېدې. خوچه دا خلق دجمعې اداکولو دپاره حاضرشول.او د حرج د ضرر مشقت ئې برداشت کړلو.نودا مونځ به فرض وی نفل به نه وی،لکه چه مونږ بيان کړی دی.نوهرکله چه د مسافر وغيره دجمعےمونځ فرض واقع شو.نوددوی امام جوړيدل هم جائز دی.

په زير بحث مسئله کښې امام زفر رحمه الله فرمائی.چه په دوی کښې دچا هم امام جوړيدل جائزنه دی.

دليله >د امام زفر رحمه الله دليل دادې.چه په جُمعه نه فرض کيدوکښې دا دريواړه د نابالغ ماشوم او ښځې په شان دی.نوځنګه چه د ماشوم اوښځې دجمعې امامت جائزنه دې.دغه شان ددوی امامت هم جائزنه دې.

الجواب عنه >پاتې شو ماشوم اوښځه باندې قياس نو دا صحيح نه دې.ځکه چه نابالغ ماشوم کښې د امامت اهليت نشته .اود امامت اهليت په کښې ځکه نشته،چه دالله تعالی خطاب ده ته شامل نه دې.نوکله چه ماشوم د امامت اهليت نه لرى.نود ده امام جوړول به ځنګه درست شی!

الجواب من القياس على المرأة >او پاتې شوه ښځه نو په دې کښې دښځو د امامت اهليت شته.خو د سړو د امامت اهليت نشته.اوهرکله چه د سړو د امامت اهليت نشته،نو ښځې ته به د سړو د امامت د جواز حکم هم حاصل نه وی.

جمعې د مانځه نه وړاندې په کور کښې دماسپښين دمونځ حکم

وَمَنْ صَلَّى الظُّهْرَ فِي مَنْزِلِهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ صَلَاةِ الْإِمَامِ اوچاچې دجمعې په ورځ په خپل مقام باندې د امام دمونځ نه مخکښې د ماسپښين مونځ اوکړو. وَلَا عُذْرَ لَهُ حالانکه ده ته څه عذرهم وو كُرِهَ لَهُ ذٰلِكَ نودده په حق کښې دا مکروه دی. وَجَازَتْ صَلَاتُهُ اومونځ ئې جائزشو

حل اللغة ﴿①صلى، صلى صلاةً: مونځ کول،دعا کول ②منزل: ځائ مقام ③قبل: وړاندې ④جازت، جاز جوازًا (ن):جائز کيدل

تشريح ﴿ **صحة أداء الظهر في البيت قبل الجمعة**﴾صورت د مسئلې دا دې. ①که چا دجمعې په ورځ د امام دجمعې مونځ کولو نه مخکښې په خپل کورکښې دماسپښين مونځ اوکړو . حالانکه ده ته څه عذرهم نه وو.نودده دا مونځ جائزشو.خو مکروه دې.

دلائله ﴿ ① دليل دادې.چه دجمعې په ورځ اصلاً دماسپښين مونځ فرض دې.لکه چه په نورو ورځو کښې دماسپښين مونځ فرض دې.دليل دنبیﷺ قول [اول وقت الظهرحين تزول الشمس]دې. په دې طريقه چه حديث مطلق دې.دهيڅ ورځې تخصيص نشته.نود نمرد زوال نه پس په ټولو ورځوکښې بغير داستثناء نه دماسپښين وخت دې

② دويم دليل دادې.چه تکليف د قدرت په اندازه وی.لکه چه ارشاد ربانی دے﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾او په دے وخت کښې دننه دمونځ مکلف ،په خپله دماسپښين مونځ اداکولو باندې قادر دې.دجمعې په اداکولو باندې نه دے قادر،ځکه چه جُمعه په داسې شرائطو باندې موقوف ده.چه په ځانله يوسړی سره نه پوره کيږی.مثلا د امام وجود،دجماعت کيدل وغيره نو په جمعه مکلف جوول د تکليف مالا يطاق د قبيلےځنې دې.دومره خبره ضرور ده.چه دجمعې په ورځ دجمعې په اداکولو سره دماسپښين مونځ ساقطولو حکم ورکړې شوی دې.نود قدرت باوجود د جمعې نه اعراض کول اود ماسپښين مونځ اداکول جائز ،خو سره د کراهته.

په زيربحث مسئله کښې امام زفر رحمه الله فرمائی.چه جائزنه دې.هم دا د امام مالك او امام شافعی رحمهما الله قول دې.

دليله ﴿ددې حضراتو دليل دادې.چه دجمعې په ورځ دجمعې مونځ اصلاً فرض دې.او ماسپښين ددې بدل دې.ځکه دجمعې دمونځ په طرف د سعی امر شوی دې. اودکومے پورې چه جمعه فوت شوې نه وی.دماسپښين کولو نه منع کړې شوې ده.نو دجمعې مونځ مامور بالاداء کيدل او د ماسپښين ممنوع کيدل د جمعې د مونځ د فرضيت اصلی کيدو دليل دې.او دا خبره منلے شوې ده.چه دکومے پورې په اصل باندې قدرت وی.نودبدل په طرف رجوع نشی کيدې.نودجمعې په مانځه باندې دقدرت لرلو په صورت کښې د ماسپښين اداکول درست نه دی.

ځانله د ماسپښين مونځ کونکې جمعې ته حاضرېدلې شي

فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يَحْضُرَ الْجُمُعَةَ بيا که دده په رائې کښې ظاهره شوه چې جمعې ته حاضرشی فَتَوَجَّهَ إِلَيْهَا نوجمعې طرف ته متوجه شو. بَطَلَتْ صَلَاةُ ظُهْرِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله بِالسَّعْيِ إِلَيْهَا نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزدتلوسره دده د ماسپښين مونځ باطل شو وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ لَا تَبْطُلُ حَتّٰى

يَدْخُلْ مَعَ الْإِمَامِ او امام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمهما الله فرمائی چه ترهغې پورې نه باطليږی ترڅو چه امام سره نه وی شامل شوې.

حل اللغة ﴿①بدا، بدا بدوا(ف): ښکاره کيدل ②حضور: حاضريدل ③فتوجه،توجه توجها: متوجه کيدل ④بطل، بطل بطلاً (ن): باطل کيدل ⑤ سعی: کوشش کول

تشريح ﴿ **الصورتان في السعي إلي الجمعة بعد أداء الظهر** ﴿صورت د مسئلې دادې.چه يوسړی د جمعې په ورځ په خپل کورکښې د ماسپخين مونځ اوکړو.په داسې حال کښې چه تر اوسه پورې د جمعې مونځ نه وی ادا شوې.بيا ده ته خيال راغې چه د جمعې په مانځه کښې شرکت پکاردې.په دے اراده دا سړې جامع جومات طرف ته روان شو.نو ددې دوه صورتونه دی.

① که د امام سره ئې د جمعې مونځ بيامونډلو.نو د ده د ماسپخين د مونځ فرضيت باطل شو.خوپه نفلو به بدل شی.

②اوکه چرے دا سړې د جمعې دپاره روان شو.اودا هغه وخت وو.چه امام د جمعې په مانځه کښې وو.خو ده په رسيدو رسيدوکښې امام د جمعې د مانځه نه فارغ شو.اودے سړی د جمعې مونځ د امام سره بيا نه مونډلو.

مذهب ابي حنيفه ﴿① نو په دې باره کښې د امام الهمام قدوة الانام امام اعظم رحمه الله مذهب دادې.چه دکور نه په تلوسره د ده د ماسپخين مونځ باطل شو.اوس چونکه ده ته د جمعې مونځ ملاو نه شو.او ادا شوې د ماسپخين مونځ ئې باطل شو.په دې وجه د ماسپخين مونځ دے دوباره اوکړی.[1]

دليله ﴿د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه سعی يعنی د جمعې دپاره تلل د جمعې په خصائصو کښې دی.ځکه چه جُمعه يو داسې مونځ دې.چه دا هرځائې کښې نشی اداکيدې. بلکه د دې دپاره مخصوص ځائې ضروری دې.نو بغيرد سعی الی الجُمعه نه د جمعې اداکول ممکن نه دی.نو ثابته شوه.چه سعی الي الجُمعه، د جمعې سره مخصوص ده.اوهرکله چه سعی د جمعې په خصائصو کښې ده.نوسعی الی الجُمعه به د جمعې په مرتبه کښې وی.نو ځنګه چه د ماسپخين اداکولو نه پس د جمعې په مونځ کښې شريکيدل ماسپخين باطلوی. دغه شان د جمعې د مونځ په طرف سعی کول هم ماسپخين باطلوی.په شرط ددې چه کوم وخت ئې سعی کړې وی.دغه وخت امام د جمعې په مونځ کښې وو.

مذهب الصاحبين ﴿اود صاحبينو رحمهما الله مذهب دادې.چه صرف په تلوسره د ماسپخين مونځ نه باطليږی. بلکه د جمعې په مانځه کښې په شرکت سره باطليږی.يعنی د دې سړی درسيدلونه مخکښې که امام د جمعې د مانځه نه فارغ شو.نو د ده ماسپخين مونځ به باطل نشو.اوکه د امام سره د جمعې په څه حصه کښې شريك شو.نو د ده ماسپخين به باطل شی.

دليلهما ﴿د صاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه جمعې ته سعی کول په خپله مقصود نه دې.بلکه د جمعې اداکولو وسيله ده.او د ماسپخين فرض مقصود دې.په دې وجه جمعې ته سعی په نسبت د ماسپخين ادنی اوکمتر ده. او قاعده دا ده.چه اعلیٰ د ادنی په وجه نه باطليږی.په دې وجه صرف جمعې ته په

---

[1] القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٢\٣٤) وردالمحتار(١\٦٠٤) وهكذا في الهندية نقلاً عن القول الراجح (١\١٤٥)-

سعي باندې د ماسپخين مونځ نه باطليږي . اوجمعه چونکه دماسپخين نه اعلى او اوچته ده .څکه جمعه دماسپخين مونځ باطلوي.

الجواب عنه >ددې په خلاف ئې كه دجمعې دمانځه نه دفراغت نه پس سعى اوكړي.نو دا سعى ماسپخين نه باطلوي.څکه چه دا سعى دجمعې په مرتبه كښې نه ده.او دجمعې په مرتبه كښې څکه نه ده چه دا د جمعې په طرف سعى نه ده.

ثمرة الإختلاف بين المذهبين>د امام صاحب او دصاحبينو رحمهم الله په مينځ كښې ثمره داختلاف به په دې صورت كښې ظاهريږي.چه يوسړى په خپل كوركښې دماسپخين اداكولونه پس دجمعې دپاره هغه وخت لاړو،چه امام دجمعې په مانځه كښې مشغول وو.خو دده د رسيدلو پورې امام دجمعې نه فارغ شو.نود امام صاحب رحمه الله په نيز چونكه سعى الى الجمعه سره ماسپخين باطل شوې دې.په دې وجه دماسپخين اعاده به كوي.او دصاحبينو رحمهما الله په نيز چونكه ماسپخين نه دے باطل شوې.په دې وجه به د ماسپخين اعاده نه كوي.

د جمعې نه وړاندې په ښار كښې دننه د معذورينو د ماسپخين جماعت كول

وَيُكْرَهُ أَنْ يُصَلِّي الْمَعْذُورُ الظُّهْرَ بِجَمَاعَةٍ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اود معذور دجمعې په ورځ په جماعت سره دماسپخين مونځ اداكول مكروه دى وَكَذٰلِكَ أَهْلُ السِّجْنِ دغه شان د قيديانو هم،

حل اللغة >①مصر جمع امصار: ښار ②سجن: قيد ، قيدى ③اخلال: خيال كول، كوتاهى كول ④ جامعة: جمع كونكې، يونيورسټى ته هم وئيلې شى ⑤يقتدى، اقتدى اقتداءً: اقتداكول، پيروى كول]

تشريح> **كراهة جماعة المعذورين يوم الجمعة**> مسئله داده.چه معذور خلق مثلاً غلام، مسافر،د جمعې په ورځ په ښار كښې دننه دجمعې مونځ نه مخكښې يا وروسته كه په جماعت سره دماسپخين مونځ اوكړي.نودا عمل مكروه دې.هم دغه شان د قيديانو دجمعې په ورځ په جماعت سره دماسپخين مونځ كول مكروه دى.

دليله> دجمعې په ورځ ماسپخين په جماعت سره ادكولوكښې په ظاهرى صورت د جمعې معارضه او مقابله معلوميږى.

په جمعه كښې د امام رالاندې كولو حكم

وَمَنْ أَدْرَكَ الْإِمَامَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اوچاچې امام دجمعې په ورځ بيا موندلو صَلّٰى مَعَهُ مَا أَدْرَكَ نوده سره دے اوكړي.هغه چې كوم ده اوموندلو وَبَنٰى عَلَيْهِ الْجُمُعَةَ او هم په دے دے جمعه بناء كړي

حل اللغة >①ادرك، ادرك، ادراكًا: موندل ②صلى، صلى صلاةً: مونځ كول، دعا كول

تشريح> **إدراك الإمام في الجمعة**>مسئله داده.كه چا دجمعې په ورځ امام دجمعې په مانځه كښې بياموندلو او ددويم ركعت په ركوع كښې امام سره شريك شو.نو په اتفاق سره دے دا سرې د امام سره دجمعې مونځ ادا كړي.او يو ركعت كوم چه فوت شو.دادے د امام دسلام ګرځولونه پس پوره كړي.ددے دا مونځ به دجمعې مونځ شمارلے شي.د ماسپخين نشى شمارلې.

دليله>دليل دادے چه نبى ﷺ فرمائى [ما ادركتم فصلوا وما فاتكم فاقضوا] په حديث كښې دننه دصاحب

حديث مراد دي چه [ما فاتكم من صلوة الامام] خكه چه د [ما ادركتم فصلوا] معنى ده [من صلوة الامام][1]
يعنى د امام د مونځ چه كومه حصه بيامومئ هغه كوئ.اوچه كومه حصه فوت شوه دهغې قضاء
راوړئ.يعنى د امام دسلام اړولو نه پس ئې كوئ.دا خبره ښكاره ده چه د امام د مونځ كومه حصه فوت
شوې ده.هغه جمعه ده.نو مقتدى به هم جمعه كوى.بل مونځ به نه كوى.

تشهد يا سجده سهو كښې دامام رالاندې كول

وَإِنْ أَدْرَكَهُ فِي التَّشَهُّدِ أَوْفِي سُجُودِ السَّهْوِ اوكه امام په تشهد يا په سجده سهو كښې بيا مومى. بَنَى عَلَيْهَا الْجُمُعَةَ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَأَبِي يُوْسُفَ نود شيخينو رحمهما الله په نيز به په دې باندې دجمعې بناء كوى.

حل اللغة ⟨ ① ادرك، ادرك ادراكا: موندل

تشريح ⟨ **المذهبان في إدراك أقل الجمعة** ⟨ ①صورت دمسئلې دادې.كه چا امام دجمعې په مانځه كښې په
تشهد كښې بيا موندلو.يا ئې په سجده كښې بيا موندلو.نود شيخينو رحمهما الله په نيز به په دا سرې
دجمعې مونځ پوره كوى.[2]

دليلهما ⟨دشيخينو رحمهما الله دليل دادې.چه داسړې په دے حالت كښې دجمعې موندونكے دې.تردے چه ده
دپاره دجمعې نيت كول شرط دې.كه دجمعې نيت ئې اونكړو.نودده اقتداء نه صحيح كيږى،حاصل دا
چه په تشهد يا په سجده سهو كښې د امام سره شريك شو.او جُمعه ئې اوموندله.او دجمعې موندونكے
هم جُمعه اداكوى.ماسپخين نه ادا كوى، اودجمعې چونكه دوه ركعته دى.خكه به دا سرې دوه ركعته
كوى. څلور ركعته به نه كوى،

تائيد مذهب الشيخين رحمهما الله ⟨دشيخينو رحمهما الله دمذهب تائيد د ابوهريره رضی اللہ عنہ ددې حديث نه هم كيږى. [قال
قال رسول الله ﷺ اذا اتيت الصلوة فلا تأتوها تسعون وأتوها وعليكم السكينة فما ادركتم فصلوا وما فاتكم فاتموا وفي لفظ
فاقضوا] يعنى چه كله دجمعې مونځ اودريږى.نو هغه طرف ته په منډه مه راځئ.بلكه په آرام او په سكون
سره راځئ.نوچه څه تاسو د امام سره اوموندلو،هغه كوئ.اوچه څه فوت شو.دهغې قضا راوړئ.يعنى د
امام دسلام اړولو نه پس هغه پوره كوئ.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ رحمہ اللہ إِنْ أَدْرَكَ مَعَهُ أَكْثَرَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ او امام محمد رحمہ اللہ فرمائى.كه د امام سره ئې د دويم ركعت اكثره حصه بيا موندله بَنَى عَلَيْهَا الْجُمُعَةَ نو په دې به جُمعه بناء كوى وَإِنْ أَدْرَكَ مَعَهُ أَقَلَّهَا اوكه د هغه سره ئې د دويم ركعت كمه حصه ئې اوموندله بَنَى عَلَيْهَا الظُّهْرَ نو په دې به د ماسپخين بناء اوكړى

[1]) من حديث أبي هريرة رضی اللہ عنہ اخرجه البخارى في الأذان باب ٢، والجمعة باب ١٨ ومسلم في المساجد ومواضع الصلاة رقم ١٥١، ١٥٥ وأبوداود في الصلاة باب ٥٤ رقم ٥٧٢ والترمذى في الصلاة باب ١٢٧ والنسائى في الإمامة باب ٢ وابن ماجه في المساجد باب ١٤ والدارمى في الصلاة باب ٥٩ ومالك في الصلاة رقم ٤ واحمد في المسند (٢/٢٣٨)۔

[2]) القول الراجح هو قول الشيخين رحمهما الله كذا في فتح القدير(٢\٣٦) وردالمختار(١\٦٠٥) وبدائع الصنائع (١\٢٦٧) والهندية (١\١٤٩) والفقه الإسلامى (٢\٢٧٣) نقلاً عن القول الراجح (١\١٤٧)۔

تشريح > په زيربحث مسئله كښې امام محمد رحمه الله فرمائي كه ده اكثره حصه د دويم ركعت بياموندله.مثلاً ددويم ركعت په ركوع كښې امام سره شريك شو.نو د جمعې مونځ دے پوره كړي.اوكه ددويم ركعت اكثره حصه ئې اونه موندله.مثلاً د ركوع نه پس امام سره شريك شو. نود ماسپخين مونځ دے پوره كړي.هم دا قول د امام مالك او امام شافعي رحمهما الله دي.

دليله > د امام محمد رحمه الله دليل دادي.چه په تشهد يا په سجده سهوه كښې امام سره شريكيدونكے د ده مونځ من وجه جُمعه ده او من وجه ماسپخين دي.جمعه خوځكه ده چه د جمعې نيت كول ضروري دي.او ماسپخين ځكه چه دده په حق كښې د جمعې بعضې شرطونه مثلاً دجماعت فوت كيدل،ځكه چه د امام دسلام اړولو نه پس دا سړې يواځې د جمعې مونځ اداكوي.پس ددې سړي مونځ چه هركله په يو اعتبارسره جمعه ده او په بل اعتبارسره ماسپخين،نو د ماسپخين اعتبارسره به څلور ركعته كوي.او د جمعې په اعتبار سره په دوو ركعتو په يقين سره كيني.اوچونكه په آخرو دوو ركعتوكښې د نفلو احتمال دي. په دې وجه به دے كښې دسورة فاتحه نه علاوه دسورت قرات هم كوي.

الجواب عنه > د امام محمد رحمه الله د احتياط په نظر سره جُمعه او ماسپخين په دواړو باندې عمل كول.نو دا غلط دي.ځكه چه جُمعه او ماسپخين دوه مختلف مونځونه دي.نو په دې كښې د يود بل په تحريمه باندې بناء كول څنګه درست كيدے شي.

تائيد مذهبه >د امام محمد رحمه الله دمذهب تائيد شارح د نقايه ملاعلى قاري رحمه الله پيش كړي دابوهريره رضي الله عنه حديث نه هم كيږي.دحديث الفاظ دادي [من ادرك الركوع من الركعة الاخيرة يوم الجمعة فليضف اليها اخرى ومن لم يدرك الركوع من ركعة الاخيرة فليصل الظهر اربعاً] يعنې چاچه د جمعې په ورځ د دويم ركعت ركوع بياموندله نو دے سره دے دويم ركعت ملاؤ كړي.او چاچه د دويم ركعت ركوع او نه موندله.نو د ماسپخين څلور ركعته دے اوكړي.

الجواب عنه > خود دې حديث جواب دا دې چه دا محدثينو ضعيف ګرځولې دې.(عنايه)

د خطبې دپاره د امام د راوتلو نه پس د نفلو حكم

وَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اوچې كله د جمعې په ورځ امام راوځي **تَرَكَ النَّاسُ الصَّلَاةَ وَالْكَلَامَ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهِ** نوخلق دے مونځ هم پريږدي.اوخبرے هم،تردے چې امام د خطبې نه فارغ شي

حل اللغة > ①خرج، خرج خروجا(ن): وتل ②ترك، ترك تركا (ن): پريخودل ③يفرغ،فرغ فراغة (ن): اوزګاريدل

تشريح > **الكلام بعد خروج الإمام** > ①مسئله داده.چه دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د جمعې په ورځ چه كله امام د خطبې وركولودپاره دخپلې حجرے نه راوځي.او منبر طرف ته روان شي.نوخلق به نه نفل كوي اونه سنت.اونه به خبرے اترے كوي.تردے چه امام دخطبې نه فارغ شي.البته دقضاء مونځ اجازت شته.دغه شان د اصح قول په بناء باندې دتسبيح ونيلو اجازت هم شته.بعضو ونيلي دي.چه مطلقاً كلام ممنوع دي.خواه كه تسبيح وي يا غير تسبيح وي.[1]

[1] القول الراجح هو قول ابي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(۲\۳۷) والدرالمختار(۱\۶۰۶) وشرح الوقاية (۱\۲۰۱) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱۴۸)۔

دليله > دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل د ابن عمر او ابن عباس رضي الله عنهما روايت دے [النبي ﷺ قال اذا خرج الامام فلاصلوة ولا كلام] (1) په دې حديث كښې دخطبه نه مخكښې او د خطبه نه پس هيڅ تفصيل نشته .په دې وجه د امام دخطبې د پاره دحجرے نه راوتلو نه پس مونځ او خبرے ممنوع گرځولې شوی دی. دخطبے شروع كولو نـه مخكښې هم او دخطبے ختميدو نـه پـس د تكبيـر نـه مخكښې هـم د مـونځ او خبرو ممانعت شوېدې.

وَقَالَا: لَا بَأْسَ بِأَنْ يَتَكَلَّمَ اوصاحبينو رحمهما الله وئيلې دی.چې كله امام بهر ته راوځی.نودخطبه شروع كولو نه مخكښې په كلام كولو كښې څه باك نسته مَالَمْ يَبْدَأْ بِالْخُطْبَةِ ترڅوهغه شروع نه وی كړې په خطبه كښې

حل اللغة > ① لاباس: هيڅ باك نشته ② يخطب، خطب خطبة (ن): خطبه وركول ③ تمتد، امتد امتداداً: اوږديدل ④ فاشبه، اشبه اشباهاً: په شان كيدل]

تشريح > صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه د خطبے شروع كيدونه مخكښې اودخطبے نه پس د تكبير نه مخكښې په كلام اوخبرو كولو كښې هيڅ باك نشته .البته په دې اوقاتو كښې د مونځ كولو اجازت نشته.

دليلهما > دصاحبين رحمهما الله دليل دا دې.چه كلام خو فی نفسه مباح دې.خود خطبے په وخت كلام كول په خطبه كښې خلل پيداكوی.حالانكه دخطبے اوريدل فرض دی.نوچونكه كلام په فرض استماع (اوريدو) كښې خلل پيدا كوی.څكه عين د خطبے په وخت كلام كول ممنوع اوگرځولې شو.اوچونكه د خطبے شروع كولونه مخكښې اودخطبے ختميدو نه پس د تكبير نه مخكښې د هيڅ څيز اوريدل فرض نه دی.په دې وجه دے دوارو وختونو كښې كلام خلل نه پيداكوی.او چه خلل پيدا نه پيدا كيږی.نو په دې دوارو وختونو كښې كلام كول هم ممنوع نه دی.

وجه عدم جوازالصلاة عندهما > پاتې شودا چه په دې دوارو وختونوكښې دمونځ كولو اجازت ولې نشته .نوددې وجه دا ده.چه مونځ كله اوږديږی ،مثلاً امام دحجرے نه راوځی.او منبر طرف ته روان شی.چا په دغه وخت كښې سنت شروع كړل.نو امام منبر ته اوختلو او خطبه ئې شروع كړه.او ددې صاحب سنت ختم نشو.نو په دې صورت كښې خطبه اوريدلوكښې خلل واقع شو.څكه مونږه په دې دوارو وختونوكښې دمونځ كولو اجازت نه دے وركړې.البته د خبرو كولو اجازت شته.

الجواب عنه > خو د دې نه جواب دا دې.چه دمونځ په شان كله كلام هم اوږديږی.څنگه چه د خطبے شروع كيدو نه مخكښې اود خطبے ختميدو نه پس،د تكبير نه مخكښې مونځ مكروه دې.دغه شان په هغه وختونو كښې كلام كول هم مكروه دې.

په اولنی اذان د خرڅولو او اخستلو ممانعت

وَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُونَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ الْأَذَانَ الْأَوَّلَ اوچې كله د جمعې په ورځ اذان كونكښې رومبے اذان

---

(1) خرجه الزيلعى رحمه الله مرفوعاً وقال البيهقى رفعه وهم فاحش إنما هو من كلام الزهرى إنتهى ثم قال ورواه مالك في المؤطا (أى برواية الشيباني (ص،۸۷) رقم (۲۲۸) عن الزهرى قال خروجه يقطع الصلاة وكلامه يقطع الصلاة،نصب الراية ۲/۲۱۰)۔

اوکړی. تَرَكَ النَّاسُ الْبَيْعَ وَالشِّرَاءَ نوخلق دے اخستل خرڅول پریږدی وَتَوَجَّهُوا إِلَى الْجُمُعَةِ اود جمعې طرف ته دے متوجه شی

حل اللغة ⟨۱⟩اذن، اذن تاذینا: اذان ورکول ⟨۲⟩ترك،ترك تركا(ن): پریخودل ⟨۳⟩بیع: خرڅول ⟨۴⟩توجهوا، توجه توجهاً: متوجه کیدل

تشریح ﴿ حرمة البيع بالأذان ﴾ مسئله دا ده.چه اذان کونکی چه کله رومبے اذان اوکړی.نوخلق دے اخستل خرڅول پریږدی.اوجمعې طرف ته دے متوجه شی.

دلیله ﴿ دلیل د الله تعالی ارشاد دے: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾

فَإِذَا صَعِدَ الْإِمَامُ الْمِنْبَرَ جَلَسَ اوچې کله امام منبرته اوخیژی. اوکینی وَأَذَّنَ الْمُؤَذِّنُونَ بَيْنَ يَدَيِ الْمِنْبَرِ نواذان کونکبني دے دمنبر مخے ته اذان ورکړی. ثم يخطب الامام واذا فرغ من خطبة اقاموا الصلوة بیا به امام خطبه اووائی اوکله چه د خطبې نه فارغ شی نو مونځ به اوکړی.

تشریح ﴿ وجه صيغة الجمع المؤذنون في القدوری ﴾ صاحب د قدوری رحمه الله مؤذن دجمع په صیغه سره ذکر کړی دې.ځکه چه دجمعې د اذان په سلسله کښې عادت دا وو.چه ډیرو مؤذنینو به اذان کولو.چه ددوی آوازونه دښار اطرافو او ارخونو ته اورسی.

تشریح ﴿ حرمة البيع بالأذان الثاني ﴾ پاتې شوه داخبره چه هغه کوم یو اذان دې.چه دهغې نه پس خرڅول اخستل حرام اوسعی واجبیږی. نو په دې باره کښې اختلاف دې.⟨۱⟩ امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه د بیع حرمت اوسعی الی الجُمعه په وجوب کښې هغه اذان معتبردې.کوم چه د امام دحجرے نه د راوتلو نه پس د منبر مخے ته کیږی.

دلیله ﴿ ځکه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې اوپه عهد صدیقی او په عهد فاروقی کښې دجمعې دپاره هم دا اذان اصل وو.کله چه د دریم خلیفه حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کښې خلق زیات شول. نو اولنے اذان ایجاد کړې شو.[۱] نو په قرآن پاك کښې چه دکومے نداء ذکرشویدې.دهغې نه اذان ثانی مراد دې. اذان اول مراد نه دے،

حرمة البيع بالأذان الأول ﴿ ⟨۲⟩حسن ابن زیاد رحمه الله د ابوحنیفه رحمه الله نه روایت کړې دې.فرمائی چه حرمت د بیع اوسعی الی الجُمعه کښې اولنے اذان معتبردې.

دلیله ﴿ دلیل دادې.که یو سړې په دویم اذان باندې اخستل خرڅول پریږدی.اوسعی الی الجُمعه اوکړی .نو د جمعې نه مخکښې سنت به فوت شی.د خطبے اوریدل به فوت شی.اوکه کور د جامع مسجد نه لرے وی.نوجمعه فوت کیدے شی.په دې وجه اولنے اذان معتبردې.په شرط ددې چه د زوال نه پس اوکړې شی.ځکه چه مقصد د اعلان ددې نه حاصل شویدې.

....

[۱] من حديث سالب بن يزيد رضی الله عنه اخرجه البخاری في الجمعة باب ۲۱ وأبوداود في الصلاة باب ۲۱۹ رقم ۱۰۸۷ والترمذی في الجمعة باب ۲ وابن ماجه في الإقامة باب ۹۷ رقم (۱۱۳۵)۔

د اخترونو د مونځونو بيان

بَابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ

ترجمه> (دا) باب د وړوکي اودلوئ اختر (د احکامو) په بيان کښې دي.

تشريح> الربط بما قبله> د جمعې اوداخترونوپه مونځ کښې مناسبت دادې.چونکه دواړه د ورځې مونځونه دي. نودواړه په کثير جماعت سره ادا کولې شي.په دواړو کښې دننه جهري قرات کولې شي. اوهم هغه شان چه کوم شرطونه په جُمعه کښې دي.هم هغه شرطونه داخترونو دي.سوا دخطبې نه.ځکه چه خطبه دجمعې دمونځ دپاره شرط ده.خود اخترونو دپاره شرط نه ده.او په چاچه جُمعه واجب وي .په هغه باندې د اخترونو مونځ هم واجب دې.

الوجهان لتسمية العيد> ①داختر نوم عيد په دې وجه کيخودې شو.چه په دې کښې الله تعالى په خپلو بنده ګانو باندې د احسان اعاده فرمائي. ②دويمه وجه داچه دعاد يعود معنى عود کول او واپس کيدل دي. چونکه دا مقدسه ورځ هرکال عود کوي او راواپس کيږي.په دې وجه ددې نوم ،،عيد،، (اختر) کيخودې شو،

وجه تقديم الجمعة علي العيدين> ①چونکه جُمعه د فرضيت په وجه سره قوي ده.او د اخترونو مونځ د عدم فرضيت په وجه ددې په مقابله کښې اضعف دې.په دې وجه دجمعې احکام مخکښې ذکرشول.اود اخترونو احکام روسته. ②يا دا چه جمعه کثيرالوقوع ده.په دې وجه جُمعه د اخترونو د باب نه مقدم کړې شوې ده.

وجه إظهار يوم العيدين> ① په هرقوم کښې يوه نه يوه ورځ داسې ضرور وي.چه په هغې کښې عام طورخوشحالي کولې شي.بنائسته کپړې اغوستې شي.او ښه خوراکونه خورلې شي.لکه چه په حديث کښې دي [لكل قوم عيد وهذا عيدنا] د هرقوم يو اختر وي او دا زمونږ اختر دې. ② داهغه ورځ ده چه کله خلق دخپلو روژو نه فارغ شي او يو قسم زکاة ادا کوي.نو په دغه ورځ دوي دپاره دوه قسمه خوشحالئ جمع کيږي.طبعي او عقلي،طبعي خوشي خوځکه حاصليږي.چه د روژې دسخت عبادت نه فارغ شي.اومحتاجو ته صدقه ملاويږي.اوعقلي خوشحالي داده.چه الله تعالى دفرض عبادت اداکولو دوی ته توفيق ورکړو.او ددوی اهل وعيال ته دے کاله پورې د باقي ساتلو په دوی باندې انعام اوکړو.په دې وجه ددې خوشحاليانو د اظهار حکم دې.

أصل وجوبهما> دوړوکي اخترمونځ د ټولونه اول په اوله هجرئ کښې شوې دې.(شرح نقايه) داخترونو دمونځ په مشروعيت کښې اصل د ابوداؤد روايت دے [عن انس رضي الله عنه قال قدم رسول الله ﷺ المدينة ولهم يومان يلعبون فيهما فقال ما هذان اليومان قالوا كنا نلعب فيهما في الجاهلية فقال رسول الله ﷺ ان الله قد ابدلكم بهما خيرا منهما يوم الأضحى ويوم الفطر] انس رضي الله عنه فرمائي چه دمدينې خلقو دپاره دوه ورځې دلويو وې. چه کله رسول الله ﷺ مدينې منورې ته تشريف راوړلو.نو ونې فرمائيل الله تعالى ستاسو دپاره ددې دواړو نه بهترې دوه ورځې په بدل کښې درکړې. يو لوئ اختر او بل وړوکے اختر.

حكمة مشروعية العيدين> د عباداتو په وختونو مقررکولوکښې دا هم حکمت دے چه په هغه وخت کښې انبياء عليهم السلام دالله تعالى کوم طاعت اوعبادت کړې وي.او الله تعالى هغه قبول کړې وي. د

هغې وخت په راتلوسره د هغوی د قربانۍ یاد تازه کولو دپاره د هغې عبادت طرف ته رغبت او شوق وی.نودا دلوے اختر ورځ هغه ورځ ده.چه حضرت ابراهیم ﷺ خپل خوږے حضرت اسماعیل ﷺ د الله تعالی په حکم د الله تعالی په دربارکښې د ذبح کولو او د پیش کولو اراده کړې وه.اوالله تعالی د حضرت اسماعیل ﷺ د وجود په بدله کښې یوه عظیمه ذبیحه ورکړله.په دې وجه په لوے اخترکښې قربانی په دې مصلحت سره مقررکړې شوه.چه په دې کښې د ملت ابراهیمی د امامانو (حضرت ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام) حالات اوددوی جان ومال دخدائې تعالی په فرمانبردارئ کښې خرچ کولو او دهغوی د انتهائی درجے صبرکولو یاد تازه کولو خلقو ته عبرت ورکړې شوې دې.اودغه شان د حاجیانو سره تشبیه او ددوی عظمت پیدا شی.اوپه کوم کار کښې چه هغه حاجیان مصروف وی.هغه طرف ته نورو خلقو ته ترغیب ورکړې شی.(المصالح العقلیه)

وجوب صلاة العیدین > د قدوری رحمه الله د بیان مطابق د اخترمونځ واجب دې.ځکه چه قدوری فرمائی چه د اختر مونځ په هغه سړی باندې واجب وی.په چا باندې چه جمعه واجب وی.

دلیل وجوبها > داخترونو په مونځ باندې نبیﷺ بغیر دپریخودلونه مواظبت اوهمیشوالې کړې دې. ځکه چه د نبی کریم ﷺ همیشوالې د وجوب دلیل دې.([1])

روایة سنیة صلاة العدین > دجامع صغیر د بیان مطابق د اخترمونځ سنت دې.ځکه چه امام محمد رحمه الله په جامع صغیرکښې وئیلی دی.که په یوه ورځ کښې دوه اخترونه جمع شی. یعنی دجمعې په ورځ ووکے اختر یا لوے اختر راشی.نو اولنے یعنی د اختر مونځ مسنون او دجمعې مونځ به فرض وی.

تشریح > **دلیلها** > د مسنونینت دلیل دادې.چه د اهل نجد نه یو اعرابی سړې پریشان حاله راغې.دده د سفر مقصد د اسلام په باره کښې معلومات حاصلول وو.نبیﷺ د اسلام د یو جزء په بیان کښې فرمائی چه په شپه ورځ کښې پنځه مونځونه دی.ددې په اوریدو سره هغه اوونیل [هل علی غیرهن] آیا په ما باندې ددې پنځو مونځونو نه علاوه څه مونځ شته دې.نبیﷺ په جواب کښې ارشاد اوفرمائیل. [لاالا أن تطوع] ([2]) نه، البته دا چه د نفلو په طور ئې کوې.دے حدیث نه معلومیږی.چه د پنځه مونځونو نه علاوه باقی ټول مونځونه غیر فرض دی.یعنی نفل دی.نود اخترونو دمونځ عدم وجوب ثابت شو.

الجوابان عنه > ددې جواب دادې.چه سوال کونکې د کلی اوسیدونکے وو.او په کلی والو باندې د اختر مونځ واجب نه وی.ځکه نبیﷺ دده دحال مطابق جواب ارشاد اوفرمائیل. ②دویم جواب دا ورکړې شوې دې.چه ډیره ممکن ده.چه د نبیﷺ دا ګفتګار د اخترد مونځ د وجوب نه وړاندې وی.د اختر دمونځ په واجب کیدو باندې د الله تعالی قول [وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ] (الایه)هم دلالت کوی.ځکه چه د [وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ] تفسیر د اخترونو په مونځ سره شوې دې.او دا د امر صیغه ده.چه ددې موجب وجوب دې.

[1]) قال الزيلعي رحمه الله هذا معروف اى مواظبة النبى ﷺ على صلاة العيدين ،،نصب الراية ٢/٢١٦)

[2]) تقدم تخريجه في أكثرمن موضع)۔

تاويل قول محمد في الجامع الصغير> پاتې شود امام محمد رحمه الله په جامع صغير کښې د اختر مونځ ته سنت ونيل.نو ددې مطلب داديې.چه د اختر دمونځ وجوب په سنت سره ثابت دې.دا مطلب هرگز نه دې.چه د اختر مونځ سنت دې.

د اخترونو مسنون اعمال

> **وَيُسْتَحَبُّ فِي يَوْمِ الْفِطْرِ أَنْ يَطْعَمَ الْإِنْسَانُ شَيْئًا قَبْلَ الْخُرُوجِ إِلَى الْمُصَلّٰى** مستحب دا دی.چې د ورو کښې اختر په ورځ انسان عيدگاه ته دتلو نه مخکښې څه څيز أوخرى **وَيَغْتَسِلَ** او غسل اوکړی **وَيَتَطَيَّبَ** خوشبو اولگوی

حل اللغة> ①يستحب، استحب استحبابا: مستحب کيدل ②يطعم، طعم طعماً: خوراك خوړل ③خروج: وتل ④مصلى: عيدگاه ⑤يغتسل، اغتسل اغتسالاً: غسل کول

تشريح> **مسنونية الأكل قبل الصلاة في عيد الفطر**> د اختر د ورځې په مستحباتو کښې يو دادی.چه عيدگاه ته د تلو نه مخکښې څه خوږ څيز خوړلو.

دليله> امام بخاری رحمه الله د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت کړي دي. [قال كان رسول الله ﷺ لايغدو يوم الفطر حتى يأكل تمرات ويأكلهن وترا] [1] حضرت انس رضي الله عنه فرمائي.چه رسول الله ﷺ به د ورو کی اختر په ورځ (دا اختر مانځه) دپاره تشريف نه اوړلو.ترد ے چه طاق شمير څوارے به ئې نه وے خوړلې .او په ترمذی او ابن ماجه کښې دی [ان رسول الله ﷺ كان لايخرج يوم الفطر حتى يأكل وكان لايأكل يوم النحر حتى يصلى] يعنی د وړو کی اختر په ورځ به بغير دڅه خوراك نه نۀ وتلو.او د لوے اختر په ورځ به بغيردمونځ کولو نه څه نه خوړل.

سنية الغسل يوم العيد> دويم مستحب عمل غسل دي.

دلائله> ① لکه چه ابن ماجه د فاکِه ابن سعد حديث روايت کړي دي.[ان رسول الله ﷺ كان يغتسل يوم الفطر ويوم النحر ويوم العرفة] يعنی رسول الله ﷺ د ورو کی اختر په ورځ، د لوے اختربه ورځ اودعرفې په ورځ غسل کولو.

② عقلی دليل دادي.چه د اخترونو ورځ دخلقو د راجمع کيدو ورځ وی.په دې وجه دےکښې غسل کول.او خوشبولگول مسنون دی.لکه څنگه چه د جمعې په ورځ دادواړه اعمال مسنون دی.

> **وَيَلْبَسَ أَحْسَنَ ثِيَابِهٖ** اوبه خپلو جاموکښې دے ښے جامے واغوندی

تشريح> **سنية لبث الثياب الجديدة**> دريم مستحب عمل دادي.چه په خپلو موجوده کپړوکښې چه کومے ښے او نوے وی.هغه دے واغوندی.

---

[1]، قال الزيلعي رحمه الله هما حديثان ،نصب الراية ۲/۲۱۷) وخرجت للأكل يوم العيد في ،،سنن الصلاة،، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَغْدُو يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَأْكُلَ تَمَرَاتٍ وَقَالَ مُرَجَّا بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي أَنَسٌ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَأْكُلُهُنَّ وِتْرًا) رواه البخاري في العيدين باب الأكل يوم الفطر قبل الخروج رقم ۹۰۰) وللغسل يوم العيد عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْتَسِلُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَيَوْمَ الْأَضْحَى اخرجه ابن ماجه في الصلاة باب الإغتسال في العيدين رقم ۱۳۰۵ رجاله ثقات إلا جبارة بن المغلس وحجاج بن تميم فإنهما ضعيفان)۔

دليله> ځکه چه د نبی کریم ﷺ د فنك يا ورئ چوغه وه، اختر وغيره موقع باندې به نبیﷺ دا اغوستله.[1] فنك يو ښناور دې.چه دده د څرمنې پوستکې ډير ښه وی.په يو بل روايت کښې دی. [عن جابر بن عبدالله ﷺ قال كان النبي ﷺ يرد احمر يلبسه في الجمعة والعيد] جابر بن عبدالله ﷺ فرمائی.چه دنبیﷺ دکيرخو والا سُور يمنی څادر وو.چه دا به نبیﷺ په جُمعه اواختر وغيره کښې اغوستلو.

د صدقة الفطر(سرسايه) ورکولو وخت

وَيَتَوَجَّهُ إِلَى الْمُصَلَّى او عيدګاه طرف ته متوجه شي

حل اللغة >① يتوجه، توجه توجها: متوجه کيدل ② مصلى: عيدګاه ③ طريق جمع طرق: لاره ④ ورد ،ورد ورودا:وارد کيدل، راتلل]

تشريح> **إستحباب المشي إلي المصلي**>د صدقه فطر اداکولو نه پس دے عيدګاه طرف ته متوجه شي . ښکاره دے وی.چه عيدګاه ته پيدل تلل مستحب دی.ځکه چه حضرت عمر ﷺ فرمائيلی دی. عيدګاه ته پيدل تلل سنت دی.اوکه څه خلق دځپل ضعف د وجه عيدګاه ته د تلو نه معذوروی.نو د وخت امام دے څوك مقررکړی.چه په ښار کښې دننه دوی ته په جومات کښې مونځ ورکړی.ځکه چه روايت کړې شوېدې.چه [ان علياً لما قدم الكوفة استخلف من يصلي بالضعيف صلوة العيدين في الجامع وخرج إلى الجبانة مع خمسين شيخا يمشي ويمشون] يعنی حضرت علی ﷺ چه کله کوفې ته تشريف يوړلو.نويو داسې سړې ئې خپل خليفه مقرر کړو.چه کمزورو خلقو ته په جومات کښې د اخترونو مونځ ورکړی.او دوی په خپله ماشمانو او بوډاګانو سره صحراطرفته اووتل.دوی په خپله هم پياده وو.او دغه پنځوس سړی ورسره هم پياده روان وو.

وَلَا يُكَبِّرُ فِي طَرِيقِ الْمُصَلَّى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اود ابوحنيفه رحمه الله په نيز به د عيدګاه په لاره کښې تکبير نه وائی.

تشريح> **الجهر بالتكبيرفي الطريق**> په دې مسئله کښې اختلاف دې.چه د وروکی اختر په ورځ عيدګاه ته د تلو په وخت په لاره کښې تکبير په اوچت آواز سره وائی او که په ورو آواز ،حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی.چه په اوچت آواز سره دے نه وائی.[2]

دليله>دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه په ذکر کښې دننه خو اصل اخفاء ده.لکه چه د باری تعالی ارشاد دے﴿ وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ ﴾او دنبیﷺ ارشاد دې. [خيرالذكر الخفي

---

[1]) غربه الزيلعي رحمه الله وقال روى البيهقي في سننه (اى في السنن الكبرى (۳/۲۹۷) رقم ۶۱۳۷) من طريق الشافعي ..... ان النبيﷺ كان يلبس برد حبرة في كل عيد، وروى الطبراني في معجمه الوسيط .....(كما عزاه الهيثمي في المجمع الزوائد (۲/۱۹۸) إلى معجم الطبراني)عن ابن عباس قال كان رسول اللهﷺ يلبس يو العيد بردة حمراء ، واخرج البيهقي في ،،المعرفة،، ..عن جابر بن عبدالله ﷺ قال كان للنبيﷺ بردا حمراء يلبسه في العيدين والجمعة (نصب الراية ۲/۲۱۸)_

[2]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في رد المحتار(۱\۶۱۴) والخانية (۱\۸۸) والهندية (۱\۱۵۰) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱۴۹)_

[وغيرالرزق ما يكفى] بنه ذكر، پټ ذكر دي. او ښه رزق هغه دے چه دكفايت په اندازه وي.نه د ضرورت نه زيات او نه كم وي.

وَيُكَبِّرُ عِنْدَهُمَا اود صاحبينو رحمهما الله په نيز به تكبير وائي

تشريح صاحبين رحمهما الله فرمائي.چه په اوچت آواز دے وائي.

دليلهما د صاحبينو رحمهما الله دليل په لوے اختر باندې قياس دې.يعنى ځنګه چه په لوے اختركښې تكبير په اوچت آوازسره مشروع دې.دغه شان په وړوكى اختركښې هم په اوچت آواز سره مشروع دې.

الجواب عنه په ذكر كښې اصل اخفاء ده.خو دلوے اختر په ورځوكښې په جهر سره تكبير باندې خلاف قياس نص وارد شوې دې.الله تعالى فرمائي ﴿وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ﴾ مفسرينو فرمائيلى دى .چه دلته د لوے اختر په ورځوكښې تكبيرجهري مراد دې.او وړوكے اختر د لوے اختر په معنى كښې هم نه دې.ځكه چه په لوے اختر د حج په اركانوكښې يو ركن سره مخصوص دې. يعنى په دغه ورځ كښې بعضې د حج اركان اداكولې شي.او په وړوكى اختر كښې دا خبره نشته.نوهركله چه وړوكے اختر د لوے اختر په معنى كښې نه دې.نو وړوكے اختر په لوے اختر باندې قياس كول هم مناسب نه دى.

په عيدګاه كښې دمونځ نه مخكښې د نفلو كولو حكم

وَلَا يَتَنَفَّلُ فِي الْمُصَلّٰى قَبْلَ صَلٰوةِ الْعِيْدِ اوداختردمونځ نه مخكښې به په عيدګاه كښې نفل نه كوي.
وَيَتَنَفَّلُ بَعْدَهَا او نفل بيا وروستو كولې شي.

حل اللغة ①لايتنفل،تنفل، تنفلاً: نفل كول ②قبل: وړاندې

تشريح **كراهية الصلاة بعدالعيد مطلقاً** مسئله،داخترد مونځ نه مخكښې نفل كول مكروه دى په عيدګاه كښې هم اود عيدګاه نه علاوه په نوروځايونوكښې هم، دامام دپاره هم مكروه دى.اودمقتدى دپاره هم،

دليله دابن عباس رضي الله عنهما قول دے [ان رسول الله ﷺ خرج فصلى بهم العيدلم يصل قبلها ولا بعدها](1) يعنى نبى ﷺ د كور نه رابهرشو.خلقو ته ئې د اختر مونځ وركړو.نه ئې د اختر نه مخكښې مونځ اوكړو.او نه د اختر نه پس،حالاتكه نبى ﷺ مونځ ته بيحده ليواله وو.كه د اختر نه مخكښې يا روستو د نفلوكولو اجازت وے نو د الله رسول به ضرور كړى وو.

داخترد مونځ وخت

فَإِذَا حَلَّتِ الصَّلٰوةُ بِارْتِفَاعِ الشَّمْسِ او كله چې په نمر اوچت راختلوسره مونځ حلال شي دَخَلَ وَقْتُهَا إِلَى الزَّوَالِ نوداخترد مونځ وخت داخل شو.دنمر د زوال پورې فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ اوكله چې د نمر زوال اوشى خَرَجَ وَقْتُهَا نود اختردمونځ وخت تير شو

(1) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه البخارى في العيدين باب ٢٦ رقم ٩٨٩، مسلم في صلاة العيدين رقم ١٣، وابوداود في الصلاة باب ٢٥٠ رقم ١١٥٩ والترمذى في العيدين باب ٣٥ واحمد في المسند (١/٢٨٠، ٣٤٠)۔

حل اللغة ① حلت، حل حلالا (ض): حلالیدل، شروع کیدل ② ارتفاع: اوچتیدل ③ دخل، دخل، دخولاً (ن): داخلیدل ④ خرج، خرج خروجا (ن): وتل

تشریح په دې عبارت کښې د اختر دمونځ د وخت د اول اوآخربیان شوېدې. لکه چه امام ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي. چه داخترد مونځ اول وخت د نمر یوه نیزه یا دوه نیزې اوچتیدلو سره شروع کیږي. اود نمر د زوال پورې باقي پاتې کیږي.

دلیله په ابتداء د وخت باندې دلیل دا حدیث دې. چه نبي ﷺ به مونځ هغه وخت کولو. چه کله به نمر یوه نیزې یا د دوه نیزو په اندازه اوچت شو. (۱)

د اختر د مونځ طریقه

وَيُصَلِّي الْإِمَامُ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ او امام دې دخلقو سره دوه رکعته اوکړي يُكَبِّرُ فِي الْأُولَى تَكْبِيرَةَ الْإِحْرَامِ په اولنی رکعت کښې دې د افتتاح دپاره یو تکبیر وائي وَثَلَاثًا بَعْدَهَا او ددې نه پس دې درې تکبیرونه وائي ثُمَّ يَقْرَأُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُورَةً مَعَهَا ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً يَرْكَعُ بِهَا بیا دې فاتحه اوهغې سره دې یو سورت اووائي. او یو تکبیر دې اووائي. دې سره دې رکوع اوکړي ثُمَّ يَبْتَدِئُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ بِالْقِرَاءَةِ بیا دې د دویم رکعت شروع په قرات اوکړي فَإِذَا فَرَغَ مِنَ الْقِرَاءَةِ کله چه فارغ شي د قرات نه كَبَّرَ ثَلَاثَ تَكْبِيرَاتٍ نو پس دې درې تکبیرونه اووائي وَكَبَّرَ تَكْبِيرَةً رَابِعَةً يَرْكَعُ بِهَا او خلورم تکبیر دې اووائي اوپه دې به رکوع اوکړي

حل اللغة ① یصلي، صل صلاة: مونځ کول ② یقرا، قرا قراءة (ف): لوستل ③ یبتدء، ابتدا ابتداء: شروع کول ④ یرکع، رکع، رکوعا (ف): رکوع کول

تشریح **كيفية صلاة العيد** صاحب د قدوري رحمه الله داخترد مونځ کیفیت داسې بیان کړې دې. چه دې امام خلقو ته دوه رکعته داسې اوکړي. چه رومبې تکبیرتحریمه اووائي. بیا دې ثنا اووائي. اود دریو نه زیات تکبیرونه اووائي. بیا دې قرات د فاتحې او ضم دسورت اوکړي. بیاد رکوع تکبیر اووائي. او رکوع دې اوکړي. اوسجده دې اوکړي. دغه شان به اولنې رکعت پوره شي. په دویم رکعت کښې دې اول قرات فاتحه او ضم د سورت اوکړي. بیا دې زیاتي تکبیرونه اووائي. اود رکوع تکبیردې اووائي. اورکوع دې اوکړي. ددې تفصیل مطابق په دواړو رکعتوکښې نهه تکبیرونه شول. شپږ زوائددوه د رکوع تکبیرونه او یو تکبیر تحریمه.

دلیله ① علامه مرغیناني رحمه الله فرمائیلي دي. چه دا د ابن مسعود رضي الله عنه قول دې. گویا چه د ابن مسعود رضي الله عنه په نیز د اختر په دواړو رکعتونو کښې تول نهه تکبیرونه دي. هم دغه د احنافو عالمانو رحمهم الله مذهب دې. د ابن مسعود رضي الله عنه قول خکه دې. چه روایت کړې شوېدې. [كان ابن مسعود رضي الله عنه جالسا وعنده حذيفة وابو موسى الأشعري رضي الله عنهما فسألهم سعيد بن العاص رضي الله عنه عن التكبير في صلوة العيد فقال حذيفة رضي الله عنه سل الأشعري رضي الله عنه فقال الأشعري رضي الله عنه سل عبد الله رضي الله عنه فانه أقدمنا وأعلمنا فسأله فقال ابن مسعود رضي الله عنه يكبر أربعا ثم يقرأ ثم يكبر فيركع ثم يقوم في الثانية فيقرأ ثم يكبر أربعا بعد القراءة] یعنې ابن مسعود، حذیفه او ابوموسی اشعري رضي الله عنه تشریف فرما

۱) خرجه الزیلعي رحمه الله نصب الرایة ۲/۲۲۰)

ورو.چه ددوی نه سعید ابن العاص ﷺ د اختردمونځ دتکبیرونو په باره کښې تپوس اوکړو.حذیفه ﷺاوونیل.داشعری ﷺ نه تپوس اوکړه.اشعری ﷺاوونیل.د عبدالله ﷺ نه تپوس اوکړه.ځکه چه عبدالله ﷺ په مونږکښې قدیم العهد هم دې.او صاحب دعلم هم.نوهغه د ابن مسعود ﷺ نه تپوس اوکړه.نو ابن مسعود ﷺ اوفرمائیل. څلور تکبیرونه اووایه.په رومبی رکعت کښې چه دکومو څلورو تکبیرونو ذکر شوېدې.په دې کښې یو تکبیرتحریمه اودرې زوائد دی او په دویم رکعت کښې په څلورو تکبیرونو کښې یو تکبیر د رکوع او درې زوائد دی.بهرحال د ابن مسعود ﷺددې قول نه د نهو تکبیرونو ثبوت ملاویږی.(١)

د اخترونو په تکبیرونو کښې د رفع یدین حکم

وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي تَكْبِيرَاتِ الْعِيدَيْنِ د اخترونو په تکبیرونو کښې به خپل دواړه لاسونه اوچتوی

تشریح ﴿ **رفع الیدین** ﴾ د طرفینو په نزد د اخترونو په تکبیرونو کښې د غوږونو پورې لاسونه اوچتولی شی.هم دا د امام شافعی او امام احمد ﷭ مذهب دې.[٢]

دلیله ﴿دلیل دنبی ﷺ قول [لاترفع الأیدی إلا فی سبع مواطن] دې.په دې اووه ځایونو کښې د اخترونو زوائد تکبیرونه هم دی.(٣)

عدم رفع الیدین ﴿داامام ابویوسف رحمه الله نه مروی دی.چه د اخترونو په تکبیرونو کښې به لاسونه نه اوچتوی.

دلیله ﴿داامام ابویوسف رحمه الله دلیل دا دې.چه د لاسونو اوچتول د افتتاح سنت دی.چونکه په زوائد تکبیرونو کښې دمونځ افتتاح نشته،ددې وجه به رفع یدین هم نه کیږی.لکه چه د رکوع په تکبیر کښې رفع یدین نشته.

الحجة علی أبی یوسف رحمه الله ﴿داامام ابویوسف رحمه الله خلاف حدیث [لاترفع الأیدی] حجت دې. پاتې شوه دا خبره چه په زوائدو تکبیرونو کښې هیڅ مسنون نه دی.

د مونځ نه پس د خطبې حکم

ثُمَّ يَخْطُبُ بَعْدَ الصَّلَاةِ خُطْبَتَيْنِ فرمائی چې د اختر د مونځ نه پس دے امام دوه خطبې اووائی يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهِمَا صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَأَحْكَامَهَا داختر په وارد شوې خطبه کښې دےخلقو ته د صدقه فطر او ددې احکام بیانی

حل اللغة ﴿یخطب، خطب، خطبة (ن): تقریرکول، خطبه ورکول ـ یعلم، علم تعلیما: خودنه

---

١) **المذاهب الثلاثة**:- ①چه د احنافو ﷭ په نیز د اختر په دواړو رکعتونو کښې تکبیرات زوائد شپږ دی.②او د امام مالك او امام احمد ﷭ په نیز لس دی.③او د امام شافعی په نیز دولس یا دیارلس دی. (شرح نقایه) تفصیل په هدایه کښې وګورئ

٢) القول الراجح هو قول الطرفین ﷭ كذا فی العنایة علی هامش الفتح (٢\٤٥) والخانیة (١\٨٩) والهندیة (١\١٥٠) والبحرالرائق (٢\١٦٢) نقلاً عن القول الراجح (١\١٥٠)-

٣) قال الزیلعی رحمه الله تقدم فی ،،صفة الصلاة،، ولیس فیه تكبیرات العیدین نصب الرایة،٢/٢٧٦)

تشریح> **الخطبة بعد صلاة العیدین** >صاحب دکتاب فرمائی.چه د اختر د مونځ نه چه فارغ شی.نو امام دې دوه خطبې اووائی.هم په دې باندې نقل اوعمل شائع شوېدې.

دلائله> ① په بخاری او مسلم کښې دابن عمر رضی الله عنهما دحدیث الفاظ دا دی.چه [قال کان النبی ﷺ ثم ابوبکر وعمر یصلون العیدین قبل الخطبة]

② اود ابن عباس رضی الله عنهما قول دې.[شهدت العیدین مع رسول الله ﷺ وابی بکر وعمر وعثمان رضی الله عنهم کلهم کانوا یصلون العیدین قبل الخطبة] (رواه الشیخان) ددواړو حدیثونو حاصل دادې.چه رسول الله ﷺ اودرې واړه خلیفګانو اخترونو مونځ مخکښې اوخطبه روسته کوله. البته داختر خطبه دجمعې دخطبې نه په دوو خبرو کښې مخالف ده.اوله دا چه جمعه بغیر دخطبې نه جائز نه ده.او د اختر مونځ دخطبې نه بغیر هم جائزدې.دویمه دا چه د جمعې خطبه د جمعې مونځ باندې مقدم ده.اود اخترونو خطبه د مونځ نه مؤخر ده.نوکه د اختر خطبه دمونځ نه مقدم کړې شوه.نوهم جائز ده.داختر دمونځ نه پس د اعاده ضرورت نشته .واضح دے وی.چه د وړوکی اختر په خطبه کښې صدقة الفطر اوددې داحکامو تعلیم ورکړې شی.ځکه چه دا خطبه هم ددې مقصد په لحاظ سره مشروع شوېده.

د منفرد دپاره د اختر دمونځ قضاء راوړلوحکم

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَاةُ الْعِيدِ مَعَ الْإِمَامِ اود چا نه د اخترمونځ د امام سره فوت شو لَمْ يَقْضِهَا نودے به ددې قضاء نه کوی.

حل اللغة> ① فاتته، فات فوتا (ن): فوت کیدل ② لم یقضها ، قضی قضاء (ض): قضاکول، اداکول

تشریح> **قضاء صلاة العید**>صورت دمسئلې دادې. که امام د اختر مونځ اداکړو.او یو سړې باقی پاتې شو.ده داخترمونځ اداکړې نه دې.نوددې قضاء راوړلواجازت نشته.هم دا د امام مالک رحمه الله قول دې.

دلیله> دلیل دادې.چه د اختر مونځ قائمولو دپاره څه داسې شرطونه دی. چه په خانله سړی سره نه پوره کیږی.مثلاً جماعت،د وخت سلطان. نوپه منفرد کښې دا شرطونه نشی موجودې دې. ددې وجې دد دپاره د اختر مونځ کول هم جائزنه دی.

د رمضان د میاشتې په وریځه کښې پتېدل

فَإِنْ غُمَّ الْهِلَالُ عَنِ النَّاسِ بیاکه د خلقو نه میاشت په اوریځه کښې پټه شوه وَشَهِدُوا عِنْدَ الْإِمَامِ بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ بَعْدَ الزَّوَالِ اوخلقو د زوال نه پس امام ته د میاشت لیدو ګواهی ورکه صَلَّى الْعِيدَ مِنَ الْغَدِ نو امام دے په دویمه ورځ د اختر مونځ اوکری فَإِنْ حَدَثَ عُذْرٌ مَنَعَ النَّاسَ مِنَ الصَّلَاةِ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي اوکه داسې عذر پیدا شی .چې په دویمه ورځ ئې خلق د اختر د مونځ نه پاتې کړل لَمْ يُصَلِّهَا بَعْدَهُ نوددې نه پس به دا مونځ نه کوی.

حل اللغة> ①غم، غم غماما (ن): پټیدل ②شهدوا، شهد شهادة (س): ګواهی ورکول، حاضریدل ③رؤیة: کتل ④ منع، منع منعا (ف): بندول، منع کول

تشریح> **أداء صلاة العید في الیوم الثاني**>صورت دمسئلې دادې.چه ۲۹ رمضان باندې که میاشت په اوریځه کښې پټه شوه،اوپه ۳۰ رمضان دزوال نه پس خلقو امام ته د سپوږمۍ لیدوګواهی ورکړه.

اوامام ددوی گواهی هم قبوله کړه.نو روژه دے ماته کړی.او امام دے په دویمه ورځ خلقوته مونځ اوکړی.

دلیله>دلیل دادې.چه دا تاخیر د عذر په وجه دې.په دې وجه دے تاخیرکښې هیڅ باك نشته.اوددې تاخیر په سلسله کښې حدیث هم موجود دې.په هدایه کښې داحدیث هم داسې ذکر شوې دې.[**ولما شهدوا بالهلال بعد الزوال امر بالخروج الی المصلی من الغد**]اوکه په دویمه شپه باندې هم څه داسې عذر پیښ شی.چه د اختر دمونځ دپاره مانع وی.

عدم تاخیرها إلي الیوم الثالث>نواوس ددې نه پس په دریم شوېل باندې د اختر دمونځ کولو اجازت نشته.ځکه چه د اختر په مونځ کښې اصل خو دا دې.چه ددې قضاء راوتړلې شی.لکه څنګه چه دجمعې فوت کیدو په صورت کښې ددې قضاء نشی راوړې.خو د عذر په وجه د دویمے ورځې پورې موخر کولو کښې د ذکر شوی حدیث په وجه دا اصل پریخودے شوېدې. نوچونکه په حدیث کښې صرف ددویمے ورځې پورې د روستوکولو د صورت تصریح شوې ده.په دې وجه به د دویم شوېل پورې داخترد مونځ روستو کولو اجازت وی.ددې نه پس به اجازت نه وی.

د لوئې اختر مستحبات

وَيُسْتَحَبُّ فِي يَوْمِ الْأَضْحَى أَنْ يَغْتَسِلَ وَيَتَطَيَّبَ اود لوے اختر په ورځ غسل کول او خوشبو لګول مستحب دی. **وَيُؤَخِّرَ الْأَكْلَ حَتَّى يَفْرُغَ مِنَ الصَّلَاةِ** اوخوراك دے روستوکړی.تردے چې د مونځ نه فارغ شی

حل اللغة >①یستحب، استحب، استحبابًا: مستحب کیدل ②ان یغتسل، اغتسل اغتسالاً: غسل کول ③یتطیب، تطیب تطیبًا: خوشبوئ لګول

تشریح> **سنة الغسل والطیب**>صاحب دقدوری فرمائی.چه دلوے اختریه ورځ غسل کول او خوشبو لګول مستحب دی.دلیل مخکښې تیرشوې دې.

تاخیرالأکل من الصلاة>او دا هم مسنون دی.چه خوراك دمونځ نه پس اوکړی.اود خیلے قربانئ نه اوخری.

دلیله>دلیل دنبی ﷺ عمل دې.چه دوی به د لوے اختر په ورځ د اختر دمونځ نه پس خوراك کولو.اودخپلے قربانئ نه به ئې خوراك کولو.[1] که څوك قربانی نه کوی.بیا هم د اختر دمونځ نه مخکښې دے خوراك نه کوی.ځکه چه د اختر دمونځ نه مخکښې خوراك نه کول جدا سنت دی.او د خپلے قربانئ نه خورل جدا سنت دی.اودکلی والو دپاره جائز دی.ځکه چه هلته کښې مونځ واجب نه دې.

په لاره کښې په جهر سره د تکبیر ویلو حکم

وَيَتَوَجَّهُ إِلَى الْمُصَلَّى وَهُوَ يُكَبِّرُ او عیدګاه ته به ځی په داسې حال کښې چې تکبیر به وائی **وَيُصَلِّي الْأَضْحَى رَكْعَتَيْنِ كَصَلَاةِ الْفِطْرِ** او امام دے د وړوکښې اختر په شان خلقو ته دوه رکعته مونځ اوکړی

[1]) خرجه في ،،سنن الصلاة،، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَطْعَمَ وَلَا يَطْعَمُ يَوْمَ الْأَضْحَى حَتَّى يُصَلِّيَ رواه الترمذي في العيدين باب ما جاء في الأكل يوم الفطر قبل الخروج رقم ۱۹۷ اخرجه الترمذي)_

وَيَخْطُبُ بَعْدَهَا خُطْبَتَيْنِ اودمونځ نه پس دے دوه خطبے اووائی وَيُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهَا الْأُضْحِيَةَ وَتَكْبِيرَاتِ التَّشْرِيقِ په دواړو خطبوکښې دے د قرباني او د تشريق د تکبيرونو تعليم ورکړی

حل اللغة ①يتوجه، توجه توجها: متوجه كيدل ② يخطب، خطب خطبة (ن): د امام د خلقو په وړاندې خطبه ورکول، تقريرکول، وعظ کول ③يعلم علم تعليماً: خودنه]

تشريح الجهربالتكبير في طريق المصلي مسئله دا ده.چه عيدگاه ته په تلوتلوکښې به په لاره کښې په اوچت آواز سره تکبيروائی. ځکه چه نبیﷺ به هم دا عمل کولو.(١)
او د اختر مونځ د وړوکی اختر په شان دوه رکعته دي.د امام صاحب نه هم دا منقول دی.(٢)
تعليم الاضحية وتكبيرات التشريق دمونځ نه پس دے په خطبه کښې د قرباني او د تشريق د تکبيرونو احکام اوبنائی.ځکه چه هم په دې ورځو کښې هم دا خيزونه مشروع دی.اوخطبه هم دد ےخيزونودتعليم دپاره مشروع شوېده.(٣)

د لوئي اخترمونځ دويمې او دريمې ورځې ته روستو کول

فَإِنْ حَدَثَ عُذْرٌ مَنَعَ النَّاسَ مِنَ الصَّلَاةِ فِي يَوْمِ الْأَضْحَى که څه عذر داسې پيښ شوچه په لسمه د ذی الحجه ئې خلق د مونځ کولو نه منع کړل. صَلَّاهَا مِنَ الْغَدِ وَبَعْدَ الْغَدِ نو په دويمه يا په دريمه ورځ دے مونځ اوکړی وَلَا يُصَلِّيهَا بَعْدَ ذٰلِكَ اودے نه پس دے نه کوی

حل اللغة ① يمنع، منع منعا (ف): بنديدل، منع كيدل ②غد: صبا ③لايصليها، صلى صلاة: مونځ کول

تشريح تاخيرصلاة عيدالأضحى إلى اليوم الثالث مسئله داده.که د ذی الحجه په لسم تاريخ باندې دمونځ مانع عذر پيښ شو.نو په يوولسم تاريخ دے مونځ اوکړی.اوکه په يوولسم تاريخ باندې هم عذر موجود وو.نو په دولسم باندې دے د اختر مونځ اوکړی.اوکه په دې کښې هم عذر موجود وو.نو ددې نه پس د تاخير اجازت نشته.

دليله دليل داده.چه د لوے اختر مونځ د اُضحيه (قرباني) سره تعلق ساتی.په دې وجه د مونځ وخت هم د قرباني د ورځو سره تړلے وی.نودقرباني د دريمے ورځې پورې هره ورځ د نمر راختلو نه پس زواله پورې داخترد مونځ وخت دې.اوکه تاخير کول بغير دعذر وی.نوهم مونځ جائز دې.خو بغير دعذرنه په تاخيرکولوبه گناهگاروی.ځکه چه نبیﷺ اوخلفائي راشدينو نه داسې تاخير منقول نه دې.دا خيال ساتل پکاردی چه دا مونځ ددې باوجود چه په تاخير سره اوکړې شی.ادا دے قضاء نه دې.ځکه چه په خپل وخت کښې واقع شوې دې.

(١) خرجه في ،،سنن الصلاة،، عن نافع عن ابن عمر انه كان يخرج في العيدين من المسجد فيكبرحتى يأتي المصلى كذا في المستدرك في العيدين رقم ١١٠٦ (٤٣٨/١)۔

(٢) تقدم تخريجه عن قريب)۔

(٣) قد خرجه في ،،سنن الصلاة،، زُبَيْد عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ قَالَ عُمَرُ صَلَاةُ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَانِ وَصَلَاةُ الْفِطْرِ رَكْعَتَانِ وَصَلَاةُ الْأَضْحَى رَكْعَتَانِ وَصَلَاةُ السَّفَرِ رَكْعَتَانِ تَمَامٌ غَيْرُ قَصْرٍ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخرجه الدارمي في الصلاة باب صلاة العيدين بلا أذان ولا إقامة رقم ١٥٥٢ رجاله ثقات)۔

المسئلة في حكم التكبيرات> تکبیر تشریق واجب دی یا سنت، ①نواکثر عالمان د وجوب قائل دی.
②اوبعضے د مسنونیت قائل دی.دوجوب دلیل د الله تعالی قول [وَاذْكُرُوا اللهَ فِيْ أَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ] دې.او د سنیت قائلینو په دې باندې دنبی ﷺ مداومت اوهمیشوالې دلیل گرځولې دی.

وَتَكْبِيْرُ التَّشْرِيْقِ أَوَّلُهٗ اوتکبیر تشریق شروع د دې به عَقِيْبَ صَلٰوةِ الْفَجْرِ روسته د صبا د مانځه نه وی مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ په ورځ د عرفې باندې وَآخِرُهٗ عَقِيْبَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ اود قربانۍ په ورځ به نې د مازیگر نه پس ختمېږی عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ (داحکم)د ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نیزدې

تشریح> إبتداء التكبيرات> ① اکابرین صحابه حضرت عمر،علي،ابن مسعودؓ فرمائیلي دی.چه د تکبیرات تشریق ابتداء دعرفې په ورځ یعنی د ذی الحجه د نهم تاریخ نه کولې شی.دا قول احناڧو عالمانو رحمهم الله په اتفاق سره اختیار کړې دې.

إنتهاء التكبيرات> ① دانتها په سلسله کښې دامام اعظم مذهب دا دې چه دنحرد ورځو رومبۍ ورځ یعنی د لسمے ذی الحجه د مازیگر مونځ دې.مطلب دا چه د ذی ا لحجه په لسم تاریخ د مازیگر د مانځه نه پس دے تکبیرات اووائی اوختم دے کړی.نود امام اعظم په نیز تول د اته مونځونو نه پس یعنی د نهمے ذی الحجه د صبا دمانځه نه پس د لسمے د مازیگر پورې به تکبیر تشریق ونیلی شی.

دلیله> ① پورته چه د امام اعظم کوم مذهب بیان شو دا د حضرت عبدالله بن مسعودؓ قول دې.(¹)

② د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ کمتر او اقل اختیارول په دې وجه دی.چه په اوچت آواز سره تکبیر ونیل بدعت دی.ځکه چه الله تعالی فرمائیلی دی. ﴿وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيْفَةً وَّدُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ﴾ اوپه حدیث کښې دی [رای النبی ﷺ أقواما یرفعون أصواتهم عند الدعاء فقال إنكم لن تدعوا أصم ولا غائبا] یعنی رسول الله ﷺ یو قوم اولیدلو.چه د دعا په وخت کښې به نې خپل آوازونه اوچتول.نونبی ﷺ ورته اوفرمائیل.چه تاسوخلق نه خوکونړ ته آواز کوئ او نه غائب ته.ددوی (ﷺ) مراد دادې.چه الله چاته چه تاسو آواز کوئ.نه خو هغه کونړ دے او نه غائب دې.بلکه سمیع (ډیر اوریدونکې) دې.او په هر ځائې کښې موجود دې. ځکه په اُوچت آواز ده ته د آواز کولو بیخی ضرورت نشته.ددې آیت اوروایت نه معلومه شوه.چه په دعا او ذکر کښې اصل اخفاء ده.اوجهرخلاف اصل او بدعت دې.

③ دامام صاحب دویم دلیل دا دې.چه د تکبیر ابتداء په داسې ورځ کښې کیږی.چه په هغې کښې د حج یو رکن یعنی وقوع عرفه ادا کیږی.پس دا منقطع کول هم په دې نحر ورځ کښې مناسب دی.چه په دې کښې دحج دویم رکن یعنی طواف زیارت اداکیږی.چه دتکبیر ابتداء اوانتهاء دواړه برابرشی.دا یاد ساتئ: چه عمل اوفتوی د صاحبینو رحمهما الله په قول ده.

وَأَبُوْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ إِلٰى صَلٰوةِ الْعَصْرِ مِنْ آخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيْقِ اوصاحبين رحمهما الله فرمائی.چې د آخری ورځ د تشریق به نې د مازیگردمونځ نه پس ختموی.

¹) حديث ابن مسعودؓ رواه ابن أبي شيبة ورواه الطبراني في الكبير كما أشار إلى ذلك الهيثمي في مجمع الزوائد(۲/۱۹۷)۔

تشریح> مسلک الصاحبین> صاحبین فرمائی .چه تکبیر تشریق به د تشریق د ورځو په آخره ورځ یعني دیارلسم ذی الحجه د مازیګر په مانځه ختمولے شي.د صاحبینو په نیز تول د ۲۳ مونځونو نه دی.یعنی د نهمے ذی الحجه د صبا مانځه نه پس د دیارلسمے ذی الحجه د مازیګر پورې تکبیر ونیلی شي.[1]

دلیله> د صاحبینو دا مذهب په اصل کښې د حضرت علی قول دې (۲) نوصاحبینو رحمهما الله اکثر اختیار کړې دے اوحضرت علی رضی الله عنه په قول باندې ئې اعتماد کړې دې.ځکه چه تکبیر هم عبادت دې.او په عباداتو کښې دننه احتیاط هم په دې کښې دې.چه اکثر واخستلے شي.

وَالتَّكْبِيرُ عَقِيبَ الصَّلَوَاتِ الْمَفْرُوضَاتِ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ
اوتکبیرروسته د فرض مونځونو نه دا دې .چې یوځل اووائی.[الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله،والله اکبر الله اکبر ولله الحمد]

تشریح> عدد التکبیرات>صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.چه د ذکر شوی تکبیر کلمات[الله اکبر الله اکبر..الخ]یو ځل ونیل دی.

تاریخ إبتداء الکلمات>داکلمات دسیدنا ابراهیم علیه السلام نه منقول دی.ددې کلماتو تاریخی پس منظر دادې.چه کله د الله تعالی په حکم ابراهیم علیه السلام دخپل زړه تکرې اسماعیل علیه السلام ذبح کولو دپاره دده لاسونه او پښے اوتړ لې.اوپه زمکه ئې په تندی باندې سملولو.او چاړه ئې راښکله.نوخټ ئې پرے نکړو. بل خوا جبرئیل علیه السلام ته حکم اوشو.چه د اسماعیل علیه السلام په ځائې هغه ګډ راوله اوسملوه کوم چه هابیل نذرالله په غره باندې ایخودے وو.او هغه قبول شوې وو.چه تراوسه پورې په جنت کښې څریدلو.جبرئیل علیه السلام چه کله اوکتل.چه ابراهیم علیه السلام دالله د اطاعت دپاره په ذبحه کښې ډیر عجلت کوی.نوئې فرمائیل. [الله اکبر الله اکبر] ابراهیم علیه السلام ځټ اوچت کړو.او وے کتل. او د جبرئیل علیه السلام آواز ئې واوریدلو.نو بے اختیاره ئې د ژبې نه دا اووتل.[لااله الا الله والله اکبر]ذبیح الله علیه السلام ته چه کله معلومه شوه.اودپلار بزرګواراود جبرئیل کلمات ئې واوریدل.نود الله تعالی دحمد دپاره دده ژبه ګویا شوه.او وے ونیل.[الله اکبر الله اکبر ولله الحمد] داکلمات د قیامته پورې دیو نیک فرزند اود الله تعالی په عشق کښې د دلیواله پلار یاد تازه کوی.قرآن حکیم په څومره بلیغ انداز کښې وائی چه ﴿وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ﴾

شروط من تجب علیه التکبیرات عند أبي حنیفة رحمه الله>دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د هر فرض مونځ نه پس تکبیر ونیل واجب دی.① په دے شرط چه دا خلق مقیم وی،په ښار کښې دننه وی،② او په مستحب طریقه باندې په جماعت سره مونځ شوې وی.③ په فرضو پسې سمدستی وی ځکه که د فرض مونځ نه پس بل عمل اومونډلے شی.مثلا دجومات نه اووتلو.یا په خبرو کښې مشغول شو.نودا سړې دے تکبیر نه وائی.④ اوچه فرض مونځ نو وی دجنازے مونځ، وتر،د اخترونو مونځ او نفل وی

---

[1]) القول الراجح هو قول الصاحبين رحمهما الله كذا في الكفاية في صدر فتح القدير(۲\۴۹) وردالمحتار(۱\۶۲۱) والفقه الإسلامي (۲\۳۸۳) والهندية (۱\۱۵۲) نقلاً عن القول الراجح(۱\۱۵۱)

[2]) قال الزيلعي رحمه الله أما قول علي رضي الله عنه فرواه ابن ابي شيبة في مصنفه ورواه الحاكم في المستدرك (۱/۲۹۹) ورواه محمد بن الحسن في الآثار(ص،۳۶)۔

نو تکبیرات به نه وائی⑤ چه مقیم وی نو که مسافر وی.هغه باندې هم تکبیر نشته.⑥ چه په بنار کښې وی ځکه چه په کلوکښې دننه د تکبیر تشریق وجوب نشته ⑦ چه د جماعت د مونځ نه پس وی نو په منفرد باندې تکبیرات وئیل واجب نه دی ⑧ چه مستحب جماعت وی که ښځې په جماعت سره مونځ اوکړی په هغوی واجب نه دی ځکه چه د هغوی جماعت مکروه دې البته که دښځو امام سړې وی.اودمسافروامام مقیم وی.نو په دے ښځو اومسافرو باندې هم تکبیر واجب دې.

دلائله ① د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل هغه حدیث دې.کوم چه مونږ مخکښې ذکر کړې دې.یعنی [لا جمعة ولا تشریق ولا فطر ولا أضحیٰ إلا في مصر جامع] د دے حدیث نه د تکبیر تشریق دپاره دبنار شرطیت معلوم شو.د لغت امام خلیل ابن احمد رحمه الله نه منقول دی.چه تشریق دجهری تکبیرنوم دې.

② دویم دلیل دا دې.چه تکبیر په اوچت آواز وئیل خلاف سنت،یعنی بدعت دې.په استثناء د هغه ځائې کوم ځائې کښې چه شریعت وارد شوی وی.اودجهری تکبیر په سلسله کښې د شریعت ورود په هغه صورت کښې شوې دې.چه په هغې کښې ټول شرطونه جمع وی.یعنی بنار،جماعت مستحبه، اقامت وغیره،اوکه ښځې د سړی پسې اقتداء اوکړی.یا مسافر د مقیم اقتداء اوکړی.نو په ښځو او مسافرو باندې به هم تکبیر واجب وی.دا وجوب به د تبعیت په طریقه وی. یعنی امام کوم چه متبوع دې. چه په ده باندې تکبیر واجب دې.نو دده په تابع باندې به هم واجب وی.لکه څنګه چه د مقیم په اقتدا کولو باندې په مسافر باندې څلور رکعته لازمیږی.

من تجب علیه التکبیر عند الصاحبین رحمهما الله ◄ صاحبینو رحمهما الله فرمائیلی دی.چه په هر هغه سړی تکبیر واجب دې.چه هغه فرض مونځ اوکړی خواه که دښارے وی اوکه کلی وال،مسافر وی اوکه مقیم یا منفرد.که سړې وی او که ښځه.هم دغه قول د امام مالك او امام شافعی رحمهما الله دې.

دلیلهما ◄ د دے حضراتو دلیل دادې.چه تکبیر دفرض مونځ تابع دې.نو چه څوك فرض اوکړی هغه به تکبیر وائی.[1]

یقولها المأموم عند نسیان الإمام ◄ صاحب دهدایه رحمه الله په هدایه کښې د یوے واقعے په ذریعه تنبیه ورکړې ده.که امام تکبیر وئیل هیر کړو .نو مقتدی دے تکبیر نه پریږدی.بلکه په اوچت آواز دے تکبیر اووائی .او امام دے هم خبر کړی.د دے په خلاف که امام سجده سهو پریخوږدی. نومقتدی دے هم پریږدی .وجه داده.چه سجده سهوه دمونځ په مینځ کښې ادا کولې شی. ځکه په سجده سهو کولو یا نه کولو کښې د امام اتباع ضروری وی.اوتکبیر دمونځ په مینځ کښې نه اداکیږی.بلکه دمونځ نه فراغت نه پس وئیلې شی.ځکه په تکبیر وئیلوکښې د امام وجود واجب نه دې.بلکه مستحب دې.نوکه امام تکبیر اونه وائی. مقتدی دے ضرور وائی. واقعه داده.چه امام ابویوسف(یعقوب) بیان کړی دی.چه یوځل ما خلقوته دعرفې په ورځ دمابنام مونځ ورکولو.اتفاقاً مانه تکبیر تشریق هیرشو.نو استاد مکرم حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله د شاته نه تکبیر اووئیل.اوزه نې خبر کړم،نو بیا ما هم تکبیر اووئیل.د دے واقعے نه د امام ابویوسف رحمه الله د اوچت شان او مرتبې پته لږی.چه حضرت امام صاحب دے امام جوړکړې وو.او په خپله نې وریسې اقتداء کړې وه.والله اعلم

[1]) القول الراجح هو قول الصاحبین رحمهما الله كذا في الدرالمختار(۱\۶۲۰) والبحرالرائق (۲\۱۶۶) والفقه الإسلامي وأدلته (۲\۳۸۳) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱۵۲)-

د نمر د تندر نیولو د مونځ بیان

بَابُ صَلٰوةِ الْكُسُوْفِ

ترجمه> دا باب د نمر د تندر نیولو د مونځ په بیان کښې دې.

تشریح> الربط بما قبله> داخترمونځ،دکسوف مونځ او د استسقاء مونځ په درې واړه مونځونو کښې مناسبت ښکاره دې. په دې شان چه درې واړه مونځونه په ورځ کښې بغیرد اذان او اقامت نه ادا کولې شي په دې کښې د اختر مونځ چونکه واجب دې.او دکسوف مونځ د جمهورو په نیز مسنون دې.او د استسقاء د مونځ مسنونیت مختلف فیه دې.په دې وجه ددرې واړو بابونو مناسب ترتیب ښکاره شو.

الأقوال في الكسوف والخسوف> دکسوف معنی ده نمر توریدلو طرف ته مائل کیدل.په دې کښې بو لغت خسوف دې.امام منذری رحمه الله فرمائیلی دی.چه دکسوف مونځ د ۱۹ راویانو نه مروی دې. ① بعضو په کاف سره کسوف اوبعضو په خاء سره خسوف ذکر کړې دې. معلومه شوه .چه دا دواړه لفظونه مترادف دی. ② بعضو وئیلی دی.چه د نمرد تندر نیولو دپاره کسوف اود سپوږمۍ د تندر نیولو دپاره خسوف استعمالیږی. ③یا کسوف د نمر سره مخصوص دې.اوخسوف عام دے، نمر اوسپوږمۍ دواړوته شامل دې.

إصطلاح الفقهاء> د فقهاؤ هم دا اصطلاح ده هم ددې تائید د الله تعالی قول ﴿فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ وَخَسَفَ الْقَمَرُ﴾ کوی.دکسوف دمونځ سبب کسوف یعنی د نمر تندر نیول دی.اوددې شرطونه هم هغه دی.کوم چه د نورو مونځونو دی.دکسوف د مونځ په مشروعیت باندې د پوره امت اجماع ده.چاهم ددې نه انکار نه دے کړې.

د نمر د تندر نیولو دمونځ طریقه

> إِذَا انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ کله چې نمر تندر اونیسی صَلَّى الْإِمَامُ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ كَهَيْئَةِ النَّافِلَةِ نو امام دے خلقو ته د نفل په شان دوه رکعته مونځ اوکری فِي كُلِّ رَكْعَةٍ رُكُوعٌ وَاحِدٌ چه په هر رکعت کښې یوه رکوع ده

حل اللغة > ①انکسفت، انکسف،انکسافا: د نمر تندر نیول ② صلی،صلی صلاة: مونځ کول ③ هیئة: حالت ④ قرب: نیزدیوالې]

تشریح> صلاة الكسوف مثل النفل> مسئله دا ده.که نمر تندر اونیولو.نو دجمعې امام دے په جامع مسجد یا عیدګاه کښې خلقو ته دنفل په شان دوه رکعته نفل مونځ اوکری.یعنی څنګه چه نفل داذان اواقامت نه بغیرکیږی.نوهم دغه شان داذان او اقامت نه بغیر دکسوف مونځ ادا کیږی.

اعدد ركوع الكسوف> ①په یورکعت کښې یوه رکوع ده.دا زمونږ د احنافو مذهب دې (۱)

دليله > دلیل دعبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه روایت دې.[قال انكسفت الشمس على عهد رسول الله ﷺ فقام رسول الله ﷺ فلم يكد يركع ثم ركع فلم يكد يرفع ثم رفع فلم يكد يسجد ثم سجد فلم يكد يرفع ثم رفع فلم يكد يسجد ثم

---

(۱) په زیربحث مسئله کښې امام مالك امام شافعی او امام احمد رحمهم الله فرمائیلی دی.چه دکسوف په مونځ کښې په یو رکعت کښې دوه رکوع ګانې دی.

سجد فلم يكد يرفع ثم رفع وفعل في الركعة الأخرى مثل ذلك][1] يعني په عهد رسالت كښې نمر تندر اونيولو.نورسول الله ﷺ دومره اوږد قيام اوكړلو.چه لكه نبي ﷺ ركوع نه كوي.بيا نبي ﷺ دومره اوږده ركوع اوكړله.چه معلوميدله چه نبي ﷺ سرنه اوچتوي.بيا ئې اوچت كړلو.نو معلوميده چه نبي ﷺ سجده نه كوي.بيا ئې سجده اوكړه.نو د سجدے نه د سر اوچتولو امكان په نظر نه راتلو.بيا ئې سراوچت كړو.نود دويمے سجدے امكان په نظر نه راتلو.بيا هغوی ﷺ سجده اوكړه.نو داسې ښكاريده چه سر نه اوچتوي.خو نبي ﷺ سر اوچت كړو.هم دا عمل نبي ﷺ په دويم ركعت كښې اوكړلو. ددې حديث نه داخبره معلومه شوه.چه نبي ﷺ په يو ركعت كښې يوه ركوع ګانړے كړې دی.اګر چه ركوع اوسجده ډيره اوږده وه.

د اوږد او په پټه قرات ښولو حكم

وَيُطَوِّلُ الْقِرَاءَةَ فِيهِمَا اوپه دواړو ركعتونو كښې به قرات اوږدوی

حل اللغة ⟨①يطول، طول تطويلاً: اوږدول ②قراءة: لوستل ③يخفي،اخفى اخفاء: پټول ④يجهر، جهر،جهراً (ف): ښكاره كول

تشريح⟩ قدرتطويل القراءة⟩ مسئله داده.چه دكسوف دمونځ په دواړو ركعتونو كښې به اوږد قرات كوی.اوپه بعضو احاديثو كښې دی.چه اول ركعت به په اندازه دسورة بقره او دويم ركعت په اندازه د آل عمران وی

فضيلة التطويل⟩ حاصل دا دې چې دلته دوه خبرې دی يو د قراءت اوږدول او بل په قراءت كښې جهر يا اخفاء كول خو افضل دی.خكه چه دا ثابت دی.چه په اولنی ركعت كښې د رسول الله ﷺ قيام په اندازه د سورة بقره او په دويم ركعت كښې په اندازه د آل عمران وو.نو په قرات كښې اوږدوالی كښې د رسول الله ﷺ متابعت دې.اوكه زړه ئې اوغواړی.نو په قرات كښې دے تخفيف اوكړی.يعنی قرات دے مختصر كړی.خكه چه مسنون خو دا دی.چه د تندر نيولو وخت په مونځ او دعا سره راګير كړې شی.نوكه په يو كښې تخفيف اوكړی.نو په بل كښې به اوږدوالے كوی. علامه ابن ابهام رحمه الله فرمائيلی دی[والحق ان السنة التطويل والمندوب مجرد استيعاب الوقت] يعنی حق دا دې. چه قرات اوږدول مسنون دی.اوپه كسوف كښ د وخت استيعاب كول مستحب دې. لكه چه په حديث مغيره بن شعبه رضي الله عنه كښې دی[فاذا رأيتموها فادعوا الله وصلوا حتى تنجلی](صحيحين) بيا چه كله تاسو داسې څيزونه اوګورئ. (كسوف وغيره) نو دالله تعالی نه دعا غواړئ. او مونځ كوئ. تردے چه دا روښانه شی.اوګورئ د نمر روښانه كيدو پورې دمونځ اوږدولو حكم وركړې شوې دې.اودا به هغه وخت وی.چه كله قرات اوږدكړې شی. نو معلومه شوه .چه قرات ته طول وركول مسنون دې.

وَيُخْفِي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله اود ابوحنيفه رحمه الله په نيز به پټ قرات كوی

[1]) قال الزيلعي رحمه الله لم اجده من رواية ابن عمر وانما وجدناه عن ابن عمروبن العاص رضي الله عنهما ولعله تصحف على المصنف ثم ذكر رواية ابن عمر رضي الله عنهما عازياً إلى أبي داود والنسائي والترمذی في الشمائل (وهو في ابوداودفي صلاة الإستسقاء باب ٩ رقم ١١٩٤ وفي النسائي في السنن الكبرى (٥٧٤/١) رقم ١٨٦٧ واحمد في المسند (١٩١/٢)والمستدرك (٣٢٩/١) وقال زين الدين قاسم بن قطلوبغا في ،،فيما فات الزيلعي منية الألمعي،، قلت بل نسخ المعجم يوجد فيها ،،عمر،، بغيرواو يقول العبدالضعيف شاه فيصل لكن لم يصرح بالمعجم الذی ادعى وجوده فيه لمن هو مع أن المعاجم كثيرون)۔

تشريح > **الجهر والإخفاء** > ① كه قرات جهري اوكړي يا سري، حضرت امام صاحب رحمه الله فرمائي. چه دكسوف په مانځه كښې به سري قرات كوي. ددې قائل امام مالك امام شافعي او جمهورفقهاء رحمهم الله هم دي.[1]

دلائله > د امام ابوحنيفه دليل د ابن عباس او سمره بن جندب حديث دې. ① د ابن عباس رضي الله عنهما د حديث الفاظ دادي. [عن ابن عباس صليت مع النبي ﷺ الكسوف فلم اسمع منه حرفا من القراءة] ([2]) يعنى ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي. چه ما د نبي ﷺ سره دكسوف مونځ كړې دې. خو د دوى د قرات نه مې يو حرف هم نه دې اوريدلې.

② هم ددې په شان د سمره بن جندب رضي الله عنه حديث دې. [صلى بنا في كسوف الشمس لانسمع له صوتا] ([3]) يعنى مونږ ته د كسوف شمس په حالت كښې مونځ اوكړو. اومونږ د دوى آواز نه اوريدلو.

وَقَالَا أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ يَجْهَرُ او صاحبينو رحمهما الله فرمائيلي دي. چې جهر به كوي.

تشريح > اوصاحبين فرمائي. چه جهربه كوي. دا قول د امام احمد هم دې. دا امام طحاوي هم اختيار كړې دې.

دليلهما > په جهري قرات كولو باندې د صاحبينو دليل د عائشه رضي الله عنها حديث دې. [قالت جهر النبي ﷺ في صلوة الخسوف بقرآته] ([4]) عائشه رضي الله عنها فرمائي. چه رسول اكرم ﷺ دكسوف په مانځه كښې په جهر قرات كړې وو.

مرجوحية رواية عائشة رضي الله عنها > صاحب دهدايه رحمه الله د قرات په جهري اوسري كولو كښې تعارض دحديث داسې لرې كړې دې. چه د ابن عباس اوسمره بن جندب روايت ته نې دعائشه رضي الله عنها په روايت باندې ترجيح وركړې ده. او وجه د ترجيح دا ده. چه په مونځ كښې سړې چونكه امام ته زيات نيزدې وي. خكه دښځو په نسبت د دوى حال زيات واضح وي. او د امام د مونځ كيفيت او دقرات په جهر اواخفاء كولو كښې دسړو قول راجح وي.

تائيد قول ابي حنيفة > صاحب دهدايه دامام صاحب مذهب مضبوطولو دپاره زوردارو الفاظو كښې فرمائي. چه دكسوف په مونځ كښې به اخفاء دقرات ولې نه وي. حالانكه دكسوف مونځ د ورځې مونځ

---

[1]) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٢\٥٦) والعناية (٢\٥٦) وبدائع الصنائع (١\٢٨١) والبحر(٢\١٦٧) والهندية (١\١٥٣) والدرالمختار(١\٦٢٢) نقلاً عن القول الراجح (١\١٥٣)۔

[2]) أخرجه أحمد في مسنده (١/٢٩٣، ٣٥٠) وابويعلى الموصلي في مسنده والبيهقي في السنن الكبرى (٣/٤٦٦) رقم (١٣٤١) والطحاوى في شرح الآثار (١/١٩٧) وابونعيم في الحلية في ترجمة عكرمة والطبراني في معجمه بحواله مجمع الزوائد للهيثمى (٢/٢٠٧) والبيهقي في ،،المعرفة،، من طريق ابن لهيعة ورواه أيضاً في السنن الكبرى (٣/٤٦٦) من طريقه۔

[3]) أخرجه أبوداود في الإستسقاء باب ٤ رقم ١١٨٤ والنسائي في السنن السنن الكبرى (١/ ٥٧٥)رقم ١٨٦٩) وأحمد في المسند (٥/١٦، ١٧)والحاكم في المستدرك (١/٣٣٠)۔

[4]) اخرجه البخارى في الكسوف رقم ١٠٤٤و مسلم في الكسوف رقم ١،ابوداو في صلاة الإستسقاء باب ٤ ٤ رقم ١١٨ والترمذي في الجمعة باب ٤٤ والنسائي في الكسوف باب ٦ وابن ماجه في الإقامة باب ١٥٢ رقم ١٢٦٣ ومالك في صلاة الكسوف باب ١ رقم ١ وأحمد في المسند (٦/٥٣)۔

دي.او د ورځې د مونځونو په باره کښې رحمت دو عالم ﷺ فرمانیلی دی. [صلوٰة النهار عجماً] یعنی د ورځې مونځ ګونګے وی.مراد دادې.چه د ورځې په مونځونوکښې قرات په پټه کولې شی.په اوچت آواز نشی کولې.

ملحوظه> اګرچه زمونږ مذهب اخفاء بالقراءة دہ.خو چونکه دا مونځ اوږد وی. ددې وجې متاخرینو عالمانو فرمانیلی دی.که دمقتدیانو د ستومانه کیدو ویره وی.نوپه صلاة الکسوف کښې جهر هم کولې شی.(درس ترمذی (۳۵۴/۲)۔

دمونځ نه پس د دعا حکم

ثُمَّ يَدْعُو بَعْدَهَا حَتّٰى تَنْجَلِيَ الشَّمْسُ اودمونځ نه پس دے دعا اوکړی.تردے چې نمر روښانه شی

حل اللغة > ① یدعو، دعا دعاء (ن): رابلل،دعاکول ② تنجلی،انجلی انجلاء: کولاویدل، روښانه کیدل

تشریح> کیفیة الدعاء بعدالصلاة>فرمانی چه دکسوف د مونځ نه پس د نمر د روښانه کیدو پورې دعااوکړې شی.دعا دے مخ په قبله کینی او اوکړی.یادے په ولاړه اوکړی.اګرکه خلقو ته مخ کړی .اودعا اوکړی.اوخلق مخ په قبله وی.او د امام په دعا دے آمین وائی.

دلائله>دلیل د نبیﷺ دا قول دې.① [اذا رأيتم من هذه الأفزاع شيئاً فارغبوا إلى الله بالدعاء] (١)

② صاحب دکتاب فرمانی.چه په دعاګانو کښې مسنون دا دی.چه د مانځه نه پس وی.د ابوامامه نه مروی دی.[قيل يا رسول الله أيّ الدّعاء أسمع قال جوف الليل الأخير ودبر الصلوٰة المكتوبة] (٢) د نبیﷺ نه تپوس اوکړې شو.چه کومه دعا زیاته مقبوله دہ.وے فرمانیل.چه د آخرے شپې مینځنۍ حصه کښې.اود فرض مونځ نه پس،ددې حدیث ن صرف د فرض مونځ نه پس د دعا مسنونیت معلوم شو.دے نه علاوه مغیره بن شعبه فرمانی.چه نبیﷺ به د هر مانځه نه پس دعا کوله.(بخاری فی التاریخ الاوسط)

دجمعے امام به دصلوٰة الکسوف امامت کوی

وَيُصَلِّي بِهِمُ الْإِمَامُ الَّذِي يُصَلِّي بِهِمُ الْجُمُعَةَ اودکسوف مونځ دے خلقو ته هغه امام ورکړی.څوک چې دوی ته جمعه ورکوی فَإِنْ لَمْ يَحْضُرِ الْإِمَامُ اوکه امام حاضرنه وی صَلَّاهَا النَّاسُ فُرَادٰی نو خلق دے خانله مونځ اوکړی.

حل اللغة >①یصلی، صلی صلاة: مونځ کول، دعاکول ②لم یحضر، حضر حضوراً (ن) حاضریدل ③فرادی: خان له

---

(١) خرجه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم خرج وفي الصحيحين من حديث مغيرة بن شعبة رضي الله عنه فإذا رأيتموها فادعوا الله وصلوا واخرجا أيضاً عن ابي موسى الأشعرى رضي الله عنه (فإذا رأيتم شيئا من ذلك فافزعوا إلى ذكر الله ودعائه واخرجا أيضاً عن عائشة رضي الله عنها (وإذا رأيتموها فكبروا وادعوا وصلوا) نصب الراية (٢٤٢/٢) يقول العبد الضعيف أما حديث مغيرة رضي الله عنه ففي البخارى كتاب الجمعة باب الدعاء في رقم ١٠٠٠ وأما حديث أبي موسى الأشعرى رضي الله عنه ففي البخارى في كتاب الجمعة باب الذكر في الكسوف رقم ٩٩٩ وأما حديث عائشة رضي الله عنها ففي البخارى في كتاب الجمعة باب هل يقول كسف الشمس أو خسفت رقم ٩٨٩)۔

(٢) قال الزيلعي رحمه الله اخرج الترمذى في جمعه في كتاب الدعوات والنسائي في كتاب اليوم والليلة عن عبدالرحمن بن سابط عن أبي أمامة قيل يا رسول الله ﷺ اى الدعاء اسمع؟ قال جوف الليل الأخير ودبر الصلوات المكتوبات إنتهى نصب الراية ٢٤٢/٢)۔

تشریح ﴿ من یصلي صلاة الکسوف؟ ﴾ مسئله دا ده.چه دکسوف په مانځه کښې هغه امام مقررشی . څوك چه خلقو ته دجمعےاواخترونو مونځونه ورکوی.اوکه دجمعې امام موجود نه وی.نو خلق دے خانله خانله مونځ ادا کړی.

دلیله ﴿ څکه چه په دې کښې د فتنې امکان دې.اودجماعت په صورت کښې د فتنې غالب امکان دې.په دې طریقه چه هرسړې به دامام جوړیدو کوشش کوی.یا به دخپلے خوښے امام مخکښې کوی.ددې شور شغب نه بهتره هم داده چه خانله خانله دکسوف مونځ اداکړی.

د سپوږمۍ په تندر نیولو کښې دجماعت حکم

وَلَيْسَ فِي خُسُوفِ الْقَمَرِ جَمَاعَةٌ او دسپوږمۍ په تندر نیولو کښې جماعت نشته وَلَيْسَ فِي خُسُوفِ الْقَمَرِ جَمَاعَةٌ او هرسړې به په خپله خپل مونځ کوی وَاِنَّمَا يُصَلِّيْ كُلُّ وَاحِدٍ بِنَفْسِهٖ او مونځ به کوی هریو خانله خانله

حل اللغة ﴿ ① خسوف:د سپوږمۍ تندر نیول ② تعذر: سختی مشکل ③ اجتماع: راجمع کیدل ④ خوف: ویره]

تشریح ﴿ صلاة الخسوف منفرداً ﴾ مسئله:د سپوږمۍ د تندر نیولو په صورت کښې که مونځ کوی.نو په دې کښې جماعت نشته .یا خو په دې وجه چه په شپه کښې دخلقو یوځائې کیدل متعذر وی.او یا په دې وجه چه په شپه کښې د فتنې ویره وی.نوهر سړې دے په خپله خانله مونځ کوی.

دلیله ﴿ دلیل د نبی ﷺ قول [اذا رأیتم شیئاً من هذه الأهوال فافزعوا الی الصلوة] وجه د استدلال دا ده.چه په حدیث کښې دجماعت تصریح نه ده شوې.او اصل عدم جماعت دې.څکه وئیلی شوی دی.چه په خسوف قمر کښې جماعت نشته.

السوال ﴿ دلته یوسوال دې.هغه دا چه [فافزعوا الی الصلوة] د امرصیغه ده.اوامردوجوب دپاره راځی. څکه مناسب به وی چه دکسوف مونځ واجب اوګرځولې شي.

الجواب ﴿ جواب:چونکه دکسوف مونځ د شعائر اسلام څخه نه دې.بلکه دعارض (دکسوف) د وجه دې.څکه دکسوف مونځ واجب نه دې.څوچه نبی ﷺ کړې دې.څکه مسنون دې.او په حدیث کښې دننه د امر صیغه د ندب دپاره ده. د وجوب دپاره نه ده.

وَلَيْسَ فِي الْكُسُوفِ خُطْبَةٌ او په کسوف کښې خطبه نشته

تشریح ﴿ عدم الخطبة في الکسوفین ﴾ ① امام ابوالحسن قدوری رحمه الله فرمائی.چه دکسوف او خسوف په مانځه کښې خطبه نشته.

دلیله ﴿ صاحب د هدایه د دې دا دلیل بیان کړې دې چه خطبه په دوو خبروکښې د یو دپاره مشروع شوې ده.یا خوخطبه د جواز صلوة شرط ده.لکه چه د جمعې په مانځه کښې ده.یاد تعلیم احکام دپاره

ده.لکه څنګه چه د اخترونو په مانځه کښې ده.دکسوف په مانځه کښې په دې دواړو خبروکښې يو هم نشته.څکه د کسوف د مونځ دپاره خطبه مشروع نه وی.([1])

د استسقاء د مونځ بيان

بَابُ الْاِسْتِسْقَاءِ

ترجمه> (دا) باب داستسقاء(په احکاموکښې) دې.

تشريح> معنى الإستسقاء ووجه مشروعيته> استسقاء څروبول غوښتلو ته وائی.ښکاره ده.چه استسقاء په داسې مقام باندې وی.چه چرته کښې نهر،تالاب،اوچينه نه وی.چه ددې نه خپله اوبه اوڅکی. او څاروو باندې اوبه اوڅکوی.يا دا څيزونه وی.خو ددوی ضرورت دپاره کافی نه وی.اوکه دا څيزونه کافی وی نوخلق به د استسقاء دپاره نه اوځی.څکه چه استسقاء دسخت ضرورت په وخت کښې کيږی.بيا چه کله د استسقاء اراده وی.نومستحب دا دی.چه امام دوی ته د درې ورځو پورې د روژې نيولو او د توبې ويستلوحکم اوکړی.بيا په څلورمه ورځ د دوی سره اوځی.

په استسقاء کښې دامام اعظم رحمه الله په نيزعدم جماعت

قَالَ أَبُوحَنِيفَةَ رحمه الله لَيْسَ فِي الْاِسْتِسْقَاءِ صَلَاةٌ مَسْنُونَةٌ بِالْجَمَاعَةِ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائيلی دی.چې په استسقاء کښې د جماعت سره هيڅ مسنون مونځ نشته فَإِنْ صَلَّى النَّاسُ وُحْدَانًا جَازَ نوکه خلقو څانله څانله مونځ اوکړی.نوجائزدی وَإِنَّمَا الْاِسْتِسْقَاءُ الدُّعَاءُ وَالْاِسْتِغْفَارُ او استسقاء خو صرف دعا او استغفاردې

حل اللغة>①وحدانًا: څان له ②جاز، جاز جوازًا (ن) : جائز کيدل ③استسقاء:اوبه غوښتل

تشريح> عدم الصلاة في الإستسقاء عند أبي حنيفة رحمه الله >په دې باره کښې اختلاف دې.چه استسقاء څه څيز دې.صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز استسقاء فقط د دعا او استغفار نوم دې.په استسقاء کښې په جماعت سره هيڅ مسنون مونځ نشته.که څانله څانله مونځ اوکړې شی.نوجائزدې.

دليله> ①دليل دالله تعالی قول: ﴿فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا﴾ دې.(نوما اووئيل چه دخپل رب نه معافی غواړئ.بيشکه هغه ډير بخونکې دې.په تاسو به راوليګی دآسمان نه پرله پسې باران،وجه د استدلال داده.چه الله تعالی د باران نازليدل په استغفار باندې معلق کړی دی. په مانځه پورې نه دی.نومعلومه شوه.چه په استسقاء (سيرابی غوښتلو)کښې اصل دعاء او استغفار دې.

دصاحبينو رحمهما الله نقطه نظر

وَقَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يُصَلِّي الْإِمَامُ رَكْعَتَيْنِ اوصاحبينو رحمهما الله وئيلی دی.چه امام دې دوه رکعته اوکړی.

[1] غلط الزيلعي رحمه الله قول صاحب الهداية من عدم نقل الخطبة في الكسوف ثم نقل حديث اسماء :ثم انصرف بعدان تجلت الشمس فقام فخطب الناس، الحديث،، نصب الراية ٢/٢٤٣)۔

تشریح > **سنیة صلاة الإستسقاء عند الصاحبین** رحمهما الله > په استسقاء کښې د صاحبینو رحمهما الله مذهب دادې چه امام دے خلقو ته دوه رکعته اوکړی.هم دا قول د امام مالك امام شافعی او امام احمد رحمهم الله دې.[1]

دلیلهما > ① دلیل د ابن عباس رضی الله عنهما قول دے [خرج رسول الله ﷺ متبذلاً متواضعاً متضرعاً حتی أتی المصلی فلم یخطب خطبتکم هذه ولکن لم یزل فی الدعاء والتضرع والتکبیر وصلی رکعتین کما یصلی فی العیدین] (۲) یعنی رسول الله ﷺ په ډیره عاجزئ او انکسارئ سره راووتلو.او عیدګاه طرف ته ئې تشریف یوړلو. خوخطبه ئې اونه ونیله.او برابر په دعا او ژړا زارئ کښې لګیا شو.او نبیﷺ دوه رکعته مونځ اوکړو.څنګه چه په اخترونو کښې کولې شی.

الجواب عنه > خو د دې نه جواب دا دې.چه دوی په استسقاء کښې کله مونځ کړې دے اوکله ئې پریخودے دې.نوځکه ددې نه د استسقاء مونځ خو ثابتیږی.خو مسنونیت نه ثابتیږی.او ښکاره ده.چه د جواز نه مونږ هم انکار نه کوو.بلکه کلام د استسقاء دمونځ په مسنونیت اوعدم مسنونیت کښې دې.اوسنت هغه دے چه په هغې باندې نبی کریم ﷺ همیشوالې فرمائیلی وی.

په استسقاء کښې په قرات باندې د جهرکولو حکم

وَيَجْهَرُ فِيهِمَا بِالْقِرَاءَةِ او صاحبینو رحمهما الله فرمائیلی دی.چې په دواړه رکعتوکښې به په جهر سره قرات کوی.ثُمَّ يَخْطُبُ بیا به خطبه وائی

حل اللغة > ①یجهر،جهر جهراً (ف): ښکاره کول ②یخطب، خطب، خطبة (ن):تقریرکول، وعظ کول،د امام خلقو ته خطبه ورکول]

تشریح > **الجهر بالقراءة في صلاة الإستسقاء** > صاحبین رحمهما الله فرمائی.چه د اخترد مونځ په شان به د استسقاء په دواړه رکعتونو کښې قرات بالجهر کوی.(لکه څنګه چه د اختر دوه رکعته دی.اود ورځې دی.او په هغې کښې قرات په جهر سره وی.نودغه شان به د استسقاء په مانځه کښې هم قرات په جهر سره وی.

خطبة الإستسقاء > بیا دے خطبه وائی.ځکه چه د نبیﷺ نه خطبه ونیل ثابت ده.(۳)

المذاهب الثلاثة في الخطبة > ①خود امام محمد رحمه الله په نیز د اختر په شان دوه خطبے دی.د دواړو په مینځ کښې به کینی اوفصل به کوی. ②اود امام ابویوسف رحمه الله په نیزیوه خطبه ده.په زمکه به اودریږی.او خلقو طرف ته به په توجه سره ئې وائی[1].

---

[1] القول الراجح قال العلامة ابن العابدین رحمه الله ،،قوله بل هی،، أی الجماعة جائزة لا مکروهة وهذا موافق لما ذکره شیخ الاسلام من أن الخلاف فی السنیة لا فی اصل المشروعیة ثم قال المفتی غلام قادرمدظله العالی والعمل الیوم علی قول الصاحبین رحمهما الله کذا فی القول الراجح (۱\۱۳٤)-

[2] أخرجه رواه ابوداود فی الإستسقاء باب ۱، والترمذی فی الجمعة باب ٤٤ ، والنسائی فی الإستسقاء باب ۳ وابن ماجه فی الإقامة باب ۱۵۳ واحمد فی السند (۱/۲۳، ۲٦۹، ۳۵۵)۔

[3] أخرجه رواه ابوداود فی الإستسقاء باب ۱، والترمذی فی الجمعة باب ٤٤ ، والنسائی فی الإستسقاء باب ۳ وابن ماجه فی الإقامة باب ۱۵۳ واحمد فی السند (۱/۲۳، ۲٦۹، ۳۵۵)۔

④ اود ابوحنیفه رحمه الله په نیز خطبه نشته.ځکه چه خطبه د جماعت تابع وی.او د امام صاحب په نیز جماعت نشته.

په استسقاء کښې د دعا مستحب طریقه

وَيَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ بِالدُّعَاءِ او په دعا کښې به قبلې طرف ته متوجه وی

تشریح> **إستقبال القبلة**> د استسقاء په دعا کښې مستحب طریقه دا ده.چه د قبلې په طرف مخ کړی.
دلیله> ځکه چه د نبی ﷺ نه په دعا کښې استقبال قبله او د څادر اړول مروی دی.

وَيُقَلِّبُ الْإِمَامُ رِدَاءَهُ او خپل څادر نی اَلټه کړو.

تشریح> **سنة تحویل الرداء**> صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه خپل څادر دے اَلټه کړی.او ددې طریقه دا ده.که څادر څلور ګوټه وی.نو پورتنی حصه دے لاندې کړی.او لاندینې حصه دے پورته کړی .او که مدور(ګول)وی.لکه جبه،نو ښي حصه دے ګس طرف ته کړی.او ګسه حصه دے ښي طرف ته کړی.
دلیله> د څادر په اړولو باندې دلیل دا حدیث دی ([2])
صاحب دهدایه رحمه الله وائی.د قلب رداء حکم د امام محمد رحمه الله مذهب دې.هم ددې قائل امام مالك امام شافعی او امام احمد رحمهم الله دی.[3]
عدم تحویل الرداء عند أبي حنیفة رحمه الله>پاتې شو د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب.نوددوی په نیز به څادر اړول نه کوی.هم دا د امام ابویوسف رحمه الله مذهب دې.
دلیله> د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې.چه دا دعا ده.نودا به په نورو دعاګانو باندې قیاس کولې شی.او په نورو کښې څادر اړول نشته..ځکه به داستسقاء په دعا کښې هم څادر اړول نه کیږی . او دهغې روایت جواب چه په کښې قلب رداء مروی ده.دادې.چه دا تفاولاً وو یا دا چه نبی ﷺ ته د وحی په ذریعه د آسمان حال متغیر کیدل د قلب رداء په وخت معلوم شوی وی.ځکه نبی ﷺ قلب رداء فرمایلې ده.صاحب د قدوری فرمائی.چه خلق دے خپل څادرونه نه اړوی.ځکه چه دا نه دی نقل شوې.چه نبی ﷺ دوی ته د څادرونه اړولو حکم کړې دې.

وَلَا يُقَلِّبُ الْقَوْمُ أَرْدِيَتَهُمْ او قوم به خپل څادرونه نه اړووی

تشریح> د قوم دپاره د څادرونو اړول نشته ځکه څادرونه نه اړوی چه د نبی نه دا نه دی نقل چه هغوی صحابه کرامو ته د څادرونو اړولو حکم کړې وی

---

[1]) القول الراجح هو قول أبي یوسف رحمه الله كذا في فتح القدير(٦٠\٢) والكفاية (٦٠\٢) نقلاً عن القول الراجح (١٥٤\١)
[2]) من حديث عبدالله بن زيد رضي الله عنه اخرجه البخاري في الإستسقاء باب ١، مسلم في الإستسقاء رقم ١، ابوداود في الإستسقاء باب ١ والترمذي في الجمعة باب ٤٣ والنسائي في الإستسقاء باب ٧ وابن ماجه في إقامة الصلاة والسنة فيها باب ١٥٣ رقم ١٢٦٧ والدارمي في الصلاة باب١٨٨ أحمد في المسند (٣٩/٤، ٤، ٤١)۔
[3]) القول الراجح هو قول محمد رحمه الله كذا في ردالمحتار(٦٢٤\١) والهندية (١٥٤\١) والبحرالرائق (١٦٨\٢) نقلاً عن القول الراجح (١٥٥\١)۔

الإعتراض ﴾ که څوك دا اووائي چه دا حديث راغلے دے.چه نبی ﷺ څادر واړولو .نوخلقو چه نبی ﷺ اوليدلو. خپل څادرونه ئے واړول.اونبی ﷺ په هغوی باندې انکاراونکړلو .نوددې نه ثابته شوه.چه د قوم دپاره هم څادرونه اړول سنت دی.

الجواب ﴾ په دې موقع باندې دخلقوڅادرونه اړول داسې وو.لکه څنګه چه نبی ﷺ د مانځه په دوران کښې پښې اوويستلې.چه صحابوﷺ اوليدلو.نوهغوی هم خپلې پښې اوويستلې. نوهلته د پښو ويستل حجت نه وو.نو دغه شان په دلته هم دڅادرونو اړول حجت نه وی.او نبی ﷺ انکار ددې وجې اونکړلو.چه د څادرونه اړول په اتفاق سره حرام نه دی.بلکه کلام ددې په مسنونيت کښې دې.

وَلَا يَحْضُرُ أَهْلُ الذِّمَّةِ الإِسْتِسْقَاءَ او په استسقاء کښې به ذمی خلق نه حاضريږی

تشريح ﴾ **حضورأهل الذمة صلاة الإستسقاء** ﴾ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه استسقاء کښې دے ذميان خلق نه حاضريږی.

دليله ﴾ ځکه چه د مسلمانانو وتل د رحمت د نازليدو په غرض د دعا دپاره وی.اود کافرانو په باره کښې الله تعالی فرمائی. ﴿وَمَا دُعَاءُ الْكٰفِرِيْنَ إِلَّا فِي ضَلٰلٍ﴾ يعنی د کافرانو دعا ضائع او په تاوان کښې

صورة جواز خروج أهل الذمة ﴾ دامام مالك ،امام شافعی او امام محمد ﷺ فرمائی.چه ذميانو ته به د استسقاء دپاره د وتلو حکم نشی کولې.اوکه دوی په خپله راوځی.نو منع کولے به هم نشی.خو دا خبره دے ياده وی.چه ذميان دے يوه ورځ هم يواځے نه راوځی.بلکه کله چه هغوی راوځی.نوځه مسلمانان دے ورسره ضرور وی.ځکه چه د استسقاء په ذريعه د رزق طلب مقصود وی.او الله تعالی مومن او کافر ټولو ته رزق ورکوی.نوکه کافر په يوه ورځ کښې خانله د الله تعالی په دربار کښې دعا اوکړی.او په اتفاق سره په هغه ورځ باران اوشی.نو په دې به ډيره فتنه پيدا شی.

باب قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ

زباړه:- دا باب د رمضان د قيام (په بيان) کې دی.

تشريح:- **وجه ذكر لفظ رمضان** ﴿ صاحب دقدوری په عنوان کې د قيام رمضان لفظ دحديث په اتباع کې ذکرکړی دی.ځکنچې حضور ﷺ فرمانيلی دی.﴿ ان الله تعالی فرض عليكم صيامه و سنت لكم قيامه ﴾يعنی الله تعالی په تاسو باندې د رمضان روژه فرض کړې ده.اوما ستاسو لپاره ددے قيام مسنون کړو.(ابن ماجه) په حديث کې د قيام رمضان لفظ موجود دی.په دے وجه د فصل عنوان هم په دے لفظ سره تجويز کړې شو.

الربط بماقبله ووجوه الفرق بين النوافل والتراويح ﴿ د تراويح لمونځ چونکه د نوافلو نه لږ شان مختلف دی.ځکه ئې تراويح يعنی قيام الليل په خانله فصل کې ذکر کړلو.تراويح د عامو نوافلو نه په څو خبرو کې مختلف دی. ① اوله داچې څلورم داچې په تراويحو کې يو قرآن ختمول مسنون دی.په نورو نفلونو کې دا سنت نه دی ② دوهم داچې نوافل د هيڅ وخت سره خاص نه دی.او تراويح د رمضان د شپو سره مخصوص دی. ③ دريم داچې نفلو کې د رکعتونو تحديد نشته دې.او په تراويحو کې د رکعتونو حد شته. ④ په عامو نفلونو کې جماعت نشته او په تراويح کې جماعت دې.(عنايه)

د تراويحو حکم او رکعتونه

(يُسْتَحَبُّ أَنْ يَجْتَمِعَ النَّاسُ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ بَعْدَ الْعِشَاءِ د رمضان په مياشت کې د ماسخوتن نه روسته د خلګو

راجمع کيدل مستحب دی

حل اللغة:① ان يجتمع،اجتمع اجتماعاً جمع کيدل

تشريح:- كيفية اداء التراويح۞امام قدوری رحمه الله فرمائي.چې د ماسخوتن د فرضو نه روسته د رمضان په مياشت کې د تراويحو په غرض سره د خلکو راجمع کيدل مستحب دی.امام به خلکو ته پنځه ترويحے کوی.هره ترويحه به په دوو سلامونو سره ادا کوی.او د هر دوو ترويحو په مينځ کې به د يو ترويحے په مقدار د آرام په غرض کينی.بيا به امام دوی ته وتر لمونځ کوی.

وجه تسمية التراويح۞صاحب د عنايه ليکلی دی.چې ترويحه دڅلور رکعتو نوم دی.ځکه‌چې څلور رکعتونه راحت او آرام ته رسوی.يعنی د څلور رکعتونو نه روسته د راحت او آرام اجازت ورکړې شوېدې.

حكم التراويح۞د قدوری د عبارت نه معلوميږی.چې د تراويح لمونځ مستحب دې. علامه مرغينانی فرمائي‌چې صحيح خبره داده.چې تراويح سنت مؤکده دی. د سرو لپاره هم او د ښځو لپاره هم.د امام ابوحنيفه رحمه الله نه هم دا مروی دی.چې تراويح سنت مؤکده دی.

دليله:-د سنت مؤکده دليل دا دې.چې خلفاء راشدينو رضی الله عنهم د تراويحو لمونځ باندې مواظبت او هميشوالے کړې دې. اودخلفاء راشدينو رضی الله عنهم په يو عمل باندې مواظبت کول د هغې د مسنونيت دليل دې.ځکه‌چې نبی کريم ﷺ فرمايلی دی.﴿ عليکم بسنتي و سنة خلفاء الراشدين من بعدي﴾يعنی په تاسو باندې زما او زما نه روسته د خلفاؤ سنت لازم دی.دے حديث نه معلومه شوه.چې څنګه د نبی کريم ﷺ معمول بها طريقے ته سنت وئيلی شی.هم دغه ډول د خلفاء راشدينو رضی الله عنهم طريقے ته هم سنت وئيلی شی.

الاختلاف في وقت التراويح۞ ①په دے عبارت کې د تراويحو وخت بيان شوې دې.فرمائي‌چې د تراويحو وخت د ماسخوتن نه روسته او د وترو نه مخکې دې.عام مشائخ رحمهم الله ددے قائلين دی.ترديې که د ماسخوتن نه مخکې يا د وترو نه روسته ئې د تراويحو لمونځ اوکړو.نو دا به تراويح نه وی.ځکه‌چې د تراويح علم د صحابو رضی الله عنهم د فعل نه ثابت شوې دې. نو صحابو‌چې په کوم وخت کې د تراويحو لمونځ کړې دې.هم هغه به د تراويحو وخت وی.او دا خبره منلے شوې ده.چې صحابو رضی الله عنهم د ماسخوتن نه روسته د تراويحو لمونځ کړې دې.نود تراويحو به هم دا وخت وی. ② او د بلخ د متاخرينو مشائخو رحمهم الله مذهب دادې.چې توله شپه د سهار صادق پورې د تراويحو وخت دې.د ماسخوتن نه مخکې هم او د ماسخوتن نه روسته هم.ځکه‌چې د تراويحو نوم قيام ليل دې. ددے وخت به هم ليل يعنی شپه وی.

ترجيح المذهب الاول۞اصح قول دادې.چې د تراويحو وخت د ماسخوتن نه روسته د آخری شپې پورې دې.د وترو نه مخکې هم او د وترو نه روسته هم.ځکه‌چې تراويح نفل دی.چې د ماسخوتن نه روسته مقرر شوی دی.نو د تراويحو لمونځ به د ماسخوتن د لمانځه تابع وی.او تابع د متبوع نه روسته وی. نود تراويح لمونځ به د ماسخوتن نه روسته وی مخکې به نه وی.

فَيُصَلِّي بِهِمْ اِمَامُهُمْ خَمْسَ تَرْوِيحَاتٍ.ددوی امام به دوی ته پنځه ترويحے کوی. فِي كُلِّ تَرْوِيحَةٍ تَسْلِيمَتَانِ په هره ترويحه دوه سلامونه دی وَيَجْلِسُ بَيْنَ كُلِّ تَرْوِيحَتَيْنِ مِقْدَارَ تَرْوِيحَةٍ او د هر دوو ترويحو په مينځ کې د يو ترويحے په مقدار سره به کښيني ثُمَّ يُوتِرُ بِهِمْ بيا دے امام دوی ته وتر اوکړی

حل اللغة:① فيصلي، صلی صلاة: لمونځ کول دعاکول ② ترويحة: د کوم معنی‌چې مطلقاً کښينستل دی، بيا دې ناسته باندې اطلاق اوشوچې په رمضان کې د څلورو رکعتونه روسته د آرام حاصلولو د پاره کيني. بيا هرو څلورو رکعتوته ترويحه اووئيلې شوه.

ابتداء عشرين ركعة بجماعة۞خودا خبره په ذهن کې ساتئ:چې د هدايه په دے عبارت کې دخلفاء لفظ تغليباً

استعمال شوې دې.ګنې دلته کې د خلفاء نه مراد حضرت عمر،عثمان،علی ﷺ مراد دی.ځکه چې باقاعده په جماعت سره د شل رکعته تراويحو پيل د فاروق اعظم ﷺ د عهد خلافت نه شوې وه.ګنې د دے نه مخکې خلګو به خانله خانله تراويح کولې.حضرت عمرﷺ اوفرمائيل.﴿ان اری ان اجمع الناس علی امام واحد فجمعهم علی ابي بن کعب فصلی بهم خمس ترويحات عشرين رکعة﴾څه خلګ په يو امام باندې راجمع کول غواړم .نو خلګ ئې په ابیّ ابن کعبﷺ باندې راجمع کړل.بيا ابیّ ابن کعبﷺ خلګو ته پنځه ترويحو کې شل رکعته لمونځ اوکړو.

السوال@ چې د تراويح لمونځ سنت مؤکد دې.نو صاحب د قدوری لفظ د يستحب ولې اوونيلے؟

الاجوبة@ ① متقدمينو مشائخ ﷫ د يستحب لفظ کله د ډير ښه لپاره استعمالوی.او د ډير ښه لفظ واجب ته هم ګډ دې.نو ممکن ده.چې د مستحب لفظ دلته کې هم په دے معنی وی.يعنی د تراويح لپاره اجتماع ډير ښه او د فضيلت شی دې.او دا سنت دی.

② شيخ ابوالحسن قدوری ﷫ د خلګو اجتماع ته مستحب وئيلی دی.د تراويح لمونځ ته ئې نه دی وئيلی.نو داسې اووايه .چې په رمضان المبارک کې دننه د ماسخوتن لمونځ نه روسته د خلګو اجتماع مستحب ده.خود تراويح لمونځ سنت دې.

③ ځينې صحيح رواياتونه ثابت دی.چې نبی کريم ﷺ د وترو سره د تراويحو يوولس رکعته کړی دی.او د بعضو نه د شلو رکعتو ثبوت ملاويږی. يوولس رکعته د ابوسلمه بن عبدالرحمن دحديث نه ثابت دی.د حديث الفاظ دادی.﴿سالت عائشة ﷞ کيف کانت صلوة رسول الله ﷺ فی رمضان فقالت ما کان يزيد فی رمضان ولا غيره علی احدی عشرة رکعة﴾ (الحديث) (فتح القدير) ابوسلمه بن عبدالرحمن وائی چې ما دحضرت عائشه ﷞ نه پوښتنه اوکړو.چې په رمضان کې د رسول الله ﷺ لمونځ څنګه وو.دوی ﷞ اوفرمايل.چې رسول الله ﷺ به په رمضان او غير رمضان کې د يوولس رکعتو نه زيات نه کول .يعنی اته د تراويح، او درے دوترو.او د ابن عباس ﷺ د حديث نه د شلو رکعتو ثبوت ملاويږی.﴿انه ﷺ کان يصلی فی رمضان عشرين رکعة سوی الوتر﴾ابن عباسﷺ وائی چې نبی کريم ﷺ به په رمضان المبارک کې د وترو نه علاوه شل رکعته کول.(فتح القدير) اوس بعضو حضراتو په دے دواړو حديثونو کې د تطبيق کاوه کوښښ کړې دې.دوی فرمائی.چې اته رکعته د وترو نه علاوه سنت دی.او شل رکعته مستحب دی.نو کيدې شی.چې صاحب د قدوری هم په دے قول باندې عمل کاوه په وجه يستحب وئيلی وی.يعنی شل رکعته په پنځو ترويحو کې مستحب دی.

استحباب الترويحة @ په دے عبارت کې بيان شوی دی.چې د دوې (دوه) ترويحو په مينځ کې او د پنځمے ترويحے او د وترو په مينځ کې کښينستل مستحب دی.

دليله@ دليل د اهل حرمين يعنی د مکې او مدينې د خلګو عادت دې.د مکې خلګ د دوو ترويحو په مينځ کې د بيت الله طواف کوی.او د مدينې خلګ د دے په عوض کې څلور رکعته نفل لمونځ کوی .او د هر ښار خلګو ته اختيار دې.چې د دوو ترويحو په مينځ کې تسبيح اووائی.يا د کلمے طيبے ورد اوکړی.يا خاموشۍ سره انتظار اوکړی.

په غير رمضان کې د وتر دجماعت حکم

(وَلَا يُصَلَّى الْوِتْرُ بِجَمَاعَةٍ فِي غَيْرِ شَهْرِ رَمَضَانَ) او وتر به جماعت سره نه کوی د رمضان المبارک نه علاوه

حل اللغة:① لايصلی، صلی صلاة لمونځ کول،دعا کول ② شهر مياشت

تشريح:- **كراهة الوتربجماعة في غيررمضان**@ د رمضان المبارک نه علاوه په نورومياشتو کې وتر په جماعت سره مشروع نه دی.ځکه چې وتر من وجه نفل دی.او د رمضان نه سوا کې نفل په جماعت سره کول مکروه دی.نو احتياط هم په دے کې دې.چې د رمضان نه سوا وتر جماعت سره اونکړې شی.هم په دے باندې د مسلمانانو

اجماع دہ.

الاختلاف في فضيلة الوتر بجماعة في رمضان: البته په رمضان المبارك كي وتر په جماعت سره كول مكروه نه دي خو په افضليت كي اختلاف دي.① علامه ابن الهمام رحمه الله ونيلي دي چې د رمضان په مياشت كي وتر په جماعت سره كول افضل دي. ځكه چې عمر رضي الله عنه به وتر په رمضان كي په جماعت سره كول.② او ابوعلي نسفي رحمه الله ذكر كړى دى. زمونږ د عالمانو رحمهم الله په نيز جماعت سره نه كول افضل دي. ځكه چې ابى بن كعب رضي الله عنه به وتر د جماعت سره نه كول. والله اعلم.

د ويرې د مونځ بيان

بَابُ صَلَاةِ الْخَوْفِ

ترجمه> دا باب د ويرے د مونځ په بيان كښې دي.

تشريح> الربط بما قبله> قيام الليل د خوشحالئ حالت دې او صلاة الخوف د ويرې حالت دې. او خوشحالي او ويره د يوبل تضاد دې. نو دلته د تضاد په اعتبار سره يو بل سره ربط دې. لكه څنګه چې مونږ په پښتو كښې وايو غم او ښادي ورور خور دى.

د استسقاء اود ويرے مونځ په مينځ كښې مناسبت دادې. چه د دواړود مشروعيت د ويرے عارض دې. خودومره فرق دې. چه په استسقاء كښې عارض يعنى د باران منقطع كيدل، سماوى اوغير اختيارى دې. او په صلاة الخوف كښې عارض اختيارى دې. يعنى جهاد، چه ددې سبب د كافر كفر او د ظالم ظلم دې. نو غير اختيارئ څيز اقوى وى. ځكه صلاة استسقاء مقدم كړې شو.

د صلاة الخوف كولو طريقه

إِذَا اشْتَدَّ الْخَوْفُ كله چې ويره زياته شى جَعَلَ الْإِمَامُ النَّاسَ طَائِفَتَيْنِ نوامام دے خلق دوه ډلے كړى طَائِفَةٌ إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ، وَطَائِفَةٌ خَلْفَهُ يوه ډله دے د دښمن مخے ته پريږدى. اوبله ډله دے خپل شاته كړى فَيُصَلِّي بِهَذِهِ الطَّائِفَةِ رَكْعَةً وَسَجْدَتَيْنِ نودے ډلے ته دے يوركعت او دوه سجدے مونځ اوكړى فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ كله چې دے دويمے سجدے نه خپل سراوچت كړى مَضَتْ هَذِهِ الطَّائِفَةُ إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ نو دا ډله دے د دښمن مقابلے ته لاړه شى وَجَاءَتْ تِلْكَ الطَّائِفَةُ او هغه ډله دے راشى فَيُصَلِّي بِهِمُ الْإِمَامُ رَكْعَةً وَسَجْدَتَيْنِ نو امام دے دوى ته يو ركعت او دوه سجدے اوكړى وَتَشَهَّدَ وَسَلَّمَ اوتشهد دے اووائى. او سلام دے واړوى وَلَمْ يُسَلِّمُوا، وَذَهَبُوا إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ، اوددې ډلے خلق دے سلام نه اړوى. (بلكه هم په دې حالت كښې ×دے د دښمن مخے ته لاړه شى وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُولَى او اوله ډله دے راشى فَصَلَّوْا وُحْدَانًا رَكْعَةً وَسَجْدَتَيْنِ بِغَيْرِ قِرَاءَةٍ ددې ډلے خلق دے يوركعت او دوه سجدے خانله خانله بغير قرائته پوره كړى وَتَشَهَّدُوا وَسَلَّمُوا وَمَضَوْا إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ او تشهد دے اووائى. سلام دے واړوى. اوددښمن مقابلے ته دے لاړشى وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى او بله ډله دے راشى وَصَلَّوْا رَكْعَةً وَسَجْدَتَيْنِ بِقِرَاءَةٍ او يوركعت او دوه سجدے دے قرات سره اوكړى وَتَشَهَّدُوا وَسَلَّمُوا او تشهد دے اوكړى. اوسلام دے واړوى.

حل اللغة ﴿ ①اشتد، اشتد اشتدادا: سختیدل ② جعل، جعل جعلا (ف):کول،جوړول ③ وجه: طرف ④ عدو جمع اعداء: دښمن ⑤ رفع،رفع رفعا (ف): اوچتول ⑥ مضت،مضی مضیا (ض): تیریدل ⑦ وحدانا: خان له کیدو سره

تشريح ﴿ القولان في علة رخصة صلاة الخوف﴾ ①دقدوری عبارت [اذااشتد الخوف]نه په ظاهره معلومیږی .چه د ویرے د مونځ دجواز دپاره د ویرے سخت والے شرط دے.حالانکه د عامو مشانخو ﷺ په نیز د ویرے سختوالے شرط نه دے. بلکه د صلاة الخوف د جواز دپاره صرف د دښمن نزدیکت کافي دے. ②په دے وجه په مبسوط کښې ونیلی شوی دی.چه د بعضې خلقو په نیزد ویرے نه حقیقة خوف مراد نه دے.بلکه د دښمن وجود مراد دے.نود دښمن وجود د خوف قائم مقام دی.لکه چه نفس سفرد مشقت قائم مقام دے.اود مانځه د رخصت او د روژے د رخصت وغیره سبب دے.

كيفية صلاة الخوف﴾ د ویرے دمونځ طریقه دا ده.چه د وخت امام دے خلق په دوو ډلو کښې تقسیم کړی.یوه ډله دے د دښمن مخامخ اودروی.او بله ډلے ته دے یو رکعت اوکړی.نوکله چه امام د اول رکعت د دویمے سجدے نه سر راپورته کړی.دا ډله دے پیدل د دښمن مقابلے له لاړه شی .اوهغه ډله کومه چه دښمن ته مخامخ وی.هغه دے د امام شاته اودریږی.امام به دے خلقو ته یورکعت اوکړی.سلام به واړوی.خو خلق به سلام نه اړوی.بلکه د دښمن مقابلے ته به لاړشی.اوس اولنۍ ډله به خانله خانله خپل رکعت پوره کړی.دا رکعت بغیر د قرات نه شو.ځکه چه دا خلق د تحریمے نه د امام سره د شرکت په وجه لاحقین دی.او په لاحق قرات نشته.ددے ډلے مونځ پوره شو.نودا ډله دے سلام واړوی.ددښمن مقابلےته دے لاړه شی.او دویمه ډله دے خپل رکعت پوره کړی سلام دے واړوی.د دوی یورکعت قرات سره دے.ځکه چه دا خلق په اولنی رکعت کښې د امام سره د عدم شرکت په وجه مسبوقین دی.اوپه مسبوق قرات واجب وی.ځکه به دا خلق قرات کوی.

دليله﴾ علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه په صلاة الخوف کښې اصل دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دے. الفاظ د حدیث دا دی. [عن ابن مسعود رضي الله عنه صلى رسول الله ﷺ صلوة الخوف فقاموا صفا خلفه وصفا مستقبل العدو فصلى بهم ﷺ ركعة ثم جاء الآخرون فقاموا في مقامهم واستقبل هؤلاء العدو فصلى بهم ﷺ ركعة ثم سلم فقام هولاء العدو فصلوا لأنفسهم ركعة وسلموا، ثم ذهبوا، فقاموا مقام اولئك مستقبل العدو، ورجع اولئك إلى مقامهم فصلوا لانفسهم ركعة ثم سلموا] [1] دابن مسعود رضي الله عنه نه نقل دی.چه رسول الله ﷺ صلاة الخوف اوکړو.نو یوه ډله د نبی کریم ﷺ شاته اودریدله.اوبله د دښمن په مقابله کښې ،نبی کریم ﷺ دوی ته یو رکعت اوکړو.بیا دویمه ډله راغله.اود دوی په ځائې اودریدله.اودا د دښمن مقابلے ته لاړله.نبی کریم ﷺ دوی ته هم یو رکعت اوکړو.بیا نبی کریم ﷺ سلام واړولو.بیا دے خلقو په خپله یو رکعت اوکړو، اوسلام ئې واړولو.اولاړل.د هغوی په ځائې د دښمن په مقابله کښې اودریدل.او هغوی ددوی ځائې ته راغلل.او خانله خانله ئې یو رکعت اوکړو.نو سلام ئې واړولو.

صورة فضل الجماعتين ﴿صاحب د عنایه رحمه الله لیکلی دی.چه د داسې صلوة الخوف اجازت په هغه وخت کښې دے.چه کله یو امام وی.د ده نه سوا خلق بل چا پسې مونځ کولو ته تیار نه وی.اوکه څو امامان

[1] حديث ابن مسعود رضي الله عنه اخرجه ابوداود في صلاة السفرباب ۱۷ رقم ۱۲۴۴ والبيهقي في السنن الكبرى (۳/۳۷، ۳۷۱ رقم ۶۴۴)

وی.اوپه دوی کښې د چا اختلاف هم نه وی.نوافضل دا دی.چه یو امام یوے ډلے ته پوره مونځ اوکړی.اودا د دښمن مقابلے ته اولیږی.او بله ډله کومه چه د دښمن په مقابله کښې وه.په هغې کښې یوکس ته حکم ورکړی. چه دوی ته پوره مونځ ورکړی.

عدم جواز صلاة الخوف عند أبي يوسف رحمه الله >د صاحب هدایه رحمه الله د قول مطابق حضرت امام ابویوسف رحمه الله د رسول الله ﷺ د وفات نه پس د صلاة الخوف د مشروعیت نه انکار کړې دې.امام ابویوسف رحمه الله په ابتداء کښې د طرفینو رحمهما الله په شان قائل وو.یعنی چه صلاة خوف جائز دې. بیا ئې دخپل دے قول نه رجوع اوکړله. فرمائی چه د صلوة الخوف مشروعیت د نبی کریم ﷺ د ژوند سره خاص دې.[1]

دلیله >اودلیل دادې.چه د خوف د مونځ په باره کښې الله تعالی فرمائی.﴿ وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَاةَ ﴾(الآية پ۶،ع۱۲) په دې آیت کښې په خاص طور رسول الله ﷺ ته د صلاة الخوف قائمولو حکم شوې دې.چه کله ته امام ئې.نو هره ډله به په تا پسې د مونځ کولو فضیلت حاصلولو کوشش کوی.ددوی د وفات نه پس دا جګړه ختمه شوه.او هره ډله بل امام پسې په پوره مونځ کولو قادر ده.نود تلو راتلو په صفت سره به یویو رکعت ادا کول جائز نه وی.

دلیل جواز صلاة الخوف >علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت د امام ابویوسف رحمه الله خلاف حجت دې.څکه چه د ابن مسعود رضی الله عنه روایت کوم چه پورته ذکر دې.په دې کښې په تفصیل سره د رسول الله ﷺ د ویرے مونځ کول ذکر شوی دی.

عدم إثبات الحجة علی أبي یوسف رحمه الله >خوکه څوك دا اووائی چه امام ابویوسف رحمه الله د رسول الله ﷺ په حیات کښې د صلاة خوف مشروعیت انکارکله کړې دې.امام ابویوسف رحمه الله د رسول الله ﷺ په حیات کښې د صلوة خوف د مشروعیت قائل دې.البته د وفات نه پس قائل نه دې.نودا د ابویوسف رحمه الله خلاف څنګه حجت جوړیدے شی.

الجوابان > ①د دې جواب دا کیدے شی.چه د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس د صحابو رضی الله عنهم نه د صلوة خوف مونځ کول ثابت دې.لکه چه سعد بن ابووقاص، ابی عبیده بن الجراح او ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه په اسفهان کښې د صلاة خوف کړې دې.او سعد ابی وقاص رضی الله عنه په طبرستان کښې د مجوسیانو سره جنګ اوکړو.اودوی سره حسن بن علی، حذیفه بن اسحاق او عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه وو. نوسعید بن ابی العاص رضی الله عنه دے حضرات صحابو رضی الله عنهم ته صلاة خوف اوکړو.اوچا هم په دې انکار نه وو کړې. نودا عدم انکار په منزله د اجماع شو.د رسول الله ﷺ د وفات نه پس د صلاة خوف په جواز د صحابو رضی الله عنهم د اجماع نه پس د حضرت امام ابویوسف رحمه الله د صلوة خوف د مشروعیت نه انکار کول څه حیثیت نه لری.

② دویم جواب دادې. چه د ابن مسعود رضی الله عنه روایت من حیث العبارة که د ابویوسف رحمه الله په خلاف حجت نه دې.خومن حیث الدلالة حجت دې.په دې طریقه چه د صلاة خوف سبب ویره ده.او ویره چه څنګه د نبی کریم ﷺ په ژوند کښې متحقق وه.د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس هم متحقق کیدے شی. نوڅنګه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د ویرے په وجه د صلاة خوف مشروع وو.هم ددې سبب په

---

[1] القول الراجح هو قول الطرفين رحمهما الله كذا في فتح القدير مع الكفاية (٦٤\١٢) والهندية (١٥٤) نقلاً عن القول الراجح (١٥٦\١١) نقلاً عن القول الراجح (١٥٦\١١)-

وجه به د نبی کریم ﷺ نه پس هم مشروع وي.

په صلاة الخوف کښې د مقیم امام امامت

فَإِنْ كَانَ مُقِيمًا که امام مقیم وي صَلَّى بِالطَّائِفَةِ الْأُولَى رَكْعَتَيْنِ وَبِالثَّانِيَةِ رَكْعَتَيْنِ نو دوه رکعته مونځ دے اولنۍ ډلےسره .او دوه رکعته دے دویمے ډلےسره اوکړی وَيُصَلِّي بِالطَّائِفَةِ الْأُولَى مِنَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ، وَبِالثَّانِيَةِ رَكْعَةً وَاحِدَةً اوداولے ډلے سره نی د ماښام دوه رکعته او دویمے ډلے سره یو رکعت کړي وو

حل اللغة ﴿۱﴾ مقیما :اقامت کونکي ﴿۲﴾ رکعتین: دوه رکعته ﴿۳﴾ صلی، صلی صلاة: مونځ کول ﴿۴﴾تنصیف: نیم کول]

تشریح ﴿ **کیفیة إمامة المقیم للمسافرین** ﴾ مسئله دا ده.که امام مقیم وي.نودواړو ډلو ته دے دوه دوه رکعته اوکړی.

دلیله﴾خکه چه نبی کریم ﷺ د اقامت په حالت کښې د ماسپخین مونځ هم په دغه طریقه کړي وو.[1] اود ماښام مونځ دے داسې پوره کړی.چه اولنۍ ډلے ته دوه رکعته اوکړی.او دویمے ډلے ته یو رکعت اوکړی.خکه چه په صلاة خوف کښې حکم دا دي.چه امام دے هرے ډلے ته نیم مونځ اوکړی.اود ماښام مونځ نیمه یو پوره رکعت او نیم رکعت دي.اودا خبره منلے شوي ده.چه یو رکعت نشی نیمیدلې.نومونږ وایو.چه اولے ډلے ته دے د تقدم په وجه دوه رکعته اوکړی.اودویمے ډلے ته دے یو رکعت اوکړی.

په حالت د مونځ کښې د جنګ حکم

وَلَا يُقَاتِلُونَ فِي حَالِ الصَّلَاةِ اوهیڅ یوه ډله دے دمونځ په حالت کښې جنګ نه کوی فَإِنْ فَعَلُوا ذَلِكَ که دوی جنګ اوکړو بَطَلَتْ صَلَاتُهُمْ نو مونځ به باطل شی

حل اللغة ﴿۱﴾ لایقاتلون،قاتل مقاتلة: خپل مینځ کښې قتل کول ﴿۲﴾ فعلوا ، فعل فعلاً (ف): کول ﴿۳﴾ بطلت، بطل بطلاً (ن): باطل کیدل

تشریح ﴿ **فساد الصلاة بالقتال في الصلاة** ﴾ مسئله دا ده.چه زمونږ په نیزد مونځ په حالت کښې به هیڅ یوه ډله قتال نه کوی.که قتال ئې اوکړو.نو مونځ به باطل شی.د سر نه شروع کول به لازم شی.

دلیله﴾ دلیل دادی.دغزوه احزاب په موقع د رسول الله ﷺ څلور رکعته فوت شوی وو.نبی کریم ﷺ ئې روستو قضاء راوړله.[2] که د مونځ په حالت کښې قتال جائز وې.نو نبی کریم ﷺ به دا مونځونه ددې په خپلو وختونو کښې اذا کول نه پریخودل.معلومه شوه.چه د مونځ په حالت کښې قتال کول جائز نه دی.

په سورلۍ د مونځ کولو حکم

وَإِنِ اشْتَدَّ الْخَوْفُ بیا که په ویره کښې شدت وی صَلَّوْا رُكْبَانًا وُحْدَانًا نود سوریدو په حالت کښې دے خانله خانله مونځ اوکړی. يُومِئُونَ بِالرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ إِلَى أَيِّ جِهَةٍ شَاءُوا رکوع اوسجده دے په اشاره

[1]) من حدیث جابر اخرجه مسلم في صلاة المسافرین وقصرها رقم ۳۱۱)۔

[2]) من حدیث إبن مسعود رواه الترمذی في المواقیت باب ۱۸ والنسائي في المجتبی (۱۰۷/۱) و رواه احمد)

اوکړی.څنګه چې ممکن وی إِذَا لَمْ يَقْدِرُوا عَلَى التَّوَجُّهِ إِلَى الْقِبْلَةِ که قبلې طرف ته په متوجه کېدو قادر نه وی

حل اللغة ① اشتد ،اشتد اشتدادا: زياتيدل، ډېره وېره ② فرادی: خان کيدو سره ③يومون،امی ايماءً: اشاره کول ④جهة: طرف ⑤لم يقدروا ، قدر قدرةً (ض): قادرکيدل

تشریح **الصلاة على الدابة عند شدة الخوف** مسئله داده.که د دښمن وېره دومره سخته وی.چه دوی مسلمانانو ته د سوارلۍ نه راښکته د مونځ کولو موقع نه ورکوی.نو په دې صورت کښې مسلمانانو دپاره هم په سوارلۍ په ناسته خانله خانله مونځ ادا کول جائز دی.د رکوع او سجدے به اشاره کوی. او د استقبال قبله په سلسله کښې حکم دادې.چه که قبلې طرف ته مخ کول ممکن نه وی.نو کوم طرف ته چه غواړی مخ دے کړی.

دليله دليل د الله تعالى قول [فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالاً أَوْ رُكْبَاناً] دې.او استقبال د قبلې د ضرورت په وجه ساقط شوې دې.

تضعيف رواية جواز الجماعة ركباناً دامام محمد رحمه الله نه يو روايت دا دې.چه په سوارلۍ په جماعت سره مونځ کول مستحسن دی.ددې قائل امام شافعي رحمه الله دې.خودا حکم صحيح نه دې.څکه چه د اقتداء د صحت دپاره د مکان اتحاد شرط دې.اودا په دې حالت کښې معدوم دې. او که يو سرې امام سره دده په سوارلۍ وی.نو دده اقتداء کول صحيح دی.

د جنازې د مونځ بيان

بَابُ الْجَنَائِزِ

ترجمه دا باب د جنازو د احکامو په بيان کښې دې.

تشریح **الربط بما قبله** مرګ چونکه آخری عارض دې.په دې وجه د جنازے مونځ د ټولو په آخر کښې بيان شوېدې.څوک څوک دا اووائی.چه [الصلوٰة فى الكعبة]ددې نه مخکښې ذکرکول پکار وو.حالانکه ددےنه پس ذکر شوې دې.نو ددې جواب دادې.چه [صلوٰة فى الكعبة]دکتاب الصلاة په آخر کښې په دې وجه ذکر شوې دې.چه د کتاب الصلوٰة خاتمه په داسې څيز اوشی.چه په هغې حالاً او مکاناً تبرک حاصليدے شی.

الحركات فى الجنازة جنائز.د جنازه جمع ده.جنازه د جيم په فتح سره د مړی دپاره مستعمل دې.او په کسره سره هغه تختے دپاره مستعمل دې.چه په هغې مړے ايخودے شی.

وجه فرضية الصلاة على الميت كفاية بعضےفرائض داسې قسم مقررشوی دی.چه دا ديو مقام بعضې کسان اداکړی.نود ټولوطرفه ادا کيږی.وجه ئې دا ده.که ټول دا په جمع باندې اوکړی . نو معاشی انتظام به تباه اوبرباد شی.ددوې د نفع ټول تدبيرونه به معطل شی.نود داسې کارونو دپاره يويو سړې کافی دې.د بيمارانو بيمار پرسی آود جنازے مونځ هم په دې طريقه مشروع شوی دی.چه د بيمارانو اومړو ضائع کيدل هم نه وی.اوبعضې خلق که دا پوره کړی.نو مقصد به هم حاصل شی.(احکام اسلام عقل کی نظر مین)

الحكمة فى مشروعية صلاة الجنازة دعقل تقاضا ده.چه کله يوانسان د ډيرو خلقو ډله د يولوے حاکم مخے له بوځی.اودده دپاره سفارش اوکړی.اودده دمعافۍ درخواست اوکړی.اودده دپاره په زارۍ او منت

درخواست اوکړی.نو اخر دده قصورمعاف کیږی.هم دا د جنازے د مونځ راز دې.یعنی د جنازے مونځ په دې وجه مقرر شوې دې.چه د مومنانو یوه ډله د مړی سفارش کښې شرکت اوکړی.نودا د الله تعالی د رحمت نازلیدو دپاره ډیر لوے اثر لری.نبی کریمﷺ فرمائی.[ما من مسلم یموت فیقوم علی جنازته أربعون رجلاً لایشرکون بالله شیئاً إلا شفعهم الله فیه] یعنی هیڅ یوسړې داسې نه مری.چه دده په جنازه کښې څلویښت سړی راجمع وی.چه دوی د الله تعالی سره څوک نه شریکوی.نوددې مړی په حق کښې ددوی سفارش قبلوی.ددې وضاحت دا دې.چه کله دسړی روح د بدن نه اوځی.نودده حس مشترکه وغیره سره حس او ادراک باقی پاتې وی.اوکوم خیالات او علوم چه دده سره وو.د مرګ نه پس دده سره پاتې شی.اوبیا د عالم بالا نه نور علمونه په ده ښکاره کیږی.چه په دې وجه ډیرو ته عذاب یا ثواب ملاویږی.نود الله تعالی د نیکو بنده ګانو همتونه چه کله عالم قدس ته اورسیږی.او ددې مړی دپاره دوی په زړګ اومنت دعا کوی.یا د مړی دپاره ډیر څه صدقه ورکوی.نو د الله تعالی په حکم د مړی په حق کښې دا فائده مند جوړیږی.

د قریب المرګ د څملولو کیفیت

إِذَا احْتُضِرَ الرَّجُلُ کله چې سړې مرګ ته نزدے شی وُجِّهَ إِلَى الْقِبْلَةِ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ نو په ښی طرف ئې د قبلې طرف ته مخامخ کړئ.

حل اللغة> ① احتضر، احتضر احتضاراً: حاضریدل، مرګ ته نیزدې کیدل ② شق: ارخ ③ایمن: ښي

تشریح> **وجه تسمیة المحتضر**> قدوری مرګ ته دنزدیکت نه تعبیر کولودپاره د [احتضرالرجل] لفظ استعمال کړې دې.یعنی مرکیدونکی کس ته ئې "محتضر"ونیلی دی.یا څکه چه مرګ ده سره حاضردې.یا د مرګ فرښتے حاضرےدی.

علامات> علامات د مرګ دا دی.① چه د قریب المرګ دواړه قدمونه سستیږی.
② اودریدے نه شی. ③ پوزه کګیږی. ④ اود اګو(خصیة) څرمن ئې اوږده شی.

کیفیة وضع المحتضر> بهرحال د قریب المرګ عمل دادې.چه دے په ښی ارخ قبلې طرف ته څملولے شی.

دلیله> څکه چه د مړی په قبر کښې د ایخودو هم دا کیفیت مسنون دې ((عن یحیی بن عبد الله بن أبی قتادة عن أبیه أن النبی صلی الله علیه وسلم حین قدم المدینة سأل عن البراء بن معرور فقالوا توفی وأوصی بثلثه لك یا رسول الله وأوصی أن یوجه إلی القبلة لما احتضر فقال ﷺ أصاب الفطرة))[1] أخرجه البیهقی فی الصلاة باب ما یستحب من توجیه المحتضر نحو القبلة رقم ۶۳۹۶ (۳/۳۸۴)_

وَلُقِّنَ الشَّهَادَتَيْنِ اوده ته د شهادتینو تلقین اوکړې شی

تشریح> **تلقین الشهادتین**> دویم عمل دادې.چه قریب الموت ته د شهادتینو تلقین اوکړی.یعنی ده سره کینی.اوبه اوچت آواز [أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمد رسول الله]اووائی.قریب الموت ته ددې کلمے ونیلو حکم نه کوی.څکه چه په ده ډیرد سختئ وخت وی.نعوذ بالله که ده انکار اوکړو .نو خاتمه به ئې په کفر شی.

[1] أخرجه البیهقي في الصلاة باب ما یستحب من توجیه المحتضر نحو القبلة رقم ۶۳۹۶ (۳/۳۸۴)_

دلیله > من یحیی بن عمارة قال سمعت أبا سعید الخدري یقول قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لقنوا موتاکم قول لا إله إلا الله (١) دلیل د نبی کریم ﷺ قول [لقنوا موتاکم شهادة أن لا إله إلا الله] دي. اود موتی نه مراد هغه څوک دے چه مرګ ته نیزدے وي. بالکل مړے مراد نه دي. ځکه چه تلقین دده په حق کښې فائده مند نه نابتیږي.

د جامو ترل او سترګو بندول

وَإِذَامَاتَ بیا چې کله مرشی شَدُّوالَحْيَيْهُ وَغَمَّضَ عَيْنَاهُ نودده جامے دي اوتړي. اودده سترګے دي بندے کړي

تشریح > شد اللحیین وتغمیض العینین > دریم عمل دا دي. چه د مړی جامړیه جامه وغیره اوتړلے شي. اودده دواړه سترګے به بندے کړې شي.

دلیله > عن أم سلمة قالت دخل رسول الله صلی الله علیه وسلم علی أبي سلمة وقد شق بصره فأغمضه ثم قال إن الروح إذا قبض تبعه البصر (٢) اوصاحب د هدایه فرمائیلي دي چه هم دا طریقه متوارث ده. اوپه داسې کولو کښې د مړی ښائست او تزئین هم دي. نو ځکه دا عمل مستحسن او مندوب دي.

وجه تقدیم الغسل > امام قدوري د ټولو نه مخکښې غسل بیان کړي دي. ځکه چه د مرګ نه پس د ټولونه اول هم د دې ضرورت پیښیږي.

القول الأول في سبب وجوب غسل المیت > د مړی دغسل سبب د مړی د مرګ په وجه نجس او پلیت کیدل دی. لکه چه نور حیوانات د مرګ په وجه نجس کیږي.

دلیله > دلیل دادي. که چا مړ انسان په خپل بدن کښې اونیولو. اومونځ ئې اوکړو. نودده مونځ جائز نه دي. اوکه څه محدث (بے اودسه) ئي په اوګه پورته کړو. اومونځ ئې اوکړو. نوجائز دي. نومعلومه شوه. چه مړانسان پلیت دي. اود پلیتئ زوال په غسل سره کیږي. ځکه د مړی غسل لازم اوګرځولي شو. دا خیال ساتل پکار دی. که مړ خناور ته غسل ورکړي شو. نو دا به نه پاکیږي. ځکه چه د مړ انسان د غسل په وجه پاکیدل، صرف دده د تکریم او تعظیم په وجه دی.

القول الثاني في سبب وجوب غسل المیت > د مړی د غسل په سبب کښې اختلاف دي. بعضې وائی. چه د مړی دغسل سبب هغه حدث دي. کوم چه د استرخاء مفاصل په وجه په مړی کښې دننه حلول کوی. ځکه چه د مرګ په وجه انسان پلیت شي.

الإعتراض والجواب > پاتې شوه دا چه کله د مړی د غسل سبب حدث دي. نو د اودس د اندامونو په وینځلو اکتفاء ولے اونکړې شوه. په داسې حال کښې چه د حدث په صورت کښې د اودس په اندامونو وینځلو اکتفاء کولې شی؟

الجواب > په ژوند کښې د حدث په وجه د اودس په اندامونو اکتفاء کول د حرج دفع کولو دپاره وه. ځکه چه حدث هره ورځ پیښیږي. بلکه په یوه ورځ کښې څوځله پیښیږي. نوکه په ژوند کښې د اودس په اندامونو وینځلو اکتفاء اونکړې شي. بلکه د ټول بدن وینځل ضروری شي. نوخلق به په تکلیف او حرج کښې مبتلا شي. په دې وجه په ژوند کښې دحدث په وجه د اودس په اندامونو وینځلو د اکتفاء حکم شوي دي. او پاتې شوهغه حدث چه د مرګ په وجه لاحق شي. نودا مکرر نه وي. بلکه یوځل

(١) أخرجه ابوداود في الجنائز باب في التلقین رقم ٢٧١٠ رجاله ثقات.

(٢) أخرجه ابن ماجه في الجنائز باب ماجاء في تغمیض العینین رقم ١٤٤٤ رجاله ثقات.

پیښیږی.نوچونکه د مرګ په وجه حدث بوخل پیښیدو په وجه د حرج او تکلیف احتمال نشته.نوځکه په دې صورت کښې د ټول بدن وینځلو حکم شوې دې.

حکم غسل المیت علی الناس﴾د مړی غسل په ژوندوخلقو په اتفاق سره فرض کفایه دې.نوکه یو مړ انسان په اوبو کښې اوموندے شو.نوده ته به هم غسل ورکولې شی.اوکه اوپرسیدو.او اوچودو.نوبه ده به اوبه تیرولے شی.والله اعلم.

مړی ته د غسل ورکولو طریقه

فَإِذَا أَرَادُوا غُسْلَهُ اوچې کله مړی ته د غسل ورکولو اراده اوکړی وَضَعُوهُ عَلَى سَرِيرٍ نودے به په یوه تخته واچوی.

حل اللغة﴾①ارادوا،اراد: اراده کول②وضعوه، وضع وضعاً (ف) : ساتل

تشریح﴾ **وضع المیت علی السریر للغسل**﴾ په دې پوره عبارت کښې د مړی د غسل د کیفیت بیان دې. فرمانی چه کله مړی ته د غسل ورکولو اراده وی.نودے به په یوه تخته خملولے شی.او په تخته به ځکه خملولے شی.چه اوبه په مړی اوبهیږی.ځکه که مړے په زمکه خملولے شی.نومړے به په خاوره او خټه کښې خراب شی.صاحب دکتاب خونه د تختے د ایخودو دکیفیت ذکر کړې دې.او نه ئې په دې د مړی ایخودو د کیفیت بیان کړې دې.

وَجَعَلُوا عَلَى عَوْرَتِهِ خِرْقَةً اوددہ په شرمګاه به جامه واچوی.

حل اللغة:①جعلوا ، جعل جعلاً (ف): کول، جوړول ② خرقی: جامه،کپړه

تشریح﴾ **ستر عورة المیت**﴾دمړی په تخته خملولو نه پس به دده عورت (د عورت په پټولو)کپړه اچولے شی.ځکه چه ستر د عورت فرض دې.نو ددې فرض اداکولودپاره به دده په عورت کپړه واچوی .وجه ددې داده.چه سړې څنګه په ژوند کښې محترم وی.دغه شان د مرګ نه پس هم محترم وی.نو دده د محترمیت تقاضا ده.چه دده د عورت پټ کړې شی.

الروایتان فی حد ستر العورة﴾ ①علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه د آسانتیا دپاره عورت غلیظه یعنی د قُبل او دُبر ستر کافی دې.د نوم نه د کونډو پورې ستر ضروری نه دې.هم دا ظاهرالروایة دې. ②د نوادر روایت دې.چه د نوم نه د کونډو پورې ستر ضروری دی

وَنَزَعُوا ثِيَابَهُ اود مړی جامے به اوویستلے شی .

حل اللغة:①نزعوا ، نزع نزعاً (ف): راکوزول، ویستل

دلیله:.صاحب د هدایه فرمائیلی دی چه دمړی ټولې جامے دے اوویستلے شی.چه خلق په آسانتیاسره د مړی په تنظیف او پاکولو قادر وی.وجه داده.چه دغسل نه مقصود د مړی پاکول دی.اوکله چه کپړه سره مړی ته غسل ورکړې شی.نودا مقصود نه حاصلیږی.ځکه چه د غسل په مستعملو اوبو سره چه کله کپړه ناپاکه شی.نو په دې به دوباره د مړی بدن ناپاکه شی.نو غسل به مفید د طهارت نه وی.اوکله چه په جامو کښې غسل ورکول مفید د طهارت نه دی.نود مړی د کپړو ویستل واجب دی.

وَوَضَّؤُوهُ وَلَا يُمَضْمَضُ وَلَا يُسْتَنْشَقُ او مړی له به اودس اوکړې شی .بغیرد خولے وینځلو نه،اوبه پوزه کښې اوبو اچولو نه ثُمَّ يُفِيضُونَ الْمَاءَ عَلَيْهِ بیا به په مړی اوبه اوبَهَوِی.

حل اللغة:①یفیضون، افاض افاضة: بهیول

تشریح > عدم تمضمض المیت واستنشاقه > قدوری فرمائی. چه بغیردخولے وینځلونه اوبه پوزه کښې اوبه اچولونه، مړی له اودس کول پکاردی.

دلیله > اودس خوځکه کول پکار دی.چه اودس دغسل سنت دې.اوخوله وینځل اوپه پوزه کښې اوبه اچول ځکه ترك کړې شوی دی.چه د مړی په خوله اوپوزه کښې اوبه اچول اوبیا ئې ترے راویستل متعذر دی.

وَيُجَمَّرُ سَرِيرُهُ وِتْرًا اوتختے له به طاق ځل خوشبوئی ورکولې شي

حل اللغة: ① یجمر، جمر تجمیرا :لوګې ورکول ② وترا: ناټکۍ

تشریح > تغسیل المیت وتطییبه > .قدوری فرمائی.چه داودس کولو نه پس به په مړی اوبه بیولے شی.دلیل د ژوند په حالت قیاس دې. اودمړی تختے له به طاق ځل خوشبوئی ورکولې شی.خوشبوئی په دې وجه ورکولې شی.چه په دې کښې دمړی تعظیم دې.او طاق ځل

دلیل الایتار > دلیل دا دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی .[إن الله وتر يحب الوتر] (١) الله تعالی یو دې او یووالې خوښوی .

وَيُغْلَى الْمَاءُ بِالسِّدْرِ أَوْ بِالْحُرُضِ اواوبه به دبیرے په پاڼړو یاد اشنان په ګیا جوش سره ورکولې شي

حل اللغة: ① یغلی، غلی غلیانا (ض): جوش ورکول ② السدر:د بیرې پاڼړې ③ الخرض: یوخاص قسم بوټی دې چه په اوبو کښې واچولې شی نو د پاکولو صفت په کښې پیدا کوی لکه د صابن

تشریح > قدوری رحمه الله فرمائی.چه په کومو اوبو مړی ته غسل ورکولې شی.چه په هغې کښې د بیرے پاڼرے یا د اشنان ګیا واچولےشی.اوجوش دے ورکړې شی.ځکه چه په پاکولو او تطهیر کښې دا ډیر فائده مندی دی.

فَإِنْ لَمْ يَكُنْ بیاکه داسےڅه څیز نه وی **فَالْمَاءُ الْقَرَاحُ** نوخالصے اوبه. **وَيُغْسَلُ رَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ بِالْخِطْمِيِّ** او دده ږیره او سر به په ګل خطمی سره اووینځلے شي

تشریح > استعمال الماء القراح > اوکه جوش ورکړې شوې اوبه نه ملاویږی.نو بیا خالصے اوبه هم استعمالو لےشی.د اوبو دا ترتیب د شمس الائمه سرخسی رحمه الله په نیز دې.شیخ الاسلام او صاحب د محیط رحمه الله فرمائی .چه اول دے په خالصو اوبو غسل ورکړې شی.اوبیا دے هغه اوبه استعمال کړې شی.په کومو کښې چه د بیرے پاڼرے اچولے شوې وی.اوجوش ورکړې شوې وی.اوبه دریم ځل دے د کافورو ملاؤ شوې اوبه استعمال کړې شی.

دلیله: دغه شان دابن مسعود رضی الله عنه نه مروی دی. [قال يبدأ أولا بالماء القراح ثم بالماء والسدر ثم بالماء وشيء من الكافور وانما يبدأ أولا بالماء القراح حتى يبتل ما عليه من الدرن و النجاسة ثم بماء السدر حتى يزول ما به من الدرن والنجاسة لأن السدر أبلغ في التنظيف ثم بماء الكافور تطييبا لبدن الميت كذا فعلت الملائكة عليهم السلام بآدم عليه السلام حين غسلوه] عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه مړی ته د غسل ورکولو په وخت په خالصو اوبو سره ابتداء

(١) من حديث أبي هريرة رضی الله عنه أخرجه البخاري في الدعوات باب ٦٩ رقم ٦٤١٠ ومسلم في الذكر والدعاء والإستغفار رقم ٦٠٥)

اوكړي شي.بيا د بيرے په پاڼړو سره جوش وركړي اوبه بيا د كافور ملاوشوي اوبه استعمال كړي شي.اول دے خالصے اوبه ځكه استعمال كړي.چه د بدن خيرے اونجاست وغيره لوند شي.بيا جوش وركړي شوي اوبه په دې وجه استعمالول پكار دي.چه خيرے وغيره لرے شي.ځكه چه د بيرے پاڼړے [ابلغ في التنظيف] دي.بيا د كافورو اوبه د مړي بدن معطر او خوشبودار كولودپاره استعمال كړي شي.هم دا عمل فرښتو آدم عليه السلام ته د غسل وركولو په وخت كړي وو.

ثُمَّ يُضْجَعُ عَلٰى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ بيا به دامړے په كس ارخ څملولے شي فَيُغْسَلُ بِالْمَاءِ وَالسِّدْرِ په اوبو او په بيرو سره به غسل وركړے شي حَتّٰى يُرٰى أَنَّ الْمَاءَ قَدْ وَصَلَ تردے چې اوګورى.چې اوبه هغه ځاني نه اورسيدلې .إِلٰى مَا يَلِي التَّخْتَ مِنْهُ كومه حصه چې تختې سره لګيدلے ده ثُمَّ يُضْجَعُ عَلٰى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ بيا دے دا (مړے) په ښي ارخ څملولے شي فَيُغْسَلُ بِالْمَاءِ حَتّٰى يُرٰى أَنَّ الْمَاءَ قَدْ وَصَلَ إِلٰى مَا يَلِي التَّخْتَ مِنْهُ او غسل دے وركولې شي .تردے چې اوګورى.چې اوبه د مړي د بدن هغه حصې ته اورسيدې كومه چې تختې سره لګيدلے ده

حل اللغة:①شق: ارخ ① ايسر:كس طرف كس ارخ ②وصل،وصلوصولاً (ض): رسيدل

تشريح> وضع الميت علي الشمال واليمين> قدوري رحمه الله فرمائي.چه د مړي سراوده ډيره په خطمى سره وينځل پكاردى.ځكه چه خطمى د صابن په شان بدن پاكونكې دې.ددې تولو كارونو نه د فراغت نه پس به مړے په كس ارخ څملوى،اوبه جوش وركړي اوبو سره به اووينځلے شي.اوچه دومره قدرې اوبه واچولےشي.چه لاندينۍ حصه كومه چه تختے سره لګيدلےوى. هغې پورې اوبه اورسيږى.دا ترتيب ځكه مقرر شوي دې.چه د غسل ښي ارخ نه شروع كول موجود شي.
دليله: سنت هم دادى.چې شروع د ښي ارخ نه وى ([1])

ثُمَّ يُجْلِسُهُ وَيُسْنِدُهُ إِلَيْهِ بيا به غسل وركونكي مړے كينوى.اوخپل خان ته دے اډانه كړى وَيَمْسَحُ بَطْنَهُ مَسْحًا رَقِيقًا اود مړي خيټه دے رُو رُو اُومګى.

حل اللغة:①تلويث:ككړول② بطن: خيټه③ رقيقا : په نرمۍ سره،

تشريح> مسح البطن رقيقا> بيا دے غسل وركونكي خپل خان مړى ته اډانه كړى.اوكينوى دې.اوبه نرمۍ دے د مړي خيټه اومګى.دا مګل په دې وجه دى.كه د مړى په خيټه كښې څه څيز وى.هغه اوځى.چه روسته كفن خراب نه كړى.

دليله> په دې سلسله كښې اصل دا روايت دې.[ان عليا رضي الله عنه لما غسل رسول الله صلى الله عليه وسلم مسح بطنه بيده رفيقاً طلب منه ما يطلب من الميت فلم يرشيئا فقال طبت حيا وميتا] يعني حضرت على رضي الله عنه چه كله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته غسل وركولو.نوبه خپل لاس ئې رو رو ددوى خيټه اومګله .اومقصود هغه څيز طلب كول وو.چه د مړى نه طلب كولےشي.يعنى دحضرت على رضي الله عنه منشاء دا وه.چه كيدے شي دنبى كريم صلى الله عليه وسلم دخيټے نه څه څيز

[1]) من حديث عائشة رضي الله عنها روه البخارى في الصلاة باب ٤٧ ومسلم في الطهارة رقم ٦٦ وأبوداود في اللباب باب ٤١ والترمذى في الجمعة باب ٧٥والنسائى في الطهارة باب ٨٩ والغسل باب ٧١ وابن ماجه في الطهارة باب ٤٢ واحمد في المسند (٩٣/٦)۔

اوخي.خوځه هم اونه وتل.نوحضرت علی رضی الله عنه اوفرمائيل .تاسو په ژوند او مرګ دواړوکښې پاك ئي.

فَإِنْ خَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ بيا كه د مړی د خيټې نه څه اووتل **غَسَلَهُ** نوهغه دے اووينځی **وَلَا يُعِيدُ غُسْلَهُ وَلَا وُضُوءَهُ** اود ده غسل اواودس دے دوباره نه کوی. **ثُمَّ يُنَشِّفُهُ بِثَوْبٍ** بيا دے د مړی بدن په کپړه اوچ کړی.

حل اللغة: ①**خرج:** اووتل، ②**لا يعيد:** نه به راګرځوی، **ينشف:** اوچ کړی

تشريح> عدم إعادة الغسل بعد خروج شيء> دخيټې مګولو نه پس که دمړی د ګيډے نه څه څيز راووتلو.نو دا دے اووينځی.او د غسل ورکولو د اعاده ضرورت نشته.اوداودس کولو څه ضرورت نشته.

دليله> دليل دا دې چه د مړی غسل مونږ په نص پيژندلے دې.نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی.چه د مسلمان په مسلمان شپږ حقونه دی.په دې کښې يود مړی غسل دې.بهرحال د مړی غسل چه واجب دې.په يوځل دغسل ورکولوسره حاصل شوې دې.اوس دوباره دغسل ورکولو ضرورت نه دے پاتې.دغسل نه د فراغت نه پس د مړی بدن په پاکې کپړې سره اوچول پکار دی.چه کفن لوند نه شی.

د مړی د زينت مسنون اعمال

وَيُدْرِجُهُ فِي أَكْفَانِهِ اومړے دے د ده دكفن په كپړو كښې اينغوبنتې شی **وَيَجْعَلُ الْحَنُوطَ عَلَى رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ** او د مړی په سر او ږيره كښې دے حنوط اولګولې شی **وَالْكَافُورَ عَلَى مَسَاجِدِهِ** اودده دسجدے په اندامونودےکافوراولګولې شی

حل اللغة >①يدرج، اونغښتې شی ② حنوط: يوقسم خوشبوئی ده ② حنوط: دا هم يو قسم خوشبوئی ده ③ لحية: ږيره

تشريح> جعل الكافور في أكفانه> مړی ته د غسل ورکولونه پس دے ده ته کفن واغوستلے شی.اود مړی په سر او ږيره کښې دے حنوط اولګولې شی.حنوط د يوڅوخوشبوداره څيزونونه د مرکب عطرونوم دې.اوکوم اندامونه چه په سجده کښې په زمکه لګی.(تندے، پوزه،دواړه لاسونه،دواړه کونډۍ ، دواړه قدمونه)په دې باندې دے کافور اولګولې شی.

دليله> دليل دا دې.چه د مړی بدن خوشبوداره کول سنت دی.اوچونکه په ذکر شوی اندامونو سجده کولې شی.په دې وجه دسجدے اندامونه د عزت زيات لائق دی.اود سنتيت دليل دا دې. دأم عطيه رضی الله عنها حديث دې.چه نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی [واجعلن في الآخرة كافوراً أو شيئاً من كافور] [1] يعنی په آخر كښې د مړی په بدن كافور يا څه خوشبوئ اولګوئ.

[1] ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ الْأَنْصَارِيَّةِ رضی الله عنها قَالَتْ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَتْ ابْنَتُهُ فَقَالَ اغْسِلْنَهَا ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ إِنْ رَأَيْتُنَّ ذَلِكَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَاجْعَلْنَ فِي الْآخِرَةِ كَافُورًا أَوْ شَيْئًا مِنْ كَافُورٍ فَإِذَا فَرَغْتُنَّ فَآذِنَّنِي قَالَتْ فَلَمَّا فَرَغْنَا آذَنَّاهُ فَأَعْطَانَا حِقْوَهُ فَقَالَ أَشْعِرْنَهَا إِيَّاهُ تَعْنِي بِحِقْوِهِ إِزَارَهُ كذا في الموطا للمالك في الجنائز باب غسل الميت رقم ٤٦٥ رجاله ثقات).

د سړي دپاره مسنون کفن

السُّنَّةُ أَنْ يُكَفَّنَ الرَّجُلُ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ إِزَارٍ وَقَمِيصٍ وَلِفَافَةٍ سنت دا دی.چې سړی ته په درې جامو.لنګ قمیص او څادر کښې کفن ورکړې شی

حل اللغة ﴿۱﴾یکفن، کفن تکفینا: کفن ورکول ﴿۲﴾اثواب واحد ثوب: کپړه

تشریح په مسلمانانوکفن ورکول فرض کفایه دې.ځکه په فرضو مقدم وی.نوکه مړے مالداروی.نو هم دده د مال نه واجب دې.ګنی په چا چه دده نفقه واجب وی.د امام ابویوسف رحمه الله په نیز د ښځې کفن په خاوند دې.اګرچه ښځه مالداره وی.اوهم په دې فتویٰ ده.اوپه مالداره ښځه دغریب خاوند کفن نشته.

الأقسام الثلاثة للكفن کفن په درې قسمه دې. ﴿۱﴾کفن مسنون ﴿۲﴾ کفن کفایه ﴿۳﴾کفن ضرورت

الكفن المسنون په دې عبارت کښې د کفن مسنون بیان دې.کفن مسنون د سړو په حق کښې درې کپړې دی.﴿۱﴾ازار، یعنی لنګ خود سرنه پښو پورې پورې مراد دې. ﴿۲﴾ کرته د څټ نه قدم پورې بغیرد لستونړو او د کالر نه﴿۳﴾ څادر د سر نه پښو پورې چه د پورته نه تړلے شی.

دليله ﴿۱﴾د دریو جامو په مسنونیت دلیل دادې.چه نبی کریم ﷺ ته په سحولیه سپینو جامو کښې کفن ورکړې شوې وو.،،سحول،، د سین په فتحه یا ضمه سره د یمن د یوکلی نوم دې.په ابوداؤد کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها حدیث دې.چه نبی کریم ﷺ ته په دریو جامو کښې کفن ورکړې شوې وو.یوه هغه کُرته په کومه کښې چه نبی کریم ﷺ وفات شوې وو.او یوه نجرانی جوړه.او جوړه په دریو جامو مشتمله وی (۱)

﴿۲﴾دویم دلیل دادے چه انسان په ژوند کښې عام طور درې جامے اغوندی.نود مرګ نه پس به هم دده ته درې جامے اغوستلی شی.

په دوه جامو د اکتفاء کولو حکم

فَإِنِ اقْتَصَرُوا عَلَى ثَوْبَيْنِ جَازَ اوکه دوی په دوو جامو اکتفا وکړه .نوجائزده

حل اللغة ﴿۱﴾اقتصر، اقتصر اقتصارا: کفایت کول ﴿۲﴾جاز، جاز جوازا(ن): جائزکیدل

تشریح **كفن الكفاية** په دې عبارت کښې د سړی د کفن کفایه بیان دې.د سړی په حق کښې دوه جامے دی.یولنګ دویم څادر.

دليله: ﴿۱﴾د کفن کفایه دپاره دصدیق اکبر رضی الله عنه په قول استدلال شوې دې.په مصنف عبدالرزاق کښې دی.[عن عائشة رضی الله عنها قالت قال أبوبكر لثوبيه اللذين كان يمرض فيهما اغسلوهما و كفنوني فيهما فقالت عائشة ألا نشترى لك جديدًا فقال لا، الحي أحوج إلى الجديد من الميت] (۲)حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی.چه زما پلار محترم ابوبکر رضی الله عنه اوفرمائیل.د هغه جامو په باره کښې په کومو کښې چه دوی رضی الله عنه بیمار شوی وو.دا دواړه

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُفِّنَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ لَيْسَ فِيهَا قَمِيصٌ وَلَا عِمَامَةٌ اخرجه البخاري في الجنازة باب الكفن بغير قميص رقم ۱۱۹۳۔

(۲) من حديث عائشة رضی الله عنها اخرجه احمد في المسند في ،،كتاب الزهد،، (ص،۱۳۶)وعبدالرزاق في مصنفه (۴۲۳/۳، ۴۲۴، رقم ۶۱۷۸)۔

اووینځي.او ما هم په دې دواړو جامو کښې کفن کړئ.عائشه ﷺ عرض اوکړلو.آیا مونږ ستا دپاره نوے جامے (کفن) وانخلو؟.نو هغوی اوفرمائیل نه.ژوندے سړي د نوے جامو زیات مستحق دې.په نسبت د مړی.(فتح القدیر)

②عقلي دلیل دادې.چه د ژوندی ادنیٰ لباس دوه جامے دی.نود مړګ نه پس هم په دوه جامو اکتفاء کول جائزدی.

كيفية الأثواب الثلاثة>علامه مرغیناني رحمه الله ددې درې واړو تفصیل بیان کړې دې.چه لنګ د سر نه د قدم پورې وی.اوڅادر هم ددې په اندازه وی.اوکرته د څټ نه د قدم پورې وی.خونه په دې کښې جیب وی نه کالر او نه لستونړی.

په کفن کښې د انغښتلو طریقه

وَإِذَا أَرَادُوا لَفَّ اللِّفَافَةِ عَلَيْهِ اوکله چې ورته لفافه اچول اوغواړی. اِبْتَدَءُوا بِالْجَانِبِ الْأَيْسَرِ نو ددې دګس طرفه دے شروع کړی فَأَلْقَوْهُ عَلَيْهِ بِالْأَيْمَنِ نوګس طرف به په مړی ور واچوی.بیا به ښي اړخ ورواچوی. فَإِنْ خَافُوا أَنْ يَنْتَشِرَ الْكَفَنُ عَنْهُ عَقَدُوهُ اوکه د مړی نه دکفن خوریدو نه ویریږی.نودا دے په پټۍ اوتړی.

حل اللغة >①ارادوا، اراد ارادة: غوښتل، اراده کول ② لف: راغونډول ③ جانب: طرف ④ایسر: ګس ⑤ ان ينتشر،انتشر انتشاراً: خوریدل،پرانستل ⑥ عقد، عقد عقداً (ض): غوټه ورکول]

تشريح> **كيفية تكفين الميت**>مړی ته د کفن اچولو طریقه دا ده.چه اول څادر خورکړی.ددې دپاسه لنګ خور کړی.او مړی ته قمیص واغوندی.اوبه لنګ ئې خورکړی.بیا د لنګ ګس طرف راتول کړی .بیا ښي اړخ ،چه ښئ حصه اوچته شي.هم په دغه طریقه څادر را تول شي.

إستحباب الثوب البيض>دکفن دپاره د سوت سپینه جامه افضله ده.ځکه چه د رسول پاک ﷺ ارشاد دے [البسوا من البياض فانه من خير ثيابكم وكفنوا فيها موتاكم](رواه ابوداؤد)یعنی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.چه سپینے جامے اغوندئ.ځکه چه دا بهترینے جامے دی.اوهم په دې کښې خپلو مړو ته کفن ورکوئ.

د ښځې مسنون کفن

وَتُكَفَّنُ الْمَرْأَةُ فِي خَمْسَةِ أَثْوَابٍ اوښځه به په پنځو جامو کښې کفن کولےشی دِرْعٍ وَإِزَارٍ وَخِمَارٍ وَلِفَافَةٍ وَخِرْقَةٍ تُرْبَطُ فَوْقَ ثَدْيَيْهَا قمیص،لنګ،لوپټه،څادر لوپټه او یوه پټۍ،چې ددې سینے برے اوتړلی شی

حل اللغة > ① درع: قمیص ② خمار: لوپټه ③ خرقة: ربنه،پټۍ ④ ثدی: سینه ⑤ تخرج، خرج خروجاً (ن): وتل ⑥ حيوة:ژوند ⑦ ممات: مرکیدل،مرګ ⑧ اقتصروا ،اقتصر اقتصاراً : کفایت کول]

تشريح> **سنة الأثواب الخمسة في كفن المرأة**>په دې عبارت کښې د ښځې د سنت کفن بیان دې. فرمائی چه دښځې مسنون جامے پنځه دی.① کرته ② لنګ ③ څادر ④ لوپټه ⑤ دجامے هغه پټۍ چه په هغې ددې سینے تړ لی شی. یعنی سینه بند ،

دلائله:①دلیل داحدیث دې. عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي عُرْوَةَ ابْنِ مَسْعُودٍ يُقَالُ لَهُ دَاوُدُ قَدْ وَلَدَتْهُ أُمُّ حَبِيبَةَ بِنْتُ أَبِي سُفْيَانَ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ لَيْلَى بِنْتَ قَانِفٍ الثَّقَفِيَّةَ قَالَتْ كُنْتُ فِيمَنْ غَسَّلَ أُمَّ كُلْثُومٍ بِنْتَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عِنْدَ وَفَاتِهَا فَكَانَ أَوَّلُ مَا أَعْطَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحِقَاءَ ثُمَّ الدِّرْعَ ثُمَّ الْخِمَارَ ثُمَّ الْمِلْحَفَةَ ثُمَّ أُدْرِجَتْ بَعْدُ فِي الثَّوْبِ الْآخَرِ قَالَتْ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ عِنْدَ الْبَابِ مَعَهُ كَفَنُهَا يُنَاوِلُنَاهَا ثَوْبًا ثَوْبًا)

② عقلي دليل دادي.چه په ژوند کښې عام طور ښځه په پنځو جامو کښې اوځي.هم په دې قياس کولوسره د مرګ نه پس هم دے ته پنځه جامے ورکړې شوی دی. [فإن اقتصروا على ثلاثة أثواب] کښې ښځې د کفن کفايه بيان ذکرشوېدې.

فَإِنْ اقْتَصَرُوا عَلَى ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ جَازَ اوکه اکتفاء نې وکړه په درې جامو نودا هم جائزده

تشريح > **كفن الضرورة للمرأة** > د ښځې دکفن کفايه درې جامے دی.① لنګ ② دويم خادر ③ خادرد، دريونه په کمو جامو کښې د ښځې کفن کول.که بغير ضرورته وی.نومکروه دی.ګنې جائزدی.اودے ته به کفن ضرورت ونيلی شی.

كفن الكفاية للرجل >هم په دغه طريقه د سړی په کفن کښې په يوے جامے اکتفاء کول مکروه دی .خوکه د ضرورت په وجه وی.نوجائزدی.اود سړی يوه جامه کفن ضرورت دې.

دليله:دليل دخباب ابن ارت رضی الله عنه حديث دې خباب بن ارت رضی الله عنه فرمائی.چه مونږد رسول الله ﷺ سره صرف د الله تعالی د رضا دپاره هجرت اوکړو.نو زمونږ اجر په الله تعالی دې.په مونږکښې چه کوم خلق تيرشول.اوهغوی په دنيا کښې هيڅ حصه اونه موندله.په هغوی کښې مصعب بن عمير رضی الله عنه هم وو.چه د أحد په جنګ کښې شهيد شو .دوی يو کرښے دار خادر پريخودے وو.کله چه به پرے د ده سر پټولو.نو پښے به ني ښکاره شوې .اوچه پښے به مو پټولې.نوسريه ني ښکاره شو.مونږته رسول الله ﷺ حکم اوکړو.چه د مصعب رضی الله عنه سر پټ کړئ.او په پښو نې دا وانبه واچوئ.([2])

مړی ته د کفن اغوستلو طريقه

وَيَكُونُ الْخِمَارُ فَوْقَ الْقَمِيصِ اوپړونې به د قميص دپاسه وی تَحْتَ اللِّفَافَةِ د لفافې دلاندې وَيُجْعَلُ شَعْرُهَا عَلَى صَدْرِهَا اوبه ګرځولی شی ويخته د دې (د کونسو په صورت کښې) په سينه د دې

تشريح > عبارت واضح دې.

وَلَا يُسَرَّحُ شَعْرُ الْمَيِّتِ وَلَا لِحْيَتُهُ اود مړی ويخته او ږيره دے نشی ګومنځ کولې وَلَا يُقَصُّ ظُفُرُهُ او نه دے دده نوکونه کټ کولې شی وَلَا يُقَصُّ شَعْرُهُ او نه دے ويخته کټ کولې شی

تشريح > **عدم التسريح وتقليم الأظفار** > امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه دمړی به نه په ويښتو کښې ګومنځ وخلے شی.او نه په ږيره کښې ،اونه به د ده نوکونه کټ کولې شی.اونه ويښته،

دليله >دليل دادې.چه دحضرت عائشې رضی الله عنها نه د مړی د ويښتو ګومنځولو په باره کښې

---

[1]) أخرجه ابوداود في الجنائز باب في كفن المرأة رقم ٢٧٤٥ رجاله ثقات۔

[2]) عَنْ خَبَّابٍ قَالَ إِنَّ مُصْعَبَ بْنَ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ إِلَّا نَمِرَةٌ كُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَأْسَهُ خَرَجَ رِجْلَاهُ وَإِذَا غَطَّيْنَا رِجْلَيْهِ خَرَجَ رَأْسُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَطُّوا بِهَا رَأْسَهُ وَاجْعَلُوا عَلَى رِجْلَيْهِ شَيْئًا مِنَ الْإِذْخِرِ أخرجه ابوداود في الجنائز باب كراهية المغالات في الكفن رقم ١١٨٦ رجاله ثقات إلا محمد بن كثير فإنه قد اختلف فيه۔

تپوس اوشو. نو حضرت عائشې رضي الله عنها وفرمائيل. [علام تنصون ميتكم](1) لفظ د ،،علام،، په اصل كښې د ،،على ما،، دې. يعنى،، ما ،، استفهاميه،،على،،حرف جر داخل شوې دې.بيا ددې الف ساقط شو ، لكه د الله تعالى قول په [﴿عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ﴾ كښې (نصا ينصوا نصواً) معنى ده. تندے نيول او رابنكل بهر حال حضرت عائشه رضي الله عنها په جواب كښې اوفرمائيل. تاسو دخپل مړى تندے ولے نيسئ اوراكاږئ.گويا حضرت عائشه رضي الله عنها د مړى په ويختو گومنځولود ناراضگئ اوناخوښئ اظهار اوكړلو.او گومنځولو نه ئې دتندى نيولو اورابنكلو سره تعبير كړې دې.

وجه إستحباب التسريح وتقليم الظفارفي الحي>او پاتې شو د ژوندى خلقو په دې خيزونو عمل كول، نو ددې وجه داده.چه د نوكونو او ويښتو وغيره لاندې د خيرے جمع كيدو په وجه د پاكئ دپاره دوى ته ددې اجازت شوې دې.اودا د ختنے په شان شو.لكه چه د ژوندى سړو ختنه مسنون ده.اومړے كه بے ختنے وى.نوزمونږاود امام شافعى رحمه الله په نيز په اتفاق ختنه نشى كولې.والله اعلم.

كفن له د خوشبوئى لوگى كولو حكم

وَتُجَمَّرُ الْأَكْفَانُ خوشبوئى به لوگے كړې شى .كفن ته قَبْلَ أَنْ يُدْرَجَ فِيهَا وِتْرًا مخكښې ددې نه چې مړے په كښې اونغښتے شى

حل اللغة >① تجمر، جمر تجميراً: لوگې وركول② يدرج، ادرج، ادراجاً: داخلول

تشريح> **سنية تجمير الكفن**>په دې عبارت كښې دكفن ته د خوشبوئى لوگے كولوحكم ذكر شوې دې.اجمار خوشبولوگے كول دى.اوخوشبو لوگے كول طاق خل سنت دى.

دليله>لكه څنگه چه په دې دا حديث شاهد دې. **حديث جابر رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال [إذا أجمرتم الميت فأجمروا ثلاثاً]**(2)كله چه تاسو مړې خوشبويه كوئ نو درې خله ئې خوشبويه كوئ

د كفن نه د فراغت نه پس به په ده د جنازے مونځ كولې شى.څكه چه د جنازے مونځ فرض كفايه دې.

د جنازې د مونځ فرضيت

فَإِذَا فَرَغُوا مِنْهُ صَلَّوْا عَلَيْهِ اوكله چه د مړى د كفن نه فارغ شى نو په ده باندې به (امام) د جنازې مونځ كوى

تشريح> **دلائل فرضية صلاة الجنازة**>دجنازے دمونځ په مشروعيت دالله تعالى قول ﴿ وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۗ ﴾دليل دې.او د نبى كريم صلى الله عليه وسلم قول [صلوا على كل برو فاجر] دليل دې.او اجماع د أمت ده.(كفايه)

كون الجنازة فرض كفاية>دجنازے مونځ فرض كفايه دې.فرض څكه درجه ،صل ،اود رسول الله صلى الله عليه وسلم په قول كښې ،صلوا،د امر صيغه ده.اوامرد وجوب (فرض)موجب دې.او كفايه په دې وجه دې.چه په تولو خلقو

1) عن إبراهيم ان عائشة أم المؤمنين رضى الله عنها رات ميتاً يسرح راسه فقالت علام تنصتون ميتكم. كذا في كتاب الآثار في الصلاة باب الجنائز وغسل الميت رقم ۳۸۲(۷۸)۔

2) رواه ابن حبان في النوع السابع والثمانين من القسم الأول و الحاكم في المستدرك (۳۵۵/۱) والبيهقي في السنن الكبرى (۵٦۸/۳) رقم ٦۷۰۲)۔

واجب کول یاخو محال دي.اویا په دې کښې حرج دې.ځکه نې په بعضو اکتفاء کړې ده.لکه څنګه چه په جهاد کښې دی.

سبب وجوب الجنازة﴿دجنازے دمونځ د وجوب سبب مړے دې.

شروط وجوب صلاة الجنازة﴿ ① اوددې دجواز شرط د مړی مسلمان کیدل دی.ځکه چه په کافر مونځ کول جائز نه دې.دالله تعالی ارشاد دے ﴿وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ ۖ إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ﴾ ② اودویم شرط د مړی طهارت دې.که دغسل ورکولو نه اول په مړی مونځ د جنازے اوشی.نو دغسل نه پس به دجنازے اعاده کولې شی. ③ دریم شرط دا دې.چه جنازه د مصلی مخے ته وی.نو په غائب دجنازے مونځ کول جائز نه دی. ④ دغـه شان که جنازه د مونځګذارشاته وی.نوجائزنه دے.

په مړی د جنازې د مونځ حقدار

وَأَوْلَى النَّاسِ بِالْإِمَامَةِ عَلَيْهِ السُّلْطَانُ إِنْ حَضَرَ اوپه مړی دجنازے دمونځ دپاره د ټولونه غوره بادشاه دې .که جنازے ته حاضر شو

حل اللغة﴿ ① حضر، حضرحضوراً (ن): حاضریدل

تشریح﴿ **إستحقاق السلطان وجوباً**﴿دجنازے دمونځ دامامت په استحقاق کښې ترتیب دا دې.که بادشاه حاضرشو.نودجنازے امامت د ټولونه زیات مستحق هغه دې.

دليله:ځکه چه د بادشاه په موجودګئ کښې بل څوك امام جوړیدوکښې د بادشاه توهین دې.حالانکه بادشاه ظل الله دې.نو څوك چه دده عزت کوی.الله تعالی به د هغه عزت کوی.اوڅوك چه دده اهانت (سپکوالې) کوی. نوالله تعالی به د هغه اهانت کوی.اوکه بادشاه رانغلو.نوبیا به قاضی مستحق د امامت وی.ځکه چه قاضی ته په ټولو ولایت عامه حاصل وی.اګرچه دبادشاه په مقرر کولوسره وی. ددې دواړو تقدیم واجب دې.

فَإِنْ لَمْ يَحْضُرْ نوکه بادشاه رانغلو فَيُسْتَحَبُّ تَقْدِيمُ إِمَامِ الْحَيِّ نودمحلے د امام وراندې کول غوره دي

تشریح﴿ **إستحباب تقديم إمام الحي**﴿اوسلطان حاضرنشو.نودمحلے امام مخکښې کول مستحب دی.

دليله:ځکه چه مړے په خپل ژوندکښې دده په امامت راضی وو.نودمرګ نه پس به هم د هغه دخوښے امام بهتروی.چه د شریعت مخالفت رانشی.بیا ولی د امامت مستحق دې.اودمړی ولیان به د امامت په حق کښې هم په هغه ترتیب وی.کوم ترتیب چه په نکاح کښې مذکوردې.

ثُمَّ الْوَلِيُّ بیا د مړی ولی بهتردې

تشریح﴿ **الفرق بين ولاية النكاح والجنازة**﴿خوپه نکاح کښې دښځې خوئې د ښځې په پلار مقدم دې.اودلته کښې پلار په امامت کښې غوره دې.اوکه د مړی دوه ولیان برابروی.مثلاً د ده دوه سکه رونړه وی. نو په دوی کښې چه د چا عمر زیات وی.هغه به مقدم وی.خو ده ته دا اختیار نشته.چه په خپل ځائې څوك پردے کس مخکښې کړی.البته دا چه دویم هم راضی وی.

د غیر ولي د جنازې مونځ کولو صورت

فَإِنْ صَلّٰى عَلَيْهِ غَيْرُ الْوَلِيِّ وَالسُّلْطَانِ كه په مړي باندې د ولي يا بادشاه نه سوا بل چا مونځ اوکړو أَعَادَ الْوَلِيُّ نو ولي اعاده کولے شي. وَإِنْ صَلّٰى عَلَيْهِ الْوَلِيُّ اوکه په مړي باندې ولي مونځ اوکړو لَمْ يَجُزْ أَنْ يُصَلِّيَ أَحَدٌ بَعْدَهُ نو ددہ نه پس هيڅ چاته په مړي مونځ کول جائز نه دي

حل اللغة ﴿① صلى، صلى صلاة: مونځ کول ②اعاد،عاد اعادة: واپس کول ③ لم يجز،جاز جوازا (ن): جائز کيدل

تشريح ﴿ حكم إعادة الجنازة للسلطان والولي﴾مسئله دا ده.که په مړي د ولي او بادشاه نه سوا بل چا مونځ اوکړو.نوولي ته د جنازے د مونځ راګرځولوحق حاصل دې.اوکه بادشاه مونځ اوکړو.يا هغه سړي مونځ اوکړو.څوک چه د جنازے د مونځ د امامت په ترتيب کښې په ولي مقدم دې.نوولي ته د اعادے حق نشته.

عدم إعادة غيرالولي ﴿ ①اوکه ولي د جناز ے مونځ اوکړو.نوددې نه پس هيڅ چاته په مړي دمونځ کولو اجازت نشته.دليل دادې.چه د ولي په مونځ کولو سره فرض ادا شو.اونفل د جنازے په مونځ کښې مشروع نه دې.څکه د ولي دمونځ نه پس هيڅ چاته د مونځ کولو حق نشته.دا زمونږ مذهب دې.

دليله: دليل دادې.چه ولي يا بادشاه کښې چه چا مخکښې مونځ کړې وي.د هغه په کولو فرض ادا شوې دی.او د جنازے په مونځ کښې نفل مشروع نه دی.هم دغه وجه ده.چه د نبی کریم ﷺ په قبر مبارك تولو خلقو مونځ کول ترك کړی دی.اوکه د جنازے په مونځ کښې نفل مشروع وے، نو په اجتماعی طور به دا نه شو ترك کولې.په داسې - ال کښې چه رسول اکرم سيدالامم ﷺ نن هم په خپل قبر کښې هم هغه شان آرام فرما دې.څنګه چه نبی کریم ﷺ دفن کړې شوې وو.څکه چه د نبيانو عليهم السلام غوښه په زمکه حرام ده.د نبيانو عليهم السلام جسم زمکه نشی متغير کولې.

د جنازې د مونځ نه کيدو په صورت کښې په قبر د مونځ حکم

فَإِنْ دُفِنَ وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ او که مړے په داسې حال کښې دفن شی .چې په ده مونځ نه وی شوې صُلِّيَ عَلٰى قَبْرِهِ نو دده په قبر دے مونځ اوکړې شی إِلٰى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ تر درې ورځو پورې وَلَا يُصَلِّي بَعْدَ ذٰلِكَ او د دې نه پس به پرې مونځ نشی کولې

حل اللغة ﴿①دفن، دفن دفنا (ض): خښول ② ولم يصل صلى صلاة: مونځ کول

تشريح ﴿ الصلاة على ا لقبر﴾مسئله داده.که مړے بغير د مونځ نه دفن کړې شو.نودده په قبر دے مونځ اوکړې شي.

دليله:دليل دادې.چه يوه انصاری ښځه په داسې حال کښې دفن کړې شوې وه.چه نبی کریم ﷺ په هغې مونځ نه وو کړې.نبی کریم ﷺ ته چه کله ددې علم اوشو.نو ددې په قبر ئې مونځ اوکړو.(1)

---

1) من حديث خارجة بن زيد بن ثابت عن عمه يزيد بن ثابت موارد الظمآن إلى زوائد ابن حبان (ص۱۹۳، رقم ۷۵۹) ورواه ايضاً الحاكم في المستدرك (۵۹۱/۳) واحمد في المسند (۳۸۸/۴) والطحاوى في شرح الآثار (۲۹۵/۱) والبيهقى في السنن الكبرى (۷۹/۴) رقم ۷۰۱۸) وفي ،معرفة السنن والآثار رقم ۲۱۶۳)۔

حکم الصلاة علی القبر الی ثلاثة ایام ﴿ ① صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی چه په قبر د مونځ کولو اجازت تر دري ورځو پورې شته ځکه غالبا د درې ورځو نه پس د مړی بدن پرسیږی او رژیږی اوچه کله اوپرسیږی نو هغه خراب شی د دې وجې پرې د مونځ کولو اجازت نشته دا د امام ابویوسف رحمه الله مذهب دې ② علامه مرغینانی رحمه الله ونیلی دی چه د پرسیدو او چودلو په شناخت کښې غالبه رائې معتبر ده .یعنی دکومې پورې چه غالب ګمان دا وی.چه لاش پرسیدلے یا چودلے نه دې.نو په قبر به د جنازے مونځ کولې شی.او کله چه د پرسیدو او چودلو غالب ګمان اوشو.نو اوس به دا اجازت نه وی.هم دا صحیح قول دې.

دلیل القول الأصح ﴿ د قول صحیح دلیل دادې.چه د لاش خرابیدل د مړی د حال په اختلاف سره مختلف وی.غټ په نسبت د نری اُوچ زر خرابیږی او ریزه کیږی.دغه شان د موسم او مکان په اختلاف سره هم مختلف کیږی.د ګرمئ او د باران په موسم کښې په نسبت د یخنئ د موسم زر خرابیږی.او په شړلنه لونده زمکه کښې په نسبت د اوچې زمکې زر خرابیږی.کله چه غالب ګمان معتبر دې.نوکه غالب ګمان دا وی.چه د دریو ورځو نه مخکښې لاش رژیږی او خرابیږی.نو په دې به مونځ نشی کولې.اوکه غالب ګمان دا وی.چه د دریو ورځو نه پس هم نه خرابیږی.نو په دې دریو ورځو نه پس هم د مونځ کولو اجازت شته.

امام به د مړی د سینې برابر اودریږی

وَيَقُومُ الْمُصَلِّي او اودریږی به مونځګذار **بِحِذَاءِ صَدْرِ الْمَيِّتِ** په برابری د سینې د مړی

حل اللغة ﴿ ① یقوم،قام قیاما (ن): اودریدل ② حذاء: مخامخ ③ صدر جمع ئې صدور ده ،سینه یعنی زړه

قیام الإمام من المیت ﴿ ① مسئله داده.چه جنازه د سړی وی اوکه د ښځې ،د مونځ په وخت به امام د مړی د سینې مخامخ اودریږی.

دلیله:دلیل دادې.چه سینه د زړه محل دې.او په زړه کښې نورد ایمان وی.نود سینې سره اودریدل به دے طرف ته اشاره وی.چه شفاعت دده د ایمان په وجه کیږی.

روایة عن ابی حنیفة ﴿ د امام ابوحنیفه رحمه الله نه دا هم نقل دی.چه جنازه که د سړی وی.نو امام به دده سر نه مخامخ اودریږی.اوکه د ښځې وی.نو ددے په مینځ کښې به اودریږی.([1])

د مونځ کولو طریقه.

وَالصَّلَاةُ أَنْ يُكَبِّرَ تَكْبِيرَةً اودجنازے د مونځ طریقه دا ده.چې تکبیر اووائی **يَحْمَدُ اللهَ عَقِيبَهَا** ددې تکبیر نه پس د الله تعالی ثناء اووائی

حل اللغة ﴿ ① عقیب: روستو

تشریح ﴿ **الثناء بعدالتکبیر الأول** ﴿ په دې عبارت کښې د جنازے د مونځ طریقه بیان شوې ده. فرمائی.چه د جنازے مونځ د څلورو تکبیرونو نوم دې.تفصیل دادې.چه د نیت نه پس به تکبیر د افتتاح اووائی. او دواړه لاسونه به غوږونو پورې اوچت کړی.دے نه پس به د الله ثناء اووائی.یعنی الحمدلله او ددې په

[1]) القول الراجح هو ظاهر الروایة التی ذکرها المتون کذا فی البحرالرائق (۱۸۶\۲) والدرالمختار(۶۴۶\۱) والفقه الإسلامی وادلته (۴۹۶\۲) نقلاً عن القول الراجح (۱۵۸\۱)۔

شان کلمات به اووائی.اوبعضو ونیلی دی.چه [سبحانك اللهم وبحمدك ...الخ] دے اووائی.لکه څنګه چه په نورو مونځونو کښې دی.(۱)

ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً يُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بیا تکبیر اووائی.او په رسول الله ﷺ درود اووائی

تشریح> **الصلاة على النبي بعد التكبير الثاني>** بیا د دویم تکبیر ونیلو نه پس به په نبی ﷺ درود اووائی.څکه چه د الله تعالی د ثناء نه پس د [صلوٰة على النبی] درجه ده.لکه څنګه چه په تشهد کښې هم دغه ترتیب دې.اوهم په دې ترتیب خطبات مقرر شوی دی.

ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً ثَالِثَةً بیا دې دریم تکبیر اووائی **يَدْعُو فِيهَا** په دې کښې دې دعا اوکړی **لِنَفْسِهِ وَلِلْمَيِّتِ وَلِلْمُسْلِمِينَ**..د خپل خان دپاره.د مړی دپاره.اود ټولو مسلمانانو دپاره

تشریح> **الدعاء بعد التكبير الثالث>** بیا د دریم تکبیر ونیلو نه پس به خپل خان دپاره، مړی دپاره اود ټولو مسلمانانو دپاره دعا اوکړی.که یاده ئې وی نو دا دعا دے اوکړی.[اللهم اغفر لحینا ومیتنا...الخ]اوکه دا دعا ورته یاده نه وی.نو کومه دعا چه یاده وی.اودے کړی.

دلائله ① د الله تعالی د حمد وثنا او د صلوٰة علی النبی نه پس دعا په دې وجه مقرر شوې ده.چه نبی کریم ﷺ فرمانیلی دی.[اذا اراد احدکم ان یدعوا فلیحمد الله ولیصل على النبی ثم یدعوا] یعنی کله چه په تاسو کښې څوک ددعا اراده اوکړی.نو د الله حمد دے اووائی.او په نبی کریم ﷺ دے درود اووائی بیا دے دعا اوکړی.

② عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَنَازَةٍ فَقَالَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِيمَانِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِسْلَامِ اللَّهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ(۲)

ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً رَابِعَةً وَيُسَلِّمُ بیا تکبیر اووائی څلورم تکبیر.اوسلام دې واړوی

تشریح> **السلام بعد التكبير الرابع>** بیا څلورم تکبیر ونیلو نه پس دے سلام واړوی.

دلیله:د څلورم تکبیر نه پس سلام اړول په دې وجه دی.چه نبی کریم ﷺ د جنازے د ټولو نه په آخری مونځ کښې څلور تکبیرونه ونیلی وو.ددې نه مخکښې عمل که ددې مخالف هم وی.هغه منسوخ شول.دغه شان دا حدیث هم په تائید کښې پیش کولې شی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَى النَّجَاشِيَّ فِي الْيَوْمِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ خَرَجَ إِلَى الْمُصَلَّى فَصَفَّ بِهِمْ وَكَبَّرَ أَرْبَعًا(۳)

---

۱ **مسلك الشافعي**:- حضرت امام شافعی رحمه الله د قرات فاتحه خلف الامام د وجوب قائل دی.

۲ اخرجه ابوداود في الجنائز باب الدعاء للميت رقم ۲۷۸۶ رجاله ثقات الا يحيى بن كثير فانه ثقة لكن يدلس.

۳ اخرجه البخاري في الجنائز باب في الرجل ينعى الى اهل الميت بنفسه رقم ۱۱۶۸.

عدم رفع اليدين الا في التكبيرة الاولي ‹ ①مسئله دا ده.چه د تكبير تحريمے نه بغير به په تكبير كښي لاس نښی اوچتولي. كه هغه د جنازي مونځ وی او كه عام مونځ وی

دليله ‹ دليل د ابن عباس ﷺ حديث دي.چه (لاترفع الأيدى إلا في سبع مواطن...الحديث) د ابن عباس ﷺ نه نقل دی.چه نبی ﷺ فرمائيلی دی.لاس به نښی اوچتولي.مگر په اووه ځايونو كښي ① په تكبير تحريمه كښي ②تكبير قنوت كښي ③تكبيرات عيدين كښي ④ تكبير عرفات كښي ⑤تكبران جمرتين كښي ⑥تكبير صفا مروه كښي ⑦تكبير استلام كښي.

په جوماتكښي د جنازي د مونځ كولو حكم

وَلَا يُصَلَّى عَلَى مَيِّتٍ فِي مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ او په هيڅ مړی به په جامع جمات كښي جنازه نه شي كولی

تشريح ‹ **صلاة الجنازة في المسجد** ‹ ①صاحب د عنايه ﷺ ددې عبارت په حل كولو كښي فرمائيلي دی.كه صرف جنازه په جومات كښي وی.او امام او څه خلق د جومات نه بهر وی.او باقي په جومات كښي وی.نودا په اتفاق سره مكروه نه ده. ②اوكه جنازه او ټول خلق په جماعت كښي وی نو دا مكروه ده او هم دا صورت په متن كښي ذكر دي

دلائله ‹ ①دليل د ابوهريره ﷺ حديث دي.(ان رسول الله ﷺ قال من صلى على جنازة في المسجد فلا اجرله)[1] يعني نبی كريم ﷺ اوفرمائيل.چا چه په جومات كښي دننه په جنازه مونځ اوكړو. ده دپاره هيڅ ثواب نشته .

② دويم دليل دادي.چه جومات د فرضو د اداكولو دپاره جوړشوي دي.نو د پنځه وخته مونځونو نه سوا به هيڅ مونځ په جومات كښي نه اداكيږي.

③ دريم دليل دادي.كه جنازه په جومات كښي وی.نو په دې صورت كښي د جومات خرابيدو احتمال دي.نوځكه بغير د عذر نه په جومات كښي د مړي راوستل مكروه دی.

حكم الصورة التي يكون الميت خارج المسجد ‹ او كه صرف جنازه د جومات نه بهر وی.او امام او ټول خلق په جومات كښي وی.نو مشائخو اختلاف كړي دي.بعض د كراهت قائل دی.او بعض د عدم كراهت قائل دی.

د جنازي د كټ اوړلو طريقه

فَإِذَا حَمَلُوا الْمَيِّتَ عَلَى سَرِيرِهٖ كله چې خلق مړے د هغه په كټ باندې اوچت كړی أَخَذُوا بِقَوَائِمِهِ الْأَرْبَعِ سنود كټ څلور پښے به اونيسی

حل اللغة ‹ ①حملوا،حمل حملاً (ض): اوچتول ②سرير: كټ ③اخذوا، اخذ اخذًا (ن): اخستل، نيول ④ قوائم: پښي

سنية التربيع في حمل الجنازة ‹ په دې فصل كښي د جنازے اوړلو د كيفيت بيان دي. فرمائی.چه مړے به په تخته يا په كټ باندې اوچت كړی.او دكټ څلور واړه پښےدے اونيسی.يعنی څلور كسان دے موجود وی.او هر يو كس دے يوه پښه نيولي وی.مسنون طريقه هم دا ده.

[1] خرجته في ››سنن الصلاة‹‹ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ فِي الْمَسْجِدِ فَلَيْسَ لَهُ شَيْءٌ اخرجه ابن ماجه في الجنائز باب ماجاء في الصلاة على الجنائز في المسجد رقم ۱۵۰۶ رجاله ثقات إلا صالح فإنه قد اختلف فيه)

دلائله ① د عبدالله بن مسعود ﷺ نه مروی دی. (عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ مَنْ اتَّبَعَ جِنَازَةً فَلْيَحْمِلْ بِجَوَانِبِ السَّرِيرِ كُلِّهَا فَإِنَّهُ مِنَ السُّنَّةِ ثُمَّ إِنْ شَاءَ فَلْيَتَطَوَّعْ وَإِنْ شَاءَ فَلْيَدَعْ)[1] يعنى مسنون دا ده.چه جنازه د هغې د څلورو واړو طرفونو نه اوچته کړې شي.

② د نبي ﷺ قول دې. (من حمل الجنازة من جوانبها الأربع غفرله له مغفرة موجبة) يعنى چا چه جنازه دهغې د څلورو طرفونو نه اوچته کړه.نو دهغه مغفرت به اوشي.

③ په دې کښې تکثير دجماعت دې.ځکه که جنازے سره څوک نه وی.نو بياهم دجنازے اوړلو دپاره خو به څلور کسان خامخا وی.اوښکاره ده.چه د څلورو کسانو يوه ډله وی.او د څلورو په اوچتولو کښې د جنازے عزت دې.په دې طريقه چه يوه ډله ئے په خپلو څټونو باندې پورته کړی.او څوك چه په څټونو باندې پورته کړې شی.دهغه تعظيم او عزت کښې څه شك شته؟

④ دغه شان د څلورو کسانو د پورته کولو په صورت کښې به مړے په زمکه د راغورزيدو نه هم محفوظ وی. ([2])

وَيَمْشُونَ بِهِ مُسْرِعِينَ دُونَ الْخَبَبِ.او جنازه به په تيزئ سره اوړی.په منډو به نه ځی

حل اللغة ① **يمشون، مشي مشيًا (ض)**: تلل ② **مسرعين**: تندی کونکی ③ **خبب**: منډې وهل

تشريح **سنة السرعة في المشي وكراهة الخبب** ماتن رحمه الله فرمائی.چه جنازه به په تيزئ سره اوړی.په منډو سره نه ،

دليله ځکه چه رسول الله ﷺ نه چه کله د جنازے سره د تګ په باره کښې تپوس اوشو.نو نبي ﷺ اوفرمائيل. (مادون الخبب) ([3]) خبب معنى منډې وهل دی.يعنى نبي کريم ﷺ په تګ کښې د تيزئ حکم ورکړې دې.خو د منډو نه ئې منع فرمائيلے ده.او د سرعت حکم ئې ددې وجې ورکړې دې.چه که جنازه د نيك مړی وی.نو هغه د الله تعالى دربار ته زر اورسوئ. اوکه د بدعمله سړی وی.نودا مصيبت زر د څټونو نه بنکته کوئ.او د منډې نه ئې په دې وجه منع کړې ده.چه په دې کښې دمړی سپکوالے دې.

د جنازې د ښکته کيخودلو نه وړاندې دکيناستو کراهت

فَإِذَا بَلَغُوا إِلَى قَبْرِهِ اوکله چې دده قبر پورې اورسيږی كُرِهَ لِلنَّاسِ أَنْ يَجْلِسُوا قَبْلَ أَنْ يُوضَعَ مِنْ أَعْنَاقِ الرِّجَالِ نو دجنا زې ستونو نه کوزولو نه وړاندې د خلقو دپاره کيناستل مکروه دی

حل اللغة ① **بلغوا، بلغ بلوغًا (ن)**: رسيدل ② **ان يجلسوا، جلس جلوسًا (ض)**: کيناستل ③ **اعناق، واحد عنق**: ستـ

---

[1] خرجه في ،،سنن الصلاة،، اخرجه ابن ماجه في الجنائز باب ماجاء في شهود الجنائز رقم ١٤٦٧ (رجاله ثقات)۔

[2] **مذهب الشافعي في حمل الجنازة**:- حضرت امام شافعي رحمه الله فرمائی.چه مسنون دا دی.چه دوه کسان جنازه اوچته کی.مخکنی سړی به جنازه د خپل څټ په وړخ باندې کيخودې وی.او روستنے سړې به دا په خپله سينه اوچته کړې وی.

[3] من حديث إبن مسعود ﷺ اخرجه ابوداود في الجنائز باب ٤٦٥ رقم ٣١٨٤ والترمذى في الجنائز باب ٢٧ رقم ١٠١١ واحمد في المسند (٣٩٤/١)۔

تشریح > **كراهية القعود قبل وضع ا لجنازة علي الأرض** > مسئله: کله چه مړي واخلی اود هغه قبره پورې اورسی.نوترڅو پورې چه جنازه په زمکه کیخودلےشوې نه وی.نو دخلقو کیناستل مکروه دی.

دلیله > ① ځکه چه کله کله په جنازه کښې د جنازې اوړونکو سره د مدد ضرورت پیښیږی. او د هغوی سره په وخت باندې مدد کول په هغه وخت کښې ممکن وی.چه دوی ولاړ وی.ځکه وئیلی شوی دی.چه دجنازې په زمکه باندې دکیخودلونه وړاندې د خلقو کیناستل مکروه دی. اوکله چه جنازه په زمکه باندې کیخودلےشی.نواوس ولاړ پاتې کیدل مکروه دی،

②دویم دلیل دا دې.چه جنازې ته د حاضریدو په وخت کښې د مړی عزت کول مستحب دی.اود جنازې کیخودلو نه وړاندې دخلقو کیناستل د مړی دپاره تحقیر دې.نو ځکه دے دجنازې کیخودلو نه وړاندې نه کینی.

كيفية حمل الجنازة > صاحب دهدایه رَحِمَهُ اللهُ د جنازې پورته کولو کیفیت بیان کړې دې.چه اول دے د جنازې وړاندینۍ حصه کښې د مړی ښی طرف په خپل ښیٔ اوږه باندې کیږدی.بیا دغه شان د مړی د پښو طرف دے په خپله ښیٔ اوږه باندې کیږدی. بیا دې د جنازې مخکنۍ حصه کښې د مړی گس طرف دے په خپله گسه اوږه باندې کیږدی.اوبیا دغه شان د مړی دګس طرف شاتنۍ حصه په خپله ګسۍ اوږه باندې کیږدی.

دلیله > دلیل دا دې.چه په دې صورت کښې (ابتداء بالیمین) متحقق کیږی.د جنازې مخکنۍ حصه د اوړونکی په ښیٔ اوږه باندې راغله.نودا دمړی هم ښے طرف شو.او د جنازې اوړونکی هم ښے طرف شو.فرمانی.چه دا صورت په هغه وخت کښې ممکن دې.چه د اوړونکو نوبت وی.اوکه اوړونکی صرف څلور کسان وی.نو په یو حالت کښې قبر ته اوړل دی.-

> وَيُدْخَلُ الْمَيِّتُ مِمَّا يَلِي الْقِبْلَةَ اومړے به د هغه طرف نه داخلولےشی .کوم چې قبلې ته متصل وی. وَيُحْفَرُ الْقَبْرُ وَيُلْحَدُ او قبر دې اوکنستې شي او لحد دې جوړکړې شي.

تشریح > **كيفية إدخال الميت في القبر** > ① قبر ته د کوزولو مسنون طریقه دا ده.چه مړے د هغه طرف نه داخل کړې شی.کوم چه قبلې سره جخت وی .یعنی جنازه به د قبر قبلې طرف ته کیخودلې شی.بیا به د هغه خانې نه مړے اوچت کړې شی.او په قبر کښې به کیخودې شی.( )

دلیله > دلیل دا دې.چه د قبلې طرف قابل احترام او معظم دې.نوهم د دې طرف نه داخلول مستحب دی.

---

[1] **مذهب الشافعي**:- په دې مسئله کښې امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ فرمائی.چه مسنون دا دی.چه مړے قبرے ته راښکلې شی.ددې طریقه دا ده.چه جنازه به د قبر پښو طرف ته په دې سے طریقه کیخودې شی.چه د مړی سر په قبر کښې د هغه د قدمونو خانې ته برابر شی.بیا به قبر ته داخلونکے کس د مړی سره اونیسی.اودا به راښکی. او بعضو وئیلی دی.چه ددې صورت دا دې.چه جنازه د قبر سر ته داسې کیخودلې شی.چه دمړی دواړه پښے په قبر کښې د هغه د سر سره برابرشی.بیا به د مړی دواړه پښے اونیوې شی.اول به هغه په قبر کښې ورداخلې کړې شی.او په راښکلو سره به ټول مړے قبر ته ورداخل کړی.

قبر ته د سپارلو په وخت کښې مسنون دعا

وَإِذَا وُضِعَ فِي لَحْدِهِ او کله چې مړے د هغه په لحد کښې کیخودې شي **قَالَ الَّذِي يَضَعُهُ**: نو وائي به، هغه کس چې دې سپاري **بِسْمِ اللَّهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللَّهِ** شروع کوم په نوم د الله او په دین د رسول الله

حل اللغة ◄ ① **وضع، وضع وضعًا (ف)**: ساتل ② **لحد**: قبر ③ **وضع يوضع وضعا**، کیخودل سپارل ④ **يوجه، وجه توجيها**: متوجه کیدل، متوجه کول ⑤ **امر، امرامرًا (ن)**: حکم کول ⑥ **لبن**: کچه خښتې

تشريح ◄ **الدعاء عندوضع الميت في القبر** ◄ فرمائي. چه مړے لحد ته بښکته کړي. نو دا دعا دے وائي .(بسم الله وعلى ملة رسول الله) او په يو روايت کښې د (بسم الله وعلى سنة رسول الله) الفاظ مروي دي

دلائله ◄ ① دليل دا دې. چې عَنْ أَبِي الصِّدِّيقِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا وَضَعَ الْمَيِّتَ فِي الْقَبْرِ قَالَ بِسْمِ اللَّهِ وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يعني د ابن عمر رضی الله عنه نه روايت دې چې نبي کريم ﷺ به کله په قبر کښې مرده کیخودلو نو فرمائيل به ئې د الله په نوم او د رسول الله ﷺ په ملت دې سپارم

② او د حاکم په روايت کښې دا الفاظ مروي دي .(إذا وضعتم موتاكم في قبوركم فقولوا باسم الله وعلى ملة رسول الله) کله چه تاسو خپل مړي قبرونو کښې اردئ. نو (بسم الله وعلى ملة رسول الله) وائي.(فتح القدير)

وَيُوَجَّهُ إِلَى الْقِبْلَةِ او مړے به قبلې طرف ته مخامخ کړي

تشريح ◄ **توجيه الميت إلى القبلة في القبر** ◄ په لحد کښې چه مړی اردی. نو قبلې طرف ته دې وله مخ کولې شي. يعنی په ښي طرف دے سملولې شي. او قبلې ته دې ورله مخ کولې شي.

دليله ◄ دليل دا دې. چه رسول الله ﷺ خلقو ته ددې حکم کړې دې. په دې باره کښې دا حديث موجود دې.

(عن علي ﷺ أنه قال مات رجل من بني عبد المطلب فقال ﷺ يا علي إستقبل به القبلة إستقبالاً) حضرت علي ﷺ فرمائي. چه په بني عبدالمطلب کښې يو سړي مړشو. نو نبي ﷺ اوفرمائيل. اے علي ﷺ دے قبلې طرف ته متوجه کړه.

وَتُحَلُّ الْعُقْدَةُ او د کفن غوټې به پراسنتے شي

تشريح ◄ **تحليل عقد الكفن** ◄ فرمائي. چه مړے په لحد کښې کیږدي. نود کفن غوټې به ورله پرانيزي.

دليله ◄ ځکه چه اوس د کفن د خوريدو ويره پاتې نشوه.

وَيُسَوَّى اللَّبِنُ عَلَى اللَّحْدِ او په لحد به کچې خښتے برابر کړې شي

تشريح ◄ **وضع اللبن على اللحد** ◄ ددې نه پس به په لحد باندې کچه خښتے اولګوی. ځکه چه د نبي ﷺ په قبرباندې کچه خښتے لګيدلې شوې وې.

دليله ◄ د حضرت جابر ﷺ نه نقل دي. (كان قبر النبي ﷺ اللحد ونصبنا عليه اللبن نصباً ورفع قبره من

الأرض شبرا (¹)یعنی نبی ﷺ په لحد کښې کیخودې شوې وو.اومونږ په لحد باندې کچه خښتې لګولې وې.او د نبی ﷺ قبرمبارك د یو لویشت په اندازه د زمکې نه اوچت ساتلې شوې وو.

تسجية قبر المرأة> اود ښځې لحد ته د کوزولو په وخت کښې به په قبر باندې پرده کولې شی . تر دې چه لحد په کچه خښتو بندکړې شی. او د سړی په قبر به پرده نشی کولې

دلیله>دلیل دا دې.چه د ښځو حال په پرده باندې مبنی دې.اود سړو حال په ښکاره کولو باندې مبنی دې.دغه شان د حضرت فاطمې رضی الله عنها قبر ته د کوزوول په وخت کښې د هغې په قبر پرده کړې شوې وه.

په قبر کښې د لګیدونکو څیزونواحکام

وَيُكْرَهُ الْآجُرُّ وَالْخَشَبُ او پخې خښتې او لرګی لګول مکروه دي

حل اللغة> ① **اجر**: پخې خښتې ②**خشب**: لرګی ③**بناء**: مضبوطیا ④ **موضع**، خائ مقام

تشریح> **کراهية الآجر في القبور**> په قبرکښې پخې خښتې او لرګی لګول مکروه دی.

الدليلان> ①دلیل دا دې.چه دا دواړه څیزونه د آبادئ د مضبوطتیا دپاره دی.او قبر د اندامونو بوسه کیدو او بربادیدو ځائې دې.نو په داسې ځائې دا سې څیز لګول چه عبث وی.اسراف او مکروه دې.② د پخوخښتو په لګولو کښې وجه دکراهت دا هم ده.چه په پخه خښته باندې د اور اثر وی.نوتفاولاً مکروه دې.لکه چه دده د آخرت کور د اور په مدد سره تیار شوې دې.

وَلَابَأْسَ بِالْقَصَبِ او د بانړس په استعمال کښې څه باك نشته

حل اللغة> ① **لاباس**: هیڅ باك نشته ② **قصب**، بانړس ③**يهال، هال هيلاً (ض)**: خاوره اچول④ **يربع ربع تربيعًا**: څلور ګوټه جوړول

تشریح> **دلیله**> ځکه چې دنبی ﷺ په قبر باندې د بانړس یو لرګې لګولې سوی وو(²)

سنية إستعمال القصب> ①د نل او بانړس په استعمال کښې څه باك نشته.په جامع صغیر کښې دی.چه خښته او بانړس لګول مستحب دی.

رواية الاستحباب > د قدوری عبارت په استحباب باندې دلالت نه کوی.او د جامع صغیر عبارت ددې څیزونو په استحباب باندې دلالت کوی.ځکه چه د هغې عبارت دا دې وَيُسْتَحَبُّ اللَّبِنُ وَالْقَصَبُ او په جامع صغیر کښې دی.چې د کچې خښتې اوبانړس استعمال مستحب دې

دليله>دلیل دا دې.چه د رسول الله ﷺ په قبر باندې د بانړس لرګی لګیدلی وو.بیا به په قبر خاورې واچولې شی.

ثُمَّ يُهَالُ التُّرَابُ بیا به خاوره اچولې شی

تشریح> **تسنيم القبروعدم تربيعه** > ①او قبر به قب نما جوړولې شی.یعنی د زمکې نه به یو لویشت یا څه زیات اوچت وی. قبربه مسطح یعنی څلورګوټیز نشی جوړولې.

---

¹) خرجه في ،،سنن الصلاة،، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي هَلَكَ فِيهِ الْحَدُوا لِي لَحْدًا وَانْصِبُوا عَلَيَّ اللَّبِنَ نَصْبًا كَمَا صُنِعَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخرجه مسلم في الجنائز باب في اللحد ونصب اللبن رقم ١٦٠٦

²) من حديث شعبي رواه ابن أبي شيبة في مصنفه (١٣٣/٣) وابن سعد في الطبقات (٧٣/٦)_

دلیله› دلیل دا دي.چه نبی ﷺ د قبرونو خلورګوټیز جوړولو نه منع فرمانیلي ده. (١) ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائی.چا چه د نبی ﷺ قبر لیدلي وو.اود حضرات شیخینو رضي الله عنهما قبرونه ني لیدلی وو.هغه ماته خودلي دی.چه ددې حضراتو قبرونه مسنم یعنی قب نما وو. (٢)

وَمَنْ اِسْتَهَلَّ بَعْدَ الْوِلَادَةِ او کوم ماشوم چه د پیدائش په وخت آواز اوکړی سُمِّيَ وَغُسِّلَ نو په هغه به نوم ایخودې شی او غسل به ورله ورکولي شی وَصُلِّيَ عَلَيْهِ اود جنازې مونځ به پرې کولي شی وَاِنْ لَمْ يَسْتَهِلَّ او کوم ماشوم چه «د پیدائش په وخت» آواز اونه کړی اُدْرِجَ فِيْ خِرْقَةٍ وَدُفِنَ نو هغه به یوه کپړه کښ راغوند کړې شی او دفن به ني کړی وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ اود جنازې مونځ به پرې نه شی کولي.

تشریح:_ د ولادت نه پس که په ماشوم کښې داسې څه نښې بیا مونډې شوې چې د هغې نه د هغه ژوند معلومیږی.لکه ژړا کول انتوشې کول اسویلي کول نو په دې صورت کښې به په ده باندې د ژوندی احکام جاری کولی شی غسل به ورکولې شي مونځ به پرې کولي شی اوکه د ژوند څه علامه او نښه بیا نه مونډې شوه نو دې به د کفن په طور په یوه کپړه کښې اونغښتې شي او په کنده کښې به خښ کړې شي اود جنازې مونځ به پرې نشی کولي البته د مختار قول مطابق ده ته به غسل ورکولې شې كذا في انوار القدوری

د شهید بیان

بَابُ الشَّهِيْدِ

«دا» باب د شهید په بیان کښې دې.

تشریح› المقتول میت باجله›د مقتول په باره کښې د اهل سنت والجماعت عقیده دا ده.چه دے «میت باجله» دې.یعنی دده مرګ په خپل وخت باندې راغلې دې.خپل وخت نه وراندې نه دے واقع شوې.

الاعتراض›پاتې شوه دا خبره چه کله «میت باجله»دې.نو بیا په قاتل باندې قصاص یا دیت ولې واجبیږی.

الجواب›ددې جواب دا دې.چه قاتل چونکه د قتل سبب اختیارولو د وجې په نظام کښې خرابی پیدا کړه.نو چونکه ددې نظام د باقی ساتلو دپاره د قاتل دپاره سزا مقرر کړې شوه.

وجه استقلال احکام الشهید› دشهید احکام په جدا باب کښې ذکرکړې شول.چه د شهید مرګ د نورو مرګونو نه په زرهاؤ درجې افضل دې.تر دې چه شهید في سبيل الله ته مړے ونیل هم منع دی.الله تعالی فرمائی ﴿ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ ؕ بَلْ اَحْيَآءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ﴾ د جنائز نه پس د شهد ذکر کول د «ذکر الخاص بعد العام» قبیلې څخه دې.لکه په قرآن پاک کښې د فرښتو د ذکر نه پس د حضرت جبرئیل او میکائیل ذکر دې.مثلاً دالله عالی فرمان دې.﴿ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰىلَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴾

١) من حديث أبي حنيفه اخرجه محمد في كتاب الآثار (ص،٤٢)_

٢) خرجه في ،،سنن الصلاة،، عَنْ سُفْيَانَ التَّمَّارِ اَنَّهُ حَدَّثَهُ اَنَّهُ رَاٰى قَبْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسَنَّمًا اخرجه البخاري في الجنائز باب ماجاء في قبر النبي ﷺ وابي بكر رضي الله عنه وعمر رضي الله عنه رقم ١٣٠٢)_

وجوه تسمیه الشهید> د شهید نوم ځکه شهید کیخودلې شوې دې. چه مقتول فی سبیل الله ژوندے وی.او د الله تعالی سره موجود وی.نوځکه ورته شهید ونیلې شی.ځکه چه د شهید معنی هم موجود اوحاضرده.②دویمه وجه دا هم ده.چه مقتول في سبیل الله (مشهودله بالجنة)دې.یعنی دده د جنتی کیدو وعده شوې ده.ځکه ورته شهید ونیلی شی.③دریمه وجه دا ده. چه فرښتے د تکریم او تعظیم دپاره د مرګ په وخت کښې حاضرېږی.نو دا به د مشهود په معنی کښې شی.لکه فعیل چه په معنی د مفعول راځی.

الشهید في الإصطلاح> د فقهاؤ په اصطلاح کښې شهید هغه دې.①څوک چه مشرکانو په میدان جنګ کښې کښې قتل کړې وی.②یا په میدان جنګ کښې اوګرځندلې شی.او دده په بدن باندې د قتل اثر وی.③یا مسلمانانو په ظلم سره قتل کړې وی.او دده د قتل په وجه دیت واجب شوېنه وی.

د شرعی شهید تعریف

الشَّهِيدُ مَنْ قَتَلَهُ الْمُشْرِكُونَ شهید هغه دې .څوک چې مشرکانو قتل کړې وی أَوْوُجِدَ فِي الْمَعْرَكَةِ وَبِهِ أَثَرُ الْجِرَاحَةِ یا په میدان جنګ کښې ملاؤ شی .او په ده باندې زخم اثر وی أَوْقَتَلَهُ الْمُسْلِمُونَ ظُلْمًا یا د مسلمانانو قتل کړې وی په ظلم سره وَلَمْ تَجِبْ بِقَتْلِهِ دِيَةٌ او دده په قتل سره دیت واجب شوې نه وی

حل اللغة >①قتله، قتل، قتلاً (ن): قتل کول ②وجد، وجد وجداناً (ض): مونډل ③اثر: نښه ④لم یجب،وجب وجوباً(ض): واجب کیدل ⑥ جراحة: زخم

تشریح> اقسام الشهادة>صاحب د قدوری رَحِمَهُ اللهُ فرمائی.چه د شهید څو صورتونه دی.①یو مسلمان مشرکانو قتل کړلو.که په څه آله سره وی اوکه په لرګی وغیره سره وی.②یو مسلمان په میدان جنګ کښې په دې سے حالت کښې بیا موندلے شو.چه دده په بدن باندې د زخم وغیره اثر وی.③یومسلمان مسلمانانو په ظلم سره قتل کړې وی.اوددغه قتل په وجه دیت نه واجبیږی.

دلیله> دوی حقیقة شهیدان نه دی خو حکما شهیدان دی لکه صاحب د هدایه چې فرمائی چه دوی د احد د شهیدان په حکم کښې دی

فَيُكَفَّنُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ وَلَا يُغَسَّلُ نو دے به کفن کولې شی .اوپه دہ به مونځ کولې شی .اوده ته به غسل نشی ورکولی

تشریح> حکم غسل الشهید والصلاة علیه وتکفینه> نو په دې درې وارو صورتونو کښې دا حکم دې.چه په اتفاق سره به کفن ورکولې شی.خوپه مونځ کښې اختلاف دې. په شهیدانو به د جنازې مونځ کولې شی. شهید ته خوکفن د دې وجې ورکولے شی.چه کفن کول د بنیادم د سرو دپاره سنت دې.نو که د شهید په بدن باندې جامے وی.نو هغه به نشی لرے کولې.ددې نور تفصیل به په راروانو صفحو کښې راشی.

دلیل عدم نزع الثیاب وعدم الغسل>ځکه چه نبی ﷺ د احد د شهیدانو په باره کښې فرمائیلی دی فرمائیلی دی. (زملوهم بکلومهم ودمائهم) او په یو روایت کښې دې. (بثیابهم) یعنی دوی په کفن کړئ.د خپلو زخمونو او وینو سره.اود جامو سره.([1])

---

[1]) غربه الزیلعی رَحِمَهُ اللهُ هذا اللفظ وخرجت لي،، سنن الصلاة،، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ يَقُولُ أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ وَقَالَ

جُنب شهيد ته دغسل ورکولوحکم

وَإِذَا اسْتُشْهِدَ الْجُنُبُ اوکه په حالت دجنابت کښې شهيد شو **غُسِّلَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ**([1])نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزبه ده ته غسل ورکولې شی **وَكَذَلِكَ الصَّبِيُّ** او هم دغه شان د ماشوم حکم دې

حل اللغة ◄ ①**استشهد،استشهدا،استشهادًا**: شهادت غوښتل ②**جنب**: په حالت دَ جنابت،جنبی ③**وجب،وجب وجوبًا (ض)**: واجب کيدل ④ **مانعة**: منع کونکې ښځه ⑤**انقطاع**: منقطع کيدل ⑥**کرامة**:بزرگی،شرافت ⑦ **ذنب**: گناه

تشريح ◄ **غسل الجنب الشهيد** ◄ ①جنب مسلمان که شهيد شو.نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزبه ده ته غسل ورکولې شی.هم دا د امام احمد رحمه الله قول دې.

دليله ◄ دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه شهادت،دمرې دغسل واجبيدونه مانع دې. خوکه د اول نه غسل واجب وی.نودا رفع کونکې نه دې.لکه چه دشهيد په جامو که نجاست لگيدلې وی.نود دې وينځل ضروری دی.ليکن دده د بدن وينه وينځل ضروری نه دی.نوشهادت چونکه رافع نه دې.خکه به شهادت جنابت هم نه لرې کوی.اوکله چه جنابت نه لرےکوی.نوجُنب شهيد ته به دجنابت غسل ورکول لازمی وی.

تائيده ◄ددې تائيد ددې واقعې نه هم کيږی.چه حضرت حنظله رضی الله عنه کله شهيد شو.نوفرښتو ده ته غسل ورکړې وو.حضورﷺ دده بی بی نه تپوس اوکړو.چه حنظله رضی الله عنه په کوم حال کښې وو. ددوی ښځې اووئيل.چه ماسره ئې جماع کړې وه.کله ئې چه دجنگ اعلان واوريدو. نودغسل کولونه بغير په جنگ کښې شريک شو.اوشهيد شو.نبی کريمﷺ اوفرمائيل.چه هم داسبب دې.

الإعتراض ◄که دا اعتراض اوشی.چه د بندگانوغسل ورکول واجب دی.دفرښتو نه دی.نوکه جُنب شهيد ته غسل ورکول واجب وے،نونبی کريمﷺ به حنظله رضی الله عنه ته د دوباره غسل ورکولوحکم کړې وو.

الجواب ◄واجب خو صرف غسل ورکول دی.غسل ورکونکې چه څوك هم وی.تاسو خيال اوکړئ چه کله فرښتو آدم عليه السلام ته غسل ورکړو.نو واجب اداشو.د آدم عليه السلام اولاد دغسل اعاده اونکړه.که د فرښتو ورکړې شوې غسل ناکافی وې.نود آدم عليه السلام اولاد به د آدم عليه السلام دغسل اعاده کړې وه.او رسول اکرم ﷺ به دحضرت حنظله رضی الله عنه دغسل اعاده کړې وه.

دليله في حکم الصبي ◄د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه دأحد دشهيدانو په حق کښې توره دغسل نه کافی شوه.خکه چه توره گناهونه پاکوی.يعنی دأحد شهيدانو ته غسل خکه ورنکړې شو.چه تورے دوی دگناهونو نه پاك کړی دی.

اوپه ماشوم هيڅ گناه نشته.خکه به ماشوم دأحد دشهيدانو په معنی کښې نه وی.اوچه دأحد دشهيدانو په معنی کښې نشو.نودأحد دشهيدانو په شان دماشوم نه به غسل هم نه ساقطيږی.بلکه ماشوم ته به غسل ورکولےشی.

أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ فِي دِمَائِهِمْ وَلَمْ يُغَسَّلُوا اخرجه البخاري في الجنائز باب الصلاة على الشهيد رقم (١٢٥٧)_

[1]) القول الراجح هو هذا قول ابي حنيفة رحمه الله كذا في مجمع الأنهر(١\١٨٩) والكفاية (٢\١٠٧) وفتح القدير(٢\١٠٧) والعناية (٢\١٠٧) ورد المحتار(١\٦٦٩) والبحرالرائق (٢\١٩٨) نقلاً عن القول الراجح (١\١٥٩)-

وَقَالَ: ابويوسف ومحمد لَا يُغَسَّلَان اوصاحبين رحمهما الله فرمائي چې دہ ته به غسل نشی ورکولې

تشريح﴾ مذهب الصاحبين﴾ اودصاحبينو رحمهما الله په نيز به غسل نشی ورکولې.ددې قائل امام شافعي رحمه الله هم دی.

دليلهما رحمهما الله﴾ دصاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه کوم غسل د جنابت په وجه واجب وو.هغه په مرګ سره ساقط شو.ځکه چه دمرګ په وجه دې دجنابت غسل ساقط.اودويم غسل يعنی دمرګ غسل دشهادت په وجه واجب نه دې.ځکه چه شهادت دغسل دوجوب نه مانع دې.ځکه چه دشهيدانو په باره کښې حضور ﷺ فرمائيلې دی.﴿زملوهم بکلومهم ولا تغسلوهم﴾ په حديث کښې ددې هيڅ تفصيل نشته چه شهيد جُنب وی يا غيرجنب وی.

دليلهما في الصبي﴾ دصاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه دشهيد نه غسل ځکه ساقطيږی.چه دده دمظلوميت اثر باقي دې.نوشهيد ته غسل نه ورکول دده د اکرام په وجه دې.اود ماشوم مظلوميت زيات ې. نوماشوم ددې کرامت زيات مستحق دې.

د شهيد د وينې جامو.اوزياتې څيزونود وينځلو حکم

وَلَا يُغْسَلُ عَنِ الشَّهِيدِ دَمُهُ اودشهيد نه به دده وينه نشی وينځلې **وَلَا يُنْزَعُ عَنْهُ ثِيَابُهُ** اونه به دده نه جامې اوبنکلې شی **وَيُنْزَعُ عَنْهُ الْفَرْوُ وَالْحَشْوُ وَالْخُفُّ وَالسِّلَاحُ** اود شهيد نه به جداکولې شی .پوستين دمالوچوو غيره نه ډک څيز ،موزې او وسله

حل اللغة﴾ ① **لايغسل، غسل غسلاً (ض):** وينځل ② **دم جمع دماء:** وينه ③ **لاينزع،نزع نزعًا (ف):** ويستل، کوزول ④ **فرو:** مالوچ ⑤ **خف:** موزه ⑥

تشريح﴾ نزع الثياب الفاضلة عن الشهيد﴾ ①دشهيد په بدن که دچمړے جامے،پوستين وغيره وی.يا د مالوچوو غيره نه ډک شوې څيز وی.يا وسله اوموزې وی.نودا دے ترے اوويستې شی.دا د احنافو عالمانو مذهب دې

دليله﴾ دليل دابن عباس رضي الله عنهما حديث دې. ﴿قال أمر رسول الله ﷺ بقتلى أحد أن ينزع منهم الحديد والجلود وأن يدفنوا بدمائهم وثيابهم﴾يعنی رسول الله ﷺ أحد د شهداؤ په باره کښې حکم ورکړې وو.چه د دوی نه اوسپنه او پوستين جدا کړئ.اودوی د وينې سره په جاموکښې دفن کړئ.ښکاره دا ده.چه ذکرشوی دواړه حديثونه متعارض دی.ځکه مونږ دواړه پريږدو. اوقياس طرف ته رجوع کوو.او قياس دا دې چه پوستين وغيره اوبنکلې شی.ځکه چه دا څيزونه دکفن دجنس څنې نه دی.

توافق الثياب المسنونة في كفن الشهيد﴾ دشهيد په بدن که دمسنون عدد نه کمے جامے وی.نو په هغې کښې به اضافه کولې شی.چه مسنون عدد ته اورسی.اوکه دمسنون عدد نه زياتے جامے وی.نوکمولې به شی.چه مسنون عدد باقی پاتې شی.

د ارتثاث تعريف

وَمَنْ اُرْتُثَّ غُسِّلَ اوکوم کس چې ارتثاث بيامومی.دہ ته به غسل ورکولے شی

تشريح﴾ الإرتثاث وأحكامه﴾ دارتثاث معنی ده.،زړيدل. ﴿ثوب رث﴾ زړے جامے ته وائی.صورت دمسئلې دا دې. که مقتول فی سبيل الله د زخمی کيدو نه پس او د مرګ نه مخکښې د ژوند څه منافع حاصلے

نوونیلے به شی.چه دا شهید زور شو.اوچونکه د ژوند منافع حاصلولو په وجه د ظلم اثر هم سپک کړي.
کیږي.

دلیله> ځکه دے د احد دشهیدانو په معنی کښې نشو.اوچه د أحد د شهیدانو په معنی کښې نشو.نوده نه به غسل ورکولي شی.ځکه چه د غسل سقوط د هغه شهید په حق کښې دي.چه د أحد د شهیدانو په معنی کښې وی.

وَالارْتِثَاثُ أَنْ يَأْكُلَ أَوْيَشْرَبَ أَوْيَنَامَ أَوْيُدَاوَا وارتثاث دا دي .چي خوراك څکاك اوکړی.یا اوده شی .یا دده علاج اوشی . أَوْيَبْقَى حَيًّا حَتّٰى يَمْضِي عَلَيْهِ وَقْتُ صَلٰوةٍ وَهُوَيَعْقِلُ یا دي ژوندي پاتې شی اوپه ده باندي د یو مونځ کامل وخت تیرشی اودي په هغې باندي پوهیږی هم.

تشریح> تعریف الارتثاث> صاحب د قدوری رَحِمَهُ اللهُ وائی.چه ارتثاث دا دي.چه مقتول فی سبیل الله دمرګ نه مخکښې څه اوخری یا اوڅکی یا علاج معالجه اوکړی.دجنګ نه د راحت په غرض منتقل کړي شی.ځکه چه ده د ژوند څه منافع حاصل کړل.حالاتکه د أحد د شهیدانو حال دا وو.چه اوبه دوی ته پیش کولي شوي.خودوی دشهادت د نقصان په ویره قبول نکړي.اوهم دغه شان نې ترقیدو ترقیدو کښې ساه ورکړه.

دلیله> ځکه چې ده د ژوند څه فائدے حاصلے کړی

أَوْيُنْقَلَ مِنَ الْمَعْرَكَةِ حَيًّا یا دجنګ میدان نه منتقل کړي شی ژوندي.

تشریح> حکم من انتقل من موضع المعرکة> اوکه یوشهید د میدان جنګ نه منتقل کړي شی.دے دپاره په میدان جنګ کښې نې اسونه د پښو لاتدي نکړی.نودا به ارتثاث نه وی.ځکه چه ده هیڅ راحت نه دےحاصل کړي .

حکم من اواه فسطاط او خیمة> اوکه ده ته نې په لویه یا وړه خیمه کښې پناه ورکړه. نودي به ارتثاث موندونکے شمارلے شی.

په حد اوقصاص کښې د مقتول دغسل او جنازې حکم

وَمَنْ قُتِلَ فِي حَدٍّ أَوْقِصَاصٍ اوکوم کس چې په حد یا قصاص کښې قتل شی غُسِّلَ وَصُلِّيَ عَلَيْهِ نوده له به غسل ورکولےشی .او په ده به مونځ کولي شی

تشریح> یغسل ویصلي علی من قتل حداً اوقصاصاً> کوم کس چه په حد یا قصاص کښې قتل شی . نو ده له به غسل هم ورکولي شی.اوپه ده به د جنازےمونځ هم کولي شی.

دلیله> ځکه چه ده د واجب حق اداکولو دپاره خان ورکړي دي.اود أحد شهیدانوصرف دالله درضا حاصلولو دپاره خانونه قربانی کړی وو.ځکه په حد یا قصاص کښې قتل شوي دأحد شهیدانو پوری نشی لاحق کیدي.اونقل دی .چه حضرت ماعز رضی الله عنه سنګسار شو.نودده تره په درباررسالت کښې حاضرشو. داسې نې اوونیل.(قتل ماعزاً کما یقتل الکلاب فما ذا تامرني أن أصنع به) دالله رسوله ﷺ ماعز رضی الله عنه د سپو په شان قتل شو.اوفرمایئ چه اوس زه دده سره څه اوکړم. رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل.(لا تقل هذا، فقد تاب توبة لو قسمت توبته علی أهل الأرض لو سعتهم إذهب فغسله وصل علیه) داسې مه وایه ،ده داسې توبه اویستله. که دا د توبې زمکے په خلقو تقسیم شی.نو دټولو دپاره به کافی شی.لارشه.ده له غسل

ورکړه. اوپه ده مونځ اوکړه.(کفایه)

وَمَنْ قُتِلَ مِنَ الْبُغَاةِ أَوْقُطَّاعِ الطَّرِيقِ اوپه باغيانو ياداکوانو کښې که څوک قتل شی لَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ نوپه ده به مونځ نشی کولې

حل اللغة ﴿①باغي: خرج کونکې ②مرضاة: رضا، خوشحالي③بغاة: باغی ④ قطاع الطريق: ډاکو

تشريح﴿ الصلاة على الباغي ﴿ ①اوکه څوک باغی يا ډاکو قتل کړې شو.نوزمونږ په نيز به په ده مونځ نشی کولې.

دليله﴿ دليل دادې.چه حضرت علی ﷛ خوارجو ته نه غسل ورکړې وو.نه ئې په دوی مونځ کړې وو. حالانکه چه خوارج باغيان وو.حضرت ﷛ ته اوونيلې شو.(أهم كفار)آيا خوارج کافر دی ؟ حضرت علی ﷛ اوفرمائيل.(لا ولكنهم إخواننا بغوا علينا) نا،ليکن زمونږ وروڼه دی.په مونږ ئې بغاوت کړې دې.د ے نه معلومه شوه.چه باغيانواوډاکوانو ته به غسل نشی ورکولې.اومونځ به پرې نشی کولې.دوی ته د سزا ورکولو دپاره اود نورود تنبيه دپاره.لکه چه ډاکوبه د دريو ورځو پورې په سولئ پريخودې شی. ښکاره ده.چه په سولئ پريخودل دده دپاره سزا اود نورودپاره تنبيه ده. والله اعلم.

په کعبه کښې دننه دمونځ کولو بيان

بَابُ الصَّلٰوةِ فِي الْكَعْبَةِ

ترجمه﴿ دا باب په کعبه کښې دننه دمونځ کولو په بيان کښې دې.

تشريح﴿ (صلاة في الكعبة) د(کتاب الصلاة)په آخرکښې خکه ذکرشو.چه د"کتاب الصلاة" اختتام په يومتبرك څيز اوشی.د بيت الله نوم کعبه خکه کيخودې شوېدې.چه دا مکعب يعنی څلورګوټې ده.

په کعبه کښې دننه د مونځ کولوطريقه

الصَّلَاةُ فِي الْكَعْبَةِ جَائِزَةٌ فَرْضُهَا وَنَفْلُهَا[1] په کعبه کښې مونځ کول جائزدې.که فرض وی اوکه نفل

حل اللغة ﴿①جوف: خيټه

تشريح﴿ الصلاة في الكعبة﴿ ① په کعبه کښې دننه فرض اونفل مونځ دواړه جائزدی.

دليله﴿ دادې.چه د فتح مکه په ورځ نبی کريمﷺ په کعبه کښې دننه دوه رکعته نفل مونځ اداکړې دې. روايت دادې.(عن ابن عمر أن النبي ﷺ دخل الكعبة هو وأسامة وبلال وعثمان بن طلحة وأغلقها عليه ثم مكث فيها قال ابن عمر فسألت بلالا حين خرج ما صنع رسول الله ﷺ قال جعل عمودين عن يساره وعمودا عن يمينه وثلاثة أعمدة وراءه ثم صلى وكان البيت يومئذ على ستة أعمدة وكان هذا يوم الفتح)[2] ابن عمر ﷠ فرمائی.چه رسول اکرم ﷺ،اسامه، بلال اوعثمان بن طلحه کعبه کښې داخل شول.او دروازه ئې بنده کړه.بيا په دې کښې دوی حصار

---

[1] مذهب الشافعي رحمه الله:-② اود امام شافعی رحمه الله په نيزدواړه ناجائزدی.
مذهب مالك رحمه الله:- اود امام مالك رحمه الله په نيز نفل جائز دې. البته فرض مونځ جائز نه دې.

[2] من حديث ابن عمر ﷠ أخرجه البخاری في الصلاة باب ٩٦ ومسلم في الحج رقم ٣٨٨ وابوداود في المناسك باب ٩٢ والنسائي في القبلة باب ٦ ومالك في الحج رقم ١٩٣ وأحمد في المسند (١٣٨/٢،١١٣)

شول.ابن عمر ﷺ وائي.چه ما د بلال ﷺ نه تپوس اوکړو.کوم وخت چه بلال ﷺ بهر راوتلو.چه رسول الله ﷺ څه کول؟ بلال ﷺ اوفرمائيل.چه دوه ستنې خودوی ګس طرف ته کړې.يوښي طرف ته او درې ئې شاه طرف ته کړې.بيا دوی مونځ اوکړو.په دغه زمانه کښې د بيت الله شپږستنې وې.اودا د فتح مکه ورځ وه.که په کعبه کښې دننه مونځ کول ناجائزوې.نو رسول الله ﷺ به هيڅ کله په کعبه کښې دننه مونځ نه وو کړې.اوکه تاسواووائې.چه هغه نفل مونځ وو.نوموږ به جواب ورکړو.چه د جواز کوم شرطونه د نفل دی.هم هغه د فرض دی.په دې وجه به فرض هم د نفلو په معنی کښې وی.اوچه فرض مونځ دنفلو په معنی کښې دې.نود نفلو په شان فرض کول به هم په کعبه کښې دننه جائزوی.

⑦دويم دليل دادې.چه کوم مونځ په کعبه کښې دننه ادا شوېدې.په دې کښې د مونځ ټول شرطونه جمع دی.تر دې چه استقبال د قبلې هم اوموندې شو.ځکه چه د ټولې کعبې استيعاب شرط نه دې.اودا ممکن هم نه دی.

په کعبه کښې جماعت سره دمونځ کولوحکم

فَإِنْ صَلَّى الْإِمَامُ بِجَمَاعَةٍ که امام په کعبه کښې دننه جماعت سره مونځ اوکړو فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ ظَهْرَهُ إِلَى ظَهْرِ الْإِمَامِ جَازَ او په مقتديانو کښې بعضوخپله شا د امام شا طرف ته کړه.نوجائزدی

حل اللغة> ①صلي صلاة: مونځ کول،دعاکول ②فجعل،جعل جعلاً (ف): کول، جوړول ③ظهر: شا،ملا ④ وجه: مخ، طرف ⑤ لم تجز،جاز جوازاً (ن): جائز کېدل ⑥تقدم: وړاندې کېدل

تشريح> **صور الصلاة في الكعبة**> په کعبه کښې دننه د باجماعت مونځ څلور صورتونه دی.① دمقتدی مخ دامام شا طرف ته وی.② د مقتدی مخ د امام مخ ته وی.③ دمقتدی شا د امام شا ته وی.④ د مقتدی شا د امام مخ ته وی.اول اودريم صورت بغير د کراهته جائزدې.اوڅلورم قطعاً جائزنه دې.

وجوه احكام الصور الأربعة> د اولنی صورت جواز ښکاره دې.اودويم صورت ځکه جائزدې.چه د امام متابعت موجود شو.اومنع يعنی د امام نه مخکښې کېدل منتفی شو.او په دې صورت کښې کراهت ځکه دې.چه کله د مقتدی مخ دامام مخ ته وی.نود هغه چا سره به مشابه شي.څوك چه دتصوير عبادت کونکې وی.نو په دې صورت کښې به دمقتدی او امام په مينځ کښې ستره ايخودل مناسب وی.چه ددې مشابهت نه بچ شی.ددريم صورت د جواز وجه صاحب دهدايه رَحِمَهُ اللهُ بيان کړې ده.چه مقتدی د قبلې په طرف هم متوجه دې.اوخپل امام په غلطۍ هم نه ګڼری.اودخپل امام نه مخکښې هم نه دې.

وَمَنْ جَعَلَ مِنْهُمْ وَجْهَهُ إِلَى وَجْهِ الْإِمَامِ او په مقتديانو کښې چاچې خپل مخ د امام مخ طرف ته کړو جَازَ وَيُكْرَهُ نو جائز ده خو مکروه ده وَمَنْ جَعَلَ مِنْهُمْ ظَهْرَهُ إِلَى وَجْهِ الْإِمَامِ او په مقتديانو کښې چاچې خپله شا د امام مخ طرف ته کړه لَمْ تَجُزْ صَلَاتُهُ نودده مونځ جائز نه دې

تشريح> دڅلورم صورت دعدم جواز وجه ښکاره ده.ځکه چه په دې صورت کښې به مقتدی دخپل امام نه مخکښې وی.اوښکاره ده چه دا قطعاً ناجائزده.

فائده:کوم مقتدی چه د امام نه ښی يا ګس طرف ته وی.دده مونځ هم جائز دې.

په مسجد حرام کښې د جماعت طريقه

وَإِذَا صَلَّى الْإِمَامُ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ او کله چې امام په مسجد حرام کښې مونځ اوکړی فَتَحَلَّقَ النَّاسُ حَوْلَ الْكَعْبَةِ وَصَلُّوا بِصَلَاةِ الْإِمَامِ او خلقو د کعبې نه ګيرچاپيره حلقه واچوله او دامام په امام په مونځ پسې ئې مونځ اوکړو فَمَنْ كَانَ مِنْهُمْ أَقْرَبَ إِلَى الْكَعْبَةِ مِنَ الْإِمَامِ جَازَتْ صَلَاتُهُ إِذَا لَمْ يَكُنْ فِي جَانِبِ الْإِمَامِ نوکوم کس چې د امام په نسبت کعبېته زيات نيزدے وی.دده مونځ هم جائزدې .خوچې د امام په طرف کښې نه وی

حل اللغة ➤① **فتحلق، تحلق تحلقا:** حلقه جوړول،دائره جوړول ② **حول:** چاپيره ③ **جازت، جاز جوازًا (ن):** جائز کيدل ④ **تقدم:** وړاندې کيدل ⑤ **تاخر:** روستو کيدل

تشريح ➤ **كيفية الجماعة حول الكعبة** ➤مسئله داده.چه امام په مسجد حرام کښې مونځ اوکړو.خلقود کعبه نه حلقه جوړه کړه.يعنی د کعبې نه ئې ګيرچاپيره صفونه جوړکړل.اود امام په اقتداءکښې ئې مونځ اوکړو.نو کوم طرف ته چه امام نه وی.که په دغه طرف کښې مقتدی دامام په نسبت سره کعبې ته زيات نزدې وی.نو دده مونځ جائزدې.خوچه کوم طرف ته امام وی.که مقتدی په دغه طرف کښې دامام په نسبت کعبېته زيات نيزدے وی.نودې مقتدی مونځ ټيک نه دې.

دليله ➤ ځکه چه وړاندې والے او روستوالے په هغه وخت کښې ښکاره کيږی.چه طرف يو وی. نود امام په طرف کښې چه کوم مقتدی دامام په نسبت دکعبې ديوال ته زيات نيزدے وی.نودا د امام نه مخکښې دې.اوکوم مقتدی چه دخپل امام نه مخکښې وی.دده مونځ جائز نه دې.او په کوم طرف چه امام نه وی.دغه طرف ته تقدم اوتاخر نه متحقق کيږی.نو په دغه طرف کښې به دخلقومونځ ټيک وی.

د خانه کعبې د چت دپاسه د مانځه حکم

وَمَنْ صَلَّى عَلَى ظَهْرِ الْكَعْبَةِ اوچاچې دکعبې په چت مونځ اوکړو جَازَتْ صَلَاتُهُ نو دده مونځ جائزدې (١)

حل اللغة ➤① **ظهر:** شا ، چت ② **جازت،جاز جوازًا (ن):** جائز کيدل

تشريح ➤ **الصلاة علي الكعبة** ➤ ① زمونږ په نيز دکعبې په چت مونځ کول جائزدی.اګرچه دده مخے ته ستره نه وی.

دليله ➤ په نيز قبله نوم دې.دکعبې،او کعبه دعمارت نوم نه دې.بلکه هغه ميدان کوم ځائې کښې چه دکعبې عمارت دې.د هغه ځائې نه واخله د آسمانه ځکه چې دا منتقل کيدې شی ولے ګورئ نه.که چا په ابوقبيس غرمونځ اوکړو نوجائزدې.حالانکه عمارت دده مخےته نه دې.

كراهة الصلاة علي ظهرالبيت ➤ليکن دومره خبره ضرورده.چه دکعبې په چت مونځ کول مکروه دی.دکراهت وجه داده.چه دکعبې په چت ختوکښې دکعبې تعظيم ختميږی.ځکه دا مکروه ګرځولې شوې دې.

دليله ➤اود کعبې په چت دمونځ اداکولو نه حضورﷺ هم منع فرمائيلے ده.(عن ابی هريرةؓ انه قال نهی النبیﷺ

---

(١) **مذهب الشافعي:-** په زيربحث مسئله کښې امام شافعی رحمه الله وائی.چه دکعبې په چت مونځ کول جائز نه دی.اوکه دده مخے ته ستره وی.نوجائزدی.

من الصلوٰة فی سبع مواطن المجزرة والمزبلة والمقبرة والحمام وقوارع الطريق ومعاطن الابل وفوق ظهر بيت الله تعالیٰ([1])
حضور ﷺ په اوه ځايونو کښې د مونځ کولو نه منع فرمائيلې ده. ①مذبح ② ډيران ③ اديره ④ نئ خانه ⑤ د لارې منځ ⑥ د اوښانو ترلو ځائې ⑦ د بيت الله چت، دے حديث نه معلومه شوه. چه د بيت الله په چت مونځ کول ممنوع دی. والله اعلم بالصواب.

د زکاة بيان

كِتَابُ الزَّكَاة

ترجمه (دا) کتاب (په بيان د احکامو د زکاة (کښې) دې.

تشريح الأقسام الثلاثة للعبادة عبادات په درې قسمه دی. ①بدنی لکه مونځ، روژه ②مالی: لکه زکاة ③ ددې دواړو نه مرکب لکه حج.

وجوه ذکر الزکاة بعد الصلاة د قياس تقاضا خودا وه. چه د کتاب الصلاة نه پس کتاب الصوم ذکرشوې وې. چه د بدنی دواړو عبادتونو ذکر پرله پسې يوځائې شوې وې. خوداسې اونکړې شو ① د کتاب الصلاه نه پس کتاب الزکاة ځکه ذکرکړې شو. چه په دې ترتيب کښې د الله تعالی د کلام اود رسول الله ﷺ د کلام د دواړو اقتداء کيږی. د الله تعالی د کلام اقتداء خو په دې وجه ده. چه الله تعالی زکاة د مونځ نه پس متصل ذکرکړيدې. لکه چه ارشاد دې. ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ﴾ اود رسول الله ﷺ د کلام اقتداء داسې ده. چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. بنی الاسلام علی خمس شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة.. الحديث) ②دويمه وجه داده. چه زکاة او روژه دواړه کال ۲ھ کښې فرض شوی دی. خو صاحب د شرح نقايه ملاعلی قاری رحمه الله د بيان مطابق زکاة رومبې فرض شوې دې. او روژه روسته. په دې وجه د زکاة بيان وړاندې اوکړې شو. اود روژې ددې نه پس. اود بعضو حضراتو خيال دې. چه زکاة په اجمال سره د هجرت نه مخکښې فرض شوې دې. خو په تفصيل سره د هجرت نه پس فرض شوې دې. بهرحال د فرضيت ترتيب هم ددې تقاضا کوی. چه زکاة د روژې نه مقدم ذکرکړې شی.

معنی الزکاة لغة ①د زکاة لغوی معنیٰ د طهارت ده. لکه ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ﴾ بې شك کامياب شو هغه کس څوك چه پاك شو ②د زکاة معنی صدقه هم ده. ځکه چه صدقه ورکول د صدقه ورکونکی د ايمان تصديق کوی. اودده د قلبی حالت يعنی صدق اوپاکوالی ننبه ده. ③ دويمه معنیٰ د نماء (زياتيدلو) ده. ددې معنیٰ په اعتبارسره وجه تسميه داده. چه زکاة چونکه د مال د زياتوالی سبب دې. په دې وجه ددې نوم زکاة کيخودلې شو. او زکاة سبب د نماء ځکه دې. چه زکاة ورکونکی ته الله تعالی په دنيا کښې ددې عوض ورکوی. اوپه آخرت کښې ثواب ورکوی.

معنی الزکاة شرعا د شريعت په اصطلاح کښې زکاة وائی د نصاب حولی يو جزء فقير او دده په شان د بل په ملك کښې ورکولو ته. اوبعض وائی. چه زکاة د مال د هغه مقدار نوم دې. کوم چه د فقير دپاره

---

[1]) خرجته فی ،،سنن الصلاة،، عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُصَلَّى فِي سَبْعَةِ مَوَاطِنَ فِي الْمَزْبَلَةِ وَالْمَجْزَرَةِ وَالْمَقْبَرَةِ وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ وَفِي الْحَمَّامِ وَفِي مَعَاطِنِ الْإِبِلِ وَفَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ اللَّهِ اخرجه الترمذي في الصلاة باب ماجاء في كراهية ما يصلى اليه وفيه رقم ۳۱۶ رجاله ثقات إلا زيد بن جبير (فإنه ضعيف).

اوبنکلې شوې وی.اود زکاة مال ورته په دې وجه ونيلې شوې دې.چه الله تعالی فرمانی﴿وَاٰتُواالزَّكٰوةَ﴾او
،ایتاء، بغیر د ورکولونه محال ده.نومعلومه شوه. چه زکاة د مال نوم دې.

فرضية الزكاة بالقرآن﴾ د زکاة فرضیت د کتاب الله سنت اجماع درې وارو سره ثابت دې لکه څنګه چه به په راروان متن کښې درته معلوم شی.

سبب وجوب الزكاة﴾ د زکاة د وجوب سبب د نصاب نامی مالك کيدل دی.اوددې شرطونه د صاحب نصاب ازادکيدل، بالغ کيدل،عاقل کيدل،مسلمان کيدل،د قرض نه فارغ کيدل،اوپه مال نصاب باندې د کال تيريدل دی.د زکاة حکم پوره کونکې په دنیاکښې د مکلف کیدلوذمه داریٔ نه فارغ کیږی،او په آخرت کښې عذاب نه خلاصې موندل،او ثواب حاصلول دی.

حكم فرضية الزكاة﴾ ① په ښار کښې يقيناً هرقسمه خلق کمزوری او حاجت مند وغيره وی.اودا حادثات نن په یوکس اوصباله په بل باندې راتلونکی دی.نوکه د فقر اوحاجت لرې کولو طريقه په دوی کښې موجود نه وی.نودا خلق به يقيناً هلاك شی.اود اولږې خلق به مره شی②په دې کښې د اوچت درجه همدردی خودلې شی.دغه شان په خپل مينځ کښې ګرم يخ يعنی د امير غريب ملاويدلوسره مسلمان سره يوشی.په مالدارو باندې فرض دی.چه دوی اداکړی.که فرض نه وی.نوهم د انسانی همدردیٔ تقاضا ده.چه د غريبانانو امداد اوکړې شی.په انسان کښې همدردی اوچت صفت دې.نوبه زکاة ورکونکی کښې ددې د اثرنښې ښکاره کیږی.اوپه هرصحيح طبعيت کښې داخبره پرته ده.چه په دې کارکولوسره د عامو انسانانوسره همدردی ده.دا يو داسې صفت دې.چه په دې باندې ډیراخلاق موقوف دی.چه ددې انجام او نتیجه د خلقو سره ښه معامله ده.او په کوم کس کښې چه د عامو انسانانو سره د همدردیٔ جذبه نه وی.په هغه کښې ډير زيات نقصان وی.چه ددې اصلاح په هغه باندې واجب ده.اودا اصلاح عامو غريبانانو انسانانوته په مال ورکولو سره کیږی.③زکاة صدقات ګناهونه لرې کوی.اود برکاتو زیاتولو ډیرې غټې ذریعې دی. ④ هرکله چه انسان د الله تعالی دپاره دا خپل خوږ مال په خپل لاس ورکوی.په کومې چه دده د ژوند دارومدار اود معيشت انحصار دې.اوکوم ئې چه په محنت،تکليف او په مشقت سره ګټلې دې بيا د بخل پليتی دده نه اوځی.اوپه دې سره په ايمان کښې قوت او پوخوالې پيداکیږی.څکه چه په محنت سره ګټلې شوې خپل مال خاص د الله د رضا حاصلولو دپاره ورکول،دا د خيرکار دې.چه په دې سره د بدن هغه ناپاکی چه کومه د ټولو پليتو نه زیاته ګنده ده.يعنی بخل لرې کیږی.څکه چه دا حالت يعنی د بخل د پاکوالی دپاره خپل مال د الله تعالی په لاره کښې خرچ کول،او په خپل محنت سره حاصل شوې مال خاص دالله تعالی درضا دپاره نوروخلقو ته ورکول دترقیٔ يوحالت دې.يعنی اوچت حالت دې.سخاوت دې.مال سره محبت کمول دی.اوپه دې کښې صريحی او په ښکاره طور باندې د بخل د پليتیٔ نه صفائی او پاکی حاصليږی.اود الله تعالی رحيم او کريم ذات سره تعلق زیاتیږی.څکه چه خپل عزيز مال د الله تعالی دپاره پريخودل، په نفس ګران وی.په دې وجه ددې تکليف په برداشت کولوسره د الله تعالی سره تعلق هم زیاتیږی.او ايمانی قوت او طاقت هم زیاتیږی..والله اعلم

د زکاة د وجوب شرطونه

اَلزَّكٰوةُ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ الْبَالِغِ الْعَاقِلِ اِذَامَلَكَ نِصَابًا كَامِلًامِلْكًاتَامًّا زکاة واجب دې .په آزاد، مسلمان بالغ عاقل، باندې .کله چې دې مالك شی د نصاب په ملك تام سره وَحَالَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ

اوښتی په دې باندې کال.

حل اللغة ﴿①حال,يحول حولاً(ن): تیریدل

تشریح﴾ شروط وجوب الزکاة﴿ شیخ ابوالحسن قدوری رحمه الله د زکاة د وجوب څوشرطونه ذکرکړي دی.
①ازادکیدل ② مسلمان کیدل ③ بالغ کیدل ④ عاقل کیدل ⑤د مقدار نصاب مالك کیدل ⑥ملك تام کیدل⑦ د نصاب په مال باندې حولان حول(تیریدل د کال)

فرضیة الزکاة بالأدلة الثلاثة﴾ علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې د زکاة په وجوب باندې درې دلیلونه ذکرکړی دی. ①کتاب الله یعنی ﴿ وَآتُوا الزَّكَاةَ ﴾ ② حدیث مشهور(وأدوا زکاة اموالکم) (١)اوولی الإسلام على خمس ... الخ ③ اجماع امت یعنی د رسول الله ﷺ د زمانې نه ترننه ورځې پورې چاهم د زکاة د وجوب انکار نه دی کړی.

المراد من الواجب في المتن﴾ په متن کښې د واجب نه مراد فرض دی.ځکه چه د زکاة ثبوت په دلیل قطعی سره شوی دی.اودې په ثبوت کښې د زره برابرشبه نشته.اودکوم څیز ثبوت چه په دلیل قطعی سره وی.او په هغې کښې څه شبه نه وی.نوهغه فرض وی.واجب نه وی.پاتې شو دا اعتراض چه په متن کښې د فرض لفظ نه واجب طرف ته عدول ولې شوی دی؟

الجواب﴾نوددې یو جواب دادې.چه د زکاة بعض مقادیر اوحالتونه په اخبار احادیثونوسره ثابت دی.
دویم جواب دا دی.چه په فرض او واجب کښې هریو بل په ځائې مجازاً استعمالولې شی.نودلته کښې هم د فرض په ځائې د واجب لفظ مجازاً استعمال شوی دی.

شرطیة الحریة ﴾د آزادیدو د شرط دا فائده ده.چه غلام،مدبر،ام ولد اومکاتب باندې زکاة فرض نه وی.
دلیله﴾اودا شرط ئې لګولی دی.چه کامل ملکیت په پوره آزادئ سره متحقق کیږی.ځکه چه غلام خو د یوڅیز د سره مالك کیدې نشی.

دلیل شرطیة الاسلام﴾ مسلمانیدل دې دپاره شرط دی.چه زکاة یوعبادت دی.اودکافرنه هیڅ عبادت نه متحقق کیږی.وجه داده.چه د عبادت امرځکه شوی دی.چه عبادت کونکې ثواب حاصل کړی.اوکافر د ثواب حاصلولواهل نه دی.په دې وجه په کافر زکاة نه دی فرض شوی.

اشتراط البلوغ والعقل﴾ دویم شرط بلوغ دی.اودریم شرط عقل دی.اود دویم شرط فائده داده.چه په نابالغه ماشوم باندې په زکاة فرض نه وی. د دریم شرط فائده داده.چه دیوانه او مجنون کس باندې به زکاة فرض نه وی. دعقل اوبلوغ شرط باندې دلیل په راروانو صفحو کښې ذکرکوو.

عدم وجوب الزکاة على المکاتب﴾او مکاتب ته په خپل مملوکه څیزباندې ملك يد (تصرف)خو حاصل وی.لیکن ملك رقبه(ستې، ذات د څیز)نشی حاصلیدې.د مکاتب په مال باندې ملك رقبه مولی ته حاصل کیدی شی.بهرحال د مکاتب ملك ناقص وی.اود وجوب زکاة دپاره کامل ملك کیدل ضروری دی. اوکامل ملك حاصلیدې شی په آزادئ سره ځکه دوجوب زکاة دپاره حریت شرط ګرځولې شوی دی.

دلیل شرطیة النصاب﴾اود نصاب د مقدارمالك کیدل ځکه شرط دی.چه مال د مالك مستغنی کیدو سبب دی.نبی کریم ﷺ حضرت معاذ رضی الله عنه ته اوفرمائیل.(ثم اعلمهم ان الله تعالی فرض علیهم صدقة تؤخذ من اغنیائهم وترد

(١) من حدیث ابی امامة رضی الله عنه اخرجه الترمذی فی الجمعة باب ٨٠ رقم ٦١٦ واحمد فی المسند (٢٥١/٥) والحاکم فی المستدرك (٩/١)_

حل لغات (تم) یعني خلق خبرکړه.چه الله تعالی په دوی صدقه فرض کړیده.چه ددوی د مالدارانو نه به اخستلې شی.اوهم ددوی غریبانانوته ورکولې شی.

النصاب في الزكاة>بهرحال په حدیث کښې مالداره ته غنی ونیلې شوې دې.اوغنی په کثرت مال سره متحقق کیږی.اود کثرت هیڅ معلوم حد نشته.بلکه په دې کښې د خلقوحالات مختلف دی.نو د کثرت مال یعنی د غنی کیدو هیڅ مقررحد نه وو.په دې وجه صاحب شریعت ﷺ سبب د زکاة یعنی غنی ئې د زکاة په مقدار سره مقدرکړې دې.

دليل قدري النصاب>د ابوسعید خدری رضی الله عنه حدیث دې.(قال قال رسول الله ﷺ ليس فيما دون خمس أواق صدقة وليس فيما دون خمس ذود صدقة وليس فيما دون خمسة اوسق صدقة) حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی.رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.چه دپنځواوقیونه په کموکښې زکاة نشته.اود پنځو راس(نصاب) نه په کموکښې زکاة نشته.اود پنځواوسقونه په کموکښې زکاة نشته.نورسول خدا ﷺ د زکاة سبب په مقدار سره مقررکړې دې.په دې وجه فقهاء کرامو د زکاة واجبولو دپاره د نصاب د مقدارمالك کیدل شرط ګرځولې دې.

شرطية حولان الحول>د وجوب زکاة یوشرط حولان حول دې.یعنی د نصاب په مال باندې کال تیریدل ضروری دی.

دليله>دلیل دا دې.چه زکاة په مال نامی کښې واجب وی.په غیرنامی کښې نه واجبیږی.اود نمو او زیاتوالی معلوملو دپاره د دومره مودې ضرورت وی.چه په دې کښې نمو اود مال زیاتیدل متحقق شی.او شریعت دامودہ یوکال مقررکړیده.حدیث دې(لا زكاة في مال حتى يحول عليه الحول) ([1]) نو د نمو دپاره شریعت یوکال موده مقررکړیده.په دې وجه فقهاء فرمائی.چه د زکاة د وجوب دپاره په مال نصاب باندې دیوکال تیریدل ضروری دی.

الحكمة في حولان الحول>علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې د حولان حول شرط کیدو شرعی حکمت ذکرکړې دې. فرمائی.چه د یوکال موده د نمو اود مال په زیاتیدو قدرت ورکونکې دې.یعنی په یوکال کښې دننه سرې د تجارت وغیره په ذریعه مال زیاتولې شی.ځکه چه کال په مختلف موسمونو(یخنئ، ګرمئ، بهار اوخزان) باندې مشتمل وی.اوغالب هم دادی.چه په دې فصلونوکښې د نرخونوتفاوت (کمې زیاتې) کیږی.مثلاً یوځیز په یو موسم کښې ارزان اوبه دویم موسم کښې ګران وی.نو دغه شان سرې په تجارت کښې نفع حاصلولې شی.اوخپل مال زیاتولې شی.دوجوب زکاة مدار اګرچه په نمو او زیاتوالی دې.او داپه یوکال کښې کیدې شی.په دې وجه د زکاة مدار دیوکال موده ګرځولې شویده.که په دې کښې حقیقتاً نمو اوموندې شی.اوکه اونه موندې شی.

الاعتراض>اوس که څوك دا اعتراض اوکړی.که چاخپل مال په زمکه کښې ښخ کړو.په ده هم زکاة شته.حالانکه دلته کښې هیڅ نمو او زیاتوالې نشته.

الجواب>نو ددې جواب دادې.چه په دې صورت کښې حقیقةً اګرچه نمو نشته.لیکن تقدیراً نمو شته دې.ځکه چه دا د مالك کم عقل توب دې.چه ده خپل مال د زمکې حواله کړو.حالانکه ده ته په خپل مال باندې دتجارت وغیره قدرت حاصل دې.نو دده قدرت به معتبروی.او بې وقوفی به معتبرنه وی.

[1]) من حديث علي رضي الله عنه اخرجه ابوداود في الزكاة باب ٥ رقم ١٥٧٣ واحمد في المسند (١/١٤٨ موقوفاً)

وجوب الزكاة على الفور عند الكرخي رحمه الله > پاتې شوه داخبره چه دکال تیریدونه پس چه کله زکاة واجب الادا شو.نو علی الفور واجب دې اوکه علی التراخی.یعنی فی الفور اداکول واجب دی.او که تراخی هم جائزده؟ په دې باره کښې د امام کرخی رحمه الله قول دادې.چه دکال پوره کېدونه پس فی الفور اداکول واجب دی.د قدرت باوجود د تاخیر په صورت کښې به گناهګاروی.

دليله >دلیل دادې.چه په ﴿ وَآتُوا الزَّكٰوةَ ﴾ اوحدیث«ادوا زكاة اموالكم»کښې امرمطلق دې.او د مطلق امر مقتضی مامور به فی الفور راورل دی.په دې وجه دکال تیریدونه پس به فوراً زکاة اداکول واجب وی.که د قدرت ممکنه باوجود په زکاة اداکولوکښې تاخیر اوکړی.نو گناهګاربه وی.

تضعيف دليل الفورية >دصاحب هدایه بیان شوی په دې دلیل کښې هیڅ ساه نشته.خکه چه مطلق امرنه د علی الفور تقاضا کوی.اونه د علی التراخی.بلکه صرف ددې تقاضاکوی.چه ماموربه ادا کړې شی.که علی الفور وی.اوکه علی التراخی وی.نو د مکلف دپاره امتثال امرکښې تراخی او فوراً دواړه جائزوی.

رواية الفورعن محمد رحمه الله >حضرت امام محمد رحمه الله هم د علی الفور زکاة واجبیدوقائل دې.د دوی نه مروی دی.چه چابغیر د عذره زکاة موخرکړو.دده شهادت قبول نه دې.

الفرق بين الزكاة والحج >د تاخیر زکاة او د تاخیرحج په مینځ کښې د فرق کولو دپاره فرمائی. چه د وجوب نه پس به په تاخیرحج گناهګارنه وی.او په تاخیر زکاة سره به گناهګاروی.خکه چه زکاة د فقراو حق دې.زر ترزره ورکول پکاردی.خکه به ددې د حق (یعنی د زکاة)په موخرکولو کښې گناهګار وی.او حج خالصةً دالله تعالی حق دې.اودالله تعالی ذات بې نیازه دې.نو ددې په موخرکولو کښې هیڅ باك نشته.نود مرګ نه مخکښې چه کله زړه اوغواړی. حج دې اوکړی.خوکه بغیرد حج کولونه مړشو. حالانکه په ده حج فرض وو.نوبه یقین سره به گناهګار وی.

رواية عن ابي يوسف رحمه الله في تاخيرالزكاة والحج >د امام ابویوسف رحمه الله نه نقل دی.چه په تاخیر زکاة به گناهګار نه وی.البته په تاخیرحج به گناهګار وی.خکه چه زکاة غیرموقت دې.او حج د زکاة په شان موقت دې.نو زکاة خوکله اداکیدې شی.خوکه حج ېې اونکړو.نواوس به ده له د یوکال انتظارکول ضروری وی. اود یوکال موده دومره اوږده ده.چه پته نه لګی.خوك به مری.او خوك به ژوندی وی.(کون جیتاهے تیری زلف کے سر ہونے تك)خکه به بغیر د عذره د حج د تاخیر په وجه گناهګاروی.

وجوب الزكاة على التراخي عند ابيبكر جصاص >د امام ابوبکرجصاص رازی رحمه الله قول دې.چه د کال تیریدونه پس د زکاة موخر کول جائزدی.خکه چه ټول عمر ددې د اداکولو وخت دې.یعنی که فی الفور ېې زکاة ادانکړو.نو بیاېې چه کله هم په ژوند کښې اداکوی.ادابه وی قضاء به نه وی.نومعلومه شوه.چه د زکاة اداکولووخت د مرګه پورې دې.اوچه د اداکولووخت د مرګه پورې دې.نو د تاخیرپه وجه به گناهګارنه وی.

دليله >هم دغه وجه ده.چه کله ېې په واجب الادا زکاة ورکولوکښې کوتاهی اوکړه.او ټال متول ئې کول.بیا ټول مال هلاك شو.نو دې د زکاة د مقدارضامن نشو.که زکاة فی الفور واجب وو.نوبه دې صورت کښې به ضامن وی.نوثابته شوه.چه دکال تیریدونه پس زکاة فی الفور نه واجبیږی.بلکه ددې موخر کول هم جائزدی.

په ماشوم او لیوني د زکاة د وجوب حکم

وَلَيْسَ عَلَى صَبِيٍّ وَمَجْنُونٍ وَلَامُكَاتَبٍ زَكَاةٌ او(واجب)نه دي .په نابالغه او مجنون باندي زکاة [1]

تشریح> عدم وجوب الزکاة علی الصبي والمجنون> زمونږ په نیز د نابالغه او مجنون په مال کښي زکاة واجب نه دي.

دلیله العقلي> زمونږد طرفه عقلي دلیل دادي.چه زکاة یوعبادت دي.ځکه حضورﷺ فرمائیلی دي.بنی الاسلام علی خمس...الخ او د زکاة نه علاوه باقي څلورڅیزونه یعني شهادتین، مونځ، روزه، اوحج ، په اتفاق سره عبادتونه دي.نو دغه شان زکاة هم عبادت دي.اوکوم څیزچه عبادت وي.هغه بغیرد اختیاره نه اداکیږي.ځکه چه عبادت نوم دي.د ابتلاء اود آزمائش، اود آزمائش معنی بغیرد اختیاره نه متحقق کیږي.نو د ابتلاء او آزمائش معنی ثابتولو دپاره اختیار ضروري دي.اودي دواړوته عقل او پوهه نشته.ځکه د دوی دپاره اختیارهم نشته. اوعبادت بغیرد اختیاره نه اداکیږي.ځکه ددي دواړو د طرفه زکاة هم نه اداکیږي. اوکله چه ددوی دطرفه زکاة نه اداکیږي.نو معلومه شوه.چه په دوی زکاة هم واجب نه دي.

په مکاتب باندي د زکاة عدم وجوب

عدم الزکاة علی المکاتب> په مکاتب زکاة فرض نه دي.اګرچه ده سره د نصاب په اندازه مال موجودوي.

دلیله> دلیل دادي.چه مکاتب د خپل مال من کل وجه مالك نه وي.یعني ده ته ملك تام نه حاصلیږي. او ملك تام په دي وجه نه حاصلیږي.چه رقیت کوم چه د مالك کیدومنافي دي.په مکاتب کښي موجود دي.د مکاتب په خپل مال باندي ملك تام نه حاصلیږي.ځکه مکاتب که خپل یوغلام آزادول اوغواړي.نو نشي ازادولي.ځکه چه دغلام آزادولو والا دپاره ضروري ده.چه دي په ملك تام سره ددي غلام مالك وي.نوکله چه مکاتب ته په خپل مال کښي ملك تام حاصل نه وي.نوپه ده به زکاة هم فرض نه وي.ځکه چه د زکاة د فرضیت دپاره ملك تام سره د نصاب مالك کیدل ضروري دي.(او ملك تام معدوم دي).

توضیح الملك الناقص والتام> پاتي شوه داخبره چه داځنګه معلوم شو.چه مکاتب ته ملك تام حاصل نه دي.نو ددي جواب دادي.چه د ملك دوه صورته دي. ① ملك رقبه یعني دعین شي اود ذات دشي مالك کیدل ② ملك ید ، یعني د تصرف مالك کیدل.نومکاتب ته خوپه خپل مال کښي ملك ید حاصل دي.یعني د تصرفاتوده ته اختیاردي.خوملك رقبه حاصل نه دي.بلکه ملك رقبه دده آقا ته حاصل دي.دا مکاتب که دبدل کتابت نه عاجزشو.نو دده ټول مال به دده د آقاوي.حاصل داچه مکاتب ته د ملك یوصورت یعني ملك ید حاصل دي.او دویم صورت یعني ملك رقبه حاصل نه دي.اوداخبره ښکاره ده.چه یوصورت ملك ناقص دي.ملك تام نه دي.ملك تام خو د دواړو مجموعه ده.

---

[1]) **مذهب الشافعي**:- امام شافعي، امام مالك،او امام احمد رحمهم الله فرمائي.چه ددي دواړوپه مال کښي زکاة واجب دي.د دوی ولي به د دوی په مال کښي د زکاة اداکولومجاز وي.نو ددي دواړو په مال کښي به د دوی د ښځي نفقه واجب وي.اوکه د دوی سره زمکه وي.نوپه دي کښ به خراج او عشر واجب وي.

په مقروض د زکاة دوجوب تفصيل

وَمَنْ كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ يُحِيطُ بِمَالِهِ اوپه کوم کس چې (دومره) قرض وي.چې راګيرونکے وي.ټول مال ددہ فَلَا زَكَاةَ عَلَيْهِ (١) نو نشته دی په ده باندې زکاة

تشريح> حکم إحاطة الدين النصاب> مسئله داده.چه که په يوکس دومره قرضه وي.چه دده ټول مال راګيروي.مثلاً د دوه زره روپومالیت مالك دې.اودومره په ده قرض هم دې.اوددې قرض څوك مطالبه کونکې وي.که مطالبه دالله تعالى دپاره کوی.لکه زکاة،يا د بندګانو دپاره کوی.لکه قرض،ثمن مبيع،دتلف شوی څيزونوضمان،د زخمونو تاوان،د ښځې مهر،دا قرض که د نغدو دقبيلې څخه وي.اوکه ددې نه علاوه د مکيل يا وزنی څيزونو د قبيلې څخه وي. قرضه که حالی وی اوکه مؤجل وی.په مديون به زکاة واجب نه وی.

دليله> دليل دادې.چه د مديون مال دده په اصلي حاجت کښې مشغول دې.اودا د قرض اداکول دی.څکه چه قرض په دنيا او آخرت دواړوکښې هلاکونکې دې.په دنياکښې خوځکه مهلك دې.چه قرض خواه به د قرض داری ژوند تنګ کړی.اودې قيدکولې هم شی.اوقرضه دآخرت تباهی څکه ده.چه قرضه،د قرض داری او د جنت په مينځ کښې حائل کيږی.بهرحال قرضه ډيرلوءاصلي حاجت دې.او د مقروض ټول مال په دې حاجت کښې مشغول دې.نو دا مال دقرضداری سره معدوم شمارلې شی.لکه چه ده سره دا مال موجودنه دې.اوکله چه دده سره مال موجودنه دې.نوپه ده زکاة دکوم خانې نه واجب شو.

مثاله> ددې مثال داسې دې.لکه چه د يوکس سره لږشان اوبه موجودوی.او دلږې لږې پورې اوبه نشته دې.په داسې حالت کښې ده ته د اودس کولوضرورت راپيښ شو.نوکه داکس دا اوبه په اودس کښې استعمال کړی.نوتګے به پاتې شی. اوکه دسکلو دپاره ئې کيږدی. نواودس به ئې پاتې شی.نو په دې صورت کښې داحکم دې.چه تيمم اوکړی او مونځ اوکړی. څکه چه کله دا اُوبه د تندې ماتولو دپاره متحقق شوې.نو د اودس په حق کښې لکه چه معدوم شوې.اوپه کوم صورت کښې چه اوبه معدوم شی.په هغه صورت کښې د تيمم حکم دے.د الله تعالى ارشاددې. ﴿فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا﴾ (الايه) اولکه د روزانه ضروری کپړې ،او د محنت مزدورئ کپړې ،چه ددې موجوديدل د زکاة په حق کښې معدوم دی.

د قرض نه په زياتي مال کښې وجوب زکاة

وَإِنْ كَانَ مَالُهُ أَكْثَرَ مِنَ الدَّيْنِ اوکه دده مال زيات وی دده د قرض نه زَكَّى الْفَاضِلَ إِذَا بَلَغَ نِصَابًا نو ادادی کړی زکاة د زياتی.(په شرط ددی).چې نصاب ته اورشی

تشريح> الزكاة في الفاضل بعد اداء الدين> مسئله داده.که د مديون سره مال دده د قرض نه زيات وی.نوپه دې زياتی مال کښې به زکاة واجب وی.په دې شرط،چه دا زياتی مال د نصاب په مقدار وی.او دده د اصلي حاجت نه فارغ هم وی.

الدين المانع ماله مطالب من جهة العباد> علامه مرغينانی رحمه الله فرمائيلی دی.چه د دين نه مراد داسې قرض دې.چه ددې څوك مطالبه کونکې دبندګانو دطرفه وی.اګرچه دالله تعالى دپاره مطالبه کوی.نو داسې

---

(١) مذهب الشافعي:- امام شافعي رحمه الله فرمائی.چه په ده به هم زکاة واجب وی.

قرضه د زکاة وجوب منع کوي.اوکه د بندګانو د طرفه مطالبه نه وي.نو داسې قرض د زکاة دپاره مانع نه دي. لکه د نذر دين.او د کفاره دين، صورت ددې دادې.چه د يوکس سره دوه سوه درهمه دي.او ده څه قدرې درهم د خيرات کولو نذرکړل، ياپه ده د قسم د کفاره نذرلازم دې.او ده نذر ياکفاره ادانکړه.تردې چه کال تيرشو.نوپه ده به د دوه سوه درهمو زکاة واجب وي.ځکه چه نذر ياکفاره دې پخپله اداکوي.امام المسلمين ياقاضي ددې مطالبه نه کوي.

دين الزكاة مانعها>علامه مرغيناني رحمه الله فرمائيلي دي.چه د زکاة نصاب د باقي پاتې کيدو په صورت کښې دين زکاة،د زکاة وجوب منع کوي. ([1])

دليله> ځکه چه دين زکاة اداکولوسره د زکاة نصاب کميږي.صورت دا دې. چه يوکس د دوه سوه درهمومالك شو.اوپه دوی يوکال تيرشو.ليکن ده زکاة ادانکړو.تردې چه دويم کال هم تيرشو.نو د دويم کال زکاة به واجب نه وي.ځکه چه د اولني کال د زکاة وجوب په دويم کال کښې د زکاة د وجوب نه مانع وي.ځکه چه د اولني کال زکاة يعنې چه پنځه درهمه اوباسي.نونصاب کميږي.او دا ښکاره ده.چه د نصاب نه په کم کښې زکاة واجب نه وي.

إتلاف المال مانعها>اوهم داحکم د پوره مال تلف کولونه پس دې.يعنې يوکس د دوه سوه درهمو مالك شو.اوپه دې کال تيرشو.بيا د زکاة اداکولونه مخکښې ده ټول نصاب سره د زکاة هلاك کړو.بيا ده ته دوه سوه درهمه ملاؤ شو.اوپه دې کال تيرشو.نوپه ده ددې ملاوشوی دوه سوه درهمو زکاة واجب نه دې. ځکه چه د اولني نصاب د زکاة وجوب دده په ذمه دين دې.او دين زکاة هم د زکاة واجبيدونه مانع وي.دا تفصيل دطرفينو رحمهما الله په نيزدې.

خلاف زفر رحمه الله في المسئلتين المذكورتين>امام زفر رحمه الله په دواړوصورتونوکښې مخالف دې.يعنې په هغه نصاب کښې هم په کوم کښې چه زکاة واجب شو.خو اداېې نکړو.تردې چه دويم کال تيرشو.اوپه هغه نصاب کښې هم چه په هغې کښې زکاة واجب شو.خوټول نصاب ئې هلاك کړو.بيا د نصاب مالك شو. او په دې کال تيرشو.حاصل داچه د امام زفر رحمه الله په نيزپه دواړه صورتونو کښې دين زکاة، د زکاة وجوب نه منع کوي.

دليل زفر رحمه الله>د امام زفر رحمه الله دليل دادې.چه د زکاة دين داسې قرضه ده.چه ددې مطالبه کونکې د بندګانو د طرفه هيڅ څوك نشته.نو دا هم د دين نذر،اودکفاره د دين په شان شو.او د کوم دين مطالبه کونکې چه د بندګانو دطرفه نه وي.هغه دين د وجوب زکاة مانع نشي کيدې.نو دين زکاة او دين استهلاك دواړه به د وجوب زکاة مانع نه وي.

خلاف ابيوسف رحمه الله في مسئلة الإستهلاك>امام ابويوسف رحمه الله په دويم صورت کښې زمونږ مخالف دې.يعنې د اولني کال د زکاة دين په دويم کال کښې د زکاة د وجوب نه مانع دې.خوکه دکال تيريدونه پس ټول نصاب هلاك کړی.نو ددې د زکاة مطالبه کونکې د بندګانو دطرفه هيڅ څوك نشته.ددې په خلاف که نصاب موجوددې.اود حولان حول نه پس ئې هم زکاة ادانکړو. نو عاشر او زکاة وصول کونکې ددې د زکاة مطالبه کولې شي.نوپه دې صورت کښې د بندګانو دطرفه مطالبه کونکې موجوددې.ځکه دا دين زکاة د راروان کال د زکاة واجبيدونه مانع وي.او د دين مستهلك هيڅ څوك مطالبه کونکې دبندګانو دطرفه نشته. ځکه به دا مانع نه وي.

---

[1]) القول الراجح هو هذا القول الأول يعني دين الزكاة مانع حال بقاء النصاب إلخ كذا في الخانية (١\١٢٣) نقلاً عن القول الراجح (١\١٦٢)_

دليل الطرفين >د طرفينو رحمهما الله دليل دادې.چه د دين زکاة مطالبه کونکې بنده موجود دې. او هغه بنده د خريدونکو خناورو په زکاة کښې امام المسلمين دې.او د تجارت په نورو مالونو کښې دده نائب دې.

الاعتراض>خوکه دا اوونيلې شي.چه د امام خوهيڅ څوك نائب نه راخي.نه د خريدونکو څاروو زکاة غوښتلو دپاره،او نه د تجارت د مالونو زکاة غوښتنو دپاره.

الجواب>امام المسلمين په خپله مالکانوته اجازت ورکړو.نو د مال مالك په خپله د امام نائب دې.په دې طريقه چه د مال مالك خوپه زکاة اوبنکلوکښې صاحب زکاة دې.اودا زکاة فقيرانوته په ورکولو کښې د امام نائب دې.

الدليلان علي كون المالك نائب الخليفة> اوددې اصل د الله تعالى قول دا ايت دې (خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً) دې آيت نه د امام دپاره د هرمال نه د زکاة اخستوحق ثابتيږي.

هم داوجه ده.چه رسول اکرم ﷺ او ددوی نه پس صديق اکبر رضی الله عنه اوفاروق اعظم رضی الله عنه په څاروو، نغدو.او دتجارت په مالونوکښې دتولو زکاة اخستلو.اوپه حق مصارفوکښې به ئې خرچ کولو.خوکله چه د حضرت عثمان رضی الله عنه زمانه خلافت شروع شو.نو دوی رضی الله عنه اوکتل.چه په مسلمانانوکښې زکاة مشهور شو. اودا خطره هم پيدا شوه.چه بادشاهان به د خلقوپه مالونو زور زياتي کوی.خکه ئې مالکان د مال نائب اوګرځول.چه دوی. د خپلومالونو زکاة په خپله اداکړی.نوثابت شو.چه د مال مالك زکاة فقيرانوته په ورکولوکښې د امام المسلمين نائب دې.

په حوائج اصليه کښې د زکاة عدم وجوب

وَلَيْسَ فِي دُورِ السُّكْنَىٰ وَثِيَابِ الْبَدَنِ وَأَثَاثِ مَنَازِلِ وَدَوَابِّ الرُّكُوبِ وَعَبِيدِ الْخِدْمَةِ وَسِلَاحِ الْاِسْتِعْمَالِ زَكَاةٌ او واجب نه دی .د اوسيدوپه کورونوکښې ،د بدن په کپړوکښې ،د کورنوپه سامانونوکښې ، د سوارلئ په خاروکښې ،د خدمت په غلامانوکښې ،د استعمال په اسلحوکښې ،زکاة

حل اللغة >①**دور جمع دار**: کور ②**اثاث جمع اثاثه**: سامان ③**منازل، منزل**: کور ④ **دواب جمع دابة**: دَ سورلئ خناور ⑤ **رکوب**: سورلی ⑥**عبيد جمع عبد**: غلام ⑦**سلاح**: وسله

تشريح> **عدم وجوب الزكاة في المشغول بالحاجة الأصلية وغيرالنامية**>مسئله داده.چه په متن کښې په ذکرشوی څيزونوکښې زکاة واجب نه دې.خکه چه داڅيزونه په اصلی حاجت کښې مشغول دی. اصلی حاجت دې ته وائي.چه په دې د انسان نه هلاکت اوتکليف لرې کيږی.که حقيقتاً وی.اوکه تقديراً.اودا څيزونه نامی هم نه دی.حاصل داچه په حاجت اصلی سره مشغوليدل، او نامی نه کيدل، په دې کښې هريو د وجوب زکاة نه مانع دې.اوکله چه دلته کښې دواړه خبرې دی.نوپه درجه اولیٰ به زکاة واجب نه وی.

عدم الحاجة الاصلية والنماء في الأشياء المذكورة> ددې څيزونو اصلی حاجت سره مشغوليدل. خو ښکاره دی.اونامی نه کيدل،خکه دی.چه نمو يا خوخلقی (پيدائشی)وی.لکه په سرو ، او سپينو زروکښې ،ياپه تجارت سره وی.لکه دتجارت په مال کښې.او دلته کښې دواړه خبرې نشته.خکه مونږ اوونيل.چه ذکرشوی څيزونه نامی نه دی.

عدم الزكاة في كتب العلم>صاحب د هدايه رحمه الله په هدايه کښې فرمائی دغه شان که د عالمانو دپاره د علم کتابونه وی.نوپه دې کښې زکاة واجب نه دې.په عبارت کښې دعلم والو قيد اتفاقی دې.خکه چه که د جاهل سره کتابونه وی.اود تجارت دپاره نه وی.نو په دې کښې هم زکاة واجب نه دې.

الروایتان في وجوب الزکاة في آلات الحرفة> هم داحکم د کاروباری خلقو د الاتودي.لکه د حلوانی دیکونه،و بتیٖ والا،اود ګهړی سازآلات وغیره، په دې کښې زکاة نشته. بعضو حضراتو ونیلی دی.چه د کاروبار په آلاتو کښې هغه څیزونه،چه د هغې اثریه جوړشوې څیزونو باقی نه پاتې کیږی.لکه صابن،اشنان دهوبی واخستل، اونانبائی د روټو دپاره مالګه او لرګی واخستل،نوپه دې څیزونو کښې زکاة واجب نه دې. اوکه په جوړشوو څیزونو کښې اثرباقی پاتې کیږی.لکه د رنګساز سم(یوقسم ګل دې چه رس ترې ویستلې شی.او سرې جامې پرې رنګ کولې شی)زعفران،او رنګ واخستلو،چه په اُجرت خلقوله کپړې رنګ کړی.اوپه دې کال تیرشو.نوپه دې څیزونوکښې به زکاة واجب وی.په دې شرط چه داڅیزونه د نصاب مقدارته رسیدلې وی.

په زکاة کښې د نیت شرطیت

وَلَا يَجُوزُ أَدَاءُ الزَّكَاةِ إِلَّا بِنِيَّةٍ مُقَارِنَةٍ لِلْأَدَاءِ اوجائزنه دی زکاة اداکول.خوپه دې شرط چه نیت متصل وی ادا سره أَوْمُقَارِنَةٍ لِعَزْلِ مِقْدَارِ الْوَاجِبِ یا متصل وی.د مقدار واجب جدا کولوسره

حل اللغة> ①مقارنة، قارن، يقارن، مقارنة: ملاوول ②العزل: جدا کول، لرې کول

تشریح> تشریح> شرطیة النیة للزکاة>مسئله داده.چه د زکاة اداکولو دپاره نیت شرط دې.ځکه چه د زکاة فعل عبادت دې.اود عبادت دپاره نیت شرط دې.په دې وجه د زکاة اداکولو دپاره نیت کول شرط شو.

دلیله>اود عبادت دپاره نیت ځکه شرط دې.چه هیڅ عبادت بغیر د اخلاص نه نه اداکیږی.ځکه چه د الله تعالی ارشاددې.﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ یعنی دوی ته داحکم اوشو.چه بندګی اوکړی.اوخالص دالله دپاره کړی بندګی،او اخلاص بغیر د نیته نه موجودیږی.نو ثابت شو.چه د عبادت دپاره نیت کول ضروری دی.او زکاة اداکول هم عبادت دې.ځکه د زکاة اداکولو دپاره هم نیت کول ضروری دی.

وقت نیة الزکاة>پاتې شوه داخبره،چه د زکاة اداکولو دپاره دنیت وخت څه دې.نوامام قدوری رحمه الله فرمانی.چه نیت خویا د زکاة اداکولو په وخت اوشی.یا واجب مقدار د مال نه د جدا کیدو په وخت اوشی. یعنی کله چه دپوره مال حساب اوکړی.او د زکاة کوم مقدارجوړیږی.د پوره مال نه ددې د جداکولو اراده اوکړی.نونیت اوشو.

دلیله>دلیل دادې.چه په نیت کښې اصل عبادت سره متصل کیدل دی.لکه په مانځه کښې د مونځ نیت، مونځ سره متصل کولې شی.

الإعتراض>ددې دلیل تقاضاخو داده.چه د زکاة اداکولوپه وخت نیت،خومعتبردې.ځکه چه د زکاة اداکول عبادت دې.اود نیت عبادت سره متصل کیدل ضروری دی.لیکن د زکاة مقدار جداکولو په وخت به نیت معتبرنه وی.ځکه چه د زکاة مقدار د مال نه جداکول.اوپه خپل کور کښې ایخودل، دا هیڅ عبادت نه دې.

الجواب>ددې جواب دادې.چه واجب مقدارد مال نه جداکولوپه وخت دنیت اعتبارضرورةً د حرج لرې کولودپاره شوې دې.په دې طریقه چه دیرکرته انسان په متفرقو وختونوکښې متفرقو خلقو له زکاة ورکوی.نوکه هر وارے د ورکولوپه وخت نیت کول ضروری اوګرځولې شی.نو دا کس به په حرج اوضررکښې مبتلا شی.نو د آسانتیا په لحاظ د مال نه د جداکولو په وخت نیت باندې اکتفاء اوشوه.

نظیره>لکه په روژه کښې په تقدیم د نیت باندې اکتفاء شویده.ځکه چه اصل خو دادی.چه د روژې نیت د صبا صادق اول جزء سره متصل وی.خوانسان ددې نه عاجزهم دې.او ددې په پوره رعایت ساتلو کښې به ده ته حرج هم لاحق شی.په دې وجه اوونیلې شو.چه که نیت په دې مقدم شو.نوهم څه باك نشته.ددې اعتبار به کولې شی.

د ټول مال د صدقې په صورت کښې د زکاة حکم

وَمَنْ تَصَدَّقَ بِجَمِيعِ مَالِهِ وَلَا يَنْوِي الزَّكَاةَ او چاچې صدقه کړوخپل ټول مال.حالانکه نیت ئې نه دی کړې د زکاة سَقَطَ فَرْضُهَا عَنْهُ نوساقط شوفرض (د زکاة) د ده نه

تشریح> **المذهبان فیسقوط الزکاة بتصدق الجمیع**① >مسئله داده.که چا بغیر د زکاة د نیت نه پوره مال صدقه کړو.نواستحساناً دده نه فرض زکاة ساقط شو. ②اوقیاس دادې.چه فرض زکاة دده نه ساقط نشی.

وجه القیاس>د قیاس وجه داده.چه نفل اوفرض دواړه مشروع دی.نو د فرق کولودپاره یومتعین کول ضروری دی.لکه چه په مانځه کښې دی.چه په مطلق نیت سره فرض مونځ نه اداکیږی.بلکه دا متعین کول ضروری وی.دغه شان فرض زکاة بغیر د زکاة دنیت نه نه اداکیږی.اګرچه مطلق نیت موجود شو.

وجه الاستحسان>وجه د استحسان داده.چه واجب خو دپوره مال یوجزء یعنی څلوېښتمه حصه ده.او دپوره مال په ضمن کښې دا هم متعین دې.او متعین،د تعین محتاج نه وی.ځکه په خاص طور ددې د یوجزء یعنی د زکاة د مقدارمتعین کولوهیڅ ضرورت نشته.

الاعتراض>دا اعتراض په خپل ځائې هم دغه شان باقی دې.چه د زکاة اداکولو دپاره نیت شرط دې.او نیت موجود نشو.

الجواب>نو ددې جواب دادې.چه د اصل عبادت نیت شرط دې.چه د عبادت او عادت په مینځ کښې فرق اوشی.اود اصل عبادت نیت موجود شوې دې.ځکه چه زمونږکلام په دې صورت کښې دې.چه پوره مال ئې په کوم یوفقیرصدقه کړې وی.اوپه دې ئې د الله رضا حاصلولو اراده کړې وی.اودا خبره ښکاره ده.چه په فقیرباندې د الله رضاحاصلولودپاره صدقه کول عبادت دې.نو د اصل عبادت نیت موجود شو.

عدم الضرورة الي تعیین الفرض>او پاتې شو دفرض زکاة اداکولونیت کول.نو ددې هیڅ ضرورت نشته.ځکه چه د فرض زکاة نیت تعین حاصلولو دپاره شرط دې.او د تعین ضرورت به د عدم تعین په وخت راپیښیږی.حالانکه د زکاة په نصاب کښې واجب زکاة متعین دې.په دې وجه ددې د متعین کولوهیڅ ضرورت نشته.

نظیره>لکه چه چاپه رمضان المبارك کښې مطلقاً د روژې نیت اوکړو.نو د رمضان فرض روژه ادا کیږی.حالانکه ده په خاص طور د رمضان د روژو نیت نه دې کړې.اوپه دې میاشت کښې فرض روژه متعین ده.ځکه ددې د متعین کولوضرورت نشته دې.

ملهب محمد رحمه الله **في اداء الزکاة عند صدقة بعض المال**>اوکه ده د نصاب بعضې حصه صدقه کړه. نو د امام محمد رحمه الله په نیزموذی یعنی د نصاب هغه مقدار کوم چه فقیرانوته ورکړې شوې دې.د هغې زکاة ساقط شو.اوکوم مال چه باقی پاتې شو.نو د هغې زکاة واجب دې.

دلیله>د امام محمد رحمه الله دلیل دادې.چه د زکاة څومره مقدار واجب وو.هغه په ټول نصاب کښې خور وو.نوکه دې کس پوره مال صدقه کړې وو.نو پوره زکاة به ساقط شوې وو.خوکله چه ده بعضې مال صدقه کړو.نو ددې بعض زکاة به ساقط شی.حاصل دا چه امام محمد رحمه الله بعض په کل باندې قیاس

کړي دي.مثلاً په دوه سوه درهمو کښې پنځه درهمه وو.او دکال تیریدونه پس ده څلویښت درهمه صدقه کړل.نوپه دې کښې یو درهم زکاة اووتو.اوس په ده باندې د یوسل شپیتو درهمو زکاة څلور درهمه واجب دي.

مسلک ابي يوسف رحمه الله ﴿ د امام ابویوسف رحمه الله په نیز به د مؤدی زکاة هم ساقط نه وي.اوکوم مال چه باقي پاتې شو په دې کښې به هم د پوره نصاب زکاة واجب وي.یعنی د هغې هم کوم نې چه فقیرانو ته ورکړې دي.او د هغې هم کوم چه باقي دې.

دليله رحمه الله ﴿د امام ابویوسف رحمه الله دلیل دادې.چه د زکاة دپاره د نصاب هغه بعض متعین نه دې.کوم چه ورکړې شو.څکه چه څومره قدرې مال باقي دې.هغه هم د زکاة واجبه محل دې.یعنی د زکاة ټول مقدار هم ددې نه اداکیدې شي.په خلاف د اولې مسئلې، یعنی کله نې چه ټول مال صدقه کړو.نوپوره زکاة ساقط شو.څکه چه د زکاة واجب مقدارخو لا محاله په دې کښې داخل دې.

د اوښانو د زکاة بیان

بَابُ زَكَاةِ الْإِبِلِ

ترجمه﴿دا باب د اوښانو د زکاة په بیان کښې دې .

تشريح﴿ **الوجهان لتقديم ذكر الإبل فيصدقة السوائم**① ﴿ علامه قدوری رحمه الله د زکاة د مالونو د تفصیل آغاز د اوښانو د زکاة نه شروع کړې دې.څکه چه د عربوپه نیز د ټولونه زیات قیمتی مال اوښان شمارلې کیدو.په دې وجه د اوښانو د زکاة ذکرمخ کښې اوشو.. ② دویمه وجه داده. چه رسول اکرم ﷺ حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته د زکاة په سلسله کښې کوم خط لیکلې دې.په هغې کښې د ټولونه مخکښې د اوښانو د زکاة بیان دې.نوپه دې ترتیب سره د علامه قدوری رحمه الله په نظرکښې درسول الله ﷺ د خط پیروی کول دی

د اوښانو د زکاة حکم

لَيْسَ فِي أَقَلَّ مِنْ خَمْسٍ ذَوْدٍ مِنَ الْإِبِلِ صَدَقَةٌ علامه قدوری رحمه الله فرمائي.چې نشته په کمو د پنځو اوښانو کښې زکاة فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا سَائِمَةً نوکله چې اورسیږي.د پنځو مقدارته.چې دا سائمه وي، وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ او تیرشو په دی کال فَفِيهَا شَاةٌ إِلَى تِسْعٍ نوپه دی کښې یوه چیلۍ ده.ترنهو پورې فَإِذَا كَانَتْ عَشْرًا بیا چې کله لس شی فَفِيهَا شَاتَانِ إِلَى أَرْبَعَ عَشْرَةَ نوپه دی کښې دوه چیلۍ دی.ترڅوارلسو پورې فَإِذَا كَانَتْ خَمْسَ عَشْرَةَ بیاچې کله پنځلس شی فَفِيهَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ إِلَى تِسْعَ عَشْرَةَ نوپه دی کښې دری چیلۍ دی.تر نورلسو پورې فَإِذَا كَانَتْ عِشْرِينَ بیاچې کله شل شی فَفِيهَا أَرْبَعُ شِيَاهٍ إِلَى أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ نوپه دی کښې څلور چیلۍ دی. تر څلیرشتو پورې فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَعِشْرِينَ بیاچې کله اورشی پنځه ویشتوته فَفِيهَا بِنْتُ مَخَاضٍ نو وی به په دی کښې یو بنت مخاض دې إِلَى خَمْسٍ وَثَلَاثِينَ ترپنځه دیرشو پورې فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَثَلَاثِينَ بیاچې کله شپږدیرش شی فَفِيهَا بِنْتُ لَبُونٍ إِلَى خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ نو وی به په دی کښې بنت لبون. تر پنځه څلویښتو پورې فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَأَرْبَعِينَ بیاچې کله شپږ څلویښت شی فَفِيهَا حِقَّةٌ نو وی به په دی کښې یوه حقه إِلَى سِتِّينَ تر

شپیتو پوری ،فَإِذَا بَلَغَتْ إِحْدَى وَسِتِّيْنَ بیاچې کله یوشپیته شی فَفِيْهَا جَذَعَةٌ)نو وی به په دی کښې جذعه إِلَى خَمْسٍ وَسَبْعِيْنَ ترد پنځه اویا پوری فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَسَبْعِيْنَ بیاچې کله شپږاویا شی فَفِيْهَا بِنْتَا لَبُوْنٍ إِلَى تِسْعِيْنَ نوپه دی کښې دوه بنت لبون دی.تر نوی پوری ،وَإِذَا كَانَتْ إِحْدَى وَتِسْعِيْنَ بیاچې کله شی یو نوی فَفِيْهَا حِقَّتَانِ إِلَى مِائَةٍ وَعِشْرِيْنَ .نوپه دی کښې دوه حقه دی.تر شپږشلو پوری

حل اللغة ﴿①**صدقه**: دلته مراد زکوة دي ②**شاة**: چیلئی ③ **طعنت**: دَ عمر یوې حصې نه بلې ته تلل یعنی دَ یوکال نه دَ دونم کال کیدل④ **بنت مخاض**: هغه ښځه بچې چه یوکال پوره کولوسره دَدونم کال شی ⑤ **بنت لبون** هغه ښځه بچې دَ کوم چه دوه کاله پوره شوې وی او په دریم کال کښې وی ⑥**حقه**: هغه ښځه بچې چه دَ هغه دَ عمرڅلورم کاله شروع شوې وی ⑦**جذعه**: هغه ښځه بچې دَ کوم چه پنځم کال شروع شوې وی

نصاب الإبل﴾ علامه قدوری رحمه الله د اوښ نصاب او ددې زکاة واجبه ذکرکولوکښې فرمانی.چه ① د اوښ نصاب پنځه اوښان دی.ددې نه په کموکښې زکاة واجب نه دې.او د زکاة د وجوب شرط دادې.چه دا سائمه وی.اوپه دې کال تیرشوې وی.نوکه په دې شرطونو سره پنځه اوښان وی.نوپه دې کښې به یوه چیلئ واجب وی.د پنځونه پس تر نهو پورې عفوه دی.(یعنی په شپږم، اووم مقدار کښې څیز واجب نه دې) هم دغه یوه چیلئ به وی.کومه چیلئ چه د زکاة په حساب کښې اخستې شی.ماده به وی.او د پوره یوکال به وی.چه دویم کال ئې شروع وی.②اوکه په ذکرشوی شرطونوسره دچا په ملک کښې لس اوښان وی.نوپه دې کښې دوه چیلئ دی.او د لسو اوښانونه پس تر څوارلسو پورې عفوه ده.په څوارلسوکښې هم دغه دوه چیلئ واجب دی. ③اوکه اوښان پنځلس وی.نوپه دې کښې به درې چیلئ واجب وی.اود پنځلسونه نورلسو پورې عفوه دی. ④کله چه شل اوښان شی.نوپه دې کښې څلورچیلئ دی.اود شلونه پس څلیریشتوپورې عفوه دی. ⑤ بیاچه کله اوښان پنځویشت شی.نوپه دې کښې یو بنت مخاض واجب دې.د پنځه ویشتو نه پس ترد پنځه دیرشو پورې عفوه دی.

⑥اوکله چه شپږدیرش شی.نوپه دې کښې یو بنت لبون واجب دې.اود شپږدیرشو نه پس د پنځه څلویښتو پورې عفوه دی.⑦ خوچه کله شپږڅلویښت پوره شی.نوپه دې کښې یوحقه واجب ده.اود شپږڅلویښتونه تر شپیتو پورې عفوه دی. ⑧اوکله چه یوشپیته شی.نوپه دې کښې یوجذعه واجب ده.او یوشپیتونه پس د پنځه اویا پورې عفوه دی.⑨ اوکله چه شپږاویا شی.نوپه دې کښې دوه بنت لبون دی.د شپږاویا نه تر نوی پورې عفوه دی. ⑩اوکله چه یونوی شی.نوپه دې کښې دوه حقه دی.د یونوی نه پس د شپږشلو پورې عفوه دی.

دلیله﴾ د رسول اکرم ﷺ نه د زکاة فرمان هم په دې تفصیل سره مشهور دې.من جمله د هغې نه یو فرمان هغه دې.کوم چه حضرت صدیق رضی الله عنه د حضرت انس رضی الله عنه په نوم لیکلې دې.چه امام بخاری رحمه الله روایت کړې دې.د تبرک په طور د فرمان رسول ﷺ الفاظ ذکر کولې شی.اوګورئ.

①أن أنسا حدثه أن أبابكر الصديق رضی الله عنه كتب له هذا الكتاب لما وجهه إلى البحرين: بسم الله الرحمن الرحيم هذه فريضة الصدقة التي فرض رسول الله ﷺ على المسلمين والتي أمر الله بها رسوله فمن سئلها من المسلمين فليعطها على وجهها

ومن سئل فوقه فلا يعطه في أربع وعشرين من الإبل فما دونها من الغنم في خمس ذود شاة، فإذا بلغت خمسا وعشرين إلى خمس وثلاثين ففيها بنت مخاض انثى، فإذا بلغت ستا وثلاثين إلى خمس وأربعين ففيها بنت لبون انثى، فإذا بلغت ستا وأربعين إلى ستين ففيها حقة طروقة الجمل، فإذا بلغت إحدى وستين إلى خمس وسبعين ففيها جذعة فإذا بلغت ستا وسبعين إلى تسعين ففيها بنتا لبون فإذا بلغت إحدى وتسعين إلى عشرين ومائة ففيها حقتان طروقة الجمل، فإذا زادت على عشرين ومائة ففي كل أربعين ابنة لبون وفي كل خمسين حقة ثم ساق بقية الحديث في الغنم. (١)

تعريف السوائم>سوائم، د سائمه جمع ده. د سامة الماشية نه ماخوذ دې. معنى ئې ده څرول. سائمه هغه څاروي دي. چه په مباح ځنګلونو کښې څرولې شی. نو د داسې څاروو په نر، او ماده اوبه ګډو وډو ټولو کښې زكاة واجب دې.

المراد من السوائم>په دې شرط چه ددې نه مقصود پې: او د نسل زياتوالې وی. اوكه ددې نه سوارلی يا غوښه مقصود وی. نوپه دې کښې به زكاة واجب نه وی. اوكه ددې څاروونه تجارت مقصودوی. نوپه دې کښې به زكاة السوائم واجب نه وی. بلكه زكاة التجارة به واجب وی. يعنى په دې صورت کښې د سوائم نصاب نه زكاة واجب نه وی. بلكه د مال تجارت د نصاب اوحساب نه به زكاة واجب وی.

نصاب السوائم امرتوقيفية>فوائد :د څناورو نصاب زكاة او مقدار زكاة امر توقيفی دې. په دې کښې د عقل او قياس هيڅ د خل نشته.

الإعتراض>اوكه دا سوال اوكړې شی. چه په هرقسمه څاروو کښې هم د هغې نه زكاة اخستې شی. نو د اوښانو په زكاة کښې چيلئ ولې واجبيږی.

الجوابان① ددې يوجواب خو دادې. چه داخبره خلاف قياس په نص سره ثابت ده. په دې وجه دې باره کښې د كلام كولو هيڅ ګنجائش نشته. ②دويم جواب دادې. چه د اوښ نصاب پنځه اوښان دی. اوس كه يو اوښ د زكاة دپاره مقرړشی. نودا د نصاب خُمس يعنى پنځمه حصه ده. حالانكه زكاة د نصاب د مال څلويښتمه حصه وی. اوكه يواوښ حصې كړې شی. اوددې اتمه حصه وركړې شی. څكه چه د يو اوښ اتمه حصه د پنځو اوښانوڅلويښتمه جوړيږی. نوپه دې صورت کښې په دې اوښ کښې د شركت عيب پيدا كيږی. اودا هم مناسب نه دې. نوپه پنځه اوښانو کښې يوه چيلئ واجب شويده. څكه چه په عهد رسالت کښې په عام طور د يوے چيلئ قيمت پنځه درهمه وو. او د ټولونه د كم عمر د اوښ دبچې يعنى د بنت مخاض قيمت عام طورڅلويښت درهمه وو. دغه شان د پنځو اوښانوقيمت دوه سوه درهمه شو. نو د يوې چيلئ په پنځواوښانو کښې واجبول داسې دی. لكه په دوه سوه درهمو کښې د پنځو درهمو واجبول ،او په دوه سوه درهمو کښې پنځه درهمه د دوه سوه درهموڅلويښتمه حصه ده. څكه يوه چيلئ هم د پنځو اوښانو څلويښتمه حصه ګرځولې شويده. (عنايه)

---

(١) منه كتاب أبي بكر رضي الله عنه لأنس بن مالك رضي الله عنه أخرجه البخاري في الزكاة باب ٣٧ رقم الحديث ١٤٥٣ وكذا كتاب عمر رضي الله عنه أخرجه أبوداود في الزكاة باب ٥ رقم ١٥٦٨ والترمذي في الزكاة باب ٤ رقم ٦٢١ وابن ماجه في الزكاة باب ٩ رقم ١٧٩٨ وكذا كتاب عمرو بن حزم رضي الله عنه وزياد بن لبيد)۔

د اوښانو په زکاة کښې استیناف اول او ثاني

ثُمَّ تُسْتَأْنَفُ الْفَرِيضَةُ نو واپس به راګرځی فريضه فَيَكُونُ فِي الْخَمْسِ شَاةٌ مَعَ الْحِقَّتَيْنِ نو(واجب) به وی.په (زياتوالی د) پنځو يوه چيلئ او دوه حقه وَفِي الْعَشْرِ شَاتَانِ ،وَفِي خَمْسَ عَشْرَةَ ثَلَاثُ شِيَاهٍ ،وَفِي عِشْرِينَ أَرْبَعُ شِيَاهٍ ، وَفِي خَمْسٍ وَعِشْرِينَ بِنْتُ مَخَاضٍ ، إِلَى مِائَةٍ وَخَمْسِينَ اوپه لسو کښې دوه چيلئ.اوپه پنځلسوکښې درې چيلئ.اوپه شلوکښې څلور چيلئ.اوپه پنځه ويشتوکښې يو بنت مخاض.تر يونيم سلو پورې فَيَكُونُ فِيهَا ثَلَاثُ حِقَاقٍ نوشی به په دې کښې درې حقه

حل اللغة ﴿ ① تستانف،استانف،يستانف استينافا: د نوی سر نه شروع کول ② الفريضه: دزکوة نصاب

تشريح ﴿ النصاب بعد المائة والعشرين ﴾ په تيروکړخوکښې د شپږشلو اوښانو پورې د زکاة بيان وو. فرمائيلې شوی وو.چه په شپږشلو اوښانوکښې دوه حقې واجب دی.خوچه کله په شپږشلو باندې اضافه اوشوه. او اضافه هم د پنځو اوشوه.نوپه تيرو شوو دوه حقو سره به د يوےچيلئ اضافه بله کيږی.ددې عبارت نه معلوم شو.چه په شپږشلو باندې که د يو اوښ،يا دوه يا درې يا د څلورو اوښانو اضافه اوشوه.نوپه دې زياتوالی کښې هيڅ زکاة نه واجبيږی. ①که د پنځو اوښانو اضافه اوشوه.نوپه دې اضافه کښې ،د تيرشوی زکاة سره يوه چيلئ اضافه کيږی. ②اوکه د لسواوښانو اضافه اوشوه.يعنی يوسل او ديرش اوښان شو.نو دوه حقےاو درې چيلئ به واجب وی. ③اوکه د شلواضافه اوشوه.نوڅلورحقه اوڅلور چيلئ به واجب وی. ④ اوچه د پنځه ويشتو اضافه اوشوه.يعنی يوسل پنځه څلويښت اوښان شو.نوپه دې کښې دوه حقه او يو بنت مخاض واجبيږی. ⑤ بياچه کله په دې باندې يعنی په يوسل پنځه څلويښتوباندې د پنځواضافه اوشوه.اوټول اوښان يونيم سل شو.نوپه دې کښې به درې حقه او يوه چيلئ واجب وی.

ثُمَّ تُسْتَأْنَفُ الْفَرِيضَةُ بيا به د سره شروع کيږی فريضه فَفِي الْخَمْسِ شَاةٌ نووی به په پنځوکښې يوه چيلئ وَفِي الْعَشْرِ شَاتَانِ اوپه لسوکښې دوه چيلئ وَفِي خَمْسَ عَشْرَةَ ثَلَاثُ شِيَاهٍ اوپه پنځه ويشتوکښې درې چيلئ وَفِي الْعِشْرِينَ أَرْبَعُ شِيَاهٍ اوپه شلوکښې څلورچيلئ وَفِي خَمْسٍ وَعِشْرِينَ بِنْتُ مَخَاضٍ اوپه پنځه ويشتوکښې يو بنت مخاض وَفِي سِتٍّ وَثَلَاثِينَ بِنْتُ لَبُونٍ او په شپږديرشو کښې يو بنت لبون فَإِذَا بَلَغَتْ مِائَةً وَسِتًّا وَتِسْعِينَ نو بياچې کله اورسی د يوسل او شپږنوی پورې فَفِيهَا أَرْبَعُ حِقَاقٍ إِلَى مِائَتَيْنِ نو وی به په دی کښې څلورحقه.تر دوه سوه پورې

تشريح ﴿ الإستيناف الثاني ﴾اود لسو اوښانو د اضافه په صورت کښې د درې حقو نه علاوه دوه چيلئ واجب دی. اود پنځلسو د اضافه په صورت کښې به درې حقه او درې چيلئ واجب وی.اود شلو د اضافه په صورت کښې درې حقه اوڅلورچيلئ واجبيږی.اود پنځه ويشتو د اضافه په صورت کښې يعنی په يوسل پنځه اويا کښې به درې حقه اويو بنت مخاض واجب وی.اوپه يونيم سل باندې د شپږ ديرشو داضافه په صورت کښې يعنی په يوسل شپږاتيا کښې به درې حقه او يو بنت لبون واجب وی.بياچه کله يوسل شپږ نوی اوښان شی.نوپه دې کښې څلورحقه واجب دی.تر دوه سوه پورې هم دغه څلورحقه واجب دی.

ثُمَّ تُسْتَأنَفُ الْفَرِيضَةُ أَبَدًا كَمَا تُسْتَأنَفُ فِي الْخَمْسِينَ الَّتِي بعد الْمِائَةِ وَالْخَمْسِينَ (١) بیابه واپس کیږي فريضه (هم دغه شان)همیشه.لکه څنګه چې واپس کولی شی .په (هغه) پنځوسو کښې .کوم چې د یونیم سلونه پس دی

تشریح> الإستيناف الثالث> بیاکه په دوه سوه اوښانوباندې اضافه اوشوه.نو بیا د زکاة فریضه به هم هغه شان دوباره کولې شی.لکه څنګه چه د یونیم سلونه پس په پنځوسوکښې شوې دې.یعنی دوه سوه نه پس د هرپنځوسوحساب به کیږي.په دې طریقه چه د هر پنځودپاره یوه چیلۍ څلیریشتو پورې.بیاپه پنځوسو باندې یو بنت مخاض،اوپه شپږ دیرشو باندې بنت لبون،او په شپږڅلویښتو باندې حقه تر پنځوسو پورې، نو په دوه نیم سوه باندې به پنځه چیلۍ وی.بیا د راروان پنځوسو دپاره هم دغه شان په هر پنځو اوښانو باندې یوه چیلۍ،تردې پورې چه په پنځه ویشتویاندې بنت مخاض اوپه شپږ دیرشویاندې بنت لبون اوپه شپږ څلویښتو باندې تر د پنځوسو پورې حقه ده.نوپه درې سوه اوښانو باندې شپږحقې دی. غرض داچه د هر پنځوسوحساب به هم دغه شان کیږي.

دلیله> دلیل دادې.چه رسول الله ﷺ عمروبن حزمؓ ته کوم فرمان ورکړې دې.د هغې په آخرکښې نې دا لیکلی دی (فماكان اقل من خمس وعشرين ففيها الغنم في كل خمس ذود شاة) (٢) یعنی چه کله اوښان د شپږشلونه زیات شی.نوفریضه به د سره اعاده کولې شی.اوکه د پنځه ویشتونه کم وی.نوپه دې کښې یوه چیلۍ ده.په هرپنځه اوښانوکښې یوه چیلۍ ده.

په مطلق اوښانوکښې د زکاة حکم

وَالْبُخْتُ وَالْعِرَابُ سَوَاءٌ اوبختی او عربی دواړه برابردی

تشریح> معني البخت والعراب> بخت،د بختی جمع ده.بختی هغه دې.چه د عربی اوعجمی مخلوط نطفې نه پیدا شوې وی.بخت،د بخت نصرطرف ته منسوب دې.او عراب فرس د عربی جمع ده.لکه چه عرب

دلیله> د مسئلې حاصل دادې.چه اوښ دکوم قسم هم وی.کله چه دا د نصاب شمیرته اورسی.نوپه دې کښې به زکاة واجب وی.ځکه چه په حدیث کښې د ابل لفظ راغلې دې.اودا دواړو ته شامل دې.والله اعلم بالصواب.

---

(١) **اختلاف الشافعي رحمه الله في الإستيناف الأول والثاني>** امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه که په شپږشلو باندې یو اوښ زیات شو.نوپه دې کښې به درې بنت لبون واجب وی.اوکه یو سل دیرش اوښان شو.نوپه دې کښې یوه حقه او دوه بنت لبون دی.بیابه په هر څلویښتو او پنځوسوحساب راتاویږي.نوپه هرڅلویښتوباندې یو بنت لبون،اوپه هر پنځوسو باندې به یوه حقه واجب وی.ددې اصولو لاندې امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په شپږ شلو باندې که د یو اوښ اضافه اوشوه.نوپه دې کښې به درې بنت لبون وی.ځکه چه دا د څلویښتو درې چند دې.اوکه اوښان یو سل او دیرش وی.نوپه دې کښې به یوحقه او دوه بنت لبون وی.ځکه چه یوسل دیرش،دوه څلویښت،او پنځوس دی.(١٣٠ = ٤٠+٤٠+٥٠)اوکه یوسل څلویښت وی.نوپه دې کښې دوه حقه او یو بنت لبون دې.ځکه چه یو سل څلویښت،دوه پنځوس،او څلویښت دی. (١٤٠ = ٥٠+ ٥٠+ ٤٠) وعلی هذا القياس

(٢) من حديث عمرو بن حزم رضي الله عنه اخرجه أبوداود في مراسيله وإسحاق بن راهويه في مسنده والطحاوي في مشكله كذا في نصب الراية (٣٥٠/٢)۔

بَابُ صَدَقَةِ الْبَقَرِ

دا فصل د غواګانو(د زکاة په بیان کښې) دی

لَيْسَ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثِينَ مِنَ الْبَقَرِ صَدَقَةٌ نشته په کمو د دیرشوغواګانوکښې زکاة فَإِذَا كَانَتْ ثَلَاثِينَ سَائِمَةً نوکله چې شی دیرش غواګانې،څریدونکې وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ او تیر شي په دی باندی کال فَفِيهَا تَبِيعٌ أَوْ تَبِيعَةٌ نو(واجب دی) په دی کښې یو تبیع یا تبیعه وَفِي أَرْبَعِينَ مُسِنٌّ أَوْ مُسِنَّةٌ او په څلویښتو (غواګانو)کښې یومسن یا مسنه (واجب) ده

حل اللغة ﴿ ① **البقر**،د بقرنه مشتق دې.ددې معنی ده شلول.او د جنس بقر نوم بقرځکه کیخودې شو.چه دا زمکه شلوی.په البقره کښې" ۃ "دوحدت دپاره ده.د تانیث دپاره نه ده.نو البقریه په نر او ماده دواړو باندې واقع کیږی.② **تبیع** د غوې یوکلن نربچې،اوتبیعه یوکلن ماده بچې،دې ته تبیع یا تبیعه ځکه وائی.چه دا دخپل مور تابع وی.هم دې پسےشاته شاته ګرځی.او مسن نر دوه کلن بچې،اومسنه ماده دوه کلن بچې،د بقر په زکاة کښې په مذکراو مونث کښې اختیار ورکړې شوې دې.ځکه چه په بقرکښې مونث غوره نه شمارلې کیږی.

تشریح ﴿ **الربط بماقبله** ﴾ علامه قدوری رحمه الله دغواګانو زکاة دچیلو په زکاة ځکه مقدم کړې دې.چه غواګانې دخپل غټ والي او قیمت اعتبارسره د اوښ مناسب دی.نو د اوښ د زکاة حکم بیانولونه پس د غواګانو د زکاة حکم ذکرکړې شو

نصاب البقر ﴾ بهرحال د غواګانو نصاب زکاة دیرش دې.یعنی په دیرشو غواګانوکښې یو تبیع یا تبیعه واجب ده.او په څلویښتوکښې یو مسن یا یو مسنه واجبیږی.

دلیله ﴾ دلیل دحضرت مسروق رضی الله عنه حدیث دې.(**عن معاذ بن جبل ان النبی ﷺ لما وجهه الی الیمن امره ان یاخذ من کل ثلثین بقرا تبیعا،او تبیعة ومن کل اربعین مسنا اومسنة**)[1] مسروق رضی الله عنه وائی.چه نبی کریم ﷺ کله حضرت معاذبن جبل رضی الله عنه د یمن حاکم جوړکړو.او اوني لیګلو.نودوی ته ئې حکم ورکړو.چه د دیرشو غواګانو نه یو تبیع یا تبیعه اخله.او د هرڅلویښت غواګانونه یومسن یا مسنه اخله.(شرح نقایه)

التنبیهات ﴾ ① داخیال ساتل پکاردی.چه د بقرلفظ څنګه غوا ،غوائی ته وئیلې کیږی.دغه شان میخےاو سنډا ته هم وئیلې شی. ② داهم خیال ساتل پکاردی.چه د بقر په اقساموکښې د زکاة د وجوب دپاره شرط دا دې.چه دا د پیو او د نسل زیاتوالی دپاره وی.ګنی که دا ایوې وغیره چلولو یاپه ریړه وغیره بار او بوج دپاره وی.نوپه دې کښې زکاة نشته.

③ اوکه د تجارت دپاره وی.نو په دې کښې به ،زکاة التجارة، واجب وی.،زکاة السوائم، به واجب نه وی.

[1]) حدیث معاذ رضی الله عنه اخرجه ابوداود في الزکاة باب ٥ رقم ١٥٧٧ والترمذی في الزکاة باب ٥ رقم ٦٢٣ والنسائی في الزکاة باب ٨ رقم ٢٢٩٨ وابن ماجة في الزکاب باب ١٢ رقم ١٨٠٣ والدارمی في الزکاة باب ٥ ومالك في الزکاة باب ٣٤ واحمد في المسند (٢٣٠/٥) وابن حبان في صحیحه مسنداً في النوع الحادی والعشرین من القسم الأول والحاکم في المستدرك (٣٩٨/١)۔

په غواګانو کښې د څلوېښتونه تر شپېتو پورې عفو

فَإِذَا زَادَتْ عَلَى أَرْبَعِينَ بیاچې کله زیات شی په څلوېښتو(غواګانو)باندې **وَجَبَ فِي الزِّيَادَةِ بِقَدْرِ ذَٰلِكَ إِلَى سِتِّينَ** نوواجب به وی په زیاتی کښې په اندازه ددې (زیاتوالې) ترشپېتوپورې **عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ** رحمه الله په نیزد امام ابوحنیفه رحمه الله. **فَفِي الْوَاحِدَةِ رُبْعُ عُشْرِ مُسِنَّةٍ** نویه یوزیاتی کښې څلوېښتمه دمسنه ده **وَفِي الِاثْنَتَيْنِ نِصْفُ عُشْرِ مُسِنَّةٍ** اویه دوه زیاتی کښې شلمه د مسنه ده ، **وَفِي الثَّلَاثِ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِ عُشْرِ مُسِنَّةٍ** اوپه دریو(زیاتی) کښې دری څلوېښتمې حصه ده د مسنه

تشریح ﴿الروايات الثلاثة عن ابي حنيفه رحمه الله في زكاة الزائد علي الأربعين﴾ په تیره شوې مسئله کښې ونیلې شوی دی.چه په دیرشوغواګانوکښې به یوتبیعه واجب وی.اوپه څلوېښتوکښې یوه مسنه واجب وی.خوکه په څلوېښتوغواګانو باندې زیات شی.نوپه دې کښې داامام ابوحنیفه رحمه الله نه درې روایتونه دی.

الرواية الأولي﴿رومبې روایت چه د ،مبسوط،نه نقل دې.دا دې.چه د څلوېښتونه زیات ترشپېتو پورې به دحساب په اندازه زکاة واجب وی.نوکه په څلوېښتوباندې یوه غوازیاتی شوه.نوپه دې کښې به یوه مسنه واجب وی.اوپه یوزیاتی کښې به دمسنه څلوېښتمه حصه واجب وی.اوچه دوه زیاتی شی.نود یومسن یا مسنه شلمه حصه به واجب وی.اوچه په څلوېښتودرې زیاتی شی.نودیومسن اومسنه درې څلوېښتمې حصې واجب وی.علی هذا القیاس

دلیلها﴿دلیل ددې روایت دادې.چه د دیرش اوڅلوېښتوپه مینځ کښې عفوکښې زکاة نه واجبېدل، خلاف قیاس دنص نه ثابت دی.اودلته یعنی دڅلوېښتونه زیات په عفوکښې هیڅ نص نشته.نود دیرشونه په زیاتی کښې عفویعنی زکاة نه واجبېدل په رائې اوقیاس سره نه ثابتیږی.ځکه چه مال د وجوب زکاة سبب دې.اوپه اندازې سره نصاب مقررول جائزنه دی. دغه شان په رائې سره مال د وجوب نه خالی کول،ددې دسبب متحقق کولونه پس جائزنه دی.نوکله چه دڅلوېښتونه زیاتی غواګانې وی.نوپه دې زیاتی کښې صرف په خپلې رائې سره عفوثابتول،یعنی زکاة نه واجبول جائزنه دی.

الرواية الثانيه﴿دویم روایت حسن بن زیادعن ابی حنیفه رحمه الله دې.ددې روایت حاصل دا دې.چه د څلوېښتونه په زیاتی کښې هیڅ ځیزواجب نه دې.البته زیاتی که پنځوسوته اورسی. یعنی که په څلوېښتو غواګانوباندې د لسو اضافه اوشی.نوپنځوس شوې.نوپه دې کښې یومسنه اود یو مسنه څلورمه حصه واجب ده.یا یوه مسنه اود یو تبیعه دریمه واجب ده.خلاصه داچه.دڅلوېښتو او پنځوسوپه مینځ کښې عفو ده.خوپه څلوېښتوکښې زکاة عفودې.

دلیلها﴿ددې روایت دلیل دا دې.چه د غواګانو د نصاب بنیاد په دې دې.چه په هردوه، لسوکښې عفو ده.اوپه هرلسوباندې واجب دې.نواوقاص(عفوه)غواګانې یعنی د دوه،لسوپه مینځ کښې په نهو غواګانو کښې عفوه ده.په دې کښې به هیڅ زکاة واجب نه وی.لکه څنګه چه د څلوېښتونه مخکښې اود شپېتونه پس یعنی په دیرشوغواګانوکښې یوه تبیعه ده.خود دیرشونه پس تر۳۹پورې هیڅ زکاة نشته.اوپه شپېتوکښې دوه تبیعه دی.خو د شپېتونه پس تریوکم اویا پورې هیڅ زکاة نشته.نودغه شان دڅلوېښتواو پنځوسوپه مینځ کښې په نهوغواګانوکښې به هیڅ زکاة نه وی.اوچه کله پنځوس شی.نوپه دې زیاتی لسوکښې به زکاة واجب وی.یعنی د مسنه څلورمه یا د تبیعه دریمه به واجب وی.

قَالَ أَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: لَاشَيْءَ فِي الزِّيَادَةِ حَتَّى تَبْلُغَ سِتِّيْنَ ()او وائی.امام ابویوسف اومحمد رحمهما الله چې هیڅ خیزنه وی (واجب)په زیاتی کښې .تردی چې اورسی شپیتو ته فَيَكُونُ فِيهَا تَبِيعَانِ أَوْ تَبِيعَتَانِ نو په دې کښې به دوه بیع یا دوه تبیعان وی

تشريح> **الرواية الثالثة وهومذهب الأئمه رحمهم الله>** دریم روایت دا دې.چه د څلویښتونه په زیاتی کښې ترشپیتو پورې هیڅ زکاة واجب نه دې.هم ددې قائل صاحبین رحمهما الله دی.اوهم داقول دامام مالك، امام شافعی،اود امام احمد رحمهم الله دې.

دليله> ددې دریم روایت دلیل دادې.چه نبی کریم ﷺ حضرت معاذ رضی الله عنه ته ارشاد فرمائیلې دې.«لاتأخذمن أوقاص البقرشيئا» ([2]) اوشالمانو د.اوقاص،تفسیر د څلویښتو اوشپیتویه مینځ کښې کړې دې. یعنی د څلویښتو اوشپیتویه مینځ کښې د غواګانو زکاة مه اخلئ.څکه چه دا عفوه دې.اوقاص د وقص جمع ده.د دوه فرضو مینځ ته وائی.

جواب أبي حنيفة رحمه الله> زمونږ د طرفه ددې استدلال داجواب ورکړې شوې دې.چه بعضو حضراتو د اوقاص نه مراد دیر واړه بچی اخستی دی.یعنی کوم بچی چه دپوره کال نه وی.د هغې زکاة مه اخلئ. ددې تاویل نه پس دا روایت د صاحبینو رحمهما الله مستدل نه جوړیږی.

وَفِي سَبْعِيْنَ مُسِنَّةٌ وَتَبِيعٌ او په اویاکښې یومسنه او یوتبیع ده وَفِي ثَمَانِيْنَ مُسِنَّتَانِ او په اتیاؤ کښې دوه مسنه دی وَفِي تِسْعِيْنَ ثَلَاثَةُ أَتْبِعَةٍ او په لس کم سلوکښې دری تبیعه دی وَفِي مِائَةٍ تَبِيعَانِ وَمُسِنَّةٌ او په سلو کښې دوه تبیعه اویو مسنه دی وَعَلَى هَذَا يَتَغَيَّرُ الْفَرْضُ فِي كُلِّ عَشْرٍ مِنْ تَبِيعٍ إِلَى مُسِنَّةٍ اوهم په دی به (حساب) قیاس کولی شی .نو متغیر کیږی به فرض زکاة په لسوکښې .د تبیع نه مسنه په طرف.

تشريح> **النصاب بعد الستين>** ماتن رحمه الله وائی.چه په شپیتوغواګانوکښې دوه تبیعه دی.اوپه اویا غواګانو کښې یومسنه او یوه تبیعه ده.یعنی دڅلویښتومسنه،اود دیرشوتبیعه،اوهم ددې نه دوه مسنه دی.یعنی په حساب په هرڅلویښتوکښې یوه مسنه،اوپه نوی(لس کم سلو)کښې درې تبیعه دی.اوپه سلوکښې دوه تبیعه اویوه مسنه دی.په دې قیاس به حساب کولې شې.نوفرض زکاة به متغیرکیږی.د هرلسو تبیعه نه د مسنه په طرف،اود مسنه نه د تبیعه په طرف،مثلاً په سلوکښې دوه تبیعه،او یوه مسنه دی.اوپه یوسل لسوکښې دوه مسنه اویوه تبیعه دی.په شپږشلوکښې درې مسنه دی.اوپه یوسل دیرشوکښې درې تبیعه او یوه مسنه دی. على هذا القياس

دليله> دلیل د رسول اکرم ﷺ فرمان دی «في كل ثلثين من البقرتبيع اوتبيعة وفي كل أربعين مسن أومسنة» ([3])

[1]) القول الراجح هو هذا قول الصاحبين رحمهما الله كما في رد المحتار(۲۰/۲) والبحرالرائق (۲۱۵/۲) والتاتارخانية (۲۲۲/۲) ومجمع الأنهر(۱۹۹/۱) نقلاً عن القول الراجح (۱۶۶/۱)-

[2]) من رواية ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه الدارقطني في سننه (۹۹/۲) والبيهقي في السنن الكبرى (۱۶۶/٤) رقم ۷۲۹۳)_

[3]) من حديث عبدالله رضي الله عنه اخرجه الترمذى في الزكاة باب ٥ رقم ٦٢٢ وابن ماجة في الزكاة باب ١٢ رقم ١٨٠٤)_

والجواميس والبقر سواء او میخې او غواګانې برابر دي

تشريح> **اتحاد حكم البقر والجاموس**> ماتن رحمه الله فرمائي.چه د میخې او غواحکم په زکاة کښې برابر دي.تردې چه په دیرشو میخوکښې یوکلن بچې واجب دې.اوپه څلویښتومیخوکښې دوه کلن بچې واجب دې.

دليله> دلیل دا دې.چه د بقر لفظ غوې او میخه دواړو ته شامل دې.او غوښې اوسندا هم په دې جنس کښې داخل دی. علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه د بقرلفظ دې دواړو ته څکه شامل دې.چه میخه هم یوقسم غوې ده.

د چیلو د زکاة بیان

بَابُ صَدَقَةِ الْغَنَمِ

دا باب د ګډو د زکاة په بیان کښې

لَيْسَ فِي أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعِينَ شَاةً صَدَقَةٌ نشته په کم د څلویښتو خریدونکو چیلوکښې زکاة ، فَإِذَا كَانَتْ أَرْبَعِينَ سَائِمَةً بیاچې کله څلویښت خریدونکښې (چیلۍ) شي وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ او تیرشي په دې باندې کال فَفِيهَا شَاةٌ إِلَى مِائَةٍ وَعِشْرِينَ نوپه دې کښې یوه چیلۍ ده.ترشپږشلو پورې فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةٌ بیاچې کله (په شپږ شلو) زیاتې شي یوه (چیلۍ). فَفِيهَا شَاتَانِ إِلَى مِائَتَيْنِ نو وی به په دې کښې دوه چیلۍ.تردوه سوه پورې فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةٌ بیاچې کله زیاتې شي یوه فَفِيهَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ نوپه دې کښې درې چیلۍ دی فَإِذَا بَلَغَتْ أَرْبَعَمِائَةٍ نوکله چې اورسی څلورسوه ته فَفِيهَا أَرْبَعُ شَاةٍ نوپه دې کښې څلورچیلۍ دی ثُمَّ فِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ بیا په هرسلوچیلوکښې یوه چیلۍ ده

حل اللغة> ① غنم نوم څکه ایخودې شوی دې.چه هیڅ آله د دفاع نشته.څکه دا د هرطالب دپاره غنیمت دې.اود غنم لفظ اسم جنس دې.چه نر او ماده ټولوته وئیلې شي

تشريح> **الربط بما قبلها**> د چیلو زکاة ئې د اسونو په زکاة مقدم بیان کړې دې.یاخوڅکه چه ددوی دکثرت په وجه ددې دبیان ضرورت زیات دې.اویاخوڅکه چه د ګډو چیلو زکاة متفق علیه دې.اود اسونو زکاة مختلف فیه دې.اومناسب هم داوی.چه متفق علیه څیز مخکښې بیان کړې شي.

نصاب الغنم> فرمائي.چه د چیلونصاب څلویښت چیلۍ دی.د څلویښتونه په کموکښې هیڅ زکاة نشته.البته څلویښتوچیلوکښې یوه چیلۍ واجب ده.په دې شرط چه دا سائمه وی.اوپه دې کال هم تیر شوی وی. نو د شپږ شلو پورې به هم دغه یوه چیلۍ واجب وی.خوچه کله په شپږشلو باندې یوه هم زیاتې شوه.یعنی یوسل یوویشت چیلۍ شی.نوپه دې کښې به دوه چیلۍ واجب وی.تردوه سوه پورې به هم دغه دوه چیلۍ واجب وی.بیاچه کله په دوه سوه باندې یوه چیلۍ زیاتې شوه.یعنی یو دپاسه دوه سوه شی.نوپه دې کښې به درې چیلۍ واجب وی.بیاچه کله څلورسوه شی.نوپه دې کښې به څلورچیلۍ واجب وی.بیاپه هرسلو باندې یوه چیلۍ زیاتیږی.تردې چه په پنځه سوه باندې پنځه اوپه شپږسوه باندې شپږ چیلۍ واجب دی.علی هذا القیاس.

دليله> ①دلیل دا دې.چه دچیلۍ د زکاة په سلسله کښې کوم تفصیل ذکرشوې دې.هم دا تفصیل د

رسول اکرم ﷺ فرمان زکاة کښې وارد شوې دې.اوهم دغه شان دحضرت ابوبکراو حضرت عمر رضی الله عنه په ارشاداتوکښې هم بیان کړې شوی دی.② دخلیفه اول حضرت ابوبکر رضی الله عنه کوم فرمان چه دحضرت انس رضی الله عنه په نوم تلې وو.د هغې الفاظ لیکلې شی.(فی صدقة الغنم فی سائمتها إذا کانت أربعین إلی عشرین ومأة شاة، فإذا زادت علی عشرین ومأة إلی مأتین شاتان، فما زادت علی مأتین إلی ثلاث مأة ففیها ثلاث شیاه، فإذا زادت علی ثلاث مأة ففی کل مأة شاة، فإذا کانت سائمة الرجل ناقصة، من أربعین شاة واحدة، فلیس فیها صدقة إلا أن یشاء ربها) [1] (ترجمه واضح ده).③ دویم دلیل دا دې.چه د چیلې د زکاة کوم تفصیل بیان کړې شوې دې.هم په دې اجماع منعقد شویده.اوهم دا د سلف اوخلف فقهاؤ او دآئمه اربعه مذهب دې.

د ګډو اوچیلو د حکم یووالې

وَالضَّأْنُ وَالْمَعْزُ سَوَاءٌ او ګډې اوچیلې برابردی

حل اللغة ① ضأن: ګډه،ګډ، ② المعز چیلې(نر،خیرلې)چیلې

تشریح وجوب الزکاة في جمیع أنواع الشیاه ګډه، ګډ ،چیلې نر ماده د زکاة د نصاب پوره کیدوکښې تول برابر دی.یعنی ګډه،ګډ ،اوچیلې که مخلوط دی.اود نصاب مقدار ته رسیدلې وی.نوبه دې کښې زکاة واجب دې.ځکه چه لفظ دغنم ګډه،ګډ،اوچیلې تولوته شامل دې.لکه اسم جنس چه خپلو انواعو ته شامل دې.اونص په لفظ د غنم وارد شوې دې.ځکه د زکاة په نصاب کښې به د تولواعتبارکیږی.او د نص نه مراد درسول الله ﷺ فرمان (فی أربعین من الغنم شاة) دې.
دلیله ځکه چې لفظ دغنم شامل دی هریو(ددی دواړو)ته اونص وارد شوی دی په دی باندی

په اسونوکښې د زکاة فرضیت

بَابُ زَكَاةِ الْخَيْلِ

دا باب د اسونو(د زکاة په بیان کښې)دی

إِذَا كَانَتِ الْخَيْلُ سَائِمَةً ذُكُورًا وَإِنَاثًا كله چې وی اسونه څریدونکښې .نر اوماده وَحَالَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ اوپه دې باندې کال تیرشوی وی فَصَاحِبُهَا بِالْخِيَارِ نو مالك د دی ته اختیاردی إِنْ شَاءَ أَعْطَى مِنْ كُلِّ فَرَسٍ دِينَارًا که غواړی.نو وردی کړی.د هر اس نه یو دینار وَإِنْ شَاءَ قَوَّمَهَا اوکه غواړی .نو قیمت دی اولګوی د دی فَأَعْطَى عَنْ كُلِّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ خَمْسَةَ دَرَاهِمَ او وردی کړی د هردوه سوه درهمونه پنځه درهمه وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله اودا(حکم) دابوحنیفه رحمه الله په نیزدی . وَلَيْسَ فِي ذُكُورِهَا زَكَوٰةٌ مُنْفَرِدَةً عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله اور صرف نر اسونو باندې زکوة نشته په نزد دامام ابوحنیفه رحمه الله

حل اللغة ① ذکورا: نر ② اناثا: ښځه ③ خیل: اس

تشریح تقسیم الفرس الي حالتین شیخ الادب په شرح نقایه (جلد اول صفحه ۱۵۰ حاشیه۵) باندې

[1]) للعلم غرغرہ)_

لیکي.چه اس د دوه حالونه خالي نه دي. ①علوفه،چه په کورکښې ترلي وي.اوخوراك ورکولې شي به وي② او یابه سائمه وي.

تقسیم العلوفة الي حالتین>کوم علوفه وي.نودا هم د دوه حالونه خالي نه ده. ①یا خوبه دې ته د سوارلئ یا بار اوړلو.یا د جهاد في سبیل الله دپاره ونده ورکولې شي. ②یا به دتجارت دپاره ونده ورکولې شي.که اول دي.نوپه دې کښې په اتفاق سره زکاة نشته.ځکه چه د زکاة مال هغه دې.چه نامي وي.اود حاجت نه زیات وي.اوکه ثاني دي،نوپه دې کښې په اتفاق زکاة واجب دې.ځکه چه په دې صورت کښې دا مال نامي دي.اود حاجت نه زیات دي.ځکه چه دا د تجارت دپاره مقررکول د نماء اوحاجت نه د زیاتي کیدو دلیل دې.

تقسیم السائمة الي حالتین>اوکه سائمه وي.نودا هم ددوه حالونه خالي نه دي. ①یاخوبه دا د سوارلئ یا بار دپاره یا د جهاد او غزوه دپاره په مباح ځنګلونو کښې څرولي شي. ②او یابه د تجارت دپاره څرولې شي.په اول صورت کښې به په اتفاق زکاة واجب نه وي.او په دویم صورت کښې په اتفاق زکاة واجب دې.

تقسیم ما یتولد إلي حالتین>اوکه دا د پیو اود نسل زیاتوالي دپاره څرولې شي.نو ددې هم دوه صورته دي. ①یاخوبه نر او ماده دواړو ګډ وډ وي. ②یا به ګډ وډ نه وي.

حکم الصورة الأولي>که اولنۍ صورت دي.نوپه دې کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز زکاة واجب دې. اومالك ته به اختیار وي.چه د هر اس نه یو دینار ورکړي.یا ددې قیمت اولګوي.او د هر دوه سوه درهمو نه پنځه درهمه ورکړي.

حکم الصورة الثانیة>اوکه ثاني صورت دي.نوددې هم دوه صورته دي. ①یاخوبه صرف ماده وي. ②یابه نر وي.په دې دواړو صورتونو کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله دوه دوه روایتونه نقل دي.یو د وجوب او دویم د عدم وجوب.په خالص ماده کښې راجح روایت دوجوب دې.ځکه چه دبل نه نر اس غوښتلو سره تناسل او افزائش نسل ممکن دې.اوپه خالص نرکښې د عدم وجوب روایت راجح دې.ځکه چه دابوحنیفه رحمه الله په نیز ددې غوښه نشي خوړلې. اونه ددې نه تناسل ممکن دې.په دې وجه راجح د زکاة عدم وجوب دې.

شرط وجوب الزکاة في الخیل عند ابي حنیفة رحمه الله>دصاحب هدایه رحمه الله د بیان مطابق حاصل د مسئله دا دې.چه د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزپه اسونوکښې زکاة واجب دې.په دې شرط چه①سائمه وي. ②اونر ماده ګډوډ وي.خالص نر یا خالص ماده نه وي.البته د مال مالك ته په زکاة ادا کولو کښې اختیاردې. چه د هراس نه یو دینار ورکړي.یا ددې قیمت اولګوي.او په هردوه سوه درهمو کښې پنځه درهمه ورکړي.

الأقوال في نصاب الخیل>پاتې شوه داخبره.چه د امام صاحب په نیز د اسونونصاب څه دې. ①نوصحیح خبره داده.چه په اسونوکښې هیڅ نصاب معتبرنه دې.که یواس هم وي.نوپه دې کښې زکاة واجب دې. ② بعضو ونیلي دي.چه درې اسونه د زکاة نصاب دې. ③ بعضو پنځوته نصاب ونیلي دي. ④ اوبعض وائي.چه د نصاب دپاره دوه نران کیدل.اود دوه ماده کیدل ضروري دي.

دلیله>د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل ① د دارقطني داروایت دې. **في کل سائمة دینار اوعشرة دراهم** یعني په هرسائمه اس کښې یو دیناردې.یا لس درهمه دي.

وَقَالَ ابویوسف ومحمد لَازَکٰوۃَ فِي الْخَیْلِ () اوصاحبین رحمهما الله فرمائي. هیڅ زکاة نشته .په اسونو کښې .

تشریح﴾ عدم وجوب الزکاة في الخیل مطلقا عند الصاحبین رحمهما الله ﴾صاحبین رحمهما الله فرمائي.چه په اسونو کښې زکاة واجب نه دي.که دا دهرقسم وي.که علوفه وي اوکه سائمه وي.مخلوط وي.اوکه غیرمخلوط وي.که دجهاد دپاره وي.اوکه د تجارت دپاره وي.د افزائش نسل دپاره وي.اوکه د سوارلئ یا د بار وغیره دپاره وي.هم دا قول د امام شافعي امام مالك اود امام احمد رحمهم الله دي.

دلیلهما﴾ دصاحبینو رحمهما الله دلیل د ابوهریره رضي الله عنه حدیث دي.**(قال قال رسول الله ﷺ لیس علی المسلم في عبده ولا في فرسه صدقة)** ([2])ابوهریره رضي الله عنه وائي.چه رسول اکرم ﷺ فرمائیلي دي.چه په مسلمان دده په غلام اواس کښې زکاة نشته.

الجواب عنه ﴾ په دې روایت کښې فرس غازي مراددې.یعنی په غازي مسلمان باندې دده په اس کښې زکاة نشته.دا تاویل د زید ابن ثابت رضي الله عنه نه نقل دې.دصاحب عنایه د بیان مطابق د مروان په زمانه کښې واقعه راپیښه شوه.چه په اس کښې زکاة واجب دې.اوکه نه.دصحابو رضي الله عنهم نه په دې باره کښې مشوره اوشوه.حضرت ابوهریره رضي الله عنه **(لیس علی الرجل في عبده ولا في فرسه صدقة)** روایت بیان کړو.نو مروان زید بن ثابت رضي الله عنه ته مخاطب شو.اواوئې وئیل.**(ماتقول یا اباسعید)** اے ابوسعید ته څه وائې.ابوهریره رضي الله عنه اووئیل.چه حیرانتیا ده په مروان،چه زه د رسول کریم ﷺ حدیث بیانوم.اودې وائي.**(ماتقول یا اباسعید)**زید ابن ثابت رضي الله عنه چه دا واوریدل نو) وې وئیل.چه رسول الله ﷺ ربښتیا فرمائیلي دي.خوددې نه مراد فرس غازي دي.اوکوم اس چه د نسل دپاره څرولې شي.په دې کښې زکاة شته.ابوهریره رضي الله عنه اووئیل.څومره وي فرمائیل**(في کل فرس دینار اوعشرة دراهم)**

دلیل وجوب الدینار اوعشرة دراهم في فرس﴾صاحب دهدایه رحمه الله فرمائي.چه دینار اوپه قیمت لګولو د هردوه سوه درهمونه په پنځو درهمووکولوکښې اختیار ورکول، دحضرت عمر رضي الله عنه نه منقول دی.نقل دي.چه**(فان کتب الی ابي عبیدة في صدقة الخیل خیر اربابها ان اُدی من کل فرس دینارا والا تقومها وخذ من کل مأتی درهم خمسة دراهم)** ([3])یعنی حضرت عمر رضي الله عنه ابوعبیده بن الجراح رضي الله عنه ته د اسونو د زکاة په باره کښې اولیکل.اوداسونومالکانو ته ئې اختیار ورکړو.چه دوی د هر اس نه یو دینار اداکړي.ګني حاصلونکی دې ددې قیمت اولګوي.اود هردوه سوه درهمونه دې پنځه درهم واخلي.

عدم وجوب الزکاة في الخیل المنفردة﴾مسئله داده.چه په ځانله نراسونوکښې زکاة واجب نه دې.

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول الصاحبین رحمهما الله كذا في الخانية (ـ١\١١٩) والخلاصة (٢٣٦\١) والهندية (١٧٨\١) والفقه الاسلامي وأدلته (٨٤٧\٢) نقلاً عن القول الراجح (١٦٨\١)-

[2]) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه البخاري في الزكاة باب ٤٥ ومسلم في الزكاة رقم ٩ وأبوداود في الزكاة باب ١١ رقم ١٥٩٥ والترمذي في الزكاة باب ٨ والنسائي في الزكاة باب ١٦ رقم ٢٣١٢ وابن ماجه في الزكاة باب ١٥ رقم ١٨١٢ والدارمي في الزكاة باب ١٠ ومالك في الزكاة رقم ٣٧ وأحمد في المسند (٢٤٢/٢)ـ

[3]) غريبه الزيلعي رحمه الله ثم ذكرأثرعمر رضي الله عنه انه اخذ في الفرس في رواية عشرة دراهم و في الأخرى ذكراخذالدينار في فرس وليس فيهما ذكرالخيار بين الدرهم والدينار) نصب الراية (٣٦٦/٢)ـ

دليله>دلیل دا دی.چه په سوانموکښي زکاة واجب وی.د نسل دزیاتوالی په وجه.اوتسل صرف د اسونو.نه ممکن نه دی.اوپه دی وجه صرف په اسونوکښي زکاة واجب نه دی.چه ترکومه پوری دی سره اسپی هم نه وی.

الإعتراض>دلته کښي یواعتراض کیږی.هغه داچه په خانله نر اوښان،نر غوایان،اوپه نرانو ګډو کښي هم تناسل ممکن نه دی.خوددی باوجودهم په دی کښي زکاة واجب دی؟

الجواب>جواب دا دی.چه د زکاة دوجوب دپاره نماء شرط ده.اوپه اسونوکښي نمو په نسل سره کیږی. اوپه خانله نراسونوکښي تناسل نه کیږی.چه ترکومه دی سره اسپی نه وی.نوپه خانله نراسونو کښي نمانشته.اوچه نمانشته. نوپه دی کښي زکاة هم واجب نه دی.

اوپه اوښانو،غواګانو،اوګډوکښي چه څنګه په تناسل سره نماء کیږی.دغه شان ددی په غوښه اوددی په ایختو کښي هم نماکیږی.نوداوښانو،غواګانو،اودګډو په نرانوکښي اګرچه په تناسل سره نماء ممکن نه ده.خوپه غوښه او ایختوسره نماء ممکن ده.څکه ددی په خانله نرانوکښي هم زکاة واجب دی.

الروايتان عن ابيحنيفة رحمه الله في وجوب الزكاة فيالإناث المنفردة>دغه شان په ماده اسپوکښي هم دامام ابوحنيفه رحمه الله نه دوه روایته دی.یودوجوب او دویم د عدم وجوب دی.

دليلها>د رومبی روایت دلیل دا دی.چه په خانله اسپوکښي هم د توالد او تناسل په ذریعه نماء نه کیږی.څکه په دی کښي به زکاة هم واجب نه وی.اود دویم روایت دلیل دا دی.چه که دچا په ملك کښي که صرف اسپےوی.نوددی نه توالد اونسل ممکن دی.په دی طریقه چه د جفتی(دمال کولو) دپاره دچا اس مستعار(په کرایه) واخستلی شی.اوچه تناسل ممکن دی.نوپه دی کښي نماء هم موجود شوه.اوکله چه صرف په اسپوکښي نماموجودشوه.نوپه دی کښي به زکاة هم واجب وی.په خانله اسونوکښي د وجوب زکاة روایت راجح دی.

رواية الوجوب في الزكور منفرداًعن ابيحنيفة>دحضرت ابوحنیفه رحمه الله نه یوروایت دا دی.چه په خانله نرو اسونوکښي هم زکاة واجب دی.

دليله>ددی روایت دلیل دا دی.چه سانمه اس دسوانمودتولوقسمونونظیر دی.نوڅنګه چه دنورو سوانمو په نرانوکښي د سوم (په څنګل کښي دڅریدو)په وجه زکاة واجب وی.دغه شان په نر اسونوکښي هم د څریدوپه وجه زکاة واجب وی.

حاصل الكلام فيالذكورالمنفردة>حاصل دا دی.چه دامام ابوحنیفه رحمه الله نه په نراسونوپه زکاة کښي دوه روایته دی.یودوجوب اودویم دعدم وجوب دی.خودعدم وجوب روایت راجح دی.

وَلَاشَيْءَفِي الْبِغَالِ وَالْحَمِيرِ اوپه خرو او قچرو کښ هیڅ نشته.

تشريح> **عدم وجوب الزكاة في الحمر والبغال ودليله**>په خرو او قچروکښي زکاة نشته.

دليله> دلیل د رسول ﷺ فرمان «لم ينزل علی فيها شئ»[1] دی.په ماپه خرو او قچروکښي د زکاة په باره کښي هیڅ څیزنازل شوی نه دی.او مقادیر د زکاة سماعی دی.قیاسی او عقلی نه دی.نوکله چه نبی

[1]) قال الزيلعي رحمه الله الحديث في الصحيحين وليس فيه البغال ثم ذكره برواية ابي هريرة رضي الله عنه اخرجه البخاري في بدء الخلق باب باب قبل فضائل الصحابة رضي الله عنه ومسلم في الزكاة (نصب الراية ۲/۳۶۷)۔

کریمﷺ نه په دې باره کښې هیڅ سماع اونشوه.نوپه دې کښې به زکاة واجب نه وی.

إِلَّا أَنْ تَكُونَ لِلتِّجَارَةِ خوپه هغه وخت چې وی دا(قچری اوخره)د تجارت دپاره

تشریح﴿وجوب الزکاة اذا کانت للتجارة﴾ خوکه خره اوقچرې د تجارت دپاره وی.نوپه دې کښې به تجارتی زکاة واجب وی.

دلیله﴿ خکه چه په دې صورت کښې به زکاة د مالیت سره متعلق وی.لکه د نورو مالونو په تجارت کښې چه زکاة د مالیت سره معتلق وی.

د مختلفو خاروو په بچوکښې د زکاة حکم

وَلَيْسَ فِي الْفُصْلَانِ وَالْعَجَاجِيلِ زَكٰوةٌ اونشته د اوښانو په بچوکښې ،د غواګانو (اومیخو) په بچوکښې، اوپه بچو د چیلوکښې زکاة، عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَعَهَا كِبَارٌ په نیز د امام ابوحنیفه رحمه الله اود امام محمدرحمه الله. خودا چې وی ددی (بچو) سره لوی (خاروی).

تشریح﴿ الروایة الجدیدة عن أبي حنیفة في وجوب الزکاة﴾صاحب دکتاب وائی.چه امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمدرحمه الله په نیزد اوښانو،غواګانو،اودچیلودیوکال نه په کمو بچوکښې زکاة واجب نه دې.مراد دادې.که صرف بچې وی. نوپه دې کښې زکاة نشته.خوکه ددې بچوسره لوې هم وی.یعنی د یوکال یا د زیات،نوپه دې کښې به زکاة واجب وی.صاحب ده هدایه رحمه الله فرمائیلی دی چې دا د امام ابوحنیفه رحمه الله آخری قول دې.

دلیلهما ﴿اود امام ابوحنیفه رحمه الله آخیری قول او امام محمد رحمه الله د قول دلیل دا دې.چه په مقادیر د نصاب او مقادیر د زکاة کښې قیاس اود عقل هیڅ دخل نشته.نوشریعت چه کوم څیزواجب کړې دې.ددې وجوب که ممتنع شی.نو وجوب به بالکل ممتنع وی.اوهیڅ څیزبه واجب نه وی.اوس تاسواوګورئ.اسلامی شریعت د پنځه ویشتو اوښانوپه زکاة کښې یو بنت مخاض واجب کړې دې.یعنی د اوښ دپوره کال ماده بچې، اوپه دیرشو غواګانوکښې یو تبیع یا تبیعه واجب کړې دې.یعنی د غوې یوکلن نر یا ماده بچې،اوپه څلویښتوچیلوکښې دپوره کال یوه چیلۍ چه ورته ثنی وئیلې شی) واجب کړې ده. نوکه دڅاسره د اوښ یا غوې یا دچیلۍ صرف دکال نه کم بچې وی.اود لوئې عمرهیڅ نه وی.نودا کس به یاخو هم ددې نه یو بچې د زکاة په طور اداکوی.یاهغه چه نص پرې وارد شوې دې.هغه به اخلی. اوزکاة کښې به نې ورکوی.په اولنی صورت کښې د نص نه خلاف اداشو.خکه چه نص کم ازکم د یوکال بچې دې. او ده د یوکال نه کم ورکړې دې.اوپه دویم صورت کښې پوره مال یا ښه مال ورکړې شو. حالانکه په زکاة کښې نه خوپوره مال ورکړې کیږی.اونه ښه مال،بلکه اوسط درجې والامال ورکړې کیږی.نوکله چه،ماورد به الشرع، واجبول ممتنع شو.نوهیڅ څیزبه واجب نه وی.نه به د لوې عمرخاروې واجب وی.اونه به ددې بچوکښې څه واجب وی.

وَقَالَ ابویوسف رحمه الله تَجِبُ فِيهَا وَاحِدَةٌ مِنْهَا او امام ابویوسف رحمه الله فرمائی چې په دې کښې د دې نه یو واجبیږی

تشریح﴿ مذهب ابي یوسف رحمه الله ﴾ دامام ابویوسف رحمه الله په نیز په دې مذکوره څیزونو کښې صرف یو بچې واجبیږی د دې نه زیات نه یاد ساتئ چې دا د امام ابوحنیفه رحمه الله درمیانه قول وو اول

کنبی دوی د دې خیزونو په بچو کښې د غتو پشان د وجوب زکاة قائل وو بیا ئې د دې نه رجوع اوکړه او په دې کښې دیوبچی د وجوب قائل شو او بیا ئې د دې نه هم رجوع اوکړه او د دې خیزونو په بچو کښې د عدم وجوب زکاة قائل شو.اودا روایت امام قدوری په متن کښې ذکر کړې دې او دا د امام ابوحنیفه رحمه الله آخری قول دې

دلیله >داامام ابویوسف دلیل دا دې.چه هم ددې بچونه به د یوکال بچې ورکولوکښې صاحب مال او فقیرانو دواړوته رعایت دې.په دې طریقه چه که مونږ په صغار(وړو)کښې هم هغه خاروي واجب کړو.کوم چه په کبار(د لویو عمرخاروو)کښې واجبیږي.حالانکه په دې بچوکښې داسې هیڅ یوخاروي نشته.نوبه دې صورت کښې به صاحب مال ته ضررملاوشي. چه دې د زکاة اداکولو دپاره د لوئې عمرخاروي تلاش کوی .اود لوئې عمر خاروي ډیرکرته د تولوبچو د مالیت برابروی.نوګویاچه په زکاة کښې تول مال واخستې شو.په دې صورت کښې به صاحب مال ته ضرر اورسی.

اوکه په صغار(وړو)کښې بالکل زکاة واجب نکړو.نوبه دې کښې د فقیرانونقصان دې.د دواړو د رعایت په نظر سره هم په دې کښې به یویچې واجب وی.لکه که د چاسره تول خاروی ډیر زیات کمزوری، اوخوار وی.نوبه زکاة کښې به هم ددې نه یو اخستې شی.د صاحب مال رعایت خو داسې اوشو.چه ده ته د لوئې عمرخاروي تلاش کول رانغلل.اود فقیرانو رعایت په دې طریقه اوشو.چه دې محروم نکړې شو. بلکه څه نه څه ضرور ملاوشوې دی.

حکایة الروایات الثلاثة عن ابي حنیفة رحمه الله >صاحب د عنایه رحمه الله لیکلې دی.چه امام طحاوی رحمه الله ذکرکړې دی.چه د ابوحنیفه رحمه الله درې واړه اقوال په یوحکایت کښې ذکردی.حکایت دا دې.امام ابویوسف رحمه الله وائی.چه زه د ابوحنیفه رحمه الله په خدمت اقدس کښې حاضرشوم. تپوس مې اوکړو.چه د یوکس سره دچیلئ دیوکال نه کم څلویښت(۴۰)بچی وی.نوبه ده به څه واجب وی؟امام صاحب اوفرمائیل .چه مسنه چیلئ به واجب وی.ابویوسف رحمه الله وائی.چه د مسنه چیلئ قیمت ډیرکرته د چیلو د څلویښتو بچو نه زیات وی.اوکه زیات نه وی. نوروسته زیاتیدې شی.نوددې مطلب داشو.چه په زکاة کښې به پوره مال اخستې شي. حالانکه په زکاة کښې څلویښتمه حصه اخستې شی.پوره مال نشی اخستې.

حضرت امام اعظم رحمه الله چه دا واوریدل،نولږ ساعت ئې غور اوکړو.اووې فرمائیل.چه دانه،بلکه هم به دې کښې به یو بچې واجب وی.ابویوسف رحمه الله فرمائی.ما اووئیل.چه په زکاة کښې د یوکال نه کم بچې هم اخستې شی.د ابویوسف رحمه الله مراد داوو.چه په زکاة کښې دپوره یوکال نه کم بچې نشی اخستې.بیادا تاسوولې فرمائې.حضرت امام اعظم رحمه الله چه دا واوریدل.نولږشان سوچ ئې اوکړو.اووې فرمائیل.چه داهم نه،بلکه په بچوکښې به د زکاة په طورهیڅ واجب نه وی.په دې اقوال ثلاثه کښې قول اول امام زفر رحمه الله اختیار کړې دې.اوقول ثانی باندې ابویوسف رحمه الله عمل کړې دې.اوقول ثالث امام محمد رحمه الله اختیارکړو.(عنایه) داخبره داامام صاحب رحمه الله په مناقبوکښې ده.چه په یومجلس کښې ئې درې خبرې اوکړې.اوپه دې کښې یوهم متروك نه دې.

د واجب شوی نوع د عدم وجود په وخت د زکاة حکم

وَمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ مِسِنٌّ اوپه چاچې واجب شو مُسن فَلَمْ يُوجَدْ نو بیائی اونه موندو (ذات دمسن) أَخَذَ الْمُصَدِّقُ أَعْلَى مِنْهَا وَرَدَّ الْفَضْلَ اخلی به زکاة اخستونکښې اعلیٰ ددی نه. واپس کوی به زیاتی أَوْ أَخَذَ دُونَهَا وَأَخَذَ الْفَضْلَ او یادی واخلی کم او وادخلی(قیمت د) زیاتی

تشريح﴿ عدم وجوه ما يجب﴾ مسئله داده.چه په زکاة کښې د اوسط درجه څاروے واجب وی.چه نه ډير کم اونه ډير زيات. نوکه په چا باندې ،بنت لبون،واجب وی.نوعامل او مصدق (زکاة وصولونکے)به نه داعلیٰ درجه والا بنت لبون اخلي .اونه د ادنیٰ درجه والا.بلکه د دواړو ميانه حال به وصول کوی.څکه چه رسول کريمﷺ حضرت معاذ‌ه کله ديمن گورنر جوړکړو. اووې ليګلو.نو فرمانيلي ئې وو.(اياك وکرائم اموالهم) يعنی په زکاة کښې د غوره مال اخستونه ځان ساته.(شرح نقايه)وځکه چه د اوسط درجه په اخستوکښې د مال مالك اود فقيرانو دواړو رعايت دې.ځکه چه د اعلیٰ درجه په اخستلوکښې د مالك مال ضرر او نقصان دې.او په معمولي اخستلوکښې د فقيرانو نقصان دې.

فقدالواجب وصوره﴾ اوس سوال دادې.چه په رب المال باندې کوم څاروې واجب شوې دې.که هغه موجودنه وی.نوڅه اوکړی؟① مثلاً بنت لبون واجب وی.اوبنت لبون دده سره نشته. بلکه حقه ده. ② يا حقه واجب وی.خوموجودنه وی.بلکه بنت لبون موجودوی. ③ يا دوصف په اعتبارسره اوسط درجه والا څاروې موجودنه دې.بلکه داعلیٰ درجه والاڅاروې موجود دې. ④ياد ادنیٰ درجه والاموجوددې.نوپه دې صورتونوکښې به کوم څاروې واجب وی.

إعطاء القيمة تساوی الواجب واقلها﴾ صاحب دقدوری رحمه الله فرمانی.چه عامل(زکاة وصول کونکې) دې اعلیٰ څاروې واخلي.اوزياتی قميت دې واپس کړی. ①مثلاً داوسط درجه بنت لبون قيمت زر روپۍ دی.اود اعلیٰ درجه بنت لبون چه د رب المال سره موجود دې.د هغې قيمت پنځلس سوه روپۍ دی.نو عامل دې د اعلیٰ درجه بنت لبون واخلي.اوپنځه سوه روپۍ دې رب المال ته واپس کړی. ②يامثلاً په چاباندې بنت لبون واجب دې.ليکن دده سره بنت لبون خوموجودنه دې.البته حقه موجودده.نوعامل له پکاردی.چه دې حقه واخلي.اودبنت لبون نه زياتی قيمت واپس کړی. ③ يامثلاً دبنت لبون قيمت زر روپۍ دې.اودحقه قيمت پنځلس سوه روپۍ دې.نوعامل دې حقه واخلي.اوپنځه سوه روپۍ دې رب المال ته واپس کړی. ④ يا دې عامل دادنیٰ درجه څاروے واخلي.او زياتی (قيمت) دې واخلي.مثلاً داوسط درجه بنت لبون چه کوم په رب المال باندې واجب دې.د هغې قيمت زر روپۍ دې.اود ادنیٰ بنت لبون قيمت اته سوه روپۍ دې.نوعامل دې ادنیٰ درجه والا بنت لبون واخلي.اود زياتی دې دوه سوه روپۍ واخلي. ⑤يامثلاًپه چاحقه واجب ده.ليکن دده سره حقه خونشته.البته بنت لبون موجودده.اودبنت لبون قيمت زر روپۍ دې.اود حقه قيمت پنځلس سوه روپۍ دې.نوعامل دې بنت لبون واخلي.اود زياتی دې پنځه سوه روپۍ واخلي.

الروايتان في من له خيار﴾ ①د قدوری ذکرشوی عبارت نه ښکاره کيږی.چه په دې باب کښې مصدق اوعامل ته اختياردې.چه دې اعلیٰ واخلي.اوزياتی واپس کړی.يا ادنیٰ واخلي.اود زياتی ترې (قيمت)واخلي. ② خوصحيح داده.چه اختيارهغه چاته دې.په چاچه زکاة واجب دې. څکه چه اختيارهغه کس د سهولت دپاره مشروع شوې دې.په چاچه زکاة واجب شوې دې.

ما يفهم من تقرير صاحب الهداية ﴾ صاحب دهدايه په دې مقام کښې فرمائيی دی چې په اولنی صورت کښې چه اعلیٰ څاروې يواخلي.د زياتی واپس کول دی.نومصدق ته اختياردې.چه دې اعلیٰ وانخلي. بلکه دمالك نه عين واجب يعنی داوسط درجه څاروی مطالبه اوکړی. يامالك داوسط درجه څاروی قيمت ورکړی.

دليله﴾ ددې دليل دادې.چه که مصدق داعلیٰ درجه څاروې واخلي.او زياتی واپس کړی.نو گويا چه مصدق ددې څاروی يوه حصه اخستې ده.اود اخستو دپاره په چا باندې جبرنشی کيدلې.څکه به په دې

صورت کښې مصدق ته اختیاروی.چه دې اعلی څاروے واخلی.او زیاتی واپس کړی.یاد مالك نه د اوسط درجه څاروی مطالبه اوکړی.نومالك دې د اوسط درجه څاروې ورکړی.یا دې د هغې قیمت ورکړی.

خیارالمصدق في صورة وجود الأعلی> اوپه دویم صورت کښې (چه کله مصدق ادنی واخلی اود زیاتی قیمت اخلی)مالك ته اختیاردې.چه دې ادنی درجه څاروې ورکړی.اود زیاتی قیمت ورکړی.اوپه مصدق به جبرکولې شی.چه دې د ادنی درجه څاروې واخلی.اود زیاتی قیمت واخلی.

دلیله> ددې دلیل دادې.چه د مصدق ادنی اخستل،اودزیاتی قیت اخستل،دا دمصدق د طرفه هیڅ بیع نه ده. بلکه دمال مالك د قیمت په ذریعه زکاة اداکړې دې.اود قیمت اداکولو په صورت کښې مصدق د دې په اخستلومجبورکولې شی.(عنایه)

د یو جنس په زکاة کښې د قیمت ورکولوحکم

وَيَجُوزُدَفْعُ الْقِيَمِ فِي الزَّكَاةِ (۱) اوپه زکاة کښې قیمت ورکول دی

تشریح> مسئلة أخذ القيمة في زكاة الأجناس> په تیروشوو صفحوکښې دحیواناتو د زکاة تفصیل ذکرشوی دې.چه په بعضوصورتونوکښې چیلۍ واجبیږی.په بعضوکښې بنت مخاض،اوپه بعضوکښې تبیعه واجبیږی . اوس سوال دادې.چه په زکاة کښې کوم څاروې واجب شوېدې. مالك که ددې قیمت ورکړی او زکاة ادا کړی.نو آیا دا جائزدې؟

جواز الأخذ وأمثاله> ددې خبرې په جواب کښې صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.چه زمونږ په نیز په زکاة کښې قیمت ورکول جائزدی.دغه شان په مالی کفاراتوکښې قیمت ورکول جائزدی. ①مثلاً دیمین په کفاره کښې که څوك (په ځائې ددې چه لسو مسکینانوته خوراك ورکړی، یاکپړې واغوستوی) نغد قیمت ورکړی.نوجائزدې. ②اوهم دغه شان په صدقة الفطرکښې غنم یااوربشې وغیره په ځائې ددې قیمت ورکړی.نوجائزدې. ③اوهم دغه شان په عشراونذرکښې قیمت ورکول جائزدی.یعنی ده د زمکې په پیداوارکښې لسمه حصه واجب شوه.ده توله خرڅه کړه.اولسمه حصه قیمت ئې ورکړو.نوجائزدې. ④دغه شان که د اشرفو صدقه کولونذر ئې اوکړو.بیائې ددې په برابردرهم صدقه کړل.نوجائزدې.

دلیله > دلیل دادې.چه دالله تعالی﴿وَآتُواالزَّكٰوةَ﴾ په ذریعه سره فقیرانو ته د زکاة ورکولوامر دوی سره هغه وعده پوره کول دی.کومه وعده چه الله تعالی پوره مخلوق ته درزق رسولو کړې ده.لکه چه ارشاددې.﴿وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا﴾(الایه)یعنی هیڅ څوك نشته د تللو والا په زمکه باندې مګرپه الله ده روزی ده.مطلب دادې.چه په زمکه تللو والا هرساه لرونکې چه ورته درزق حاجت لاحق وی.هغه ته رزق رسول الله تعالی په خپل فضل سره په خپل ځان لازم کړې دې.څومره قدرې روزی چه ده دپاره مقرردہ.هغه به خامخا رسیږی.(اودې لزوم ته لزوم تفضلی وائی)

الإستدلال من الآية>نوبعضوته ئې روزی په دې طریقه اورسوله.چه ددوی دپاره ئې درزق اسباب پیدا کړل.مثلاً زمینداری،لوهاری(اینګری)،ملازمت وغیره.اوبعض داسې دی.چه ددوی دپاره ئې درزق

---

(۱) **مذهب الشافعي** :- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په زکاة وغیره کښې د ،ماوجب علیه، (کوم څاروې چه په ده واجب دې) قیمت اداکول جائزنه دی.بلکه هم هغه څاروې دې اداکړی کوم چه په حدیث کښې ذکردې.

اسباب پیدانه کړل.لکه فقیران مسکینان.نودوی ته ئې رزق په دې طریقه اوروسولو.چه مالداروته ئې حکم وركړو .چه دوی دالله تعالی په وركړې شوی مال کښې خلوېښتمه حصه دې فقیرانو او مسکینانو ته وركړې.په حدیث کښې دی.(خذوا من أغنیائهم وتردوا إلی فقرائهم)او دالله تعالی ارشاددې.﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ﴾(الایه) او دالله تعالی قول ﴿وَآتُوا الزَّكَاةَ﴾ دې.نوثابت شو.چه د زکاة مقصدفقیرانوته د دوی موعود(وعده کړې شوې) رزق رسول دی.او رزق په چیلو،غواګانو،او اوښانو وغیره څاروکښې منحصر نه دې.بلکه دانسان ډیرحاجتونه اوضرورتونه دی.چه داپه دې څاروونه پوره کیږی.څکه دچیلۍ قید لګول باطل دی.یعني په خاص طوردچیلۍ وغیره ورکولوقید نشته.بلکه که ددې قیمت وركړې شو.نوهم جائزدې.لکه چه په جزیه کښې دقیمت اداکول جائزدی.

المعتبرقیمة البلد ویوم الأداء> دادې په ذهن کښې وی.چه قیمت د اداکولود ورځې معتبردې.اود هغه ښار معتبردې.کوم ځائې کښې چه مال دې.اوکه په ځنګل کښې وی.نوهغه قیمت دې وركړی.کوم قیمت چه هلته کښې نیزدې آبادئ کښې د داسې څارو وی.

په څو مو څاوروکښې زکاة نشته؟

> وَلَيْسَ فِي الْعَوَامِلِ وَالْحَوَامِلِ وَالْعَلُوفَةِ زَكَـاةٌ[1] اونشته زکاة په کارکونکو او باروړونکو اوپه کور کښې وابنه خوړونکو کښې

تشریح> **تعریف العوامل والحوامل**>عوامل، دعامله جمع ده.هغه څاروې چه دکار دپاره وی.حوامل، د حامله جمع ده.چه دسامان وغیره بارکولودپاره وی.علوفه،هغه څاروې چه ټول کال یا دکال زیات حصه کښې،اوپه قول دصاحب دهدایه رحمه الله یا نیم کال تړلې وی.اوخوراك ورکړې شوې وی.

عدم وجوب الزکاة فیها> ①په دې څاروکښې زمونږ او دشوافعو رحمهم الله په نیززکاة نشته.

دلائله> دلیل دادې① چه حضرت علي رضي الله عنه اوفرمائیل.چه د نبی کریم ﷺ ارشاد دې.(لیس في الإبل الحوامل صدقة) [2] یعني په بار اوړنکواوښانو کښې زکاة نشته.

②اوحدیث ابن عباس عن النبي ﷺ دې.(لیس في البقر المثیرة صدقة) یعني په ایوه کونکی غوایانوکښې زکاة نشته.

③چه د زکاة دوجوب سبب دمال نامي کیدل دی.اودامالونه نامي نه دی.څکه چه دنماء دلیل څاروې په مباحوځنګلونوکښې څرول دی.

یادا دتجارت دپاره ساتل دی.اوپه عوامل اوحوامل کښې اوپه علوفه کښې چونکه په دواړه خبرو کښې یوه هم موجودنه ده.په دې وجه د زکاة دوجوب سبب منتفي شو.اوهرکله چه سبب منتفي شو.نوزکاة به هم منتفي شي.

---

[1] مذهب مالك رحمه الله:- په زیر بحث مسئله کښې دامام مالك رحمه الله په نیز زکاة شته.

[2] غربه الزیلعي رحمه الله هذا ا للفظ ثم اخرج روایة عن ابن عباس رضي الله عنهما وعزاه إلی معجم الطبراني وسنن دارقطني والکامل لابن عدی (۳۴/۴) ثم اخرج في المثیرة حدیث جابر رضي الله عنه أن النبي ﷺ قال لیس في المثیرة صدقة وعزاه إلی سنن دارقطني.نصب الرایة ۳۶۸/۲ـ

مصدق به درمیانه خاروی اخلی

وَلَا يَأْخُذُ الْمُصَدِّقُ خِيَارَ الْمَالِ وَلَا رَذَالَتَهُ وَيَأْخُذُ الْوَسَطَ اونه به اخلی مصدق عمده مال اونه بی کاره بلکه داوسط درجی به اخلی

تشریح> اخذ الوسط في صدقة السوائم> مسئله داده.چه مصدق یعنی زکاة وصول کونکي به نه په اعلی درجه مال اخستلوباندې اصرار کوی.اونه به بالکل ردی اومعمولي مال اخلی.بلکه درمیانه درجه والا مال به اخلی.یعنی چه داعلی مال نه ادنیٰ وی.اود ادنیٰ مال نه اعلیٰ وی.

دلائله> ①دلیل د نبی ﷺ قول(لاتأخذ من حزرات) [1]دي.حزرات،حزرة جمع ده.معنیٰ ئې ده اعلی او بهترین مال،حواشي،دحاشیه جمع ده. علامه مرغینانی رحمه الله د حاشیه تفسیر په وسط سره کړې دې.اوس به مطلب دا وی.چه رسول الله ﷺ داعلی درجه مال اخستلو نه منع فرمائیلې ده.اود درمیانه درجه مال اخستلوحکم ئې فرمائیلې دې

②عقلی دلیل دادې.چه داوسط درجه مال اخستلوکښې د زکاة ورکونکی اود فقیر دواړو رعایت دې.اوپه ښه مال اخستلوکښې صرف دفقیرانو رعایت دې.اوپه بې کاره مال اخستلو کښې صرف د زکاة ورکونکی رعایت دې.نود دواړو درعایت په نظرسره اوسط درجه مال اخستلو امر شوې دې.

دکال په مینځ کښې د مستفاد مال زکاة

وَمَنْ كَانَ لَهُ نِصَابٌ فَاسْتَفَادَ فِي أَثْنَاءِ الْحَوْلِ مِنْ جِنْسِهِ دچاسره یونصاب وواودکال په درمیان کښې ددغی پشان نور مال ورسره حاصل کړی ضَمَّهُ إِلَيْهِ وَزَكَّاهُ بِهِ نودغه به د هغی سره یوځائی کړی زکاة به ئې ورکړی

تشریح> نوعان لمال المستفاد في السوائم> صورت دمسئلې دادې.چه دیوکس سره دیومال یونصاب وی.مثلاً داوښانو نصاب دې.بیادکال په مینځ کښې څه مال نورهم حاصل شو.نو ددې مستفاد(حاصل شوی) مال دوه قسمونه دی. ①یاخوبه دا داصلی یعنی داوښانوجنس وی. ② اویابه دغیرجنس څنړوی.مثلاً دده سره د اوښانونصاب دې.اودکال په مینځ کښې غواګانې یاچیلۍ حاصلې شوې.

حکم الصورة الثانية> نوپه دې دویم صورت کښې په اتفاق سره مال مستفاد اصل سره نشی ملاویدلې .بلکه په مال مستفاد به خانله د سرنه دحولان حول اعتباروی. [2]

تقسیم الصورة الاولی الی صورتین> اوکه اولنې صورت دې.یعنی مال مستفاد د اصل مال د جنس څخه دې.نوددې هم دوه صورتونه دی. ①څکه چه مال مستفاد به یاهم اصل حاصل شوې وی.مثلاً بچې اومنافع ②او یابه دسبب مقصود نه حاصل شوې وی.

حکم الصورة الأولی> نوپه اول صورت کښې بالاجماع مال مستفاد داصل سره ملاوولې شی.اود اصل

---

[1]) خرجه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل عن عروة عن ابيه ان النبي ﷺ قال لمصدقه ((لاتأخذ من حزرات انفس الناس شيأ خذ الشارف والبكر وذوات العيب وعزاه إلى سنن الكبرى للبيهقي (٤/١٧١ رقم ٧٣١٠)_

[2]) **مذهب الشافعي في حكم الصورة الثانية>** امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په مال مستفاد کښې دزکاة د وجوب دپاره په مال مستفاد باندې دسرنه کال تیریدل شرط دی.اوددې ابتداء دمالك کیدلو د وخت نه کیږی.نوکله چه په مال مستفاد باندې پوره یوکال تیرشی.نوپه دې کښې به زکاة واجب وی.مال مستفاد که دنصاب په اندازه وی اوکه نه وی.

نصاب کال به دمال مستفاد کال شمارلے شی.دمال مستفاد دپاره دوباره دسرنه دحولان حول ضرورت نشته .

حکم الصورة الثانیة ① اوکه دویم صورت دې.مثلاً دچا سره داوبنانونصاب دې.اودکال په مینځ کښې څه نور اوبنان مستفاد شو.لیکن ددې دحاصلولوسبب اخستل دی،یاهبه ده،یامیراث دې.یعنی ده په مینځ کښې نوراوبنان واخستل،یاچا ده ته هبه کړل،یاپه میراث کښې ملاوشو.نوپه دې صورت کښې زمونږ په نیزمال مستفاد داصل نصاب سره ملاووليې شی. اوپه اصل نصاب چه کال تیرشی.نود(اصل نصاب اومال مستفاد)پوره مال زکاة به واجب وی.په مال مستفاد باندې دسرنه حولان حول شرط نه دې.بلکه په اصل مال باندې دکال تیریدل کافی دی.

دلیله > دلیل دادې.چه په اولاد اومنافع کښې د اصل سره د ملاویدلو علت هم دا جنسیت دې.یعنی اولاد هم چونکه ددې دجنس څخه دې.په مال مستفاد کښې فرق کول مشکل دی. څکه چه د مال مستفاد وجود د کثرت اسباب په وجه سره ډیرزیات دې.په دې وجه د هرمستفاد دپاره د خانله کال تیرولو اعتبار کول ډیرمشکل دی.مثلاً دیوکس سره دچیلو نصاب دې.دخوورځوتیریدلونه پس څه چیلو بچی راوزړل.بیاڅو ورځې پس نې نورې چیلۍ واخستلې.بیا یوڅو ورځې پس څه نوروچیلو بچی راوزړل.اوس ددې نه پس دچیلوپه اصل نصاب باندې کال تیرشو.خوپه مینځ کښې په مختلفو وختونو کښې چه کومې چیلۍ مستفادشوې.په دې به حولان حول په یووخت کښې نه وی.بلکه پرله پسې به په مختلفو وختونوکښې کال پوره کیږی.اوس دهرهر مستفاد دپاره خانله خانله دکال تیریدلو اعتبار کول، او فرق کول چه په کومو باندې کله تیرشو.ډیرګران کاردې.خاص طورباندې کله چه دچاسره د درهمو نصاب وی.او دې دکاندار وی.اوهره ورځ ده ته یودرهم حاصلیږی.نواوس دهرې ورځې حاصل شوي درې هموباندې خانله خانله دکال پوره کیدلواعتبارکول ډیرمشکل کاردې.اودحولان حول شرط آسانتیا پیدا کولودپاره دې.نوکه د هرهر مال مستفاد دپاره دنوی حول شرط اولګولې شی.نودا آسانتیا به په سختۍ کښې بدل شی.په دې وجه مونږ اووئیلې.چه مال مستفاد که داصل جنس څخه وی. نومال مستفاد به داصل تابع وی.اوپه اصل نصاب باندې دکال تیریدل به په مال مستفاد باندې هم کال تیریدل شمارلې شی.نوپه اصل نصاب باندې دکال تیریدلو نه پس به په پوره مال زکاة واجب وی. که دا اصل نصاب وی.اوکه مال مستفاد وی.

السَّائِمَةُ هِيَ الَّتِي تَكْتَفِي بِالرَّعْيِ فِي أَكْثَرِ الْحَوْلِ بیا سائمه هغه ده چې دکال اکثره حصه په بهرخریدو باندی اکتفاء کوی **فَإِنْ عَلَفَهَا نِصْفَ الْحَوْلِ أَوْ أَكْثَرَ فَلَا زَكَاةَ فِيهَا** نو که نیم کال یا زیات نې په کور کښې خوراك كولو نوپه دې کښې زکاة نشته

تشریح > **تعریف السائمة** >صاحب دقدوری رحمه الله فرمانی.چه سائمه هغه خاروی ته وائی.چه دکال په اکثره حصه باندې پانی.نوکه نیم کال یا اکثرکال په ترلوخوراك ورکرې شو. نودې ته به علوفه وئیلې شی.داکثرکال په صورت کښې خوپه علوفه څکه وی.چه قلیل دکثیرتابع وی.نوهرکله چه دکال په اکثره حصه کښې دې ته په ترلوخوراك ورکړې شوې دې.نودکال هغه قلیله موده چه په هغې کښې نې په څرن اکتفاء کړې ده.هغه به هم ددې کثیرتابع وی. نوګویاچه پوره کال دې ته په ترلوګیا ورکړې شوې ده.اود نیم کال په صورت کښې د زکاة دوجوب د سبب په ثبوت کښې شك شو.په دې طریقه چه که په دې نیم کال باندې نظر اوکړې شی.چه په دې کښې ده په څرن اکتفاء کړې ده.نوزکاة واجب کیدل

پکاردی.اوکه په هغه نیم کال باندې نظراوکړې شی.چه په هغې کښې دې ته په کورکښې په ترلوګیاورکړې شوې ده.نوزکاة واجب کیدل نه دی پکار.نوددې شك په وجه عدم وجوب ته ترجیح ورکړې شوه.او اوونیلې شو.چه نیم کال په ترلو دخوراك ورکولوپه صورت کښې به هم داخاروې علوفه وی.اوپه دې کښې به زکاة واجب نه وی.

په عفو کښې د زکاة حکم

وَالزَّكَاةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ فِي النِّصَابِ دُونَ الْعَفْوِ(۱) وزکاة دشیخینو رحمهما الله په نزد په نصاب کښې دی نه که په عفو کښې

تشریح> **الفرق بین النصاب والأصل**> دمسئلې دوضاحت نه مخکښې داپه ذهن کښې کینوئ.چه دمال یو نصاب وی.اویو عفو وی.مثلاً په پنځه اوښانوکښې یوه چیلئ واجبیږی.اوتر نهو پورې هم یوه چیلئ واجب وی. کله چه پوره لس اوښان شی.نوپه دې کښې به دوه چیلئ واجب وی.نوپنځه اوښان اولس اوښان نصاب دې.لیکن په مینځ کښې دشپږونه ترنهوپورې عفوده.دغه شان مثلاً په پنځه ویشتو اوښانوکښې بنت مخاض او په شپږدیرشوکښې بنت لبون دې.اوددې دوارو په مینځ کښې عفوده.

المذهبان في وجوب الزكاة في العفو>اوس په دې باره اختلاف دې.چه د زکاة تعلق دعفوسره وی اوکه نه.

① نوامام ابوحنیفه اوامام ابویوسف رحمهما الله فرمائی.چه د زکاة تعلق دنصاب سره وی.دعفوسره نه وی.هم داقول د امام مالك،امام احمد،اواما شافعی رحمه الله دې.خودا د امام شافعی رحمه الله قول جدیددې.

دلائلهما > ① دشیخینو رحمهما الله دلیل دادې.چه رسول اکرم ﷺ فرمائیلې دی.چه **في خمس من الإبل السائمة شاة وليس في الزيادة شيء حتى يبلغ عشرا** (۲) یعنی په څنګل کښې څریدونکو پنځو اوښانو کښې یوه چیلئ واجب ده.اوپه زیاتی کښې هیڅ نشته.تردې چه لس شی.ددې حدیث نه صفا ښکاره ده.چه د پنځواوښانو او دلسواوښانوچه کوم نصاب دې.په دې کښې زکاة واجب دې.اودپنځه اود لسوپه مینځ کښې څلور اوښان کوم ته چه عفووائی.په دې کښې زکاة واجب نه دې.دغه شان په هرنصاب کښې د عفونه دوجوب نفی فرمائیلې شوې ده.دې نه معلومه شوه.چه د زکاة تعلق دنصاب سره وی.دعفوسره نه وی.

② عقلی دلیل دادې.چه عفو،چونکه دنصاب دوجود نه پس ثابتیږی.څکه به عفودنصاب تابع وی. او کوم څاني چه مال،په اصل او تابع باندې مشتمل وی.اوبیا دهغې نه څه هلاك شی.نوهلاك شوې مال تابع طرف ته ګرځولې شی.داصل طرف ته نشی ګرځولې.یعنی داپه ونیلې شی.چه هلاك شوې هغه مال دې. کوم چه تابع دې.هغه مال نه دې هلاك،کوم چه اصل دې.

نظیره>لکه څنګه چه په مال مضاربت کښې نفع،یعنی یوکس چاته شرکت مضاربت باندې د تجارت مال ورکړو.اوپه دې کښې نفع اوشوه.مضارب برابرتجارت کولو.چه اچانك څه مال هلاك شو.نودا نقصان په اتفاق سره په رومبئ نفع باندې اچولې شی.په روس المال باندې نشی اچولې.یعنی ونیلې شی.چه نفع هلاك شوې ده.روس المال نه دې هلاك شوې.

---

(۱) القول الراجح هو هذا قول الشيخين رحمهما الله كذا في التاتارخانية (۲۹۳\۲) والهندية (۱۸۰\۱) والفقه الإسلامي وادلته (۸۵۹\۲) نقلاً عن القول الراجح (۱۷۰\۱)-

(۲) أخرجه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم ذكرقول ابن الجوزي رحمه الله في بالتحقيق، أنه قال روى هذا الحديث قاضي أبويعلى وابواسحاق الشيرازي في كتابيهما أن النبي ﷺ قال ((في خمس من الإبل شاة ولا شي من الزيادة حتى تبلغ عشراً) نصب الراية (۳۷۱/۲)ـ

وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ تَجِبُ فِيْهِمَا امام محمد اوزفر رحمهما الله فرمائی چې په دواړو کښې دی

تشريح > مذهب محمد > امام محمد اوامام زفر رحمهما الله فرمائی.چه زکاة په نصاب اوعفودواړو کښې شته.مثلاً دڅاسره که نهه اوښان وی.نوپه دې کښې يوه چيلۍ واجب ده.خودشيخينو رحمهما الله په نيزدا يوه چيلۍ دپنځواوښانودطرفه زکاة دې.اوباقی څلوراوښان عفودی.ددې سره د زکاة هډوڅه تعلق نشته.اود امام محمداو امام زفر رحمهما الله په نيزداچيلۍ دنهه اوښانوزکاة دې.

دليلهما > دامام محمد او امام زفر رحمهما الله دليل دادې.چه زکاة دمال دنعمت شکر ادا کولو دپاره واجب شوې دې.اومال ټول په ټوله که عفووی اوکه نصاب،نعمت دې.لهذا د زکاة تعلق به پوره مال سره وی.اود زکاة چه کوم مقدار واجب شوې دې.دا دټول مال شکرانه ده.

تائيدمذهب محمد رحمهما الله > ددې تائيد دصديق اکبر رضي الله عنه د زکاة ارشاداتو نه هم کيږی.څکه چه دصديق اکبر رضي الله عنه په فرمان کښې دی. **(اِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَعِشْرِيْنَ اِلٰى خَمْسٍ وَثَلَاثِيْنَ فَفِيْهَا بِنْتُ مَخَاضٍ)** يعنی اوښان چه کله پنځه ويشتو ته اورسی.نود پنځه ديرشوپورې يوبنت مخاض دې. دې نه معلومه شوه.چه بنت مخاض دپنځه ديرشو اوښانو دطرفه زکاة دې.حالانکه په دې کښې پنځه ويشت اوښانوته نصاب وائی.اوباقی لسو اوښانوته عفو وائی.دغه شان ئې اوفرمائيل. چه په چيلوکښې د څلوېښتونه ترشپږشلو پورې کښې يوه چيلۍ ده.اوکله چه په شپږشلو باندې زياتی شی.نوتر دوه سوه پورې دوه چيلۍ دی.بياچه کله په دوه سوه باندې زياتی شی.نوتر درې سوه پورې کښې درې چيلۍ دی.ددې نه هم ثابتيږی.چه زکاة په نصاب اوعفو دواړو کښې وی.صرف په نصاب کښې نه وی.

ثمرة الإختلاف فيضوء المثالين > داختلاف ثمره به په دې مثال کښې ښکاره کيږی. ①چه ديوکس په ملك کښې نهه اوښان دی.اوپه دې يوکال تيرشو.بيا ددې نه څلور اوښان هلاك شو.نو دشيخينو رحمهما الله په نيزباقی پنځوکښې به په ده هم يوه چيلۍ واجب وی.اود امام محمداو امام زفر رحمهما الله په نيزبه دچيلۍ دقيمت نهه حصې کولې شی.اوپنځه حصې به په ده واجب وی.اوڅلورحصې به ساقط شی. ②يا مثلاً ديوکس په ملك کښې اتيا چيلۍ دی.دکال تيريدلو نه پس په دې کښې يوه چيلۍ واجبيږی.ليکن دحولان حول نه پس څلوېښت چيلۍ هلاکې شوې.نود شيخينو رحمهما الله په نيزباقی څلوېښت چيلۍ پوره نصاب دې.په دې کښې چه کومه يوه چيلۍ واجب وه.هم هغه به واجب وی.اود امام محمداو امام زفر رحمهما الله په نيزچونکه د زکاة تعلق دنصاب اوعفو دواړو سره وی.نوګويا ددوی په نيزيوه چيلۍ په اتيا چيلوکښې واجب شوه.او دحولان حول نه پس نيمې چيلۍ هلاکې شوې.نوددې دمقدار مطابق به نيم واجب هم ساقط شی.يعنی په ده به دچيلۍ نيم قيمت واجب وی.اونيم به ساقط شی.

د زکاة د وجوب نه پس د مال هلاکت

وَاِنْ هَلَكَ الْمَالُ بَعْدَ وُجُوْبِ الزَّكَاةِ اوکه هلاك شو مال بعد دوجوب د زکاة نه **سَقَطَتْ** نوزکاة به صاقط شی ([1])

---

[1]) **مذهب الشافعي رحمه الله:-** امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه که په زکاة اداکولوباندې دقدرت لرلو نه پس مال هلاك شو .نوزکاة به نه ساقطيږی.بلکه د زکاة په اندازه به په ده باندې ضمان واجب وی.او په زکاة اداکولوباندې قدرت دادې.چه صاحب دمال دحولان حول نه پس د زکاة مستحق موندونکی باندې کامياب شوې وی. که دطلب نه پس کامياب شوې وی.اوکه د طلب نه بغير.

تشريح > صورة المسئلة > صورت د مسئلې دادې.چه د زکاة د وجوب نه پس مال بغير د تعدی نه هلاك شی.
حکم سقوط الزکاة > نو زکاة هم ساقط شو.هم دا قول د امام محمد رحمه الله دې.
دليله > دليل دادې.چه زکاة په ذمه واجب نه وی.بلکه په عين مال کښې واجب وی.يعنی زکاة دنصاب يوجزء دې.ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی.چه فی کل أربعين شاة شاة په دې قول کښې د «فی» کلمه ده.اوکلمه د «فی» په جزئيت باندې دلالت کوی.يعنی په څلويښتو چيلوکښې يوه چيلۍ ده.ددې دامطلب هرگز نه دی.چه دڅلويښتو چيلوزکاة دادې.چه يوه چيلۍ ددې نه علاوه ورکړې.بلکه مطلب دادې.چه هم ددې څلويښتونه يوه چيلۍ چه هم ددې څلويښتوچيلو جزء دې.هم دا ورکړه.اود نصاب يوجزء زکاة مقررکول د آسانۍ دپاره دی. ځکه چه د نصاب يوجزء اوبنکل، د انسان په قدرت کښې وی.بهرحال داخبره ثابته شوه.چه زکاة د مال نصاب يوجزء دې.اوداجزء په خپله مال کښې موجود دې.نودا جزء دخپل ځائې په هلاکيدلو سره ساقط شو.ځکه چه هرکله ټول مال هلاك شو.نودا کس ددې جزء په اوبنکلو باندې قادرپاتې نشو.اوهرکله چه قادر پاتې نشو.نوپه ده به واجب هم نه وی. بلکه ساقط به وی.
نظيره >او دا بالکل داسې ده.لکه چه ديوکس غلام څوك په خطا سره قتل کړی.نوداحکم دی.چه قاتل غلام دې د مقتول ولی ته ورکړې شی.يا دې ددې فديه ورکړې شی.اومالك دا منظورهم کړی.بياد سپارلو نه مخکښې هغه قاتل غلام مړشو.نو اوس داورکول ساقط شو.يعنی په مالك به هيڅ څيز واجب نه وی. نو هرکله چه داثابت شو.چه زکاة په ذمه واجب نه وی.بلکه په عين مال کښې واجب وی.اوصدقة الفطر وغيره په ذمه واجب وی.نو زکاة په صدقة الفطر وغيره باندې قياس کول ټيك نه دی.
حکم الضمان في صورة طلب الزکاة >پاتې شوه داخبره چه که ساعی، يعنی زکاة وصول کونکی زکاة اوغوښتلو.او مالك ورنکړو.تردې چه پوره مال هلاك شو. نو شيخ ابوالحسن کرخی رحمه الله فرمائی.چه داکس به د زکاة ضامن وی.تردې چه هرکله ده ته مال په لاس راشی.نودا تاوان به اداکوی.
دليله >دشيخ ابوالحسن کرخی رحمه الله دليل دادې.چه ساعی چونکه د زکاة وصول کولو دپاره متعين دې.دده دغوښتلو باوجود ده منع کړو.نودده دامنع کول به فوت کول او هلاکول وی.د فوت کولواو هلاکولو په صورت کښې چونکه د زکاة ضمان راځی.په دې وجه په دې صورت کښې به په ده د زکاة تاوان واجب وی.
مذهب الثاني > په زير بحث صورت کښې مشائخ رحمهم الله د ماوراء النهر فرمائی.چه ضامن به نه وی.
دليله >د ماوراء النهرد مشائخو رحمهم الله دليل دادې.چه زکاة دورکولو نه منع کول تفويت (فوت کول) نه دې.ځکه ممکن ده.چه دده منع کول په بل څه ځائې کښې دورکولوپه اراده وی.نو هرکله چه زکاة دورکولو نه منع کول تفويت نه دې.نودې به ضامن هم نه وی.
سقوط الزکاة في صورة هلاك البعض > صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلی دی. که بعض مال هلاك شو.اوڅه باقی دې.نود هلاك شوی به زکاة ساقط شی.اوپه باقی کښې به زکاة واجب وی. ځکه چه بعض به په کل قياس کولې شی.نوهرکله چه دکل مال هلاکيدلو په صورت کښې پوره زکاة ساقطيږی.نود بعض مال هلاکيدلو په صورت کښې به هم ددې په اندازه زکاة ساقطيږی.

دوراندي نه د زكاة وركولوحكم

وَإِنْ قَدَّمَ الزَّكَاةَ عَلَى الْحَوْلِ وَهُوَ مَالِكٌ لِلنِّصَابِ جَازَ که دکال نه مخکښې ئې زکاة ورکړو داسې حال کښې چې دی مالك دنصاب وو نوداهم جائز دی (١)

تشريح > جواز تقديم الزكاة > ① مسئله داده.چه دنصاب مالك له دحولان حول نه وړاندې زكاة اداكول جائزدی.هم دا دامام شافعي او امام محمد ﷫ قول دې.

دليله > دليل دادې.چه يوكس سبب دوجوب(نصاب) نه پس زكاة اداكړې دې. اود وجوب دسبب نه پس اداكول جائزدی.لكه چه يوكس يومسلمان په خطاء سره په ګولئ اولی.او داسې ئې ذخمی كړی.چه د ژوند اميد ئې پاتې نشی.نوپه قتل خطاء كښې يوغلام آزادول پكار دی. خوكه دانې د مجروح دمرګ نه وړاندې آذاد كړو نوجائزدی.څكه چه دقتل سبب مونډلے شوې دې.دغه شان كه چاپه اول وخت كښې مونځ اداكړو.نوجائزدې.څكه چه مونځ دسبب يعنې د وخت نه پس اوشو.

جواز تقديم زكاة الأكثرمن عام واحد> صاحب دهدايه ﷫ فرمائيلي دی.چه ديوكال نه په زياتو باندې هم زكاة مقدم كول جائزدی.يعنې كه څوك سړے دڅوكالو زكاة وړاندې وركړی.نوبه دې كښې هيڅ باك نشته.څكه چه سبب يعنې نصاب كامل موجوددې.

دليله> حضرت عبدالله بن مسعود﷜ فرمائيلي دی.چه نبی كريم ﷺ دحضرت عباس﷜ نه د دوه كالو زكاة وړاندې قبول كړې وو.ددې حديث نه هم ښكاره كيږی.چه دڅوكالوزكاة وړاندې وركولو كښې هيڅ باك نشته دې.

دسپينو زرو د زكاة بيان

بَابُ زَكَاةِ الْفِضَّةِ

دا باب دسپينو زرو دزكاة په بيان كښې

لَيْسَ فِيمَا دُونَ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ صَدَقَةٌ دد دوه سوه درهمو نه په كموكښې زكاة نشته دی فَإِذَا كَانَتْ مِائَتَي دِرْهَمٍ وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ نوهركله چې دوه سوه درهمه وی اويوكال پری تير شی فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ نوپه دغه كښې پنځه درهمه دی

تشريح> الربط بما قبله> دعربو په نيزسائمه څاروی چونكه قيمتی مال شمارل‌شی.په دې وجه دامقدم كړې شو.اوس ددې د بيان نه د فارغيدو نه پس د نورو مالونو د زكاة ذكردې.

وجه تقديم الفضة على الذهب> د سپينو زرو زكاة وړاندې بيان شوې دې.اود سروزرو روسته.څكه چه د رسول الله ﷺ په فرمان كښې د سپينو زرود زكاة ذكر وړاندې دې.او دسرو زرو د زكاة روسته.دويمه وجه دا ده.چه سپين زرچونكه هرچا سره ملاوېږی.په دې وجه ئې دا مقدم كړو.

معنى الأوقية> اوقيه، د وقايه نه ماخوذ دې.دده معنى ده حفاظت كول.اوقيه چونكه دخپل مالك دفقيرئ او محتاجئ نه حفاظت كوی.په دې وجه دې ته اوقيه ونيلې شی.ددې جمع اواق راځی.يو اوقيه د څلويښت درهمو وی.

(١) مذهب مالك﷫:- اود امام مالك ﷫ په نيز جائز نه دې.

عدم وجوب الزكاة في اقل من مائتي درهم > علامه مرغيناني رحمه الله فرمائيلي دی.چه د سپينو زرو نصاب دوه سوه درهمه دی.د دوه سوه درهمو نه په کم کښې زکاة واجب نه دې.

دليله > دنبی کريم ﷺ ارشاد دی چې دپنځو اوقيو نه په کموکښې زکاة نشته (١) وَالْأُوقِيَّةُ أَرْبَعُونَ دِرْهَمًا (٢) اويوه اوقيه څلويښت درهمه ده

وجوب الزكاة في مائتي درهم > خوکه سپين زر دوه سوه درهمه وی.اوپه دي کال هم تيرشوي وی.نوپه دي کښې به د پنځو درهمو برابرسپين زر واجب وی.

دليله > دليل دادي.چه رسول الله ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه ته ليکلی وو.چه دهردوه سوه درهمو نه پنځه درهمه اخله.اود شلومثقالو نه نيم مثقال اخله. (٣)

د دوو سوو روپوله په زياتوکښې زکاة

وَلَا شَيْءَ فِي الزِّيَادَةِ حَتَّى تَبْلُغَ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا اوپه زياتی کښې هيڅ نشته دی تردی چې څلويښتوته اورسی فَيَكُونُ فِيهَا دِرْهَمٌ نو په څلويښتو کښې به يو درهم وی ثُمَّ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ بيا په هرو څلويښتو کښې به يودرهم وی.دا امام ابوحنيفه رحمه الله په نزدده عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله (٤)

تشريح > **زكاة الزائد على النصاب** > ① صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.چه که په دوه سوه درهمو باندې زياتوالي اوشي.نوپه زياتوالی کښې به زکاة واجب نه وی.خوکه دزياتوالی مقدار څلويښتو درهموته اورسی. (نوبيا به پکښې زکاة واجب وی) نوکه دوه سوه څلويښت درهمه شي.نوپه دي کښې به شپږ درهمه واجب وی.بيابه په هرڅلويښتوباندې يو درهم واجب وی.دا دحضرت امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله مذهب دي.

دلائله > ① د ابوحنيفه رحمه الله ①دليل دادي.چه رسول الله ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه کله ديمن ګورنر جوړ کړو .اوليکلې ئې وو.نوفرمائيلی ئې وو. (لاتأخذ من الكسور شيئا) (٥) يعني په کسرونوکښې څه مه اخله. بلکه په څلويښتوباندې يو درهم پوره اخله.او دڅلويښتونه کم چونکه کسر وی.په دي وجه د څلويښتو نه په کم کښې نيمه، دريمه وغيره هيڅ مه اخله.

② دويم دليل دعمرو بن حزم رضي الله عنه حديث دي.چه (ليس فيما دون الأربعين صدقة) (٦) يعني دڅلويښتونه په کم کښې زکاة نشته.بلکه په څلويښتودرهموکښې يو درهم دې. دا خيال ساتل پکاردی.چه داحکم د دوه سوه درهمو نه پس دي.يعني د دوه سوه درهمونه پس د څلويښتو درهمونه په کم کښې زکاة

---

(١) من حديث أبي سعيدالخدري رضي الله عنه اخرجه البخاري في الزكاة باب ٤٢ رقم ١٤٥٩ ومسلم في الزكاة رقم ١-٥ وأبوداود في الزكاة باب ٢ رقم ١٥٥٨)

(٢) قال الزيلعي رحمه الله يحتمل أن يكون هذا من تمام الحديث ويحتمل ان يكون من كلام المصنف رحمه الله (نصب الراية ٣٧٣/٢)_

(٣) اخرجه الدارقطني في سننه (٩٥/٢)_

(٤) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(١٦٠\٢) والدرالمختار(٣٤\٢) والهندية (١٧٩\١) والفقه الإسلامي وأدلته (٧٦٦\٢) نقلا عن القول الراجح (١٧١\١)_

(٥) اخرجه الدارقطني في سننه (٩٣/٢)_

(٦) عزاه الزيلعي إلى أحكام عبدالحق، ثم ذكرعدم عزو عبدالحق هذا الحديث إلى أحد(نصب الراية ٣٧٧/٢)_

نشته.البته په ځلوېښتو درهمو کښې زکاة شته دې. ځکه د دوه سوه درهمونه وراندې نه په ځلوېښتو درهمو کښې زکاة شته.اونه دځلوېښتونه په کمو کښې زکاة شته دې.

التعارض بين الحديثين> پاتې شو دا سوال،چه دعمروبن حزم﷛ حديث، دعلي﷛ دحديث(فمازاد على المائتين) معارض شو.ځکه چه دعلي﷛ په حديث کښې دی.چه په مطلقاً زياتوالی کښې زکاة واجب دې.اود عمروبن حزم﷛ په حديث کښې دی.چه که په دوه سوه درهمو ځلوېښت درهمه زياتی شو.نوپه زياتوالی کښې زکاة واجب دې.ګنی نه دې.

الجواب>ددې جواب دادې.چه په دې دواړو حديثونو کښې تعارض نشته.ځکه چه دعلي﷛ په حديث کښې که دا احتمال دې.چه مطلقاً زياتوالےمراددې.نودا احتمال هم شته.چه په دوه سوه باندې دزياتوالی نه مراد د ځلوېښتو درهمو زياتوالےدې.نود دويم احتمال اخستلو په صورت کښې په دواړه روايتونوکښې هيڅ تعارض نه پاتې کيږی.

②عقلی دليل دادې.چه حرج خوشرعاً لرې شوې دې.حالانکه په کسورو کښې د زکاة په وجوب کښې دا حرج موجوددې.ځکه چه دکسورو په حساب باندې پوهيدل متعذر دی. مثلاً ديوکس په ملك کښې دوه سوه او اوه درهمه دی.اود صاحبينو ﷭ په نيز په ده باندې د دوه سوه درهمو پنځه درهمه،اود اوه درهمو زکاة، د يودرهم په ځلوېښتو تکرو کښې اوه تکرې واجب دی. نوچه زکاة اوباسی.دده سره به د يودرهم ۳۳ تکرې ،او يودپاسه دوه سوه درهمه باقی پاتې شی.که په دې دويم کال تيرشو.نوپه دوه سوه درهموکښې به پنځه درهمه واجب وی.اوپه يو درهم کښې به ددې ځلوېښتمه حصه واجب وی.اوپه ۳۳ تکروکښې به ددې ځلوېښتمه حصه واجب وی.اوس تاسو غور اوکړئ.چه د ۳۳ تکرو حساب لګول،او ددې ځلوېښتمه حصه اوښکل خومره ګران دی.بلکه زمونږ په شان خلقو دپاره ناممکن دی.نود هغه ان پړو(جټو) خلقو به څه حال وی.چه دسلونه بره شميرهم نه ورځی. حضرت امام ابوحنيفه ﷬ هم ددې حرج او مشکلات لرې کولودپاره فرمائيلې دی.چه په کسوروکښې به زکاة واجب نه وی.بلکه په دوه سوه باندې که ځلوېښت درهمه زياتی شو.نوپه دې کښې به زکاة واجب وی.

وَقَالَ ابويوسف ومحمد : مَا زَادَ عَلَى الْمِائَتَيْنِ صاحبين ﷭ فرمائی چې کوم په دوه سوه زيات شی **فَزَكَاتُهُ بِحِسَابِهِ**نوپه دغه حساب ئې زکاة دی

التوضيح> **مذهب الصاحبين**> صاحبين فرمائی.چه مطلقاً په زياتوالی کښې زکاة واجب دې.که دا زياتوالےکم وی اوکه ډير.نوکه په دوه سوه درهموباندې يو درهم زياتی شو.نود پنځو درهمو نه علاوه به ديو درهم په ځلوېښتوحصوکښې يوه حصه بله هم واجب وی.هم دا دامام شافعی ﷬ قول دې.

دلائلهما> ①دصاحبينو ﷭ دليل دادې.چه دعلي﷛ دحديث په آخر کښې دی.چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل.چه په دوه سوه درهمه څه هم زياتی وی.دهغې زکاة به دهغې په حساب سره اداکولې شی.[1]

②دويم دليل دادې.چه زکاة د نعمت مال دشکر اداکولودپاره واجبيږی. اوپه دوه سوه درهمو باندې چه څومره هم زياتی وی.هغه ټول مال دې.که دځلوېښتو درهمونه زياتی وی،اوکه ددې نه کم وی. که زياتی وی.نوپه دې زياتوالی کښې به هم دحساب مطابق شکرانه واجب وی.

[1]) قال الزيلعي ﷬ اخرجه ابوداود (نصب الراية ۲/۳۷۵)۔

الإعتراض> که زکاة دنعمت مال شکرانه اداکولودپاره واجب شوې دې.نوپه شروع کښې دنصاب شرط ولې لګولې شوې دې ؟ ځکه چه څنګه دنصاب په اندازه مال وی.دغه شان دنصاب نه کم هم مال وی.نوکه د وجوبِ زکاة مقصد ، د نعمتِ مال شکر اداکول دی.نوپه مطلق مال کښې زکاة واجب کېدل پکاردی.که مال دنصاب په اندازه وی.اوکه ددې نه کم وی.

ألجواب> جواب دادې.چه زکاة په مالدارو باندې واجب وی.په فقیرانوواجب نه وی.درسول برحق ﷺ ارشاد دې.(خذوا من أغنياءهم وتردوا إلى فقرائهم)نود غنی او فقیر په مینځ کښې د فرق کولو دپاره د نصاب اندازه یوفاصل مقررشوې دې.یعنی په اندازې د نصاب سره به مالك دپاره غنیٰ (مالداری)حاصل شی.اوددې نه په کم سره به غنیٰ نه حاصلیږی.حاصل داشو.چه دغنیٰ ثابتولو دپاره په ابتداء کښې نصاب شرط ګرځولې شوې دې.اوپه (ماذاد على المأتين)کښې دزیاتوالی نه دغنیٰ زیاتوالےمرادې.اوپه غنی کښې زیاتوالےقلیل اوکثیر دواړه حاصلیږی.په دې وجه مونږ اووئیل.چه دنصاب په مقدارچه څومره هم زیاتی وی.په هغې کښې به د هغې په حساب سره زکاة واجب وی.

ألإعتراض علي عدم وجوب الزكاة في الزائد في زكاة السوائم> لیکن اوس به سوال داوی.چه په سوائمو کښې دنصاب نه پس په مطلقاً زیاتوالی کښې زکاة ولې واجب نکړې شو؟مثلاً په پنځه اوښانو کښې یوه چیلۍ ده.اوس که په دې دڅلورو اوښانو اضافه اوشوه.نوپه دې اضافه کښې هیڅ زکاة واجب نه دې.ترهغه وخته پورې چه دا اضافه دنصاب مقدار ته اونه رسیږی. اوچه اوښان لس شی.نوپه دې کښې به دوه چیلۍ واجب وی.

ألجواب>جواب، په سوائموکښې دنصاب نه پس په مطلقاً زیاتوالی کښې د زکاة عدم وجوب، د ټکړې کولو نه د بچکولودپاره دی.یعنی که په پنځو اوښانو باندې مثلاً څلور اوښان زیاتی شو.نوددې څلورو اوښانو زکاة به د یوې چیلۍ په پنځوحصوکښې څلورحصې وی.اوپه دې صورت کښې اګرچه دقیمت په اعتبار سره وی.د چیلۍ ټکړې کول لازمیږی. نو ددې مشکل نه د بچ کولو دپاره په سوائموکښې د نصاب نه پس هم په مطلقاً زیاتوالی کښې زکاة واجب نکړې شو.بلکه زیاتوالےهم که په اندازه دنصاب وی.نوپه دې کښې به هم زکاة واجب وی.مثلاً په پنځه اوښانو باندې دپنځو اضافه نوره اوشی.نودوه چیلۍ به واجب وی.

دسرو او سپينو زرو نه دمركب شوي سكوحكم

وَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الْوَرِقِ الْفِضَّةَ که چرته په سکو باندې سپین زر غالب وو فَهُوَ فِي حُكْمِ الْفِضَّةِ نوحکم به ئې دسپینو زرو وی وَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ عَلَيْهَا الْغِشَّ اوکه کوټوالی پکښې غالب وو فَهُوَ فِي حُكْمِ الْعُرُوضِ نودغه به دسامان په حکم کښې وی يُعْتَبَرُ أَنْ تَبْلُغَ قِيمَتُهَا نِصَابًا نوبیا به پکښې ددې اعتبار وی چې قیمت ئې نصاب ته اورسی

حل اللغة >**معني الورق والغش**>ورق،د واؤ فتحه او د راء کسره په سانچه کښې جوړه شوې سکه. غش، د غین کسره او دشین شد،معنی ئې ده.خروالے،خیرے،اوهغه سره زر چه بل دهات ورسره ګډ شوې وی.دلته کښې دغش نه مراد دسپینو زرو او دسرو زرونه علاوه دهاتونه دی.چه په سپینو زرو کښې ملاوولې شی.او سکې ترې جوړولې شی.

تشريح> **قسمي الدراهم وحكمها**>اودا خبره منلےشوې ده.چه د سپینو یا سرو زروسکه بغیرد کهوټ(هغه

سرزر چه بل دهات ورسره گډ شوې وی،د ګډوالی نه نشی جوړېدلې.اوس صورت دمسئلې دا دې.چه په جوړه شوې سکه کښې ①که سپین زر غالب وو.د بل څیزسره ګډشوې سرزر هغه سرزر چه بل دهات ورسره ګډ شوې وی.یعنی نور دهاتونه مغلوب وو. نودغه سکه به د سپینو زرو په حکم کښې وی.اوبه دې کښې به دسپینوزرو زکاة واجب وی. ②اوکه کهوټه غالب اوسپین زر مغلوب وو.نودا به دسامان په حکم کښې وی.د دې دقیمت اندازه به لګولې شی.اوکتلې به شی.چه ددې قیمت د زکاة مقدار ته رسیږی.اوکه نه.که دنصاب مقدار ته رسیدلو.نوبه دې کښې به زکاة واجب وی.ګنې واجب به نه وی.

دلیله﴿ صاحب دهدایه رحمه الله دمسئلې مدلل کولو دپاره فرمائیلی دی.چه درهمو وغیره جوړو شوو سکو کښې د لږشان کهوټ کیدل ضروری دی.خکه چه ددې نه بغیردسکوجوړول ممکن نه دی.البته دکهوټ زیات مقدار ضروری نه دې.نوموږ د قلیل اوکثیر په مینځ کښې غالب (زیاتوالی)حد فاصل مقررکړې دې. او غلبه دا ده.چه دنیمې‌نه زیات وی.اوهم دا دغلبه حقیقت هم دې.نوکه سپین زر دنیمو نه زیات وی.اوکهوټ د نیمې نه کم وی.نودغه سکه به توله پوره سپین زر شمارلې شی.اوبه دې کښې به دسپینوزرو زکاة واجب وی.اوکه ددې په عکس وی.یعنی کهوټه د نیمې نه زیات وی.اوسپین زر دنیمې‌نه کم وی.نو دغه سکه به دهات شمارلې شي.او ددې حکم به د نورسامان په شان وی.

شرطیة نیة التجارة فی صورة غلبة الغش﴿صاحب دهدایه رحمه الله فرمائیلی دی.چه دکهوټه غالب کیدلوبه صورت کښې د زکاة دوجوب دپاره دتجارت نیت ضروری دې.خکه چه په دې صورت کښې دا دسامان په حکم کښې دې.اوداخیره فیصله شوې ده.چه د سپینو اوسروزرو نه علاوه نورو څیزونوکښې د زکاة دوجوب دپاره دتجارت نیت ضروری دې.که په سکوکښې سپین زرمغلوب دی.خوکه جداکړې شی.نودا دنصاب مقدار یعنی ددوه سوه درهمومقدار ته رسیږی.نو په دې سپین زروکښې به دسپینو زرو زکاة واجب وی.نه به په دې کښې د قیمت اعتباروی.اونه به دتجارت نیت معتبر وی.خکه چه په عین سپینو زروکښې ددې دواړو اعتبارنه کیږی.والله اعلم

دسرو زرو نصاب اومقدار

فَصْلٌ فِي الذَّهَبِ دا باب دی دسرو زرو د زکاة په بیان کښې **لَيْسَ فِيمَا دُونَ عِشْرِينَ مِثْقَالًا مِنَ الذَّهَبِ صَدَقَةٌ** د شل مثقاله سرونه په کمو کښې زکاة نشته **فَإِذَا كَانَتْ عِشْرِينَ مِثْقَالًا** هرکله چې شل مثقاله شی **وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ** اوتیرشی په هغې باندې کال **فَفِيهَا نِصْفُ مِثْقَالٍ** نوبه دی کښې نیم مثقال دی ،

تشریح﴿ **وجوب المثقال فی العشرین**﴾په دې فصل کښې دسرو زرو د زکاة بیان دې.دسروزر نصاب شل مثقاله دی.اوددې نه به په کموکښې زکاة واجب نه وی.اوبه شلو مثقالوکښې به نیم مثقال واجب وی.

دلیله﴿دلیل دا روایت دې (ومن كل عشرين مثقالا من الذهب نصف مثقال) [1] په ابن ماجه کښې دا روایت د ابن عمر رضی الله عنه اوحضرت عائشه رضی الله عنها نه په دې الفاظوسره نقل دې.(أن النبی صلی الله علیه وسلم كان يأخذ من كل عشرين دينارا نصف دينار ومن الأربعين دينارا دينارا)(شرح نقایه)

[1]) قال الزيلعي رحمه الله يشير إلى حديث معاذ رضی الله عنه المتقدم في زكاة الفضة وقد ذكر من جهة الدارقطني رحمه الله وفيه ((من كل أربعين دينارا

المراد من المثقال> دمثقال نه مرادهغه مثقال دې.چه دهغې سره دمثقال وزن د لسودرهمو برابر وي.په خلقوکښې هم دا وزن مشهوردې.

په شلوباندې د زياتې مثقالو د زكاة حكم

ثُمَّ فِي كُلِّ أَرْبَعَةِ مَثَاقِيلَ قِيرَاطَانِ بيا په هرو څلوېښتو مثقالوکښې دوه قيراطه دي

تشريح> **وجوب القيراطان في أربعة مثاقيل بعدالعشرين**> صاحب دقدورى رحمه الله فرمائي.چه په شلو مثقالو باندې كه څلور مثقاله زياتي شي.نودنيم مثقال سره به دوه قيراطه نورهم واجب وي.
دليله> ځكه چه دڅلورو مثقالوڅلويښتمه دوه قيراطه وي.ځكه چه يومثقال دشلو قيراطو وي. نوڅلور مثقاله د اتياؤ قيراطوشو.اود اتياؤڅليويښتمه دوه وي.ځكه به دڅلورو مثقالو زكاة دوه قيراطه واجب وي.
الفائدة> يو قيراط د اوربشو د پنځو دانو برابر وي.نو يومثقال به د سلو اوربشو د وزن برابر وي. قيراط په اصل كښې ،د راء په شد سره دې.ځكه چه ددې جمع قراريط راځي.بيا يوه راء په ياسره بدله شوه. نو قيراط شو.(عنايه)

دڅلورو مثقالونه په كم ګښې د زكاة حكم

وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ أَرْبَعَةِ مَثَاقِيلَ صَدَقَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله (١) په كمودڅلويښتو مثقالو كښې صدقه نشته.په نزدد امام ابوحنيفه رحمه الله.

تشريح> **عدم الزكاة في الزائد دون أربعة مثاقيل**> مسئله داده.چه كه په شلومثقالوباندې د څلورو مثقالونه دكمو اضافه اوشوه. نود حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په دې زياتوالي كښې به هيڅ زكاة واجب نه وي.

وقالامازادعلى العشرين فزكاته بحسابه اوصاحبين رحمهما الله فرمائي چې په شلو مثقالو باندې كوم زياتي وي د هغې زكاة به د هغې په حساب باندې وي

تشريح> **مذهب الصاحبين**> دصاحبينو رحمهما الله په نيزبه په قدر دحساب زكاة واجب وي.مثلاً كه په شلومثقالو يو مثقال زيات شو.نو په زكاة كښې به نيم مثقال او نيم قيراط واجب وي.ځكه چه د شلو مثقالو څلويښتمه حصه نيم مثقال راځي.اود يومثقال څلويښتمه حصه نيم قيراط جوړيږي.
بناء الإختلاف علي إختلاف مسئلة الكسور> صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلي دي .چه دا هم هغه د كسور مسئله ده.چه په تير شوى فصل(فصل في الغنم)كښې راغلې وه.يعنى دصاحبينو رحمهما الله په نيز په كسور كښې زكاة واجب وي.اود امام صاحب رحمه الله په نيز نه واجبيږي.دفريقينو دلائل بيان شوي دي.
القاعدة> علامه مرغيناني رحمه الله فرمائيلي دي .چه په شريعت كښې يو دينار دلسو درهمو برابر وي.او مثقال او دينار دواړه يوشيزدې.نوڅلورمثقاله به دڅلويښتودرهمو برابر وي. نولكه څنګه چه په درهمو

دينار)) نصب الراية (٢/٣٧٩)۔

(١) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (١/١٢٠) والتاترخانية (٢/٢٣١) والهندية (١/١٧٩) ومجمع الأنهر(١/٢٠٥) نقلاً عن القول الراجح (١/١٧٢)۔

کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د څلویښتو درهمو نه دکمو په زیاتوالی کښې زکاة نشته دې.دغه شان په نصاب باندې د څلورو مثقالونه د کمو په زیاتوالی کښې به هم زکاة واجب نه وی.

السوال> دلته کښې یوسوال کیدلې شی.هغه داچه په تیرشوی فصل کښې د وزن سبعه تحقیق بیانولو کښې ونیلې شوی وو.چه اووه مثقاله دلسودرهمو د وزن برابروی.اومثقال او دینار یوشیزدې.اودلته کښې اوونیلې شو.چه یودینار دلسودرهمو برابروی؟

الجواب> جواب دادې.چه په تیرشوی فصل کښې د وزن بیان وو.یعنی دلسو درهموو وزن اووه مثقاله یا د اووه دینارو برابروی.اودلته کښې دقیمت بیان دې.یعنی یو دینار،چه دایومثقال سره زر دی.شریعت ددې قیمت لس درهمه سپین زر مقرر کړې دې.مثلاً په قتل خطاء کښې که د دیت اداکول په دینارسره اوغواړی.نو زر دیناره دې ورکړی.اوکه په درهم سره کول غواړی.نولس زره درهمه دې ورکړی.

ملاحظة> خوداخیال کول پکاردی.چه داحساب دهغه زمانې نرخ مطابق وو.اونرخ چونکه کمیږی اوزیاتیږی.په دې وجه په هره زمانه کښې به د هغه زمانې د نرخ مطابق قیمت مقرر کولې شی.

د سرو اوسپینو زرو مخلوطوخیزونو زکاة

وَفِي تِبْرِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَحُلِيِّهِمَا وَالْآنِيَةِ مِنْهُمَا الزَّكَاةُ دسرو سپینو په تکرو اوددی په زیوراتواو ددی په لوخوکښې هم زکاة دی [1]

حل اللغة> ① **تبر**: سست، ډیله ② **حليهما**: کالی ③ **اواني**: لوښی

تشریح> **وجوب الزكاة في الذهب غيرالمنقوشة**> (تبر،(غیر مضروب چاندی...هغه سپین زر چه قالب شوې نه وی.د سپینوزرو توټه ،د سپینو او سرو زروکالی چه ښځې ئې د ښائست او زینت دپاره استعمالوی.

①زمونږ په نیز د ګډ شوی نه بغیر په سرو او سپینوزروکښې ددوی په کالواو لوخوکښې زکاة واجب دې.

دليله > دلیل دادې.چه د وجوب زکاة سبب مالی نامی او نمو وی. او نمو په دوه قسمه ده. ①یوخلقی، لکه په سرو او سپینوزروکښې چه ده. ②دویمه فعلی، یعنی دتجارت په ذریعه. دلته کښې دنمو دلیل موجوددې.یعنی پیدائشی او خلقی طور باندې دا دتجارت دپاره حاصلیدل.اوهم دلیل معتبر دې. نو هرکله چه دنمو دلیل موجوددې.نودچا په باطلولو سره داخلقی نماء نه باطلیږی.

په سامان تجارت کښې د زکاة حکم

بَابُ زَكَاةِ الْعُرُوضِ

فصل دی دتجارت داسباب په زکاة کښې

الزَّكَاةُ وَاجِبَةٌ فِي عُرُوضِ التِّجَارَةِ كَائِنَةً مَا كَانَتْ إِذَا بَلَغَتْ قِيمَتُهَا نِصَابًا مِنَ الْوَرِقِ أَوِ الذَّهَبِ په اسباب دتجارت کښې زکاة واجب دی .هرڅه چې وی هرکله چې ئې قیمت نصاب ته اورسی د سپینو زرو یا د سرو زرو

[1] مذهب الشافعي رحمه الله:- حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه دښځوکالی اودسرو دسپینو زروګتمه کښې زکاة واجب نه دې.امام مالك او امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دی.

تشریح < **وجوب الزکاة في عروض التجارة** > عروض دعرض جمع ده.معنیٰ ئي ده.دسپینو او سرو زرونه علاوه د دنیا سامان.مسئله داده.چه دتجارت که هرقسم وی.په دې کښې زکاة واجب دې.په دې شرط چه د دې قیمت د سپینو یا سرو زرو نصاب ته رسیږی.

دلائله < ① دلیل دادې.چه نبی کریم ﷺ فرمائیلي دی.چه دسامان تجارت قیمت به اولګوې. اوبه هر دوه سوه درهمه کښې به پنځه درهمه زکاة اداکرې.اود سمره بن جندب رضی الله عنه نه نقل دی.(أن رسول الله ﷺ كان يأمرنا أن نخرج الصدقة من الذي يعد للبيع) (۱) یعنی رسول اکرم ﷺ به حکم فرمائیلو.چه مونږ د هغه څیزونو زکاة اوباسو.کوم چه د خرڅ دپاره تیاریږی.

② دویم دلیل دادې.چه په سامان کښې دبنده دتجارت نیت کولوسره دا سامان هم مال نامی جوړیږی.اوچونکه په مال نامی کښې زکاة واجب وی.په دې وجه په سامان تجارت کښې به هم زکاة واجب وی.لکه څنګه چه په سپینو او سرو زروکښې زکاة واجب وی.ځکه چه دا د شریعت د طرفه مال نامی دې.

د فقراو دپاره د انفع اعتبار

يُقَوِّمُهَا بِمَا هُوَ أَنْفَعُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ مِنْهُمَا دعروض قیمت به هغې سره لګوی کوم چې د فقیرانو او مساکینو دپاره نفع وی. (۲)

تشریح < **وجوب الزکاة بما هو أنفع للفقراء** > په تیره شوې مسئله کښې وئیلي شوی وو.چه په سامان تجارت کښې د وجوب زکاة دپاره ضروری دی.چه ددې قیمت د سپینو یا دسرو زرونصاب ته رسیږی.

خواوس سوال دادې.چه دقیمت اندازه به دسپینوزرو یعنی دراهمو سره کوی.اوکه د سروزرو یعنی دنانیرو سره به کوی.نو په دې باره کښې څلور اقواله دی.① رومبې قول کوم چه په اصالی کښې دامام ابوحنیفه رحمه الله نه یو روایت هم دې.دادې.چه دسامان دقیمت اندازه په دې دواړو کښې هغه سره کیږی.په کوموکښې چه فقیرانواومسکینانو ته فائده وی.مثلاً دتجارت یوقسم سامان دې.چه دا دوه سوه درهمودې.خود شلو مثقالو نه دې.نودا به د درهمو سره اندازه کولې شی.اوکه سپین زر ګران وی. او سره زر ارزان وی.اودا سامان شل مثقاله سروزرو مالیت ته رسیږی.خودوه سوه درهمه سپینو زرو مالیت ته نه رسیږی.نوددې دقیمت اندازه به مثقالوسره کولې شی.درا همو سره به نشی کولې.دا قول د فقیرانو اومسکینانو دحق په وجه په احتیاط مبنی دې.یعنی احتیاطاً به د فقیرانو د رعایت په لحاظ داسې کولې شی.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ يُقَوِّمُهَا بِمَا اشْتَرَاهُ او امام ابویوسف رحمه الله فرمائی چې په هغې نقد سره به قیمت

---

۱) قال الزيلعي رحمه الله يشيرالى حديث معاذ رضی الله عنه المتقدم في زكاة الفضة وقدذكر من جهة الدارقطني رحمه الله وفيه ((من كل أربعين دينارا دينار)) نصب الراية (۲/۳۷۹)۔

۲) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(۲\۱۶۷) والعناية (۲\۱۶۷) والوقاية (۱\۲۲۹)ور د المحتار(۲\۳۷) ثم قال وقال العلامة ابن الهمام رحمه الله في الجمع بين الروايتين بأن المذكور في الاصل في التخيير هو ما إذا كان التقويم بكل منهما لا يتفاوت انتهى كلامه) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱۷۳)۔

لګوی په کوم چې نی اخستلی وی **فَإِنِ اشْتَرَاهُ بِغَيْرِ الثَّمَنِ** که دا ئې د ثمن نه بغیر اخستې وو **يُقَوِّمُ بِالنَّقْدِ الْغَالِبِ فِي الْمِصْرِ** نو چه په ښار کښې کوم نقدزیات رائج وی په هغې سره به ئې قیمت لګوی

تشریح> وجوب الزکاة وفق وسیلة العروض> دویم قول د امام ابویوسف رحمه الله دې.اوهم ددې قائل امام شافعی دې.دوی دا فرمائی.چه دا سامان په دواړه نغدینو(سپین او سره زر)کښې چه دکوم په عوض کښې اخستلې شوې دې.هم دهغه سره به ددې دقیمت اندازه لګولې شی.که د درهمو په عوض کښې اخستلې شوې وی.نود درهمو سره به ئې اندازه لګولې شی.اوکه د دنانیرو په عوض کښې اخستلې شوې وی.نود دنانیرو سره به ئې اندازه لګولې شی.اوکه د درهمواو دنانیرونه علاوه دبل څه په عوض کښې اخستلې شوې وی. نوبیا چه په درهمو او دنانیروکښې دکوم رواج اوچلن زیات وی.دهغه سره به اندازه لګولې شی.

دلیله> ددې قول دلیل دادې.چه په دواړه نغدونوکښې چه دکوم په عوض کښې داسامان اخستلې شوې دې.دهغې سره به د مالیت پیژندګلو زیاته وی.څکه چه یوځلې په دغه نغدیت سره ددې قیمت ښکاره شوې دې.په دې وجه په دویم څلی اندازه لګولوکښې به هیڅ مشکل نه وی.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ بِغَالِبِ النَّقْدِ فِي الْمِصْرِ عَلَى كُلِّ حَالٍ او امام محمد رحمه الله فرمائی چې په ښار کښې کوم زیات رائج وی په هر حال د هغې سره قیمت لګوی.

تشریح> وجوب الزکاة وفق نقد البلد> دریم قول د امام محمد رحمه الله دې.دوی فرمائی.چه په هرحال کښې به د بلد دغالب نغدیت سره اندازه لګولې شی.یعنی په نغدینوکښې چه دکوم چلن زیات وی.هم دهغه سره به دقیمت اندازه لګولې شی.

دلیله> ددې دلیل دادې.چه د الله تعالی په حق کښې دقیمت اندازه کول به د بنده په حق کښې د قیمت په اندازه باندې قیاس کولې شی.اود بنده ګانو په حق کښې د بلد غالب نغدیت سره اندازه کولې شی.مثلاً که چاپوڅیزغصب کړو.اوهغه دغاصب نه ضائع شو.او هغه څیزد ذات القیم څنې وی.نو په غاصب به دهغې قیمت واجب وی.اودقیمت اندازه به په نغدینوکښې هغه یوسره کیږی.دکوم چه چلن زیات وی.دغه شان که چا دبل کس څه سامان هلاك کړو.اودا د ذات القیم څنې وی.نوپه هلاکونکی به دقیمت ضمان واجب وی. او د قیمت اندازه به دهغه نغدیت سره کیږی.دکوم چه چلن زیات وی.نوځنګه چه په حقوق العباد کښې د قیمتونو اندازه په غالب نغدیت سره کیږی.دغه شان دحقوق الله یعنی د زکاة وغیره اداکولو دپاره به هم د قیمتونو اندازه په غالب نغدیت سره کولې شی.

وجوب الزکاة وفق رضا المالك> د دې درې وارو اقوالو نه علاوه یو بل روایت په مبسوط کښې ذکر دې. هغه دا دې.چه مالك ته اختیاردې.که غواړی درهمو سره دِ اندازه اوکړی.اوکه غواړی دینارسره دې اوکړی.

دلیله> ددې قول دلیل دادې.چه قیمت په دې وجه لګولې شی.چه دمالیت مقدار معلوم شی.اوپه دې مقصد کښې درهم او دنانیر دواړه برابردی.نو په یوبل باندې به ترجیح نشی ورکولې.

په دواړو اړخونو دکال څښتې د نصاب د تکمیل اعتبار

وَإِذَا كَانَ النِّصَابُ كَامِلًا فِي طَرَفَيِ الْحَوْلِ اوهرکله چې نصاب پوره وو دکال په دواړوطرفونوکښې **فَنُقْصَانُهُ فِيمَا بَيْنَ ذَلِكَ لَا يُسْقِطُ الزَّكَاةَ** نوددی کمیدل دکال په ما بینځ کښې زکاة

نه ساقط کوی

تشریح﴾ وجوب النصاب في جميع السنة﴿ ①شيخ ابوالحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه د وجوب زکاۃ دپاره دکال په اول او آخر کښې کامل نصاب کیدل شرط دی.دکال په مینځ کښې دنصاب کمیدل زکاۃ نه ساقطوی.یعنی دکال په اول کښې هم پوره نصاب موجوددې.او په آخرکښې هم پوره شو.خوپه مینځ کښې څه کم شوې وو.نوپه دې صورت کښې به زکاۃ واجب وی.ساقط به نه وی.

دلیله﴾ دلیل دادې.چه د کال په مینځ کښې د نصاب د پوره کیدو اعتبارکولو کښې مشقت دې. نوځکه دکال په مینځ کښې د نصاب دپوره کیدو شرط اونشولګولې.پاتې شو په اول اوآخر کښې د نصاب خبره نوپه دې کښې د نصاب کمال شرط دې.په اول کښې خو ددې وجې چه د زکاۃ سبب منعقد شی.اوغنا متحققه شی.اوپه انتها کښې ددې وجې چه د زکاۃ وجوب متحقق شی.اودکال په مینځ کښې چونکه دواړه خبرې نشته.ددې وجې دکامل په مینځ کښې د نصاب د پوره والی شرط اونه لګیدلو.

حکم هلاک الکل﴾ مسئله دا ده چې دکل په مینځ کښې د نصاب کموالې زکاۃ نه ساقطوی. البته دا چه ټول نصاب هلاک شی. نوزکاۃ نه واجبیږی.ځکه چه دکال یوه حصه بیخی بې نصابه پاتې وه.نود حولان حول شرط موجود نشو.حالانکه د زکاۃ د انعقاد شرط موجود شی. نوددې نه پس حولان حول شرط دې. اوپه اولنۍ مسئله کښې داسې نه ده.یعنی کله د کال په مینځ کښې نورنصاب هلاک شی.خوڅه حصه باقی وی.نوځکه د انعقاد سبب هم باقی دې.اوهرکله چه د انعقاد سبب باقی دې.نود زکاۃ وجوب به هم باقی وی.

دسرو او سپینو زرو سره دسامان تجارت ګډون

وَيُضَمُّ قِيمَةُ الْعُرُوضِ إِلَى الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ او پیوست کوی به قیمت داسباب دسرو سپینو سره **وَكَذٰلِكَ يُضَمُّ الذَّهَبُ إِلَى الْفِضَّةِ بِالْقِيمَةِ** او دغه شان به پیوست کولی شی سره زر د سپینو زرو سره د قیمت په اعتبار سره **حَتّٰى يَتِمَّ النِّصَابُ** تردې چه نصاب پوره شی

تشریح﴾ ضم العروض الی الذهب والفضة لتکمیل النصاب ومثاله﴿ مسئله داده.چه که دیوکس په ملك کښې دتجارت سامان د نصاب په اندازه نه وی.خودده سره دنصاب پوره کولودپاره دتجارت د سامان قیمت به دسرو اوسپینوزرو سره ملاوولې شی. ①مثلاً دیوکس سره پنځوس درهمه دی.اود یونیم سلو درهمو مالیت برابرسامان تجارت دې.نوپه ده به د دوه سوه درهمو سپینو زرو زکاۃ واجب وی. ②یا مثلاً د یوکس سره اته مثقاله سره زر دی.اود دولسو مثقالو د مالیت سامان تجارت دې.نوپه ده به دشلو مثقالو دسرو زرو زکاۃ واجب وی.دا حکم بالاجماع دې.

دلیله﴾ دلیل دادې.چه په هرڅیزکښې د زکاۃ دوجوب سبب دنصاب نامی مالك کیدل دی.او نماء په سامان تجارت کښې هم موجودده.اوپه سرو اوسپینو زروکښې هم. اګرچه د نماء حیثیت مختلف دې.یعنی په سامان تجارت کښې د بنده ګانو د طرفه نماء متحقق کیږی. ځکه چه بنده ګان دا د تجارت دپاره حاصلوی.اوپه سرو اوسپینو زروکښې نماء من جانب الله موجودده.ځکه چه الله تعالی دادواړه دتجارت دپاره پیداکړی دی.نو هرکله چه اصل یعنی نماء دواړه خایونوکښې وجود ده.نود سامان تجارت قیمت به دسرو اوسپینو زرو سره ملاوولې شی.او زکاۃ به واجبولې شی.

دسامان تجارت مکوون اعتبار په اجزاو اوکه په قیمت

وَقَالَا لَايُضَمُّ الذَّهَبُ إِلَى الْفِضَّةِ بِالْقِيمَةِ اوصاحبین فرمائی چې نه به شي پیوست کولي سره زر دَ سپینو سره د قیمت په اعتبار سره وَيُضَمُّ بِالْأَجْزَاءِ او پیوست کولي به شي په اعتبار د اجزاؤ سره

تصریح > **الضم باعتبار القيمة عند ابي حنيفة** > ملاورول به دقیمت په اعتبارسره کیږی.اوکه اجزاؤ په اعتبار سره.نویه دې باره کښې اختلاف دې. د امام ابوحنیفه په نیزیه دقیمت په اعتبارسره کیږی.هم دا یوروایت دامام محمد دی. ()

دلیله > امام ابوحنیفه فرمائی.چه ضم کول دهم جنس کیدلویه وجه دی.اوهم جنس کیدل دقیمت په اعتبارسره متحقق کیږی.دصورت په اعتبارسره نه متحقق کیږی.نود قیمت په اعتبارسره ضم کولي شی.دصورت په اعتبارسره به نه کیږی.اود اجزاؤ اعتبار،چونکه دصورت اعتبار دې.په دې وجه د صورت په اعتبارسره ضم نه کیدل،ګویا د اجزاؤ په اعتبارسره ضم نه کیدل دی.نوثابت شو.چه دضم دپاره د اجزاؤ اعتبار نه کیږی.بلکه د قیمت اعتبارکیږی.والله اعلم.

الضم باعتبار القيمة عند ابي حنيفة اود صاحبینو په نیزیه د اجزاؤ په اعتبارسره کیږی.هم دایو روایت دامام ابوحنیفه دی.او هم ددې قائل امام مالك دې.اوهم دا یوروایت د امام احمد دی.

دليلهما > د صاحبینو دلیل دادې.چه په سرو او سپینو زروکښې وزن معتبردې.قیمت معتبرنه دې.تردې که د یوکس سره د سپینوزرو څه لوخی یا کالی وی.اوددې وزن دوه سوه درهمو نه کم وی.خودددې قیمت د دوه سوه درهمونه هم زیات جوړیږی.نویه دې کښې په اتفاق سره زکاة واجب نه دې.ددې نه معلومه شوه.چه اعتبار د وزن دې.د قیمت نه دې.نوکه دوزن په اعتبارسره نصاب پوره شو.نو زکاة به واجب وی.ګنی واجب به نه وی.

ثمرة الإختلاف > داختلاف ثمره به په دې صورت کښې ښکاره کیږی.چه دیوکس سره سل درهمه سپین زروی. او پنځه مثقاله سره زردی.اود پنځومثقالو سروزرو قیمت سلو درهم ته رسیږی.نویه دې صورت کښې به د امام ابوحنیفه په نیززکاة واجب وی.ځکه چه دقیمت په اعتبارسره نصاب پوره شوې دې.

اوداجزاؤ په اعتبارسره چونکه نصاب پوره نه دې.په دې وجه دصاحبینو په نیزیه زکاة هم واجب نه وی.اوکه د یوکس سره لس مثقاله سره زروی.اوسل درهمه سپین زروی.یا په دې دواړوکښې د یو دریمه حصه وی.اود بل دویمه حصه وی.یا د یوځلورمه حصه وی.اود بل دریمه حصه وی.نویه دې صورت کښې به په اتفاق سره (دواړه)ضم کولي شی.او زکاة به واجب کولي شی.

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة كذا في رد المحتار (٢\٣٧) والبحرالرائق (٢\٢٣٠) وتبيين الحقائق (١\٢٨١) نقلاً عن القول الراجح (١\١٧٤)-

د فصلونو اود میوو د عشر بیان

بَابُ زَكَاةِ الزُّرُوعِ وَالثِّمَارِ

ترجمه> (دا) باب د فصلونواود میو په عشرکښې دې.

تشریح> وجوب العشرفي الزروع والثمار> د زمکې په پیداوار او میووکښې د عشر(لسمه حصه) واجبیږی.او دلته کښې هم د زکاة نه مراد عشردې.لکه څنګه چه په تیرشوې باب کښې مصدق(زکاة راټولونکې)ته مجازاً عاشر وئیلې شوې دی.دغه شان دلته کښې هم عشر مجازاً په لفظ د زکاة سره تعبیر شوې دې.زکاة چونکه خالص عبادت دې.اوعشر د زمکې مؤنت دې.البته په دې کښې د عبادت معنیٰ شته.په دې وجه زکاة مخکښې او دعشر احکام روسته ذکرشوې دې.

د زمکې په پیداوارکې د عشرنصاب

قَالَ أَبُوحَنِيفَةَ فِي قَلِيلِ مَا أَخْرَجَتْهُ الْأَرْضُ وَكَثِيرِهِ الْعُشْرُ واجب امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چې کوم خیز دزمکښې نه پیداکیږی که کم وی اوکه زیات په هغې کښې عشر واجب دې سَوَاءٌ سُقِيَ سَيْحًا أَوْسَقَتْهُ السَّمَاءُ ، إِلَّا الْحَطَبَ وَالْقَصَبَ وَالْحَشِيشَ (۱) پدی کښې عشر دی .اګرچې په جاری ابو اوبه کیږی اوکه په باران سره .سوې دبانړسونو خشاك او وابښو نه

حل اللغة > ①**سیحا:** جاری اوبه ②**حطب:** لرګې ③**قصب:** بانړس

تشریح> نصاب العشر> حضرت امام اعظم رحمه الله فرمائی.چه مطلقاً د زمکې په پیداوار کښې عشر واجب دې.پیداوار کم وی.اوکه زیات وی.بغیرد تدبیر اختیارولونه د یوکاله پورې باقی پاتې کیدونکې وی.زمکه په نهری وغیره جاری اوبوسره اوبه کړې وی.یا د باران په اوبوسره اوبه شوې وی.په هرصورت کښې به عشر واجب وی.سوې د نلو،د سوزلو لرګو اود ګیا نه.چه په دې خیزونوکښې د حضرت امام صاحب رحمه الله په نیزعشر واجب نه دې.

وقَالَ ابو يوسف ومحمد لَا يَجِبُ الْعُشْرُ إِلَّا فِيمَا لَهُ ثَمَرَةٌ بَاقِيَةٌ إِذَا بَلَغَت خَمْسَةَ أَوْسُقٍ صاحبین رحمهما الله فرمائی چې عشرواجب دی. مګر په هغه کښې چې میوه ئې باقی پاتی کیږی کله چې اورسی پنځه وسق ته ، وَالْوَسْقُ سِتُّونَ صَاعًا بِصَاعِ رَسُولِ اللَّهِ اووسق شپیته وړی دی دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په وړی سره

تشریح> مذهب الصاحبين> صاحبین رحمهما الله فرمائی.چه د زمکې په پیداوار کښې په دوه شرطونو سره عشر واجب وی.یوداچه هغه خیزکوم چه د زمکې نه پیداکیږی.بغیر دڅه علاجه د یوکال پورې باقی پاتې کیدې شی.لکه غنم،اوربشې اوریجې وغیره.که د یو کال پورې باقی نه پاتې کیږی.نویه دې کښې به عشر واجب نه وی.لکه انګور ،خربوزه ، تربوزه، سیب وغیره.دویم شرط داچه پیداوار د پنځه وسقو په مقدار وی.ددې نه په کم کښې به عشر واجب نه وی.او یو وسق د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په صاع سره شپیته صاعه جوړیږی.نو پنځه وسق د درې سوه صاع برابر وی.او یوصاع څلور منه وی.نوګویا پنځه وسق دولس سوه منه وی.

(۱) القول الراجح هو هذا قول ابي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (۱\۱۳۲) وردالمحتار(۲\۵۴) والهندية (۱\۱۸۹) والخلاصة (۱\۲۴۹) نقلاً عن القول الراجح (۱\۱۸۰)۔

الإختلاف في شيئين ﴿ حاصل دا چه د امام صاحب رحمه الله او د صاحبینو رحمهما الله اختلاف دوه ځایه دې. ① یو دا چه حضرت امام صاحب رحمه الله په نیز د عشر وجوب دپاره د نصاب مقدار کیدل شرط نه دې. او د صاحبینو رحمهما الله په نیز شرط دې. ② دویم دا چه د امام صاحب رحمه الله په نیز د یو کال پورې باقي پاتې کیدل شرط نه دې. او د صاحبینو رحمهما الله په نیز شرط دې.

دليل ابي حنيفة رحمه الله في عدم شرطية النصاب ﴿ او د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل د الله تعالی د قول ﴿أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ﴾ (الآیه) عموم دې. په دې طریقه چه د زمکې مطلقاً پیداوار کښې دانفاق حکم ورکړې شوې دې. دقلیل او کثیر هیڅ تفصیل نشته.

دلائل الصاحبين رحمهما الله في شرطية النصاب ﴿ د عشر دوجوب دپاره د نصاب شرط لګولو کښې د صاحبینو رحمهما الله

① رومبې دلیل د نبی کریم ﷺ قول ليس فيما دون خمسة أوسق صدقة [1] دې. په حدیث کښې د صدقه نه مراد عشر دې. ځکه چه زکاة خو پنځه وسق نه په کم کښې هم واجب وی. په شرط ددې چه د دې قیمت دوه سوه درهمه ته رسی. اوس د حدیث ترجمه داشوه. چه د پنځه وسق نه په کمو کښې عشر نشته. نو معلومه شوه. چه د عشر دوجوب دپاره پنځه وسق ضروری دی.

الجواب منه ﴿ خو د دې تاویل دا دې. چه په دې کښې د تجارت زکاة مراد دې. یعنی په مال تجارت کښې د زکاة د وجوب دپاره پنځه وسق ضروری دی. او وجه ددې داده. چه د صحابو رضي الله عنهم په زمانه کښې به خلقو د وسق په حساب سره ا خستل خرخول کول. او د یو وسق کجورو قیمت څلوېښت درهمه وو. نو د پنځه وسق قیمت به دوه سوه درهمه وو. او دوه سوه درهمه د زکاة نصاب دې.

② او د زکاة په شان عشر هم په کافر نه واجب کیږی. او د عشر مصرف هم هغه دې. کوم چه د صدقاتو مصرف دې. نو ثابته شوه. چه عشر د زکاة په شان دې. او د وجوب زکاة دپاره د نصاب کیدل شرط دې. چه غناء متحقق شی. نو دغه شان د وجوب عشر دپاره به هم نصاب کیدل شرط وی. چه مالداری او غناء متحقق شی.

الجواب منه ﴿ خو ددې جواب دا دې. چه په عشر کښې ملك معتبر نه وی. هم دغه وجه ده. چه عشر په مکاتب ماشوم او مجنون په زمکه کښې هم واجبیږی. او په موقوفه زمکو کښې هم عشر واجب وی. حالانکه په موقوفه زمکو هیڅ څوك مالك نه وی. نو هر کله چه په په باب دعشر کښې مالك اعتبار نشی کیدلی. نو د دې دصفت یعنی مالداری او غناء اعتبار به هم نه کیږی. او هر کله چه د غناء اعتبار نشی کیدلې. نو په مطلق پیداوار کښې به عشر واجب وی پیداوار که قلیل وی. او که کثیر وی. او په عشر کښې مالداری معتبر نه ده. په دې وجه حولان حول هم شرط نه دې. ځکه چه د حولان حول شرط د نماء حاصلولو دپاره وی. او پیداوار ټول په ټوله نماء ده.

دلائل ابي حنيفة رحمه الله في شرطية البقاء ﴿ ① د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل ذکر شوې آیت ﴿أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ﴾ دې ځکه چه دا ایت مطلق دې. د باقی پاتې کیدلو او دنه پاتې کیدلو هیڅ قید نشته. نو مطلقاً به د زمکې په پیداوار کښې عشر واجب وی. که پوره کال باقی پاتې کیدې شو. او که نشو پاتې کیدلې. ② د امام صاحب رحمه الله په مذهب باندې عقلی دلیل دا دې چه د عشر دوجوب سبب د زمکې نامی کیدل دی. او کله دزمکې نه په داسې څیز سره هم نماء حاصلیږی. چه هغه باقی پاتې

---

[1]) تقدم تخريجه)_

کيدونکي نه وي.نوکه د زمکې نه ترکارياني او سبزياني پيداکړې شوي. اوعشر واجب نکړې شي.نود سبب به بغير دحکم نه موجود کيدل لازم شي.اودا ټيك نه ده.په دې وجه ترکاريانو او سبزيانوکښې هم عشرواجب کړې شو.

نظيره﴿ هم دغه وجه ده.چه په خراجي زمکه کښې که ترکارياني او سبزياني اولګولې شوې.نو په دې کښې به خراج واجب وي.نوځنګه چه په باقي نه پاتې کيدونکوخيزونوکښې خراج واجبيږي.دغه شان عشر به هم واجب وي.

ولهما ﴿په دويم شرط کښې د صاحبينو رحمهما الله دليل د نبي کريم ﷺ قول ﴿ليس في الخضروات صدقة﴾ دې.اودا روايت په،دارقطني،کښې داسې دې.﴿أن رسول الله ﷺ نهى أن يؤخذ من الخضروات صدقة﴾[1] په حديث کښې د صدقه نه مرادعشر دې.ځکه چه سبزياني که دتجارت دپاره وي.نوپه دې کښې بالاتفاق زکاة واجبيږي.نومعلومه شوه.چه په حديث کښې د زکاة نفي نه ده شوې. او هرکله چه زکاة غيرمنفي دې.نوعشريه متعين وي.اود حديث مطلب به داوي.چه نبي کريم ﷺ فرمائيلي دي. چه په سبزيانوکښې عشر واجب نه دې.اوپه سبزيانوکښې د عشرد عدم وجوب علت ددې باقي نه پاتې کيدل دي.نوکوم خيزونه چه پوره کال بغيرد څه علاجه باقي نه پاتې کيږي.په دې کښې به عشر واجب نه وي.

الجواب عنه ﴿اود ﴿ليس في الخضروات صدقة﴾مطلب دادې.چه که څوك سرې ترکارياني او سبزياني دخان سره واخلي.اود عاشر په خواکښې تيرشي.اومالك د قيمت ورکولونه انکار اوکړي.نو عاشرين به د ترکاريانو عشر نه وصول کوي.ځکه چه عاشر بالعموم د ښار نه لرې اوسيږي. اوهلته کښې فقيران موجود نه وي.نوپه داسې صورت کښې که په سبزيانوکښې عشروصول کړي. نو د دې دخرابيدو امکان دې.په دې وجه او وئيلې شو.چه عاشر به د سبزيانو عشر نه اخلي. بلکه مالك په خپله فقيرانو ته ورکړي.اوهرکله چه ئې مالك پخپله فقيرانو ته ورکړي.نو دوی به دا اوخوري.اوس به ددې د خرابيدو هيڅ امکان پاتې نشي.حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله هم ددې حديث هم په دې محمل باندې عمل کوي.دامطلب نه دې.چه په سبزيانو کښې بالکل عشرواجب نه دې.لکه ځنګه چه صاحبين رحمهما الله فرمائي.

الصورتان في وجوب العشر في القصب﴿ ① دحضرت امام صاحب رحمه الله مذهب ذکرکولو کښې چه د خشاکو د لرګو،نلونو اود ګيا استثناء شوې وه.يعنی په دې خيزونوکښې عشرواجب نه دې.ځکه چه عادة دا خيزونه په باغونوکښې نه راخيجي.بلکه ددې خيزونو نه باغونه صفا کولې شي. ②خوکه د پټي مالك زمکه د نرکل پټي يا د خشاکو د ونو باغ يا د ګيا لګولو ځائې جوړ کړي.اوددې خيزونوحاصلول مقصود کړي.نو په دې کښې به عشر واجب وي.

وجوب العشر في قصب السكر وقصب الذريرة﴿ علامه مرغيناني رحمه الله په هدايه کښې فرمائيلي دي .چه په متن کښې د قصب نه مراد فارسي نرکل دې.چه قلمونه ترې جوړيږي.او پاتې شوګني، اود ذريره نل ﴿داپه هندوستان کښې يو مشهور نل دې.چه خوشبودار دې.په مرلونې خوشبوئي خوريږي.كذا في غاية السعاية﴾ نوپه دې کښې عشرواجب دې.ځکه چه ددې دواړو نه د زمکې حاصلات مقصود وي.يعنی ګنې اود ذيريره نل قصداً راخيجولې شي.اوددې نه نفع اخستل مقصد وي.اوکوم خيز چه راخيجولې شي.په

---

[1] من حديث معاذ رضي الله عنه اخرجه الترمذي في الزكاة باب ۱۳ رقم ۶۳۸)۔

هغې کښې عشر واجب وي.په دې وجه به په دې کښې عشر واجب وي.ددې په خلاف د کجورو ښاخونه او بوس،چه په دې کښې عشر واجب نه وي.ځکه چه دا دواړه څيزونه مقصود نه وي.بلکه د کجورو ميوه او دانه يعنې ميوې مقصود وي.

وَلَيْسَ فِي الْخَضْرَاوَاتِ عِنْدَهُمَا عُشْرٌ او نشته په سبزوکښې عشر ددوي په نزد

تشريح> د صاحبينو رحمهما الله په نيز سبزيانو کښې عشر واجب نه دې.ځکه چه ددې د يوکال پورې باقي پاتې کيدل بغير د علاجه ممکن نه دی.

نوټ> د دې مسئلې پوره وضاحت د شرطية البقاء په اختلافي بحث کښې تيرشو۔

د نيم عشر وجوب

وَمَا سُقِيَ بِغَرْبٍ أَوْ دَالِيَةٍ أَوْ سَانِيَةٍ اوکوم چې اوبه کولی شي په غټه بوکه يا آرټ يا په اوبن فَفِيهِ نِصْفُ الْعُشْرِ عَلَى الْقَوْلَيْنِ نوپدی کښې نيم عشر دی .په دواړو قولو باندې

حل اللغة> غرب:لوې ډول.داليه:آرټ، چه ډيرې ډولچې پرې ترلې شوې وي.بيا دا په غوائي وغيره تاوولې شي. داليه ،سرخ، ته هم وائي.سرخ دادې.چه د لرګی يوه تنه چه ددې په سر باندې د خرمنې يو ډول شان ترلې شوې وي.بيا دا په اوبوکښې ورښکته کوي.اوبيا پرې اوبه کوي② .سانية:هغه اوښه چه د هغې په ذريعه پټې اوبه کولې شي.

تشريح> وجوب نصف العشرفي الخارج بالسقي>صورت دمسئلې دادې.چه که پټې په لوې ډول يا آرټ يا د اوښې په ذريعه خروب کړې شوې وي.نود امام صاحب رحمه الله او صاحبين رحمهما الله دواړو په نيز دې کښې نصف عشرواجب دې.خوددې اختلاف سره د امام صاحب رحمه الله په نيزنه نصاب شرط دې.اونه د بقاء اود صاحبينو رحمهما الله په نيز به د دواړو شرطونو لحاظ ساتلې شي.

دليله> دليل دادې چه په دې صورتونوکښې زيات مشقت اوچتولې شي.په نسبت د باران يا د درياب نه د اوبه کولو،چونکه په باران يا درياب سره اوبه کولوکښې مشقت کم وي.په دې وجه به په دې کښې عشرواجب وي.اوبه آرټ وغيره سره خروبولوکښې مشقت زيات وي.په دې وجه په دې صورتونوکښې به دعشر نيمه يعنې شلمه حصه واجب وي.

اعتبار اکثرالحول في الخارج بالسقي والمطر>اوکه پټې د درياب په اوبوسره هم سيراب کړې شوې وي.اوبه ډول سره هم اوبه راوښکلې شوې وي.اوسيراب کړې شوې وي.نود کال د اکثر اعتبار به کولې شي.يعنې که اکثرکال په درياب سره سيراب کړې شو.اوځه ورځې په ډول سره سيراب کړې شو.نو عشر به واجب وي.اوکه ددې په عکس دې نونصف به واجب وي.

نظيره> لکه څنګه چه په سائمه څاروکښې د کال د اکثرې حصې اعتبارکولې شي.يعنې که دکال په اکثره حصه کښې څاروې څرولې شوې وي.اوځه ورځې په کورکښې په ترلې شوې خوراك ورکړې شوې وي.نودا به سائمه څاروې شمارلې شي.اوبه دې کښې به زکاة واجب وي.اوکه ددې په عکس وي.نودې ته به علوفه ونيلې شي.اوبه دې کښې به زکاة واجب نه وي.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: فِيمَا لَا يُوسَقُ كَـالزَّعْفَرَانِ، وَالْقُطْنِ امام ابويوسف رحمه الله فرمائي چې کوم څيزونه په وسق سره نه شي خرخولی لکه زعفران اومالوچ يَجِبُ فِيهِ الْعُشْرُ إِذَا بَلَغَتْ قِيمَتُهُ قِيمَةَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ مِنْ أَدْنَى

مَا يدخل تحت الوسق نو یدے کښې عشر واجب دی .کله چې قیمت ئې د ادنی درجې هغه چې په وسق کښې داخلیږی

تشریح ﴿ **مسلک ابي یوسف** رحمه الله ﴾ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه د داسې څیزونو باره کښې د حضرت امام ابویوسف رحمه الله قول دادې.چه زعفران وغیره غیر وسقی څیزونو قیمت که د ادنی درجه وسقی څیزونو سره پنځه وسق پوره کیدې شی.نوپه دې کښې به عشرواجب وی. مثلاً دوه سوه ګرامه زعفرانو قیمت د پنځه وسق جوارو قیمت ته رسی.نوپه دوه سوه ګرامه زعفرانوکښې به عشرواجب وی.اګرچه د زعفرانو اخستل خرخول په وسق سره نه کیږی.

دلیله ﴾ دلیل دادې.چه په غیر وسقی څیزونوکښې شرعی نصاب یعنی د پنځه وسقو اندازه کول ممکن نه دی.په دې وجه به ددې د قیمت اعتبارکولې شی.لکه څنګه چه د تجارت په سامان کښې شرعی نصاب یعنی دوه سوه درهمو اندازه کول ناممکن دی.نوددې د قیمت اعتبار شوې دی.یعنی سامان تجارت که دوه سوه درهمومقدار ته اورسیږی.نوپه دې کښې به زکاة واجب وی.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَجِبُ الْعُشْرُ إِذَا بَلَغَ الْخَارِجُ خَمْسَةَ أَمْثَالٍ مِنْ أَعْلَى مَا يُقَدَّرُ بِهِ نَوْعُهُ امام محمد رحمه الله فرمائی چې عشرواجب دی کله چې اورسی پیداوار پنځه عدده دهغه مقدار ته په کوم سره چې اندازه کولی شی . د دغی شان دڅیزونو فَاعْتُبِرَ فِي الْقُطْنِ خَمْسَةُ أَحْمَالٍ نوپه مالوچو کښې دپنځه بوجونو اعتبار دی وَفِي الزَّعْفَرَانِ خَمْسَةُ أَمْنَاءٍ اوپه زعفرانوکښې پنځه منه

تشریح ﴿ **مسلک محمد** رحمه الله ﴾اود امام محمد رحمه الله قول دادې.چه په غیر وسقی څیزونوکښې د اعلی درجه معیار معتبر دې. یعنی په کوم معیار سره چه اندازه کولې شی.کوم چه د ټولونه اعلی معیار دې.که دا د پنځوتعداد ته اورسی.نوپه دې کښې به عشرواجب وی.کنی واجب به نه وی.لکه چه په مالوچوکښې د ټولو نه اعلیٰ او لویه اندازه کولو والا آله اومعیار حمل (بکسرالحاء)دې.حمل د یوې اوښې بوجه ،نوکه مالوچ پنځه حمله وی.نود امام محمد رحمه الله په نیز به په دې کښې عشر واجب وی.یوحمل تقریباً درې سوه منه وی.اوپه زعفرانو کښې د ټولونه اعلیٰ معیار ،مَن، وی.نو که زعفران پنځه منه مقدار ته اورسی. نو په دې کښې به عشرواجب وی.

دلیله ﴾دلیل دادې.چه په کیلی(ناپ) څیزونوکښې د ټولونه اعلیٰ درجه معیار او اندازه کولو والا آله وسق وی.نومعلومه شوه.چه د وسق اعتبار په دې وجه شوې دې.چه دا د ټولونه اعلیٰ او لوې معیار دې.حاصل داشو.چه کوم څیز په کوم معیارسره اندازه کولې شی.په هغه معیارکښې چه کوم د ټولو نه لوې معیار وی.دهغه اعتباربه کولې شی.نوکه دغه څیزپه اعلی معیار سره پنځه شی.نوپه هغې کښې به عشرواجب وی.

د عشری زمکې په شهدوکښې زکاة

وَفِي الْعَسَلِ الْعُشْرُ إِذَا أُخِذَ مِنْ أَرْضِ الْعُشْرِ اوپه ګبین کښې عشر دی کله چې د عشرزمکښې نه واخستلی شی (۱)

(۱) **مذهب الشافعی** رحمه الله :- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په شهدوکښې عشرواجب نه دې.هم دا قول د امام مالک رحمه الله دې.

تشریح > وجوب العشر في العسل > ① مسئله داده.که شهد د عشری زمکښي نه حاصل کړي شو.نو په دي کښي به عشرواجب وی.

دلائله > ① دلیل د رسول اللهﷺ حدیث (من أبي هريرة ﷺ أن رسول اللهﷺ كتب إلى أهل اليمن أن في العسل العشر) دي. (١) یعنی نبی کریمﷺ یمن والوته اولیکل.چه په شهدو کښي عشر واجب دي.

② دویم دلیل دادي.چه دشهدو مچئ ګلونه او میوي خوری.لکه چه د الله تعالی ارشاد دي. ﴿ثُمَّ كُلِي مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي﴾ (الایه) او په ګلونو او میووکښي عشرواجب دي.نوکوم څیز چه ددي نه پیدا کیږي. یعني شهد،په دي کښي به هم عشرواجب وی.

قَلَّ أَوْكَثُرَ (٢)بیا د امام ابوحنیفه ﷫ په نزد په ګبین کښي عشرواجب دی .کم وی اوکه زیات

تشریح > نصاب عشر العسل > ①صاحب د قدوری ﷫ فرمائي.چه په شهدو کښي به عشر واجب وی.که شهد کم وی اوکه زیات.ځکه چه حضرت امام اعظم ﷫ په وجوب عشر کښي د نصاب اعتبار نه کوی.

وَقَالَ أَبُويُوسُفَ فيه حتى تبلغ عشرة أزقاق اوابویوسف ﷫ فرمائی چي په ګبین کښي هیڅ نشته تردی چي لس مشکیزو ته اورسی

تشریح > مذهب ابي يوسف﷫ > ابویوسف ﷫ فرمائی چي په ګبین کښي هیڅ نشته تردی چي لس مشکیزو ته اورسی

دلیله > دلیل د بنی شبابه حدیث دي.په عنایه کښي دا حدیث داسي دي.چه د بنی جرهم یو قوم بنو شبابه سره د شهدو مچئ وي.دي خلقویه په هرلسو مشکونوکښي یو مشك رسول اللهﷺ له ورکولو.او رسول اللهﷺ به ددوی د علاقي حفاظت کولو. (٣) بیاهرکله چه دحضرت امیرالمؤمنین عمربن الخطاب﷜ د خلافت زمانه راغله.اودوی سفیان بن عبدالله ثقفی﷜ عامل مقرر کړو.نودي خلقو د عشر ورکولو نه انکار اوکړو .سفیان بن عبدالله ثقفی﷜ حضرت عمر﷜ ته اولیکل.نوحضرت عمر﷜ په جواب کښي اولیکل.چه د شهدومچئ خو د باران مچئ دی.الله تعالی چه کوم ځائي اوغواړی هلته ئي بوځی.که دغه خلق تاله عشر درکړی .کوم ئي چه رسول اللهﷺ له ورکولو.نوتاسو ددوی د علاقي حفاظت کوئ.ګني د دوی دعلاقه او دخلق په مینځ کښي لارخالی کړئ.ددي جواب نه پس دغه خلقو عشر ورکول شروع کړل. د حضرت عمر﷜ د جواب حاصل داوو.چه که دغه خلق عشرورکړی.نوددوی د علاقي ددوی دپاره حفاظت کوه.ګني چه څوك غواړي شهد دي اوباسی.او اوری دي.بهرحال ددي حدیث نه معلومه شوه.چه د بنوشبابه خلقو به لسومشکونوکښي یومشك عشر ورکولو.یومشك لس رطله وی.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ خَمْسَةُ أَفْرَاقٍ وَالْفَرَقُ سِتَّةٌ وَثَلَاثُونَ رِطْلًا بِالْعِرَاقِي اوامام محمد ﷫ فرمائی چي د

---

(١) من حديث أبي هريرة ﷜ أخرجه العقيلي في كتاب الضعفاء (نصب الراية ٤٠٥/٢)۔

(٢) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة ﷫ كذا في فتح القدير(١٩١\٢) والخانية (١٣٢\١) وردالمحتار(٥٣\٢) والهندية (١٨٦\١) نقلا عن القول الراجح (١٨١\١)-

(٣) من حديث عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده ﷜ أخرجه الطبراني في معجمه(نصب الراية ٤٠٧/٢)

پنخه فرقو او فرق شپږ دیرش رطله عراقی مروی دی

تشریح> مذهب محمد رحمه الله> امام محمد رحمه الله فرمائی چه پنخه فرق نصاب دي.یعنی په پنخه فرق شهدو کښې عشر واجب دي.او یو فرق شپږ دیرش رطله وی.

دلیله> خکه په کومو پیمانوسره چه د شهدو اندازه کیږی.په دې کښې د تولو نه اعلی پیمانه فرق دې.

الروایتان في وجوب العشر في العسل الجبلي> ① اوپه غرونو کښې چه کومې میوې اوشهد دې.په هغې کښې هم عشر واجب دي. ②اود ابویوسف رحمه الله نه یو روایت دادې.چه په دې کښې عشر واجب نه دې.خکه چه د وجوب عشر سبب اونه موندلې شو.اوهغه د زمکې نامی کیدل دی.زیات بنه به وو.که داسې نې ونیلې وې.چه د وجوب عشر سبب مملوکه زمکه ده.او ظاهرالروایة یعنی د وجوب عشر دلیل دادې.چه کوم مقصود دې.هغه حاصل دې.یعنی پیداوار حاصل دې.نوهرکله چه پیداوار موجود دې.نوپه دې کښې به عشر هم واجب وی.

وَلَيْسَ فِي الْخَارِجِ مِنْ أَرْضِ الْخَرَاجِ عُشْرٌ اود خراجی زمکې نه چې کوم پیداوار راوخی په هغې کښې عشر نشته

تشریح> عدم العشر في الارض الخراجي> که د خراجی زمکې نه څه پیداوار راوخی نو په هغې کښې عشر نشته

تعریف الارض العشری> عشری زمکه هغه زمکې ته وائی چې د هغې مالك مسلمان وی یا د طاقت په ذریعه یو ښار یا ملك فتح شوې وی او د هغې زمکه په مجاهدینو کښې تقسیم شوی وی

تعریف الارض الخراجي> هرهغه زمکه خراجی ده کومه چه په زور سره فتح شوې وی او د هغې کافران اوسیدونکی هلته باقی پاتې کړې شوی وی او زمکه هم د هغوی په واك اختیار کښې پریخودې شوې وی

چاته چه زکوٰة ورکول جائز دي او چاته نه دهغې بیان

بَابُ مَنْ يَجُوزُ دَفْعُ الصَّدَقَةِ إِلَيْهِ وَمَنْ لَا يَجُوزُ

ترجمه: (دا) باب(په بیان) د هغه کس (کښې دې) چه جائزوی ورکول د زکاة ده ته اوچاته چه نه وی جائز.

تشریح> الربط بما قبله> زکاة اوددې د متعلقاتونه فارغ شو.نو اوس په دې باب کښې د زکاة اوصدقاتو مصارف بیانه وی.

د زکاة د مصارفو بنیاد او اصل

قَالَ اللهُ تَعَالَى الله تعالیٰ فرمانیلی دی {إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ} الآيَةَ بیشکه زکاة چه دې پس دغه حق د فقیرانودې (الایه).

تشریح> الأصل في مصارف الزكاة> ① د زکاة په سلسله کښې اصل د الله تعالى قول دې.﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۖ فَرِيْضَةً مِّنَ اللهِ ۗ وَاللهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ﴾ یعنی زکاة چه دې.د حق دې.د غریبانانو او محتاجو، اود زکاة په کاریاندې د تلونکو،اود چاچه په زړه سره غوښتل منظور وی.اود ختونو په آزادولو کښې اوقرضدارو ته.اود الله

تعالی په لاره کښې ، اود لارې مسافر،مقررشوې دې د الله، او الله تعالی په هرڅه پوهیږی، حکمت والادې.(تهانوی)

مصارف الزکاة<په حدیث کښې رسول اکرمﷺ فرمائی.چه الله تعالی زکاة او صدقات تقسیم په نبی یا غیرنبی په هیڅ چا په مرضیٰ باندې نه دې پریخودې.بلکه په خپله ئې ددې مصارف متعین کړې دی.چه اته دی. ①فقیران(چه دوی سره هیڅ نه وی) ②مسکینان(چه دحاجت په اندازه ورسره وی. ③ عاملین(چه د اسلامی حکومت د طرفه د صدقاتو په حاصلولو وغیره کارونو باندې مقرر وی. ④مؤلفة القلوب(چه ددوی د اسلام راوړلو امیدوی یا په اسلام کښې کمزورې وی) ⑤رقاب(یعنی د غلامانویدل کتابت اداکول چه آزادی ورته ملاؤ شی.یاواخستلې شی او آزاد کړې شی، یاد قیدیانوفدیه ورکړې شی او آزاد کړې شی)

⑥ غارمین(چه په دوې څه حادثه پریوتلې وی اوقرضداری شوی وی یا په څه ضمانت وغیره کښې اینختې وی) ⑦ فی سبیل الله(په جهاد وغیره کښې د تلونکو مدد اوکړې شی)

⑧ ابن السبیل(مسافرچه د سفرپه حالت کښې مالك دنصاب نه وی اگرچه په کورکښې دولت مندوی)(مرشد تهانوی رحمه الله)

فَهٰذِهٖ ثَمَانِيَةُ أَصْنَافٍنو دا اته قسمه خلق دی **وَقَدْ سَقَطَ مِنْهَا الْمُؤَلَّفَةُ قُلُوْبُهُمْ**دکومو نه چه مولفه القلوب ساقط شو. **لِأَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى أَعَزَّ الْإِسْلَامَ وَأَغْنٰى عَنْهُمْ**ځکه چه اسلام الله جل جلاله غالب کړې دې او ددوی نه بې حاجته کړې دې

تشریح> **الاقسام الثلاثة للمؤلفة قلوبهم**>صاحب دهدایه رحمه الله فرمائیلی دی .چه په دې اتو قسمونوکښې یوقسم مؤلفة القلوب ساقط شو.یعنی د نبی کریمﷺ د وفات نه پس داقسم پاتې نشو.په عنایه کښې دی.چه د مؤلفة القلوب درې قسمه وو. ①هغه کافران چه دوی ته به نبی کریمﷺ په دې وجه ورکول.چه ددوی زړونه ددې بې قدره ذلیله دنیا نه اسلام طرف ته راشی. ②هغه کافران چه دوی له به ئې په دې وجه ورکولو.چه ددوی د شر او فساد نه مسلمان بچ شی. ③ هغه خلق چه اسلام ئې راوړلو.خوددوی اعتقاد کمزورې وو.نودوی له به ئې په دې وجه ورکولو.چه ثابت قدم پاتې شی.

اسماء المؤلفة قلوبهم>په مؤلفة القلوب کښې ښکاره خلق دادې.عیینه بن حصن، اقرع بن حابس، عباس بن مرداس،دا درې واړه د قریش د سردارانو څنې دی.ددوی نه علاوه ابوسفیان، صخربن حرب اموی، حارث بن هشام مخزومی، عبدالرحمن بن یربوع مخزومی، سهیل بن عمرو العامری،حویطب بن عبدالرحمن عامری، عبدالعزیٰ اسدی،حکیم بن حزام اسدی وغیره دی.

انقطاع حصة مؤلفة القلوب>مؤلفة القلوب په عهد رسالت کښې وو.خود صدیق اکبرؓ په زمانه کښې ختم شو.نقل دی.چه عیینه بن حصن فزاری او اقرع بن حابس تمیمی دواړه حضرت ابوبکرؓ خواله د خپلې زمکې د معافئ غوښتلو دپاره راغلل.نوصدیق اکبرؓ فرمان اولیکلو.بیا دواړوحضرت عمرؓ ته گواهی راوړله.نوحضرت عمرؓ دغه گواهی اوشلوله.او وې فرمائیل.چه داخوبه نبی کریمﷺ تاسو ته په دې وجه درکول.چه اسلام طرف ته ستاسو د زړونو تالیف اوشی.او اوس الله تعالی اسلام غالب کړې اوستاسو نه ئې بې پرواه کړې دې.نوکه تاسو په اسلام باندې ثابت قدم اوسئ.نو غوره خبره ده.گنی زمونږ اوستاسو په مینځ کښې توره فیصله ده.دوی دواړه واپس شول.او حضرت ابوبکرؓ ته لاړل.او دې فرمائیل.چه تاسوخلیفه ئې اوکه عمرؓ ؟ دوی اوفرمائیل.انشاءالله دوی خلیفه دی.دهغه وخت نه

دمؤلفة القلوب حق ختم شو. اوچونکه په صحابو ﷺ کښې هيڅ چادديٍ انکار اونکړو. بلکه ټولو په دې سکوت اختيار کړو. نو ګويا دمؤلفة القلوب په ساقطيدلو باندې د صحابو ﷺ سکوتي اجماع هم منعقد شويده. (فتح القدير)

د فقير او مسکين تعريف

وَالْفَقِيرُمَنْ لَهُ أَدْنَى شَيْءٍ او فقير هغه دې چه کوم سره چه لږ مال وي وَالْمِسْكِينُ مَنْ لَا شَيْءَ لَهُ[1] او مسکين هغه دې چه هيڅ ورسره نه وي.[2]

تشريح - تعريف الفقير والمسكين د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله نه نقل دی. چه فقير هغه کس دې. چه دهغه سره څه وي. خود نصاب نه کم وي. يا د نصاب په اندازه وي. خونصاب غيرنامي وي. اودې په خپلوضرورياتو کښې اينختې وي. اومسکين هغه کس دې. چه دهغه سره قطعاً هيڅ څيزهم نه وي. نه دده سره نان شبينه (د شپې خوراک) وي. اونه د بدن پټولودپاره څه کپړه وي. ګويا د امام صاحب رحمه الله په نيزمسکين زيات د غربت په حال کښې وي. په نسبت د فقير.

دلائله ① چه الله تعالى فرمائيلي دی. ﴿ لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا ﴾ (الايه). خيرات د هغه خلقو دپاره دې. کوم چه بند کړې شوی دی. د الله په لاره کښې. ګرځيدې نشي په ملك کښې، خيال کوی په دوی ناخبره مالداره په سوال نه کولوسره، ته به پيژنې دوی د مخونونه چه سوال نه کوی د خلقونه په اينختيدلو سره. په دې آيت کښې دوی ته داسې فقير ونيلي شوی دی. چه په سوال نه کولو سره ناخبره خلق دوی باندې د مالداره خيال کوی. اوداخبره به هغه وخت ممکن وي. چه ددوی ښکاره حال ښه وي. اوهرکله چه ښکاره حال ئې ښه وي. نو معلومه شوه. چه د فقير سره څه ناڅه ضرور وي. ددې نه هم د حضرت امام صاحب رحمه الله دقول تائيد کيږي. ②دويم دليل دادې. دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې چه الله تعالى فرمائيلي دی. ﴿ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴾ يعنى مسکين چه خاك آلود (په خاورو لت پت) دې. مطلب دادې. چه مسکين سره نه د ساه بچ کولوخوراك وي. اونه د بدن پټولو دپاره کپړه وي. نوثابت شو. چه دمسکين حالت، دفقير په مقابله کښې زيات خراب وي.

المذهبان في كون الفقير والمسكين صنفان أم صنف واحد پاتې شوه داخبره چه فقير او مسکين دواړه يو قسم دی. اوکه دوه قسمه دی. نوددې تفصيل خوبه په کتاب الوصايا کښې راځي. خودلته کښې دومره عرض دې. ①چه دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزفقير او مسکين دوه قسمه دی. ②اود امام ابويوسف رحمه الله په نيزدواړه يوخانې يوقسم دې.

ثمرة الإختلاف ثمره د اختلاف به په دې مثال کښې ښکاره شي. چه يوکس د خپل ثلث مال وصيت زيد، فقيرانو اومسکينانو دپاره اوکړو. نود امام ابويوسف رحمه الله په نيز به د ثلث مال نيمه زيد ته ورکولې شي. اونيمه به فقيرانو اومسکينانوته ورکولې شي. ځکه چه ددوی په نيزفقيران اومسکينان دواړه

---

[1] القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٢\٢٠٤) والكفاية (٢\٢٠٣) والعناية (٢\٢٠٣) والبحرالرائق (٢\٤٠٢) نقلاً عن القول الراجح (١\١٨٥)۔

[2] مذهب الشافعي رحمه الله:- د امام شافعي رحمه الله مذهب ددې په عکس دې. يعنى ددوی په نيز د مسکين په مقابله کښې د فقير حالت زيات خراب او بې کاره وي.

یوځائي یوقسم دي.اود امام صاحب رحمه الله په نیز به دا ثلث مال په دري حصو کښي تقسیمولی شي.یوه حصه به زید ته ورکولي شي.اویوه فقیرانوته اویوه به مسکینانو ته ورکولي شي.ځکه چه د امام صاحب رحمه الله په نیز فقیران او مسکینان دواړه جداجدا قسمونه دي.

وَالْعَامِلُ يَدْفَعُ إِلَيْهِ الْإِمَامُ إِنْ عَمِلَ بِقَدْرِ عَمَلِهِ او.عامل. له به ورکوی امام که ده عمل کړي وی دده دکار په قدر(۱)

تشریح> تعریف العامل > په قرآن پاك کښي د زکاة دریم قسم عاملین ذکرشوي دي.عاملین د عامل جمع ده.عامل هغه کس دي.چه امام المسلمین د صدقات وغیره وصول کولو دپاره مقررکړي وی.د عامل دویم نو ساعی هم دي.

دلیله > دلیل دادي.چه دعامل استحقاق په طریقي دکفایت وی.د زکاة په طریقه نه وی.که صاحب مال په خپله زکاة امام له راوړو.او ورتي کړو.نوعامل به قطعاً مستحق نه وی.او عامل که مالدار وی.اوده کار هم کړي وی.نودې به د زکاة د مال نه د کفایت په اندازه خپل حق اخلی.که عامل ته د زکاة په طریقه ورکولي شوي.نود مالدارکیدو په صورت کښي به دي مستحق نه وو.نود عامل د مالدارکیدلو باوجود اخستل،ددي خبري دلیل دي.چه دده استحقاق د کفایت په طریقه دي.د زکاة په طریقه نه دي.

نوعیة مایعطي العامل > داهم په ذهن کښي ساتل پکاردی.چه عامل ته څه هم ورکولي شی.داد اجاري په طور نشی ورکولي.ځکه چه د اجاري دپاره د عمل معلومیدل ضروری دی.د مودي او اجرت معلومیدل ضروری دی.اودلته کښي څه هم معلوم نه دی.په دي وجه به عامل ته د اجرت په طورباندي نشی ورکولي.بلکه څومره وخت چه دده په تلو راتلواود صدقاتو په وصولولو کښي صرف شوي دي.د هغه وخت پوره خرچه به ورکولي شی.په دي وجه چه ده ددي کار دپاره خپل ځان محبوس(بند)کړي دي. اوکوم کس چه خپل ځان د امورمسلمین د کارونو دپاره فارغ کړی.نو دده نان نفقه هم په دوی واجب وی.لکه د قاضیانو اود جهاد کونکو نفقه چه په عامة المسلمین باندي واجب وی.اود ښځي نفقه په ښاوند باندي واجب وی.

کم یعطي العامل > امام المسلمین به د زکاة د مال نه عامل او دده سره کارکونکوته ددوی د عمل په اندازه ورکوی.خودا خیال به ساتی.چه د عامل اودده مددګارانو دپاره کافی شی.خوکه د عامل اودده د مددګارانو ضروریات ددوی د وصول کړي شوي د زکاة پوره مال راګیروی.نود نصف نه به زیات نشی ورکولي.اوکه خلقو د زکاة مال پخپله راوړلو.او امام ته ئي ورکړلو.نوعامل به مستحق نه وی.ځکه چه عامل ته دده دعمل په وجه ورکولي شی.اوعمل اونه موندي شو.په دي وجه به دي مستحق هم نه وی.

القدر المدفوع إلي العامل > ① هرکله چه داخبره ثابت شوه.چه عامل ته د اجرت په طور نشی ورکولي.نو په اندازه د کفایت چه څه دوی ته ورکولي شی.نوهغه به د اتمي حصي وغیره دڅه مخصوص مقدار سره به هم متعین نه وی.یعنی دابه نه وی.چه عامل کوم زکاة وصول کړي دي.د هغي اتمه حصه به ورکولي شی.

---

(۱) **مذهب الشافعي رحمه الله**:- په زیربحث مسئله کښي امام شافعی رحمه الله فرمائی چه هم د هغه نه به ورته زکاة ورکوی کوم چه ئي راجمع کړي وی

د مرئي آزادول

وَفِي الرِّقَابِ اَن يُعَانُ الْمُكَاتَبُونَ فِي فَكِّ رِقَابِهِمْ د ,,في الرقاب،، مطلب دادي چه مدد اوشي د مكاتبو غلامانو ددوى په آزادولو كښې دامنقول دى.

تشريح ﴿ الصورتان لعتق الرقاب﴾ د مصارف زكاة اتم قسم ,,وفي الرقاب،، دي. ددي په تفسير كي دري صورتونه بيان كړې شوي دى. ①يو داچه د زكاة په مال غلام واخستلي شي.او آزاد كړې شي. ②دويم دا چه د مكاتب په بدل كتابت اداكولو كښې مدد اوكړي شي.

تعين الصورة الأولى﴾صاحب د قدوري رحمه الله هم دا دويم صورت اختياركړې دي.اوپه طبراني كښې حسن بصري،امام زهري اوعبدالرحمن بن يزيد بن اسلم نه هم د ,,وفي الرقاب،، هم دا تفسيردي.دي حضراتو فرمانيلي دى. (وفي الرقاب هم المكاتبون)يعني د ,,وفي الرقاب،، نه مراد دادي.چه د زكاة رقم مكاتب ته وركړې شي.چه دي خپل مولا ته بدل كتابت اداكړي.خپل ستځ آزاد كړى.

عدم جواز الصورة الثانية﴾ددي نه معلومه شوه.چه كه د زكاة په رقم سره غلام واخستلي شي.او آزاد كړې شي.نوزكاة به نه اداكيږي.ځكه چه د زكاة اداكولو دپاره مالك كول شرط دى.اوپه دي صورت كښې د مالك كيدلومعنى نشته.ځكه چه په خالص غلام كښې د مالك جوړيدلو صلاحيت نه وي.

د قرض داري د مصرفيت بيان

وَالْغَارِمُ مَنْ لَزِمَهُ دَيْنٌ او غارم هغه دي چې كوم په ذمه چه قرضه وي[1]

تشريح﴾ تعريف الغارم﴾د صاحب قدوري رحمه الله د بيان مطابق د مصارف زكاة پنځم قسم غارم دي. ①غارم هغه كس دي.چه دده په ذمه دخلقو قرض وي.اود قرض نه د زياتي مقدار نصاب مالك نه وي.مثلاً د يوكس سره زر درهمه وي.اودي د نهه سوه درهمو قرضدار وي. نو ده ته زكاة وركول جائز دى.ځكه چه په نهه سوه درهمو سره د قرض غوښتونكوحق متعلق كيدلو په وجه معدوم شو.يعنى دا نهه سوه درهم گويا دده ملك پاتي نشو.اوپاتى شو سل درهم، نودا په قدر د نصاب نه دي.په دي وجه دده دپاره د زكاة مال اخستل جائز دى.

د في سبيل الله د مصرفيت بيان

وَفِي سَبِيلِ اللهِ مُنْقَطِعُ الْغُزَاةِ[2] اود في سبيل الله نه مراد دادي چه دغازيانو نه پاتي شي

---

[1] ، مذهب الشافعي رحمه الله:- امام شافعي رحمه الله فرماني.چه غارم هغه كس دي.چه ده دوه متحارب (جنگ كونكي)مسلمانانولو په مينځ كښې د صلح كولو اود دښمنۍ اورمړكولو په خاطر څه مالي تاوان برداشت كړو.نودا كس اگرچه مالدار وي.خوددي مقصد دپاره زكاة اخستلي شي.او زمونږ په نيز داكس زكاة نشي اخستلي.ځوكه اصلاح بين الناس باندي د خرچ كولو نه پس د مقدار نصاب مالك پاتي نشو.نو اخستلي شي.خودا اخستل د غارم په وجه نه دي.بلكه فقير يعنى د مقدارنصاب دنه مالك كيدلوپه وجه دى

[2] ، القول الراجح هو هذا قول أبي يوسف رحمه الله كذا في ردالمحتار(٢\٦٧) والهندية (١\١٨٨) ومجمع الأنهر(١\٢٢١) والبحرالرائق (٢\٢٤٢) والفقه الإسلامي وأدلته (٢\٨٧٤) نقلاً عن القول الراجح (١\١٨٥)۔

تشريح > تعريف من هو .في سبيل الله.> د مصارف زكاة شپږم قسم .في سبيل الله. دي. د .في سبيل الله. په مراد كښې اختلاف دې. ① امام ابويوسف رحمه الله فرماني.چه د .في سبيل الله. نه مراد داسې غازي دې.چه دده په كوركښې خومال موجود دې.خوپه دې وخت دجهاد په سفركښې دده سره مال نشته.

دليله > څكه لفظ د .في سبيل الله.چه كله مطلق او ونيلې شي.نوددې نه هم دا مراد اخستلې شي.

منهب محمد رحمه الله > په دې مسئله كښې امام محمد رحمه الله فرماني.چه د .في سبيل الله. نه مراد هغه حاجي دې.چه دده په كوركښې خو مال موجود دې.خود حج په سفركښې دده سره مال پاتې نشو.

دليله > اودليل دادې.چه يوكس خپل اوښ .في سبيل الله.كړې وو.نو رسول اكرم ﷺ ارشاد اوفرمانيلو چه په دې حاجيان سواره كړئ. ( ) ددې نه معلومه شوه.چه د.في سبيل الله. اطلاق د حج په سفر باندې تللو والا باندې كيږي.

د مسافر مصرفيت

وَابْنُ السَّبِيلِ مَنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فِي وَطَنِهِ او ابن السبيل هغه دې چه دده مال په وطن كښې وي **وَهُوَ فِي مَكَانٍ آخَرَ لَا شَيْءَ لَهُ فِيهِ** اوپخپله بل ځاني وي هلته دده سره هيڅ څيز نه وي.

تشريح > مصرفية ابن السبيل > اووم قسم .ابن السبيل.دې.د ابن سبيل نه مراد هغه مسافر دې.چه دده په وطن كښې دده ډير مال موجود دې.خوپه دې وخت كښې دده سره هيڅ نشته.نوګويا داكس په دې وخت كښې فقيردې.اود فقير دپاره زكاة اخستل جائزدې.خودده دپاره دضرورت نه زيات اخستل جائزنه دې. عالمانو ليكلي دي.چه غوره داده.چه داكس قرض واخلي.اوچه كورته لاړشي نوادا ئې كړي.

اته قسمه مصارف دې مستحق نه دې

فَهٰذِهِ جِهَاتُ الزَّكَاةِ صاحب دكتاب فرماني چه دادزكاة مصارف دي **وَلِلْمَالِكِ أَنْ يَدْفَعَ إِلٰى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ** نومالك ته اختياردې كه غواړي پدوی كښې دې هر يو ته وركړي ،**وَلَهُ أَنْ يَقْتَصِرَ عَلٰى صِنْفٍ وَاحِدٍ** اوكه غواړي نوپدوی كښې دې په يو صنف (قسم) اقتصار اوكړي ( )

تشريح > هم مصارف الزكاة فقط > ذكرشوي اووه قسمه خلق زمونږ په نيز د زكاة مصارف دي.خود زكاة مستحق نه دي.كه مالك د مال په دې اقسامو كښې هرچاته وركړي . نوهم جائزدې.اوكه پوره زكاة يو قسم خلقو ته وركړي.يانې يوكس ته وركړي.نوهم جائزدي.

دليله > دليل دادې.چه د .للفقراء.لام د اختصاص دپاره دې.د استحقاق دپاره نه دې.يعنې د صدقاتو مصرف صرف دا اووه اقسام دي.ددې نه علاوه نه دي په دې كښې چه چاته هم صدقه وركړې شي.په خپل مصرف كښې به خرچ شي.دا مطلب نه دې.چه دا اووه واړه اقسام د صدقاتو حقدار دي.چه تركومه پورې تولو ته ورنكړې شي.نو صدقه به نه اداكيږي.اووجه ددې داده.چه زكاة په اصل كښې د

( ) **منهب الشافعي رحمه الله:-** امام شافعي رحمه الله فرماني.چه دا اووه واړه قسمه خلق د زكاة مستحق دي.نوپه اووه واړه قسمه كښې چه د هرقسم درې درې كسانوته زكاة وركول ضروري دي.ګويا امام شافعي رحمه الله په نيزكه د هرقسم درې درې كسانو ته زكاة وركړې شو.چه ددوی ټول مجموعي تعداد يويشت جوړيږي.نو زكاة به ادا وي. ګني ادا به نه وي.

الله تعالی حق دي.اود فقیریٰ او محتاجيٰ دعلت په وجه داخلق مصارف شو.ځکه چه الله ﷻ غني دي.ده ته دهیڅ څه حاجت نشته.نوهرکله چه دزکاة مصرف کیدلوعلت فقیری او محتاجي ده.نود محتاجيٰ مختلف وجوهاتوطرف ته به التفات(توجه)نشی کیدي.یعنی محتاجي که په وجه د فقر وی.یا په وجه د مسکینيٰ،یا په وجه د غرامت، یا په وجه د مسافريٰ وی.ددې لحاظ به نشی کیدلې.بلکه کوم خائې کښې چه هم محتاجي بیاموندې شي.هم هغه به د زکاة مصرف وی.

تائیده بمذهب الصحابة > دا مذهب دحضرت عمر اود حضرت ابن عباس ﷺ دې.په طبراني کښې ددې آیت تفسیر نقل دې.(عن ابن عباس ﷺ في قوله تعالیٰ ﴿إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ﴾ (الآیه) قال في أی صنف وضعته أجزأك)یعنی ابن عباس ﷺ ﴿إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ﴾ په تفسیر کښې فرمائیلې دی.چه کوم قسم ته هم ورکوې.زکاة به اداکیږی.اود حضرت عمر ﷺ نه نقل دی.(قال أیما صنف أعطیته من هذا أجزأ عنك) حضرت عمر ﷺ فرمائی.چه کوم قسم ته هم ته زکاة ورکړې.نوکافي به وی.

ذمي ته د زکاة ورکولو حکم

وَلَا يَجُوْزُ أَنْ يَّدْفَعَ الزَّكٰوةَ إِلٰى ذِمِّيٍّ اوجائز نه دی چه ورکړی ذمي ته

تشریح > **عدم جواز أداء الزکاة إلی الذمي** > ذمي ته زکاة ورکول جائز نه دې.

دلیله > دلیل د ابن عباس ﷺ حدیث دې.(أن رسول الله ﷺ بعث معاذا إلی الیمن فقال إنك تأتي قوما أهل الکتاب فادعهم إلی الشهادة،أن لا إله إلا الله، وأني رسول الله ﷺ فإن هم أطاعوك لذالك فأعلمهم أن الله فرض علیهم خمس صلوات في کل یوم ولیلة فإن هم أطاعوك لذالك فإیاك و کرائم أموالهم واتق دعوة المظلوم فإنه لیس بینها وبین الله حجاب)([1])(شرح نقایه بحواله کتب سته) یعنی د ابن عباس ﷺ نه نقل دی.چه رسول الله ﷺ حضرت معاذ ﷺ دیمن قاضي جوړ کړو.اووې لیګلو.نووې فرمائیل.چه ته د اهل کتاب یوقوم ته ورځې.دوی ته د کلمه شهادت(لا إله إلا الله، وأني رسول الله)دعوت ورکړه.که دوی په دې باره کښې ستا فرمان برداری اوکړه.نو دوی ته اووایه.چه الله تعالی په دوی په شپه ورځ کښې پنځه مونځونه فرض کړي دی.اوکه په دوی په دې باره کښې هم ستا اطاعت اوکړی.نودوی خبر کړه.چه الله تعالی په دوی زکاة فرض کړي دې.چه ددوی د مالدارو نه به اخستلې شي.اوددوی فقیرانو ته به ورکولې شي.اوکه ستا په دې کښې هم تابعداری اوکړی.نو ددوی د ښه مال نه بچ اوسه.اود مظوم بد دعاء نه اوبریږه.ځکه چه د مظلوم بد دعاء اود الله تعالی په مینځ کښې پرده نه وی.حاصل داچه د مسلمانانو نه به اخستلې شي.اوپه فقیرانوکښې به تقسیمولې شي.نود (فتؤخذ من أغنیائهم فترد علی فقرائهم)لفظ دلالت کوی.چه غیرمسلم ته زکاة ورکول جائز نه دی.

---

[1]) من حدیث ابن عباس ﷺ أخرجه البخاری في الزکاة باب ۹ ومسلم في الإیمان رقم ۲۹ وأبوداود في الزکاة باب ٥ والترمذی في الزکاة باب ٦ والنسائي في الزکاة باب ٤٦ وابن ماجه في الزکاة باب ۱ وأحمد في المسند (۲۳۳/۱)۔

إعطاء الصدقات إلى الذمي > اود زکاة نه علاوه ذمی ته هره صدقه ورکول جائزدی.که داصدقه واجب وی اوکه مستحب وی.(۱)

دليله > دليل دادې.چه نبی کريم ﷺ فرمائيلي دی.(تصدقوا على أهل الأديان كلها) (۲) يعنی د ټولومذهبونو خلقو ته صدقه ورکوئ.داحديث په دوه خبرو دلالت کوی.يودا چه حربی او مستامن ته هم صدقه ورکول جائزدی.خکه چه د ټولو دينونو په خلقوکښې دې هم شامل دې.دويم داچه زکاة ورکول هم جائز دی.خکه چه د تصدقوا لفظ زکاة ته هم شامل دی.

الاعتراض والجواب > داحديث بې شکه ددې تقاضاکوی.چه ذمی ته زکاة ورکول هم جائزدی. خود معاذ رضی الله عنه دحديث په وجه مونږ ددې دجواز قائل نه يو.حاصل داچه د نبی کريم ﷺ قول (تصدقوا على أهل الأديان كلها) تقاضا کوی. چه ذمی او غيرذمی ټولو ته زکاة ورکول جائزدی.اود معاذ رضی الله عنه حديث د ذمی دپاره دعدم جواز تقاضاکوی.نومونږ د زکاة په سلسله کښې خو د معاذ رضی الله عنه په حديث باندې عمل اوکړو.چه مونږ اووئيل.زکاة صرف مسلمان ته ورکولې شی. ذمی وغيره ته نشی ورکولې.اود نوروصدقاتوپه باره کښې مونږپه حديث(تصدقوا على أهل الأديان كلها) باندې عمل اوکړو.چه مونږ اووئيل.ذمی ته د زکاة نه علاوه نور صدقات مثلاً صدقة الفطر، کفارات وغيره ورکولې شی.

وَلَايُبْنٰى بِهَامَسْجِدٌ اونه به جوړوی په زکاة مسجد وَلَايُكَفَّنُ بِهَامَيِّتٌ اونه به پرې کفن کوی مړی لره.

تشريح > **عدم جواز بناء المسجد وتدفين الميت بالزكاة** > مسئله داده.چه د زکاة په مال نه جومات جوړول جائزدی اونه مړی ته کفن ورکول جائزدی.

دليله > خکه چه د زکاة رکن مالك جوړول دی.په دې وجه چه الله تعالی زکاة په صدقاتو سره تعبير کړې دې اود صدقه معنی ده.فقير د مال مالك جوړل.نومعلومه شوه.چه د زکاة اداکولو دپاره تمليك يعنی مالك جوړول شرط دی.اوپه جومات جوړولوکښې د تمليك معنی نشته.په دې وجه د زکاة په رقم سره د جومات جوړول جائزنه دی.اوچونکه په مړی کښې هم د مالك جوړيدلو صلاحيت نشته.په دې وجه د زکاة په رقم سره به دی ته کفن ورکول هم جائزنه وی.

عدم جواز أداء دين الميت بالزكاة > صاحب دا هدايه رحمه الله دا هم فرمائيلی دی چې د زکاة په مال سره د مړی قرض اداکول هم جائزنه دی.خکه چه غيريعنی د مړی قرض اداکول،ددې تقاضانه کوی.چه دا مال د اول نه دمړی په ملك کښې ورکړې وو.بيا دده د طرفه قرض غوښتونکی ته ورکړې شوې دې.خکه چه په مړی کښې دا صلاحيت نشته.چه په خپل ملك کښې نې واخلی.نوچه په دې صورت کښې هم د تمليك معنی نشته.نو زکاة به نه اداکيږی.

صورة جواز أداء الزكاة في الدين عن الميت > خوکه ژوندی کس چاته حکم اوکړو چه زما دطرفه زما قرضه اداکړه.ده د زکاة په مال سره قرضه اداکړه.نوزکاة اداکيږی.خکه چه په دې صورت کښې گويا زکاة مديون ته ورکړې شو.بيا قرض غوښتونکی دهغه د طرفه وکيل جوړشو.او قبضه نې اوکړه.نو مديون

---

(۱) مذهب الشافعي رحمه الله:-امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه ذمی ته هيڅ قسمه صدقه ورکول جائز نه دی.هم دا قول د امام مالك رحمه الله دې اوهم دا يو روايت د امام ابويوسف رحمه الله دې.

(۲) من حديث سعيد بن جبير رضی الله عنه اخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه (۳/۳۹)۔

کښې دمالك جوړيدلو معنی اوموندلې شوه.اوچه د مالك جوړيدلو معنیٰ اوموندلې شوه.نوده زكاة به هم اداشي.

وَلَاتُشْتَرٰى بِهَارَقَبَةٌتُعْتَقُ اونشی اخستلې په مال دزكاة غلام چه آزاد كړې شي. (١)

تشريح > **تحرير الرقبة بالزكاة** > ① مسئله داده.كه د زكاة په مال غلام يا وينځه واخلي.او آزادكړي.نو زكاة به ادا نه وي.

دليله > دليل دادې.چه اعتاق د ملك ساقط كولو نوم دې.يعنی د مملوك د سټ نه خپل ملك لرې كول.اعتاق د تمليك(مالك كولو)نوم دې. حالانكه د زكاة ركن تمليك دې.نوچه په اعتاق كښې د مالك كيدلو معنیٰ موجود نه ده.بلكه د ملك د ساقطولو معنیٰ موجود ده.نو زكاة به هم نه اداكيږي.

وَلَاتُدْفَعُ اِلٰى غَنِيٍّ اونه به شي وركولې زكاة غنی ته (٢)

تشريح > **إعطاء الزكاة إلي المجاهد الغني** > يعنی كوم كس چه د نصاب مالك وي.هغه ته زكاة وركول جائز نه دي.

دلائله > ① دليل د رسول اللهﷺ حديث(لاتحل الصدقة لغني) (٣) دې.

② او دغه شان حديث دمعاذؓ لكه چه مونږ روايت كړې دې. (٤)

چاته زكاة وركول جائز نه دي

وَلَايَدْفَعُ الْمُزَكِّيْ زَكَاتَهُ اِلٰى أَبِيْهِ وَجَدِّهِ وَاِنْ عَلَا اونه به وركوي زكاة وركونكې دخپل مال زكاة خپل پلار ته اونه خپل نيكه ته.اګرچه پورته وي. وَلَا اِلٰى وَلَدِهٖ وَوَلَدِ وَلَدِهٖ وَاِنْ سَفَلَ اونه خپل خوني ته او نه دخوني خوني ته اګر چه دلاندې درجې وي ولا الي امه وجداته وان علت او نه به وركوي زكاة مور ته او نه نياګانو ته اګرچه پورته وي

تشريح > **عدم جواز إعطاء الزكاة إلي الاصول والفروع** > مسئله داده.چه زكاة وركونكې د خپل مال زكاة نه خپل پلارته وركولې شي.اونه نيكه ته.اونه دا خپل اوچت اصولو ته يعنی د نيكه پلار، اود هغه نيكه وغيره ته، دغه شان نه مورته وركولې شي.اونه نياګانوته،(يعنی د پلار مور اود مور مورته)اونه به اولاد ته وركولې شي.اونه به د اولاد اولاد ته(يعنی نمسو ته)حاصل دا چه نه به اصولوته زكاة وركوي دچا نه چه دې پيدا شوې دې.اونه به فروع ته وركولې شي.كوم چه دده نه پيدا شوی دی.غرض داچه دچاسره ئې د ولادت رشته ده.هغوی ته د خپل مال زكاة وركول جائز نه دې.

دليله > دليل دادې.چه د املاك منافع ددې خلقو په مينځ كښې متصل وي.اومشترك وي.نو دوی ته به د زكاة وركولو په صورت كښې تمليك پوره طورمتحقق نه كيږي.حالانكه تمليك د زكاة ركن دې.

---

١) مذهب مالك رحمه الله:- د حضرت امام مالك رحمه الله په نيز زكاة اداكيږي.

٢) مذهب الشافعي رحمه الله:- امام شافعی رحمه الله مالداره غازيانو دپاره د زكاة وركولو اجازت وركړې دې.تفصيل ئې مخ كښې تيرشو.خودا حديث اوحديث د معاذؓ (فترد في فقرائهم) د دوی خلاف دې.

٣) من حديث عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما اخرجه ابوداود في الزكاة باب ٢٤ رقم ١٦٣٤ والترمذي في الزكاة باب ٢٣ رقم ٦٥٢ واحمد في المسند(١٦٤/٢)

٤) تقدم تخريجه من قريب.

وَلَا إِلَى امْرَأَتِهِ) اونه به ورکوی خپلې ښځې ته په وجه دمشترک کیدو دتفعو عادتاً

تشریح > **عدم جواز إعطاء الزکاة إلي الزوجة** > اود خاوند خپلې ښځې ته زکاة ورکول جائز نه دی.ځکه چه عام طور د ښځې خاوند په مینځ کښې هم منافع مشترك وی.یعنی دښځې مال د خاوند مال، اود خاوند مال د ښځې مال شمارلې شی.اوهر یو د بل د مال نه نفع اوچتوی.

دلیله > رسول الله ﷺ فرمانی. ﴿وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ﴾ (الایه)او وې موندلې ته مفلس،بیانې بې پرواه کړې . ددې په تفسیرکښې ونیلې شوې دی.چه نبی کریم ﷺ د دوی د بی بی په مال غنی او مالداره شو .معلومه شوه.چه د ښځې په مالداره کیدو سره خاوند مالدار شمارلې شی.اوددې په عکس هم،نوهرکله چه داسې ده.نود خاوند خپلې ښځې ته زکاة ورکول گویا چه د یوجیب نه اوبنکل اوبل جیب ته اچول دی.اوبنکاره ده چه په دې سره زکاة څنګه اداکیدې شی.

وَلَا تَدْفَعُ الْمَرْأَةُ إِلَى زَوْجِهَا) عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله [1] اونه به ورکوی ښځه خپل خاوند ته.په نزد د امام صاحب رحمه الله وَقَالَا: تَدْفَعُ إِلَيْهِ اوصاحبین رحمهما الله فرمانی چه ورکوی به ورته

تشریح > **إعطاء الزکاة إلي الزوج** > ① اود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د ښځې خپل خاوند ته هم زکاة ورکول جائز نه دې.

دلیله > دلیل دادې.چه د املاك منافع د ښځې او خاوند په مینځ کښې متصل وی.اومشترك وی.نو دوی ته به د زکاة ورکولو په صورت کښې تملیك پوره طورمتحقق نه کیږی.حالاتکه تملیك د زکاة رکن دې.

مذهب الصاحبین > اوصاحبین رحمهما الله فرمانی.چه دښځې خپل خاوند ته زکاة ورکول جائزدی.د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل خودادې.کوم چه وراندې تیرشو.چه منافع په ښځه خاوند کښې مشترك وی.

دلیلهما > اود صاحبینو رحمهما الله دلیل هغه حدیث دې.کوم چه صحیحین او امام نسائی روایت کړې دې. په فتح القدیر کښې داروایت داسې ذکردې. د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه بی بی زینب رضي الله عنها اووئیل چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل .چه اې دښځو ټولګیه، تاسوصدقه ورکوئ.اګرچه ستاسو د کالو ځنې وی.زینب وائی چه زه بیا واپس شوم.دعبدالله مسعود رضي الله عنه ته راغلم.اوما اووئیل.چه د سپك ملك مالك نې.او رسول الله ﷺ مونږ ته د صدقه ورکولو ارشاد اوفرمائیل .نوته لاړ شه.اود رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړه.که ماله دا کافی وی.چه دا زه تاته درکړم.ګنی چه زه ستاسو نه سوې بل چاته ورکړم.زینب وائی.چه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ماته اووئیل.چه هم ته لاړه شه اود رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړه زینب وائی.زه روانه شوم.چه راغلم نوما د رسول الله ﷺ په دروازه باندې یوه انصاری ښځه اولیدله.کوم چه زماحاجت وو.هم هغه د انصاری ښځې هم حاجت وو.(یعنی کوم مقصد چه زما د حاضرئ وو.هم هغه ددې د حاضرئ وو) زینب رضي الله عنها وائی.چه په نبی کریم ﷺ باندې دبدبه او رعب اچولې شوې وو (یعنی ددوی ﷺ په ذات اقدس باندې رعب وو خلقو به چه ددوی سره خبره کوله نوویریدل به) زینب وائی.چه بلال بهر راغې نوما اووئیل.چه ته رسول الله ﷺ ته لاړشه.او خبر ورکړه.چه په دروازه کښې دوه ښځې دی.ستاسو نه تپوس کول غواړی.چه آیا ددوی دواړو د طرفه ددوی صدقه ورکول.خپلو خاوندانو ته او خپلو

[1]) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الدري لمختار (٦٩/٢) والبحرالرائق (٢٤٤/٢) والهندية (١٨٩/١) نقلاً عن القول الراجح (١٨٦/١)-

يتيمانو بچوته كافي دى.اودا مه وايه.چه مونږ دواړه ځوك يو.زينب وائي.چه بلال ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضرشو.اوتپوس ئي اوكړو.رسول الله ﷺ بلال ته اوفرمائيل.چه دا دواړه ښځې څوك دى.بلال ورته اووئيل.چه يوه خوانصاري ښځه ده.اويوه زينب ده. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل.كومه زينب.وې وئيل.چه د عبدالله بن مسعود رضي الله عنهما بيګم ده. نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.چه دې دواړو دپاره دوه اجره دى.يود قرابت اجر،اوبل د صدقه اجر. (١) ددې تفصيلى حديث نه معلومه شوه.چه دښځې دپاره خپل خاوند ته زكاة وركول جائزدى.

ألجواب عنه ددې جواب دادې.چه دا روايت په نفلى صدقاتو باندې محمول دې.يعنى ښځه كه نفلى صدقه خپل خاوند ته وركوى.نودې ته به دوچند اجرملاويږى.يود صله رحمي او دويم د صدقه.د صاحبينو رحمهما الله دطرفه چه كوم حديث پيش شوې دې.د هغې نه هم داښكاره كيږى.څكه چه زينب د خپل خاوند اود خپل تيرشوى خاوند د يتيمانو بچو په باره كښې تپوس كړې وو. اونبى كريم ﷺ دواړو ته د وركولو اجازت وركړې دې.حالانكه اولاد ته زكاة وركول بالاتفاق جائزنه دې. نومعلومه شوه.چه په دې حديث كښې نفلى صدقات مراد دى.زكاة نه دې مراد.

خپل هرقسمه غلام ته د زكاةوركولو عدم جواز

وَلَايَدْفَعُ إِلَى مُكَاتَبِهٖ وَلَامَمْلُوكِهٖ اونه به وركوى خپل مكاتب اومملوك غلام ته

تشريح **عدم جواز إعطاء الزكاة إلى غلامه** مسئله داده.چه خپل مدبر ته هم زكاة وركول جائزنه دې.مدبركه مطلق وى،اوكه مقيد وى.مدبر مطلق هغه دې.چه ده ته آزادى مالك په خپل مرګ سرہ معلق كړې وى. مثلاً وې وئيل.چه ته زما د مرګ نه پس آزاد ئي.او مدبر مقيد هغه دې.چه ده ته مولا آزادى په خپل يوخاص قسم مرګ باندې معلق كړې وى.مثلاً وئيلي ئې وى.چه كه په فلانكى بيمارئ كښې مرشوم.نوته آزاد يې.او خپل مكاتب او خپل ام ولد ته هم زكاة وركول ناجائزدى.

دليله دليل دادې.چه په دې درې واړو كښې تمليك اونه مونده شو.څكه چه مدبر او ام ولد ،من كل وجه، مملوك وى.اود مملوك ګټه د مولا دپاره وى.اود مكاتب په ګټه كښې د مولا حق وى.نودوى ته زكاة وركول داسې دى لكه چه خپل خان ته وركول.اود خپل مال زكاة په خپله خپل خان ته وركولوسره نه اداكيږى.څكه چه د زكاة ادا كولو دپاره د غيرمالك كول شرط دى.اودا معنى دلته موجود نشوه.په دې وجه دوى ته زكاة وركول ټيك نه دى.

إعطاء الزكاة لإعتاق البعض د مسئله صورت دادې.چه يوغلام د دوه كسانو په مينځ كښې مشترك دې.په دوى كښې يوخپله حصه آزاده كړه.اودا آزادونكې تنګدست (غريب)دې نو دويم شريك خپله حصه ازاده كړى.يايه غلام باندې مزدورى اوكړى اود خپلې حصې قيمت وصول كړى. كه دويم شريك دخپلې حصې قيمت اخستل اختياركړل. نود حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دا غلام د دې بل شريك په حق كښې د مكاتب په منزله كښې دې. (٢)

---

(١) من حديث زينب إمرأة ابن مسعود رضي الله عنهما اخرجه البخاري في الزكاة باب ٤٨ رقم ٧٧٨ ومسلم في الزكاة رقم ٤٥ والترمذى في الزكاة باب ١٢ رقم ٦٣٥ والنسائي في الزكاة باب ٨٢ رقم ٢٤٢١ وابن ماجه في الزكاة باب ٢٤ رقم ١٨٣٤ والدارمى في الزكاة باب ٢٣ واحمد في المسند(٦/٢٦٣)۔

(٢) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الدرر المختار(٢/١٠٧) وخلاصة الفتاوى (١/٢٤٢) والهندية (١/١٩١) نقلاً عن القول الراجح (١/١٨٧)۔

دلیله> ځکه چه دا داسې شو.لکه چه څوک خپل قرضدارته د خپل مال زکاة ورکړی.بیا هم ددې مال نه خپل قرض وصول کړی.نوبه دې کښې هیڅ باك نشته.دغه شان د شریك آخر دپاره جائزدی.چه دې د خپل مال زکاة دې ،معتق البعض،غلام ته ورکړی.

مذهب الصاحبين> اود صاحبینو رحمهما الله په نیز آزاد دې.خو دده قرضدار دې.

دليلهما> د صاحبینو په نیز دې آزاد مقروض دې او ازاد مقروض ته زکاة ورکول جائز دی نو ده ته هم ورکول جائز شو

ثمرة الإختلاف> نود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزچونکه دا غلام د بل شریك په حق کښې په منزله د مکاتب دې.اوخپل مکاتب ته زکاة ورکول جائزنه دې.په دې وجه ددې بل شریك دپاره خپل دې غلام ته زکاة ورکول جائزنه دې.اود صاحبینو رحمهما الله په نیزچونکه دا غلام پوره په پوره تول آزاد شوې دې.خوددې دویم شریك قرضداردې.په دې وجه دا دویم شریك که ده ته زکاة ورکول اوغواړی.نو شرعاً جائزدې.

د مالدار غلام ته زکاةورکول

وَلَا إِلَى مَمْلُوكِ غَنِيٍّ اونه به ورکوی دمالداره غلام ته.

تشريح> **عدم إعطاء الزكاة إلي غلام الغني**>مسئله داده.چه د مالداره مملوك ته زكاة ورکول جائزنه دې.مملوك كه غلام محض وی.اوکه مدبر،اوکه ام ولد وی.

دليله> دلیل دادې.چه د مملوك هرمال د مولا ملك وی.نوکه د مالداره مملوك ته زكاة ورکړې شو.نودا د زکاة مال به د مالداره په ملك کښې داخل شی اود غنی دپاره زکاة جائز نه دې.په دې وجه به دده د مملوك دپاره هم جائز نه وی.البته د مالداره مکاتب ته زکاة ورکول جائزدی.او وجه د جواز نص قرآنی {وَفِي الرِّقَابِ} دې.

د مالدار ځوی ته زکاةورکول

وَلَا إِلَى وَلَدِ غَنِيٍّ إِذَا كَانَ صَغِيرًا اونه به ورکوی دمالداربچی ته کله چه هغه نابالغ وی.

تشريح> **عدم جواز إعطاءإلي ولد الغني**> مسئله داده.چه د مالداره نابالغ بچی ته هم زکاة ورکول جائز نه دې.

دليله> ځکه چه نابالغه اولاد د خپل پلار د مال په وجه مالداره شمارلې شی.

جواز اعطاء الزكاة الي ولد الغني الكبير> اوکه د مالداره اولاد بالغ وی او فقیران وی.نو زکاة ورکول جائز دی.

دليله:ځکه چه بالغ اولاد د خپل پلار د مالداره کیدلو په وجه مالداره نه شمارلې کیږی. اگرچه ددوی نفقه ددوی په پلار باندې واجب ده.خو چونکه دې په حقیقت کښې پخپله فقیر دې.په دې وجه دوی ته زکاة ورکول جائز دی.

بنوهاشم ته د زكاةوركولو حكم

وَلَا يُدْفَعُ إِلَى بَنِي هَاشِمٍ اوزکاة به نه ورکوی بنوهاشم ته

تشريح> **عدم جواز إعطاء الزكاة إلي بني هاشم**>بنوهاشم ته هم زکاة ورکول جائز نه دی.

دليله> دلیل د رسول الله ﷺ ارشاد دې.علامه ابن الهمام رحمه الله دا حدیث په دې الفاظوسره ذکرکړې دې.

(یابنی هاشم إن الله کره لکم غسالة أیدی الناس وأوساخهم وعوضکم منها بخمس الخمس)([1]) یعنی ای بنوهاشم الله تعالی ستاسو دپاره د خلقود لاسونو وینځلي شوي (اوبه) اود هغې خیري ناخوښه کړي دي.اود هغې په عوض کښې نې ستاسو دپاره د خمس، خمس درکړې دې.یعنی دمال غنیمت د پنځوحصو نه څلورحصې خو په غازیانوکښې تقسیمیږی. اوپاتې شوه یوه حصه، نوددې به بیا پنځه حصې کولې شی.په دې کښې یوه حصه خود بنوهاشم ده.او باقی څلور حصې به په نورو مصارفو کښې خرج کولې شی.

جوازإعطاء الصدقة التطوع إلي بني هاشم> په خلاف د نفلی صدقاتوچه دا بنوهاشم ته ورکولې شی. دلیل دا دې.چه مال دلته کښې د اوبو په شان دې.نوکه اوبه د فرض ساقطولو دپاره یعنی د حدث لرې کولو دپاره استعمال کړې شی.نو اوبه ګنده شمارلې شی.دغه شان کوم مال چه د فریضه ساقطولو دپاره استعمال کړې شی.هغه به هم دخیرونه دک اوګنده شمارلې شی.اوکه څوک غیرمحدث وی.اودې بیا د یخوالی حاصلولودپاره اوبه استعمال کړی.نودا اوبه پاکې او مطهرې دی.ترديې چه په دې اودس کول هم جائز دې.دغه شان د نفلی صدقاتومال هم پاک دې.د بنوهاشم دپاره ددې اخستل جائزدې.

د بنوهاشم مصداق

وَهُمْ آلُ عَلِيٍّ وَآلُ عَبَّاسٍ وَآلُ جَعْفَرٍ وَآلُ عَقِيلٍ وَآلُ حَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ اوبنو هاشم، آل علی،آل عباس او آل جعفراو آل دعقیل او آل دحارت بن عبدالمطلب **وَمَوَالِيهِمْ** او ددوی موالی دی.

تشریح > **من هم بنو هاشم**> په دې عبارت کښې خودلې شوې دی چه بنوهاشم کوم خلق دی.نو فرمائی.چه دحضرت علیؓ اولاد که د فاطمه ؓ د بطن نه وی.اوکه د نورو بیبیانو د بطن نه وی.اوپه خپله حضرت علیؓ هم په بنوهاشم کښې داخل دې.اود حضرت عباسؓ اولاد سره د عباسؓ نه.اوجعفرؓ اود جعفرؓ اولاد ،او عقیلؓ اود عقیلؓ اولاد ،اوحارث بن عبدالمطلبؓ او ددوی اولاد ،اوددوی آزاد شوی غلامان ټول بنوهاشم کښې داخل دی.

دلیل عدم استحقاق بني هاشم > ذکرشوی حضرات او ددوی اولاد بنوهاشم په دې وجه دی.چه دا ټول حضرات د نبی کریمﷺ جد اعلی هاشم بن عبدمناف طرف ته منسوب دی.اوقبیله بنوهاشم، د هاشم بن عبد مناف طرف ته د منسوب کیدلو په وجه ورته هاشمی وئیلې شی.

دلیل عدم استحقاق موالي بني هاشم > او ددوی موالی یعنی آزاد شوی غلامانو ته هاشمی په دې وجه وئیلې شی.چه په ابوداؤد کښې تفصیلی روایت موجود دې.(عن أبي رافع مولا رسول اللهﷺ أن النبیﷺ بعث رجلاً من بني مخزوم علی الصدقة فقال لأبي رافع أصحبني فإنك تصیب منها قال حتی آتی النبیﷺ فأسئله فأتاه فسأله، فقال مولا القوم من أنفسهم وأنا لاتحل لنا الصدقة)([2])د نبی کریمﷺ آزاد شوې غلام ابورافع نه روایت دې.چه رسول اللهﷺ د بنومخزوم یوکس د صدقاتو په وصولولو باندې عامل مقررکړو.ده ابورافع ته اووئیل.چه ماسره

---

[1]) غربه الزیلعی ؒ بهذا اللفظ ثم ذکرحدیث عبدالمطلب بن ربیعه مرفوعاً إن هذه الصدقات إنما هي أوساخ الناس وإنها لا تحل لمحمد ولآل محمد الحدیث (نصب الرایة (۲/۴۲۰)۔

[2]) من حدیث أبي رافع مولی رسول اللهﷺ أخرجه أبوداود في الزکاة باب ۲۹ رقم ۱۶۵۰ والترمذی في الزکاة باب ۲۵ رقم ۶۵۷ والنسائي في الزکاة باب ۹۷ رقم)۔

لارشه.چه د صدقاتو نه تاته هم ملاوشي.ابورافع اوونيل.چه نه.تردې چه زه نبی کریمﷺ ته لاړشم .اوتپوس اونکړم.بيا ابورافع په دربار رسالت کښې حاضرشو.تپوس ئې اوکړو.(چه ماله صدقه حلاله ده ؟)نبی کریمﷺ اوفرمانيل.چه د يوقوم مولا(غلام)هم د هغه قوم کس وی.اوموږ خلقو ته صدقه حلاله نه ده.يعنې دبنوهاشم موالي هم چونکه په بنوهاشم کښې شامل دی.په دې وجه د بنوهاشم په شان ددوی دپاره هم صدقه حلال نه ده.

جواز أخذ الصدقة لأولاد أبي لهب>ددې خبرې لحاظ به ساتلې شي.چه ابولهب چه د نبی کریمﷺ تره دې .اود هاشم بن عبد مناف په اولاد کښې دې.که دده په اولادکښې څوک مسلمان وی.نو دده دپاره صدقه حلاله ده.ځکه چه د بنوهاشم دپاره صدقه ددوی د اکرام په لحاظ سره حرامه شویده.اودا اکرام خو رومبې د آباء(نيکونو)دپاره ثابت دې. بیاددوی په وجه ددوی د اولاد دپاره ثابت دې.اود بنوهاشم اکرام په دې وجه ضروری شوې دې.چه دوی د جاهليت اود اسلام په زمانه کښې د رسول اکرمﷺ نصرت اومدد کړې دې. اوبدبخت ابولهب معصوم نبیﷺ ته اذيت ناك تکليفونه رسولی دی.په دې وجه نه دې د اکرام مستحق دې. اونه دده اولاد د اکرام مستحق دې.اګرچه دده اولاد مسلمان وی.په دې وجه دده د مسلمان اولاد دپاره هم صدقه حلاله ده.

مستحق گنړل او زکاة ورکول

قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ: امام ابوحنيفه اوامام محمد رحمهما الله فرمائی إِذَا دَفَعَ الزَّكَاةَ إِلَى رَجُلٍ يَظُنُّهُ فَقِيرًا ثُمَّ بَانَ أَنَّهُ غَنِيٌّ أَوْهَاشِمِيٌّ أَوْكَافِرٌ هرکله چه زکاة ورکړو يوسړی ته چه ګمان ئې پرې د فقير وو.بيا ښکاره شوه چه هغه غنی وو يا هاشمی وو ياکافر وو أَوْدَفَعَ فِي ظُلْمَةٍ إِلَى فَقِيرٍ فَبَانَ أَنَّهُ أَبُوهُ أَوابْنُهُ فَلَاإِعَادَةَ عَلَيْهِ (١)يا ئې په تياره کښې فقير ته ورکړو نو ظاهره شوه چه هغه دده پلار يا ئې ځوئې وو. پدِه اعاده نشته دې.

تشريح> **الصور الثلاث في إعطاء الزكاة إلي غير المستحق**>مسئله داده.چه يوکس څوك د زکاة مصرف اوګڼړلو.او زکاة ئې ورکړو.نو اوس ددې درې صورتونه دی. ①دا چه روسته معلوم شو.چه چاته ئې زکاة ورکړې دې.هغه د زکاة مصرف دې. ②داچه مزکی(زکاة ورکونکی) ته دده حال قطعاً معلوم نشو.چه چاته زکاة ورکړې شوې دې.دا د زکاة مصرف دې اوکه نه. ③داچه مزکی ته معلوم شو.چه چاته زکاة ورکړې شوې دې.دا د زکاة مصرف نه دې.مثلاً چاته چه د زکاة د مصرف په خيال زکاة ورکړې شوې دې.هغه مالداره دې.يا هاشمی کورنئ سره تعلق ساتی.ياکافر دې.يا د مزکی پلاردې يا دده ځوې دې.په رومبو دوه صورتونوکښې به په اتفاق سره زکاة ادا کوی.

الصورة الثالثة>اوپه دريم صورت کښې د طرفينو رحمهما الله په نيز ځوجائزدې. ①د طرفينو رحمهما الله په نيز به په دې صورت کښې دوباره زکاة ورکول لازمی نه وی.بلکه کوم چه ورکړې شوې دې.هم هغه کافی دې.

دليلهما>د طرفينو رحمهما الله دليل د امام بخاری رحمه الله دبيان مطابق د معن بن يزيد حديث دې. علامه ابن الهمام رحمه الله په فتح القدير کښې او ملاعلی قاری رحمه الله په شرح نقايه کښې دا حديث په دې الفاظوسره ذکر کړې دې.(عن معن بن يزيد قال بايعت رسول اللهﷺ أنا وأبي وجدي وخطب علي فأنكحني وخاصمت إليه وكان أبي يزيد

(١) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة ومحمد رحمهما الله كذا في العناية (٢\٢١٤) وردالمحتار(٢\٧٤) والبحرالرائق (٢\٢٤٨) والهندية (١\١٩٠) والفقه الإسلامي وأدلته (٢\٨٨٢) نقلاً عن القول الراجح (١\١٨٨)۔

أخرج دنانير يتصدق بها فوضعها عند رجل في المسجد فجئت فأخذتها فأتيته بها فقال والله ما إياك أردت فخاصمته إلى رسول الله ﷺ فقال لك مانويت يا يزيد ولك ما أخذت يا معن) (¹) معن بن يزيد وائي.چه ما او زمامور او پلار او زما نيكه رسول الله ﷺ سره بيعت اوكړو.اوهم دوى زما د نكاح پيغام وركړو.اوهم دوى زما نكاح اوكړه.اوما په يوه مسئله كښې دوى سره مخاصمه (جګړه) اوكړه.(معن بن يزيد دخپل تعارف نه پس اوفرمائيل)چه زماپلار يزيد د اشرفو يوه تهيلئ راويستله.چه داصدقه كړى.نودا ني په جومات كښې يوكس سره كيخودله.بياما دغه اشرفئ راواخستلې. او راغلم.(زما پلار يزيد)اوونيل.چه والله ما ستا نيت نه ووكړي.نوما دا معامله په دربار رسالت كښې پيش كړله.نونبى كريم ﷺ اوفرمائيل.اى يزيده ! ستادپاره هغه ثواب دې.كوم چه تا نيت كړې دې.او اى معن ستا دپاره دا اشرفئ دى.كومې چه تا راخستې دى.

ألإستدلال> په دې حديث كښې يزيد ته د دوباره كولو او معن ته د واپس كولوحكم نه دې وركړې شى. حالانكه معن ته دده د پلار(يزيد)وكيل د پلار صدقه وركړې وه.ددې حديث نه معلومه شوه.چه كه روسته په غيرمصرف كښې د زكاة وركولو علم اوشو.نوپه مزكى به د زكاة اعاده واجب نه وى.بلكه رومبې زكاة به ادا شمارلې شى.كه څوك دا اووائى.چه ممكن ده.يزيد دَ نفلى د صدقه اشرفئ وركړې وى.اونفلى صدقه د خوى دپاره جائزده.نودا حديث د طرفينو رحمهما الله مستدل څنګه كيدې شى.نوددې جواب دادې.چه بې شكه چه دا احتمال شته. خود رسول اكرم ﷺ په قول(لك مانويت)كښې د ما موصوله په وجه عموم دې. يعنى د هر نيت صدقه كښې جواز دې. يعنى كه د نفلى صدقه نيت اوكړى. نو ددې ثواب به ملاويږى. اوكه د زكاة(مفروضه صدقه)نيت اوكړى.نوددې ثواب به ملاويږى.

② دطرفينو رحمهما الله دويم دليل دادې.چه په ذكرشوې څيزونو باندې معلومات حاصلول ممكن دى.داخبره منو.خوددې څيزونو علم به د ظن غالب په طوروى.د يقين په طوربه نه وى.څكه چه داخبره ډيره مشكله ده.چه په قطعى طور دچا محتاجى معلومه كړې شى.نوپه دې څيزونوكښې د حكم بنياد به هم په هغه اجتهاد اوظن غالب باندې وى.كوم چه دده په نيز واقع شى.تردې كه دده په نيز دا اعتقاد واقع شو.چه داكس فقيردې.نوده ته به د زكاة په وركولو سره د الله تعالى دحكم اطاعت اوشى.او زكاة به ادا شى.

نظيره> اودا داسې ده.لكه چه په مونځ كونكى باندې د قبله طرف مشتبه شى.بيا ده تحرى اوكړه.او مونځ ني اوكړو.نودده مونځ اداشو.اګرچه روسته معلوم شى.چه ده صحيح طرف ته مخ كولوسره مونځ نه دې كړې.څكه چه ددې بنياد په اجتهاد دې.په يقين باندې نه دې.نو څنګه چه تحرى واقع شى.هغه طرف ته به مونځ اداوى.دغه شان زكاة اداشو.اګرچه روسته معلومه شى.چه چاته زكاة وركړې شوې دى.هغه د زكاة مصرف نه وو.

وَقَالَ أَبُويُوسُفَ عَلَيهِ الإِعَادَةُ)او امام ابويوسف رحمه الله فرمائى چه پده اعاده لازمه ده.

تشريح> مذهب ابي يوسف رحمه الله > او امام ابويوسف رحمه الله فرمائى.چه په دې صورت كښې به زكاة ادا نه وى.بلكه په مزكى به دوباره زكاة وركول لازم وى.او مزكى چه كوم مال د زكاة په طور وركړې دې.هغه به د هغه نه واپس نه اخلى.

¹) من حديث معن رضي الله عنه اخرجه البخارى في الزكاة باب ۱۵)_

دلائله ﴿د امام ابویوسف رحمه الله دلیل دادي.چه مزکی ته په یقین سره معلوم شوي ده.چه ما په زکاة اداکولو کښې غلطي کړیده.او زکاة مې په غیر مصرف کښې ورکړې دې.اود مزکی دپاره په دې ځیزونو باندې خان خبرول،چه چاته مې زکاة ورکړې دې.هغه مالداره دې اوکه نه دې.هاشمي دې اوکه غیرهاشمي دې.کافر دې اوکه مسلمان دې.دده پلار یا خوې دې اوکه نه دې، ممکن هم وو. نو هرکله چه په دې ځیزونو خبریدل ممکن وو.او مزکی ته په یقین سره د خپلې غلطۍ علم هم اوشو.نو ونیلې به شی.چه د زکاة مصرف د نه موجودیدلو په وجه دده زکاة ادا نشو.اوچه زکاة ادا نشو.نوددې اعاده به واجب وی.

② اوځکه چه پدې ځیزونو خبرداري په ذریعه د اجتهاد ده نه که په قطعي طور. نوبناء دکار به پدې ځیزونو کښې په دې اجتهاد وی کوم چه دده په نزد واقع وی

جواب﴿ د دې جواب د طرفینو د دویم دلیل په ضمن کښې شوې دې په هغې باندې یوځل بیا نظر واچوه او جواب باندې خان پوهه کړه

② **نظائره** ﴿اودا بالکل داسې دې. ①لکه چه لوښې د ناپاکه لوښو سره ملاوشی.چا تحری اوکړه.اود یو لوښی په اوبوسره ئې اودس اوکړو.بیابښکاره شوه.چه ددې لوښې اوبه ناپاکه وې.نوپه دې صورت کښې د اودس اعاده لازم ده. ②دغه شان که پاکې کپړې د ناپاکه کپړوسره ملاو شوې.اوځه داسې علامت هم نشته.چه په هغې سره ددې پاك یا ناپاك کیدل معلوم شی.نوپه دې کس د مونځ اعاده واجب ده.امام ابویوسف رحمه الله فرمائی.چه ځنګه په دې دواړه صورتونوکښې د اودس اود مونځ اعاده لازمی ده.دغه شان د زکاة په مسئله کښې به د زکاة اعاده هم لازمی وی.اوبه غیرمصرف کښې ورکړې شوې مال به واپس په دې وجه نه اخلی.چه د زکاة د فاسد کیدلوجهت(وجه) ادا نشی ماتولې.نو رومبې ادا به په خپل حال باقی پاتې وی.خود اداکولو د طریقې فاسدکیدلو په وجه به په ده دوباره زکاة ورکول لازمی وی.

الروایتان عن أبي حنیفة في إعطاء الزکاة إلی الغني①﴿د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله نه یو روایت دا دې.چه د زکاة ورکولو نه پس دا ښکاره شی.چه چاته زکاة ورکړې شوې دې.هغه مالداره دې.نو زکاة ادا شو.دوباره د ورکولو ضرورت نشته.اوکه ښکاره شی.چه چاته زکاة ورکړې شوې دې.هغه هاشمی دې یا کافردې.یادده پلاردې.یادده خوې دې.نو زکاة ادا نشو.بلکه ددې اعاده ضروری ده.ددې رائې دلیل دا دې.چه غنی فی الجمله د زکاة مصرف دې.لکه عامل او ساعی اګرچه مالداره وی.دوی ته زکاة ورکول جائزدې.خو هاشمی کافر،د مزکی پلار اودده خوئې قطعاً د زکاة مصرف نه دې.په دې وجه که مالداره فقیراوګڼړی.او زکاة ورکړی.نوزکاة به اداوی.ځکه چه مالدار فی الجمله د زکاة مصرف دې.اوپه باقی صورتونو کښې به زکاة ادا نه وی.ځکه چه هاشمی او کافر وغیره په هیڅ حال کښې هم د زکاة مصرف نه دې.صاحب د هدایه رحمه الله فرمائی.چه ظاهرالروایة رومبې قول دې.یعنی په ټولو صورتونو کښې زکاة ادا شو.چه کله ده مصرف ګنړلې وی.او زکاة ئې ورکړې وی.

جوازأداء الزکاة بعد التحری﴿ صاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلی دی.چه په غیرمصرف کښې زکاة ورکولو سره د زکاة ادا کیدل هغه وخت دی.چه کله زکاة ورکونکی تحری کړې وی.او زکاة ئې ورکړې وی.او دده غالب ګمان داوو.چه داکس د زکاة مصرف دې.اوکه مزکی ته شك وی. چه د زکاة مصرف دې.اوکه نه دې.خوددې باوجود ئې تحری اونکړه.بلکه بغیر د تحری نه ئې هغه ته زکاة ورکړو.یا تحری ئې اوکړه.او زکاة ئې ورکړو.خوغالب ګمان ئې داوو.چه داد زکاة مصرف نه دې.نوپه دې دواړو صورتونو کښې به زکاة ادا نه وی.خوکه روسته ښکاره شی.چه چاته ئې زکاة ورکړې دې.هغه فقیر دې.نو زکاة به

اداشي.اوهم دا صحيح قول دي.

خپل مکاتب یا غلام ته زکاة ورکول

وَلَوْدَفَعَ إِلَى شَخْصٍ ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ عَبْدُهُ مُكَاتَبُهُ لَمْ يَجُزْ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا که چاته ئې زکاة ورکړو بیا معلومه شوه چه دا دده غلام دې.یا ئې مکاتب دې.نونه دې ادا شوې

تشریح> عدم جواز الزکاة إلي المکاتب والغلام> مسئله داده.چه يوکس بغيرد شناخت نه يوکسس ته زکاة ورکړو.بیا معلومه شوه.چه چاته ئې زکاة ورکړې دې.هغه دده غلام دې.يادده مکاتب دې.نودده دا زکاة به ادا نه وي.

دلیله> خکه چه په غلام کښې د ملك اهلیت نشته.په دې وجه تملیك بالکل موجود نه دې.حالانکه د زکاة اداکولو رکن تملیك(مالك كيدل)دې.اومکاتب چونکه رقبةً مملوك دې. اگرچه يداً آزاد دې.نوپه يو اعتبارسره مکاتب،او دده د مال مالك هم مولا دې.په دې وجه خپل مکاتب ته زکاة ورکولوکښې تمليك موجود شو.خو ناقص تمليك اوموندې شو. حالانکه د زکاة اداکولو رکن کامل تمليك دې. ناقص تمليك نه دې.

صاحب نصاب ته زکاة ورکول

وَلَا يَجُوْزُ دَفْعُ الزَّكَاةِ إِلَى مَنْ يَمْلِكُ نِصَابًا اوجائز نه دی ورکول دزکاة هغه چاته چه مالك دنصاب وی. مِنْ أَيِّ مَالٍ كَانَ اگر چه د هرچا مال نه چه وی.

تشریح> عدم جواز أداء الزکاة إلي مالك النصاب> مسئله داده.که څوك د نصاب په مقدار مالك شو.که داد سرو اوسپينو زرو نصاب وي.اوکه د څاروو نصاب وي.اوکه د نوروسامانونو نصاب وي.اوکه د مال، که نامي وي.او که غيرنامي.

دلیله> دليل دا دې چه په شريعت کښې د غنا او مالدارئ دارومدار په نصاب دې چې يو کس د نصاب مالك وي نو هغه مالدار دې که د هر قسم نصاب مالك وي

توضيح الحاجة الأصلية> په دې شرط چه د حاجت اصليه نه زياتي وي.نوده ته زکاة ورکول جائزنه دې.حاجت اصليه لکه چه دده په ذمه قرض وي.ياده ته ددې د استعمال ضرورت وي.مثلاً د يو عالم سره دومره قدرې کتابونه وي.چه ددې قيمت د نصاب اندازه ته رسي.خودې ددې کتابونو محتاج دې.اوپه درس تدريس کښې پکار راځي.نه دې عالم له زکاة اخستل جائزدي. ځکه چه دې اگرچه د نصاب مال دې. خودا نصاب د حاجت اصليه نه زياتي نه دې. په دې وجه ده له د زکاة اخستل ټيك نه دي.

ألسوال والجواب> اوياتې شوه داچه صاحب نصاب ته د زکاة ورکولوعدم جواز دپاره د نصاب کيدلوهيڅ شرط اونه لګولې شو.نوددې جواب دادې.چه د مال نامي کيدل د زکاة دوجوب شرط دې.د زکاة اخستلودپاره دعدم جواز شرط نه دې.نوکه څوك د نصاب غيرنامي مالك وي.نوپه ده به زکاة خو واجب نه وي.خوچونکه دې د شريعت په نظرکښې مالداره دې.په دې وجه دده دپاره زکاة اخستل جائزنه دی.

د نصاب نه کم مالك ته زکاة ورکول

وَيَجُوْزُ دَفْعُهَا إِلَى مَنْ يَمْلِكُ أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ اوهغه ته زکاة ورکول جائز دی کوم چه ددې نه دکم (مال) مالك وی وَإِنْ كَانَ صَحِيْحًا مُكْتَسِبًا اگر چه وی تندرست اوګټه کونکې.

تشریح> دفع الزکاة إلي مالك أقل النصاب> ① مسئله داده.چه زمونږپه نيزڅوك د نصاب نه دکم مال مالك

وي. اګرچه تندرست اوګټونکې وي.ده ته زکاة ورکول جائزدي.

دلائله ① زمونږ دليل دادې.چه کوم کس د نصاب مالك نه وي.د شريعت په نظرکښې دې فقير شمارلې شي.غنی نشی شمارلې.اود زکاة مصرف فقيران وي.نوهرکله چه داکس شرعاً فقير دې نوده ته به زکاة ورکول هم جائز وي.

②دويم دليل دادې.چه د فقر اومحتاجي په حقيقت باندې خبريدل خو ډيرزيات ګران دی.ځکې چه فقر او محتاجي يو پټ امردې.اوقاعده ده.چه کوم امرخفی (پټ) وي.نوددې دليل به ددې قائم مقام ګرځولې شي.په دې دليل به ددې حکم لګولې شي.لکه چه انزال موجب دغسل دې.خوکه چا دخپلې ښځې سره جماع اوکړه.تردې چه دخول هم موجود شو.خو انزال اونشو.نوپه دې صورت کښې هم التقاء د ختانينو د انزال قائم مقام ګرځولې شي.اوپه دې به د غسل د وجوب حکم لګولې شي.اودغه شان که چا خپلې ښځې ته اونيلې. «ان كنت تحبيني فانت طالق»دې جواب ورکړو .«أحبك»يعنی که ته ماسره محبت کوې.نه تاته طلاق دې.هغې اونيل.زه ستاسره محبت کوم.نوطلاق به واقع شی.ځکه چه محبت يومخفی څيز دې.نوددې قول ،احبك، قائم مقام ګرځولې شي. او په دې به حکم لګولې شي.دغه شان فقر امر خفي دې.خوددې دليل يعنی دنصاب کيدل يوښکاره امر دې.په دې وجه به دا د فقر قائم مقام ګنړلې شي.او ونيلې به شي.چه کوم کس د نصاب مالك نه وي. هغه فقير دې.اوفقير ته زکاة ورکول جائزدی.نوده ته به هم زکاة ورکول جائز وي.

د يوښار نه بل ته زکاة منتقل کول

ويُكْرَهُ نَقْلُ الزَّكَاةِ مِنْ بَلَدٍ إِلَى بَلَدٍ آخَرَ اومکروه دی د زکاة مال د يوکلی نه بل کلی ته اوړل. وَإِنَّمَا يُفَرِّقُ صَدَقَةَ كُلِّ قَوْمٍ فِيهِمْ بلکه دهرقوم زکاة به په دوی کښې تقسيمولې شي.

تشريح> **كراهة نقل الزكاة من بلد إلى بلد**> مسئله داده.چه د زکاة مال د يوښار نه بل ښار ته منتقل کول مکروه دی.بلکه د کوم قوم نه چه زکاة اخستلې شوې دې.هم په هغه قوم کښې دا تقسيم کړې شي.

دلائله> ①دليل خود معاذ ﷺ حديث«خذ من أغنيائهم وترد إلى فقرائهم»دې. (¹) يعنی دکوم خانې د مالدارونه چه زکاة اخستلې شوې دې.هم د هغه خانې په فقيرانو باندې تقسيم کړې شی. ②دويم دليل دا دې.چه د زکاة به نه منتقل کولو کښې د ګواندی توب د حق رعايت دې.اوپه منتقل کولوکښې ددې ترك کول لازميږي.

إِلَّا أَنْ يَحْتَاجَ أَنْ يَنْقُلَهَا الْإِنْسَانُ إِلَى قَرَابَتِهِ مګر داچه ضرورت وي ددې چه يوسی بنده دا خپلوانو ته أَوْ إِلَى قَوْمٍ هُمْ أَحْوَجُ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِ بَلَدِهِ اويا د يو داسې قوم دپاره چه ددې ښار دخلقونه زيات محتاج وي.

تشريح> **عدم الكراهة**>خوکه په دويم ښار کښې خوك رشته دار اوسيږي.يا دبل ښارخلق دده دښار دخلقو نه زيات محتاجه وي نومنتقل بغير دکراهته جائزدی

دليله>په دې صورت کښې عدم کراهت په دې وجه دې چه که په دويم ښارکښې دده رشته دار وي. نودوی ته په زکاة ورکولو کښې د زکاة دثواب نه علاوه صله رحمی هم ده.اوکه دبل ښار خلق زيات

---

¹) تقدم تخريجه)_

محتاج وي.نوپه دې وجه (مکروه نه دې)چه د زکاة مقصود د محتاج حاجت لرې کول دی.اوکوم کس ته زیات محتاج وی.هغه زیات مستحق وی.

نفس جواز النقل مع الكراهة>خوکه د رشته دارانو اود زیات محتاج خلقو نه علاوه دنورو خلقو دپاره بل ښارته زکاة منتقل کړی.نوهم جائز دې.اګرچه داسې کول مکروه دی.ځکه چه په قرآن پاك ﴿إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ﴾ (الايه) کښې د زکاة مصرف مطلقاً فقيران خودلې شوی دی.د ګاونډ فقيران ياد يوځاې دفقيرانو څه تخصيص نه دې بيان شوې.او الله ښه پوهيږی.

د صدقة الفطر بيان

بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

(دا) باب د صدقة الفطر (په بيان کښې) دې.

تشريح> **الربط بما قبله**>په صدقة الفطر او زکاة کښې مناسبت ښکاره دې.چه دواړه مالی عبادتونه دی. خوصدقة الفطرواجب دې.او زکاة فرض دې.په دې وجه صدقة الفطر په نسبت د زکاة يوه درجه کمتر دې.په دې وجه د صدقة الفطر احکام د زکاة د احکامو نه روسته ذکرکړې شو.

وجه تسمية الصدقة>د صدقه معنی،عطيه،ده.خومراد هغه عطيه ده.کومه چه د تقرب الهی په اميد سره ورکړې شی.اود صدقه نوم ايخودلو وجه داده.چه په دې سره په ثواب حاصلولو کښې د شوق صداقت ښکاره کيږی.لکه څنګه چه په صداق(مهر)سره د ښځې په سلسله کښې د سړی د شوق صداقت ښکاره کيږی (عنايه)

معنی الفطر>او فطر،د فطرت نه ماخوذ دې.په معنیٰ د نفس اوخلقت،ځکه چه دا صدقه د هرنفس د طرفه ورکولې شی.تردې چه د اختر په روښانه شپه کښې د صباصادق نه وړاندې چه کوم ماشوم پيداشی.د هغه د طرفه هم ورکولې شی.

الفطر في الشريعة>اوپه شريعت کښې صدقة الفطرهغه صدقه ده.کومه چه د عبادت،اود صله په طور دمهربانۍ په خيال ورکولې شی.

سببه> د صدقة الفطر مشروع کيدلو سبب په سنن ابی داؤد او ابن ماجه کښې دادې(عن ابن عباس رضی الله عنه فرض رسول الله ﷺ زكاة الفطر طهرللصائم من اللغو والرفث وطعمة للمساكين من أداها قبل الصلاة فهى زكاة مقبولة ومن أداها بعد الصلاة فهوصدقة من الصدقات) حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی.چه نبی کريم ﷺ صدقة الفطر فرض اوفرمائيل.چه د روژه نيولودپاره لغو اود بې هوده نه پاکونکې دې.اود مسکينانودپاره طعام دې.نوچاچه دا دمونځ نه وړاندې اداکړله.نودا مقبول زکاة دې.اوچاچه د مونځ نه پس اداکړله.نود نورو صدقاتو په شان يوه صدقه ده.

تاريخ وجوب صدقة الفطر>دا په ذهن کښې ساتل پکاردی.چه د صدقة الفطر وجوب د زکاة د حکم نه مقدم دې.لکه څنګه چه حافظ ابن حجرد نسائی او ابن ماجه په حواله سره دحضرت قيس بن سعد بن عباده رضی الله عنه روايت نقل کړې دې.چه(أمرنا رسول الله ﷺ بصدقة الفطر قبل أن تنزل الزكاة.....الحديث) يعنی رسول اکرم ﷺ مونږ ته د نزول زکاة نه وړاندې دصدقة الفطرحکم راکړې وو.

د صدقة فطر شرعی حکم

صَدَقَةُ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ صدقه فطرواجب ده په آزاد مسلمان **إِذَا كَانَ مَالِكًا لِمِقْدَارِ النِّصَابِ**

فَاضِلًا عَنْ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِهِ وَأَثَاثِهِ وَفَرَسِهِ وَسِلَاحِهِ وَعَبِيدِهِ لِلْخِدْمَةِ هركله چه مالك وى دمقدار دنصاب كوم چه فاضل وى دده د رهائش جامو اسباب اواس دده او وسلې دده او خدمتى غلامانودده نه.

تشريح> حكم صدقة الفطر> زمونږ په نيز صدقة الفطرواجب ده.يعنى په داسې دليل سره ثابت ده.چه په هغې كښې شبه ده.

شروط وجوب صدقة الفطر> په چاچه صدقة الفطر واجب وى.دهغه دپاره يوخوشرطونه دى① آزاد وى ② مسلمان وى ③د نصاب په مقدار مالك وى.

دانصاب كه نامى وى.اوكه نامى نه وى.خوچه دضروريات اصليه نه زياتى وى.مثلاً د اوسيدو كور،د اغوستلو كپړې، دكور د استعمال سامان،د سوارلۍ اسونه،(نن صبا دخان داستعمال دپاره سائيكل، موټر سائيكل، موټر وغيره د استعمال اسلحه،اود خدمت د غلامانو نه زياتى وى.نوكه دچاسره دوه كورونه وى.چه په يوكښې اوسيږى. او په بل كښې نه اوسيږى.كه هغه نې په كرايه باندې وركړې وى.يانې په كرايه باندې نه وى وركړې.په غنىٰ (مالدارئ)كښې به ددې قيمت معتبروى.تردې چه كه ددې قيمت دوه سوه درهمه برابروو. نوپه ده به صدقة الفطر واجب وى.

دليل الوجوب> دليل دادې.چه نبى كريمﷺ په خپله خطبه كښې اوفرمائيل.(أدّوا عن كل حر وعبد صغير او كبير نصف صاع من بر او صاعاً من شعير)(١) په حديث كښې صغير اوكبير دعبد صفتونه دى. نه د حر اود عبد دواړو.خكه چه غلام به ياصغير وى.يابه كبيروى.د دواړو د طرفه به په مولا باندې صدقة الفطر واجب وى.ليكن آزاد اولاد كه كبير وى.نوددوى دطرفه به په پلار باندې صدقة الفطرواجب نه وى. صرف د صغير اولاد د طرفه به واجب وى . بهرحال داحديث كوم چه ثعلبه بن صعيرعدوى روايت كړې دې.خبر واحد دې.اوخبر واحد دليل ظنى وى.دليل قطعى نه وى.اوپه دليل ظنى سره وجوب ثابتيږى. خو فرضيت نه ثابتيږى.په دې وجه مونږ وايو.چه صدقة الفطر واجب ده.فرض نه ده.اود ابن عمرؓ حديث كښې لفظ دفرض نه اصطلاحى فرض مراد نه دې.چه ددې منكر كافروى.بلكه د فرض نه مراد معنىٰ د امر ده.اوپه امرسره وجوب ثابتيږى.فرضيت نه ثابتيږى.

وجه شرطية الحرية> د صدقه د وجوب دپاره آزادكيدل په دې وجه شرط دى.چه دزكاة په شان د صدقة الفطر اداكولو دپاره هم تمليك يعنى د دويم كس مالك كول ركن دې.اوغلام په خپله د خپل خان مالك نه وى.نود مال مالك به څنګه شى.اوكله چه په خپله د مال مالك نه دې. نوبل به څنګه مالك كولې شى.په دې وجه صدقة الفطر په خپله په غلام باندې نه واجبيږى. بلكه د غلام دطرفه دده په مالك باندې واجبيږى.

وجه شرطية الإسلام> اومسلمان كيدل په دې وجه شرط دى.چه صدقةُ الفطر يوعبادت اوقربت دې. اوهيڅ يوعبادت دكافر دطرفه نه متحقق كيږى.په دې وجه د صدقه اداكولو دپاره مسلمان كيدل ضرورى دى.

شرطية النصاب> دريم شرط د نصاب مالك كيدل دى. ①خود صدقه د وجوب دپاره د نصاب د مقدار مالك كيدل زمونږ په نيز شرط دى.

---

(١) اخرجه ابوداود فى الزكاة باب ٢١ رقم ١٦٢٠۔

دلیله ① دلیل دادې چه نبی کریمﷺ ارشاد اوفرمائیلو. «لاصدقة إلا عن ظهر غنی» [1] په حدیث کښې د .ظهر .لفظ زائد دې.اوس به ترجمه داشي.چه صدقة الفطر واجب نه دې.خو په مالداره باندې.اوپه شریعت کښې مالداره هم هغه کس ته ونیلې شي.چه د نصاب دمقدار مالك وی. ددې نه معلومه شوه.چه د صدقة الفطر د وجوب دپاره مالدار کیدل شرط دی.

ألغني مقدر بالنصاب> صاحب دهدایه رحمه الله فرمائي.چه مالداره کیدل دنصاب سره مقدر دی. یعنی مالدار به هغه کس ته ونیلې شي.چه د نصاب مالك وی.خکه چه په شریعت کښې غنی اومالدار هم ده ته وائي.خودا ضروری ده.چه دا نصاب د ذکرشوې څیزونو یعنی د حاجات اصلیه نه زیاتی وی.خکه چه نصاب که په حاجات اصلیه کښې مشغول وی.نودا به معدوم (نشت) شمارلې شي.لکه چه د سفر په حالت کښې د یوکس سره د څکلو اوبه وی .اوددې نه سوې نورې اوبه موجود نه وی.نودا اوبه به د متیمم (تیمم کونکی) په حق کښې معدوم شمارلې شي .اودده دپاره به تیمم کول جائزوی.دغه شان که په حاجت اصلیه کښې مشغول مال د نصاب په اندازه وی.نود مالداره کیدلوپه حق کښې به دا مال معدوم شمارلې شي.

عدم إشتراط النمو في صدقة الفطر> صاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلی دی.چه د صدقه د وجوب په نصاب کښې نموشرط نه ده که څوك په قدر د نصاب د مال غیرنامی مالك وی.نوپه ده به هم صدقة الفطر واجب وی وجه دا ده. چه د صدقة الفطر د وجوب دپاره قدرت ممکنه شرط دې.قدرت میسره شرط نه دې.اود نمو نه یسر متحقق کیږی .نود کوم وجوب چه په قدرت میسره سره دې.لکه زکاة ،نوددې دپاره د نموشرط اولګولې شو.اود کوم وجوب چه په قدرت ممکنه سره دې.لکه صدقة الفطر،نوددې دپاره د نموشرط اونه لګولې شو.د تفصیل دپاره د اصول فقه کتابونه اوګوری.

ألأقسام الثلاثة للنصاب> [۱] د نصاب درې قسمه دی.یوهغه نصاب چه په هغې کښې نموشرط دې.ددې نصاب سره د زکاة اود مال ټول احکام متعلق کیږی.[۲] دویم هغه نصاب چه دهغې سره څلور احکام متعلق کیږی. ①د صدقه اخستلوحرمت ② د قربانۍ وجوب ③ د صدقة الفطر وجوب ④اود اقرب نفقه. په دې نصاب کښې نه نموشرط ده، نه تجارت اونه حولان حول.[۳] دریم نصاب هغه دې.چه په هغې سره د سوال کولوحرمت ثابتیږی.هغه دادې.چه د یوکس سره د یوې ورځې روزی وی.او بعض وائي.چه د پنځوس درهمومالك وی.نو دده دپاره سوال کول حرام دی.

دخپل ځان دپاره صدقه فطر ورکول

(یُخْرِجُ ذٰلِكَ عَنْ نَفْسِهٖ فرمانی اوباسی به دا خپل طرف نه

تشریح> **إخراج صدقة الفطر عن نفسه**> **مسئله**: په صاحب نصاب واجب دی.چه دې دخپل ځان صدقه ادا کړی.

دلیله>دلیل د ابن عمر رضی الله عنهما حدیث دې.پوره حدیث دادې .«فرض رسول اللهﷺ زكاة الفطر على الذكر والأنثى والحر والمملوك صاعا من تمر اوصاعا من شعير» [2] یعنی په حقه نبیﷺ صدقة فطر فرض کړه. په سړی

[1]) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه أحمد في المسند (۲/۲۳۰) ومسلم في الزكاة باب رقم ۹۵)۔

[2]) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه البخاري في الزكاة باب ۱۷ رقم ۸۰٤ ومسلم في الزكاة رقم ۱۲، ۱٦) والترمذي في الزكاة باب ۳۵ رقم ٦٧٥)۔

باندي، اوپه شخه باندي، په ازاد باندي، اوپه مملوك(مرئي) باندي، دكجورو يوصاع، يا د اوربشو يوصاع.

د نابالغه اولاد صدقة الفطر

وَعَنْ أَوْلَادِهِ الصِّغَارِ او اوباسي به دخپل وړوکي اولاد دطرفه

تشريح > **إخراج صدقة الفطر عن الأولاد الصغار** > **مسئله** > د مقدار نصاب مالك به د خپل نابالغه اولاد د طرفه هم صدقة الفطر اداكوي.

دليله > دليل دادي، چه د صدقة الفطر د وجوب سبب داسي نصاب اوداسي ذات دي، چه په هغي سړي خرچ كوي. اوپه دي متولي وي. هم دغه وجه ده، چه صدقة الفطر د راس(نصاب) طرف ته مضاف كولي شي. او زكاة الراس(د نصاب زكاة) وئيلي شي. اود شئ طرف ته اضافت ددي د سبب كيدلو علامت دي. نو معلومه شوه، چه د صدقة الفطرد وجوب سبب راس او ذات دي.

الإعتراض > خو دلته كه څوك اعتراض اوكړي، چه اضافت خو فطر(وړوكي اختر)طرف ته هم كيږي. لكه چه صدقة الفطر وئيلي كيږي. نوددي مطلب داشو، چه فطرهم د صدقه واجب كولوسبب دي. حالانكه د ستاسو په نيز داسي نه ده؟

ألجواب > ددي جواب دادي، چه فطر طرف ته اضافت په دي وجه نه دي، چه فطر ددي سبب دي، بلكه په دي وجه دي، چه فطر ددي وخت دي. هم دغه وجه ده، چه د راس او ذات په متعدد كيدلوسره صدقات متعدد كيږي. حالانكه د فطر ورځ صرف هم يوه ده. نومعلومه شوه، چه هم راس سبب دي. اود سبب په متعدد كيدلوسره مسبب متعدد كيږي.

الإعتراض الثاني > خوكه څوك دا سوال اوكړي، چه كه راس او ذات د صدقه د وجوب سبب دي. نوپه يوكس باندي په ټول عمركښي هم يوه صدقه واجب كيدل پكار دي. ځكه چه په ټول عمركښي راس صرف هم يو وي. هركال واجب كيدل پكار نه دي. حالانكه تاسو هركال صدقه واجب كوئ؟

ألجواب > راس مطلقاً د وجوب صدقه سبب نه دي، بلكه په وصف د مؤنت سره موصوف كيدلوسره سبب دي. اومؤنت د زماني په تيريدلوسره مكرركيږي. نود مؤنت د وصف په مكرر كيدلوسره راس حكماً د متكرر په شان شو. نوكله چه راس(سبب)مكررشو. نوصدقة الفطر به هم مكرر شي. فلا اشكال.

الإعتراض الثالث > اوكه څوك دا سوال اوكړي، چه دوجوب صدقه سبب كه راس دي. نوپه صاحب نصاب په خپله خپله صدقه واجب كول پكاردي. د اولاد صغار، اومماليك واجب كول نه دي پكار؟

ألجواب > ددي جواب دادي، چه دصدقة الفطر په وجوب كښي اصل خود مالك نصاب راس دي. ځكه چه دي په هغه باندي خرچ كوي. اودهغي متولي دي. نوثابته شوه، چه دوجوب صدقه سبب راس يعني د ذات خرچ برداشت كول دي. اوپه دي متولي كيدل دي. اوس چه په كوم ځاني كښي مؤنت د ولايت اوموندي شي. هم هغه به د مالداره سره لاحق كولي شي. مثلاً اولاد صغار، چه هم پلار ددوي مؤنت برداشت كوي. اوهم پلار په دوي متولي وي. په دي وجه د اولاد صغار صدقة الفطربه هم په پلار واجب وي. په دي شرط چه پلار مالك نصاب وي

د غلامانو صدقه فطر

وَعَبِيْدِهِ لِلْخِدْمَةِ او دخپلو غلامانو دطرفه

تشريح > **وجوب صدقة الفطر عن عبيده للخدمة** > **مسئله** > د عبيدو نه مراد غلام، مدبر، ام ولددي د دوی صدقه ددوی په مولا باندي واجب وي.

دلیله﴾او دلیل دادی چه ددوی خرچ هم مولا برداشت کوی.اوپه دوی ولایت هم مولا ته حاصل وی.صاحب د هدایه رحمه الله فرمانی.چه دممالیك صدقه په مولا باندې هغه وخت واجب وی.کله چه دا دخدمت دپاره وی.که دا دتجارت دپاره وی.نوزکاة واجب وی.صدقة الفطر به نه وی.

إخراج صدقة الفطر عن الأولاد الصغار الأغنياء﴾اود اولاد صغار صدقه په پلار باندې هغه وخت واجب وی.چه کله د اولاد صغارسره مال قطعاً موجود نه وی.اوکه اولاد صغار سره مال موجود وی. نود شیخینو رحمهما الله په نیز به هم ددوی دمال نه ددوی صدقه ادکولې شی[1]

دلیلهما﴾د شیخینو رحمهما الله دلیل دادې.چه صدقة الفطر شرعاً د مؤونت قائم مقام دې.هم دغه وجه ده.چه په سړی باندې دغیر د طرفه صدقه واجب کولې شی.نوصدقة الفطر د نفقه په شان شو.اوکه د صغیر سره مال وی.نودده صدقه به هم دده په مال کښې واجب وی.نودغه شان صدقه به هم د ده په مال کښې واجب وی.په دې شرط چه دده سره مال وی.

مذهب محمد رحمه الله﴾د امام محمد رحمه الله په نیزبه د اولاد صغار د مال نه صدقه نه اداکوی.پلار به پخپله د خپل مال نه ادا کوی. تردې که پلار د اولاد صغار د مال نه اداکړه.نوپلار به ددې ضامن وی.

دلائله﴾①د امام محمد رحمه الله دلیل دادې.چه صدقة الفطر په شریعت کښې زکاة دې.لکه د مال زکاة.او د صغیر په مال کښې زکاة واجب نه وی.نوصدقة الفطر به هم ددوی په مال کښې واجب نه وی.
②دویم دلیل دادې.چه صدقة الفطر عبادت دې.اوصغیر د وجوب عبادت اهل نه دې.په دې وجه به دده په مال کښې صدقه هم واجب نه وی.

دښځې صدقه فطر

وَلَا يُؤَدِّي عَنْ زَوْجَتِهِ او نه به اداکوی د خپلې بی بی دطرف نه.

تشریح﴾ **عدم وجوب الفطر عن الزوجة**﴾ **مسئله**﴾په مالداره خاوند باندې دده د ښځې صدقه واجب نه ده.

دلیله﴾ځکه چه په ښځه باندې د خاوند ولایت هم ناقص دې.او مؤونت هم ناقص دې.ولایت خوپه دې وجه ناقص دې.چه خاوند ته په ښځه باندې د نکاح د أمورو نه علاوه هیڅ ولایت نشته.بلکه صرف د نکاح په أمورو کښې ولایت حاصل دې.نوخاوند ته کامل ولایت حاصل نشو.اومؤونت په دې وجه ناقص دې.چه خاوند د ښځې صرف هم هغه مصارف برداشت کوی.کوم چه شرعاً ثابت دی.مثلاً نان نفقه، سکنی، اوددې نه علاوه مؤونت برداشت کول واجب نه دی.مثلاً که ښځه بیماره شی.نوددې علاج معالجه په خاوند باندې واجب نه ده.نوهرکله چه ولایت او مؤونت دواړه ناقص دی.نوپه خاوند به د ښځې صدقه هم واجب نه وی.ځکه چه د صدقة الفطر وجوب په ولایت کامله اوپه مؤونت کامله سره کیږی.

د بالغ اولاد صدقة الفطر

وَلَا عَنْ أَوْلَادِهِ الْكِبَارِ وَإِنْ كَانُوا فِي عِيَالِهِ او نه به اداکوی دخپل بالغ اولاد د طرف نه اگر چه هغوی دده په عیال کښې وی

تشریح﴾ **عدم وجوب الفطر عن الأولاد الكبار**﴾ **مسئله**﴾په پلارباندې دبالغ اولاد صدقه واجب نه ده.اگرچه کبار

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول الشيخين رحمهما الله كذا في العناية (٢٢١\٢) و رد المحتار(٨١\٢) والهندية (١٩٢\١) والبحرالرائق (٢٥٣\٢)نقلاً عن القول الراجح (١٨٩\١)–

اولاد دده په عيال کښې داخل وي.

دليله دليل دا دي چه پلارته په بالغ اولاد باندې هيڅ ولايت نه وي.

جواز الأداء عنهم خوکه پلار د بالغ اولاد دطرفه اداکړه.ياخاوند دخپلې ښځې د طرفه اداکړه.اودا اداکول بغير دده دحکم نه اومونډلې شوه.نوهم استحساناًصدقه ادا شوه.ځکه چه اجازت عادةً ثابت دي. اوکوم څيزچه عادةً ثابت وي.هغه داسې دي.لکه چه په نص او صراحت سره ثابت وي.

د مکاتب، مدبر،او ام ولد صدقة الفطر

وَلَايُخْرِجُ عَنْ مُكَاتَبِهِ اونه به اوباسي دخپل مکاتب دطرفه.

تشريح **عدم وجوب الفطر عن المكاتب على المولى** **مسئله** په مولا باندې دمکاتب صدقة الفطر واجب نه ده.

دليله دليل دا دي چه د مکاتب يداً اود تصرفاتو په اعتبارسره د آزادېدلو په وجه مولا ته په ده باندې مکمل ولايت حاصل نه دي.حالانکه د صدقه د وجوب سبب کامل ولايت وي.

عدم وجوب الفطر على المكاتب اوپه مکاتب پخپله هم خپله صدقة الفطر اداکول واجب نه دي.ځکه چه مکاتب خو د بدل کتابت اداکولومحتاج وي.په دې وجه کوم مال چه دده سره وي.هغه ټول د مولا مملوك وي.اوهرکله چه دا د مولا مملوك شو.نومکاتب فقير پاتې شو. اوپه فقير باندې صدقة الفطر واجب نه وي.په دې وجه په مکاتب باندې په خپله دخپل طرفه صدقة الفطر ادا کول واجب نه ده.

وجوب صدقة الفطر عن ام ولد والمدبر او پاتې شو مدبر،او ام ولد ،نوچونکه په دوی باندې مولا ته رقبةً اويداً دواړه قسمه کامل ولايت حاصل وي.اوددوی مؤنت هم مولا برداشت کوی.په دې وجه د دوی د طرفه به صدقة الفطرهم په مولا باندې واجب وي.

وَلَايُخْرِجُ عَنْ مَمَالِيكِهِ لِلتِّجَارَةِ اونه به اوباسي دخپلو تجارتي غلامانو دطرفه. (۱)

تشريح **عدم وجوب الفطر عن العبد للتجارة** ① اوکوم غلامان او وينځې چه د تجارت دپاره وي.د دوی صدقه به هم په مولا باندې واجب نه وي.

دليله د غلام د صدقه وجوب په مولا باندې وي.لکه څنګه چه د زکاة وجوب په مولا باندې وي.نوکه د تجارت د غلامانوصدقه په مولا باندې واجب کړې شوه.نو په دې غلامانوکښې به په يوکال کښې دوه خله مالي فريضه واجب کول لازم شي.يو په صورت د صدقة الفطر،او دويم په صورت د زکاة،حالانکه په يوکال کښې دوه خله مالي فريضه واجب کول جائز نه دي.لکه څنګه چه د رسول ﷺ حديث لاثنى في الصدقة دي.ثنى،د ثاء په کسره او په الف مقصوره سره دي.يعنى په کال کښې به دوه خله صدقه نشي اخستلې.

د غلام مشترك صدقه فطر

وَالْعَبْدُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ لَافِطْرَةَ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا اوکوم چه غلام د دوه شريکانو نه په مينځ کښې وي نوفطر په دواړو کښې په يو نشته.

تشريح **عدم وجوب الفطر عن غلام واحد** مسئله داده.چه که يوغلام د دوه کسانوپه مينځ کښې مشترك وي. نو بالاتفاق په دواړوکښې به په چاهم ددې غلام صدقة الفطر واجب نه وي.

---

۱) **مذهب الشافعي رحمه الله**... امام شافعي رحمه الله فرماني.چه د تجارت د غلامانو او وينځو د طرفه به صدقه اوباسي.

دليله خکه چه د دوارو ولايت هم ناقص دې. او مؤونت هم ناقص دې.اوداخبره تيره شويده.چه د صدقة الفطر د وجوب سبب ولايت کامله او مؤونت کامله دي. نو هرکله چه سبب موجود نشو.نوصدقة الفطربه هم واجب نه وي.

وَيُؤَدِّي الْمُسْلِمُ الْفِطْرَةَ عَنْ عَبْدِهِ الْكَافِرِ اواداکوی به مسلمان فطره دخپل کافر غلام دطرفه[1]

تشريح **وجوب صدقة العبد كافر** مسئله داده. ①چه مسلمان مالك نصاب كه د كافرغلام مالك وي.نوپه ده به دكافرغلام صدقة الفطرهم واجب وي.

دلائله ①زمونږ دليل دادي.چه په اول باب کښي دثعلبه بن صغير حديث **أدوا عن كل حر وعبد... الحديث** (۲)ورکوئ د هر آزاد او غلام دپاره که يهودي وي اوكه نصراني وي اوكه مجوسي وي نو دا مطلق دي.چه عبد مسلم اوعبدكافر دواړو ته شامل دي. ②دويم دليل د ابن عباس رضی الله عنه حديث دي.علامه ابن الهمام د دارقطني په حواله دا حديث داسې ذكركړي دي. **(قال رسول الله ﷺ أدوا صدقة الفطر عن كل صغير وكبير ذكر وانثى يهودي اونصراني حر اومملوك نصف صاع من بر اوصاع من تمر اوشعير)** ③د صدقة الفطر د وجوب سبب اومونډې شو.خکه چه مسلمان مولا ته په كافرغلام باندې ولايت كامله حاصل دي.اوده مكمل طورمؤونت هم برداشت كوي. او مولا د وجوب صدقه اهل هم دي.اګرچه غلام دكفر په وجه اهل نه دي.خوچه كله سبب اومونډې شو.اوپه مولاكښي اهليت هم موجود دي.نوپه مولا به د كافرغلام د طرفه صدقه واجب وي. ه ادا کړی دهر آزاد او غلام دطرف نه يهودي وي اوكه نصراني وي اوكه مجوسي وي (الحديث).او خکه چه سبب متحقق شو اوآقا ددې اهل دي

• **عدم وجوب صدقة العبد المسلم علي الكافر** اوكه مسئله په عكس وي.يعني غلام مسلمان وي.اومولا كافر وي.نوپه اتفاق به صدقه واجب نه وي.زمونږ په نيزخوبه دې وجه چه مولا دكفرپه وجه نه د صدقه دوجوب اهل دې.اونه د صدقه اداكولو.اود امام شافعي رحمه الله په نيز اګرچه وجوب په غلام وي.ليكن ادا كول به ئې په مولا وي.اومولا د كفرپه وجه د عبادت اداكولو اهل نه دې.په دې وجه به په دې صورت كښي بالكل صدقه واجب نه وي.

په غنمو. اورو.اوربشو او كجوروكښي د صدقة الفطر مقدار

الْفِطْرَةُ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ صدقه فطر نيم صاع ده.د غنمو نه يا أَوْصَاعٍ مِنْ تَمْرٍ أَوْزَبِيبٍ أَوْشَعِيرٍ اويا نيم صاع دي د كجورو نه او د اوسكو نه او د اوربشو نه، (۳)

حل اللغة ①**بر**:غنم ②**تمر**: كهجوري ③**شعير**:اوربشي]

تشريح **قدر الفطرة** د صدقة الفطر مقدارد حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په غنمو. يا ددي په

[1] **مذهب الشافعي** رحمه الله:- د امام شافعي رحمه الله په نيزد كافرغلام د طرفه به مسلمان مولا صدقه نه اداكوي.هم دا قول د امام مالك اوامام احمد رحمه الله دي.

[2] من حديث ابن عباس رضی الله عنه اخرجه الدارقطني في سننه (۲/۱۵۰) لكن ليس فيه ذكرالمجوسي (نصب الراية ۲/۴۳۰)_

[3] **مذهب الأئمة الثلاثة**:- امام شافعي،امام مالك،او امام احمد رحمه الله فرماني.چه په صدقة الفطركښي په هرخيز كښي يوصاع واجبيږي.تردې چه د اوربشو وغيره په شان د غنموبه هم يوصاع واجب وي.

اورو، یا ستوانو، یا اوسکو سره که فطر ادا کولې شی.نوددې مقدار نیم صاع دې.اوپه کجورو یا اوربشو سره که اداکولې شی.نوددې مقدار به یوصاع وی.

دلائله ﴿١﴾ دلیل هغه حدیث دې.کوم چه په اول باب کښې ذکر دې.چه د هغې الفاظ دادی.(أدوا عن كل حر وعبد صغير او كبير نصف صاع من بر او صاعا من تمر او صاعا من شعير)[١] په دې حدیث کښې په صراحت سره ذکر دی. چه دغنمو نیم صاع واجب دې. ﴿٢﴾ د احنافو رحمهم الله د مذهب تائید د ترمذی په دې حدیث سره هم کیږی. (أن النبي ﷺ بعث مناديا في فجاج مكة ألا أن صدقة الفطر واجبة على كل مسلم ذكر او انثى حر او عبد صغير او كبير مدان من قمح او سواه صاع من طعام)یعنی رسول الله ﷺ د مکې په کوخوکښې یو آوازکونکې اولیګلو.چه صدقة الفطر واجب ده.په هرمسلمان باندې که سړې وی.اوکه ښځه، آزاد وی اوکه غلام، نابالغه وی اوکه بالغ، دوه مد یا ددې نه علاوه د غلې یو صاع.په یو صاع کښې څلور مد وی.نود دوه مده نیم صاع شو.نوثابته شوه.چه د غنمو نیم صاع واجبیږی. ﴿٣﴾ دغه شان په طحاوی شریف کښې د اسماءبنت ابی بکر روایت دې.(قالت كنا نؤدي زكاة الفطر على عهد رسول الله ﷺ مدين من قمح)یعنی مونږ خلقو به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې په صدقة الفطرکښې دوه مد غنم ادا کول. ﴿۴﴾ صاحب دهدایه رحمه الله فرمائیلی دی .چه د صحابو رضی الله عنهم د یو جماعت مذهب هم دادې.اود خلفاء راشدینو رضی الله عنهم مذهب هم دادې.چه په صدقة الفطرکښې د غنمونیم صاع واجبیږی.یو صاع نه واجبیږی. [٢]

قدر فطر الزبیب لکه څنګه چې وړاندې ذکر شو چې صدقة الفطر که په اوسکو سره ادا کوی نو د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز ددې مقدار نیم صاع دې.

دلیله د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه زبیب اوغنم د معنی په اعتبارسره دواړه نیزدې نیزدې دی. ځکه چه په دې دواړوکښې هریو په خپلوټولو اجزاؤ سره خوړلې شی.

مذهب الصاحبين رحمهما الله د صاحبینو رحمهما الله مذهب هم دغه دې.خوصرف دومره فرق دې.چه ددې په نیز اوسکې د اوربشو په حکم کښې دی.یعنی د اوربشو په شان اوسکې به هم یوصاع واجب وی.د امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم یو روایت دادې.اود رومبنی یعنی اوسکونه نیم صاع واجب کیږی.دجامع صغیر روایت دې.خو فتوی په دې نه ده. [٣]

دلائلهما ﴿١﴾ د صاحبینو رحمهما الله د مذهب تائید دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه دحدیث نه هم کیږی. (قال كنا نخرج على عهد رسول الله ﷺ صاع تمر او شعير او اقط او زبيب.....الحديث) په دې حدیث سره په عهد رسالت کښې د اوسکو یوصاع اوبنکل ثابت دی.

﴿٢﴾ زبیب (اوسکی) د کجورو په منزله کښې کیدلو باندې د صاحبینو رحمهما الله دطرفه دا دلیل دې.چه اوسکې او کجورې مقصود یعنی په خوند او لذت حاصلولوکښې نیزدې نیزدې دی. په دې وجه د

[١]) يشير إلى حديث عبدالله بن ثعلبة المتقدم في أول الكتاب)
[٢]) نقل الزيلعي رحمه الله الأحاديث التي يثبت منها مذهب الخلفاء الراشدين فراجعه إن تريدالإطلاع عليها نصب الراية /٤٤٤)۔
[٣]) القول الراجح هو هذا قول الصاحبين رحمهما الله كذا في فتح القدير(٢\٢٢٥) والكفاية (٢\٢٢٥) وردالمختار(٢\٨٣) ومجمع الأنهر(١\٢٢٩) والهندية (١\١٩١) نقلاً عن القول الراجح (١\١٩١)-

صدقه په اداکولو کښې د دوارو حکم برابر دې.یعنې د دوارو به یوصاع واجب وي.او وړاندې د ابوسعید حدیث.او «صاعاً من زبیب» تیرشوې دې.

الجواب عنه > دکجورو هډوکي غورزولې شي.اود اوریشو بهوس غورزولې شي.نو زبیب به په غنمو باندې قیاس کول مناسب دی.په کجورو او اوریشو باندې به مناسب نه وي.په دې تقریر سره د غنمواوکجورو په مینځ کښې فرق ښکاره شو.یعنې د کجورو چونکه بعض اجزاء لکه هډوکي غورزولې شي.اود غنمو ټول اجزاء د کار اود خوراك دی.په دې وجه د غنمونصف صاع اود کجورو یو صاع مقرر کړې شو.

وَالصَّاعُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللَّهُ ثَمَانِيَةُ أَرْطَالٍ بِالْعِرَاقِيِّ.[1] اوصاع د طرفینو په نزد اته رطله عراقي دې.

تشریح > **قدر الصاع** > طرفین فرمائي.چه صاع هغه دې.چه پکښې عراقي اته رتله وزن برابرغنم وغیره څه څیز راځي.یعنې صاع دعراقي اته رتلو برابروي.او په یو صاع کښې څلور، مد ، وي. او یو رطل شل ،استار، وي.اویو استار شپږنیم درهمو وزن برابر وي.ګویا چه یو رطل د یوسل دیرشو درهمو وي.

دلائلهما > ① دلیل د حضرت انس ﷺ اود حضرت جابر ﷺ دا روایت دې.(أنه ﷺ كان يتوضأ بالمد رطلين ويغتسل بالصاع ثمانية أرطال)[2] یعنې رسول هاشمي ﷺ یو مد یعنې په دوه رطله اوبوسره اودس کولو.او یوصاع یعنې اته رطله اوبوسره به ئې غسل کولو. ② اوهم دغه شان دحضرت عمر ﷺ صاع وو.[3] بهرحال ددې حدیث نه معلومه شوه.چه صاع اته رطله وي.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ: خَمْسَةُ أَرْطَالٍ وَثُلُثُ رِطْلٍ اوامام ابویوسف ﷫ فرمائي چه پنځه رطله او دریمه حصه درطل ده.

تشریح > **مذهب ابي یوسف**﷫ > و امام ابویوسف ﷫ فرمائي.چه یوصاع پنځه رطله اود د یورطل د دریمې حصې برابر وي.هم دا قول د امام شافعي امام مالك او امام احمد ﷭ دې.

دلائله > د امام ابویوسف ﷫ ①دلیل دا حدیث دې.(صاعنا أصغر الصيعان)[4] یعنې زمونږ صاع د ټولو صاعونو نه وړوکې وي.اوښکاره ده.چه پنځه رطله اود یورطل دریمه حصې برابر صاع په نسبت د اته رطلووالا د صاع نه وړوکې وي.په دې وجه مونږ وایو.چه صاع د پنځه رطلواو د یورطل د دریمې حصې برابر وي. ② علامه ابن الهمام ﷫ دحسن بن ولید قریشي ﷫ روایت بیان کړې دې.چه امام ابویوسف ﷫ چه کله دحج نه واپس شو.او زمونږ خواله راغې.او وې وئیل.چه زه غواړم.چه په تاسو باندې د علم یوه دروازه کلاؤ کړم.څه چه زه په ډیرفکر کښې اچولې ووم.نوددې لټون مې اوکړو.نو زه مدینې منورې ته لاړم.اوما د صاع په باره کښې معلومات اوکړل.نوخلقو اووئیل.چه زمونږ دا صاع د

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول الطرفين ﷭ كذا في فتح القدير(٢\٢٣١) وبدائع الصنائع (٢\٧٣) والهندية (١\١٩٢) وتبيين الحقائق (١\٣٠٩) وردالمحتار (٢\٨٣) نقلاً عن القول الراجح (١\١٩٤)۔

[2]) من حديث أنس ﷺ اخرجه الدارقطني في سننه (٢/١٥٤)۔

[3]) من رواية حسن بن صالح أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه في الزكاة (٢/٤٣٠)۔

[4]) من غريه الزيلعي ﷫ بهذا اللفظ ثم ذكرماهو بمعناه من حديث ابي هريرة ﷺ اخرجه ابن حبان في النوع التاسع والعشرون من القسم الرابع (نصب ا لراية ٢/٤٤٦)۔

رسول الله ﷺ صاع دې.ما اووئيل. چه تاسوسره ددې څه دليل دې.چه دا درسول الله ﷺ صاع دې.دوی اووئيل.چه مونږ به صباله په اول وخت کښې تاسوته دليل پيش کړو.کله چه صباشو.نوزما خواله تقريباً پنځوس کسان بوداګان راغلل.چه دا د انصار او مجاهدينو اولاد وو.دهر يو د څادر لاندې يوصاع وو.اوهر يو دخپل نيکه نه سند بيان کړو.وې وئيل.چه دا د رسول الله ﷺ صاع دې. نوکله چه ما دا اوکتل نوتول برابروو.اوما چه ددې ناپ تول اوکړلو.نوپنځه رطله اود يورطل دريمه حصه کمه اوختل.کله چه ما دا اوکتل.نوما دحضرت الاستاذ قول ترک کړلو.

الجواب عنه ﴾ اود امام ابويوسف رحمه الله دطرفه د پيش کړې روايت(صاعنا أصغرالصيعان)کښې د اصغرصاع نه مراد دادې.چه د اتو رطلو والاصاع د هاشمی صاع نه وروکې دی.څکه چه هاشمی صاع د دوه دېرشورطلو وی.اوخلقوبه هم دا استعمالولو.رسول اکرم ﷺ به عراقی صاع (چه پکښې اته رطله وو) استعمالولو .نود هاشمی صاع په مقابله کښې او وئيلې شو.چه (صاعنا أصغرمن صيعان)

طرق معرفة الصاع﴾ د صاع وزن معلومولو درې طريقې دی. ①د صاع وزن د مثقال په حساب سره يو مثقال څلور ماشې اوڅلور تې ؤ وی.د مثقال په حساب سره د صاع وزن درې زره او دوه سوه څلويښت ماشې جوړېږی .يعنی دوه سوه اويا تولې.په دې حساب سره درې سيره اود شپږ څټاکو پوره صاع شو.او يونيم سير د درې څټاکو نيم صاع شو. ②د درهمو په اعتبارسره يو درهم د دريو ماشو او يوه رتۍ ، اود يوې رتۍ د پنځمې حصې برابر وی.په دې حساب سره يوصاع دوه سوه او درې اويا تولې شو.او نيم صاع د يوسل شپږ ديرشو تولو اود شپږو ماشو جوړېږی.ګويا د انګريزی سير په حساب سره پوره صاع درې سيره شپږ څټاکۍ اود دريو تولو برابر وی.او نيم صاع د نيم سير،دريوڅټاکو اود يوې نيمې تولې برابر وی. ③ د مد په اعتبار سره يو مد اته شپيته تولې اود درې ماشو وی.په دې حساب سره يو صاع د دوه سوه اتيا تولې او څه ماشې جوړېږی.اونيم صاع يوسل څلويښت تولې اود دريو ماشو وی.ګويا پوره صاع درې نيم سيره اود شپږماشو شو.اونيم صاع پاؤباندې دوه سيره درې ماشې شو.ښکاره دې وی.چه يوصاع څلور مد وی.(درس ترمذی ج۲ص۴۹۴)

إختيار الطرق الثلاثة﴾د صاع د وزن چه کومې درې طريقې ليکلې شوې دی.په دې کښې چه کومه يوه طريقه اوحساب هم چه اختيارکړې شی.نو صدقة الفطر اداکيږی.خوچونکه په آخری حساب کښې زياتوالې دې.په دې وجه ددې مطابق اداکولوکښې زيات احتياط دې.يعنی پاؤباندې دوه سيره او درې ماشې غنم يا درې نيم سيره او شپږ ماشې اوربشې وغيره په فطره (سرسايه)کښې اداکولې شی.

د صدقه فطر د وجوب وخت

وَوُجُوبُ الْفِطْرَةِ يَتَعَلَّقُ بِطُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِيْ مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ اود فطرې وجوب ديوم فطر دصبا ختلوسره متعلق دې. (١)

تشريح﴾ **وقت وجوب صدقه الفطر**﴾ ① د وروکی اختر د صبا نه د صدقة الفطر اداکول واجبيږی.هم دا قول د امام مالك رحمه الله دې.

---

(١) **مذهب الشافعي رحمه الله**:- امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه د رمضان په آخری ورځ د نمر د پريوتلو نه پس اداکول واجبيږی.حاصل دا چه د اختريه شپه د شوافعو رحمهم الله په نيز د واجب صدقة الفطر اداکولو وخت د نمر پريوتلو نه پس شروع کيږی.او زمونږ به نيز د صباصادق په راختلوسره شروع کيږی.

دلیله > دلیل دادې چه په صدقة الفطر کښې د صدقه اضافت فطر طرف ته د اختصاص دپاره دې.یعنی صدقه فطرسره مختص ده.اود فطر نه مراد د صوم ضد دې.اود صوم تعلق د ورځ سره وی. دشپې سره نه وی.نود فطر تعلق به هم ورځ سره وی.شپې سره به نه وی.اودا معلومه شوې ده.چه صدقه د فطرسره خاص ده.اود فطر نه مراد ورځ ده.نو صدقه به ورځ سره مختص وی.او ورځ د صباصادق نه شروع کیږی په دې وجه د صدقة الفطر وجوب اداکول به هم د اختر د شپې د صباصادق سره متعلق وی.

فَمَنْ مَاتَ نو څوک چې مړ شو قَبْلَ ذٰلِكَ د دې نه وړاندې لَمْ تَجِبْ فِطْرَتُهٗ نو د ده فطرانه واجب نشوه وَمَنْ أَسْلَمَ أَوْوُلِدَبَعْدَطُلُوْعِ الْفَجْرِ او چا چې اسلام قبول کړو او پیدا شو پس د راختلو صبا نه لَمْ تَجِبْ فِطْرَتُهٗ نو د ده فطرانه واجب نشوه

تشریح > **التفریع علیه** > د تیرشوې قاعدې مطابق چې څوک د اختر د ورځې نه وړاندې وفات شو نو په ده باندې صدقه فطر نشته دغه شان چې چا د اختر په ورځ د صبا راختو نه اسلام قبول کړو او یا پیدا شو نو د دوی صدقه فطر نه واجبیږی

دلیله > دلیل دا دې چه د صدقه فطر د وجوب دپاره شرط دا دې چې د اختر د صبا په وخت کښې دې موجود وی نو کوم کس چې وړاندې مړ شو د ده په حق کښې شرط موجود نشو نو مشروط چې وجوب د صدقه فطر دې هغه هم نشته دغه شان کوم کس چه د صبا راختو نه پس اسلام قبول کړو نو دې د صبا راختو په وخت کښې د شریعت په احکامو مکلف نه وو ځکه چه د کافر نه اول د ایمان مطالبه کیږی بیا به ورته روستو د فرعی احکامو حکم کولې شی دغه شان کوم کس چې د صبا نه پس پیدا شو نو دې هم د صبا راختو په وخت کښې موجود نه وو نو صدقه فطر واجب نشوه

د صدقه فطر مستحب وخت

وَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يُّخْرِجَ النَّاسُ الْفِطْرَةَ يَوْمَ الْفِطْرِ قَبْلَ الْخُرُوْجِ إِلَى الْمُصَلّٰى اومستحب دی چه اوباسی خلق فطره په ورځ د اختر مخکښې دوتلو نه عیدګاه ته.

تشریح > **إخراج صدقة الفطر قبل الخروج إلي المصلي** > **مسئله** > د صدقة الفطر په اداکولو کښې مستحب عمل دادې چه د خلقو عیدګاه ته د تللو نه مخکښې اداکړی

دلائله > دلیل د ابن عمر رضي الله عنهما حدیث دې.حدیث دادې. (كان يأمرنا أن نخرجها قبل الصلاة وكان رسول الله ﷺ يقسمها قبل أن ينصرف إلى المصلى ويقول أغنوهم عن الطواف في هذا اليوم) [1] یعنی رسول الله ﷺ به مونږ ته حکم فرمائیلو .چه مونږ د اختر دمانځه نه مخکښې مخکښې صدقه اداکړو.او پخپله به نبی کریم ﷺ هم عیدګاه ته د تللو نه مخکښې مخکښې صدقه تقسیموله.اوفرمائیل به ئې.چه فقیرانو ته په دې ورځ در په در ګرځیدلو نه بې پرواه کړئ یعنی بغیر د غوښتلو نه د مونږ نه مخکښې دوی ته صدقه ورکوئ.

---

[1]) من حدیث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه الحاكم في علوم الحديث باب الأحاديث التي إنفرد بها راو واحد ورواه البيهقي في السنن الكبرى (۲۹۲/٤) رقم ۷۷۳۹)ـ

②دويم دليل دادي چه دفقيرانو د بې پرواه كولو حكم هم ددې مقصد دپاره دې چه دوى د سوال كولو په وجه د اختر د مانځه نه پاتې نشي اودا مقصد به هم په دې صورت كښې پوره كيږي چه صدقه د اختر د مانځه نه مخكښې وركړې شي په دې وجه تقديم (مخكښې وركول) مستحب او مندوب اوګرځولې شو.

صدقه فطر د وخت نه وړاندې اداكول

فَإِنْ قَدَّمُوهَا قَبْلَ يَوْمِ الْفِطْرِ جَازَكه د اختر دورځې نه نې وړاندې وركړه.نوجائز ده

تشريح> جواز تقديم الصدقة يوم الفطر> مسئله داده.كه چا د اختر د ورځ نه مخكښې صدقه ادا كړه.نو جائزده.

دلائله> ①دليل دادې.چه صدقة الفطر د وجوب د سبب متحقق كيدلو نه پس اداشوې ده.او سبب هغه راس دې.چه ددې مؤونت برداشت كوى.اوپه دې باندې ولايت حاصل دې.نوكله چه د سبب متحقق كيدلو نه پس ادا كړى.نو ادا به وى. ②اودا داسې ده.لكه چه د حولان حول نه مخكښې د وړاندې نه زكاة وركړې شي.نو زكاة ادا كيږي.ځكه چه نصاب كوم چه سبب دې.هغه موجود شو. ③اود ابن عمر رضي الله عنهما حديث دې.(وكانوا يعطون قبل الفطر بيوم أو يومين) يعنى صحابوؓ به يوه ورځ يا دوه ورځې مخكښې فطره وركوله.

عدم التفصيل في مدة تقديم الصدقة> ①ددې هيڅ څه تفصيل نشته.چه څومره مخكښې صدقه وركول جائز دى او څومره موده مخكښې جائز نه ده.بلكه مطلقاً وړاندې وركول جائز دى. اوهم دا صحيح قول دې. ② او نوح بن ابى مريم رحمه الله فرمائى.چه د نصف رمضان نه وړاندې صدقه وركول جائزدى.ددې نه وړاندې وركول جائز نه دى. ③ اوبعض وائى.چه د رمضان په آخرى عشره كښې وركول جائز دى ددې نه مخكښې وركول جائز نه دى.(عنايه)

د وخت نه روستو كولو حكم

وَإِنْ أَخَّرُوهَا عَنْ يَوْمِ الْفِطْرِ لَمْ تَسْقُطْ اوكه داختر دورځې نه نې روستو كړه نو نه ساقطيږى. وَكَانَ عَلَيْهِمْ إِخْرَاجُهَا خو دده په ذمه به نې اداكول لازم وى. (1)

تشريح> عدم سقوط الصدقة بخروج وقتها> ①اوكه خلقو د اختر په ورځ فطرانه اداكړه.اود اختر ورځ تيره شوه.نوصدقه ددوى د ذمې نه ساقط نشوه.بلكه په دوى به واجب پاتې وى.اوپه دوى به دا اوښكل لازم وى.كه هرڅومره تاخير اوشي.

دليله> ځكه چه دا مالى صدقه ده.اوهر وخت د فقيرانو حاجت لرې كولو دپاره مشروع شوې ده.نوپه دې كښې به د ادا كولوڅه مقرروخت نه وى. او د وجوب نه پس به د زكاة په شان بغير د اداكولونه ساقطيږى

(1) **رواية الحسن رحمه الله**:- اوحسن بن زياد رحمه الله فرمائى چه د اختر ورځ تيره شى.نو ساقط به وى.ځكه چه صدقه داسې عبادت دې.چه د وړوكى اخترسره مخصوص دې.نود قربانۍ په شان شو

د روژې بیان

كِتَابُ الصَّوْمِ

(دا) کتاب (په بیان) د روژې (کښې) دې.

تشریح﴾ ألربط بما قبله﴿ امام محمد رحمه الله په جامع صغیر کښې کتاب الصوم د کتاب الصلاة نه پس ذکرکړې دې.او وجه ئې دا بیان کړې ده.چه دواړه د بدن د عبادتونو د قبیلې ځنې دی.په خلاف د زکاة چه دا عبادت مالیه دې.او دلته په قدوری او هدایه کښې د کتاب الصلاة نه پس کتاب الزکاة ذکرشوې دې.چه د قرآن عظیم ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ﴾ اقتداء اوشی.

تاریخ فرضیة الصوم﴿ روژه د کلمه توحید نه پس د اسلام دریم رکن دې.اود رمضان د روژو فرضیت دهجرت په دویم کال د شعبان په میاشت کښې اوشو.یعنی د هجرت نه اتلس میاشتې پس د شعبان په میاشت کښې د قبلې د تحویل نه پس د رمضان روژې فرض شوی دی.اوددې نه وړاندې به رسول اکرم ﷺ اوصحابه کرامو رضی الله عنهم د عاشوره اود ایام بیض (د قمری میاشتې دیارلسم،څوارلسم، پنځلسم تاریخ) روژې نیولې.

معني الصوم﴿ په لغت کښې د صوم معنیٰ مطلقاً امساک (بندیدل) راځی.که د څه ځیزنه هم بندشی. لکه چه (صام عن الکلام) د کلام او خبرو اترو نه د بندیدلو نوم صوم دې.

ألمذهبان في فرضية الصوم﴿ بیا په دې کښې اختلاف دې.چه د عاشوره او ایام بیض روژې هغه وخت فرض وې اوکه نه؟① حنفیه وائی.چه دا روژې هغه وخت فرض وې.خو شوافع رحمهم الله ددې قائل دی.چه د رمضان روژو نه مخکښې هیڅ روژه فرض نه وه.بلکه د عاشوره وغیره روژې مخکښې هم سنت وې.او اوس هم سنت دی.

ألتدريج في فرضية صيام رمضان﴿ د رمضان د روژو فرضیت په تدریج سره شوې دې.په شروع کښې د ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ﴾ په ذریعه مطلقاً روژه فرض کړې شوه.یعنی اې ایمان والو! فرض کړې شوه په تاسوروژه لکه څنګه چه فرض کړې شوې وه.ستاسونه مخکښې خلقوباندې.بیا د ﴿أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ﴾ په ذریعه تعین اوکړې شو.چه دا د شمیریو څو ورځې دی. اوددې نه مراد د رمضان میاشت ده.یعنی د رمضان روژې فرض کړې شوې. خودا اختیار ووچه که غواړی.روژه اونیسی.اوکه نه ئې نیسی.اوددې په ځائې فدیه ورکړی. یعنی یومسکین ته په مړه ګیډه دوه وخته خوراک ورکړی.په آیت﴿وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ کښې هم دا اختیار بیان شوی دې.یعنی د کومو خلقوچه د روژه نیولوطاقت شته.دوی دپاره ددې بدله ده.یوفقیر ته خوراک ورکول.خود اختیار ورکولو باوجود دا هم اوفرمائیل.چه روژه نیول بهتردی.لکه چه ارشاد دې. ﴿وَأَن تَصُومُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ بیاڅو ورځې پس دا اختیارمنسوخ کړې شو.اوپه هره تندرست مقیم باندې روژه ساتل لازم کړې شوه.لکه چه د الله تعالی ارشاد دې﴿فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ یعنی څوک چه په تاسو کښې دا میاشت بیاموی.نو روژه دې ضرور اونیسی.په دې آیت روژه ساتل ضروری شو.او فدیه ورکول، اود روژې پریخودلو اجازت باقی پاتې نشو.

نسخ حرمة الجماع بعد النوم في الليل﴿ بهرحال د رمضان روژه خولازم کړې شوه.خوپه شروع کښې دا حکم

.و چه په روژه کښي د شپې په شروع کښي د خوراك سكاك اوبنخو سره د صحبت كولو اجازت وو.خود اوده كيدلونه پس ددې څيزونو ممانعت وو.بعض حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم ددې خلاف اوكړو اود اوده كيدلونه پس ئې جماع اوكړه.بيا نبي كريم ﷺ له راغلل.اود خپل قصور اقرار اود ندامت اظهار ئې اوكړو. اود توبه دپاره ئې ددوی نه سوال اوكړو.نو په دې دا آيت نازل شو. ﴿أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ۖ فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۖ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ ۚ﴾ شو تاسوته د روژې په شپه بې پردګۍ(صحبت) خپلوښخوسره.دوی لباس دې ستاسو او تاسو لباس ئې ددوی.الله ته معلومه ده.چه تاسوخيانت كوئ. خپلو ځانونوسره.نومعاف كړلوتاسوته اوبخښنه ئې اوكړه تاسوته. نو ملاويږئ(صحبت)كوئ خپلوښځوسره اوطلب كوئ هغه چه ليكلى دى الله تعالى ستاسو دپاره.اوخورئ سكئ ترهغه پورې چه صفا په نظر راشي تاسوته تارسپين د صبا جدا د تور تارد شپې نه.بيا پوره كړئ روژه د شپې پورې.

(الصَّوْمُ ضَرْبَانِ: وَاجِبٌ وَنَفْلٌ دروژې دوه قسمونه دی واجب او نفل.

تشريح﴿ الأقسام الثلاثة للصوم﴾شيخ ابوالحسن قدوری رحمه الله د روژې تقسيم كړې دې. فرماني. چه د روژې دوه قسمه دی. ①واجب ② نفل.حالانكه د روژې درې قسمه دی. ① فرض ② واجب ③ نفل يعنى غير واجب چه سنت مستحب او نفل ټولو ته شامل دې.ددې جواب دادې. چه واجب لفظ فرض او واجب دواړو ته شامل دې.ځكه چه د واجب معنئ ثابتول دی.نوكه په دليل قطعى سره ثابت وى نوفرض دی.اوكه په دليل ظني سره ثابت وی.نو واجب دی.صاحب د قدوری رحمه الله د دواړو بيانولو دپاره صرف واجب(ثابت) استعمال كړې دې.

فَالْوَاجِبُ ضَرْبَانِ :بيا دواجبو دوه قسمونه دی مِنْهُ مَا يَتَعَلَّقُ بِزَمَانٍ بِعَيْنِهِ كَصَوْمِ رَمَضَانَ وَالنَّذْرِ الْمُعَيَّنِ يو هغه چه د خاص زمانې سره تعلق ساتی لكه درمضان دمياشتې او د نذر معين روژه

تشريح﴿ القسمان للصوم الواجب﴾بيا د واجب دوه قسمه دی. ① معين ② غير معين يعنى يو هغه چه د متعين زمانه سره متعلق وی.لكه د رمضان روژې.اود نذر معين روژې.مثلاً يوكس اووئيل چه په ما د الله دپاره د دې مياشتې په اوله جمعه روژه لازم ده.نوددې مياشتې اوله جمعه متعين شوه.دويم هغه چه ديو متعين زمانه سره متعلق نه وی.لكه د رمضان قضاء روژې.چه ددې هيڅ متعين وخت نشته.بلكه د «منهی عنها»(ممنوع) ورځونه علاوه چه كله غواړى.قضاء دې راوړى.

فَيَجُوزُ صَوْمُهُ بِنِيَّةٍ مِنَ اللَّيْلِ نودا جائز ده پداسې نيت سره چه دشپې نه وی فَإِنْ لَمْ يَنْوِ حَتَّى أَصْبَحَ أَجْزَأَهُ النِّيَّةُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الزَّوَالِ)كه نيت ئې اونكړو تر سحره پورې نوكافى دې ده دپاره نيت كول دسحر د زوال په مينځ كښې. (١)

---

(١) مذهب الشافعي رحمه الله:- په زيربحث مسئله كښې امام شافعي رحمه الله فرمانى.كه د رمضان روژې يا د نذر معين روژې په شپه كښې نيت اونكړې شى.بلكه د صبا راختلونه پس نيت اوكړى.نوجائزنه دې.البته د نفلى روژې نيت د صبا نه پس كول هم جائز دې .هم دا قول د امام محمد رحمه الله دې.

تشریح> **دلیل فرضیة صوم رمضان>** په دې مقام کښې صاحب د هدایه رحمه الله په مختلف فیه مسئله کښې د فریقینو دلیلونو بیانولو نه مخکښې دتمهید په طور یوخوخبرې ذکر کړې دی.

① اوله خبره خودا چه د رمضان روژه فرض ده.اوپه فرضیت باندې د الله تعالی قول ﴿کُتِبَ عَلَیۡکُمُ الصِّیَامُ﴾ اود امت اجماع د لیل دې.هم دغه وجه ده. چه د رمضان د روژو د فرضیت نه انکار کونکې کافرشمارلې شی.

المذهبان في سبب وجوب رمضان> ① په دې مقام کښې صاحب د هدایه رحمه الله فرمانیلی دی.چه د رمضان روژوسبب د رمضان میاشت ده. هم دغه وجه ده.چه د صوم اضافت رمضان طرف ته کیږی.اوصوم رمضان(د رمضان روژې) وئیلې کیږی.او اضافت د سبب کیدلو علامت دې. نو ثابته شوه.چه د رمضان د روژوسبب د رمضان میاشت ده.اوچونکه د سبب تکرار د مسبب تکرار ته مستلزم وی.په دې وجه د رمضان میاشت په مکرر کیدلوسره د رمضان روژې هم مکرر کیږی . بعضو مشانخوهم دا اختیارکړې دی.چه د رمضان میاشت د رمضان د روژو سبب دې.② علامه فخرالاسلام فرمانی .چه د هرې ورځې د روژې د وجوب سبب هم هغه ورځ ده. ځکه چه د رمضان روژې د متفرقو عباداتو په شان دی.په دې وجه دواړویه مینځ کښې داسې زیاتی وخت(شپه) راځی.چه په هغې کښې مطلقاً د روژې صلاحیت نشته.نه د ادا اونه د قضاء.نود رمضان روژې د مونځونوپه شان دی.لکه څنګه چه د هرمونځ سبب ددې مونځ وخت دې.دغه شان هره ورځ ددغه ورځې د روژې سبب دې.

دلیل وجوب النذر> اود نذر روژه واجب ده.دلیل د الله تعالی قول﴿وَلۡیُوفُوا۟ نُذُورَهُمۡ﴾ دې. ځکه چه﴿وَلۡیُوفُوا۟﴾ د امر صیغه ده.او امر په وجوب دلالت کوی.

سبب نذر معین>اود نذر معین روژې سبب نذر دې.اونیت ددې شرط دې.﴿إن شاء الله﴾ د روژو د ټولو شرطونو ذکر به په راروانوصفحوکښې کولې شی.

مبیت النیة للصوم الواجب المعین> صاحب د قدوری رحمه الله رومبې د واجب معین احکام ذکرکړې دی. ① فرمانی.چه د رمضان اود نذر معین روژې د نورو قسمونو روژو په شان په شپه کښې نیت کولوسره جائزکیږی .او که د رمضان یا د نذر معین روژو په شپه کښې نیت اونشی.تردې چه صباشو.نوکه د صبا اود زوال په مینځ کښې نیت اوکړې شو.نوهم جائز دې.

دلائله > ① دلیل دادې.چه کله یو اعرابی(بانډیچی)د رمضان میاشت دلیدلو ګواهی ورکړه. نو رسول اکرم ﷺ اوفرمانیل.چه کوم کس څه خوړلې وی.هغه دې باقی ورځ څه نه خوری. اوچاچه نه دی خوړلی.هغه دې روژه اونیسی([1]) یعنی د روژې نیت دې اوکړی.ددې حدیث نه معلومه شوه.چه دصبا نه پس د روژې نیت کول جائزدی.په قول ملاعلی قاری رحمه الله د شرح نقایه داحدیث غیرمشهور دې.

خوپه سنن اربعه کښې د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې.(قال جاء أعرابي إلی رسول الله ﷺ فقال إني رأيت الهلال قال الحسن في حديثه يعني رمضان فقال أتشهد أن لا إله إلا الله قال نعم قال أتشهد أن محمداً رسول الله قال نعم قال يا بلال أذن في الناس فليصوموا)یعنی ابن عباس رضی الله عنه فرمانی.چه په دربار رسالت کښې یو بانډیچی حاضرشو.اوهغه

---

[1]) غربه الزيلعي ثم قال وذكره ابن جوزى رحمة الله في ،التحقيق، وقال إن هذا حديث لا يعرف وإنما المعروف أنه شهد عنده برؤية الهلال فأمر أن ينادى في انسا أن تصوصموي غداً وقد رواه الدارقطنى (١٥٨/٢) بلفظ صريح ان أعرابياً جاء ليلة شهررمضان فذكر الحديث وفي لفظ أبي يعلى الموصلى رحمة الله قال أبصرت الهلال اللية الحديث (نصب الراية ٤٥٥/٢)۔

اوونیل چه ما میاشت لیدلي ده.حسن په خپل حدیث کښې اوفرمائیل چه د رمضان میاشت،نبی کریمﷺ اوفرمائیل.چه آیا ته د کلمه توحید گواهی ورکوې؟هغه اوونیل.آو، نبی کریمﷺ اوفرمائیل.چه آیاته د محمد د رسول کیدلوگواهی ورکوې.هغه اوونیل.آو، نبی کریمﷺ اوفرمائیل.چه بلاله ! په خلقوکښې اعلان اوکړه.چه دوی روژه اونیسی.دا روایت هم په ښکاره طور زمونږ مستدل نه جوړیږی. ځکه چه په روایت کښې ددې تصریح نه ده شوې.چه د شهادت دا واقعه دمیاشت لیدلو نه پس هم په شپه کښې راپېښه شوې ده.یا په راروانه ورځ د صبا راپېښه شوې وه.که په شپه کښې راپېښې شوی وی.نودا روایت زمونږ دلیل نشی جوړیدلې .اوکه په راروانه ورځ د صبا راپېښه شوې وی.نو په یقین سره زمونږ دلیل جوړیږی.ځکه چه په راروانه ورځ د صبا ددې واقعې راپېښیدلو مطلب دا دې.چه نبی کریمﷺ هم په دې ورځ د روژې نیولوحکم ورکړې دې.اودا ښکاره ده.چه ددې ورځ دا روژه به د شپې په نیت سره نه وی. اوهرکله چه نیت د صبا نه پس اوشو.نوثابته شوه.چه په شپه کښې نیت کول شرط نه دی. ② دې مذهب په تائید کښې واضح حدیث دادې.چه د سلمه ابن الاکوع نه بخاری اومسلم روایت کړې دې. حدیث دادې. (أنهﷺ أمر رجلاً من أسلم أذن فی الناس أن من أکل فلیصم بقیة یومه ومن لم یکن أکل فلیصم فإن الیوم یوم عاشوراء)یعنی رسول پاکﷺ د قبیله اسلم یوسړی ته حکم اوکړو.چه په خلقوکښې اعلان اوکړی.چه چاچه خوړلي یا سکلی وی.هغه دې باقی ورځ روژه اونیسی.اوچاچه نه وی خوړلي.هغه دې روژه اونیسی.یعنی د روژې نیت دې اوکړی.ځکه چه دا ورځ د عاشوره ورځ ده.دا واقعه دهغه وخت ده.کله چه دعاشوره روژه فرض وه.او فرضیت په رمضان سره نه وومنسوخ شوې.نوددې نه ثابته شوه.چه دفرض روژې نیت په ورځ کښې کول جائز دی.

③ عقلی دلیل دادې.چه درمضان ورځ اود نذرمعین ورځ هم د روژه ورځ ده.ځکه چه په دغه ورځ روژه فرض ده.نوهرکله چه دا ورځ د روژې دپاره مقرر ده.نود ورځ په شروع کښې چه کوم امساک یعنی د خوراک سکاك اود جماع نه بندیدل موجود شو.هغه به هم په هغه نیت باندې موقوف وی.کوم چه مؤخر دې.اود ورځ اکثري حصې سره مقترن(پیوست) دې.لکه ځنګه چه په نفلی روژه کښې دی.نوکه یو کس د صبا راختلونه د خوراك سکاك او د جماع نه بند شو. نودا امساك په راروان نیت باندې موقوف دې.نوکه ده د راروانې روژې نیت اوکړو.او اوس د ورځ زیاته حصه باقی ده.نو ونیلې به شی.چه د ورځ د اولنۍ حصې امساك هم روژه ده.اوکه د راروان ورځ نې د افطار نیت اوکړو.نو ونیلې به شی.چه د شروع امساك هم روژه نه وه.نومعلومه شوه.چه د شروع امساك په راروان نیت باندې موقوف وی.

وجه توقف الإمساک علی النیة > په دې مقام کښې صاحب د هدایه رحمه الله فرمائی.چه د شروع ورځ امساك په راروان نیت باندې موقوف کیدل په دې وجه دی.چه روژه یو رکن دې.خو درې ز(اوګد) دې.اوس په دې کښې داهم احتمال دې.چه دا رکن دعادت په طور وی.اودا هم احتمال شته.چه د عبادت یعنی د روژه په طور وی. نودا متعین کول،چه دا امساك خالص د الله دپاره دې.اودا د عبادت په طور دې.د عادت په طورنه دې.دا هم په نیت سره کیدلې شی.په دې وجه اوونیلی شو.چه د شروع ورځې امساك په راروان نیت باندې موقوف دې.اوس که دا نیت د ورځ په اکثره حصه کښې موجود شو.نوچونکه اکثر دکل قائم مقام وی.په دې وجه د کثرت په وجه سره د وجود طرف ته به د عدم وجود په طرف باندې ترجیح ورکولې شی.او ونیلې به شی.چه نیت په ټوله ورځ کښې موجود شوې دې.اوهرکله چه نیت په ټوله ورځ کښې موجود شوې دې نو روژه به ټیك وی.نوثابته شوه.چه د روژې په شپه کښې نیت کول ضروری نه دی.

شرطية النية في إبتداء الصلاة والحج﴾ ددې په خلاف مونږ اوحج دې.چه په دې دواړو کښې د شروع نه نیت کول ضروري دی.په دې دواړوکښې به د(للأكثر حكم الكل)قاعده نشي جاري کولې.ځکه چه د دې دواړو ځوځو ارکان دی.لکه چه په مانځه کښې قیام، رکوع ، سجده، د قران قرات وغیره ارکان دی. اوپه حج کښې وقوف عرفه او طواف ارکان دی.اوس که د تکبیر تحریمه په وخت په اول د مانځه کښې نیت اونکړې شو.اود احرام په وخت په اول دحج کښې دحج نیت اونکړې شو.نو بعض ارکان به بغیر د نیت نه پاتې شي.اوکوم ارکان چه بغیر دنیت نه ادا شی.هغه به باطل وی.او بغیر ددې ارکانو نه مونږ اوحج نه اداکیږی.په دې وجه دې دواړوکښې په شروع کښې نیت کول ضروری دی.روسته که نیت اوکړې شو.نوهغه به معتبر نه وی.

الاشکال﴾ دا سوال کیدې شي چه هرکله روژه یو ممتد رکن دې.نود نیت پیوست کول د ورځې قلیل اوکثیر دواړوسره برابرکیدل پکار ی.یعنی که نیت د ورځ په اکثرحصه کښې موجود شی.یا په کمه حصه کښې موجود شی.په دې طریقه چه د زوال نه پس ئې نیت کړې وی.نوپه دواړو صورتونوکښې روژه ټیک کیدل پکاردی.حالانکه د زوال نه پس د نیت کولو په صورت کښې روژه نه جائزکیږی؟

ألجواب﴾ اصل خودا وو.چه نیت د ورځ په شروع حصه کښې اوشی.یعنی چه په صبا صادق کیدلو سره د روژې نیت اوشی.خوکه د ورځ اکثر حصې سره د نیت اقتران موجود شو.په دې طریقه چه د زوال نه مخکښې مخکښې نیت اوکړې شی.نود(للأكثر حكم الكل) قاعدې په وجه سره دا اصل مونږ پریخودلو. اوچونکه د زوال نه پس دنیت کولوپه صورت کښې د ورځ په اکثره حصه کښې نیت موجود نشو.په دې وجه په دې صورت کښې دعدم وجود(چه نیت پکښې نه دې شوې)طرف ته ترجیح ورکړې شوه.او او وئیلې شو.چه پوره ورځ نیت اونه موندې شو.او روژه بغیر د نیت نه ساتلې شوې ده.اوښکاره ده.چه بغیر د نیت نه روژه معتبر نه وی.په دې وجه د زوال نه پس نیت کولو په صورت کښې هم روژه معتبر نه ری.

جواز صوم المعین بمطلق النیة﴾مسئله داده.چه دا قسم یعنی واجب معین په مطلق سره هم ادکیږی.اود نفل په نیت سره هم اود واجب آخر په نیت سره هم.د قدوری دمصنف رحمه الله په عبارت کښې لږه شان تسامح ده.په دې طریقه چه په واجب معین کښې د رمضان روژه اود نذر معین روژه دواړه داخل دی.نوددې مطلب داشو.چه لکه ځنګه چه د رمضان روژه په مطلق نیت، د نفل په نیت،اود واجب آخر په نیت سره اداکیږی.دغه شان د نذرمعین روژه هم په ذکرشوی نیتونوسره اداکیږی.حالانکه داسې نه ده. ځکه چه د نذر معین روژه په مطلق نیت اود نفلو په نیت سره اداکیږی.خود واجب آخر مثلاً په قضاء یاکفاره په نیت سره نه اداکیږی.بلکه که د نذر معین د ورځ په شپه کښې د واجب آخر نیت اوکړې شی.نو واجب آخر به اداشی.خو د نذر معین روژه به ادا نه وی.بهرحال د احنافو رحمهم الله مذهب دادې.چه د رمضان روژه په مطلق نیت سره هم اداکیږی.مثلاً داسې ئې اووئیل.چه زه به صباله روژه نیسم.اود نفلو په نیت سره هم اداکیږی.مثلاً داسې اووائی.چه صباله به نفلی روژه نیسم.اود واجب آخر په نیت سره هم ادا کیږی.مثلاً اووائی.چه زه به صباله د کفاره یا د تیرې میاشتې د رمضان قضاء روژه نیسم.

واجب غیر معین روژې

وَالضَّرْبُ الثَّانِي مَا يَثْبُتُ فِي الذِّمَّةِ او دویم قسم هغه دې کوم چه په ذمه ثابت وی **كَقَضَاءِ رَمَضَانَ** لکه درمضان دمیاشتې قضا. **وَالنَّذْرِ الْمُطْلَقِ وَصَوْمِ الْكَفَّارَةِ فَلَا يَجُوزُ صَوْمُهُ** او روژه دکفارې نو د دې

روژه جائز نه ده (الا بنية من الليل) مگر دشپې نه په نیت سره وكذلك صوم الظهار او دغه شان روزه د ظهار ده

تشریح﴾ وجوب مبيت النية في الواجب الغيرالمعين﴾ د روژې قسم ثاني كوم چه ثابت في الذمه وي. او ددې دپاره هيڅ وخت متعين نه وي.لكه د رمضان قضاء روژې، دكفاره يمين روژې، دظهار د كفاره روژې، د قتل د كفاره روژې،د صيد د جزاء روژې،اود نذر معلق روژې. ددې قسم حكم دادې.چه د شپې نه يا په صباصادق كيدلو كښې كه نيت اوكړې شي.نوجائز دې.اوكه د صبا راختلونه پس نې نيت اوكړو.نو روژه به ټيك نه وي.ځكه چه ددې قسم روژو هيڅ وخت متعين نه وي.بلكه په پوره كال كښې د رمضان اود ،منهى عنها،ورځونه علاوه هركله نيولې كيدې شي.په دې وجه به د ورځ د شروع نه متعين كول ضروري وي.او ورځ شروع كيږي.د صبا په راختلوسره، په دې وجه د صبا راختلو نه مخكښې نيت اوكړې شي.يا د صباپه راختلوكښې نيت اوكړې شي.

والنفل كله يجوزاو نفل تولې روژې مخكښې د زوال نه بنية قبل الزوال)په نيت سره جائز دى (١)

تشریح﴾ شرطية نية النفل قبل نصف النهار﴾ ① اود نفلى روژو دپاره د نصف نهار نه مخكښې مخكښې نيت كول ضرورى دى.د نهارشرعى نصف حصه تيريدلو نه پس كه نيت اوكړې شو. نو روژه به معتبر نه وى.

دلائله﴾ ① زمونږ دليل دحضرت عائشه رضي الله عنها حديث دې.(أن رسول الله ﷺ كان يدخل على نسائه و يقول هل عندكن من غذاء فإن قلن لا،قال إني إذا الصيام(٢) يعنى رسول الله ﷺ به خپلو بيبيانو ته تشريف اورلو.او فرمائيل به نې.چه تاسو سره څه دخوراك دپاره شته.نوكه دوى به ونيل چه نه،نو فرمائيل به نې.چه اوس زه روژه دار يم.يعنى د صباكيدلو نه پس به چه دوى ته د خوراك څه څيز ملاؤ نشو .نودوى به د روژې نيت كولو.ددې نه معلومه شوه.چه د نفلى روژې نيت د نمر راختلونه پس هم جائز دې. ②او عقلى دليل دادې.چه درمضان المبارك نه علاوه پوره كال دنفلى روژو دپاره مشروع دې.نود ورځ په اوله حصه كښې امساك يعنى د خوراك څښاك اود جماع نه د بنديدلو نوم روژه كيدل په نيت باندې موقوف دى.په دې شرط چه نيت د ورځ په اكثرحصه كښې موجود شى.اونيت به د ورځ په اكثره حصه كښې هغه وخت متحقق كيږى.چه د نصف النهار نه مخكښې مخكښې اوكړې شى.

نية صوم النفل بعد الزوال﴾ ①اوكه د نفلى روژې نيت د زوال نه پس اوكړې شو.نو زمونږ په نيز جائز نه دې.(٣)

دليله﴾ اوزمونږ په نيز چونكه روژه نه تكړې كيږى.په دې وجه به د روژې اعتبار د اول نهار (شروع د ورځ) نه معتبر وى.اووجه دا ده.چه روژه د نفس مغلوب كولو يوعبادت دې.اودا عبادت يو مقدار اوپه

---

(١) **مذهب مالك رحمه الله:-** امام مالك رحمه الله فرمائي.چه دنفلى روژې دپاره هم د شپې نه نيت كول ضرورى دى.كه د صبا راختلونه پس نې نيت اوكړو.نو نفل روژه به هم معتبر نه وى.

(٢) من حديث عائشة رضي الله عنها اخرجه مسلم في الصيام رقم ١٦٩ وابوداود في الصوم باب ٧٢ رقم ٢٤٥٥ والنسائي في الصيام باب ٦٧ واحمد في المسند (٦/٤٩)۔

(٣) **مذهب الشافعي رحمه الله:-** البته د امام شافعى رحمه الله په نيز جائز دې.خود امام شافعى رحمه الله په نيز به روژه دار د هغه وخت نه شمارلې شى.د كوم وخت نه نې چه د روژې نيت كړې دې.

معين امساك سره متحقق دي.اود امساك دا مقدار پوره يوه ورځ ده. يعنی د صبا راختلونه د نمر پريوتلو پورې ده.نود نيت اقتران به د ورځ اکثر حصې سره معتبر وی.يعنی که د ورځ اکثرحصه کښې نيت موجود شو.نو روژه به معتبر وی.ګنې معتبر به نه وی.

د مياشت د ليدو حکم

(وَيَنْبَغِي لِلنَّاسِ أَنْ يَلْتَمِسُوا الْهِلَالَ فِي الْيَوْمِ التَّاسِعِ وَالْعِشْرِينَ مِنْ شَعْبَانَ د رويت حلال په باره کښې خلقو لره پکار دی چه په غور سره اوګوری مياشت د شعبان په يوکم ديرشم تاريخ باندې دشعبان ،فَإِنْ رَأَوْهُ صَامُوا که ونې ليدله نو روژه دې اونيسی وَإِنْ غُمَّ عَلَيْهِمْ أَكْمَلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِينَ يَوْمًا ثُمَّ صَامُوا)اوکه وريځ پته کړه نوپوره دې کړی شمير ديرش ورځې دَ شعبان بيا دې روژه کړی

تشريح﴾ لزوم الصوم برؤية الهلال او تكميل شعبان﴿ علامه ابن الهمام رحمه الله په فتح القدير کښې ليکلی دی.چه په ۲۹ شعبان د رمضان المبارك مياشت(سپوږمی)کتل واجب علی الکفايه دی.ځکه چه مياشت کله د ۲۹ ورځو وی.اوکله د ديرشو وی.نوکه په ۲۹ شعبان مياشت په نظر راغله.نو روژه به نيولې شی.اوکه مياشت په نظر رانغله.نود شعبان ۳۰ ديرش ورځې به پوره کولې شی.اوبه راروانه ورځ به روژه نيولې شی.

دلائله﴾ ① دليل د رسول الله ﷺ قول(**صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته فان غم عليكم الهلال فأكملوا عدة شعبان ثلاثين يوما**) [1] دې. ② عقلی دليل دادې.چه اصل هم دادې.چه د شعبان مياشت باقی وی.ځکه چه د شعبان مياشت د مخکښې نه په يقين سره راروانه ده.نو بغير د دليل نه به ددې نه رمضان طرف ته انتقال نه کيږی.او دلته کښې هيڅ دليل نشته.ځکه چه په ۲۹ شعبان په يقين سره مياشت په نظر رانغله.بلکه د وريځ په وجه شك دې.اود شك په وجه يقين نه زائل کيږی.نو په ۲۹ شعبان د سپوږمۍ د شك په صورت کښې به د شعبان مياشت ختمه نه وی.بلکه ۳۰ تاريخ پورې به د شعبان مياشت باقی وی.

د يوکس د رمضان د مياشتې ګواهې رد کيدل

وَمَنْ رَأَى هِلَالَ رَمَضَانَ وَحْدَهُ صَامَ چا چه يواځې درمضان مياشت اوليده نودې به روژه نيسی وَإِنْ لَمْ يَقْبَلِ الْإِمَامُ شَهَادَتَهُ اګر چه امام دده شهادت قبول نکړی.

تشريح﴾ وجوب الصوم علي الرائي وإن رد شهادته﴿ مسئله داده.که يوکس يواځې مياشت اوليدله.مطلع صفا وو.اود بيدارۍ(ويخې) په حالت کښې ښکاره اوليدله.په خوب کښې نه.نودا کس به پخپله روژه نيسی اګرچه امام دده ګواهی په څه وجه نه وی قبول کړې.

دلائله﴾ ① دليل دادې.چه نبی کريم ﷺ فرمائيلي دی.(**صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته**) [2] نوکله چه دده په حق کښې رويت هلال(د سپوږمۍ ليدل) موجود شو.نوپه ده به روژه نيول واجب وی. ②او چه کله دده د بيدارۍ په حالت کښې ښکاره مياشت اوليدله.نودده په حق کښې د مياشت شهود موجود شو.يعنی دده په حق کښې رمضان موجود شو.او الله تعالی فرمائيلی دی. ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ چه د

[1]) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه البخاری في الصوم باب ۱۱ رقم ۱۹۰۹ ومسلم في ا لصوم رقم ۱۷)۔

[2]) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه أخرجه البخاری في الصوم باب ۱۱ رقم ۱۹۰۹ ومسلم في ا لصوم رقم ۱۷)۔

چا په حق کښې رمضان موجود شی.په هغه باندې د رمضان روژه فرض شوه.نو آیت او روایت دواړه ده په حق کښې د رمضان د روژو په وجوب باندې دلالت کوی.

وجوب القضاء فقط عند الفساد> اوکه دې کس په دې ورځ کښې روژه ماته کړه.اګرچه په جماع ئې ماته کړې وی.نو په ده به ددې روژې قضاء واجب وی.کفار به واجب نه وی.(١)

دلیله > دلیل دادې.چه هرکله قاضی ده ده شهادت رد کړو.نودا کس شرعاً دروغژن کړې شو.او قاضی ده ده شهادت هم په شرعی دلیل سره رد کړې دې.اوشرعی دلیل د غلطئ الزام دې.ځکه چه مطلع صفا ور.او ددې باوجود هم صرف ده ته میاشت په نظر راغله.نور هیڅ چاته په نظر رانغله.حالانکه په دې ورځ د مسلمانانو ګڼره وی.او ټول د میاشت لیدلو کوشش کوی.نو یواځی ده ته میاشت په نظر راتلل.او نورو ته په نظر نه راتلل.په دې سره د میاشت په نظر راتلوکښې یوقسم شبه پیدا کیږی.او کفاره د شبهاتو په وجه ساقط کیږی.نو په دې صورت کښې به هم په دې کس باندې د روژې ماتولو په وجه سره کفاره واجب نه وی.

وَلَوْ اَفْطَرَ قَبْلَ اَنْ يَرُدَّ الْإِمَامُ شَهَادَتَهُ اخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيهِ اوکه ده ماته کړه مخکښې ددې نه چه امام د ده شهادت قبول نکړی.و ددې په بابت کښې مشائخواختلاف کړې دې

تشریح> **ألمذهبان في وجوب الكفارة قبل رد شهادته**> اوکه امام تر اوسه پورې د ده ګواهی نه ده رد کړې.بلکه دې کس ددې نه مخکښې روژه ماته کړه.نود کفاره په وجوب کښې د مشائخو رحمهم الله اختلاف دې. ① بعضې فرمائی.چه په دې صورت کښې به کفاره واجب وی.ځکه چه شبه پیدا کونکې قاضی ده ده شهادت رد کول وو.اود قاضی د طرفه د شهادت رد کول موجود نشو.په دې وجه شبه هم اونه موندې شوه. اوهرکله چه د رمضان په ثبوت کښې څه قسمه شبه اونه موندې شوه.نو په رمضان کښې د روژه ماتولو په وجه سره به په ده باندې د قضاء سره کفاره هم واجب وی. ② خوصحیح قول دادې.چه په دې صورت کښې به کفاره واجب نه وی.

دلیل القول الأصح> ځکه چه د شهادت رد کولونه مخکښې هم شبه موجود ده.ځکه چه امام ترمذی او ابوداؤد رحمهما الله د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې.چه**أنه قال الصوم يوم تصومون والفطر يوم تفطرون**) یعنی نبی کریم ﷺ فرمائی.چه په کومه ورځ تاسو روژه نیسئ.هغه د روژې ورځ ده.او په کومه ورځ چه تاسو افطار کوئ.هغه ورځ د افطار ده.حاصل داچه په کومه ورځ عام خلق روژه نیسی.هغه د فرض روژې ورځ ده.او په کومه ورځ چه عام خلق افطار کوی.هغه د فرض افطار ورځ ده.ددې حدیث نه معلومه شوه.چه فرض روژه به هغه وخت شمارلې شی.چه کله عام خلق په دې ورځ روژه اونیسی.او په ذکرشوی صورت کښې عامو خلقو روژه نه ده نیولې.په دې وجه به فرض روژه هم نه شی شمارلې.نوددې روژې په فرض کیدلو کښې شبه پیدا شوه.اوچونکه شبهات کفاره دفع کوی.په دې وجه په دې صورت کښې هم د روژې په ماتولوسره کفاره نه واجب کیږی.

عدم جوازالإفطار عند تكميل ثلاثين> اوس که دې کس ۳۰ روژې پوره کړې.اود امام او د عامو مسلمانانو ۲۹

---

(١) **مذهب الشافعي** رحمه الله:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه که په جماع سره ئې دا روژه ماته کړې ده.نو په ده باندې به د قضاء سره د روژې کفاره هم واجب وی.اوکه په خوراك څکاك سره ئې ماته کړې ده.نو په ده به د روژې کفاره واجب نه وی.هم دا قول د امام مالك او امام احمد رحمهما الله دې.

شوي.او په ۲۹ رمضان باندې د اختر میاشت(سپوږمۍ) په نظر رانغله.نودا کس به هم په دې خیال افطار نه کوی.چه زما ۳۰ روژې پوره شوې.بلکه د امام سره به افطار کوی.اود امام سره به راروانه ورځ روژه نیسی.

دلیله< خکه چه د رمضان میاشت دده په خانله لیدلو باندې یواخې په ده باندې احتیاطاً روژه واجب کړې شوه.د رمضان قطعی فرض روژه په خیال باندې نه واجب کړې شوې.او دلته کښې د افطار په تاخیر کښې احتیاط دې.خکه ممکن ده.چه د رمضان په میاشت کښې ده ته دهوکه شوې وی.یعنی اولنۍ روژه کومه چه ده د رمضان روژې په خیال سره نیولې ده.هغه د رمضان نه وی.بلکه د شعبان وی.نودده به د رمضان روژې ۲۹ وی.نو احتیاطاً به داکس هم د امام وخت سره افطار کوی.

عدم وجوب الكفارة بعد تكميل ثلاثين< خوکه ددې باوجود ده خپلې ۳۰ روژې پوره کړې.او یواخې ئې خانله افطار اوکړو.نو په ده به کفاره واجب نه وی.خکه چه په ۳۰ روژو پوره کولو باندې ددې کس په خپل خان باندې یقین دې.چه نن د اختر ورځ ده.نود اختر د شبه په وجه به په ده باندې کفاره واجب نه وی.

(وَإِذَا كَانَ فِي السَّمَاءِ عِلَّةٌ قَبِلَ الْإِمَامُ شَهَادَةَ الْوَاحِدِ الْعَدْلِ فِي رُؤْيَةِ الْهِلَالِ اوکله چه په آسمان کښې علت وی نو قبوله دې کړی امام گواهی دیو عادل په لیدو دمیاشتې باندې. رَجُلًا كَانَ أَوِامْرَأَةً حُرًّا كَانَ أَوْعَبْدًا) سړې وی که ښځه.آزاد وی اوکه غلام وی.

تشریح< **قبول شهادة الواحد في يوم غيم**< مسئله داده.چه که مطلع صفا نه وی.بلکه وریخ وی.یا دوړه یا لوګې وغیره وی. نود رمضان د میاشت رؤیت(لیدل)د یو کس په گواهۍ سره ثابتیږی.دا کس که سړې وی،اوکه ښځه وی، آزاد وی اوکه غلام وی.

دلیله< دلیل دادې.چه دا یوه دینی معامله ده.یعنې دې کس دا خبر ورکړو.چه په خلقو باندې د رمضان روژې فرض شوی دی.او په خلقو باندې د رمضان د روژو واجبیدل ښکاره خبره ده.چه دا دینی امردې.اود امر دینی ثابتولو دپاره عدالت خو شرط دې.خو عدد، آزادی، او مذکرکیدل شرط نه دی.لکه څنګه چه د احادیثو روایت کول یو دینی کار دې. نود احادیثو په روایت کولوکښې نه عدد شرط دې.نه آزادی شرط ده.اونه مذکر کیدل شرط دی.بلکه د احادیثو روایت د یوکس هم قبول وی.د غلام هم ،اود ښځې هم قبول وی.

عدم شرطية لفظ الشهادة في الشهادة< رؤیت هلال چونکه یو دینی امردې.په دې وجه ددې د ثابتولو دپاره لفظ د شهادت شرط نه دې.یعنې دا وئیل شرط نه دی.چه زه گواهی ورکوم، یا زه شهادت ورکوم، چه ماد رمضان میاشت لیدلې ده.لکه څنګه چه په دنیاوی امورو کښې د گواهی ورکولو دپاره لفظ د شهادت ضروری وی.

د مطلع د صفا والی په صورت کښې د رؤیت ثبوت

(فَإِنْ لَمْ تَكُنْ فِي السَّمَاءِ عِلَّةٌ لَمْ تُقْبَلِ الشَّهَادَةُ اوکه نه وو په آسمان کښې علت نوګواهی به نشی قبلولې حَتَّى يَرَاهُ جَمْعٌ كَثِيرٌ يَقَعُ الْعِلْمُ بِخَبَرِهِمْ تر څو پورې چه اووینی کثیر تولګې دکومو په بیان سره چه یقین راشی

حل اللغة< ① **علة**: یعنې چه په اوریخوځه خیز وی

تشریح< **شرطية الجمع الغفير عند عدم الغيم**< مسئله داده.چه که په آسمان باندې وریخ،دوړه وغیره نه وی بلکه مطلع بالکل صفا وی.نوبه رؤیت هلال کښې به د دومره لوې جماعت گواهی قبلولې شی چه

ددوی په خبرسره د میاشت لیدلو یقین حاصل شی.ځکه چه مطلع صفا وی.نو په دې صورت کښې صرف د یوکس میاشت لیدل،اود باقی خلقو نه لیدل د غلطئ وهم پیدا کوی.یعنی دا وهم پیداکیږی.چه که میاشت موجود وه.نو نورو ته به هم په نظر راغلې وه.نوداسې معلومیږی.چه د یوکس دوه د میاشت په لیدلوکښې غلطی واقع شوې ده.

حکم الشهادة عند العلة بالسماء> خوکه په آسمان باندې وریځ وی.نود یوکس دوه گواهی به هم قبلولې شی.ځکه چه د وریځ په صورت کښې کله داسې کیږی.چه د میاشت په ځائې کښې وریځ جدا شی.اوکوم یو کس ته په نظر راشی.او وریځ بیا یوځائې شی.

ألأقوال في الجمع الغفير> پاتې شوه داخبره چه دکثیر مقدار څه دې.نو① د بعض حضرات فرمانی. چه د کثیر نه مراد د محله ټول خلق دی.یعنی پوره محله خلقومیاشت او کتله، نو رؤیت به ثابت وی. ②اود امام ابویوسف رحمه الله نه نقل دی.چه دکثیر نه مراد پنځوس کسان دی.امام ابویوسف رحمه الله دا په قسامت باندې قیاس کړې ده.یعنی که په محله کښې څوك مقتول بیا موندې شو.او قاتل معلوم نه دې.نود محله د پنځوسو کسانو نه به په لاعلمئ (ناخبرئ) باندې قسم اخستلې شی.نولکه څنگه چه دلته کښې د پنځوسو کسانو د قسم نه د قاتل په باره کښې د لاعلمئ یقین کیږی.دغه شان د میاشت په باره کښې هم د پنځوسو کسانو په لیدلوسره رؤیت ثابتیږی.

ألقولان في مقام الروايتين> صاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلی دی.چه که مطلع صفا وی.نود یوکس دوه گواهی به نه قبلیږی.چه ترکومه پورې کثیرجماعت نه وی.اوس دا گواهی ورکونکی حضرات به① هغه وی.چه په ښار او آبادئ کښې ئې میاشت لیدلې ده. ②یا به هغه وی.چه د ښار نه بهر ئې کتلې وی.او راغلی وی.په دواړوصورتونوکښې د کثیر جماعت کتل شرط دی.امام طحاوی رحمه الله فرمانی.چه میاشت کتونکې که د آبادئ نه بهر لیدلی وی.او راغلی وی.نود یوکس شهادت به هم قبلولې شی.ځکه چه دښار نه بهر د لیدلو مواقع کم دی.یعنی په ښار کښې دننه خو لوگې، اوگرد وغبار وی.خوبهر هیڅ نه وی.په دې وجه به دده قول قبلولې شی.په کتاب الاستحسان کښې هم دې قول طرف ته اشاره ملاویږی.اود امام طحاوی رحمه الله په نیز دغه شان که یوکس په ښار کښې دننه په اوچت ځائې اودریدلو.او میاشت ئې اولیدله.نود یوکس گواهی به قبلولې شی.

وَوَقْتُ الصَّوْمِ مِنْ حِيْنِ طُلُوْعِ الْفَجْرِ الثَّانِيْ إِلَى غُرُوْبِ الشَّمْسِ او دروژې وخت دصبا ثانی دختونه تر پریوتلو دنمر پورې دې.

تشریح> **اول وقت الصوم و آخره**>په دې عبارت کښې د روژې اول او آخر بیان شوې دې.فرمانی. چه دروژې وخت د صباصادق راختلو د وخت نه تر د نمر پریوتلو پورې وی.

دلیله>دلیل د الله تعالی قول دې﴿حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ﴾ اوددې نه پس فرمانی. ﴿ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ﴾ په آیت کښې د خیط ابیض نه مراد د صبارڼرا ده.اود خیط اسود نه مراد د شپې تیاره ده.نوپه دې آیت کښې د شپې تیاره په تورخط،او د صبا رڼرا په سپین خط په مثال سره د روژې شروع کیدلو،اود خوراك څکاك د حرام کیدلو صحیح وخت متعین کړې شوې دې.

د روژې تعریف

وَالصَّوْمُ هُوَ الْإِمْسَاكُ عَنِ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَالْجِمَاعِ نَهَارًا مَعَ النِّيَّةِ او روژه چه ده منع کیدل دی دخوراك

څکاك اوجماع کولو نه د ورځې نه.سره د نیت نه په شروع کېږي

تشریح﴾ تعریف الصوم لغةً﴾ دلته کېږي د روژې تعریف شوې دې.فرمائي.چه په شریعت کښې روژه په نیت سره دخوراك څکاك اود جماع نه د بندیدلو نوم دې.ځکه چه په لغت کښې د صوم لفظ مطلقاً د امساك په معنی کېږي ده.په دې وجه چه د اسلام نه مخکښې هم دا لفظ د امساك معنی کښې استعمالیدلو.خو په شریعت کښې په دې باندې د نیت اضافه اوکړې شوه.چه د نیت په وجه سره د عبادت په طور امساك اود عادت په طور امساك په مینځ کښې فرق اوشي.

دلائله﴾ اوشرعی صوم ورځ سره خاص ده. ① د الله تعالی د قول ﴿وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ﴾ او ﴿ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ﴾ په وجه سره، ځکه چه په دې آیت کښې صوم د صبا راختلو نه د شپې پورې بیان شوې دې. ② او عقلي دلیل دادې.چه صوم وصال یعنی د شپې ورځې روژه ساتل، خو متعذر دی.ځکه چه مسلسل یوه میاشت شپه او ورځ خورك څکاك نه کولو سره د مرګ قوی امکان دې.نو په شپه ورځ کښې به یود روژې دپاره متعین کول ضروري وی.نود عقل تقاضا داده.چه ورځ متعین کول اولی دی.چه د ورځې خوراك څکاك نه بندیدل د عادت خلاف واقع وی.اود عبادت بنیاد هم په دې باندې دې.چه دا د عادت اوخواهشاتو خلاف وی.

(فَإِنْ أَكَلَ الصَّائِمُ أَوْشَرِبَ أَوْجَامَعَ نَهَارًا نَاسِيًا لَمْ يُفْطِرْ) که څه اوخوری روژه دار یا دا چه څه اوڅښی اویا جماع اوکړی په هیره سره نو روژه نه ماتیږی (۱)

تشریح﴾ فساد الصوم بالمفطرات﴾ مسئله: ① که روژه دار په هیره خوراك اوکړی.یاڅکاك اوکړی. یا جماع اوکړی. نو د ده روژه به نه ماتیږی.

وجه الإستحسان﴾ ① وجه د استحسان داحدیث دې.چه یوکس د روژې په حالت کښې څه اوخوړل، یا ئې اوڅکل،نوده ته نبی کریمﷺ اوفرمائیل.چه ته خپله روژه پوره کړه.ځکه چه الله تعالی په تاخوراك څکاك کړې دې. (۲) ② او په یوحدیث کښې دی.(أن من أفطر في شهر رمضان ناسياً فلا قضاء عليه ولا كفارة) یعنی کوم کس چه په هیره په روژه کښې افطار اوکړو.نو نه په ده قضاء شته، اونه کفاره.بهرحال دا ټول حدیثونه په دې خبره دلالت کوی.چه په هیره خوراك څکاك سره روژه نه ماتیږی. ③ (عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال من نسي وهو صائم فأكل أو شرب فليتم صومه فإنما أطعمه الله وسقاه) یعنی رسول اکرمﷺ فرمائیلی دی.کوم کس چه هیرکړو.حالانکه دې روژه داردې.بیا ده اوخوړل.یا اوڅکل،نو خپله روژه دې پوره کړی.ځکه چه الله تعالی په ده خوراك کړې دې. او څکاك کړې دې ④ اوپه دارقطنی کښې دی.(أن رجلاً سأل رسول الله ﷺ

---

۱ ، **مذهب مالك رحمه الله:**- دقیاس تقاضا داده.چه روژه ماته شی.هم دا د امام مالك رحمه الله قول دې. د قیاس وجه داده.چه خوراك څکاك اوجماع کول د روژې ضد دې.اود شئ ضد شئ معدوم کوی.ځکه چه په یو وخت کښې د ضدینو موجود کیدل محال دی.نوهرکله چه د روژې ضد یعنی خوراك څکاك وغیره موجود شو.نوروژه معدوم شوه.

۲) من حديث أبي هريرة رضي الله عنه اخرجه البخاري في الصوم باب ۲۶ ومسلم في الصوم رقم ۱۷ وأبوداود في الصيام باب ۴۰ رقم ۲۳۹۸ والترمذي في الصوم باب ۲۶ رقم ۷۲۱ وابن ماجه في الصيام باب ۱۵ رقم ۱۶۷۳ والدارمي في الصوم باب ۲۳ واحمد في المسند (۲/۳۹۵)_

تعالىٰ إن كنت صائماً فأكلت وشربت ناسياً، فقال ﷺ أتم صومك فإن الله أطعمك وسقاك﴾ يعني يوكس د رسول الله ﷺ نه نېږس اوكړو.او وې وئيل.چه زما روژه وه.ماپه هيره خوراك څكاك اوكړو.نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل.چه نه خپله روژه پوره كړه.څكه چه الله تعالى په تا خوراك څكاك كړې دې.

الإعتراض﴾ پاتې شو دا اعتراض چه داحديث د كتاب الله متعارض دې.څكه چه په كتاب الله كښې دى.﴿ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ﴾ اود صيام او صوم معنى ،امساك، ده.يعنى بنديدل،او په هيره د خوراك څكاك په صورت كښې امساك موجود نشو.نوپه هيره د خوراك څكاك په صورت كښې آيت دلالت كوى.په بطلان د صوم باندې.او حديث دلالت كوى.په بقاء د صوم باندې.

ألجواب﴾ ددې جواب دادې.چه په كتاب الله كښې د نسيان په معاف كيدلو دلالت دې.لكه چه ارشاد دې.﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا﴾ نوهركله چه نسيان معاف دې.نوپه حديث او كتاب الله كښې هيڅ تعارض باقى پاتې نشو.

الإشكال﴾ دلته يو.سوال دې.چه په هيره خوراك څكاك سره د روژې نه ماتيدل،خلاف قياس په نص (حديث) سره ثابت دى.اوكوم څيز چه خلاف قياس ثابت وى.هغه غير طرف ته نه متعدى كيږى.نود روژې دنه ماتيدلوحكم په هيره جماع كولو طرف ته متعدى كيدل نه دى پكار،يعنى په هيره جماع كولوسره روژه ماتيدل پكاردى.حالانكه تاسو په هيره جماع كول، په هيره خوراك څكاك باندې قياس كړى دى.اوپه دې هم د روژې ماتيدلو حكم لګولې دې.

ألجواب﴾ ددې جواب دادې.چه په هيره جماع كولوسره د روژې نه ماتيدل، دقياس نه ثابت نه دى. بلكه دلالت النص سره ثابت دى.په دې طريقه چه د خوراك څكاك اود جماع كولونه بنديدل.د روژې په ركن كيدلوكښې تول برابر دى.نوجماع،د خوراك څكاك په شان شو. او چونكه د نص (حديث) په وجه سره نسياناً د خوراك څكاك په حق كښې د صوم دعدم فساد حكم ثابت دې.نو نسياناً د جماع په حق كښې به هم دلالةً د صوم د عدم فساد حكم ثابت وى.

په شيطاني خوب د روژې ماتيدل

فَإِنْ نَامَ فَاحْتَلَمَ لَمْ يُفْطِرْ نوكه اوده شو او احتلام ئې اوشو نونه ماتيږى

تشريح﴾ عدم الفساد بالإحتلام﴾ مسئله:كه روژه دار اوده شو.اوده ته په هم په دې حالت كښې احتلام اوشو.نودده روژه به فاسد نه وى.

دلائله﴾ ① څكه چه په حديث ﴿ثلاث لا يفطرن الصيام ألقئ والحجامة والإحتلام﴾[1] كښې درې څيزونه مفسد د صوم نه دى.يو بې اختياره قئ راتلل، دويم ښكر لګول، دريم احتلام كيدل.② دويم دليل دا دې.چه په احتلام كښې جماع نه صورةً موجود شوه.او نه معنىً.صورةً خوڅكه چه د جماع صورت دادې.چه يو شرم ګاه په بل شرمګاه كښې داخل شى.او په احتلام كښې داخبره نه وى.او معنىٰ جماع په دې وجه موجود نشوه.چه معنىٰ جماع داده.چه ښځه اوسړې په شهوت سره خپلوكښې ملاوشى.او ادخال اونشى. خو انزال اوشى.نود احتلام په صورت كښې چه هركله نه صورةً جماع موجود شوه.اونه معنىٰ جماع موجود شوه.نود روژې فاسد كيدلو هدو سوال پاتې نشو.

[1]) من حديث أبي سعيد الخدري رضي الله عنه اخرجه الترمذي في الصوم بب ٢٤ ذقم ٧١٩)۔

د ښځې شرمګاه ته په کتلو انزال کېدل

اَوْنَظَرَاِلٰی امْرَأتِهٖ فَاَنْزَلَ) دغه شان که ښځې ته ئې اوکتل اومنی ئې اووتله

تشریح> **عدم الفساد بالإنزال بوجه النظر إلي فرج>** که یو روژه دار یوښانسته شان ښځې یا ددې شرمګاه ته اوکتل.اود غریب منی اووتله.نودده روژه به فاسد نه وی.

دلیله> ځکه چه په دې صورت کښې هم جماع نه صورة موجود شوه.او نه معنیً.اودا داسې شولکه چه یو روژه دار د یوښانسته ښځې په تصور کښې کیناستلو.او هم په دې تصور کښې ئې منی خارج شوه.نودده روژه به فاسد نه وی.

(اَوْاَدْهَنَ اوکه تیل ئې اولګول (اَوِاحْتَجَمَ) اویا ئې رګ اووهی

تشریح> **عدم فساد الصوم بالدهن>** مسئله:په بدن یا سرکښې تیل لګول،روژه نه فاسدوی.

دلیله> ځکه چه روژه هغه وخت فاسدیږی.چه کله د روژې منافی څه څیز موجود شی.او تیل لګول د صوم منافی نه دی.په دې وجه دې سره روژه نه فاسدیږی.

عدم الفساد بالحجامة> اوښکر لګول هم مفسد د صوم نه دی.

دلائله> ① یوخو په دې وجه چه ښکر لګول د صوم منافی نه دی.② دویم دهغه حدیث په وجه سره کوم چه مونږ وړاندې روایت کړې دې.یعنی (لايفطرن الصيام ألقيء والحجامة والإحتلام)

اَوْاکْتَحَلَ اوکه رانجه ئې پورې کړل

تشریح> اوکه رانجه ئې اولګول، بیابه هم روژه فاسد نه وی.اګرچه په حلق کښې ددې مزه محسوسه شی.

دلائله> ① ملاعلی قاری رحمه الله په شرح نقایه کښې د ابن ماجه په حواله سره د عائشه صدیقه رضی الله عنها حدیث نقل کړې دې.(أنه ﷺ إكتحل وهو صائم)دا ټول روایتونه ددې خبرې شاهد دی.چه رسول الله ﷺ به د روژې په حالت کښې رانجه استعمالول.② صاحب د کفایه رحمه الله د ابو رافع رضی الله عنه حدیث بیان کړې دې.(أن النبي ﷺ دعا بمكحلة أثمد في رمضان فاكتحل وهو صائم)یعنی نبی کریم ﷺ د اثمد رانجو رانجورومه (د رانجو ساتلوکسوړۍ) په رمضان کښې اوغوښتله.بیادوی په حالت د روژه کښې رانجه اولګول.③ د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه حدیث دې.(قال خرج رسول الله ﷺ عاشورا من بيت أم سلمة وعيناه مملوتان كحلاً كحلة أم سلمة رضی الله عنها) یوځلې رسول الله ﷺ د عاشوره په ورځ د ام سلمه رضی الله عنها دکورنه په داسې حال کښې راؤ وتلو.چه ددوی دواړه سترګې د رانجو نه ډکې وې.ام سلمه رضی الله عنها هم رانجه لګولی وو.عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمانی.چه دا دهغه وخت خبره ده.کله چه د عاشوره روژه فرض وه.او بیا منسوخ شوه.④ اوځکه چه په سترګو اودماغ په مینځ کښې لاره نشته.په دې وجه د رانجو په حلق کښې تلل ممکن نه دی.

الإعتراض والجواب> اوپاتې شو داچه هرکله په سترګو او دماغو په مینځ کښې هیڅ لاره نشته.نو په حلق کښې ددې مزه ولې محسوس شوه.نوددې جواب دادې.چه مزه د رانجو اثر دې.نه د عین رانجو، او روژه د عین رانجو په حلق کښې تللوسره ماتیږی.د رانجو په اثر سره نه ماتیږی.

الإعتراض الثاني> اوپاتې شو دا اعتراض چه دسترګو او دماغو په مینځ کښې چه هرکله هیڅ لاره

نشته.نو اوبنكي د كوم خائي نه راوځي.

الجواب> ددې جواب دادې.چه اوبنكې دخولو پشان د مساماتو دننه نه راوځي.او دمساماتو په ذريعه داخليدونكې څيزد روژې منافي نه دي.نوپه دې سره به روژه نه ماتيږي. لكه كه يو روژه دار په يخو اوبوسره غسل اوكړو.اود يخوالي اثر زړه او دماغوته اورسيدلو.نوپه دې سره به روژه نه ماتيږي.ځكه چه د يخوالي حاصليدلو ذريعه مسامات دي.

الإعتراض الثالث> خوكه دا سوال اوكړې شي.چه د حديث نه معلوميږي.چه د روژې په حالت كښې رانجه لګول منع دي.ځكه چه معبد بن هوذه انصاري رضي الله عنه د الله د رسول ﷺ نه روايت كوي.چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل.(عليكم بالاثمد المروح وقت النوم وليتقه الصائم)يعني ته د اوده كيدلوپه وخت آرام ده.اثمد رانجه لګوه.او روژه دار دې ددې نه ځان ساتي.ددې حديث نه معلومه شوه.چه روژه دار دې د رانجو استعمال نه كوي.

الجواب> صاحب د عنايه رحمه الله فرمائي.چه رسول اكرم ﷺ د عاشوره روژه او په دغه ورځ رانجه لګول مستحب ګرځولي دي.او امت د عاشوره په ورځ رانجو لګولو باندې اتفاق هم كړې دې.نودا روايت د تيرشوي روايت نه راجح دې.

بغير د انزال نه د ښكلولو حكم

اَوْقَبَّلَ لَمْ يُفْطِرْ او كه ښځه ئې ښكل كړه نو روژه ئې نه فاسد يږي

تشريح> **عدم فساد الصوم بالقبلة**> مسئله داده.كه روژه دار ښځه ښكل كړله.او دده انزال اوشو.نو دده روژه به فاسد نه وي.

دليله> ځكه چه بغير د انزال نه د كوكئ اخستلو په صورت كښې جماع نه صورةً موجود شوه.او نه معنیً موجود شوه.حالانكه مفسد د صوم جماع وي.كه صورةً وي.اوكه معنی وي.

په ښكلولو سره د انزال حكم

فَاِنْ اَنْزَلَ بِقُبْلَةٍ اَوْلَمْسٍ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَلَاكَفَّارَةَ عَلَيْهِ كه په ښكولو يا مسه كولوئې انزال اوشو نوپه ده باندې قضاء د كفارې پرې نشته دې.

تشريح> **وجوب القضاء بالإنزال دون الكفارة**> كه روژه دار د ښځې نه كوكئ واخستله.يا دې ته لاس يوړلو.او انزال اوشو .نو دده روژه فاسد شوه.اوس به په ده باندې ددې روژې قضاء واجب وي.كفاره به واجب نه وي.

دليل وجوب القضاء> قضاء خوبه په دې وجه واجب نه وي.چه جماع صورةً اګرچه نه ده موجود شوې.ځكه چه ښځه اوسړې په شهوت سره ملاوشي.او انزال اوشي.دې ته معنیً جماع وائي.او احتياطاً قضاء واجبولو دپاره د صوم منافي موجودكيدل كافي دي.كه صورةً موجود شي.او كه معنی موجود شي.

دليل عدم وجوب الكفارة> او پاتې شو.د كفاره نه واجبيدل.نوددې وجه داده.چه كفاره هغه وخت واجبيږي.چه كله جرم مكمل طور باندې متحقق شي.او دلته كښې صورةً جماع نه موجود كيدلوپه وجه سره جرم سپك شو.بلكه يوقسم د عدم جماع شبه پيدا شوه.اودا خبره منلې شوې ده.چه د شبهاتو په وجه سره كفارات لرې كولې شي.كله ځنګه چه د شبهاتو په وجه سره حدود لرې كولې شي.

په نفس د قابو په وخت كښې د ښكلولو اجازت

وَلَابَاْسَ بِالْقُبْلَةِ اِذَا اَمِنَ عَلٰى نَفْسِهٖ) اوپه ښكلولو كښې باك نشته دې كله چه پخپل نفس قابومومي

تشریح ﴾ عدم کراهة القبلة عند الأمن من الإنزال ﴿ مسئله: روژه دار که په خپل نفس باندې اطمینان لرې.نوده له د خپلې ښځې نه دکوکۍ په اخستلوکښې هیڅ باك نشته.یعنی په جماع کښې د واقع کیدلو نه که اطمینان وی.اود منی خارجیدلو نه اطمینان وی.نود روژې په حالت کښې د کوکۍ په اخستلوکښې هیڅ باك نشته.

دلائل عدم کراهة القبلة ﴾ بهرحال ثابت شو.چه د امن په حالت کښې د روژه دار دپاره کوکۍ اخستل بلاکراهت جائزدی. ① په صحیحین کښې دی. (**أنه ﷺ کان یقبل ویباشر وهوصائم**) یعنی رسول الله ﷺ به د روژې په حالت کښې د ښځې کوکۍ اخستله.او خپلوکښې به یوځائې کیدل. ② حضرت ام سلمه رضي الله عنها نه نقل دی. (**أنه کان یقبلها وهوصائم**) ام سلمه رضي الله عنها فرمائی.چه رسول الله ﷺ به ددې نه د روژې په حالت کښې کوکۍ اخستله.ددې دواړو روایتونو نه هم د روژه دار دپاره د کوکۍ اخستلو اجازت معلومیږی.

وَيُكْرَهُ إِنْ لَمْ يَأْمَنْ)اومکروه دی کله چه اطمینان نه وی ([1])

تشریح ﴾ کراهة القبلة عند خوف الإنزال والجماع ﴿ اوکه اطمینان نه وی.بلکه په جماع کښې د مبتلا کیدلو ویره وی.یاد منی خارجیدلو خطره وی.نوپه داسې صورت کښې د روژه دار دپاره کوکۍ اخستل مکروه دی.

دلیله ﴾ ځکه چه کوکۍ اخستل پخپله خو روژه نه ماتوی.خو ډیرکرته د انجام په اعتبار سره د صوم د فساد سبب جوړیږی.په دې طریقه چه روژه دار دخپلې ښځې نه کوکۍ واخستله.او صبر ئې اونکړې شو.نوصحبت ئې اوکړو.یادومره لګیا شو.چه په کوکۍ اخستلواخستلو ئې انزال اوشو.نو په دې دواړو صورتوکښې به روژه فاسد وی.نوکه روژه دار په دې خبره مطمئن وی.چه د بد انجام وخت به نه راځی.نوخاص د کوکۍ اعتبار به کولې شی.اود کوکۍ اجازت به ورکولې شی.خوکه دا اطمینان نه وی.نود انجام اعتبار به کولې شی.او مکروه به ګرځولې شی.

په قئ باندې د روژې ماتیدل

وَإِنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ لَمْ يُفْطِرْ که روژه دار قئ اوکړو نو روژه ئې نده ماته

حل اللغة ﴾ ① ذرعه: پخپله قئ راتلل ② **قئ:** قئ

تشریح ﴾ عدم الفساد بالقئ ودلیله ﴿ مسئله داده.که قئ پخپله اوشو.نو روژه به فاسد نه وی.قئ که قلیل وی.اوکه کثیر

وی.دلیل داحدیث دې. (**من قاء فلا قضاء علیه ومن استقاء عامداً فعلیه القضاء**) ([2])

یعنی د کوم کس چه په خپله قئ اوشی.نو په هغه باندې قضاء نشته.

---

[1] **مذهب الشافعی** رحمه الله ﴾ حضرت امام شافعی رحمه الله په امن او غیر امن دواړه حالتونوکښې کوکۍ بغیر د کراهته جائزګرځولې ده.خو زمونږ د طرفه بیان شوې دلیل د امام شافعی رحمه الله خلاف حجت دې.

[2] من حدیث أبي هریرة رضي الله عنه أخرجه أبوداود في الصوم باب ۳۳ رقم ۲۳۸۰ والترمذی في الصوم باب ۲۵ رقم ۷۲۰ وابن ماجه في الصیام باب ۱٦ رقم ۱٦۷٦ والدارمی في الصوم باب ۲۵ وأحمد في المسند(۲/۴۹۸)۔

فساد الصوم بالإستقاء و دلیله﴾ کوم کس چه قصدا قئ اوکړو.په هغه قضاء واجب ده.د ترمذی الفاظ دی

چه[من ذرعه القئ وهو صائم فلیس علیه القضاء ومن استقاء عمداً فلیقض]یعنی روژه دار له که پخپله قئ راغلو.نویه ده باندې قضاء واجب نه ده.او کوم کس چه په قصد سره قئ اوکړو. هغه به قضاء راوړی.

صاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلی دی.چه هم په دې حکم کښې په ډکه خوله قئ ، اود ډکې خولې نه کم دواړه برابردی.یعنی که قئ بغیر د اراده نه پخپله اوشو.نوکه دا په ډکه خوله وی.اوکه د ډکې خولې نه کم وی.په دواړو صورتونوکښې به روژه فاسد نه وی.ځکه چه حدیث مطلق دې.په دې کښې د قلیل اوکثیر هیڅ تفصیل نشته.

(وَإِنِ اسْتَقَاءَ عَامِدًا مِلْءَ فِيهِ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ) که قئ نې اوکړو قصداً په ډکه خوله نو په ده قضاء ده

تشریح﴾ **فساد الصوم بالإستقاء عمداً ملء الفم**﴾که د ډکې خولې نه کم وتلی شوې قئ نې په خپله اراده سره دننه واپس کړو.نود امام ابویوسف رحمه الله په نیز به روژه فاسد نه وی. ځکه چه خروج اونه موندې شو.اود امام محمد رحمه الله په نیز به فاسد وی.ځکه چه قئ دننه داخلولوکښې د روژه دار اختیاری فعل اوموندلې شو.

دلیله﴾ددې دلیل هغه حدیث دې.کوم چه په تیره شوې مسئله کښې تیرشوې دې.یعنی[من استقاء عامداً فعلیه القضاء]

ألإعتراض﴾ اوس به سوال داکیږی.چه هرکله په قصد سره په ډکه خوله قئ کول مفطر اومفسد د صوم دی.نو په قصد سره د افطار کولو په وجه سره د قضاء سره کفاره هم واجب کیدل پکار وو.حالاتکه په دې صورت کښې کفاره نه ده واجب کړې شوې.

ألجواب﴾ ① په قصد سره په ډکه خوله قئ کولو په صورت کښې صورةً افطار موجود نشو. ځکه چه د افطار صورت دپاره د یوڅیزدننه داخلولو ضروری دی.اود قئ په صورت کښې دخول موجود نشو.بلکه د معدې نه خروج شوې دې.نوهرکله چه د افطار صورت موجود نشو.نوجنایت کامله هم موجود نشو. اوهرکله چه کامل جنایت موجود نشو.نوکفاره به هم واجب نه وی.ځکه چه کفاره په کامل جنایت سره واجبیږی. ② دویم جواب دادې.چه په قئ کولوسره د روژه ماتیدل خلاف قیاس د حدیث نه ثابت دی.اوپه حدیث کښې فقط د قضاء ذکر دې.دکفاره ذکر نه دې.نود حدیث په مورد باندې د انحصار په لحاظ سره به صرف قضاء واجب وی. کفاره به واجب نه وی.

د کنکۍ یا اوسپنې تیرول

(وَمَنِ ابْتَلَعَ الْحَصَاةَ أَوِ الْحَدِيدَ اونواة أَفْطَرَ وقضى)دکوم روژه دار چه کنکۍ یا اوسپنه یا د قجورې اړوکې تیر شو نوماته شوه او قضاء به نې راوړی

تشریح﴾ **فساد الصوم بابتلاع الحدید دون الکفارة**﴾مسئله: که یوکس څه کانړې یا د اوسپنې یوه ټکړه اوخوړله.نو په ده به قضاء واجب وی.خوکفاره به واجب نه وی.قضاء خوبه په دې وجه واجب وی.چه د افطار صورت موجود شو. **دلیله**﴾ځکه چه یوڅیز خیټې ته رسولې شوې دې.

عدم الکفارة﴾ اوکفاره به په دې وجه واجب نه وی.چه معنی افطار نه دې موجود شوې.ځکه چه معنیٰ افطار. د یونفع ورکونکی څیز خیټې ته دننه داخلول دی.که دغه څیز د غذا د قبیلې څخه وی.اوکه د دوائی د قبیلې څخه وی.نو چونکه د افطار معنیٰ نه ده موجود شوې.په دې وجه سره جنایت ناقص

شوي دي.په دي وجه به کفاره هم واجب نه وی.

په احد السبيلين کښي د جماع حکم

وَمَنْ جَامَعَ عَامِدًا فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ که چا روژه دار جماع اوکړه په يو د دواړو لاروکښي په قصد سره اَوْلَوْ أَكَلَ أَوْشَرِبَ مَا يَتَغَذَّى بِهِ أَوْيَتَدَاوَى بِهِ اوکه وي خوړلو يا ئي اوڅښلو داسي څيز چه غذا يا دوائی پرې کولي شی فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ نوپه ده قضا او کفاره دی.

تشريح﴾ وجوب القضاء والكفارة بالجماع﴾ مسئله داده.که روژه دار په قصد سره جماع اوکړه.که په فرج کښي وی،کوم چه حلال محل دې.اوکه په مقعد کښي وی.کوم چه حرام محل دې.نو په ده باندې قضاء هم واجب ده.اوکفاره هم واجب ده.قضاء خو په دې وجه واجب ده.چه فوت شوې مصلحت او نيکی حاصله کړې شی.د روژې مصلحت د نفس اماره مغلوب کول دی. اود جماع په وجه دا مصلحت فوت شوې دې.ځکه چه د روژې په حالت کښي جماع کول، نفس اماره غالب کول شو.مغلوب کول نشو.نو هرکله چه د جماع په وجه د روژې مصلحت فوت شو.نو روژه هم باقی پاتې نشوه.او هرکله چه روژه باقی پاتې نشوه.نو ددغه ورځې روژې قضاء به واجب وی.او کفاره به په دې وجه واجب وی.چه جنايت په کامله درجه موجود شو.يعنی د يوشرمگاه د بل په شرمگاه کښي داخلول موجود شو.اودا صورةً هم جماع ده او معنی هم جماع ده.

عدم شرط الإنزال لوجوب الكفارة﴾ صاحب د هدايه رحمه الله فرمائيلی دی.چه د جماع په وجه د کفاره د وجوب دپاره انزال شرط نه دې.يعنی که روژه دار په قبل يا دُبر کښي جماع اوکړه.نو کفاره به واجب وی.که انزال شوې وی.اوکه نه وی شوې.د کفاره د وجوب دپاره ادخال شرط دې.انزال شرط نه دې.

دلائله﴾ ① صاحب د هدايه رحمه الله د کفاره وجوب د غسل په وجب باندې قياس کړيدی.په دې طريقه چه لکه څنګه ،ادخال فرج في الفرج، سره غسل واجبيږی.اګرچه انزال نه وی شوې.دغه شان بغير د انزال نه به کفاره هم واجب وی.② د کفاره د وجوب دپاره د انزال په نه شرط کيدلو باندې صاحب د کفايه رحمه الله يو دليل دابيان کړې دې.چه د حد واجب کولودپاره انزال شرط نه دې.يعنی که د يو فرج د بل په فرج کښي ادخال موجود شو.نو حد به واجب وی.اګرچه انزال نه وی شوې.حالانکه حد صرف يو عقوبت او سزا ده.نوکفاره کوم چه عبادت او عقوبت دواړو ته شامل دې.ددې د وجوب دپاره به په درجه اولی انزال شرط نه وی.

الروايتان في وجوب الكفارة بالدخول في الدبر﴾ ①دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله نه يو روايت دادې.چه په دبر کښي جماع(لواطت)کولوسره کفاره نه واجب کيږی.حضرت امام اعظم رحمه الله دا په وجوب حد باندې قياس کړې دې. يعنی لکه څنګه چه په دې غيرفطری اوناخوښه حرکت باندې حد نه واجبيږی.دغه شان به په دې حرکت سره د روژه کفاره هم نه واجبيږی.او علت مشترکه د جنايت کامله نه موجود کيدل دې.يعنی دحد او کفاره دواړو د وجوب دپاره د جنايت کامله کيدل ضروری دی.او حضرت امام اعظم رحمه الله دا کامل جنايت نه دې شمار کړې.ځکه چه روغ تبيعت د ځناورتوب ددې کارنه نفرت کوی.

② اود حضرت امام اعظم رحمه الله دويم روايت دادې.که فاعل او مفعول دواړه روژه دار وی.نو په دواړو به کفاره واجب وی.هم دا دصاحبينو رحمهما الله قول دې.اوهم دا زيات صحيح دې.ځکه چه په دبرکښي دننه دجماع په وجه هم چونکه شهوت پوره کيږی.په دې وجه دې صورت کښي هم جنايت په کامله درجه موجود شو. اوجنايت کامله موجب د کفاره دې.نوپه دې صورت کښي به هم کفاره واجب وی.

وجوب الكفارة بالأكل والشرب ① مسئله داده. که روژه دار د غذا یا د دوائی په طورخه څیز په قصد سره اوخوړلو. یا ئې اوڅکلو. نو په ده به قضاء اوکفاره دواړه واجب وی.(۱)

دليله دلیل دادې. چه د کفاره تعلق د افطار جنايت سره دې. کوم چه په رمضان کښې علی وجه الکمال، موجود شی. او جنایت کامله چه څنګه د جماع په صورت کښې موجود وی. دغه شان د خوراک څکاك په صورت کښې هم موجود وی. نوځکه به د خوراك څکاك په صورت کښې هم کفاره واجب وی.

د روژې کفاره

(وَالْكَفَّارَةُ مِثْلُ كَفَّارَةِ الظِّهَارِ) د رمضان کفاره د کفارې دظهار په شان ده.

تشریح **كفارة الصوم** امام قدوری رحمه الله فرمائی. چه د روژې کفاره، د ظهار د کفاره په شان دې. او د ظهار کفاره داده. چه مظاهر یعنی ظهار کونکې یو رقبه ازاد کړی. اوکه ددې قدرت نه وی. نو بلاناغه دې دوه میاشتې روژې اونیسی. اوکه داهم طاقت نه وی. نو شپیتو مسکینانو ته د خوراك ورکړی.

دلائله ① د اتیشتمې سیپارې په رومبئ رکوع کښې دی. ﴿وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا﴾ (سورة المجادله آیت ۳) یعنی کوم خلق چه مور اووانی خپلو ښځوته، بیا کول اوغواړی هغه کوم ئې چه وئیلی دی. نو ازاد دې کړی یوه رقبه مخکښې ددې نه چه یوبل ته لاس یوسی. په دې به تاسوته نصیحت وی. او الله خبر اخلی دهغه کوم چه تاسو کوئ. بیاچه څوك اونه مومی. نو روژې دی دوه میاشتې لګاتار، مخکښې ددې نه چه یوبل ته لاس یوسی. بیاچه څوك داسې اونکړې شی. نو خوراك ورکول دی. شپیتو محتاجو ته. بهرحال کفاره د صوم، بالکل د ظهار مطابق ده. یعنی په ذکرشوی درې څیزونو (د غلام آزادول، دوه میاشتې روژې، د شپیتو مسکینانو خوراك) کښې به هم د هغه ترتیب لحاظ ساتلې شی. کوم چه په کفاره د ظهار کښې ذکر دې. یعنی غلام دې آزاد کړی. که په دې قدرت نه وی. نوبیه دې صورت کښې دې دوه میاشتې لګاتار بلاناغه روژې اونیسی. اوکه په دې هم قدرت نه وی. نوبیه دې صورت کښې دې شپیتو مسکینانوته خوراك ورکړی.

② هغه حدیث هم دلیل دې. کوم چه په تیره شوې مسئله کښې ذکر دې. یعنی (من أفطر في رمضان فعليه ما على المظاهر) په دې حدیث کښې هم د صوم کفاره د ظهار په کفاره باندې قیاس شوې ده. او د ظهار په کفاره ترتیب او تتابع دواړه شرط دی. نو د صوم په کفاره کښې به هم دواړه څیزونه شرط وی. ③ بل دلیل د باندیچی حدیث دې. کوم چې علامه ابن الهمام د کتب سته په حواله سره په دې الفاظوسره ذکر کړې دې. (عن ابي هريرة رضي الله عنه قال أتى رجل النبي ﷺ قال هلكت قال ماشانك قال وقعت على إمرأتي في رمضان قال فهل تجد رقبة تعتقها قال لا، قال فهل تستطيع أن تصوم شهرين متتابعين قال لا، قال فهل تستطيع أن تطعم ستين مسكيناً قال لا، قال إجلس فأتى النبي ﷺ بعرق فيه تمر فقال تصدق به قال على أفقر مني يارسول الله ﷺ فوالله مابين لابتيها يريد الحرتين اهل بيت أفقر من أهل بيتي فضحك ﷺ حتى بدت ثناياه وفي لفظ أنيابه وفي لفظ نواجذه ثم قال خذه

(۱) **مذهب الشافعي رحمه الله**: امام شافعی رحمه الله فرمائی. چه په ده به کفاره واجب نه وی. هم داقول دامام محمد رحمه الله دې.

فأطعمه أهلك وفي لفظ أبي داؤد زاد الزهري وإنما كان هذا رخصة له خاصة. [1] یعنی حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی چه یوکس په دربار رسالت کښې راغې.چه ای د الله رسوله ﷺ ازه خو برباد شوم.رسول الله ﷺ اوفرمائیل.څه اوشو؟ هغه اووئیل.چه درمضان په ورځ مې خپلې ښځې سره جماع اوکړه.رسول الله ﷺ اوفرمائیل.رقبه شته چه ته هغه آزاد کړې؟ هغه اووئیل نه.رسول الله ﷺ اوفرمائیل.مسلسل د دوه میاشتو روژو نیولو طاقت شته؟ هغه اووئیل.نه.رسول الله ﷺ اوفرمائیل.چه شپیتو مسکینانو ته د خوراك ورکولو طاقت شته؟ هغه اووئیل.نه.رسول الله ﷺ اوفرمائیل کینه.نو جناب رسول الله ﷺ یوه ټوکرئ چه دې ته ،عرق، وئیلې شی.راوړله.په هغې کښې کجورې وې.رسول الله ﷺ اوفرمائیل.دا صدقه کړه.هغه اووئیل.اې د الله رسوله ﷺ ! آیا زمانه هم زیات څوك محتاج شته؟ په خدائې قسم ! ددې دوه تورو کاڼړو والا زمکو په مینځ کښې یعنی په مدینه کښې هیڅ یوه کورنئ زما د کورنئ نه زیاته محتاجه نه ده.رسول الله ﷺ چه دا خبره واوریدله) نو وې خندل.تردې چه د نبی کریم ﷺ مخکنی غاښونه ښکاره شو.او په یو روایت کښې انیاب(غاښونه)او په یو روایت کښې د ،نواجذ، لفظ دې.بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.چه واخله. او خپلې ښځې او ماشومانو باندې اوخروه.اود ابوداؤد په روایت کښې امام زهری رحمه الله دا زیادت کړې دې.چه دا رخصت خاص طور هم د هغه د پاره دې.هم دا روایت په لږشان لفظی تغیر سره [2]

د فرج نه علاوه په بل ځائې کښې په دخول سره انزال

وَمَنْ جَامَعَ فِيمَا دُونَ الْفَرْجِ فَأَنْزَلَ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ)او چا چه جماع اوکړه په غیر فرج کښې نو انزال نې اوشو نویده باندې قضا ده. وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ)اوکفاره پرې نشته دې

تشریح > **وجوب القضاء دون الكفارة بالإنزال بمادون الفرج** ☆ د فرج نه مراد قبل او دُبر دې.اوس مطلب داشو.که د قبل او دُبر نه علاوه کښې مثلاً په پتونانو کښې یا په خیټه کښې د روژې په حالت کښې ذکر استعمال کړې شو.او انزال اوشو.نو په ده به قضاء واجب وی.کفاره به واجب نه وی.

دلیله > قضاء خو به خکه واجب وی.چه معنیً جماع موجود شوه.او کفاره به خکه واجب نه وی.چه صورةً جماع نه ده موجود شوې.خکه چه دصورةً جماع دپاره ادخال د ،فرج فی الفرج، ضروری دې.اودا نه دې موجود شوې.

---

[1]) من حديث أبي هريرة ﷺ أخرجه البخاری في الصوم باب ۳۰ ومسلم في الصيام رقم ۸۱ وأبوداود في الصوم باب ۳۷ رقم ۲۳۹۰ والترمذی في الصوم باب ۲۸ رقم ۷۲٤ وابن ماجه في الصيام باب ١٤ رقم ۱٦۷۱ والدارمی في الصوم باب ١٩ واحمد في المسند(٢/٥١٦) قال الزيلعي رحمة الله اما قوله ((تجزئك ولاتجزى احدا بعدك)) لم أجده في شئ من طرق الحديث ولا رواية) نصب الراية (٢/٤٧٦)_

[2]) مذهب مالك رحمه الله :- اوامام مالك رحمه الله د روژو نیولو په صورت کښې دتتابع(لګاتار نیولو) په شرط کښې اختلاف کوی یعنی ددوی په نیز دوه میاشتې روژې لګاتار واجب نه دی.بلکه بغیر د تسلسل نه نې که دوه میاشتې روژې اونیولې.بیا به هم کفاره اداشی.نو زمونږ دلیل د دوی خلاف هم حجت دې.

د رمضان نه علاوه په نورو روژوکښې عدم کفاره

وَلَيْسَ فِي إِفْسَادِ صَوْمِ غَيْرِ رَمَضَانَ كَفَّارَةٌ اونشته دې درمضان نه سوي دبلې روژې په ماتولو باندې کفاره.

تشریح> عدم وجوب الکفارة في إفساد صوم غير رمضان☆مسئله:که په غیر رمضان کښې روژه اونیسی.او په قصد سره نې ماته کړی.نوددې په وجه به په ده باندې کفاره واجب نه وی.

دلیله>دلیل دادې.چه په رمضان کښې روژه ماتول ډیر لوې جرم دې.په نسبت ددې چه په غیر رمضان کښې ماته کړې شی.ځکه چه په رمضان کښې د روژه ماتولو په صورت کښې دوه جنایتونه دی.یو جنایت علی الصوم،دویم جنایت علی شهر رمضان، او په غیر رمضان کښې صرف یو جنایت دې یعنی جنایت علی الصوم.بهرحال په رمضان کښې د روژه ماتولو جنایت اقویٰ دې.او په غیر رمضان کښې د روژه ماتولو جنایت ادنیٰ دې.او په اقویٰ کښې دننه په حکم ثابتولوسره په ادنی کښې ددې حکم ثابتول نه لازمیږی.په دې وجه د کفاره د ثبوت حکم په رمضان کښې دننه د روژې ماتولوسره متعلق کیږی.خو په غیر رمضان کښې دا حکم نه ثابتیږی.اود رمضان روژه ماتولوسره کفاره خلاف قیاس د نص نه ثابت ده.ځکه به په دې باندې د نورو روژو ماتولو قیاس نشی کیدلې.

په دوائی وغیره څوړلو د روژې فساد

وَمَنِ احْتَقَنَ أَوِاسْتَعَطَ أَوْأَقْطَرَفِي أُذُنِهِ اوچا چه حقنه اوکړه یا نې پوزه کښې دوائی واچوله یانې په غوږ کښې دوائی واچوله أَوْدَاوَى جَائِفَةً أَوْآمَةً بِدَوَاءٍرطب که علاج نې اوکړو د خیټې یا دماغو دزخم په څه نرمې دوائې سره فَوَصَلَ إِلَى جَوْفِهِ أَوْدِمَاغِهِ)نوهغه خیټه یا دماغو ته اورسیدو أَفْطَرَ نورروژه ئېماته شوه.

حل اللغة > ①جائفه: دخیټې د زخم دارو ②آمة: د دماغوزخم

تشریح> فساد الصوم بالتداوی دون الکفارة>مسئله:که روژه دار حقنه اوکړه.یعنی د ډك اودس ماتې په لاره نې دننه دوائی اورسوله.یانې د پوزې په ذریعه دوائی اورسوله.یاپه غوږ کښې دوائی او څسولې شوه.نو په دې درې واړو صورتونوکښې به په هرصورت کښې روژه ماتیږی.

دلائله> ①دلیل دادې.چه نبی کریمﷺ فرمانیلی دی.(الفطر مما دخل وليس مما خرج)[1] یعنی د څه څیز ددننه په خیټه کښې تللوسره روژه ماتیږی.او په وتلوسره نه ماتیږی.② دویم دلیل دادې.چه په ذکرشوی صورتونو کښې د افطار معنیٰ موجود ده.ځکه چه د افطار معنیٰ ده.یو څیز د بدن د نفع دپاره معده او کیدې ته رسول.

فساد الصوم بتداوی جائفة اوآمة☆صورت د مسئلې دادې.چه روژه دار په جائفه یعنی د خیټې په زخم کښې یا د سر په زخم کښې لونده دوائی واچوله.اوهغه خوره شوه.اوکیدې یا دماغوته اورسیدله. ① نود حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دده روژه فاسد شوه.

دلیله >د امام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادې.چه د کیدې یا د سر په زخم کښې اچولې شوې دوائی دخیټې یا دماغو پورې د رسیدلو یقینی علم خو متعذر دې.ځکه چه دا یو باطنی څیز دې.خو ښکاره هم

[1]) من حديث عائشة رضي الله عنها اخرجه ابويعلى الموصلي في مسنده (۲/٤٥٤) وكذا أخرجه الهيثمي رحمة الله في مجمع الزوائد)_

داده.چه هرکله د دوائی رطوبت(لوندوالي) د زخم رطوبت سره ملاو شي. نو دننه طرف ته به ددي په میلان کښي زیاتوالي کیږي.اوهرکله چه دننه طرف ته په میلان کښي زیاتوالي اوشو.نودا به په یقین سره خیتي او دماغوته دننه رسیږي.اوهرکله چه خیتي یا دماغوته دننه اورسیدل.نو روژه به فاسد وي..

مذهب الصاحبین > په دې مسئله کښې دصاحبینو رحمهما الله اختلاف دې هغوی فرمائی چې فاسده نشوه.

دلیلهما > دلیل دادې.چه د زخم دننه طرف د ګیډې یا دماغو پورې د دوائی رسیدلو لاره خو کله بنده وي.اوکله کلاو وي.نو دننه پورې د دوائی رسیدلو یقین نشته.او هرکله چه یقین نشته. بلکه شك دې.اود شك په وجه سره روژه نه فاسدیږي.په دې وجه به په دې صورت کښې روژه فاسد نه وي.لکه څنګه چه د اوچې دوائی اچولو په صورت کښې روژه نه فاسدیږي.

ألجواب عنه > خو د دې جواب دا دې چه کله دا په زخم باندې واچولې شي.نودا د زخم رطوبت خپل خان ته جذب کوي.اود زخم خوله بنده وي.او هرکله چه د زخم خوله بنده شوه.نو په خیته کښې دننه د دوائی رسیدلو امکان باقی پاتې نشو.په دې وجه د اوچې دوائی اچولو په صورت کښې به روژه فاسد نه وي.او لونده دوائی به په اوچه دوائی باندې قیاس کول هم ټیك نه وي.

د ذکر په سر کښې دوائی اچول

> وَلَوْ أَقْطَرَ فِي إِحْلِيلِهِ لَمْ يُفْطِرْ) عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللَّهُ (١)اوکه د ذکر په سوری کښې ئې دوائی اوڅخوله نونه ماتیږي.په نیز دامام صاحب او امام محمد. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يُفْطِرُاوفرمائی ابویوسف رحمه الله چه ماتیږي.

حل اللغة > ①احلیل: دَ ذکر سوری ته وائی

تشریح > **فساد الصوم بالتقطیر في الإحلیل** > مسئله داده.که روژه دار د خپلو متیازو د خاني په سوره کښې دوائی واچوله. نود حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نیز به روژه فاسد نه وي.

مذهب ابي یوسف رحمه الله > اود امام ابویوسف رحمه الله په نیز به فاسد وي.

بناء الإختلاف > علامه مرغیناني رحمه الله فرمائیلي دي.چه ددې اختلاف بنیاد په دې باندې دې.چه د متیازو د خاني د سورې اود خیتي ترمینځه څه داسې لاره شته اوکه نشته.چه په هغې سره څه بهیدونکې څیز .داخل کړې شي.حضرت امام ابویوسف رحمه الله فرمائي.چه د سورې او خیتي ترمینځه داسې لاره موجود ده.او دلیل د دې دادې.چه متیازې د دننه طرف نه هم په دې لارې راوځي.اوکه هیڅ لاره نه وې.نو متیازې به څنګه راوتلې.نوهرکله چه د خیتي اود ذکر د سورې په مینځ کښې لاره موجود ده.نو دوائی کومه چه د ذکر په سوره کښې اچولې شوې ده.هغه به ګیډې ته اورسي.او خیتي ته د څه څیز د بدن د اصلاح دپاره رسول مفسد د صوم دی.نو په دې سره به هم روژه فاسد شي.کله څنګه چه په حقنه سره فاسدیږي.اوحضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله فرمائي.چه د میتازو د خاني د سورې او خیتي په مینځ کښې مثانه حائل ده.او پاتې شو.د متیازو وتل.نو هغه ددې نه څاڅي.نو هرکله چه د امام صاحب رحمه الله د تحقیق مطابق د خیتي او سورې په مینځ کښې مثانه حائل ده.نو د ذکر په سوره کښې اچولې شوې دوائی به خیتي ته نشی رسیدلې.او هرکله چه خیتي ته نشی رسیدلې.نو روژه به هم فاسد نه وي.

---

[1]) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(١٠٩\٢) والبحرالرائق (٢٧٩\٢) والهندية (٢٠٤\١) نقلاً عن القول الراجح (١٩٩\١)۔

محاکمة صاحب الهدایه رحمه الله بین المذهبین> علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی چه د خیټې او د ذکر د سورۍ ترمینځه د لارې موجود کیدل یا نه کیدل د فقه مسئله نه ده.بلکه ددې تعلق د ډاکټرانو د علم «تشریح الأبدان» سره دې.په دې وجه به په دې مسئله کښې هم دوی طرف ته رجوع کیږی.که ډاکټران اووائی.چه د خیټې اود ذکر د سورې په مینځ کښې لاره شته.نود صوم فاسد کیدلوحکم به لګولې شی. لکه څنګه چه د قاضی ابویوسف رحمه الله مذهب دې. اوکه اووائی.چه لاره نشته.نود عدم فساد حکم به لګولې شی.لکه څنګه چه د امام الهمام قدوة الانام سیدناحضرت امام اعظم رحمه الله مذهب دې.

په خوله د یوڅیز څکل

وَمَنْ ذَاقَ شَيْئًا بِفَمِهِ لَمْ يُفْطِرْ اوچا چه اوڅکلو څه څیز ئې پخپله خوله نونه ماتیږی (وَيُكْرَهُ لَهُ ذٰلِكَ او دا دده دپاره مکروه دی.

تشریح> **عدم فساد الصوم بذوق شئ**> مسئله:که یوکس په خپلې خولې سره څه څیز اوڅکلو.نو روژه نه ماتیږی.

دلیله> څکه چه په دې صورت کښې خو نه صورةً افطار شو.چه څه څیز ئې تیر کړې وی.اونه معنیً افطار شو.چه د بدن د اصلاح دپاره څه څیز خیټې ته رسولې شوې وی.نوهرکله چه نه صورةً افطار شو.اونه معنیً افطارشو.نو روژه به څنګه فاسد وی؟

کراهة الذوق> خودا عمل مکروه ضرور دې.

دلیله> وجه د کراهت داده.چه په دې عمل کښې روژه فاسد ته پیش کول دی.

د ښځې د ماشوم دپاره په خوله کښې څه پستول

وَيُكْرَهُ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَمْضَغَ لِصَبِيِّهَا الطَّعَامَ او مکروه دی ښځې له جونیل دخوراك دبچی دپاره إِذَا كَانَ لَهَا مِنْهُ بُدٌّ که ددې نه بغیر کیدلو

حل اللغة> ① **تمضغ**: شوخوند وهل ② **بد**: لاره، خلاصې

تشریح> **الصورتان في مضغ المرأة شيئا للولد**> ① د روژې په حالت کښې د ښځې دپاره خپل بچی ته خوراك په جونیلو جونیلو سره خوړل مکروه دی.په دې شرط چه ددې ښځې دپاره څه بله یوه لار موجود وی.مثلاً دده سره څوك داسې کس ناست دې.چه په هغه روژه فرض نه وی.او هغه دې بچی ته په جونیلو خوړلې شی.نو په داسې صورت کښې ښځې له جونیل مکروه دی.او وجه د کراهت هم هغه ده.چه په دې صورت کښې روژه په فساد باندې پیش کول لازمیږی.

② اوکه په خپله جونیلو نه بغیر څه بله لاره نه وی. نو بیا هیڅ حرج نشته.څکه چه دبچی حفاظت هم ضروری دې.

دلیله> تاسو اوګورئ.که د پیوخورونکی بچی د زیاتې اولګې د لاسه د هلاکیدلو خطره وی. او په ښځه کښې د روژې په حالت کښې پې نه راځی.نو په دې صورت کښې د ښځې دپاره د افطار اجازت دې.

د روژه دار دپاره د ژولې ژونیل

وَمَضْغُ الْعِلْكِ لَا يُفْطِرُ الصَّائِمَ او ژونیل د ژولې نه ماتوی روژه

تشریح> **الأقوال الثلاثة في فساد الصوم بمضغ العلك** ☆ مسئله: ① که روژه دار ژوله اوژویی.نو دده روژه به فاسد نه وی.لکه څنګه چې په متن کښې ذکر دی څکه چه ژوله به د خپل اینختیدلو په وجه غاښونو پورې

اینخلی.او خیتې ته به نه رسی.اوکوم څیز چه خیتې ته نه رسی.هغه روژه نه فاسد کوی. ②او بعض فقهاء فرمائی.که جوله حل شوی نه وی.بلکه میده میده ریزې وی.نوددې په جونیلو سره به روژه فاسدیږی.ځکه چه په دې صورت کښې د جوله بعض اجزاء خیتې ته رسی. ③او بعض حضرات فقهاء فرمائی.که جوله تور رنګ کښې وی. نو ددې په جونیلوسره به روژه فاسدیږی.اګرچه دا حل شوې وی.ځکه چه تور رنګ جوله ریزه ریزه کیږی.اود ریزه ریزه کیدلو په وجه ددې بعض اجزاء خیتې ته رسی.

ویُکْرَهُ اودا چه د روژه دار دپاره مکروه دی

تشریح> کراهیة مضغ العلك☆بهرحال که د جوله په جونیلوسره روژه فاسدیږی.بیا هم د روژه دار دپاره جوله جونیل مکروه دی.

دلائله> ①ځکه چه په دې کښې روژه په فاسد باندې پیش کول دی.ځکه چه کیدلې شی.چه څه اجزاء د حلق نه لاندې کوز شی. ②دویم دلیل دادې.چه خلق به دې په افطار سره متهم کړی.یعنی کله چه څوك دې اوګوری.چه څه خوری.نودې به په روژه نه نیولو باندې متهم کوی.اوخلق به دا بدګنړی.اوکوم فعل چه په ښکاره خلقو ته بد په نظر راځی.نو هغه مکروه وی.په دې وجه دا هم مکروه دی.

عدم کراهیة مضغ العلك للمرأة> صاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلی دی که ښځه روژه داره نه وی.نو دې له جوله جونیل مکروه نه دی. ځکه چه د ښځې په حق کښې جوله جونیل، دمسواك کولو قائم مقام دې.اوجوله دمسواك قائم مقام په دې وجه ګرځولې شوې دې.چه ښځې ډیرې کمزورې او نازکې وی.او ددوی غاښونه هم کمزور او اوریٔ هم نازك وی.نو دوی د مسواك په شان بدن خراش (بدن باندې خارښ لګونکې)څیز ځنګه برداشت کولې شی.

الکراهة للرجال> اوکه د سړو څه قسمه بیماری نه وی.نوددوی دپاره جوله جونیل مکروه دی.او بعضو فرمائی. چه د سړو دپاره جوله جونیل مباح دی.خو مستحب نه دی.او مستحب په دې وجه نه دی.چه د سړو دپاره د جوله جونیلو په صورت کښې د سړو د ښځو سره مشابه کیدل لازمیږی.او تشبیه بالنساء قطعاً مناسب نه ده.په دې وجه د سړو دپاره جوله جونیل مکروه یاغیر مستحب ګرځولی شوی دی.

د مرض د زیاتیدو په وجه د افطار حکم

فَصْلٌ (وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا فِي رَمَضَانَ

فصل دې څوك چه مریض وی په رمضان کښې

فَخَافَ إِنْ صَامَ ازْدَادَ مَرَضُهُ أَفْطَرَ وَقَضَى او ویریږی چه که روژه نیسی نومرض ئې زیاتیږی ماته دې کړی اوقضا دې راوړی (¹)

تشریح> الأعذار المبیحة للإفطار☆د اوسه پورې د روژو د مسئلو ذکروو.په دې فصل کښې به هغه عذرونه بیانولې شی.د کومو په وجه چه روژه نه نیول مباح او جائزدی.په قول د علامه ابن الهمام رحمه الله چه

¹) **مذهب الشافعی رحمه الله**:- په زیر بحث مسئله کښې حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه داسې بیمار دې روژه نه پریږدی.بلکه روژه نیول ضروری دی.خوکه د روژې نیولو په وجه د هلاکیدلو یره وی.یا د کوم یو اندام خرابیدلو یره وی.نودافطار اجازت دې.

د کومو عذرونو په وجه افطار مباح کیږی.هغه اووه دی.①بیماری ②سفر ③ حمل کله چه روژه د بنځې یا د حمل دپاره ضررناك وی. ④رضاعت (پی ورکول)کله چه روژه د بچی دپاره ضررناك وی. ⑤ بوډهاتوب چه کله په روژه باندې طاقت نه لری.⑥ سخته تنده ⑦ سخته اولگه چه کله د روژې په وجه د ژوند یاد عقل د نقصان خطره وی.

لمعنی المرض﴾د ټولو نه رومبې عذر بیماری ده.خود افطار رخصت صرف په نفس بیمارئ سره نه متعلق کیږی.بلکه د بیمارئ دوه قسمه دی①یوهغه چه په هغې کښې روژه زیاتوالې راولی②دویم هغه چه په هغې کښې روژه کموالې راولی.نو په کومه بیمارئ کښې چه د روژې په وجه تخفیف راځی.یعنی روژه په دې بیمارئ کښې فائده منده وی.نودې بیمارئ سره د افطار رخصت نه متعلق کیږی.او د روژې په وجه چه کومه بیماری زیاتیږی

یاد روژې په وجه بیماری اوږدیږی.نود هغه بیمارئ سره د افطار رخصت متعلق کیږی.

الإفطار لخوف زيادة المرض﴾ماتن رحمه الله هم دا بیماری بیان کړې ده.لکه چه فرمانی. که څوك په رمضان المبارك کښې بیمار شو.اوده ته دا یره پیدا شوه.که روژه نې اوساتله.نو بیماری به زیاته شی.نوپه داسې صورت کښې زمونږ په نیز افطار کول جائزدی.او په صحت راتلو باندې به ددې قضاء راوړی.

دليله ﴾ دلیل د الله تعالی قول(﴿فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا أَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾) دې.په دې آیت کښې دهر بیمار دپاره د افطار اباحت دې.خوچونکه دا خبره منلې شوې ده.چه د افطار مشروعیت د حرج لرې کولو دپاره دې.اود حرج تحقق متعلق کیږی، زیاتوالی د بیمارئ یا د بیمارئ بنه کیدلو په تاخیرسره.په دې وجه د افطار اجازت به هم په دې صورتونو کښې وی.

وَإِنْ كَانَ مُسَافِرًا لَا يَسْتَضِرُّ بِالصَّوْمِ که داسې مسافر وی چه په روژه کښې نیولوکښې ورته تکلیف نه وو فَصَوْمُهُ أَفْضَلُ،نوروژه نې افضله ده وَإِنْ أَفْطَرَ وَقَضٰى جَازَ اوکه افطار کوی او قضا راوړی نودا هم جائز دی.

تشريح﴾ **فضل الإفطار للمسافر**﴾مسئله داده. ①که مسافر په روژه نیولوکښې تکلیف نه محسوسوی.نو دده دپاره روژه نیول افضل دی.خوکه افطار نې اوکړو.نوجائزدی

دليله﴾ .دلیل دادې.چه نفس سفر د مشقت سبب دې.په دې وجه نفس سفر عذر مقرر کړې شو. او اونیلی شو.چه مطلقاً د مسافر دپاره افطارکول جائزدی.که ده ته په روژه نیولوکښې تکلیف وی اوکه نه وی.

دليل عدم الفضل مطلقا﴾ ① دلیل دادې.چه د مسافر دپاره د رمضان د روژو دوه وختونه دی.یو وخت خو په خپله د رمضان میاشت ده.لکه څنگه چه د (﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾) عموم دلالت کوی.چه مسافر اومقیم دواړه دې په رمضان کښې روژې اونیسی.او دویم وخت د رمضان نه علاوه دې.لکه چه په(﴿فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا أَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾) کښې ذکر دی.او(﴿مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾) د رمضان خلیفه دې.او خلیفه د اصل برابر نشی کیدلې.څکه غیر رمضان د رمضان برابرنشی کیدلې.بلکه د رمضان وخت افضل دې.اود یوعبادت په افضل وخت کښې ادا کول هم افضل وی.په دې وجه په رمضان کښې د مسافر دپاره روژه ساتل د افطار کولو نه افضل دی.

په حالت د مرض يا سفر کښې مرګ راتلل

وَإِن مَاتَ الْمَرِيضُ أَوِ الْمُسَافِرُ وَهُمَا عَلَى حَالِهِمَا لَمْ يَلْزَمْهُمَا الْقَضَاءُ)هرکله چه مړشو مريض اومسافر او دواړه پخپل حال وو نوپه دوی قضا لازمه نده.

تشريح > عدم القضاء علي المريض والمسافرإذا ماتا في تلك الحالة > مسئله داده.که بيمار د بيمارئ په حالت کښې مړشو.اومسافر د سفر په حالت کښې مړشو.نو ددوی په ذمه به قضاء لازم نه وی. يعنی د بيمارئ اود سفر په وجه چه د رمضان کومې روژې قضاء شوې دی.دهغې په وجه به عندالله ماخوذ نه وی. اونه به ددې څه فديه واجب وی.

دليله > څکه چه په دوی د قضاء وجوب هغه وخت کيږی.چه د بيمارئ اود سفرختميدلو نه پس دومره زمانه بيامومی.چه په هغې کښې روژې اونيسی.او دلته کښې صورت دادې.چه دوی ته د قضاء وخت قطعاً ملاؤ نشو.په دې وجه به په دوې باندې قضاء لازم نه وی.

په صحيح او مقيم د قضاء لزوم

وَإِن صَحَّ الْمَرِيضُ وَأَقَامَ الْمُسَافِرُ ثُمَّ مَاتَا لَزِمَهُمَا الْقَضَاءُ اوکه مريض تندرست اومسافر شو بيامړشو نولازمه به وی په دوی قضا بِقَدْرِ الصِّحَّةِ وَالْإِقَامَةِ په اندازه د صحت او مقيم کيدو

تشريح > وجوب القضاء علي الصحيح والمقيم > مسئله داده.که بيمار تندرست شو.او مسافر مقيم شو. بيا دوی مړه شول. نو په دوی به قضاء راوړل لازم وی.نوکه د تندرست کيدلونه پس اود مقيم کيدلو نه پس دومره ورځې ژوندی پاتې شول .څومره ورځې روژې چه فوت شوې وې.نود فوت شوو ټولو ورځو قضاء به لازم وی.اوکه يو څو ورځې ژوندي پاتې شو.نود صحت په اندازه اود اقامت په اندازه به د روژو قضاء راوړل واجب وی.مثلاً د بيمارئ يا د سفر په وجه شل روژې فوت شوې.بياد تندرست کيدلو نه پس يا د مقيم کيدلو نه پس لس ورځې ژوندي پاتې شو.اود بل څه سبب په وجه مړشو.نو په ده به د لسو ورځو روژو قضاء راوړل واجب وی.

دليله > څکه چه د بيمار او مسافر په باره کښې د قرآن پاك ارشاد دې.(فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ) يعنی چه څومره ورځې د بيمارئ يا د سفر په وجه سره نې د رمضان روژې اونه نيولې.د دغه اومره ورځو قضاء به واجب وی.اود څومره ورځو قضاء چه واجب ده.دومره ورځې ژوندی پاتې کيدل هم ضروری دی.څوچه هرکله دا کس دچا چه شل روژې د بيمارئ يا د سفر په وجه سره فوت شوی دی.د صحت اود اقامت نه پس ژوندي صرف لس ورځې پاتې شو.نود لسو ورځو روژو قضاء راوړل به هم واجب وی.څکه چه ددې نه د زياتی قضاء راوړلو باندې قدرت ثابت نشو.

ددې په تقسم او اقسامو غور کول

وَقَضَاءُ رَمَضَانَ إِنْ شَاءَ فَرَّقَهُ وَإِنْ شَاءَ تَابَعَهُ)اودرمضان قضا روژې که غواړی جدا جدا دې اونيسی اوکه غواړی نو پرله پسې دې اونيسی.

تشريح > أقسام الصوم > صاحب د عنايه رحمه الله فرمائی.چه په کتاب الله کښې د اته قسمه روژو ذکر دې.
① صوم رمضان ② صوم کفارهٔ قتل: ③کفارهٔ ظهار④کفارهٔ يمين: ⑤ قضاءِ رمضان: ⑥ صوم متعه: ⑦ کفارهٔ حلق راس.⑧ صوم جزائې صيد:

مايشترط فيها التتابع ومالا > په دې کښې رومبنو څلورو کښې تتابع اوبلاناغه اداکول شرط دی.اوپه

آخوځلوروکښې اختیار دې.چه که غواړی نوپه متفرق طورباندې دې اداکړی.اوکه غواړی نو په تتابع سره دې بلاناغه اداکړی.د رمضان په روژه کښې د تتابع اوتسلسل په وجوب کښې هیڅ کلام نشته.

الضابطة في التتابع وعدمه > او ددې نه په علاوه کښې مشائخویه قاعده ذکرکړې ده.قاعده دا ده.چه په کوم خائې کښې عتق رقبه مشروع ده.هلته په روژوکښې تتابع شرط دې.اوکوم خائې چه عتق رقبه مشروع نه ده.هلته په روژوکښې تتابع شرط نه دې.نوددې قاعدې په رنړا کښې قرآن پاك کښې چه کوم خائې د صوم رمضان د قضاء ذکر دې.هلته کښې د عتق رقبه د مشروعیت بیان نه دې شوې.یعنی داسې نه ده.چه د رمضان د قضاء په خائې عتق رقبه کافی شی.نود رمضان په روژو کښې به متابعت اوتسلسل واجب نه وی.دویم دلیل دادې.چه نص.﴿فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾ مطلق دې.نوددې د اطلاق په وجه به نه تتابع شرط وی. اونه به عدم تتابع شرط وی.بلکه اختیار به وی.که په تتابع سره ئې ادا کوی.او که بغیر د تتابع نه ئې اداکوی.

الإعتراض > دلته کښې یوسوال دا دې چه قضاء د ادا خلیفه وی.اود صوم رمضان په ادا کښې تتابع واجب ده.نوددې په خلیفه یعنی د رمضان دروژو په قضاء کښې هم تتابع واجب کیدل پکاردی.

الجواب عنه > د رومبی سوال جواب دادې.چه یو خلې د رسول اکرمﷺ نه یو کس د رمضان قضاء په متفرق طور باندې اداکولو په باره کښې تپوس اوکړو.نو نبی کریمﷺ اوفرمائیل. (ذالك إليك أرأيت لوكان على أحدكم دين فقضاء الدّرهم والدّرهمين ألم يكن قضاء، قال نعم قال فالله أحق أن يعفو ويغفر) یعنی نبی کریمﷺ تپوس اوکړو.چه تاته ددې اختیار دې.بیانبی کریمﷺ اوفرمائیل. بنه دا راته اووایه.که په تاسوکښې په یوکس قرضه وی.اودې یو یو درهم او دوه دوه درهمه ادا کوی.نو آیا دابه اداکول نه وی؟ سوال کونکی اوونیل.بې شکه ادا به وی.بیا نبی کریمﷺ اوفرمائیل.الله تعالی زیات لائق دې.چه خپل حق معاف کړی.او بښنه اوکړی. مطلب دادې. چه کله بنده خپله قرضه په متفرق طورسره وصول کولې شی.نود الله تعالی قرضه که په متفرق طور باندې ادا کړې شوه.نو ولې به ادا نه وی.اوس تاسو اوګورئ.که معامله هغه وئ. کومه چه تاسو ذکر کړې ده.یعنی د رمضان په قضاء کښې تتابع شرط کیدل.نو رسول اللهﷺ به دا جواب نه ورکولو.کوم ئې چه سائل ته ورکړې دې.

السوال الثاني > دویم سوال دادې.چه د حضرت ابی بن کعب قرات دې. ﴿فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾، متتابعات نوځنګه چه په کفاره د یمین کښې د حضرت عبدالله بن مسعودؓ د قرات، متتابعات، اعتبار شوې دې.دغه شان د رمضان په قضاء کښې هم د ابی بن کعب د قرات متتابعات اعتبار کول پکار دی.

الجواب عنه > د دویم سوال جواب دادې.چه د ابی بن کعبؓ قرات دومره مشهور نه دې. څومره چه دحضرت ابن مسعودؓ قرات مشهور دې.نود ابی بن کعب قرات د خبرواحد په مرتبه کښې شو.اویه خبر واحد سره په کتاب الله باندې زیاتوالې نشی کیدلې.په دې وجه د ابی بن کعب قرات،متتابعات، سره په کتاب الله یعنی.﴿فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾ باندې زیاتوالې نشی کیدلې.

إستحباب التتابع في قضاء رمضان > علامه مرغینانیؒ فرمائیلی دی.چه په قضاء د رمضان کښې تتابع اګرچه شرط نه ده.خو مستحب ضرور ده.چه په واجب ادا کولو کښې مسارعت (جلتی) اوشی.

د رمضان قضاء دويم رمضان پورې روسته كول

وَإِنْ أَخَّرَهُ حَتَّى دَخَلَ رَمَضَانٌ آخَرُ صَامَ رَمَضَانَ الثَّانِيَ اوكه دومره تاخير ئې اوكړو چه بل رمضان داخل شو نوددې بل رمضان دې اونيسي

تشريح ﴿وجوب القضاء بالتاخير إلي رمضان﴾ ① مسئله داده.چه په كوم كس باند د رمضان قضاء واجب ده.كه ده قضاء مؤخر كړه.تردې چه دويم رمضان راغې.نود دويم رمضان روژې دې اونيسي.

دليله ﴿خكه چه هغه روژې په خپل وخت كښې دى.او ددې دويم رمضان روژې په ده باندې متعين دى.په دې وجه په دې كښې د نورو روژو گنجائش نشته.اود تير رمضان روژو قضاء به ددې دويم رمضان نه پس ادا كوى.خكه چه دا زمانه هم د قضاء ده.

وَلَا فِدْيَةَ عَلَيْهِ او فديه پرې نشته دې

تشريح ﴿عدالكفارة بالتاخير﴾ اوددې تاخير په وجه به په ده باندې فديه واجب نه وى.

دليله ﴿دليل دادې.چه الله تعالى د قضاء امر مطلق فرمائيلې دې.اود امر مطلق موجب،على الفور، نه وى. بلكه ،على التراخى، وى.هم دا وجه ده.كه يوكس د رمضان تيريدلو نه پس د رمضان د قضاء نه مخكښې نفلى روژې اونيولې.نو په اتفاق سره جائزدى.كه د رمضان قضاء ،على الفور، واجب وې.نود رمضان د قضاء نه بغير به نفلى روژې جائز نه وې.نو هركله چه د رمضان قضاء ،على التراخى ، واجب دى.نويه ژوند كښې د مرگ نه وړاندې وړاندې كله چه اوغواړى.قضاء دې پوره كړى.پوره ژوند د قضاء وخت دې.

د حاملې او مرضعې په ځان د هلاكت په ويره د روژې ماتول

وَالْحَامِلُ وَالْمُرْضِعُ إِذَا خَافَتَا عَلَى أَنْفُسِهِمَا أَوْوَلَدَيْهِمَا أَفْطَرَتَا وَقَضَتَا حامله او پئ وركونكې ته چه كله ويره وه پخپل نفس باندې يا پخپلو بچو باندې نو افطاربه كوى اوقضا به راوړى

تشريح ﴿جواز الإفطار للحامل والمرضعة إذا خافتا الهلاك علي نفسه﴾مسئله داده.چه حامله ښځه يا پئ وركونكې ښځې ته كه د روژې په وجه د خپلوځانونو خطره وى.يا دخپلو بچو ويره وى.يعنى حاملې ته د خيټې د بچى ويره وى.او پئ وركونكې ښځې ته د پئ څكونكى بچى ويره وى. نودا دواړه دې افطار اوكړى.او روسته دې ددې روژو قضاء راوړى.

وَلَا فِدْيَةَ عَلَيْهِمَا اونه په دوى فديه شته دې. (١)

تشريح ﴿عدم وجوب الفدية عليهما﴾ ① په دې دواړو باندې فديه واجب نه وى.

د شيخ فانى دپاره د افطار حكم

وَالشَّيْخُ الْفَانِي الَّذِي لَا يَقْدِرُ عَلَى الصِّيَامِ يُفْطِرُ دير زور سړې چه روژه نشى نيولې نو افطار دې كوى وَيُطْعِمُ لِكُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا كَمَا يُطْعِمُ فِي الْكَفَّارَاتِ اوطعام دې وركوى دهرې ورځې دپاره ديو مسكين ته لكه چه طعام وركولې شى په كفاراتو كښې

---

(١) **مذهب الشافعي**رحمه الله:- امام شافعى رحمه الله فرمائى.كه حامله يا مرضعه د خپل بچى ضائع كيدلو په وجه روژه افطار كړى.نو په دوى به د قضاء سره فديه هم واجب وى.

تشریح> جواز الإفطار للشيخ الفاني> د شيخ فانی نه مراد هغه بوډها سړی دی.چه په روژو نيولو قدرت نه لری.او فانی په دې وجه ونيلی شوی دی.چه دې فناء ته نيزدې شوی دې.يا داچه دده قوت فناء شوی دی.

وجوب الفدية عليه > شيخ فانی به روژه نه نيسی.اود هرې روژې په بدله کښې به فديه ورکوی.لکه څنګه چه په کفاراتو کښې فديه ورکولې شی.

دليل جواز الإفطار> علامه مرغينانی رحمه الله فرمائيلی دی.چه په دې باره کښې اصل دالله تعالی قول ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ دې.مفسرين فرمائی.چه ددې معنی ﴿لايطيقونه﴾ده. يعنی څوك چه د روژې طاقت نه لری.يعنی شيخ فانی وی.په هغوی فديه واجب ده.لکه چه دالله تعالی قول ﴿يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ أَنْ تَضِلُّوا﴾ يعنی ﴿أن لا تضلوا﴾ الله تعالی ستاسو دپاره بيانوی.چه تاسو بې لارې نشئ.ددې نه په استدلال باندې يو اشکال دی.

الاعتراض> هغه داچه کله دا آيت نازل شو.نو مالدارو خلقو به روژه نه نيوله.بلکه د روژو فديه به ئې ورکوله.او فقيرانو به روژه نيوله.او وجه ددې داوه.چه د اسلام په ابتداء کښې به خلقو ته اختيار وو.چه دوی روژه نيسی.اوکه فديه ورکوی.بيا دا اختيار د الله تعالی د قول ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ په وجه منسوخ شو.اود منسوخ نه استدلال کول جائز نه دی؟

الجواب> ددې جواب دادې.که دا آيت د شيخ فانی په حق کښې نازل شوی دې.لکه څنګه چه د اسلافو رائې ده.نو ددې آيت نه په استدلال کښې هيڅ باك نشته.اوکه د روژه او فديه په مينځ کښې د اختيار په سلسله کښې نازل شوی دې.نو مونږ وايو.چه د، قادر علی الصوم،په حق کښې منسوخ شوی دې.خود شيخ فانی په حق کښې په خپل حال باندې باقی دې.لکه څنګه چه دمنسوخ کيدلو نه مخکښې وو.

بطلان حکم الفدية بعد القدرة علی الصوم> علامه مرغينانی رحمه الله فرمائيلی دی .که شيخ فانی روژه اونه نيوله.او فديه ئې ادا کړه.بيا دې په روژو باندې قادرشو.نود فديې حکم به باطل شی.څکه چه خليفه يعنی د فديه واجبيدلوشرط دائمی عجز دې.خو هرکله چه دا کس په روژه باندې قادرشو.نو دائمی عجز اونه موندې شو.او هرکله چه دائمی عجز اونه موندې شو. نود فديه وجوب هم ثابت نشو.او هرکله چه فديه واجب نشوه.نو ادا څه شو؟ فديه، کأن لم يکن، په مرتبه کښې شوه.اود روژې قضاء به واجب وی.

د فدې دپاره وصيت کول

وَمَنْ مَاتَ اوڅوك چه مړ شو وَعَلَيْهِ قَضَاءُ رَمَضَانَ اوپه هغه باندې قضا د رمضان وه فَأَوْصَى بِهِ نو هغه وصيت اوکړو د هغې أَطْعَمَ عَنْهُ وَلِيُّهُ خوراك به ورکوی د هغه د طرفه ولی د هغه لِكُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا د هر مسکين دپاره نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بر نيمه درئ د غنمو أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ اويا يوه درئ د قجورو أَوْ شَعِيرٍ اويا د اوربشو

تشريح> تشريح> وجوب الفدية للصوم علی العاجز> صورت د مسئلې دادې.چه يو داسې کس چه په هغه باندې د رمضان قضاء روژې واجب وې.مرګ ته نيزدې شو او ده خپلو وارثانو ته د فديه ورکولو وصيت اوکړو.نو دده ولی به دده د طرفه د هر روژې په بدله کښې يو محتاج ته د غنمو نيم صاع

ورکوی.یا به د اوربشو یا کجورو یو صاع ورکوی.

دلیله > دلیل دادې.چه هرکله دا کس په آخری عمر کښې د قضاء روژو نیولو نه عاجز شو.نود شیخ فانی په شان شو.نولکه څنګه چه په شیخ فانی باندې د هرې روژې فدیه واجب وی. دغه شان به په ده باندې هم د هرې روژې فدیه واجب وی.

وَمَنْ دَخَلَ فِي صَوْمِ التَّطَوُّعِ ثُمَّ أَفْسَدَهُ قَضَاهُ چا چه نفل روژه شروع کړه او بیا ئې فاسده کړل قضابه ئې راوړی. (١)

تشریح > **حکم قضاء ما أفسده** > صورت د مسئلې دادې.چه که نفلی روژه ئې شروع کړه.بیا ئې دا فاسد کړه.نو په ده باندې ددې قضاء راوړل واجب دی.

دلیله > دلیل دادې.چه نفلی روژه کومه چه شروع کړې شی.هغه عبادت اوعمل دې.او اعمال د باطلیدلو نه بچکول واجب دی.لکه چه د الله تعالی ارشاد دې﴿وَلَا تُبْطِلُوٓا أَعْمَالَكُمْ﴾ او اعمال د باطلیدلونه بچکول داسې کیدې شی.چه دا پوره کړې شی.بهرحال د شروع کولو نه پس عمل پوره کول واجب دی. او هرکله چه عمل پوره کول واجب دی.نود فساد په صورت کښې به ددې قضاء راوړل هم واجب وی.

فساد الصوم من غیر عذر > صاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلی دی .چه دعذر په وجه نفلی روژه ماتول په اتفاق سره جائز دی.خو بغیر د عذره ماتولو کښې دوه روایتونه دی.یود جواز،او بل د عدم جواز.په عدم جواز باندې دلیل د الله تعالی قول﴿وَلَا تُبْطِلُوٓا أَعْمَالَكُمْ﴾ دې.

جواز الإفطار لأجل الضیافة > علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه ضیافت هم عذر دې.یعنی که څوك د یوکس دعوت اوکړی.اود هغه نفلی روژه وی.نوکه دې دا نفلی روژه د ضیافت او دعوت په وجه ماتول اوغواړی.نو ماتولې شی.

دلیله > اود قول اول دلیل دا حدیث دې. (أنه ﷺ كان في ضيافة رجل من الأنصار فأمتنع رجل من الأكل وقال إني صائم،فقال إنما دعاك أخوك لتكرمه فأفطر واقض يومًا مكانه) (٢) یعنی نبی کریم ﷺ د یو انصاری په دعوت کښې شریك وو.یوصاحب د خوراك نه منع شو.او وې وئیل.چه زما روژه ده. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.چه ستا رور تاته دعوت درکړې دې.تاله دهغه اکرام کول پکار دی.ته افطار اوکړه. اوددې په ځائې د یوې ورځې قضاء راوړه.

روایة الضیافة لیس بعذر > په زیر بحث مسئله کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله نه د حسن بن زیاد روایت دې.چه ضیافت عذر نه دې.

دلیله > څکه نقل دی.چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی. (إذا دعی أحدكم فليجب فإن كان مفطرا فليأكل وإن كان صائما فليصل) یعنی که په تاسوکښې د یوکس دعوت اوشی.نو قبول ئې کړئ. بیاکه دې روژه دار نه وی.نو اوخوړئ.اوکه روژه دار وی.نو دعوت کونکی ته دخیر دعا اوکړئ.ددې نه معلومیږی. چه ضیافت عذر نه دې.په دې وجه د روژې ماتولو اجازت نه دې ورکړې شوې.

---

(١) **مذهب الشافعي** رحمه الله:- امام شافعی او امام احمد رحمه الله فرمائی.چه په ده باندې مطلقاً قضاء واجب نه ده.

(٢) من حديث أبي سعيد الخدري رضي الله عنه أخرجه أبوداود الطيالسي رحمة الله في مسنده (ص،٢٩٣) والدارقطني في سننه (١٧٧/٢/٢).

قول بعض المشائخ في الإفطار وعدمه> بعض مشائخ رحمهم الله فرماني.چه کوربه (ملمستیاکونکي) که صرف په حاضري کولوخوشحاله وي.اوبه نه خوراك سره تکلیف محسوس نکړي.نو افطار به نه کوي.اوکه په نه خوراك سره تکلیف محسوس کړي.نو افطار کول پکار دي.او روسته به ددې قضاء کوي.خو دا خیال ساتل پکاردي.چه د افطار اجازت د زوال نه وړاندې دې.د زوال نه پس افطار نه دی کول پکار.خو که د افطار نه کولو په صورت کښې د مورپلار یا په دې دواړو کښې د یونافرماني کیږي.نو بیا د زوال نه پس هم افطار کول جائزدي.

د ماشوم بلوغ اود کافر اسلام په رمضان کښې

وَإِذَا بَلَغَ الصَّبِيُّ أَوْأَسْلَمَ الْكَافِرُ فِي رَمَضَانَ هرکله چه بچې بالغ اوکافر مسلمان شو په رمضان کښې أَمْسَكَا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا دواړه به د خوراک څکاک نه ځان بندوي باقي ورځ،

تشریح> **القاعدة في الباب**> ددې مسئلې مدار په یوه قاعده باندې دې.قاعده داده.چه د رمضان په ورځوکښې که څوك د ورځ په آخری حصه کښې په داسې صفت اوحالت کښې شو.چه که دې د ورځ په اوله حصه کښې په دې حالت باندې وې.نو په ده به روژه نیول فرض وو.نوپه دې کس به د ورځ په باقي حصه کښې امساك یعني د روژه دارو په شان اوسیدل واجب وي.

دلیله> اوامساك ځکه واجب دې چه امام محمد رحمه الله د مبسوط په کتاب الصوم کښې ذکر کړی دی. (فليمسك بقية يومه) او(فليمسك) امر دې.اود امر صیغه په وجوب دلالت کوي.اود حائضه په باره کښې نې فرمائیلی دی.(إذا طهرت في بعض النهار فلتدع الأكل والشرب)او (فلتدع)هم د امر صیغه ده.چه په وجوب باندې دلالت کوي.

(وَصَامَا مَا بَعْدَهُ)اوددغې ورځې نه پس به روژه نیسی (وَلَمْ يَقْضِيَا مَا مَضَى) اوچې کومې روژې تري تیرې شوې وی د هغې قضا به نه راوړي

تشریح> **عدم القضاء على الصبي والكافر بعد البلوغ والإسلام**> هم ددې قاعدې لاندې دامسئله ده.چه د رمضان په ورځ کښې یو نابالغ ماشوم بالغ شو.یاکافر مسلمان شو.نودا دواړه حضرات به باقي ورځ د خوراك څکاك اوجماع وغیره نه ځان ساتي.چه د روژه دارو سره مشابهت اختیارولو په وجه د رمضان د مقدس وخت حق پوره شي.ځکه دا بده خبره ده.چه ټوله دنیا خو په روژې سره وی.او دې خوراك څکاك کوی.په دې وجه دوی له هم د مفطراتو نه بندیدل پکار دی.خوددې باوجود که نابالغ د بالغ کیدلو نه پس اوکافر د مسلمانیدلو نه پس د رمضان په ورځ څه خوراك څکاك اوکړو.نو په دوی به ددې ورځې قضاء واجب نه وي.

دلیله> ځکه چه په دوی باندې ددې ورځې روژه د سره واجب شوې نه ده.بلکه ددې ورځې باقي امساك یعني د خوراك څکاك نه بندیدل واجب دی.او قضاء د روژې واجبیږي.د امساك نه واجبیږي.په دې وجه به په دوی باندې ددې ورځې قضاء واجب نه وی.خو ددې ورځې نه پس چه د رمضان کومې ورځې دی.ددې روژې به په دوی باندې فرض وی.ځکه چه اوس په دوی کښې د روژو نیولو،لیاقت او اهلیت هم شته.چه عاقل، بالغ او مسلمان دی.او د شرعی عذرونو نه پاك دی.اود صوم د فرضیت سبب یعني رمضان هم موجود دې.نو هرکله چه اهلیت هم موجود دې.اوسبب هم متحقق دې.نود روژو په فرضیت

کښې څه اشکال دې.البته د تیرو شوو ورځو اود بالغ کيدلو د ورځې اود اسلام قبلولو د ورځې قضاء به واجب نه وی.ځکه چه په دغه ورځ دا دواړه حضرات د سره د شریعت مخاطب نه وو.

د بې هوشئ د ورځ د روژې عدم قضاء

مَنْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ فِيْ رَمَضَانَ لَمْ يَقْضِ الْيَوْمَ الَّذِيْ حَدَثَ فِيْهِ الْإِغْمَاءُ څوک چه بيهوشه شو په رمضان کښې نو قضا به نې راوړی.ددغه ورځې دروژې چه پکښې بې هوشی راغلې وی. وَقَضٰى مَا بَعْدَهٗ او د دې نه پس چې کومې روژې دې د هغې قضا به راوړی

تشريح> عدم وجوب قضاء يوم الذي أغمي فيه> مسئله داده.که د رمضان په میاشت کښې د صبا راختلو نه پس په یوکس باندې بې هوشی راغله.اود څو ورځو پورې بې هوشه پروت وو.نود کومې ورځې نه چه بې هوشی شروع شوې ده.ددې ورځې قضاء خوبه نه راوړی.البته ددې نه د روستو ورځو قضاء راوړل به واجب وی.ددې ورځې قضاء څو په دې وجه واجب نه ده.چه ددې ورځې روژه موجود شوه.

دليله> په دې طریقه چه داکس د روژې نیت سره د مفطرات صوم نه منع شو.اود نیت تحقق په دې طریقه اوشو.چه دا کس مسلمان دې.اود رمضان په شپوکښې د مسلمان ښکاره حال دادې.چه دده هیڅ یوه شپه بغیر د نیت نه نه تیریږی.نوهرکله چه د ښکاره حال د تقاضې مطابق په نیت سره د مفطرات نه بندیدل موجود شو.نو روژه موجود شوه.او هرکله چه ددې ورځې روژه موجود شوه.نوددې د قضاء راوړلو هیڅ ضرورت نشته.او ددې نه د روستنو ورځو چونکه نیت نه دې موجود شوې.په دې وجه به په دې ورځو کښې(بغیر د نیته)د مفطرات نه بندیدل روژه نشی شمارلې.اونیت په دې وجه نه دې موجود شوې.چه اغماء یعنی بې هوشی راتلل، د نیت مانع دی.

په بعضې رمضان کښې د لیونتوب حکم

وَإِذَا أَفَاقَ الْمَجْنُوْنُ فِيْ بَعْضِ رمضان قَضٰى مَا مَضٰى منه [1] که لیونې درمضان په بعضې وخت کښې ښه شو نو دتیرو ورځو قضا به راوړی وصام مابقي او چې کومې باقی پاتې وی د هغې روژه دې اونیسی [2]

تشريح> وجوب القضاء بعد الإفاقة من المجنون> صورت د مسئلې دادې. که مجنون ته د رمضان په څه حصه کښې افاقه اوشوه.نود تیروشوو ورځو دې قضاء اوکړی او راروانې روژې دې اونیسی

دليله > دلیل دادې.چه کوم کس د رمضان په بعضو ورځو کښې مجنون پاتې شو.او بیا افاقه اوشوه.نو دده په حق کښې د روژې د وجوب سبب موجود شو.او سبب شهود شهر دې. ځکه چه د الله تعالى ارشاد دې.﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ اوداخبره فیصله شوې ده.چه په آیت کښې د شهر نه مراد بعض شهر دې.ځکه که پوره شهر سبب اوګرځولې شی.نو روژه به په شوال کښې نیول پکار وی. ځکه چه د مسبب وجود دسبب نه پس وی.نو اوس به تقدیری عبارت داسې وی ﴿فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمْ﴾ بعض الشهر فَلْيَصُمْ الشهر كله)په دې آیت کښې د ﴿فَلْيَصُمْهُ﴾ د مفعول ضمیر، مرجع لفظ د﴿الشَّهْرَ﴾ دې.کوم چه په

[1]) القول الراجح هو هذا قول الجمهور رحمهم الله كذا في الكفاية (٢٨٥\٢) والعناية (٢٨٥\٢) نقلاً عن القول الراجح (٢٠١\١)

[2]) اختلاف زفر والشافعي رحمهما الله :- حضرت امام زفر او امام شافعی رحمهما الله فرمائی چه په ده به د تیرو ورځو قضاء واجب نه وی.هم دا د امام محمد رحمه الله قول دې.

عبارت کښې ذکر دې. بعض شهر نه دې.کوم چه مقدر منلې شوې دې.اوس به مطلب دا شي.چه دکوم کس جنون، د رمضان پوره میاشت راګیره نکړه.نوده بعض میاشت بیا موندله.نو ده له به د پوره میاشت روژې نیول پکار وی.خوچونکه د جنون په وجه نې د بعض ورځو روژې اونه نیولې. په دې وجه به ددې قضاء راوړی.او باقی به ادا کوی.

تعريف الجنون الأصلي والعارضي> جنون اصلی دادې.چه یوکس د بالغ کیدلو نه مخکښې مجنون وو.بیا بالغ هم د جنون په حالت کښې شو.اوجنون عارضی دادې.چه بالغ خود عاقل په حالت کښې شو.خو روسته مجنون شو.

عدم الفرق بين الجنون الأصلي والعارضي> علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی چه د جنون اصلی اوجنون عارضی په مینځ کښې هیڅ فرق نشته.یعنی په تیرشوی حکم کښې دواړه برابر دی.بعض حضرات فرمائی .چه دا عدم فرق د ظاهرالروية مطابق دې.او امام محمد رحمه الله د دواړو په مینځ کښې فرق کړې دې.دوی فرمائیلی دی.چه د جنون اصلی په صورت کښې که د رمضان په څه حصه کښې افاقه اوشوه.نو په ده به د تیروشوو ورځو قضاء واجب نه وی. لکه ماشوم که د رمضان په مینځ کښې بالغ شو.نو په ده به د تیروشوو ورځو قضاء واجب نه وی.اود جنون عارضی په صورت کښې به د تیروشوو ورځوقضاء واجب وی.دحضرت امام محمد رحمه الله بیان شوې فرق د بعض متاخرینو خوښ مذهب دې. ([1])

په حائضه او نفاسه د روژې قضاء

وَإِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ أَوْنَفِسَتْ أَفْطَرَتْ وَقَضَتْ اذاطهرت اوهرکله چه ښځې ته حیض یا نفاس راغلو نوافطار دې اوکړی نوقضا به راوړی کله چې پاکه شي

تشريح> **وجوب القضاء علي الحائض والنفساء**> مسئله: د رمضان په میاشت کښې که یوې ښځې ته د حیض وینه شروع شوه.یا د ماشوم ولادت(پیدائش) اوشو.نوددې حکم دادې چه د حیض اونفاس په حالت کښې به روژه نه نیسی.او ددې روژو به د رمضان نه پس قضاء راوړی.په خلاف د مانځه.یعنی د حیض اود نفاس په وجه د روژو قضاء نه ساقطیږی.البته د مونځ قضاء ساقطیږی.

وجه الفرق بين الصلاة والصوم> وجه د فرق دادہ.چه د مونځونو کثرت،او هره میاشت په حیض کښې د مبتلا کیدلو په وجه د مونځونو قضاء ساقط کړې شوې ده.او روژه چونکه په کال کښې یوځل راځی.نود روژو په قضاء راوړلو کښې هیڅ حرج نه پیښیږی.په دې وجه د روژو قضاء باقی اوساتلې شوه.د حیض او نفاس په وجه دا ساقط نکړې شوه.

په رمضان کښې د حیض نه پاکیدل

وَإِذَا قَدِمَ الْمُسَافِرُ أَوْطَهُرَتِ الْحَائِضُ فِي بَعْضِ النَّهَارِ کله چه واپس راشی مسافر یا پاکه شی حائضه دورځې په څه حصه کښې **أَمْسَكَا عن الطعام والشراب بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا** نود خوراك څکاك نه دې امساك دې کوی باقی ورځ دواړه.([2])

---

[1]) القول الراجح هو هذا ظاهر الرواية يعنى لا فرق بين الأصلي والعارضى كذا في العناية (۲\۲۸۷)وردالمختار(۲\۱۳٤)نقلاً عن القول الراجح (۱\۲۰۲)-

[2]) مذهب الشافعي رحمه الله:- حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په دوی د باقی ورځ امساك واجب نه دې.دا اختلاف د هرهغه کس په باره کښې دې.چه د ورځ په څه حصه کښې د روژې کامل اهل شی.مثلاً کافر مسلمان شی.یا ماشوم

تشریح ﴿ وجوب الإمساك على المسافر والحائض إذا أقيم أوطهرت ﴾ صورت د مسئلې دا دې. که یومسافر د رمضان په ورځ خپل وطن ته واپس راغې.یا حائضه پاکه شوه. نو زمونږ په نیز په دې دواړو باندې د ورځ په باقي حصه کښې د مفطرات نه امساك واجب دې.یعنی د دوی دواړو دمخکښې نه روژه نه وه.خودې باوجودبه دمانښامه پورې دروژه دارو پشان وخت تیروی.

عليله ﴿ دلیل دادې.چه د روژه دارو مشابهت اختیارول د روژې خلیفه دی.څکه چه د روژه دارو سره مشابهت د ورځ په بعض حصه کښې موجود شوې دې.او روژه د ټولې ورځې وی. اود بعض شئ خلیفه نه وی.نو ثابته شوه.چه په بعض حصه کښې د مفطرات نه بندیدل،د روژې خلیفه کیدلو په وجه نه دی.بلکه د وخت یعنی د رمضان حق ادا کولو دپاره واجب شوې دې.څکه چه د رمضان ورځ یو معظم وخت دې.

غلط فهمئ سره د صبا نه پس یا د غروب نه وړاندې خوراك څکول

وَمَنْ تَسَحَّرَ وَهُوَ يَظُنُّ أَنَّ الْفَجْرَ لَمْ يَطْلُعْ چا چې پیشنمې نې اوکړو پدې خیال چه صبا نه شوې نه دې حال دادې چه هغه شوې وی ،أَوْ أَفْطَرَ وَهُوَ يَرَى أَنَّ الشَّمْسَ قَدْ غَرَبَتْ یا نې روژه ماته کړه پدې خیال چه نمر پریوتلې دې ثُمَّ تَبَيَّنَ أَنَّ الْفَجْرَ كَانَ قَدْ طَلَعَ بیا ښکاره شوه چې صبا راښتلې وو أَوْ أَنَّ الشَّمْسَ لَمْ تَغْرُبْ اویقینا نمر نه وو ډوب شوې

تشریح ﴿ وجوب القضاء بالأكل بعد الصبح وقبل الغروب ﴾ مسئله داده.چه د رمضان په شپه کښې یوکس په دې خیال سره پیشنمې اوکړو.چه اوس لاصبا صادق نه دې راختلې.روسته تحقیق اوشو.چه صبا صادق راختلې وو.یا یوکس په دې خیال افطار اوکړو.چه نمر پریوتلې دې.بیا معلومه شوه.چه اوس لانمر نه دې پریوتلې.نوددې ورځې روژې قضاء واجب ده.خودا کس به په دې خپل فعل باندې ګناهګار نه وی.اونه به په ده باندې کفاره واجب وی.

قَضَى ذٰلِكَ الْيَوْمَ نو د دغه ورځې قضا به راوړی

تشریح ﴿ دلیل وجوب القضاء ﴾ او قضا په دې وجه واجب ده.چه روژه یو داسې شرعی حق دې. چه مضمون بالمثل دې.یعنی ادا په فوت کیدلو سره نه ساقطیږی.بلکه شرعاً ددې ضمان بالمثل واجب وی.یعنی د روژې په بدله کښې به روژه واجب وی.لکه څنګه چه د بیمار اومسافر په حق کښې دا ضمان واجب دې.

وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ اوپده کفاره نشته دې.

تشریح ﴿ دلیل عدم وجوب الكفارة ﴾ ① اوکفاره به په دې وجه واجب نه وی.چه دا ناقص جرم دې.څکه چه دده د صباصادق نه روسته پیشنمې کول،یا د نمر پریوتلو نه مخکښې افطار کول. بالاراده نه دی.بلکه د شپې په خیال سره پیشنمې اوکړو.اود نمر پریوتلو په خیال سره نې افطار اوکړو.بهرحال جرم قاصر دې.او د قاصر جرم په وجه کفاره نه واجبیږی.د کفاره د وجوب دپاره کامل جرم کیدل ضروری دی.

بالغ شی.یا مجنون ته افاقه اوشی.نو زمونږ په نیز په دوی د ورځ په باقی حصه کښې امساك واجب دې.خود امام شافعی رحمه الله په نیز واجب نه دې.

④ ددې تائید د فاروق اعظمؓ د قول نه هم کیږی.نقل دی.چه یو خل د رمضان په میاشت کښې د نمر پریوتلو په وخت حضرت عمرؓ اوبعض صحابه د مسجد کوفه په صحن کښې ناست وو.چه د پیو یو پیاله راوړلی شوه.حضرت عمرﷺ پخپله هم اوڅکل.او صحابو هم اوڅکل.او مؤذن ته ئې اوونیل.څه آذان اووایه.نو کله چه دې د اذان د پاره بره اوختلو.نو وې کتل.چه اوس نمر موجود دې.نو ده په چغه اوونیل. «والشمس یا امیرالمؤمنین»یا امیرالمؤمنین نمر اوس هم موجود دې لاته دې پریوتې.حضرت عمرؓ اوفرمائیل. «بعثناك داعیا ولم نبعثك راعیا ما تجانفنا لاثم لقضاء یوم علینا یسیر»یعنی مونږ ته داعی اولیګلې.راعی مو نه وې لیګلې. مونږ(الله دې نکړی)د ګناه اراده نه ده کړې.مونږ ته د یوې روژې قضاء راوړل آسان دی. (١) د دې واقعې نه معلومیږی.چه په داسې اجتهادی غلطئ سره که روژه فاسد شی.نو صرف قضاء به واجب وی.نه به ګناهګار وی. اونه به کفاره واجب وی.

د اختر په میاشت کښې د یوعادل د شهادت حېثیت

وَمَنْ رَأَى هِلَالَ الْفِطْرِ وَحْدَهُ لَمْ يُفْطِرْ)چا چه د وړوکی اختر میاشت یواځې اولیده نو افطار به نه کوی

تشریح﴿ عدم الفطر برؤیة الواحد هلال شوال﴾ مسئله داده.که یوکس یواځې د اختر میاشت اولیدله.که مطلع صفا وی اوکه صفا نه وی.نودا کس به احتیاطاً افطار نه کوی.

حکم الافطار﴿اوکه افطار ئې اوکړو.نوپه ده به قضاء واجب وی.اوپه روژه ماتولوسره به قضاء واجب نه وی.اود رمضان د میاشتې په صورت کښې احتیاط په روژه واجب کیدلوکښې دې. په دې وجه د رمضان میاشت د خانله د یوکس د کتلو په ګواهئ باندې روژه واجب کړې شوې ده.

د وریځ په ورځ د ګواهانو د شمار تفصیل

وَإِذَا كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ اوکله چه په آسمان کښې څه علت وو لَمْ يُقْبَلِ الْإِمَامُ فِي هِلَالِ الْفِطْرِ نه به قبلوی امام په میاشت داخترکښې إِلَّا شَهَادَةَ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ مګر شهادت د دوو کسانو یا دیوسړی او ددوو ښځو

تشریح﴿ شروط ثبوت الرؤیة في الفطر﴾مسئله داده.چه ۲۹ رمضان که په آسمان وریځ یا ګرد وغبار وغیره وی.نود وړوکی اخترد سپوږمئ په ثبوت کښې ①د دوه سړو یا د یوسړی اود دوه ښځو ګواهی ضروری ده.د یوکس ګواهی به کافی نه وی. ② اود ګواهانو آزاد کیدل.او،محدود فی القذف،نه کیدل هم ضروری دی.،محدود فی القذف،که توبه کړی وی.نوبیا هم د وړوکی اختر په میاشت کتلوکښې به دده شهادت معتبر نه وی. ③دغه شان ددې ګواهئ په لفظ د شهادت سره کیدل ضروری دی.

دلیله﴿دلیل دادې.چه د وړوکی اختر سپوږمئ سره د بندګانو نفع متعلق ده.اوهغه د فطر نفع ده.یعنی په رمضان کښې چه د خوراك څکاك کومې پابندیانې وې.د اخترمیاشت سره هغه ټولې ختمې شوې.او ښکاره ده.چه په دې کښې د بندګانو نفع ده.اوهرکله چه په دې کښې د بندګانو نفع ده.نودا خالص دینی امر پاتې نشو.بلکه دا دحق العباد مشابه شو.اود حقوق العباد ثابتولو دپاره شهادت کامله ضروری وی.یعنی دوه سړی یا یوسړې اودوه ښځې به ګواهی ورکوی.په دې شرط چه دوی آزاد

(١) من حدیث أنس بن مالكؓ اخرجه البخاری فی الصوم باب ٢٠ رقم ٩٧٧ ومسلم في الصيام رقم ٤٥ والترمذی فی الصوم بَب ١٧ رقم ٧٠٨ والنسائی فی الصیام باب ١٨ وابن ماجه في الصيام باب ٢٢ واحمد في المسند (٣٢/٣)۔

وی.مسلمان وی. عادل وی.، محدود فی القذف، نه وی.او په لفظ د شهادت سره نې ګواهی ورکړې وی.نوهرکله چه د وړوکی اختر د میاشت معامله هم د حق العباد مشابه ده.نوددې د ثابتولودپاره هم شهادت کامله ضروری دې.د یوسړی ګواهی به کافی نه وی.

د اختر د نبوت دپاره د جم غفیر شرط دی

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ لَمْ يُقْبَلْ اوکه په آسمان کښې څه نه وو نونه به شی قبلولولې. إِلَّا شَهَادَةُ جَمَاعَةٍ يَقَعُ الْعِلْمُ بِخَبَرِهِمْ) مګر دداسې ټولګی شهادت د کومو خبرو چه یقینی شی

تشریح ﴿ عبارت واضح دې.او وړاندې ددې تفصیل هم تیرشوې دې.هلته نې اوګورئ.

د روژې د وخت ابتداء او انتهاء

د اعتکاف بیان

بَابُ الْاِعْتِكَافِ

(دا) باب د اعتکاف(په بیان کښې)دې.

تشریح ﴿ **الربط بما قبله** ﴿روژه نې په اعتکاف باندې په دې وجه مقدم کړې ده.چه روژه د اعتکاف دپاره شرط دې.او شرط د شئ ، په شئ باندې مقدم وی.ځکه نې روژه په اعتکاف باندې مقدم کړه.

معنی الإعتكاف ﴿اعتکاف د ،باب افتعال،مصدر دې.د ،عکف، نه ماخوذ دې.او،عکف، متعدی دې.او ،عکوف،لازم دې.د شریعت په اصطلاح کښې اعتکاف په نیت سره جمات کښې ایساریدلو ته وائی.

د اعتکاف حکم

الْاِعْتِكَافُ مُسْتَحَبٌّ)اعتکاف مستحب دې.

حل اللغة ﴿①مواظبت: همیشه والې]

تشریح ﴿ **نية الإعتكاف في العشر الأواخر من رمضان** ﴿ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه د رمضان د آخری عشرې اعتکاف مستحب دې.خوصاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلی دی چې صحیح خبره داده.چه د رمضان د آخری عشرې اعتکاف سنت مؤکده دې.

دلیله ﴿ دلیل دا دې.چه نبی کریم ﷺ په دې باندې مواظبت کړې دې.لکه ارشاد دې.چه(قالت عائشه رضي الله عنها أن رسول الله ﷺ كان يعتكف في العشر الأخير من رمضان حين قدم المدينة إلى أن توفاه الله تعالى)حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی.چه کله نبی کریم ﷺ مدینې ته تشریف راوړلو.نود وفاته پورې نې د رمضان په آخری عشره کښې اعتکاف کولو

اود نبی کریم ﷺ په یوځیز باندې مداومت کول،ددې د مسنون کیدلو دلیل دې.په دې وجه د رمضان په آخری عشره کښې اعتکاف سنت مؤکده دې.

السوال ﴿خو دلته کښې دا اعتراض کیدلې شی.چه د رسول الله ﷺ مواظبت کول،د وجوب علامت دې.نو د رمضان د آخری عشرې اعتکاف واجبیدل پکار دی.

ألجواب ﴿ددې جواب دادې.چه رسول الله ﷺ به کوم ځیز واجب ګرځول غوښتل،نو په هغې به نې مواظبت کولو.اود مواظبت نه پس به نې د هغې د کولوحکم فرمائیلو.او په پریخودونکی به نې نکیر فرمائیلو حالانکه نبی کریم ﷺ خو نه ددې حکم فرمائیلې دې.اونه نې ددې په پریخودلو باندې نکیر فرمائیلې

دي. نوكه د رمضان د اخرى عشرې اعتكاف واجب وې نو نبى كريمﷺ به خلقو ته ددې حكم فرمائيلې وې. او به پريخودونكى به نې نكير فرمائيلې وې.نو ثابته شوه چه دا واجب نه دي.

دليل عدم وجوب الإعتكاف> د اعتكاف د عدم وجوب دليل دا هم دي.چه يو خلې نبى كريمﷺ د اعتكاف كولو دپاره په مسجد كښې خيمې لګولويعنى د پرده اچولو حكم اوكړلو بيا جومات ته داخل شو. نو دوه خيمې نې نورې هم اوليدلې.ددې باره كښې نې تپوس اوكړو.نو معلومه شوه.چه يوه خيمه د عائشه ؓ ده. او يوه د حفصه ؓ ده.چه دا نې اوليدلې.نو نبى كريمﷺ په غصه شو نود خپلې خيمې لرې كولو حكم نې اوكړو.اودې كال نې اعتكاف پريخودلو.ددې نه هم معلوميږى.چه اعتكاف واجب نه دي. خكه چه د وجوب دليل بغير د پريخودلو مواظبت كول دي.

د اعتكاف تعريف، ركن او شرط

وَهُوَاللَّبْثُ فِي الْمَسْجِدِمَعَ الصَّوْمِ اودغه پاتې كيدل دى په مسجد كښې سره دروژې وَنِيَّةِ الإِعْتِكَافِ او دنيت داعتكاف نه.

تشريح> ألإعتكاف لغة وشرعًا> په لغت كښې اعتكاف مطلق ايساريدلو ته وائى.كه هرخائې كښې وى. او چه د كوم مقصد دپاره وى.الله تعالى فرمائيلى دى.﴿مَاهٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ﴾ يعنى څه دى دا تماثيل (بوتان)چه دې سره خواكښې تاسو پراته نې.اود شريعت په اصطلاح كښې اعتكاف نوم دې.د اعتكاف په نيت،دروژې سره په جمات كښې قيام كول.ګويا د اعتكاف دپاره خلور څيزونه ضرورى دى.① ايساريدل ② جومات ③ د اعتكاف نيت ④ روژه.

ركنه >علامه مرغينانى ﷫ فرمائيلى دى.چه ايساريدل خود اعتكاف ركن دې.خكه چه د اعتكاف لفظ په لغت كښې د ايساريدلو په معنىٰ باندې دلالت كوى.په دې وجه د ايساريدلو موجوديدل ضرورى دى.

په حالت د اعتكاف كښې د وطى حرمت

يَحْرُمُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ الْوَطْئُ) اوپه معتكف وطى كول حرام دى.

تشريح> حرمة الجماع علي المعتكف>مسئله: معتكف كه د انسانى حاجت دپاره د جومات نه بهر اووتلو اودانسانى حاجت پوره كولونه پس نې د ښځې سره جماع هم اوكړه نو ددہ دا فعل حرام دې يعنى د اعتكاف په حالت كښې جماع كول حرام دى.

دليله> خكه چه د رسول اللهﷺ په زمانه كښې دخلقو عادت دا وو. چه دوى به د اعتكاف په حالت كښې د جمات نه وتل.اود خپلو ښځو سره به نې جماع كوله بيا به نې غسل اوكړو.او خپل معتكف ته به راتلل.نود الله تعالى دا قول﴿ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَاَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ فِي الْمَسٰجِدِ﴾ نازل شو.په دې كښې د اعتكاف په حالت كښې دجماع كولو نه منع كړې شوې ده.

وَاللَّمْسُ وَالْقُبْلَةُ او اوګوتې اورل اوښكلول دى

تشريح> حرمة القبلة والمس>اود معتكف دپاره ښځې سره لاس لګول.او ښكلول هم حرام دى.

دليله> خكه چه دا دواړه خبرې د جماع دواعى (مقدمات يا اسباب) دى.او جماع چونكه د اعتكاف د ممنوعاتو څخه ده.په دې وجه به ددې دواعى هم د اعتكاف په ممنوعاتو كښې شامل وى.اوكوم څيز

چه ممنوع وی.هغه حرام وی.په دې وجه به دا دواړه خبرې په معتکف باندې حرامې وی.لکه څنګه چه د احرام په حالت کښې مباشرت حرام دې.دغه شان د مباشرت دواعی هم حرام دی.

جواز القبلة في الصوم> په خلاف د روژې چه د روژې په حالت کښې مباشرت حرام اومفسد د صوم دې.خو لاس لګول،او ښکلول د صوم مفسد نه دی.څکه چه جماع د روژې د ممنوعاتو څنې نه ده.بلکه د جماع نه څان ساتل د روژې رکن دې.او رکن د شئ غیر طرف ته نه متعدی کیږی. په دې وجه به جماع په روژه کښې،د روژې دواعی طرف ته نه متعدی کیږی. یعنی داسې به نه وی.چه څنګه د جماع نه څان ساتل د روژې رکن دې.دغه شان د لاس لګول، اوښکلول نه بندیدل به هم د روژې رکن وی.اوهرکله چه ددې دواړو څیزونو نه څان ساتل،د روژې رکن نه دې.نو ددې جرم په کولوبه روژه هم نه فاسدیږی.

وان انزل او که انزال ئې اوشو بقبلة اولمس په ښکلولو سره یا په لاس اوړلو سره فسد اعتکافه نو د ده اعتکاف فاسد شو وعلیه القضاء او په ده باندې قضاء لازمه ده

تشریح> **فساد الاعتکاف بالانزال**> که معتکف ښځې سره لاس اولګولو.یا ئې ښکل کړه.او انزال اوشو .نو په دې صورتونو کښې به هم اعتکاف باطل وی.څکه چه په دې طریقه شهوت پوره کول دجماع په معنیٰ کښې دی.هم دغه وجه ده.چه په دې سره روژه فاسدیږی.او جماع کول اعتکاف فاسدوی.نوکوم څیز چه ددې په معنی کښې وی.هغه به هم اعتکاف فاسدوی.

عدم فساد الإعتکاف بمقدمات الجماع من غیر انزال>اوکه په ذکر شوی صورتونو کښې انزال اونشو.نو اعتکاف به فاسد نه وی.اګرچه د اعتکاف په حالت کښې دا فعل حرام دې.څکه چه بغیر د انزال نه دا فعل د جماع په معنیٰ کښې نه دې.حالانکه د اعتکاف مفسد جماع ده.او بغیرد انزال نه په ،مادون الفرج،کښې مباشرت د جماع په معنیٰ کښې نه دې.په دې وجه دې سره روژه نه فاسدیږی.

.د جمات نه د معتکف دپاره د وتلو د اجازت عذرونه

وَلَا يَخْرُجُ المعتکف مِنَ الْمَسْجِدِ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ أَوِ الْجُمُعَةِ اومعتکف به نه اوځی دمسجد نه مګر د حاجت انسانی دپاره اویا دجمعې دمانځه دپاره.

حل اللغة> ①**معتکف:اسم ظرف، باب افتعال**؛ دَ اعتکاف ځایْ

تشریح> **جواز الخروج من المسجد للضرورة**>صورت د مسئلې دادې.چه د معتکف دپاره د اعتکاف د جمات نه وتل جائز نه دی.سوې د دوه ضرورتو نه،چه ①یو طبعی ضرورت دې.لکه د تش او ډک اودس ماتی ضرورت،②دویم دینی ضرورت لکه د جمعې اود جنابت د غسل ضرورت.

دلائله>بهرحال د طبعی او انسانی ضرورت دپاره د وتلو په جواز باندې دلیل①د عائشه رضي الله عنها حدیث دې.یعنی(کان النبی ﷺ لایخرج من معتکفه إلا لحاجة الإنسان) [1] یعنی رسول الله ﷺ به د خپل معتکف نه

---

[1]) خرجه الزيلعی رحمة الله بهذا اللفظ ثم قال واخرج الأئمة الستة (أی البخاری في الإعتكاف باب ۳ ومسلم في الحيض رقم ٦ وابوداود في الصوم باب ۷۹ رمق ۲٤٦۷ والترمذی في الصوم باب ۷۹ رقم ۸۰۵ والنسائی في السنن الكبرى (۲/۲٦٦) وابن ماجه في الصوم رقم ۱۷۷۸ ومالك في ا لإعتكاف رقم ۱ واحمد في المسند (٦/۱۸۱) والبيهقی في السنن الكبرى (٤/٥۱۸) رقم ٤٥۷۰) عن عائشة رضي الله عنها قال كان رسول الله ﷺ إذا إعتكف يدنی إلی رأسه فارجله وكان لا يدخل البيت إلا لحاجة الإنسان (نصب الراية ۲/٥۱۸)۔

بهرتشریف نه اوړلو.سوې د انساني او طبعي ضرورت پوره کولو دپاره يعني د ورو کي او غټ اودس ماتي دپاره،

② دويم دليل دادې.چه د انساني ضروریاتو واقع کيدل د مخکښې نه معلوم دی.اودا هم معلومه ده.چه ددې د پوره کولو دپاره وتل ضروري دی.ددې نه بغير خلاصې نشته.نو ددې ضرورتونو دپاره به وتل پخپله مستثنی وی.ځکه چه دغير اختياري امورو انسان مکلف نه وي.خو دومره خبره ضرور ده.چه د انساني ضرورت پوره کيدلو نه پس،د طهارت نه د فارغيدلو نه فوراً پس خپل معتکف ته لاړشی.د طهارت نه د فارغيدلو نه پس دې په خپل کور کښې نه ايساريږي.ځکه چه د انساني حاجتونو دپاره وتل ضرورة ثابت دی.او کوم څيز چه ضرورة ثابت وی.نو هغه د ضرورت په اندازه ثابت وی.په دې وجه د ضرورت په اندازه د اعتکاف د ځای نه د بهر پاتې کيدلو اجازت دې.ددې نه زيات اجازت نشته.

الخروج لصلاة الجمعة او پاتې شو د جُمعې د مانځه دپاره وتل. نو دا زمونږ مذهب دې. (1)

دليله دليل دادې.چه په دليل سره داخبره ثابته شوې ده.چه اعتکاف په هرجمات کښې مشروع دې.لکه چه د الله تعالى ارشاد دې.﴿وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ﴾ نو هرکله چه په هر جمات کښې اعتکاف مشروع دې.نود جمعې دپاره وتل به دده د نذر اعتکاف دپاره داسې مستثنی وی.لکه څنګه چه د انساني ضرورت دپاره وتل مستثنی دی.ځکه چه د اعتکاف د حفاظت دپاره د جمعې مونځ پريخودل قطعاً جائز نه دی.ځکه چه د نذر په وجه د اعتکاف وجوب د جمعې د مانځه د وجوب نه کمتر دې.اود جمعې د مانځه د وجوب نه کمتر ځکه دې.چه د جمعې مونځ د الله تعالى په واجبولوسره واجب شوې دې.او اعتکاف د بنده په واجبولوسره واجبيږي.په دې طريقه چه دده د اعتکاف نذر کړې دې.اود بنده دپاره د الله تعالى واجب کړې وظيفه ساقطولو اجازت نشته.نو ثابته شوه.چه د اعتکاف په وجه د جمعې مونځ نشي پريخودلې.اوهرکله چه د جمعې مونځ نشي پريخودلې.نود جمعې د مانځه دپاره به د وتلو هم اجازت وی.

وقت الخروج لصلاة الجمعة اوس پاتې شوه داخبره چه د جُمعې د مانځه دپاره کوم وخت وتلو اجازت دې.نو ددې حکم دادې.چه د اعتکاف ځائې که جامع جومات سره نيزدې وی.نود زوال نه پس دې اوځي .ځکه چه د جمعه اداکولو خطاب د زوال نه پس متوجه کيږي.اوهرکله چه دا خطاب متوجه شي.نو هله به ضرورت لاحق کيږي.او هرکله چه ضرورت لاحق شي.نو هله به د جمعې د مانځه دپاره وتل هم جائزوی.نو چونکه د جمعه اداکولو ضرورت د زوال نه پس متحقق شوې دې.ځکه به د زوال نه پس اوځي.

د معتکف دپاره د بيع اوشراء حکم

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَبِيعَ وَيَبْتَاعَ فِي الْمَسْجِدِ اوخه باك نشته دې په اخستلو خرڅولو کښې په مسجدکښې دننه مِنْ غَيْرِأَنْ يُحْضِرَالسِّلْعَةَ بغير د راوړ د سامان نه مسجد ته دننه.

حل اللغة ① **سلعة**: دَ تجارت سامان]

(1) **مذهب الشافعي رحمه الله**:- د امام شافعي او امام مالك رحمه الله په نيزد جُمعې دپاره وتل جائز نه دی.تردې که د جمعې د مانځه دپاره او وتلو.نو اعتکاف به فاسد وی.

تشریح﴿ جواز البیع والشراء للمعتکف﴾ مسئله:د معتکف دپاره په جومات کښې دننه په اخستلو خرخولو کښې هیڅ باك نشته.په دې شرط چه سامان جومات ته رانوړې.

دلیله﴿ ځکه چه پیر کرته معتکف دپاره د اخستلو خرخولو ضرورت پیښیږي.اوهیڅ څوك داسې کس دده سره موجود نه وي.چه دده بندوبست اوکړي.نو د دې ضرورت په لحاظ سره معتکف ته ددې اجازت ورکړې شوې دې.

کراهة أحضار المبیع﴾ خو فقهاؤ د اخستلو خرخولو دپاره په جومات کښې دننه سامان راوړل مکروه ګرځولی دی.ځکه چه جمات خالص د الله ﷻ دپاره وی. او د بنده ګانو دحقونو نه ئې دا محفوظ ساتلې دې. نوچونکه جمات ته دننه په سامان راوړلوکښې دا د بندګانو د حقونو اوسامان سره مشغولول لازمیږي. په دې وجه به جمات ته دننه د اخستلوخرخولو سامان راوړلو،او ایخودلو اجازت نه وی.

کراهة البیع والشراء لغیر المعتکف ودلائله﴾ علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې فرمائیلی دی.چه دغیر معتکف دپاره په جمات کښې دننه اخستل خرخول هم مکروه دی.

دلیله﴿ ① دلیل دادې چه ابن ماجه په خپل سنن کښې د واثله بن الاسقع نه روایت کړې دې.چه دهغې الفاظ دادی.ان النبیﷺ **قال جنبوا مساجدکم صبیانکم ومجانیکم وشرائکم وبیعکم وخصوماتکم ورفع اصواتکم وإقامة حدودکم وسل سیوفکم..واتخذوا علی أبوابها المطاهر وجمروها فی الجمع** [1] یعنی رسول اللهﷺ اوفرمائیل.چه د خپلوجماتونو نه لرې ساتئ:خپل ماشومان،او لیونی،او اخستل خرخول،او خپلې جګړې،او خپل آوازونه اوچتول،او سزاګانې قائمول،او توري بربندې کول،(راوښکل)اود خپلو جماتونو په دروازوکښې د طهارت ځایونه جوړوئ.او په جمعو کښې دې له خوشبوئی ورکوئ.

په اعتکاف کښې دخبرو چپ اوسیدل

وَلَا يَتَكَلَّمُ إِلَّا بِخَيْرٍ وَيُكْرَهُ لَهُ الصَّمْتُ او خبرې به نه کوی مګر ښې خبرې او مکروه دی دده دپاره چپ اوسیدل

تشریح﴿ کراهة الصمت للمعتکف﴾ معتکف له پکار دی.چه غلطې خبرې نه کوی.بلکه نیکې اوښې خبرې کوی.اود عبادت په خیال باندې بالکل خاموش اوسیدل،هم مکروه دی.

ألمطالب الثلاثة للسکوت﴾ ① ددې یو مطلب خو دادې.چه بالکل د خبرو نه کولونذر اوکړي.لکه څنګه چه مخکینو شریعتونو کښې وو. ② او یومطلب دادې.چه بغیر د نذر نه خاموش اوسیږي. اوخبرې بالکل نه کوی ③ او یومطلب دادې.چه د روژې نیت اوکړي.یعنی د ، مفطرات ثلاثه،نه د بندیدلو نیت اوکړي.اودې سره د کلام نه کولوهم نیت اوکړي.دلته کښې هم دا دریم صورت مناسب دې.

دلیله﴿ علامه مرغینانی رحمه الله په هدایه کښې دلیل بیان کړې دې.چه د خاموش اوسیدلو روژه زمونږ په شریعت کښې عبادت نه دې.بلکه د مجوسیانو فعل دې.نود مجوسیانو دمشابهت نه د بچ کیدلو دپاره بالکل خاموش اوسیدل مکروه دی.خود ګناه خبرونه جدا اوسیږي.

په هیره یا په قصد په جماع کولو د اعتکاف فساد

فَإِنْ جَامَعَ الْمُعْتَكِفُ لَيْلًا أَوْنَهَارًا عَامِدًا أَوْنَاسِيًا بَطَلَ اعْتِكَافُهُ)اوکه جماع اوکړه معتکف دشپې یا

[1] من حدیث واثلة رضی الله عنه أخرجه ابن ماجه في سننه في المساجد باب ٥ رقم ٧٥٠۔

ورځې په قصد سره يا په هيره سره نو باطل شو اعتکاف دده.

تشريح > **حرمة الجماع علي المعتكف** > كه معتكف په شپه كښې يا په ورځ كښې، قصداً يا په هيره جماع اوكړه. نو دده اعتكاف باطل شو. كه انزال شوې وى. اوكه نه وى شوې. ځكه چه شپه هم د اعتكاف محل دې. نو كوم ځيز چه د اعتكاف په وجه په ورځ كښې ممنوع وى. هغه په شپه كښې هم ممنوع وى. په خلاف د روژې، چه شپه د روژې محل نه دې. نو د روژې په وجه چه كوم ځيز په ورځ كښې ممنوع وى. هغه به د روژې په وجه شپه كښې ممنوع نه وى. نو د غير معتكف دپاره د رمضان په شپو كښې جماع كول حلال دى. خو د معتكف دپاره حلال نه دى.

السوال > خوكه څوك دا اعتراض اوكړى. چه اعتكاف د روژې فرع ده. او فرع په حكم كښې اصل سره لاحق كيږى. نو لكه څنګه چه د رمضان په ورځ كښې په هيره جماع كولو سره روژه نه فاسديږى. دغه شان په هيره جماع كولو سره اعتكاف هم فاسديدل نه پكار نه دى. حالانكه ستاسو په قول اعتكاف فاسديږى.

الجواب > نو جواب دادې. چه حالت د اعتكاف مذكر (يادونكې) دې. يعنى د اعتكاف حالت هروخت سړى ته دا ياد راولى. چه ته په اعتكاف كښې نې. او د روژې حالت مذكر نه دې. ځكه چه په ښكاره روژه دار او غير روژه دار دواړه برابر وى. نو چونكه د اعتكاف حالت مذكر دې. په دې وجه د اعتكاف په حالت كښې نسيان عذر اونه ګرځولې شو. او د روژې حالت چونكه غير مذكر دې. په دې وجه د روژې په حالت كښې نسيان عذر اوګرځولې شو.

بغير عذر د جمات نه دوتلو حكم

وَلَوْخَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ سَاعَةً بِغَيْرِ عُذْرٍ فَسَدَ اِعْتِكَافُهُ عِنْدَ اَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالىٰ[1] كه د مسجد نه اووتلو يو ساعت بغير د عذر نه نو اعتكاف ئې فاسد شو په نيز د امام ابوحنيفه رحمه الله

تشريح > **فساد الإعتكاف بالخروج من غير عذر** > مسئله داده. كه معتكف بغير د عذره د جومات نه اووځى او. اګرچه د يو لمحه.. دپاره وتلې وى. نو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دده اعتكاف فاسد شو. او قياس هم دا دې.

دليله > د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې. چه د اعتكاف ركن. لبث فى المسجد، (په جومات كښې ايساريدل) دى. او د جمات نه وتل ددې منافى دى. او شئ د خپل منافى اود ضد په موجود كيدلو سره فوت كيږى. په دې وجه اعتكاف په، خروج من المسجد، سره فوت كيږى. خروج كه د لږ وخت دپاره وى. اوكه د زيات وخت دپاره وى. لكه د روژې په حالت كښې خوراك روژه فاسدوى. كه لږه ئې خوړلې وى. اوكه زياته ئې خوړلې وى. دغه شان لكه څنګه چه مطلقاً حدث ناقض د اودس دې. حدث كه لږ وى. اوكه زيات وى.

وَقَالَا: لَا يَفْسُدُ حَتّٰى يَكُوْنَ اَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ او قياس هم دادې. او صاحبين رحمهما الله فرمانى چه نه فاسديږى تر دې چه د نيمې ورځې نه زيات شى

تشريح > **مذهب الصاحبين** > صاحبين رحمهما الله فرمانى. چه اعتكاف به فاسد نه وى. خو كه د نيمې ورځې نه ئې زياته بغير د عذره د جمات نه بهر تيره كړه. نو اعتكاف به فاسد وى. او استحسان هم دا دې.

[1]) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير (٢\٣١٠) وردالمحتار (٢\١٤٥) والخانية (١\١٠٧) وشرح الوقاية (ص٤٥٥) والفقه الإسلامي وأدلته (٢\٧١٩) والهندية (١\٢١٢) نقلاً عن القول الراجح (١\٢٠٦)

دليلهما ﷫ ﴿دصاحبينو ﷫ دليل دادې.چه د لږ وخت دپاره د جومات نه وتل،د حرج لرې كولو دپاره معاف دی.اود زيات وخت دپاره وتل معاف نه دی.اود قليل او كثير په مينځ كښې حد فاصل نيمه ورځ نه زياتي ده.يعنی د نيمې ورځ نه زيات ته كثير ونيلې شی.او نيمه او ددې نه كم ورځې ته به قليل ونيلې شی.لكه څنگه چه په رمضان كښې د نيمې ورځ نه زياتی كښې كه نيت موجود شو.نو روژه به معتبر وی.گني معتبر به نه وی.

د ورځو د اعتكاف په نذر سره د شپو شامليدل

(وَمَنْ أَوْجَبَ عَلَى نَفْسِهِ اعْتِكَافَ أَيَّامٍ لَزِمَهُ اعْتِكَافُهَا بِلَيَالِيهَا اوچا چه واجب كړو په خان اعتكاف دورځو نولازم دې پده باندې اعتكاف دشپو سره

تشريح ﴿ **وجوب إعتكاف الليالي بنذر إعتكاف الأيام** ﴿صورت د مسئلې دادې.كه يوكس د څو ورځو اعتكاف په خپل خان باندې لازم كړو.په دې طريقه چه وې ونيل،د الله دپاره په ما باندې د لسو ورځو اعتكاف لازم دې،نود لسو ورځو اعتكاف به ددې د شپوسره لازم وی.او پرله پسې به لازم وی.اگرچه د پرله پسې والی شرط ئې نه وی كړې.

القاعدة ﴿د ورځو په ذكر كولو سره به شپې څكه شامل وی.چه قاعده ده.چه د جمع په صيغه سره ،ايام، ذكركول،ددې په مقابل كښې شپو ته هم شامليږی. مثلاً كه يوكس دا اووائی.(ما رأيتك منذ أيام)ماته د څوورځو داسې اونه ليدلې.نو مراد دادې.چه د څو ورځو،سره ددې د شپو تې نه دې ليدلې.دا مطلب هيڅ كله نه دې.چه ماته د څو ورځو يعنی په ورځ كښې اونه ليدلې.البته د شپې مې كتلې وې.دغه شان كه يوكس قسم اوكړی.چه زه به د فلانی كس سره يومياشت خبرې نه كوم.نودا قسم به ،ايام او ليالی، دواړو ته شامل وی.

دليل شمولية الليالي في الأيام ﴿لكه تاسو د حضرت زكريا﷤ قصه اوگورئ.چه دوی ته يو خلې الله تعالى اوفرمائيل.﴿أَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا﴾ او يوخلې ئې اوفرمائيل.﴿قَالَ آيَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلَاثَ لَيَالٍ سَوِيًّا﴾ په دې دواړو آيتونوكښې يوه قصه ذكر ده.خو په يو ځائې كښې د ايام،لفظ دې.او يوځائې د ،ليال، لفظ دې.نو ددې هم دادې.چه ،ايام مع ليالی، مراد دې. او، ليالی مع ايام، مراد دې. بهرحال ثابته شوه.چه د، ايام، ذكر د جمع په صيغه ددې شپو ته هم شامل وی. نو هركله چه څوك د څو ورځو د اعتكاف نذر اوكړی.نودا اعتكاف به سره د شپو واجب وی.

وَكَانَتْ (مُتَتَابِعَةً وَإِنْ لَمْ يَشْتَرِطِ التَّتَابُعَ:)اودا د اعتكاف ورځې به پرله پسې وی اگر چه ټول وختونه ددې قابل دی

تشريح ﴿ **التتابع** ﴿ او پرله پسې به په دې وجه لازم وی.چه د اعتكاف بنياد په تتابع او تسلسل باندې دې.

دليله ﴿ څكه چه د شپې ورځې ټول وختونه د اعتكاف قابل دی.

د حج بيان

كِتَابُ الْحَجِّ

دا كتاب دحج په بيان كښې دې.

تشریح﴾ وجه تاخیرالحج عن الصوم﴾ ① چه روژه هرکال مکرر وی.اوحج مکرر نه وی.بلکه په عمر کښې صرف یو خل فرض دې.د دې وجې روژې ته احتیاج زیات وی.په نسبت سره د حج،اوکوم څیز ته چه احتیاج زیات وی.هغه د تقدیم زیات لائق وی.دې وجې نې روژه په حج باندې مقدمه کړه.او روستو نې حج ذکر کړلو. ② دویمه وجه داده.
حج چونکه مرکب دې.دعبادت بدنی او عبادت مالی نه. څکه نې د روژې نه روستو کړلو. کوم چه صرف عبادت بدنی دې.څکه چه مرکب د مفرد نه روستو وی.

معنی الحج لغة وإصطلاحا﴾ لفظ دحج (بفتح الحاء وبکسر الحاء)دواره شان استعمالیږی.بفتح الحاء لکه ﴿اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ ۚ فَمَنْ فَرَضَ ﴾ ... الآية او بکسر الحاء لکه ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ﴾ الآية دې.د حج لغوی معنی څه معظم او لوئې څيز ته اراده کول دی.اودشریعت په اصطلاح کښې د مخصوص ځائې مخصوص فعل سره په خاص وخت کښې اراده کول دی.

تاریخ فرضیة الحج﴾ پاتې شوه دا خبره چه حج کله فرض شوې دې.نو په دې باره کښې په بذل المجحود کښې متعدد اقوال مذکور دی.① نهمه هجری ② پنځمه هجری③ شپږمه هجری ④ د هجرت نه وړاندې ملا علی قاری په شرح د ،نقایه،کښې لیکلی دی.چه رسول الله ﷺ د حج فریضه په لسمه هجرئ کښې ادا کړې وه.کوم چه د حجة الوداع په نوم باندې یادولې شی.اوحضرت ابوبکر صدیق﷜ په نهم هجری کښې حج کړې وو.اوحج هم په دغه کال فرض شوې وو.او اتمه هجرئ کښې د مکې د فتح په موقع باندې عتاب بن اسید خلقو ته حج کړې وو.نبی ﷺ د مکې د فتحې نه پس هم دوی امیر مقرر کړې وو.

کم حج الرسول ﷺ قبل الهجرة؟﴾ په دې باره کښې ډیر اختلاف دې.①ابن الاثیر رحمه الله فرمائی. چه د هجرت نه وړاندې نبی ﷺ به هر کال حج کولو.② جابربن عبدالله﷜ فرمائی.چه رسول الله ﷺ صرف درې حجونه کړی دی.دوه د هجرت نه وړاندې او یو د هجرت نه پس په لسمه هجرئ کښې حجة الوداع ③ اوابن عباس ﷠ فرمائی.چه رسول الله ﷺ د هجرت نه وړاندې درې حجونه کړی وو④ ابن الجوزی رحمه الله فرمائی.چه رسول الله ﷺ ډیر حجونه کړی وو.د هغې شمار مونږ ته معلوم نه دې.

فرضیة الحج علی الأمم السابقة﴾ پاتې شوه دا چه حج په پخوانو امتونو فرض وو.اوکه نه،نو په دې کښې دوه اقوال دی.① په اولنو امتونو باندې هم حج فرض وو.حافظ ابن حجر رحمه الله دې ته ترجیح ورکړې ده.

دلیله﴾ حافظ ابن حجر رحمه الله استدلال کوی.اوفرمائی.(ما من نبی إلاحج البيت) یعنی هیڅ یوپیغمبر نشته.مګر حج د بیت الله نې کړې دې.او دا خبره هم شوې ده.چه حضرت آدم ﷤ د هندوستان نه پیدل خلوېښت حجونه کړی دی.جبرئیل ﷤ آدم ﷤ ته اووئیل.ستا نه اووه زره کاله وړاندې به فرتو د بیت الله طواف ته راتلې.دویم قول دادې چه د حج وجوب د امت محمدی سره خاص دې.په اولنو امتونو حج فرض نه وو.

الجواب من مستدل القول الأول﴾ د دویم قول قائلینو حضراتو جواب ورکړې دې.چه د وړاندینی دلائلونه صرف دومره معلومیږی.چه دپخوانو پیغمبرانو په زمانه کښې حج مشروع وو.اود مشروعیت نه وجوب اوفرضیت نه لازمیږی.او دا هم ممکن دی.چه حج به پخوانو پیغمبرانو واجب وو.خو د هغوی په امتونو واجب نه وو.نو په دې صورت کښې حج د پیغمبرانو د خصوصیاتو څنې دې.او امت محمدی ته دا

خصوصیت حاصل دي.

دلائل فرضية الحج> د حج فرضیت د کتاب سنت او اجماع درې وارو نه ثابت دي.

① کتاب الله خو د الله تعالی ارشاد دي. ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾ په «علی الناس» کښې کلمه د «علی» دایجاب دپاره ده. ② اوسنت د نبی ﷺ حدیث دي چه «بني الإسلام على خمس..... الحديث»

د حج شرعي حيثيت او د وجوب شرطونه

اَلْحَجُّ وَاجِبٌ حج واجب دي

تشريح> صاحب د قدوری رحمه الله فرمائي چه حج په هغه چا واجب دي چه آزاد عاقل، بالغ صحیح وي. په دې شرط چه په توښې او سورلۍ قادر وي. اوتوښه او سورلۍ د اوسیدو دخانې نه، اود کور د ضروریاتو او خپل کور ته د واپس راتلو پورې د خرچې نه زیاتی وي. او لار په امن وي.

وجه إطلاق الوجوب علي الحج> صاحب د هدايه رحمه الله فرمائي چه قدوری د حج دپاره د وجوب لفظ استعمال کړلو. حالانکه د حج فرضیت قطعي دي. ددې فرضیت په کتاب الله. ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾ سره ثابت دي.

الجواب> ددې جواب دا دي چه د قدوری په عبارت کښې وجوب اصطلاحی مراد نه دي. بلکه وجوب په معنی د ثبوت او لزوم سره مراد دي. یعنی حج ثابت او لازم دي. په آزاد عاقل بالغ اوصحیح باندې نو په دې صورت کښې دا لفظ فرض ته هم شامل دي.

شرطيت د حريت بلوغ او صحت

عَلَى الْأَحْرَارِ الْبَالِغِينَ الْعُقَلَاءِ الْأَصِحَّاءِ په داسې کسانوچه آزاد، بالغان عاقلان، تندرست وي.

تشريح> **دليل شرطية الحرية**> ① د حریت د شرطیت دپاره نقلی دلیل دا دي «أيما عبد حج عشر حجج ثم عتق فعليه حجة الإسلام وأيما صبي حج عشر حجج ثم بلغ فعليه حجة الإسلام»[1] یعنی غلام که لس حجونه اوکړی. او بیا آزاد شی. نو په ده باندې د اسلام فرض حج لازم دي. یعنی د آزادئ نه وړاندې چه ئې کوم حجونه کړی وو. په هغې سره د حج فریضه نه اداکیږی. او د حدیث په دویم جزء کښې د بلوغ د شرطیت بیان دي یعنی کوم ماشوم چه لس حجوه اوکړل. بیا بالغ شو. نو په ده باندې فرض حج لازم دي. یعنی د بلوغ نه وړاندې چه ئې کوم حجونه کړی وو. په هغې سره فرض حج نه دې ساقط شوې.

② د حریت د شرطیت دپاره عقلی دلیل دا دي چه حج بغیر د مال نه نشی کیدې. څکه چه د حج د فرضیت دپاره توښه او سورلۍ باندې قدرت شرط دي. او غلام د توښې او سورلۍ په ملکیت باندې قادر نه دي. نو څکه دې د وجوب حج اهل هم نه دي.

دليل شرطية البلوغ> په ماشوم باندې د حج د عدم فرضیت یو نقلی دلیل خو د نبی کریم ﷺ هغه حدیث دي کوم چې مونږ د حریت د شرطیت دپاره ذکر کړو یعنی «ایما صبی الخ» او دویم نقلی دلیل دا دي. چه حج یو عبادت دي. اود ماشومانو نه ټول عبادتونه پورته شوی دی. نوڅکه حج هم په ماشومانو

[1]) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه الحاكم في المستدرك (١/ ٤٨١) والبيهقي في السنن الكبرى (٥/ ٢٩١) رقم ٩٨٤٩)-

فرض نه دي.

دليل شرطية العقل >اودعقل شرط دې وجې لګولې شوې دې چه د عقل نه بغير مكلف كول ټيك نه دى.

دليل شرطية الصحة >اودصحت شرط ددې وجې لګولې شوې دې.چه بغير د صحت نه عجز لازميږى.و عاجز د هيڅ يو عبادت مكلف نه دې.نو ځكه په ده حج فرض نه دې.

شرطيت د قدرت د توښې او سورلۍ

إِذَاقَدَرُواعَلَى الزَّادِوَالرَّاحِلَةِ چه قادر وى په توښې او سورلۍ

تشريح> **شرط القدرة على الراحلة**> د حج د وجوب دپاره توښه او سورلۍ باندې قدرت شرط دې.

قسمي القدرة> ①اوس دا قدرت به يا په طريقه د ملكيت وى.په دې طريقه چه د سورلۍ مالك وى.②اويا به په طريقه د استيجار(كرايه)وى.يعنى چه ده سره دومره مال وى.چه دې د كجاوې يو طرف په كرايه اخستې شي.ځكه چه د كجاوې دوه طرفونه وى.او د يوې سورلۍ دپاره يو طرف كافى كيږى.او يا د زامله يوسر په كرايه باندې اخستې شي.زامله هغه اوښ ته وائي.چه مسافرخپل سامان وغيره په هغې باركړى ددې تفصيل دا دې.كه سړې كمزورې وى.او په خپله نې د كجاوې يو طرف په كرايه باندې د اخستلو قدرت وى.اوكه په خپله نې طاقتور وى.نود سامان باروللو دپاره د يوې زاملة په كرايه باندې د اخستلو قدرت نې وى.اود تګ راتګ په خرچه باندې نې هم قدرت وى.

دليله>ځكه چه د نبى ﷺ نه تپوس اوشو.د . ﴿مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾ په باره كښې،نو نبى ﷺ اوفرمائيل. توښه او سورلۍ (¹)

د زاد او راحله، د ضرورياتو د ژوند نه زيادت

فَاضِلًاعَنِ الْمَسْكَنِ وَمَالَابُدَّمِنْهُ چه زياتى وى د استوګنې او هغه څيزونو نه چه خلاصې ترې نه وى.

حل اللغة >①**المسكن**: اسم ظرف دَ اوسيدوځاى يعنى كور

تشريح> **كون الزاد والراحلة زائدتان عن الحاجة الأصلية**>وراندې تير شو.چه د حج د وجوب دپاره زاد او راحلة باندې قدرت شرط دې.خو په دې شرط كښې دا هم دى.چه هغه مال په كوم چه زاد او راحله حاصلوى.دده د اوسيدو د كور او ضرورى سامان نه زياتى وى.ضرورى سامان لكه خادم ،دكور سامان لكه بستره ،توشك،د اخلى پخلى سامان اودده د استعمال جامې د سورلۍ دپاره اس (او په موجوده وخت كښې سائيكل موټرسائيكل وغيره او وسلة وغيره

دليله> ځكه چه دا ټول څيزونه په حاجت اصلى كښې مشغول دى.اوكوم څيز چه په حاجت اصلى كښې مشغول وى.نو هغه دمعدوم پشان وى(لكه چه هغه هډو شته نه)

وَعَنْ نَفَقَةِعِيَالِهِ إِلَى حِيْنِ عَوْدِهِ او د خرچ د عيال نه تر واپس راتلو

كون الزاد والراحلة زائدتان عن نفقة العيال إلى العود>اودا مال (په كوم چه زاد او راحله حاصلوى) دده د واپس راتلو پورې د اهل وعيال د نفقه نه زياتى وى.ځكه چه نفقه د ښځې واجب ده.اوحق د بنده په شريعت كښې مقدم وى.

¹) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه الترمذى في الحج باب ٤ رقم ٨١٣ وابن ماجه في المناسك باب ٦ رقم ٢٨٩٦)_

دليله﴾لکه په قرآن پاك کښې ارشاد دي. ﴿وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ﴾ يعنې تاسو ته ئې هغه ټول څيزونه په تفصيل سره بيان کړل.کوم چه په تاسو حرام شوی دی.مګر دا چه تاسو ورته مجبوره شئ.اوګورئ په دې آيت کښې الله رب العزت د بنده د مجبورئ د وجې حرام څيز دده دپاره مباح ګرځولې دې.او دده حق ئې په خپل حق باندې مقدم کړې دې.

شرطيت د لارې د امن

وَكَانَ الطَّرِيقُ آمِنًا دده پورې او وی لاره په امن

تشريح﴾ **شرط أمن الطريق**﴾ امام قدوري رحمه الله فرمائي.چه د وجوب حج دپاره د لارې امن هم شرط دې.يعنې په دغه لار کښې چه غالب ګمان د سلامتيا او د امن وی.ځکه چه د لارې امن نه وی.نو قدرت نه ثابتيږی.

د ښځې دپاره د خاوند يا محرم شرطيت

وَيُعْتَبَرُ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ أَنْ يَكُونَ لَهَا مَحْرَمٌ يَحُجُّ بِهِ صاحب د قدوري رحمه الله فرمائي.او معتبر دې په ښځه کښې چه وی ددې دپاره محرم چه حج کوی دا د هغه په ذريعه أَوْ زَوْجٌ،وَلَا يَجُوزُ لَهَا أَنْ تَحُجَّ بِغَيْرِهِمَا او يا خاوند وی.او نه دې جائز ددې دپاره چه حج اوکړی بغير ددې دواړو ځنې إِذَا كَانَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ مَكَّةَ مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا کله چه وی په مينځ د دې او د مکه کښې مسافت د درې ورځويا د دې نه زيات

تشريح﴾ **شرط وجود الزوج أو المحرم مع المرأة**﴾صورت د مسئلې دا دې.که د ښځې د ښار او د مکې مکرمې په مينځ کښې د درې ورځو يا ددې نه زيات مسافت وی.نو د ښځې دپاره د حج دپاره تلل په هغه وخت کښې جائز دی.چه ددې سره محرم وی.يا ددې خاوند وی.

تعريف المحرم﴾محرم هغه چا ته وائي.چا سره چه هميشه دپاره نکاح نه کيږی.که د خپلوئ په وجه وی اوکه د رضاعت په وجه وی.اوکه مصاهرت (سخرګنئ) په وجه وی.خو د محرم دپاره شرط دې.چه هغه عاقل بالغ آزاد يا غلام وی.که کافر وی اوکه مسلمان.

دلائله﴾ ① دليل دا دې.چه نبی ﷺ فرمائيلی دی.بغير د محرم نه دې هيڅ يوه ښځه د حج دپاره نه ځی.او د (مسلم او ابوداؤد) روايت دې.(لايحل لامرأة تؤمن بالله واليوم الآخر تسافر سفرا يكون ثلاثة أيام فصاعدا إلا ومعها أبوها أو ابنها أو زوجها أو أخوها أو محرم منها) ([1]) يعنې چه په الله او په ورځ د آخرت ايمان راوړی نو د هغه ښځې دپاره د درې ورځو يا ددې نه زيات سفر جائز نه دې.مګر دا چه دې سره ددې پلاريا ځوئې يا ددې خاوند يا ددې رور يا ددې محرم وی.ددې حديث نه هم معلومه شوه.چه بغير د محرم د ښځې دپاره سفر کول جائز نه دی.اګرچه هغه سفر د حج وی

② دويم دليل دا دې.چه بغير د محرمه په ښځه باندې د فتنې ويره ده.اوکله چه دوی ګنړے شی.نودوی د عقل په اعتبار سره ناقصې هم دی.او د دين په اعتبار سره هم ناقصې دی.نو په فتنه کښې به نوره هم اضافه اوشی.هم دا وجه ده.چه د سرې دپاره د پردې ښځې سره خانله والې حرام دې.اګرچه دغه ښځې

---

[1]) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه البزار في مسنده والدارقطني في سننه (۲/۲۲۲) رقم ۳۰)۔

سره بله ښځه هم موجود وي.ځکه چه اول یوه فتنه وه.او اوس دوه فتنې شوې .نو حاصل دا شو.چه بغیر محرمه د درې ورځو په سفر د ښځې دپاره وتل جائز نه دی.

جواز الخروج في أقل من مسافة السفر﴿البته که د ښځې او مکې په مینځ کښې د درې ورځو نه کم مسافت وي.نو د ښځې دپاره بغیر محرمه او بغیر خاونده حج ته تلل جائز دی.ځکه چه شریعت اسلامی بغیر محرمه ښځې ته د سفر د مسافت نه په کمه اندازه د وتلو اجازت ورکړې دې.او په دومره لږه موده کښې د فتنې ویره هم نشته.

د میقات تعریف اوځایونه

وَالْمَوَاقِيتُ الَّتِي لَا يَجُوزُ أَنْ يُجَاوِزَهَا الْإِنْسَانُ إِلَّا مُحْرِمًا هغه (ځایونه) چه جائز نه دی چه تیر شی د هغې نه انسان مګر په حالت داحرام کښې

حل اللغة﴿① **مواقیت جمع میقات**: معین وخت

تشریح﴿ **الربط بما قبله**﴿تراوسه پورې ددې بیان اوشو.چه حج په چا فرض دې او په چا نه دې.اود حج د فرضیت کوم کوم شرطونه دی.اوس په دې فصل کښې ددې بیان کیږی.چه د حج شروع به د کوم ځائې نه کیږی.

معنی المواقیت﴿مواقیت جمع د میقات ده.اومیقات د مقرر وخت دپاره راځی.خو دلته مجازاً د ځائې دپاره استعمال شوې دې.اوس دلته د مواقیت نه هغه ځایونه مراد دی.د کومو نه چه بغیر داحرام نه تیریدل جائز نه دی.او مواقیت پنځه دی.

لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ ذُو الْحُلَيْفَةِ، وَلِأَهْلِ الْعِرَاقِ ذَاتُ عِرْقٍ. وَلِأَهْلِ الشَّامِ الْجُحْفَةُ، وَلِأَهْلِ نَجْدٍ قَرْنٌ، وَلِأَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمُ د مدینې د خلقودپاره ذوالحلیفه اود عراق د خلقو دپاره ذات عرق، اودشام دخلقو دپاره جحفه اود نجد د خلقودپاره قرن اود یمن دخلقو دپاره یلملم

تشریح﴿ **المواقیت الخمسة**﴿ ①د مدینې د خلقو میقات ذوالحلیفه دې.حلیفه د حلفة تصغیر دې.دلته وراندې یوه وونه وه.او اوس پکښې جمات جوړ شوې دې.دا د مدینې منورې نه شپږ میله لرې دې.②د عراقیانو دپاره ذات عرق میقات دې.دا د مکې مکرمې نه په دوه څلویښت میله کښې پروت دې.حضرت عمر رضی الله عنه د کوفې او بصره د فتح کولو نه پس هم دا ځائې میقات مقرر کړې وو.

السوال﴿خو په دې باندې اعتراض کیږی.چه (هکذا وقت رسول الله ﷺ هذه المواقیت) ځکه تیک دی.حالانکه د نبی ﷺ په وخت کښې عراق فتح شوې نه وو.

جوابه﴿ ددې جواب دا دې.چه نبی ﷺ ته د وحی په ذریعه دا خبر ورکړې شوې وو.چه شام او عراق به فتح کیږی.او عراق به د شام پشان دارالاسلام وی. ددې وجې نبی ﷺ د عراقیانو او شامیانو دپاره میقات مقرر کړې وو.③د شامیانو میقات جحفه ده. هم دا د مصریانو میقات دې.ددې ځائې نه مکه ۸۲ میله لرې ده.او مدینه منوره درې منزله او ،بحر قلزم، شپږ میله لرې دې.④ د نجدیانو میقات،قرن، دې.⑤ د یمنیانو میقات یلملم دې.دا د مکې نه د جنوب په طرف دیرش میله لرې دې.

دلائلها﴿صاحب دهدایه رحمه الله فرمانیلی دی .چه مواقیت د احادیثو نه ثابت دی.د ذات عرق نه سوې د باقی څلورومیقاتونو ثبوت په صحیحینو کښې دې.اوذات عرق ثبوت په مسلم او ابوداود کښې دې. په صحیحینو کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حدیث دې.چه (أن رسول الله ﷺ وقت لأهل المدينة ذا الحليفة

ولأهل الشام الجحفة ولأهل نجد قرن المنازل ولأهل اليمن يلملم هن لهن ولمن أتى عليهن من غير أهلهن من أراد الحج والعمرة ومن كان دون ذالك فمن حيث شاء حتى أهل مكة من مكة) يعني رسول الله ﷺ مقرر کړی دی.د مديني د خلقو دپاره ذوالحليفه او د شاميانو دپاره جحفه اود نجديانو دپاره قرن منازل اود يمنيانو دپاره يلملم دا د دوی دپاره دی اود هغه چا دپاره چه په دوی باندې راخې سوې د دوی نه څوك چه اراده د حج او د عمره لري.اود دوی نه علاوه چه څوك په دې راشي.نو د كوم ځاې نه چه ئې خوښه وی.تردې چه د مكې دخلقو دپاره مكه ده.چه ددې نه دې احرام تړی.

فائدة التاقيت> علامه مرغيناني رَحِمَهُ اللهُ په هدايه كښې فرمائيلي دی.چه ددې ميقاتونو د مقرر كولو فائده دا ده.چه چه ددې ميقاتونو نه د احرام تاخير منع دې.دا مطلب نه دې.چه ددې ميقاتونو نه وړاندې احرام نشي تړلې.ځكه چه د ميقات نه وړاندې احرام تړل په اتفاق سره جائز دې.

په ميقاتونو باندې د احرام د تقديم حكم

فَإِنْ قَدَّمَ الْإِحْرَامَ عَلَى هَذِهِ الْمَوَاقِيتِ جَازَ كه وړاندې ئې كړلو احرام په دې ميقاتونو جائز دې.

تشريح> جواز تقديم الإحرام علي الميقات> مسئله وړاندې بيان شوې ده.چه د آفاقي دپاره ميقات ته په رسيدو احرام تړل واجب دی.ددې دا مطلب هيڅ كله نه دې.چه د ميقات نه وړاندې احرام تړل جائز نه دی.كه يو كس د خپل كور نه احرام اوتړلو.نوجائزده.بلكه غوره ده.

دليله> دليل دا دې.چه دالله تعالى د قول (وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ)كنږ تفسيرونه شوی دی.يو تفسيردا شوې دې.چه د حج اوعمرې دپاره دخپل وطن نه احرام اوتړئ.اوپوره ئې كړئ.هم دا تفسيرد حضرت علي اوعبدالله بن مسعود نه منقول دې.ددې تفسير نه معلومه شوه.چه احرام په ميقاتونو باندې مقدم كول جائز دې.

وجوه تقديم الاحرام على المواقيت> صاحب دهدايه رَحِمَهُ اللهُ فرمائيلي دی چه په ميقاتونو باندې د احرام وړاندې كول افضل دی.① اول خو ددې وجې چه په آيت (وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ) كښې د آيت تفسير په دې سره شوې دې.② بله خبره دا ده.چه د كور نه احرام تړلو كښې مشقت زيات دې.اوچه په كوم عبادت كښې مشقت زيات وی.هغه افضل وی.لكه چه په حديث كښې راغلي دی.(أفضل العبادات أحمضها) عبادت هغه غوره دې.چه په كوم كښې مشقت زيات وی.③ دريمه خبره دا ده.چه په دې كښې د بيت الله تعظيم ډيرزيات دې.اود حج او عمرې مقصد تعظيم د بيت الله دې.نود احرام په تقديم كښې په دې تعظيم كښې زياتوالي دې.

فضل تقديم الإحرام بشرط الإجتناب عن المحظورات> دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ نه يوروايت دا هم دې.چه په ميقات باندې د احرام تقديم په هغه صورت كښې افضل دې.چه د سړی په خپل نفس باندې قابووی.چه دې به څه ناجائز كار اونكړی.كه دا قابو ئې نه وی.نوبيا ميقات ته په رارسيدو د احرام تړل غوره دی.

په ميقات كښې د دننه خلقو ميقات

وَمَنْ كَانَ بعد الْمَوَاقِيتِ فَمِيقَاتُهُ الْحِلُّ) اوڅوك چه وی دننه په ميقات كښې نو ميقات دده زمين حل دې.

تشريح> إحرام المكي من الحل> كوم كس په ميقات كښې دننه اوسيدونكې وی.نودده د احرام تړلو

خاني زمين حل (بهردحرم) دي.اود «حل» نه هغه حصه مراد ده.کومه چه د افاقي خلقو د ميقاتونو او حرم په مينځ کښې ده.

دليله﴾دليل دا دې.چه وراندې تير شوی دی.چه د حج يا عمرې اراده کونکو دپاره د خپل وطن نه احرام تړل جائز دی.اودده وطن چونکه په ميقات کښې دننه دې.نوځکه دده دپاره په ميقات کښې دننه يعنې د زمين حل نه احرام تړل دی.اوچونکه دده دپاره د خپل وطن نه احرام تړل جائز وو.ځکه چه په زمين حل کښې اوسيږی.نوچه د کوم ځائې نه ئې خوښه وی.احرام تړلے شی.ځکه چه د ميقات دننه نه واخله تر حرم مکې پورې چه کوم حدود دی.دا ټول يو ځائې دی.

دمکی د حج او عمرې داحرام ځايونه

وَمَنْ كَانَ بِمَكَّةَ اوخوك چه وی دننه په مکه کښې فَمِيقَاتُهُ فِي الْحَجِّ الْحَرَمُ نوميقات د ده په حج کښې حرم دې وَفِي الْعُمْرَةِ الْحِلُّ اوپه عمره کښې زمين حل دې

تشريح﴾ **ميقات المكي للحج الحرم وللعمرة الحل**﴾ ① صورت د مسئلې دا دې.چه کوم کس په مکه کښې موجود وی.برابره ده که هغه د مکې اوسيدونکې وی.اوکه وختی طور پکښې ديره وی .نود حج کولو په صورت کښې د هغه د احرام تړلو ميقات حرم دې.يعنی د حرم په حدودو کښې چه د کوم ځائې نه ئې خوښه وی.احرام دې اوتړی.②اوکه د عمرې احرام تړی.نود حرم د حدودو نه دې بهر شی.چه د زمين حل نه دې احرام اوتړی.اود عمرې ارکان دې ادا کړی.

دليل ميقات الحج﴾دليل دا دې.چه نبی ﷺ د حجة الوداع په موقع صحابه کرامو ﷺ ته فرمائيلی وو.چه په تاسو کښې چا خان سره هدی نه وی راوستے.هغه دې عمره اوکړی.اوحلال دې شی.نوهغوی هم داسې اوکړلو.بيا چه کله د ترويه ورځ شوه.نونبی ﷺ صحابوﷺ ته حکم اوکړلو.چه په مکه کښې دننه احرام اوتړی.هغوی ته ئې د مکې نه د وتلو حکم نه وو کړې. (¹) ددې نه معلومه شوه.چه کوم کس په مکه کښې وی.د هغه دپاره په مکه کښې د حج دپاره احرام تړل جائز دی.

دليل ميقات العمرة﴾بيادې دا خبره بنکاره وی.چه حضرت عائشې ﷺ هم د نورو صحابوﷺ سره د عمرې دپاره احرام تړلې وو.خود هغې د حيض وينه راغله.نو نبی ﷺ ورته حکم اوکړلو.چه د عمرې احرام پرانيزه.بيا چه کله د ترويه ورځ راغله.نو د حج د احرام حکم ئې ورته ورکړلو.بيا چه کله د حج نه فارغ شول.نوحضرت عائشې ﷺ عرض اوکړلو.يا رسول الله ﷺ (تنطلقون بحجة وعمرة وأنطلق بحج فأمر عبدالرحمن بن ابی بکر ﷺ أن يخرج معها إلى التنعيم فاعتمرت بعد الحج) يعنې حضرت عائشې ﷺ عرض اوکړلو.يارسول الله ﷺ تاسو او ستاسو صحابۍ حج اوعمره دواړه اوکړل.او واپس کيږئ. او ما صرف حج اوکړلو.او خم.نو نبی ﷺ د ام المؤمنين ﷺ ارمان پوره کولو دپاره ددې رور حضرت عبدالرحمن بن ابی بکر ﷺ ته حکم اوکړلو.چه په خور باندې د مقام تنعيم نه عمره ادا کړه. (²) يعنې د عمرې دپاره د مقام تنعيم نه احرام اوتړه.اوتنعيم د حدود د حرم نه بهر زمين حل دې.ددې نه معلومه شوه. چه د عمرې دپاره به زمين حل ته ځی.هلته نه به احرام تړی.اوبيا به حرم ته داخليږی.اوعمره به کوی.

---

¹) من حديث جابر ﷺ أخرجه مسلم في الحج رقم ١٣٩ والبخاری في الحج باب ٨٢ وأحمد في المسند (٣/٣١٨ ، ٣٧٨)۔

²) من حديث عائشة رضی الله عنها أخرجه البخاری في الحج باب ٦٣ ومسلم في الحج رقم ١٣٢ وأبوداود في المناسك باب ٢٣ وأحمد في المسند (٦/١٢٤)۔

الدليل الثاني العقلي للمسئلتين ﴿ دویم دلیل دا دي.چه دحج او عمرې دپاره څه سفرمتحقق کول پکار دی.اوس مونږ اوکتل.چه حج په میدان عرفات کښې ادا کیږي.اومیدان عرفات په حل کښې دي.نوځکه د حج احرام د حرم نه تړل پکار دی.چه يو قسم سفر متحقق شي.يعنې چه احرام اوتړي.اود حرم نه زمين حل ته تلل متحقق شي.اوچونکه عمره ادا کولې شي په حرم کښې،نو ددې وجې د عمرې احرام دپاره دې زمين حل ته لاړ شي.چه يو قسم سفر متحقق شي.

فضل الإحرام من التنعيم ﴿ هسې خو د عمرې احرام په زمين حل کښې چه د کوم ځائې نه نې خوښه وی. تړلې شي.خو د مقام تنعيم نه د عمرې احرام تړل افضل دی.چه په پوره شان د نبی ﷺ د حديث اتباع اوشي.ځکه چه حضرت عائشي ﵂ ته هم د مقام تنعيم نه د عمرې دپاره د احرام تړلو حکم شوې وو.والله اعلم بالصواب

د احرام تړلو دپاره د غسل یا اودس کول

وَإِذَا أَرَادَ الْإِحْرَامَ اغْتَسَلَ أَوْتَوَضَّأَ وَالْغُسْلُ أَفْضَلُ اوکله چه اراده اوکړی.د احرام نو غسل دې اوکړی،یا دې اودس اوکړی.اوغسل افضل دې.

تشريح ﴿ **معني الإحرام لغةً وإصطلاحاً** ﴿ دمواقيت د ذکر نه پس دهغه احرام تړلو طريقه بيانوی.کوم چه په ميقاتونو باندې تړلې شي.احرام په لغت کښې په حرمت کښې داخليدو ته وائي.اوپه اصطلاح دفقهاؤ کښې په خپل ځان باندې مباحات حرامول ددې دپاره چه په عبادت د حج يا په عبادت د صلاة کښې داخل شي. په عباداتو کښې حج او صلاة دواړه داسې عبادتونه دی.چه ددې دپاره تحريم او تحليل دی.اوروژه او زکاة دواړه داسې عبادتونه دی.چه ددې دپاره تحريم او تحليل نشته.

الغسل أوالوضوء قبل الإحرام ﴿ کله چه يو کس د احرام تړلو اراده اوکړی.نوهغه دې اول غسل اوکړی يا دې اودس اوکړی.خوغسل کول افضل دی.

دليله ﴿ ځکه چه رسول الله ﷺ د احرام دپاره غسل کړې وو. (۱)

السوال ﴿ که څوك دا سوال اوکړی.چه غسل افضل دې.نوبيا پکار ده چه اودس ددې قائم مقام نه وې.حالانکه امام قدوری ﷫ فرمائی.که غسل نه کوی نو اودس دې اوکړی.

الجواب ﴿ ددې جواب دا دې.چه د احرام نه وړاندې د غسل کولو حکم د وجوب د وجې نه دې.بلکه د پاکۍ حاصلولو دپاره دې.

تائيده في ضوء المسئلة ﴿ هم دا وجه ده.چه د احرام تړلو نه وړاندې د ښځې دحيض يا نفاس وينه راغله. نو هغې ته به هم د غسل حکم کولې شي. اګرچه په دې غسل د ښځې فرض نه ادا کيږي.ځکه چه وينه نه وی اودريدلې.نوددې نه وړاندې داغسل هغه نشي پاکولې.نوچه د احرام نه وړاندې غسل کول د وجوب د وجې نه دې.بلکه د پاکۍ حاصلولو دپاره دې.نواودس ددې قائم مقام ګرځيدې شی.لکه په جمعه کښې که غسل اونکړی.نواودس ددې قائم مقام ګرځي.

فضل الغسل ودلائله ﴿ خوافضل هم غسل کول دی.① اول ددې وجې چه په غسل کښې د اودس په نسبت نظافت زيات دې.② دويم ددې وجې چه نبی ﷺ پخپله د احرام دپاره غسل کړې وو.

(۱) من حديث زيد بن ثابت ﵁ اخرجه الترمذي في الحج باب ۱۶ رقم ۸۳۰)۔

د احرام دپاره د جامو بدلول

(وَلَبِسَ ثَوْبَيْنِ جَدِيدَيْنِ أَوْغَسِيلَيْنِ إِزَارًاوَرِدَاءً او وادي غوندی دوه جامي نوي يا وينخلي شوي يو لنګ اوبل څادر

حل اللغة ﴿ ① **غسيلين:** غسيل په معنی دَ **مغسول:** وينخلي شوي

تشريح ﴿ **لبس ثوبين جديدين أوغسيلين** ﴾ مسئله دا ده.چه دغسل نه پس دي دوه جامي لنګ اوڅادر واچوی.دواړه جامي که نوي وی اوکه وينخلي شوي وی.لنګ به د نامه نه واخله ترلاندي پنډو پوري وی. اوڅادربه داسي وی.چه په شا دواړو اوږو اوسينه باندي و .

دلائله ﴿ ①دليل دا دي.چه نبی ﷺ په احرام کښي هم دا دوه جامي اچولي وي. ([1])

② عقلي دليل دا دي.چه د محرم دپاره ګنډلي شوي جامي اغوستل ممنوع دی.اودا هم معلومه ده.چه د ګرمئ اويخنئ لرې کول هم ضروری دی.نودا دواړه خبري هم په دي صورت کښي حاصليدي شی.کوم چه مونږ بيان کړل.څکه چه لنګ اوڅادر اچولو سره د ګنډلي شوو جامو د اغوستلو نه هم بچ شو. اوګرمئ اويخنئ نه هم محفوظ شو.

أفضلية الثوبين الجديدين ﴾ صاحب دهدايه رحمه الله په هدايه کښي فرمائی.چه وينخلي شوي جامي اګرچه کافي دی.خو نوي جامي اچول افضل دی څکه چه دا پاکئ ته زياتي نزدي دي.څکه تراوسه پوري دي ته ظاهری پليتی نه ده لګيدلي.

د احرام ترلو دپاره دخوشبو لګول

وَمَسَّ طِيبًا إِنْ كَانَ لَهُ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.او اودي لګوی خوشبوئی که وی دده سره،

حل اللغة ﴿ ① **مس: باب (ن،س) مس يمس مسًا** : لاس لګول ② **طيبًا : تطيب باب تفعيل:** خوشبو لګول

تشريح ﴿ **مس الطيب ذات جرم** ﴾ امام قدوری رحمه الله فرمائی.که وی ورسره نو خوشبوئی دي اولګوی وراندي د احرام نه،

دلائله ﴿ دليل دا دي.چه په صحيحينوکښي دی.چه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی.ما به رسول الله ﷺ ته د احرام ترلو دپاره خوشبوئی لګوله.يعنی اول به د نبی ﷺ په بدن پوري خوشبوئی اولګولي شوه.اوبيا به نبیﷺ احرام اوترلو. ([2])

طريق الإستدلال ﴾ صاحب دعنايه رحمه الله ليکلی دی.په حديث د عائشي رضي الله عنها کښي داسي خوشبوئی مراد ده.چه د هغي اثر به د احرام لګولونه پس هم باقی وو.څکه چه په بعضي رواياتو کښي دا الفاظ هم دی .(ولقد رأيت وبيص الطيب في مفارق رسول الله ﷺ بعد إحرامه) يعنی عائشه رضي الله عنها فرمائی.چه ما به د رسول الله ﷺ د ويختو په لاره کښي د خوشبوئی اثر ليدلو.پس د احرام ترلو نه،نو ددي حديث نه ثابته شوه. چه داحرام نه وراندي داسي خوشبوئی لګول چه د هغه ذات د احرام نه پس هم باقی وی.مکروه نه دی

[1]) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه البخاری في الحج باب ۲۳ ـ

[2]) من حديث عائشة رضي الله عنها أخرجه البخاری في الحج باب ۱۸ رقم ۱۵۳۹ ومسلم في الحج رقم ٤٥ وابوداود في المناسك باب ۱۰ رقم ١٧٤٦ والترمذی في الحج باب ۷۷ والنسائي في المناسك باب ٤١ وابن ماجه في المناسك باب ۷۰ـ

② دویم دلیل دا دي.چه منع شوي خو د احرام ترلو نه پس خوشبوئي لګول دي.کومه خوشبوئي چه د احرام نه وراندي لګیدلي وي.دهغه نه فائده اخستل ممنوع نه دي.اوکومه خوشبوئي چه د احرام نه پس باقي وي.هغه خو د محرم تابع شوه.څکه چه هغه د محرم په بدن پوري پیوسته وي.لکه چه خوشبوداري خپري وریوري لګیدلي وي.بهرحال باقي خوشبوئي تابع ده.اود تابع دپاره څه حکم نه وي.نودا خوشبوئي په منزله د عدم شوه.

مذهب محمد ﴿ د امام محمد رحمه الله نه نقل دی.چه د داسي خوشبوئي لګول چه د هغي ذات اوجوثه د احرام نه پس باقي وی مکروه دی.لکه مشك اوتینګک عطرلګول،هم دا د امام مالك اوامام شافعي رحمهما الله قول دي.

دلیله ﴿ دامام محمد رحمه الله دلیل دا دي.چه د داسي خوشبوئي لګولو په صورت کښي د احرام ترلو نه پس هم د هغي نه فائده اخستي شي.حالانکه د احرام ترلو نه پس د خوشبو استعمال منع دي.

د احرام د دووه رکعتونوحکم

وَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ اومونځ دې اوکړی دوه رکعته.

تشریح ﴿ **الرکعتین بعد الاحرام** ﴿ مسئله دا ده.چه دوه رکعته مونځ دي اوکړي.خودا دوه رکعته به په مکروه وخت کښي نه کوي.او که د احرام ترلو نه وراندي ئي فرض مونځ اوکړلو.نوهغه به ددې دوو رکعتونو نه کافي شي.

دلیله ﴿ دلیل دا دي.چه حضرت جابر رضی الله عنه فرماني.رسول الله ﷺ د ذوالحلیفه په مقام د احرام ترلو نه وراندي دوه رکعته نفل کړي وو.[1]

عدم ذکر الرکعتین في حدیث جابر رضی الله عنه ﴿ علامه ابن همام رحمه الله فرماني.چه په حدیث د جابر رضی الله عنه خو کښي دا مشهور دی.چه نبی ﷺ د ذوالحلیفه په جمات کښي مونځ کړي وو.خود رکعتونوتعداد ذکرنه دي.هم دا خبره ملاعلي قاري رحمه الله په شرح نقایه کښي فرمائیلي ده. لکه چه دنبی ﷺ دذوالحلیفه په جمات کښي مونځ کول ثابت دي.خودوه رکعته ذکر نه دی.

ذکرالرکعتین في حدیث إبن عباس رضی الله عنهما ﴿ البته په ابوداود کښي د ابن عباس رضی الله عنهما په حدیث کښي د دوو رکعتونو ذکر هم شته.د ابن عباس رضی الله عنهما الفاظ دا دی.(قال خرج رسول الله حاجاً فلما صلی في مسجده بذي الحلیفة رکعتین فأوجب في مجلسه)حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرماني.چه رسول الله د حج په اراده باندي اووتلو کله چه ئي د ذوالحلیفه په جمات کښي دوه رکعته اوکړل.نوهم په دغه ناسته کښي ئي حج واجب کړلو.(یعني احرام ئي اوترلو.ددي نه دا ثابته شوه.چه د احرام نه وراندي دوه رکعته کول سنت دي.

مایقرأ في رکعتي الإحرام ﴿ په دي دواړه رکعتونو کښي ورته د فاتحه لوستلو نه پس اختیار دي.چه د قرآن پاك کومه حصه واني.البته افضل دا دی.چه په اول رکعت کښي د سورة فاتحه نه پس سورة الکافرون او په دویم رکعت کښي د سورة فاتحه نه پس سورة اخلاص اووانی.په دي طریقه به د نبی ﷺ د فعل برکت حاصل شي.

---

[1] غربه الزيلعي من حديث جابر رضی الله عنه في ذكرعدد الركعات ثم ذكرحديث ابن عمر رضی الله عنهما عند مسلم في الحج باب التلبية) قال كان رسول الله ﷺ يركع بذى الحليفة ركعتين ثم إذا استوت به الناقة قائمة عند مسجد ذى الحليفة أهل بهؤلاء الكلمات الحديث (نصب الراية (۲۵/۳)۔

د حج د نیت په وخت کښې دعا لوستل

وَقَالَ: اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِيْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ صاحب د قدوری رحمه الله فرمانی. اووانی دې ای الله لرم د حج آسان ئې کړې ماته او قبول ئې کړې زما نه

تشریح: الدعاء عند الاحرام صاحب دقدوری رحمه الله فرمانی. چه دوه رکعته اوکړی. اوکله د حج د احرام اراده اوکړی. نو دا دعا دې کوی. چه اې الله زه اراده کوم د حج ته ئې آسان کړې ماته او قبول ئې کړې ماته،

وجه دعاء تسهیل الحج د آسانتیا دعا خو ددې وجې کوی. چه حج یو عظیم عبادت دې. اوپه دې کښې ډیر مشقت دې. مشقت ځکه زیات دې. چه حج په یو وخت کښې نه ادا کیږی. بلکه د اتمې ذی الحجه نه واخله تر دیارلسمې خوارلسمې ذی الحجه پورې په مختلف وختونو کښې ادا کیږی. او په یو ځائې کښې نه بلکه په مختلفو ځایونو او مقاماتو کښې ادا کیږی. کله په میدان عرفات کښې د کولې د آسمان لاندې قیام وی. اوکله د صفا مروه په غرونو چکرې لګول وی. شپه په مزدلفه کښې تیره شی. نو ورځ د منی په کانړیج خوړونو کښې تیره شی. کله په رش اوبیړه کښې د شیطانانو ویشتل وی اوکله په سخته ګرمی کښې د بیت الله نه طواف وی. هرکله چه په حج کولو کښې دومره سختیانې او مشقتونه دی. نو د حج فریضه په آسانتیا او سهولت سره ادا کولو دپاره دعا کول مستحب دی.

وجه دعاء قبول الحج اود قبولیت دعا دې ځکه کوی. چه د هرعبادت قبلیدل ضروری نه دی. هم دا وجه ده. چه د خانه کعبه د جوړولو په وخت کښې حضرت ابراهیم او حضرت اسماعیل علیهما السلام به بار بار دا دعا کوله چه ﴿رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ۖ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ﴾

وجه عدم دعاء التیسیر فی الصلاة البته د فرض مونځونو ادا کولو په وخت کښې داسې دعا منقول نه ده. ځکه چه عام طور د مونځ ادا کول آسان دی. نوچونکه د مونځ ادا کول آسان دی. نو د آسانتیا دعا کولو ته څه ضرورت نشته.

د تلبیه حکم

ثُمَّ يُلَبِّيْ عَقِيْبَ صَلَاتِهٖ صاحب د «قدروی» رحمه الله فرمانی. چه بیا دې تلبیه اووانی. پس د مانځه خپل نه،

التلبیة عقیب الصلاة چې کله دوه رکعته د احرام اوکړی نو د هغې نه پس به تلبیه اووائی دا تلبیه ونیل سنت دی

دلیله دلیل دا دې حه نبی صلی الله علیه وسلم تلبیه ونیلې وه پس د مانځه خپل نه، (۱)

د حاجی مفرد په تلبیه کښې نیت

فَاِنْ كَانَ مُفْرِدًا بِالْحَجِّ اوکه وی په حج خپل کښې مفرد نو نیت به کوی په تلبیه خپله کښې دحج نوی بِتَلْبِيَتِهِ الْحَجَّ

حل اللغة ① **مفرد:** حج افرادکونکې]

(۱) من حدیث ابن عباس رضی الله عنه اخرجه الترمذی فی الحج باب ۹ رقم ۸۱۹ والنسائی فی المناسك باب ۵۶)۔

تشریح﴾ نية المفرد بالحج﴿ مسئله دا ده.که یوکس حاجی مفرد وی.یعنی صرف د حج ادا کولو اراده ئې وی.د عمرې اراده ئې نه وی.نودې به په خپله تلبیه کښې صرف دحج نیت کوی.

دلیله﴾ دلیل دادې چه حج عبادت دې.اود اعمالو اوعباداتوصحت په نیت باندې موقوف دې.

دتلبیه الفاظ اوپه دې کښې کمې زیادت

وَالتَّلْبِيَةُ أَنْ يَقُولَ:اوتلبیه دا ده.چه اووائي، لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ،لَبَّيْكَ حاضر یم اې الله حاضر یم لَاشَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ تا سره څوك شریك نشته.حاضر یم إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ بیشکه حمد اونعمت ستا دپاره دې وَالْمُلْكَ «اوبادشاهی هم ستا دپاره ده.لَاشَرِيْكَ لَكَ».. نشته څوك شریك ستا ،

تشریح﴾ ألفاظ التلبية وإعراب كلمة إن﴿ د مسنون تلبیه الفاظ دا دی.(لبيك اللهم لبيك لبيك لاشريك لك لبيك إن الحمد والنعمة لك والملك لاشريك لك)

صاحب دهدایه رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی.چه په (إن الحمد) کښې په الف باندې کسره ده فتحه نه غوره ده.څکه چه د کسره په صورت کښې به دا جمله مستقله شی.د ما قبل سره به ئې څه تعلق نه وی.اود فتحه په صورت کښې به دا د اولنئ کلمې صفت شی.

نداء إبراهيم ﷺ لحج البيت﴿ صاحب دهدایه رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائیلی دی.چه تلبیه د حضرت ابراهیم ﷺ د نداء د قبولیت جواب دې.مشهوره واقعه ده.چه کله حضرت ابراهیم ﷺ د خانه کعبه د جوړولو نه فارغ شو.نوالله تعالی ورته حکم اوکړلو.چه دحج اعلان اوکړه.ابراهیم ﷺ عرض اوکړلو.اې زما معبوده زما آواز به څنګه (ټولوخلقوته) اورسی.الله تعالی ورته اوفرمائیل.ته آواز اوکړه.آواز رسول زما کار دې.حضرت ابراهیم ﷺ عرض اوکړلو.اې ربه زه څه آواز اوکړم.الله تعالی اوفرمائیل.دا اووایه.

(یاایها الناس کتب علیکم الحج فحجوا البیت العتیق) اې خلقو په تاسو باندې حج د بیت الله فرض شو.حج اوکړئ د کور پخوانی، د حضرت ابراهیم ﷺ د خولې نه دا الفاظ وتل وو.چه دا آواز زمکې او آسمان په مینځ کښې چه څومره انسانان وو.ټولو ته اورسیدلو.تردې چه دپلارانو په شاګانو او د میندو په رحمونو کښې چه څوك وو. هغوی ته دا آواز اورسیدلو.چا یوځل جواب ورکړلو.چا دوه ځله اوچا ددې نه زیات،نو چا چه څو ځله جواب ورکړې وی.هغه ته به انشاءالله دهغه هومره حج کولو سعادت ملاویږی.(الله دې اوکړی.چه زما شمار هم په دې کسانو کښې شوې وی. آمین)

د قرآن پاك په دې آیت کښې هم دا واقعه ذکر ده﴿ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ أَنْ لَا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ۝ وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ۝﴾

اوکله چه مونږ برابر کړلو.ابراهیم ﷺ ته ځائې د ددې کور،چه مه شریکوه ما سره هیڅ څیز اوپاك کړه کور زما دپاره د طواف کونکو،اوقیام کونکو اورکوع او سجده کونکو،اواعلان اوکړه په خلقو کښې د حج چه راځی ستا طرف ته پیدل اوپه هرکمزوری مانده اوښه د لرې لارو نه.(ترجمه شیخ الهند)

وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يُخِلَّ بِشَيْءٍ مِنْ هٰذِهِ الْكَلِمَاتِ او مناسب نه دی چه کمې اوکړی د څه څیز په دې کلماتو کښې،

تشریح﴾ كراهة النقصان في كلمات التلبية﴿ فاضل مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی.چه د تلبیه په نقل شوو الفاظو کښې به کمې نه کوی.

دليله ﴿ ځکه چه دا الفاظ د ټولو راويانو په اتفاق سره نقل شوی دی.نوځکه په دې کښې کمې کول مناسب نه دی.

> **فَإِنْ زَادَ فِيهَا جَازَ** اوکه زياتې ئې اوکړلو.نوجائز دي.
> **خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللّٰهُ** خلاف ثابت دې د امام شافعی **فِي رِوَايَةِ الرَّبِيعِ رَحِمَهُ اللّٰهُ عَنْهُ** په روايت د ربيع رحمه الله کښې د هغوی نه.

تشريح ﴿ **حكم الزيادة في كلمات التلبية** ﴾ اوکه څه کلمات ئې زياتی کړل.نوجائز دی.([1])

دلائله ﴿ ① نقلی دليل دا دې.چه جليل القدر صحابوؓ لکه عبدالله بن مسعود،عبدالله بن عمراوابوهريرهؓ د تلبيه په الفاظو باندې زيادت کړې دې.دابن عمر رضی الله عنهما په حديث کښې ددې الفاظو زيادت منقول دې.(لبيك وسعديك والخير بيديك والرغباء إليك) دابن مسعودؓ په حديث کښې دا الفاظ زياتی دی.(لبيك عدد التراب) او د ابوهريرهؓ په حديث کښې د (إله الحق لبيك) الفاظ راغلی دی.بهرحال د تلبيه په ذکرشوو الفاظو باندې زيادت منقول دې.

② دويم دليل دادې.چه د تلبيه مقصود د الله تعالی ثناء اودخپلې بندګۍ اظهار دې.نوپه کلماتوکښې زيادت ددې مقصودنه مانع نه دې.بلکه په دې مقصدکښې يوقسم زيادت دې.

د تلبيه په وئيلو سره محرم ګرځيدل

> **فَإِذَا لَبّٰى فَقَدْ أَحْرَمَ** صاحب د قدوری رحمه الله فرمانی.اوکله چه تلبيه اووائی.نويقيناً دې محرم شو.

تشريح ﴿ **التلبية والنية شرطان للإحرام** ﴾ مسئله دا ده.چه کوم کس د احرام ترلو اراده اوکړله.چه ده نيت اوکړلو.اوتلبيه ئې اووئيله.نو دې محرم شو.صرف په تلبيه بغير د نيته، دغه شان صرف په نيت بغير د تلبيه نه محرم نه ګرځی.بلکه د محرم کيدو دپاره نيت او تلبيه دواړه ضروری دی.ځکه چه هيڅ عبادت د نيت نه بغير نه ادا کيږی.

سبب ترك القدوري رحمه الله النية ﴾ پاتې شوه دا خبره چه په دې مقام کښې امام قدوری رحمه الله د نيت ذکر ولې اونکړلو.نو ددې جواب دا دې.چه چونکه وړاندې د نيت شرطيت ته ددې قول په ضمن کښې اشاره شوې وه.چه (إني أريد الحج) نوځکه د دوباره ذکرکولو څه ضرورت نشته.د دويم څيزذکر په راروان عبارت کښې راځی.

ممنوعات د احرام

> **فَلْيَتَّقِ مَا نَهَى اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ مِنَ الرَّفَثِ وَالْفُسُوقِ وَالْجِدَالِ** نوځان به ساتی دهغه څه نه چه منع کړی دی الله تعالی د رفث،فسوق اوجدال نه.

تشريح ﴿ **ممنوعات الإحرام** ﴾ مسئله دا ده.چه احرام اوتړی.نود هغه خبرو نه دې پرهيزکوی.دکومو نه چه الله تعالی منع کړې ده.لکه رفث فسوق اوجدال.

---

[1] (**مذهب الشافعي رحمه الله**:- خوپه دې کښې د امام شافعی رحمه الله خلاف دې.په هغه روايت کښې کوم چه ربيع رحمه الله د هغوی نه نقل کړې دې.چه د تلبيه په الفاظو کښې زيادت کول جائز نه دي.

دلیله> ځکه چه د الله تعالی ارشاد دې. ﴿فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ﴾ یعنی چا چه د حج په ورخو کښې په ځان باندې حج فرض کړلو.نو هغه دې نه رفث کوی.اونه دې د فسوق ارتکاب کوی.اونه دې جګړه کوی.صاحب دهدایه رحمه الله فرمائیلی دی.چه په آیت کښې صیغه د نفی ده.خو مراد ترې نهی ده.یعنی دا کارونه مه کوئ.

الأقوال الثلاثة في المراد من الرفث>پاتې شوه دا خبره چه په آیت کښې د درې کارونو نه څه مراد دی.① نوفرمائی چه د ,رفث، نه مراد یا خوجماع ده.ځکه چه د الله تعالی په قول﴿أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ﴾کښې د ,رفث، نه مراد جماع ده.یعنی د روژې په شپو کښې ستاسو دپاره د خپلو بیبیانو سره جماع کول حلال کړې شو.②یا د ,رفث، نه مراد د ژړې ګنده اوفضول خبرې دی.③د ښځو په موجودګۍ کښې دجماع اود هغه څیزونو خبرې کول دی.کوم چه د جماع اسباب وی.

المراد من الفسوق>اود فسوق نه مراد مطلق ګناهونه اومعاصی دی.ګناهونه اګرچه په ټولوحالاتو کښې حرام دی.خود احرام په حالت کښې سخت حرام دی.لکه د سړو دپاره د ریښمو جامې اغوستل په عامو حالاتو کښې هم حرامې دی.خود مانځه په حالت کښې زیاتې حرامې دی.

القولان في المراد من الجدال>اوجدال دا دې.چه دخپل ملګری یا خادم سره جګړه اوکړی.②اویا چا وئیلی دی.چه د جدال نه مراد دا دې.چه د مشرکانو سره د حج د وخت په تقدیم اوتاخیر کښې جګړه وکړی.

وَلَا يَقْتُلَ صَيْدًا)اونه دې قتلوی ښکار

تشریح> په حالت د احرام کښې د وحشي ځناور قتلول هم حرام دی.که قتل په ذبح سره وی اوکه په بله طریقه وی. البته د اوبو ځناورو ښکار جائز دې.

دلیله> دلیل دا دې چه الله تعالی فرمائیلی دی. ﴿لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ﴾ یعنی هیڅ یوښکار مه قتلوئ.په داسې حال کښې چه تاسو په حالت داحرام کښې یئ.اود وچې د ځناورو د ښکار قید نې ددې وجې نه لګولې دې.چه د الله تعالی ارشاد دې. ﴿وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا﴾ کښې د دې صراحت موجود دې.یعنی په تاسو باندې د وچې د ځناور ښکار حرام دې.ترڅوچه تاسو په حالت د احرام کښې یئ.

ښکار طرف ته اشاره اوخودنه

وَلَا يُشِيرُ إِلَيْهِ وَلَا يَدُلُّ عَلَيْهِ اونه به اشاره کوی دې ته اونه به خودنه کوی.

تشریح> **حرمة الإشارة والدلالة إلى الصيد**>مسئله داده.چه محرم دپاره نه ښکارته اشاره جائز نه ده.اونه په معنی دلالت کول.اشاره تقاضا کوی چه ښکار مخامخ موجود وی.اودلالت تقاضا کوی چه ښکار مخامخ موجود نه وی.ددلالت مثال به دا وی.چه محرم غیرمحرم ته اووائی. چه په فلانی ځائې کښې ښکار موجود دې.نودا دواړه خبرې د محرم دپاره ممنوع دی.

دلائله> ①ددې دلیل دا دې.چه حضرت ابوقتاده رضی الله عنه یوځل ځنګلی خر ښکار کړلو.دې په خپله غیرمحرم وو.خوملګری نې محرم وو.هغوی د دې خرغوښه اوخوړله.بیا نبی ﷺ ته ددې خبر ورکړې شو. نونبی ﷺ صحابو رضی الله عنهم ته اوفرمائیل.آیاتاسو ښکارته اشاره کړې وه.هغوی عرض اوکړلو نه، نبی

ﷺ ورته اوفرمائيل.تاسو ورته خودنه کړې وه.هغوی عرض اوکړلو نه،نبی ﷺ ورته اوفرمائيل.ايا تاسو ورسره بل څه مدد کړې وو؟هغوی عرض اوکړلونه،نو نبی ﷺ ورته اوفرمائيل. اوس په خوراك کښې څه باك نشته.بلکه کومه غوښه چه پاتې ده.دا هم اوخورئ. (١) ددې حديث نه معلومه شوه.چه د محرم دپاره اشاره،خودنه او هر قسم مدد کول ممنوع دی.

②دويم دليل دا دې.چه دښکارځناور د خپل نفرت اود خلقو د نظرونو نه د لرې والی په وجه په امن کښې وی.اوذکر شوی څيزونه اشاره وغيره دا امن زائله کوی.حالانکه د چا امن ختمول حرام دی.نودا ذکر شوی څيزونه ځکه حرام دی.

په حالت د احرام کښې د ملبوساتو ممانعت

وَلَا يَلْبَسُ قَمِيصًا اونه دې اغوندی قميص وَلَا سَرَاوِيلَ وَلَا عِمَامَةً اونه پرتوګ اونه پټکې وَلَا قَلَنْسُوةً وَلَا قَبَاءً او نه ټوپۍ او نه قبا، وَلَا خُفَّيْنِ او نه موزې، إِلَّا أَنْ لَا يَجِدَ نَعْلَيْنِ البته دا چه نه مومی پڼې فَيَقْطَعُهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ نو کټ دې کړی دا لاندې د کعبينو(د قدم د مينځ هډوکی) نه.

حل اللغة ﴿ ①**يلبس لبسًا(س)**: کپړې اغوستل ② **سراويل**: پاجامه

تشريح ﴿ **حرمة لبس المخيط من الثياب** ﴿ مسئله دا ده.چه د محرم دپاره ګنډلې شوې جامه اغوستل جائز نه دد.مثلاً قميص، لنګ، پټکې، ټوپۍ اوموزه وغيره،البته دا چه محرم سره پڼرې نه وی.نوده دپاره دداسې موزو اچول جائز دی.چه د هغې د کعبينو نه لاندې حصه کټ شوې وی اود کعب نه مراد ګيټې نه ده. بلکه د قدم د مينځ هډوکے مراد دې.

دليله ﴿ دليل دا دې.(عن ابن عمر رضي الله عنهما قال رجل يا رسول الله ﷺ ما تأمرنا أن نلبس من الثياب في الإحرام لا تلبسوا القمص ولا السراويلات ولا العمائم ولا البرانس ولا الخفاف إلا أن يكون أحد ليس له نعلان فليلبس الخفين وليقطع الخفين أسفل من الكعبين ولا تلبسوا شيأ مسه زعفران ولا ورس) (٢)يعنی ابن عمر رضي الله عنهما فرمائی.چه يو سړی عرض اوکړو.اې دالله پيغمبره! تاسومونږ ته څه حکم کوئ.چه مونږ ئې اغوندو د جامو نه چه مونږ په احرام کښې يو.نونبی ﷺ اوفرمائيل تاسو مه اغوندئ قميصونه اونه پرتوګونه اونه پټکی اونه سرې اونه موزې مګردا چه وی يوکس چه نه وی د ده سره دوه پڼرے نو وادې چوی موزې اوکټ دې کړی موزې لاندې د کعبينو نه ،اوتاسو مه اچوئ هغه څيز چه رسيدلے وی ورته زعفران اونه ګل ورس.(دا يو قسم ګياه ده.چه د رنګ کولو په کار راځی) د دې حديث نه معلومه شوه.چه د محرم دپاره د هغه جامو اچول ممنوع دی.کوم چه په متن کښې ذکردی.اوپه مخصوص حالت کښې دخاص قسم موزو اچول جائز دی.

المراد من الكعب في باب الإحرام ﴿ صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلی دی.چه د کعب دوه تفسيرونه شوی دی.①ګيټه يعنی د قدم دواړوطرفونو ته راوچت شوی هډوکی② دقدم په مينځ کښې دتسمې ترلو

(١) من حديث أبي قتادة رضي الله عنه أخرجه البخاری في الحج باب ٦١ ومسلم في الحج رقم ٦٠ والترمذی في الحج باب ٤٠ رقم ٨٤٧ والنسائی في الحج باب١٦٠ رقم٢٦٥٠ وابوداود في الحج رقم ١٨٥٢ وابن ماجه في الحج رقم٣٠٩٣ والدارمی في المناسك باب ٣٠)

(٢) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه البخاری في الحج باب ٢١ ومسلم في الحج رقم ١ وابوداود في الحج باب ٣١ رقم ١٨٢٣ والترمذی في الحج رقم ٨٣٣ والنسائی في المناسك رقم ٢٤٩٩ وابن ماجه في الحج باب ١٩ رقم ٢٩٢٩ وأحمد في المسند (٢٩/٢) والدارمی في المناسك باب ٩).

خاني چرته چه دګوتو هډوکی راجمع کیږي.هشام دامام محمد رحمه الله نه هم دا روایت کړی دی.نودلته د کعب دويم تفسير مراد دې.اوپه کتاب الطهارة کښې په (أرجلكم إلى الكعبين) کښې اولنے تفسيرمراد دی.

دمحرم دپاره د سر اومخ پټول

وَلَا يُغَطِّي رَأْسَهُ وَلَا وَجْهَهُ اونه دې پټوی سر خپل او نه مخ خپل

حل اللغة ① **يغطي، تغطية**: پټول

تشریح **تغطية وجه الرجل** ① د محرم سړی دپاره خپل مخ اوسر پټول جائز نه دی.[1]

دلائله ① دلیل د ابن عباس رضي الله عنهما حديث دې.(أن رجلاً وقصته راحلته وهو محرم فمات فقال رسول الله ﷺ اغسلوه بماء وسدر، وكفنوه في ثوبيه ولا تمسوه طيباً ولا تخمروا رأسه ولا وجهه فإنه يبعث يوم القيامة ملبياً) [2] يعنی يوسړي چه په حالت د احرام کښې وو.دهغه سورلۍ دهغه څټ مات کړلو.اومړ شو.نو نبی ﷺ اوفرمائيل.ده ته په هغه اوبو باندې غسل ورکړئ.چه د بيرے پاڼړې پکښې جوش شوی وي.اودې په خپلودواړوجامو کښې دفن کړئ.اوخوشبوئی پرې مه لګوئ.اودده سر مه پټوئ.او مه ئې مخ پټوئ.ځکه چه دې به د قيامت په ورځ تلبيه ويونکې راپاسی.ددې حديث نه معلومه شوه.چه دمحرم سړی دپاره د خپل مخ پټول جائز نه دی.

② دويم دليل دا دې.چه ښځه په حالت د احرام کښې خپل مخ نه پټوی.حالانکه د هغې په مخ ښکاره کولو کښې فتنه ده.نوسړې (چه دده په مخ ښکاره کولو کښې فتنه هم نشته)به په طريق اولی سره مخ نه پټوی.

د محرم دپاره د ويښتواو نوکونو کټ کول

(وَلَا يَمَسُّ طِيبًا)اونه به لګوی خوشبوئی

حل اللغة ① **شعث**: دوړو وهونکوويښتو والا

تشریح **عدم مس الطيب** محرم به خوشبوئی نه لګوی.

دليله ځکه چه نبی ﷺ فرمائيلی دی.(الحاج الشعث التفل) [3] د شين په فتحه او د عين په کسره،چه ويخته بيراوګردآلوده وی.او(تفل)دتاء په فتحه او فاء په کسره خوشبوئی نه لګول.يعنی حاجی هغه دی.چه ويخته ئې بير وی.

لَا يَحْلِقُ رَأْسَهُ وَلَا شَعْرَ بَدَنِهِ اونه به خرائی سر خپل اونه ويخته خپل،

تشریح **عدم الحلق** اود خپل سر اوبدن ويخته به هم نه کټ کوی.

---

[1] **مذهب الشافعي رحمه الله**:- اوامام شافعی رحمه الله فرمائی.چه د محرم سړی دپاره د خپل مخ پټول جائز دی.هم دا د امام مالك اوامام احمد رحمهما الله قول دې.

[2] من حديث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه مسلم في الحج رقم ٩٤ والنسائي في الحج باب ٩٧ رقم ٢٥٤٤ وابن ماجه في المناسك باب ٨٩ باب ٣٠٨٤ـ

[3] من حديث ابن عمر رضي الله عنهما اخرجه الترمذي في تفسير سورة ٣ باب ٦ رقم ٣١٩٧ وابن ماجه في المناسك باب ٦ رقم ٢٨٩٦ـ

دليل> ① ځکه چه الله تعالى فرمائيلي دي.((وَلَا تَحۡلِقُوۡا رُءُوۡسَكُمۡ)) اوتاسو خپل سرونه مه خرائي

(وَلَا يَقُصُّ مِنۡ لِحۡيَتِهٖ)اونه به کټ کوي ږيره خپله ولامن ظفرهٖ اونه به کټ کوي نوکان خپل

تشريح> عدم حلق اللحية> اوخپله ږيره به هم نه کټ کوي.

دلائل> ① ځکه چه دا د خريلو په معنى کښې دې. ② اوددې وجې چه د ويختو خريل اوکټ کولو سره مغه بيرسري توب لرې کيږي.کوم چه دحاجي نه غوښتلې شي.نوددې وجې دې هم ويختـه نـه کټ کـوي اونه خرائي.

درنګ شوي جامو اغوستل

(وَلَا يَلۡبَسُ ثَوۡبًا مَصۡبُوۡغًا اونه به اغوندي جامې رنګ شوې په ورس خوشبوئي بِوَرۡسٍ وَلَا زَعۡفَرَانٍ وَلَا بِعُصۡفُرٍ) او نه په زعفرانو،اونه په ګل عصفر

حل اللغة> ① **مصبوغ:** رنګ شوي ② **ورس:** يوقسم خوشبودار واښه دکوم نه چه دَرنګ کاراخستې شي ③ **زعفران:** کيسر ④ **عصفر:** زيړ رنګ

تشريح> حرمة إستعمال الثوب المصبوغ> د مسئلې دا دې.چه د رنګ شوي جامې اغوستل جائز نه دي. لکه ورس يا زعفران يا عصفر،

دليل> ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي.چه محرم دې داسې جامې نه اغوندي.چه په هغې پورې زعفران يا عصفر لګيدلې وي. ([1]) دصحاح په کتابونو کښې د محرم په باره کښې دا الفاظ راغلي دي.((لاتلبسوا شيأ مسه زعفران ولا ورس))

(إِلَّا أَنۡ يَكُوۡنَ غَسِيۡلًا وَلَا يَنۡفُضُ الصبغ البته دا چه وي وينځلې شوې چه خوشبوئي نه کوي.

تشريح> جوازما لا طيب له > البته که په دې ذکرشوي څيزونو سره رنګ شوې وي.اود رنګ نـه پس بيا داسې وينځلې شوې وي.چه خوشبوئي ترې نه ځي.نودهغې استعمال جائز دې.اګرچه رنګ ئې باقي وي.ځکه چه د محرم دپاره د خوشبوئي استعمال ناجائزدې د رنګ استعمال ناروي نه دې.([2])

دليله> اواصل په دې کښې د طحاوي رحمه الله په حواله د ابن عمر رضي الله عنهما روايت شوي حديث دې. ((قال رسول الله لا تلبسوا ثوبا مسه ورس أو زعفران إلا أن يكون غسيلا)) ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي.چه رسول الله ﷺ

---

[1]) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما اخرجه البخاري في الحج باب ۲۱ ومسلم في الحج رقم ۱ وابوداود في الحج باب ۳۱ رقم ۱۸۲۳ والترمذي في الحج رقم ۸۳۳ والنسائي في المناسك رقم ۲٤۹۹ وابن ماجه في الحج باب ۱۹ رقم ۲۹۲۹ واحمد في المسند (۲۹/۲) والدارمي في المناسك باب ۹)_

([2] **مسلك الشافعي** رحمه الله **>** امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه د ورس رنګ شوي جامه اغوستل دمحرم دپاره جائز دہ.او وړاندې تير شوي دي.چه د احرام په ممنوعاتو کښې خوشبو لګول دي رنګ شوې جامه منع نه ده.

دليل ان العصفر طيب > خو زمونږ دليل دا دې.چه په عصفر کښې هم يوقسم خوشبوئي وي.زمونږ اود شوافعو رحمهم الله په مينځ کښې بنياد د اختلاف دا دې.چه د شوافعو رحمهم الله په نيز په عصفر کښې خوشبو نه وي. اوزمونږ په نيز په کښې وي.نوکه عصفرداسې وي.چه خوشبو په کښې وي.نوبه اتفاق سره د هغې استعمال جائزنه دې.اوکه نه وي.نو په اتفاق سره ئې استعمال جائزدې.

ارشاد فرمائيلي دي.تاسومه اغوندئ هغه جامے چه لګيدلے وی ورپورې ورس يا زعفران البته دا چه وی وينځلې شوې.

غسل کول اوحمام ته داخليدل

وَلَابَأْسَ بِأَنْ يَغْتَسِلَ وَيَدْخُلَ الْحَمَّامَ فرمائی اونشته باك چه غسل اوکړی.او داخل شی حمام ته

حل اللغة ﴿ ① **حمام**: دغسل ځایٔ]

تشريح ﴿ **جوازغسل المحرم ودخوله الحمام** ﴾ مسئله داده.چه په محرم باندې دجنابت غسل واجيبږی. اود ده مکې معظمې ته د داخليدو دپاره غسل کول مستحب دې.

دليله ﴿ ځکه چه رسول الله ﷺ د احرام دپاره غسل کړې وو.اود محرم دپاره حمام ته د ګرمو اوبود استعمال دپاره داخليدل جائزدی.ځکه چه حضرت عمر ﷺ د دې باوجود چه محرم وو.غسل کړې وو.

وَيَسْتَظِلَّ بِالْبَيْتِ وَالْمَحْمَلِ اودا چې سورې اوکړی په کور يا په کجاوې سره

حل اللغة ﴿ ① **يستظل، استظلالا**: سورې حاصلول ② **محمل**: کجاوه

تشريح ﴿ **جوازتظليل المحرم** ﴾ ① مسئله دا ده.چه زمونږ په نيز د محرم دپاره د چت يا کيجاوې د سورې حاصلول جائز دی.(١)

دلائله ﴿ ① دليل دا دې.چه عقبه بن حبان رحمه الله فرمائی.چه ما حضرت عثمان رضی الله عنه اوليدلو.چه دهغوی دپاره په غتبه خيمه لګولې شوه.اودهغه توره به ورنې ته اويزانده کولې شوه.حالانکه هغوی به په حالت د احرام کښې وو.

② بل دليل دا دې.چه لويه خيمه د محرم په بدن پورې نه لګی.نودا د کور د چت سره مشابه شو.اود کور د چت لاندې د سورې نه فائده اخستل مکروه نه دی.نودغه شان د لوئې خيمې په بنځولو کښې اود سورې حاصلولو کښې به هم کراهت نه وی.

جوازالإستظلال بأستارالكعبة ﴾ محرم د کعبه د پردو لاندې ورننوتلو.تردې چه په هغې کښې پټ شو .نوددې دوه صورتونه دی.که پرده دده د سر اومخ سره نه لګی.نوپکښې څه باك نشته.

دليله ﴾ ځکه چه دا سورې حاصلول دی.اود سورې په حاصلولو کښې څه قباحت نشته.اوکه په سر يا په مخ پورې لګی.نومکروه به وی.ځکه چه په دې صورت کښې دا د سرپټولو سره مشابه شو.

د محرم دپاره د هميانه تړلو حکم

وَيَشُدَّ فِي وَسَطِهِ الْهِمْيَانَ اودا چې چه اوتړی په شا خپله پورې هميانه

حل اللغة ﴿ ① **هميان**: هغه پيټنی چه د تهيلئی يا بټوې کار ورکوی

تشريح ﴿ **حکم شد الهميان** ﴾ د محرم دپاره د هميانه په تړلو کښې څه قباحت نشته.که د لنګ دپاسه نې اوتړی اوکه لاندې.(٢)

(١ **مذهب مالکيه**:- اوامام مالك اواحمد رحمهما الله په نيز د غتې خيمې يا ددې پشان د بل څيز لاندې سيورې حاصلول مکروه دې.

٢) **مذهب مالکيه**:- امام مالك رحمه الله فرمائی.که په هميانه کښې خپله خرچه او نفقه وی. نو بغير کراهته نې تړل جائز دی.اوکه د بل خرچه اوروپئ پکښې وی.نومکروه ده.

دليله دليل دا دې چه هميانه چونکه د ګنډلو جامو پشان نه ده.نوځکه ددې تړل مکروه نه دی.که خپلې روپۍ پکښې وی اوکه د بل چا،دواړه حالتونه برابر دی.
الاشکال عليه په دې دليل باندې يو اشکال دې. هغه دا چه د محرم دپاره د لنګ يا څادر په رسۍ تار وغيره باندې تړل په اجماع سره مکروه دی.حالانکه رسۍ او تار د ګنډلو جامو پشان نه دی.
الجواب جواب دا دې چه په رسۍ وغيره تړلو کښې کراهت په نص سره ثابت دې.نقل دی چه (أن النبي ﷺ رأی رجلاً قد شد فوق إزاره حبلاً فقال ﷺ ألق هذا الحبل ويلك) يعنی نبی کريم ﷺ يو محرم سړې اوليدلو.چه هغه د خپل لنګ دپاسه يوه رسۍ تړلې وه.نو نبی ﷺ ورته اوفرمائيل. هلاك شې دا رسۍ اوغورځوه.
الاشکال الثاني دويم اشکال دا دې که محرم په خپل سرباندې پټۍ اولګوله .نودا هم مکروه ده.تر دې چه د پوره يو ورځ تړلو په صورت کښې پرې صدقه واجبيږی.حالانکه د ګنډلو جامو په معنی کښې نه ده
الجواب عنه د دې نه جواب دا دې.چه چونکه د سر يوه حصه پټه شوې وی.نوځکه پرې صدقه واجبيږی.ځکه چه په حالت داحرام کښې د سر پټول ممنوع دی.

په خطمی (ګل) سره د سر او ږيرې وينځل

وَلَايَغْسِلُ رَأْسَهُ وَلَالِحْيَتَهُ بِالْخِطْمِيِّ اونه دې وينځی سرخپل اونه ږيره خپله په خطمی سره

حل اللغة ① **لحية**:ږيره ② **خطمي**: يوقسم بوټې چه په دوايانوکښې په کار راځی
تشريح **إستعمال الخطمي للمحرم** دمحرم دپاره خپل سر او ږيره په خطمی سره وينځل جائز نه دی.
دلائله ①دليل دا دې.چه ګل خطمی يوقسم خوشبوئی ده.اود محرم دپاره د خوشبو لګول جائز نه دی.②دويم دليل دا دې.چه خطمی د سر سپګې وژنی.حالانکه د محرم دپاره د هيڅ قسم ځناور قتل جائز نه دې.

د تلبيه په کثرت سره ويل

وَيُكْثِرُمِنَ التَّلْبِيَةِ عَقِيبَ الصَّلَوَاتِ اوزياته دې وائی تلبيه روستو د مونځونو نه،

تشريح **تکثيرالتلبية** اوزياته دې وائی تلبيه روستو د مونځونو نه،اوهرکله چه خيژی اوچت ځائې ته اوکوزيږی ښکته ځائې ته،اوملاؤ شی د سوورو(خلقو) سره او په وخت د پيشمنی کښې،
الروايتان في التلبية بعدالصلاة ①صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه محرم دې تلبيه روسته د مونځونو نه زياته وائی.مونځونه که فرض وی اوکه نفل وی.که ادا وی اوکه قضا وی.②صاحب د طحاوی رحمه الله فرمائی. چه د فرض مونځونو نه پس به وئيلی شی.د نفلو او قضا مونځونو نه پس به نشی وئيلی.

وَكُلَّمَاعَلَا شَرَفًا اوهرکله چه خيژی اوچت ځائې ته أَوْهَبَطَ وَادِيًا اوکوزيږی ښکته ځائې ته أَوْلَقِيَ رَكْبًا وَبِالْأَسْحَارِ ،اوملاؤ شی د سوورو(خلقو)سره او په وخت د پيشمنی کښې،

تشريح **مواقع إكثار التلبية** اوکله چه په موره خيژی يا کندې ته کوزيږی.يا نورو سوورو(خلقو) سره ملاقات اوکړی.نوپه دې حالتونو کښې به تلبيه زياته وائی.اود پيشمنی په وخت کښې دې هم زياته

وائی.

دلائله> ① ځکه چه صحابوؓ د رسول اللهﷺ به تلبیه وئیله په دې حالاتوکښې،اوتلبیه په احرام کښې په مانځه کښې د تکبیر وئیلو پشان ده.نووئیلې به شی دا په وخت د بدلیدلو د یوحال نه بل حال ته.

② دویم دلیل دا دې.چه په احرام کښې د تلبیه مثال داسې دې.لکه په مانځه کښې دتکبیرپشان،نولکه څنګه چه په مانځه کښې دیوحالت نه بل حالت ته اوړی.نو تکبیروائی.دغه شان په احرام کښې هم چه د یو حالت نه بل حالت ته اوړی.نوتلبیه دې وائی.

رفع الصوت بالتلبیة> زمونږ په نیز په تلبیه کښې آواز اوچتول مسنون دی.اګرچه په دعا اوذکر کښې افضله اخفاء ده.وجه دا ده.چه د قرآن پاك د آیت ﴿أُدْعُوْارَبَّكُمْ تَضَرُّعًاوَّخُفْيَةً﴾ تقاضا هم دا ده.چه د دعا اوذکرونو په موقع باندې اخفاء اوکړې شی.

دلیله> دلیل دا دې.چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی.(أفضل الحج العج والثج) [1] عج وائی په اوچت آواز سره تلبیه وئیل او ثج وائی وینې تویولو ته.یعنی بهترین حج هغه دې.چه هغې کښې تلبیه په اوچت آواز وی.اودهدی وغیره قربانی په کښې اوکړې شی.اووینه تونې کړې شی.

مکې ته د داخلیدو آداب

(فَإِذَادَخَلَ مَكَّةَابْتَدَأَبِالْمَسْجِدِالْحَرَامِ فرمائی.کله چه داخل شی مکې ته نو شروع دې اوکړی د مسجد حرام نه.

تشریح> **أول ما یبدء به المحرم عند دخول مکة**> فرمائی.محرم چه څنګه مکې ته داخل شی.نو د ټولو نه اول په جمات ته داخلیږی.

دلائله> ① ځکه چه رسول اللهﷺ کله مکې ته داخل شو.نود ټولو نه اول جمات ته داخل شو. ① په صحیحینو کښې د حضرت عائشهؓ دا حدیث داسې دې.(ان أول شیء بدأبه رسول اللهﷺ حین قدم مکة أن توضأثم طاف بالبیت) [2] یعنی مکې مکرمې ته چه نبیﷺ تشریف راوړلو.نود ټولونه په اولنو کارونو کښې دا وو.چه اودس ئې اوکړلو.اود بیت الله نه ئې طواف اوکړلو.

② دویم دلیل دا دې.چه د سفرمقصود د بیت الله زیارت کول دی.اوبیت الله په جمات کښې دې.نود ټولو نه اول دې جمات ته داخل شی.اوبیا د مسجد حرام په دروازو کښې د باب السلام نه داخلیدل مستحب دی.ځکه چه نبیﷺ هم په دې دروازه مسجد حرام ته داخل شوې وو.اودا دعا ئې وئیله (اللهم أنت ربي وأناعبدك جئت لأودی فرضك وأطلب رحمتك وألتمس رضاك متبعاً لأمرك راضیاً بقضائك أسئلك مسئلة المضطرین المشفقین من عذابك أن تستقبلنی الیوم بعفوك وتحفظنی برحمتك وتجاوز عنی بمغفرتك وتعیننی علی أداء فرائضك اللهم افتح لی أبواب رحمتك،وأدخلنی فیها وأعذنی من الشیطان الرجیم) ای الله ته زما رب اوزه ستا بنده یم.زه ستا د فرض ادا کولودپاره حاضرشوې یم.ستا د رحمت غوښتونکې یم.ستا دحکم تابعداری کوم.او ستا د رضا طلبګار یم.زه ستا په فیصله په سرسترګوراضی یم.زه ستا نه دهغه کسانو پشان

[1]) من حدیث ابن عمرؓ أخرجه الترمذی باب ٦ رقم ٣١٩٧ وابن ماجه في المناسك باب ٦ رقم ٢٨٩٦)
[2]) من حدیث عائشة أخرجه البخاری في الحج باب ٦٣ رقم ٧٨ ومسلم في صلاة المسافرین وقصرها رقم ٧٤)

سوال کوم.چه محتاج وی اوستاد عذاب نه ویریږی.چه ته نن ما سره د معافی، سلوك اوکړې.اوپه خپل رحمت زما حفاظت اوکړې.اوته په خپل مغفرت ما ته معافی اوکړې.اودخپلو فرائضو په ادا کولو کښې ماسره مدد اوکړې.اې الله زما دپاره دخپل رحمت دروازې پرانیزې.اوما ورته داخل کړه.اود شیطان رټلی شوی نه زما حفاظت اوکړې.

د بیت الله د لیدو په وخت کښې مسنون عمل

وَإِذَا عَايَنَ الْبَيْتَ كَبَّرَ وَهَلَّلَ اوکله چه اووینی بیت الله.نوتکبیر دې اووائی. اوتهلیل دې اووائی

حل اللغة ﴿①عاين،معاينة:کتل

تشریح﴿ **الأفعال المسنون عندرؤية البيت**﴾مسئله دا ده.چه کله نې په بیت الله نظراولګی.نو الله اکبر دې اووائی.اوپه زړه کښې دې ددې مقدس مقام عظمت حاضر کړی.اود توحید د تجدید دپاره دې (لااله إلا الله) اووائی.او چه هغه وخت څه مناسب وی.نوهغه دعا دې اوکړی.ځکه چه د بیت الله د لیدو په وخت کښې دعا مستجابه اومقبوله وی.

دلیله﴾په تکبیر اوتهلیل باندې دحضرت عبدالله ﷺ عمل مستدل دې.چه هغوی به کله هم د بیت الله زیارت کولو.نو(بسم الله والله اکبر) به نې ونیل. ([1])

دحجراسود بنکلول

ثُمَّ ابْتَدَأَ بِالْحَجَرِ الْأَسْوَدِ فَاسْتَقْبَلَهُ فرمائی.بیا دې شروع اوکړی د حجر اسود نه نومخ دې کړی دې ته وَكَبَّرَ وَهَلَّلَ اوتکبیر دې اووائی.اوتهلیل دې اووائی.

حل اللغة ﴿①هلل: لا اله الاالله ونیل

تشریح﴿ **إستقبال الحجر**﴾فقهاء کرام ﷭ فرمائی.چه مسجد حرام ته د داخلیدو نه پس دټولو نه اولنې کارطواف کول دی.که دا کس محرم وی اوکه غیرمحرم وی.اوپه طواف کښې به شروع د حجر اسود نه کوی.

دلیله﴾ځکه چه نقل دی.کله چه نبی ﷺ مسجد حرام ته داخل شو.نود حجر اسود نه نې د طواف شروع اوکړله.اوحجراسودته دې مخ کړی او،الله اکبر، او ،لااله الا الله، دې اووائی.([2])

(وَرَفَعَ يَدَيْهِ) صاحب د قدوری ﷫ فرمائی بیابه پورته کړی لاسونه خپل مَعَ التَّكْبِيرِ د تکبیر ونیلو سره

[1]) غرجه الزيلعي ﷫ هذا اللفظ ثم نقل عن ابن عمر ﷠ برواية البيهقي في السنن الكبرى (١٢٨/٥) رقم ٩٢٥٠) أن كان يقول ذلك عند إستلام الحجر، كذا في نصب الراية (٤٢/٣)۔

[2]) يقول العبد الضعيف اما إبتداءه ﷺ باستلام ا لحجر الأسود ففي حديث جابر ﷺ الطويل خرجته بالكمبيوتر من ،موصوعة الأحاديث النبوية، فهو في صحيح مسلم في الحج باب حجة النبي ﷺ رقم ٢١٣٧) و أما الإستقبال والتكبيروالتهليل فأيضا خرجته من الموصوعة فهو حديث عمر ﷺ اخرجه احمد في مسندالعشرة المبشرين بالجنة في مسند عمربن الخطاب ﷺ رقم ١٨٥ والفاظه عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ يَا عُمَرُ إِنَّكَ رَجُلٌ قَوِيٌّ لَا تُزَاحِمْ عَلَى الْحَجَرِ فَتُؤْذِيَ الضَّعِيفَ إِنْ وَجَدْتَ خَلْوَةً فَاسْتَلِمْهُ وَإِلَّا فَاسْتَقْبِلْهُ فَهَلِّلْ وَكَبِّرْ۔

تشریح > **رفع الأيدي عند إستلام الحجر** > شيخ ابوالحسن قدوری رحمه الله فرمائي.چه د طواف په شروع کښې به د تکبير ونيلو په وخت کښې دواړه لاسونه تراوږو پورې پورته کړی.

دليله > ځکه چه نبي ﷺ فرمائيلي دی.((لاترفع الأيدي إلا في سبع مواطن)) يعنې صرف په اووه ځايونو کښې به لاسونه پورته کولې شي.اومن جمله دهغې نه يوه موقع د حجر اسود ښکلول دی.(١)

وَاسْتَلَمَهُ وقبله إِنِ اسْتَطَاعَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُؤْذِيَ مُسْلِمًا او استلام دې اوکړی د حجر اسود او ښکل دې کړی (حجراسود) که طاقت لري بغيرتکليف ورکولو نه مسلمان ته.

تشریح > **معني الإستلام** > فرمائي چه دحجر اسود استلام دې کوی.استلام (سلمة) نه ماخوذ دې. ددې معنی د کاڼړی ده.اوس د استلام معنی دا ده.چه کاڼړی اخستل په لاس سره يا په بوسه سره،يا دې دا په لاس سره مس کړی.

كيفية الإستلام > د استلام کيفيت دا دې.که دحجر اسود استلام په خوله سره ممکن نه وی.نوپه دې باندې دې خپل لاس کيږدی.اوخپل لاس دې ښکل کړی.

دليله > نقل دی چه رسول الله ﷺ حجراسود ښکل کړلو.اوخپلې شونډې ئې په هغې باندې کيخودې.(٢) ⓶دا هم نقل دی.چه حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په خپل دور خلافت کښې حجراسود ته نزدې تشريف راوړلو .نو وې فرمائيل.ماته دا پته ده.چه ته يوکاڼړې ئې.نه ضرر رسولې شې اونه فائده، که ما رسول الله ﷺ نه وو ليدلې.چه ته ئې ښکل کړې وې. نومابه ته نه وې ښکل کړې.دحضرت عمر رضی الله عنه دا خبره چه حضرت علي رضی الله عنه ته اورسيدله .نو هغوی اوفرمائيل.کاڼړې نفع رسونکې دی.حضرت عمر رضی الله عنه ورته اوفرمائيل.اې دالله د پيغمبر زومه! څه فائده ده په کښې؟نوحضرت علي رضی الله عنه اوفرمائيل.ما د رسول الله ﷺ نه دا اوريدلي وو.چه کله الله تعالی د آدم عليه السلام د ټول اولاد نه وعده واخستله.اود ((أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَىٰ)) په ذريعه ئې اقرار اوکړلو.نوالله تعالی هغه اقرار په دې کاڼړی کښې امانت کيخودلو.نوکوم کس چه استلام کوی.نولکه چه هغه ددې ښکلولو سره د هغې وعدې تجديد کوی.اوکاڼړے به دقيامت په ورځ دده دپاره ګواهي ورکوی. (٣)

فضل إستلام الحجر > بهرحال که مسلمان ته د تکليف رسولو نه بغير دحجر اسود ښکلول ممکن وی. نودحجراسود استلام دې خامخا اوکړی.

دليله > ځکه چه رسول الله ﷺ حجر اسود ښکل کړې وو.اوپه هغې ئې خپلې شونډې کيخودې وې.

دلائل ترك الإستلام عند أذى المسلم > ⓵اونبي کريم ﷺ حضرت عمر رضی الله عنه فرمائيلي وو.چه ته مضبوط سړې ئې.کمزوری ته به تکليف اورسوې.نوپه حجراسود باندې خلقو سره چير مکوه.يعنې ګڼه مه لرې کوه.ګنی کمزوری ته به ستا نه تکليف اورسی.خوکه ځائې خالي وی.اورش نه وی.نواستلام کوه. يعنې په خوله يا لاس سره دې مس کړی.اوکه ګنجائش نه وی.بلکه بيړه وی.نودې ته دې مخامخ اودريږی.اوتکبير اوتهليل دې اووائی.

⓶دويم دليل دا دې.چه استلام سنت دې.اود مسلمان د تکليف رسولو نه ځان ساتل واجب دی.اود

---

١) تقدم تخريجه مراراً۔

٢) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه ابن ماجه في الحج رقم ٢٩٤٥) والحاكم في المستدرك (١/٤٥٤)

٣) من حديث عمر رضی الله عنه أخرجه أحمد في مسندالعشرة المبشرين بالجنة في مسند عمربن الخطاب رضی الله عنه رقم ١٨٥)

سنت ادا کولو دپاره د واجب د پريخودو شريعت بيخي اجازت نه ورکوی. نو څکه مسلمان ته د ضرر رسولو نه بغير که استلام ممکن وی.نواستلام دې اوکړی. ګنی په استقبال دې اکتفاء اوکړی.

د اضطباع حکم

ثُمَّ اَخَذَعَنْ يَمِيْنِهٖ مِمَّا يَلِي الْبَابَ فرمائی.بيا دې شروع اوکړی دخپل ښي طرف نه دهغه خانې نه چه نزدې دې دروازې ته،وَقَدِاضْطَبَعَ رِدَاءَهٗ قَبْلَ ذٰلِكَ په داسې حال کښې چه اضطباع ئې کړې وی په څادرخپل، فَيَطُوْفُ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ اَشْوَاطٍ نوچکردې اولګوی د بيت الله نه اووه چکرې،

حل اللغة ﴿ ①**اضطبع،اضطباعًا:** د ښي ترخ نه څادرراويستل او په ګسه اوږه باندې اچول ②**اشواط جمع شَوط:** چکر ③**ابط:** ترخ]

تشريح ﴿ **إبتداء الأشواط من أيمن المستلم** ﴾مسئله:لکه څنګه چه د حجراسود نه شروع کول واجب دی.دغه شان د ښي طرف نه شروع کول هم واجب دی.يعنی د حجر اسود نه ښي طرف ته کوم خانې چه دروازې سره جخت دې.د هغه طرفه دې طواف شروع کړی.

حكم الطواف المشروع من الجانب الأيسر ﴾اوکه د ښي طرف په خانې ئې د ګس طرف نه ئې په طواف شروع اوکړله.اوداسې ئې اووه چکرې اولګولې.نودا طواف معکوس شو.زمونږ په نيز ددې حکم دا دې. چه ترڅو په مکه کښې وی.نود دې طواف به اعاده کوی.اوکه د اعاده نه وراندې ئې مکه پريخودله.او خپل وطن ته واپس شو.نوپه ده به دم واجب وی.بهرحال طواف به د حجر اسود د ښي طرفه شروع کوی.اوپه دې طريقه به اووه چکرې پوره کوی.

دليله ﴾ څکه چه رسول الله ﷺ هم داسې کړی وو.(¹)

معنى الإضطباع وسنيته ﴾صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلی دی .چه اضطباع د ،ضبع،نه ماخوذ دې.اوددې کيفيت دا دې.چه خپل څادر د خپلې ښي اوږې دلاندې نه راوباسی.اوپه ګسه اوږه ئې واچوی.فرمائی دا درويشانه کيفيت مسنون دې.

دليله ﴾ اود رسول الله ﷺ نه منقول دې. (²)

طواف به حطيم نه بهر وی

(وَيَجْعَلُ طَوَافَهٗ مِنْ وَّرَاءِ الْحَطِيْمِ) فرمائی.اودې ګرځوی طواف خپل بهر دحطيم نه،

حل اللغة ﴾①**حطيم:** د خانه کعبې هغه حصه چه رکن زمزم او د مقام ابراهيم په مينځ کښې ده.

تشريح ﴾ **توضيح الحطيم** ﴾حطيم دهغه خانې نوم دې.چه په هغې کښې ميزاب رحمت دې.حطيم د حطم نه ماخوذ دې.اود حطم معنی ده ماتول.اودې ته حطيم څکه وائی.چه مشرکانو د بيت الله د جوړولو په وخت کښې دحلال مال د کمی د وجې د بيت الله نه مات کړې وو.اوپه نوې آبادئ کښې ئې نه وو داخل کړې. د حطيم دويم نوم حجر (بكسرالحاء) دې.چه ددې معنی منع کول دی.يعنی داحصه د بيت الله په نوی تعمير کښې شاملولو نه منع کړې شوې وه.

تاريخ إخراج الحطيم من البيت ﴾ ﴾خوياد ساتئ چه حطيم د بيت الله يوه حصه ده.کوم احکام چه د بيت الله دی.هغه احکام به ددې هم وی.په دې باندې د حضرت عائشې رضي الله عنها حديث ګواه دې.صاحب د

---

¹) من حديث جابر رضي الله عنه اخرجه مسلم في الحج باب حجة النبي ﷺ رقم ٢١٣٧)۔

²) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه ابوداود في المناسك باب ٤٩ رقم ١٨٨٤)۔

عنایه رحمه الله چه کوم حدیث ذکر کړې دې.دهغې ترجمه دا ده.چه حضرت عائشې رضي الله عنها دا نذر منلې وو. که رسول الله ﷺ مکه فتح کړه.نوزه به په بیت الله کښې دوه رکعته مونځ کوم.د مکې دفتح نه پس رسول الله ﷺ د حضرت عائشې رضي الله عنها لاس اونیولو.او حطیم ته ئې داخله کړه.اووې فرمائیل ورته (صلي ههنا فإن الحطیم من البیت) دلته مونځ اوکړه.ځکه حطیم د بیت الله حصه ده. خو چونکه ستا قوم قریشو سره خرچه کمه شوې وه.نوځکه هغوی دا د بیت الله نه بهر کړې وو.ګوره عائشې رضي الله عنها که ستا د قوم زمانه شرك ته نزدې نه وه.نومابه خانه کعبه شهیده کړې وه.اودا به مې د ابراهیم خلیل الله علیه السلام د آبادئ مطابق جوړه کړې وه.اوحطیم به مې په خانه کعبه کښې داخل کړې وو.اوچوکاټ به مې د زمکې سره ملاؤ کړې وو.اوددې دپاره به مې یوه دروازه مشرق طرف ته ویستې وه.اویوه مغرب طرف ته.که راروان کاله پورې ژوندې پاتې شوم.نودا کار به ضرور کوم. (۱) حضرات خلفاء راشدینو رضي الله عنهم ته د نور اهمو کارونو د وجې دې ته فراغت ملاؤ نشو.

بناء ابن زبیر> ردې چه دحضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه زمانه راغله.اوهغوی د حضرت عائشې رضي الله عنها نه دا حدیث واوریدلو.نوهغه دواړه کارونه ئې اوکړل.کوم چه د نبی ﷺ ارمان وو.نودحضرت ابراهیم علیه السلام په بنیادونو ئې خانه کعبه جوړه کړه.اوحطیم ئې په بیت الله کښې شامل کړلو.

بناء حجاج بن یوسف> خوچه کله ابن زبیر رضي الله عنه شهید کړې شو.اوحجاج بن یوسف ثقفي برسراقتدار راغلو.نوهغه د حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه جوړه کړې کعبه ئې شهیده کړله.اودا ئې په هغه طریقه بیا جوړه کړه.په کومه طریقه چه قریشو جوړه کړې وه.اګرچه حجاج بن یوسف د حدیث اوریدو نه پس ډیر پښیمانه شو.بیاد بنوعباس په دور خلافت کښې حضرت هارون الرشید رحمه الله دا اراده اوکړله.چه دا د ابراهیم علیه السلام د آبادئ مطابق جوړه کړي.خو حضرت امام مالك اونورو بزرګانو ددې ویرې نه منع کړلو.چه روستو به د خانه کعبه د جوړولونه یوه لوبه جوړه شي.هرکس به د خپلې خوښې مطابق په دې کښې تغیر او تبدیل راولي.

الطواف خارج الحطیم> بهرحال صورت د مسئلې دا دې.چه طواف به د حطیم نه بهر کوي.په حطیم کښې دننه به نه کوي.که طواف کونکې په حطیم کښې ورداخل شو.اوطواف ئې اوکړلو.نودا جائز نه دی.

دلیله> دلیل دا دې.چه حطیم د بیت الله حصه ده.لکه چه د حضرت عائشې رضي الله عنها دحدیث نه ثابته شوه.چه (إن الحطیم من البیت) اوحکم چه شوې دې.نوهغه د بیت الله نه بهر د طواف کولو دې په بیت الله کښې دننه د طواف حکم نه دې شوې .لکه چه د الله تعالی ارشاد دې.((وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ﴿۲۹﴾)) اوطواف دې اوکړي د بیت عتیق ګورئ د قدیم بیت د طواف حکم شوې دې.په قدیم بیت کښې دننه د طواف حکم نه دې شوې .اود قدیم بیت نه ټوله خانه کعبه مراد ده.نود ټول بیت طواف ضروري شو.اوپه ټول بیت کښې حطیم هم شامل دې.نوپه طواف کښې د حطیم راګیرول هم ضروري شو.

په اولنو درې چکرولو کښې پهلواني ګول

وَيَرْمُلُ فِي الْأَشْوَاطِ الثَّلَاثَةِ الْأُوَلِ او رمل به کوي په دریو اولنو کښې د چکرونو ځنې،

حل اللغة> ① یرمل، رملا: اوږو خوزولو سره منډه وهل

(۱) من حدیث عائشة رضي الله عنها اخرجه البخاری فی الحج باب ۴۲ ومسلم فی الحج رقم ۴۰۵ وابوداود فی المناسك باب ۹۳ رقم ۲۰۲۸ والترمذی فی الحج باب ۴۸ رقم ۸۷۶ والنسائی فی المناسك باب ۱۲۹ باب الصلاة فی الحجر۔

تشریح ﴿ سبب الرمل ﴾ د رمل سبب دا دی.چه د حدیبیه په کال چه رسول الله ﷺ د عمرې دپاره مکې معظمې ته داخلیدل غوښتل،نومشرکانو د مکې د عمرې اود بیت الله د زیارت نه مسلمانان منع کړل.اوپه دې باندې صلح اوشوه.چه سخ کال به بغیرد عمرې نه واپس لاړ شی.اوراروان کال ته به بغیر د جنګی سازوسامان نه مکې ته داخل شی اوعمره به اوکړی.اودرې ورځې به په مکه کښې قیام اوکړی.په راروان کال چه کله نبی ﷺ د عمرې ادا کولو دپاره تشریف یوړلو.نود مکې خلقو درې ورځو دپاره خانه کعبه خالی کړې وه.اوپه خپله غر ته ختلی وو.نورسول الله ﷺ د صحابوؓ سره د خانه کعبې طواف کولو.نبی ﷺ په دغه دوران کښې د مشرکانو نه واوریدل.چه بعضې په کښې بعضو نورو ته وائی.مسلمانان د یثرب تبې کمزورې کړی دی.چه نبی دا واوریدل.نوخپل دواړه لاسونه ئې کهولاؤ کړل.او رمل ئې شروع کړلو.اوصحابوؓ ته ئې هم ددې حکم اوکړلو.چه د مسلمانانو د بهادرئ او طاقت مشرکان په خپلو سترګو مشاهده اوکړی.

وجه بقاء حکم الرمل مع زوال سببه ﴾ دا سبب اګرچه زائله شوې دې.خو حکم ئې باقی دې.ځکه چه د حضرت جابراو ابن عمرؓ نه نقل دی.چه په حجة الوداع کښې نبی ﷺ په یوم النحر کښې په اولنو درې چکرونو کښې رمل کولو.حالانکه د حجة الوداع په کال په مکه کښې مشرک پاتې نه وو.نوهرکله چه د سبب د زوال نه پس هم نبی ﷺ رمل کړې دې.نومونږ د نبی ﷺ په تابعدارئ کښې هم د رمل کولو زیات مستحق یو.

باقی څلور چکرونه په اطمینان سره کول

وَيَمْشِي فِي مَا بَقِيَ عَلَى هَيْئَتِهِ) اوځی به په باقی چکرونو کښې په خپل وقار سره،

حل اللغة ﴾ ① **هیئة**: وقار

تشریح ﴾ عدم الرمل في الأشواط الأربعة ﴾ صاحب دقدوری رحمه الله فرمانی.چه په باقی څلورو چکرونو کښې به په خپل وقار او په اطمینان سره ځی.رمل به نه کوی.

دلیله ﴾ ځکه چه کومو صحابوؓ د نبی دحج افعال نقل کړی دی.د هغوی ټولو په دې باندې اتفاق دې.چه نبی په اولنو درې چکرونو کښې رمل کړې وو.اوپه باقی څلورو چکرونو کښې ئې رمل نه وو کړې.([1])

محل إبتداء الرمل ﴾ اود رمل یوچکر به د حجراسود نه شروع کیږی.اوهم په حجر اسود به ختمیږی.ځکه چه د رسول الله ﷺ د رمل په باره کښې هم دا منقول دی.([2])

عدم سقوط الرمل لوجه الإزدحام ﴾ ورانډې تیر شوی دی.چه په اولنو چکرونو کښې رمل کول واجب دی.نوکه د ګڼړې د وجې د رمل کول ممکن نه وی.نواودې دریږی تردې چه لار بیا مومی.نو رمل دې کوی.بغیرد رمل دې طواف نه کوی.

دلیله ﴾ دلیل دا دې.چه د رمل متبادل بل څه نشته.ددې وجې که د ګڼړې د وجې په اولنودرې چکرونوکښې رمل کول ممکن نه وی.نو انتظار دې کوی.چه په سنت طریقه رمل اوکړی

جواز ترک استلام الحجر ﴾ په خلاف د حجر اسود دښکلولو ځکه چه هلته د حجر اسود استلام متعذر

---

[1]) من حدیث ابن عمر رضی الله عنهما اخرجه البخاری في الحج باب ۸۰ رقم ۱۶۴٤ ومسلم في الحج رقم ۲۳۰ واحمد في المسند (۹۸/۲)

[2]) من حدیث ابن عمر رضی الله عنهما اخرجه مسلم في الحج رقم ۲۳۳ وابوداود في المناسك باب ۵۰ رقم ۱۸۹۱ والنسائی في المناسك باب ۱۵٤ رقم ۲۷۵۱ وابن ماجه في المناسك باب ۲۹ رقم ۲۹۵۰ ـ

شي.نو انتظار دې نه کوي.بلکه حجر اسود ته دې مخ کړي.او ورانديې دې تير شي.ځکه چه استقبال د استيلام بدل دې.

په هرچکر کښې د حجر اسود استيلام

وَيَسْتَلِمُ الْحَجَرَ كُلَّمَا مَرَّبِهٖ فرماني اواستيلام به کوي د حجراسود هرکله چه تيريږي په دې باندې، إِنِ اسْتَطَاعَ که طاقت لري.

تشريح> الإستيلام في كل شوط> صاحب دقدوري رحمه الله فرماني.چه کله هم په طواف کښې د حجراسود نه تيريږي.نود قدرت په صورت کښې به ددې استيلام کوي.يعنی ښکلوی به ئې.
دليله> ځکه چه په طواف کښې چکرونه پشان د مونځ د رکعتونو دي.لکه ځنګه چه د رسول الله ﷺ ارشاد دې.(الطواف بالبيت صلاة) نولکه ځنګه چه د مانځه هر رکعت د تکبير نه شروع کيږي.دغه شان به د طواف هريوچکر د استيلام د حجر اسود نه شروع کيږي.

تائيده> ددې تائيد د بخاري شريف د حديث نه هم کيږي.(أن النبي ﷺ طاف على بعير كلما أتى على الركن اليماني أشار إليه بشيء في يده).
إستقبال الحجر عندعدم القدرة> اوکه د استيلام قدرت نه وي.نوحجراسودته دې مخ کوي.اوتکبير اولااله الا الله دې وائي.

وَيَخْتِمُ الطَّوَافَ بِالْإِسْتِلَامِ) اوختموي به طواف په استيلام

تشريح> إختتام الطواف بإستلام الحجرالأسود> صاحب دقدوري رحمه الله فرماني.چه د طواف اختتام دې د حجراسود په استيلام سره کوي.د رکن يماني په استيلام سره دې نه کوي.

په مقام ابراهيم کښې نفل کول

ثُمَّ يَأْتِي الْمَقَامَ فَيُصَلِّي عِنْدَهٗ رَكْعَتَيْنِ فرماني بيا به لاړ شي مقام (ابراهيم عليه السلام) ته،نومونځ به اوکړي دهغې سره دوه رکعته اوکړي أَوْحَيْثُ تَيَسَّرَ مِنَ الْمَسْجِدِ يا چه په کوم ځائې کښې ورته آسان وي د جمات (په حدودو) کښې،

تشريح> المراد من المقام> دمقام ابراهيم نه هغه کاڼړې مراد دې.په کوم باندې چه حضرت ابراهيم عليه السلام د خانه کعبې جوړولو په وخت کښې ولاړ وو.د هغوی داودريدو په وجه په دې کاڼړې دهغوی د قدمونو نښې جوړې شوي دي.
سنية ركعتي الطواف> مسئله دا ده.چه د طواف نه اوزګار شي.نود مقام ابراهيم عليه السلام يا چه په مسجدحرام کښې ورته په کوم ځائې کښې آسانه وي.دوه رکعته دې کوي.دا مونځ واجب دې

دلائله> دليل دا دې. ① چه نبي ﷺ فرمائيلي دي.(وليصل الطائف لكل أسبوع ركعتين) مونځ دې کوي طواف کونکې د هراووه چکرونو دپاره دوه رکعته. ([1]) په حديث کښې د (ليصل) د امر صيغه ده.او امردپاره د وجوب وي. ② اوبه يو بل حديث کښې دي.چه کله نبي ﷺ مقام ابراهيم ته اورسيدلو.نودا

[1]) غريبه الزيلعي رحمه الله بهذااللفظ ثم قال وأخرجه البخاري ومسلم عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنهما أن رسول الله ﷺ كان إذا طاف بالحج والعمرة أول مايقدم فإنه يسعى ثلاثة أطواف ويمشي أربعاً ثم يصلي سجدتين كذا في نصب الراية (۵۳/۳)۔

آيت ني تلاوت كړلو.((وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهِيْمَ مُصَلًّى)) اوبيا ني دوه ركعته اوكړل.په دي آيت كښي هم ((وَاتَّخِذُوْا)) د امرصيغه ده.دكوم نه چه وجوب ثابتيږي.

السوال ﴿ څوكه څوك دا سوال اوكړي.چه نبي ﷺ په كوم وخت كښي بانديچي ته مونځ تعليم وركولو .نو هغه ونيلي وو.((هل علي غيرهن)) نبي ﷺ په جواب كښي فرمانيلي وو.((الا أن تطوع)) ددي حديث نه معلومه شوه.چه د پنځو مونځونو نه سوي بل مونځ واجب او فرض نه دي.

الجوابان ﴿ ① نوددي جواب دا دي.چه حديث د بانديچي متروك الظاهر دي.ځكه چه په دي باندي د تولو اتفاق دي.چه مونځ د جنازي او مونځ د اخترونو واجب دی.(د اخترونو د مونځ په باره كښي د اتفاق دعوی محل نظر دي.ځكه ددي په وجوب كښي د امامانو اختلاف دي.)حالانكه په دي حديث كښي ددي مونځونو بيان نشته.② اودويم جواب دا دي.چه ممكن ده.حديث د بانديچي ددي نه وړاندي وی.

د طواف قدوم شرعي حيثيت

(وَهٰذَا الطَّوَافُ طَوَافُ الْقُدُوْمِ) صاحب د قدوري فرماني.اودا طواف،طواف قدوم دي.

تشريح ﴿ **أسماء طواف القدوم** ﴿ مصنف د قدوري رَحِمَهُ اللهُ فرماني.چه مكي معظمي ته په دي خليدو چه كوم طواف كيږي.هغه ته طواف قدوم واني.صاحب د هدايه فرمانيلي دی چي ددي دويم نوم طواف تحيه اودريم نوم طواف لقاء اوڅلورم نوم طواف اول عهد دي.

...

وَهُوَ سُنَّةٌ وَلَيْسَ بِوَاجِبٍ اودا سنت دي.واجب نه دي.

تشريح ﴿ **حكم طواف القدوم** ﴿ دا طواف د آفاقي دپاره سنت دي واجب نه دي.([1])

دليله ﴿ دليل دالله تعالى ارشاد دي.چه ((وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ)) په دي كښي دطواف حكم دي. او امر مطلق د تكرار تقاضا نه كوی.اود طواف زيارت فرضيت په اجماع سره متعين دي.نو هركله چه طواف زيارت د فرضيت دپاره متعين شوي دي.نوبل طواف به واجب نه وی.ګني په امركښي به تكرار لازم شي.(اودا جائز نه ده) ([2])

د صفا ديرئ مسنون اعمال

ثُمَّ يَخْرُجُ اِلَى الصَّفَا فَيَصْعَدُ عَلَيْهِ فرماني بيا به اوځي طرف د صفا ته نواودي خيژی په هغي باندي، وَيَسْتَقْبِلُ الْبَيْتَ وَيُكَبِّرُ وَيُهَلِّلُ وَيُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اومخ دي كړی قبله ته،او،لااله الا الله، دي اووائي.اودرود دي اووائي په نبي ﷺ وَيَدْعُوا اللهَ لِحَاجَتِهٖ اوسوال دي اوكړی د الله نه،

حل اللغة ﴿ ① **يصعد، صعودًا (س):** ختل

تشريح ﴿ **كيفية السعي من الصفا** ﴿ مسئله دا ده.چه د طواف قدوم نه فارغ شي.نواول به د صفا مروه په مينځ كښي سعي اوكړي.نوصفا ته به اوخيژی.اوبيت الله ته به مخ كړی.اوتكبير او،لااله الاالله، به

([1]) **مذهب مالك** ﴿ دامام مالك رَحِمَهُ اللهُ په نيز واجب دي.

([2]) **مذهب مالك** ﴿ دامام مالك رَحِمَهُ اللهُ په نيز واجب دي.

اووائي.اوپه نبي ﷺ به درود اووائي.او لاس دې اوچت كړي.دخپل حاجت دپاره دې د الله تعالى نه دعا اوغواړي.

دلائله خكه نقل دي.①چه نبي ﷺ صفا ته اوختلو.ترڅوچه بيت الله ئې په نظرشو.نوقبلې ته ئې مخ كړلو.اودعا ئې اوكړله. (١)

② اوددې وجې چه ثناء اودرود دواړه په دعا باندې مقدم وي.خكه چه په دې سره دعا قبليدو ته نزدې كيږي.لكه څنګه چه په نورو دعاګانو كښې دي.(لكه مونځ راواخله. چه اول درود دې.اوبيا وروسے دعا ده.

كيفية الصعود علي الصفا صاحب دهدايه ﷫ فرمائيلي دى .چه په صفاغونډئ به دومره خيجي. چه بيت الله دده نظر ته مخامخ راشي.خكه چه په صفا باندې د ختلونه مقصود د بيت الله استقبال دې. اودا مقصود به هم په دې صورت كښې حاصليږي.صاحب دهدايه ﷫ فرمائيلي دى.چه صفا طرف ته د تللو دپاره حاجى ته اختيار دې.چه دكومې دروازې نه غواړي.اودې خى.او نبي كريمﷺ د باب بني مخزوم نه وتلې وو.باب بني مخزوم ته باب صفا هم وائي .ددې دروازې نه د نبي كريمﷺ وتل په دې وجه وو.چه دا دروازه د صفا غونډئ ته ډيره نيزدې ده.نو ددې دروازې نه به وتل مستحب وي. سنت به نه وي.لكه چه امام شافعي ﷫ د باب صفا نه وتلو ته سنت وائي.

په مروه باندې مسنون اعمال

ثُمَّ يَنْحَطُّ نَحْوَ الْمَرْوَةِ وَيَمْشِي عَلٰى هَيْنَتِهِ"فرماني بيا دې راكوز شي طرف د مروه ته،اوروان دې وي په خپل وقار، فَإِذَا بَلَغَ إِلَى بَطْنِ الْوَادِي سَعَى بَيْنَ الْمِيلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ سَعْيًا كله چه اورسيږي مينځ د وادئ ته،نو منډه دې وهي په مينځ د ميلين اخضرين كښې په منډې وهلو سره، ،وَيَمْشِي عَلٰى هَيْنَتِهِ حَتّٰى يَأْتِيَ الْمَرْوَةَ فَيَصْعَدُ عَلَيْهَا بيا دې روان وي په خپل وقار سره تردې چه اورسيږي مروه ته،اواوخيژي په هغې باندې، وَيَفْعَلُ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا اوكوي به هغه شان څنګه ئې چه كړي وو په صفا،

حل اللغة ①**ينحط، انحطاطا**: راكوزيدل ②**هينة**: وقار ③**مشي، مشيًا(ض)**: تلل]

تشريح **كيفية السعي إلي المروة** امام قدورى ﷬ فرمائي.چه د صفا نه دې مروه طرف ته راكوز شي.اوډيرپه آرام دې روان وي.بيا چه كله بطن وادى ته اورسي.نود ميلين اخضرين سره دې منډه اووهي.بيا دې په آرام سره روان وي.تردې چه مروه ته اورسي.اوپه هغې دې اوخيژي.اوهغه شان اعمال دې اوكړي.څنګه چه ئې په صفا كړي وو.

دليله خكه چه نقل شوى دى.چه نبي ﷺ د صفا نه راكوز شو.او په آرام سره مروه طرف ته روان وو. اوپه بطن وادى كښې ئې منډه اووهله.چه بيا كله د بطن وادى نه تير شو.نومروه ته اوختلو.اود دې دواړو په مينځ كښې ئې اووه چكرې اولګولې. (٢)

(وَهٰذَا شَوْطٌ وَاحِدٌ اودا يوچكر دې.

تشريح **عدد الأشواط** ① صاحب دقدورئ ﷬ فرمائي.چه دصفا نه مروه ته تلل يو شوط دې.

دليله خكه چه د نبي ﷺ دحج د ناقلينو ټولو راويانو په دې باندې اتفاق دې.چه نبي ﷺ د صفا

---

١) تقدم تخريجه في حديث جابر ﷺ الطويل)۔

٢) تقدم تخريجه في حديث جابر ﷺ الطويل)۔

اومروه په مینځ کښې اووه چکرې لګولې وي.

د سعی د شروع او اختتام ځایونه

فَيَطُوفُ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ يَبْدَأُ بِالصَّفَا وَيَخْتِمُ بِالْمَرْوَةِ نو کوی دې اووه شوطونه، شروع به کوی د صفا نه او ختموی به ئې په مروه باندې. وَيَسْعَى فِي بَطْنِ الْوَادِي فِي كُلِّ شَوْطٍ اومنډه به وهی په بطن الوادی کښې، په هريوشوط کښې،

تشریح> وجوب إبتداء السعي من الصفا> صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی. چه سعی اووه شوطونه (چکرې) دی. د شوط شروع به د صفا نه کیږی. اوپه مروه به ختمیږی. اوپه هرشوط کښې به په بطن وادی کښې منډه وهی.

دلائله> ① دلیل هغه حدیث دې. کوم چه د تیرے شوې مسئلې په ضمن کښې تیرشوې دې. یعنی (أن النبي ﷺ نزل من الصفا وجعل يمشي نحو المروة الحديث) ② اود صفا نه د سعی په شروع کولو دا حدیث دلیل دې. (إبدأوا بما بدأ الله تعالى به) ([1]) یعنی د کوم ځائې نه چه الله تعالی په قرآن کښې شروع کړې ده. د هغه ځائې نه سعی شروع کوئ. اوالله تعالی د صفا نه شروع کړې ده. فرمائی. ((إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللهِ)) په دې. حدیث کښې لفظ د (اسعوا) صیغه د امر ده. نود صفا نه به شروع کول واجب وی.

د سعی نه پس داحرام په حالت کښې په مکه کښې قیام

(ثُمَّ يُقِيمُ بِمَكَّةَ حَرَامًا) بیا دې. اوسیږی په مکه کښې په حالت داحرام کښې،

تشریح> القيام في مكة محرما بعد السعي> صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی. چه د طواف قدوم اوسعی نه فارغ شی. نودې نه پس دې. دا سړې په حالت د احرام کښې په مکه کښې اوسیږی. ځکه چه ده دحج ادا کولو دپاره احرام تړلې وو. نو اوس به د حج د افعالو ادا کولونه بغیرد احرام نه نه خارجیږی. یعنی داسې څه کار به نه کوی. چه په هغې باندې داحرام نه بهر شی.

فَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ كُلَّمَا بَدَا لَهُ) اوطواف دې. کوی د بیت الله نه چه کله ئې خوښه وی.

تشریح> البته په دغه موده کښې چه ئې څومره خوښه وی. د بیت الله طوافونه دې کوی

دلیله> ددې دلیل دا دې. چه نبی ﷺ طواف د مانځه سره مشابه کړې دې. فرمائیلې ئې دی. (الطواف بالبيت صلاة إلا أن الله تعالى أحل فيه المنطق فمن نطق فيه فلا ينطق إلا بخير) یعنی د خانه کعبې نه طواف کول د مانځه سره مشابه دې. نوځوك چه طواف کوی. خبرې دې. نه کوی. مګر ښه خبرې، ددې حدیث نه ښکاره کیږی. چه طواف د مانځه پشان دې. اومونځ یوکار دې. چه د مخصوص ځایونو نه سوې په هرځائې کښې په هروخت کښې ادا کولې شی. نودغه شان طواف هم هر وخت ادا کولې شی.

عدم السعي بعد الطواف النفلي> البته دومره خبره ضرور ده. چه ددې نفلی طوافونو نه پس دې. د صفا اومروه په مینځ کښې سعی نه کوی. ځکه چه سعی صرف یوځل واجب ده. اوهغه د طواف قدوم نه پس شوې ده. اوپه نفلی حیثیت سره سعی کول مشروع شوې نه ده. نود یوې سعی نه پس دې. سعی نه کوی.

---

[1]) أخرجه النسائي باب القول بعد ركعتي الطواف رقم ۷۷۲ والدارقطني (۲/۲۵۵) والبيهقي (۵/۱۵۱) رقم ۹۳۳۷)_

رکعتان بعد سبعة أشواط ﴿صاحب دهدایه رحمه الله فرمائیلي دي .چه نفلي طواف کونکي دي. دهراووه شوطونو نه پس دوه رکعته کوی.دي. دوو رکعتونو ته صلاة الطواف وائی.

په اوومه ذوالحجه خطبه وئیل

إِذَاكَانَ قَبْلَ يَوْمِ التَّرْوِيَةِ بِيَوْمٍ کله چه وړاندې ورځ شي د ورځ د ترویه نه، **خَطَبَ الْإِمَامُ خُطْبَةً** بیوم **خَطَبَ الْإِمَامُ خُطْبَةً يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهَا الْخُرُوجَ إِلَى مِنًى** نوخطبه دي. اوکړی خطیب یوه خطبه.په دې. کښې به خودنه کوی خلقو ته، منی ته د تلو، **وَالصَّلَاةَ بِعَرَفَاتٍ وَالْوُقُوفَ وَالْإِضَافَةَ**) په عرفات کښې د مونځ کولو،وقوف عرفات اودهلته نه د روانیدو.

حل اللغة ﴿①**وقوف:** اودریدل ②**افاضة:** واپس کیدل

تشریح ﴿ **الخطب الثلاث في الحج** ﴿ ① صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه په اوومه ذوالحجه به د ماسپخین دمانځه نه پس امام خلقو ته یوه خطبه اووائی.②اودویمه خطبه په نهمه ذوالحجه په ورځ دعرفه په میدان عرفات کښې د ماسپخین دمانځه نه وړاندې اووائی.③اودریمه خطبه په منی کښې دماسپخین دمانځه نه پس

عدم الجلوس في الخطبتين﴿په اوله اودریمه خطبه کښې به د دوو خطبو په مینځ کښې نه کینی.بلکه صرف یوه خطبه به وائی.اوپه دویمه خطبه کښې یعنی د عرفات په خطبه کښې د دوو خطبو په مینځ کښې کیناستل ضروری دی.

په یوم الترویه منی کښې اقامت

فَإِذَا صَلَّى الْفَجْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ بِمَكَّةَ خَرَجَ إِلَى مِنًى کله چه مونځ اوکړی د صبا په ورځ ترویه په مکه کښې،نواوبه وځی منی ته **وَأَقَامَ بِهَا حَتَّى يُصَلِّيَ الْفَجْرَ يَوْمَ عَرَفَةَ** اوقیام به اوکړی هلته تردې.چه اوکړی مونځ د صبا په ورځ د عرفې،

تشریح ﴿ **الذهاب إلى منى يوم التروية** ﴿دحج افعال بیانوی.امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه په ورځ د ترویه چه په مکه کښې د صبا مونځ اوکړی.نو منی ته دې. روان شی.اوپه منی کښې به د نهمې ذوالحجې نه واخله ترلسمې ذوالحجې د صبا د مونځ پورې ایسار شی.تردې. چه د صبا مونځ به هم په منی کښې اوکړی.

وقوع التسامح عبارة القدوري﴿دقدوری د عبارت نه دا معلومیږی.چه په ورځ د ترویه چه څنګه د صبا مونځ اوکړی.نو منی ته به روانیږی.حالانکه دا د سنت نه خلاف ده.بلکه سنت دا ده.چه د ترویه په ورځ چه د صبا د مانځه نه پس نمر راوخیژی.نومنی ته به روانیږی. ارشاد دې.(أن النبي ﷺ صلى الفجر يوم التروية بمكة فلما طلعت الشمس راح إلى منى فصلى بمنى الظهر والعصر والمغرب والعشاء والفجر ثم راح إلى عرفات)[1]

جوازترک القيام بمنى يوم الثامن مع الكراهة ﴿ صاحب دهدایه رحمه الله په دې مقام کښې فرمائیلي دی که بالفرض په اتمه ذوالحجه منی ته اونه رسیدلو.اود اتمې ذوالحجې ورځ اود نهمې ذوالحجې شپه ئې په مکه کښې تیره کړه.اوپه نهمه ذوالحجه ئې په مکه کښې د صبا مونځ اوکړلو.اود منی په لاره تیرشو.اوعرفات ته اورسیدلو.نودا هم کافی ده.څکه چه په اتمه ذوالحجه په منی کښې د حج د

[1]) تقدم تخريجه في حديث جابر رضي الله عنه الطويل)۔

افعالونه څه عمل نشته.البته دې. سرې چونکه د نبی ﷺ اقتداء پرېخودله.نو ددې وجې د يوې غلطۍ مرتکب شو.

(ثُمَّ يَتَوَجَّهُ إِلَى عَرَفَاتٍ فَيُقِيمُ بِهَا) بيا به روان شي عرفات ته،نو ايسار به شي دلته،

تشريح> **الخروج إلي عرفات بعد طلوع الشمس**> صاحب د قدوری رحمه الله اصل مسئلې ته واپس کيږی. اوفرمائی .چه په نهمه ذوالحجه چه د صبا مونځ په منی کښې اوکړی.نو د نمر راختو نه پس دې. عرفات ته روان شی.

دليله> دليل هغه حديث دې کوم چې مونږ وړاندې بيان کړل

جوازالخروج بعدصلاة الفجر> صاحب د هدايه فرمائيلی دی خودا خيال ساتل پکار دی.چه د نمر راختو نه پس ميدان عرفات ته روانيدل صرف مستحب خبره ده.که د صبا مونځ نه پس روان شی.نوهم جائز ده.ځکه چه په اتمه ذوالحجه دمنی سره د حج افعالو نه څه عمل متعلق نه دې.نوکه د صبا مونځ نه پس عرفات ته روان شی.نوڅه قباحت په کښې نشته.

په عرفات کښې جمع بين الصلاتين

(فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ من يومِ عرفة صَلَّى الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ)او کله چه زائله شی نمر په ورځ د عرفې نومونځ دې اوکړی امام خلقو ته د ماسپخين اومازيګر، ثُمَّ يَبْتَدِءُ بِالْخُطْبَةِ نو شروع دې اوکړی په خطبه فَيَخْطُبُ خطبتين قبل الصلاة نو خطبه دې اووائی دوه خطبې وړاندې د مانځه نه يُعَلِّمُ فِيهِمَا النَّاسَ الْوُقُوفَ بِعَرَفَةَ ښائی دې په هغې دواړو کښې خلقو ته طريقه د قيام په عرفات وَالْمُزْدَلِفَةِ وَرَمْيَ الْجِمَارِ وَالنَّحْرِ وَالْحَلْقِ وَطَوَافَ الزِّيَارَةِ اومزدلفه کښې،اوويشتل د شيطانانواوقربانی اوسرخرنيل اوطواف زيارت.

حل اللغة > ① **يبتدی، ابتداء**: شروع کول

تشريح> **محل الخطبة**> صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.چه په نهمه ذوالحجه دې. امام يا د هغه نائب خلقو ته د ماسپخين اومازيګردواړه مونځونه د ماسپخين په وخت کښې ادا کړی. ① ترتيب دا دې.چه اول دې. خطبه اووائی.چه په هغې کښې خلقو ته د افعالود حج تعليم ورکړی.اود جمعې پشان به دوه خطبې وی.د هغې دواړو په مينځ کښې به کينی.هم دا درسول الله ﷺ معمول وو. [1]

دلائله >دليل هغه روايت دې.کوم ته چه د حضرت جابر رضی الله عنه په حديث کښې اشاره شوې ده.اوپه حديث د حضرت جابر رضی الله عنه کښې دا ښکاره ذکر دې.چه نبی ﷺ خطبه د مانځه نه وړاندې وئيلې وه.②دويم دليل دا دې.چه په عرفات کښې دخطبې وئيلو مقصود دا دې.چه خلقوته مناسک دحج اوښائی.اوجمع بين الصلاتين هم په مناسك حج کښې دی.اود تعليم مقصد په دې. کښې حاصليږی.چه خطبه : مانځه نه وړاندې وی روستو نه.ددې وجې زمونږ په نيزد مانځه نه وړاندې دخطبې وئيلوحکم ورکولې شی.

په جمع بين الصلاتين کښې يواذان اودوه اقامتونه

وَيُصَلِّي بِهِمُ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ فِي وَقْتِ الظُّهْرِ بِأَذَانٍ وَإِقَامَتَيْنِ اومونځ به ورکوی دوی ته امام د ماسپخين اومازيګر په وخت د ماسپخين کښې په يو اذان او دوو اقامتونو.

[1] **ملهب مالك**:- امام مالك رحمه الله فرمائی. چه د عرفې د ورځې خطبه د مانځه نه پس ده.وړاندې نه ده.

تشریح﴿ الجمع بين الصلاتين﴾په میدان عرفات کښې به امام خلقوته د ماسپخين اومازیگردواړه مونځونه په یواذان او دوو اقامتونو سره ادا کړی.
دلیله﴿د جمع بين الصلاتين باندې نقل مشهور دی.ځکه چه د نبی ﷺ نه چه کومو راویانو جمع بين الصلاتين نقل کړې ده.دهغې ټولوپرې اتفاق دې. (١)
دلیل الأذان والإقامتين﴾اود یو اذان اودوو اقامتونو دلیل هغه حدیث دې.په کوم کښې چه ذکر دی.چه رسول الله ﷺ دا دواړه مونځونه په میدان عرفات کښې په یو اذان او دوو اقامتونو سره کړی دی
تفصيل المقام﴾ د دې. تفصیل دا دې.چه اول دې.د ماسپخين دپاره اذان اوکړی.بیا دې. اقامت اوکړی.اوبیا د مازیگردپاره اقامت ځکه چه د مازیگر مونځ دخپل مقرر وخت نه وړاندې ادا کولې شی.اوخلق ټول حاضر وی. نو حاضرينو ته دخبر ورکولودپاره صرف اقامت کافی دې.اود اذان څه ضرورت نشته.

د خطبې اوبا د جمع بين الصلاتين د جماعت پريښودل

(وَمَنْ صَلَّى الظُّهْرَ فِي رَحْلِهِ وَحْدَهُ(امام قدوری) فرمائی.چا چه مونځ کولو دماسپخين په خپله خيمه کښې خانله، صَلَّى كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي وَقْتِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى (٢) نومونځ به کوی د دواړو نه په وخت خپل کښې په نيز د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ

تشریح﴿ حكم أداء العصر عند أداء الظهر منفرداً﴾ صورت د مسئلې دا دې.①که یوحاجی د ماسپخين مونځ په خپله خيمه کښې اوکړلو.نودامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نيزيه دا کس د مازیگر مونځ په خپل وخت کښې کوی.يعنی ماسپخين اومازیگر به د ماسپخين په وخت کښې نه جمع کوی.
دلیله﴿دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ دليل دا دې.چه په وخت کښې دننه د مونځ پابندی فرض ده.دالله تعالی ارشاد دې.(إِنَّ الصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا) اوکوم څيزچه په نصوص قرآنی سره ثابت وی.د هغې پريښودل جائز نه دی.مگردا چه د هغې خلاف شريعت وارد شوې وی.او د شريعت ورود په هغه صورت کښې دې.چه د امام سره په جماعت مونځ ادا کړې شی.نوثابته شوه چه په ورځ د عرفې يوحاجی د ماسپخين اومازيگر مونځ په جماعت اوکړی.نوهله به د مازيگرمونځ دهغې په وخت مقدم کوی. او جمع بين الصلاتين به کوی.اوکه داسې نه وی.(يعنی د ماسپخين مونځ ئې په جماعت سره نه وی کړې.نود مازيگرمونځ به د خپل وقت نه وړاندې نه کوی.

وَقَالَ ابويوسف ومحمد: يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا الْمُنْفَرِدُ اوفرمائی صاحبين رحمهما الله چه جمع به کوی په مينځ ددې دواړو کښې منفرد،

تشریح﴿ مذهب الصاحبين﴾ صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه خانله مونځ کونکې به هم جمع بين الصلاتين کوی.يعنی منفرد په جماعت سره د جمع بين الصلاتين سره برابر دې.
دليلهما﴿د صاحبينو رحمهما الله دليل دا دې.چه په عرفات کښې حاجی ته د جمع بين الصلاتين اجازت ځکه ملاؤ شوې دې.چه وقوف د عرفات زيات نه زيات اوکړی.يعنی د وقوف عرفات د اوږدوالی دپاره

---

(١) تقدم تخريجه في حديث جابر رضي الله عنه الطويل.
(٢) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(٢\٣٧١) وردالمحتار(٢\١٨٩) والهندية (١\٢٢٨) نقلاً عن القول الراجح (١\٢١٠).

د جمع بين الصلاتين اجازت ورکړې شوي دي.اوهم دا وجه ده.چه په چا وقوف دعرفات فرض نه وي نوهغه ته د جمع بين الصلاتين اجازت هم نشته.اوبه دي. ضرورت کښې منفرد او په جماعت سره مونځ اړا کونکی دواړه برابر دی.نوځکه به د جمع بين الصلاتين حکم د دواړو دپاره يوشان وی.

الجواب عنه > خو د دې دليل نه جواب دا دې. چه د عرفې په ورځ د مازيګر د مونځ تقديم د وقوف عرفات د اوږدوالی د وجې نه دې.لکه څنګه چه صاحبين ﷫ فرمائي.ځکه چه د مونځ اووقوف په مينځ کښې څه منافات نشته.دواړه يوځائې جمع کيدې. شی.بلکه د مازيګرورانديې کول د جماعت د حفاظت دپاره دي.(چه د جماعت مونځ فوت نشي)ځکه که د ماسپخين مونځ اوکړی.اوخلق په ميدان عرفات کښې خواره شی.نود مازيګردپاره به د ‌ دوی راجمع کول ډيرګران شی.نوددې ګرانوالی او د جماعت د فضيلت حاصلولو دپاره به د مازيګرمونځ په خپل وخت باندې وړاندې کوی.اود ماسپخين اومازيګردجمع کولو حکم شوي دي.

جبل رحمت سره نزدې. اودريدل

ثُمَّ يَتَوَجَّهُ إِلَى الْمَوْقِفِ فَيَقِفُ بِقُرْبِ الْجَبَلِ بيا به روان شی ځائې د اودريدو ته نو اوبه دريږی نزدې. د غرسره

تشريح > **القيام بقرب جبل الرحمة** > مسئله دا ده.چه د جمع بين الصلاتين نه چه فارغ شی.نوامام اوخلق ټول به موقف طرف ته روان شی.اوغرته دې. نزدې. اودريږی.اود دې. ځائې د اودريدو نوم موقف اعظم دې.

دليله > دلته به ځکه اودريږی.چه نبی ﷺ هم دلته اودريدلې وو. (۱)

ميدان عرفات ټول موقف دې.

وَعَرَفَاتٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ إِلَّا بَطْنَ عُرَنَةَ اوعرفات ټول ځائې د اودريدو دې.مګربطن ،وادی غرنه،

حل اللغة > ①**موقف**: دَ اودريدو ځائَ ②**بطن عرنه**: په عرفات کښې يوه وادی ده

تشريح > **عدم القيام في وادی عرنة** > فرمائي چه د بطن عرنه نه سوی نور ټول ميدان عرفات د قيام ځائې دې. يعنی په بطن عرنه کښې به نه اودريږی.اوباقی په ټول ميدان کښې اودريدې. شی.

دليله > بعضې حضراتو فرمائلی دی.چه نبی ﷺ په بطن عرنه کښې شيطان ليدلې وو.ځکه نې په دې. مقام کښې دَ اودريدو نه منع کړې ده.دغه شان د وادی محسرنه سوې باقی ټوله علاقه په مزدلفه کښې موقف دې. (۲)

دامام د قيام مستحب کيفيت

وَيَنْبَغِي لِلْإِمَامِ أَنْ يَقِفَ بِعَرَفَةَ عَلَى رَاحِلَتِهِ اومناسب دی دپاره د امام چه اودريږی په ميدان عرفات کښې په خپله سورلئ باندې

حل اللغة > ①**راحلة**: سورلی ②**وقف، وقوفا (ض)**: حصاريدل [

---

(۱) تقدم تخريجه في حديث جابرﷺ الطويل)ـ
(۲) من حديث جابرﷺ اخرجه ابن ماجه في المناسك باب ۵۵ رقم ۳۰۱۲)ـ

تشريح ﴿ الوقوف علي الراحلة ﴾ مسئله دامام المسلمين دپاره په سورلۍ باندې سور وقوف کول افضل دی.

دليله ﴿ خکه چه د نبی ﷺ سنت هم دا دی. ([1])

جواز القيام علي القدمين ﴿ خوکه په خپلو پښو باندې اودريدلو.نوهم څه قباحت نشته.

دامام دعا کول اوخلقو ته د مناسك حج تعليم ورکول

وَيَدْعُووَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْمَنَاسِكَ او(امام دی.) دعا کوی.اوښائی دی. خلقو ته افعال دحج،

حل اللغة ﴿ ①مناسک: دَحج افعال او ارکان

تشريح ﴿ سنية الدعاء تعليم الناس المناسک ﴾ د کومو دعاگانو په باره کښې چه آثار راغلی دی.په هغې کښې يو اثرد علی ﷺ دی. (عن علی ﷺ أنه ﷺ قال أكثر دعائی ودعاء الأنبياء من قبلی عشية عرفة لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، يحی ويميت وهو حی لا يموت، بيده الخير، وهو علی كل شئ قدير، اللهم اجعل فی قلبی نوراً وفی سمعی نوراً وفی بصری نوراً اشرح لی صدری ويسر لی أمری وأعوذبك من وسواس الصدر وشتات الأمر وفتنة القبر اللهم إنی أعوذبك من شر مايلج فی الليل وشر ماتهب به الرياح)

د وقوف عرفه نه وړاندې غسل کول

(وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَغْتَسِلَ قَبْلَ الْوُقُوفِ بعرفة صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.اومستحب دی چه غسل اوکړی وړاندې دوقوف نه په عرفات وَيَجْتَهِدَ فِي الدُّعَاءِ اوکوشش اوکړی په دعا کښې،

حل اللغة ﴿ ①يجتهد، اجتهاداً: پوره کوشش کول

تشريح ﴿ الغسل قبل الوقوف بعرفة ﴾ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه د وقوف عرفات نه وړاندې غسل کول اوپه دعاکښې کوشش کول سنت دی.واجب نه دی.دمستحب وضاحت کوی.

علم وجوب الغسل ﴿ امام قدوری رحمه الله فرمائيلی دی.چه د وقوف عرفه نه وړاندې غسل کول سنت دی. واجب نه دی.نوکه په اودس ئې اکتفاء اوکړله.هم جائز ده.لکه څنګه چه جمعه اخترونو اوداحرم تړلو نه وړاندې غسل کول سنت دی.خوکه په اودس ئې اکتفا اوکړله. نوجائزده.

وجه المبالغة في الدعا ﴿ اوپه دعا کښې کوشش کول مستحب دی.خکه چه نبی ﷺ هم په دی. مقام کښې د خپل امت دپاره په دی. مقام کښې په دعا کښې ډير کوشش کړی وو.اود قتل ناحق اوظلمونو نه سوی چه کوم حقوق العباد دی.نودهغې په باره کښې هم ټولې دعاګانې قبولې شوې .

مزدلفې ته تګ کول

(فَإِذَاغَرَبَتِ الشَّمْسُ أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ مَعَهُ عَلَى هَيْنَتِهِمْ فرمائی اوکله چه ډوب شی نمر،نوراکوز به شی امام اوخلق دده سره په خپل وقار، حَتَّى يَأْتُواالْمُزْدَلِفَةَ تردې چه راشی مزدلفې ته. فينزلون بها نو دلته به کوز شی

حل اللغة ﴿ ①غرب، يغرب غروباً(ن): ډوبيدل **②افاض، افاضة:** واپس کيدل، روانيدل **③هيئة:** وقار

[1]) تقدیم تخریجه فی حدیث جابر ﷺ الطویل)۔

تشریح> الإفاضة من عرفات> په نهمه ذوالحجه د نمر د ډوبیدو نه پس به د ماښام مونځ کولو نه بغیر خلق د عرفات نه راکوز شي.اومزدلفي ته به روان شي.
دلائله> ځکه چه نبی ﷺ د نمر ډوبیدو نه پس واپس شوي وو. (١) ② بله دا چه په دي. کښي د مشرکانو د مخالفت اظهار دي.ځکه چه مشرکان به په جاهلیت کښي د نمر ډوبیدو نه وړاندي واپس کیدل.اونبی ﷺ به لار کښي په خپله اوښه قصواء باندي ډیره وقار اواطمینان سره روان وو. (٢)
جواز الدفع قبل الإمام> مسئله دا ده.که حاجی د ګڼړے د وجي د امام د روانیدو نه وړاندي د عرفات نه روان شو.اود عرفات د حدودو نه بهر نشو.نوجائزده.ځکه چه دي. ته د عرفات نه تګ نشي ونیلي.خو بیا هم خلاف اولی ده.بلکه افضل داده.چه په خپل ځاني قیام اوکړی.ددي دپاره چه د خپل وخت نه ادا مخکښي یعني د عرفات نه روانیدل متحقق نشي.
جواز التاخیر عن الإمام> دویمه مسئله دا ده.که حاجی د نمر ډبیدو نه پس اودامام د روانیدو نه پس لږ غوندي. تاخیر اوکړلو.نو په دي. کښي قباحت نشته.
دلیله> ځکه چه روایت شوي دي.چه حضرت عائشي رضی الله عنها د امام دتلو نه پس اوبه راوغوښتلي.او روژه ني ماته کړله.اوبیا روانه شوه.اوښکاره خبره ده.چه په اوبو راغوښتلو او روژه ماتی کښي به څه وخت لګیدلے وي.نومعلومه شوه.چه د امام د تلو نه پس اود نمر ډبیدو نه پس لږ وخت روستو کیدل څه قباحت نه لري.

په مزدلفه کښي جبل قزح سره نزدي. اودریدل

والْمُسْتَحَبُّ أَنْ يَّنْزِلُوْا بِقُرْبِ الْجَبَلِ اومستحب دا ده.چه کوز شی نزدي د غر سره الَّذِي عَلَيْهِ الْمُقِيْدَةُ يُقَالُ لَهٗ قُزَحُ هغه چه په هغي باندي انګیټئ ده.اوونیلی شي ورته قزح،

حل اللغة > ① اتي، اتیانًا (ض): راتلل ② میقدة: آتشدان دَدي نوم قزح دي ③ یتحرز، تحرزًا: بچ کیدل، احتراز کول ④ ینزل، نزولاً (ض) : راکوزیدل ⑤ مارة دَ مار جمع: دَتیریدو لار]
تشریح> الوقوف بقرب الجبل القزح> دحاجی دپاره مستحب دی.چه په مزدلفه کښي د جبل قزح سره نزدي. اودریږی.
دلیله> ځکه چه نبی ﷺ دي. سره نزدي. اودریدلي وو. (٣) اودغه شان حضرت عمرفاروق رضی الله عنه هم دي. سره نزدي. اودریلي وو.
ألتحرز في النزول عن الطريق> اوحاجی ته پکار دی.چه لاري ته نه راکوزیږی.بلکه ښی یا ګس طرف ته دي. راکوزیږی.ځکه چه په لار کښي راکوزیدو کښي تیریدونکو ته تکلیف ملاویږی.
القیام وراء الإمام> اودحاجی دپاره پکار دی.چه د مزدلفي په قیام کښي د امام شا ته اودریږی. دلیل هغه دي.کوم چه مونږ د عرفات په وقوف کښي د امام شا ته په اودریدو کښي بیان کړي دي.

---
(١) من حديث علي بن أبي طالب رضی الله عنه أخرجه أبوداود في المناسك باب ٦٣ رقم ١٩٢٢ مقطعاً والترمذی في الحج باب ٥٤ رقم ٨٨٥ وابن ماجه في المناسك باب ٥٥ رقم ٣٠١٠)
(٢) تقدم تخريجه في حديث جابر رضی الله عنه الطويل)
(٣) من حديث علي بن أبي طالب رضی الله عنه أخرجه أبوداود في المناسك باب ٦٣ رقم ١٩٢٢ مقطعاً والترمذی في الحج باب ٥٤ رقم ٨٨٥ وابن ماجه في المناسك باب ٥٥ رقم ٣٠١٠)_

قزح په ضمه د ،قاف، او ،د، په فتحه سره،دا لفظ د قزح په معنی د ارتفاع نه ماخوذ دې.د اوچتوالی دوجې دې. ته قزح وائی په دې. غربانديې انګيتې وه.چه هغه به د جاهليت په وخت کښې خلقو بلوله.اود هارون الرشيد په زمانه کښې به په مزدلفه بانديې شمع بلولې شوه.اود هارون الرشيد نه پس به لوئې لوئې ديوې بلولې شوې .

دامام مونځ په يو اذان اويو اقامت سره ادا کول

(وَيُصَلِّي الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ فِي وقت العشاء بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ)اومونځ دې ورکړی امام خلقو ته د ماښام اوماسخوتن په وخت د ماسخوتن کښې په يواذان او يو اقامت،

تشريح < **إقامة العشاء بمزدلفة** <مسئله دا ده.①چه امام دې. په مزدلفه کښې د ماښام او ماسخوتن مونځونه په يو اذان او يو اقامت بانديې جمع کړی (١)

دلائله <① دليل دحضرت جابر ﷺ حديث دې.چه نبی ﷺ په مزدلفه کښې د ماښام او ماسخوتن دواړه مونځونه په يواذان او يواقامت سره جمع کړی وو.

② دويم دليل دا دې.چه ماسخوتن په خپل وخت کښې ادا کيږی.نوخلقو ته د وخت داخليدو اعلان هډو څه ضرورت نشته

د مزدلفه په لار کښې د مونځ کولوحکم

(وَمَنْ صَلَّى الْمَغْرِبَ فِي الطَّرِيقِ لَمْ يُجْزِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللَّهُ،)(٢)اوچا چه مونځ اوکړلود ماښام په لار د مزدلفه کښې نونه جائز کيږی ورله په نيز د امام ابوحنيفه اوامام محمد رحمهما الله

تشريح < **عدم جواز المغرب في الطريق** <مسئله دا ده.①که حاجی د ماښام مونځ د مزدلفې په لار کښې اوکړلو.نود طرفينو رحمهما الله په نيزدا مونځ صحيح نه دې.بلکه په ده بانديې د صبا راختو نه وړاندې وړاندې ددې راګرځول واجب دی.

دليلهما < دطرفينو رحمهما الله دليل دا دې.چه حضرت اسامه بن زيد ﷺ د مزدلفې په لار کښې نبی ﷺ ته عرض اوکړلو.اې دالله پيغمبره! مونځ اوکړئ.نونبی ﷺ ورته اوفرمائيل.«الصلاة أمامك»يعنی د مونځ وخت ستا وړاندې دې.يعنی په مزدلفه کښې،ددې نه معلومه شوه.چه د ماښام مونځ روستو کول واجب دی.

وجه تاخيرها < اوددې روستو کول صرف په دې. غرض واجب دی.چه په مزدلفه کښې جمع بين ا لصلاتين اوشی.نوددې جمع بين الصلاتين دپاره به د صبا راختو نه وړاندې وړاندې دماښام د مونځ اعاده کوی. خو چه کله صبا راوخيژی.نوچونکه اوس د دواړو مونځونوجمع کول ممکن پاتې نشو. نو خکه د صبا راختو نه پس اعاده ساقطه شوه.

مذهب ابي يوسف رحمه الله < امام ابويوسف رحمه الله فرمائی.چه مونځ ټيک دې.البته د سنت په پريخودو سره ګناهګار شو.هم دا اختلاف په هغه صورت کښې دې.چه د ماښام مونځ په ميدان عرفات کښې اوکړی.

---

(١) **مذهب زفر**:- دامام زفر رحمه الله مذهب دا دې.چه په يو اذان او دوو اقامتونو به ئې جمع کوی.

(٢) القول الراجح هو هذا قول الطرفين رحمهما الله كذا في الدري لمختار(١٩٢\٢) والبحر(١٩٢\٢) والهندية (٢٣٠\١) نقلاً عن القول الراجح (٢١٢\١)۔

یعنی په دې. صورت کښې هم د طرفينو ﷭ په نيزماښام تيک نه دې.اود امام ابويوسف ﷫ په نيز ماښام صحيح دې.

دليله﴾ دامام ابويوسف ﷫ دليل دا دې.چه دې.حاجی دماښام مونځ په خپل وخت کښې اوکړلو.اوکوم مونځ چه په خپل وخت کښې اوشی.دهغې راګرځول واجب نه وی.نودغه شان ددې مونځ راګرځول هم واجب نه دی.لکه څنګه چه په هغه صورت کښې په ده باندې ددې راګرځول واجب نه دی.چه صبا راوخيژی.البته دومره خبره خامخا ده.چه د ماښام مونځ روستو کول سنت دی.نود سنت د پريخودو په وجه دا کس ګناهګار دې.

په لسمه ذوالحجه دصبا مونځ په تياره کښې کول

(فَإِذَاطَلَعَ الْفَجْرُصَلَّى الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الْفَجْرَبِغَلَسٍ)فرمائی اوکله چه راوخيژی صبا مونځ دې. ورکړی امام خلقو ته د صبا په تيارۀ کښې.

حل اللغة ﴾①غلس: تياره]

تشريح﴾ أداء صلاة الفجر بغلس﴾مسئله دا ده.چه کله د اختريه ورځ صبا شی.نوامام به خلقوته د صبا مونځ په تيارۀ کښې کوی.

دلائله﴾ ①دليل دحضرت عبدالله بن مسعود ﷛ روايت دې.چه نبی ﷺ په دغه ورځ د صبا مونځ په تياره کښې کړې وو([1])

②دويم دليل دا دې.چه د صبا د مونځ په تيارۀ کښې کول په مزدلفه باندې دوقوف دپاره دی.لکه څنګه چه په عرفات کښې دوقوف دپاره دمازيګرمونځ دخپل وخت نه وړاندې کولې شی. نو هرکله چه د وقوف عرفات دپاره د مازيګرمونځ دخپل وخت نه وړاندې کولې شی.نوپه مزدلفه کښې د وقوف دپاره خويه د صبا مونځ دخپل معتاد وخت نه په طريق اولی سره مخکښې کولې شی.اودا به جائز وی.

د صبا دمانځه نه پس دعا اووقوف کول

ثُمَّ وَقَفَ الْإِمَامُ وَوَقَفَ النَّاسُ مَعَهُ فَدَعَا بيا به اودريږی (امام) اوده سره خلق،اودعا به اوکړی.

حل اللغة ﴾ ①دعا، يدعوا، دعاءً(ن): دعا کول، رابلل

تشريح﴾ الدعاء بالمزدلفة﴾صاحب د قدوری ﷫ فرمائی.چه امام جبل قزح ته اورسی.نووقوف به اوکړی اوده سره به خلق هم وقوف اوکړی.اوامام اوخلق دې. په دې. خائې کښې دعاګانې کوی.

دليله﴾څکه چه دا خائې ددعا د قبليدو دی.هم دا وجه وه.چه نبی ﷺ کريم په دې. مقام کښې دعا کړې وه.اود حضرت عبدالله بن عباس ﷠ د روايت مطابق تولې دعاګانې ئې قبولې شوې وې.ترديّ. چه په ناحقه قتل کونکو اوظلم کونکو ته هم د معاف کولو دعائې قبوله شوې وه. ([2]) يعنی دقيامت په ورځ به الله تعالی ناحق مقتول اومظلوم ته دومره څه ورکړی.چه هغه دالله تعالی نعمتونو اوانعاماتو ته اوګوری.نوخپل مدعيان عليهم به معاف کړی.نودغه قاتل اوظالم به د مغفرت مستحق شی.

نوټ﴾ نبی ﷺ د خپل امت د قاتلانواوظالمانو دپاره هم د عرفې په ورځ د مغفرت دعا کړې وه.خوهغه نه وه قبول شوې .بلکه په مزدلفه کښې د وقوف په دوران کښې پوره شوه.نواوس دا اعتراض نشی

---

[1]) من حديث ابن مسعود ﷛ اخرجه الشيخان)ـ

[2]) تقدم من حديث جابر ﷛ الطويل)ـ

کیدي.چه د عرفي په ورځ دي. دواړه قسمه خلقو ته د ګناه نه معاف کول بیان شوی وو.اودلته قبولوالي بیانیږي.

وادي محسر موقف نه دی.

وَالْمُزْدَلِفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ إِلَّا بطن مُحَسِّرٍ)فرمائي اومزدلفه ټول ځائي د اودریدو دي.مګروادی محسر،

تشريح> مسئله واضحه ده

د نمرراختو نه پس منی ته روانیدل

(ثم أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ مَعَهُ بیا به روان شي امام اوخلق هغه سره قبل طلوع الشمس وړاندي د راختلو د نمر نه حَتّٰى يَأْتُوامِنِى ترديې چه اورسي منی ته،

تشريح> الإفاضة إلي مني > صاحب دقدوري رَحِمَهُ الله فرمائي.چه د يوم النحر نمر راوخیژی نو روان به شي امام اوخلق د مزدلفې نه منی ته به لاړ شي.

الكلام علي عبارة القدوري > صاحب دهدایه رَحِمَهُ الله په دې مقام کښې هغه نسخه نقل کړې ده په کوم کښې چې د «قبل طلوع الشمس» عبارت نشته او بیا ئې فرمائيلي دی .چه د قدوري په بعضې نسخوکښې دی. چه د نمر راختو نه وړاندې به منی ته روان شي.لکه څنګه چې زمونږ په پاکستانی نسخو کښې دی لکه چې صاحب د هدایه رَحِمَهُ الله د قبل طلوع الشمس واله نسخې غلطی بیان کړې ده خومونږ وایو.چه د قدوری دا عبارت هم ټیك دي. ځکه چه د (إذا طلعت الشمس) معنی به وی (إذا قربت إلى الطلوع) نو په دې. دواړو نسخو کښې څه تعارض نشته.

د جمره عقبه رمی

فَيَبْتَدِئُ بِجَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فَيَرْمِيهَا مِنْ بَطْنِ الْوَادِي نوشروع به کوی په (رمی د) جمره عقبه نه،نو اوولی به ئې د بطن وادی نه، بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ مِثْلَ حَصَاةِ الْخَذْفِ په اووه ګیټکو پشان د کاڼرو د ټیکرو،

حل اللغة > ① يرمي، رميا(ض) :غورزول ② حصاة: کاڼری ③ خذف: ټیکری

تشريح> مواضع أحكام الرمي> د رمی په باره کښې په دولس ځایونو کښې کلام دي.① وخت ئې يوم النحر اودرې ورځې ددې نه پس دی② د ویشتلو ځائې ئې بطن وادی دي.③ د رمی محل ئې درې ځايونه دی. جمره عقبه،مسجد خیف اوجمره وسطی.④ دګیټکو شمار دهرې جمرې سره اووه دی.⑤ مقدار د ګوټې د بند هومره دې. ⑥ د ویشتلو طریقه دا په کتاب کښې موجود ده.⑦ د رمی مقدارنودا هم په کتاب کښې ذکر ده.⑧ د ویشتونکی صفت دا دي.چه دې. به یا سور وی یا پیدل⑨ د ګیټکو غورځیدو ځائې⑩ دکوم ځائې نه چه ګیټکی راخلي.⑪ ګیټکی به څنګه وی.هغه دا چه د زمکې د جنس څنې به وی.

⑫ په اوله ورځ به صرف د جمره عقبه رمی کولې شی.اوپه باقی ورځو کښې به د درې واړو جمراتو رمی کولې شي.

رمي الجمرة العقبة > صاحب دقدروی رَحِمَهُ الله فرمائي.چه د رمی شروع به د جمره عقبه نه کیږی.نود وادی د بنګته حصې نه به اووه ګیټکی اولی.اودا ګیټکی به د ګوتود بندونو په برابر وی.اود مسواکې ګوټې په دده باندې ویشتلې شي.

دلیله ① دلیل دا دی چه نبی ﷺ کله منی ته تشریف یوړلو .نوبغیر د څه توقف نه ئې جمره عقبه ویشتې وه. ([1])② اونبی ﷺ فرمائیلی دی.په تاسویاندېکیتکی ویشتل لازم دی.په تاسوکښې دې بعضې خلق بعضو نورو ته تکلیف نه رسوی. ([2])

مقدار الحصاة په اوږدوالی اوپلنوالی سره د کیتکو اندازه ئې بیان کړله.چه د ګوتې د بند برابر به پلن اواوږد وی.خوکه ددې نه ئې په غټ کیتکی رمی اوکړله.نوهم جائز ده.ځکه چه مقصود د رمی حاصل شو.البته دومره ده چه په غټو کانړو دې رمی نه کوی.ګنې خلقو ته به تکلیف اورسی.

غوره خودا ده.چه رمی د بطن وادی نه اوکړی.خوکه د جمره عقبه دپاسه طرف نه ئې رمی اوکړله.نو هم جائز ده.ځکه چه د جمره نه څلورو طرفونو ځایونه د افعالو دحج دی.

(وَيُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ)اوتکبیربه وائی دهرکیتکی سره.

تشریح **التكبير عند الرمي** دهرکیتکی سره به الله اکبروائی لیله:

دلیله لکه څنګه چه د ابن مسعود اوابن عمرو ﷺ دحدیث نه معلومه شوې ده. ([3])

التسبح مكان التكبير خوکه د تکبیر په ځائې تسبیح اووائی.نوهم صحیح ده.ځکه چه ذکرالله حاصل شو.

او هم ذکرالله د رمی د آدابو څنې دې.

(وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا)اونه به اودریږی ددې (جمره عقبه) سره،

تشریح **عدم الوقوف عند الجمرة** حاجی به د جمره عقبه سره نه اودریږی.

دلیله ځکه چه رسول الله ﷺ هم نه وو اودریدلی. ([4])

(وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ مَعَ أَوَّلِ حَصَاةٍ)اوختمه به کړی تلبیه د اول کیتکی سره،

تشریح **قطع التلبية** اوداولنی کیتکی ویشتلو سره به تلبیه ونیل پریږدی.

دلائله ① ځکه چه دحضرت ابن مسعود ② او حضرت جابر ﷺ په حدیث کښې هم دا ذکر دی. ([5])

كيفية رمي الحصاة د رمی کیفیت دا دی چه کیتکے به د خپل ښی لاس د متې ګوتې په شا باندې کیږدی.اود مسواکې ګوتې په مدد سره به رمی اوکړی

د ذبح،حلق،اوقصراحکام

(ثُمَّ يَذْبَحُ إِنْ أَحَبَّ ثُمَّ يَحْلِقُ أَوْيُقَصِّرُ)بیا دې ذبح اوکړی که زړه ئې غواړی بیا دې سراوخرائی یا دې قصر اوکړی.

حل اللغة ① يذبح، ذبحاً(ف): حلالول ② يقصر، تقصيراً:وروکې کول

---

[1]) تقدم تخريج من حديث جابر ﷺ الطويل)۔

[2]) هذا قريب من حديث عمروبن الأحوص عن امه اخرجه ابوداود في المناسك باب ٧٧ رقم ١٩٦٦ وابن ماجه في المناسك باب ٦٤ رقم ٣٠٣١ واحمد في المسند (٥٠٣/٣)۔

[3]) أما حديث ابن مسعود ﷺ فأخرجه البخاري في الحج باب ١٣٧ رقم ١٧٤٩ ومسلم في الحج رقم ٣٠٥ ، وأما حديث ابن عمر ﷺ فأخرجه البخاري في الحج باب ١٤٠ رقم ١٧٥١)۔

[4]) من حديث ابن عمر ﷺ اخرجه البخاري في الحج باب ١٤٠ رقم ١٧٥١)۔

[5]) تقدم ما في معناه في الحديث الطويل لجابر ﷺ)۔

تشريح > **الذبح والحلق** > صاحب دقدوري رحمه الله فرمائي.چه د رمي جمره عقبه نه پس كه غواړي.نوقرباني دې اوكړي.او سردې اوخرائي يا دې قصر(د ويختوڅه حصه كټ كول) اوكړي.
دلائله > ① دليل دا دې.چه نبي ﷺ فرمائيلي دي.په نن ورځ يعني د نحر په ورځ اولنۍ نسك دا دې.چه مونږرمي اوكړو.بيا قرباني اوكړو.اوبيا حلق اوكړو. ([1])
② دويم دليل دا دې.چه حلق داحرام نه د وتلو په اسبابوكښې دې.اوقرباني هم د احرام نه د وتلو په اسبابو كښې ده.ګورئ محصرپه قرباني كولو سره حلاليږي.نوهركله چه قرباني اوحلق دواړه د حلالوالي د اسبابوځنې دي.نورمي به په دواړو باندې مقدم كولې شي.

د حلق افضليت

وَالْحَلْقُ أَفْضَلُ اوحلق غوره دې

تشريح > **فضل الحلق** > صاحب دقدوري رحمه الله فرمائي.چه د سرخريل واجب دي.اوكه ديو كس په سرباندې هډو ويخته نه وي.نوپه هغه واجب دي چه په خپل سرچاړه راښكي.
دليله > ① د حلق د افضليت دليل د نبي ﷺ حديث دې.په صحيحينوكښې راغلي دي.چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. (اللهم ارحم المحلقين قالوا والمقصرين يارسول الله قال اللهم ارحم المحلقين قالوا والمقصرين يا رسول الله قال اللهم ارحم المحلقين قالوا والمقصرين يا رسول الله قال ﷺ والمقصرين) ([2]) په حديث كښې سر خريونكو دپاره نبي ﷺ درې ځله د رحمت دعا كړې ده.اود قصر كونكودپاره يې يوځل درحمت دعا كړې ده.نود رحمت دتكرار دعا د حلق په افضليت باندې ښكاره دليل دې.
② دويم دليل دا دې.چه مقصود دبدن پاكول دي.اوپه دې.مقصود حاصلولو كښې حلق اكمل دې. د قصر نه.اوپه ويختو كټ كولو كښې د دې. مقصود په حاصلولوكښې كوتاهي ده.يعني په ويختو كټ كولو كښې پوره پاكي نه حاصليږي.نودا دغسل او اودس سره مشابه شو.دغه شان حلق د قصر نه افضل دې.

د حلق نه پس د جماع نه سوى ټول محظورات جائزكيدل

وَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ اويقيناً حلال شو ده دپاره هريوڅيزمګرزنانه،

حل اللغة > ① **حل، حلالاً**: حلال كيدل
تشريح > **حل كل شئ الا النساء** > فرمائي چه د حلق يا قصر نه پس د محرم دپاره هرهغه څيزحلال شو.كوم چه د احرم په وجه ممنوع وو.سوى د ښځو سره د جماع اود اسبابو دجماع نه، ([3])
دليله > دليل د نبي ﷺ قول دې.چه (حل له كل شئ الا النساء) ([1]) يعني د محرم دپاره (دحلق نه پس) هرڅيزحلال شو.اودا نص د امام مالك رحمه الله خلاف حجت دې.(ځكه چه قياس د نص په مقابله كښې مردود وي)

---

[1]) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم اخرج من حديث أنس بن مالك وعزاه إلى البخاري في الوضوء باب ۳۲ ومسلم في الحج رقم ۳۲۶ وابوداود في المناسك باب ۷۸ رقم ۱۹۸۱ والترمذي في الحج باب ۷۳ رقم ۹۱۲)۔
[2]) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما اخرجه البخاري في الحج باب ۱۲۷ رقم ۱۷۲۷ ومسلم في الحج رقم ۳۱۸)۔
[3]) **مذهب مالك** رحمه الله:- امام مالك رحمه الله فرمائي.چه د جماع پشان خوشبولګول هم حلال نه دي.

د اختر په ورځ مکې ته راتلل

(ثُمَّ يَأْتِي مَكَّةَ مِنْ يَوْمِهِ ذَلِكَ أَوْ مِنَ الْغَدِ أَوْ مِنْ بَعْدِ الْغَدِ فرمائي بيا به راشي هم په دغه ورځ (داختر) يا په صبا يا دصبا نه په بل صبا مكې ته، فَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ طَوَافَ الزِّيَارَةِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ) نوطواف به اوكړي د بيت الله نه طواف زيارت،اووه چكرو

حل اللغة > ①**يطوف، طوافا(ن)**: طواف كول، راتاويدل]

تشريح > **متي يذهب إلي مكة لطواف الزيارة** > فرمائي چه د اختر په ورځ به د رمي،حلق اوذبح نه پس هم په دغه ورځ مكې ته لاړ شي.يا په يو لسمه يا په دولسمه،بيا دې. د بيت الله طواف اوكړى.ددې طواف نوم طواف زيارت دې.اود حج په اركانو كښې يو ركن دې.

دليله > دليل دا دې.چه نبى ﷺ هم حلق كړې وو.بيا مكې ته تلې وو.اوديبت الله طواف ئې كړې وو.اوبيا ئې منى ته واپس تشريف اوړې وو.اوپه منى كښې ئې د ماسپخين مونځ كړې وو. (٢)

وقت طواف الزيارة > امام قدورى رحمه الله فرمائى.چه د طواف زيارت وخت د قربانۍ ورځې دى.يعنى يولسمه دولسمه او ديارلسمه د ذوالحجه،

دليله > حكه الله تعالى فرمائيلى دى.((فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ ۞ ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ۞)) په دې. كښې ئې طواف په قربانۍ باندې عطف كړې دې. او د معطوف او معطوف عليه دواړو وخت يو وى.ددې وجې د طواف اود قربانۍ وخت يو دې.البته دومره خامخا ده.چه قربانى ددې ورځو نه پس جائز نه ده.

طواف ددې ورځو نه پس هم سره د كراهته مشروع دې.اود طواف اول وخت ديوم النحر د صبا راختونه پس شروع كيږى.حكه چه د صبا راختو نه وړاندې د شپې وخت خود عرفې د وقوف وخت دې.اوطواف په وقوف باندې مرتب دى.يعنى د وقوف د وخت نه پس د طواف وخت دې.

فضل اليوم الأول للطواف > البته په دې. ورځو كښې اولنۍ ورځ د طواف زيارت دپاره غوره ده.لكه څنګه چه په دې. ورځو كښې اولنۍ ورځ د قربانۍ دپاره غوره ده.اوپه حديث كښې هم دا دى.چه په دې. ورځو كښې اولنۍ ورځ افضله ده.

د طواف زيارت نه پس سعى كول

فَإِنْ كَانَ سَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ پس كه د صفا او مروه په مينځ كښې ئې سعى كوله عَقِيبَ طَوَافِ الْقُدُومِ طواف قدوم نه پس لَمْ يَرْمُلْ فِي هَذَا الطَّوَافِ وَلَا سَعْيَ عَلَيْهِ نو په دې طواف كښې دې رمل نه كوى اونشته سعى په ده باندې،

حل اللغة > ①**سعي، سعيا(ف)**: سعى كول،كوشش

تشريح > **القاعدة في الرمل في طواف الزيارة** > مسئله دا ده.كه حاجى د طواف قدوم نه پس د صفا مروه په مينځ كښې سعى كړې وى.نو په طواف زيارت كښې به رمل نه كوى.او ددې نه پس سعى هم واجب نه ده.

---

(١) من حديث عائشة رضي الله عنها اخرجه ابوداود في المناسك باب ٧٧ رقم ١٩٧٨ والدارقطني في سننه (٢٧٦/٢) ـ

(٢) قال الزيلعي رحمه الله اخرجه مسلم عن عبدالله بن عمر انه افاض يوم النحر ثم رجع فصلى الظهر بمنى (نصب الراية ٩٣/٣)ـ

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ قَدَّمَ السَّعْيَ رَمَلَ فِي هٰذَا الطَّوَافِ اوکه وی چه نه ئې وی کړې سعی مخکښې ،نورمل به کوی په دې طواف کښې، وَيَسْعٰی بَعْدَهُ علی ما قدمناه) او سعی به کوی پس ددې نه، لکه څنګه چې مونږ وړاندې بیان اوکړو

تشریح﴾ الرمل في السعي﴿ اوکه اول ئې سعی په مینځ د صفا مروه کښې نه وی کړې.نو به دې. طواف کښې به رمل کوی.اوددې نه پس به سعی هم کوی.څکه چه سعی هم یو ځل مشروع شوې ده.اورمل هم یو ځل په داسې طواف کښې مشروع شوې دې.چه دهغې نه پس سعی وی.

د طواف نه پس دوه رکعته کول

وَقَدْ حَلَّ لَهُ النِّسَاءُ اوحلالې شوې دده دپاره زنانه،خو په حلق وړاندینی سره،

تشریح﴾ تحلیل الجماع﴿ اوحلالې شوې دده دپاره زنانه،
دلته دا یاد ساتل پکار دی چې د زنانو حلالیدل په طواف سره نه دې بلکه زنانه دده دپاره د هغه وخت نه حلالې شوې وې کله چې ده حلق اوکړو البته د حلق عمل چې د هر څیز حلالیدل دی هغه د زنانو په حق کښې روستو شوې وو.اوس چې کله ده طواف اوکړو نو د حلق عمل ښکاره شو چې جواز د وطی دې

د طواف زیارت شرعی حیثیت

(وَهٰذَا الطَّوَافُ هُوَ الْمَفْرُوضُ فِي الْحَجِّ)او دا طواف فرض دې. په حج کښې،

تشریح﴾ الطواف الرکن في الحج﴿ طواف زیارت په حج کښې فرض دې.اود رکن حیثیت لری.

دلیله﴾ څکه چه د الله تعالی په قول ((وَلْيَطَّوَّفُوا)) کښې هم ددې امر شوې دې.ددې دویم نوم طواف الافاضه اودریم نوم طواف یوم النحر دې.

وَيُكْرَهُ تَأْخِيرُهُ عَنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ)اومکروه دې. روستو کول ددې د دې. ورځو نه، وَإِنْ أَخَّرَهُ عَنْهَا لَزِمَهُ دَمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ)اوکه روستو ئې کړلو ددې (ورځو) نه نو لازمیږی پرې وینه په نیزد امام ابوحنیفه وقالا لاشئ علیه او صاحبین فرمائی چه په ده باندې هیڅ څیز نشته

تشریح﴾ وقت طواف الرکن﴿ امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه دا طواف د ایام النحر نه روستو کول مکروه تحریمی دې.ددې دلیل وړاندې تیرشوې دې.چه دا په ایام النحر پورې موقت دې.

وجوب الدم بالتاخیر عند ابي حنیفة رحمه الله ﴿ خوددې باوجود که دا طواف ئې ددې ورځو نه روستو کړلو.نود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز پرې دم لازمیږی .

دلائله﴾ ① دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه حدیث دې. دوی فرمائی چه کوم سړی نسک دبل نه روميے اوکړو نویده دم دې (۱)اوپه بعضې نسخو کښې د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ذکر دې.حدیث دا دې.چه څوک یونسک په بل باندې وړاندې کړلو.نوپه هغه باندې دم دې.

---

(۱) قال الزیلعی رحمه الله هکذا هو فی غالب النسخ ویوجد فی بعضها ابن عباس رضی الله عنهما وهو اصح رواه ابن ابی شیبة فی مصنفه عن ابن عباس رضی الله عنهما قال من قدم شیأ من حجه او اخره فلیهرق دما (کذا فی نصب الرایة۳/۱۵۶)۔

② دویم دلیل دا دې.چه کوم نسك په یومکان پورې مخصوص وی.نوکه د هغې نه روستو شی.دم به واجب وی.لکه که یوکس د میقات نه تیرشو.اوبیا ئې احرام اوتړلو .نوپه ده باندې دم واجبیږی.دغه شان چه کوم نسك په کومه زمانه پورې خاص وی.دهغې نه روستو شی.نودم به لازمیږی.په دې دواړو کښې جامع د د تاخیرنقصان پیدا کیدل دی.

د طواف زیارت نه پس منی ته تلل

(ثُمَّ يَعُودُ إِلَى مِنًى فَيُقِيمُ بِهَا) بیا به واپس شی منی ته،نودیره به شی هلته،

حل اللغة ﴿①يعود، عودًا (ن):واپس کیدل ②يقيم، اقامة: اودریدل،حصاریدل

تشریح ﴿ **الرجوع إلي مني بعدطواف الزيارة** ﴾صاحب دقدوری رحمه الله فرمانی.چه حاجی دې. د طواف زیارت نه پس منی ته لاړ شی.اوهلته دې. قیام اوکړی.

دلائله ﴾څکه چه وړاندې حدیث تیرشوې دې.چه نبی ﷺ د طواف زیارت نه پس منی ته واپس شو. او هلته ئې د ماسپخین مونځ اوکړلو. (١) ② دویم دلیل دا دې.چه په حاجی باندې لا رمی جمارباقی ده.اود رمی جمارمحل منی ده.ددې وجې هم منی ته تګ ضروری دې.

(فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِي مِنْ أَيَّامِ النَّحْرِ رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ کله چه زائله شی.نمر په دویمه ورځ د ورځود نحرنه،نورمی به کوی د درې واړوجمراتو، يَبْدَأُ بِالَّتِي تَلِي الْمَسْجِدَ فَيَرْمِيهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ شروع به کوی دهغې نه چه نزدې ده مسجد خیف ته،نو اولې به هغه په اووه ګیټکو، يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ ثُمَّ يَقِفُ عِنْدَهَا فيدعو تکبیر به وائی دهرې ګیټکی سره، او اودریږی به دهغې سره، او دعابه کوی ثُمَّ يَرْمِي الَّتِي تَلِيهَا مِثْلَ ذَلِكَ وَيَقِفُ عِنْدَهَا بیا به اولی هغه چه نزدې. وی هغې ته،ددې نه اواودریږی به دهغې سره، ثُمَّ يَرْمِي جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ كَذَلِكَ وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا بیا به اولی جمره عقبه،هم دغه شان اوند به اودریږی دهغې سره،

تشریح ﴾ **وقت رمي الجمرات الثلاث** ﴾بیا په یوولسمه ذوالحجه چه کله د نمر زوال اوشی.نود درې واړه جمراتو رمی به اوکړی.شروع به دهغه جمره نه اوکړی.کومه چه مسجدخیف سره متصل ده.دا به په اووه ګیټکو اوولی.اود هرویشتلو سره به تکبیر وائی.اودې. جمره سره په اودریږی.بیا به دغه شان دهغه جمره رمی اوکړی.کومه چه دې. سره نزدې. ده.اودې. دویمې جمرې سره به هم اودریږی.بیا به دغه شان د جمره عقبه رمی کوی.البته هغې سره به نه اودریږی.

دلیله ﴾هم داسې دحضرت جابر رضی الله عنه په حدیث کښې نقل دی.(٢)

الوقوف عند الجمرتين ﴾ په اولنۍ اودویمې جمره کښې به هغه ځائې کښې اودریږی.کوم ځائې کښې چه خلق اودریږی.هلته به دالله تعالی حمد اوثناء وائی.اوتکبیر اوتهلیل به وائی.اوپه نبی ﷺ به درود شریف وائی.اودعا به کوی.

---

١) تقدم تخريجه قبل واحدة من الحاشية۔

٢) قال الزيلعي رحمه الله غريب عن جابر رضي الله عنه والذي في حديثه الطويل أنه ﷺ رمى الجمرة العقبة يوم النحر لاغير ثم نقل ما يثبت منه هذه الكيفية وعزاه إلى البخاري (نصب الراية ٣/٩٥)۔

رفع الأيدي في الدعاء> صاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلی دی چې د جمرتینو سره چه کله اودریږی.نودواړه لاسونه به پورته کوی .اودعا به کوی.خکه چه په مشهورحدیث کښې نقل دی.چه د لاسونو پورته کولو نه مراد په دعا کښې لاسونه پورته کول دی.

القاعدة>صاحب دهدایه رحمه الله په هدایه کښې یوه قاعده ذکرکړې ده.چه هرهغه رمی چه د هغې نه پس بله رمی وی. نو اودریږی به،خکه چه دا کس اوس د عبادت په مینځ کښې دې.نوخکه به ددې په مینځ کښې دعا هم کوی.او د کومې رمی نه پس چه بله رمی نه وی.نود هغې نه پس به نه اودریږی.خکه چه اوس عبادت ختم شوې دې.هم دا وجه ده.چه په یوم النحر کښې د جمره عقبه نه پس اودریدل نه کیږی.

په دولسمه ورځ د رمی نه پس روانیدل

﴿فَإِذَا كَانَ مِنَ الْغَدِ رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ بَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ كَذَلِكَ اوکله چه شی صبا (دولسمه ورځ) نو رمی به اوکړی د جمراتو درې واړو پس د زوال د نمر نه،هم دغه شان،

تشریح> **الخیار في النفر في الثالث والرابع من أیام النحر**>مسئله دا ده.چه حاجی به د نحر د ورځو په دریمه ورځ یعنی په دولسمه ذوالحجه هم د نمر د زوال نه پس د وراندې پشان د درې جمراتو رمی اوکړی.اوس که دده تلوار وی.نود رمی نه پس دې. هم په دولسمه ذوالحجه باندې مکې ته روان شی.اوکه د ایساریدو اراده ئې وی.نود نحر د ورځو په خلورمه ورځ یعنی په دیارلسمه ورځ دې. هم د نمر د زوال نه پس د درې واړو جمراتو رمی اوکړی.اوبیا دې. مکې ته روان شی.هم ددې وجې د دولسمې ذوالحجه تلو ته نفراول وائی.اود دیارلسمې ذوالحجه روانیدو ته نفر ثانی وائی.

دلیله>دلیل دالله تعالی ارشاد دې.﴿فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ﴾ اوغوره دا ده.یعنی کوم کس چه دولسم تاریخ باندې زر روان شی.نوپه ده باندې هم څه ګناه نشته.اوخوك چه دیارلسمې ورځې ته ایساریږی.نوده باندې هم څه ګناه نشته.

الأفضل في النفر> صاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلی دی خوغوره هم دا ده.چه د دیارلسمې ذوالحجه پورې په منی کښې ایسارشی.

دلیله> خکه چه رسول الله ﷺ په منی کښې ایسار شوې وو.تردې چه په خلورمه ورځ یعنی د ذوالحجه په دیارلسمه ورځ ئې د درې واړه جمراتو رمی اوکړله.[1]

په دیارلسمه ذوالحجه مکې ته روانیدل

وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَتَعَجَّلَ النَّفْرَ نَفَرَ إِلَى مَكَّةَ او کله چې اراده اوکړی چې زر روان شی نو روان دې شی مکې ته وَإِنْ أَرَادَ أَنْ يُقِيمَ او که اراده لری چې ایسار شی رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ فِي الْيَوْمِ الرَّابِعِ نو اورمی دې اوکړی د درې جمراتو په خلورمه ورځ بَعْدَ الزَّوَالِ كَذَلِكَ پس د زوال نه

حل اللغة >①**ینفر،نفرا (ض)**: تلل، واپس کیدل ②**طلع، طلوع (ن)**: راختل [

تشریح>صاحب د قدوری رحمه الله فرمانی.چه حاجی ته د دیارلسمې ذوالحجه د صبا راختو نه وراندې وراندې مکې ته د تلو اختیاردې.اوکه په منی کښې ایساریږی نو هم ورته اختیار دې خو چې کله

[1]) من حديث عائشة رضي الله عنها أخرجه ابوداود في سننه وابن حبان والحاكم (نصب الراية ۹۷/۳)_

ایسار شی نو په خلورمه ورځ دې د زوال نه پس دې د درې واړه جمراتو رمی اوکړی او په منی کښې ایساریدو سره دا رمی واجب ګرځی

په دیارلسمه ذوالحجه د رمی وخت

فَإِنْ قَدَّمَ الرَّمْيَ فِي هَذَا الْيَوْمِ)اوکه وراندې نې کړه رمی په دې. ورځ (یعنی په خلورمه ورځ د ایام النحر ځني) (قَبْلَ الزَّوَالِ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ ([1])وراندې د زوال نه اوپس د راختو د صبا نه،نوجائزده په نيز د امام ابوحنيفه

حل اللغة ⟨①قدم، تقديمًا: مقدم کول، وراندې کول

تشريح⟨ حكم السعي قبل الزوال عند ابي حنيفة رحمه الله ⟨ صورت د مسئلې دا دې.چه په دیارلسمه ذوالحجه د نمر د زوال نه وراندې رمی جائز ده که نه ده؟①په دې. مسئله کښې دامام اعظم رحمه الله مذهب د جواز دې.اودا استحسان دې.

دلائله⟨دامام ابوحنيفه رحمه الله یودليل دا دې.①چه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه يو روايت دا مروی دې.چه په يوم النفر يعنی په دیارلسمه ورځ چه نمر اوچت وی.نورمی د جمراتو جائز ده.②دويم دليل دا دې.چه هرکله په دیارلسم تاريخ باندې د رمی پريخودل جائز ده.نودا به په درجه اولی سره جائز وی.چه د دیارلسم تاريخ په ټولو وختونو کښې رمی جائز شي.

وَقَالَا لَا يَجُوزُ اوفرمائی صاحبين رحمهما الله چه جائز نه ده،

تشريح⟨ مذهب الصاحبين⟨ اود صاحبينو رحمهما الله مذهب دعدم جواز دې.اوامام شافعی رحمه الله هم ددې قائل دې.

دليلهما رحمهما الله⟨صاحبينو رحمهما الله د دريالسمې ذوالحجه رمی د نورو ورځو په رمی باندې قياس کړې ده.يعنی لکه څنګه چه د يوولسمې اودولسمې ذوالحجې رمی د زوال نه وراندې جائز نه ده.دغه شان په دیارلسمه ورځ هم د زوال نه وراندې جائز نه ده.

الفرق⟨صرف دومره فرق دې.چه په دیارلسمه ذوالحجه باندې د رمی کولو نه بغيرتلل جائزدی.اوپه نورو ورځو کښې د رمی نه بغير تلل جائز نه دی.بهرحال په دیارلسم تاريخ د رمی نه بغير تلل جائزوو.خوچه ده د دې. رخصت نه فائده وانه خستله.نود دیارلسم تاريخ ورځ به هم د نورو ورځو سره لاحق شي.اودهغه ورځو حکم دا دې.چه د زوال نه وراندې رمی کول جائز نه ده. نوهم دا حکم به ددیارلسم تاريخ هم وی.

الجواب عنه⟨ددې په خلاف د يوولسم او دولسم تاريخ رمی چه په هغې کښې د مشهور روايت مطابق د زوال نه پس رمی جائز ده وراندې جائز نه ده.ځکه چه په دغه دواړو ورځو کښې رمی پريخودل جائز نه دی.نوحکم به په هغه اصل باقی وی.کوم چه روايت شوې دې.يعنی د زوال نه پس.

([1]) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (١\١٤١) وردالمحتار(٢\٢٠٠) والبحرالرائق (٢\٣٤٩) نقلاً عن القول الراجح (١\٢١٣)-

مکې ته سامان لیږل اومنی کښې ایساریدل

وَيُكْرَهُ أَنْ يُقَدِّمَ الإنسان ثَقَلَهُ إِلى مَكَّةَ) فرماني اومکروه دی چه اولیږی سړی سامان خپل مکې ته وَيُقِيمَ بِهَا حَتّٰى يَرْمِيَ او ایساریږی به په منی کښې تردې. چه رمی اوکړی

حل اللغة ﴿ ① **ثقل**: بوج، دمسافرسامان]

تشریح ﴿ تشریح واضح ده.

مکې ته په واپسئ کښې مقام محصب کښې ایساریدل

فَإِذَا نَفَرَ إِلى مَكَّةَ نَزَلَ بِالْمُحَصَّبِ) اوکله چه روان شی مکې ته نوایساریه شی مقام محصب کښې

تشریح ﴿ **النزول بالمحصب** ﴿ محصب دمکې اومنی په مینځ کښې د یو کانړیجن مقام نوم دې.دا مقام د مکې په نسبت منی ته زیات نزدې. دې.

دلیله ﴿ ددې مقام تاریخی حیثیت دا دې.چه کله نبی ﷺ د نبوت دعوی اوکړله.اود شرك د بطلان حکم اعلان ئې اوکړلو.نودقریشو ټولې قبیلې په دې. مقام محصب کښې راجمع شوې . اوټولو په دې. خبره قسمونه اوخوړل اووعدې. ئې اوکړلې.چه دخاندان نبوت یعنی بنوهاشم اوبنو مطلب سره بیخی تعلق پریږدئ.نه به دوی سره لین دین کولې شی.اونه به ورسره خوراك څکاك کولې شی.آخردا چه ابوطالب صاحب ټول مسلمانان او بنوهاشم واخستل اودې غر ته لاړو.اومشرکانو دغه معاهده اولیکله اوپه خانه کعبه کښې ئې زوړنده کړه.درې کاله هم داسې تیر شو.او بنوهاشم ته ډیر تکلیفونه ملاؤ شول.د الله تعالی پیغمبر ﷺ د وحی په ذریعه خلقو ته خبر ورکړلو.چه د معاهدې. دغه لیکل وینو(یوقسم چینجی دی) خوړلې دې.صرف د الله تعالی نوم په کښې باقی دې.حضرت ابوطالب کافرانو ته ددې خبر ورکړلو.نوهغوی په غصه شو.او وې وئیل که دا خبره رښتیا وی.نوموږ به تاسو سره تعلقات بحال کړو.ابوطالب صاحب ورته د نبی ﷺ په اشاره سره اووئیل.که داسې نه وی شوې .نوموږ به تاسو ته محمد حواله کړو.آخر دا چه د قریشوسرداران راجمع شو.اود خانه کعبې دروازه ئې پرانستله.اوچه لوظ نامه ئې اوکتله.نود نبی ﷺ خبره سل فیصده ټیك وه.مشرکان ډیرحیران شو.مشرکانو خپله وعده پوره کړه.اود بنوهاشم سره ئې تعلقات شروع کړل. (¹) ددې واقعې نه څه موده پس مکه معظمه فتح شوه.اود حجاز په زمکه اسلامی حکومت قائم شو.نو نبی ﷺ د حج په موقع په منی کښې خپلو صحابوﷺ ته اوفرمائیل.چه موږ به صباته خیف بنوکنانه کښې ایساریږو. (²) نود فیصلې مطابق نبی ﷺ قصداً هلته کښې ایسار شو.اواوس دلته ایساریدل سنت شو.دا دلته ددې دپاره ایسارشو.چه مشرکانو ته دالله تعالی کارونه اوښائی.چه پرون په دې. مقام باندې ستاسو قبضه وه.اونن الله تعالی موږ ته غلبه راکړه.نن صبا اگرچه هلته مشرکان نشته.خود مشرکانو په مقابله کښې دخپل اوچت مقام اظهاردپاره دې. دلته خامخا ایساریږی.لکه څنګه چه په طواف کښې رمل نن هم موجود دې.(اگرچه د رمل کول د یوعارضی سبب د وجې وو.هغه سبب زائله شوې دې.خونن هم رمل باقی دې. د دې تفصیل وړاندې تیر

(¹) من حديث اسامه بن زيد ﷺ اخرجه البخاری في الجهاد باب ۱۸۰ رقم ۳۰۵۸ ومسلم في الحج رقم ۴۳۹ وأبوداود في المناسك باب ۸۶ رقم ۲۰۱۰ وابن ماجه في المناسك باب ۲۶ واحمد في المسند (۲۰۲/۵)۔

(²) من حديث ابي هريرة ﷺ اخرجه البخاری في المغازی باب ۴۸ ومسلم في الحج رقم ۳۴۳)۔

شوي دي.نودغه شان نن هم په مقام محصب کښې ایساریدل سنت دی) بهرحال کله چه حاجی دمنی نه مکې ته روانیږی.نوپه مقام محصب کښې به ایساریږی.

د طواف صدر حکم

ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ بیا به داخل شی مکې ته اوطواف به اوکړی د بیت الله نه اووه خله. **لَا يَرْمُلُ فِيهَا وَهٰذَا طَوَافُ الصَّدْرِ** رمل به نه کوی په دې. کښې،اودا طواف صدر دې.

حل اللغة > ① **دخل، دخولاً (ض)**:داخلیدل ② **لايرمل، رمل رملاً (ن)**:اوږې خوزولوسره منډه وهل

تشریح > **طواف الصدر بعد الرمي** > په منی کښې د حج د ټولوافعالو ادا کولو نه پس چه حاجی مکې ته داخل شی.نود بیت الله نه به اووه چکرې اولګوی.اوپه دې. طواف کښې به رمل نه کوی.دې. طواف ته طواف صدر،طواف وداع او(دحج په موسم کښې) د ټولونه آخری طواف دې.ددې طواف نوم طواف وداع ځکه دې.چه دا طواف د بیت الله نه د واپس کیدو په وخت کښې کیږی.

وَهُوَوَاجِبٌ اودا طواف واجب دې

تشریح > **وجوب طواف الصدر** > طواف صدر واجب دې (١)

دليله > دلیل دا دې.چاچه د بیت الله حج اوکړلو.نودده آخری عمل پکار ده چه طواف د بیت الله وی.

الإستدلال بحديث رخصة الحيض > ① او حائضوښځوته ئې رخصت ورکړې دې.یعنی د حائضو اونفاسو ښځوپاره د طواف صدر نه بغیر تلل جائز دی.په دې. حدیث کښې (فليكن) امر دې.اوچه قرینه صارفه نه وی.نوامر دپاره د وجوب وی.نوثابته شوه چه طواف صدر واجب دې.② دویمه وجه دا ده.چه نبی ﷺ حائضو ښځو ته حکم ورکړې وو.چه دوی بغیرد طواف صدر نه لاړې شی. (٢) دا هم د وجوب دلیل دې.ګنی د رخصت د تخصیص به بیا څه فائده وی.(که طواف صدر واجب نه وو.نونبی ﷺ به ورته ولې وئیل.چه زه خیردې. تاسو دا طواف مه کوئ.هغوی به په خپله د طواف کولو نه بغیر روانې شوې وې)

إِلَّا عَلَىٰ أَهْلِ مَكَّةَ خوپه اهل مکه باندې دا طواف نشته.

تشریح > **عدم وجوب طواف الصدر علي اهل مكة** > صاحب د قدوری فرمائی چه د مکې په خلقو طواف صدر واجب نه دې

دليله > ځکه چه د مکې اوسیدونکی نه خو چرته روانیږی او نه بیت الله ته وداع وائی

ثُمَّ يَعُودُ إِلَىٰ أَهْلِهِ بیا به واپس شی خپل اهل وعیال ته.

تشریح > **العود الي اهله** > بیا خپل وطن ته واپس شی.

دليله > ځکه چه په داسې کولو کښې د رسول هاشمی اتباع ده. (٣)

---

(١) **مذهب شافعي**:-اودامام شافعی رحمه الله په نیز سنت دې.

(٢) من حديث إبن عباس رضي الله عنهما اخرجه البخاری في الحيض باب ٦ ومسلم في الحج رقم ٣٧٩ وأبوداود في المناسك باب ٨٣ والنسائي في الصيام باب ٦٤ وابن ماجه في المناسك باب ٨٢ -

(٣) من حديث عمروبن شعيب عن أبيه شعيب رضي الله عنه اخرجه ابوداود في سننه في المناسك باب ٥٤ رقم ١٨٩٩ وابن ماجه في المناسك رقم ٢٩٦٢ -

كيفية الرجوع الي اهله > دبعضې عالمانو رحمهم الله خيال دي.چه د بيت الله نه رخصتيږي.نو به شا دې. راځي.چه مخ ئې خانه كعبې ته وي.اود بيت الله په جدائي باندې د افسوس اظهار كوي.اوسترګې ئې داوښكو ډكې وي.هم په دې. طريقه دې. د مسجد حرام نه رابهر شي.تردې. ځائې پورې د حج پوره طريقه بيان شوه.

د محرم مكې ته د داخليدو نه بغير عرفات ته تلل

فَإِنْ لَمْ يَدْخُلِ الْمُحْرِمُ مَكَّةَ وَتَوَجَّهَ إِلَى عَرَفَاتٍ فصل اوكه داخل نشو محرم مكې ته او لاړو عرفات ته. وَوَقَفَ بِهَا عَلَى مَا قَدَّمْنَاهُ سَقَطَ عَنْهُ طَوَافُ الْقُدُومِ او وقوف ئې اوكړو په هغې كښې بنا په هغه طريقه چه مونږ بيان كړې ده.نوساقط شو دده نه طواف قدوم،

تشريح > **جواز التوجه إلي عرفات من غير دخول مكة** > په دې. فصل كښې دځو متفرقو مسئلو ذكر دې. . اولنۍ مسئله دا ده.چه محرم مكې ته د داخليدو نه بغير نيغ عرفات ته لاړ شي.اوهلته په هغه طريقه وقوف اوكړي.كومه چه شريعت بيان كړې ده.نودده د ذمې نه طواف قدوم ساقط شو.
دليله > ځكه چه طواف قدوم په اول دحج كښې په داسې طريقه باندې مشروع دې.چه د حج نور ټول احكام په دې. باندې مرتب دي.نوددې طريقې نه علاوه په بله طريقه به طواف قدوم سنت نه وي.

وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ بِتَرْكِهِ اونشته څه څيز په ده باندې په پريخودو ددې (طواف قدوم)

تشريح > **عدم وجوب شئ بتركه** > اود طواف قدوم په پريخودو په ده باندې دم وغيره نه واجبيږي.
دليله > ځكه چه طواف قدوم سنت دې.اود سنت په پريخودو نقصان پوره كونكې څيز نه واجبيږي.

د وقوف عرفه وخت

وَمَنْ أَدْرَكَ الْوُقُوفَ بِعَرَفَةَ مَا بَيْنَ زَوَالِ الشَّمْسِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ اوچاچه رالاندې. كړو وقوف په (ورځ) د عرفې په مينځ د زوال د نمر هم په دغه ورځ (چه نهمه د ذوالحجې ده) إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ ترصبا د ورځې د اختر پورې،نوده رالاندې كړلو حج،

تشريح > **ادراك الوقوف بعرفة** > د وقوف عرفات وخت د عرفې په ورځ د نمر د زوال نه پس شروع كيږي.نوكه يو حاجي د نمرد زوال نه پس تر د يوم النحر د صبا راختلو پورې په كوم وخت كښې هم وقوف اوكړلو.نودده حج ادا شو.[1]
دلائله > دليل دادې.① چه نبي ﷺ د زوال نه پس وقوف كړې وو.ددې حديث نه د وقوف اول وخت معلوم شو. [2] ②دويم حديث كښې دى.چه نبي ﷺ فرمائيلي دى.چا چه په شپه كښې وقوف د عرفات رالاندې كړو.نوده حج رالاندې. كړلو.اوچا چه په شپه كښې هم وقوف عرفات لاندې. نكړلو.نوده نه حج فوت شو. [3] په دې. حديث كښې د وقوف عرفات د آخرى وخت بيان دې.ددې دواړو حديثونو نه

---

[1] **مذهب مالك** رحمه الله:- دامام مالك رحمه الله قول دا دې.چه د وقوف عرفات وخت د عرفې په ورځ د صبا راختو نه د نمر راختو نه پس شروع كيږي.

[2]) تقدم تخريجه في حديث جابر رضي الله عنه)

[3]) من حديث عبدالرحمن بن يعمر الديلمي رضي الله عنه أخرجه أبوداود في الحج باب ٦٨ رقم ١٩٣٩ والترمذى في الحج باب ٥٧ رقم ٨٨٩ والنسائي في المناسك باب فرض الوقوف بعرفة وابن ماجه في المناسك باب ٥٧ رقم ٣٠١٥)۔

معلومه شوه.چه د وقوف عرفات وخت د عرفې په ورځ د زوال نه پس شروع کیږي.اود یوم النحر د صبا راختلو نه وړاندې پورې وي.

دخوب یا بیهوشۍ په حالت کښې وقوف عرفات

(وَمَنْ اجْتَازَ بِعَرَفَةَ نَائِمًا أَوْمُغْمى عَلَيْهِ اوخوك چه تيرشو د عرفات نه په حالت خوب يا بيهوشۍ کښې أَوْ لَمْ يَعْلَمْ أَنَّهَا عَرَفَةُ يا دې نه پوهيدلو چه دا عرفات دې.اجزاه ذلك عَنِ الْوُقُوفِ)نوجائزدې. ورلـه د وقوف (عرفات) نه

حل اللغة ﴿ ① **اجتاز، اجتيازًا**: تيريدل ② **مغمي عليه**: په چا چه بې هوشي راشي

تشريح ﴿ **صور الوقوف بعرفة** ﴿ صورت د مسئلې دا دې.چه حاجی په حالت د خوب یا بیهوشۍ کښې د عرفې په ورځ د عرفات نه تيرشي.ياده ته دا پته اونه لګي.چه د کوم ځائي نه زه تيريږم.دا عرفات دې.په دې. دري واړه صورتونو کښې وقوف عرفات ادا شو.ځکه چه وقوف عرفات د حج رکن دې.اوهغه موجود شو.پاتې شوخوب اوبيهوشي نو دا د وقوف سره منافي نه دی.لکه څنګه چه یوکس د صبا نه د روژې نيت اوکړلو.اوبيا ټوله ورځ اوده يا بيهوشه وو.نودده روژه ادا شوه

خلاف الصلاة ﴿ په خلاف د مانځه ځکه چه مونځ د بیهوشۍ سره باقی نه پاتې کیږي.اوپاتې شوه داخبره چه عرفات نه پيژني.نودا خبره په نيت کښې خلل پيدا کوي.يعنی چه دکوم ځيز نيت نه وی.نوهغه معتبر نه وی.خودا خبره ده.چه د هر رکن دپاره نيت شرط نه دې.نود وقوف دپاره هم نيت شرط نه دې.اوهرکله چه نيت شرط نشو.نوچه عرفات نه پيژني.اوتيرشي.نودا هم څه ضرر نه رسوي.

د ښځې اود سړي په احكامو كښې فرق

(وَالْمَرْأَةُ فِي جَمِيعِ ذَٰلِكَ كَالرَّجُلِ)اوښځه په دې ټولو حكامو كښې پشان دسړي ده.

تشريح ﴿ **تسوية الرجل والمرأة في أحكام الحج** ﴿ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائي.چه ښځه دحج په ټولواحكامو كښې د سړو پشان ده.ځکه چه د الله تعالى خطاب ﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ﴾ ښځو اوسړو ټولو ته شامل دې.نوکوم کارونه چه سړي کوي هغه به ښځه هم کوي.سوې د یو څو ځیزونو نه،

غَيْرَ أَنَّهَا لَا تَكْشِفُ رَأْسَهَا البته دا چه دا به نه ښکاره کوی سرخپل،

تشريح ﴿ **عدم تغطية وجهها** ﴿ مثلاً دښځې دپاره د سرښکاره کول جائز نه دی.

دليله:ځکه چه دښځې سر هم عورت دې.يعنی واجب الستر دې.

وَتَكْشِفُ وَجْهَهَا)اوښكاره كوى به مخ خپل

تشريح ﴿ **كشف الوجه** ﴿ ښځه به خپل مخ ښکاره ساتی.

دلائله ﴿ ① ځکه چه په حديث کښې دی.چه د ښځې احرام ددې په مخ کښې وی. [1] البته دا كه ښځې په خپل مخ باندې کپړه يا بل څه ځيز زوړند کړلو.اوهغه ئې د مخ نه جدا اوساتلو.نوجائزده.

② دويم دليل دا دې.چه دا جامه وغيره زوړندول په کجاوې سره سورې حاصلولو سره مشابه شو.اود کجاوې نه سورې حاصلول جائزدې.نودغه شان په دې سره هم سورې حاصلول جائز شو.

[1]) تقدم تخريجه في باب الإحرام)_

وَلَا تَرْفَعُ صَوْتَهَا بِالتَّلْبِيَةِ او نه به پورته کوی اواز خپل په تلبیه باندې

تشريح﴾ عدم رفع الصوت بالتلبية والرمل والسعي﴾ اوښځه به د تلبیه ونیلو په دوران کښې آواز نه اوچتوی.
دليله﴾ ځکه چه د آواز په اوچتولو کښې د فتنې ویره ده.

(وَلَا تَرْمُلُ وَلَا تَسْعٰى بَيْنَ الْمِيلَيْنِ او رمل به نه کوی او په منډه به نه وهی په مینځ د میلین اخضرین کښې،

تشريح﴾ عدم الرمل والسعي في الطواف ﴾ اوپه طواف کښې به رمل نه کوی.اود میلین اخضرین په مینځ کښې به منډه نه وهی.
دليله﴾ ځکه چه دا دواړه څیزونه د عورت په پټولو کښې خلل پیدا کوی.

وَلَا تَحْلِقُ وَلٰكِنْ تُقَصِّرُ) اوښځه به ویخته نه خروی البته قصر به کوی.

تشريح﴾ عدم الحلق﴾ اوښځې به سرنه خروئی.بلکه قصربه کوی.
دلائله﴾ ① ځکه چه دالله تعالی رسول ﷺ ښځې حلق نه منع کړی دی.اود قصرحکم ئې ورته کړې دې.[1]
② دویم دلیل دا دې.چه دښځو په حق کښې حلق مثله یعنی ممنوع حده پورې د شکل خرابول دی.لکه څنګه چه د سرو دپاره د ږیرې خرائیل مثله ده.

د (حج) قران بیان

بَابُ الْقِرَانِ

دا باب د (حج) قران په بیان کښې دې.

تشريح﴾ الربط بما قبله﴾ مصنف رحمه الله د حج مفرد د احکامو نه فارغ شو.نواوس به د حج مرکب یعنی قران اوتمتع بیان کوی.خوچونکه زمونږ په نیزحج قران د حج تمتع نه افضل دې.ځکه دحج قران احکام وړاندې بیانولې شی.

الأقسام الأربعة للمحرم﴾ دا یاد ساتئ چه د محرم څلور قسمونه دی.① مفرد بالحج دکوم بیان چه په وړاندې باب کښې تیرشوې دې.② مفرد بالعمره څوك چه په زړه کښې د عمرې نیت اوکړی.اوتلبیه د عمرې اووائی.اوبیا دعمرې افعال ادا کړی.③ قران قارن هغه دې چه دحج اوعمرې دواړو دپاره نیت اوکړی.اوبیا بغیرد احرام پرانستلو نه حج اوکړی.④ تمتع حاجی متمتع هغه دی.چه هغه د عمرې احرام اوتړی.اوعمره ادا کړی.بیا هم په دغه کال دحج په موسم کښې دحج دپاره احرام اوتړی.اودحج افعال ادا کړی.

---

[1]) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم قال كانه حديث مركب لنهى النساء عن الحلق به احاديث منها ما رواه الترمذى (في الحج باب ٧٥ رقم ٣١٤ والنسائى في الزينة رقم ٣٧٦) ...عن على رضي الله عنه قال نهى رسول الله ﷺ ان تحلق المراة راسها .....واما امرهن بالتقصير فاخرجه ابوداود في سننه (في المناسك باب ٧٨ رقم ١٩٨٤) ... ان ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ ليس على النساء الحلق إنما على النساء التقصير،كذا في نصب الراية (٣/١١١)۔

د حج قران افضلیت

اَلْقِرَانُ اَفْضَلُ عِنْدَنَا مِنَ التَّمَتُّعِ وَالْاِفْرَادِ قران غوره دې د تمتع او افراد نه، زمونږ په نزد

حل اللغة ◄ ① **قران:** دَ حج یوقسم

تشریح ◄ **الأقسام الثلاثة للحج** ◄ د محرم بالحج درې قسمونه دی.

① مفرد بالحج ② قارن ③ متمتع

فضل القران علی غیرها ◄ زمونږ په نیز قران افضل دې. [1]

دلائله ◄ ① دلیل دا دې.چه نبی ﷺ فرمائیلی دی.اې د محمد اولادهٔ تاسو حج اود عمرې احرام په یوخائي تړئ.

(غوراوکړئ د الله تعالی پیغمبر خپل اهل عیال ته د حج او عمرې دواړو په یوخائي د احرام تړلو حکم کړې دې.اودواړو دپاره په یوخائي احرام تړل قران دې.اودا هم ښکاره ده.چه پیغمبر ﷺ خپل اولاد ته د افضل څیز حکم کوی دمفضول څیز حکم نه کوی.نوثابته شوه چه قران افضل دې

② دویم دلیل دا دې.چه د قران په صورت کښې حج او عمره دواړه عبادتونه جمع کیږی. نودا داسې شوه لکه چه یوکس په رمضان کښې روژه او اعتکاف دواړه جمع کړی،اویوکس دجهاد په میدان کښې د تهجدو مونځ او داسلامی لښکرڅوکئ دواړه کوی.

دحج قران طریقه

(وَصِفَةُ الْقِرَانِ اَنْ يُّهِلَّ بِالْعُمْرَةِ وَالْحَجِّ مَعًا مِنَ الْمِيْقَاتِ صاحب دقدوری رحمه الله فرمائي. او طریقه د قران دا ده.چه احرام اوتړی دحج او د عمرې په یوخل دمیقات نه، وَيَقُوْلُ عَقِيْبَ الصَّلَاةِ: اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهُمَا لِيْ وَتَقَبَّلْهُمَا مِنِّيْ او اووائی پس د تلبیه نه اې الله زه اراده لرم دحج اود عمرې،او آسان کړې دا دواړه ماته او قبول ئې کړې زما نه،

تشریح ◄ **کیفیة القران** ◄ شیخ ابوالحسن رحمه الله فرمائي.چه د قران طریقه دا ده.چه د میقات نه د حج اوعمرې دواړو دپاره احرام اوتړی.اوپه یوځائې تلبیه اووائی.اود احرام د مونځ نه پس دې دا دعا اوکړی.چه اې الله زه اراده لرم د حج او د عمرې ته ئې آسان کړې ماته او قبول ئې کړې زما نه،

نیة القران بعد أقل أشواف العمرة ◄ صاحب دقدوری رحمه الله فرمائي.که یوکس صرف د عمرې احرام اوتړلو .اود طواف په اووه چکرونو کښې د څلورو نه کم اوکړی.مثلاً درې چکرې ئې وهلې وی.اوبیا د حج نیت اوکړی.نودا کس اوس هم قارن ګرځی.اودده حج به حج قران وی.څکه چه تراوسه پورې د طواف زیات چکرونه باقی دی.نواکثر د کل قائم مقام شو.اودا به وئیلې شی.چه تراوسه پورې ده د عمرې طواف نه دې کړې.اوهرکله چه د عمرې دپاره طواف نه دې شوې.نوحج اوعمره دواړه متحقق شول.

دعاء التیسیر ◄ اوکله چه د دواړو د ادا کولو قصد اوکړی.نوپه دواړو کښې د آسانیتا پیدا کولو دپاره به دعا اوکړی.اود عمرې افعال دې ورانديې ادا کړی.اود حج افعال دې بیا .اوپه تلبیه کښې دې داسې وائی.(لبیك بعمرة وحجة معا) څکه چه د قران په صورت کښې چه کله شروع د عمرې نه کیږی.نوپه تلبیه کښې به هم هغه مقدم کولې شی.خوددې باوجود که په تلبیه کښې ئې عمره روستو اوونیله.نوڅه باك

---

[1] (اختلاف ملك الشافعي)-دامام شافعی رحمه الله په نیزافراد افضل دې.اودامام مالك رحمه الله په نیزتمتع افضل دې.

په کښې نشته.ځکه چه په ﴿حجة وعمرة﴾ کښې واؤ دپاره د جمع راځي.البته عمره مقدم کول افضل دی.ځکه چه الله تعالی په خپل قول ﴿فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ﴾ کښې عمره مقدم کړې ده.

عدم شرطية التلفظ بالحج والعمرة﴿صاحب د هدایه رحمه الله فرمانیلی دی.که یو کس صرف په زړه سره نیت اوکړلو.اوحج اوعمره ئې په تلبیه کښې ذکر نکړه.نوجائزده.لکه څنګه چه په مانځه کښې په ژبې سره نیت کول شرط نه دي.دغه شان دلته (دحج په باب) کښې هم په ژبې سره نیت کول شرط نه دي.

د قارن مکې ته داخلیدل

فَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ ابْتَدَأَ بِالطواف فَطَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ کله چه داخل شی مکې ته نو شروع به کوی په طواف د بیت الله اووه چکرې يَرْمُلُ فِي الثَّلَاثِ الْأُوَلِ مِنْهَا رمل به کوی په دریو اولنو کښې ددې نه، وَيَمْشِي فِيمَا بَقِيَ عَلَى هَيْئَتِهِ او تګ به کوی په باقی چکرونو کښې په خپل وقار سره وَسَعَى بَعْدَهَا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ اوسعی به کوی پس ددې نه په صفا اومروه کښې، ،،وَهَذِهِ أَفْعَالُ الْعُمْرَةِ،اودا افعال د عمرې دی. ثُمَّ يَطُوفُ بعد السعي طَوَافَ الْقُدُومِ بیا طواف کوی پس د سعی نه طواف قدوم وَيَسْعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ اوسعی به کوی په مینځ د صبا او مروه کښې كَمَا بَيَّنَّا فِي حَقِّ الْمُفْرِدِ لکه څنګه چه مونږ بیان کړل په (بیان د حج) مفرد کښې،

حل اللغة ﴿ ① دخل، دخولاً (ن): داخلیدل ② يطوف، طوافاً (ن): طواف کول، تاویدل ③ جناية: ګناه جرم]

تشریح﴿ **إبتداء القارن بالعمرة**﴿صورت د مسئلې دا دې.چه حاجی قارن مکې ته داخل شی.نوطواف قدوم به نه کوی.بلکه د عمرې افعال به شروع کوی.نو اول دې طواف اوکړی.اود طواف په اولنو دریو چکرونو کښې دې رمل اوکړی.بیا دې د صفا مروه په مینځ کښې سعی اوکړی.دا خود عمرې افعال وو.اوبیا دې د حج په افعالو شروع اوکړی.نود مفرد بالحج پشان دې اول طواف قدوم اوکړی.بیا دې سعی اوکړی.

د قارن دپاره د ذبح حکم

وَإِذَا رَمَى الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ ذَبَحَ شَاةً أَوْ بَقَرَةً أَوْ بَدَنَةً أَوْ سُبْعَ بَدَنَةٍ أَوْ سُبْعَ بَقَرَةٍ کله چه رمی د جمرې اوکړی.(قارن) نوذبح دې کړی ګډه یا غوې یا بدنه یا اوومه حصه د بدنه،او یا اوومه حصه د غوا فَهَذَا دَمُ الْقِرَانِ نودا دم قران دې.

حل اللغة ﴿ ①رمي، رمياً (ض): رمی کول، ویشتل ②شاة: چیلئی ③بقرة: غوې

تشریح﴿ **وجوب دم القران**﴿فرمانی.کله چه قارن په یوم النحر باندې رمی د جمرې اوکړی.نوګډ یا غوې یا اوښ د بدنې اوومه حصه دې قربانی کړی.اوددې نوم دم قران دې.

دلیله﴿اوددې قربانۍ د وجوب دلیل دا دې.چه قران د حج اوعمرې په جمع کولو کښې د حج تمتع پشان دې.اوپه حج تمتع کښې د هدی قربانۍ باندې نص وارد شوې دې.ارشاد دې:

﴿فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ﴾ یعنی هرکله چه په حج تمتع کښې قربانی واجب ده.نوپه حج قران کښې به هم واجب وی .ځکه چه قران د تمتع پشان دې.

المراد من الهدي والبدن ﴿صاحب دهدايه رحمه الله فرمائي.چه هدي د اوبښ،غوي اوګډ دري وارو کيږي. او تفصيل به په باب الهدي کښې انشاء الله ذکر شي.اودلته د بدنه نه مراد اوبښ دي.اګرچه د بدنه اطلاق په اوبښ اوغوي دوارو باندې کيږي.نولکه څنګه چه د اوبښ په اوومه حصه قرباني کيږي.نودغه شان به دغوي د اوومې حصې قرباني جائز وي.

قارن دپاره د روژو حکم

> **فَإِن لَّمْ يَكُنْ لَهُ مَا يَذْبَحُ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ** هرکله چه نه وي ده سره هغه څه چه ذبح اوکړي پرې،نوروژه دې اونيسي درې ورځې،په حج کښې **آخِرُهَا يَوْمُ عَرَفَةَ** چه آخري ورځ ئې د عرفې وي.

حل اللغة ﴿①**يذبح، ذبحًا (ف)**: حلالول ②**صام، صومًا (ن)** : روژه ساتل

تشريح ﴿ **وجوب الصيام عند العجز عن الهدي** ﴿مسئله دا ده.که قارن په قربانۍ باندې قادر نه وي.يا قادر وي.خوځاروی نه وي.نوپه ده باندې لس روژې واجب دي.په دې طريقه چه درې روژې به د يوم النحر نه وړاندې نيسي.

دليله ﴿دليل دالله تعالى ارشاد دې. ﴿**فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ**﴾ دا آيت اګرچه د حج تمتع په باره کښې نازل شوې دې.خوچونکه قارن هم د متمتع پشان دې. څکه چه دې هم د حاجی متمتع پشان د حج او عمرې دوه عبادتونه کوی.نوددې مماثلت اومشارکت د وجې چه کوم حکم د متمتع وی.هغه به د قارن هم وی.

إستحباب تاخير الصيام إلي آخر الوقت ﴿ صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلي دی.چه په آيت ﴿**فَصِيَامُ ثَلَثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ**﴾کښې د حج نه مراد د حج وخت دې.څکه چه نفس حج د ظرفيت صلاحيت نه لري.دحج وخت چونکه د اولنی شوال نه شروع کيږی.نوچه کله غواړی درې روژې دې اونيسی.خوغوره دا ده.چه په اوومه،اتمه اونهمه ذوالحجه روژې اونيسی.څکه چه روژې د هدی په بدل کښې واجب شوی دی.نوڅکه آخری وخت ته روستو کول مستحب دی.چه کيدې شی.چه آخرپه اصل يعنی قربانۍ کولو باندې قدرت بيامومی.لکه څنګه چه د هغه کس دپاره تيمم آخری وخت ته روستو کول مستحب دی.چه په آخر وخت کښې د اوبو موندلو اميد لری.

ديوم النحر نه وړاندې درې روژې نه نيول

> **فَإِنْ فَاتَهُ الصَّوْمُ حَتَّى يَدْخُلَ يَوْمُ النَّحْرِ لَمْ يُجْزِهِ إِلَّا الدَّمُ** اوکه فوت شوې ددې نه روژې تردې چه راغله ورځ د قربانۍ جائز نه دی ده لره مګر صرف دم.

حل اللغة ﴿①**فاته، فات فوتًا (ن)**: فوت کيدل، ورکيدل

تشريح ﴿ **حکم فوت الصيام قبل يوم النحر** ﴿وړاندې ذکر اوشو.چه قارن که د قربانۍ طاقت نه لري.نولس روژې دې اونيسی.درې د يوم النحر نه وړاندې او اووه دحج نه د فراغت نه پس،①خوکه دغه روژې ئې د يوم النحر نه وړاندې اونه نيوې شوې.تردې چه يوم النحر راغله.نواوس دم واجب شو. روژې نه کافی کيږی.(1)

(1) **مذهب الشافعي رحمه الله**:-امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه دا روژې دې د ايام التشريق نه پس اونيسی.
مذهب مالک رحمه الله:-امام مالک رحمه الله فرمائي.چه هم په ايام تشريق کښې دې اونيسی.

دليله ﴿دليل دا دې.چه په ايام التشريق كښې د روژو نيولو نه منع شوې ده.ځكه چه په حديث كښې دي.﴿لا تصوموا في هذه الأيام﴾ (۱) اودا حديث مشهور دې.اود حديث مشهور په وجه كتاب الله مقيد كولې شي.نوځكه به نص يعني ﴿ثلاثة أيام في الحج﴾ د ايام التشريق نه علاوه په نورو ورځو پورې مقيد كولې شي.يعني د ايام التشريق نه علاوه په نورو دريو ورځوكښې ددې روژو نيولوحكم شوې دې.اوكه د كتاب الله نص په دې حديث سره مقيد نشي.نود نهي په وجه به ددې ورځو په روژو كښې به يقين سره نقصان پيدا شي.اوپه قارن چه د دم قران په وجه كومې درې روژې واجب شوې وې.هغه كاملې وې.اودا قاعده ده چه كامل په ناقص سره نشي ادا كولې.لكه څنگه چه پرونې د مازيگرقضا شوې مونځ نن د نمر ډوبيدو په وخت كښې نشي ادا كولې.بهرحال په ايام التشريق كښې دا روژې نشي نيولې.اودا ايام التشريق نه پس هم نشي ادا كولې.ځكه چه د دم په بدل كښې د روژو وجوب خلاف قياس ثابتې شوې وې.اودا قانون دې.چه كوم څيز خلاف قياس ثابت شي.هغه به مختص وی په خپل مورد پورې.اودهغې مورد د حج وخت دې.نوچه د حج وخت اوخې.ددې نه پس روژه نيول ټيك نه دی.بلكه حكم به خپل اصل يعني د هدى ځاروی ته واپس كيږي.نوچه د هدى ځاروې كله هم حاصل شي.دهغې قرباني به كوی.

اووه روژې پس د حج نه

﴿ثُمَّ يَصُومُ سَبْعَةَ أَيَّامٍ إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ﴾بيا به روژې اونيسی اووه روځ كله چې راواپس شي خپل اهل ته

تشريح ﴿سبعة صيام بعد الحج﴾ كله چې د حج د احكامو نه فارغ شی نو اووه روژې دې اونيسی

دليله ﴿دليل دا آيت دې ﴿وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ﴾

او د ضروری نه ده چې خپل كور ته واپس لاړ شی نو هله به ئې نيسی بلكه د كور ته نلو نه وړاندې كښې يې اونيسی نو هم جائز ده لكه په راروان متن كښې چې ماتن فرمائی

دحج د احكامونه پس په مكه كښې روژې نيول

﴿وَإِنْ صَامَهَا بِمَكَّةَ بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنَ الْحَجِّ جَازَ﴾اوكه وې نيولې دا (روژې) په مكه كښې پس د فراغت د احكامو د حج نه،نوجائزدی.

تشريح ﴿محل الصيام﴾ ①وړاندې تيرشو.چه اووه روژې چه كله كورته واپس شي. اونيسي .خوكه قارن د حج د فراغت نه پس هم په مكه كښې روژې اونيسی.نوجائزدی.خوپه دې شرط چه د ايام التشريق د تيريدو نه پس روژې اونيسی.ځكه چه په ايام التشريق كښې د روژې نيولو نه منع شوې ده. (۲)

دليله ﴿دليل دا دې.چه دالله تعالى د قول ﴿اذا رجعتم﴾ معنى﴿اذا فرغتم﴾ده. يعني كله چه تاسو د حج نه فارغ شئ،نو روژې نيسئ:كه په مكه كښې ئې اوكه په لار كښې ئې اوكه په وطن كښې ئې.صاحب دهدايه رحمه الله فرمائي.چه د حج نه فراغت وطن ته د راتلو سبب دې.نوسبب په حقيقت كښې د حج نه فراغت دې.نوچه د حج د فراغت نه پس اووه روژې اونيسی.نود سبب نه پس روژې موجود شوې.اود سبب نه پس چه كوم څيز موجود شي.هغه ادا كيږي.نوځكه چه دحج نه پس دا اووه روژې اونيسی.نوادا كيږي به،اگرچه په مكه كښې ئې اونيسی.

---

(۱) تقدم تخريجه في كتاب الصوم۔

(۲) مذهب الشافعي رحمه الله: امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه د قارن دپاره ددې اووه روژو په مكه كښې نيول جائز نه دی.

وَإِنْ لَمْ يَدْخُلِ الْقَارِنُ مَكَّةَ وَتَوَجَّهَ إِلَى عَرَفَاتٍ كه داخل نشو قارن مكې ته بلكه روان شو عرفات ته، **فَقَدْ صَارَ رَافِضًا لِعُمْرَتِهِ بِالْوُقُوفِ** نو اوګرځيدلو دې ماتونكې د عمرې خپلې په سبب د وقوف (په ميدان عرفات كښې)

تشريح> فساد العمرة بالذهاب إلي العرفات> دويمه مسئله دا ده. چه قارن مكې ته د داخليدو په ځائې نيغ عرفات ته لاړ شي. نو دده عمره ماته شوه. ځكه چه اوس ددې قارن دپاره عمره كول متعذر شو. عمره كول ورته

دليله> ځكه متعذر شو. كه دې دحج نه پس عمره اوكړي. نو په دې كښې دعمرې د افعالو ترتب په حج باندې راځلو. حالانكه دا د شريعت خلاف دې. مشروع دا دې. چه قارن اول عمره اوكړي. اوبيا حج اوكړي.

الروايتان في ترك العمرة بالتوجه إلي عرفات> ① مسئله دا ده. چه قارن صرف عرفات ته په روانيدو باندې دعمرې پريخودونكې نه ګرځي. بلكه ماتونكې به هله ګرځي. چه په نهمه ذوالحجه د زوال نه پس عرفات ته اورسي. اوهلته وقوف اوكړي. د امام ابوحنيفه رحمه الله صحيح مذهب هم دا دې. ② البته دامام اعظم رحمه الله نه د حسن بن زياد رحمه الله په روايت كښې دا منقول دی. چه عرفات ته صرف په روانيدو سره دده عمره پاتې كيږي. اوقياس دا دې. چه لكه څنګه په جمعه كښې صرف جامع مسجد ته په روانيدو سره ماسپخين ترك كيږي. نو دغه شان چه قارن صرف عرفات ته روان شي. نو دعمرې پريخودونكې دې شي.

د عمرې په پريخودو د دم قران ساقط كيدل

وَسَقَطَ عَنْهُ دَمُ الْقِرَانِ اوساقط شو دده نه دم قران، **وَعَلَيْهِ دَمٌ لِرَفْضِ الْعُمْرَةِ** اوپه دده باندې قرباني ده د وجې د پريخودو د عمرې

حل اللغة> ① **سقط، سقوطاً (ن):** ساقط كيدل، پريوتل ② **رفض:** پريخودل]

تشريح> سقوط دم القران> مسئله دا ده. چه قارن د عمرې د افعالو ادا كولو نه بغير نيغ عرفات ته لاړلو. نو دده د ذمې نه دم قران هم ساقط شو. ځكه چه دعمرې په پريخودو سره دې د دوو عبادتونو جمع كونكې نشو. اوهركله چه دده ته د دوو عبادتونو جمع كولو توفيق ملاؤ نشو. نو په دده باندې دم قران يعنې دم شكرهم واجب نشوه. البته په دده باندې د عمرې قضا واجب ده. اود عمرې پريخودو په وجه دم هم واجب دې. دم خو ددې وجې واجب دې. چه دده په عمره كښې د شروع كولو نه پس هغه ترك كړې ده. اوقضا د دې وجې واجب ده. چه دده په عمره كښې شروع صحيح شوې وه. اومسئله دا ده. چه نفل په شروع كولو سره لازميږي. كه هغه ترك كړي. نو قضا به ئې راوړي.

وَعَلَيْهِ قَضَاؤُهَا اوپه دده باندې قضا ددې ده.

تشريح> وجوب الدم والقضاء> دا كس دمحصر پشان شو. محصر هغه څوك دې. چه احرام ئې تړلې وي. خود دشمن د ويرې يا د بل څه د وجې د نسك د ادا كولو نه بند شي. نو دې به احرام پرانيزي. خو په دده باندې يوه قرباني اوقضا شته. هم دغه شان دعمرې په پريخودو باندې هم قرباني سره د قضا شته. والله اعلم

د (حج) تمتع بيان

بَابُ التَّمَتُّعِ

دا باب د تمتع په بيان کښې دې.

د حج تمتع افضليت

اَلتَّمَتُّعُ اَفْضَلُ مِنَ الْاِفْرَادِ عِنْدَنَا تمتع افضل دې د افراد نه

حل اللغة ﴿ ①التمتع: نفع اوچتول ②افراد: ځان له

تشريح ﴿ **الرواية الواحدة في فضل التمتع** ﴿صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.①چه حج تمتع د حج افراد نه افضل دې.اوهم دا ظاهر روايت دې.

دليله ﴿دظاهر روايت دليل دا دې.چه نبی ﷺ حج قران کړې وو.اونبی ﷺ چه کوم حج کړې وی.هغه به افضل وی.نوقران افضل شو.اوتمتع هم د قران پشان ده.ځکه چه په دې کښې دوه عبادتونه جمع کيږی.نوتمتع به هم افضل وی.②دويمه خبره دا چه په تمتع کښې يو نسك يعنی قربانی زياتی ده.اودا په افراد کښې نشته.نوددې وجې هم تمتع افضل دې د افراد نه،

الرواية الثانية في فضل التمتع ﴿اود امام ابوحنيفه رحمه الله نه په نادر روايت کښې دا منقول دی.چه افراد افضل دی.امام شافعی رحمه الله هم ددې قائل دې.

دليل نادرالرواية ﴿د نادر روايت دليل دا دې.چه د حج تمتع سفر د عمرې دپاره وی.ځکه چه د ميقات نه د عمرې دپاره احرام تړی.اود حج افراد سفر د حج دپاره وی.ځکه چه دميقات نه د حج دپاره احرام تړی.اوعمره سنت ده.اوحج فرض دې.اودا ښکاره خبره ده.چه فرض افضل دی د سنت نه،نوکوم سفر چه د فرض حج دپاره وی.هغه به بهتر وی د هغه سفر نه کوم چه د سنت يعنی عمرې دپاره وی.نوافراد افضل شو تمتع نه،

الجواب عنه ﴿دنوادر د روايت جواب ورکوی اوصاحب دهدايه رحمه الله فرمائی.چه چه د متمتع سفرهم دحج دپاره دې.اوپه مينځ کښې د عمرې واقع کيدل ددې تابع دی.لکه ځنګه چه د سعی الی الجمعه اوجمعې په مينځ کښې سنت واقع شی.نودا نشی وئيلی چه دا سعی د سنتو دپاره ده.بلکه سعی هم د جمعې دپاره وی.اوسنت د جمعې تابع وی.دغه شان دلته هم د متمتع سفرد حج دپاره وی.اګرچه په مينځ کښې عمره واقع شی.

د متمتع قسمونه

وَالْمُتَمَتِّعُ عَلٰى وَجْهَيْنِ مُتَمَتِّعٌ يَسُوْقُ الْهَدْيَ اومتمتع په دوه قسمه دې.هغه متمتع چه شرلې ئې وی هدی **وَمُتَمَتِّعٌ لَا يَسُوْقُ الْهَدْيَ** اوبل هغه متمتع چه نه ئې وی شرلې هدی.

حل اللغة ﴿①هدی: د قربانئی ځناور

تشريح ﴿ **قسمي التمتع** ﴿ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه دمتمتع دوه قسمونه دی.①يوهغه چه حرم طرف ته هدی اوشړی.②اوبل هغه چه هدی ئې نه وی شرلې.

معني التمتع ﴿ علامه مرغينانی رحمه الله فرمائيلی دی.چه د تمتع معنی ده.دحج اوعمرې په مينځ کښې په خپل وطن کښې بغيرد المام صحيحه نه په يوسفرکښې د دوو عبادتونو نه نفع اخستل دی.

معنی الإلمام وتسمیه ﴿د المام لغوی معنی ده.صفت د احرام باقي پريخودل بغيردي نه چه په خپل وطن کښې ايسار شی.اودا دوه قسمه دی.① يوالمام صحيح ② اوبل المام فاسد .المام صحيح دا دي.چه حاجی متمتع خپل د هدی څاروي نه وی ليږلي.② اوالمام فاسد دا دي.چه د هدی څاروی اوليږی.

د تمتع طريقه

وَصِفَةُ التَّمَتُّعِ أَنْ يَبْتَدِءَ مِنَ الْمِيقَاتِ اوطريقه ددي (حج تمتع) دا ده.چه شروع به اوکړی د ميقات نه فَيُحْرِمَ بِالْعُمْرَةِ وَيَدْخُلَ مَكَّةَ فَيَطُوفَ لَهَا وَيَسْعَى وَيَحْلِقَ أَوْيُقَصِّرَ نو احرام به اوتړی د عمرې اوداخل به شی مکې ته،نوطواف به اوکړی دې (عمرې) دپاره او سعی به اوکړی دې (عمرې) دپاره،اوحلق به اوکړی يا تصر وَقَدْحَلَّ مِنْ عُمْرَتِهِ) اوحلال شو دې د عمرې خپلې نه

حل اللغة ﴿① ان يبدء، ابتدء، ابتداءً: شروع کول]

تشريح ﴿عبارت واضح دې د تشريح ضرورت نشته

د طواف په شروع کښې تلبيه پريخودل

وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ إِذَا ابْتَدَأَ بِالطَّوَافِ اوتلبيه به پريږدی کله چه شروع اوکړی په طواف.

حل اللغة ﴿① يقطع، قطعًا(ف) :ختم کول، ماتول

تشريح ﴿ **وقت قطع التلبية** ﴿صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی. چه عمره کونکې چه څنګه په طواف شروع اوکړی.نوتلبيه ونيل به پريږدی.([1])

دلائله ﴿ ① دليل دا دې.چه نبی ﷺ په عمرة القضا کښې چه کله په طواف کښې حجر اسود ښکل کړلو.نوتلبيه ونيل ئې پريخودلو.داسې نه چه د بيت الله په کتلو ئې تلبيه پريخودې وه. ([2]) نو معلومه شوه.چه د تلبيه د پريخودلو وخت طواف دې

② دويم دليل دا دې.چه د عمرې نه مقصود طواف دې.نوچه څنګه طواف شروع کړی.تلبيه دې پريږدی.لکه څنګه چه حاجی څنګه په رمی شروع اوکړی.نوتلبيه ونيل پريږدی.

د متمتع د عمرې نه حلاليدل اودحج دپاره دوباره احرام تړل

وَيُقِيمُ بِمَكَّةَ حَلَالًا اواوسيږی به په مکه کښې حلال فَإِذَا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ چه کله شی ورځ د ترويه نو احرام به اوتړی په حج سره د مسجد حرام نه.

حل اللغة ﴿ ① يقيم، اقامة: قيام کول، حصاريدل ② احرم، احرامًا: احرام تړل

تشريح ﴿ **القيام في المكة ثم إحرام الحج** ﴿مسئله دا ده.چه عمره کونکې کله د عمرې د احرام نه حلال شی.نودې به هم په دې حالت کښې په مکه کښې قيام کوی.(دا څه ضروری نه ده.چه د مکې نه به بهر نه نه اوځی.)چه کله د ذوالحجه اتم تاريخ شی.نودحج دپاره به احرام اوتړی.ددې احرام د حرم نه تړل شرط دې.اود مسجد حرام نه ئې تړل افضل دی.دغه شان د اتمې ذوالحجه نه وړاندې هم احرام تړل افضل دی.

[1]) **مذهب مالک** رحمه الله:- اوامام مالک رحمه الله فرمائی.چه څنګه ئې په بيت الله نظر پريوځی.نوتلبيه ونيل به پريږدی.

[2]) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه الترمذي في الحج باب ۷۹ رقم ۹۱۹ وأبوداود في المناسك باب ۲۸ رقم ۱۸۱۷ .

دليله دليل دا دي.چه دا سړى د مكى په حكم كښې دې.اومكى به په حرم كښې احرام تړى.لكه څنګه چه ددې تفصيل په باب المواقيت كښې تير شوې دې.

وَفَعَلَ مَا يَفْعَلُهُ الْحَاجُّ الْمُفْرِدُ اوكوى به (مناسك دحج) لكه څنګه چه كوى حاجى مفرد ،

تشريح **إتحاد أفعال المتمتع والمفرد** صاحب دقدورى رَحِمَهُ اللهُ فرمانى.دا متمتع به اوس هغه احكام كوى.كوم چه مفرد بالحج كوى.څكه چه دې اوس هم دحج د افعالوادا كونكې دې.

الفرق في المسئلتين البته دومره فرق شته. چه دا كس به په طواف زيارت كښې رمل كوى.اوپه صفا مروه كښې به سعى كوى.څكه چه په حج كښې دا دده اولنې طواف دې.په خلاف د مفرد (هغه به رمل نه كوى.)څكه چه هغه د طواف قدوم نه پس سعى كړې ده.اوسعى صرف يوځل مشروع ده.

وَعَلَيْهِ دَمُ الْمُتَمَتِّعِ)اوپه ده باندې دم تمتع دې. (فَإِنْ لَمْ يَجِدْ مَا يذبح صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ)كه نه مومى هغه څه چې قربانى ئې كړى نو روژې به نيسى درې روژې په ورځو دحج كښې اواووه كله چه واپس شى (خپل وطن نه)

تشريح **وجوب الهدى على المتمتع** صاحب د قدورى رَحِمَهُ اللهُ فرمانى.چه په حاجى متمتع باندې قربانى واجب ده.

دليله دليل دالله تعالى ارشاد دې. ﴿فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ﴾ اوكه متمتع د هدى د څاروى په حاصلولو قادر نه وى.نود قارن پشان دې د حج په زمانه كښې درې روژې اونيسى.اواووه روژې دې د حج د فراغت نه پس اونيسى.تفصيل اودليل په حج قران كښې تير شوې دې.

د متمتع سائق الهدى طريقه د حج

وَإِنْ أَرَادَ الْمُتَمَتِّعُ أَنْ يَسُوقَ الْهَدْيَ أَحْرَمَ اوكه اراده اوكړه تمتع كونكى چه روانه كړى هدى نو احرام دې اوتړى وَسَاقَ هَدْيَهُ)

حل اللغة ①**يسوق، سوقا (ن)**: څناور د روستونه شړل ②**هدى**: دَ قربانئ څناور

تشريح **فضل سوق الهدى مع نفسه** مسئله دا ده.كه متمتع هدى ليږل غواړى.نود عمرې احرام دې اوتړى.اوخپل هدى دې اوليږى. صاحب د قدورى رَحِمَهُ اللهُ فرمانى.چه دمتمتع هدى څان سره بوتلل د نه بوتلو نه افضل دى.څكه چه د الله تعالى پيغمبر ﷺ خپل څان سره د قربانئ څاروى بوتلى وو.

دلائله ①لكه څنګه چه په مسلم كښې د حضرت جابر رضي الله عنه دحديث نه ښكاره ده.② [1] او دويم دليل دا چه هدى څان سره بوخى.نوپه دې كښې دنيكئ تيارى اوپه واجب ادا كولو كښې تلوار دې.اودا دواړه خبرې خوښې شوې دى.څكه د هدى څان سره بوتلل د نه بوتلو نه افضل دى.

اوس كه د هدى څاروې اوښ ياغوې وى.نودهغې په غاړه كښې دې د څرمنې توټه يا د څپلئ توټه واچوى.اوغاړكئ دې ترې جوړه كړى.لكه د حضرت عائشې رضي الله عنها حديث (كنت أفتل القلائد هدى رسول الله ﷺ) نه څه ښكاره ده.

---

[1]) قال الزيلعى رَحِمَهُ اللهُ اخرجه البخارى ومسلم عن ابن عمر رضي الله عنهما قال تمتع رسول الله ﷺ في حجة الوداع بالعمرة إلى الحج وأهدى فساق معه الهدى من ذى الحليفة وبدأ رسول الله ﷺ فأهل بالعمرة ثم أهل بالحج وتمتع الناس معه (كذا في نصب الراية ۱۴۳/۳)۔

فضل القلائد من التجليل> صاحب د هدایه رحمه الله فرمائی. چه خاروی ته د (جول) اچولو په نسبت غاړکۍ اچول غوره دی.

دلائله> ① دلیل د افضلیت دا دي.چه د قلائدو ذکر په قرآن پاك کښې موجود دې.ارشاد دې﴿ جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَآئِدَ ﴾ ② دویم دلیل دا دي.چه تقلید صرف د دې خبر ورکولو دپاره دې .چه دا د هدی خاروې دې.ددې نه بله فائده په کښې نشته.او(جول) اچول د زینت دپاره هم وی.اود گرمی او یخنی لرې کولو دپاره هم وی.نوتقلید بغیرد بل څیز د احتمال نه د هدی نښه ده.او(جول) اچول یقینی نښه نه ده.نوځکه غاړکۍ د (جول) اچولو نه غوره ده.

د بدنه دتقليد حکم

> فَإِنْ كَانَتْ بَدَنَةً قَلَّدَهَا بِمَزَادٍ أَوْ نَعْلٍ(¹) اوکه اوبن وی نو غاړکۍ به ورته اچوی په په هډوکی سره او یا په پنړۍ سره

تشريح> **تقليد البدنة**> د دې ځائې نه د متمتع د اول قسم (کوم چې ځان سره هدی بوتلې وی) د هغې بیان شروع کیږی او د تمتع دا صورت افضل دې مسئله دا ده که متمتع د ځان سره هدی بوتلل غواړی نو د عمرې دپاره دې احرام اوتړی او د خپلې هدی ښناور دې اوشړی اوس که د هدی خاروې اوبن یا غوا وی نو د دې په غاړه :ښې دې د څرمنې ټکره یا د خپلې ټکره واچوی دې ته تقلید وائی او دا په اتفاق سره سنت دې او د غاړکۍ اچولو مطلب دا دې چې خلق اوپیژنی چې دا د حرم هدی ده د دې رواج د جاهلیت د وخت نه راروان دې ځکه چه په عربو کښې د قتل او ډاکو بازار گرم وو خو چې د کوم خاروی په باره کښې به دا معلومه شوه چې دا د حرم هدی ده نو ډاکوانو به هم هغه نه لوټ کوله

د بدنه داشعار حکم

> وَأَشْعَرَ الْبَدَنَةَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ(²) اواشعار به کوی داوبن د صاحبینو رحمهما الله په نزد. وَهُوَ أَنْ يَشُقَّ سَنَامَهَا بِأَنْ يَطْعَنَ فِي أَسْفَلِ السَّنَامِ او اشعار دادې چه داوبن قب به څیرے کړی. په دې شان چه نیزه لاندې طرف ته وی مِنَ الْجَانِبِ الْأَيْمَنِ دښی طرف نه

حل اللغة > ① **أشعر، إشعاراً**: زخمی کولوسره زخم په وینا ککړول

تشريح> **معني الأشعار**> په لغت کښې اشعار زخمی کول او وینه راویستل دی.اوطریقه ئې دا ده.چه ښی طرف ته د قوب نه لاندې به نیزه اوهی.اودهغه ځائې به اوشلوی.متاخرین عالمان رحمهم الله فرمائی.چه صحت سره زیات مشابه کس طرف دې.یعنی گس طرف ته اشعار کول زیات مناسب دی.

اشعار البدنة> مسئله دا ده.① که دهدی خاروی چیلۍ یا گډ وی.نوپه اتفاق سره به ددې اشعار نه کوی.اوکه بدنه وی.نود صاحبینو رحمهما الله په نیز به ددې اشعار کولې شی. اودا بغیرکراهته جائزدې.

دليلهما> د صاحبینو رحمهما الله دلیل دا دې.چه د هدی خاروی ته غاړکۍ اچول ددې مقصد دپاره وی.که د هدی خاروې د اوبو یا فصل ته ورشی.چه هغوی ئې نه شړی .یا که هغه ورك شی.هغه واپس کولې شی.اودا خبره په اشعار کښې په کامله طریقه موجود ده.اولازمه هم ده.ځکه چه داسې زخم ډیرزر نه ښه

---

¹) القول الراجح هو هذا قول الصاحبين رحمهما الله وما نقل عن الإمام من الكراهة فمفهومها مذكور في التسهيل

²) القول الراجح هو هذا قول الصاحبين رحمهما الله وما نقل عن الإمام من الكراهة فمفهومها مذكور في التسهيل

کیږی.چه هرسړی دا وینی.نوپوهیږی به چه دا هدی څاروی دی.بهرحال په دی اعتبار سره اشعار سنت دی.البته دا ده چه په اشعار کښی مثله هم موجودیږی.اومثله ممنوع ده.نوددی وجې مونږ مینځنی لار اختیار کړه.اوهغه دا چه اشعار نه مکروه دی.اونه سنت دی.بلکه مستحسن امر دی.

الاشکال ﴿اوکه ته دا اووائې.چه اشعار د احادیثو نه ثابت دی.نوبیا څنګه مسنون نشو.

الجواب عنه ﴿ نوددی جواب دا دی.چه احادیث دواړه قسمه وارد شوی دی.حرامونکی هم او مباح ګرځونکی هم،نومحرم ته ترجیح ورکړې شوه اواشعار مکروه اوګرځولی شو.

وَلَا يُشْعِرُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اونشته اشعار په نیز د امام ابوحنیفه

تشریح ﴿ **مذهب ابي حنيفة** رحمه الله ﴿ اودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز ددې اشعارکول مکروه دی.
صاحب دهدایه رحمه الله د مذاهبو په بیان کښی فرمائیلی دی.چه اشعار یعنی نیزه وهل او قوب زخمی کول دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز مکروه عمل دی.[1]

دلیله ﴿ دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دی چه دا مثله ده او مثله کول ممنوع ده او که تعارض واقع شی نو ترجیح محرم ته وی

دمتمتع سائق الهدی اوغیرسائق الهدی په تحلیل کښی فرق

(فَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ طَافَ وَسَعَى)اوکله چه مکې ته دخول اوکړی نو طواف اوسعی به اوکړی.

حل اللغة ﴿ ①**دخل، دخولاً(ن)**: داخلیدل

تشریح ﴿ **الاعمال بعد دخول مكة** ﴿ مسئله دا ده.چه هغه متمتع چه خان سره ئې هدی شړلې وی.چه مکې ته داخل شی.نود عمرې دپاره دې طواف اوسعی اوکړی.

الفرق بين تحليل ساق الهدى وغيرساق الهدى ﴿ البته دومره فرق شته.چه کوم متمتع خان سره هدی شړلې وی.دې د عمرې نه پس نه حلالیږی.حالانکه دې به په یوم الترویه باندې دحج احرام تړی.حاصل دا چه هدی خان سره شړونکې او قارن دواړه یوشان دی. لکه څنګه چه قارن دحج اوعمرې په مینځ کښې نه حلالیږی.دغه شان دا متمتع هم د حج اوعمرې په مینځ کښې نه حلالیږی.فرق صرف دومره دې چه د قارن احرام د حج نه وراندې موجود وی.اودا متمتع به یوم الترویه باندې دحج احرام تړی.ددې په خلاف هغه متمتع چه هغه خان سره هدی نه وی شړلې.هغه دعمرې ادا کولو نه پس حلالیږی.

دلیله ﴿ دلیل دا دې.چه نبی ﷺ د حجة الوداع په موقع چه کله مکې ته داخل شو.نوصحابه کرامو﷛ ته ئې حکم اوکړلو.چه د حج احرام فسخ کړئ.اودعمرې احرام اوتړئ.صحابو﷛ ددې حکم تعمیل اوکړلو .اود عمرې احکام ئې پوره کړل.ددې نه پس صحابه کرام﷛ په دې انتظار کښې وو.چه نبی ﷺ حلق کوی اوخان حلالوی که نه،په دې باندې نبی ﷺ اوفرمائیل.که ماته د وراندې نه دا معلومه وه.چه سوق د هدی د حلالیدو نه مانع ده.نوما به خان سره هدی نه راوستله.خوچونکه ما خان سره هدی راوستې ده.نوځکه نه حلالیږم.[2] ددې حدیث نه معلومه شوه.چه د سوق هدی په صورت کښې متمتع چه د عمرې افعال اوکړی.نو نه حلالیږی.

---

[1]) **مذهب الشافعي**:- دامام شافعی رحمه الله په نیز مسنون دی.هم دا د حضرت امام مالك اوامام احمد اوجمهورو عالمانو ﷭ مذهب دی.

[2]) من حديث انس﷛ أخرجه البخاری في الحج باب ۸۱ ومسلم في الحج رقم ۲۱۱، ۲۱۳)۔

د عمرې نه پس په ایام الحج کښې احرام تړل

(ولم یتحلل حتی یحرم بالحج یوم الترویة) او نه دې حلالیږی تردې چه په ورځ د ترویه د حج احرام اوتړی (فان قدم الاحرام قبله جاز) او که احرام نې د دې نه وړاندې اوتړلو ،نو جائزدې وعلیه دم التمتع، او په ده باندې دم تمتع دې

تشریح﴿ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه متمتع به د عمرې افعالو پوره کولو نه پس په اتمه ذوالحجه د حج دپاره احرام تړی.لکه څنګه چه مکی په اتمه ذوالحجه احرام تړی.ځکه چه دې هم د مکی په حکم کښې دې.خوکه د یوم الترویه نه وړاندې نې احرام اوتړل.نوهم جائزده.بلکه افضله ده.ځکه چه متمتع د حج احرام ځومره وړاندې اوتړی.نودا افضله ده.

دلائله﴿ اودلیل دا دې.① چه د احرام په تړلو کښې جلتی کول مسارعت الی الخیرات دې.

② اوزیات مشقت دې.او عبادت د مشقت د زیادت په وجه افضل وی.په حدیث کښې دی(أفضل العبادات أحمزها) علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه په دې افضلیت کښې هغه کس چه هدی نې شړلې وی اوهغه کس چه هدی نې نه وی شړلې.دواړه برابر دی.یعنی د دواړو دپاره جلتی افضل ده.

وجوب دم التمتع﴿ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی چه په حاجی متمتع باندې قربانی واجب ده متمتع چې کله په لسمه ذو الحجه بآندې ویختنه اوخرائې یا ئې کټ کړل نو دې د حج او عمرې دواړو احرامو نو نه حلال شو.

(فاذا حلق یوم النحر فقد حل من الاحرامین) اوکله چه سراوخرئی د قربانئی په ورځ نوحلال شود دواړو احرامونو نه. تحلیل المتمتع بالحلق﴿ صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه په متمتع حاجی باندې قربانی واجب ده.

دلیله﴿ ځکه چه حلق په حج کښې حلالونکې دې.لکه څنګه چه په مانځه کښې سلام حلالونکې دې.نوپه حلق سره به د حج اوعمرې دواړو د احرامونو نه حلال شی.

د اهل مکه دپاره د تمتع او قران حکم

(ولیس لأهل مکة تمتع ولا قران) اودمکې والودپاره نه تمتع شته اونه قران. (وانما لهم الافراد خاصة) د دوی دپاره خوصرف خانله حج دې

تشریح﴿ عدم التمتع والقران للمکی﴿ مسئله دا ده.چه د مکی اومیقاتی دپاره نه تمتع شته اونه قران.بلکه ددوی دپاره صرف حج افراد دې.خوکه ددې باوجود دوی تمتع یا قران اوکړلو .نو جائز دې. خو ګناهګار دې.او ددې په وجه به په ده دم جبر لازمیږی.(١)

دلیله﴿ دلیل دالله تعالی دا ارشاد دې.چه (ذلك لمن لم یکن أهله حاضری المسجد الحرام) یعنی تمتع د هغه چا دپاره دې.چه د ده کورواله د مسجد حرام سره نه اوسیږی.یعنی حج تمتع د غیرمکی آفاقی دپاره دې.نوثابته شوه چه تمتع د مکی دپاره نه دې.په دې آیت کښې د (ذلك) مشار الیه زمونږ په نیز تمتع ده.② دویم دلیل دا دې.چه حج تمتع اوقران ددې دپاره مشروع شوې دې.چه دحج او عمرې د

(١) مذهب الشافعی رحمه الله:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه دمکی اومیقاتی دپاره تمتع اوقران جائزدې.اوپه دوی باندې دم جبر نه لازمیږی.لکه څنګه چه په آفاقی باندې واجبیږی.

دوو سفرونو نه يو ساقط کړي. او اسانتيا پيدا شي.او دا اسانتيا د افاقي دپاره ده.د مکي دپاره نه ده.خکه چه مکي خود سفر محتاج نه دې.

داخل الميقات في حكم المكي﴿صاحب د هدايه رحمه الله فرمانيلي دی.چه په ميقات کښې دننه ټول خلق د مکي په حکم کښې دی.نود ميقاتي دپاره د مکي پشان تمتع او قران نشته.

البته دا که يو مکي د حج دمياشتو نه وړاندې د ميقات نه بهر تلې وی.اود هغه خائې نه احرام اوتړی. نو بغيرکراهتـه جائزدې.څکه چه دده حج اوعمره دواړه ميقاتي دی.نوځکه دا کس د آفاقي په مرتبه کښې شو.اوآفاقي قران کولې شی.نودا کس هم قران کولې شی.البته دا خيال دې کولې شی.که يوکس د حج د مياشتو نه پس کوفې ته داخل شی.نودهغه دپاره قران ممنوع دې.

...

د متمتع دعمرې نه پس خپل وطن ته واپس کيدل

وَإِذَاعَادَالْمُتَمَتِّعُ إِلَى بَلَدِهِ بَعْدَفَرَاغِهِ مِنَ الْعُمْرَةِ که واپس شو متمتع خپل ښارتـه دعمرې اداکولونه پس وَلَمْ يَكُنْ سَاقَ الْهَدْيَ بَطَلَ تَمَتُّعُهُ اونه ئې وه بوتلې دخان سره قرباني نوباطل شودده متمتع

حل اللغة﴿①**عاد، عودًا (ن)**: واپس کول ②**فراغ**: فارغ کيدل ③**بطل، بطلانًا(ن)**:باطل کيدل

تشريح﴿آفاقي چه د حج په مياشتو کښې د عمرې افعال اوکړی.اوبيا خپل وطن ته واپس شی.اوبيا هم په دغه کال د حج دپاره احرام اوتړی.نودا کس متمتع دې که نه؟ نوددې دوه صورتونه دی.يودا چه دې کس خان سره هدې اوړی وی.اوبل صورت دا چه خان سره ئې هدی نه وی اوړې.د اولنی صورت حکم په دويم عبارت کښې راخې.اوپه دويم صورت کښې د احنافو رحمهم الله په اتفاق سره دده تمتع باطل شو.

دليله﴿ دليل دا دې.چه د حج اوعمرې په مينځ کښې ددې کس المام صحيحه موجود شو.اوپه المام صحيحه سره تمتع باطليږی.نوځکه د ده تمتع باطل شو.هم داسې د تابعينو رحمهم الله د يو جماعت نه نقل شوی دی.امام طحاوی رحمه الله د حضرت سعيد بن مسيب،عطاء بن ابی رباح،مجاهد او ابراهيم نخعي رحمهم الله نه روايت کړې دې.

په اشهر الحج کښې د عمرې د اکثر طوافونو په تمتع ګرځولو کښې کردار

وَمَنْ أَحْرَمَ بِالْعُمْرَةِ قَبْلَ أَشْهُرِ الْحَجِّ فَطَافَ لَهَا أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْوَاطٍ چا چه احرام اوتړلو دعمرې د حج دمياشتونه مخکښې نوطواف ئې اوکړو ددې دپاره کم د څلورو چکرو نه دَخَلَتْ أَشْهُرُ الْحَجِّ فَتَمَّمَهَا بيا دحج مياشتې شروع شوې اوده د طواف چکرې پوره کړې وَأَحْرَمَ بِالْحَجِّ كَانَ مُتَمَتِّعًا دحج احرام ئې اوتړلونودې به متمتع وی.

حل اللغة﴿①**اقل**: کم ②**فتممها، تمم تمميمًا** پوره کول ③**اشواط**: چکرې ④ **اشهر**: مياشتې

تشريح﴿ **حكم ثر اشواط العمرة في اشهر الحج**﴿ که يوکس د حج د مياشتو نه وړاندې احرام اوتړلو. زمونږ مذهب دا دې.که دعمرې څلور چکرونـه د طواف ئې په اشهرالحج کښې ادا کړی وی.اودرې ددې نه وړاندې ،نودا کس متمتع دې.اوکه ددې په عکس وی.نومتمتع نه دې.

دليله﴿ دې. چه احرام دعمرې دپاره شرط دې.نوپه اشهرالحج باندې ددې وړاندې والې داسې دې.لکه طهارت چه دمانځه دپاره شرط دې.اوهغه په وخت باندې وړاندې کړې شی.نو جائز دې.البتـه دا چه دا ...وری ده.چه په اشهرالحج کښې دعمرې افعال موجود شی.او پـه دې صورت کښې څلور چکرونه د طواف په اشهرالحج کښې موجود شوی دی.نو ګويا چه ټول طواف په اشهرالحج کښې موجود شوې دې

خکه چه اکثرلره حکم دکل وی.نو هرکله چه په اشهرالحج کښې حج اوعمره جمع شوه.نودوي جمع کیدو نوم تمتع ده.نودا کس متمتع دی.

فَإِنْ طَافَ لِعُمْرَتِهِ قَبْلَ أَشْهُرِ الْحَجِّ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ فَصَاعِدًا اوكه دعمرې دپاره د طواف څلور يا دڅلورو نه زيات چكرې ئې دحج د مياشتو نه مخكښې اوكړې ثُمَّ حَجَّ مِنْ عَامِهِ ذَلِكَ لَمْ يَكُنْ مُتَمَتِّعًا)بيا ئې حج اوكړو په دغې كال نو متمتع به نه وی.

تشریح﴾ حکم اکثر اشواط العمرة قبل اشهر الحج﴿ اوکه د اشهرالحج نه ئې وړاندې څلور چکرونه کړی وی.اوبیا ئې هم په دې کال په اشهرالحج کښې حج اوکړی.نودې متمتع نه دې.

دلیله﴾ خکه چه ده د حج د میاشتو نه وړاندې اکثر اشواط پوره کړل او اکثر لره حکم د کل وی نو لکه چه ده ټول طواف د حج د میاشتو نه وړاندې اوکړل او دا کس په دې صورت کښې خکه متمتع نه دې چه د طواف څلور چکرې اووهی نو ددې نه پس عمر د جماع په وجه نه فاسدیږی نو دا کس داسې شولکه چه د حج د میاشتې نه وړاندې حلال شوې وی اوچه د حج د میاشتې نه څوک وړاندې حلال شی نو هغه کس متمتع نشی کیدې.

دحج میاشتې

وَأَشْهُرُ الْحَجِّ شَوَّالٌ وَذُو الْقَعْدَةِ وَعَشْرٌ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ اودحج میاشتې شوال، ذوالقعده، اولس ورځې د ذی الحجه دی.

تشریح﴾ أشهرالحج﴿ صاحب دقدروی شیخ ابوالحسن رحمه الله فرمائی.چه دحج میاشتې شوال ذوالقعده اولس ورځې د ذوالحجه دی.([1])

تشریح﴾ دلائل الأحناف رحمهم الله **﴿** ① دلیل دا دې.چه د حضرت عبدالله بن مسعود،عبدالله بن عمر،عبدالله بن عباس اوعبدالله بن زبیر رضي الله عنهم نه هم دا نقل دی.چه د حج میاشتې شوال ذوالقعده او د ذوالحجه لس ورځې دی.

② دویم دلیل دا دې.چه ذوالحجه د لسو ورځو په تیریدو باندې حج فوت کیږی.یعنی که یوکس وقوف عرفات اونکړلو.اویوم النحر راغله.نودده نه حج فوت شو.که د ذوالحجه د آخره پورې د حج میاشتې وې.نود یوم النحر په تیریدو به حج نه فوت کیدو.خکه چه وخت باقی وی.نوفوت کیدل نه متحقق کیږی.

د اشهرالحج نه وړاندې دحج احرام تړل

فَإِنْ قَدَّمَ الْإِحْرَامَ بِالْحَجِّ عَلَيْهَا جَازَ إِحْرَامُهُ نوكه مقدم ئې كړو احرام دحج لره په اشهرحج باندې نو جائز شو احرام ئې وَانْعَقَدَ حَجُّهُ اود ده حج دپاره به منعقد شی

حل اللغة ﴿ ①**قدم، تقدیما:** مقدم کول. وړاندې کول ②**انعقد، انعقادا:** منعقد کیدل ③ ایجاب: واجب کول]

[1] **مذهب مالکیه**:- امام مالك رحمه الله فرمائی.چه اشهرالحج شوال ذوالقعده اوذوالحجه یعنی پوره درې میاشتې دی.

تشریح > **تقديم إحرام الحج علي أشهرها** > مسئله دا ده.که یوکس د اشهرالحج نه وړاندې د حج دپاره احرام اوتړلو. دا احرام هم دحج دپاره منعقد کیږی.([1])

دلائل الأحناف > ① ښیغز مونږ دلیل دا دې.چه احرام دحج دپاره شرط دې.نولکه څنګه چه طهارت د مانځه دپاره شرط دې.اود وخت نه وړاندې طهارت جائزدې.دغه شان د حج احرام هم په اشهرالحج باندې مقدم کول جائزدي.

② دویم دلیل دا دې.چه په احرام سره څوځیزونه حرامیږي.لکه ګنډلې شوې جامې اغوستل، ښکار کول وغیره اوڅه څیزونه واجبیږی لکه سعی اورمی وغیره ،اوداسې کول په هره زمانه کښې صحیح دی.که د حج ایام وی اوکه نه وی.نوځکه احرام په هره زمانه کښې جائز دې.③ دریم دلیل دا دې. چه احرام لکه څنګه په میقات یعنی د احرام تړلو په ځائې باندې مقدم کول جائز دی.دغه شان په زمانه د حج یعنی په اشهرالحج باندې مقدم کول جائزدی.

په حالت دحرام کښي د ښځي حیض راتلل

وَإِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ عِنْدَ الْإِحْرَامِ اغْتَسَلَتْ کله چه حیض راشی ښځې ته داحرام په وخت کښې نوغسل دې اوکړی وَأَحْرَمَتْ وَصَنَعَتْ كَمَا يَصْنَعُهُ الْحَاجُّ احرام دې اوتړی اوکوی دې لکه چه کوی حاجیان غَيْرَ أَنَّهَا لَا تَطُوفُ بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرَ بغیرددې نه چه طواف به نه کوی دبیت الله تردې چه پاکه شي.

حل اللغة > ①**حاضت،حاض حيضًا (ض)** : دماهوارئ وینه جاری کیدل ②**اغتسلت،اغتسل اغتسل اغتسالاً**: غسل کول

تشریح > **أداء الحائض مناسک الحج غيرالطواف** > مسئله دا ده.که یوه ښځه د احرام په وخت کښې حائضه شي.نودا دې داحرام دپاره غسل اوکړی.اود حج ټول افعال دې اوکړی.سوې د طواف نه.چه کله پاکه شي .نوبیا دې طواف اوکړی.

دلائله > ①ددې دلیل دحضرت عائشې ﷺ حدیث دې.څکه چه دا په مقام سرف کښې حائضه شوه.چه رسول الله ﷺ تشریف راوړلو.نودا ناسته وه.ژړل ئې.نبی ﷺ ترې په خپله تپوس اوکړلو.ولې ژاړې .حیض راغلې څه؟ حضرت عائشې ﷺ ورته عرض اوکړلو.هم دا خبره ده.نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.دا خوداسې څیز دې.چه د آدم ﷺ په ټولو لونړو باندې دا بیماری راځی.نوحاجیان چه کوم افعال کوی.هغه کوه.خود بیت الله طواف مکوه.ترڅوچه پاکه شوې نه ئې. ([2])

②دویم دلیل دا دې.چه دحائضې دپاره جمات ته داخلیدل منع دی.اوطواف په مسجد حرام کښې کیږی.نوځکه به طواف نه کوی.اووقوف عرفات چونکه په عام میدان کښې وی.نود ښځې دپاره په دې مقام کښې وقوف څه قباحت نه لری.دغه شان چه د حج کوم نورافعال دی.دهغې او د حیض په مینځ کښې څه منافات نشته.نوحائضه به هغه ټول افعال کوی.

---

[1]) **مذهب الشافعی** :- اوداما م شافعی ﷺ په نیزدا احرام دعمرې دپاره معتبر کیږی دحج دپاره نه،

[2]) من حديث عائشة ﷺ أخرجه البخاری في الحيض باب ۱ ومسلم في الحج رقم ۱۱۹ والنسائی في الطهارة باب ۱۷۸ وابن ماجه في الطهارة باب ۱۲۱ والدارمی في الوضوء باب ۱۰۷ وأحمد في المسند (۶/۶۵)۔

وإذا حاضت بعد الوقوف بعرفة او كه حيض ورته راغلو په عرفات د وقوف نه پس نو، **وبعد طواف الزيارة** اوپس د طواف زيارت نه **انصرفت من مكة ولا شيء عليها لترك طواف الصدر** واپس دې شي د مكې نه او هيڅ نشته په دې باندې د طواف صدر (په پريخودو)

تشريح> حكمة الغسل عند الإحرام> كه څوك اعتراض اوكړي.چه حائضې ته غسل څه فائده نه وركوي.نوبيا دې ته دغسل حكم ولې كولې شي.نوددې جواب دا دې.چه د احرام په وخت كښې غسل د احرام يا دمانځه دپاره نه وي.بلكه د نظافت حاصلولو دپاره وي.اويقيني خبره ده.چه په دې غسل سره نظافت حاصليږي.

حكم اتيان الحيض بعد الوقوف وطواف الزيارة> اوكه يوه ښځه د وقوف عرفات او طواف زيارت نه پس حائضه شي.نودا دې د مكې نه روانه شي.اود طواف صدر په پريخودو په دې باندې څه واجب نه دي.

دليله> ځكه چه رسول الله ﷺ ښځو ته د طواف صدر پريخودو اجازت وركړې وو. ([1])

د جناياتو بيان

بَابُ الْجِنَايَاتِ

دا باب د جناياتو په بيان كښې دې.

تشريح> الربط بما قبله> د محرمينو د احرام اوقسمونو نه چه فارغ شو.نوددې نه پس د هغه عوارضو ذكر كوي.كوم چه احرام ته پيښيږي.جنايات جمع د جنايت ده.اوجنايت هغه فعل ته وائي.كوم چه شرعاً حرام وي.

د محرم دپاره د خوشبو د لګولو جنايت

إذا تطيب المحرم فعليه الكفارة كله چه خوشبو اولګوله محرم نوپه ده كفاره ده. **فإن طيب عضوا كاملا فما زاد فعليه دم** اوس كه خوشبو ئې اولګوله په پوره اندام يادې نه زياته نوپه ده دم دې

حل اللغة > ① **تطيب، تطيبا:** خوشبو لګول

تشريح> حرمة إستعمال الطيب للمحرم> صاحب د قدوري رحمه الله فرمائي.چه محرم په خپل بدن باندې هر قسم خوشبو اولګوله.نوپه ده باندې كفاره واجب شوه.لكه بنفشه، چامبيل، ريحان ګلاب اونور عطرونه

دليله> دليل دا دې.چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي.(الحاج الشعث التفل) يعني حاجې به بيرسرې اوخيرن وي.اوخوشبو لګول دا صفت لرې كوي.نوځكه خوشبوئي لګول جرم دې.نوكه په پوره اندام يا د دې نه په زيات باندې ئې خوشبوئي اولګوله.نوپه ده باندې دم واجب شو.د پوره اندام مثال لكه سر، پنډئ، پټون اوددې پشان نور اندامونه.اوكه د پوره اندام نه كمې حصې پورې ئې خوشبوئي اولګوله.نوصدقه پرې واجب ده.دليل دا دې.چه جرم مكمل كيږي په پوره فائده اخستلو.اوپوره فائده اخستل حاصليږي په پوره اندام سره.نوځكه كامله سزا يعني دم به په پوره اندام خوشبو كولو باندې وي.

[1]) من حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه البخاري في الحج باب ١٤٤ ومسلم في الحج رقم ٣٨٠)

د اندام نه په کمه حصه خوشبو لګول

وَإِنْ طَيَّبَ أَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ اوکه خوشبو ئې اولګوله د اندام نه لږه نوېه ده صدقه ده.دجرم دکموالی د وجې.

حل اللغة ۞ ① **اقل:** کم ② **جناية:** جرم، ګناه ③ **يجب، وجب، وجب وجوبًا(ض):** واجب کېدل ④ **ربع:** څلورمه حصه ⑤ **تذكر، ذكر ذكرًا (ن):** ذکر کول]

تشريح ۞ **حكم تطييب الأقل من عضو** ۞ ① مسئله دا ده.که د یواندام په کمه حصه ئې خوشبوئی اولګوله.نوېه ده باندې صدقه واجب ده.

دليله ۞ ځکه چه دده جرم کم دې

مذهب محمد رحمه الله ۞ امام محمد رحمه الله فرمائی.چه دم به په اندازه د جرم وی.()مثلاً که په نیم اندام ئې خوشبوئی لګولې وی.نونیم دم به واجب وی.اوکه په دریمه حصه ئې خوشبوئی لګولې وی.نودریمه حصه دم به واجب وی.على هذا القياس،امام محمد رحمه الله جزء په کل باندې قیاس کړې دې.یعنی چه په پوره اندام کښې پوره دم واجب دې.نود په یوجزء کښې به د هغې په اندازه دم واجب وی.

پوره ورځ د ګنډلې جامې اچول اودسرپټول اود پوره ورځ نه د کم حکم

وَإِنْ لَبِسَ ثَوْبًا مَخِيطًا أَوْ غَطَّى رَأْسَهُ يَوْمًا كَامِلًا فَعَلَيْهِ دَمٌ، که وائې غوستلې ګنډلې شوې جامې یا ئې پټ کړو سر خپل یوه ورځ پوره نوېده دم دې وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ ذَلِكَ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ ()اوکه د دې نه کم وی نوېده صدقه واجب ده.

حل اللغة ۞ ① **لبس، لبسًا (س):** اغوستل

تشريح ۞ **حكم لبس الثوب المخيط** ۞ صورت د مسئلې دا دې.که محرم یوه ورځ یا یوه شپه ګنډلې جامې واغوستلې.یا ئې سر پټ اوساتلو.نو په ده باندې دم واجب دې.اوکه دیوې ورځې یا د یوې شپې نه کم ئې دا اوساتلې نه صدقه واجب ده.(٣)

دليله ۞ دلیل دا دې.چه په جامو اچولو کښې راحت حاصلول مقصود وی.یعنی د ګرمئ اویخنئ نه ځان ساتل،ځکه اغوستل هم ددې دپاره وی.دالله تعالى ارشاد دې. ﴿سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ﴾ اودا معنى اوږده ده.نودا معنى كامله هم کېدې شی.اوقاصره هم،اوپه کامل اوقاصر کښې حد فاصل ضروری دې.چه جزاء هم د هغې مطابق مقرر کړې شی.نوحد فاصل یوه ورځ پوره یا یوه شپه پوره مقرر کړې شوه.یعنی

---

[1] القول الراجح قال المفتى غلام قادر مدظله العالى والصحيح ان يوفق ويقال إن كان الطيب قليلاً فالعبرة للعضو لا للطيب حتى لو طيب به عضوي كاملاً يكون كثيرا يلزم دم وفيما دونه صدقة وإن كان الطيب كثيرا فالعبرة للطيب لا للعضو حتى لو طيب به رب عضو يلزمه دم كذا يفهم من عبارات فتح القدير(٢٤٣٩) وردالمحتار(٢١٨\٢) والبحرالرائق (٣\١٣) نقلاً عن القول الراجح (٢١٨\١)۔

[2] القول الراجح هو هذا قول الجمهور كذا في الدرر المختار(٢٢٠\٢) والهندية (٢٤٢\١) نقلاً عن القول الراجح (٢٢٠\١)۔

[3] **مذهب الشافعي** رحمه الله:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه څنګه ګنډلې شوې جامې واغوندی.نودم پرې واجب شو.(د وخت مقدار په کښې نشته)

یوه پوره ورخ اغوستل کامل جرم دی.نوددې په وجه به جزاء هم کامله وی.چه وجوب د دم دې.اود یو ورخ نه کم جرم قاصر دی.نوددې په ارتکاب به صدقه واجبیږی.

مذهب ابي یوسف رحمه الله ﴿1﴾ اودامام ابویوسف رحمه الله نه روایت نقل دی.چه د ورخې یا د شپې اکثره حصه گندلې شوې جامې واغوندی.یا سرپټ کړی.نوپه ده باندې دم واجب دی.دامام ابوحنیفه رحمه الله اول قول هم دا وو.بیا نې ددې نه رجوع اوکړله.

دلیله ﴿ اوامام ابویوسف رحمه الله چونکه اکثرد کل قائم مقام گرخوی.نود هغوی په نیزکه په اکثره حصه د ورخې یا د شپې کښې نې گندلې جامې واچولې.یا نې سرپټ کړلو.نودم جزاء کامل یعنی دم به واجب وی.

دخلورمې حصې سریا ږیرې کټ کول اوددې نه کم

وَإِنْ حَلَقَ رُبُعَ رَأْسِهِ فَصَاعِدًا فَعَلَيْهِ دَمٌ،که وې خرئیلو خلورمه حصه سر خپل یا زیات،نو پده دم دی. وَإِنْ حلق أَقَلَّ مِنَ الرُّبُعِ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ اوکه د خلورمې حصې نه کم وو. نوپده صدقه واجب ده.

حل اللغة ﴿ ﴿1﴾ **حلق، حلقًا(ض)**: خرول

تشریح ﴿ مسئله دا ده.که محرم خلورمه حصه د سر یا د ږیرې یا ددې نه زیاته اوخرایله.نوپه ده باندې دم واجب دې.اوکه ددې نه کمه وی.نوصدقه پرې واجب ده.( )

دلیله ﴿ دلیل دا دې.چه د خلورمې حصې سرخریل هم پوره انتفاع ده.خکه چه د بعضې خلقو دا عادت دې.د ترکیانوعادت دا دې.چه صرف د مینخ نه حلق کوی.اود بعضې علویانو صرف د تندې ویخته خریل دی.بهرحال کله چه د خلورمې حصې سریه حلق سره انتفاع کامله ده.نوپه دې مقدار باندې حلق به هم د کامل جنایت موجب وی.اودخلورمې حصې نه په کم مقدار کښې چونکه جنایت ناقص دې.اود جنایت کامله په صورت کښې دم واجبیږی.اودجنایت قاصره په صورت کښې صدقه واجبیږی.

الجواب سوال التقدیری ﴿ په خلاف دهغه صورت کښې که د یواندام خلورمې حصې باندې خوشبونی اولگوی.نودم نه واجبیږی.خکه چه دخوشبولگولو په حق کښې به د کامل اندام حکم هغه وی.کوم چه په حلق کښې د خلورمې حصې وی.دغه شان د خه ږیرې خریل د عراقیانواو عربانو عادت پاتې شوې دې.

د حجامت د خائې د ویښتو حلق

وَإِنْ حَلَقَ مَوْضِعَ الْمَحَاجِمِ من الرقبة فَعَلَيْهِ دَمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ اوکه وې خرئیل خائې دحجامت د خټ نه نوپه ده دم دې. دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد

حل اللغة ﴿ ﴿1﴾ **محاجم**: دښکر لگول خائ

تشریح ﴿ مسئله که محرم د حجامت د خائې حلق اوکړلو. نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزپه ده باندې دم واجبیږی.

دلیله ﴿ دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دا دې.چه د ښکرلگولو د خائې خریل مقصود دې.خکه چه بغیرد حلق نه ښکر لگول ممکن نه دی.اود مقصود وسیله هم مقصود وی.نود ښکرلگولو وسیله ویخته خریل هم مقصود شو.اوچونکه دا خائې د ښکرلگولو په حق کښې کامل اندام دې.نوځکه د کامل اندام نه د

([1] **مذهب مالکیه**:- دامام مالك رحمه الله په نیزد وجوب دم دپاره د پوره سریا پوره ږیرې حلق ضروری دې.

مذهب الشافعیه:- دامام شافعی رحمه الله په نیز د درې ویختو په حلق سره هم دم واجبیږی

خيرې لرې كول موجود يږي.اود كامل اندام نه په حالت د احرام كښې خيرې لرې كول موجب د دم دي نو په دې صورت كښې به په هم دم واجبيږي.

وَقَالَ ابويوسف ومحمد صَدَقَةٌ() او صاحبين رحمهما الله وائي چه صدقه ده

مذهب الصاحبين> اود صاحبينو رحمهما الله په نيزېږې صدقه واجبيږي.

دليلهما> دصاحبينو رحمهما الله دليل دا دې.چه بنګرلګولو د خائي حلق صرف د بنګر لګولو د وجې كيږي. او بنكر لګول د ممنوعات احرام ختى نه دى.نوكوم څيز چه د بنګرلګولو ذريعه وه.هغه به هم د ممنوعات احرام ختى نه وى .ددې دليل نه ثابته شوه.چه د بنګرلګولود خائي په حلق په محرم باندې څه نه واجبيږي.البته دومره ده چه د دې خائي نه د ويختو په لرې كولو سره خيرې لرې كيږي.اوپوره خيرنتوب نه موجوديږي.نودا ناقص جرم شو.اود ناقص جرم په صورت كښې صدقه واجبيږي.نوځكه به په دې صورت كښې هم صدقه واجب شى.

د پښولاسونو نوكونه كټ كول

وَإِنْ قَصَّ أَظَافِيرَيَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَعَلَيْهِ دَمٌ كه محرم دخپلو دواړو لاسونواوپښو نوكونه پريكړل.نودم د دې پرې دې.

حل اللغة> ①**اظافيرد ظفرجمع**: نوكونه

تشريح> **وجوب الدم بأخذ الأظافير كلها**> محرم كه دخپل پښولاسونوټول نوكونه كټ كړې.نويه ده باندې دم لازم شو.

دليله> دم پرې څكه لازميږي.چه په حالت داحرام كښې د نوكونوكټ كول د احرام دممنوعاتو ختى دى. اود احرام د ممنوعاتو ختى څكه دى.چه په دې سره يوڅو خيرې لرې كيږي.اوبله دا چه كوم څيز په بدن كښې پيدا كيږي.هغه څيز ختمولې شى.نوچه ده دا دواړو كارونه اوكړل.نوكامله فائده ئې واخستله.اود احرام په حالت كښې كامله نفع اخستل موجب د دم وى.نوځكه په دې صورت كښې دم واجبيږي.

د يوپښې اويولاس نوكونه كټ كول

وَإِنْ قَصَّ يَدًا أَوْرِجْلًا فَعَلَيْهِ دَمٌ) اوكه پريكړل ئې ديولاس يا يوې پښې نوكونه نويده دم دې

حل اللغة> ①**اقامة**: قائم كول، قائمقام جوړول]

تشريح> **وجوب الدم بتقليم ظفراليد أوالرجل**> كه محرم د يولاس يا د يوې پښې د پنځو ګوتو نوكونه كټ كړل. نوهم به دم واجب وى.

دليله> څكه چه د يولاس يا يوې پښې نوكونه د ټولو نوكونو څلورمه حصه ده.اود وجوب دم په حق كښې څلورمه حصه د كل قائم مقام وى.لكه د څلورمې سر مسح د ټول سر مسحې برابر دې.

دپنځو نوكونو نه د كم كټ كولوحكم

وَإِنْ قَصَّ أَقَلَّ مِنْ خَمْسَةِ أَظَافِيرَ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ) اوكه دپنځونونه كم ئې پريكړل نوكونه،نو پده صدقه ده.

---

[1] القول الراجح هو هذا قول الصاحبين رحمهما الله كذا في ردالمحتار(٢\٢٢١) والبحر(٣\١٤) والفقه الإسلامي ؛(٣\٢٥٨) نقلاً عن القول الراجح (١\٢٢٢)-

حل اللغة ﴿ ① ظفر جمع اظافیر: نوکونه ② قلم: تراشل]

تشریح ﴿ **وجوب الصدقة باقل من خمسة أظفار** ﴿ ① مسئله دا ده.که محرم د پنځونوکونو نه کم نوکونه کټ کړل.نوپه دې صورت کښې په ده باندې صدقه واجبیږي.یعنی د هرنوك په بدله کښې دې یوه صدقه اوکړي.

دلیله ﴿اوکوم حکم چه په کتاب کښې ذکر دې.ددې دلیل دا دې.چه لکه څنګه دیو لاس یا د یوې پښې پنځه نوکونه د ټولو نوکونو قائم مقام دې.نواوس د یو لاس یا یوې پښې په نوکونو کښې اکثر د کل قائم مقام نشي ګرځیدې.څکه چه داسې کولو سره به یوه نه ختمیدونکې سلسله شروع شي.څکه که داسې اوشي.نوبیا به مونږ وایو.چه په دوو نوکونو کښې هم دم واجب دې.څکه چه دا دریو اکثردې.اوپه یونیم کښې هم دم واجب دې.څکه چه دا د دوو اکثر دې.اوپه یوم نوك کښې هم دم واجب دې.څکه چه دا د یونیم اکثر دې.اوپه یوکم یوکښې هم دم واجب دې.څکه چه دا د نیم اکثر دې.اوپه نیم کښې دم واجب دې.څکه چه دا د پو اکثر دې.اودغه شان به یوه نه ختمیدونکې سلسله شروع شي.کوم چه ناممکنه ده.ددې وجې مونږ د یولاس یا د یوې پښې نوکونه د ټولونوکونوقائم مقام اوګرځول.اوپه دې مو دم واجب کړلو.اوددې نه مو داسې اونکړل.

مذهب زفر رحمه الله ﴿ امام زفر رحمه الله فرمائي.چه که دري نوکونه کټ کړي.نودم پرې واجب دې.اودامام ابوحنیفه رحمه الله اولنې قول هم دا وو.

دلیله ﴿ څکه چه په پنځو ګوتوکښې دري اکثردی.اواکثرقائم مقام د کل وي.نوهرکله چه د یو لاس یا یوې پښې په نوکونو کټ کولوسره دم واجبیږي.نود دریو په کټ کولو به هم واجبیږي.

د دواړو لاسونو یا پښو په نوکونوکښې د پنځونه د کمو کټ کول

وَإِنْ قَصَّ أَقَلَّ مِنْ خَمْسَةِ أَظَافِيرَ مُتَفَرِّقَةٍ مِنْ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ که ني پریکړل پنځه نوکونه متفرق د دواړو لاسونه اود دواړو پښو نه فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ) رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالَىٰ [1] نویده صدقه ده.دشیخینو په نزد.

حل اللغة ﴿ ① قص، قصًا(ن): پریکول ② منفرقة: جدا، ځان له

تشریح ﴿ **حکم تقليم الخمس متفرقة** ﴿ ① مسئله دا ده.که محرم د یولاس اویوې پښې نه جدا جدا پنځه نوکونه کټ کړل.(مثلاً دوه ني د یو لاس اودرې د بلې پښې کټ کړل) نوپه دې صورت کښې د شیخینو رحمهما الله په نیزیه ده باندې صدقه واجب ده.یعنی د هرنوك په بدله کښې به یوه صدقه ورکړي.

دلیله ﴿ دشیخینو رحمهما الله دلیل دا دې.چه دم واجبیږي په هغه صورت کښې چه زینت اوراحت حاصل شي.اوچه د مختلفو ځایونونوکونه کټ کړي.نوپه دې کښې تکلیف اوعیب دې.نوچونکه په دې صورت کښې زینت او راحت حاصل نشو.نوجنایت کامل نشو.اوچه جنایت کامل نه وي.نوصدقه واجب وي.نودلته هم صدقه واجبیږي.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ دَمٌ اوامام محمد رحمه الله فرمائي چه دم دې

تشریح ﴿ اوامام محمد رحمه الله فرمائي.چه په ده باندې دم واجب شو.

---

[1] القول الراجح هو هذا قول الشیخین رحمهما الله كذا في البحرالرائق (۲۱\۳) والتاترخانية (۵۰۳\۲) والهندية (۲٤٤\۱) والخانية (۱۳۷\۱) نقلاً عن القول الراجح (۲۲٤\۱)۔

دليله > دامام محمد رحمه الله دليل قياس دی.يعنې لکه څنګه چه د يولاس يا ديوې پښې د پنځو نوکونو په کټ کولو باندې دم واجبيږي.دغه شان که متفرق طور دا پنځو نوکونه کټ کړي.نويه دې کښې به هم دم واجبيږي.بل که د سرد څلورمې حصې حلق د مختلفو ځايونو نه اوکړی.نويه دې صورت کښې هم دم واجبيږي.نودغه شان دلته د نوکونو په صورت کښې به هم دم واجبيږي.

الجواب منه > پاتې شود سر د مختلفو ځايونو نه ويخته خريل.نودا د خلقو عادت دی.اوچه دخلقو عادت دی.نويه دې کښې زينت حاصل شو.اوچه زينت اوراحت حاصل شو.نوجنايت کامل شو.اوچه جنايت کامل شو.نودم واجب وی.نوځکه د سر د مختلفوځايونونه ويخته خريل سبب د وجوب دم دی.

د عذرپه وجه خوشبولګول جامې اغوستل اوحلق کول

> ﴿وَإِنْ تَطَيَّبَ أَوْحَلَقَ أَوْلَبِسَ مَخِيطًا مِنْ عُذْرٍ فَهُوَ مُخَيَّرٌ﴾ اوکه خوشبو ئې اولګوله يا يې اوخرئيل (سر) يا ئې ګنډلې جامې ئې واغوستلې په څه عذر سره نودده اختياردې ﴿إِنْ شَاءَ ذَبَحَ وَإِنْ شَاءَ تَصَدَّقَ عَلَى سِتَّةِ مَسَاكِينَ بِثَلَاثَةِ أَصْوُعٍ مِنَ الطَّعَامِ﴾ غواړی چيلۍ دې ذبح کړی اوکه غواړی صدقه دې ورکړی شپږو مسکينانوته درې صاع د طعام نه ﴿وَإِنْ شَاءَ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ﴾ که اوکه غواړی روژې دې اونيسی درې ورځې

حل اللغة > ① **لبس، لبسًا (س)**: اغوستل

تشريح > **وجوب ثلاثة أشياء بالتطييب واللبس والحلق من عذر** > که محرم د عذر د وجې خوشبو اولګوله .يا ئې ګنډلې جامې واغوستلې يا ئې سراوخرائيل.نويه دې صورتونوکښې ده ته د دريو خبرو اختيار دی.يا دې يوه چيلۍ ذبح کړی.يا دې په شپږو مسکينانو درې صاع غنم صدقه کړی.اويا دې درې روژې اونيسی.

دلائله > ① دليل د الله تعالى ارشاد دی.﴿وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ﴾ په آيت کښې کلمه د «أو» په درې څيزونو کښې اختيار ورکوی.دا آيت ديومعذور په حق کښې نازل شوې وو.

② اونبی ﷺ ددې آيت تفصيل د ذکرشوی تفصيل مطابق بيان کړې وو.په حديث کښې دی.چه حضرت کعب بن عجره رضی الله عنه فرمائی.نبی ﷺ په ما باندې تيرشو.او سپږې زما په مخ باندې روانې وې.اوما خپلې کټوئ ته اور تازه کولو.نو نبی ﷺ راته اوفرمائيل .«أيؤذيك هوام رأسك» آيا تاته د خپل سر سپږې تکليف درکوی. نو ماورته عرض اوکړلو.چه آو ،نودا آيت نازل شو. ﴿فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ﴾ ما عرض اوکړلو.چه روژې څومره نو نبی ﷺ اوفرمائيل.درې ورځې.حضرت کعب بن عجره فرمائی.که نبی ﷺ تفصيل نه وو کړې.نومونږ خلقو به د شپږو مسکينانو په طعام باندې قياس کولو .اوشپږ روژې به مو نيولې. [1] نومعلومه شوه.چه ددې آيت تفسير رسول الله ﷺ په خپله کړې دی.

[1] من حديث كعب بن عجرة رضی الله عنه أخرجه البخاری في المحصر باب ٥ ومسلم في الحج رقم ٨٠ والترمذی في الحج باب ١٠٥ ومالك في ا الحج رقم ٢٣٨ واحمد في المسند (٤/٢٤١)۔

جواز الصوم في اي موضع > علامه مرغيناني رحمه الله فرمائيلي دی .د خلورو امامانو په دې باندې اتفاق دې.چه دا درې روژې په هرځائې کښې نیوې شي.حرم سره ددې څه تخصیص نشته.ځکه چه دا عبادت دې. او د عبادت دپاره د مکان تخصیص نشته.

وَإِنْ قَبَّلَ أَوْلَمَسَ بِشَهْوَةٍ فَعَلَيْهِ دَمٌ) اوکه ښکل نې کړه یا نې مسه کړه په شهوت سره نوپه ده دم واجب دې. أَنْزَلَ أَوْلَمْ يُنْزِلْ که انزال نې اوشي اوکه نه.

تشريح > **الروايتان في وجوب الدم بالقبلة** > ① اوکه محرم د ښځه ښکل کړله.نوپه ده باندې دم واجب دې.که انزال شوې وی اوکه نه وی.دا په مبسوط کښې ذکر دی.② اود جامع صغیر په عبارت کښې د انزال شرط لګولې شوې دې.فرمائی.که محرم په شهوت سره ښځه مسه کړه.اوانزال نې اوشو.نوپه ده باندې دم واجب دې.دجامع صغیرد عبارت نه دا معلومیږی. که انزال نه وی شوې نو په محرم باندې دم نه واجبیږی.

د وقوف عرفات نه وړاندې په احدالسبیلین کښې جماع کول

وَمَنْ جَامَعَ فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ قَبْلَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ فَسَدَ حَجُّهُ،او که چا جماع اوکړه په يو د دوو لاروکښې د وقوف عرفې نه مخکښې نوودده حج فاسد شو. وَعَلَيْهِ شَاةٌ وَيَمْضِي فِي الْحَجِّ كَمَا يَمْضِي مَنْ لَمْ يُفْسِدْ حجه اوپه ده چیلۍ لازم ده.اودحج افعال دې کوی لکه چه هغه څوك نې کوی د چا حج چې نه وی فاسد شوې وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ اوپه ده باندې قضا ده

حل اللغة > ① **جامع، مجامعة**: جماع کول ② **فسد، فسادًا (ن)**: فاسد کیدل\

تشريح > **فسادالحج بالجماع قبل الوقوف بعرفة** > مسئله دا ده.که محرم د وقوف عرفات نه وړاندې ښځې سره په قبل یا دبر کښې جماع اوکړه. نوودده اود ښځې دواړو حج فاسد شو.اوپه دوی باندې د یوې چیلۍ (یاګډ) قربانی واجب ده.یا په اوښ یا غوی کښې اوومه حصه ،اودې به دحج افعال دهغه چا پشان پوره کوی.دچا حج نه وی فاسد شوې.البته په راروان کال کښې به ددې حج قضا راوړی.
دليله > ددې مسئلې اصل هغه حدیث دې.چه یوسړې د وقوف عرفات نه پس دخپلې بی بی سره جماع اوکړه.اوبیا نبی نبی ﷺ ته ددې بیان اوکړلو.نونبی ﷺ ورته حکم اوکړلو.چه ستاسوحج فاسد شو.اوچیلۍ قربانۍ کړه.اوپه راروان کال کښې ددې حج قضا راوړئ. [1] د صحابو رضی الله عنهم د یوجماعت نه هم داسې نقل دی.
② دویم دلیل دا دې.چه دحج د فساد د وجې چه قضا واجب شوه.نوجرم ورکوتې شو.اوپه ورکوتی جرم کښې چیلۍ هم کافی کیږی.اودحج قضا ځکه واجب کړې وه.چه کوم حج چه فاسد شوې دې.هغه صحیح شی.اود وقوف عرفه نه پس د جماع په صورت کښې چونکه قضا واجب نه ده.نوهغه جرم وړوکې نشو.بلکه لوئې جرم شو.اوپه لوئې جرم کښې بدنه واجب وی.نوځکه په هغه صورت کښې چه د وقوف عرفات نه پس جماع اوکړی.بدنه واجب ده.چیلۍ په کښې نه کافی کیږی.
ملهب الشافعي رحمه الله > امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په دې صورت کښې په ده باندې بدنه واجب ده.ځکه چه ده یولوئې جرم اوکړلو .هغوی په هغه کس باندې قیاس کوی.څوك چه هغه د وقوف عرفات

---

[1]) من أثر یزیدبن نعیم أوزید بن نعیم رحمه الله اخرجه ابوداود في مراسیله والبیهقي في السنن الکبری (٥/٢٧٢) رقم ٩٧٧٨)

نه پس جماع اوکړی.نوهلته به هغه باندې دم واجبیږی.(حالانکه دهغه جرم دده د جرم نه کم دی.اودهغه حج هم نه دی فاسد شوی)نوبه دې صورت کښې به هم دم واجب وی.(بلکه په درجه اولی سره به دم واجب وی ځکه چه دده جرم داولنی د جرم نه لوئې دې)

الروايتان في فسادالحج بالجماع في الدبر ﴿صاحب دهدایه رحمه الله فرمانیلی دی.امام قدوری د وقوف عرفات نه وراندې په قبل یا دبرکښې دجماع حکم یوشان ذکر کړې دې.دا د صاحبینو رحمهما الله مذهب دې.اودامام ابوحنیفه رحمه الله نه دا یو روایت دې.② اودامام ابوحنیفه رحمه الله نه دویم روایت دا دی.که چه په قبل کښې په جماع کولو سره حج فاسدیږی.خوپه دبر کښې جماع کولو سره نه فاسدیږی.ځکه چه کامله وطی په قبل کښې کیږی په دبر کښې نه ،په دبرکښې وطی ناقصه وی.نوځکه په دبرکښې په وطی کولوسره حج نه فاسدیږی.نودحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله نه په دبر کښې جماع کولو سره دوه روایتونه منقول دی.یود فساد حج اوبل دعدم فساد ،

دجماع په وجه دفاسد شوی حج په قضا کښې د ښځې د جداوالی حکم

وَلَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُفَارِقَ امْرَأَتَهُ اِذَا حَجَّ بِهَا فِي قَضَاءٍ عِنْدَنَا او لازم نه دی په ده جداکیدل دخپلې ښځې نه.کله چې حج کوی په هغې په قضا کښې

حل اللغة ﴿ ① **ان يفارق، فارق مفارقة**: جدا کیدل

عدم تفريق الزوجة في القضاء ﴿مسئله دا ده.چه کوم حج یا عمره د جماع په وجه فاسد شی.نو دهغې په قضا راوړلو کښې د ښځې نه جدا والې ضروری نه دی.چه قضا دې جدا جدا راوړی.([1])

دليله ﴿ دلیل دا دی.چه ددې دواړو ښځه خاوند په مینځ کښې یوځائې کونکې څیزیعنی نکاح قائم ده.نونه د احرام نه وراندې جدا کیدل څه معنی لری.ځکه چه د احرام نه وراندې خو جماع جائزده.اونه د احرام نه پس،ځکه چه دوی ته به هروخت دا خبره یادیږی.چه دا دوباره حج چه مونږ ددې مشقت اوتکلیف برداشت کړو.نوپه سابقه حج کښې د کوتاهۍ د وجې،نودا خل به ډیر زیات احتیاط کوی.چه هسې بیا رانه حج فاسد شی.اوبیا دا مشقت برداشت کول راپه غاړه شی.

دوقوف عرفات نه پس په جماع کولو د حج عدم فساد

وَمَنْ جَامَعَ بَعْدَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ لَمْ يَفْسُدْ حَجُّهُ وَعَلَيْهِ بَدَنَةٌ چا چه جماع اوکړه دوقوف عرفې نه پس نوفاسد به نه وی دده حج اوپه ده بدنه واجب ده.

حل اللغة ﴿ ① **وقف، وقوفا (ض)**: اودریدل،حصاریدل ② **انواع**: قسمونه ③ **ارتفاق**: نفع اوچتول]

تشريح ﴿ **عدم فساد الحج بالجماع بعد الوقوف** ﴿ که محرم د وقوف عرفات نه پس جماع اوکړه.نودده حج فاسد نشو.اوپه ده باندې بدنه یعنی د اوښ یا غوې قربانی واجب ده. ([2])

([1] **مذاهب العلماء**:- ① امام مالك رحمه الله فرمانی چه ځنګه د کور نه رابهر شی.نوجدا به شی.② امام زفر رحمه الله فرمانی. چه کله احرام اوتړی.نوجدا به شی.③ امام شافعی رحمه الله فرمانی چه کله هغه ځائې ته نزدې شی.په کوم کښې چه ئې تیرکال جماع کړې وه.نوجدا به شی.دا د امام احمد رحمه الله قول هم دې.

([2] **مذهب الشافعي** رحمه الله ﴿ امام شافعی رحمه الله فرمانی که د جمره عقبه د رمی نه وراندې ئې جماع اوکړه نو دده حج به فاسد شی.

دلائله ﴿ ①دليل دا دي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي .چاچه وقوف عرفات اوكړلو .نو دده حج پوره شو.
(۱)حديث مطلب دا نه دي چه د حج افعال پوره شو.ځكه چه ددي نه يوركن طواف زيارت اودغه شان نورافعال لاپاتې دي .بلكه مقصد دا دي چه د وقوف عرفات نه پس دده حج د فساد نه محفوظ شو.
②دويم دليل دا دي چه جماع د لذت حاصلولو تولو نه اوچت څيز دي.نوچه كوم څيز په دې جنايت باندې واجبيږي.هغه به هم لوئې وي.اوهغه بدنه ده.نوځكه بدنه واجب ده.

دحلق نه پس جماع كول

وَمَنْ جَامَعَ بَعْدَ الْحَلْقِ فَعَلَيْهِ شَاةٌ اوچا چې دحلق نه پس نې جماع اوكړه نوپده باندې چيلۍ ده.

تشريح ﴿ **حكم الجماع بعد الحلق** ﴾ تشريح ښكاره ده.

دعمرې د خلوروچكرونو نه وړاندې جماع كول

وَمَنْ جَامَعَ فِي الْعُمْرَةِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ أَفْسَدَهَا اوچا چه جماع اوكړه په عمره كښې مخكښې د خلوروچكرو دطواف نه نوده عمره فاسده كړه. وَمَضَى فِيهَا وَقَضَاهَا وَعَلَيْهِ شَاةٌ نو ددې افعال دې اوكړي او ددې قضا دې اوكړي اوپه ده باندې چيلۍ واجب ده

حل اللغة ﴿ ①**يقضيها، قضي يقضي قضاءً (ض)**؛پوره كول،اداكول ②**اشواط**: چكرې

تشريح ﴿ **فساد العمرة ووجوب الشاة بالجماع قبل أكثر الأشواط** ﴾ كه يوكس د عمرې دخلورو چكرونونه وړاندې جماع اوكړه.نو ددۀ عمره فاسده شوه.خودې به د عمرې افعال پوره كوي.اوپه ده باندې ددې قضا ده.اودجماع د وجې به چيلۍ قرباني كوي.

وَإِنْ وطئ بَعْدَ مَا طَافَ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ اوكه جماع نې اوكړه پس دخلورو چكرو دطواف كولونه فَعَلَيْهِ شَاةٌ وَلَا تَفْسُدُ عُمْرَتُهُ نوپده چيلۍ ده او عمره نه فاسديږي. ولايلزمه قضاؤها اونه لازميږي په ده باندې قضا د دې

تشريح ﴿ **الجماع بعد أكثر الأشواط** ﴾ اوكه د خلورو يا ددې نه د زياتوچكرونو نه پس نې جماع اوكړه.نوپه ده باندې به د چيلۍ قرباني واجب شي.خوعمره نې نه فاسديږي. (۲)

دليله ﴿ دليل دا دي چه حج فرض دي.اوعمره سنت ده.اود فرضو مرتبه اوچته ده د سنت نه.نوپه دواړو كښې د فرق ښكاره كولو دپاره به د حج په باب كښې بدنه واجب وي.اود عمرې په باب كښې به چيلۍ واجب وي.

عدم القضاء ﴿ او د دې عمرې قضاء په ده باندې واجب نه ده ځكه چه عمره فاسده شوې نه ده نو قضاء به پرې څنګه واجبه شي

---

(۱) تقدم تخريجه_

(۲) **مذهب الشافعي رحمه الله**:- امام شافعي رحمه الله فرمائي چه په دواړو صورتونو كښې ددۀ عمره فاسده شوه.اوپه ده باندې د بدنه قرباني واجب ده.

په هیره جماع کول

وَمَنْ جَامَعَ نَاسِيًا كَانَ كَمَنْ جَامَعَ عَامِدًا فِي الْحُكْمِ اوچا چه په هیره جماع اوکړه دې داسې دې لکه چه قصداً ئې اوکړی.په حکم کښې

حل اللغة < ① **ناسيا**: هیره

تشریح < **فساد الحج بالجماع ناسيا** < مسئله دا ده. چه په هیره باندې په جماع کولو سره داسې حج فاسدیږی لکه څنګه چه په قصد جماع کولو سره حج فاسدیږی.(۱)

دلیله < دلیل دا دې.چه په خاص قسم خوند حاصلولوسره حج فاسدیږی.یعنی په جماع سره حج فاسدیږی.اود هیرې وغیره عوارضو د وجې نه معدوم کیږی.په هیره باندې اوپه زور باندې جماع کولو سره غسل واجبیږی.اوحرمت مصاهرت هم ثابتیږی.نودغه شان حج به هم په دې باندې فاسدیږی.

طواف قدوم په حالت د بې اودسۍ کښې

وَمَنْ طَافَ طَوَافَ الْقُدُومِ مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ چا چه طواف اوکړو طواف قدوم بې اودسه.نو پده صدقه واجب ده.

حل اللغة < ① **محدثا**: بې اودسه

تشریح < **مسئله** < د بې اودسه طواف قدوم زمونږ په نیز معتبر دې.اګرچه په ده باندې صدقه واجب ده (۲)

دلیله < دلیل دالله تعالی دا ارشاد {وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ} دې.په دې کښې د مطلق طواف حکم دې.د طهارت شرط په کښې نشته.نوځکه د کتاب الله نه د طهارت فرضیت نه ثابتیږی. او پاتې شو حدیث نو دا خبر واحد دې.اوپه خبرواحد سره په کتاب الله باندې زیادت جائز نه دې. حاصل دا چه د طواف دپاره طهارت فرض نه دې.

حکم الطهارة < البته د بعضې عالمانو رحمهم الله په نیز سنت دې.لکه د عبدالله بن شجاع رحمه الله قول دادې او اصح دا ده چه طهارت واجب دې لکه څنګه چه د ابوبکر رازی رحمه الله قول دې.

دلائل وجوبها < ① د وجوب دلیل دا دې.چه په طواف قدوم کښې د طهارت په پریخودو سره د نقصان پوره کونکې صدقه واجبیږی.اود کوم څیز په پریخودو چه کمې پوره کونکې واجب وی.نوهغه څیز به په خپله هم واجب وی. نوځکه به طهارت واجب وی. ② دویم دلیل دا دې.چه «الطواف بالبيت صلاة» خبرواحد باندې عمل کوی.نوځکه ددې حدیث نه د طهارت وجوب ثابتیږی.

وَإِنْ كَانَ جُنُبًا فَعَلَيْهِ شَاةٌ اوکه دې جنب وو نو په ده د چیلۍ قربانی ده

(۱ **مذهب الشافعي** رحمه الله:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه په هیره سره په جماع کولو حج نه فاسدیږی.دوی په روژه باندې قیاس کوی.لکه څنګه چه روژه په هیره جماع کولو سره نه فاسدیږی.دغه شان حج هم نه فاسدیږی.دا اختلاف په هغه صورت کښې هم دې.چه د اوده محرمې ښځې سره جماع اوکړی.یا ورسره په زور باندې جماع اوکړی.نوزمونږ په نیزددې حج فاسد شو.اوامام شافعی رحمه الله په نیز ئې حج نه فاسدیږی.

(۲ **مذهب الشافعي** رحمه الله:- اودامام شافعی رحمه الله په نیز معتبر نه دې.

تشریح> وجوب الشاة بالطواف جنبا> او که طواف قدوم ئې په حالت د جنابت کښې اوکړو نو په جرمانه کښې به پرې د چیلۍ قرباني واجب وي او که طواف ئې دوباره اوکړو نو جرمانه یعني دم به ساقط شي

طواف زیارت په بې اودسۍ کښې کول

وَإِنْ طَافَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ شَاةٌ) او که طواف ئې اوکړو طواف زیارت بې اودسه نو په ده چیلۍ لازم ده.

تشریح> وجوب الشاة بطواف الزیارة محدثا> که محرم طواف زیارت د بې اودسۍ په حالت کښې اوکړلو.نو په ده باندې د چیلۍ قرباني واجبیږي.

دلیله> ځکه چه رکن یعني طواف زیارت کښې نقصان پیدا شو.او په رکن کښې نقصان پیدا کیدل په واجب کښې د نقصان پیدا کیدو نه لوئې جرم دې.نو هر کله چه په رکن کښې نقصان پیدا کول زیات جرم دې.نو ددې تلافي چه په کوم څیز کیږي.هغه به هم پکار ده چه لوئې وي.چه چیلۍ ده. او په واجب یعني په طواف قدوم کښې نقصان پیدا کیدو پوره والې به په ورکوټي څیز یعني صدقه باندې کیږي.

وَإِنْ كَانَ جُنُبًا فَعَلَيْهِ بَدَنَةٌ او که دې جنب وو نو په ده بدنه ده

تشریح> وجوب البدنة بالطواف جنبا> او که طواف زیارت په حالت د جنابت کښې اوکړي.نو په ده باندې بدنه یعني اوښ یا غوې قرباني کول لازمیږي.

دلائله> ① ددې روایت د ابن عباس رضي الله عنهما نه شوې دې.② دویم دلیل دا دې.چه جنابت په نسبت سره حدث ته زیات غلیظ دې.نو په دې دواړو کښې د فرق ښکاره کولو دپاره که په حالت د جنابت کښې طواف اوکړي.نو د پیدا شوي نقصان تلافي به په بدنه سره کیږي.او که په بې اودسه سره نو د پیدا شوي نقصان تلافي به په چیلۍ سره کولې شي.

حکم اداء اکثر اشواط طواف الزیارة محدثا او جنبا> دغه شان که د طواف زیارت زیاته حصه ئې په حالت د حدث کښې اوکړله .نو دم به واجب وي.او که اکثره حصه ئې په حالت د جنابت کښې اوکړله.نو بدنه به واجب وي.

دلیله> ځکه چه د یو څیز د اکثر هغه حکم وي.کوم چه د هغې د کل وي. او مشهوره قاعده ده.چه «للاکثر حکم الکل»

په حالت د حدث یا جنابت کښې د شوي طواف اعاده کول

وَالْأَفْضَلُ أَنْ يُعِيدَ الطَّوَافَ مَا دَامَ بِمَكَّةَ وَلَا ذَبْحَ عَلَيْهِ او غوره داده چه طواف واپس کړي ترڅو چه په مکه معظمه کښې پاتې وي او حلاله به پرې پاتې نشي

حل اللغة > ① ان یعید،اعاد،اعادة: واپس کول ② حدث: ناپاکي]

تشریح> إستحباب إعادة الطواف> صاحب د قدوري رحمه الله فرمائي.کوم طواف چه په حالت د حدث یا د جنابت کښې اوشي.نو په دواړو صورتونو کښې افضل دا دي.چه ترڅو په مکه کښې وي.ددې اعاده دې اوکړي. او د دې په اعاده کولو سره د ده نه د چیلۍ اود بدنه د قرباني کولو حکم هم ساقطیږي.

فائدة إختلاف نسخ القدوري رحمه الله > صاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلي دي چې د قدوري رحمه الله په بعضې نسخو کښې دا عبارت دې. «وعلیه أن یعیده» دا د طواف د دوباره کولو په وجوب باندې دلالت کوي.

القول الراجح﴿ صاحب دهدايه رحمه الله فرمائي.چه زياته صحيح خبره دا ده .كه طواف زيارت ئې په حالت د بې اودسۍ كښې كړې وي.نواعاده مستحب ده.اوكه په حالت د جنابت كښې ئې كړې وي.نواعاده واجب ده.اود بې اودسۍ په صورت كښې طواف كول جنايت قاصره دې. نوځكه به اعاده مستحب وي

طواف صدر په حالت د حدث كښې كول

وَمَنْ طَافَ طَوَافَ الصَّدْرِ مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ چا چه طواف صدر بې اودسه اوكړو نوپه ده صدقه ده وان كان جنبا فعليه شاة اوكه جنب وي نو په ده باندې د چيلۍ قرباني ده

حل اللغة﴿ ① **تجب، وجب وجوبًا (ض)**: واجب كيدل،لازم كيدل]

تشريح﴿ **وجوب الصدقة بطواف الصدر محدثا**﴾ كه محرم طواف صدر (د واپسۍ طواف) په حالت د بې اودسۍ كښې اوكړلو.نوپه ده باندې صدقه واجب ده.ځكه چه طواف صدر اګرچه واجب دې.خود طواف زيارت نه په كمه درجه كښې دې.

دليله﴿ ځكه چه هغه ركن دې.نوددې دواړو په مينځ كښې د فرق ښكاره كولو دپاره ونيلې شوى دى.كه طواف زيارت په حالت د حدث كښې اوكړى.نوچيلۍ واجب ده.اوكه طواف صدرپه حالت دحدث كښې اوكړى.نوصدقه واجب ده.

الرواية الثانية عن ابي حنيفة رحمه الله﴾ اود امام ابوحنيفه رحمه الله نه يوروايت دا دې.چه طواف صدر په حالت د حدث كښې هم چيلۍ واجبوى.خواولنى روايت يعنى وجوب د صدقې والا اصح دې.

وجوب الشاة بالطواف جنبا﴾ او كه طواف صدر ئې په حالت د جنابت كښې اوكړو نو په ده باندې د چيلۍ قرباني واجب ده

دليله﴿ چونكه بې اودسى د جنابت نه حدث اصغر دې او د هغې په وجود كښې طواف صدر كولو باندې چيلۍ واجبيږى نو چې په حالت د جنابت كښې ئې اوكړى نو جنابت حدث اكبر دې د دې وجې به د دې جزاء هم په حالت د حدث كښې د طواف صدر كولو د جزاء نه زياته وى نو ځكه مونږ په حالت د جنابت كښې په طواف كولو د چيلۍ قرباني واجب شوه

طواف صدر ټول يا اكثرچكرونه پريښودل

وَإِنْ تَرَكَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ اوكه محرم پريخودل د طواف زيارت ثَلَاثَةَ أَشْوَاطٍ درې چكرونه فَمَا دُوْنَهَا يا د درې نه كم فَعَلَيْهِ شَاةٌ نو په ده باندې چيلۍ قرباني كول دى

تشريح﴿ **حكم ترك ثلاثة اشواط اواقل من طواف الزيارة**﴾ كه محرم د طواف زيارت درې يا د درې نه كم چكرونه پريخودل نو په ده باندې دم واجب شوه

دليله﴿ ځكه چه د درې چكرونو په پريخودو چې كوم نقصان راغلې دې هغه كم دې نو دا د هغه نقصان سره مشابه شو كوم چې د بې اودسۍ په حالت كښې طواف كولو سره راځى او چې څوك بې اودسه طواف اوكړى نو د هغې نقصان تلافى د چيلۍ په قربانۍ سره كولې شى نو ځكه به دلته هم قربانى لازمه وى

عدم وجوب الدم اذا اعاد الطواف﴾ خو دا د قربانۍ حكم په هغه وخت كښې دې چې دې طواف زيارت دوباره اونكړى او كه طواف زيارت اوكړى نو په ده باندې څه نه لازميږى اوكه د ايام النحر نه پس ئې طواف

اوکړو نو په ده باندې صدقه پرېښودل لازم ده اوکه د مکې نه واپس خپل وطن ته لاړل نو د ده دپاره دا جائز ده چې مکې ته واپس لاړ نشي بلکه هم د خپل وطن نه چیلۍ حرم ته اولیږی

وان ترك اوكه پريخودل اربعة اشواط څلور چكرونه بقي محرما ابداً نو دي به همیشه دپاره محرم وی حتی یطوفها تردې چې دغه چکرونه اوکړی

تشریح> **حکم ترک اکثر اشواط طواف الزیارة>** اوکه محرم د طواف زیارت څلور چکرونه پریښودل نو هغه به ترهغه وخته پورې محرم وی چې ترڅو یې طواف زیارت نه وی کړې

دلیله> ځکه چه ده څلور طوافونه نه دی کړی او څلور طواف اکثر دی او د اکثر دپاره حکم د کل وی نو دا داسې شوه چې ده هډو طواف نه دې کړې اوچې طواف زیارت چا نه وی کړې نو هغه به همیشه دپاره محرم وی یعنی د ښځو په حق کښې به محرم وی چې کله هم صحبت کوی نو په هغه باندې به دم لازمیږی خو چې مجلس متعدد وی اوکه په یو مجلس کښې بار بار صحبت اوکړی نو بیا به پرې صرف یو دم لازمیږی.

ومن ترك ثلاثة اشواط اوچا چې درې چکرونه پريخودل من طواف الصدر د طواف صدر نه فعليه صدقة نو په ده باندې صدقه واجب ده وان ترك طواف الصدر اوكه طواف صدر يې ټول پريخودل اواربعة اشواط منه یا یې د دې څلور چکرونه پريخودل فعليه شاة نو په ده باندې چیلۍ واجب ده

تشریح> **حکم ترک ثلاثة اشواط من طواف الصدر>** که محرم د طواف صدر نه درې طوافه پریخودل نو په ده باندې د هر چکر په بدله کښې یو صدقه واجب ده

حکم ترک طواف الصدر> اوکه طواف صدر یې ټول پریخودل یا یې د دې څلور طوافه پریخودل تردې چې وطن ته واپس شو نو

دلیله> ځکه چه ده واجب یا په واجب کښې اکثره حصه پریخودله او په ترك د واجب باندې قربانی واجبیږی اوترڅو چې دې په مکه کښې وی نو ده ته به د طواف صدر کولو حکم کولې شی دې دپاره چې طواف په خپل وخت کښې ادا شی (اللباب (۱۸۵۱)-

د سعی په پریښودو د دم وجوب

وَمَنْ تَرَكَ السَّعْيَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَعَلَيْهِ شَاةٌ دَمٌ وَحَجُّهُ تَامٌ اوچا چه دصفا مروه په درمیان کښې سعی پریښوده نوپه ده چیلۍ ده اوحج ئې پوره دې.

حل اللغة> ① **تام:** پوره ② **ترکه،ترک ترکا(ن):** پریخودل]

تشریح> مسئله ښکاره ده.

دامام نه وړاندې د عرفات نه تلل

وَمَنْ أَفَاضَ مِنْ عَرَفَاتٍ قَبْلَ الْإِمَامِ فَعَلَيْهِ دَمٌ خوك چه دعرفات نه روان شو مخکښې دامام نه، نوپه ده دم دې.

حل اللغة> ① **لاشئ:** هیڅ خیز نه ② **اطالة:** اوږدول]

تشریح> **وجوب الدم بالذهاب قبل الغروب یوم العرفة>** ① که یوکس د نمرپریوتو نه مخکښې د امام نه وړاندې د میدان عرفات نه لاړلو.نوپه ده باندې دم واجب دا دې.هم دا دامام مالك اوامام احمد رحمهما الله یو

قول دې.او دا امام شافعي رحمه الله هم دا يو قول دې. (۱)

دليله: دليل دا دې.چه نمر پريوتو پورې ايسار يدل واجب دې.دنبي ﷺ ارشاد دې ﴿فادفعوا بعد غروب الشمس﴾ يعني تاسو د عرفات نه د نمر پريوتو نه پس روانيږئ.اوپه يو روايت كښې دی.چه نبي ﷺ په خطبه كښې اوفرمائيل. ﴿ان اهل الجاهلية كانوا يدفعون من هذا الموضع اذا كانت الشمس على رؤس الجبال مثل عمائم الرجال في وجوهها وانا ندفع بعد ان تغيب﴾ (۲) يعني مشركانو به په زمانه دجاهليت كښې ددې (عرفات) نه په داسې وخت كښې تګ كولو.چه نمر به د غرونو په سوكو داسې وو.لكه څنګه چه د سړو پټكي د هغوی په مخونو باندې نژدې وی.اومونږ به د نمر پريوتو نه پس روانيږو.ددې دواړو احاديثو نه معلوميږی.چه د نمر پريوتو پورې وقوف اوږدول واجب دی.اودا كس چونكه د نمر پريوتو نه په وړاندې تلو سره د واجبو پريخودونكې شو.نود واجب په پريخودو پرې دم واجبيږی.

السوال التقديری: ﴿بخلاف ما اذا وقف..﴾ **الخ** په دې عبارت سره د يو تقديری سوال جواب وركوی سوال دا دې.كه يو كس د نهمې ذوالحجه پسې چه كومه شپه راروانه وی.يعني داختر شپه د هغې په يوه حصه كښې وقوف اوكړلو.نودې كس د نمر پريوتو پورې وقوف اوږد نكړلو.پكار ده چه په ده هم دم واجب وې.حالانكه په ده دم نه واجبيږی.

الجواب: جواب دادې.چه د نمر پريوتو پورې د وقوف اوږدول په هغه چا باندې واجب دی.څوك چه په نهمه ذوالحجه باندې وقوف عرفات اوكړی.اوچونكه دې كس د نهمې ذوالحجه په ورځ وقوف نه دې كړې.بلكه په شپه كښې ئې وقوف كړې دې.نوترك د ده په حق كښې ترك د واجب نه دې موجود شوې.نوځكه پرې دم هم نه واجبيږی.

عدم سقوط الدم بالرجوع بعد الغروب: صاحب دقدروی رحمه الله فرمائی.كوم كس چه دغروب نه وړاندې تلې وی.اوبيا د نمر پريوتو نه پس واپس راشی.اود امام سره د عرفات نه روان شی. نود ظاهرروايت مطابق دده نه وجوب د دم نه ساقطيږی.ځكه چه د غروب نه وړاندې چه په وقوف كښې كوم نقصان راغلې دې.دهغې پوره كول ممكن نه دی.نوځكه دم نه ساقطيږی.

سقوط الدم بالرجوع قبل الغروب: اوكه د غروب نه وړاندې وړاندې ميدان عرفات ته واپس راغلو. او بيا د امام سره روان شو.نوپه دې صورت كښې هم د امام زفر رحمه الله په نيز دده نه وجوب دم نه ساقطيږی. البته د امام ابوحنيفه اوصاحبينو رحمهما الله په نيز ترې دم ساقطيږی.

د وقوف مزدلفه په ترك سره وجوب د دم

مَنْ تَرَكَ الْوُقُوفَ بِمُزْدَلِفَةَ فَعَلَيْهِ دَمٌ اوچا چه پريخودو وقوف د مزدلفې نوپه ده دم دې

تشريح: مسئله ښكاره ده.

د رمی په ټولو ورځو كښې ترك د رمی الجماركول

وَمَنْ تَرَكَ رَمْيَ الْجِمَارِ فِي الْأَيَّامِ كُلِّهَا فَعَلَيْهِ دَمٌ اوچا چه پرېښودله رمی دجمرو په ټولو ورځوكښې نو په ده دم دې.

(۱) **مذهب الشافعي** رحمه الله:- اود امام شافعي رحمه الله دويم قول دا دې.چه په ده باندې څه واجب نه دی.

(۲) غريب الزيلعي رحمه الله ثم قال تقدم في حديث جابر الطويل فلم يزل واقفا حتى غربت الشمس كذا في نصب الراية (۱۵۴/۳)

تشریح ﴿**حکم ترک رمي الجمار**﴾ د رمي خلور ورځي دي.لسمه يولسمه دولسمه اوديارلسمه که يوکس د رمي په دې ټولو ورځو کښې دشيطانانو ويشتل پريخودل.نويه ده باندې دم لازم دې.ځکه چه رمي د شيطانانو واجب ده.اود واجب په پريخودو باندې دم لازميږي.نويه ده دم واجب شو.البته دا چه دټولوورځو د شيطانانو د رمي په پريخودو سره صرف يو دم کافي کيږي.د رمي ټول شمار اويا دي.

دليله﴾ دليل دا دې.چه د ټولو ويشتلو جنس د ذات په اعتبار سره هم يو دې.اود محل په اعتبار سره هم يو دې. نودا ټول به يوه رمي حسابولې شي.اويودم به واجبولې شي.لکه څنګه چه يومحرم د ټول بدن ويخته اوخرائي.نويه ده باندې صرف يو دم واجب دې.اګرچه په هغه صورت کښې هم صرف يو دم واجبيږي.چه ټول سر يا د سر د څلورمې حصې ويخته اوخرائي.دلته هم د يودم د وجوب علت اتحاد دجنس دې.نولکه څنګه چه د حلق په باب کښې يودم واجبيږي.دغه شان به دلته د رمي په باب کښې هم يو دم واجبيږي.

وقت الرمي ﴾ علامه مرغيناني رحمه الله فرمائيلي دي.چه د رمي پريخودل به په هغه وخت کښې متحقق کيږي.چه د رمي آخري ورځ يعنی د ديارلسمي ذوالحجه د نمر پريوتو پورې.ځکه چه رمي چه عبادت ګرځولې شوې دې.نوصرف په دې ورځو کښې.اود رمي اعاده ترهغه وخته پورې ممکن ده.چه دا ورځې باقي وي.مثلاً که په ديارلسمه ورځ ئې د رمي د اعادې کولو اراده اوکړله.نويه دغه ورځ دې د ټولو ورځو رمي په هغه ترتيب سره اوکړي.ځکه ترتيب چه ئې مقرر شوې دې.په دې صورت کښې چونکه رمي د خپل وخت نه روستو شوه.نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز پرې دم واجب دې.ځکه چه دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز تاخير د واجب موجب د دم دې.اود صاحبينو رحمهما الله په نيز تاخير د واجب موجب د دم نه دي.

د پوره يوې ورځې رمي پريخودل

وَاِنْ تَرَكَ رَمْيَ اِحْدَى الْجِمَارِ الثَّلَاثِ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ اوکه پاتې ئې کړه د دريو جمراتو نه د يوې جمرې رمي نويه ده صدقه ده.

تشریح ﴿**وجوب الصدقة بترک الرمي الواحد**﴾ که يوکس د رمي د ورځونه په يوه ورځ کښې د يوې جمرې رمي پريخوده.نويه ده باندې د نيم صاع غنمو صدقه واجب ده.

دليله﴾ ځکه چه په يوه ورځ کښې درې واړه جمرات ويشتل يونسک دې.اوچه ده د يوې جمرې ويشتل پريخودل.نودا د يونسک د نيمې نه هم کم عمل پريخودې شو.اوچه ديو نسک د نيم نه هم کم پريخودې شي.نويه دې صدقه واجبيږي.نودلته به هم د يوې جمرې د رمي په پريخودو به صرف صدقه واجبيږي.

وجوب الدم عندترک اکثرالرمي ﴾ صاحب د هدايه رحمه الله فرمائيلي دي البته دا ده.که د پريخودې شوی جمراتو رمي د نصف نه زياته وي. مثلاً د ټولوجمراتو ويشتلو شمار يوويشت دې.اوس که ده د لسو ګيټکو ويشتل اوکړل.نويه ده باندې دم لازم دې.ځکه چه د يوولسو ګيټکو ويشتل پاتې شو.او يوولس اکثر دی.اود اکثر دپاره حکم د کل وي. نو لکه چه ده د درې واړوجمراتو ويشتل پريخودې دی.اوپه هغه صورت کښې دم واجبيږي.نودغه شان به دلته هم دم واجبيږي.

وَاِنْ تَرَكَ رَمْيَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فِيْ يَوْمِ النَّحْرِ فَعَلَيْهِ دَمٌ اوکه پريخوده ئې د جمره عقبه رمي د قربانئی په ورځ نويه ده دم دې.

تشريح> وجوب الدم بترک الجمرة العقبة> اوکه یوکس په یوم النحر باندې د جمره عقبه رمی پریخودله.تردې چه دیارلسمه ذوالحجه باندې نمر ډوب شو.نو په ده باندې دم لازم دې.

دليله> ځکه چه په یوم النحرصرف د جمره عقبه رمی پوره نسک دې.اوده په یوم النحر باندې رمی پریخودله.نویونسک ئې پریخودلو.اود یو نسک په پریخودو باندې دم واجبیږی.نو په ده باندې هم دم واجبیږی.

دغه شان که په یوم النحر د جمره عقبه اکثره رمی یعنی څلور ګیټکو باندې ویشتل پریخودل. نوهم پرې دم واجبیږی.ځکه چه مشهوره قاعده ده.چه (للاكثرحكم الكل)

د ایام النحر نه حلق روستو کول

> وَمَنْ أَخَّرَ الْحَلْقَ حَتَّى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ فَعَلَيْهِ دَمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله،اوچا چه روستوکړوسرخرئیل تر دې چه تیر شوې ورځې دقربانئی نو په ده دم دې په نزد دامام ابوحنیفه صاحب رحمه الله وَكَذَالِكَ إِنْ أَخَّرَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحمه الله،اودا شان کله چه ورستو ئې کړو طواف زیارت په نزد دامام ابوحنیفه رحمه الله[1]

حل اللغة > ① **اخر،تاخيراً**: روستوکول ② **مضت، مضياً(ض)** :تیریدل ③ **نحر، نحراً(ف)**: قربانی کول

تشريح> وجوب الدم بتاخيرالنسک حتي مضي ايام النحر> امام قدوری رحمه الله فرمائی.چې دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز ① که محرم د ایام النحریعنی لسمه یوولسمه اودولسمه ورځ کښې نه حلق اوکړلواونه ئې قصر اوکړلو.نو په ده باندې دم واجب شو.② دغه شان که ده طواف زیارت روستو کړلو.نو په ده دم واجب دې.

③ د یوم النحر رمی د جمره عقبه یعنی دلسمې ذوالحجه رمی یوولسمې ته روستو کړی.یا د یوولسمې رمی دولسمې ته روستو کړی.یا د دولسمې هغه دیارلسمې یا د دیارلسمې هغه څوارلسمې ته روستو کړی.نو په دې صورتونو کښې دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز پرې د تاخیر په وجه دم واجب دې.

دلائله > ① دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حدیث دې. دوی فرمائی چه کوم سړی نسک دبل نه رومبے اوکړو نو په ده دم دې [2] اوپه بعضې نسخو کښې د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ذکر دې.حدیث دا دې.چه چا یونسک په بل باندې وړاندې کړلو.نو په هغه باندې دم دې.

② دویم دلیل دا دې.چه کوم نسک په یومکان پورې مخصوص وی.نوکه د هغې نه روستو شی.دم به واجب وی.لکه که یوکس د میقات نه تیرشو.اوبیا ئې احرام اوتړلو .نو په ده باندې دم واجبیږی.دغه شان چه کوم نسک په کومه زمانه پورې خاص وی.دهغې نه روستو شی.نودم به لازمیږی.په دې دواړو کښې جامع د تاخیرنقصان پیدا کیدل دی.

مذهب الصاحبين> اوپه ذکرشوې دواړو صورتونو کښې د صاحبینو رحمهما الله په نیزقربانی نه ده واجب.

---

[1] القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في ردالمحتار(٢٢٦\٢) والبحر(٤٢\٣) وتبيين الحقائق (٦٢\٢) وفتح القدير(٤٦٩\٢) نقلاً عن القول الراجح (٢٢٨\١)_

[2] قال الزيلعي رحمه الله هكذا هو في غالب النسخ ويوجد في بعضها ابن عباس رضي الله عنهما وهو أصح رواه ابن ابي شيبة في مصنفه عن ابن عباس رضي الله عنهما قال من قدم شيأ من حجه أو اخره فليهرق دماً (كذا في نصب الراية٣/١٥٦)_

دلیلهما ﴿دصاحبینو ﷫ دلیل دا دی چه کوم خیزد خپل وخت نه فوت شی.نودهغی پوره کیدل په قضا سره کیږی.اوچه د کوم خیز پوره والی په قضا سره کیږی.نوپه هغی کښی بیا بل څه نه واجبیږی.لکه څنګه چه د شریعت د احکامو په لټون سره دا خبره معلومیږی.مثلاً د مونځ په فوت کښی باندی د قضا نه سوی بل څه واجب نه دی.دغه شان د حج په مسائلو کښی هم چه کله په یو نسک کښی تاخیر اوشی.نوصرف په تاخیره د قضا نه علاوه دم وغیره بل څه نه واجبیږی.

دمحرم ښکارښکول یا بل چاته ښودل

وَإِذَاقَتَلَ الْمُحْرِمُ صَيْدًاأَوْدَلَّ عَلَيْهِ مَنْ قَتَلَهُ فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ کله چه محرم ښکار قتل کړو یا نی ددی خودنه اوکړه هغه چاته چه دی نی قتل کړونو پده جزاء ده

حل اللغة ﴿①قتل،قتلاً(ن): قتل کول، وژل

تشریح ﴿ **صورتی الصید**﴾مسئله، ①که محرم په خپله ښکارقتل کړلو.②یا نی ښکاری ته.اوخودل.چه فلانی خانی کښی ښکار دی.اوهغه مدلول دغه ښکارقتل کړلو.نوپه دی دواړو صورتونوکښی په محرم باندی دم واجب دی.

دلیله﴾چه په خپله ښکارقتل کړی.نوپه دی صورت کښی د دم د وجوب دپاره د الله تعالی دا ارشاد دلیل دی. ﴿لَاتَقْتُلُواالصَّيْدَوَأَنْتُمْ حُرُمٌ﴾ یعنی تاسوښکار مه کوئ په داسی حال کښی چه تاسو په احرام کښی نی.اوچا چه په قصد سره قتل کړلو.نوپه ده باندی دهغه پشان په څناورو کښی جزاء واجب ده.

الصورالعقلي للدلالة﴾ د دلالت په صورت کښی د عقل په اعتبارسره ټول څلور صورتونه جوړیږی.①دال اومدلول دواړه حلال وی.②دال اومدلول دواړه محرم وی.③ دال حلال اومدلول محرم وی.④ دال محرم اومدلول حلال وی.

حکم کل واحدمنها﴾اولنی صورت زمونږد بحث نه بهردی.دویم کښی په دی ل اومدلول دواړو باندی جزاء ده.په دریم صورت کښی په مدلول باندی اوپه څلورم صورت کښی په دی ل باندی جزاء ده. (١)

دلائله ﴿ ①دلیل دحضرت ابوقتاده﷜ حدیث دی.کوم چه د احرام په باب کښی تیرشوی دی.(أنه أصاب حمار وحش وهوحلال وأصحابه محرمون فقال النبي ﷺ هل أشرتم هل أدلتم هل أعنتم،فقالوا لا فقال ﷺ إذافكلوا) د حدیث ترجمه اووجه د استدلال وړاندی تیره شوی ده.

② دویم دلیل دحضرت عبدالله بن عباس ﷠ د شاګرد رشید عطاء بن ابی رباح ﷫ قول دی.چه دخلقو په دی باندی اجماع ده.چه د حرم ښکار طرف ته اشاره کونکی باندی جزاء ده.اوامام طحاوی ﷫ فرمائیلی دی.دهیڅ صحابی﷜ نه ددی خلاف قول نقل نه دی.نوپه دی باندی اجماع شوه.چه په دی ل باندی جزاء واجبیږی

③ دریم دلیل دا دی.چه په حالت داحرام کښی په ښکار باندی دلالت کول د احرام د ممنوعاتوځنی دی.نوچه د احرام په ممنوعاتوکښی د یوممنوع ارتکاب اوشی.په هغی به خامخا ترتب د جزاء وی.

④ څلورم دلیل دا دی.چه په دلالت کولو سره د ښکار امن زائله کیږی.څکه چه ښکار د خپل وحشت اود خلقو نه خان ساتلو په وجه په امن وی.خوچه ده پری دلالت اوکړلو.اومدلول هغه قتل کړلو.نوهغه

---

(١) **اختلاف الشافعي** ﷫ ﴾ دامام شافعی ﷫ مذهب دا دی.چه په ده باندی په هیڅ صورت کښی جزاء نشته.هم دا دامام مالک ﷫ قول دی.

امن ده ختم کړلو.نودا داسې شوه لکه چه دغه خناور ده هلاك کړلو.اود خناور په هلاکولو سره جزاء واجبيږي.نودغه شان به په دې صورت کښې هم جزاء واجبيږي.

⑤ پنځم دليل دا دې.چه محرم د احرام په تړلوکښې په ځان باندې دا لازمه کړې وه.چه زه به د ښکار خناورو ته تعرض نه کوم.چه ده دلالت اوکړلو.نود هغه الزام خلاف ئې اوکړلو.اوچه د الزام خلاف اوشي.نوبه داسې صورت کښې ضمان واجبيږي.نوځکه په ده باندې ضمان يعنی جزاء واجبيږي.لکه څنګه چه يوکس د چا مال د ځان سره امانت ايخودې وي.اوده د هغې د حفاظت په ځان باندې التزام کړې دې.اوس که دې هغه التزام پريږدي.اوهغه مال هلاك شي.نودې به ضامن وي.

د عامداوناسي په قتل اودلالت کښې برابرتيا

سَوَاءٌ فِي ذٰلِكَ الْعَامِدُ وَالنَّاسِي اوبرابردی په دې کښې قصداً کوونکې اوپه هيره کوونکې

حل اللغة ﴿ ①**سواء:** برابر ②**عامد:** په قصدسره کوونکې ③**ناسي:** هيرونکې

تشريح﴿ **إستواء العامد والنسيان في جزاء الصيد**﴾صاحب دقدوری رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی.چه د ښکارپه قتل کښې دغه شان ددې په دلالت کښې په قصد سره قتل کوونکې اودلالت کوونکې اوپه هيره سره قتل کوونکې او دلالت کوونکې دواړه برابردی.يعنی لکه څنګه چه په په قصد سره قتل کولو اودلالت کولوپه صورت کښې جزاء واجبيږي.دغه شان په هيره سره هم جزاء واجبيږي.چه دده هيروی.چه زه خومحرم يم.

دليل﴾ځکه چه جزاء داسې ضمان دې.چه دا په اتلاف يعنی هلاکت پورې متعلق کيږي.نوکه دغه اتلاف په قصد راغلې وي اوکه په هيره په دواړو صورتونوکښې به ضمان واجب وي.دا د مالی تاوان سره مشابه شو.لکه څنګه چه که د چا مال په قصد سره يا په هيره سره هلاك کړي.نوبه دواړو صورتونوکښې په ده هلاکونکی ضمان واجبيږي.دغه شان د ښکارپه صورت کښې هم.

وَالْمُبْتَدِئُ وَالْعَائِدُ اواول ځل کوونکې اوپه دويم ځل کوونکې پکښې برابر دې

تشريح﴿ **إستواء البادي والعائد في الجزاء**﴾دويمه مسئله دا کوی.که په ښکارباندې اول حمله کوونکې اودوباره پرې حمله کوونکې دواړه په جزاء کښې برابر دی.يعنی که يوښکار وی اوله حمله پرې زيد اوکړي.اودويمه حمله پرې بکراوکړي.نوزيد اوبکردواړه په جزاء کښې برابردی.په هريوباندې به جزاء د ښکار وي.

د شيخينو رحمهما الله په نيزپه جزاء کښې د قيمت وجوب

وَالْجَزَاءُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ أَنْ يُقَوَّمَ الصَّيْدُ فِي الْمَكَانِ الَّذِي قَتَلَهُ فِيهِ اوجزاء د شيخينو رحمهما الله په نزد داده چه قيمت دې اولګولې شي دښکار په هغه ځائې کښې کوم ځائې کښې چه ئې ښکار کړې دې أَوْ فِي أَقْرَبِ الْمَوَاضِعِ مِنْهُ إِنْ كَانَ فِي بَرِّيَّةٍ يُقَوِّمُهُ ذَوَا عَدْلٍ يا ورته په نزدې ځائې کښې که په ځنګل کښې وي نو قيمت دې مقرر کړي ددې دوه انصاف کوونکی سړی

حل اللغة ﴿① **ان يقوم، قوم تقويمًا:** قيمت لګول ② **مواضع دَ موضع جمع:** ځايونه

تشريح﴿ **صفة الجزاء عند الشيخين**﴾ د امام ابوحنيفه اوامام ابويوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ په نيزکه محرم په کوم ځائې کښې ښکارقتل کړې وي.نوپه هغه ځائې کښې به د دغه دوه عادلان (چه په قيمت لګولوپوهيږي) د هغې ښکارقيمت مقررکړي.اوکه په هغه ځائې کښې دغه ښکارنه وي.چه ورته نزدې کوم ځائې وي.چه په هغه ځائې کښې ئې څه قيمت وي.هغه دې اولګوي.

ثُمَّ هُوَ مُخَيَّرٌ فِي الْقِيمَةِ نوبيا دده اختيار دي په قيمت كښې إِنْ شَاءَ ابْتَاعَ بِهَا هَدْيًا فَذَبَحَهُ إِنْ بَلَغَتْ قِيمَتُهُ هَدْيًا كه غواړي قرباني دې پرې واخلي او ذبح دې كړي كه رسيږي قيمت ئې قرباني ته، وَإِنْ شَاءَ اشْتَرَى بِهَا طَعَامًا اوكه غواړي نو وادې خلي په دې غله فَتَصَدَّقَ بِهِ عَلَى كُلِّ مِسْكِينٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ صدقه دې كړي هر مسكين ته نيم صاع دغنمو او يا يو صاع د قجور اويا يو صاع د وربشو

تشريح> الاختيار في صورة دفع القيمة> بيا كه دغه قيمت د قرباني څاروي ته رسيدلو. نوپه هغې دې قرباني اوكړي. اوغوښه دې د حرم په مسكينانو باندې تقسيم كړي. اوكه قيمت ئې د څاروي برابرنه وو. نوپه هغې دې غنم واخلي. اود صدقة الفطر پشان دې هريو مسكين ته صدقه وركړي. يعنې كه غنم واخلي نوهرمسكين ته دې نيمه نيمه صاع وركړي. اوكه كجهورې يا جوار پرې واخلي. نوهرمسكين ته دې يو يوصاع وركړي. اوكه خوښه ئې وي. نود هرمسكين د خوراك په ځائې دې روژه اونيسي.

فَإِنْ فَضَلَ مِنَ الطَّعَامِ أَقَلُّ مِنْ نِصْفِ صَاعٍ فَهُوَ مُخَيَّرٌ نوكه زياتي شوه په غله كښې دنيموصاع نه كم مقدار نودده اختيار دي إِنْ شَاءَ تَصَدَّقَ بِهِ وَإِنْ شَاءَ صَامَ عَنْهُ يَوْمًا كَامِلًا كه غواړي هغه دې صدقه كړي اوكه غواړي دهغې دطرفه دې يوه روژه اونيسي.

تشريح> حكم الأقل من صدقة الفطر> اوكه په آخر كښې د نيم صاع غنمو نه كم طعام بچ شو. نو ده ته اختيار دې. كه خوښه ئې وي. نوهغه دې صدقه كړي. اوكه خوښه ئې وي. نودهغې په بدله كښې دې هم يوه روژه اونيسي.

دليله> ځكه چه د يوې ورځې نه كمه روژه نيول مشروع نه دی.

د ښكار په جزاء كښې د امام محمد اوامام شافعي رحمهما الله مسلك

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَجِبُ فِي الصَّيْدِ النَّظِيرُ فِيمَا لَهُ نَظِيرٌ، امام محمد رحمه الله وائي چه په ښكار كښې نظير واجبيږي دكوم چه نظير موجود وي فَفِي الظَّبْيِ شَاةٌ، وَفِي الضَّبُعِ شَاةٌ، وَفِي الْأَرْنَبِ عَنَاقٌ، نوپه هوسۍ كښې چيلۍ اوپه كوګ كښې چيلۍ اوپه سوۍ كښې د چيلۍ د شپږو مياشتو بچې دې. وَفِي النَّعَامَةِ بَدَنَةٌ په شترمرغ كښې اوښ وَفِي الْيَرْبُوعِ جَفْرَةٌ، اوپه خنګلي منږك كښې د چيلۍ د څلورو مياشتو بچې دې

حل اللغة> ① **الضبع**: كتمل ② **ارنب**: سوې ③ **عناق**: د چيلۍ بچې د كال پوره كيدو نه وړاندې ④ **جفرة**: د چيلۍ بچې ⑤ **الظبي**: هوسۍ ⑥ **نعامة**: شترمرغ

تشريح> وجوب الجزاء بحسب النظير> په دې عبارت كښې د ښكار په جزا كښې دامام محمد اوامام شافعي رحمهما الله مسلك بيانوي. دوی فرمائي. چه د ښكار په جزاء كښې چه د كوم څناور ښكارشوې وي. كه دهغې صورت يا نظيرموجود وي. هغه به واجبيږي. مثلاً د اوسۍ په جزا كښې به چيلۍ واجبيږي. او كوګ (خوښه خورونكي دكانړو سترګو څناور) په جزاء كښې چيلۍ اود سوني (خرګوش) په جزاء كښې د چيلۍ (ماده) بچې اود خنګلي مګې پهجزاء كښې دچيلۍ څلورمياشتيزبچې واجبيږي. اودشترمرغ، اوښ اود خنګلي خرپه جزاء كښې غوې واجبيږي.

دلائله> ① د دوی دليل دالله تعالى ارشاد {فَجَزَاءٌ مِثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ} دې. ځكه چه په دې آيت كښې د ښكار په جزاء كښې هغه څيزواجب كړې دې. كوم چه په څناورو كښې د ښكارپه شكل

وی.اوقیمت خود خناورو پشان نشی کیدي.نوځکه قیمت نشی واجب کیدي.

الجواب منه > د دي نه جواب دا دي.چه لفظ د(نعم) لکه څنګه په کورني خناورو باندي صادقیږي.دغه شان په ځنګلی خناورو باندي هم صادقیږي.لکه څنګه چه د لغت امامان ،ابوعبیده اواصمعی رحمهما الله فرمائیلی دی.اوپه آیت کښي د (مثل) نه مراد قیمت دي.اود(نعم) نه مراد ځنګلی خناورمراد دی.اوس ترجمه دا شوه.چه د ښکار جزاء دهغه ځنګلی خناور قیمت دي.کوم چه قتل شوي وی.

② اوصحابه کرامو رضی الله عنهم مثلاً عمر، علی ابن مسعوداوابن عباس رضی الله عنهم وغیره په شترمرغ ،اوسیٔ سوي په جزاء کښي هم هغه شان خناور واجب کړي وو.کوم چه په خلقت اوصورت کښي د هغي پشان وو. (¹)

المراد من الحدیث وقول الصحابة رضی الله عنهم >اود نبی ﷺ د قول چه (الضبع صید وفیه شاة) مطلب دا دي.چه د کوګ د قیمت اندازه به د چیلیٔ د قیمت نه لګولي شی.دا مطلب نه دي.چه نبی ﷺ د کوګ په بدله کښي چیلیٔ واجب کړي ده.هم دا جواب دصحابه کرامو رضی الله عنهم د فیصلي هم دي.مثلاً صحابه کرامو رضی الله عنهم په شترمرغ کښي دهغي خاص نظیرنه دي واجب کړي.بلکه دا ئي وئیلی دی.چه دهغي نظیرته به کتلي شی. او د شترمرغ دقیمت به اندازه کولي شی.

إتفاق الإحناف في جزاء ما لا مثله له >البته دا ده.که دیوښکارپشان خناور موجود نه وی.نودامام محمد رحمه الله په نیزبه هغي کښي قیمت واجبیږی.لکه چنچنړه او کونتره،چه ددي پشان ښکار په خناورو کښي مثل نشته.نوپه داسي خناورو کښي به قیمت واجب وی.نوپه دي صورت کښي د امام محمد رحمه الله قول د شیخینو رحمهما الله دقول پشان شو.

المراد مثل المعنوی عند الشیخین >دشیخینو رحمهما الله دطرفه جواب دا دي.چه په آیت ﴿فَجَزَاءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ﴾ مثل مطلق دي.اومثل هغه وی.چه په هغه د صورت اومعنی دواړو په اعتبارسره مماثل وی. خودلته دا معنی اخستل ممکن نه ده.یعنی په آیت کښي حقیقی مثل مراد نه دي.ځکه چه هغه ځنګلی خناور چه دهغي مثل نه وی.لکه چنچنړه اوکونتره،نوداسي قسم د آیت د عموم نه خارجیږی.حالانکه د آیت حکم ټولوته شامل دي.نوپه دي آیت کښي به (مثل) په مثل معنوی باندي حمل کولي شی.اومثل معنوی قیمت دي.

وجوه المراد المثل المعنوی > ①اوله وجه دا ده.چه مثل معنی په شریعت کښي معروف اومشهور دي.مثلاً که یوکس د بل کس جامه هلاکه کړه.نوپه ده باندي د هغي جامي مثل معنوی یعنی قیمت لازم دي.

②دویمه وجه دا ده.چه په هغه خناورو کښي چه د هغي صوری مثل نه وی.لکه چنچنړه او کونتره، نوپه هغي کښي په اجماع سره مثل معنوی مراد دي.لکه وراندئ چه په دي باره کښي د امام محمد رحمه الله موقف تیرشو.چه هغوی هم په هغه خناوروکښي چه نظیرئي نه وی.دمثل معنوی یعنی قیمت قائل دي. اوس په هغه خناورو کښي چه د هغي مثل صوری موجود وی.دهغي پشان خناور په

---

¹) أخرج مالك في موطاه (في الحج رقم ۲۳۰) ....أن عمر رضی الله عنه قضى في الضبع بكبش وفي الغزال بعنز وفي الأرنب بعناق وفي اليربوع بجفرة كذا في نصب الراية (۳/۱۶۱)۔

جزاء کښې لازم کړې شي.نوددې نه عموم مشترك يا په نورو الفاظو کښې دحقيقت اومجاز په مينځ کښې جمع راځي.نوځکه به په آيت کښې د مثل نه صرف مثل معنوي يعنى قيمت مراد واخستې شي.

③دريمه وجه دا ده.چه په مثل معنوي مراد کړې شي.نوپه دې کښې تعميم دې.ځکه چه په دغه وخت کښې آيت هغه ته هم شامليږي.چه نظيرئې وي اوهغې ته هم چه نظير ئې نه وي.اوکه مثل صوری مراد واخستې شي.نوصرف هغه ځناورو ته شامليږي.چه دهغې صوری نظيروي.اوچه د کوم صوری مثال نه وي.هغه ترې خارجيږي. حالانکه په تعميم باندې عمل کول غوره دی.ځکه چه په دې صورت کښې د آيت فائده عامه ده.

په ښکارکښې د عيب پيدا کولوتاوان

ومن جَرَحَ صَيْدًا أَوْنَتَفَ شَعْرَهُ أَوْقَطَعَ عُضْوًا مِنْهُ اوچا چې ښکار زخمی کړو يائې ورنه ويخته ويستل يا ئې ترې څه اندام پريکړو ضَمِنَ مَا نَقَصَ مِن قِيمَته نود هغې په قيمت کښې چې يې کوم نقصان راوستې وی دهغې به ضمان وی

تشريح> ضمن ما نقص من القيمة> که محرم د ښکارځناور زخمی کړلو.يائې د هغې نه بنړې اويستلې.يائې دهغه يواندام ضائع کړلو. نو په دې ټولوصورتونوکښې چه دهغه په قيمت کښې څومره کمې راغلې وی.په محرم به د هغې ضمان وی. مثلاً ديوښکارقيمت لس روپۍ وو.دهغه د يواندام په ضائع کيدو د هغې قيمت پنځه روپۍ پاتې شو.نواوس به په محرم د پنځو روپو تاوان وی.

دليله> دلته جزء په کل باندې قياس کولې شی.لکه ځنګه چه په حقوق العباد کښې دی.که يوکس د بل انسان پوره نقصان اوکړلو.نوپوره تاوان به پرې راځي.اوکه بعضې نقصان ئې اوکړلو.نود بعضې دحصې مطابق به پرې تاوان راځي.

وَاِن نَتَفَ رِيشَ طَائِرٍ اوکه وې ويستل د مارغه نه وزرونه أَوْقَطَعَ قَوَائِمَ صَيْدٍ يا ئې پريکړې پښې دښکار فَخَرَجَ مِنْ حَيِّزِ الإِمْتِنَاعِ بيا هغه دځپل تحفظ نه اووتلو فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ كَامِلَةً. نوپه ده پوره قيمت دې.

تشريح> لزوم الضمان باخراج الطير عن الانتفاع> اوکه يومحرم د يوپرندې وزرې ماتې کړئې.يا ئې د ښکاری ځناور پښې لاس مات کړل.تردې چه هغه پرنده او ځناوردځپل حفاظت نه عاجزه شو.اودخلقو نه د ځان ساتلوقابل پاتې نشی.نوپه دې صورت کښې به په محرم باندې دهغې پوره قيمت تاوان وی.

دليله: ځکه چه کله محرم دهغه د حفاظت ذريعه ختمه کړه.نولکه چه ده د هغه امن او امان ختم کړلو اوکله چه ئې دهغه امن ختم کړلو.نولکه چه هغه ئې هلاك کړلو.اود هلاکولو په صورت کښې د قتل شوی ښکار پوره قيمت واجبيږي.نودغه شان به په دې صورت کښې هم پوره قيمت واجبيږي.

د ښترمرغ د هګئ ماتولو جزاء

وَمَنْ كَسَرَ بَيْضَ صَيْدٍ فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ اوکوم محرم چه ښکاره هګئ ماتې کړې نوپه ده قيمت دې دهغه

حل اللغة > ①**کسر، کسرًا (ض)**: ماتول ②**نعامة**: ښترمرغ

تشريح> لزوم القيمة بكسر بيض النعامة> مسئله که محرم دښترمرغ هګئ ماته کړه.نوپه ده باندې به د هګئ قيمت واجب وی.

دلائله ﴿ ① دحضرت علی ()او ابن عباس ﷺ ([1]) نه هم دا نقل دی. ②دویم دلیل دا دې چه په هګۍ د ښکار اصل دې.اوپه هګۍ کښې دا صلاحیت شته.چه ددې نه ښکار جوړ شي.اود ښکار هلاکولو باندې په محرم باندې ضمان واجبیږي .نو دغه شان به د هګۍ په ماتولوهم په ده ضمان واجبیږي.

فَإِنْ خَرَجَ مِنَ الْبِيضَةِ فَرْخٌ مَيِّتٌ فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ حَيًّا نوکه راووتلو د هګۍ نه بچې مړنو په ده د ژوندی بچې قیمت دې

تشریح ﴿ **وجوب قیمة الفرخ بكسربیض النعامة** ﴾اوکه د ماتې شوې هګۍ نه مړ بچې راووتلو.نو په دې صورت کښې به د هغه بچې قیمت اچولې شي.اوهغه به په ده واجب وي.

دلیله الاستحسان ﴾ خودا حکم استحساني دې.خکه چه د بچې ژوند معلوم نه دې.خکه چه کیدې شي دا د وراندې نه مړشوی وي.دهګۍ په ماتولو سره نه وي مړې شوې.

وجه القیاس ﴾اوقیاس دا دې.چه صرف د هګۍ دې ضامن شي.اووجه داستحسان دا ده.چه هګۍ ددې دپاره ده.چه ددې نه بچې راوخي.اوس چه دا د خپل وخت نه وراندې ماته شوه.نوګویا چه ددې ماتول د بچې د مرګ سبب اوګرځیدو.نودا به د احتیاط د وجې په دې حمل کولې شي.چه د هګۍ د ماتولو دوجې مړشوې دې.

نظیره ﴾اوهم د استحسان په بنیاد دا مسئله هم ده.چه اوسۍ په خیټه باندې اووهی.اودهغې نه مړ بچې پیدا شي.اوپه خپله هم مړه شي.نوپه محرم باندې دوه ضمانه دی.یود اوسۍ اوبل د بچې.

دکوموځناورو په قتل څه نه واجبیږي؟

وَلَيْسَ فِي قَتْلِ الْغُرَابِ وَالْحِدَأَةِ وَالذِّئْبِ وَالْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ وَالْفَأْرَةِ وَالْكَلْبِ الْعَقُورِ جَزَاءٌ اونشته په قتل دکارغه اوتپوس او شرمخ اومار اولړم او مږه او چیچونکی سپی کښې جزاء.

حل اللغة ﴾ ① **الغراب:** قارغه ② **الذئب:** شرمخ ③ **الحیة:** مار ④ **الفارة:** مږه ⑤ **الكلب العقور:** خوراکی سپې]

تشریح ﴾ **ماحل قتله للمحرم** ﴾شیخ ابوالحسن قدوری رحمه الله فرمائی.که محرم کارغه یا تپوس یا شرمخ یا مار یا لړم یا مګه یا چیچونکې سپې مړکړل.نوپه ده به څه جزاء واجب نه وي.

دلائله ﴾ ①دلیل د نبی ﷺ قول دې.چه هغوی د پنځوضروری ځناورو په زمین حل اوحرم دواړو کښې د قتلولواجازت ورکړې دې.(تپوس،مار،لړم مګه چیچونکې سپې) ②دویم حدیث دا دې.چه مګه، کارغه تپوس،لړم،مار اوچیچونکې سپې محرم قتلولې شي.

السوال والجواب ﴾دلته یواشکال دا کیږي.چه نبی ﷺ محرم د ځناورو د قتلولو نه منع کړې دې .خو د دې پنځو د قتلولو اجازت ئې ورکړې دې.اوپه بل حدیث کښې ئې شپږ شمارلی دی.ددې جواب په اولنی فصل کښې ورکړې شوې دې.

---

[1]) قال الزيلعي رحمه الله أما حديث علي ﷺ فغريب وروى ابن ابي شيبة في مصنفه ...عن معاويه بن قرة ان رجلاً اوطا بعيره بيض النعام فسأل عليا ﷺ فقال عليك لك بيضة ضراب ناقة أوجنين ناقة فانطلق الى رسول الله ﷺ فاخبره بما قال فقال قد قال ما سمعت وعليك في كل بيضة صيام يوم أو إطعام مسكين :ذا في نصب الراية (۳/۱٦٤)_

[2]) اخرجه عبدالرزاق في مصنفه وكذا ابن ابي شيبة في مصنفه كذا في نصب الراية (۳/۱٦٥)_

السوال التقديري ﴿ دلته یو سوال دی.هغه دا چه د بخاری او مسلم په روایت کښې د (ذئب) ذکر نشته. صاحب د قدوری رحمه الله د (ذئب) اضافه دخپل طرفه کړې ده.

الجوابان ﴿ ① ددې سوال جواب دا دی.چه په بعضې نورو روایاتوکښې د (ذئب) اضافه شته. ② دویم جواب دا دی.چه د صحیحینو په روایت کښې چه د (کلب عقور) نه مراد (ذئب) دی.یاداسې اویایه چه (ذئب) د (کلب عقور) په معنی کښې دی.

المراد من الغراب في الحديث ﴿ علامه مرغینانی رحمه الله فرمائیلی دی.چه په حدیث کښې د قارغه نه هغه قارغه مراد دی.چه کله پلیتی خوری اوکله دانې خوری.چونکه هغه په خوراك کښې د نجاست نه شروع کوی.نودې هم د نجاست خور ښناور پشان شو.اوپاتې شو هغه قارغه کوم چه تور اوسپین وی.اود هغې آواز د(عقعق)سره وی.په حدیث کښې د هغې استثناء نشته. ځکه چه هغې ته قارغه نه وائی.نودهغې په قتل کولوبه جزاء واجبیږی.اودا عقعق د نجاست نه شروع هم نه کوی.بلکه دانه خوری.اوهم دې ته په خپل خوراك کښې ترجیح ورکوی.

رواية عدم الإستثناء عن الضب واليربوع ﴿ صاحب ده هدایه رحمه الله فرمائیلی دی چې دامام ابوحنیفه رحمه الله نه یوروایت دا دی.چه د کوم سپی په قتل چه جزاء نه واجبیږی.په هغې کښې چیچونکې اوناچیچونکی اوکورنې اوځنګلی ټول سپی برابر دی.ځکه چه معتبر جنس دی.اوپه جنس کښې کلب اوحقیقت کلب ټول برابردی.اودغه شان کورنی اوځنګلی ټولې مکې برابردی.اوسمسره اوګربوړې په دې پنځوکښې نه دی.دکوموچه نبی ﷺ استثناء کړې ده.ځکه چه دواړه ښناور په ضرر رسولوکښې وړاندې والې نه کوی. دے

د ماشی،میکې ورګې اوکتمل د قتل حکم

وَلَيْسَ فِي قَتْلِ الْبَعُوضِ وَالْبَرَاغِيثِ وَالْقُرَادِشَيْءٌ اونشته په وژلو د ماشی او ورګې او کونی کښې څه څیز.

حل اللغة ﴿ ① **بعوض**: ماشې ② **نمل**: میږې ③ **براغیث**: وروړه ④ **قراد**: کونې

تشریح ﴿ **عدم لزوم شئ بقتل هذه الأشياء** ﴿ که محرم ماشې،میکې ورګه یاکتمل مړ کړل.نوپه محرم باندې څه واجب نه دی.ځکه چه دا ښکاری ښناور نه دی.

دليله ﴿ ځکه چه ښکاری ښناورهغه وی.چه د بنیادم نه ویریږی .او دا ښناورد بنیادم ته رغبت کوی.او نه دا ښناور د بنیادم د بدن نه پیدا کیږی.زیات نه زیات دا ونیلی شی. چه دا ښناور ضرری دی.اوکه د ښناور ځنګلی وی.نوچونکه دا ښکاری شو.ځکه چه د انسان نه ویریږی. اودښکاری په وژلو جزاء واجب کیږی.اوکه د بنیادم د بدن نه پیدا کیږی.نود انسان د بدن نه خیرې وغیره پاکوی.ددې وجې ددې په قتل جزاء واجبیږی.خوچه کله دواړه خبرې نه وی.نوجزاء نه واجبیږی.

د سپګې وژل

وَمَنْ قَتَلَ قَمْلَةً تَصَدَّقَ بِمَا شَاءَ)او چا چه مړه کړه سپږه خیرات دې کوی څه چه غواړی

حل اللغة ﴿ ① **قملة**: سپګه

تشریح ﴿ **الصدقة بقتل القمل** ﴿ ① که محرم د سریا د بدن د بلې حصې نه سپږه راوخسته.اومړه ئې کړه.یا

نې په زمکه اوغورځوله.نوپکار ده چه صدقه ورکړي.مثلاً يوموټې غنم دې ورکړي.②اوبعضې حضراتو وئيلي دي.چه په دوه او دريوسپږوکښې دې يو موټې غنم ورکړي.اوددې نه په زياتوکښې نيم صاع غنم صدقه کړي

دليله> دليل دا دې.چه سپږې د هغه خيرونه پيدا کيږي.کوم چه په بدن باندې وي.اودخيرو په پاکولو صدقه واجبيږي.نودغه شان به د سپږو په وژلو يا په زمکه غورځولو هم څه غله واجبيږي.په جامع صغير کښې ئې فرمائيلي دي.چه (أطعم شيأ) يعنې څه دې ورکړي.د جامع صغيرد دې عبارت نه معلوميږي.چه مسکين باندې د اباحت په طور څه خوراك کول کافي دي.په مړه خيټه پرې خوراك کول شرط نه دې.

د ملخ د قتل جزاء

وَمَنْ قَتَلَ جَرَادَةً تَصَدَّقَ بِمَا شَاءَ: او چاچه قتل کړو ملخ خيرات دې کړي څه چه غواړي

حل اللغة> ① جرادة: ملخ]

تشريح> الصدقة بقتل الجراد> مسئله دا ده.که محرم ملخ قتل کړلو.نوچه څه ئې خوښ وي.هغه دې صدقه کړي.

دليله> دليل دا دې.چه ملخ د وچې ښکاردې.څکه چه ښکارهغه وي.چه بغيرد حيلې نه نه دهغه نيول ممکن نه وي. او ښکارکونکې ئې اراده هم لري.

وَتَمْرَةٌ خَيْرٌ مِنْ جَرَادَةٍ اويوچواره غوره ده د يو ملخ نه.

تشريح> صاحب دقدوري رحمه الله فرمائي.چه يوه قجوره د ملخ نه بهتره ده.

دليله> دليل دحضرت عمر رضي الله عنه قول دې.واقعه دا ده.چه د حمص اوسيدونکې محرم خلقو به د ملخانو ښکار زيات کولو.اوبيا به ئې دهرملخ په بدله کښې يو درهم صدقه کولو.نوحضرت عمر رضي الله عنه ورته اوفرمائيل.چه يوه روپۍ د يوملخ په بدله کښې صدقه کول ډيره ده.ديوملخ په بدله کښې يوه قجوره صدقه کول هم کافي دي. ([1])

د غيرماکول اللحم ښکار د قتلولوجزاء

وَمَنْ قَتَلَ مَالَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ مِنَ السِّبَاعِ وَنَحْوِهَا فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ) اوچا چه قتل کړو داسې ښکار چه غوښه ئې نشوه خوړلې لکه درندګان او ددې پشان نو پده جزاء ده

حل اللغة> ① لايوکل، اکل ياکل (ن): خوراك ② سباع: ماتونکي ځناور

وجوب جزاء قتل غيرماکول اللحم> ① مسئله که محرم غيرماکول اللحم ځناور قتل کړلو.لکه ماتونکي ځناور زمکې شرمخ وغيره نوددې په قتلولو به هم جزاء واجب وي.البته دهغه ځناورو په قتل جزاء نه واجبيږي.دکوموچه شريعت استثناء کړې ده.([2])

دليله> دليـل دا دې.چـه مـاتونکي ځناور وحشي.دخلقو نـه تختـي.اوخلق ددې د نيولـو اراده هم کوي.ياددې دپاره چه د هغې د څرمن نه فائده واخلي.لکه زمرې يا ددې دپاره چه دهغې په ذريعه

---

[1]) اخرجه مالك في مؤطاه كتاب الحج رقم ۲۳۶)۔

([2]ملهب الشافعي رحمه الله:- امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه د غيرماکول اللحم ځناورو په قتل به جزاء نه واجبيږي.

ښکار اوکړی.لکه باز، یا دهغې د ضررلرې کولودپاره لکه ځنګلی خنزیرملوپه کوموخناورو کښې چه دا صفات وی.نوهغه ښکاروی. نو ماتونکی ځناورهم ښکارشو.اود ښکارپه باره کښې دالله تعالی ارشاد دی.چه﴿لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ﴾نو ددې په قتل کولو به جزاء واجبیږی.

د چیلۍ د قیمت نه د تجاوزپه صورت کښې اختلاف

(وَلَا يُجَاوِزُ بِقِيمَتِهَا شَاةً)اوددې په قیمت کښې به دیوې چیلۍ نه زیاتې کولې نشی

حل اللغة ⊲① **لايجاوز، تجاوز، يتجاوز تجاوزا**: تیریدل، د حدنه زیاتې کول

تشریح ⊲ **قدرجزاء صيدغيرماكول اللحم** ⊲مسئله دا ده.①که محرم غیرماکول اللحم ځناور قتل کړلو.نوپه هغه باندې د جزاء په حیثیت دومره قدر تاوان واجبیږی.چه د یوې چیلۍ قیمت ته نه رسی.

دلائله ⊲ ① دلیل د نبی ﷺ دا قول دی.(الضبع صيدوفيه شاة)[1] چه کوګ ښکار دی اوپدې کښې چیلۍ ده ② اودویم دلیل دا دی.چه دغیرماکول اللحم د قیمت اعتباربه دهغې د ځرمن مناسب وی.ځکه چه دهغه غوښه نشی خوړلې . نوځرمن پاتې شوه.اود ځرمن قیمت چونکه د چیلۍ د قیمت نه نه زیاتیږی.دغه شان دا ځناور ضرری وی. نوځکه مونږ دا قول اختیارکړلو.چه د ماتونکی ځناور جزاء به د چیلۍ د قیمت نه زیات نه وی.

مذهب زفر ⊲ اودامام زفر رحمه الله په نیزچه دهغه قیمت هرڅومره ته رسی.هم هغه به واجبیږی.دوی غیرماکول اللحم په ماکول اللحم باندې قیاس کوی.

د حملې کولوپه دوران کښې د ماتونکی ځناورد قتل د جزاء حکم

(وَإِنْ صَالَ السَّبُعُ عَلَى مُحْرِمٍ فَقَتَلَهُ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ)اوکه درنده حمله اوکړی په محرم باندې اوده قتل کړو.نوپدې څه نشته

حل اللغة ⊲① **صال، صولا(ن)**: حمله کول ② **سبع**: ماتونکې ځناور

تشریح ⊲ **عدم الجزاء علي قتل الصيدالصائل** ⊲مسئله دا ده. که ماتونکی ځناورپه محرم باندې حمله اوکړله اوده قتل کړلو.نوپه ده به جزاء نه وی

دلائله ⊲ ①دلیل دحضرت عمر رضی الله عنه اثردی.هغوی په یوماتونکی ځناور باندې حمله اوکړله.اوهغه ئې قتل کړلو.نویوه چیلۍ ئې د هدې په طور اولیږله.اودا ئې اوفرمائیل.چه مونږ په هغه باندې حمله کړې وه.ځکه مونږ چیلۍ اولیږله.یعنی مونږ پرې وړاندې والې اوکړلو.که هغه حمله کړې وه.نوبیا به په مونږ څه واجب نه وو[2]

② دویم دلیل دا دی.چه محرم ځناورته د تعرض کولونه منع شوې دی.اوددې نه نه دې منع شوې.که په ده حمله اوکړی.نودې به خپله دفاع نه کوی.هم دا وجه ده.چه په فواسق کښې د ضرر وهم وو.نود هغوی د ضرر لرې کولوپه وجه دهغوی دقتل اجازت ورکړې شوې دې.اوپه دې صورت کښې چه ماتونکې ځناور حمله اوکړی.نوتکلیف رسیدل یقینی دی.نودلته خوبه په درجه اولی سره د هغې د لرې

---

[1] اخرجه الزيلعي رحمه الله نصب الراية (۱٦٨/۳)۔
[2] اخرجه الزيلعي رحمه الله (نصب الراية ۳/۱٦٨)۔

کولواجازت وی.اوچونکه د درنده د ضرر لري کولواجازت د شارع ﷺ د طرفه دې.نوځکه به د ماتونکی خناور د قتل په صورت کښې جزاء واجب نه وی.

مذهب زفر رحمه الله > اوامام زفر رحمه الله فرمائی.چه په ده باندې جزاء واجب ده.

دليله > دامام زفر رحمه الله دليل قياس دې.که اوښ په انسان باندې حمله اوکړله.اوده هغه اوښ قتل کړلو. نوپه ده باندې د هغې قيمت واجب دې.اګرچه ده د ضرر لري کولود وجې هغه قتل کړې وی.نودغه شان دلته د ماتونکی ځناورد قتل په صورت کښې هم جزاء واجب وی.

الجواب عنه > په خلاف د حمله کونکی اوښ،يعنی که اوښ په چا باندې حمله اوکړله . او ده هغه اوښ قتل کړلو.نوپه ده به د هغې قيمت واجب وی.ځکه چه په دې صورت کښې د مالك د طرفه ده ته د قتل کولواجازت نه دې ملاوْ شوې.اوهرکله چه د مالك د طرفه د قتل کولواجازت نشته.نودهغه حق به هم نشی ساقط کيدې.

د اضطرار په حالت کښې دښکارپه قتلولو د جزاء وجوب

وإن اضطرّ المحرم إلى أكل لحم الصيد فقتله فعليه الجزاء که لاچاره شی محرم خوړلو دښکارته او قتل ئې کړو نو پده جزاء ده

حل اللغة > ①اضطر، اضطرارًا: مجبوره کيدل، لاچاره کيدل]

تشريح > **وجوب الجزاء عند الإضطرار إلي الصيد** > مسئله دا ده.که محرم د سختې لوږې يا بل څه وجې د ښکارقتلولو ته مجبورشو.اوښکار ئې قتل کړلو.نوپه دې صورت کښې به هم په ده باندې جزاء واجب وی.

دليله > ځکه چه شريعت محرم د ممنوعاتود احرام نه منع کړې دې.اوپه کوم صورت کښې ئې د هغې د کولواجازت ورکړې دې.نود هغې جزاء ئې هم مقرر کړې ده.دالله تعالی ارشاد دې. ﴿فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ﴾ کوری الله تعالی د عذر په وجه محرم ته د سرخرئيلو اجازت ورکړې دې.خود کفاره ئې هم مقرر کړې ده.نودغه شان دلته هم که د ښکارخوراك ته مجبور شو.نود ښکاراجازت ورته ملاويږی.خوورسره به د ښکارجزاء هم واجبيږی.دکوم تفصيل چه وړاندې تير شوې دې.

د بعضې ځناورو د ذبحې جواز

ولا بأس بأن يذبح المحرم الشاة والبقرة والبعير والدجاجة والبط الكسكري اونشته حرج په دې کښې چه ذبح کړی محرم چيلۍ يا غوې يا اوښه يا چرګه يا ساتلې شوې بطحه

حل اللغة > ①لاباس: هيڅ باك نشته ②شاة: چيلۍ ③بقرة: غوې ④ بعير: اوښ ⑤ دجاجة: چرګه ⑥البط الكسكري: کورنۍ بطخ

تشريح > صورت د مسئلې ښکاره دې.

دليله > ځکه چه دا ځيزونه دښکار نه دی.د وحشی نه کيدو په وجه،اود بطحې نه مراد هغه ده کومه چه په کورونو اوحوضونوکښې اوسی ځکه چه دا په اصل خلقت کښې مانوس دی.

د مسروله کونترې د ذبح کولوحکم

وإن قتل حمامًا مسرولًا أو ظبيًا مستأنسًا فعليه الجزاء که قتل ئې کړه پاموز کونتره (پيکورووالا) اويا

ساتلې هوسۍ نو په ده باندې جزاء ده

حل اللغة ﴿ ① مسرولا: پاموزکونتره دَ کومې په پښوچه ویښته وی ② ظبي: هوسئ ③ مستانس: خوزیدلې

تشریح ﴿ تعریف السرولة ﴾ مسروله هغه کونتره ده.د کومې په پښو چه ویخته اووزې ښه ډیرې وې.لکه چه دې سروایل یعنی پرتوګ اغوستې دې.دې ته پاموز وائی.

قتل الحمامة السرولة ﴾ مسئله دا ده. که محرم مسروله کونتره قتل کړه.نو په ده باندې جزاء واجب ده.(۱)

دلیله ﴾ دلیل دا دې.چه کونتره د خپل خلقت اوفطرت په اعتبارسره ځنګلی وی. او د الوتو په وجه خپل حفاظت هم کولې شی.اګرچه په الوتوکښې چالاکه نه وی.

وجوب الجزاء بذبح الظبي المانوس ﴾ مسئله دا ده.که محرم بلده اوسئ ذبح کړله.نو په ده به جزاء واجب وی.

دلیله ﴾ ځکه چه اوسئ د خپل خلقت په اعتبارسره صید دې.اوددې د خلقو سره مانوس کیدل عارضی څیزدې.نو ځکه دا مانوس کیدل ددې ښکاری کیدل نه باطلوی.

نظیره ﴾ لکه اوښ یوکورنې ځناوردې.خوکه دا سرکښه شی.نوددې دا سرکښی د دې کورنې والې نه باطلوی.چه په دې د ځنګلی حکم اولګولې شی. او په محرم باندې لکه د ښکاری ځناوردحرمت حکم نه اخلی.نودغه شان دلته د ساتلې شوې اوسئ حکم هم حیثیت هم نه بدلیږی.

د محرم د ذبح حکم

وَإِن ذَبَحَ الْمُحْرِمُ صَيْدًا فَذَبِيحَتُهُ مَيْتَةٌ لَا يَحِلُّ أَكْلُهَا او کله چه محرم ښکار ذبح کړونودده ذبیحه مرداره ده خوراك ئې حلال نه دې.

حل اللغة ﴾ ① ذبح،ذبحًا (ف): حلالول ② ميتة: مرداره

تشریح ﴾ حکم ذبیحة المحرم لغیرالمحرم ﴾ مسئله دا ده. که محرم د ښکارځناور ذبح کړلو. نودده ذبیحه مرداره ده.اوددې خوراك د حلال سرې دپاره هم جائز نه دې. (۲)

دلائله ﴾ ① دلیل دا دې.چه ذبح یومشروع فعل دې.اود محرم ذبح غیرمشروع ده.ځکه چه الله تعالی فرمائیلی دی. ﴿لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ﴾ یعنی تاسومه قتل کوئ ښکارپه داسې حال کښې چه تاسو په احرام کښې ئې.ګورئ په دې آیت کښې الله تعالی د محرم فعل ته قتل وئیلې دې.ذبح ئې نه دی وئیلې.نوځکه به د محرم ذبیحه ذبح نه وی.لکه مجوسی ذبح اوکړی.نوهغې ته ذبح نشی وئیلې.ځکه چه مجوسی د ذبح اهل نه دې

② اوبله دا چه د ځناور د بدن وینه پلیته وی.نودا وینه لرې کول ځکه ضروری دی.چه دده غوښه د خوراك قابله شی.اود غوښې اووینې په مینځ کښې امتیاز کول ډیرګران کاردې. نوددې امتیاز پیدا کولودپاره ذبح مشروع ددې قائم مقام کړې شوه.اوداسې اووئیلی شو.که په مشروع طریقه ذبح اونشوه.نووینه د غوښې نه جدا نشو.اوددې غوښه حرامه شوه.نوهرکله چه په مشروع طریقه ذبح معدوم شوه.نود غوښې حلالوالې هم موجود نشو.حاصل دا چه هرکله د محرم ذبح مشروع نشوه.نودده ذبیحه

(۱) مذهب مالك في قتل الحمام:- امام مالك رحمه الله فرمائی.چه په جزاء واجب نه ده.

(۲) مذهب الشافعي رحمه الله:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.که محرم د غیرمحرم دپاره ذبح د ښکار اوکړله.نود دغه غیردپاره دده ذبیحه خورل حلال دی.

مرداره شوه.اود مرداري خوړل د هيچا دپاره جائزنه وی.نودغه شان د محرم د ذبيحې خوراك هم د هيچا دپاره جائزنه دې.

دحلال د ذبح شوي ښكارد محرم دپاره خوراك

وَلَابَأْسَ بِأَنْ يَأْكُلَ الْمُحْرِمُ لَحْمَ صَيْدٍ اِصْطَادَهُ حَلَالٌ وَذَبَحَهُ اوځه باك نشته په دې كښې چه اوخوري محرم غوښه د هغې ښكار چه كړې وی حلال او هغه ئې ذبحه كړې وی. **إِذَا لَمْ يَدُلَّهُ الْمُحْرِمُ عَلَيْهِ، وَلَا أَمَرَهُ بِصَيْدِهِ** كله چه نه وی خودلې ورته محرم اونه ئې ورته دښكار حكم كړې وی.

حل اللغة ﴿① **لاباس:** هيڅ حرج نشته ② **اصطاد، اصطياداً:** ښكاركول ③ **لم يدل، دل، دلالة (ن):** لارخودنه كول ④ **فيحمل، حمل، حملاً (ض):** اوچتول، محمول كول]

تشريح﴿ **عدم وجوب الضمان بأكل صيدغيرالمحرم**﴾مسئله دا ده. كه غيرمحرم كس ښكار اوكړلو.اوهغه ئې ذبح كړلو.اوبيا ئې په محرم باندې اوخوړلو.نوپه محرم باندې څه ضمان نه واجبيږی.خوپه دې شرط چه نه ورته محرم دلالت كړې وی.اونه ئې ورته حكم كړې وی (١)

دليله ﴿دليل دا دې.چه يوځل صحابه كرامو﷡ دهغه ښكارپه باره كښې بحث شروع شو.كوم چه د محرم دپاره شوې وی.په دې كښې د صحابو﷡ آوازونه اوچت شول.نبی په خپله حجره مباركه كښې په خوب اوده وو.نو بيدار شو.اوبهرته راووتلو.تپوس ئې اوكړلو.چه تاسو په څه كښې بحث كوئ.صحابو﷡ ورته ټوله واقعه بيان كړه.نونبی ﷺ اوفرمائيل.«لاباس به»(٢) يعنی دې په خوراك كښې څه باك نشته.

الروايتان في حكم الدلالة علي الصيد﴾صاحب هدايه رحمه الله فرمائيلی دی.چه امام قدوری رحمه الله د دلالت نه كولوشرط لګولې دې.ددې نه دا معلوميږی.كه محرم غيرمحرم ته د ښكاركولودلالت كړې وی.نوپه دې صورت كښې د محرم دپاره دهغه ښكار خوراك جائزنه دې.خومتاخرينومشائخو ﷭ فرمائيلی دی.چه د دلالت په صورت كښې دوه روايتونه دی.①يوروايت كښې د محرم دپاره دهغې غوښې خوړل حرام دی.دا روايت دامام طحاوی رحمه الله دې.②اوپه دويم روايت كښې ورله دهغه ښكارخوراك جائزدې.دا روايت د ابوعبدالله جرجانی رحمه الله دې.د حرمت د روايت دليل دحضرت ابوقتاده﷛ حديث دې.«هل أعنتم هل دللتم هل أشرتم»كوم چه ددې باب په اول كښې په تفصيل سره تيرشوې دې.

د غيرمحرم دپاره د حرم دښكارذبح كولوحكم

وَفِي صَيْدِ الْحَرَمِ إِذَا ذَبَحَهُ الْحَلَالُ الْجَزَاءُ او دحرم په ښكار كښې كله چه ذبح كړی دا حلال ددې جزاء ده

حل اللغة ﴿① **صيد:** ښكار ② **ذبحه، ذبح ذبحا (ف):** حلالول

تشريح﴿ **وجوب الضمان علي غيرالمحرم بصيدالحرم**﴾مسئله دا ده.كه غيرمحرم د حرم ښكارذبح كړلو.نوپه هغه باندې دهغې د جزاء ده صاحب د هدايه په هدايه كښې د هغې تفسير په قيمت سره كړې دې.اوهغه قيمت به د حرم په فقيرانوباندې صدقه كوی.ځكه چه په حرم كښې كوم كس اوځناور اوسيږی.هغه ته

---

(١) **مذهب مالكيه**:- امام مالك رحمه الله فرمائی.كه غيرمحرم په دې اراده ښكار اوكړلو.چه دا به په محرم باندې خورم.اومحرم د هغې نه خوراك اوكړلو.نوپه دې صورت كښې په محرم باندې دخوړلې شوې غوښې ضمان واجب دې.برابره ده كه محرم ورته د ښكارحكم كړې وی اوكه نه.

(٢) من أثرطلحة بن عبيدالله رحمه الله اخرجه محمد في كتاب الآثاركذا في نصب الراية (١٧٢/٣)ـ

امن ملاؤ شوي دي.اوده چه هغه ذبح کړلو.نودهغه په امن کښې ئې خلل راوستلو.نوضمان به پرې واجب وی.

دلیله﴿دلیل د نبی ﷺ هغه اوږد حدیث دې.په کوم کښې چه هغوی فرمانیلی دی.د حرم ګیاه به نشی کټ کولې.اونه به ددې ښکاروشرلې اونه غصه کولې شی.([1]) وجه د استدلال دا ده. چه هرکله د حرم د ښکاور شړل اوغصه کول جرم دې.نوذبح خو به ئې په درجه اولی سره جرم وی.نوددې د حرمت باوجودکه غیرمحرم کس د حرم ښکاور ذبح کړلو.نودحرم د تقدس اواحترام د وجې به په هغه باندې دهغې قیمت واجب وی.اوهغه به دحرم په فقیرانوباندې صدقه کولې شي.

السوال﴿په دې باندې یوسوال دا کیدې شی.چه ښکارلکه څنګه چه د حرم د وجې مستحق دامن دې.دغه شان د احرام د وجې هم مستحق د امن دې.نوکه یومحرم د حرم ښکارقتل کړی.پکارده چه په ده باندې دوه کفارې واجب وي.یود حرم د تقدس د پائمال کولود وجې اوبله د احرام دتقدیم پائمال کولو د وجې.حالانکه داسې نه ده.څکه چه په ده باندې یوه کفاره لازمیږی.

الجواب﴿ددې جواب دا دې.چه داحرام تقدس زیات قوی دې.په نسبت سره دحرم تقدس ته.هم دا وجه ده چه په محرم باندې د حرم اوغیرمحرم دواړو ښکارحرام دې.نوهرکله چه د احرام تقدس زیات قوی اودحرم د هغې په نسبت ضعیف.نودحرم تقدس د احرام تابع شو.اوپه ده باندې یوه کفاره هم د دې په وجه لازمیږی.

دحرم د ګیاه یا وونې کټ کولوحکم

وَإِنْ قَطَعَ حَشِيشَ الْحَرَمِ أَوْ شَجَرَةَ الَّذِي لَيْسَ بِمَمْلُوكٍ که دحرم وابنه ئې پریکړو یاداسې ونه چه دچا ملک نه وه وَلَا هُوَ مِمَّا يُنْبِتُهُ النَّاسُ فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ اوهغه دداسې قسم نه وه چه څوک ئې کری نه نویده ئې قیمت واجب دې.

حل اللغة﴿① **حشیش**: وابنه ② **ینبته**: راټوکول

تشریح﴿ **وجوب القیمة بقطع الاحشیش والشجر**﴿که چا د حرم ګیاه یا هغه وونه چه څوک ئې نه کری.بلکه په خپله راټوکیږی.کټ کړله.نوپه ده به د هغې د قیمت واجب وی.البته دا ده.که هغه ګیاه یا وونه اوچه شوې وی.نوبیا د هغې په کټ کولوکښې قیمت نه واجبیږی.

دلیله﴿دلیل دا دې.چه کومه ګیاه یا وونه په حرم کښې وی.نودحرم دحرمت د وجې دهغې حرمت ثابت شو.څکه چه د الله تعالی رسول الله ﷺ فرمانیلی دی.نه به شی کټ کولې شنه ګیاه ددې اونه به ددې غنې ماتولې شی.([2])(**الخلاء**)شنې ګیاه ته وائی.

---

[1]) من حدیث ابي هريرة اخرجه البخاری في العلم باب ۳۹ رقم ۱۱۲ ومسلم في الحج رقم ٤٤٧ وابوداود في المناسك باب ۸۹ رقم ۲۰۱۷ والنسائي في المناسك باب ۱۲۰ رقم ۲۶۹۲ وابن ماجه في المناسك ۱۰۳ رقم ۳۱۰٦ والدارمی في البيوع باب ٦۰ واحمد في المسند (۲۳۸/۲)۔

[2]) من حديث ابي هريرة ﷺ اخرجه البخاری في العلم رقم ۱۰۹ ومسلم في الحج في الحج رقم ۲٤۱٤ وأبوداود في المناسك رقم ۲٤۱٥ وابن ماجه في الديات رقم ۲٦۱٤ واحمد في مسندالمكثرين رقم ٦۹٤٤ والدارمی في البيوع ۲٤۸۷)۔

په قارن د یوجنایت په کولو د دوو قربانو لزوم

وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلَهُ الْقَارِنُ مِمَّا ذَكَرْنَا أَنَّ فِيهِ عَلَى الْمُفْرِدِ فَعَلَيْهِ دَمَانِ هرهغه فعل کوم چه قارن اوکړی ددغونه په کوموکښي چه په مفرد یو دم دي.په قارن دوه دمونه دی دَمٌ لِحَجَّتِهِ وَدَمٌ لِعُمْرَتِهِ یو دم دحج دپاره اویو دم دعمري دپاره.

حل اللغة ﴿①**فعله، فعل فعلاً (ف)**: کول، جوړول

تشريح ﴿ **تعدد الدم علي القارن** ﴾کوم جنايات چه ذکرشو. ددي په کولوپه مفردبالحج باندي که یوه قرباني واجبیږی.نوپه قارن به دوه قرباني واجبیږی.یود حج د احرام د وجي اوبله د عمري داحرام په وجه، (۱)

(إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ الْمِيقَاتَ مِنْ غَيْرِ إِحْرَامٍ بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ يُحْرِمُ الْحَجَّ فَيَلْزَمُهُ دَمٌ وَاحِدٌ خو داچه تیرشي دمیقات نه بغیر د احرام دحج یا دعمري نه. نوپده به یودم لازم وی.

تشريح ﴿ **صورة وجوب الدم الواحد علي القارن** ﴾صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی.چه البته یوصورت داسي دي.چه په هغي زمونږ په نیزهم په قارن باندي یودم واجبیږی.هغه دا چه قارن بغیراحرامه د میقات نه تیرشي.

دليله ﴾ دلیل دا دي.چه د میقات نه یواحرام واجبیږی.اود یواحرام په روستو کولو سره یودم واجبیږی دود نه واجبیږی.

مذهب زفر رحمه الله ﴾اوامام زفر رحمه الله په دي صورت کښي په قارن باندي دوه قرباني واجبوی.

دليله ﴾ دامام زفر رحمه الله دلیل دا دي.چه ده د میقات نه د حج اوعمري دواړه احرامونه روستوکړی دی.نود هر یوپه بدله کښي به پري یودم واجبیږی.

د دوو محرمانود ښکارپه قتل کښي د شرکت حکم

(وَإِذَا اشْتَرَكَ مُحْرِمَانِ فِي قَتْلِ صَيْدِ الْحَرَمِ فَعَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْجَزَاءُ كَامِلًا) اوکله چه شریك شو دوه محرمان دیو حرم ښکارپه قتل کښي نوپه هر یو ددي دواړو باندي پوره جزاء ده

حل اللغة ﴾ ①**اشترك، اشتراكاً**: شریکیدل ②**دلالة**: لارخودنه ③**جناية**: جرم، قصور]

تشريح﴾ مسئله ښکاره ده.

د دوو غیر محرم کسانود یوښکارقتلولوحکم

وَإِذَا اشْتَرَكَ حَلَالَانِ فِي قَتْلِ صَيْدِ الْحَرَمِ فَعَلَيْهِمَا جَزَاءٌ وَاحِدٌ اوکله چه دوه حلال سری په یوښکار دحرم کښي شریك شو قتل ني کړو نوپه دواړو یو جزاء ده.

تشريح ﴾ **وجوب الجزاء الواحد علي غيرالمحرمين** ﴾مسئله دا ده.که دوه غیرمحرموکسانود حرم یوښکار په شریکه قتل کړلو.نوپه دواړه باندي یوه جزاء واجب ده.

(۱ **مذهب الشافعي**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی چه په قارن به هم یوه قرباني واجبیږی.امام مالك اوامام احمد رحمهما الله هم ددي قائلين دی.

بنیاد د اختلاف دا دي.چه دهغوی په نیزقارن په یواحرام سره محرم دي.نوځکه پري یودم واجبیږی. او زمونږ په نیزقارن په دوو احرامونومحرم دي.یودحج اوبل د عمري نود جنایت په ارتکاب به قرباني هم دوه واجبیږی.دلائل په باب القران کښي تیرشوی دی.

دلیله خکه چه په دې صورت کښې ضمان د محل یعنی د ښکاربدل دې.د جنایت جزاء نه ده.اومحل یعنی ښکاریودې.نوجزاء به هم یوه واجبیږی.

نظیره لکه څنګه چه دوه کسان په شریکه یوکس په خطا باندې قتل کړی.نوپه دواړو باندې یودیت واجبیږی.اوکفاره په دواړوکښې په هریوواجبیږی.خکه چه دیت جزاء د محل ده.اوکفاره جزاء د فعل ده.یعنی مقتول یودې.نودیت به یوواجبیږی.اوفعل د قتل د دووکسانودې.نوکفاره به په هریوباندې واجبیږی

دمحرم د ښکار خرڅولو اواخستلو حکم

وَاِذَابَاعَ الْمُحْرِمُ صَيْدًا اَوِابْتَاعَهُ فَالْبَيْعُ بَاطِلٌ اوکه محرم ښکار خرڅ کړو یانې واخستلو نوبیع به ئې باطله وی

حل اللغة ① **باع،بیعًا(ض)**: خرڅول ② **ابتاع، ابتیاعًا**: اخستل

تشریح **بطلان بیع المحرم** مسئله دا ده.چه دمحرم دپاره دښکارخرڅول اواخستل دواړه ناجائزاوباطل دی.

دلیله خکه چه محرم به یا ژوندې ښکارخرڅ کړې وی اویا به ئې د ذبح کولونه پس خرڅ کړې وی.که ژوندې ئې خرڅ کړې وی.نوده د ښکارامن ته تعرض کړې دې.اودهغه امن ئې زائله کړې دې.اودا جائزنه دی.اوکه د ذبح کولونه پس ئې خرڅ کړې وی.نود محرم ذبیحه مرداره ده.نودا د مردار بیع ده.اود مردار بیع باطله ده.خکه مونږ وایو.چه په دواړو صورتونوکښې د محرم بیع باطل ده.داسې هم ونیلی شی.چه ښکارد محرم په حق کښې حرام لعینه دې.نودا مال متقوم نشو.اوداسې مال بیع چه متقوم نه وی.باطله ده.نودمحرم د ښکاربیع هم باطله شوه.

د احصار بیان

بَابُ الْإِحْصَارِ

دا باب داحصاربه بیان کښې دې.

تشریح **معنی الاحصار** داحصارمعنی ده بندول اود شریعت په اصطلاح کښې احصار دا دې.چه محرم د ویرې یا دشمن یا بیمارئ په وجه د عمرې یا د حج د افعالو پوره کولونه ایسارشی.چونکه احصاربه احرام کښې جنایت دې.خکه ئې دا د باب الجنایات نه په جدا باب کښې ذکرکړلو.

دعذرد وجې د ایساریدوحکم

إِذَا أُحْصِرَ الْمُحْرِمُ بِعَدُوٍّ أَوْ أَصَابَهُ مَرَضٌ يَمْنَعُهُ مِنَ الْمُضِيِّ کله چه منع کړې شو محرم په وجه د دښمن یا اخته شودې په بیمارئ کښې چه منع کړې شو د تیریدونه جَازَلَهُ التَّحَلُّلُ نوده دپاره جائز دی حلالیدل.

حل اللغة ① **احصر،احصارًا**: بندول ② **عدو**: دښمن ③ **مضي**: تیریدل

تشريح ﴿ **جوازالتحلل بسبب الاحصار** ﴾ ① كه محرم د دشمن د ويرې يا د بيمارئ د وجې د حج يا عمرې دافعالو پوره كولونه ايساركړې شي.نودده دپاره د حج ياعمرې د افعالوپوره كولونه بغيرحلالېدل جائز دي. [1]

دلائله ﴿ دليل دا دې.چه دا آيت دبيمارئ د وجې د ايساريدو په باره كښې نازل شوې دې.اوپه دې باندې د توولواهل لغت اجماع ده.د ژبې خاوندان وائي.چه احصار د مرض په وجه بنديدو او ايساريدو ته وائي.اود حصر لفظ د دشمن د وجې بنديدو ته وائي.نودمرض د وجې احصار دآيت نه ثابت شو.اود دشمن د وجې حصر د حديث يعني واقعه حديبيه نه ثابت شو.نواحصارددشمن سره خاص نشو. لكه څنګه چه امام شافعي فرمائي.بلكه ددشمن اومرض دوجې هم احصار كيدې شي.

② دا دويم دليل دې.كه مونږ دا اومنو.چه دا آيت د دشمن په باره كښې نازل شوې دې.نوبيا دا وايو.چه مرض د دشمن د ويرې په حكم كښې دې.اوعلت د اتحاد دحكم دا دې.چه د د حج اوعمرې د افعالو پوره كيدو نه وړاندې د حلاليدو اجازت د هغه تكليف لرې كول دې.كوم چه د زياتې زمانې پورې د احرام په پابندوكښې ايساريدل دې.نودغه علت لكه څنګه چه د دشمن د ويرې د وجې په ايساريدو كښې دې.نود بيمارئ په وجه د احرام په پابندوكښې ايساريدوكښې هم دې.بلكه د مرض په وجه د احرام په پابندو باندې صبر كول د دشمن د احصارنه زيات دې.څكه چه په مرض كښې د علاج اودوانې او دپښولاسوكمزورى ښكاره ده.نوچه د معمولي حرج لرې كولوډپاره د دشمن ويره احصار معتبرګڼلې شي.نودمرض په وجه به احصار خامخا معتبر ګڼلې شي.

د حلاليدودپاره دحرم ته دقربانئ ليږل

وَقِيلَ لَهُ ابْعَثْ شَاةً تُذْبَحُ فِي الْحَرَمِ اوده ته به اووئيلې شي چه يوه چيلئ اوليږه چه په حرم كښې ذبح كړې شي **وَوَاعِدْ مَنْ يَحْمِلُهَا يَوْمًا بِعَيْنِهِ يَذْبَحُهَا فِيهِ ثُمَّ تَحَلَّلَ** او وعده دې مقرر كړى دهغه چا سره د چا په لاس چه ئې ليږى د خاص ورځې چه په هغې كښې ئې ذبح كړى بيا دې حلال شي.

حل اللغة ﴿ ① **جاز، جوازًا (ن)**: جائز كيدل ② **تحلل**: حلاليدل ③ **ابعث، بعث بعثًا (ف)**: ليږل

---

[1] **مذهب الشافعي** رحمه الله:- امام شافعي رحمه الله فرمائي.چه احصار صرف د دشمن د وجې معتبردې.د بيمارئ د وجې احصار معتبرنه دې.دا د امام مالك رحمه الله قول هم دې.

دلائله ﴿ ① دامام شافعي رحمه الله دليل د الله تعالى ارشاد ﴿ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ﴾ دې.دا آيت د صحابه كرامو رضي الله عنهم په باره كښې د صلح حديبيه د عمرې په موقع باندې نازل شوې وو.چه دوى د عمرې دپاره احرام تړلې وو.خود دشمن د وجې د عمرې پوره كولونه عاجز شو.نوالله تعالى دا آيت نازل كړلو.چه حاصل ئې دا دې.كه تاسو بند شوئ.(دعمرې پوره كولونه)نو تاسوته چه كومه قرباني آسانه وى.نوهغه قرباني كړى.اوځان حلال كړئ.نبى ﷺ اوصحابه كرامو رضي الله عنهم ددې آيت مطابق قربانيانې اوكړلې.اوځانونه ئې حلال كړل.دا آيت د دشمن د ويرې د وجې نه د احصار په باره كښې نازل شوې دې.د بيمارئ وغيره د وجې نه دې نازل شوې. معلومه شوه.چه احصارصرف د دشمن د ويرې د وجې معتبردې.② دويم دليل دا دې.چه د احصار په وجه كه قرباني اوكړې شي.نود دشمن ويرې ختميدې شي.خود قربانئ په وجه بيمارى نه ختميږى.نومعلومه شوه.چه احصار صرف د ويرې سره خاص دې.

تشريح > **بعث الهدي** > مسئله.که چه محصرته د حلاليدواجازت ملاؤ شو.نوهغه دې دهدی چيلی: د قرباني: دپاره حرم ته اوليږي.اودكوم كس په لاس چه ئې ليږي.نوهغه سره دې د قرباني: دپاره يوخاص وخت مقرر كړي.چه په فلاني: ورځ به دا قرباني اوكړي.بيا كه چه هغه وخت شي.كوم چه ورته ده ياد كړي وي.نوخان به حلال كړي.

دلائل سوق الهدى إلي الحرم > ① علامه مرغيناني رحمه الله فرمانيلي دي.چه دهدي څاروي به حرم ته خكه ليږي.چه قرباني وينه توبول دي.اودا په هغه وخت كښې عبادت گنړلي شي.چه دده دپاره د وخت اوخاني تخصيص وي.نوكه په دې دواړو كښې بوهم نه وي.يعني يا په خپل وخت كښې نه وي.ياپه خپل وخت كښې وي خوپه خپل محل يعني حرم كښې نه وي.نودا قرباني عبادت نه دي.اوچه عبادت نشو.نومحرم پرې حلاليدې هم نشي

په قرآن پاك كښې هم د محل تعين ته اشاره موجود ده.الله تعالى فرمانيلي دي. ﴿ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ ﴾ په آيت كښې دمحل تفسير شوې دې. ﴿ ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴾ اودلته د بيت نه مراد عين كعبه نه ده.خكه چه په عين كعبه كښې وينه نشي بيولې. بلكه حدود د حرم دي.اوس د آيت ترجمه دا شوه.چه سراوخرانې.نومه حلاليږئ.ترڅوچه هدي حرم ته نه وي رسيدلې.ددې نه هم معلومه شوه.چه د هدي څاروي په حرم كښې دننه ذبح كول ضروري دي.②بله د چه په قرآن كښې ورته هدي وئيلې شوي دي.اوهدي هغه څاروي ته وئيلي شي.چه په حرم كښې قرباني كولې شي.

مذهبان في تعين وقت الذبح > دا ياد ساتي: ①چه د هدي د ذبح كولودپاره د ورځ مقرر كول د امام ابوحنيفه رحمه الله نيز دي.خكه چه ددوي په نيزباندې د دم احصاردپاره د شريعت د طرفه وخت مقرر نه دې .نود ورځې تعين به كوي.چه محصرپه هغه ورځ خان حلال كړي.

②اوصاحبينو رحمهما الله په نيزد ورځ مقرر كولوضرورت نشته.خكه چه ددوي په نيزدم احصاردپاره يوم النحرمقرر شوې ده.البته كه د عمرې نه محصر وي.نوپه دې صورت كښې د صاحبينو رحمهما الله په نيزهم د ورځ مقرركول ضروري دي.خكه چه دعمرې د قرباني: دپاره څه وخت مقرر نه دې. (١)

متي يتحلل؟ > هركله چه محصرهدي اوليږله.نواوس ده ته اختياردې.كه هم په هغه خاني كښې ايساريږي.په كوم خاني كښې چه بند شوې وي.اوكه وطن ته واپس كيږي.البته خان به هله حلالوي.كله چه هغه مقرره ورځ راشي.كومه چه دوي متعين كړې وي.اود ده يقين اوشي.چه هدي ذبح شوې ده

دقارن دوه قرباني: ليږل

فَإِنْ كَانَ قَارِنًا بَعَثَ دَمَيْنِ اوكه محصر قارن وو.نو دوه هدي به ليږي

تشريح > **بعث القارن دمين** > مسئله دا ده چه قارن به دوه دمه ليږي

دليله > خكه چه د دوه احرامونو نه حلاليدو ته احتياج دې.

د احصارد قرباني: دپاره دحرم تخصيص

وَلَا يَجُوزُ ذَبْحُ دَمِ الْإِحْصَارِ إِلَّا فِي الْحَرَمِ اوجائز ندي ذبح كول د دم احصار مگر په حرم كښې وَيَجُوزُ ذَبْحُهُ

(١) **مذهب الشافعي** رحمه الله :- امام شافعي رحمه الله فرماني.چه د هدي د حرم پورې تخصيص نشته.

قَبْلَ يَوْمِ النَّحْرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ (۱) اوجائز دی ذبحه کول ئې رومبې دیوم نحرنه په نزد امام ابوحنیفه صاحب. وَقَالَا لَا يَجُوزُ الذَّبْحُ لِلْمُحْصَرِ بِالْحَجِّ إِلَّا فِي يَوْمِ النَّحْرِ اوصاحبین وائی چه جائزنه دې محصر بالحجر دپاره ذبح کول مګر د یوم النحر په ورځ باندې.

حل اللغة ﴿۱﴾ **يجوز، جوازًا (ن)** : جائز کيدل ﴿۲﴾ **ذبح، ذبحًا**: ذبح کول

تشريح ﴿ **وقت دم المحصربالحج** ﴾ د احصارقربانی دحرم پورې خاص ده. په بل خانې کښې د احصارقربانی کول جائزنه دی. البته د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزدم احصارد يوم النحرنه وړاندې جائز ده. اوصاحبين رحمهما الله فرمائی. چه د محصربالحج دپاره دم احصارصرف په يوم النحرجائزده. د دې نه وړاندې جائزنه ده. خلاصه دا شوه. چه د محصربالحج دپاره د امام ابوحينفه اوصاحبينو رحمهم الله درې واړو په نيزد حرم تخصيص شته. البته د دم احصاردپاره دامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزد وخت تخصيص نشته

مذهب الصاحبين ﴾ .اود صاحبينو رحمهما الله په نيزورته يوم النحر خاص ده. اود محصربالعمرې دپاره په اتفاق سره د وخت تخصيص نشته. بلکه د صاحبينو رحمهما الله په نيزهم د يوم النحر نه وړاندې ذبح جائزده.

دليله ﴾ دامام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې. چه دم احصاردم جنايت دې. هم دا وجه ده. چه لکه د دم جنايت په شان د محصردپاره ددې نه خوارك كول جائزنه دی. بلکه دا د فقيرانوحق دې. او كومې قربانۍ چه د جناياتود جزاء په شكل كښې وی. هغه په اتفاق سره په مكان يعنى حرم پورې خاص دی. خوبه يووخت پورې خاص نه وی. بلکه د جناياتوقربانۍ په هروخت كښې كولې شی. دغه شان د احصار دم هم د يوم النحر پورې خاص نه ده.

دليلهما الاول ﴾ ﴿۱﴾ دصاحبينو رحمهما الله دليل په دم تمتع اودم قران باندې قياس دې. لکه څنګه چه دم تمتع اودم قران په يوم النحر پورې خاص دې. دغه شان به دم احصارهم په يوم النحرپورې خاص وی.

الجواب عنه ﴾ په خلاف د دم قران اودم تمتع څكه چه دا دواړه دم نسك اودم شكر دی. نوپه يوم النحرپورې به خاص وی.

دليلهما الثاني ﴾ دويم دليل د صاحبينو رحمهما الله په حلق باندې قياس دې. يعنى لکه څنګه چه د قارن اومتمتع د حلق دپاره يوم النحر خاص ده. دغه شان به د دم الاحصاردپاره هم يوم النحرخاص وی. اوعلت مشترکه په دواړو كښې دا دې. چه لکه څنګه په حلق سره حلاليدل راځی. دغه شان د دم الاحصارپه ذبح سره هم.

الجواب عنه ﴾ اوپه خلاف د حلق څکه چه حلق داسې محلل دې. چه په خپل وخت پورې خاص دې. اود حج په افعالوکښې چه رکن اعظم يعنى وقوف عرفات دې. نوهغه په دې حلق باندې پوره کيږی. حاصل دا شو. چه تحلل په دوه قسمه دې. ﴿۱﴾ يوهغه تحلل چه په خپل وخت کښې وی. ﴿۲﴾ اوبل هغه تحلل چه د خپل وخت نه وړاندې وی. نوحلق تحلل دې په خپل وخت کښې. اود دم احصار تحلل دې د خپل وخت نه وړاندې. نوچه دا فرق موجود وی. د دم احصارپه حلق باندې قياس څنګه ټيك كيدې شی.

وَيَجُوزُ لِلْمُحْصَرِ بِالْعُمْرَةِ أَنْ يَذْبَحَ شَاةً مَتَى شَاءَ اوجائزدی دمحصر بالعمره دپاره چې ذبح کړی چیلئ کله چې یې خوښه شی

(۱) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الدرالمختار(۲\۲۵۳) والبحرالرائق (۳\۹۷) والهندية (۱\۲۵۶) نقلاً عن القول الراجح(۱\۲۳۸)۔

عدم تعين وقت الذبح للمحصر بالعمرة ﴿ په شريعت کښې د عمرې دپاره وخت معين نه دې نو که معتمر د عمرې کولو نه د څه عذر په وجه بند شو.نو کله چې اوغواړي چيلئ دې ذبح کړي.د لسمې ذوالحجې سره خاص نه ده.

دليله ﴿ **کم اعتمر النبي صلى الله عليه وسلم قال اربع عمرة الحديبية في ذي القعدة حيث صده المشرکون))** نبی کريم ﷺ په شپږم کال د هجرت په مقام حديبيه کښې د عمرې کولو نه بند شوې وو.نو نبی کريم ﷺ او صحابه کرامو هم په هغه موقع ذبح کړې وه حالانکه دغه د ذوالقعدې مياشت وه.نو معلومه شوه چې د محصر بالعمره د ذبحې دپاره د لسمې ذوالحجې تعين نشته.([1])

په محصر بالحج باندې دحج اوعمرې د قضا وجوب

وَالْمُحْصَرُ بِالْحَجِّ إِذَا تَحَلَّلَ فَعَلَيْهِ حَجَّةٌ وَعُمْرَةٌ اومحصر بالحج کله چه احرام پرانيزی نوپدہ حج او عمره دی.

حل اللغة ﴿ ① **تحلل، تحللاً**: حلاليدل]

تشريح ﴿ **وجوب الحج والعمرة علي المحصر بالحج** ﴿ مسئله.که يوکس دحج نه ايسارشو.اوهدی ئې اوليږله. او ان ئې حلال کړلو.نوپه ده باندې دحج اوعمرې دواړو قضا واجب ده.

دلائله ﴿ دغه شان ① دحضرت ابن عباس اوابن عمر ﷺ نه نقل شوی دی.فرمائی **(قال رسول الله ﷺ من فاته العرفة بليل فقد فاته الحج فليحلل بعمرة وعليه الحج من قابل)** يعنی رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. چه د چانه په ليلة النحر کښې هم وقوف عرفات فوت شو.نودده نه حج فوت شو.نوهغه دې دعمرې داحرام نه خان حلال کړی.اوپه دهٔ باندې په رارون کال کښې حج فرض دې.ددې حديث نه معلومه شوه.چه دچانه حج فوت شی.نوپه ده باندې حج اوعمره دواړه دی.اومحصرهم د فائت الحج په معنی کښې دې.نوپه ده به هم حج اوعمره دواړه وی.② دويم دليل دا دې.چه په محصرباندې حج څکه واجب دې.چه د ده په حج کښې شروع صحيح وه.خوچه هغه ئې فاسد کړلو.نودهغې قضا به پرې واجب وی.اوعمره پرې څکه واجب ده.چه دې د هغه چا پشان دې.چه دهغه نه حج فوت شوې وی.اوپه هغه باندې دحج د قضا سره عمره هم واجب ده.نودغه شان به په محصرباندې هم عمره واجب وی.

د محصر بالعمره باندې دعمرې قضا

وَعَلَى الْمُحْصَرِ بِالْعُمْرَةِ الْقَضَاءُ اوکوم سړې چه دعمرې محصرشو پده قضا ده.

حل اللغة ﴿ ① **يتحقق، تحققاً**: ثابتيدل]

تشريح ﴿ **تحقق الإحصار في العمرة** ﴿ که يوکس د عمرې نه بندکړې شی.نوپه ده باندې قضا واجب ده.صاحب دهدايه رحمه الله فرمائيلی دی.چه زمونږ په نيزپه عمره کښې احصارمتحقق کيږی.([2])

دلائله ﴿ ① دليل دادې.چه نبی ﷺ اوصحابه کرام ﷺ دحديبيه په واقعه کښې د عمرې نه بند شوی وو.اوهغوی د هغې عمرې قضا راوړله.([1]) اوپه عمرة القضاء سره مشهوره شوه.نومعلومه شوه.چه په عمره کښې هم احصارمعتبردې

---

[1]) کذا في بخاري باب کم اعتمر النبي ﷺ)-

([2] مذهب مالک رحمه الله:- د امام مالک رحمه الله په نيزنه متحقق کيږی.

② دويم دليل دا دې چه حلاليدل مشروع شوی دی.دحرج لرې کولودپاره،اودا خبره د عمرې په احرام کښې هم موجود ده.نويه عمره کښې هم احصارمتحقق شو.اوچه احصارمتحقق شو.نود عمرې د احرام پرانستلوپه وجه به پرې قضا واجب وی.لکه دحج قضا چه لازم وی.

په قارن دیوحج اودوو عمرو قضا وجوب

وَعَلَى الْقَارِنِ حَجَّةٌ وَعُمْرَتَانِ اوپه قارن يوحج او دوه عمرې دی.

حل اللغة ۞ ①**قارن:** ملاوونکې ②**بينا، تبيينًا:** بيانول]

تشريح ۞ مسئله ښکاره ده.

دليله ۞ يوحج اويوه عمره په دې وجه دی چه کومه مونږ بيان کړه اودويمه عمره څکه چه دې دصحت دشروع نه پس ددې نه بهر شوې دې.

د هدي ليږلونه پس د احصار زائله کيدل

واذابَعَثَ الْمحصرهَدْيًا اوکله چې بند شوې کس هدی اوليږلی وَوَاعَدَهُمْ أَنْ يَذْبَحُوهُ فِي يَوْمٍ بِعَيْنِهِ ثُمَّ زَالَ الْإِحْصَارُ او وعده ئې واخستله دهغوی نه چه په فلانی معينه ورځ به ئې ذبح کړی بيا احصار ختم شو

زوال الإحصاربعدسوق الهدى ۞ مسئله دا ده.که محصرهدی حرم ته اوليږله. او خپلوملګروسره ئې وخت مقررکړلو.چه په فلانئ ورځ به دا هدی قربانی کوئ.ددې نه پس احصارختم شو.نود دې څو صورتونه دی کوم چې په راروان متونونو کښې ذکر شوی دی

دهدی اوحج لاندې کول

فَإِنْ قَدَرَعَلَى إِدْرَاكِ الْهَدْيِ وَالْحَجِّ اوکه حج اوهدی په موندلو باندې قادر شو لَمْ يَجُزْلَهُ التَّحَلُّلُ نو د ده دپاره خان حلالول جائز نه دی وَلَزِمَهُ الْمُضِيُّ اوپه ده باندې تلل لازم دی

تشريح ۞ **صورة ادراك الحج والهدي** ۞ د احصار نه پس که عذر زائله شو او ده هدي ليږلې وه نو که دې د هدي او حج په رالاندې کولو باندې قادر وی.نود ده دپاره خان حلالول جائز نه دی بلکه مکې ته به رونيدلورباندې لازم دی

دليله ۞ څکه چه په خليفه باندې دقدرت موندلونه وړاندې په اصل قادر شو.اصل د حج اوعمرې پوره کول دی.اوخليفه ئې هدی ده.نوهدی بيکاره شوه.دا داسې شوه.لکه چه يوکس د مانځه دپاره تيمم کړې وی.اودمونځ کولو نه وړاندې د اوبو په استعمال قادر شو.نودده تيمم باطل شو.

صرف دهدی لاندې کولوصورت

وَإِنْ قدرعلى ادراك الْهَدْيِ دُونَ الْحَجِّ تَحَلَّلَ اوکه دې د هدی په موندلو قادر وو نه د حج نوحلال دې شي

حل اللغة ۞ ① **عجز:** عاجز کيدل]

تشريح ۞ **صورة ادراك الهدى دون الحج** ۞ اوکه دې د هدی په رالاندې کولو قادر وو او حج ترې فوت کيدو نو خان دې حلال کړی.

---

[1] تقدم تخريجه.

دليله خکه چه دې د اصل نه چه حج دې عاجز شو.نو په ذبح به خان حلال کړي.

صرف دحج لاندې کول

> وَإِنْ قَدرَ علی ادراک الحَجّ دُونَ الهَدْيِ جَازَلَهُ التَّحَلُّل اسْتِحْسَانًا اوکه ده د حج په رالاندې کولوقادر وو او د هدی په رالاندې کولو قادر نه وو نو ده دپاره حلالیدل جائزدی استحسانا

تشريح **صورة ادراک الحج دون الهدي** اوکه حج لاندې کولې شي.خوهدی نشي.استحاناً ده دپاره حلاليدل جائزدی.خوغوره دا ده.چه مکې ته لاړ شي.اودحج افعال ادا کړي.

وجه الإستحسان وجه د استحسان دا ده.چه دې کس چه هدی ليږلي وه.ددې دپاره چه دحج د احرام نه بدل شي.اوس چه هدی هم ذبح شي.اوپه ده باندې حج کول هم لازم شي.نوهدی بې فائدې اوبې کاره شوه.اويقيني خبره ده.چه هدی يوقسم مال دې.اود مال حفاظت اود ضائع کيدو نه بچ کول هم ضروري دې.نو استحسان دا وائي.چه ده ته دې په دې رو خبروکښې اختياورکړې شي.که خوښه ئې وی.نوهم په خپل خائې دې ايسارشي.چه دده د هدی قرباني اوشي. نوخان دې حلال کړي.اوکه خوښه ئې وی.نومکې ته دې لاړ شي.اود حج افعال دې ادا کړي.

وجه القياس وجه دقياس کومه چه دامام زفر رحمه الله قول دې.دا ده.چه دا کس دې د حج افعال پوره کړي.اګرچه هدی نشي لاندې کولې.خکه چه هدی بدل دې دحج نه.اودا کس قادرشو په حج باندې.اودا قانون دې.چه د يوخيزد ادا کولونه وړاندې په اصل حکم باندې قدرت حاصل شي.نوخليفه معتبرنه دې. (لکه د تيمم په صورت کښې چه وړاندې تيرشوی دی. اوس چونکه دې په اصل چه حج دې قادرشو.نوپه بدل يعنی څه فائده نه ورکوی.

الافضل اداء الحج هم دا ورله افضل اوغوره ده.خکه چه ده د احرام په وخت کښې دا ونيلي وو.چه (اللهم إني أريد الحج) يعني دحج کولووعده ئې کړې وه.نوچه دحج افعال اوکړي.دا وعدې پوره کولوته نزدې ده.

> وَمَنْ أُحصِرَ بِمَكَّةَ وَهُوَمَمْنُوعٌ عَنِ الوُقُوفِ وَالطَّوَافِ كَانَ مُحْصَرًا () اوخوک چه په مکه کښې بند کړې شو.اودې دوقوف اود طواف نه منع کړې شوې وو نودې محصر دې

تشريح **العجز عن الطواف والوقوف يعد احصارا** کوم کس چه په حرم کښې د وقوف عرفات نه بند کړې شي.نودې محصردې.

دليله خکه چه ده دپاره دحج پوره کول متعذرشو.اودې داسې شو.لکه چه په زمين حل کښې بندشي.(اوخوک چه په زمين حل کښې بند شي. نو هغه محصرګنډلې شي.دغه شان دې هم محصرګنډلې شي.

> وان قدرعلی ادراک احدهما فليس بمحصر اوکه په دې دوارو (طواف او وقوف عرفات کښې) په يو باندې قادر شو نو دې محصر نه دې

تشريح **حکم الإحصارعن الطواف أوالوقوف احدهما** که دا کس په طواف زيارت او په وقوف

() القول الراجح هو هذا أصح الروايات عن أصحابنا كذا في الكفاية في صدر فتح القدير وعلى هامش الفتح (۳\۵۹) والدر المختار(۲\۲۵۵) نقلاً عن القول الراجح (۱\۲۳۹)۔

عرفات كښې په يوباندې قادر شو.نودې محصرنه دې.يعنې داسې محصرنه دې.چه هدى اوليږي.اوځان حلال كړي.①نوكه صرف په طواف زيارت باندې قادرشو.اوپه وقوف قادر نشو. تردې چه حج ترې فوت شو.نودا كس فائت الحج شو. او دې به په طواف حلاليږي.او هدى ليږل دده دپاره بدل دې.نوچه په اصل قادرشو.بدل په خپله بيكاره شو.②اوكه په وقوف عرفات باندې قادر شو.نومحصرنشو.ځكه چه په وقوف عرفات ورته حج ملاؤ شو.اود فوت كيدو ويره پاتې نشوه.ځكه چه طواف كله غواړي.كولې شي.آخرى عمره پورې ئې وخت دې.

د حج فوت كيدو بيان

بَابُ الْفَوَاتِ

دا باب د حج فوت كيدو په بيان كښې دې.

تشريح> الربط بماقبله>احصارپه منزله د مفرد دې.اوفوات په منزله د مركب دې.ځكه احصارنوم دې د احرام بغيرد اركانو،اوفوات نوم دې د احرام اوادا كولود اركانو.

وقوف عرفات فوت كيدل

وَمَنْ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ فَفَاتَهُ الْوُقُوفُ بِعَرَفَةَ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ فَقَدْ فَاتَهُ الْحَجُّ اوچا چه احرام اوتړلو دحج اوفوت شو ترې وقوف دعرفات تر دې چه ديوم نحر صبا راوختلو .نودده حج فوت شو. **وَعَلَيْهِ أَنْ يَطُوفَ وَيَسْعَى وَيَتَحَلَّلَ** اوس په ده لازم دى چه طواف اوسعى اوكړي اوحلال شى **وَيَقْضِيَ الْحَجَّ مِنْ قَابِلٍ** اوقضا دې راوړي دحج په راتلونكى كال.

حل اللغة > ①**احرم، احرامًا**: احرام تړل ②**فاته، فات فوتًا(ن)**: فوت كيدل ③**طلع، طلوعًا(ف)**: راختل ④**يسعي، سعيًا(ف)**: منډې وهل،تلل، عمل كول

تشريح> **فوت الحج بفوت الوقوف**>كه يوكس وقوف عرفات اونكړلو.تردې چه ديوم النحرصبا راوختلو .نودده نه حج فوت شو.ځكه چه مونږبيان كړې دى.چه د وقوف عرفات وخت د يوم النحرصبا راختو پورې دې.اوچه وقوف عرفات فوت شو.نوحج فوت شو.اوس په ده باندې لازم ده.چه عمره اوكړي.اوځان حلال كړي.اورااروان كال ته د دې حج قضا راوړي.اوپه ده باندې د كفارې په حيثيت څه دم واجب نه دې.

دلائله> ①ځكه چه نبى ﷺ فرمائيلى دى.دچا نه چه وقوف عرفه د شپې هم فوت شو.نودده نه حج فوت شو.ده ته پكار دى.چه عمره اوكړي.اوځان حلال كړي.اوپه ده باندې د راروان كال حج فرض دې.[1] او عمره د طواف اوسعى نوم دې.

②دويم دليل دا دې.چه دده احرام خوپه صحيح طريقه منعقد شوې دې. اوس دهغې نه د وتلو دپاره بله څه لار نشته.سوي ددې نه چه دې عمره اوكړي.اودهغې د افعالونه پس ځان حلال كړي.دا حكم داسې دې.لكه چه يوكس مبهم احرام اوتړي.يعنى صرف احرام اوتړي.او ددې تعين اونكړي.چه دا د حج دې اوكه دعمرې.نوپه ده باندې د احرام نه د وتلودپاره دوه طريقې دى.يادا چه عمره ادا كړي.اوځان حلال

[1] من حديث ابن عمر رضي الله عنهما اخرجه الدارقطني في سننه (۲/۲۴۱) رقم ۲۱)۔

کړی.اویاداچه حج اداکړی.دغه په دې صورت کښې ده لره د احرام نه وتل دی.حج خوترې وقوف دفوت کیدو په وجه فوت شو.البته صرف عمره پاتې ده.نوعمره دې اوکړی.اوخان دې حلال کړی.

وَلَادَمَ عَلَيْهِ او په ده دم نشته

تشریح < **عدم وجوب الدم** > په ده باندې دم واجب نه دې.

دلیله > دلیل دا دې چه فائت الحج د عمرې افعال ادا کوی.اوخان حلالوی.نود فائت الحج دپاره عمره داسې ده. لکه څنګه چه د محصردپاره دم دې.نودا دواړه چه عمره اودم دی.نشی جمع کولې.یعنی د حلالوالی دپاره خوپه اصل کښې عمره مقرر شوې ده.خوچونکه محصرد عمرې په ادا کولوقادر نه دې.نوځکه هدی هغه دپاره د عمرې بدل شو.اوفائت الحج په عمره قادر دې.نودې به ددې په ذریعه خان حلالوی.نوپه دې دواړو کښې تباتن دې.ځکه فائت الحج په محصرباندې نشی قیاس کولې.

د عمرې دپاره وخت عدم تعین

وَالْعُمْرَةُ لَا تَفُوتُ وَهِيَ جَائِزَةٌ فِي جَمِيعِ السَّنَةِ إِلَّا خَمْسَةَ أَيَّامٍ يُكْرَهُ فِعْلُهَا فِيهَا او عمره نه فوت کیږی اودا په ټول کال کښې جائز ده علاوه د پنځو ورځو نه چه مکروه دی په دغو کښې عمره کول يَوْمَ عَرَفَةَ، وَيَوْمَ النَّحْرِ، وَأَيَّامَ التَّشْرِيقِ او دغه یوم عرفه، یوم نحر، اوایام تشریق دی

تشریح > **حکم العمرة في الأيام الخمسة** > عمره چونکه غیرموقته ده.یعنی ددې دپاره وخت نشته. نوځکه دا نه فوت کیږی ټول کال ددې دپاره وخت دې.البته په پنځوورځوکښې ددې ادا کول مکروه دی.هغه پنځه ورځې دعرفې ورځ د لونې اختروځ اودرې ورځې د تشریق.

دلائله > ① دلیل دحضرت عائشې ﷺ حدیث دې. چه په دې پنځه ورځوکښې به نې عمره مکروه کوله.[1] ② اودویم دلیل دا دې.چه دا پنځه ورځودحج دپاره دی.نودا هم د حج دپاره متعین دی.

روایة عدم الکراهة یوم عرفة قبل الزوال > ① دامام ابویوسف رحمه الله نه د عرفې په ورځ د زوال نه وړاندې دعمرې د عدم کراهت قول هم مروی دې.ځکه چه د وقوف عرفات وخت د زوال نه پس شروع کیږی. ②خو په ظاهرمذهب کښې د عرفې په ټوله ورځ کښې عمره کول مکروه ده.اوددې کراهت باوجودکه چا عمره اوکړله.نوعمره نې صحیح کیږی.اومحرم باقی پاتې کیږی.

صحة العمرة مع الکراهة > صاحب د هدایه رحمه الله فرمائیلی دی که په دې ورځوکښې نې دعمرې احرام اوتړلو.نوعمره دې نه ادا کوی. ځکه چه کراهت د عمرې په ذات کښې نشته.بلکه دغیرد وجې پیدا شوې دې.اوهغه غیرد حج تعظیم اود ورځې دحج دپاره خاص کول دی.نوهرکله چه ذات کراهت نشته.بلکه د غیردوجې دې.نوعمره ترل په کښې صحیح شو.اواحرام به باقی وی.اوکه عمره نې ادا کړله.نوځکه چه نې لازمه کړې وه.هغه شان نې ادا کړل. اګرچه کراهت په کښې راغلو.لکه څنګه چه په مکروه وخت کښې دمازیګرمونځ اوکړی.یا نفل شروع کړی اوپه مکروه وخت کښې نې پوره کړی.نوسره د کراهته صحیح شو.دغه شان دلته عمره په دې ورځوکښې سره د کراهته مکروه ده.

عدد عمراة النبي ﷺ > نبی کریم ﷺ ټولې څلورعمرې کړی دی.دا څلور واړه نې دهجرت نه پس کړی دی.اودا څلوروارو نې د ذوالقعدې په میاشت کښې کړی دی. ① عمره حدیبیه کال ۶هـ ② عمره قضاء ۷هـ ③ دحجة الوداع په موقع کال ۱۰هـ عمره جعرانه

[1] اخرجه البیهقی فی السنن الکبری (۵۶۵/۴) رقم (۸۷۴۱)۔

دعمرې حکم

وَالْعُمْرَةُ سُنَّةٌ اوعمره سنت ده وهی الاحرام والطواف والسعی اوهغه احرام دی او طواف دی او سعی ده

حل اللغة ﴿①**امارة**: نښه علامت ②**لاتثبت،ثبت ثبوتا (ن)**: ثابتیدل]
في حكم العمرة﴿ عمره سنت ده.

تشریح﴿ **دلائله** ﴿ ① دلیل دا حدیث دی.(**الحج فريضة والعمرة تطوع**)([1]) ② دویم دلیل دا دی.چه دعمری دپاره وخت مقرر نه دی.په ټول کال کښې کیږی.اودغه شان د بل په نیت هم کیږی.لکه د کوم کس نه چه حج فوت شی.نوده نیت کړی وی.د حج خوځان حلالوی د عمری په افعالوسره،اوچه د کوم څیزدپاره وخت مقرر نه وی.اودبل په نیت سره هم ادا کیږی.نودا د نفل نښه شوه.نومعلومه شوه.چه عمره نفل ده.
مذهب الشافعي رحمه الله﴿ دامام شافعی رحمه الله په نیزفرض ده.امام احمد رحمه الله هم ددی قائل دی.

دليله﴿دامام شافعی رحمه الله دلیل دا حدیث دی.(**العمرة فريضة كفريضة الحج**) ([2]) یعنی عمره دحج پشان فرض ده.

الجوابان عنه ﴿ ①اوامام شافعی رحمه الله چه کوم حدیث ذکرکړی دی.چه (**العمرة فريضة**)نوددی مطلب دا دی.چه دعمری دپاره افعال مقرر دی.لکه څنګه چه د حج دپاره خپل مخصوص افعال مقرر دی.② دویمه خبره دا ده.چه د عمری په فرضیت اوعدم فرضیت کښې آثار متعارض دی.نوچه تعارض موجود شو.فرضیت نشی ثابت کیدی.ماتن اوفرمائیل.چه عمره دطواف اوسعی نوم دی.لکه څنګه چه د باب التمتع نه معلومه شوی ده.والله اعلم بالصواب

د هدی بیان

بَابُ الْهَدْيِ

دا باب دهدی په بیان کښې دی.

دهدی ادنی درجه

اَلْهَدْيُ اَدْنَاهُ شَاةٌ کمتر هدی چیلئ ده.

حل اللغة ﴿①**هدی**: د قربانئ ځاروی ②**شاة**: چیلئ]

تشریح﴿ مسئله واضحه ده.

دليله﴿ ([3]) ځکه چه روایت دی چی دنبی کریم ﷺ نه تپوس اوشودهدی په باره کښې. نو وی فرمائیل کمتر دهدی چیلئ ده.

---

[1]) غربه الزيلعي رحمه الله رفعه وعزاه موقوفاً على ابن مسعود رضي الله عنه إلى مصنف ابن أبي شيبة واخرجه ابن ماجه في سننه في المناسك باب ٤٤ رقم ٢٩٨٩ برواية طلحة بن عبيدالله رضي الله عنه أنه سمع رسول الله ﷺ يقول الحج جهاد والعمرة تطوع)

[2]) غربه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل عن زيد بن ثابت رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ إن الحج والعمرة فريضتان لا يضرك بأيهما بدأت أخرجه الحاكم في المستدرك (٤٨١/١)۔

[3]) قال الزيلعي رحمه الله غريب ولم أجده إلا من قول عطاء .... ادنى ما يهراق من الدماء في الحج وغيره شاة (نصب الراية ٢٠٠/٣)۔

دهدي درې قسمونه

وَهِيَ مِنْ ثَلَاثَةِ أَنْوَاعٍ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ فرمائی دغه په درې قسمه ده. اوښ دي، اوغوي ده اوګډچیلۍ ده.

حل اللغة ۱ **ابل**: اوښ ۲ **بقر**: غوي ۳ **غنم**: چیلۍ ۴ **لابد**: ضروری]

تشریح **انواع الهدي** د هدی اطلاق په درې قسمه څناوروباندې کیږي. چیلۍ، اوښ اوغوا.

دلائله ۱ دلیل دا دې چه نبی ﷺ چیلۍ ته د هدی ادنی درجه ورکړې ده. اود ادنی دپاره اعلی ضرور وی. نواعلی ئې اوښ اوغوې شوه. ۲ دويم دلیل دا دې. چه هدی هغه څناورته وائي. کوم چه حرم ته ددې دپاره لیږلې شی. چه دهغې د قربانۍ په ذریعه تقرب الی الله حاصل شی. اوپه دې مقصد کښې دا درې واړه (چیلۍ غوې او اوښ) سره برابر دی. نوپه دې درې واړو باندې د هدی اطلاق کیږي.

دهدي اواضحيه د قربانۍ دځناورو برابري

يُجْزِئُ فِيْ ذٰلِكَ كُلِّهِ الثَّنِيُّ فَصَاعِدًا په دې ټولو هدایا کښې ثنی یا چې د هغې عمر زیات وی جائز دې إِلَّا مِنَ الضَّأْنِ فَإِنَّ الْجَذَعَ مِنْهُ يُجْزِئُ فِيْهِ البته ګډې څکه چې په دې کښې د شپږو میاشتو ګډ هم جائز ده

حل اللغة ۱ **اراقة**: بهیول ۲ **الثني**: هغه څاروې چې د خوانۍ دوه غابښونه ئې راختلی وی ۳ **الضان**: ګډ، ۴ **الجذع**: شپږ میاشتو والا ګډه یا چیلۍ

تشریح په هدی او قربانۍ کښې په د ټولو څناورو ثنی ذبح کول جائز دی. او د دې نه د کم عمر ذبح جائز نه دی. خوپه خصوصیت سره که ګډه یا ګډه د شپږو میاشتو وی او څربه وی که د یوکال په ګډوکښې اودرولې شی نودکال ښکاری په داسې ګډ او ګډه باندې هم قربانی کیږي.

دلیله من جابر رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لاتذبحوا الا مسنة الا ان یعسر علیکم فتذبحوا جذعة من الضان (۱) د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی تاسو صرف مسنه ذبح کوئ خوکه په تاسو باندې د مسنه ذبح کول او قربانی کول ګران وی نو بیا د ګډې شپږ میاشتو والا ګډ یا ګډه هم ذبح کولې شئ.

وَلَا يُجْزِئُ فِي الْهَدْيِ مَقْطُوْعُ الْأُذُنِ او جائز نه ده په هدی کښې غوږ کټ شوې وَلَا أَكْثَرُهَا اونه چې زیات غوږ ئې کټ شوې وی. وَلَا مَقْطُوْعُ الذَّنَبِ اونه دې جائز چې لکۍ ئې کټ شوې

تشریح په داسې څاروی باندې قربانی نه کیږي چې د هغې غوږ کټ شوې وی څکه چې د غوږ کټ کیدل عیب دې.

دلیله د غوږ سالمیت په باره کښې د نبی کریم ﷺ قول دې سْتَشْرِفُوا الْعَيْنَ وَالْأُذُنَ (۲) چې سترګه او غوږ ښه ګورئ یعنی ددې دواړو سلامتیا ګورئ اوچې لکۍ ئې کټ شوې وی هغه په هدې کښې څکه جائز

---

(۱) ابوداؤد باب ما یجوز فی الضحایا من السن کتاب الضحایا الجلد الثانی)۔

(۲) – من حدیث علی رضی الله عنه أخرجه ابوداود فی الأضاحی باب ۶ رقم ۲۸۰۴ والترمذی فی الأضاحی باب ۶ والنسائی فی الضحایا رقم ۴۳۷۲ وابن ماجه فی الأضاحی باب ۸ رقم ۳۱۴۲)۔

نه دي چې لکۍ هم يو کامل اندام دي.او مقصود دي.نو د غوږ پشان شو.نو لکه څنګه چې مقطوع الاذن په هدی کښې جائز نه دي دغه شان به مقطوع الذنب هم جائز نه وی.

حکم مقطوع اکثرالاذن په پاته پاتيګ شوی او ختم شوی کې د اکثر حکم د کل پشان ديګ.چه که اکثره برخه پاته ده.نو ګګويا کل پاته ديګ.او قرباني جائز ده.اوکه اکثره برخه ختمه شوه.نو ګګويا کل ختم شو.او قرباني به جائز نه وی.اودا خبره چې اکثر څه ته وائی نو د دې تفصيل به انشاء الله په هدايه کښې راشی.انتظار اوکړئ

وَلَا مَقْطُوْعُ الْيَدِ وَلَا الرِّجْلِ اونه دې جائز په هدی کښې هغه چې لاس يا پښه ئې کټ شوې وی وَلَا ذَاهِبَةُ الْعَيْنِ اونه هغه چې نظر ئې ختم شوې وی وَلَا الْعَجْفَاءِ اونه په هغه څاروی چې ډير تمپ وی وَلَا الْعَرْجَاءِ الَّتِي لَا تَمْشِيْ إِلَى الْمَنْسَكِ او نه په هغه ګوډ چې قربان ګاه ته نشی تلې

تشريح په متن کښې چې کوم څاروی ذکر شو په دې باندې قرباني نه کيږی اونه دا په هدی کښې قرباني کول جائز دی.

دليله د نبی کريم ﷺ ارشاد دی لَا تُجْزِءُ فِي الضَّحَايَا أَرْبَعَةٌ: الْعَوْرَاءُ الْبَيِّنُ عَوَرُهَا وَالْعَرْجَاءُ الْبَيِّنُ عَرَجُهَا وَالْمَرِيْضَةُ الْبَيِّنُ مَرَضُهَا وَالْعَجْفَاءُ الَّتِي لَا تُنْقِي (ⁱ)په قربانو کې څلور څاروی جائز نه دی هغه کانړا (چغوت) چې دده کانړاتوب ښکاره وی او هغه ګوډ چې دده ګوډ کيدل ښکاره وی او هغه بيمار چې دده مرض ښکاره وی دې ،

د دووجناياتونه علاوه په نوروکښې د چيلۍ کفايت

وَالشَّاةُ جَائِزَةٌ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا فِي مَوْضِعَيْنِ او چيلۍ په هره موقع کښې جائز ده سوي ددو خايونونه مَنْ طَافَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ جُنُبًا وَمَنْ جَامَعَ بَعْدَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ چا چه طواف زيارت اوکړو په حالت د جنابت کښې اوچا چه جماع اوکړ د وقوف نه پس فَإِنَّهُ لَا يَجُوزُ فِيهِمَا إِلَّا الْبَدَنَةُ ځکه چې په دې دواړو صورتونو کښې نه جائز کيږی مګر بدنه

حل اللغة ① **جنبًا**: د جنابت په حالت کښې ② **جامع، مجامعة**: جماع کول ③ **بدنة**: اوښ غوې

تشريح مسئله ښکاره ده.

وَالْبَدَنَةُ وَالْبَقَرَةُ يُجْزِءُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بدنه او غوا هره يو د دې دواړو نه جائز کيږی عَنْ سَبْعَةِ أَنْفُسٍ د اووه کسانو نه إِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الشُّرَكَاءِ کله چې وی هر يو کس د شريکانو نه يُرِيْدُ الْقُرْبَةَ چې اراده لری د ثواب فَإِذَا أَرَادَ أَحَدُهُمْ بِنَصِيْبِهِ اللَّحْمَ نو که يو کس په دوی کښې په خپلې حصې سره د غوښې اراده وه لَمْ يُجْزِءْ لِلْبَاقِيْنَ عَنِ الْقُرْبَةِ نو د نورو دپاره د عبادت په حيثيت سره نه صحيح کيږی

تشريح په اوښ او غوا مينبه کښې اووه کسان شريکيدې شی.او د دې نه زيات شريکيدل جائز نه دی کله چې دوی په شريکه قرباني اوکړه نو د ټولو قرباني اوشوه.

ⁱ – من حديث براء بن عازب رضي الله عنه اخرجه ابوداود في الأضاحي باب ٦ رقم ٢٨٠٢ والترمذي في الأضاحي باب ٦٥ والنسائي في الضحايا باب ٥ وابن ماجه في الأضاحي باب ٨ رقم ٣١٤٤ ومالك في الضحايا رقم ١)_

دليله> د نبی کريم ارشاد دي.عن جابر رضی الله عنه قال نحرنا مع رسول الله ﷺ عام الحديبية البدنة عن سبعة والبقرة عن سبعة (١) دحضرت جابر ﷜ نه روايت دي فرمائی مونږ د رسول الله ﷺ سره د حديبيه په کال په اووه کسه بدنه ذبح کړې وه او غوا مو ذبح کړې وه.

شرطية الاخلاص في النية> البته دا شرط په کښې دي چې په دوی کښې د هريو نيت د الله رضا وی.که د يو کس نيت په کښې هم دغوښې وی.يا ريا وی نو د ټولو قربانی نه کيږی.

دليله> د ټولو قربانی ځکه نه قبليږی.چې ښاروی يو دي.تقسيم نه قبلوی.نوچې تقسيم نه قبلوی.د يو په فساد نيت سره به د ټولو قربانی قبوله نشی.کله ځنګه په مانځه کښې يو رکن پاتې شی.نو ټول مونځ نه کيږی.

د نفلی.تمتع اوقران د هدي نه د خوراك جواز

وَيَجُوزُ الْأَكْلُ مِنْ هَدْيِ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ اوجائز دی خوړل پخپله د نفلی هدی اود تمتع هدی او دقران دهدی نه.

تشريح> مسئله ښکاره ده.

دلائله> ① ځکه چه دا د نسك دم دي نوجائزدی خوړل ددينه لکه د اضحيه پشان.② او صحيح ثابت دی چه نبی کريم ﷺ د خپلې غوښې نه اوخوړه او د خوروه نه اوڅکله. (٢)

إستحباب الأكل والتوزيع من الهدايا الثلاثة> د ذکرشو هدايا نه يعنی د نفلی،تمتع اوقران نه په خپله خوراك کول مستحب دی.ځکه چه په حديث کښې دی.چه نبی ﷺ دخپلې هدی غوښه اوخوړله .اوخوروې ني اوڅکله.اوپه کومه طريقه چه د قربانۍ غوښه تقسيمول مستحب دی.هغه دا د هدايا غوښه هم تقسيمول مستحب دی.يعنی د دريوحصو نه دې يوه حصه صدقه کړی.دويمه دې هديه کړی. او دريمه دې په خپله اوخوری.اوذخيره دې کړی.

وَلَا يَجُوزُ مِنْ بَقِيَّةِ الْهَدَايَا اونه دی جائزخوراك د باقی دمونو د هداياونه.

تشريح> مصرف بقية الهدايا> ددې نه علاوه چه کومې نورې هدايا دی.نودهغې نه به په خپله خوراك نه کوی. بلکه د حرم په فقيرانو به صدقه کولې شی.

دليله> ځکه چه دنبی ﷺ نه په صحيح سند سره ثابت دی.چه کله نبی ﷺ په مقام حديبيه کښې محصرشو.اوهدايا ني د ناجيه اسلمی په لاس باندې حرم ته اوليږلې.نوناجيه اسلمی ﷛ ته ني اوفرمائيل.چه ددې نه په خپله هم خوراك مه کوئ.اوخپلوملګروته هم مه ورکوه. (٣) دوی ني ځکه د خوراك کولونه منع کړی وو.چه هغوی مالدار وو.ددې نه هم معلومه شوه.چه دم احصاروغيره کومې چه دجناياتو اوکفاراتو قربانيانې دې.هغه د فقيرانوحق دې.نه ترې په خپله خوراك جائزدې.اونه مالدارانوباندې خوراك جائزدې.

---

(١) مسلم باب جواز الاشتراك في الهدي واجزاء البدنة والبقرة كل واحد منهما عن سبعة كتاب الحج)۔
(٢) تقدم تخريجه في حديث طويل لجابر ﷛۔
(٣) أخرجه أبوداود في الحج باب ١٨ رقم ١٧٦٢ والترمذی في الحج باب ٧١ رقم ٩١٠ وابن ماجه في المناسك باب ١٠١ رقم ٣١٠٦ والنسائي في السنن الكبری (٢/٤٥٤) رقم ٤١٣٧)۔

د نفلي، تمتع او قران د هدی په يوم النحر باندې قرباني كول

وَلَا يَجُوزُ ذَبْحُ هَدْيِ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ إِلَّا فِي يَوْمِ النَّحْرِ او جائزنه دی ذبح كول د نفلی هدی اودتمتع اود قران دهدی مګر په ورځ د اختر (لسمي ذوالحجې)

تشریح> **روایة مبسوط**> اوپه مبسوط کښې دی چه د نفلی هدی یوم نحر نه مخکښې ذبح کول جائز دی اوغوره ئې په یوم نحر کښې ذبح کول دی.اودا صحیح ده

دلیله> ځکه چه په نوافلو کښې قربت په دې اعتبارسره دې چه دغه هدی ده اوهدی کیدل دې لره حرم ته په رسولو سره متحقق کیږی

فضل یوم النحر> اوکله چه دا اوموندې شوه نو جائز ده ذبح ئې بغیر د یوم نحر نه.اوپه ایام نحر کښې افضل ده.

دلیله> ځکه چه معنی دقربت په تویولودوینې کښې په دې ورځو کښې ښه ظاهرېږی

دلائل وقت دم التمتع والقران> ① پاتې شوه هدی د تمتع اودقران نو په دلیل دقول دالله ﷻ ده..خورئ د دې نه اوبدحال اومحتاج ته ورکوئی بیاپکار دی چه لرې کړی خپل خیرې. اوخیرې لرې کول دیوم نحر سره مخصوص دی ② اوځکه چه دا دم نسك دې نومختص به وی په یوم نحر پورې پشان داضحیه.

.....

دباقي هدایا د ذبح کولو د وخت حکم

وَيَجُوزُ ذَبْحُ بَقِيَّةِ الْهَدَايَا فِي أَيِّ وَقْتٍ شَاءَ او جائزدی باقی هدایا ذبح کول په هر وخت کښې چه غوارې

حل اللغة> ① ای وقت: په کوم وخت کښې هم

تشریح> **عدم تعیین الوقت لبقیة الهدایا**> مسئله آسانه ده.د وضاحت محتاجه نه ده. (1)

دلیله> دلیل دادې چه دا دکفارو قربانئ دی نومختص به نه وی په یوم نحر پورې ځکه چه کله دا د نقصان پوره کولودپاره واجب شوې نوپه دې کښې به تلوارکول غوره وی چه لرې شی نقصان په دې سره بغیر د تاخیر نه۔

د هدایا په حرم کښې د ذبح کولو حکم

وَلَا يَجُوزُ ذَبْحُ الْهَدَايَا إِلَّا فِي الْحَرَمِ او جائزنه دی هدی ذبح کول مګر په حرم کښې.

تشریح> **محل ذبح الهدایا**> مسئله دا ده.که هدی نفلی وی اوکه غیرنفلی وی.صرف په حرم کښې ددې ذبح کول جائز دی.دحرم نه سوې په زمین حل کښې ئې هم ذبح جائزنه ده.

دلائل کون الحرم محل الذبح> دلیل دا دې.① چه د ښکاردجزاء په باره کښې الله تعالی فرمائیلی دی. ﴿هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ﴾ اوپه آیت کښې د کعبې نه عین کعبه مراد نه ده.بلکه حرم مراد دې.نودا قول په هرهغه دم کښې یوبنیاد اواصل شو.کوم چه د کفاره په حیثیت واجب وی.نوهغه حرم ته رسول ضروری دی.اود دم احصارپه باره کښې الله تعالی فرمائیلی دی. ﴿وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ﴾ اودمطلق هدایا

---

(1) **مذهب الشافعي رحمه الله**: امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د باقی هدایا قربانی هم جائز نه ده مګر په یوم نحر کښې.

په باره کښې ني فرمائيلي دي ﴿ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ﴾ دا ټول آياتونه په دې دلالت کوي چه دهدايا د ذبح کولو ځائې حرم دې
② دويم دليل دا دې چه هدی هغې ته وائي چه يو ځائي ته هديه کړې شي اوهغې محل حرم دې. دغه شان نبي ﷺ فرمائيلي دي چه منى ټوله د ذبحې ځائې دې اومکې لارې ټولې د ذبحې ځايونه دي.[1] اودا دواړه مقامات په حرم کښې داخل دي. (نومعلومه شوه چه د ذبحې ځائې صرف حرم دې. که بل ځائې وو نبي ﷺ به ني وضاحت کړې وو.

وَيَجُوزُأَنْ يَتَصَدَّقَ بِهَا عَلَى مَسَاكِينِ الْحَرَمِ وَغَيْرِهِمْ اوجائزدي چه تقسيم کړی غوښې دقربانئ په مسکينانو دحرم اود دوی نه علاوه په نورو

تشريح ﴿ **عدم لزوم التصدق علي فقراء الحرم:** ﴾ د هدايا غوښه دحرم اوغيرحرم په فقيرانو باندې صدقه کول جائزدي.([2])

دليله ﴿ د الله تعالى ارشاد دې. «فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ» يعني تاسو خوراك کوئ د دې هدي نه او خوراك کوئ په محتاجه فقير باندې. په دې آيت کښې الله تعالى د هدی د غوښې په باره کښې دا فرمائي چې تاسو په ضرورت مند فقير باندې دې غوښې خوروئ په دې کښې د مطلق فقير ذکر دې. د حرم د فقيرانو سره تخصيص نشته. نو معلومه شوه چې د حرم او غير حرم فقيران د غوښې په خوړلو کښې برابر دي.

دهدايا د تعريف حکم

وَلَا يَجِبُ التَّعْرِيفُ بِالْهَدَايَا اودهدايو تشهير واجب نه دې.

تشريح ﴿ **عدم وجوب التعريف** ﴾ بهرحال د دواړومعانيوپه اعتبارسره دهدى تعريف واجب نه دې.
دليله ﴿ ځکه چه هدی نوم دې ددې چه حرم ته بوتلې شي. اوهلته ذبح کړې شي. اوغاړه کښې اچول دهدی نوم نه دې. نوځکه تعريف واجب نشو. حاصل دا چه د تعريف وجوب په دوو طريقوسره ثابتيدې شي. يوپه دې چه نص موجود وی. دويم دا چه د هدی په لفظ کښې د تعريف معنى پرته وی. اودلته دواړه خبرې نشته. نوځکه تعريف واجب نه دې.

په بدنه کښې د نحراوپه غوی اوچيلئ کښې د ذبح فضيلت

وَالْأَفْضَلُ بِالْبُدْنِ النَّحْرُ وَفِي الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ الذَّبْحُ اوپه اوښ کښې افضل نحر دې اوپه غوااو چيلئ کښې ذبح ده

تشريح ﴿ **فضيلة الذبح في البدن** ﴾ مسئله ښکاره ده.
دلائله ﴿ ① قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً يعني تاسو يوه غوا ذبح کړئ ګورئ دلته الله تعالى د غوا دپاره د ذبحې کولو حکم کړې دې ② قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى {وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ} داالله ﷻ ارشاد د دې

---

[1] من حديث جابر رضي الله عنه اخرجه ابوداود في المناسك باب ٦٤ رقم ١٩٣٧ وابن ماجه في المناسك باب ٧٣ رقم ٤٨ واحمد في المسند (٣٢٦/٣)_

([2] مذهب الشافعي رحمه الله:- امام شافعي رحمه الله فرمائي چه صرف دحرم په فقيرانوني صدقه کول جائز دي.

اوددې (اسماعيل عليه السلام) بدله کښې مونږ يوځاروې د لوئې ذبحې دپاره ورکړو ،دلته هم د ګډ قربانئ دپاره الله تعالى د ذبح تکې ياد کړې دې ③ .اوصحيح ثابت دى چه نبى ﷺ اوښان نحرکړل اوغوې او چيلئ ئې ذبح کړل.[1]

دهدي په خپله د ذبح کولواستحباب

وَالْأَوْلَى أَنْ يَتَوَلَّى الْإِنْسَانُ ذَبْحَهَا بِنَفْسِهِ إِذَا كَانَ يُحْسِنُ ذَٰلِكَ اوغوره دا ده چه پخپله ئې ذبح کړى کله چه دې پخپله ښه کولې شى.

تشريح > **فضل تولي الذبح بنفسه** > مسئله واضحه ده.

دلائله > ① خکه چه روايت دې چه نبى کريم ﷺ سل بدنې روانې کړې په حجة الواع کښې نو نحر ئې کړې څه د پاسه شپيته پخپله. اودباقى دپاره ئې حضرت علي رضي الله عنه متولى کړو. [2] ② دويم دليل دا دې چه نحرکول قربت دې اوپه طاعاتو پخپله متولى کيدل غوره دى.خکه چه په دې کښې عاجزى زياته ده.

حکم من لم يحسن الذبح > مګرکله چه بنده په دې پخپله نه پوهيږى اوښه نشى کولې نو مونږ په دې کار باندې بل لره متولى کول جائزکړل.

قصاب ته په اجرت کښې د هدي نه څه ورکول

وَيَتَصَدَّقُ بِجِلَالِهَا وَخِطَامِهَا وَلَا يُعْطِي أُجْرَةَ الْجَزَّارِ مِنْهَا اوخيرات دې کړى ددې خلونه مهارونه اونه دې ورکوى ددې نه اجرت دقصاب

حل اللغة > ① **جلال**: خناورو ځل ② **خطام**: رسئ ③ **جزار**: قصاب]

تشريح > **حکم جلالها وخطامها** > مسئله ښکاره ده.

دليله > خکه چه دنبى ﷺ ارشاد دې علي رضي الله عنه ته چه صدقه کړه د دې خلونه اومهارونه اومه ورکوه قصاب ته په مزدورئ کښې ددې نه[3]

په بدنې باندې سوريدو ته احتياج

وَمَنْ سَاقَ بَدَنَةً فَاضْطُرَّ إِلَى رُكُوبِهَا رَكِبَهَا اوچا چه روانه کړه بدنه بيا حاجتمند شود دې سوريدو ته نوسوردې شى وَإِنْ اسْتَغْنَى عَنْ ذَٰلِكَ لَمْ يَرْكَبْهَا اوکه بې حاجته شود دې نه.نونه دې سوريږى.

حل اللغة > ① **فاضطر،اضطرارًا**: مجبور کيدل

تشريح > **عدم جواز الركوب للقادر**- کوم کس چه بدنه روانه کړې وى.اوحرم ته روان وى.په لارکښې ستړې شى.اود تګ طاقت نه لرى.نوده ته په بدنه د سوريدو اجازت شته.خوکه د پيدل تګ طاقت ئې وى.نوسوريږى به پرې نه.

---

[1]) تقدم تخريجه في حديث جابر رضي الله عنه)

[2]) تقدم تخريجه في حديث جابر رضي الله عنه)ـ

[3]) اخرجه البخارى في الحج باب ۱۱۳ رقم ۱۷۰۷ ومسلم في الحج رقم ۳۴۹ وابوداود في المناسك باب ۲۰ رقم ۱۷۶۹ وابن ماجه في المناسك باب ۹۷ رقم ۳۰۹۹ والدارمى في المناسك باب ۸۹ واحمد في المسند (۷۹/۱) وهوعندالنسائى في السنن الكبرى ۴۵۶/۱) رقم ۴۱۴۶)ـ

دلیله خکه چه بدنه خالص دالله تعالی حق دې.نوددې د ذات یا منافع نه فائده اخستل مناسب نه دي.تردې چه خپلې محل ته اورسولې شي.اوذبح کړې شي.

وَإِنْ كَانَ لَهَا لَبَنٌ لَمْ يَحْلُبْهَا)اوکه وو دهغې پئ نو نه به لوشي.

تشریح عدم جواز حلب اللبن اوکه بدنه ښځه وي.اوهغه پئ کوي.نودهغې نه به پئ نه لوشلې.
دلیله خکه چه پئ هم د هغې نه پیدا کیږي.بلکه په یخواوبو به پرې چرګاؤ کوي.چه پئ ئې اوچ شي.
رخصة حلب اللبن خودا حکم په هغه وخت کښې دې.چه د قربانئ وخت نزدې وي.اوکه د ذبح کولووخت لرې وي.نودهغې نه دې پئ لوشي.اوهغه پئ دې صدقه کوي.چه د پیوته نقصان اونه رسي.اوکه دغه پئ ئې په خپل استعمال کښې راوستل.نودهغې مثل دې صدقه کړي. خکه چه پئ مثل دې.اوقیمت ئې صدقه ده.خکه چه قیمت هم مثل معنوی دې.
دلیله د دې دلیل دا دې.چه په ده باندې د پیو ضمان واجب دې.اوچه دکوم څیزضمان واجب وي.نودهغې حکم هم دا دې.چه دهغې مثل ورکړي.اوکه مثل نه پیدا کیږي.نوقیمت د هغې مثل معنوی دې.

وَلٰكِنْ يَنْضَحُ ضَرْعَهَا بِالْمَاءِ الْبَارِدِ حَتّٰى يَنْقَطِعَ اللَّبَنُ بلکه د دې په غولانزې به یخې اوبه اوشیندی دې دپاره چې پئ یې اودریږي

تشریح نضح الضرع مسئله هم دغه ده کومه چې تیره شوه یعنی د هدې نه به پئ نه لوشي خوکه پئ زیات وي او هغه اونشي لوشتلې نو په دې باندې خاروی ته د نقصان رسیدو خطره هم وي نو یخې اوبه به د خاروی په غولانزه باندې اوشیندی یعنی چرقاؤ به ئې کړي په دې سره به د هغې پئ کلك شي او د څه وخته پورې به بنده شي

د هدي په هلاکت د ضمان وجوب

وَمَنْ سَاقَ هَدْيًا فَعَطِبَ،فَإِنْ كَانَ تَطَوُّعًا فَلَيْسَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ)اوچاچه روانه کړه هدی اودسترې والی نه هلاکه شوه نوکه دا نفلی وه نو بله پرې واجب نده

تشریح سقوط الهدي بهلاك الهدي التطوع که یوکس هدی روانه کړه.اوپه لارکښې هدی هلاکه شوه.نوددې دوه صورتونه دي.که نفلی هدیه وي.نوپه ده باندې څه واجب نه دي.
دلیله خکه چه قربت اوطاعت هم په دغه محل پورې متعلق وو.او هغه فوت شو.

وَإِنْ كَانَ عَنْ وَاجِبٍ فَعَلَيْهِ أَنْ يُقِيمَ غَيْرَهُ مَقَامَهُ اوکه واجب وی نو په خائې ددې به بله اودرول په ده واجب وي.

تشریح وجوب الهدي الثانية في الواجب دویم صورت دا دې.چه هغه هدی واجب وي.نوپه دې صورت کښې پرې بله هدی واجب شوه.
دلیله خکه چه کومه هدی ده روانه کړې وه.هغه خپل محل ته اونه رسیدله.نودده ذمه فارغه نشوه.خکه پرې دویمه هدی واجب ده.

وَإِنْ أَصَابَهُ عَيْبٌ كَثِيرٌ أَقَامَ غَيْرَهُ مَقَامَهُ اوکه په دې کښې ډیرعیب راغلو نو د دې په خائې به بله مقرر کوي. وَصَنَعَ بِالْمَعِيبِ مَا شَاءَ اود عیب دارې سره چه څه غواړي اودې کړي

تشریح﴾ حکم صورة النقص الکثیرفي الهدی﴿ اوکه په هدی کښې داسې عیب پیدا شو.چه دهغه په وجه هغه د قربانۍ قابله پاتې نشوه.نوپه دې صورت کښې هم په ده باندې دویمه هدیه واجب شوه.اوچه کومه هدی عیبجنه وی.په هغې چه ئې څه خوښه وی.اودې کړی.

دلیله﴾ څکه چه هغه دده د نورو مملوك څیزونوپشان شوه.نو څنګه چې دې په نورو مملوك څیزونوڅه کوی هغه شان په باندې هم کولی شی څرڅولې یې شی چا ته ئې هبه کولې شی وغیره

د بدنه د هلاکت په صورت کښې نحرکول

وَإِذَا عَطِبَتِ الْبَدَنَةُ فِي الطَّرِيقِ، فَإِنْ كَانَ تَطَوُّعًا نَحَرَهَا اوکه هلاکه شوه بدنه په لاره کښې نوکه نفلی وه.نونحر دې کړی وَصَبَغَ نَعْلَهَا بِدَمِهَا وَضَرَبَ بِهَا صَفْحَتَهَا او قلاده دې ورلره په وینه رنګ کړی اودقب په دوه دې پرې چاپ اولګوی وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهَا هُوَ وَلَا غَيْرُهُ مِنَ الْأَغْنِيَاءِ)اونه به خوری د هغې نه هغه اونه بل څوك دمالدارو نه

حل اللغة﴾ ①**عطبت،عطبًا(س)**:هلاکیدل ②**طریق**: لار ③**صبغ، صبغًا(ف)**: رنګ کول

تشریح﴾ حکم هلاک البدنة التطوع﴿ که بدنه په لارکښې هلاکت ته نزدې شوه.نوددې دوه صورتونه دی.که نفلی وی.نودهغې نحر دې اوکړی.اودهغې په وینودې دهغې نعل اوقب رنګ کړی.اودهغې نه دې نه په خپله خوراك کوی.اونه دې په نوروماالدارانوباندې خوراك کوی.

دلیله﴾ څکه چه نبی ﷺ حضرت ناجیه اسلمی ؓ ته ددې حکم کړې وو.[1] اود نعل نه مراد د هدی غاره کۍ ده.

حکمة تصبیغ النعل والسنام﴾ اودنعل اوقب په رنګ کولوکښې فائده دا ده.چه خلق به پوهه شی.چه دا د هدی څاروې دې.نوفقیران به ترې خوراك اوکړی.اومالداران به ترې نه کوی.اوددې وجه دا ده.چه دهدی د غوښې نه په خپله خوراك کول په دې شرط پورې مشروط دې.چه هغه خپل محل ته اورسی. مناسب خودا ود.چه دا د چا دپاره هم جائزنه وه.نه د فقیرانواونه د مالدارانودپاره.خود درندګانوته د پریخودو په نسبت دا ښه ده.چه په فقیرانو صدقه شی.اوپه فقیرانوصدقه کولوکښې یوقسم تقرب دې.اوهم تقرب اصلی مقصد دې.

وَإِنْ كَانَتْ وَاجِبَةً أَقَامَ غَيْرَهَا مَقَامَهَا وَصَنَعَ بِهَا مَا شَاءَ اوکه دغه هدی واجب وه.نود دې په ځائې دې بله اودروی اودمذبوحه سره چه څه غواړی اودې کړی

تشریح﴾ حکم البدنة الواجبة﴿ اوکه هغه بدنه واجب وی.نودهغې په ځائې دې بله بدنه اولیږی.

دلیله﴾ څکه چه د کوم مقصد دپاره ئې هغه روانه کړې وه.هغه مقصد ترې پوره نشو.اوپاتې شوه ددې غوښه.نوچه په هغې ئې څه خوښه وی هغه دې پرې اوکړی.څکه چه دا د ده دنورمملوك څیزونو پشان شوه.اوپه نوروکښې ده ته کلی اختیارحاصل دې.دغه شان ورته په دې کښې هم حاصل دې.

[1] اخرجه أبوداود في الحج باب ۱۸ رقم ۱۷۶۲ والترمذی في الحج باب ۱۷ رقم ۹۱۰ وابن ماجه في المناسك باب ۱۰۱ رقم ۳۱۰۶ والنسائي في السنن الكبرى (۲/۴۵۴) رقم ۴۱۳۷)قال الزيلعي رحمه الله ليس في حديث ناجية ؓ قوله ((ولاتأكل منه أنت ولا أحد من رفيقك)) ثم وجدناه في المغازی ، للواقدی رحمه الله (نصب الراية ۳/۲۰۹)۔

نفلي اودقران او تمتع بدنه ته غاړه کئ اچول

وَيُقَلِّدُ هَدْيَ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ او قلاده دې واچوی نفلی اودتمتع اودقران هدی ته وَلَايُقَلِّدُ دَمُ الْإِحْصَارِ وَلَا دَمُ الْجِنَايَاتِ او د دم الاحصار او دم جنايات هدايا ته به غاړکئ نه اچوی

حل اللغة ﴿ ① **تقليد:** پټه اچول يا منل ② **تشهير:** مشهورکول ③ **ستر:** پټول ④ **اليق:** ډير مناسب]

تشريح ﴿ مسئله واضحه ده.

دليل تقليد هدايا التطوع وغيره ﴿ نفلي او د حج تمتع او حج قران هدايا ته غاړکئ ځکه اچول پکار دی چه دا دم د نسك دې او د نسك هدايا دپاره تشهير پکار دې

دليل تقليد دم الاحصار والجنايات ﴿ او ددم احصاراو دغه شان د جناياتو هدايا ته به غاړکئ نه اچوی ځکه چه د دوی سبب جنايت دې نوپرده اچول پرې لائق دی اودم احصار جابرد نقصان دې نود خپل جنس سره پيوست کول شی.

د بيوع د احکامو بيان

كِتَابُ الْبُيُوْعِ

ترجمه ﴿ (دا) کتاب د بيوع (د احکامو په بيان کښې) دې.

تشريح ﴿ صاحب دکتاب اول خالص عبادات يعنی مونځ ،وغيره بيان کړو. اوس خالص معاملات بيانوی يعنی بيع اوشفعه وغيره.

السوال ﴿ لفظ د بيع مصدر دې.اود مصدر تثنيه او جمع نه راځی.حالانکه دلته کښې بيوع د جمع په صيغه سره ذکر شوې دې.

الجوابان ﴿ ① بې شکه مصدر دې.خود بيع مختلف انواعو په وجه دا دجمع په صيغه سره ذکر شوې دې.

② ،،بيع ،، د مبيع اسم مفعول په معنی کښې دې.اود مبيعات ډير قسمونه او انواع دی.په دې وجه دا د جمع په صيغه سره ذکر شوې دې.

تشريح لفظ البيع ﴿ لفظ د ،،بيع،، د اضدادو څخه دې. ① په لغت کښې د بيع لفظ د (ادخال الشئ فی الملك بمال) دپاره ونيلې شی. ② اود (اخراج الشئ عن الملك بمال) يعنی د مال په عوض سره يوڅيز په ملك کښې د داخلودپاره هم ونيلې شی.او دمال په عوض څه څيز د ملك نه د ويستلو ته هم ونيلې شی.

دليله ﴿ په حديث (لايبيع أحدكم على بيع أخيه) کښې اوله معنی(اخستل) مراد ده.يعنی په تاسو کښې دې هيڅ يوکس د خپل رور د اخستلو په صورت کښې نه اخلی.مطلب دادې.که يو مسلمان رور د يو څيز د اخستلو په اراده سره نرخ کوی.نو تاسو ددې د اخستلو په اراده سره په مينځ کښې مه راځئ.اوګورئ. دلته کښې بيع د اخستلو په معنی کښې استعمال شوې دې.(فإذا اختلف النوعان فبيعوا كيف شئتم) کښې دويمه معنی (خرڅول) مراد دی

تعريف البيع إصطلاحا ﴿ د شريعت په اصطلاح کښې ،،بيع،، (مبادلة المال بالمال بالتراضي بطريق التجارة) ته

وائي.يعنى ،د يوبل په رضامندئ سره د تجارت په طريقه باندې مال د مال په بدله كښې اخستل،،
فائدة القيودات ﴿ د (مبادلة المال بالمال) په قيد سره اجاره او نكاح خارج شو.ځكه چه په اجاره كښې (مبادلة المال بالمنافع) وى.او په نكاح كښې (مبادلة المال بالبضع) وى.اود (بالتراضى) په قيد سره د مكره بيع خارجه شوه.ځكه چه مقصود نافذه بيع بيانول دى.او ،،مبادلة بلا تراضى،، شرعى بيع نه ده. د (بطريق التجارة) په قيد سره ،،هبه بشرط العوض ،،خارجه شوه.ځكه چه په،، هبه بشرط العوض،، كښې هم (مبادلة المال بالمال) وى.خو د تجارت په طريقه باندې نه وى.دا خيال سائل پكار دى.چه په تعريف كښې د مبادله نه مراد تمليك دې.يعنى د مال په بدله كښې د مال مالك كول.د بيع مشروع كيدل د قرآن، حديث ،او اجماع درې وارو نه ثابت دى.
ثبوته من الكتاب ﴿ د قرآن نه ددې ثبوت په دې آيت سره كيږى ﴿وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا﴾ ،،الله تعالى حلال كړې ده بيع ،او حرام كړې ئې دې سود،، دا آيت د بيع په جواز باندې دلالت كوى.
ثبوته من السنة ﴿ ① (عن ابى سعيد عن النبى ﷺ قال التاجر الصدوق الأمين مع النبيين والصديقين والشهداء) ابوسعيد خدرى رضی اللہ عنہ فرمائى.چه رسول اكرم ﷺ فرمائيلى دى.چه رشتونې او امانت داره سوداګر به (د قيامت په ورځ) نبيانو ، صديقينو، او شهيدانو سره وى. (ترمذى ج١ص٢٢٩)
ثبوته من الإجماع ﴿ اجماع هم د بيع په جواز باندې دلالت كوى.ځكه چه د رسول الله ﷺ د زمانې نه واخله، ترننه پورې ټول مسلمانان د بيع په جواز باندې متفق راروان دى.لكه چه سيرت نګارو ليكلى دى.چه د نبوت نه پنځلس كاله وړاندې نبى كريم ﷺ د ام المومنين حضرت خديجة الكبرى رضی اللہ عنہا دپاره تجارت كړې وو.اواكابرو اصحابو،ټولو تجارت كړې دې.لكه چه حضرت ابوبكرصديق رضی اللہ عنہ د كپړو سوداګر وو.او حضرت عمر رضی اللہ عنہ د غلې سوداګر وو.حضرت عثمان رضی اللہ عنہ كپړو، اود كهجورو تجارت كولو. ملاعلى قارى رحمہ اللہ په شرح نقايه كښې ليكلى دى.چه احنافو عالمانو فرمائيلى دى.چه د جهاد نه پس د ټولو نه بهتره ګټه تجارت دې.بيا زميندارى ده.بيا صنعت وحرفت (هنراوفن) دې. ملاعلى قارى رحمہ اللہ فرمائى.چه زما په نيز افضل كسب كتابت (خوشخطه ليكل) دې.
حكمه ﴿ د بيع حكم ملك دې.يعنى مشترى ته د ،، مبيع ،،په تصرف باندې قدرت وركول.
ركنه ﴿ د بيع ركن ايجاب او قبول دې.ايجاب هغه كلام دې.كوم چه وړاندې اووئيلى شى.كه د بائع د طرفه وى.او كه د مشترى د طرفه وى.او ددې متعلق دويم كلام ته قبول وائى.

په بيع كښې د ايجاب او قبول شرعى حيثيت

> **الْبَيْعُ يَنْعَقِدُ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ** فرمائى.چه بيع په ايجاب او قبول سره متحقق كيږى **إِذَا كَانَا بِلَفْظَيِ الْمَاضِي**.چه كله دواړه د ماضى په دوه لفظونو سره وى

حل اللغة ﴿ **ينعقد،انعقاد:** منعقد كيدل. **قبول:** قبلول. **بيع :** خرڅول. **اشتراء :** اخستل
تشريح ﴿ ،انعقاد،، په عاقدينو كښې د يوكس كلام د بل كس كلام سره شرعاً په داسې طريقه متعلق كيدل،چه ددې اثر په محل، يعنى په مبيع كښې ښكاره شى.يعنى مبيع د بائع دملك نه اوځى.اود مشترى په ملك كښې داخل شى.

معني الإيجاب والقبول د ايجاب معنی اثبات ده.څکه چه دا د بل کس دپاره خيارقبول ثابتوی.نو هرکله چه دويم عاقد دا قبول کړلو.نو دده د کلام نوم به قبول وی.حاصل داچه د عاقدينونه رومبي صادرکيدونکي کلام ته ايجاب، او ثانياً صادريدونکی کلام ته قبول وائی.

صورته صورت د مسئلې دادې.چه ،،بيع،، د ايجاب او قبول نه متحقق کيږی.په دې شرط چه د دواړو نه د ماضی په صيغې سره تعبير کړې شوې وی.مثلاً يوکس اوونيل.(بعت) يعنی ،،ما خرڅ کړو،، او دويم کس اوونيل.(اشتريت)،، ما واخستلو،،نو بيع منعقد کيږی.

دليله بيع د داسې تصرف نوم دې.چه د ،،انشاء،، د قبيلې څخې وی.او انشاء کيدل په شريعت سره معلوميږی. اود ماضی صيغه اګرچه د اخبار دپاره موضوع ده. خو شريعت دا د انشاء په معنی کښې استعمال کړې ده.په دې وجه د ماضی په صيغې سره بيع منعقد کيږی.

دليل كون البيع من قبيل الإنشاء بيع د انشاء د قبيلې څخې څکه دې.چه انشاء وائی.(اثبات مالم يكن) ته. يعنی غير موجود ثابتولو نوم انشاء ده.او دا تعريف په بيع باندې صادقيږی.څکه چه د بيع په ذريعه هم غير موجود اوغير ثابت څيز ثابتيږی. يعنی په مبيع باندې د عقد بيع نه وړاندې دمشتری ملك ثابت نه وو.او په ثمن باندې د بائع ملك ثابت نه وو. خود بيع په ذريعه دا دواړه ثابتولې شی.نو د بيع په ذريعه چونکه يو غير ثابت شوې څيز ثابتولې شی.په دې وجه به بيع د انشاء د قبيلې څخې وی.

د خيار قبول حکم

وَإِذَاأَوْجَبَ أَحَدُالْمُتَعَاقِدَيْنِ الْبَيْعَ امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه کله په متعاقدينوکښې يوکس د بيع ايجاب اوکړو. فَالْآخَرُبِالْخِيَارِ نو دويم ته اختيار دې. إِنْ شَاءَقَبِلَ فِي الْمَجْلِسِ که غواړی.نوهم په دې مجلس کښې دې قبول اوکړی وَإِنْ شَاءَرَدَّهُ .اوکه (دې خيارقبول) غواړی.نو رد دې کړی.

حل اللغة ① **اوجب**:واجب کول ② **المتعاقدين**: تثنيه د عاقد،معامله کونکې ③ **قبل**: وړاندې ④ **الخيار**: اختيار

تشريح **معني خيارالقبول** صورت د مسئلې دادې.چه هرکله په متعاقدينوکښې يو کس د بيع ايجاب اوکړو.مثلاً بائع اوونيل. چه (بعتك هذا بكذا) ما دا سامان د دومره ثمن په عوض خرڅ کړلو.نو دويم کس يعنی مشتری ته په مجلس کښې دننه د قبلولو اود رد کولو اختيارشته دې.يعنی که غواړی.نو دا بيع دې قبول کړی.او که غواړی.نو رد دې کړی.د فقهاؤ په اصطلاح کښې ددې اختيار نوم خيارقبول دې.

دليله ددې خيار دليل دادې.که د ايجاب کونکی نه علاوه بل چاته نه د قبلولو اود رد کولو اختيار نه وی.نو په دې دواړو کښې به يوکس مجبوره وی.او هرکله چه دې مجبوره شو.نو دده رضامندی فوت شوه.حالانکه د بيع انعقاد دپاره د بائع اومشتری دواړو رضامندی ضروری ده.په دې وجه به ده ته خيارقبول حاصل وی.

وجه تخصيص الخيار بالمجلس (وإنما يمتد إلى آخر المجلس.....الخ) په دې جملې سره د يو تقديری سوال جواب دې.سوال دادې.چه د مشتری د رد اوقبول اختيار مجلس سره ولې خاص کړې شوې دې.

جواب عقلی طور باندې درې صورتونه دی. ①يو خو داچه د ايجاب نه فوراً پس قبلول لازم اوګرځولې شی.که فوراً نې قبول نه کړی.نو ايجاب به باطل وی. ② دويم صورت دادې.چه قبلول په آخر د مجلس باندې موقوف کړې شی.يعنی مشتری ته دا اختيار ورکړې شی.چه په مجلس کښې قبول اوکړی.يا د

مجلس نه پس قبول اوکړي.په دواړو صورتونوکښې به بيع تام وي.③ دريم صورت دادې.چه خيار آخر د مجلس پورې باقي اوساتلې شي.اود مجلس ختميدلو نه پس خيارقبول باقي پاتې نشي.

اليسر في الصورة الثالثة په دې دريم صورت کښې د دواړو دپاره آساني ده.ځکه چه مشتري ته هم په مجلس کښې د غور اوفکر موقع ملاويږي.او بائع به هم ډير زيات انتظار نه کوي.

د قبول نه وړاندې د احدالمتعاقدين د مجلس نه پاسيدل

فَأَيُّهُمَا قَامَ عَنِ الْمَجْلِسِ قَبْلَ الْقَبُولِ اوپه (بائع او مشتري) دواړوکښې چه هريو د قبولو نه وړاندې پاسيدلو بَطَلَ الْإِيجَابُ.نو ايجاب باطل شو

تشريح **صورته** صورت د مسئلې دادې.چه د احدالمتعاقدين د ايجاب او قبول نه پس د آخر د قبلولو نه وړاندې په دواړوکښې که يوکس پاسيدلو.نوايجاب باطل شو.او دده دا اودريدل به د ايجاب نه د رجوع کولو دليل وي.او که عاقد آخر پاسيدلو.نو دده پاسيدل به د قبلولو نه د اعراض کولو دليل وي.اودا وړاندې تيرشوی دی.چه موجب ته دخپل ايجاب نه د رجوع کولو اختيار شته.او آخر ته د قبلولو يا د اعراض يعنی د بيع د رد کولواختيار حاصل دې. او په دې دواړو صورتونوکښې ايجاب باطليږي.

د خيار مجلس شرعي حيثيت

فَإِذَا حَصَلَ الْإِيجَابُ وَالْقَبُولُ اوکله چه ايجاب او قبول حاصل شو لَزِمَ الْبَيْعُ نو بيع لازم شوه وَلَا خِيَارَ لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا. او په دوی دواړوکښې هيڅ يوکس ته د رجوع کولو اختيار نشته إِلَّا مِنْ عَيْبٍ أَوْ عَدَمِ رُؤْيَةٍ.خود عيب په وجه يا دنه کتلو په وجه (به خيارحاصل وی)

حل اللغة **العيب** : نقصان، **روية** : ليدل، **خيار** : اختيار، **الثبوت** : ثابتيدل

تشريح **المذهبان في المسئلة** هرکله د عاقدينو د طرفه ايجاب او قبول حاصل شو.نو بيع لازمه شوه.او په بائع اومشتری کښې د هر يوکس دپاره ملك ثابت شو.يعنی بائع د ثمن مالك شو.او مشتری د مبيع مالك شو.اوس به په دوی کښې د هيڅ يو کس دپاره د بيع فسخ کولو اختيار نه وی.

صورتې جواز البيع خوکه په مبيع کښې څه عيب وی.يا ئې مبيع بغير د کتلو نه اخستې وی.نو په دې دواړو صورتونوکښې به مشتری ته خيار حاصل وی.په ړومبی صورت کښې خيار عيب،او په دويم صورت کښې به خيار رويت حاصل وی.

وَلَنَا او زمونږ دليل دادې. أَنَّ فِي الْفَسْخِ چه په فسخ کولوکښې إِبْطَالَ حَقِّ الْآخَرِ د غير حق باطلول لازميږی فَلَا يَجُوزُ په دې وجه جائز نه دې.

تشريح داحنافو دليل د الله تعالی قول دی ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ﴾ يعنی که د يوبل په رضامندئ سره تجارت اوشو.نو الله تعالی مشتری دپاره په بيع کښې د خوړلو اجازت دې.اود ايجاب او قبول نه پس تجارت صادقيږی.نو معلومه شوه.چه د ايجاب او قبول نه پس مشتری مبيع،او بائع ثمن استعمالولې شی.اودا استعمالول په خيار باندې موقوف نه دی.نو که عاقدينو ته د خيار مجلس حق ورکړې شو.نو دا نص به باطل شی.او بطلان د نص ټيك نه دې.په دې وجه به ددوی دپاره خيار مجلس نه ثابتيږی.

دويم دليل د الله تعالى قول (واشهدوا اذاتبايعتم) دي. په دې آيت كښې د شهادت سره د بيع د توثيق حكم وركړې شوي دې.چه احدالعاقدين د بيع انكار اونكړي.او ، ،بيع ، ، خيار نه وراندې داېجاب او قبول نه پس صادقيږي.نو كه خيار ثابت كړې شو.نو دا نص به باطل وي.او بطلان د نص درست نه دې.په دې وجه هم د عاقدينو دپاره خيار مجلس ثابت نه دې.

اوعقلي دليل دادې.چه په ايجاب او قبول سره بيع تام اوشوه.او د مشتري ملك په مبيع كښې او د بائع حق په ثمن كښې ثابت شو.اوس كه دوى ته خيار مجلس وركړې شي. نود خپل خيار په وجه چه كوم كس هم بيع فسخ كړي.نو دده د ملكړى د رضامندئ نه بغير دده حق باطلول لازميږي.مثلاً بائع كه د خپل خيار په وجه بيع فسخ كړي.نو د مبيع نه به د مشتري ملك بغير دده د رضامندئ نه زائل شي.او كه مشتري فسخ كړي.نود بائع حق ثمن به باطل شي.په هر صورت كښې چه څوك ئې هم فسخ كړي.نو دده د ملكړى د رضامندئ نه بغير دده حق باطلول لازميږي. اود رضامندئ نه بغير د غير حق باطلول ناجائز دي.په دې

وجه د عاقدينو دپاره خيارمجلس ثابت نه دې.([1])

وَالتَّفَرُّقُ فِيهِ تَفَرُّقُ الْأَقْوَالِ او په حديث كښې د تفرق نه تفرق د اقوالو مراد دې.

تشريح > او د تفرق نه مراد تفرق اقوال دې.يعنى خيارقبول ثابت دې.چه تركومه پورې عاقدين قولاً متفرق نشي.او كه دواړه قولاً متفرق شي.په دې طريقه چه په دوى كښې يو ، ، بعت ، ،اوبل ، ،اشتريت ، ، اوواني.نو ددې نه پس به خيار باقي نه وي.

وَالْأَعْوَاضُ الْمُشَارُ إِلَيْهَا لَا يُحْتَاجُ إِلَى مَعْرِفَةِ مِقْدَارِهَا فِي جَوَازِ الْبَيْعِ اود بدلې څيز كوم ته چه اشاره شوې وي نوپه جواز د بيع كښې دهغې اندازه معلومولو ته حاجت نشته.وَالْأَثْمَانُ الْمُطْلَقَةُ لَا تَصِحُّ اوكوم ثمن چه مطلق دى.(په دې سره به) عقد صحيح نه وي إِلَّا أَنْ تَكُونَ مَعْرُوفَةَ الْقَدْرِ وَالصِّفَةِ مګر داچه مقدار او صفت معلوم وي.

حل اللغة > **الأثمان** : جمع د ثمن، **المطلقة** : غيرمقيد، **معروفة** : معلوم، **القدر** : مقدار

تشريح > **عدم جواز البيع في الأموال الربوية** > واضحه دې وى.چه عوض كه د اموال ربويه څنې وى.مثلاً درهم ، دنانير ، غنم،اوربشې،چه دا دخپل جنس په عوض خرڅ كړې شي.او ددې مقدار معلوم نه وي.نودا جائز نه دى. اګرچه دې طرف ته اشاره شوې وي.مثلا درهم د درهمو په عوض كښې خرڅول.يا غنم د غنمو په عوض كښې خرڅول.اود دواړو مقدار معلوم نه وي.نودا بيع ناجائز ده.اګرچه دواړو عوضونو طرف ته اشاره شوې وي.څكه چه په دې صورت كښې د ربوا احتمال موجود دې.او تاسو ته معلومه ده.چه څنګه ربوا حرام ده.دغه شان احتمال د ربوا هم حرام ده.

---

[1]) **اختلاف الشافعي**:- په زيربحث مسئله كښې دامام شافعي رحمه الله په نيز اود امام احمد رحمه الله په يو قول كښې دا دى چه په عاقدينو كښې د هريو كس دپاره خيارمجلس ثابت دې.يعنى د ايجاب او قبول نه پس هر يو كس ته د ملګرى د رضامندئ نه بغير په مجلس كښې دننه د بيع فسخ كولو حق حاصل دې.خو د مجلس نه پس به دا اختيار باقي نه وي.

فائدة قيد البيع ﴾ په متن كښې د بيع په قيد لګولو سره د ،، سلم،، احتراز شوې دې.ځکه چه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په بيع سلم كښې د راس المال (ثمن) مقدار معلومول شرط دى.اګرچه دې طرف ته اشاره شوې وى.

وجوب معرفة القدر والصفة في الأثمان ﴾ ابو الحسن قدورى رحمه الله فرمائى.كه ثمن طرف ته اشاره اونكړې شوه.نو په دې سره به عقد هغه وخت صحيح وى.چه ددې مقدار او وصف دواړه معلوم وى.او كه مقدار او وصف دواړه معلوم نه وى.مثلا دا ئې اووئيل.چه ما دا څيز د سروزرو په عوض كښې واخستلو.او نه ئې ددې مقدار بيان كړلو.او نه ئې ددې صفت بيان كړلو.نو دا بيع به جائز نه وى.اود مقدار د بيان صورت دادې.چه اووائى.ما دا څيز د لسو درهمو په عوض واخستلو.اود صفت د بيان صورت دادې.چه داسې اووائى.چه دا دينار بخارى دې.يا سمرقندى دې.يا اعلى دې.يا ردى دې.

دليله ﴾نوكه د ثمن مقدار او وصف معلوم نه وى.او ثمن مشاراليه هم نه وى.نو بيع ځكه ناجائز ده.چه د عقدبيع په وجه تسليم او تسلم، يعنى وركول او اخستل واجبيږى.اودا جهالت يعنى د مقدار او وصف جهالت د انجام په اعتبار سره جګړه پيدا كوى.مثلا د مقدار مجهول كيدلو په صورت كښې به بائع د زيات ثمن مطالبه كوى.او مشترى به ردى وركوى.نود داسې جهالت په وجه تسليم او تسلم ناممكن دې.حالانكه تسليم او تسلم د عقد بيع په وجه واجبيږى.نو هركله چه تسليم او تسلم ناممكن شو.نو بيع به هم درست نه وى.

القاعدة ﴾ دا يوه قاعدې ده لكه څنګه چه علامه مرغينانى رحمه الله فرمائيلى دى.چه كوم جهالت جګړه پيدا كوى.هغه د بيع جائز كولو نه مانع دې.او كوم جهالت چه ،، مفضى الى المنازعه،، نه وى.هغه د بيع د جواز دپاره مانع نه دې.مثلا يو كس په دوه غلامانوكښې يو غلام خرڅ كړلو.او مشترى ته ئې د تعين اختيار وركړلو.نو د مبيع مجهول كيدلو باوجود بيع درست ده.ځكه چه په دې صورت كښې جهالت اګرچه موجود دې.خو مشترى ته د تعين اختيار وركولو په وجه ،، مفضى الى المنازعه،، نه دې.

په قرض ثمن سره د بيع حكم

وَيَجُوزُ الْبَيْعُ بِثَمَنٍ حَالٍّ وَمُؤَجَّلٍ قدورى رحمه الله فرمائى.او بيع د نغد ثمن په عوض اود قرض ثمن په عوض جائز ده.إِذَا كَانَ الْأَجَلُ مَعْلُومًا په دې شرط چه ميعاد معلوم وى

حل اللغة ﴾ **الموجل** : نيټه

تشريح ﴾ **جوازالبيع نقداً ونسيأ** ﴾ بيع په نغدو او قرضو دواړه شان جائز ده.په دې شرط چه د قرضو موده معلومه وى.كه د قرضو موده معلومه نه وى.نو بيع به فاسد وى.

دلائله ﴾ ① دليل دادې.چه الله تعالى﴿وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ ﴾ مطلق فرمائيلى دى.يعنى بيع مطلقا حلال ده.ثمن كه نغد وى.او كه قرض وى.په دې آيت كښې دواړه داخل دى.

② د رسول الله ﷺ حديث دې.حديث دادې.چه رسول اكرم ﷺ د ابوشحم نومې يهودى نه څه غله د يوې مودې په وعده باندې قرض واخستله.او خپله زغره ئې دده سره رهن كيخودله.اود بخارى په حديث كښې د (ثلاثين صاعا من شعير) لفظ دې.يعنى نبى كريم ﷺ ديرش صاع اوربشې واخستلې.

د مطلق ثمن نه به كوم نقديت مراد وى؟

وَمَنْ أَطْلَقَ الثَّمَنَ فِي الْبَيْعِ قدورى رحمه الله فرمائى.اوكوم كس چه په بيع كښې ثمن مطلق اوساتلو

كَانَ عَلَى غَالِبِ نَقْدِ الْبَلَدِ نو کوم ثمن چه دغه ښار کښې د ټولو نه زيات رائج وي.هم په دې به محمول کولې شي.

تشريح﴾ صورة المسئلة﴾ په يو ښار کښې که مختلف قسمه سکې رائج وي.او په ماليت کښې ټول برابر وي. مثلاً په يو ښار کښې بخاري او سمرقندي دواړه سکې رائج وي.او ماليت د دواړو برابر دې.نو په داسې صورت کښې که ثمن مطلق ذکر کړې شو.يعنى صرف مقدار ذکر کړې شو.خو صفت ئې ذکر نکړو.مثلاً دانې اووئيل.چه ما داخيز په لس درهمو واخستلو.خودا ئې اونه وئيل.چه دا درهم به بخاري وي.او که سمرقندي به وي.نودا به د ښار په غالب نقديت باندې محمول کولې شي.

دليله﴾ دليل دا دې چه د کومې سکې رواج او چلن زيات وي.متعارف هم هغه وي.او قاعده ده.چه (**المعروف كالمشروط**) يعنى معروف او متعارف ته هم هغه درجه حاصل وي.کومه چه مشروط ته حاصله وي .نو د يوې سکې د شرط کولو په وجه چه څنګه په مشتري باندې مشروط ثمن واجبيږي.دغه شان د عدم شرط په صورت کښې هم متعارف سکه واجبيږي.او متعارف به هم هغه وي.د کوم چلن چه زيات وي.په دې وجه مونږ اووئيل.چه په ښار کښې دکومې سکې چلن زيات وي.د مطلق ثمن وئيلو په صورت کښې به هم دا واجب وي. د ښار په غالب نقديت باندې دمحمول کولو په صورت کښې د بيع جواز طلب کول دى.په دې وجه به هم دا د ښار غالب نقديت طرف ته ګرځولې شي.

د مختلف نقديت رائج کيدلو په وخت د تعين نه بغير د بيع د نفاذ حکم

فَإِنْ كَانَتِ النُّقُودُ مُخْتَلِفَةً بيا که ددې نقود ماليت مختلف وي فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ نو بيع فاسد ده إِلَّا أَنْ يُبَيِّنَ أَحَدَهَا مګردا چه په دې کښې يو بيان کړي

تشريح﴾ ددې مسئلې عقلاً څلور صورتونه دى.ځکه چه① يا به په ماليت او رواج دواړو کښې اختلاف نه وي. ② يا به په دواړو کښې اختلاف وي.③ يا به په ماليت کښې اختلاف نه وي.او په رواج کښې به اختلاف وي. ④يا به په رواج کښې اختلاف نه وي.بلکه په ماليت کښې به اختلاف وي.د دريم صورت بيان په تيره شوې مسئله کښې ذکرشوې دې.

دڅلورم صورت بيان په دې عبارت کښې دې.فرمائى.چه په ښار کښې د ننه که د ټولو مروجه نقودو ماليت مختلف وي.او په رواج کښې ټول برابر وي.نو بيع به فاسد وي.خو که په دې کښې يوه سکه بيان کړي.(نو بيع به جائز وي)

دليله﴾ د ،،اختلاف فى الماليت ،، په صورت کښې د سکې مجهول کيدل جګړه پيدا کوي.په دې طريقه چه بائع به د هغه سکې مطالبه کوي.د کومې ماليت چه زيات دې.او مشتري به د هغه سکې ورکولو کوشش کوي.د کومې ماليت چه کم دې.او داسې جهالت د بيع مفيد نه وي.په دې وجه به په دې صورت کښې بيع فاسد وي.خو که د يوې سکې په بيانولو سره ددې جهالت لرې کړې شو.نو بيع به درست وي.

د دويم صورت بيان دې.يعنى که نقود په ماليت او رواج دواړو کښې مختلف وي.په دې طريقه چه په ماليت کښې هم تفاوت (کمې زياتې) وي.او په چلن کښې هم تفاوت وي.يعنى د يوې سکې چلن کم وي.او دبلې زيات وي.نو په دې صورت کښې به بيع درست وي.او په مشتري به هغه سکه واجبه وي.د کومې چلن چه زيات وي.ځکه چه په داسې کولوکښې، يعنى په اغلب او په اروج باندې په محمول

کول کېنبي د بيع جواز طلب کول دی.اود عاقل بالغ فعل او قول حتی الامکان په جواز باندې محمول کول پکار دی.

وَإِنْ وَجَدَهَا أَكْثَرَ مِنَ الذِّرَاعِ الَّذِي سَمَّاهُ اوکه مشتری دا ددې گزونو نه زياته اوموندله.کوم نې چه بيان کړی وو فَهِيَ لِلْمُشْتَرِي نودا زياتی به د مشتری دپاره وی وَلَا خِيَارَ لِلْبَائِعِ.او بائع ته هيڅ اختيار نشته

حل اللغة ﴿ **تسمية** :نامدار کول_ **الخيار**: اختيار

تشريح ﴿ **ان وجد الثوب اكثر من القدر المعقود عليه** ﴾ او که زمکه يا کپړه د مقرر گزونو نه زياته اوختله.نودا زياتوالي به د مشتری دپاره وی.او بائع ته به هيڅ اختيار نه وی.

دليله ﴿ ځکه چه ذراع (گز) يو وصف دې.او د وصف په مقابله کېنبي د ثمن هيڅ حصه نه راځی.په دې وجه د گزونو په زياتيدلو سره په ثمن کېنبي اضافه نشی کيدلې.اودا داسې ده.لکه مثلا يو غلام نې په دې خيال واخستلو.چه دا نابينا دې.او هم په دې حساب سره نې ثمن مقرر کړو.بيا روسته معلومه شوه.چه دې خو بينا دې.(يعنی ړوند نه دې) نو د بصارت ددې وصف په زياتيدلو سره په ثمن کېنبي اضافه نه کيږی.او بائع ته به هيڅ اختيار نه وی.

يو معين مقدار کپړه د معين درهمو په بدله کېنبي د کمی زياتی حکم

وَإِنْ قَالَ بِعْتُكَهَا عَلَى أَنَّهَا مِائَةُ ذِرَاعٍ بِمِائَةِ دِرْهَمٍ اوکه بائع اووئيل.ما په تا دا کپړه په دې شرط خرڅه کړله.چه سل گزه د سل درهمو په عوض كُلُّ ذِرَاعٍ بِدِرْهَمٍ په دې حساب چه هرگز د يو درهم په عوض دی فَوَجَدَهَا نَاقِصَةً مشتری دا کم اوموندلو فَهُوَ بِالْخِيَارِ.نو مشتری ته اختيار دې. إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِحِصَّتِهَا مِنَ الثَّمَنِ که غواړی.نو موجود(کپړه) ددې حصې د ثمن په عوض واخلی وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهَا.اوکه غواړی.ترك دې کړی.

حل اللغة ﴿ **المائة**:سل_ **الذراع** :گز_ **الترک** : پريخودل_ **ناقصة** :نقصانی،

تشريح ﴿ **حكم وجدان الذراع ناقصة** ﴾صورت د مسئلې دادې.چه يو سړی په دې شرط يوه کپړه واخستله.چه سل گزه تان به د سلو درهمو په عوض کېنبي وی.په دې حساب چه يو گز به د يو درهم په عوض کېنبي وی.بيا نې چه دا تان ناپ کړو.نودا د سلو گزو نه کم اوختلو.نو په داسې صورت کېنبي مشتری ته اختيار دې.که غواړی.نو موجوده کپړه ددې د حصې د ثمن په عوض کېنبي واخلی.او که غواړی.نو نه دې اخلی.

دليله ﴿ د حصې د ثمن په عوض کېنبي د اخستلو دليل دادې.چه ذراع اگرچه تابع او وصف دې.خود ،،کل ذراع بدرهم ،، په ذريعه، چونکه د هر ذراع ثمن جدا جدا ذکرشوې دې.ځکه ذراع اصل شو.ځکه چه د ثمن د څه څيز په مقابله کېنبي راتلل ددې څيز د اصل کيدلو علامت دې.نود هر ذراع په مقابله کېنبي د ،،بدرهم،، په ذريعه د ثمن بيانولو وجه، هر ذراع په منزله د کپړې اصل دې.اودا داسې ده.لکه چه ده سل کپړې خرڅ کړی دی.او کپړې چونکه اصل دی.په دې وجه ددې په مقابله کېنبي ثمن راځی.او هرکله چه ددې په مقابله کېنبي ثمن راځی.نو په څومره اندازه چه گزونه کم شی.هم په دومره اندازه به ثمن هم کميږی.

اِنْ وَجَدَهَا زَائِدَةً او که مشتری دا زیاته اوموندله كَانَ الْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ نومشتری ته اختیار دی إِنْ شَاءَ أَخَذَ الْجَمِيعَ كُلَّ ذِرَاعٍ بِدِرْهَمٍ که غواړی.نو پوره کپړه په حساب د هر گز د يودرهم په عوض واخلی وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ الْبَيْعَ او که غواړی.نو بیع دې فسخ کړی

تشریح> **حکم وجدان الثوب زائدا من القدر المعقود علیه:** اوکه مشتری دا گزونه د سلو نه زیات اوموندل.نو بیا هم مشتری ته اختیار دی.که غواړی نو ټول گزونه دې په حساب د هرگز د هر درهم په عوض واخلی.او که غواړی. نو بیع دې فسخ کړی.اودا اختیار په دې وجه دی.چه مشتری ته که څه گزونه د سلو نه زیات ملاویږی.نو په ده باندې د ثمن زیاتوالې هم لازمیږی.نو دا داسې نفع شوه.چه په دې کښې ضرر هم ملاؤ دې.او په داسې صورت کښې خیار حاصل وی.په دې وجه مشتری ته په دې صورت کښې هم خیار حاصل وی.

دلیله> اوپه مشتری باندې د سلو درهمو نه زیاتی ثمن په دې وجه واجب شوې دې.چه د ذراع په مقابله کښې چونکه ثمن ذکر شوې دې.په دې وجه ذراع په منزله د اصل شو.اود اصل مبیع په زیاتوالی سره ثمن زیاتیږی.په دې وجه که مشتری د ټولو گزونو کپړه اخستلو فیصله اوکړی.نو په ده به د زیاتی ثمن هم واجب وی.که بالفرض مشتری د سلو گزو نه زیاتی تان د سلو درهمو په عوض واخلی.نو په دې صورت کښې به دا د(کل ذراع بدرهم) شرط موافق اخستونکې نه وی.حالانکه بائع په دې شرط سره خرڅ کړې دې.نود (کل ذراع بدرهم) شرط پوره کولو دپاره هم په مشتری باندې هم په دې اندازه به زیات ثمن واجب وی.په څومره اندازه چه ذراع د سلو نه زیاتی وی.

ولوقال بعت منك هذه الرزمة اوكه وې وئيل چې ما خرڅ کړل په تا باندې دا پنډ على انها عشرة اثواب په دې شرط چې دا لس تهانه دی بمائة درهم په سل روپئ كل ثوب بعشرة هر يوتهان په لس روپئ فان وجدها ناقصة نو که وې موندله هغه کمه جاز البيع بحصته نوجائز ده بیع په خپل حساب سره

تشریح> صورت د مسئله دا دې چې بائع مشتری ته اووئیل دا پنډ دې په دې کښې لس تهانه او هر يو تهان د لسو روپو دې کله چې یې پنډ اوسپردل نو په هغې کښې نبنه تهانونه راوختل نو مشتری به په لس کم سل روپئ باندې نهه تهانونه واخلی

دلیله> ځکه چې د نهو تهانونو چې يو تهان په لس روپئ وی لس کم سل روپئ جوړیږی نو خبره مفضی الی النزاع نه ده.عقد صحیح دې.

وان وجدها زائدة فالبيع فاسد او که وې موندله زیاته نو بیع فاسده ده

تشریح> په ذکر شوی صورت کښې که تهانونه زیات وو مثلاً يولس وو نو په دې صورت کښې بیع فاسده ده

دلیله> ځکه چې په دې صورت کښې د اختلاف پیدا کیدو ویره ده.په دغه یولسو تهانونو کښې به مشتری چانړ کوی اوښه به په کښې گوری او بائع به ورسره په هغې کښې اختلاف کوی.نو ددې وجې دا عقد مفضی الی النزاع دې نو فاسد به وی

بغیر د نوم ذکر کولو نه په بیع کښې داخلیدونکې څیزونه

وَمَنْ بَاعَ دَارًا او چاچه یو دار (کور) خرځ کړو دَخَلَ بِنَاؤُهَا فِي الْبَيْعِ نو ددې عمارت به په بیع کښې داخل وی وَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِ. اګرچه دا نې نه وی بیا کړې

تشریح> دخول ابناء في بيع الدار> په اردو ژبه کښې د ،، دار،، لفظ مطلقاً د کور دپاره ونیلې شی.او هم په دې معنی کښې ،،منزل،،او ،، بیت،، هم دې.خو په عربۍ ژبه کښې فرق دې.چه ،،دار،، هغه (کور) ته وائي.چه په هغې کښې صحن وی.ورې ورې کمرې وی.مخې ته برانډه وی.باورچی خانه وی.اود خاروو باړ(شپول) وی. او ،، منزل،، هغه دې.چه په هغې کښې ورې ورې کمرې، باورچی خانه،او بیت الخلاء(لیټرین) وی.او صحن نه وی.او ،، بیت ،، هغه مسقف کوټې ته ونیلې شی.چه په هغې کښې یوه دروازه وی.

ددې بحث مسئلو بنیاد په دوه قاعدو باندې دې. ① هر هغه څیز چه هغې ته په عرف کښې لفظ د بیع شامله وی.هغه په بیع کښې داخلیږی.اګرچه په صراحت سره نې دا بیان کړې نه وی. ② هرهغه څیز چه هغه د مبیع سره د برقرار ساتلو دپاره متصل وی.هغه د مبیع تابع وی.او په بیع کښې داخل وی.

اوس صورت د مسئلې دادې.چه یو سړی کور خرځ کړو.نو ددې عمارت به په بیع کښې داخل وی.اګرچه عمارت نې په بیع کښې صراحت سره نه وی ذکر کړې.

دلائله> ① ځکه چه په عرف کښې لفظ د،، دار،، میدان او عمارت دواړو ته شامل وی.

② دویم دلیل دادې. چه د عمارت اتصال د زمکې سره برقرار او باقی پاتې کیدلو دپاره دې.په دې وجه به عمارت د میدان تابع وی.او په بیع کښې به داخل وی.

د زمکې په بیع کښې ونې داخل دې

وَمَنْ بَاعَ أَرْضًا اوکوم کس چه یوه زمکه خرځه کړله دَخَلَ مَا فِيهَا مِنَ النَّخْلِ وَالشَّجَرِ فِي الْبَيْعِ نو په بیع کښې به ددې زمکې د کجورو ونې او نورې ونې داخل وی وَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِ. اګرچه دانې ذکرکړې نه وی وَلَا يَدْخُلُ الزَّرْعُ فِي بَيْعِ الْأَرْضِ إِلَّا بِالتَّسْمِيَةِ اود زمکې په بیع کښې فصل نه داخلیږی مګر په ذکر کولو سره (په بیع کښې داخلیږی)

حل اللغة> نخل: د قجورې ونه ـ **زرع:** پټې \ فصل

تشریح> دخول الشجر والثمر في بيع الارض> مسئله داده.چه یوکس زمکه خرځه کړله.اوپه دې زمکه کښې ونې دی.نودا ونې به د زمکې په بیع کښې داخلې وی.ونې که غټې وی.او که ورې وی.میوه دارې وی.او که میوه دارې نه وې.په صراحت سره نې ددې ذکر کړې وی.او که نه وی کړې.

دلیله> دلیل دادې.چه د ونو اتصال زمکې سره د قرار او باقی ساتلو دپاره دې.دجدا کولو دپاره نه دې.نو ونې د عمارت مشابه شوې.نو لکه څنګه چه د،، دار،، په بیع کښې عمارت داخل وی.دغه شان به د زمکې په بیع کښې ونې هم داخل وی.اګرچه د عقد بیع په وخت نې ددې ذکر نه وی کړې.

د زمکې په بیع کښې د فصل حکم: او که په زمکه کښې فصل ولاړ وو.نود زمکې په بیع کښې به فصل داخل نه وی.خود عقد بیع په وخت نې د زمکې سره د فصل ذکر کړې وو.نو فصل به هم داخل وی.دلیل دادې.چه فصل زمکې سره متصل وی.د جدا کولو دپاره.د باقی ساتلو دپاره نه وی.نو فصل د هغې سامان مشابه شو.کوم نې چه په کور کښې ایخولې وی.نو لکه څنګه چه د کور په بیع کښې

سامان داخل نه وي.دغه شان د زمكې په بيع كښې فصل هم داخل نه وي.

السوال> كه دا سوال اوكړې شي.چه حمل، مورسره د جداكيدلو دپاره متصل دې.خو ددې باوجود حمل د مور په بيع كښې داخليږي.حالانكه د قاعدې مطابق داخليدل نه دي پكار.

الجواب> ددې جواب دادې.چه د حمل جدا كول، د انسان په قدرت كښې نه دي.بلكه دا د الله تعالى كار دې.اود فصل اود سامان جدا كول د سړي په طاقت كښې وي.په دې وجه حمل په فصل اود كور په سامان باندې قياس كول ټيك نه دي.

د ونو په بيع كښې د ميوو حكم

> **وَمَنْ بَاعَ نَخْلًا أَوْشَجَرًا فِيهِ ثَمَرَةٌ** اوكوم كس چه د كجورو ونه، ياځه ميوه داره ونه چه په دې كښې ميوه وي.خرڅه كړله **فَثَمَرَتُهُ لِلْبَائِعِ** نو ددې ميوې به بائع دپاره وي **إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَهَا الْمُبْتَاعُ** مګر دا چه مشتري د دې شرط اولګوي

حل اللغة> **نخل**: د قجورې ونه ـ **ثمر**: ميوه ـ **اشتراء**: اخستل ـ **المبتاع**: اخستونكې

تشريح> **دخول الثمر في بيع النخل والشجر>** صورت د مسئلې دادې.كه يو كس يوه ميوه داره ونه خرڅه كړله.نو ددې ميوې به د بائع دپاره وي.خو كه مشتري د ونو سره ميوې هم واخستلې.نو ميوې به هم د مشتري دپاره وي.

دلائله> ① دليل دا حديث دې.(من اشترى أرضاً فيها نخل فالثمرة للبائع إلا أن يشترط المبتاع) (١)يعنى كه يو كس د ميوه دارو ونو زمكه واخستله.نو ميوې به د بائع دپاره وي.خو كه مشتري د ميووشرط هم اولګوي. نو ميوې به د مشتري دپاره وي. ② دويم دليل د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حديث دې.د حديث الفاظ دادي.(ومن باع عبداً وله مال فماله للبائع إلا أن يشترط المبتاع ومن باع نخلاً مثبوراً فالثمرة للبائع إلا أن يشترط المبتاع) يعنى كوم سړي چه غلام خرڅ كړلو.حالانكه د غلام سره مال دې.نودا مال به د بائع وي.البته كه مشتري شرط اولګوي چه دا غلام سره دده د مال نه ما واخستلو.نو بيا به غلام سره د مال نه د مشتري وي اوچا چه د كچه قلم شوې قجوره خرڅه كړله.(يعنى چه په زنانه قجوره كښې د نارينه قجورې بناخ اولګوي) نو ميوې به د بائع دپاره وي.خودا چه مشتري شرط اولګوي.(نو بيا به ميوې د مشتري دپاره وي) ددې حديث نه هم ثابتيږي.چه د ونې ميوې به د بائع دپاره وي. ③ عقلي دليل دادې چه د ميوو اتصال د ونې سره اګرچه پيدائشي دې.خودا د شوكولو دپاره دې.د باقي ساتلو دپاره نه دي.نود ونې ميوې د فصل مشابه شوې.نو لكه څنګه چه د زمكې فصل د زمكې په بيع كښې نه داخليږي.دغه شان د ونو ميوې هم د ونو په بيع كه نه داخليږي.

---

١) ظريه الزيلعي رحمه الله بهذا اللفظ ثم نقل حديث عبدالله بن عمر عن أبيه عن النبى ﷺ من باع عبداً وله مال فماله للبائع إلا أن يشترط المبتاع ومن باع نخلاً مؤبراً فالثمرة للبائع إلا أن يشترط المبتاع أخرجه البخارى فى البيوع باب ٩٠ وأبوداود فى البيوع باب ۴۲ رقم ۳۴۳۳ والترمذى فى البيوع باب ۲۵ رقم ۱۲۴۴ والنسائى فى البيوع باب رقم ۴۶۴۲ وابن ماجه فى التجارات باب ۳۱ رقم ۲۲۱۱ واحمد فى المسند ۶/۲ كذا فى نصب الراية ۴/۱۰_

د بدوصلاح نه وړاندې او روسته د ميوو د بيع حکم

وَمَنْ بَاعَ ثَمَرَةً چاچه داسې ميوې خرڅې کړلې لَمْ يَبْدُ صَلَاحُهَا چه ددې صلاح ښکاره شوې نه ده. أَوْقَدْ بَدَا يا ښکاره شوې ده جَازَ الْبَيْعُ. نو بيع جائز ده

حل اللغة < **يبدو**: ښکاره کيږي ـ **صلاح**: پوخوالې

تشريح < **جواز بيع الثمر لم يبد صلاحها** < ① په وړونو کښې د ميوو ښکاره کيدو نه وړاندې د هغې خرڅول په اتفاق سره ناجائز دی ② اوچه په وړونو کښې ميوې وی اود هغې صلاح ښکاره شی نو په اتفاق سره نې خرڅول جائز دی. اوکه صلاح نې نه وی ښکاره شوې نو بيا هم د احنافو په نيز د هغې خرڅول جائز دی بيا داحنافو رحمهم الله په نيز صلاح ښکاره کيدل دادی. چه ميوې د طوفان (سيلئ) وغيره آفت نه، اود ګلئ وغيره د فساد نه محفوظ شی.

دليله < ميوې مال متقوم دې. ځکه که صلاح ښکاره شو. نو ددې نه فورا فائده اخستلې شی. او که صلاح ښکاره نشو. نو په راروان وخت کښې به دا فائده مند کيږی. او کوم څيز چه د فائده اخستلو قابل وی. هغه متقوم وی. په دې وجه ميوې د صلاح ښکاره کيدلو نه وړاندې هم متقوم دی. اود صلاح ښکاره کيدلو نه پس هم متقوم دی. اود مال متقوم بيع جائز ده. په دې وجه په ذکر شوی دواړو صورتونو کښې به د ميوو بيع جائز وی.

المذهب الثاني < په ذکر شوې مسئله کښې د صلاح ښکاره کيدو نه وړاندې د امام مالك، امام شافعی، اود امام احمد رحمهم الله په نيز د هغې خرڅول ناجائز دی.

دليلهم < رسول الله ﷺ د صلاح ښکاره کيدلو نه وړاندې د ميوو د بيع خرڅولو نه منع فرمائيلې ده. ② دويم دليل دادې. چه بيع د مال متقوم سره مخصوص دې. اود صلاح ښکاره کيدلو نه وړاندې ميوې متقوم نه وی. په دې وجه صلاح ښکاره کيدلو نه وړاندې د ميوو خرڅول ناجائز دی.

الجواب منه < خود دې حديث جواب دادې. چه نبی کريم ﷺ د صلاح ښکاره کيدلو نه وړاندې د ميوو د بيع نه په هغه صورت کښې منع فرمائيلې ده. چه کله د ميوو په وُنه باندې د پريخودلو شرط اولګولې شی. او په وُنه باندې د پريخودلو په شرط سره بيع ناجائز ده. لکه چه په راروانه مسئله کښې به راشی. يا مراد دادې. چه نبی کريم ﷺ د صلاح ښکاره کيدلو نه وړاندې د بيع سلم کولو نه منع فرمائيلې ده. او قرينه داده.

چه نبی کريم ﷺ فرمائيلی دی. (أرأيت لو أذهب الله الثمرة لم يستحل أحدكم مال أخيه) يعنی ستاخه خيال دې که الله تعالى ميوې ضائع کړی نو ته د خپل ورور مال په څه وجه حلال ګڼرې. اودا خبره د بيع سلم په صورت کښې کيدلې شی. ځکه چه په بيع سلم کښې مسلم فيه، يعنی د مبيع سپارل فوراً نه کيږی. بلکه روستو کيږی. بهرحال ددې نه معلومه شوه. چه د الله رسول ﷺ د ميوو صلاح ښکاره کيدلو نه وړاندې د سلم کولو نه منع فرمائيلې ده. ددې جواب نه پس دا حديث د امام شافعی رحمه الله وغيره مستدل نه جوړيږی

وَوَجَبَ عَلَى الْمُشْتَرِي قَطْعُهَا فِي الْحَالِ په مشتری باندې في الحال ددې ميوو شوکول واجب دی

تشريح < **وجوب القطع على المشتري** < صاحب دقدوری رحمه الله فرمائی. چونکه د ميوو بيع د صلاح ښکاره کيدلو نه وړاندې هم جائز ده. اود صلاح ښکاره کيدلو نه پس هم. په دې وجه به په مشتری باندې فورا د

میوو شوکول واجب وی.

دلیله چه د خپل ملك نه د بائع ملك، یعنی ونې فارغ کړی.صاحب دهدایه رحمه الله په هدایه کښې فرمائی.چه په ونو باندې د میوو بیع جواز هغه وخت دې.چه کله میوې د څه شرط نه بغیر واخلې.یعنې نه ئې د میوو شوکولو شرط لګولې وی.او نه ئې د پریخودلو شرط لګولې وی.یا ئې د شوکولو په شرط سره اخستې وی.

دشچه میوو په ونو څنې د پخیدلو په شرط باندې د اخستلوحکم

وَإِنْ شَرَطَ تَرْكَهَا عَلَى النَّخِيلِ اوکه مشتری دا شرط کړې وی.چه دا په ونو باندې پریږدی فَسَدَ الْبَيْعُ او بیع فاسد ده

تشریح **حکم اشتراط ترک الثمر علی النخل** صورت د مسئلې دادې.که یو کس اوونیل.چه ما ددې ونې میوې په دې شرط باندې واخستلې.چه ددې د پخیدلو پورې به دا په ونه باندې پریږدمه.نودا بیع فاسد ده.

دلیلاه ① دلیل دادې.چه دا شرط د عقد مقتضی نه خلاف دې.ځکه چه د عقد تقاضا داده.چه معقود علیه مشتری ته اوسپارلې شی.او مشتری د بائع د ملك نه معقود علیه جدا کړی.او په دې شرط سره داسې نه ده.بلکه مشتری خپل ملك یعنی میوو سره د بائع ملك یعنی ونې مشغول کړې دې.نود عقد د مقتضاء په خلاف شرط لګولو په وجه بیع فاسد ده.② دویم دلیل دا دې چه میوې په ونه باندې د پریخودلو شرط لګولو په صورت کښې یوه صفقه د بل په صفقه کښې کیدل لازمیږی.ځکه که چرې ونه باندې د میوو پریخودلو اجرت مقرر کړې وې.نو په بیع کښې به اجاره داخله وی.او که بغیر د عوضه وی.یعنی مشتری هیڅ عوض مقرر کړې نه وی.نو په بیع کښې به اعاره (عاریة ورکول) داخل وی.حالانکه ، صفقة فی صفقة ، نه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلې ده.په دې وجه به دې شرط سره بیع فاسد وی.دغه شان به په دې صورت کښې هم بیع فاسد وی.چه خوك ولاړ فصل واخلی.اود پخیدلو د وخته پورې د فصل په زمکه کښې دپریخودلو شرط اولګوی. دلیل وړاندې تیرشوې دې.چه دا شرط د عقد د مقتضاء خلاف دې.او ، صفقة فی صفقة ، هم لازمیږی.

د میوو د یو معین مقدار مستثنی کولو حکم

وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَبِيعَ ثَمَرَةً وَيَسْتَثْنِيَ مِنْهَا أَرْطَالًا مَعْلُومَةً میوې خرخول او په دې کښې د معلومو رطلونو استثناء کول جائز نه دی

حل اللغة **ارطال**: جمع درطل ،یوه پیمانه _ **یستثنی**: مستثنی کړی _ **نخل**: د قجورې ونه

تشریح **عدم جواز استثناء ارطال فی بیع الثمر** داحنافو رحمهم الله په نیزیه ونو کښې د لګیدلو شوو میوو خرخول او څو متعین رطلونه مستثنی کول جائز نه دی.مثلاً داسې اووائی.چه ما ددې باغ میوې خرڅې کړې.سوا د یو من نه.یا مې د دې باغ آمونه خرخ کړل.سوا د زرو امونو نه نه.نودا جائز نه دی.(1)

دلیله دمعلومورطلونواستثناء کولونه پس چه کوم مقدار باقی پاتې کیږی.هغه مجهول دې. په دې طریقه چه بائع به په جنس کښې د اعلی میوو مطالبه کوی.او مشتری به ده ته ادنی معمولې قسم میوې ورکوی.نودا جهالت به ، مفضی الی المنازعه ، وی.اود داسې جهالت په موجودګئ کښې بیع

(1) **مذهب مالکیه رحمهم الله** اودحضرت امام مالك رحمه الله په نیز جائز دی.

جائز نه وی.په دې وجه به په دې صورت کښې بیع هم جائز نه وی.

په وږوکښې د غنمو او اوریژو.او په پلوکښې د لوبیا اود کونزلو د بیع حکم

وَيَجُوزُ بَيْعُ الحِنْطَةِ فِي سُنْبُلِهَا وَالبَاقِلَاءِ فِي قِشْرِهِ اود غنمو ددې په بمبلو(وګو) کښې،اود لوبیا ددې په پلو کښې خرڅول جائز دی

حل اللغة > **حنطة** : غنم _ **سنبل** : وږې _ **باقلي** : لوبیا

تشریح > **جواز بیع الحنطة في السنبل** > صورت د مسئلې دادې.چه په وګوکښې د غنمواو په پلو یعنی پوستکی کښې د لوبیا خرڅول جائز دی. دغه شان په وګی کښې د اوریژو،او په پوستکی کښې د کونځلو خرڅول جائز دی. (۱)

دلائله > ① نبی کریم ﷺ په کجوره کښې دلګیدلې شوو کجورو بیع نه منع فرمانیلې ده. تردې چه په دې کښې رنګ پیدا شی.یعنی که په کجوروکښې رنګ پیدا شی.او پخې شی. نو ددې بیع جائز ده.اود غنمو د وګو بیع نه ئې منع فرمانیلې ده.تردې چه دا سپین شی.اود آفت نه محفوظ شی.یعنی که پاخه شی.نو ددې بیع جائز ده.دا حدیث په وګو کښې د غنمو د بیع جائز کیدلو باندې دلالت کوی.خود وګو د پخیدلو نه پس.نو هرکله چه د غنمو بیع ددې په پوستکوکښې جائز کیدل ثابت شو.نود باقی نورو خیزونو بیع به هم ددې په پوستکوکښې دننه جائز وی. (۲)

② دویم عقلی دلیل دادې.چه غنم داسې غله ده.چه ددې نه نفع اوچتولې شی.نو په وګوکښې دننه به ددې بیع جائز وی.لکه چه د اوربشو بیع ددې په وګو کښې بالاتفاق جائز ده.اود قیاس علت جامعه دادې.چه په غنمو او اوربشو دواړو کښې هریو قیمتی مال دې.د دواړو نه نفع اوچتولې شی.نو هرکله چه د اوربشو بیع ددې په وګوکښې جائز ده.نود غنمو بیع به هم ددې په وګو کښې جائز وی.او پاتې شو دا ونیل.چه ددې پوستکې یعنی بهوس غیرمنتفع به دې.نودا غلطه ده.څکه چه په وګوکښې دننه غنم ذخیره کولې،او محفوظ کولې شی.لکه چه د الله تعالی ارشاد دې.﴿فَذَرُوهُ فِي سُنْبُلِهِ﴾ اودا بلاشبه نفع ده.په دې وجه به په وګوکښې دننه د غنمو بیع جائز وی.

د کور په بیع کښې ددې د چابیانو حکم

وَمَنْ بَاعَ دَارًا او چاچه یو کور خرڅ کړو دَخَلَ فِي الْبَيْعِ مَفَاتِيحُ إِغْلَاقِهَا نو ددې د تالو چابیانې به هم په بیع کښې داخل وی.

حل اللغة > **دار** : کور **مفاتیح** : جمع د مفتاح ،کنجی _ **اغلاق** : جمع د غلق ،تاله _ **باع** : خرڅ کړو

---

(۱) **مذهب الشافعي رحمه الله** > حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی.د شنې لوبیا خرڅول جائز نه دی.یعنی که ددې پلی شنه او کچه وی.نو ددې بیع جائز نه ده.دغه شان د غوزانو.د بادامو،اود پستې خرڅول ددې په رومبی پوستکی کښې جائز نه دی.د رومبی پوستکی نه مراد دادې.چه کوم مغز سره د متصل پوستکی دپاسه کومه پیرشان پوستکې وی.اود غنمو د وګو د بیع په سلسله کښې د امام شافعی رحمه الله دوه قوله دی.یود جواز او دویم د عدم جواز دې.او زمونږ په نیز ددې ټولو بیع جائز ده.

(۲) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما أخرجه المسلم في البيوع رقم ۵۰ وأبوداود في البيوع باب ۲۳ رقم ۳۳۶۷ والترمذي في البيوع باب ۱۵ والنسائي في البيوع باب ۳۰ رقم ۳۲۱۳ وابن ماجه في التجارات باب ۳۲ رقم ۲۲۱۷ وأحمد في المسند ۲/۸ـ

تشريح> دخول المفاتيح في بيع الدار> او تالي (جرنده) په دوه قسمه وي. ① يو هغه قسم چه ورته قفل وائي.دا په كندوكنبې اچولې شي.او بندولې شي. ② دويم هغه كومې چه په دروازو كښې پيوست لګيدلې وي.چه دې ته دننه پيوسته تالې وائي. دلته كښې هم دا دويم قسم تالې مراد ده.
اوس مسئله داده.كه يوكس كور واخستلو.او په دې كښې دننه پيوسته تالې لګيدلې وي.او په المارو كښې كهونډې لګيدلې وي.نو په دې بيع كښې به كهنډې هضمى تالې او ددې ګنجيانې داخلې وي.اودا ټولې به د مشترى دپاره وي.كه ددې ذكرنې كړې وي.اوكه نه وي كړې.
دليله> هضمى تالې اود المارو كهونډې خو به خكه داخل وي.چه دا دكور سره د بقاء اود قرار دپاره متصلې وي.او وراندې تيرشوى دى.چه كوم څيز د مبيع سره د بقاء او قرار دپاره متصل وى.هغه د ذكركولو نه بغير په بيع كښې داخل وى.په دې وجه دننه پيوسته تالې اود الماروكهونډې د كور. په بيع كښې داخل وى.
اوچونكه دګنجيانو نه بغيردتالو نه نفع نشي اخستلې.په دې وجه به ګنجيانې د تالو د جزء په مرتبه كښې وي.اود ،،كل شئ،، په بيع كښې چونكه ددې ټول اجزاء داخل وى.په دې وجه به د تالو په بيع كښې ګنجيانې د بيانولو نه بغير داخل وى.نوحاصل داشو.چه ګنجيانې خو به د تالو په بيع كښې داخل وى.او تاله د كور په بيع كښې داخل شوه.نود نتيجه په طور به ګنجيانې هم د كور په بيع كښې داخل وى.

د ناپ كونكې اود ناقد ثمن د اجرت حكم

وَأُجْرَةُ الْكَيَّالِ وَنَاقِدِ الثَّمَنِ عَلَى الْبَائِعِ قدورى رحمه الله فرمانى.چه د ناپ كونكى اود ثمن (كره كهوټه) معلومونكى اجرت په بائع باندې واجب دې. أَمَّا الْكَيْلُ فَلَابُدَّ مِنْهُ لِلتَّسْلِيمِ د ناپ كولو اجرت خكه واجب دې.چه مشترى ته د مبيع سپارلو دپاره مبيع ناپ كول ضرورى دى وَهُوَ عَلَى الْبَائِعِ او سپارل په بائع باندې واجب دى وَمَعْنَى هَذَا إِذَا بِيعَ مُكَايَلَةً، او ددې معنى داده.چه هركله دا څيز د پيمانه په حساب سره خرڅ كړې شوې وى وَكَذَا أُجْرَةُ الْوَزَّانِ وَالزَّرَّاعِ وَالْعَدَّادِ اوهم دغه شان د وزن كونكى او په ګزونو سره د ناپ كونكى اود شماركونكى اجرت هم (په بائع باندې واجب دې)

حل اللغة> الأجرة: مزدورى الكيال: تول كونكې ناقد: كره كوټه معلومونكې

تشريح> اجرة الكيال علي البائع> صورت د مسئلې دادې.كه يوكس كيلى (ناپ كونكې) څيز د كيل په ذريعه خرڅ كړلو.يا ئې موزون څيز د وزن په ذريعه خرڅ كړلو.يا ئې په مذروعاتو كښې په ګز سره يو څيز خرڅ كړلو.معدود ئې په شمار سره خرڅ كړلو.نود كيل كونكى، او وزن كونكى، په ګزونو سره دناپ كونكى،اود شماركونكى اجرت به په بائع باندې واجب وى.دغه شان چه مشترى كوم ثمن وركوى.ددې د كهره كوټه (اصلى ديسى) معلومونكى اجرت به هم په بائع باندې واجب وى.
دليله> دكيل يا وزن وغيره كونكى اجرت خو به په بائع باندې خكه واجب وى.چه د مبيع سپارل په بائع باندې واجب دى.اود مبيع سپارل په كيل وغيره باندې موقوف دى.او قاعده ده.چه د واجب موقوف عليه هم واجب وى.په دې وجه كيل كول او وزن كول به په بائع باندې واجب وى.او هركله چه كيل كول په بائع باندې واجب دى.نو كه ده په بل باندې كيل اوكړلو.نو ددې اجرت به هم په بائع باندې واجب وى.
او پاتې شو د ثمن اصلى ديسى او كهره كهوټه معلومول،نود امام محمد رحمه الله نه د ابن رستم رحمه الله

روایت هم دادې.کوم چه قدوری ذکر کړې دې.چه د ثمن کتلو اجرت په بائع باندې واجب دے.اود امام محمد رحمه الله نه د ابن سماعه روایت دادې.چه د ثمن کتلو اجرت په مشتری باندې واجب دے.د ابن رستم روایت دلیل دادې.چه ثمن معلومول،او ددې کهره کهوټه کتل،هغه وخت کیږی.چه کله مشتری ثمن بائع ته ورکړی.لکه تاسو اوګورئ.چه د ثمن کتل د وزن کولو نه پس کیږی.اود ثمن په وزن کولو سره تسلیم متحقق کیږی.نو ثابته شوه.چه د ثمن کتلو ضرورت د تسلیم نه پس راپیښیږی.اود ثمن سپارلو نه پس د کهره کهوټه معلومولو ضرورت بائع ته وی.چه بائع اصلی د کوم سره چه دده حق متعلق دې.د دیسی نه جدا کړی.یا په دې وجه چه عیب داره معلوم کړی.او مشتری ته ئې واپس کړی.

روایة ابن سماعة > اود ابن سماعه روایت دلیل دادې.چه په مشتری باندې چونکه اصلی ثمن (کوم چه په عقد بیع کښې متعین شوې وی) سپارل واجب دی.او اصلی کیدل په کتلو سره معلومیږی.لکه څنګه چه د ثمن مقدار په وزن کولو سره معلومیږی.په دې وجه د ثمن معلومولو اجرت به په مشتری باندې واجب وی.[1]

د ثمن وزن کونکی اجرت به په چا وی؟

وَأُجْرَةُ وَزَّانِ الثَّمَنِ عَلَى الْمُشْتَرِي قدوری رحمه الله فرمائی.اود ثمن تول کونکی اجرت په مشتری باندې واجب دې **لِمَا بَيَّنَّا** د هغه دلیل په وجه کوم چه مونږ بیان کړو. **أَنَّهُ هُوَ الْمُحْتَاجُ إِلَى تَسْلِيمِ الثَّمَنِ** چه هغه د ثمن سپارلو ته محتاج دې.

تشریح > په مسئله کښې څه خفا نشته .

دلیله > دلیل دا دې چه د ثمن سپارلو ضرورت مشتری ته دې او سپارل په تول کولو سره متحقق کیږی.

په بیع کښې به ثمن وړاندې او مبیع روسته حواله کوې

وَمَنْ بَاعَ سِلْعَةً بِثَمَنٍ قدوری رحمه الله فرمائی.او چاچه څه سامان د ثمن په عوض خرڅ کړو **قِيلَ لِلْمُشْتَرِي ادْفَعِ الثَّمَنَ أَوَّلًا** نو مشتری ته به وئیلې شی.چه ته وړاندې ثمن اداکړه. **فَإِذَا دَفَعَ قِيلَ لِلْبَائِعِ ادْفَعِ الْمَبِيعَ** او کله چې مشتری ثمن ورکړی نو بائع ته به اووئیلې شی چې مبیع اوسپاره

حل اللغة > **سلعة** : سامان **ادفع** : ورکړه ، **الدفع** : ورکول **المساواة** : برابری

تشریح > **تسلیم الثمن الی البائع اولا** > صورت د مسئلې دادې.که یوکس خپل سامان، د ثمن یعنی د درهم یا دنانیرو په عوض خرڅ کړلو .اوسامان هم دلته کښې موجود دې.او په دواړو کښې اختلاف شو.بائع وائی.چه رومبې مشتری ثمن ماته حواله کړی.بیا به زه مبیع سپارم.او مشتری وائی.چه رومبې دې ماته مبیع اوسپارلې شی.نو هله به زه ثمن ورکوم.نو په داسې صورت کښې به مشتری ته وئیلې شی.چه مخکښې ته ثمن ورکړه.

دلیله > دلیل دادې.چه په عقد د بیع کښې مساوات ضروری دې.اود بیع په انعقاد سره د مشتری حق په مبیع کښې متعین کیږی. خو چونکه ثمن په متعین کولو سره نه متعین کیږی.په دې وجه صرف د بیع په انعقاد سره د بائع حق په ثمن کښې نه متعین کیږی.او هرکله چه په انعقاد د بیع سره د بائع حق په

---

[1] القول الراجح هو رواية ابن سماعة رحمه الله كذا في فتح القدير(۴۹۶\۵) والعناية (۴۹۶\۵) والخانية (۳۹۸\۲) والبحر الرائق(۳۰۶\۵) وردالمحتار(۴۶\۴) وخلاصة الفتاوى (۹۱\۲) والهندية (۲۸\۳) نقلاً عن القول الراجح (۱۱\۲)-

ثمن کښې نه متعین کیږی.نود بائع حق په ثمن کښې د متعین کولو دپاره ضروری دی.چه ړومبې مشتری ثمن بائع ته ورکړی.چه د حق په تعیین کښې دواړه برابر شی.

وَمَنْ بَاعَ سِلْعَةً بِسِلْعَةٍ أَوْ ثَمَنًا بِثَمَنٍ قدوری رحمه الله فرمائی. اوچاچه سامان دسامان په عوض یا ثمن دثمن په عوض خرڅ کړو قِيلَ لَهُمَا سَلِّمَا مَعًا نودواړوته به ونیلې شی.چه دواړه یوځائې اوسپاری

تشریح﴿ تسلیم السلعة والثمن معا﴾ اوکه سامان د سامان په عوض،یا ثمن د ثمن په عوض، خرڅ کړی.نو دواړو ته به ونیلی شی.چه په یو وخت کښې بائع او مشتری دواړه یو بل ته اوسپاری.

دلیله﴾ دلیل دا دې که د سامان بیع د سامان په عوض کښې ده.نو دواړه عوض په متعین کولوکښې برابر دی.او که د ثمن بیع د ثمن په عوض کښې ده.نو دواړه په نه متعین کولوکښې برابر دی.نو هرکله چه په تعیین یا په عدم تعیین کښې مساوات اوموندې شو.نو اوس د یوکس په سپارلو سره متعین کول به ترجیح بلا مرجح وی.په دې وجه به بائع او مشتری دواړه یو ځائې سپاری.چه د ترجیح بلامرجح قباحت پیدا نشی.

بَابُ خِيَارِ الشَّرْطِ

ترجمه﴾ (دا) باب د خیارشرط (په بیان کښې) دې.

تشریح﴾ اقسام البیع﴾ اقسام بیع د بیع دوه قسمونه دی. ① لازم ② غیر لازم، لازم هغه ده.چه په دې کښې هیڅ قسمه څه خیار نه وی.غیر لازم هغه ده.چه په دې کښې خیار وی.بیع لازم چونکه اصل ده.په دې وجه دا مقدم کړې شوه.او بیع غیر لازم خلاف اصل ده.په دې وجه دا مؤخر کړې شوه.

اقسام خیارالشرط﴾ دخیارشرط درې قسمونه دی. ① بالاتفاق جائز،مثلا درې ورځې یاد درې ورځو نه د کم خیار ئې واخستلو. ② بالاتفاق فاسد، مثلا مشتری اوونیل.چه ما دا څیز په دې شرط باندې واخستلو .چه ماته به خیارحاصل وی.یا به د څو ورځو خیار وی.یا د همیشه خیار دې.③مختلف فیه، مثلا د یومیاشت، یا دوه میاشتې خیار ئې واخستلو. نو دا د امام ابوحنیفه،امام زفر،اود امام شافعی رحمه الله په نیز فاسد دې.اود صاحبینو رحمهما الله په نیزجائز دې.په خیار شرط کښې د خیار اضافت شرط طرف ته د ،،اضافت مسبب الی السبب،، د قبیلې څخه دې.ځکه چه ددې خیارسبب شرط دې.فاضل مصنف رحمه الله خیارشرط په ټولو خیاراتو باندې په دې وجه مقدم کړلو.چه خیارشرط د ابتدائی حکم دپاره مانع دې.بیا ئې خیاررویت ذکرکړلو.ځکه چه خیار رویت د حکم تمامیدلو دپاره مانع دې.بیا ئې خیارعیب ذکرکړلو. چه دا د لزوم حکم دپاره مانع دې.

د خیار شرط حکم او موده

خِيَارُ الشَّرْطِ جَائِزٌ فِي الْبَيْعِ لِلْبَائِعِ وَالْمُشْتَرِي په بیع کښې خیار شرط بائع او مشتری (دواړو) دپاره جائز دې وَلَهُمَا الْخِيَارُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَمَا دُونَهَا او ددې دواړو دپاره به درې ورځې یا ددې نه کم خیار وی.

تشریح﴾ جواز الخیار للمتعاقدین﴾ خیارشرط صرف د بائع دپاره صرف د مشتری دپاره اوددواړو دپاره هم جائز دې.اود خیار شرط موده که درې ورځې وی نو دا هم په اتفاق سره جائز دې

دلیله﴾ دخیار دثبوت دلیل دحبان بن منقذبن عمروالانصاری رضی الله عنه حدیث دې.هغه داچه حبان بن منقذبن عمرو الانصاری رضی الله عنه کمزورې سړې وو.ددوی په سر کښې په زخم لګیدلو سره ددوی دماغ هم کمزوری شوی وو. نونبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل.چه کله ته اخستل خرڅول کوې.نو ته وایه.چه هیڅ دهوکه

نشته.ماله د درې ورځو خيار دې.يعنى ماده پاره درې ورځو پورې د غوراو فکر موقع ده.که مناسب وي.نو عقد به جائز وي.گنې فسخ کوم به ئې.(۱) ددې روايت نه د خيارشرط،اود خيارموده دواړه ثابتيږي.

وَلَا يَجُوزُ أَكْثَرُ مِنْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ(۲) اود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د درې ورځو نه زيات جائز نه دې وَقَالَ ابويوسف ومحمد يَجُوزُ إِذَا سَمَّى مُدَّةً مَعْلُومَةً او صاحبينو رحمهما الله فرمانيلي دی.چه جائز دې.چه کله څه معلومه موده ذکر کړې شي

تشريح> **عدم جواز الخيار اكثر من ثلاثة>** که د درې ورځو نه زيات وي نو دحضرت امام ابوحنيفه، په نيز دغه شان د امام زفر،اود امام شافعي رحمه الله په نيزد خيارجائز نه دې.

دلائله> ① يو دليل خو منقد بن عمروانصاري رضي الله عنه حديث دې کوم چه وړاندې تيرشو په هغې کښې د دريو ورځو ذکر دې که د دريو ورځو نه د زياتو خيارجائز وې نو نبی صلی الله علیه وسلم به د زياتې مودې ذکر کړې وې (۳)② دخيارشرط لګول،د عقد د مقتضى خلاف دې.ځکه چه عقد د بيع د لزوم تقاضا کوی.اود خيارشرط لګول د بيع د عدم لزوم تقاضا کوی.بهرحال د خيارشرط لګول د عقد د مقتضى خلاف دې.اود عقد د مقتضى خلاف شرط، عقد فاسد کوی.په دې وجه د قياس تقاضا خودا وه.چه دا عقد فاسد وی.خو مونږ د حبان بن منقذ رضي الله عنه د حديث په وجه خلاف قياس دا عقد جائزګرځولې دې.او قاعده ده.چه کوم څيز په نص سره خلاف قياس ثابت شي.هغه پخپل مورد نص پاندې منحصر وی.او په نص يعنى په حديث کښې چونکه د خيارموده درې ورځې ذکر ده.په دې وجه درې ورځې خيار خوبه جائز وی.او ددې نه زيات خيار به منتفى وی.

مذهب الصاحبين> صاحبين رحمهما الله فرمانی.چه په شريعت کښې د خيارشرط هيڅ موده مقرر نه ده.بلکه کومه موده هم چه ذکرشي.جائز ده.په دې شرط چه معلومه وی.

دلائلهما> ①د ابن عمر رضي الله عنهما حديث دې.يعنى رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دوه مياشتو پورې خيار جائز ساتلې دې.دې نه معلومه شوه.چه د خيار موده د درې ورځو پورې خاص نه ده.بلکه ددې نه زياته هم کيدلې شي.

② خيارشرط ځکه مشروع شوې دې.چه (من له الخيار)، ،دچا دپاره چه خيار وی، په معامله کښې غور او فکراوکړی.اود نفع په صورت کښې بيع نافذ کړی.اود نقصان په صورت کښې بيع رد کړی.اود غور او فکرضرورت کله د دريو ورځو نه زياته هم وی.په دې وجه به دې کښې قليل او کثير دواړه برابر وی.اودا داسې ده.لکه مثلا که ثمن قرض وی.نو درې ورځې يا ددې نه زيات د څومره قدرې مودې چه ضرورت وی.مقررول جائز دی.دغه شان په بيع کښې هم چه د څومره قدر ورځو د غور اوفکر دپاره ضرورت وی.پخپل مينځ کښې رضامندۍ سره جائز ده.

د بائع په خيار سره د مبيع حکم

وَخِيَارُ الْبَائِعِ يَمْنَعُ خُرُوجَ الْمَبِيعِ عَنْ مِلْكِهِ اود بائع خيار(دا امر) منع کوی.چه مبيع د بائع د ملك نه

۱) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما اخرجه الحاكم في المستدرك (۲/۲۲_

۲) القول الراجح هوهذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الدرالمنتقى (۲\۲٤) وردالمحتار(٤\٥٢) والخانية (۲\٥٨٣) والهندية (۳\۳٨) وجامع الرموز (۳\۱۳) وفتح القدير(٥\۱٠٥) نقلا عن القول الراجح (۲\۱۲)_

۳) قال الزيلعي رحمه الله قلت غريب جدا نصب الراية (٤/١٦ _

اوخی.

حل اللغة خروج: وتل . **یمنع**: منع کوی

تشریح عدم خروج المبیع من ملک البائع بخیاره ورانديږ تیر شوی دی.چه خیارشرط کله صرف د بائع دپاره وی.او کله صرف د مشتری دپاره وی.او کله د دوارو دپاره هم وی.که خیارشرط صرف د بائع دپاره وی.نو مبیع به د بائع د ملك نه نه خارجیږی.

دلیله دلیل دادی.چه د عقدبیع پوره کیدل د بائع او مشتری په رضامندئ باندي موقوف وی.لکه چه د الله تعالی ﷻ ارشاد دی.﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ﴾ او په خیارشرط سره رضامندی نه پوره کیږی.په دې وجه مبیع د بائع د ملك نه نه اوخی.او چونکه د بائع د خیار په صورت کښي مبیع د بائع دملك نه نه خارجیږی.په دې وجه اوونیلی شو.که مبیع غلام یا وینځه وی.نو د خیار په موده کښي د بائع په آزادولو سره آزادیږی.

فَـاِنْ قَبَضَهُ الْمُشْتَرِيْ بیا که مشتری په مبیع باندي قبضه اوکړله فَهَلَكَ فِي يَدِهٖ فِيْ مُدَّةِ الْخِيَارِ اود خیار په موده کښي دننه هغه مال د مشتری په قبضه کښي هلاك شو ضَمِنَهٗ بِالْقِيْمَةِ نو مشتری به قیمت سره ددې ضمان اداکوی.

تشریح هلاکة المبیع سبب لضمان المشتری خو که مشتری په مبیع باندي قبضه اوکړله.اود خیار په موده کښي د مشتري د قبضه نه مبیع هلاك شو.نو په مشتری به د تاوان په طورددې قیمت واجب وی.ثمن به واجب نه وی.او که د خیار د مودې نه پس هلاك شو.نو ثمن به واجب وی.قیمت به واجب نه وی.ځکه چه د خیار موده تیریدلو په وجه د بائع خیار باطل شو.او بیع پوره شوه.اود بیع پوره کیدلو په صورت کښي په مشتری باندي ثمن واجبیږی. قیمت نه واجبیږی.په دې وجه د خیارمودې نه پس د مبیع هلاکیدلو په صورت کښي په مشتری باندي ثمن واجب وی.قیمت به واجب نه وی.

دلیله اود خیار په موده کښي دننه د مبیع هلاکیدلو په صورت کښي قیمت ځکه واجبیږی.چه د مبیع په هلاکیدلو سره بیع فسخ شوه.او بیع ځکه فسخ شوه.چه د خیار د وجود په وجه دا بیع موقوف وه.او بیع بغیرد محل، یعنی بغیر د مبیع نه نه نافذ کیږی.اودا خبره هم تاسو ته معلومه ده.چه دمشتری قبضه په مبیع باندي دعقد په وجه ده.او قاعده ده.چه ،،مقبوض بجهت العقد مضمون بالقیمة،، وی.یعنی که په یوخیز باندي د عقد کولو په غرض قبضه اوشی.اودا خیز هلاك شی.نو په قابض باندي ددې قیمت واجب وی.لکه ځنګه چه په ،،مقبوض علی سوم الشراء،، کښي کیږی.یعنی که یوکس د نرخ کولو دپاره د دوکان نه یوخیز کورته راوړی.اودا خیز هلاك شی.نو په ده باندي ددې قیمت واجب وی.ثمن واجب نه وی.

د مشتری په خیار سره د مبیع حکم

وَخِيَارُ الْمُشْتَرِيْ لَا يَمْنَعُ خُرُوْجَ الْمَبِيْعِ مِنْ مِلْكِ الْبَائِعِ اود مشتری خیار، مبیع د بائع د ملك نه د وتلو نه نه منع کوی

تشریح عدم خروج المبیع عن ملک البائع عندخیار المشتری صورت د مسئلې دادې.که خیارشرط د مشتری دپاره وی.نو مبیع د بائع د ملك نه خارجیږی.دلیل دا دې.چه بیع د هغه سړی په حق کښي غیر لازم وی.دکوم کس دپاره چه خیار وی.خود کوم کس دپاره چه خیار نه وی.دده په حق کښي بیع لازم وی.ترڅو چه دې په بیع فسخ کولو باندي هم قدرت نه لری.

دليله ددې وجه داده.چه خيارشرط د هغه كس د خير خواهئ دپاره مشروع شوې دې.د كوم كس دپاره چه خيارثابت دې.اود كوم كس دپاره چه خيار نه وى.د هغه كس خيرخواهى مطلوب نه وى.نوهم ددې مقصد په خاطر وئيلې شوى دى.چه خيار دهغه كس د ملك نه عوض اوبشكل منع كوى.دكوم كس دپاره چه خيار وى.اود كوم كس دپاره چه خيار نه وى.دهغه د ملك نه عوض خارجيږى.نود مشترى د خيار په صورت كښې خو ثمن د مشترى د ملك نه نه اوځى.البته بيع د بائع دملك نه اوځى.

إِلَّاأَنَّ الْمُشْتَرِيَ لَايَمْلِكُهُ عِنْدَأَبِي حَنِيفَةَ(١) قدورى رحمه الله فرمائيلى دى.خو مشترى به د ابوحنيفه رحمه الله په نيز ددې مبيع مالك نه جوړيږى وَقَالَ ابويوسف ومحمد: يَمْلِكُهُ، او صاحبين رحمهما الله فرمائى.چه مشترى به ددې مالك وى

تشريح عدم ملك المشترى عند خيار البائع اوكله چه مبيع د بائع د ملك نه اووتله.نود مشترى په ملك كښې داخليږى كه نه نو حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى.چه مبيع به مشترى په ملك كښې نه داخليږى. يعنى مشترى به ددې مالك نه وى.

دلائله ① دامام ابوحنيفه رحمه الله دلائل دا دى چه دمشترى دخيار په صورت كښې ثمن د مشترى د ملك نه نه اوځى.نو كه مبيع هم دده په ملك كښې داخل شى.نو په عقدمعاوضه كښې به دواړه عوضونه (ثمن او مبيع) د يوسړى په ملك كښې جمع شى.حالانكه په شريعت كښې ددې هيڅ مثال نشته.ځكه چه عقدمعاوضه مساوات غواړى.كه د يوكس مال پخپل ملك كښې راشى.نو ددې عوض به د بل په ملك كښې ځى.او دلته كښې دواړه عوضونه د مشترى په ملك كښې دى.نودا عقد معاوضه څنګه كيدلې شى.

السوال په دې دليل اعتراض دې.هغه داچه يوسړى كه د چا مدبر غصب كړلو.بيا مدبر د غاصب د قبضه نه اوتختيدلو.نو په غاصب به د مالك دپاره ضمان واجب وى.حالانكه مدبر د مولا د ملك نه نه اوځى.ځكه چه مدبر انتقال د ملك نه قبلوى.اوګورئ.دلته كښې مدبر او دده بدل دواړه دمولا په ملك كښې جمع شوى دى.نودا وئيل.چه د يو سړى په ملك كښې د دواړه عوضونو جمع كيدلو په شريعت كښې هيڅ مثال نشته.غلط دى؟

الجواب دادې. چه تادجنايت د ضمان مثال بيان كړې دې.حالانكه زمونږه خبره د معاوضه په ضمان كښې دې.په دې وجه دې مثال سره نقض د واردول درست نه دى.

② دويم دليل دادې.چه دمشترى دپاره دده د خيرخواهئ په لحاظ خيارشرط مشروع شوې دې.چه مشترى غور اوفكر اوكړى.او په خپل مصلحت باندې خبر شى.چه اخستل مناسب دى.او كه نه اخستل.نو كه د مشترى د خيار باوجود ، مشترى د مبيع مالك شو.نو ډير كرته مبيع د مشترى د طرفه بغير دده د اختياره آزاديږى.په دې طريقه چه مبيع د مشترى ذى رحم محرم غلام وى.اود خيار باوجود دې د مشترى په ملك كښې داخل شو.نودا غلام به دده د طرفه آزاد وى.ځكه چه د مدنى آقا صلى الله عليه وسلم ارشاد دې.(من ملك ذارحم محرم منه عتق عليه) نو هركله چه غلام د مشترى د اختياره بغير آزاد شو.نودمشترى په حق كښې چه كومه خيرخواهى مطلوب وه.هغه فوت شوه.په دې وجه مونږ اووئيل.چه د مشترى د خيار په صورت كښې به مشترى د مبيع مالك نه وى.

---

(١) القول الراجح هو هذا قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في الخانية (٢\٢٥٨) والهندية (٣\٤٠) نقلاً عن القول الراجح(٢\١٥)-

مذهب الصاحبين> صاحبين رحمهما الله فرمائی.چه مشتری ددې مالك کيږی.هم دا قول د امام مالك،امام شافعي،اود امام احمد رحمه الله دې.

دليلهما>دصاحبينو رحمهما الله دليل دادې.چه مبيع خو د بائع د ملك نه اووتلو.اوس كه د مشتری په ملك كښې داخل نشي.نودا مبيع به د مالك نه بغير فضول وی.حالانكه په شريعت د اسلام كښې ددې هيڅ مثال نشته.چه يو مملوك څيز د يوكس د ملك نه اوځی.اود مالك نه بغير موجود وی.په دې وجه ددې مبيع د مشتری په ملك كښې داخليدل ضروری دی.

السوال>په دې دا اعتراض شوې دې.كه د جُمات متولي د جُمات د خدمت دپاره يوغلام واخستلو .نودا غلام د بائع د ملك نه خو اووتلو.خود مشتری په ملك كښې داخل نشو.ځكه چه متولی د اوقاف مالك نه وی.نو هركله چه د مملوك څيز د مالك د ملك نه وتل،بغير د مالك نه موجود كيدل ثابت شو.نودا ونيل به څنګه ټيك وی. چه په شريعت كښې ددې هيڅ مثال نشته.

الجواب>زمونږ بحث په تجارت كښې دې.اوتا چه كوم مثال بيان كړلو.ددې تعلق د اوقاف سره دې.نو په دې مثال سره نقص واردول ټيك نه دی.

د مشتری په قبضه كښې د مبيع هلاكيدلو حكم

فَإِنْ هَلَكَ بِيَدِهِ كه د مشتری په قبضه كښې مبيع هلاك شو. هَلَكَ بِالثَّمَنِ،نود ثمن په عوض به هلاك وی وَكَذَا إِنْ دَخَلَهُ عَيْبٌ اوهم دغه شان كه په دې كښې څه عيب داخل شو

تشريح> **حكم هلاك المبيع في يد المشتری**>صورت دمسئلې دادې.كه خيار د مشتری دپاره وی.اود مشتری په قبضه كښې مبيع هلاك شو.نو عقدبيع به لازم وی.او په مشتری به ثمن واجب وی.دغه شان كه د خيار په موده كښې د مشتری په قبضه كښې په مبيع كښې يو داسې څه عيب پيدا شو.چه دا ختميدونكې نه وی.نو بيا به هم بيع لازم وی.او په مشتری به ثمن واجب وی.خو كه خيار د بائع دپاره وی.او مبيع د مشتری د قبضې نه د خيار په موده كښې هلاك شو.نو په دې صورت كښې به په مشتری باندې قيمت واجب وی.ثمن به واجب نه وی.ددې دواړو صورتونو په مينځمی صورت (يعنی د مشتری د خيار په صورت) كښې كه د خيار په موده كښې مبيع د مشتری د قبضې نه هلاك شو.نو په مشتری به ثمن واجب وی.اود بائع د خيار په صورت كښې كه د خيار په موده كښې د مشتری د قبضې نه مبيع هلاك شو.نو په ده به قيمت واجب وی.

وجه الفرق> وجه د فرق داده.چه مبيع هركله د مشتری په قبضه كښې عيب دار شو.اوخيارهم د مشتری دپاره وی.نو څنګه نې چه په مبيع باندې قبضه كړې وه.هم هغه شان د هغې واپس كول متعذر شو.او هركله چه د مشتری دپاره مبيع واپس كول متعذر شو.نو خيار باطل شو.او بيع لازم شوه.اود بيع لازم كيدلو په صورت كښې په مشتری باندې ثمن واجب وی. قيمت واجب نه وی.په دې وجه به دې صورت كښې په مشتری باندې ثمن واجب وی.هم دا حكم هغه وخت دې.چه كله مبيع د مشتري په قبضه كښې هلاك شي.ځكه د الله تعالى قانون دې.چه هركس د مرګ نه وړاندې بيماريږی. اګرچه ددې بيماری احساس نه وی.اود يوڅيز د هلاكيدلو نه وړاندې په دې كښې څه ناڅه عيب ضرور پيدا كيږی.نو هركله چه مبيع هلاك شو.نو ددې نه وړاندې به په دې كښې څه عيب ضرور پيدا شوې وی.او هركله چه عيب پيدا شو.نو په مشتری باندې ددې واپس كول متعذر شو.او هركله چه په مشتری باندې مبيع واپس كول متعذر شو.نود مشتری خيار باطل شو.او بيع لازم شوه.اود نافذ كولو په صورت كښې مشتری باندې ثمن واجبيږی.په دې وجه په دې صورت كښې هم مشتری باندې ثمن واجبيږی.قيمت نه

واجبیږی.

په موده د خیار کښې د ،،من له الخیار،، قبلول او ردول

وَمَنْ شُرِطَ لَهُ الْخِيَارُ د کوم کس دپاره د خیار شرط وی فَلَهُ أَنْ يَفْسَخَ فِي الْمُدَّةِ نوده ته اختیار دې.چه دې د خیار په موده کښې بیع فسخ کړی وَلَهُ أَنْ يُجِيزَهُ اوده ته د اجازت ورکولو هم اختیار دې. فَإِنْ أَجَازَهُ بِغَيْرِ حَضْرَةِ صَاحِبِهَا نوکه ده دخپل ملګری په غیر موجودګئ کښې اجازت ورکړو جَازَ نو جائز دی وَإِنْ فَسَخَ لَمْ يَجُزْ اوکه فسخ ئې کړه.نوجائز نه دی إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْآخَرُ حَاضِرًا مګر دا چه دویم کس موجود وی

حل اللغة > **يفسخ**: فسخ کوی **أجاز**: اجازت ورکړو، **حضرة**: موجودګی، **صاحب**: ملګرې

تشریح > **حکم فسخ من له الخیار** > په متن کښې د(حضرة)،،موجودکیدلو،،نه کنایة علم (پوهیدل)مراد دی.صورت د مسئلې دادې. چه کوم کس ته خیار حاصل وی.(که هغه بائع وی.اوکه مشتری وی) دخیار په موده کښې ده ته د بیع فسخ کولوهم اختیارشته.اود جائز کولو اختیار هم شته.نوکه ده د خپل ملګری د علم نه بغیر بیع جائز کړله.د کوم دپاره چه خیارنشته.نودا اجازت ورکول بالاتفاق صحیح دې.یعنی بیع به جائز اولازم وی.خوکه د خپل ملګری د علم نه بغیر ئې بیع فسخ کړله.نود طرفینو رحمهما الله په نیز دا بیع فسخ کول جائز نه دی.

دلیلهما > دطرفینو رحمهما الله دلیل دادې.چه د،، من له الخیار،، خپل اختیار لاندې بیع فسخ کول،د،،من لا له الخیار،، په حق کښې تصرف دی.او هغه حق عقدبیع دې.یعنی د کوم دپاره چه شرط خیارنشته.په هغې کښې عقد بیع لازم دې.او بیع فسخ کول دا حق ختمول،او باطلول دی.اودا د ضرر نه هم خالی نه دې.یعنی په فسخ کولوکښې د،،من لا له الخیار،، دپاره ضرردې.په دې طریقه چه خیار که د بائع دپاره وی.نو ډیر کرته دده ملګرې یعنی مشتری د بیع تمام کیدل،او نافذکولو باندې اعتماد کوی.او په مبیع کښې تصرف کوی.او ددې تصرف په نتیجه کښې مبیع هلاکیږی.نو په دې صورت کښې په مشتری باندې قیمت واجبیږی.او قیمت کله د ثمن نه زیات وی.او په مشتری باندې د ثمن نه زیات واجبول د مشتری په حق کښې ښکاره ضرر دې.او که خیار د مشتری دپاره وی.نو بائع د عقدبیع تمامیدلو باندې اعتماد کوی.اود خپل دې سامان دپاره بل څوك مشتری نه تلاش کوی.حالانکه کله هم چه دا موده د سامان د خرڅولو وی.نودا د بائع په حق کښې ضرر دې.بهرحال د،، من له الخیار،، د خپل ملګری د علم نه بغیر بیع فسخ کول،دده د ملګری په حق کښې ضرراود نقصان سبب دې. او داسې کار کول،چه په هغې کښې د بل نقصان وی.بغیر د هغه د علم نه جائز نه دې.په دې وجه د،، من له الخیار،، بیع فسخ کول،د،، من لا له الخیار،، په علم باندې موقوف دې.یعنی که پخپل اختیار سره ئې د بیع فسخ کولو اراده اوکړله.نو خپل ملګرې به خبروی.او بیع به فسخ کوی.چه دې د پیښیدونکی ضرر نه خپل ځان بچ کړی.او ددې مثال داسې دې.لکه مثلا وکیل معزول کول.یعنی که یوکس څوك سرې په اخستلو خرڅولو باندې وکیل کړی.بیا دې معزول کول اوغواړی.نود وکیل معزول کولو دپاره ضروری دی.چه موکل دې خبر کړی.ګنی ډیر کرته به موکل دې معزول کړی.حالانکه د معزول کیدلو د علم نه کیدلو په وجه به دې اخستل خرڅول کوی.نو په وکیل به هسې بیسه تاوان لازم شی.یعنی که وکیل بالشراء وی.نو ده له به ثمن ورکول ضروری وی.نو لکه څنګه چه د وکیل معزول کولو دپاره وکیل ته اطلاع ورکول ضروری دی.دغه شان د بیع فسخ کولو دپاره هم دویم ملګری، یعنی ،،من لا له الخیار،، خبرول هم ضروری دی.

مذهب ابي يوسف > په ذكر شوي صورت كښي امام ابويوسف رحمه الله فرماني.چه فسخ كول هم جائز دی.هم دا قول د امام شافعي، امام مالك،اود امام احمد رحمه الله دي. (۱)

دليله > دحضرت امام ابويوسف رحمه الله دليل دادي.چه ده ته خيارحاصل دي.ده ته د خپل ملكرى يعني د ،،من لا خيارله،، د طرفه د بيع فسخ كولو قدرت حاصل دي.او هرهغه كس چه ده ته د خپل ملكرى د طرفه قدرت حاصل وي.دده فعل دده د ملكرى په علم باندي موقوف نه وي.لكه ځنګه چه د ،، من له الخيار،،اجازت دده د ملكرى يعني د ،،من لاخيار له،،په علم باندي موقوف نه دي.نو هم دغه شان د،، من له الخيار،،فسخ كول هم دده د ملكرى په علم باندي موقوف نه دي.اود ،، من له الخيار،، فعل چونكه دده د ملكرى په علم باندي موقوف نه وي.په دي وجه په فسخ كښي د ،، من لا خيارله،، رضامندى شرط نه ده.اودا د وكيل بالبيع پشان شو.يعني كوم كس چه د بيع دپاره وكيل شو.دي په دي څيز كښي هرقسمه تصرف كولي شي.په كوم څيزكښي چه وكيل شوي وي.اګرچه مؤكل موجود نه وي.او ده ته علم نه وي.ځكه چه وكيل ته د مؤكل دطرفه پوره پوره قدرت حاصل دي.دغه شان ،، من له الخيار،، ته د ،، من لا خيارله،، د طرفه چونكه د بيع فسخ كولو،اود نافذ كولو قدرت حاصل دي.په دي وجه ده ته هم د ،، من لا خيارله،، خبرولو هيڅ ضرورت نشته.كه بيع نافذ كړى.او كه فسخ كړى.

الجواب عنه > دامام ابويوسف رحمه الله ددليل په جواب كښي صاحب دهدايه رحمه الله په هدايه كښي فرماني.چه د امام ابويوسف رحمه الله دا ونيل چه،،من له الخيار،، ته د بيع فسخ كولو قدرت د ،، من لا له الخيار،، د طرفه حاصل دي.غلط دى. ځكه چه،، من لا له الخيار،، دبيع فسخ كولو پخپله هم مالك نه دي.او سړي چه دكوم څيز پخپله مالك نه وى.هغه بل كس ددي ځنګه مالك جوړولي شي.نو ثابته شوه.چه ،، من له الخيار،، ته د،، من لا له الخيار،، دطرفه د فسخ وغيره كولو هيڅ قدرت حاصل شوي نه دي.

په وفات سره د ،،من له الخيار،، د خيار حكم

وَإِذَامَاتَ مَنْ لَهُ الْخِيَارُ فرماني.چه كله هغه كس مرشو.چا دپاره چه خيار شرط وو بَطَلَ خِيَارُهُ نو دده خيار باطل شو وَلَمْ يَنْتَقِلْ إِلَى وَرَثَتِهِ او دده وارثانو طرف ته نه منتقل كيږى.

حل اللغة > **مات**: مرشو، **ينتقل**: منتقل كيږى، **ورثة**: جمع د وارث ، **خيار**: اختيار

تشريح > **عدم انتقال الخيار الي الورثة** > زمونږ په نيز په خيارشرط كښي وراثت نه جارى كيږى.مثلاً كه هغه كس مرشو.د كوم كس دپاره چه خيار وو.نودده خيار باطل شو. وارثانو طرف ته نه منتقل كيږى.خياركه د بائع دپاره وى.او كه د مشترى دپاره وى.يا ددي دواړو نه د علاوه دپاره وي.اوكه دده ملګري يعني كه،، من لا له الخيار،،مرشو.نود ،، من له الخيار،، خيارشرط به باقي وى. (۲)

دليله > دليل دادي.چه خيار د مشيت او ارادي نوم دي.او دا دواړه عرض دى.اوكوم څيز چه د عرض د قبيلي څني وى.هغه انتقال نه قبلوى.حالانكه ميراث په هغه څيزونو كښي جارى كيږى.كوم چه انتقال

---

۱) القول الراجح هو هذا قول ابي يوسف رحمه الله كذا في فتح القدير(۵\۱۲۵) وردالمحتار(۴\۶۱) وتبيين (۴\۱۸) نقلاً عن القول الراجح (۲\۱۷)-

(۲ **مذهب الشافعي رحمه الله** > دامام شافعي رحمه الله په نيز په ذكر شوي صورت كښي وراثت جارى كيږى. يعني د،، من له الخيار ، د مرګ نه پس دده وراثانو طرف ته خيارمنتقل كيږى.اودوى په خيارعيب باندي قياس كړي دي. حضرت امام مالك رحمه الله هم ددي قائل دي.

قبلوی.نو ثابته شوه.چه په خیارکښې دننه میراث نه جاري کیږي.په خلاف د خیارعیب.

یو غلام د نان پز یا د کاتب په حیثیت سره اخستلونه پس
ددې په خلاف ختلوکښې د بیع حکم

وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا چا چې یو کس په دې شرط باندې غلام خرڅ کړو عَلَى أَنَّهُ خَبَّازٌ أَوْكَاتِبٌ چه دې نان پز یا خطاط دې فَوَجَدَهُ بِخِلَافِ ذٰلِكَ نو هغه یې د دې په خلاف بیا مونڊل فَالْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ نو مشتری ته اختیار دې.که غواړي.نودا دې د پوره ثمن په عوض واخلي وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُ اوکه غواړي.نو ترك دې کړي.

حل اللغة خباز: نانبائی ، **کاتب**،لیکونکې: **الثمن**: قیمت ، **الترک**: پریښودل

تشریح **حکم خلاف الوصف في العبد** صورت د مسئلې دادې.که یوکس یو غلام په دې شرط باندې واخستلو.چه دې د روټئ پخولو د فن نه خبردې.یا په کتابت باندې پوهیږي.خو معلومه شوه.چه نه خودې په روټئ پخولو پوهیږي.اونه دکتابت د فن نه خبر دې.نو مشتری ته به اختیار وی.که غلام اخستل غواړي.نو د پوره ثمن په عوض به ئې اخلي.اوکه رد کول ئې اوغواړي.نو بیع دې پریږدی.
دلیله دلیل دادې.چه د روټئ پخولو فن.او فن کتابت یو داسې وصف دې.چه دې طرف ته شوق کیږي.اوداسې وصف شرط لګول.چه هغې طرف ته شوق کیږي.دعقدبیع مناسب دی.په دې وجه د داسې مرغوب فیه وصف په فوت کیدلو سره مشتری دپاره اختیار ثابتیږي.ځکه چه ددې وصف نه بغیر مشتری په مبیع باندې راضی نه دې.خود مرغوب فیه وصف په فوت کیدلوسره عقد نه فاسدیږي.اوپه قیمت کښ به کمی هم نه کیږي ځکه چه دا وصف دې اود وصف په مقابله کښ قیمت نه وی.

بَابُ خِيَارِ الرُّؤْيَةِ

ترجمه (دا) باب د خیار رؤیت (په بیان کښې) دې.

تشریح **وجه تقدیم خیار العیب** چونکه خیار رؤیت د خیارعیب نه زیات قوی دې ځکه چه خیار رؤیت بیع مکمل کیدلو نه منع کوی.اود خیارعیب په صورت کښې بیع مکمل کیږي.خو حکم د بیع یعنی ملکیت نه لازمیږي. اومعلومه ده چه کوم څیز د بیع تمامیدلو نه مانع وی.دا د هغې نه اقوی وی.کوم چه دحکم د لزوم دپاره مانع وی.

دخیار رویت شرعی حیثیت

وَمَنِ اشْتَرَى مَا لَمْ يَرَهُ اوکه یوکس د کتلو نه بغیر څه څیز واخستلو فَالْبَيْعُ جَائِزٌ نو بیع جائز ده وَلَهُ الْخِيَارُ إِذَا رَآهُ اوکله چه دا اوګوری.نو دده دپاره خیار ثابت دې إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ که غواړي.نو دا دې واخلي (وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ اوکه غواړي.نو واپس دې کړي.

حل اللغة **اشترى**: واخستلو، **یر**: ویني

تشریح **جواز اشتراء ما لم یره** صورت دمسئلې دادې.که یوسړی د کتلو نه بغیرڅه څیز واخستلو.نودا بیع زمونږ په نیز جائز ده.خو مشتری چه کله دا څیز اوګوری.نوده ته به اختیار وی.که غواړي.نودا به د

پوره ثمن په عوض اخلي.اوکه غواړي.نو واپس دې کړي. (۱)

دلائله ① دليل دا حديث دې.(من اشترى شيئا لم يره فله الخيار اذا رآه) (۱) يعنى كه د كتلو نه بغير ني څه ځيز واخستلو.نود كتلو نه پس به مشترى ته خيارحاصل وى.داحديث په دې باب كښې چونكه نص دې.په دې وجه به د معارض نه بغير دا نشى پريخودلې.اودا حديث د ناليدلي مبيع د بيع په جواز باندې دلالت كوى.په دې وجه به زمونږ په نيز بيع جائز وى.اگرچه مبيع ني نه وى كتلې.

السوال دلته كښې يوسوال دې.هغه داچه د حكيم بن حزام ﷺ حديث (لاتبع ماليس عندك) د ذكر شوى حديث معارض دې.ځكه چه د (لاتبع ماليس عندك) نه مراد دادې.چه كوم ځيز تاسره موجود نه وى.يعنى مشترى دا نه وى كتلې.نودا مه خرڅوه.ددې حديث نه معلوميږى.كه مشترى مبيع نه وى كتلې.نو ددې خرڅول جائز نه دى.

الجواب ددې جواب دادې.چه دا حديث د غيرمملوكه ځيز د بيع په عدم جواز باندې دلالت كوى.د هغه ځيز د بيع په عدم جواز باندې دلالت نه كوى.كوم چه (د بائع مملوك وى خو) مشترى نه وى كتلې.او ددې مراد په تعين باندې قرينه پوره حديث دې. پوره حديث دادې.(أن حكيم بن حزام ﷺ قال يارسول الله ﷺ أن الرجل يطلب منى سلعة ليس عندى فأبيعها منه ثم أدخل السوق فاستجيدها فاشتريها فأسلمها إليه فقال ﷺ لاتبع ماليس عندك) يعنى ،،حكيم بن حزام ﷺ اووئيل.اې د الله رسوله ﷺ! يوكس مانه داسې سامان غواړى.كوم چه ماسره نه وى.نو آيا زه په ده خرڅ كړم.چه بيا بازارته داخل شم.اعلى سامان واخلم.او ده ته ئي حواله كړم.په دې باندې نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.كوم ځيز چه تاسره نه وى.ته هغه مه خرڅوه،،دې پوره واقعې نه معلوميږى.چه حكيم بن حزام ﷺ د داسې ځيز د خرڅولو په باره كښې تپوس كړې وو.كوم چه دده په ملك كښې نه وو.نود رسول الله ﷺ د طرفه جواب هم د سوال مطابق به د داسې ځيز په باره كښې وى.كوم چه د حكيم بن حزام ﷺ په ملك كښې نه وى. ددې خبرې متعين كولو نه پس دحكيم بن حزام حديث (لاتبع ماليس عندك) د ذكرشوى حديث (من اشترى شيئا لم يره) معارض نه جوړيږى.

② عقلى دليل دادې.چه مشترى چونكه د خپل اختيار لاندې بيع واپس كوى.په دې وجه د نه كتلو جهالت ،، مفضى الى المنازعه،، نه دې.اوكوم جهالت چه،، مفضى الى المنازعه،، نه وى.هغه مفسد د بيع نه وى.په دې وجه د مشترى مبيع په نه كتلوسره ببيع نه فاسديږى.اودا داسې ده.لكه مثلاً يوكس د غنمو يو ډيرې واخستلو.كوم چه د سترګو اوراندې دې.او مشاراليه دې.خودا معلومه نه ده.چه تول غنم څومره دى.نود غنمو مقدار اګرچه مجهول دې.خوچونكه دا جهالت،، مفضى الى المنازعه،، نه دې.په دې وجه به په دې صورت كښې بيع فاسد نه وى.دغه شان د ناليدلې ځيزبيع اګرچه د مجهول بيع ده.خو،، مفضى الى المنازعه،، نه كيدلو په وجه جائز ده.

د يوځيز صرف په ظاهرى شكل كتلوسره د خيار حكم

وَمَنْ نَظَرَ إِلَى وَجْهِ الصُّبْرَةِ، اوكوم كس چه يو ډيرې د بره نه (سرسرى) اوكتلو أَوْإِلَى ظَاهِرِ الثَّوْبِ مَطْوِيًّا يا ئي راغوند تهان د پاسنې حصې نه اوكتلو أَوْإِلَى وَجْهِ الْجَارِيَةِ أَوْإِلَى وَجْهِ الدَّابَّةِ يا ئي د وينځې مخ يا د

(۱ **مذهب الشافعي** :- حضرت امام شافعى فرمائيلى دى.چه په دې صورت كښې دسره بيع جائز نه ده.

۱) من حديث ابي هريرة ﷺ مسنداً اخرجه الدارقطنى فى سننه (۴/۳) رقم ۱۰ـ

خاروي مخ او پتونان لنده (كوناتي) اوكتل وَكَفَلِهَا فَلَا خِيَارَ لَهُ نو دده دپاره به خيار رؤيت نه وي.

حل اللغة ﴿ **وجه**: مخ\پورته ارخ ، **مطوي**: راغونډه شوي ، **جارية**: وينځه، **الدابة**: خاروي

تشريح ﴿ **حكم النظر الي ظاهر بعض الاشياء** ﴾ دخيار رؤيت اثبات اود اسقاط په سلسله كښې قاعده داده. كه مبيع شئ واحد دي. نود خيار رؤيت ساقطولو دپاره د پوره مبيع كتل شرط نه دى.

دليله ﴿ خكه چه ډير كرته د پوره مبيع كتل ناممكن وى.لكه مبيع كه غلام يا وينځه وى.نو ددوي پوره بدن كتلو دپاره ددوى شرمګاهونه او ددوى ستر عورت كتل هم ضرورى وى.حالانكه دا شرعاً حرام دى.نو ثابته شوه.چه د پوره مبيع كتل متعذر دى.دغه شان راټول شوى او راغونډ تان كولاوولو سره بائع ته ضرر وى.چه د پوره تان تهي به كلاؤ شي.او ټول تان به خراب شي.دغه شان د ډيرى هره دانه كتل متعذر دى.نو هركله چه د پوره مبيع كتل متعذر دى.نود بيع دومره خيز كتل به كافى وى.چه په دي سره د مقصود علم حاصل شي.

د كور صحن، يا د بهرنه كتل،يا د بهر نه په باغ كتلو سره د خياررويت حكم

وَإِنْ رَأَى صَحْنَ الدَّارِ فَلَا خِيَارَ لَهُ اوكه د كور صحن ني اوكتلو.نود مشترى دپاره خيار رؤيت پاتې نشو وَإِنْ لَمْ يُشَاهِدْ بُيُوتَهَا كرچه ددې كمرې ني نه وى كتلې

تشريح ﴿ **حكم روية صحن الدار** ﴾ صورت د مسئلې دادې.كه يوسړى د كورصحن اوكتلو.خو ددې كوټې ني اونه كتلې.يا كور ني د بهر نه اوكتلو.يا ني د باغ ونې د بهرنه اوكتلې.او بيا ني واخستلو.نود مشترى دپاره به خيار رؤيت نه وى.

دليله ﴿ خكه چه د مكان يا باغ هرهر جزء كتل متعذر دى.په دې وجه د مقصود رؤيت د كُل قائم مقام كرځى.او خيار رؤيت ساقطيږى.

مذهب زفررحمه الله ﴿ حضرت امام زفر رحمه الله فرمائى.چه د كور اخستلو په صورت كښې د خيار رؤيت ساقطولو دپاره په ټولو كمرو او كوټو كښې داخليدل ضرورى دى.[1]

علامه مرغيناني رحمه الله فرمائيلى دى. صحيح خبره داده.چه په قدورى كښې كوم حكم ذكر دې.دا د عمارتو(كورونو) په سلسله كښې د كوفي اود بغداد د خلقو د عادت مطابق وركړې شوې دې.خكه چه په هغه زمانه كښې د هغوى كورونه متفاوت نه وو.لكه څنګه به چه د بهرطرف نه وو.هم هغه شان به دننه هم وو.

خو نن صبا چه كوم كورونه جوړولي شي.ددې د بهر او دننه په حصه كښې د ماليت په اعتبار سره ډير لوې تفاوت وى.په دې وجه د بهر حصه كتلو سره د دننه طرف علم نه كيږى.او هركله چه د بهر حصه په كتلوسره د دننه طرف علم نه كيږى.نو په كمروكښې دننه داخليدل،او هره كمره به كتل ضرورى وى. حاصل داچه نن صبا د امام زفر رحمه الله په قول باندې فتوى ده.

د نابينا دپاره د خيار رويت طريقه

وَبَيْعُ الْأَعْمٰى وَشِرَاؤُهُ جَائِزٌ اود نابينا (روند) اخستل خرخول جائز دى

---

[1] القول الراجح هو هذا قول زفر رحمه الله كذا في الدرالمختار(٤\٧٤) وفتح القدير(٥\٥٣٨) و درالمنتقى (٢\٣٧) والدرالمختار (٤\٧٤) وردالمحتار(٤\٧٤) نقلاً عن القول الراجح (٢\٢٢)-

تشریح> جواز بیع الاعمی> امام قدوری رحمه الله فرمائی.چه د نابینا (روند) اخستل خرڅول جائز دی.او که روند مشتري وی.نو دده دپاره خیار رؤیت هم ثابت دې.(۱)

دلیله> ځکه چه ده داسې څیز اخستي دې.چه ده نه دې لیدلې.او مونږه وراندې ثابت کړی دی.چه د کتلو نه بغیر څه څیز اخستل جائز دی.او دده دپاره خیار رؤیت ثابت وی.او روند سړي د هغه بینا سړی پشان دې.کوم چه د کتلو نه بغیر څه څیز واخلی.نو ددې نابینا د کتلو نه بغیر څه څیز اخستل.او دده دپاره خیار رؤیت ثابتیدل جائز دی.لکه څنګه چه د بینا په حق کښې جائز دی.

وَيَسْقُطُ خِيَارُهُ بِأَنْ يَجُسَّ الْمَبِيعَ بیا د روند خیار رؤیت د مبیع په لاس سره معلومولو سره ساقطیږی إِذَا كَانَ يُعْرَفُ بِالْجَسِّ، چه کله دا دلاس په معلومولو سره پیژندلې شی أَوْيَشُمَّهُ او یا په بویولو سره ساقطیږی إِذَا كَانَ يُعْرَفُ بِالشَّمِّ،چه په بویولو سره پیژندلې شی أَوْيَذُوقَهُاو یا په څکلو سره ساقطیږی إِذَا كَانَ يُعْرَفُ بِالذَّوْقِچه کله په څکلو سره پیژندلې شی

حل اللغة> حس: محسوسیدل ، **الشم:** بویول ، **ذوق:** څکل

تشریح> سقوط خیار الاعمی> پاتې شوه داخبره چه د نابینا خیار رؤیت به کله ساقطیږی.نو ددې حکم دادې.چه مبیع که داسې څیز وی.کوم چه د لاس په معلومولو سره پیژندلې شی.نو د مبیع په لاس سره معلومولو باندې د نابینا خیار رؤیت ساقطیږی.اوکه مبیع په بوئی کولو سره پیژندلې شی.نو په بویولو سره دده خیار رؤیت ساقطیږی.او که په څکلو سره پیژندلې شی.نو په څکلوسره دده خیار رؤیت ساقطیږی.لکه څنګه چه په دې څیزونو کښې د بینا هم دا حکم دې.

وَلَايَسْقُطُ خِيَارُهُ فِي الْعَقَارِاود غیر منقوله جائیداد اخستلو په صورت کښې دده خیار نه ساقطیږی حَتّٰى يُوصَفَ لَهُ (۲)تردې چې صفت بیان کړې شی ده ته

حل اللغة> العقار: زمکه، **الروية:** لیدل

تشریح> متی یسقط فی العقار خیار الاعمی> اوکه نابینا سړی څه غیرمنقوله جائیداد واخستلو.مثلاً ونه ئې واخستله.یا ئې کور واخستلو.یا ئې زمکه واخستله.نو دده خیار رؤیت به نه ساقطیږی.چه تر کوم وخته پورې په بنه شان ټول وصف بیان نکړې شی.

دلیله> ځکه چه وصف بیانول د رؤیت قائم مقام وی.لکه څنګه چه په بیع سلم کښې،مسلم فیه اګرچه معدوم وی.خود وصف بیانول،د مسلم فیه قائم مقام وی.نو لکه څنګه چه په بیع سلم کښې د مسلم فیه اوصاف بیانول د مسلم فیه قائم مقام ګرځولې شوی دی.دغه شان د نابینا په حق کښې هم د مبیع اوصاف بیانول د رؤیت قائم مقام منلی شوی دی.اود مبیع د رؤیت نه پس په بیع باندې راضی کیدلو سره چونکه خیار رؤیت ساقطیږی.په دې وجه که نابینا ته د مبیع اوصاف بیان کړې شو.اودې په دې باندې راضی شو.نو دده خیار رؤیت ساقطیږی.

(۱ **مذهب الشافعي رحمه الله>** حضرت امام شافعي رحمه الله فرمائی.که یوسړې د وړاندې نه بینا وو.او روسته نابینا شو.نو دده اخستل خرڅول خو بلا شبه جائز دی.خو که څوك مادرزاد(پیدائشی) نابینا وی.نو دده اخستل خرڅول بالکل جائز نه دی.

۲) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في العناية (۵\۴۲۵) والخانية (۲\۳۶۵) نقلاً عن القول الراجح (۲\۲۴)-

مذهب ابي يوسف د حضرت امام ابويوسف روايت دادې.چه كله نابينا په داسې خائې كښې ولاړ وى.چه كه دې بينا وو.نو مبيع به ئې كتلې وو.نو په داسې خائې كښې كه اودريدلو،او نابينا خپله رضامندى ښكاره كړله.نو دده خيار روئيت به ساقط وى.اګرچه د مبيع اوصاف ذكر نكړې شو.

دليله دليل دا دې چه د عجز په صورت كښې تشبيه، د حقيقت قائم مقام وى.لكه څنګه چه په مانځه كښې د ګونګى په حق كښې شونډې رقول د قرات قائم مقام وى.او په حج كښې په سر باندې پترې (بليډ) راښكل د حلق (سرخرئيلو) قائم مقام دى.دغه شان د نابينا په داسې خائې كښې اودريدل، چه هغه خائې نه بينا سړى ته مبيع په نظر راتللې شى.دده د كتلو قائم مقام دى.

وَمَنْ بَاعَ مِلْكَ غَيْرِهٖ او چا چې خرڅ كړل ملك د بل چا بِغَيْرِ أَمْرِهٖ بغير د هغه د اجازت نه

تشريح صورت د مسئلې دا دې چې زيد د عمرو يو څيز مثلاً كتاب د هغه د جازت نه بغير خرڅ كړل نو دا بيع جائز ده

دليله څكه چې دلته بائع عاقل بالغ دې او خرڅول ئې هم د خپل ځان دپاره نه دى كړى بلكه د مالک دپاره يې كړى دى.

فَالْمَالِكُ بِالْخِيَارِ نو مالک ته اختيار دې إِنْ شَاءَ أَجَازَ الْبَيْعَ كه غواړى نو بيع دې جائز كړى وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ او كه غواړى نو بيع دې ختمه كړى

تشريح البته په مذكوره صورت كښې مالک ته اختيار دې كه غواړى بيع دې نافذه كړى او كه غواړى نو بيع دې فسخ كړى.دې بيعې ته بيع د فضولى وائى يعنى بيع د داسې كس چې مالک نه وى.

دليله په بخارى كښې دى چې نبى كريم ﷺ عروه ته يو دينار وركړو چې په دې باندې يوه چيلئ واخله هغه چې بازار ته لاړل نو په يو دينار ئې دوه چيلئ واخستې او بيا ئې د هغې دوو نه يوه په يو دينار باندې خرڅه كړه اوبيا نبى كريم ﷺ ته راغلو يوه چيلئ ئې ورته پيش كړه اوچې كوم دينار ئې ترې اورې وو هغه ئې ورته هم واپس وركړو.نبى كريم ﷺ د دوى د دې هوښيارتيا نه متاثره شو او ده ته ئې د بركت دعا اوكړه.

الاستدلال د دې حديث نه معلومه شوه چې بيع د فضولى صحيح ده څكه چې عروه د نبى كريم ﷺ د اجازت نه بغير خرڅول او اخستل اوكړو.اودا ترې هم معلومه شوه چې نبى كريم ﷺ پرې څه انكار اونكړو بلكه دعا ئې ورته اوكړه چې د مالک په اجازت سره بيع منعقده كيږى.

وَلَهُ الْإِجَازَةُ إِذَا كَانَ الْمَعْقُوْدُ عَلَيْهِ بَاقِيًا او دې مالک سره د اجازت اختيار شته كه معقود عليه موجود وى

تشريح صاحب د قدورى فرمائى چې مالک ته د بيع نافذ كولو اوفسخ كولو اجازت ترهغه وخته پورې دې چې معقود عليه موجود وى.

دليله څكه كه معقود عليه چې مبيع ده هغه ختمه شوې وى نو بيا اجازت څه معنى نه لرى؟

وَالْمُتَعَاقِدَانِ بِحَالِهِمَا او دواړه متعاقدين په خپل حالت باندې دى

تشريح دغه شان دا هم ضرورى ده چې په معاقدينو كښې هريو كس د بيع اهل وى كه يو په كښې هم د بيع اهل پاتې نشو.نوبيا د بيع د نفاذ او فسخ څه ضرورت نشته..

دلیله ﴿ دلیل که بالفرض بائع یا مشتری که یو کس مړ شو نو د اجازت نه پس که مشتری مړ وی نو قبول د بیع به څوک کوی او که بائع مړ وی نو ایجاب د بیعې به څوک کوی. یا که لیوني شو نو هم دا حکم دي چې اجازت ئې نه صحیح کیږی.

د یوې کیږې په کتلو سره د دویمې کیږې په اخستلوکښې د رویت حکم

وَمَنْ رَأَى أَحَدَ الثَّوْبَيْنِ اوچا چه په دوه تهانونوکښې یو(تهان) اوکتلو **فَاشْتَرَاهُمَا** او دواړه ئې واخستل. **ثُمَّ رَأَى الْآخَرَ** بیا ده دویم اوکتلو **جَازَلَهُ أَنْ يَرُدَّهُمَا** نوده ته دواړو تهانونو واپس کولو اختیار دي.

حل اللغة ﴿ **ثوبین** :تثنیه د ثوب،جامه، **اشترا** : واخستې ، **روية** :لیدل

تشریح ﴿ **حکم روية احد الثوبين:** ﴿ صورت د مسئلې دادې.که یوکس په دوه تانوو کښې یو تان اوکتلو.او دواړه ئې واخستل.بیا ئې دویم تان اوکتلو.نو مشتری ته بـه د خیـار رویت لاندې د دواړو تانونو واپس کولو اختیار حاصل وی.

دلیله ﴿ دلیل دادې.چه وړاندې تیرشوی دی.چه په متفاوت الآحاد څیزونوکښې د یوڅیز کتـل،د ټولو دپاره کافي نه وی.بلکه د هر یوجدا جدا کتل ضروری دی.نو ددې اصولو په رڼاکښې د یوتان په کتلو سره د دویم تان کتل نشی شمارلې.ځکه چه په کپړوکښې د مالیت په اعتبارسره ډیر تفاوت وی.په دې وجه مشتری چه کوم تان نه دې کتلې.په هغې کښې به خیار رویت حاصل وی.

په مرګ سره د خیار رویت باطلیدل

وَمَنْ مَاتَ وَلَهُ خِيَارُ الرُّؤْيَةِ او(که) هغه کس مړشو.دچا دپاره چه خیار رویت وو **بَطَلَ خِيَارُهُ** نو دده خیار رویت باطل شو

تشریح ﴿ **بطلان خیار الرؤية بالموت** ﴿ په خیارکښې د وراثت جاری کیدلو،اود نه جاری کیدلو په سلسله کښې دخیار شرط لاندې تفصیلی بحث تیرشوې دې.هلته کښې ئې اوګورئ.

د کتلو نه څه موده پس اخستلوکښې د رویت حکم

وَمَنْ رَأَى شَيْئًا اوچا چه څه څیز اوکتلو **ثُمَّ اشْتَرَاهُ بَعْدَ مُدَّةٍ** بیا څه موده پس ئې دا واخستلو **فَإِنْ كَانَ عَلَى الصِّفَةِ الَّتِي رَآهُ** نوکه دا هم په هغه صفت وو.په کوم ئې چه دا کتلې وو **فَلَا خِيَارَ لَهُ** نو دده دپاره خیار نشته. **حل اللغة** ﴿ **مدة** :موده ، **الصفة** :حالت

تشریح ﴿ **اشتراء شئ بعد روية سابقة** ﴿ صورت د مسئلې دادې.چه یوسړی یوڅیز اوکتلو.بیا ئې د یوې مودې نه پس دا واخستلو.اوس که دا څیز په هم هغـه صفت باندې وی.په کوم صفت سره ئې چه کتلې وو.نود مشتری دپاره به خیار رویت حاصل نه وی.

دلیله ﴿ دلیل دا دې چه په تیر شوی رویت سره مشتری تـه د مبیـع د اوصـافو علم حاصـل دې.اوخیار رویت هم هغه وخت ثابتیږی.چه کله مشتری ته د مبیع د اوصافو علم نه وی.نو هرکله چه مشتری ته په تیرشوی رویت سره د مبیع د اوصافو علم اوشو.نو اوس به ده ته خیاررویت حاصل نه وی.حاصـل داچه د مبیع د اوصافو علم،اود ثبوت خیار په مینځ کښې منافات دې.اود احد المتنافیین په ثابتیدلو سره آخر منتفی کیږی.په دې وجه په تیر شوی رویت سره د مبیع په اوصافو باندې د علم د ثبوت په صورت کښې آخر یعنی ثبوت خیار منتفی کیږی.خو که مشتری ته دا علم نه وی.چه داڅیز هم هغه دې.کوم چه

ما کتلي وو.نو په دې صورت کښې به مشتری ته خیار رؤیت حاصل وی.ځکه چه په دې ځیز باندې دده رضامندی اونه موندې شوه.اود رضامندئ فوت کیدلو په صورت کښې خیارحاصلیږی.په دې وجه به په دې صورت کښې مشتری ته خیار رؤیت حاصل وی.

وَإِنْ وَجَدَهُ مُتَغَيِّرًا او که مشتری دا بدل اوموندلو فَلَهُ الْخِيَارُ نو دده دپاره خیار دې

حل اللغة ﴿ **متغير**: بدل شوې . **أوصاف** : صفتونه

تشریح ﴿ **وجودالخيار عند تغير** ﴾ او که مشتری مبیع د تیرشوی صفاتو نه مختلف بیا موندلو.نو مشتری ته به خیار رؤیت حاصل وی.

دلیله ﴾ ځکه چه تیرشوې رؤیت د مبیع د موجوده اوصافو د علم ذریعه نه وه جوړه شوې اونه وه واقع شوې.نودا داسې شوه.لکه چه مشتری دا دسره لیدلې نه وی.ګنی د کتلو نه پس د اخستلو په صورت کښې مشتری ته خیاررؤیت حاصل وی.

بَابُ خِيَارِ الْعَيْبِ

ترجمه ﴾ (دا) باب د خیار عیب (په بیان کښې) دې.

تشریح ﴾ **وجه تاخيرهذا الباب عن الباب السابق** ﴾ په خیار رؤیت او خیارشرط کښې عقد نه تمامیږی بلکه رؤیت او شرط د صفقه د تمامیدو نه مانع دی نو دا مانعیت زیات قوی دی او په خیارعیب کښې یوځل صفقه پوره شوې وی خو د دعیب په وجه د لزوم صفقه نه مانع وی اوددې مانعیت کمزورې دې.نو ددې وجه خیارعیب دخیاررؤیت او خیار شرط نه اضعف شو او قانون دا دې چه اقوی د اضعف نه وړاندې وی ځکه د خیاررؤیت او خیارشرط بیان وړاندې اوشو او وروسته اوس د خیارعیب بیان کیږی.

وجه إضافة الخيارإلي العيب ﴾ په خیارعیب کښې د خیاراضافت،عیب طرف ته د، ،اضافة الشئ الی السبب، ،د قبیلې ځنې دې.ځکه چه په خیارعیب کښې،عیب د خیار حاصلولو سبب دې.عیب هغه ته وائی.چه د هغې نه د شی اصل فطرت سلیمه خالی وی.او ددې په وجه هغه ځیز ناقص شمارلې شی.

مشتری ته د عیب ښکاره کیدلو نه پس د بیع حکم

إِذَا اطَّلَعَ الْمُشْتَرِي عَلَى عَيْبٍ فِي الْمَبِيعِ که مشتری په مبیع کښې په څه عیب باندې خبرشو) فَهُوَ بِالْخِيَارِ نو دده ته اختیار دې إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ ،که غواړی.نو مبیع دې د پوره ثمن په عوض واخلی وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ او که غواړی.نو واپس دې کړی.

حل اللغة ﴾ **اطلاع** ﴾ خبریدل ، **المشترى**: اخستونکې، **الأخذ**: اخستل ، **جميع** : تول

تشریح ﴾ **اطلاع المشترى علي عيب** ﴾ صورت د مسئلې دادې.که مشتری په مبیع کښې په څه عیب باندې خبرشو.نو مشتری ته اختیار دې.که زړه ئې غواړی.نود پوره ثمن په عوض دې واخلی.او که زړه ئې غواړی.نو مبیع دې واپس کړی.

دلیله ﴾ دلیل دادې.چه مطلق عقد تقاضاکوی.چه معقودعلیه او بیع د عیبونو نه صحیح سالم وی.یعنی د مطلق عقد تقاضا داده.چه بیع د عیبونونه صحیح سالم وی.لکه څنګه چه د رسول ﷺ حدیث ددې شاهد دې.ارشاد دې.چه دأن رسول الله ﷺ إشترى من عداء بن خالد بن هوذة عبدا او كتب لى عهدته هذا ما إشترى

محمد رسول الله ﷺ من عداء بن خالد بن هوذة عبداً الأداء ولا غائلة ولا خبثة بيع المسلم من المسلم) په حديث کښي د داء نه مراد هغه بيماري ده.کومه چه په خيټه يا زړه وغيره کښي وي.اود غائله نه مراد هغه عيبونه دي.کوم چه د افعالو د قبيلې څخه وي.لکه د غلام بهګوړه کيدل (يعنی تختيدل)،غل کيدل،اود خبثة نه مراد په غلام کښې د بل کس استحقاق ښکاره کيدل دي.او بعضو ونيلي دي.چه د خبثة نه جنون مراد دې.اوس به د حديث ترجمه دا وي.چه ،، رسول الله ﷺ د عداء بن خالد بن هوذة ﷺ نه يو غلام واخستلو.او يو تحرير ئې اوليکلو.چه محمدرسول الله ﷺ د خالدبن هوذه ﷺ نه کوم غلام واخستلو.چه په دې کښې نه څه جسماني بيماري وي.او نه څه باطني عيب وي.او نه دده بل څوک مستحق وي.(دا) د مسلمان بيع مسلمان سره ده،، ددې حديث نه هم معلوميږي.چه عقد د بيع د بيع د سلامتيا تقاضا کوي.اود عيب موجود کيدلو په صورت کښې سلامت وصف فوت کيږي.نود سلامت وصف د فوت کيدلو په وجه مشتري ته اختيار حاصل وي.چه مشتري په دې ضرر کښې مبتلا نشي.په کوم چه دې راضي نه دې.حالانکه رضامندي په حقيقت د بيع کښې داخل ده.نود رضامندئ د فوت کيدلو په وجه ده ته اختيار حاصل وي.

وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُمْسِكَهُ اود مشتري دپاره دا جائز نه دی.چه مبيع خان سره اوساتی وَيَأْخُذَ النُّقْصَانَ او(د بائع نه) دنقصان په اندازه واخلی

حل اللغة﴿ الإمساك : ايساريدل

تشريح﴿ عدم جواز اخذ النقصان﴾ اومشتری ته به دا اختيار نه وی.چه دې عيب داره مبيع خان سره اوساتی.اود بائع نه د ثمن هغه مقدار واپس واخلي.کوم چه د عيب په وجه کم شوي دي.مثلاً هغه مبيع چه عيب داره نه وی.د هغې قيمت زر روپۍ دي.اود عيب داره قيمت اته سوه روپۍ دي.نو دوه سوه روپو ته به د نقصان مقدار ونيلي شي.

دلائله﴿ ① دليل دادې.چه دعيب په وجه د بيع وصف فوت کيدل اوبه عقد محض کښې د اوصافو په مقابله کښې د ثمن هيڅ حصه نه راځی.او هرکله چه د اوصافو په مقابله کښې ثمن نه راځی.نود اوصافو په کميدلو سره د ثمن هيڅ حصه نه راځی.او هرکله چه د اوصافو په مقابله کښې ثمن نه راځي.نود اوصافو په کميدلو سره به ثمن نه کميږي.په دې وجه ونيلي شوی دی.چه مشتری به عيب دار مبيع خان سره ساتی.اوده ته به دا اختيار نه وی.چه د ثمن نه د نقصان مقدار واپس واخلی.

② دويم دليل دا دې چه بائع د مقررشوی ثمن نه د کم په عوض باندې په دې نه راضی کيږي. چه مبيع د خپل ملك نه اوباسی.نو که مشتری مبيع خپل خان سره اوساتلو.اود بائع نه ئې د نقصان مقدار واپس واخستلو.نود ثمن د مقرر مقدار نه د کم عوض ورکول لازميږي.او په دې کښې ښکاره د بائع ضرر دې.نود بائع ددې ضرر نه د بچ کيدلو دپاره مشتری ته عيب داره مبيع د خان سره د ساتلو،اود نقصان مقدار اختيار ورنکړې شو.پاتې شو دا سوال چه د عيب داره مبيع د پوره ثمن په عوض اخستلوکښې دمشتري نقصان دې. نو ددې جواب دادې.چه بائع ته د ضرر رسولو نه بغير مشتری له د ضرر لرې کول ممکن دی.په دې طريقه چه مشتري عيب داره مبيع بائع ته واپس کړی.او خپل پوره ثمن واپس واخلی. په دې صورت کښې به مشتری ته هم نقصان اونه رسی.او بائع به هم د ضرر نه بچ شی.

المراد من العيب﴿ علامه مرغيناني ﷫ فرمائيلي دی .چه د خيارعيب ثابتيدلو دپاره شرط دادې.چه عيب د بائع په قبضه کښې پيدا شوي دې.اومشتری نه دا د عقدبيع په وخت کتلې وو.اونه ئې د قبضه

په وخت کښلې وو.څکه که کتلې ني وو.او قبضه ني کړې وي.نودا به په دې عيب باندې رضامندي وي.اودرضامندي ښکاره کيدلونه پس خيارعيب باقي نه پاتې کيږي.

د عيب تعريف

وَكُلُّ مَا أَوْجَبَ نُقْصَانَ الثَّمَنِ فِي عَادَةِ التُّجَّارِ قدوري رحمه الله فرمائي.اوهر هغه څيز کوم چه د سوداګرو په عادت کښې د ثمن دنقصان سبب وي فَهُوَعَيْبٌ هغه عيب دې.

حل اللغة عادة: عرف ، أوجب: پيدا کوي ، التجار: جمع دتاجر،سوداګر، عيب: نقص

تشريح تعريف العيب د کومو عيبونو په وجه چه مشتري ته خيار عيب حاصل وي.ابو الحسن قدوري رحمه الله د هغې په باره کښې يوه قاعده ذکرکړې ده.قاعده داده.چه د سوداګرو په عادت کښې چه کوم څيز په ثمن کښې نقصان پيدا کوي.هغه عيب شمارلې شي.

دليله-دليل دا دې چه سړي ته د شي په ماليت کمولو سره ضرر رسيږي.نو ثابته شوه.چه ضرر د شي دقيمت په کميدلوسره لاحق کيږي.او په کوم څيز سره چه ضرر لاحق کيږي.هغه عيب دې.په دې وجه چه کوم څيز د شي د ثمن اوقيمت د نقصان سبب وي.هغه عيب دې.خو ددې معلومات د تاجرانو عادت او ددوي په عرف سره کيږي.

د غلام اود صغير بعض عيبونه

وَالْإِبَاقُ اود غلام تختيدل (بهګوره کيدل وَالْبَوْلُ فِي الْفِرَاشِ او په بستره باندې متيازې کول وَالسَّرِقَةُ فِي الصَّغِيرِعَيْبٌ او غلاکول په ماشوموالي کښې عيب دې مَالَمْ يَبْلُغْ،ترڅو چه بالغ نه شي فَإِذَا بَلَغَ بيا چه کله بالغ شي فَلَيْسَ ذَلِكَ بِعَيْبٍ،نودا عيب نه دې حَتَّى يُعَاوِدَهُ بَعْدَ الْبُلُوغِ تردې چه د بالغ کيدلو نه پس داسې دوباره اوکړي.

حل اللغة الإباق: دغلام تختيدل ، الفراش، بستره: السرقة: غلا ، الصغر: ماشومتوب، يبلغ: بلوغ ته رسي، عيب: نقصان، يعاود: دوباره کيدل، بعد: پس

تشريح المراد من الاباق د غلام بهګوره کيدل (تختيدل).اباق،د سفر په موده هم عيب دې.اود سفر د مودې نه کم هم عيب دې.څکه چه د اباق په وجه د مولا منافع فوت کيږي.او په دې کښې چونکه د سفر موده اود سفر نه کمه موده دواړه برابردي.په دې وجه به په دواړه صورتونوکښې اباق عيب شمارلې شي.

المراد من السرقة غلا کول.که لس درهمه وي.او که د لسو درهمو نه کم وي.په دواړه صورتونوکښې عيب دې.که غلا د مولا وي.او که د مولا نه د علاوه وي.دواړو صورتونو کښې عيب دې.خو که د خوراک څه څيز ني خورلو دپاره د مولا د ملك نه اخستې وي.نودا سرقه به عيب نه وي.او که د مولا نه د علاوه د ملك نه ني اخستې وي.نودا به عيب شمارلې شي.اوکه د مولا د ملك نه يو څيز دخرڅولو دپاره خرڅ کړي.نودا هم عيب شمارلې شي.

المراد من بول الصبي علي الفراش د ماشوم په بستره باندې واړه بول (وروکي اودس ماتې) کول، عيب شمارلې شي.چه کله ماشوم دومره سمجداره(پوهه) وي.چه دې خانله خوراك څکاك کولې شي.او که دومره سمجداره نه وي.نو دده په بستره باندې واړه بول کول عيب نشي شمارلې.د صاحب د کفايه رحمه الله په مطابق پنځه کاله يا ددې نه د زيات عمر ماشوم په بستره باندې وروکي اودس ماتې کول عيب دې.اوددې نه د کم عمر ماشوم په بستره باندې وروکي اودس ماتې کول عيب نه دې.

صورة المسئله چه په ماشوموالي کښې د يوغلام تختيدل، يا په بستره باندې متيازې کول، يا غلا کول، د بالغ کيدلو نه وړاندې عيب دې. د بالغ کيدلو نه پس دا ځيزونه عيب نه شماريږي. خوکه د بالغ کيدلو نه پس هم ددې ځيزونه اعاده اوشوه. نود بالغ کيدلو نه پس به هم عيب شمارلې شي. **تفصيل** ددې دادې چه غلام په ماشوم والي کښې خپل مولا سره په ذکرشوي ځيزونوکښې د کوم يوځيز ارتکاب (جرم) اوکړلو. بيا د بالغ کيدو نه پس ئې هم مولا سره ددې ځيز ارتکاب اوکړلو. بيا مولا دا غلام خرڅ کړلو. نو که غلام مشتري سره هم ددې ځيز اعاده اوکړله. نومشتري ته به ددې عيب په وجه د غلام واپس کولواختيار وي. اوکه مشتري سره غلام ددې عيب اعاده اونکړله. نو مشتري ته به د غلام واپس کولو اختيار نه وي. د قدوري عبارت (حتى يعاوده بعد البلوغ) هم دا مطلب دې. کوم چه خادم بيان کړلو.

التشريح الاضافي ددې مسئلې په نور وضاحت کښې صاحب دهدايه رحمه الله فرمانيلي دي. که په ذکر شوي عيبونوکښې کوم عيب په ماشوموالي کښې بائع سره ښکاره شو. بيا هم په ماشوموالي کښې دا عيب مشتري سره ښکاره شو. نو مشتري ته د خپل خيارعيب لاندې ددې غلام واپس کولو اختيار شته. ځکه کوم عيب چه مشتري سره ښکاره شوې دې. دا هم هغه عيب دې. کوم چه بائع سره ښکاره شوې وو. اوکه عيب بائع سره د غلام په ماشوموالي کښې پيدا شو. او بائع په ماشوموالي کښې دا غلام خرڅ کړلو. خو مشتري سره ددې عيب اعاده د بالغ کيدلو نه پس اوشوه. نو مشتري ته به خيارعيب حاصل نه وي. او ددې غلام واپس کولو اختيار به نه وي. ځکه چه د غلام بالغ کيدلو نه پس کوم عيب مشتري سره ښکاره شوې دې. دا د هغه عيب نه علاوه دې. کوم چه په ماشوموالي کښې بائع سره ښکاره شوې وو. اوکه مشتري سره په مبيع کښې څه نوې عيب پيدا شي. نو ددې په وجه مشتري ته خيارعيب نه حاصليږي. په دې وجه په دې صورت کښې مشتري ته د غلام واپس کولو اختيار نشته.

الفرق بين عيب السرقة قبل البلوغ وبعده صاحب دهدايه رحمه الله فرمانيلي دي. چه د بالغ کيدلو نه پس ښکاره شوې عيب، د ماشوموالي د عيب نه بدل ځکه دې. چه د ذکرشوي عيبونو سببونه د ماشوموالي اود بالغ کيدلو په وجه مختلف دي. چه په ماشوموالي کښې په بستره باندې متيازې کول د مثانه د کمزورئ په وجه کيږي. اود بالغ کيدلو نه پس ددې سبب څه بله اندروني بيماري وي.

اودغه شان د غلام په ماشوموالي کښې تختيدل، د لوبو سره د مينې په وجه وي. اود غلا سبب بې پرواهي اوناپوهي وي. خود بالغ کيدلو نه پس ددې سبب باطني خباثت دې.

المراد من الصغر علامه مرغيناني رحمه الله فرمانيلي دي. چه په متن کښې د صغير نه مراد پوهې ماشوم دې. ګني بالکل ناپوهه ماشوم که چرته لاړشي. نو ده ته بې لارې (نافرمانه) ونيلې شي. خوتختيدلې نشي ونيلې. او بې لاره کيدل عيب نه وي. په دې وجه ده باندې د اباق حکم نه جارې کيږي.

په وينځه يا غلام کښې د ترخ يا د خولې بدبوئي

وَالْبَخَرُ وَالدَّفْرُ عَيْبٌ فِي الْجَارِيَةِ فرمائي. او په وينځه کښې د خولې بدبوئي اود ترخ بدبوئي عيب دې

حل اللغة **البخر**: د خولې بدبوئي. **الدفر**: د ترخ بدبوئي

تشريح **حکم البخر والدفر في الجارية** ابو الحسن قدوري رحمه الله فرمائي. چه دخولې بدبوئي، اود ترخ بدبوئي په وينځه کښې عيب شمارلې شي. خو په غلام کښې عيب نشي شمارلې.

دليله دليل دادې. چه کله کله وينځه ښکلول، غاړه غټې کيدل، او جماع کول مقصود وي. اودا دواړه په دې مقصد کښې رکاوټ دي. په دې وجه وينځه کښې داسې قسمه بدبوئي عيب شمارلې شوې دې.

وَلَيْسَ بِعَيْبٍ فِي الْغُلَامِ او په غلام کښې دا بدبوئي عيب نه دې اِلَّا أَنْ يَكُونَ مِنْ دَاءٍ مگر داچه بدبوئي د بيمارئ په وجه وی

حل اللغة ﴿ **الإستخدام**: خدمت اخستل ، **داء**: مرض، **الجارية**: وينځه ، **الولد**: بچي

تشريح ﴿ **حكم البخر والدفر في الغلام** ﴾ اود غلام نه چونکه خدمت اخستل مقصود وی.اودا بدبوئي په دې مقصد کښې مخل نه وی.په دې وجه غلام کښې دا عيب نه دې شمارلې شوې.خوکه د بيمارئ په وجه دا بدبوئي پيدا شوې وی.نو په غلام کښې به هم عيب شمارلې شی.ځکه چه بيماری بلاشبه عيب دې.

په وينځه يا غلام کښې د زنا يا د ولدالزناء عيب

وَالزِّنَا وَوَلَدُ الزِّنَا عَيْبٌ فِي الْجَارِيَةِ او زناکول او ولدالزنا کيدل په وينځه کښې عيب دې دُونَ الْغُلَامِ په غلام کښې نه دې

تشريح ﴿ **حكم الزنا وولد الزنا في الجارية والغلام** ﴾ مسئله داده.چه د وينځې زناکاره کيدل.او ددې د زنا د نطفې نه پيداکيدل،دواړه خبرې په وينځه کښې عيب دې.او په غلام کښې دواړه خبرې عيب نه دې.په وينځه کښې عيب **دليله:في الجارية**- ځکه دې.چه هم دا دواړه خبرې په هغه مقصود کښې خلل اچوی.کوم چه وينځې سره متعلق دې. چه د وينځې زناکاره کيدل، ددې په فراش جوړولو کښې مخل دی.ځکه چه طبيعت سليمه د داسې ښځې فراش جوړولو نه نفرت کوی.اود وينځې ولدالزناء کيدل د ولدپه طلب کښې مخل دی.په دې طريقه چه مولا به د بچی پيدا کيدلونه په دې وجه ځان ساتی.چه خلق به دده بچی ته شرم ورکوی.اودا به وائی.چه دا د ولدالزناء بچې دې.

دليله:في الغلام –اوذکر شوې دواړه خبرې په غلام کښې په دې وجه عيب نه دی.چه د غلام نه مقصود خدمت اخستل دی.او په خدمت اخستلوکښې دا دواړه خبرې قطعا مخل نه دی.خو که زناکول د غلام عادت وی.يعنی باربار دده نه ددې فعل جرم شوې وی.نود غلام زانی کيدل هم شمارلې کيږی.لکه څنگه چه د مشانخو رائې ده.ځکه چه ددې عادت په وجه کله دا غلام د ښځو په چکر کښې پريوځی.نو خاورې به د مولا خدمت اوکړی.نو معلومه شوه.چه د غلام د زنا عادت کيدل هم عيب دې.

د عيب په ښکاره کيدلوسره مشتری دپاره د مبيع حکم

وَإِذَا حَدَثَ عِنْدَ الْمُشْتَرِيْ عَيْبٌ کله چې (په مبيع کښې) مشتری سره څه عيب پيدا شو ثُمَّ اطَّلَعَ عَلَى عَيْبٍ عِنْدَ الْبَائِعِ بيا مشتری د بائع سره په عيب خبر شو فَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ بِنُقْصَانِ الْعَيْبِ نو مشتری ته د عيب نقصان اخستلو اختيار دې وَلَا يَرُدُّهُ الْمَبِيعَ او مبيع به هغه ته نشی واپس کولې.

حل اللغة ﴿ **حدث**: پيدا شی ، **اطلع**: خبرشی ، **يرجع**: واپس اخلی ، **يرده**: واپس کوی

تشريح ﴿ **حكم حدوث العيب عند البائع** ﴾ صورت د مسئلې دادې.که په مبيع کښې د مشتری په قبضه کښې څه نوې عيب پيدا شو.بيا مشتری په هغه قديم (زوړ) عيب باندې هم خبرشو.کوم چه د بائع په قبضه کښې په مبيع کښې موجود وو.نومشتری ته د بائع نه د عيب نقصان اخستلو اختيار دې.او ددې صورت دادې.چه د قديم(زوړ) عيب نه د سلامتيا په صورت کښې به د مبيع د قيمت اندازه اوکړې شی.او بيا به د نوی عيب سره ددې مبيع اندازه اوکړې شی.ددې دواړو قيمتونو په مينځ کښې چه کوم تفاوت وی.هغې ته به دعيب نقصان ونيلې شی.مثلاً د قديم عيب نه د سلامتيا په صورت کښې د مبيع قيمت لس روپئ وو.اود عيب جديد سره اته روپئ قيمت دې.نودا دوه روپئ به نقصان د عيب

وی.اود عیب قدیم په وجه به مشتری ته د بائع نه ددې دوه روېو اخستلو اختیار وی. البته مشتری ته به د عیب قدیم په وجه د مبیع واپس کولو اختیار نه وی.

دلیله> ځکه چه په مبیع واپس کولو کښې د بائع نقصان دې.په دې طریقه چه کله مبیع د بائع د لاس نه وتلې وو.نو په دې کښې دا عیب جدید موجود نه وو.کوم چه د مشتری په قبضه کښې پیدا شوې دې.او ددې عیب جدید سره په واپس کولو کښې سراسر د بائع ضرر دې.په دې وجه د مبیع واپس کول خو ممتنع شو.

إِلَّا أَنْ يَرْضَى الْبَائِعُ أَنْ يَأْخُذَهُ بِعَيْبِهِ امګر داچه بائع ددې جدید عیب سره د مبیع په واپس اخستلو باندې راضی شی

تشریح> **رضي البائع بالرد معیبا**> خو چونکه دعیب قدیم په وجه دمشتری هم نقصان دې.په دې وجه ددې ضرر لرې کولو دپاره د بائع نه د عیب نقصان واپس اخستلو اختیار ورکړې شوې دې.خو که بائع د عیب جدید سره په مبیع واپس اخستلو باندې راضی شی.نو مونږ ته هیڅ اشکال نشته.ځکه چه بائع پخپل ضرر باندې رضامندی ښکاره کړله.او پخپله ئې خپل حق ساقط کړې دې.

السوال> دلته کښې یو سوال دې.هغه داچه وړاندې تیرشوی دی.چه د اوصافو په مقابله کښې ثمن نه وی.حالانکه دلته کښې تاسو مشتری ته نقصان عیب ورکړې دې.اود اوصافو په مقابله کښې دې ثمن مقررکړې دې.نودا د تیرشوی بیان خلاف شو.

الجواب> ددې جواب دې.چه د اوصافو په مقابله کښې ثمن هغه وخت وی.چه کله اوصاف حقیقتاً یا حکماً مقصود نه وی.خو که په اخستلوکښې اوصاف حقیقتاً یا حکماً مقصود وی.نو په دې صورت کښې د ثمن یوه حصه د اوصافو په مقابله کښې راځی.او په ذکرشوې مسئله کښې هم دا خبره ده.په دې وجه دعیب قدیم په وجه د فوت شوی صفت په مقابله کښې چه څومره قدرې ثمن راځی.مشتری ته ددې د واپس اخستلو اختیار ورکړې شوې دې.کوم چه په نقصان عیب سره تعبیر شوې دې.

په مبیع کښې د تصرف کولو نه پس عیب ښکاره کېدل

وَإِنْ قَطَعَ الْمُشْتَرِي الثَّوْبَ بیا که مشتری کپړه کټ کړله وَخَاطَهُ او وې ګنډله أَوْصَبَغَهُ یا ئې دا رنګ کړله أَوْلَتَّ السَّوِيقَ بِسَمْنٍ یائې ستوان غورو سره ملاو کړل ثُمَّ اطَّلَعَ عَلَى عَيْبٍ بیا په څه عیب باندې خبرشو. رَجَعَ بِنُقْصَانِهِ نوددې نقصان دې واپس واخلی

حل اللغة> **خاط**: اوګنډل، **صبغ**: رنګ کړل، **احمر**: سور رنګ، **سویق**: ستوان، **قطع**: کټ کړل، **الثوب**: جامه، **سمن**: غوړی، **أطلع**: خبرشو

تشریح> **وجود العیب بعد التصرف في المبیع**> که مشتری کپړه کټ کړله.او وې ګنډله.یا ئې دا کپړه په سور رنګ کښې رنګ کړله.یائې ستوان واخستل.اوبه دې کښې ئې غوړی یا ګڼ ملاو کړل.بیا په هغه عیب باندې خبرشو.کوم چه د بائع سره پیدا شوې وو. نومشتری د عیب نقصان واپس اخستلې شی

دلیله> ځکه چه مبیع سره د یو زیاتی خیز مخلوط کېدلو په وجه د مبیع واپس کول ممتنع شو.ځکه که په اصل مبیع کښې بیع د زیاتوالی د وجې فسخ کوی نو دا ممکن نه دی ځکه چه زیاتې شئ د اصل مبیع نه نشی جدا کېدلې.نود زیاتوالی نه بغیر په اصل مبیع کښې بیع فسخ کول ځکه ممکن کېدلې شی.

د بائع مبيع واپس اخستل

وَلَيْسَ لِلْبَائِعِ أَنْ يَأْخُذَهُ بِعَيْنِهِ او بائع ته د زياتوالي سره د عين مبيع اخستلو اختيار نشته

تشريح﴾ ماتن فرمائي چه بائع ته دا اختيار نشته.چه کندلې شوې کپړه،يا رنګ شوې کپړه، يا غوړي کړ شوي ستوان د مشتري نه واخلي.اوهغه ته ثمن واپس کړي.ځکه چه د مبيع په زياتوالي سره د بائع طرف ته واپس کول ممتنع کيدل د بائع د حق په وجه نه دي.بلکه د شريعت د حق په وجه دي.

دليله﴾ ځکه چه مبيع سره ګډشوې زياتوالي د ربوا په معنی کښې دې.اود ربوا حرمت د شريعت حق دې. نو هرکله چه مبيع سره ملاؤ شوې زياتوالي واپس کول د شريعت د حق په وجه ممنوع دې.نو بائع ته په زياتوالي سره د مبيع واپس اخستلو اختيار نشته.

د غلام آزادولو،يا د مرګ نه پس عيب بنکاره کيدل

وَمَنْ اشْتَرَى عَبْدًا.او چاچه غلام واخستلو فَأَعْتَقَهُ اوداً ئې آزاد کړو. أَوْمَاتَ عِنْدَهُ يا غلام دده سره مړشو ثُمَّ اطَّلَعَ عَلَى عَيْبٍ بيا دې په عيب باندې خبرشو رَجَعَ بِنُقْصَانِهِ نو مشتري د عيب نقصان واپس اخستلې شي.

حل اللغة﴾ إعتاق: آزادول، **ينتهي:** ختميږي، **موت:** مرګ، **الإطلاع:** خبريدل

تشريح﴾ الاطلاع علي عيب بعد اعتاق العبد او موته﴾ صورت د مسئلې دادې.که يوکس غلام واخستلو.او آزاد ئې کړلو.يا غلام مشتري په قبضه کښې مړشو.بيا مشتري په هغه عيب خبرشو.کوم چه د بائع په قبضه کښې پيدا شوې وو.نو په دې صورت کښې مشتري د خپل بائع نه نقصان عيب اخستلې شي.

الدليل في صورة الموت﴾ د غلام د مرګ په صورت کښې خو حکم(نقصان عيب اخستلې شي) چه دمرګ په وجه ملك خپل انتهاء ته رسيږي.او چه کله شئ خپل انتهاء ته اورسي.نو متقرر او ثابتيږي.نو ګويا چه ملك موجود دې.خو حکم د مرګ يعني د غير اختياري امر په وجه غلام کوم چه مبيع دې.دده واپس کول متعذر شو.اود واپسئ په ممتنع کيدلو کښې دمشتري فعل ته هيڅ دخل نه وي.او هرکله چه د مبيع واپسي د يو غيراختياري امر په وجه متعذر شي.نود عيب قديم په وجه مشتري ته د نقصان عيب واپس اخستلو اختيار وي.په دې وجه مشتري سره د غلام د مرګ په صورت کښې ده ته د نقصان عيب واپس اخستلو اختيار وي.

الدليل في صورة الاعتاق﴾ اوچه غلام واخلي.او آزاد ئې کړي.نو په دې صورت کښې د قياس تقاضا داده.چه مشتري ته د نقصان عيب اخستلو اختيار ورنکړې شي.ځکه چه په دې صورت کښې غلام يعني د مبيع واپسي متعذر کيدلو کښې پخپله د مشتري فعل ته دخل دې.نو مشتري حابس للمبيع شو.اوحابس للمبيع ته د نقصان عيب واپس اخستلو اختيار نه وي.په دې وجه په دې صورت کښې مشتري ته د نقصان عيب اختيار نه وي.اودا داسې شوه.لکه چه يوکس غلام واخلي.او قتل ئې کړي.بيا ئې په عيب باندې خبرشي.نو په دې صورت کښې مشتري ته د نقصان عيب اخستلو اختيار نه وي.نوهم دغه شان د آزادولو په صورت کښې هم مشتري ته دنقصان عيب اخستلو اختيار نه وي.

د غلام قتلولو يا د خوراك خوړلونه پس په عيب خبريدل

فَإِنْ قَتَلَ الْمُشْتَرِي الْعَبْدَ نو که مشتري غلام قتل کړو أَوْكَانَ طَعَامًا فَأَكَلَهُ يا خوراك وو.وې

خورلو لَمْ يَرْجِعْ بِشَيْءٍ عِ١ؕ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نود ابوحنيفه رحمه الله په نيز هيڅ هم واپس نشي اخستلي وقالا يرجع بنقصان العيب او صاحبين فرمائي چې د عيب نقصان به تري اخلي

تشريح﴾ مسئلة اهلاك المشترى العبد- په دې عبارت کښې دوه مسئلې ذکر دي. ① رومبئ مسئله داده.چه يوسړی يو غلام واخستلو،او قتل ني کړلو.بيا په غلام کښې په داسې عيب باندې خبرشو.کوم چه د بائع سره پيدا شوې وو.په دې مسئله کښې د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د بائع نه دمشتری نقصان عيب واپس اخستلو اختيارنشته.هم دا ظاهرالرواية دي.

دليله﴾ د ظاهرالرواية يعنی د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه څوك په ناحقه قتلول داسې نه دی.چه دده په قاتل باندې ضمان نه واجبيږی.د نبی کريم ﷺ ارشاد دې.دليس في الاسلام دم مفرج أي مبطل ومهدر، يعنی په اسلام کښې د هيڅ چا وينه فضول نه ده.اوس پاتې شوه داخبره، چه د مولا خپل غلام قتلولو په صورت کښې په مولا باندې ضمان د قتل ولې واجب نشو؟ نو ددې جواب دادې.چه په مولا باندې ضمان دده د مالك کيدلو په وجه ساقط شوې دي.لکه مثلاً که دې مولا د بل چا مملوك قتل کړې وي.نو په هغه به د قصاص يا ديت ضمان باليقين واجبيدلو،نو هرکله چه د مولا نه ضمان ساقط شو.نو ګويا چه مولا د خپل ملك عوض حاصل کړې دې.په دې طريقه که قتل عمد وو.نو د مولا خان بچ شو.او که قتل خطاء وی.نو د مولا دپاره ديت سالم پاتې شو.نودا داسې شوه.لکه چه مولا غلام واخستلو.اودا ني خرڅ کړلو.اود غلام خرڅولو په صورت کښې مشتری ته د نقصان عيب واپس اخستلو اختيار اجازت نه وی.په دې وجه په دې صورت کښې هم د نقصان عيب واپس اخستلو اجازت نه وی.

مذهب الصاحبين﴾ اود حضرت امام ابويوسف رحمه الله په نيز نقصان عيب واپس اخستلې شی.د بيع د بنياد مطابق امام محمد رحمه الله هم د ابويوسف رحمه الله سره دې.

دليلهما﴾ په رومبئ مسئله کښې دامام ابويوسف رحمه الله دليل دادې.چه د مولا خپل غلام قتلولوسره څه دنيوی حکم نه متعلق کيږی.نه په مولا باندې قصاص واجبيږی.او نه ديت واجبيږی.نودا قتلول داسې شو.لکه د غلام پخپل طبعی مرګ باندې مره کيدل.او وراندې تيرشوی دی.چه د غلام په بيع کښې طبعی مرګ باندې مرکيدلو په صورت کښې مشتری ته د نقصان عيب واپس اخستلو اختيار وی.نو په دې صورت کښې هم مشتری د خپل بائع نه نقصان عيب واپس اخستلې شی.اود طبعی مرګ په صورت کښې د نقصان عيب واپس اخستلو اختيار په دې وجه وی.چه په طبعی مرګ مرکيدل په غلام کښې د مولا ملك خپل انتهائی حد ته رسول دی.نو ګويا چه ملك موجود دې.خو بيع واپس کول متعذر دی.او په داسې صورت کښې مشتری ته د نقصان عيب واپس اخستلو اختيار وی.په دې وجه په ذکر شوی صورت کښې هم مشتری ته د نقصان عيب واپس اخستلو اختيار وی.

مسئلة اكل الطعام﴾ دويمه مسئله داده.که يوسړی دخوراك څه څيز واخستلو.او وې خوړلو.يا ني کپړه واخستله.اود اغوستلو نه پس ني اوشلوله.بيا په عيب باندې خبرشو. نود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د طعام په مسئله کښې استحساناً رجوع نشي کولې.

دليله﴾ دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دادې.چه هرکله مشتری مبيع اوخوړلو،يا ني واغوستلو،اووې

---

١) القول الراجح هو قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في فتح القدير(١٦\٦) والعناية (١٥٠\٦) وردالمحتار(٩٤\٤) نقلاً عن القول الراجح (٢٨\٢)۔

شلولو. نود مبیع بائع طرف ته واپس کول، مشتری د پاره په داسې فعل سره متعذر شو.چه ددې ضمان واجبیږی.که مشتری د بل چا مملوکه څیز خوړلې وو.یا ئې اغوستې وو.او شلولې ئې وو.نو په ده به د مالك دپاره یقیناً ضمان واجب وو.خو دلته کښې مشتری پخپله مالك دې.په دې وجه ده نه ضمان ساقط شو.نو ګویا مشتری خپل ملك یعنی د مبیع عوض حاصل کړې دې.او هرکله چه مشتری عوض حاصلونکې شو.نودا صورت هم د مبیع خرخولو.اود قتلولو مشابه شو.او په دې دواړه صورتونوکښې نقصان عیب واپس نشی اخستلې.په دې وجه د مبیع په خوړلو،یاد اغوستلو اوشلولو په صورت کښې هم د نقصان عیب واپس اخستلو اختیار نه وی.

مذهب الصاحبین﴾ اود صاحبینو رحمهما الله په نیز مشتری په نقصان عیب رجوع کولې شی.امام شافعی او امام احمد رحمه الله هم ددې قائل دې.اوهم دا دامام طحاوی رحمه الله مختار مذهب دې.

دلیلها﴾ په دویمه مسئله کښې د صاحبینو رحمهما الله دلیل دادې.چه مشتری بیع یعنی ماکول اوملبوس هم په هغه مقصد کښې صرف کړې دی.دکوم مقصد دپاره چه دا اخستلې شوی دی.او په خلق کښې دا فعل یعنی د خوراك څیز خوړل.اود کپړو اغوستل معتاد(عام) هم دی.نو چه ماکول ئې اوخوړلو.او کپړې ئې واغوستلې.او وې شلولې.نو ګویا په دې څیزونوکښې د مشتری ملك کمال ته اورسیدلو.او هرکله چه په دې څیزونوکښې د مشتری ملك حد د کمال ته اورسیدلو.نودا ماکول خوړل،او کپړه اغوستل اوشلول. دغلام آزادولو پشان شو.اود غلام آزادولو په صورت کښې مشتری ته په نقصان عیب سره د رجوع کولو اختیار وی.په دې وجه ذکرشوی صورت کښې هم د نقصان عیب واپس اخستلو اختیار وی.

الجواب عنه﴾ د دې دلیل جواب دادې.چه دا ونیل، چه د ماکول اخستلو نه خوراك،اود کپړې اخستلو نه اغوستل مقصود دی.ددې هیڅ اعتبارنشته.څکه چه کله دا هم مقصود وی.خوکله د اخستلو نه مقصد د تجارت په طور خرخول هم وی.اود مبیع خرخولو په صورت کښې نقصان عیب قطعاً واپس نشی اخستلې.

د دویم مشتری غلام خرخولو نه پس د عیب په وجه ردکول

وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا چه یوکس غلام خرڅ کړو **فَبَاعَهُ** بیا دا مشتری خرڅ کړو **ثُمَّ رُدَّ عَلَيْهِ بِعَيْبٍ** بیا مشتری طرف ته د عیب په وجه واپس کړې شو. **فَإِنْ قَبِلَهُ بِقَضَاءِ الْقَاضِي** نوکه مشتری اول دا د قاضی په حکم سره دا قبول کړې وی **فَلَهُ أَنْ يَرُدَّهُ عَلَى بَائِعِهِ الاول**، نو مشتری اول دا پخپل بائع باندې واپس کولې شی.

تشریح﴾ صورة المسئلة-صورت د مسئلې دادې.چه یوکس خپل غلام خرڅ کړلو.بیا مشتری په غلام باندې قبضه اوکړله.او په بل یوکس ئې خرڅ کړلو.بیا دویم مشتری په غلام کښې د موجود عیب په وجه دا مشتری اول ته واپس کړلو.خومشتری اول دا د قاضی په حکم قبول کړلو.

صور قضاء القاضي﴾ د قاضی دفیصلې درې بنیاده کیدلې شی. ① یودا چه دویم مشتری دعوه اوکړله.چه مشتری اوله په مبیع کښې د عیب اقرار کړې دې.نومشتری اول دعیب اقرار کولو نه انکار اوکړلو.نو دویم مشتری د مدعی کیدلو په حیثیت سره د مشتری اول د عیب په اقرار باندې ګواهان پیش کړل.نود ګواهانو په ګواهۍ سره به د مشتری اول د عیب اقرار ثابت شی.اوهر کله چه د عیب موجودکیدلو نه د مشتری اقرار کول ثابت شو.نو ددې اقرار په بنیاد باندې قاضی مشتری اول طرف ته مبیع غلام واپس کولوحکم اوکړلو. ② دویم بنیاد دادې.چه دویم مشتری دعوه کوی.چه کوم غلام

اخستي شوې دې.په دې کښې د مشتري اول سره عيب وو.او مشتري اول دسره د عيب انکار کوی.نو دويم مشتری د قاضی په عدالت کښې د عيب په ثبوت باندې ګواهان پيش کړل.قاضی ددې عيب په وجه مشتری اول طرف ته د غلام واپس کولو حکم اوکړلو④ او دريم بنياد دادې.چه په ذکرشوی صورت کښې دويم مشتری د عيب په ثبوت باندې د ګواهانو پيش کولو نه عاجز شو.قاضی د شريعت مطابق د مشتری اول نه د قسم مطالبه اوکړله.مشتری اول د قسم خوړلو نه انکار اوکړلو.نود مشتری اول د قسم نه د انکار کولو په وجه عيب ثابت اومنلو.اومشتری اول طرف ته ئې د غلام واپس کولوحکم اوکړلو. بهرحال دې درې وارو صورتونوکښې چه په کوم صورت کښې هم مشتری اول طرف ته غلام واپس کړې شو.مشتری اول ته دا حق دې.چه دې دا غلام خپل بائع طرف ته واپس کړی.يعنی د کوم کس نه چه مشتری اول اخستې دې.مشتری اول ئې هم هغه ته واپس کړی.

دليله> دليل دادې.چه د دويم مشتری د قاضی په حکم مشتری اول طرف ته غلام واپس کول.دا د بيع ثانی فسخ کول دی.نو بيع ثانی ګويا چه واقع شوې هم نه ده.او بيع اول موجود ده.نو مشتری اول ته به د عيب په وجه د غلام واپس کولو اختيار وی.

په دې شرط باندې غلام خرڅول چه زه د هرڅه نه بری يم

وَمَنْ اشْتَرٰی عَبْدًااو چاچه غلام واخستلو وَشَرَطَ الْبَائِعُ الْبَرَاءَةَمِنْ كُلِّ عَيْبٍاوبائع د هرعيب نه د بری کيدلو شرط اولګولو فَلَيْسَ لَهٗ اَنْ يَّرُدَّهٗ بِعَيْبٍنومشتری ته به دعيب په وجه د مبيع واپس کولو حق نه وی بِجُمْلَةِ الْعُيُوْبِ وَلَمْ يَعُدَّهَااګرچه ده د ټولو عيبونو نه وی اخستې او نه ئې هغه شمارلې وی

حل اللغة> **البراءة**:بری کيدل ، **عيب**:نقصان ، **عدد**:شمار

تشريح> **صورة المسئلة**>صورت د مسئلې دادې.که يوکس غلام واخستلوکړلو.اوبائع د هرعيب نه ئې د بری کيدلو شرط اولګولو.يعنی بائع اووئيل.چه زه د غلام د هرعيب نه بری يم.مشتری دا شرط منظور کړلو.نواوس به مشتری ته د هيڅ يو عيب په وجه د غلام واپس کولو حق نه وی.که دا عيبونه ئې جداجدا په نوم سره شمارلې وی.او که نه وی شمارلې.او بائع ته ددې عيبونو علم وی.او که نه وی. [1]

دليله> دليل دادې.چه بری کول د اسقاط د قبيلې څخه دی.د تمليك د قبيلې څخه نه دی.څکه چه لفظ د ،،ابراء،، سره تمليك عين ټيك نه دې.نو هرکله چه په لفظ د ابراء سره د عين شئ مالك کيدل ټيك نه دی.نو معلومه شوه.چه ابراء تمليك نه دې.بلکه اسقاط دې.او په جهالت د اسقاط کښې مفضی الی المنازعه نه وی.څکه چه جهالت هغه وخت،،مفضی الی المنازعه،، وی.چه کله د څه څيز سپارلو ضرورت وی.او په اسقاطاتوکښې چونکه د سپارلو ضرورت نه وی.په دې وجه په اسقاطاتو کښې جهالت،،مفضی الی المنازعه،، هم نه وی.او هرکله چه په اسقاطاتوکښې جهالت،،مفضی الی المنازعه،، نه دې.نودا به مفسد د بيع هم نه وی.په دې وجه مونږ اووئيل.چه د مجهول عيبونو نه بری کول ټيك دی.

.اول جلد ختم شو

---

[1] **مذهب الشافعی**:- امام شافعی رحمه الله فرمائی.چه دا برائت صحيح نه دې.يعنی د هر عيب نه د بری کيدلو په شرط سره بيع فاسد ده.اود امام شافعی رحمه الله نه يو روايت دادې.چه په دې صورت کښې بيع صحيح ده.خو شرط باطل دې.